# د افغانستان تاریخ

## د اسلام تر ځرک وروسته



علامه عبدالحی حبیبي

# د افغانستان

# تاریخ

**لیکوال:**

پوهاند عبدالحی حبیبي

**ژباړن:**

څېړنپوه ډاکټر عبدالقیوم مشوانی

**د کتاب ځانګړنې:**

**د کتاب نوم:** د افغانستان تاریخ (تر اسلام څرک وروسته)

**لیکوال:** پوهاند عبدالحی حبیبي

**ژباړن:** څېړنپوه ډاکټر عبدالقیوم مشوانی

**چاپکال:** ۱۴۰۳ ل/ ۱۴۴۵ س

**چاپځی:**

بسم الله الرحمن الرحيم

**ډالۍ:**

**خپلو مېرمنو ته چې د ژباړې او سمونې پر مهال به یې راته د هوساینې اسانتیاوې برابرولې.**

# لیکلړ

د اسلامي افغانستان تاریخ ........................................................ أ
د ژباړن سریزه ........................................................ ج
**لومړی څپرکی ........................................................ ۱**
د افغانستان عمومي اوضاع ........................................................ ۱
(۱) ........................................................ ۲
د اسلام د څلا پر مهال د افغانستان اوضاع ........................................................ ۲
سیاست، دین، صنعت او لیک ته یوه کتنه ........................................................ ۲
بودایي دین او عمومي اوضاع ........................................................ ۷
نور دینونه ........................................................ ۱۱
د سوناګر عبادتځی- زون و زور ........................................................ ۱۱
د کابل د شاه‌بهار عبادتځی ........................................................ ۱۵
(۲) ........................................................ ۱۹
په افغانستان کې چینایي سیلانیان ........................................................ ۱۹
شي‌فاهیان ........................................................ ۲۰
سونګ‌ین ........................................................ ۲۱
هیونڅانګ ........................................................ ۲۳
دوه کسه نور چینایان ........................................................ ۲۸
ووکنګ ........................................................ ۲۸
(۳) ........................................................ ۲۹
پاچاهي کورنۍ ........................................................ ۲۹
۱- د غزني لویکان ........................................................ ۳۱
د لویک د کلمې شننه ........................................................ ۳۶
د لویکانو یوه کیسه ........................................................ ۳۶
د غزني او ګردېز لویکان ........................................................ ۳۹
۲- زابلي رتبیلان ........................................................ ۴۸
د بلاذري فتوح‌البلدان ........................................................ ۴۸
مطهر بن‌طاهر مقدسي ........................................................ ۵۵
د رتبیل د نامهٔ بېلابېلې خوندیینې او ریښه یې ........................................................ ۶۳

د نامۀ اټکلي شننه ............................................................ ٦٥
د مؤرخانو د ويناوو په اړه څېړنه ............................................. ٦٧
٣- کابلشاهان ...................................................................... ٧١
د کابلشاهانو نومونه ............................................................ ٧٤
کنک ................................................................................ ٧٧
خودو ويه‌که ........................................................................ ٧٩
سپاله‌پتي ........................................................................... ٨٠
پدمه ................................................................................ ٨١
وکه دېوا ........................................................................... ٨٢
دوه کابلشاهان د ٣٦س شاوخوا ................................................ ٨٢
بهيم ................................................................................ ٩٧
جيپال ............................................................................... ٩٨
انندپال ............................................................................. ١٠٠
تريلوجنپال- تروجنپال .......................................................... ١٠٠
بهيمپال ............................................................................. ١٠٢
د کابلشاهانو د مقام اهميت ..................................................... ١٠٢
٤- نپکيان .......................................................................... ١٠٥
٥- د هندوکش د شمال اميران .................................................. ١٠٧
٦- تگينان ........................................................................... ١٠٩
٧- د باميانو شېران ................................................................ ١٢١
٨ - د غور سوريان ................................................................ ١٢٧
د غور سوريان او شنسبانيان ................................................... ١٣٠
اميرکروړ جهان پهلوان .......................................................... ١٣٢
**دوهم څپرکی ........................................................ ١٣٩**
په افغانستان کې اسلامي سوبې ............................................... ١٣٩
١ - خراسان ......................................................................... ١٤٠
٢- په افغانستان کې د اسلامي سوبو پيل ..................................... ١٤٧
د قارن خراساني پاڅون .......................................................... ١٥٢
د افغانستان په سوېل کې اسلامي سوبې ...................................... ١٥٤
او د سيستان د پروېزشاه د مقاومت پای ...................................... ١٥٤

د عبدالرحمن بن‌سَمُره واکمني ........................................................ ۱۵۷
د کابل سوبه ........................................................................... ۱۵۹
۳- د امویانو پېر ....................................................................... ۱۶۵
٤- د ابومسلم تر پاڅون پورې اموي امیران ...................................... ۱۷۷
اشرس، جنید او عاصم ............................................................... ۱۸۲
نصر بن‌سیار او د امام یحیی حسیني وژنه ......................................... ۱۸۵
د عبدالله بن‌معاویه وژنه ............................................................... ۱۸۹
د اموي پېر د هرات ځیني والیان ..................................................... ۱۹۲
د خراسان د والیانو لیکلړ .............................................................. ۱۹۳
اموي پېر ................................................................................ ۱۹٤
د عبدالله بن‌زبیر له خوا ................................................................ ۱۹٤
د اموي عبدالملک له خوا ............................................................. ۱۹٤
مهلبیان ................................................................................. ۱۹٤
۵- سیستان او د افغانستان سوېل د امویانو پېر ................................... ۱۹٦
٦- د ابومسلم تر پاڅون پورې د سیستان والیان او د رتبیل حالت ............ ۲۰٦
۷- د افغانستان په ختیځ او سوېل کې اسلامي سوبې ............................... ۲۱۳
یعنې په بلوچستان او سند کې ......................................................... ۲۱۳
۸- په سند کې د محمد بن‌قاسم سوبه .................................................. ۲۱۹
او د سیمه‌ییزې راجگۍ ړنگول ......................................................... ۲۱۹
۹- په ختیځه څنډه کې نورې سوبې ..................................................... ۲۲٦
خراسان تر ملتان پورې ................................................................. ۲۲٦
تر محمد بن‌قاسم وروسته .............................................................. ۲۲۸
**درېیم څپرکی ........................................................................ ۲۳۵**
د ابومسلم پاڅون ......................................................................... ۲۳۵
۱- د ابومسلم د پاڅون پیلامه ......................................................... ۲۳٦
او د عباسي دولت جوړېدل ............................................................. ۲۳٦
له رواني وضعې د خراسانیانو گټنه .................................................. ۲٤۳
۲- د خراساني ابومسلم راڅرگندېدا ................................................... ۲٤۵
د سپېدنگ او ماخوان لښکرکوټ ....................................................... ۲۵۷
د خطر اعلان ............................................................................ ۲۵۹

۳-عباسیان او د عباسي خلافت اعلان ............................................. ۲٦٤
د ابومسلم په زيار ............................................................... ۲٦٤
۴-ابومسلم په خراسان کې ..................................................... ۲۷۱
ابومسلم څرنګه بها فريد له منځه يووړ؟ ........................................ ۲۷۷
۵-ابومسلم د حج په سفر کې .................................................. ۲۸۰
٦-ابومسلم د منصور تر تېغ لاندې ............................................ ۲۸۵
۷-د ابومسلم ټبر او اولادونه .................................................... ۲۹۵
۸-تر ابومسلم وروسته خراسان او د ملي خوځښتونو دوام ...................... ۲۹۸
د ابومسلم د کسات اخيستنې لپاره .............................................. ۲۹۹
د اسحاق پاڅون ................................................................... ۳۰۳
د خراسان د سپين‌پوښو پاڅون ................................................... ۳۰۵
او د خالد وژنه ..................................................................... ۳۰۵
د خراساني راونديانو پاڅون ....................................................... ۳۰۷
د برازبندهپاڅون او خراسان ته ................................................... ۳۱۲
د المهدي راتګ .................................................................... ۳۱۲
د استاد سيس تر پاڅون پورې .................................................... ۳۱۵
نور خوځښتونه ...................................................................... ۳۱۵
د استاد سيس هراتي پاڅون ....................................................... ۳۱۷
د سپين‌پوښو پاڅون او مقنع خراسانی ............................................ ۳۲۰
مقنع څرنګه ځان وسوځاوهٔ؟ ....................................................... ۳۳۰
۹-د طاهريانو تر راڅرګندېدا پورې د خراسان نورې پېښې ...................... ۳۳۳
د هارون خلافت او د کابلشاه‌بهار ويجاړول ....................................... ۳۳۸
د حصين سيستاني پاڅون ........................................................... ۳۴۱
د فضل بن‌يحيی برمکي حاکمي .................................................... ۳۴۳
۱۰-د حمزه سيستاني پاڅون ........................................................ ۳۴۹
او نورې بلواګانې .................................................................... ۳۴۹
حمزه ته د خليفه ليک او د هغهٔ ځواب .......................................... ۳۵۷
د حمزه بن‌عبدالله ځواب ............................................................ ۳۵۹
له امام علي بن‌موسی رضا سره بيعت او مړينه يې ............................... ۳۷۱
۱۱-بلخي برمکيان ..................................................................... ۳۷۳

د برمکیانو سیکې ........................................................ ٤٠٦
١٢- د عباسیانو د پېر په لومړیو کې د افغانستان ........................ ٤٠٨
د ختیځو ولایتونو او سند اوضاع ................................................ ٤٠٨
عباسي پېر د سند والیان ........................................................ ٤١١
د سیستان، خراسان او هرات والیان ............................................ ٤١٢
د عباسیانو د پېر له پیل ١٣٠-٢٠٥س پورې .................................. ٤١٢
د سیستان والیان ........................................................ ٤١٢
د خراسان والیان ........................................................ ٤١٤
د هرات والیان ........................................................ ٤١٥
**څلورم څپرکی ........................................................ ٤١٧**
د افغانستان اقتصادي، ټولنیزه، اداري، فکري، علمي او ادبي اوضاع ........ ٤١٧
د اسلام د خپرېدو په لومړۍ دوو پېړیو (١- ٢٠٠س= ٦٢٢- ٨١٥ز) کې ........ ٤١٧
(١) ........................................................ ٤١٨
اقتصادي سرچینې ........................................................ ٤١٨
خراج او مالیې ........................................................ ٤٢٢
(۴) ........................................................ ٤٣٠
د اسلامي دولت خراج او مالي سرچینې ........................................ ٤٣٠
په عباسي دولت کې د خراسان مالي دریځ ...................................... ٤٤٣
کرنه، صنعت او بزګري ........................................................ ٤٤٦
د اسلام په لومړیو کې ........................................................ ٤٥١
د اوبخور سیسټم ........................................................ ٤٥٨
صنایع ........................................................ ٤٦٦
سوداګري ........................................................ ٤٧٧
سیکې ........................................................ ٤٩٤
وزنونه او پیمانې ........................................................ ٥٠٥
اداره او دولتي تشکیلات ........................................................ ٥١٠
په خراسان کې عرب مامورین ................................................ ٥٢٠
پولیس او امنیه قوماندان ........................................................ ٥٢٩
د قضا محکمه ........................................................ ٥٣١
احتساب ........................................................ ٥٤٢

د تېريو مخنيوی (شکايات اورېدنه) .......... ۵٤٤
ډاک يا پست (بَرِيد) او لارې .......... ۵٤٧
د ډاک لارې .......... ۵۵۲
له ری تر نيشاپور پورې .......... ۵۵۳
له نيشاپوره تر مروې پورې .......... ۵۵٤
له بخارا تر سمرقند پورې .......... ۵۵٦
له مروې بلخ او ترمذ ته .......... ۵۵٦
له بلخ څخه تخارستان ته .......... ۵۵۸
له سېرجان څخه سيستان ته .......... ۵۵۸
لښکري تشکيلات .......... ۵٦٤
ټولنه او د خلکو پرګنې .......... ۵۸۷
په اسلامي پېر کې د وګړو پرګنې .......... ۵۹٦
د خلکو ژوند، دودونه او څېرې .......... ٦۱۸
مهالونه او کاليز .......... ٦۳۰
خراسانی کورنۍ .......... ۸٤٦
د بلخي برمکيانو ونډه .......... ۸۵۱
مذهبونه او ډلې .......... ۸۵۷

# د اسلامي افغانستان تاريخ

د برې نړۍ ياد او نومور تاريخپوه او تاريخوال "ارنولډ جي ټاين بي (۱۸۵۲- ۱۸۸۳ز" د تاريخ په تعريف کې وايي:

«د حقايقو ضبطونه او څېړنه تاريخ دی. د دې هنر په لمن کې چې کوم کيفيات او څېنې مخې ته پرتې وي، هغه د تهذيبونو او ثقافتونو ټولنيز کيفيات وي. تاريخ د انساني ژوندانهٔ د ټولو حقايقو له کښنې او ضبطونې سره کار نه لري او د لرغوني انساني ژوندانه د ټولنيز اړخ هغه حقايق نه څېړي، چې د وګړپوهنې قوانين څېړي. تاريخ د ځاني او فردي ژوندانهٔ حقايق تذکره‌ليکونکو ته پرېږدي، ياني تاريخ د انساني ژوندانهٔ ټول حقايق نه رانغاړي، بلکې په دې چار کې کله کله د افسانه‌ليکنې د آرونو، اصولو او قوانينو مرستې ته اړ دی.» ارنولډ جي ټاين بي، مطالعهٔ تاريخ.

د تاريخ د تعريف د دې اړخونو د سپړلو په لړ کې افغاني ټولنه هم د انساني ټلوالې او وجود يو غښتلی غړی دی، چې د ټولنيزو او ژوندنيو آرونو له نعمتونو د يو شان ګټنې او استفادې حق لري.

افغانان د آريايي او آرياني پښت د اړوند ټبر په توګه د اسيا د لويې وچې په يوه داسې ورشو او ويجه کې پراته دي چې د اديانو، مدنيتونو او تهذيبونو د زېږد او لېږد د ټکرونو د ځانګړې جغرافيايي وړتيا خاونده سيمه ده. د دې خاورې د وګړو ختې او فطرت دا راغلی چې د دوی د ککريو په هوارولو پسې راغليو بلوسګرو خپلې ککرۍ کله هم روغې نه دي وړي.

د دې خاورې په ترکيب کې د بلوسګرو او نيواکګرو د پرځونې بې خرته او په پېخرو عناصر اغږلي دي. د دې ټولو "بدغواړو" تمبونې ته په يو هېڅ او يوه جذبه راپاڅېدلي او يواځې په خپل ملي او قامي پاڅون يې بسنه نه ده کړې، بلکې د خپلو فطري ګروهنو او معتقداتو د ساتندويو او پالندويو ځواکونو او لښکرکښيو هرکلي او ملاتړ ته يې هم د خپلې ټولنې د اعتقادي وياړونو د سمبالنې او ساتنې په موخه غېږ پرانيستې ده.

دا مخې ته پروت اثر مو د همدغو کارنامو د لرې او برې د جزئياتو يو روڼ او

سترګبرېښن انځور وړاندې کوي چې د دې سپېڅلي فرهنګ او مقدسو ارزښتونو په خپرېدا کې د ورسره شویو مقاومتونو او کړاوګالنې داستان یې د زرونو پاڼو له کرلېچونو راایستلی او په یوې علمي او کولتوري ژمنې یې د کلونو کلونو په څېړنو ستاسې مخې ته ایښی دی.
دا وياړلې او درنه ستړه د دې فرهنګيالۍ خاورې رښتینی او ساهو ملي ارزښتپال علاّمه عبدالحی حبیبي (۱۲۸۹- ۱۳۶۳ل) دی چې د دماغ د تېلو په سوځلو یې د خپل وياړلي ملت د نسلونو نسلونو د فکري خلا او ښکلا په موخه د دې وياړلې ډالۍ په وړاندې کولو خپل سر له خپل خدای، خاورې او اتل ولس نه بلهار کړی دی.
د ارواښاد علاّمه حبیبي د دې ګاللي زيار او وړاندې کړې ډالۍ ارزښت د یو څو کرښو په تورولو اندازه کېدونی نه دی؛ نو بويه چې سباني روزلي کولتوري عناصر او نسلونه دغه نننی روان نهیلوونکی چلن او بهیر په خپل ژمن‌چلن سره په ملي او کولتوري هیله‌منۍ واړوي.
للهالحمد!
چې د دې فرهنګيالي ولس په ځوانانو کې لا د ستر حمزه خبره:
«لا څو تنې د ګرېوانهٔ پاتې دي»
د ځوان او ځیرمن محقق لیکوال ښاغلي عبدالقیوم مشواڼي په څېر وياړلي شته چې د ملي تاريخ، ژبې او ادب د تربیو ځوانانو تنده د خپل څو کلن ګاللي زيار په کره او خوږه پښتو ژباړه خړوبه کړي. زه د ښاغلي ژباړن د ګاللي زيار د ژباړې د کرښې کرښې د یوهٔ لوستوال په توګه له ملي فرهنګ سره د ښاغلي مشواڼي د لېونۍ مینې نمانځنه کوم او ورسره ورسره د هېواد او سیمې د علمي او فرهنګي څلي علاّمه حبیبي د ګاللي زيار د اجر او د دهٔ د سپېڅلې اروا د خوښنې لپاره په ستر درشل لاسونه لپه کوم.
د ښاغلي مشواڼي د متو د زور او د قلم د شور په هیله.

محمدآصف صمیم

۱۳/۳/۱۴۰۳ل

مومند مېنه – ننګرهار

# د ژباړن سریزه

د ادبیاتو یو زده‌کوونکی یم؛ خو له تاریخي مسایلو سره بې‌کچه مینه لرم، تاریخ ډېر مطالعه کوم او له زلمیتوبه دا تلوسه راسره وه چې پوه شم د اسلام تر سپېڅلي دین د مخه زموږ خوارهٔ هېواد او چاپېرې سیمې څه ډول ادبي، فرهنگي، دیني، اقتصادي او ټولنیزه څېره درلوده.

په شتهٔ تاریخونو کې یواځېنی اثر "تاریخ افغانستان بعد از اسلام" و، چې په دې اړه یې یو نسبتاً روڼ انځور کتونکو ته ښودلای شو؛ نو کله کله به مې د دې تندې خړوبولو لپاره د نوموړي اثر مخونه اړول رااړول.

د مطالعې په بهیر کې به مې کله کله ژباړې ته زړهٔ وتخنېد، په زړهٔ کې به راتېره شوه چې که دا اثر پښتو شي؛ نو ډېر هغه پښتانهٔ مینه‌وال به یې هم پر منځپانگې پوه شي، چې په دري نه پوهېږي. د ژباړې په اړه زما د هوډ انگېزه همدغه وه.

یقین مې نهٔشي، که افغانستان تر پېړیو انتظار وروسته یو ځل بیا د "حبیبي" غونډې ځیرمن عالم و مؤرخ په خپلې غېږې کې وروزي. د علامه پوهاند حبیبي د هر اثر تود هرکلی په هېوادنۍ نه، بلکې په سیمه‌ییزه کچه شوی دی. د ساینس او ټکنالوژۍ له اوسمهالي پرمختگ او د بېلابېلو سرچینو له شتون سره هم زموږ اوسني څېړونکي او پوهان د "حبیبي" هرې څېړنې او هرې لیکنې ته گوته په غاښ دي.

دا اثر څو ځله په بېلابېلو وختونو کې د بېلابېلو ادارو له خوا چاپ شوی دی. لومړۍ پلا په ۱۳۴۵ل کې د افغانستان د تاریخ انجمن له خوا او دویمه پلا یې دویمه برخه په ۱۳۵۷ل کې له استدراکونو او انځوریز البوم سره د اطلاعاتو او کلتور وزارت له خوا چاپ شوې ده. دریيمه پلا په ۱۳۸۰ل کې د ایران د انتشارات افسون له خوا ۳۰۰۰ ټوکه او څلورمه پلا د بنگاه انتشارات میوند له خوا چاپ شوی دی.

د خپل مهال له غوښتنو سره سم ارواښاد حبیبي زیات شمېر آثار په دري ژبې کښلي؛ خو هغه هم په داسې دري چې ښایي پرېکند اکثریت پرې لکه چې لازمه ده، هغسې پوه نهٔشي. د دې ژباړې اهمیت هم دا دی چې د خپل خوارهٔ هېواد په یوهٔ ډېر مهم او مؤثق تاریخ هغه لوستی وپوهوي چې په دري نه پوهېږي.

د دې تاريخ د ژباړې په اړه دا څو ټکي د يادولو وړ دي:

تر وسه وسه مې د ليکوال د ليکنې ژبې او سبک ساتلو هڅه کړې ده؛ خو د ژبو طبيعي جوړښتونه ژباړن ته ډېره اجازه نه ورکوي؛ نـو ښـايي د «ژبـاړن خـاين دی» لـه مقولې سره سم ما هم دا خيانت کړی وي.

په اثر کې کارېدلې ليکنښې هم پر خپل حال پاتې نه دي، ځکه کله اړتيا وه او کله هم جملې د دري د (و، و، و) په طرز ډېرې اوږدېدې. کله کله خو دې (و) ډېرې ستونزې هم رامنځ ته کولې، په ځانګړې ډول چې واټن يا په اوسنۍ اصطلاح سـپيس به په پام کې نه و نيول شوی.

د دري د (و) انډول (او) تکـرار پـه پښـتو کـې د ژبـې لـه طبيعـي جوړښـت سره سمون نه خوري، په پښتو کې د (او او او) پر ځای (،،،) او د پـای نامـۀ يـا کلمـې تـر مخه (او) راځي، ما هم دغه کار کړی دی.

په دري متن کې تر ټکي او کامې وروسته ډېر ځله (او) راغلـی و، پـه ژبـاړه کـې جملې ته په کتلو تر ټکي او کامې وروسته يا (او) ليرې شوی او يا (، او.).

د اثر په متن کې ځينو کلمو ليکنی يووالی نه درلود، لکـه: پيـل= فيـل، فـارسي= پـارسي، تـرک= تـورک، نشـابور يـا نشـاپور= نيشـاپور، طالقـان= تالقـان، کانيشـکا= کنيشکا، باج= باژ، پترزبورګ= پترسبرګ، فيروز= پيروز، رخد= رخذ او نور.

د شروع په معنی له (پيل) سره د توپير په پار مې (فيل) غوره کړی دی. په فارسي او پارسي کې مې (پارسي) غوره کړې ده. په ترک او تورک کې مې ترک غوره کړی، ځکه ارواښاد حبيبي په متن کې تر تورک (ترک) ډېر کارولی و. د نشـابور او نشـاپور پر ځای مې د پښتنو له تلفظ سره سم نيشاپور غوره کړی. تالقان او کنيشکا مې هم په همدې ډول له پښتني تلفظ سره سم غوره کړي دي. په رخـد او رخـذ کـې کـې مـې (رخذ) غوره کړی دی. ښايي په متن کې دې ته ورته ځينې نور تغييرات هم رامنځ ته شوي وي.

ځينې ترکيبي نومونه په اثر کې کله ګډ او کله بېل راغـلي وو، مـا ترکيبـي نومونـه زياتره ګډ ليکلي دي، لکه کابلان شاه (کابلانشاه) سياست نامه (سياستنامه) او نور.

که څه هم متن سمونليک درلود؛ خو بيا هم په متن کې څه‌ناڅه طباعتي تېروتنې

تر سترگو کېدې، لکه محمدقاسم ۲۲۳ مخ (محمد بن‌قاسم) حمید بن‌وداع نجدي ۲۲۴/ وداع بن‌حمید نجدي= (وداع بن حمید نجدي) او وداع بن حمید ازدي ۲۲۹مخ. یتاج ۲۳۷ (بتاج) مر ه‌مان۳۰۲ (مردمان) فیما بنیه و بین۳۱۷ (فیما جری بینه) ابوالعدُا فر ۳۵۳ (ابوالعُذافر) عشرومائتی ۳۷۰ (عشر و مأتین) خانهای۳۸۹ (خانه‌های) نر کر نزوک۴۶۵ (نوکونزوک) ابوز بد سیرافي۴۸۴ (ابوزید سیرافي) چای نمازها۴۸۵ (جای‌نمازها) دراخم ۵۰۰( دراهم) نبودن جزای جسماني ۵۳۱ (بودن جزای جسمانی) قاضیان را نصب نکرد ۵۳۷ (قاضیان را نصب کرد) محمد بن‌قاسم قوماندان فاتح و جوانان امویان۶۸۶ (... و جوان امویان) وحود۶۰۷ (وجود) وندشیه ۶۱۶ (وندشنیه) آذر ماه آخر موسم زمستان و شدت سرما بود۶۵۳ (ماه اول زمستان یا ماه آخر خزان) شهری باحصار و پیرامن او خندق بود۶۷۳ (پیرامون) ممالک غربی ۷۳۱ (عربی)گوتنگن ۷۷۰ (گوتینگن)لیبزیگ۷۷۵ (لیپزیگ)مشایح‌الثوری ۷۸۲ (مشایخ‌الثوری) گفته انه۷۹۸ (گفته اند) ظالم بن عمرو ۱ق هـ/ ۶۹هـ ؟ ۸۰۶ مخ، معاذ بن مسلم متوفی ۱۸۸هـ= ۸۰م ۸۰۷مخ (۸۰۳م) طفع دبلیو رایت ۸۱۳ (طبع) غلیط فربه ۸۲۴ (غلیظ فربه) او به عقیدهٔ معتزله گناه کناه کبیره (گناهکار گناه کبیره؟) ۹۲۶.

ځینې کلمې حذف شوې هم دي، ځکه چې د متن په معنی کې کوم تغییر نه راتهٔ خو په پښتو کې یې راتګ د جملو ښکلا ته زیان رساوهٔ، لکه: چون، همچنین، همچنان او... په ځانګړي ډول هلته چې د پاراګراف په پیل کې راغلي وې.

ځینې ځیزونه یوې جغرافیې ته ځانګړي وي، بله جغرافیه یې چې ونهٔ لري زیاتره د هماغې ځښتنې جغرافیې په نومونو پېژندل کېږي. ځینو لغتونو زموږ په ژبه کې مناسب اندولونه نه درلودل، لکه انبه، نارګیل او.. یا قصبه، قریه، ده، شهرستان، شهر، کهندز یا کهندژ، حصار او نور؛ نو که څه هم ځینې یې ژباړل شوي؛ خو ځینې یې په ژباړه کې په هماغو خپلو نومونو پرېښودل شوي دي.

نه پوهېږم چې پروفي تېروتنې یې وبولم او که څه؛ خو د متن ځینې راته سم نه معلومېدل، لکه په ۳۱، ۴۸۱ او ۹۸۱مخونو کې نیسان ماه (حمل) راغلی خو سم یې (ثور) دی. RIRA ٦٦= RITA، چای نماز ۴۸۵، بن عر ۸۵۸ مخ. خراسال=

خراسان، فقال۷۸۸ (قفال). ددیگر، سدیگر (د دوهم او دریم په معنی) دراخم ۵۰۰ (دراهم). خلید بن قره یربوعی (از طرف حضرت علي ۴۷هـ ؟) ۱۹۳مخ. جنید ابن عبدالرحمن ابن عمر ۱۰۱س؟ ۱۹۵مخ او نور.

همدارنگه د متن ځينې ځايونه تش وو او ځينې نور ان په بېلابېلو چاپونو کې نه معلومېدل.

ما معترضه جملې معمولاً د - - او نومونه معمولاً د " "په منځ کې نيولې دي.

د مېلادي يا زېږدېزې سنې لپاره مې (ز) د هجري لمريزې لپاره مې (ل) د هجري سپوږميزې لپاره مې (س) او د مخزېږدېزې لپاره مې (م.ز) کارولي دي.

د قوس د ننه عبارتونه چې په متن کې پرله‌پسې تکراري راغلي وو، په ځينو ځايونو کې د لنډون لپاره له منځه وړل شوي دي، لکه ديول، ديبل (اوسنی کراچی ته نږدې يا د اوسنی کراچی شاوخوا) يا مهران (سند) سيند او داسې نور.

په ځينو ځايونو کې کلونه په ليندیو او په ځينو کې بې ليندیو راغلي وو، ما هماغسې پرېښودل؛ خو يو نيم ځای ښايي تېروتی هم واوسم.

په زغرده وايم چې د ځينو ونو، بوټو، سامانونو او توکو د نومونه پر ژباړې هم نه يم توانېدلی. همدا رنگه د ځينو پخوانيو متونو د نقل و قولونو له ژباړې زه لا څه چې ان د دري ژبي مسلکي کسان هم عاجز وو؛ نو ښايي زه هم په کې ښويېدلی واوسم.

ځينې مذهبي او سياسي کلمې بې له تشريح په لنډ انډول نه معنی کېدې؛ نو هماغسې پرېښودل شوې دي.

په پښتو کې د الفاظو کمښت يوه بله ستونزه ده چې زياتره ژباړونکي ورسره مخامخ وي، يواځې پر يوې بېلگې بسنه کوم، لکه: قصبه، قريه، ده، شهرستان، شهر، ربض او نور چې په پښتو کې د ټولو انډولونه پيدا کول ناشوني دي.

د جمهوريت د پېر په اصطلاح ځينې تخنيکي ستونزې هم وې، ريپليس ستونزې راولاړولې، لکه: ابن خلکان په (ابن وگړيان) اوښتل.

د بېلابېلو مسلکونو له متخصيصنو څو څو ځله د ځينو کلمو او نومونو توضيح

غوښتل شوې؛ خو لا هم ښايي سمې معنې او مطلبونه مو نه وي موندلي.

که څوک مې د هرې لهجې او په پښتو ګرامر پوه يا ناپوه بولي، خو ما قصداً د زياترو لهجو يوه ګډوله ژبه کارولې ده.

تېروتنې له انسان سره ملې دي؛ خو تر وروستي بريده ورڅخه د ځانژغورنې هڅه شوې ده.

د لايزال رب ډېر ډېر شکرونه ادا کوم چې ما کمزوري بنده ته يې هم د يوهٔ مهم اثر د ژباړلو زغم و توان راکړ.

په دې ژباړې کې هغه بېځايه ادعا ناسمه ثابته شوې چې ان زموږ اکاډمېسينان هم وايي: «د دري متن د پښتو ژباړې حجم زياتېږي.»

په دې ژباړه کې پراګرافونه په بشپړ ډول په خپل حال پاتې دي. ژباړه هم مخ په مخ شوې ده؛ بې له استدراکونو اصل متن په دري کې ۹۳۲ مخه وو، په پښتو کې هم هماغه ۹۳۲مخه دی. دې کار يوه بله ګټه هم درلوده، چې اعلام ځای پر ځای ژباړل شوي او بيا له سره راويستو ته يې اړتيا پېښه شوې نه ده.

يوه اړينه يادونه دا، لکه چې د مخه ورته نغوته وشوه، څوځايه داسې پخواني متون وو، چې ښايي پر سمې ژباړې يې بريالی شوی نه اوسم؛ هغه پاراګرافونه د کتاب په ۳۴- ۲۲۱- ۲۶۹- ۲۸۰ – ۲۸۶ –۳۰۸- ۳۶۹- ۷۴۸- ۸۴۰ -۸۸۳- ۸۸۹- ۸۹۷- ۹۰۱ مخونو کې وو.

بله دا چې د کتاب په دري متن کې راغلي آيتونه، حديثونه، عربي بيتونه، عبارات او همدا رنګه دري شعرونه هم نه دي معنی شوي، که څه هم استاد صميم يې د ژباړې غوښتنه کوله؛ خو ما له دې امله سر وغړاوه، چې:

۱- اصل ته زيان رسېدهٔ؛ يعنې علامه حبيبي هم له ډېرو لږو پرته نور نه وو ژباړلي؛ نو ما په کې ځان ته د لاسوهنې حق ورنه کړ.

۲- پټيلې مو وه چې اثر په يوهٔ ټوک کې چاپ شي، خو که دا ژباړه هم ورسره مله شوې وای؛ نو کتاب ډېر پنډېدهٔ.

۳- په دې اثر کې ځينې داسې عبارات شته چې توضيح ته يې کلکه اړتيا شته؛ نو که ژوند وفا وکړه او روغتيا اجازه راکړه، په دې اړه د يوه ځانګړي اثر د ليکلو هوډ

لرم، چې یادښتونه مې هم وار له مخه له ځان سره اخیستي دي.

د ځینو مسلکي مسایلو او لغتونو په اړه مې لـه دومـره کسـانو پوښـتنې گروېږنـې کړي، چې د ټولو د نومونو یادون را ته سـتونزمن برېښـي؛ البتـه د ځینـو د نومونـو نـه یادون به د هغوی حق خوړون وي، چې دا دي:

زما گران استاد او ملگری ښاغلی محمدآصف صمیم چې لـه بوختیـاوو سره سره یې کابو زر مخه کتاب په ورین تندي ټکي په ټکي اصلاح کړ. د اطلاعـاتو او عامـه اړیکو رئیس ښاغلی مولوي محمد عمر جلال چې هره ورځ یـې د کـار بشـپړولو تـه هڅولی یم، ښاغلي سلېمان اسلام‌دوست چې د توان په کچه یې زمـا لاسـنیوی کـړی دی. ښاغلی څېړندوی عزیزالله مبارز چې په کمپیوټري سـمونو کـې یـې راسره ډېـره ونډه اخیستې ده. ښاغلی څېړندوی حامد امان چې په مسلکي هنر یې د کتاب نقشې او لښتلیکونه جوړ کړل. ښاغلی څېړندوی احسان‌الحق کبیر، څېړنوال نجیب الله نایل، څېړندوی حمایت‌الله ښاد او محمد مجتبی همایون چې د اثر د وروسـتۍ سـینگارنې کړاو یې گاللی دی؛ ټول دې د ښاد، آباد او اوږدهٔ نېکمرغه ژوندانهٔ څښتنان شي.

# لومړی څپرکی

## د افغانستان عمومي اوضاع

د اسلام څلا ته نږدې، وړاندې او وروسته

سیاست، دین، صنعت او لیک ته یوه کتنه –ژبې –بودایي دین –نور دینونه –د زون عبادتځی –د کابل شاه‌بهار عبادتځی –په افغانستان کې چینایي سیلانیان– پاچاهي کورنۍ –د غزني لویکان –د زابل رتبیلان –کابلشاهان –نپکیان –د هندوکش د شمال امیران –تگینان –د بامیانو شېران –د غور سوریان.

## (۱)

## د اسلام د څلا پر مهال د افغانستان اوضاع

حضرت‌محمدﷺ د عبدالله زوی، د عبدالمطلب لمسی او د عربو له قریش قبیلې څخه دی. د ربیع‌الأول په لومړۍ نیمایي کې د ۵۷۰ ز کال د اپریل په۱۷مه د وهب قریش د لور آمنې له نسه د مکې ښار د ابن‌یوسف په کور کې وزېږېدۀ. د وحیې پیل او د قرآن نزول پرې په څلوېښت کلنۍ کې د روژې پر۱۷مه=٦۱۰ ز کال وشو. د نبوت پر ۱۳ کال= د ٦۲۲ ز په جولای کې یې له مکې ښار څخه مدینې ته هجرت وکړ، چې همدا کال د اسلامي هجري تاریخ پیل شو.

حضرت محمدﷺ د توحید، د اسلام د دین د تبلیغ، د توحید او قرآني احکامو د خپرولو په لارې کې تر هلوځلو وروسته په ٦۳ کلنۍ کې د ۱۱س کال د ربیع‌الأول پر۱۲مه د دوشنبې پر ورځ= ٦۳۳ ز له نړۍ څخه رحلت وکړ او په مدینې کې خاورو ته وسپارل شو؛ په داسې حال کې چې ۱۲٤۰۰۰کسه پلیوني او سرښندونکي اصحاب یې تر شا پرېښودل،[۱] علیه‌الصلوات‌والسلام.

## سیاست، دین، صنعت او لیک ته یوه کتنه

د اوومې زېږدي پېړۍ په لومړۍ نیمایي کې چې د اسلام لمر د بطحا له څنډو څیره ووهله، افغانستان د سیمه‌ییزو واکمنو او ختیځو او لوېدیځو ادیانو تر اغېز لاندې و. د هېواد لوېدیځه خوا سیستان (سگستان) هرات او شاوخوا یې، د ساساني پېر تر سیاسي، ادبي او دیني اغېز لاندې وه. ژبه یې پهلوي او دین یې زردشتي و؛ خو پر مرکزي غرنیو سیمو، زابلستان، د گندهارا په نامۀ د کابل سیند وادی، د هندوکش غرۀ تر لړۍ پورې پر ارغنداب وادی، د هغې پر شمال او د سند پر څنډو داخلي کورنیو

---

[۱]- طبري ٤٤۱/۱، د مسعودي مروج‌الذهب ۲/ ۱٦٤ او الأعلام ۷/ ۸٦.

واکمني چلوله، چې د کوشانيانو، يفتليانو او د دې خاورې د نورو خلکو اولادونه وو. دينونه يې بودايي او برهمني وو، چې ثقافت، دين او دود يې ښخي سيمه‌ييز رنګ خپل کړی و. داسې ښکاري چې د زېږديزو پېړيو له لومړيو څخه پر دې ځمکه د لمانځنې او عقيدې آزادي وه او هر لور ته د بېلابېلو دينونو عبادتځي وو.

ځکه وينو چې د بګلنګ (بغلان) د سرۀ کوتل د عبادتځي بنسټ لوی کوشاني ټولواک کنيشکا (۱۲۵-۱۵۲ز) ايښی او بيا وروسته په ۱۶۰ز کې ترميم شوی دی. د هغۀ ډبرليک له متنه جوتېږي - په يوناني ليک او تخاري ژبه (پخوانۍ دري) له هغۀ عبادتځي څخه تر لاسه شوی - چې دا اورتون يې د اير= اور لمانځنې لپاره جوړ کړی دی. د هغۀ د ترميم مشر د ۱۶۰ز شاوخوا د ماريګ کورنۍ کنارنګ نوکونزيکي و،[1] په‌داسې حال کې چې د همدې کورنۍ يو بل کس چې واګره‌ماريګ بن کمه‌ګويا و، شل کاله وروسته يې د کنيشکا د پېر پر ۵۱ کال د وردګو په خوات کې يو عبادتځی جوړ کړ، چې خروشتي ډبرليک يې اوس د برتانيې د لندن په موزيم کې پروت دی. دا عبادتځی د ساکياموني‌بودا په نامۀ جوړ شوی دی.[2]

له دې پخوانيو ليکلو اسنادو څخه ښکاري چې د دويمې زېږدې پېړۍ په افغانستان کې د اورلمانځنې او بودايي عبادتځي دواړه وو. ان يوې کورنۍ ته منسوبو کسانو د شلو کالو په واټن کې دواړه ډوله عبادتځي جوړ او ترميم کړي دي.

له هغو آثارو څخه جوتېږي چې د افغانستان‌په بېلابېلو سيمو کې له کندهاره د ګندهارا تر پای ټکسيلا پورې په باميانو، کندوز، کاپيسا، هډې او پېښور کې‌لاس ته راغلي، چې په لومړيو پنځه‌وو زېږدو پېړيو کې ګريک و بوديک صنعت، دينونه او ګډ تمدن په خپل نښلېدنګځي يعنې د هېرمند د څنډو او ټکسيلا تر منځ سيمو او په شمال کې تر بلخ او تخارستان پورې موجود وو. د افغانستان خلکو د دې ګډ مدنيت په رامنځ ته کولو کې لاس درلود. تر اوومې پېړۍ او اسلام را تګ پورې پر دې

[1]- د تفصيل لپاره وګ: رسالۀ مادر زبان دری، د عبدالحی حبيبي په قلم، کابل چاپ ۱۳۴۲ل.

[2]- تاريخ افغانستان ۱۳۰۲/۲ او مادر زبان دری ۱۳۴.

خاوره بودایي، زردشتي، لمرلمانځنې، شېوایي او نسطوري مسیحي دینونو او د یو شمېر ارباب‌الانواعو د سیمه‌ییزو معبودانو لمانځنه دود وه، چې د دې هر سیمه‌ییز دین آثار د ځمکې له لاندې نه تر لاسه شوي او د کابل، پېښور او اروپا موزیمونه یې ډک کړي دي.[1]

په لومړیو زېږدو پېړیو کې پردې ځمکه د درېو پخوانیو لیکدودونو څرک مومو:

لومړی: د کوشاني‌پېر یوناني‌لیکدود چې‌د کنیشکا په اولادونو (۱۶۰ز شاوخوا) پورې اړوند د بغلان په ډبرلیک کې موندل شوی دی، ۲۸ توري‌د یوناني ماتو شکلونو نخښې او د کوشاني پېر د تخاري ژبې د تورو لپاره یو شمېر ځانګړي شکلونه لري.[2]

دوهم: پخوانی خروشتي لیکدود دی، چې (۱۸۰ز شاوخوا) د خوات وردګ ډبرلیک په هغۀ کښل‌شوی او د هغۀ نورې لیکنې‌هم د افغانستان او هند له بېلابېلو سیمو څخه لاس ته راغلې دي.[3]

درېیم: پهلوي لیکدود دی، چې څېړونکي وایي له آرامي لیکدود څخه اخیستل شوی او د ساساني پېر د زردشتي ډبرلیکونو او دفترونو رسمي لیک دی.[4] د هېواد په لوېدیځ او خراسان کې دود و او د زردشتیانو دودیز او دیني کتابونه پرې کښل کېدل.

داسې ښکاري چې د هېواد په ختیځو برخو کې د سند تر څنډو پورې د هغو خلکو په منځ کې سنسکرېت لیک هم دود و، چې له بودایته د هندوانو دینونو ته اوښتي وو.

---

[1] - د تفصیل لپاره وګ: تاریخ افغانستان، دوهم ټوک، کابل چاپ ۱۳۲۵ل او د دې کتاب څلورم څپرکی د وګړو د پرګنو شرحه.

[2]- د تفصیل لپاره وګ: رسالۀ مادر زبان دری، کابل چاپ ۱۳٤۲ل، د هیونڅانګ پر مهال هم د هندوکش په شمال او د امو په سوېل کې ۲۵ توریزه الفبا موجوده وه، چې له کیڼ ښي لور ته لیکل کېده (سي- یو-کی). که چېرته د حرکاتو نخښې له دې تخاري الفبا څخه لیرې کړو؛ نو ۲۵ توري پاتې کېږي، چې د هیونڅانګ له وینا سره سمون خوري او د دې موخه یوناني لیکدود دی، چې د هیونڅانګ تر مهاله یې دوام درلودلی دی.

[3] - د تفصیل لپاره وګ: خروشتي ډبرلیکونه، د ستین کونو تألیف.

[4] - ایران در عهد ساسانیان، د کریستن‌سن ۳۲او سبک شناسي ۱/ ٦۹.

ځکه د وزیرستان د توچي ډبرلیک چې په عربي او سنسکریت ژبه لیکل شوی، د لیکنې کال یې ۲۴۳س= ۸۵۷ ز دی. عربي لیکدود یې کوفي او سنسکریت یې د ناگري NAGRI یو پخوانی شکل سره‌دا SARADA دی.[۱] نو له هغهٔ څخه جوتیږي چې د دریمې لیږدې پیړۍ په منځ کې هم په کوفي لیک د دې لیکدود نخښې راپاتې وې.

هیونځانگ د دې مهال د سنسکریت لیکدود په اړه لیکي، چې الفبا یي براهما ویدا ترتیب کړې او ۳۷ توري لري. دا الفبا بېلابېلو سیمو ته خپره شوې او د چاپېریال اوضاع ته په کتنه په کې هر ځای څه تغییرات رامنځ ته شوي دي. کوچنیان د درس په پیل یا اووه کلنۍ کې دولس څپرکیز کتاب (سه دها واستو) لولي او وروسته ورته د ویدیا د پنځه ساستراوو درس ورکول کیږي، چې تر ټولو لومړی د سیدا ویدیا (د ږغونو توضیح) رساله ده. په هغې کې د کلماتو ترکیب شرحه کیږي او د مشتقاتو مردف فهرست لري.

دویمه رساله- کیاومنگ (د سلپاس تهانا ویدیا) د وخت پېژندنې او کالیزې په اړه.

دریمه رساله- د طب، کوډو او دارویي بوټو په اړه.

څلورمه رساله- هیتو ویدیا (د علتونو، حقایقو او منطق په پوهه کې).

پنځمه رساله- ادهیاتما ویدیا (د باطن علم، مقامونه، علتونه او نتایج یې).[۲]

یو بل ډبرلیک هم د زابلي هفتلیانو له پېره چې په (٤۲۵ ز) کې پیل شوی، د افغانستان له ختیځې خوا وزیرستان څخه لاس ته راغلی او پر سره‌داناگري لیک سربېره څه کلمات په منگولي لیک هم لري. له هغو نه دا معلومولای شو، چې د اسلام‌ځلا ته نږدې د هفتلیانو او سپینو هونانو په پېر کې د منگولي لیکدودونو یو ډول هم کارېدهٔ. دا دوه تاریخي ډبرلیکونه اوس په پېښور موزیم کې پراتهٔ دي.[۳]

---

[۱] - پټانان د سر اولف کېرو، ۱۰۵.

[۲] - سي - یو کی- دوهم کتاب.

[۳] - د پېښور موزیم ډبرلیکونه.

د کندهار (زاولستان) د شمال روزگان د شالي درې ډبرليک هم په يوناني ليکدود دی، چې د مشهور هفتالي پاچاه ميراکهولا په پېر (۵۰۰ ز شاخوا) کې کښل شوی او ځان يې په هغۀ کې لوی زاولشاه نوملی دی.[1] په داسې حال کې چې د اټک د هنډ (تاريخي اوهنډ) ډبرليک په سنسکريټ ژبه او ليکدود دی، چې په ۱۸۳٦ز کې الکزانډر برنس موندلی او په اوومې زېږدې پېړۍ پورې اړه لري.[2]

چينايي سيلاني هيونځانګ (جولای ٦٤٤ز=۲٤س) وايي، د کابل او کاپيسا د خلکو ليکدود د ترکانو غوندې و، خو ژبه يې ترکي نه وه.[3]

## ژبې

د افغانستان د خلکو وضع په دې وخت کې په زياترو کلتوري ښکارندو کې يو راز او يوه نه ده. لکه چې ومو لوستل، په دين، هنر، ليک او ټوله ټولنيزه او مدني اوضاع کې د بېلابېلو مدنيتونو پيوستونځی و، د ژبې په مسأله کې هم همدا وضع وينو. د بغلان له ډبرليک (۱٦۰ز شاوخوا) څخه جوته ده، چې د کوشاني پېر ژبه په تخارستان کې يو ډول پخوانۍ دري وه، چې ږغونه، کلمې او ګرامر يې له پښتو سره ډېر ورته وو او د دري ژبې مور يې بللای شو. څه رنګه چې د پښتو پخواني آثار هم له دويمې لېږدې پېړۍ راهيسې په لاس کې دي؛[4] نو ويلای شو چې دري او پښتو پر دې ځمکې دوې سره ملې او نږدې ژبې وې. په ختيځ کې په سنسکريټ او په لوېديځ کې پر پهلوي سربېره يو شمېر سيمه‌ييزې لهجې هم وې.

هيونځانګ ليکي: چې د فلنه FALANA (بنو) خلکو ژبې له هندي ژبې سره لږې ورته وې. کننګهم له دې لنډې يادونې پايله اخلي، څه رنګه چې د دې سيمې وګړي هنديان نه وو، بايد د هيونځانګ په تعبير اُ- پو-کينO-PO-KIEN (افغان) وي،[5] چې

---

[1] - د پېښورموزيم مجله، ډسمبر ۱۹۵۳ز.

[2] - کابل د الکزانډر برنس، ۱۲۰ مخ، د لندن چاپ، ۱۸٤۲ز.

[3] - د هند پخوانۍ جغرافيه د کننګهم، ۳۹ مخ.

[4] - د زيات تفصيل لپاره وګ: د ليکوال دوې رسالې، پښتو و لويکان غزنه او مادر زبان دری.

[5] - د هند پخوانۍ جغرافيه ۸۹.

ژبه يې پښتو وه. هم دا سيلاني وايي د هو-سي-نه (غزني) د خلکو ژبې او ليک له نورو ولايتونو سره توپير درلود؛[1] نو اټکلولای شو چې د غزني او مخکې يادې شوې فلني ژبه به يوه وي.

خو عربي ژبه په دوو لومړيو لېږدو پېړيو کې په افغانستان کې خپره او د سند سيند تر څنډو ورسېده. دليل هغه عربي او سنسکرېت دېرليک دی چې په ۲۴۳س کې پر دوو ژبو د ودانۍ په نېټه کې کښل شوی، د وزيرستان په ټوچي دره کې پر يوې لويې تيږې موندل شوی او اوس د پېښور په موزيم کې دی. د هغۀ له کتنې څخه معلومولای شو، چې پر دې پېر د عربي ژبې او ادب کوفي ليکدود د افغانستان د ختيځو ولايتونو تر وروستيو پورې خپور شوی و.

په خراسان کې د پارسي ژبې لهجو هم توپير درلود، چې په لومړيو درېو اسلامي پېړيو کې ورته مؤرخانو نغوتې کړې دي، لکه المقدسي د سيستان د خلکو په ژبه کې د تېزۍ، تکلف او د سينې په زور د ادا کولو يادونه کړې ده. د بُست ژبه تر هغې غوره ګڼي او د بلخ ژبې ته د ځېرو کلماتو له شتون سره تر ټولو ژبو غوره وايي. په داسې حال کې چې د هرات ژبه وحشي ګڼي، چې د هغۀ ځای وګړي کلمات ناسم ادا کوي.

هغه وايي: د غرستان ژبه د هرات او مروې د ژبې تر منځ، د ګوزګانان ژبه د مروزي او بلخي تر منځ او د باميانو او تخارستان ژبه بلخۍ ته نږدې ده، بې له دې چې په هغو دواړو کې پېچلتيا وي.[2]

## بودايي دين او عمومي اوضاع

د هيونڅانګ په پېر کې- چې د اسلام د ځلا پيل دی- بودايي دين بېلابېل مذهبونه او لارې درلودې او تر اتلسو پورې مذهبونه په کې وو، چې پليوني يې د خپل مذهب د ثبوت لپاره له نورو سره په شخړو او اختلاف کې وو او هر يوۀ جلا پليوني او لارښودان درلودل.

عموماً په افغانستان کې د لوی او کوچنی مذهب په نامۀ د بودايي مذهب پليوني

[1] - سي.يو. کی ۱۲ کتاب، د تسوکوچا بحث.

[2] - احسن التقاسيم تر ۳۳٤ وروسته.

موجود وو، چې هیونځانګ یې د هېواد په بېلابېلو سیمو کې په ګوته کوي. بودايي مشهور او دود کتابونه وینا یا (لیو) ویناوې (لون) او سوستراګان (کنګ) وو. د دې کتابونو محصلینو او زده‌کوونکو شپږ پړاوونه درلودل. چا چې به دغه شپږ پړاوونه وهل، نو د تدریس او استادۍ مقام ته به رسېدهٔ او عبادتځیو ته به پر قیمتي مرغلرو سینګار شوي فیل سپور تهٔ. داسې شخص باید د ژبني فصاحت، سم منطق، تحقیق او اغېزناکې وینا ښښتن وای او که به داسې چا د دې مقام دعوه وکړه چې دا ځانګړنې به یې نه درلودې، نو هغهٔ ته به یې په ځانګړو نخښو سره په یوه ځنډه کې د نالایق په نامهٔ ځای ورکاوهٔ، په خاورو- ختو به یې ورته مخ او بدن ککړاوهٔ. همدا رنګه که چا به د استادۍ او مذهبي ژوندانهٔ له مقامه مخ اړاوهٔ او په مزو چړچو به سر کېدهٔ، نو هغه به یې د تل لپاره له مذهبي کړیو څخه شاړهٔ.

واکمنانو د دیني علومو پر استادانو ډېر باور درلود. وګړي د بودا پر دین او مروجو مذهبونو ګروهمن وو؛ خو هیونځانګ وایي څه رنګه چې د بودا د ژوندانهٔ ډېره اوږده زمانه تېره شوې وه؛ نو دین د تغییراتو ښکار او نوي څیزونه په کې ګډ شوي وو.[١]

د هغهٔ مهال په ټولنې کې د نورو هندي آریایانو په څېر د خلکو څلورو پوړیو ژوند کاوهٔ: برهمن (پو- لو- مین یعني روحانیونو) کشتریه (تسا- تي- لي- یعنې پوځي واکمنانو) ویسیا (فای- شي- لي یعنې سوداګرو او کسبګرو) او سودرا (شو- تو- لو یعنې نه لمس کېدونکو). لوړو پوړیو به له ټیټ پوړیو سره وادهٔ او ګډ ژوند نه کاوهٔ. پاچاهي، واکمني او لښکرکښي له کشتریه پوړ سره وه. له دې پوړه به د هېواد عسکر ټاکل کېدل، چې څلور ټولګي یې درلودل: پلي، سپارهٔ، بګیوال او فیلوال. افسران به یې په څلوراسه بګیو کې له یوهٔ ساتندوی ټولي سره تلل.

وسلې یې هم اوږده نېزه، ډال، توره، غشي- لینده، خنجر، تبر، کرچ، لنډه نېزه او د مچنوغزې (مچوغندې) ډولونه وو.

---

[١] - سي.یو. کی دوهم کتاب، ٩-١٠ بحثونه.

هیونځانګ وايي، وګړي د انصاف او رښتينولۍ فکر لري، لوز او ژمنه پر ځايوي. د حکومت د قوانينو په منلو کې رښتيني او ټينګ دي؛ له همدې امله په کې مجرمان او سرغړوونکي لږ دي. له قوانينو د سرغړونې سزا بند يا شړنه، د غوږ، پوزې، لاس او پښې پرې کول او کله نقدي جريمه ده.

د ادب او درناوي په ډولونو کې د زارۍ او دعا له کلماتو نيولې تر سجدې پورې دود دي. راټيټېدل، رکوع، لاسونه غبرګول، ګونډې وهل او درې ځله ترې چاپېره چورلېدل دود درناوی دی.

ناروغ کس تر اوو ورځو پورې روژه نيسي او که روغ نه شو، بيا درمل خوري. د جنازې په وړلو کې غم او ماتم کوي، کوکې وهي، جامې څيروي او ويښتان شکوي. مړی يا سوځوي، يا يې ژورو اوبو ته اچوي او يا يې په ځنګلهٔ کې بږدي چې د ځناورو خوراک شي.

د حکومت اداره پر نرم چلن ولاړه ده، له ولسه جبري کار او ماليات نه غواړي. زياتره وګړي له کرکيلې خواړهٔ تر لاسه کوي. که څوک پاچاهي ځمکې وکري، شپږمه برخه يې حکومت ته ورکوي. سوداګر تل ځي راځي. د لارو او پلونو باج و ټيکس لږ دی. که د اړتيا پر مهال له ايله‌جاري ولسه کار واخيستل شي، د کار هومره اجوره ورکول کېږي.

د عسکرو يوه برخه د هېواد پولې او بله يې هم پاچاهي ماڼۍ ساتي. د هغوی معاش له کار او خدمت سره سم دی. کله نورې پيسې هم ورکول کېږي. لښکريان د نومليکنې دفتر لري.

حاکمان، وزيران، قاضيان او چارواکي هر يو د کرنيزې ځمکې يوه برخه د خپلې ګوزارې لپاره جاګيروي.

د خلکو عمومي خواړهٔ شيدې، کوچ، پېروی، بوره، خوږه، تېل، ډوډۍ، د پسهٔ، هوسۍ او غرڅه غوښې دي. د غويي، خرهٔ، فيل، اس، سرکوزي، سپي، ګيدړ، لېوهٔ، زمري، بيزو او ټولو وړۍ‌والو او وژغنيزو ژويو غوښې، پيازو او هوږې خوړل منع دي.

خوړونکی يې له ښاره ايستل کېږي. شراب، ډول ډول څښاکونه، د انګورو او ګنيو ځوښه څښل کېږي. لوښي يې زياتره ختين دي. په لاس ډوډۍ خوري. په تجارتي معاملو او راکړه ورکړه کې کله جنس پر جنس بدلېږي. سرۀ زر، سپين زر، مس، وړۍ، مرغلرې او نورې قيمتي ډبرې هم بدلون ته ايږدي.[1] د افغانستان ختيځې برخې چې د هند له تاودۀ اقليم سره ورته دي، د هوا او فضا له اړخه يې ټولنيزه وضع دا ده.

په اوومه زېږدې پېړۍ او د اسلام څلا په پېر کې د افغانستان ټولنيزه، سياسي او اقتصادي اوضاع د ګډوډۍ، د مرکزيت د نشت او د هغو دينونو د اغېز له امله ښه نه وه، چې شړېدلي وو. له دې امله د هغۀ مهال افغانستان په داسې وضعې سره په سياست او ټولنې کې د مقام او د يوۀ حاکم ځواک د تشکيل لپاره، په دې خاورې کې خپل ځواکونه پرځايولای نه شول. څکه عام ولس چې د ټولنې د ملا تير دی دا مهال د خانخانيو د برلاسی له امله- چې په هر ولايت کې يې خپلواکی درلودې- نه ځواکمنېدۀ. همدا رنګه د بېلابېلو دينونو او مذهبونو- چې پر اوهامو او پخوانيو کيسو ولاړ وو- د اغېز له امله د عامه ژوندانۀ بنسټ لړزېدۀ. اوهام او خرافات پر عقل او پوهې برلاسي وو، چې د هيونڅانګ په يادښتونو کې د خرافاتو او کيسو ډېر داستانونه د افغانستان په ټولو شمالي او ختيځو برخو کې د بودايي- شېوايي- برهمني- لمرلمانځنې، اورلمانځنې- د يو شمېر سيمه‌ييزو خدايانو د لمانځنې او ان د غين لمانځنې (تناسلي آله چې د ګندهارا په ولايت کې يې ځينې عبادتځي او آثار موجود وو) د مذهبونو تر اغېز لاندې وو.

ښايي د عربو د سوبمنو له لاسه د دې ولس د ماتې لامل همدا شړېدلې ټولنيزه او اروايي وضعه وي چې خپل ځای يې د اسلام نوي او الهام بخښونکي دين ته پرېښود.

---

[1] - سي.يو. کی، د بيل ژباړه، دوهم ټوک، تلخيص.

## نور دينونه

ومو ويل چې د اسلام د څلا پر مهال په افغانستان کې د بودايي لوی او کوچنی مذهب پر پليونو سربېره د نورو دينونو پليوني هم وو. هيونځانګ چې د (٦٣٠ ز کال په می= ٩س) کې د کابلشاهانو پلازمېنې کاپيسا ته راغلی و، د بودايانو پر ډېرو عبادتځيو سربېره د (دېوا) د لسو او د نورو مذهبونو د زرو عبادتځيو کيسې کوي، چې لغړ زاهدان او پر ايرو ناست ملنګان په کې وو. له هډوکو به يې تسپې (تسبيح) او خولونه (تاجونه) جوړول او په سرول.[١]

## د سوناګر عبادتځی- زون و زور

هيونځانګ دوه ځله دا مشهور عبادتځی ياد کړی دی: يو د (٦٣٠ ز) په می کې کله چې له کاپيسا څخه هند ته تۀ، وايي: د ٧٠ لی په واټن (کابو ٢٣ ميله) د کاپيسا سوېل ته د O-LO-NO (ارونا ARUNA) غر بوړنوونکې سمڅې، څوکې او ګړنګونه لري او لومړی ځل"سونا" اسماني روح له لرې واټنه دلته راغلی خو وروسته د (تسو- کو- چا) يعنې زابلستان سيمې د سوناګير SUNAGIR (تسو- نا- هيلو) لوړ غرۀ ته لاړ.[٢]

بيا له هنده د راستنېدا پر مهال، د ٦٤٤ز په جون= ٢٤س کې ليکي:

د دېوا روح د کاپيسا له ارونا غرۀ څخه تسو- کو- چا TSU-KU-CHA (زابل) ته راغی، د سوناګير غرۀ په سوېلي خواوو کې مېشت شو. ټول وګړي يې لمانځي. هر کال شاهزي، لويان، ليرې او نږدې وګړي د هغۀ په جشن کې سره راغونډېږي. سرۀ او سپين زر او نور ګرانبيه توکي له پسونو، اسونو او نورو ډېرو کورنيو څارويو سره هغۀ ته ډالۍ کوي، چې هيڅ څوک په کې نه د لاسوهنې زړورتيا او نه ورته د ملکيت تمه لري.[٣]

---

[١] - سي. يو. کی، لومړی کتاب، د کيا- پي- شي بحث.

[٢] - پورتنی اثر.

[٣] - پورتنی اثر، ١٢کتاب، لومړی بحث تسو- کو- چا.

هيونځانگ د تسو-کو-چا پراخوالی اووه زره لی (کابو دوه نيم زره ميله) ليکـي، چې پلازمېنه يې هو-شي-ني (غزني) او بل مشهور ښار يې هو-سا-لا (هـزاره) دی. د اسلامي پېر د جغرافيـه‌پوهانو او مؤرخـانو لـه وينـاوو هـم څرګنـده ده چـې د زابـل سوبلي پولې له غزني د هلمند او سيستان تر څنډو رسېدلې؛ نو د سـوناګير عبـادتځی بايد د زابلستان په سوېل کې يعنې د هلمند پر څنډو وي.

د اسلامي پېر په لومړيو کې چې تر دې وخته لا دا عبادتځی موجود و، اسـلامي سوبمنو هغه د زابلستان په وروستی سوېلي‌سيمه زمين (داور) کـې‌مونـدلی‌دی. مسـټر مارټېن هم ګروهمن دی، چې د هيونځانـګ سـوناګير عبـادتځی هماغـه مـزدک دی، چې په زمينداور کې و.[1]

د اسلامي پير په مؤرخانو کې لومړی ځل احمد بن‌يحيی بلاذري (۲۷۹س مړ) د سيستان او کابل د سوبو په څپرکي کې داسې وايي:

«په دېرشم لېږدي کال کې عبدالله بن‌عامر کرمـان تـه راغـی، ربيـع بـن‌زيـاد حارثي يې سيستان ته راولېږهٔ، هغه د هلمند ناوې ته راغی، د زرنج له پوله‌ساتي، پروېز سره يې سوله وکړه. د ربيع حاکمي دوه نيم کاله وه، چې تر هغهٔ وروسـته عبدالرحمن بن‌سَمُره د زرنج والي شو. هغهٔ د رخج غـاړې څنـډې او داور ښـار هم ونيو. د داور وګړي يې زور غرهٔ (زون) کې راايسار او سوله يې ورسره وکړه. په دې جنګونو کې د ابن‌سمره له اته زره لښکريانو څخه څلور زره سټ شول. د زور بت يې تر لاسه کړ، چې له نږه سرو زرو څخه جوړ او سترګې يـې يـاقوتي وې. لاسونه يې ترې پرې کړل، ياقوت يې ترې راوايستل، بيـا يـې د هغـهٔ ځـای پوله‌ساتي ته ورکړل او ورته ويې ويل:«زما موخه دا وه، چـې پـوه شـې، دا بـت ګټه او تاوان نهٔشي رسولای.»[2]

---

[1] - د بنګال د آسيايي ټولنې مجله، درېيمه لړی، دوهم ټوک، ۱۹۳٦ز، ۳۲۸ مقاله.

[2] - فتوح‌البلدان ٤٨٦.

ابن‌اثیر دا د ۳۱س کال په پېښو کې له البلاذري څخه همداسې نقل کړې ده. د فتوح‌البلدان د نسخو خوندیینه (الزور) دی؛ خو د ابن‌اثیر په چاپ نسخه (د قاهرې ازهریه مطبعه ۱۳۰۱س) کې الزوز و بلدالداون دی.[۱] څرګنده ده چې دا نومونه د نسخو د لیکونکو له خوا مسخ شوي دي او د هغو خوندیینه اړول شوې ده.

په دې چې اسلامي مؤرخان او جغرافیه‌پوهان د دې نامهٔ په خوندیینه کې شکمن دي او په دوو بڼو یې خوندي کړی دی: مثلاً یاقوت‌حموي د ابوزید احمد بن‌سهیل بلخي (۳۲۲س مړ) او اصطخري (۳٤۰ س شاو خوا) د وینا له مخه د زمینداور یادونه کټ مټ د البلاذري غوندې کوي او د بت نوم په دوو بڼو: زور او زون خوندي کوي.[۲] لی‌سترینج دا مشهور عبادتځی د زمینداور تل ښار ته نږدې ښیي.[۳] همدا تل چې عربو جغرافیه‌پوهانو هغه د زمینداور یو ښار ګڼلی دی.[٤] داسې ښکاري چې: له پخوا زمانې د دې روایت په نقل کې د کلمې د اصل په املا کې - چې (زون) وه- بدلون راغلی او هغه یې زور یا زوز او په نورو ډولونو لیکلې ده. ان یاقوت هم دواړه لاملونه نقل کړي دي او وایي: زُور په داور ښار کې یو بت و او زُون به بت او بتتون وي، جریر ویلي دي:

یمشـــي بهـا البقـرُ المـوشيُّ أکرُعُـه
مـــشيَ الهَـرابِذ تَبغي بیعــَة الـزُّونِ

د روبه وینا ده: وهنانة کالزون یجلی صنمه[٥]

له لرغونو اسنادو څرګندېږي چې: د زون یا زور کلمه له آره عربي نه ده، ځکه د لسان‌العرب لیکوال څرګندوي چې الزُون، هماغه د پارسي زون دی.

---

[۱] - الکامل ۳/ ٦۳.

[۲] - معجم‌البلدان ٤/ ۲۸.

[۳] - جغرافیای خلافت شرقی، اردو ژباړه ۵۲۱.

[٤] - مسالک و ممالک، د اصطخري، تر ۱۹۲ وروسته.

[٥] - مراصد الاطلاع ۲/ ٦٧٦.

تر هغهٔ د مخه موهوب بن‌احمد جواليقي (۴۶۵-۵۴۰ س) الزور او الزون دواړه د بت په معنی راوړي او وايي: و همامعربان، حميد ويلي‌دي: دأب المجوس عكفت للزون يوهٔ بل ويلي دي:

يمشي بها البقر الموشِيّ أكرعه        مشي الهرابذ حجوا بيعة الزّونِ[1]

نو د عربو زون د (سون) معربه بڼه ده، چې د هيونځانګ په سوناګير کې ورته نغوته شوې او د لمر رب‌النوع دی. شکل يې د نيم‌تنه بدن په بڼه د هفتليانو- چې د بودايي دين مخالف او پر سيمه‌ييزې اورلمانځنې ګروهمن وو- پر ځينو سيکو انځور شوی او د سر تر شا يې لمر ځرک را وهلی دی. ډاکټر جونکر له دې سيکو نه پر ځينو د (داور، زابلستان او نورو ښارونو نومونه هم لوستي دي)[2] چې له هغو څخه له داور سره د اورلمانځنې د دين اړيکه ثابتيږي. د هيونځانګ په سوناګير کې د ګير کلمه همدا د پښتو غر دی، چې د دې سيمې د ډېرو ښارونو په نومونو کې يې ريښه ځغلولی، لکه: غور، غرستان، سپين غر او نور.

پته دې نه وي چې د اورلمانځنې د همدې دين په آثارو کې د کابل د شمال لويديځ په ۱۲ کيلومترۍ خيرخانې کنډو کې يو لوی عبادتځی موندل شوی، لرغونپوهان يې د سوريا (لمر رب‌النوع) عبادتځی ګڼي او د سوريا مرمري پژۍ يې ترې راايستې ده، چې د رب‌النوع دواړو خواوو د هغه دوه کسه ملګري هم ليدل کيږي. دربواړه په يوې بګۍ کې ناست دي، چې دوه اسونه يې راکاږي. د بګيوان هم نورستانی پکول په سر او اوږده کروړه يې په لاس کې ده.[3]

اوس د سوريا د دې عبادتځي له مخه ويلای شو، چې د جواليقي او ياقوت‌حموي معربه کلمه (زور) هم پخوانی مأخذ لري او دواړه کلمې زون- زور

---

[1] - المعرب من الكلام الاعجمى، د احمد شاكر چاپ، قاهره ۱۳۶۱س، ۱۶۶مخ.

[2] - د افغانستان تاريخ ۵۷۷/۲ چې ليکوال يې سوناګير د کابل سوېل ته د لوګر په سګاوند کې پروت ګڼي؛ خو لوګر په کابلستان کې دی، په زابلستان کې نه دی.

[3] - آثار عتيقهٔ کوتل خيرخانه، د موسيو هاکن ليکنه، د ښاغلي کهزاد ژباړه، کابل چاپ.

د لمرلمانځنې په دين پورې اړه لري، چې د اسلام تر ځلا پورې هم په دې سيمه کې رواج و.[١] دواړه کلمې عربو له دې هېواده وړې او د بت او لمر د رب‌النوع د پېرې په معنی يې په خپل ادب کې مجوس او هربذ ته منسوب کړې دي، چې د دواړو کلمو تحول به داسې وي:

سونا= سون= زون

سوريا= سور= زور

دا دواړه نومونه د افغانستان د ځايونو او قبيلو په نومونو کې تر اوسه ليدل کېږي. سناخېل د پښتنو منډړو د اتمانزيو خېل دی[٢] او د سناخان نوم په پېښور کې دود دی. سنارود د هلمند سيند يوه ښله وه، چې په سيستان کې يې د هغهٔ ځای کلي خړوبول او سناباد د طوس په يو ميلۍ کې يو کلی و، د حضرت‌علي بن‌موسی رضا رضي الله عنه ښخېدنګځی.[٣]

خو زور د هرات د مشهورې زوري قبيلې په نامهٔ کې پاتې دی. اوسنی زورآباد د مؤرخانو هماغه سورآباد دی. د پېښور د سور قبيله او د غور سورياخېل او سوريان چې منهاج سراج يې حال شرحه کوي،[٤] د دې پخواني نامهٔ بېلابېلې ښکارندې ګڼل کېږي.

## د کابل د شاه‌بهار عبادتځی

په افغانستان کې د اسلام د لومړيو سوبو په تاريخ کې د شاه‌بهار نوم ډېر مشهور دی. بيهقي د غزنويانو په پېر کې د غزني د شاه‌بهار يادونه کوي، چې پاچاه به تل په کې د خپل لښکر تجهيزات ليدل.[٥]

---

[١] - کريستين‌سن وايي: کاسيان چې په ١٨مه مخزېږدې پېړۍ کې يې بابل ونيو، سوريه SURYA لمانځونکي وو، هغه د لمر آريايي رب‌النوع او په اوستا کې هور HVAR و، چې وروسته په ١٤مې مخزېږدې پېړۍ کې د ميتاني په ليکلو آثارو کې ميتره MITRA ليدل کېږي. همدا ميتره د اسوربانيپال په کتابتون کې د لمر له بابلي خدای سره يو ګڼل شوی دی. (مزدا پرستي در ايران قديم، ٣٢مخ، د کريستين‌سن ليکنه، د ډاکټر صفا ژباړه، د تهران چاپ ١٣٢٦ل).

[٢] - صولت افغانی، د ناغر محمد زردارخان، ٣٥٤، د کانپور چاپ ١٨٧٦ز.

[٣] - مراصد الاطلاع ٧٤٢/٢.

[٤] - وګ: طبقات ناصري، حيات افغاني او د کتاب په دې څېرکي کې د غور د سوريانو مبحث اتمه برخه.

[٥] - تاريخ بيهقی ٦٣٧/٦١٠.

دا نوم له شاه+ بهار څخه مرکب دی، یعنې بهارشاه او د پاچاه لمانځنځی چې د پاچاه نامهٔ ته منسوب او مضاف دی. یا دا چې داسې عبادتځی و، چې پاچاهي پڼۍ یې په کې لمانځله. بهار یا وهاره په سنسکرېت کې هم د عبادتځي په معنی دی، (واره) چې په بلخ کې وه، د اوستا له پېره پاتې ده[1] او په وهار= بهار= هار او نورو بڼو اوښتې ده. همدا کلمه دهچېد هېواد د زیاترو ښارونو لکه: کندهار، ننګرهار، نندرهار، پوتوهار (ټکسیلا ته نږدې) چپرهار، ګلبهار، بنیهار (بنړ)[2]د نومونو په پای کې لیدل کېږي. په نورو آریایي ګړدودونو کې په هور= وور اوښتې او په پای کې بور= پور شوې لهاوور= لاوهور= لاهور او پرښاور= پرښاپور= پرښاوور او دنبور (د بابر آدینهپور- اوسنی جلال آباد) په سند کې بمبهور دا روستاړیSuffix لري.

په پارسي ادب کې هم بهار د بتتون په مفهوم موجود و.

نظامي:

بهــــار دل افـــــروز در بلـــــخ بـــــود    کــزو سرخ گــل را دهــان تلــخ بــود

فرالاوي:

نــه همچــون رخ خوبــت گــل بهــار    نــه چــون تــو بــه نیکــویي بــت بهــار

منصور رازي:

بهـــار بتانســـت و محـــراب خـــوبی    بـــروی دل آرام و زلفـــین دلـــبر

فرخي:

هنگام خزانسـت و چمـن را بـد انـدر    نو نو ز بت زرین هر سوی بهاریست[3]

خوارزمي وایي: «البهار بیت اصنام الهند.»[4]

دا تاریخي نوم د غزني د شیبار او د هندوکش غرهٔ د اوسني شیبر پـه کلمـو کـې پاتې دی. څه رنګه چې د پښتو (ښ) د افغانستان په ختیځ کې پر (خ) بدلیږي، نو

---

[1] - د واره= وهار کلمو او په پښتو کې د هغو د ریښو لپاره وګ: د لیکوال تألیف (د پښتو ادبیاتو تاریخ) لومړی ټوک، ۹٤مخ.

[2] - بنیهار یو ځای دی، چې وګړي یې بت لمانځونکي دي، درې لوی بتان لري، د هغهٔ ځای پاچا ډېرې مسلمانانې، پښتنې او هندوانې ښځې لري(حدودالعالم ٤٦).

[3] - لغت فرس، د اسدي ١٢٤.

[4] - مفاتیح العلوم ٧٤.

همدا شیبر - د شاه‌بهار لنډون - خیبر شوی دی، چې د ننګرهار او پېښور تر منځ مشهوره دره ده. دا نوم یې د عربستان د یهودي کلا خیبر څخه نه دی اخیستی، بلکې خپل مشهور تاریخي نوم دی.

د کابل د شاه‌بهار د عبادتځي دوې یادونې په اسلامي تاریخ کې لرو:

**لومړی**: عرب تاریخپوه او جغرافیه‌پوه احمد یعقوبي د کابلستان سیمې په شرحه کې کښي: «عباسي خلیفه رشید په ۱۷٦س کې فضل بن‌یحیی برمکي د خراسان والي کړ، هغهٔ د ابراهیم بن‌جبریل په مشری د کابلشاه سیمې ته لښکر وخوځاوهٔ، د تخارستان واکمنان، د هغهٔ‌ځای دهقانان او د بامیانو شېر (حسن) یې هم ورسره ولېږل. هغوی د غوروند (غوربند) ښار، د غوروند دره، سارخود (د بامیانو سرخبد) او شاه‌بهار ونیول، دلته بت و او هغه یې لمانځهٔ. ابراهیم هغه ونړاوهٔ او ویې سوځاوهٔ.»[1]

خو عبدالحی بن‌ضحاک ګردېزی د خراسان ولایت په شرحه کې وایي:

«نو هارون رشید خراسان یواځې جعفر بن‌محمد بن‌الاشعث ته ورکړ او هغه یې خراسان ته ولېږهٔ، جعفر د (۱۷٦س) په ذوالحجه کې خپل زوی عباس کابل ته ولېږهٔ، هغه شاه‌بهار ونیوهٔ او د هغهٔ هر څه یې چې خوښ وو، ولجه یې کړل.»[2]

دا دوه تاریخي سندونه په یوهٔ کال او یوه پېر پورې اړه لري، یواځې د سوبمن په نامهٔ کې یې اختلاف دی، چې هغه هم زموږ اصل مطلب یعنې په کابلستان کې د شاه‌بهار بتخونې شتون ته زیان نه رسوي. له دې ثابتېږي چې د پاچاه‌لمانځنې عبادتځي یا پاچاهانو ته منسوب د لمانځنې ځایونه موجود وو.

پټه دې نه وي چې: چیني سیلاني هیونځانګ په (۹س) کال کې د کابل د شمال په کاپیسا سیمې کې د څو پاچاهي عبادتځیو یادونه کړې، چې بنسټګران یې تېر

[1] - البلدان تر ۲۹۰ وروسته، د لیدن چاپ، ۱۸۹۲ز.

[2] - زین‌الأخبار، خطي، ۷۸ الف پاڼه.

پاچاهان وو او د هیونځانگ په پېر کې هر یو د بودایانو عبادتځی و. وایي چې په دې عبادتځیو کې د بودا د بدن غړي، کوپړۍ او ویښتان خوندي وو، چې پاچاهانو او خلکو به یې تل درناوی کاوۀ. ان د کاپیسا په سوېل لوېدیځ کې یې یو عبادتځی لیدلی، چې هغه پخوانۍ واکمنې ملکې جوړ کړی و، زر فوټه لوړه طلایي ستوپه یې درلوده او د بودا د بدن یو من (دوه پاوه) پاتې شوني په کې وو. د هرې میاشتې په ۱۵مه به ماښام مهال له نوموړې ستوپې څخه د برم و پرتم گرده میاشت (فرۀ ایزید= د باختري پاچاهانو لرغونی سمبول) تر سهاره ځلېده.[1]

د هیونځانگ له دې څرگندونې معلومېږي، چې کابلشاهانو په کابل کې څو شاه‌بهارونه جوړ کړي وو. څه رنگه چې دا وخت د وگړو دین بودایي و، نو بودایي مقدسات به یې په کې ساتل؛ خو له دې عبادتځیو څخه پر یوۀ د جلال و پرتم د گردۍ سپوږمۍ نښان (فرۀ ایزدي) چې د لرغوني باختر آریایي پاچاهانو سمبول و، دا جوتوي چې په دې شاه‌بهارونو کې د ښکلي بخدي د پاچاهانو د لرغونو دودونو پاتې شوني هم خوندي وو.

---

[1] - سي. یو . کی لومړی کتاب د کیا- پي- سي= کاپیسا شرحه.

## (۲)

## په افغانستان کې چینايي سیلانیان

په اسلام د افغانستان روښانه کېدو مهال ته نږدې اوضاع د پوهېدو لپاره تر ټولو غوره سرچینې لرغوني او لیکلي آثار دي، نو ثقه او باوري به هم وي. دا بېلاې مدارک هغه یونلیکونه دي چې چینايي سیلانیانو د افغانستان خاورې ته د راتګ پر مهال کښلي دي.

دا چینايي سیلانیان د دوو موخو لپاره دې خاورې ته راتلل: یو د سیاسي موخو، سفارت او استازګرۍ لپاره، چې د چین له درباره به آسیايي هېوادو هند یا پارس او نورو ته تلل. بل د چین د بودایانو د روحاني پوړ، متدین او راهبان به د لویو عبادتځیو د لیدنې او د دیني معلوماتو ترلاسولو لپاره د افغانستان بودايي مرکز ته راتلل او په همدې لارې به هند ته تلل.

د دې ځیرمنو چینايي سیلانیانو معلوماتو موږ ته په تاریخ کې یوه ښه پانګه پرېښې ده. که دا قیمتي لیکنې نه وای، نو یقیناً موږ به اوس د هغهٔ مهال د معلوماتو له یوې مهمې برخې تشلاسي او بې برخې وای.

څه رنګه چې د هغهٔ مهال د اوضاع په روښانولو کې له دې چینايي سرچینو څخه ډېره ګټنه شونې ده، نو موږ ګرانو څېړونکو ته د هغو کتابونو حواله ورکوو، چې په اروپايي ژبو ژباړل شوي دي؛ خو دلته یې مهم ټکي راخلو، ځکه چې په راتلونکو مباحثو کې به همدا معلومات زموږ د خبرو پخلی کوي.

# شي‌فاهیان

شي فاهیان له چینایي بودایي مذهبه راهبانو څخه دی، چې پر (۳۹۹ ز) کال د ناویاتو دیني کتابونو د راغونډولو لپاره له چانګان څخه راوتلی او تر ۱٤کاله مسافرۍ وروسته پر (٤۱٤ ز) کال نانکن ته ستون شوی دی. هغهٔ یو شمېر هندي کتابونه په چینایي وژباړل او خپل یونلیک یې هم وکښۀ، د ۸٦ کالو په عمر ومړ.

فاهیان له کاشغره د سند سیند پورتنۍ ناوې ته رسېدلی او د اوسني جلال‌آباد د هډې عبادتځی، ګندهارا ولایت، پېښور او بنو یې لیدلي دي.

هغهٔ سوهوتو SU-HU-TO (سوات) ګندهارا، چوچاشي‌لو CHU-CHA-SHI-LO (ټکسیلا) فولوشا FO-LU-SHA (پېښور) هیلو HI-LO (هډه) ناکی (ننګرهار) لویي LO- I (روه)[1] او پونه PO-NA (بنو) لیدلي او د بودا عبادتځي او متبرک آثار په هر ځای کې شرحه کوي او له بنو څخه د سنتو (سند) سیند ها خوا ته ورپورېوځي.

هغه شرحه ډېره په زړهٔ پورې ده چې فاهیان یې د دې سیمې د عبادتځیو، متبرکاتو، پاچاهانو، وګړو، ژبو، پوښاک، دودونو او دینونو په اړه ورکوي. په تېره په پېښور کې د بودا عبادتځی او هلته د بودا کچکول او د جلال‌آباد د هډې زرین عبادتځی هیلو، چې د بودا د کوپړۍ لپاره جوړ شوی و.[2] د هغهٔ ځای پاچاه د هېواد له لویو کورنیو څخه اته کسان د هغهٔ پر ساتنې ګومارلي وو. همدا رنګه د بودا د

---

[1] - روه (roh) د پښتونخوا سیمه او د پښتنو استوګنځی دی. فرشته وایي یوه ځانګړې غرنۍ سیمه وه، چې اوږدوالی یې د باجوړ له سیمې د سېوۍ تر ښارګوټي پورې و. سېوۍ د بکهر له توابعو څخه ده او پسور یې له حسن‌ابدال څخه تر کابل او کندهار پورې د دې غرنۍ سیمې په حدودو کې پروت دی (تاریخ فرشته لومړی ټوک ۱۸ مخ، د لکنهو چاپ۱۳۲۱س). د فاهیان له دې پخواني سند څخه څرګندېږي چې دا نوم ډېر پخوانی دی، د احمد شاه بابا تر پلازناستې پورې کارېدهٔ. په پښتو ادبیاتو او تر مغولو وروسته په تاریخي کتابونو کې زیات لیدل کېږي. په هند کې یې پښتنو ته روهیله ویل، چې د هند روهیلکنډ دې نامهٔ ته منسوب دی. د ملتان او ډېره‌جاتو وګړي، جټ، بلوچ او نورو د سلېمان غرونو ته چې د هغوی د خاورې لوېدیځ ته د دېوال غوندې ولاړ دي، تر اوسه (روه) وایي، د هغوی په ژبو کې د غرهٔ مفهوم لري.

[2] - هډ په پښتو کې هډوکي ته وایي او همدا هیلو، چې فاهیان یاده کړې ده، اوسنۍ هډه ده. ښایي دا ځای د بودا په همدې کوپړۍ هډه یعنې د هډوکي ځای نومل شوی وي.

غاښ ساتنې لپاره د ننګرهار په مرکز کې برج او د بودا د امسا وهاره[1] په همدې ولایت کې- چې فاهیان شرحه کړې ده- د افغانستان په اسلام د مخه پېر کې ډېر زیات اهمیت لري.

د فاهیان له ویناوو روښانه ده، چې په دې ولایتونو کې پاچاهان موجود وو. ټول وګړي مخلص بودایان او د خپل دین پلیوني وو. په هر ځای کې وګړو د عبادتځیو، بودایي راهبانو او سپېڅلو آثارو ډېر درناوی او لمانځنه کوله. عبادتځي ډېر ودان، پرتمین او ښکلي وو.[2]

دا د (٤٠٠ ز) شاو خوا د افغانستان د ختیځو ولایتونو وضع ده، چې د فاهیان په وسیله موږ ته را رسېدلې؛ خو سل کاله وروسته:

## سونګ‌ین

د تون‌هوانګ یو استوګن چینایي، د شونګلي د عبادتځي د یوه راهب په ملتیا چې هوی‌سنګ HWI-SANG نومېدهٔ، د شمالي وای د لړۍ (تاتاري قبیله) د تای هو ملکې له خوا وګومارل شو، چې د بودایي سپېڅلو کتابونو د تر لاسولو لپاره لوېدیځو هېوادونو ته سفر وکړي. دا سفر په ۵۱۷-۵۱۸ ز کلونو کې وشو، چې سونګ‌ین په لوی مذهب (یو بودایي مذهب) پورې اړوند (۱۷۰) ټوکه کتابونه چین ته یووړل.

سونګ‌ین له ختنه د افغانستان شمالي برخو ته په هماغې لارې راغی چې فاهیان پرې راغلی و. دغه مهال پر دې خاوره هفتلي (هیاطلي) پاچاهان واکمن وو. هفتلي پاچاه ګولاس (غالباً مهراکولا) د زرو جنګي فیلانو او سپرو لښکرو په زور و ظلم حکومت کاوهٔ. دې خلکو وړینې جامې اغوستې، په لیک-لیکلو نه پوهېدل، ستوري

---

[1] - وهاره د عبادتځي په معنی دی، چې د ډېرو ښارونو په پای کې یې ریښه شته، لکه: کندهار، ننګرهار، بینهار (بونېر) او نور چې شرحه یې تېره شوه.

[2] - وګ: د فاهیان یونلیک، د کیمبرج په پوهنتون کې د چینې ژبې د پروفیسر هـ. ا. ګیلس ژباړه، کیمبرج چاپ (۱۹۲۳ز) تر ۱۵ مخ وروسته او د سي.یو. کی کتاب پر انګلیسي د سمویل بیل ژباړه، لومړۍ برخه د لندن چاپ ۱۸۸٤ز.

يې نه پېژندل، د واکمنۍ پراخوالی يې د هند له تيرهت څخه د للیه[1] تـر هېـواد او لـه ختنه تر ايران پورې و، چې څلوېښت ولايتونه يې درلودل. د هېواد د اداره کولو لپـاره يې همېشني او گرځند عسکر گومارلي وو.

سونگ‌ين د خلکو د وضعې، جامو، ښځو، ملکو، درباري تشريفاتو او د دې وگړو د نورو دودونو په اړه ښه معلومات ورکوي. وايي چې هفتليان بودا نه لمانځي، باطل خدايان لري، څاروي حلالوي او غوښې يې خوري.

سونگ‌ين د دې سيمې د سياسي ځواک په اړه نغوتې لري، له هغو معلوموملاى شو چې د امو له ناوې د ارغنداب تر ناوې پورې د ختيځ افغانستان پياوړې مرکزي اداره د هفتلي واکمنو په لاس کې وه، خو د هغوی تر لاس لاندې او يوهٔ گومارلي چارواکي يا د دې کورنۍ يوهٔ کس پر گندهارا واکمني کوله، چې لی لیLAE-LIH نومېدهٔ. وروسته تر هغهٔ چې هفتليانو گندهارا ونيوله، لی لی يې د هغې پاچاه کړ او د سونگ‌ين د سفر پر مهال (٥٢٠ ز) د دې لړۍ دوهم نسل و. دا پاچاه پر بودا گروهمن نه و، دېوان يې لمانځل او ډېر ظالم و.

هغه د کوفين COPHENE د پاچاه پر وړاندې درې کاله وجنگېدهٔ. اووه سوه جنگي فيلان يې درلودل، چې له تورې او نېزې سره به يو يو وسله‌وال پرې سپور و (درې پوځونه يې درلودل).

سونگ‌ين پاچاهي دربار ته د خپل باورليک د وړاندې کولو لپاره ورغی، خو د نورو پاچاهانو پر عکس هغهٔ ورته هيڅ پاملرنه ونه کړه. له پاچاه سره يې ستوغې خبرې وکړې او له درباره يې راووت.

سونگ‌ين د دې خاورې بل گاونډي هېواد ته پوسي وايي، چې هغه يې له پارس سره تطبيق کړی دی. هغهٔ په دې سفر کې د اوچانگ (اوډيانه) هېواد هم ليدلی، چې د اوسني مردان شمالي برخه او د پو- لو- لاى (بلور) څنگ ته پروت و. د هغهٔ په درو کې د اوسپنې زنځيرونه د پلهٔ په ډول کارېدل. د دې سيمې پاچاه پر بودا گروهمن و

---

[1] -د کابل سيند د ناوې شمالي سيمې د کونړ له درو د کشمېر تر غرونو پورې، وگ: په دې کتاب کې د کابلشاهانو برخه.

او نباتي خواړهٔ يې خوړل. د سونګ‌ين ډېر درونه هرکلی يې وکړ او د چين د ملکې باورليک يې ترې په ډېر درناوي واخيست.

سونګ‌ين په دې سفر کې پېښور او ننګرهار هم ليدلي او د دې ځای د عبادتځيو پر شرحه- چې د فاهيان په برخه کې ورته نغوته وشوه- په زړهٔ پورې تفصيلات لري. بيا د سنتو (سند سيند) پر لور خپل سفر غځوي او په ۵۲۱ ز کې چين ته ستنيږي.

هغه څه چې سونګ‌ين په ننګرهار (نا- کا- لو- هو) کې ليدلي هماغه په هډه کې د بودا د کوپړۍ عبادتځی او د کيکالام (ښايي د لغمان مهترلام وي) عبادتځی دی، چې دلته د بودا چپن (د بودا ۱۳ټوټيزه چپن) او (۱۸ فوټه اوږده) امسا موجوده وه. د ناکي په ښار کې د بودا يو غاښ او ويښتهٔ وو. د ګوپاله په سمڅه کې به د بودا سيوری ښکارېدهٔ، چې هغهٔ ته نږدې يې ډېرليک ليدلی و او هغه مهال يې هغهٔ ته منسوباوهٔ[1] (ښايي په درونټه کې د اشوکا ډبرليک وي).

## هيونځانګ

له چينايي سيلانيانو څخه هيونځانګ درېيم کس دی، چې د افغانستان په اړه يې خپلې ليدنې ليکلې؛ خو د اهميت، ليدنو او اورېدنو له مخه تر ټولو مهم دی. هغه په ۶۰۳ز کې د هونان ايالت په چن ليو کې زوکړی دی. د خپل پېر له بودايي راهبانو څخه و. په ۲۶ کلنۍ کې يې د بودايي دين د قوانينو په لټه کې لوېديځو هېوادونو ته سفرونه وکړل. په ۶۲۹ ز کې يې سفر پيل کړ او په ۶۴۵ز کال کې له يو شمېر سپېڅلو بودايي آثارو او د لوی مذهب له ۱۲۴ټوکو کتابونو سره چې پر (۲۲) اسونو بار وو، چين ته ستون شو. د خپل سفر ليدنې کتنې يې د سي- يو – کی SI-YU-KI (د لوېديځوال عالم يادښتونه) په کتاب کې وکښلې.[2]

د اوومې زېږدې پېړۍ له آثارو څخه بې له څو ډبرليکونو او سيکو په افغانستان کې څه پاتې نه دي. فرانسوي څېړونکی موسيو فوشه وايي په دې ګډوډۍ کې د يوهٔ روښان تاريخ

---

[1] - سي. يو. کې، تخليص، دويمه برخه سونګ ين، د بيل انګليسي ژباړه، د لندن چاپ، ۱۸۸۴ز.

[2] - پورتنی اثر، د سمويل بيل سرېزه.

برابرول اسان کار نه دی. که د چین په هونان ایالت کې هوډمن کس او ځیرک مسـافر نه وای زېړېدلی، دا کار ډېر ستونزمن و.[1] هغه هماغه بودايي مسـافر هیونځانـګ دی، چې د افغانستان د جغرافیوي، ديني او سیاسي وضـعې پـه اړه یـې پـه خپـل یونلیـک (سي- یو- کی) کې معلومات راغونډ کړي دي. د کننګهم د ترتیب کړي لښتلیک لـه مخه د افغانستان په سیمو کې یې د سفر نېټې داسې دي:

د هند په لور د حرکت په لاره کې سمرقند د ٦٣٠ز=٨س د مارچ پنځمه.

خُلم HO-LIN د ٦٣٠=٨س د مارچ شلمه.

بلخ PO-HO د ٦٣٠= ٩س د اپریل شلمه.

بامیان FAN-YEN- NA د ٦٣٠= ٩س د اپریل دېرشمه.

کاپیسا KAPISA د ٦٣٠= ٩س د می لسمه.

لغمان LAN- PO د ٦٣٠= ٩س د اګسټ پنځلسمه.

نګره هاره (ننګرهار) NA-KIE-LO-HO د ٦٣٠= ٩س د اګسټ شلمه.

ګندهارا KIEN- TO-LO د ٦٣٠=٩س د نومبر لومړۍ.

اوډه خنډه (ویهنډ) UDA-KHANDA د ٦٣٠=٩س د ډسمبر لومړۍ.

اوډیانه UDYANA (د مردان شمال) د ٦٣١=٩س د جنوري لومړۍ.

سواستو SU-FA-SA-TO سوات سیند د ٦٣١=٩س د مارچ لومړۍ.

ټکسیلا TA-CHA-SHI-LO د ٦٣١=١٠س د اپریل لومړۍ.

تر دې وروسته هیونځانګ کشمیر او هند ته ځي او ۱۴کاله وروسته په راستنېدو کې د جالندر له لارې ټکسیلا ته رارسېږي، د ٦٤٣ز د ډسمبر پنځلسمه= ٢٣ س.

پر فیل له اندوسه راتېرېدل‌او په ویهنډ کې ځنډ(دمه) د٦٤٣ ډسمبر ٢٥مه =٢٣س.

له پاچاه سره په یوه میاشت کې لغمان ته رارسېدل د ٦٤٤ز د مارچ پنځلسمه= ٢٤س.

فلنه (بنو) د ٦٤٤ز د جون پنځلسمه= ٢٤س.

اوپوکین (افغان= پښتیا) د ۶۴۴ز د جون ۲۰مه= ۲۴س.

---

[1] - تمدن ایرانی ۳۹۸.

غزني (تسو- کیو- تو) د جون پنځه ویشتمه ٦٤٤ز= ٢٤س.

کابل (اورتسپانا) د ٦٤٤ز د جولای لومړی= ٢٤س.

کاپیسا (د کابل شمال) د ٦٤٤ز د جولای پنځمه= ٢٤س.

اندراب د ٦٤٤ز د جولای شلمه= ٢٤س.

تخاره (تخارستان) د ٦٤٤ز د اگسټ لومړی= ٢٤س.

منگان (منجان) د ٦٤٤ز د سپټمبر دویمه= ٢٤س.

بدخشان (کی- پو- کین) د ٦٤٤ز د سپټمبر لسمه= ٢٤س.

پامیر (کوی- لنگ- نو) د ٦٤٤ز د سپټمبر پنځه ویشتمه= ٢٤س.

د یارکند او ختن برید پولو ته تېرېدل د ٦٤٤ز د سپټمبر شپږویشتمه= ٢٤س.[1]

د هیونڅانگ د مسافرت پر مهال د افغانستان د اوضاع په اړه موسیو فوشه لیکي:

د سند سیند پر ښۍ څنډه وضع لا ډېره ساده وه، هغه پاچاهي لاره چې د هیونڅانگ ملي جوپې وهلې وه، داسې څرگندوي چې په گدروزي (اوسني بلوچستان) ایالت کې د ایران پولو ته نږدې یوه بې څښتنه او یاغستانۍ سیمه موجوده وه، چې د سوداگرۍ یا سلطنتي چارواکو او د مالیې اخیستونکو لوی کاروانونه به په پوره احتیاط ترې لیرې تاوېدل او هغې ته له ورننوتو به یې ډډه کوله. دې ټولې سیمې چې پر لسو هېوادونو وېشل شوې وه، پر بودایي دین گروهمن ساهو پاچاه یې درلود، چې له چینایي مسافر سره کلکه انډیوالي یې د مسافر د رخصتېدو څنډ شوه.[2]

د هیونڅانگ د مسافرت په وخت چې تر دغه وخته لا د اسلامي سوبو آثار دې خاورې ته رارسېدلي نه وو، د هېواد په شمال او ټولو ختیځو ولایتونو کې بودایي دین رواج و او عبادتځي یې په ښارونو او مهمو مرکزونو کې ودان وو. د دې دین په زرگونو راهبان چیله کېدل.

[1] - جغرافیای قدیم هند ٥٦٧.

[2] - تمدن ایرانی ٤٠٠.

يواځې د پوهو (بلخ) د نواسنگهارامه (نوبهار) په عبادتځي کې د بودا يو ډېوټ، يو غاښ، يوه جارو او يوه پړه موجوده وه چې ټول په قيمتي مرغلرو پسولل شوي وو. هغه عبادتځی له نفيسو او قيمتي مالونو ډک و، چې د شاهوخان (هفتلي) زوی د هغو مالونو د لوټلو لپاره پر بلخ يرغل کړی و.[1]

هيونځانگ له تخارستان څخه هولو (کندوز) ته ورسېد او هلته يې د هفتلي خان له مشر زوی سره وليدل. دې شاهزي د کاوچانگ د پاچاه له خور سره وادهٔ کړی و. کاوچانگ د هفتلي شاهزي په نامهٔ هيونځانگ ته سپارښتليکونه ورکړي وو. هغه د امو ناوې (۲۷) سوېلي ولايتونه د هفتلي خانانو تر ولکې لاندې بولي، چې د هغوی تر ولکې لاندې پر دې سيمو بېلابېلو خانانو واک چلاوهٔ. د دې وگړو ژبې له نورو هېوادو سره يو څه توپير درلود، الفبا يې ۲۵ توريزه وه چې ليکل يې افقي له کيڼ څخه ښي لوري ته کېدل.[2]

هيونځانگ د امو له سوېلي ولايتونو څخه فان-ين-نا (باميان) ته ورسېد، چې هلته بېل پاچاه واکمني درلوده. د هغهٔ د واکمنۍ د سيمې اوږدوالی له ختيځه لوېديځ ته دوه زره لی (۶۰۰ ميله شاوخوا) او پسور يې له شماله سوېل ته سل ميله و. هغه دلته د بودا د دوو مشهورو ولاړو بتانو او يوهٔ ويدهٔ بت او نورو سپېڅلو آثارو يادونه کوي، چې په لسو صومعو کې شاوخوا زرو کسو راهبانو ژوند کاوهٔ او ټول د بودايي کوچني مذهب پليوني وو.

هيونځانگ له باميانو څخه کيا-پي-شي (کاپيسا) ته راځي. د دې‌سيمې پراخوالی ۱۲۰۰ميله دی، وگړي يې وړينې جامې اغوندي او پاچاه يې له کشتريه KSHTTRIYA څخه يو هوښيار، زړور او ولس دوسته سړی دی. گاونډۍ سيمې يې هم تر لاسه کړي

[1] - د هيونځانگ يونليک، لومړی کتاب.

[2] - د بغلان د ډبرليک کوشاني ژبه، چې پخوانۍ دري ده، په يوناني ليکدود ۲۵ توري لري؛ نو ښايي د هيونځانگ موخه همدا ژبه وي، وگ: (رساله مادر زبان دری، ۱۲مخ).

او پر شاوخوا لسو نورو ولایتونو واکمني کوي. هغه د بودا مخلص پلیـوني دی، چې هر کال له سپینو زرو څخه ۱۸ فوټه لوړه پڼۍ او لویه مذهبي غونډه موکشامهاپریشاد MOKSHA-MAHA-PARISHAD جوړوي. د هغهٔ په هېواد کې شاوخوا سـل صـومعې د کوچني مذهب له شپږو زرو راهبانو سره موجودې دي. پر دې سربېـره د یـو شـمېر نورو مذهبونو پلیوني خپل زر ځانګړي عبادتځي لري.

هو- یي- لي- هـ (۱٦٦/۱) وایي: د کاپیسا پاچاه له خپلو پولو څخه تر درې میله واټن پورې هیونځانګ بدرګه کړ. لکه‌چې هیونځانګ څرګندوي، لان- پو LAN-PO (لغمان) نا- کي- تو- لو NA-KIE-TO-LO (ننګرهار) او کین- تو- لو (ګندهارا) له پېښوره د سند تر ناوې پورې د کاپیسا د پاچاه تر واک لاندې او تا- چا- شي (ټکسیلا) هم له پخوا څخه د کاپیسا اړونده وه؛ خو وروسته د کیا شي مولو (کشمیر) اړونده شوې ده.[۱]

هیونځانګ په تفصیل سره د دې ولایتونو د سپېڅلو آثارو، عبادتځیو، وګړو، دودونو، ژبو او جامو په اړه معلومات وړاندې کوي. په ٦٤٤ز کال کې له هنده د راستنېدو پر مهال چې فلنيFA-LA-NA تر سنده (د اوسنۍ پختیا ختیځې خوا ته) رارسېږي، دا ولایت هم د کاپیسا تابع ګڼي، په داسې حال کې چې په همدغو وختونو کې د هندوکش شمال اندراب، خوست (خوست و فرنګ) بغلان او کندوز د هفتلیانو د اولادونو په لاس کې وو. د تسو- کو- چاTSU-KU-CHA ولایت چې پلازمېنه یې هو- سي- نا (غزني) وه، د هوساله (ښایي هزاره) په نامهٔ یو بل ښار هم لارهٔ،[۲] چې ځانته او خپلواک پاچاه یې درلود. هغه له خپل رعیت سره د بودایي دین د لوی مذهب پیرو و. له علم او دین سره یې مینه درلوده او دلته د پخوانیو واکمنو پاچاهانو له لړۍ څخه و.[۳]

هیونځانګ له دې ولایت سره د کاپیسا او فو- لي- شي- سه- تانګ- نا (پارسوستهانه) ولایت- چې پلازمېنه یې اوپي‌نا (هوپیان) وه- د ژبې توپیر ته اشاره

---

[۱] - سي.یو. کی، دوهم او دریېم کتاب.

[۲] - د بطلیموس د اوزالای انډول.

[۳] - سي.یو. کی، دولسم کتاب.

کوي.[1] لکه د دې کتاب د لویکانو په بحث کې چې یې لولاست، ښایي دا ژبه پښتو وي.

## دوه نور چینایان

تر هیونڅانګ وروسته دوه نور چینایان هم زموږ هېواد ته راغلي او توانېدلي چې د باختر او کاپیسا له لارې هند ته لاړ شي. یو (وانګ- هېوان- تسو WANG-HIUN-TSO) دی چې د سفیر او استازي په توګه هند ته روان و. بل (هېوان- تچاو HIUAN-TCHAO) دی چې دوهم ځل یې د هند د سفر هوډ درلود. د لومړني سفر په ۶۶۰ز=۴۰ س او د دوهم سفر په۶۶۴=۴۴ س کې و، چې د باختر، کابلستان او ګندهارا له لارې هند ته لاړل؛ خو پر دې مهال د عربو لښکرو یرغلونه پر دې هېواد سخت شول او هغوی ته یې پر دې لاره د راستنېدا مجال ورنه کړ. لومړی د نیپال له لارې ستون او دوهم په هند کې پاتې او هم هلته مړ شو.[2]

## ووکنګ

د دې پېر د اوضاع په اړه یو بل چینایي سند هم په لاس کې شته، په دې معنی چې په ۱۳۴س=۷۵۱ز کال کې د (ووکنګ WOU-K-ONG) په نامهٔ یو چینایي کارپوه وګومارل شو چې لوی شاهي سفیر ته د خپل هېواد لاره وښیي. هغهٔ هغه سخته لاره ووهله، چې ختن سیده له ګندهارا[3] سره نښلوي. هلته یې ولیدل چې د پاچاه دربار ټول‌غړي ملکه،څایناستی او وزیران هغه عبادتځي جوړوي، چې هفتلیانو (هیاطله‌وو) وران کړي وو او ۱۲۰ کاله وړاندې یې ویجاړ حالت هیونځانګ خواشینی کړی و.[4]

---

[1] - سي.یو. کی، دولسم کتاب.

[2] - د افغانستان تاریخ ۵۴۲/۲.

[3] - د تمدن ایرانی ژباړن دا کلمه کندهار لیکلې، چې په اصل کې ګندهارا وه، څهٔ رنګه چې چینایي سیلانیان کندهار ته نه دي رسېدلي، سمه یې ګندهارا (د کابل سیند ناوه تر ټکسیلا پورې) ده.

[4] - تمدن ایرانی، د موسیوفوشه مقاله، ۴۰۳.

# (۳)

## پاچاهي کورنۍ

د لویو کوشانیانو د سترواکۍ پېر د کنیشکا (۱۵۰ز شاوخوا) له مهاله تر یوې پېړۍ وروسته پورې په ځواک او پرتم سره دوام وکړ، چې په پای کې په ۲۵۰ز کې ساساني شاپور (۲۴۱-۲۷۲ز) د دې کورنۍ د واک ټغر ورټول کړ. لکه چې د لرغونو آثارو څېړونکو د بغلان د نوشاد عبادتځي له پاتې شونو څخه معلومه کړې ده، وایي د شاپور لښکریانو دا عبادتځی وسوځاوهٔ، چې د عبادتځي سوځېدنه یې له کیندنو څخه جوتېږي.

موسیو شلوم برژه دا سوځېدنه او ویجاړېدنه د (۲۴۰ز) شاو خوا اټکلوي.[۱]

خو د ساسانیانو برلاسی په افغانستان کې تر ډېره پاتې نه شو او د قباد په واکمنۍ کې تر (۴۸۸ز) وروسته آریایي توکمه هفتلي هونانو (ابدالي خانانو) د تخارستان له خوا کابل، زابل او مرکزي افغانستان ونیول او خپلې سوبې یې تر کشمیر او مرکزي هند پورې ورسولې. د دې کوشانیانو، هفتلیانو او سیمه ییزو پاچاهانو اولادونه د اسلامي پېر تر لومړیو او اوومې زېږدې پېړۍ پورې پاتې شول.[۲]

عرب جغرافیه‌پوهان او مؤرخان لکه یعقوبي، ابن‌خردادبه، بلاذري او نور د سیمه ییزو پاچاهانو دا کورنۍ د بامیانو د شېرانو، داورانشاه، رتبیلانو، کابلشاهانو،

---

[۱] - د سرهٔ کوتل رساله، د شلوم برژه په قلم، ۱۴ مخ.

[۲] - بلاذري په فتوح‌البلدان کې د خراسان د سوبو په څېرکي کې وایي:
احنف ابن قیس پر قوهستان او طبسین ورغی، هلته ورسره هیاطله مخامخ شول، چې د قوهستانیانو مرسته یې کوله (۴۹۹مخ).

لویکانو، شارانو او نورو په نومونـو یـادوي.[1] فـردوسي د مهـراب کـابلي، سـام او زال زابلي د کورنیو په زړۀ پورې داستانونه رااخلي.[2]

له بده مرغه د دې خلکو له احوالو او آثارو څخه ډېر لږ معلومات په لاس کې دي؛ د تاریخ په کتابونو کې د کورنۍ له نامۀ[3] او یا د هغوی د ځینو پاچاهانو له نومونو پرته نور هیڅ نه شته؛ خو څه رنګه چې د دې پېر د تاریخ مهمه برخه ده، نو د شتۀ مأخذونو په استناد منډې له مخه هغه څه وړاندې کېږي چې په لاس کې دي؛ ښایي د ګاندې پلټنې او څېړنې د تاریخ دا موضوع روښانه کړي.

[1] - المسالک والممالک د ابن خرداذبه ۱۷۰، البلدان او تاریخ یعقوبي۳/ ۱۳۱ او د بلاذري فتوح‌البلدان ٤٨٩.

[2] - وګ: د فردوسي شاهنامه لومړی ټوک.

[3] - مثلاً په حدودالعالم کې وایي، چې د تمران او تمازان (د غور دوې سوېلي سیمې) مهتر ته یې تمران قزنده او تمازان قزنده وایۀ (۵۹مخ) خو د دې کلمې په اصل نه پوهېږم.

# ۱- د غزني لويکان

د افغانستان د سيمه‌ييزو پاچاهانو له کورنيو څخه يوه، چې د لويو کوشانيانو لـه پېره يې د دويمې زېږدې پېړۍ په نيمايي کې د بګ شا کنيشکا نـامور تـر ستـرواکۍ[1] لانـدې پـه دې سـيمه کـې واکمنـي درلـوده، د لويـک (جمع لويکـان) کـورنۍ ده: LOOYAK

د دې کورنۍ په اړه تر ټولو پخوانی لاسوند د بغلان د سرۀ کوتل له نوشاد اورتونه تر لاسه شوی د تخاري (پخوانۍ دري) ژبې په شکسته يوناني ليکدود همدا ډبرليک دی، چې اصل يې اوس په کابل موزيم کې خوندي دی.

دا تاريخي ډبرليک ۲۵ کرښې، شاوخوا (۱۶۰) کلمې او ۹۴۷ توري لري. د ورې په مياشت کې د کنيشکا د پاچاهي پر يودېرشم کال (۱۶۰ز شاوخوا) د هغۀ تر مړينې اته کاله وروسته د هغۀ د اولادې په وخت ليکل شوی، چې په کې وايي:



«لوی پاچاه نوميالي کنيشکا د بګ‌لنګ"بغلان"مهادژ جوړ کـړ، خـو څـه رنګـه چې يې اوبه وچې شوې، سپېڅلی اور مړ شو او د نوشاد خدای لمانځونکي خوار او خپارۀ شول، چې بيا د پاچاهۍ پر يو دېرشم کال د غويي په مياشـت کـې نوکـونزوک کنارنګ فراخدای (د شاهنشاه استازی) بغلان تـه راغـی- هغـه چـې د فغفـور لويـک بوسر بن‌اروابناد شيزوګرګ له خوا د اوبو کښی دی - دلته يې‌کوهی وکنست، اوبه يې راوايستې او بنسټ يې ورته په تيږو او خښتو پوخ کړ.))[2]

---

[1] - دا القاب د سرۀ کوتل په ډبرليک کې د کنيشکا له نامۀ سره کارول شوي دي.

[2] - د دې ډبرليک د تشرېح، څېړنې، انځورونو، مضامينو، کلمو او ليکدود لپاره وګ: د ليکوال تأليف، مادر زبان دری، د کابل چاپ، ۱۳۴۲ل.

څه رنګه چې دلته زموږ د ډبرلیک له نورو مضامینو سره کار نۀشته، له تفصیله یې تېرېږو؛ خو د ویلو وړ ټکی دا دی چې په دې ډبرلیک کې د لویک کورنی نوم LOIX لویخ لیکل شوی او په دوو نورو نسخو کې چې د بغلان د سرۀ کوتل د هماغې کنډوالې له څمکتله د ډبرو پر څو ټوټو تر لاسه شوې؛ په یوې کې یې املا LOX او په بلې کې ALIIX دی.

ختیځ پېژندونکي د دې کورني نامۀ ریښې ته نه دي ځیر شوي، چې د اسلامي پېر په مأخذونو کې لویک دی، ما یې مفصله شرحه د کابل (۱۳۴۱ل) چاپ د غزني د لویکانو په رسالې کې لیکلې ده.

انګرېز تاریخپوه او سیکه پېژندونکی لنګویرټ ډیمز لیکي چې: د (۲٦۰س) په شاوخوا کې د غزني سیمه‌ییز واکمن (لاویک پاچاه) و؛ خو د هغۀ شخصیت ښخي ناڅرګند دی. څه رنګه چې یې له هندوشاهانو سره اتحاد درلود، اټکل کېږي چې هغه به هم هندو وي. تر دۀ وروسته د پیري په نامۀ یو کس په غزني کې پاچاه شو، چې له لاویک او د کابل له هندوشاه سره متحد و.[1]

خو زما په اند دا لاویک یو کس نه و، بلکې یوه لویه کورنی وه چې په غزني، ګردېز او په دغو پورې پر اړوندو سیمو یې پاچاهي کړې ده. له کابلشاهانو او د زاول له رتبیلانو سره یې اتحاد او خپلوي درلوده او د اسلامي پېر مؤرخانو یې یادونه کړې ده.

## د ګردېزي په زین‌الاخبار کې

ابوسعید عبدالحی بن‌ضحاک ګردېزی (د ٤٤۰س شاوخوا) د یعقوب‌لیث صفاري په اړه کاږي:

«نو یعقوب له سیستان څخه بُست ته راغی او بُست یې ونیو. له هغۀ ځایه پنجوایي او تګین‌آباد ته راغی. د رتبیل پر ضد یې جګړه وکړه. پلمه یې جوړه کړه، رتبیل یې وواژۀ او پنجوایي یې په خپله ونیوله. له هغۀ ځایه غزني ته راغی او زابلستان یې ونیو. د غزنین شارستان یې تر ښو لاندې کړ او ګردېز ته راغی.

---

[1] - انسایکلوپیډیا آف اسلام، د لیدن چاپ، ۲/ ۱٥٤.

له ابومنصور افلح بن‌محمد بن‌خاقان- چې د گردېز امیر و- سره ونښت ډېر ټېل ماټېل یې وکړ، بیا یې وگړي تر منځ شول. ابومنصور یرغمل ورکړل او ضمانت یې وکړ، چې هر کال به سیستان ته لس زره ۱۰۰۰۰ درمه خراج لېږي. له هغهٔ ځایه راستون شو، د بلخ خوا ته لاړ او په ۲۵۶س کې یې بامیان ونیوهٔ.»[1]

لکه چې وروسته څرگندېږي، دا افلح د گردېز امیر چې د هغهٔ هم‌ښاري تاریخپوه یې لنډه یادونه کړې، د لویک امیرانو له اولادې څخه و.

گردېزي پر ابومنصور افلح سربېره د دې کورنۍ د یوهٔ بل چا نوم هم یاد کړی دی، ابوسهل مرسل بن‌منصور افلح گردېزی، چې په غزني کې د سلطان‌محمود او مسعود د وخت یو نومیالی و. کله چې په ۴۲۱س کې سلطان‌محمود ومړ او زوی یې امیر مسعود نیشاپور ته راغی، د بغداد د خلیفه القادر بالله فرمان او توغ ورته- چې د سلطنت د رسمي پېژندنې نخښه وه- همدې ابوسهل مرسل بن‌منصور بن‌افلح گردېزي راوړل. امیر مسعود، مرسل وستایهٔ او نېکې هیلې یې ورته څرگندې کړې.[2]

د غزنوي پېر د تاریخپوه - چې په خپله هم گردېزی دی- له یادونې څرگندېږي، چې د دې کورنۍ پاتې شوني د غزنویانو د دربار مشهور سیاستوال هم وو، چې د دربارونو د سفارت او استازۍ چارې یې پر غاړه وې.

### په سیاستنامهٔ کې

د سلجوقیانو د نومیالي وزیر (خواجه نظام‌الملک) بوعلي حسن طوسي (۴۸۵ س مړ) په سیاستنامهٔ یا سیرالملوک کې چې په ۴۸۴ س کې لیکل شوې[3] هلته چې د کابل، بامیانو او غزني د امیرانو پر ضد یې د الپتگین جنگونه یاد کړي، وایي:

[1] - د گردېزي زین‌الأخبار، ۸۵ پاڼه، خطي نسخه.
[2] - پورتني اثر ۱۲۱ ب پاڼه، خطي نسخه.
[3] - د سیرالملوک سریزه ۱۹ مخ، د هیوبرت ډارک چاپ، تهران ۱۳۴۰ ل.

«بیا الپتګین له خُلم څخه وکوچېد، بامیانو ته ورسېد. د بامیانو امیر ورسره ونښت، خو ونیول شو. الپتګین یې عذر ومانهٔ او خلعت یې ورکړ. د بامیانو دا امیر هغه دی، چې نری شېر (شېرباریک)[1] یې بالهٔ. بیا له هغهٔ ځایه کابل ته لاړ او د کابل امیر یې هم مات کړ. زوی یې ورته ونیوهٔ، ویې نازاوهٔ او پلار ته یې ورولېږهٔ.

بیا یې د غزني اراده وکړه. د کابل د امیر زوی د لویک زوم و. د غزني امیر وتښتېد او سرخس ته لاړ. کله چې الپتګین د غزني ورهٔ ته ورسېد، لویک راووت او ورسره وجنګېد. د کابل د امیر زوی بیا ونیول شو. لویک ماتې وخوړه او ښار محاصره شو. الپتګین د ښار په ورهٔ کې پړاو واچاوهٔ او محاصره یې وغځوله... د ښار وګړو چې د الپتګین دا نیاو او امن ولید، ویې ویل: ترک وي که تازیک؛ خو موږ ته داسې پاچاه په کار دی چې عادل وي. موږ، زموږ ښځې او اولادونه ترې په امن شو. په هماغې ورځې یې د ښار ور بېرته کړ او الپتګین ته راغلل. لویک چې دا حال ولیدهٔ نو کوټ ته وتښتېد، شل ورځې وروسته راکوز شو او الپتګین ته ورغی...» [2]

د سیاستنامې له دې روایته جوتېږي، چې لویک د یوهٔ کس نوم نه و، بلکې دا نوم یوې کورنۍ ته ویل کېدهٔ، چې له کابلشاهانو سره یې اړیکي او خپلوي درلوده؛ ځکه که د لویک په نامهٔ یو کس وای چې سرخس ته وتښتېد؛ نو هغه لویک څوک و چې کوټ ته ننوت، جنګ یې وکړ او شل ورځې وروسته ونیول شو؟

دې کورنۍ د څلورمې لېږدې پېړۍ تر نیمایي پورې هم پر غزني واکمني درلوده. څرنګه چې په (۳۵۱س) کې الپتګین د هغهٔ ځای له لویک څخه غزنی ونیو، یو کال وروسته په ۳۵۲س کې ومړ

---

[1] - وګ: د کتاب په همدې څپرکي کې د بامیانو شېران.

[2] - سیر الملوک ۱۴۵ مخ.

او زوی‌يې اسحاق په غزني کې د هغهٔ پر ځای کښېناست.

دا لويک امير له ځايي وګړو (ښايي تازيک) څخه و؛ خو سِيَرّالملوک وايي: غزنيچيانو د خپل ځان و مال د امن و عدالت لپاره الپتګين پر امارت وټاکهٔ.

**په طبقات ناصري کې**

د خراسان سترګور تاريخپوه (٦٥٨س) منهاج سراج جوزجانی دا موضوع يو څه لا روښانه ليکي:

«څه رنګه چې الپتګين د هغهٔ مهال له پېښو وروسته په غزنين کې مېشت شو، د زاولستان هېوادونه يې ونيول او غزنين يې د امير لاويک (انواک؟) له لاسه وايست. الپتګين اته کاله وروسته ومړ او زوی يې پر ځای کښېناست. له لاويک سره ونښت، ماتې يې وخوړه او د بخارا منصور نوح ته ورغی. هغهٔ ورسره مرسته وکړه، بيا راغی او غزنين يې ونيوهٔ. يو کال وروسته اسحاق ومړ،[1] د ترکانو مشر بلکاتګين يې امير وټاکهٔ. هغه د نړۍ د مبارزينو عادل او متقي سړی و. تر لس کاله اميرۍ وروسته ومړ. امير سبکتګين د هغهٔ خادم و. تر بلکاتګين وروسته امير «پری» د امارت پر ګدۍ کښېناست. هغه ډېر لوی مفسد سړی و. د غزنين يوې ډلې ابوعلي لاويک ته څه وليکل، هغه يې راوغوښت. ابوعلي لاويک د کابل د پاچاه زوی خپل مرستيال کړ. کله چې د څرخ په سيمه کې سره مخامخ شول، امير سبکتګين پرې له پنځه‌وو سوو ترکانو سره حمله وکړه. هغوی ته يې ماتې ورکړه، ډېر وګړي يې ووژل او ونيول. دوه فيلان يې تر ې ولجه کړل او غزنين ته يې راوستل.[2]

د دې درېوو تاريخي سندونو له مخه څرګنده ده، چې د صفاريانو له همپېره لويک

---

[1] - په ځينو نسخو کې ملکاتګين هم راغلی؛ خو بِلکا کلمه په ترکي کې د پوه، عالم او عاقل په معنی ده. (ديوان لغات‌الترک ١/١١).

[2] - طبقات ناصري ١/٢٢٧.

څخه د سبکتګین تر همېېر لويک پورې- چې د ۳٦٦س د شعبان پر ۲۷مه د غزني پر پلاز کښېناست- تر يوې پېړۍ ډېره موده ده، نو دا لويک به يو کس نه وي.

## د لويک د کلمې شننه

د دې کورني نامۀ املا لکه چې ومو ليدل، تر اسلام مخکې پېر پورې کاتبانو په خپله خوښه ليکلې؛ د بغلان په نوشاد ډبرليک (۱٦۰ز شاوخوا) کې په درېوو املاوو ليکل شوې ده. تر هغۀ وروسته په اسلامي پېر کې هم په خطي نسخو کې لاويک او لويک په بېلابېلو بڼو تر سترګو کېږي، چې د طبقات ناصري انوک او د محمد بن‌علي شبانګاره‌يي (۷۲۵س) د مجمع‌الأنساب د خطي نسخې د غزني پاچاه "لويل" يې اوښتې بڼه ده.

داسې ښکاري چې د لويک يا لاويک کلمه د عظيم يا مشر په معنی د پښتو له لوی څخه جوړه شوې وي او په پای کې د دري ژبې له ګرامر سره سم د لمانځنې (ک) ورنښتی وي، چې ببلګې يې په پښتو او پارسي کې ډېرې دي او تاريخي مخينه لري. په اصل کې دا کلمه د پښتو په بېلابېلو ګړدودونو کې لوی= لاوی= لوی، بېلابېل تلفظونه لري. له همدې امله نمانځلې بڼه يې هم لوېخ- لاويک- لويک او نوره ليکل شوې ده. کله د کاتبانو په اړونه د انوک، لويل، تولک او نورو په بڼو هم راغلې ده.

د سخي سرور د کراماتو کتاب- چې وروسته به پرې بحث وشي- له يوې کيسې څخه هم د لويک کلمې ريښه څرګندېږي چې د خدای او خدويک د کلمې په څېر، د پاچاه، حاکم او مشر لپاره کارېده. ما يې ډېر تفصيل په تاريخي او لساني اسنادو سره په لويکان غزنه کې ورکړی دی، هلته دې وکتل شي.

## د لويکانو يوه کيسه

د سلطان سخي سرور بن‌سيد زين‌العابدين، د ملتان د شاوخوا اوسېدونکی، ۵۷۷س مړ د ډېرۀ غازي خان شاوخوا په شاکوټ کې ښخ[۱]

[۱] - د شپږمې پېړۍ د عارف سخي سرور د حال د شرحې لپاره وګ: د مفتي غلام سرور لاهوري خزينة‌الاصفياء د نولکشور چاپ۱۹۱٤ز، دوهم ټوک ۲٤۸، د شيخ اکرام آب کوثر د کراچۍ چاپ، ۱۹۵۵ز، تر ۹۱ مخ وروسته، د جالندهر ضلعې ګزيټير ۱۲۱ مخ او د لويکان غزنه ۸٤ مخ.

د كراماتو كتاب خطي نسخه، چې د شپږمې لېږدې پېړۍ په وروستيو كې به تـأليف شـوې وي او نيمگړې خطي نسخه يې په ډېرهٔ غازي خان كې وه، د غـزني او لويكـانو د كـورنۍ د څو كسو په اړه يې يوه گټوره كيسه درلوده، چې د ابوحامـد الـزاولي لـه تـاريخ غزنـه څخـه رانقل شوې ده.

په اصل كې د كيسې متن په اوښـتو كلماتـو ليكـل شـوى، چې د تـاريخي او ژبنيـو او اسنادو په مرسته مې داسې لوستلی دی:

«ابوحامد الزاولي په تاريخ غزنه[١] كې لـه حسـن صـغاني[٢] څخـه روايـت كـړی، چې د غزني ښار په باميانو ورهٔ[٣] كې يو لوی جومات دی، چې د افلح لويک[٤] مزگـت ورتـه وايـي. دا عبادتځی و، چې وجوير[٥] لويک د رتبيل[٦] او كابلشاه لپاره جوړ كړی و.

١ - دا مؤلف او د دهٔ كتاب مې تر اوسه په نورو اسنادو كې نه دی پېژندلی.

٢ - امام حسن صاغاني (صغاني= چغاني) مشهور عالم او ژبپوه په ٥٧٧ س كې په لاهور كې زوكړی، په ٦٥٠ س كې په بغداد كې مړ او په مكه كې ښخ، د خراسان او هند له علمي نوميالیو څخه دی، چې يو وخت په غزني كې اوسېدلی. (وگ: سبحةالمرجان ٢٨، تذكرهٔ علمای هند ٤٨، بزم ملوكيه ٢٨ او د ١٩٥٩ز كال د اعظم گړهـ په معارف كې د صاغاني ژونديک او معجم المطبوعات ١٢٨/٢).

٣ - اصل: بر داب باميان؟ باب البامیان د غزني له څلورو پخوانيو ورونو څخه و (د المقدسي احسن‌التقاسيم ٣٣).

٤ - اصل: افلخ لويک؟ چې سم يې افلح دی. هغه ابومنصور افلح بن محمد بن خاقان چې د گرديزي په زين‌الأخبار (شپږم مخ) كې يې يادونه شوې او مزگت د جومات په معنی دی چې په پښتو كې مزدک دی. د غزني دا پخوانی جومات د هغه په نامهٔ- چې مسلمان شوی و- مشهور و. گرديزی د هغه اړيكي د لويک له كورنۍ سره نه بيانوي؛ خو له دې كيسې ښكاره ده چې هغه له لويكانو څخه و.

٥ - وجوير= وجير= هجوير به وي، چې د غزني وجيرستان= د هجوير نامهٔ ته منسوب دی. د كلاسيكې پارسي وهجير= هژير او د پښتو هوځير د ښه، غوره، هوښيار او نېک په معنی دی.

٦ - اصل: رسل؟ چې سم يې رتبيل دی، د زاولستان د پاچاهي كورنۍ لقب و، چې شرحه به يې وروسته راشي.

کله چې یې زوی خاقان[1] مسلمان شو، نو د لویک[2] بت ماتول یې خوښ نه شول. هغه یې د سپینو زرو په تابوت کې کېښېښود او په هماغه مزګت کې یې ښخ کړ.

کابلانشاه[3] خنچل[4] په خلجیه[5] ژبه دا بیت ورولېږهٔ، چې لویک وویل[6]…. خانان (خاقان؟) بیا د هندوانو په مذهب شو. کله چې یې لمسی افلح پر پاچاهي کښېناست، د لویک عبادتځی یې ونړاوهٔ او جومات یې پرې جوړ کړ.

وایي چې کله سلطان سخي سرور دې جومات ته ننووت، ویې ویل د بت بوی را باندې راځي. مراقبه یې وکړه او کشف ورته وشو، ځمکه یې وکیندله او د سپینو زرو په تابوت کې پروت د لویک بت یې ځنې راوایست.

---

۱ - اصل: بسرش خانان؟ چې په زین‌الأخبار کې خاقان دی. محمد ابن احمد خوارزمي وایي: د ترکو لوی پاچا ته به یې خاقان وایهٔ (مفاتیح العلوم ۷۳) او دا لقب وروسته په اعلامو کې هم کارېدهٔ، خو د اصل نسخې خانان تر اوسه په افغانانو کې د اشخاصو د نامهٔ په ډول کارېږي.

۲ - د بغلان د سرهٔکوتل د اورتون په پاتې شونو کې یې د کوشاني پاچاهانو پژۍ هم موندلې دي، چې په هغهٔ عبادتځي کې ولاړې وې او ښایي په همدې ډول به یې د لویکانو د یوهٔ نیکهٔ پژۍ هم په عبادتځیو کې کېښوده.

۳ - د کابلشاه یوه بڼه ده، چې ابن خرداذبه کټ مټ په همدې ډول کلمه لیکلې ده او په بېلګه کې یې د داورانشاه، هندوانشاه، نخشبانشاه، قشمیرانشاه نومونه یاد کړي دي. (مسالک و الممالک ۱۷۰مخ)

٤ - اصل: خنجل له دوهم ټکی پرته، چې په تاریخ‌الیعقوبي ۱۳۱/۲ کې د دې کابلشاه نوم حنحل چاپ شوی او د ۱٦٤س شاوخوا یې ژوند کاوهٔ، اصلي بڼه به یې خنچل وي، یعنې خان سیرته. (د کابلشاهانو برخه وګورئ)

٥- خلجیه ژبه بېشکه پښتو ده، ځکه ورپسې بیت له ډېرو پخوانیو کلمو سره په پخوانۍ پښتو دی. خلجي همدا اوسني غلجي دي، چې د غزني شاوخوا اوسېږي. د دې مسألې د اسنادو او تاریخي شرحې لپاره وګ: لویکان غزنه.

٦ - اصلي بیت پخوانۍ پښتو ده، چې دلته یې معنی راوړل کېږي:

«لویک (بت) په زمي ګزن (د غزني ځمکه) کې ښخ شو او لویانو (مشرانو) خپله سرداري بایلوده، زه خپل کښه‌تُر (لښکر) ننګوم، تهٔ د عربو له ملګرتیا واوړه.»

هغه يې مات کړ او سپين زر يې د جومات د ودانۍ لپاره ورکړل. د هغهٔ ولي‌الله په کرامت د کفر او هندووالې بوی د غزني له ښاره ورک شو.» (۱۵پاڼه)

هغه تاريخي مطالب چې له دې کيسې څخه لاس ته راځي او له نورو کتابونو او مؤثقو ليکلو اسنادو سره سمون خوري- بې د هغو له خارق‌العاده مراتبو او کرامت پامنيوي- موږ پرې خبرې کوو. د هغو تاريخي پايلې د نورو تاريخي کتابونو په رڼا کې په لاندې ډول دي.

۱- لويکان يوه پاچاهي کورنۍ وه، چې پر زابلستان، غزني او گرديز يې واکمني کوله. د کوشانيانو تر پېر او دويمې زېږدې پېړۍ پورې يې پته لگېدلې ده، چې له کابلشاهانو سره يې خپلوي وه.

۲- پر خلجي (غلجي) پښتو ژبه پوهېدل او د پښتو پخوانۍ بيت ترې راپاتې دی. د هغو په کورني نوم کې د پښتو د لوی (غټ او مشر) ستړه شته. ښايي د غزني سيمې له همدې غلجيانو څخه وي. د دې بيت د ژبې لهجوي سيستم د وردگو، غزني او وزيرو (وجير) له لهجې سره نږدېوالی لري.

۳- دې لويکانو د خپل نيکهٔ بت د غزني د باميانو ورهٔ په عبادتځي کې ايښی و؛ د تازيانو (عربو) تر يرغل وروسته د دې هېواد د نورو وگړو په څېر دوی هم په څرگنده مسلمانان شول؛ خو بيا بېرته واوښتل. په دې وخت کې د لويک کورنۍ واکمن خانان (خاقان) نومېدهٔ، چې د کابلشاه خنچل (۱٦٤س شا و خوا) همپېر و.

٤- د عربو سوبمنو، صفاريانو او غزنويانو د لښکرو پر ضد په غزني او گرديز کې د دې ولسونو جنگونه تر پېړيو روان وو او په پای کې يې پاچاهي د سلطان‌محمود د پلار سبکتگين په لاس په ۳٦٥س کې ړنگه شوه؛ خو وروسته د غزني په دربار کې د دولتي چارواکو په توگه پاتې شول او د سفارتونو او سياست چارې يې ترسره کولې.

د لويکانو د کورنۍ کسان چې تر اوسه مو د شتو اسنادو له مخه پېژندلي دي، لاندې يې شرحه کوو:

## د غزني او گرديز لويکان

**۱- شيزو گرگ** SHIZOGARG

دا کس د لويک بوسر پلار دی، چې په دويمه گڼه کې به ياد شي، د بغلان د

سرۀ کوتل په ډبرلیک اتمه کرښه ۵۸ مه کلمه کې یې نوم د اضافت په بڼه د هغۀ د زوی تر نامۀ وروسته بنوت راغلی دی او د هغۀ تر نامۀ وروسته (الوښال ارواښاد) لیکل شوی، له دې څخه جوتېږي، چې د ډبرلیک کښلو پر کال (۱٦۰ز شاوخوا) مړ و، پر دې بنسټ د هغۀ د ژوندانۀ زمانه باید د (۱۰۰ز) شاوخوا اټکل شي.[1]

**۲- لویک بوسر** LOIX BOCAR :

دا کس د بغلان د ډبرلیک له مخه (اتمه کرښه له ۵۳- ۵۷ کلمې پورې) شا- ی- بگ پوهر- ی- لویخ بوسر SHA-I-BAG-POHR-I-LOIX-BOCAR یعنې فغفورشاه (صاحبزاده) لویک بوسر نومېږي، چې د نوکونزوک ی کرل رنگ ی فري خودیوگ (نوکنزوک کنارنگ د ښتن یعنې ستراوکمن له خوا) په نامۀ د هغۀ یو کس کښی د ۱٦۰ز شاوخوا بغلان ته راغی، دلته یې د پخو ښتو یو کوهي جوړ کړ او د بغلان د سرۀ کوتل همدا ډبرلیک یې په تخاري ژبه او یوناني لیکدود وکېښ.

په ډبرلیک کې د: فرویسپ- انومواد- برگان= تل دې نومیالي وي! دعا د دې بوسر بن‌شیزوگرگ لپاره راغلې؛ نو څرگنده ده چې د کنیشکا د پېر پر ۳۱ کال (۱٦۰ز شاوخوا) یې ژوند کاوۀ او د خودی یا خودیوگ (= خدیو= ستر واکمن) کوشاني په فرمان یې د فغفورشاه په لقب او په خپل کورني نامۀ (لویک) واکمني کوله؛۲ خو څرگنده نه ده چې پلازمېنه یې چېرته وه؟ ځکه په ډبرلیک کې وایي چې د اوبو کارپوه"کښی" یې نوکنزوک د هغۀ د پاچاهی د ۳۱ کال په غویي کې بغلان ته راغی. نو له دې څخه معلومېږي چې پلازمېنه یې له بغلان پرته بل چېرته وه، چې د نورو اسنادو له مخه باید غزنی یا گردېز وي.

د بغلان ډبرلیک له مخه تر اسلامي پېر مخکې یواځې همدا دوه لویکان پېژنو. د دې ډبرلیک په پای کې هلته چې د بغلان د نوشاد د بیارغونې د پلاوي لاسلیکونه دي، د دې پلاوي د مشر له نامۀ سره- چې د شاه لویک بوسر کښی و- یعنې کنارنگ

---

[1] - مادر زبان دری، ۹٦ مخ.

[2] - پورتنی اثر، تر ۹۵ وروسته.

نوکنزوک، د هغهٔ کورنۍ نوم ماریگ MAREG راغلی او همدا نوم د وردگو د خوات په خروشتي ډېرلیک کې هم شته، چې د کنیشکا د پاچاهۍ په ۵۱ کال (۱۸۱ز شاوخوا) پورې اړه لري. له دې څرګندېږي، چې د لویک پاچاه او د هغهٔ د پاچاهۍ دې حاکمې کورنۍ د واک سیمه تر غزني پورې هم غځېده، چې د عبادتځیو په جوړونه او بیارغونه کې یې لاس درلود او د کنیشکا د زوی هوویشکا د پاچاهي پر مهال یعنې تر (۱۵۲ز) وروسته یې ژوند کاوهٔ.[1]

## ۳- لویک وجویر (هجویر)

د سلطان سخي سرور په کیسه کې راغلي دي، چې د غزني ښار د بامیانو ورهٔ مزګت د مسلمانانو تر راتګ مخکې د بتانو لوی عبادتځی و، چې وجویر لویک د رتبیل او کابلشاه لپاره جوړ کړی و.

د لویکانو له کورنۍ څخه دا کس یواځې په همدې لاسوند پېژنو، خو د نامهٔ لیکنه یې د هجویر کلمې ته ورته ده، چې د «کشف‌المحجوب» لیکوال او مشهور صوفي علي بن‌عثمان هجویري غزنوي (د ۴۹۵ س شاوخوا مړ او په لاهور کې ښخ) همدې ځای ته منسوب دی. شاهزي داراشکوه دا ځای د غزني له سیمو څخه ګڼلی دی[2] او منهاج السراج په خپل کتاب کې څو ځایه وجیر= وجیرستان او ورته منسوب یې وجیري لیکلی دی، چې د غوریانو د پېر مشهور ولایت و.[3]

نو پخوانی وجویر، وروستنی هجویر او د غوري پېر وجیر همدا د غزني د شمال لوېدیځ اوسنی وُجیرستان دی، چې په دې وروستیو کې د اُجرستان او ان حجرستان په املاوو لیکل شوی دی.[4]

که څه هم په دې اړه پرېکند لاسوند نهٔ شته چې د وجیر د تسمیې وجه څه ده؟ خو د وجویر= هجویر= وجیر د نومونو نږدېوالی دا څرګندوي چې همدا لویک به وجیر سیمې ته منسوب شوی وي، لکه چې دې دود د

---

[1] - مادر زبان دری، ۱۳٤ مخ.

[2] - سفینةالاولیاء، ٦٥ مخ.

[3] - طبقات ناصري ۱ ټ- ۳۹۳- ۳۹٦/٤۱٦/ ٤۳٦ او نور مخونه.

[4] - سراج‌التواریخ، ۳ ټ، د حجرستان د وګړیو پر ضد د امیر عبدالرحمن خان د جنګونو په شرحه کې.

منهاج سراج (۶۵۸س) تر وخته هم رواج درلود. په طبقات ناصري کې د غوريانو د پېر ډېر نوميالي د واک يا زوکړې او استوګنې ځای ته منسوب مومو، بې له دې چې د سيمې د نامۀ په پای کې يې نسبتي (ي) ورسره نښلولې وي، لکه ملک تاج الدين مکران او ملک سيف الدين مسعود تمران.[1]

که دا نوم سيمې ته د نسبت له مقولې څخه ونه ګڼو، نو د غزني د همدې سيمې په پښتنو کې د ځای په نامۀ تسميه هم تر اوسه مروجه ده، چې پر کسانو کابل، غزنی، مقر او ملتان نومونه ږدي.

په هر حال وجوير يا هجوير د نېک، ښکلي او ځيرک په معنی د پارسي له هجير او هژير سره همريښه برېښي، چې په اوستا کې هوچتهره او په پهلوي کې هوچهر و.[2]

د دې کيسې له مخه لويک وجوير د رتبيل او کابلشاهانو هممهال او زوی يې لکه چې رابه‌شي، د (۱۶٤س) شاوخوا ژوند کاوۀ؛ نو د وجوير د ژوندانۀ زمانه د (۱۰۰س) شاوخوا اټکلولای شو.

### ۴- لويک خانان يا خاقان

دا نوم د سخي سرور د کيسې په خونديينه کې خانان او په زين‌الاخبار کې د ګرديزي په خونديينه خاقان دی، خو څه رنګه چې په پښتنو کې د خاقان نوم دود نه دی او خانان نومونه ډېره ده او په تېره د ارګون او زاولستان وګړي او د همدې وجيرستان ملاخېل په دې نامۀ ډېرې نومونې کوي، ښايي د ګرديزي د نسخې کاتبانو پر خاقان اړولی وي. لکه چې د اشخاصو او ښارونو په نومونو کې دا ډول اړونې د ګرديزي په نسخو او نورو خطي کتابونو کې ډېرې تر سترګو کېږي.

د دې کيسې له مخه پوهېږو، چې خانان يا خاقان د وجوير زوی له دې کورنۍ څخه د لومړي ځل لپاره اسلام ومانۀ، په څرګنده يې د غزني ښار د باميانو ورۀ عبادتځی بند کړ او د لويک بت يعنې د خپلو نيکونو د يوۀ پېره يې په هغۀ کې ښخه کړه.

---

[1] - طبقات ناصري ۳٦۸/۱.

[2]- برهان قاطع ۲۳۳٦/٤ د تفصيل لپاره وګ: لويکان غزنه تر ٥٤ مخ وروسته.

خو په خپله د دې سیمې د نورو وګړو په څېر د عربو د لښکر تر ستنېدو وروسته خپل پخواني دین ته وروګرځېد. دې جومات وروسته د هغهٔ د لمسي افلح لویک د مزګت په نامهٔ شهرت وموند چې مسلمان پاتې شو.

خانان یا خاقان د دې کیسې د څرګندونې له مخه د خنچل کابلانشاه هممهال و او لکه چې احمد بن‌واضح یعقوبي (۲۹۲ س شاوخوا) لیکي: د بغداد عباسي خلیفه المهدي په (١٦٤س) کال کې ځینو شاوخوا پاچاهانو ته خپل سفیران ولېږل او هغوی یې خپل اطاعت ته راوبلل چې زیاترو یې هغهٔ ته غاړه کېښښوده، له دې پاچاهانو څخه یو خنچل نومی کابلشاه و.[١]

د سخي سرور د کیسې راوي لیکي چې په دې وخت کې خانان یا خاقان مسلمان شو او کابلانشاه خنچل په خلجیه ژبه (پښتو) د لویک له خوا (هرومرو یې پلار چې د مسلمانانو د برید له امله به یې کابلشاه ته پنا وړې وي) خانان ته ولېږهٔ او په هغهٔ کې یې وویل چې: زه خپل لښکریان درمارشوم تهٔ د تازیانو له ملګرتیا لاس واخله!

خانان چې د تازي سوبمنو د ځواک له وېرې، په څرګنده د اسلام دین منلی او د خپل یوهٔ نیکهٔ لویک پژه یې د غزني د بامیانو ورهٔ په عبادتځي کې ښخه کړې وه، کله چې د کابلانشاه خنچل د مرستې له ژمنې څخه ډاډمن شو؛ نو بېرته له اسلامه واوښت او بیا د هندوانشاه په دین شو، چې مطلب ترې د ګندهارا ولایت او د کابل د ختیځ پاچاه دی. هغه مهال ښایي په برهمني او یا د هندي دینونو له څانګو په یوهٔ بل دین و.

د شتو لاسوندونو له مخه خانان یا خاقان لومړنی کس دی، چې په غزني کې د تازي سوبمنو له پرمختګونو سره مخامخ شوی دی. په څرګنده یې د اسلام دین منلی او بیا وروسته بېرته د خپلو نیکونو دین ته وراوښتی دی.

## ۵- محمد بن‌خانان (خاقان)

دا کس یواځې د ګردېزي د یادونې له مخه پېژنو، چې د نوموړي خانان زوی دی.

---

[١] - تاریخ‌الیعقوبي ۱۳۱/۳ د نجف چاپ، ۱۳۵۸ل. د نامهٔ د شننې، ادبي ریښو او فلالوجي لپاره وګ: لویکان غزنه، ٦٧ مخ.

گرديزی وايي چې د صفاريانو په پېر کې د گرديز اميران وو.[1]

داسې برېښي، چې له همدې لويک کورنۍ څخه محمد مسلمان او محمد يې اسلامي نوم و. په غزني کې د مسلمانانو تر سوبې وروسته به د (١٦٤ س) شاوخوا همدې کورنۍ د خپل امارت مرکز له غزني څخه گرديز ته لېږدولی وي.

د محمد بن خانان په اړه ډېر معلومات نهٔشته او يواځې واکمني يې د (٢٠٠ س) شاوخوا اټکلوو، چې تر پلار وروسته به يې د واک واگې په لاس کې نيولې وي.

**٦ - ابومنصور افلح د محمد زوی**

گرديزی وايي نوم يې افلح او د سخي سرور د کيسې له مخه يې نوم (افلخ) دی، چې کنيه يې ابومنصور او د مخکې ياد شوي محمد زوی دی.

لکه چې د سخي سرور د کيسې په متن کې مو ولوستل، کله چې افلح د خانان لمسی پاچاه شو؛ نو د غزني د باميانو ورهٔ لويک عبادتځی يې ونړاوهٔ او جومات يې پرې جوړ کړ.

د افلح له عربي نامهٔ، کنيت ابومنصور او د پلار له نامهٔ محمد څخه څرگندېږي چې اوس د لويک کورنۍ کسانو عربي آداب په بشپړه توگه خپل کړي او د اسلام دين يې منلی و. همدې افلح د غزني د لويک عبادتځي پاتې شوني له منځه يووړل او د هغهٔ پر ځای يې جومات جوړ کړ، چې د افلح لويک په نامهٔ يادېدهٔ. دا لومړنی جومات دی، چې د اسلامي پېر په غزني کې د پخواني عبادتځي پر ځای جوړ شو.

که څه هم گرديزی په دې اړه څه څرگندونې نه لري، چې دا ابومنصور افلح د لويکانو له کورنۍ څخه و؛ خو د سخي سرور کيسه يې له نوموړې کورنۍ سره اړيکه څرگندوي.

گرديزی د ليث يعقوب د ژوندپېښو شرحه کې وايي: چې يعقوب د سيستان نيولو او د صفاريانو د پاچاهۍ تر جوړولو وروسته په بُست، پنجوايي او تگين آباد (اوسني کندهار ولايت) کې د دې ځای واکمن رتبيل وواژهٔ او له هغهٔ ځايه غزني ته راغی. زابلستان يې ونيو او گرديز ته راغی او د گرديز له امير ابومنصور افلح بن محمد بن خاقان سره يې جنگ وکړ. اړ و دوړ اورد شو، وگړو منځگړيتوب وکړ،

---

[1] - زين الأخبار، ٦ مخ.

ابومنصور یرغمل ورکړل او ضمانت یې ورکړ چې هر کال به سیستان ته لس زره درمه خراج ورلېږي.[1]

په دې ډول په ګردېز کې د لویک کورنۍ واکمني د صفاریانو تر راڅرګندېدا (۲۵۶س) پورې وغځېده او په همدې کال کې دا سیمه‌ییز واکمن د لیث یعقوب د مرکزي حکومت او د سیستان تر ولکې لاندې راغی. بلخ، کابل او بامیان هم د یعقوب لاس ته ورغلل او لویک افلح لس زره درمه خراج ومانۀ. تر هغۀ وروسته یې اولادونه د ګردېز پر سیمه‌ییزې واکمنۍ پاتې شول. د افلح د ژوندانۀ زمانه د (۲۸۰ س) شاوخوا اټکلولای شو.

د اوضاع له کتنې روښانېږي چې: د لویک کورنۍ د عربي سوبمنو د راتګ پر مهال په دوو لومړیو لېږدو پېړیو کې تر اوږدو جنګونو وروسته د اسلام دین ومانۀ؛ خو خپل سیاسي هویت، موجودیت او خپله واکمني یې په غزني او ګردېز کې وساتله. د دویمې لېږدې پېړۍ په منځ کې چې یعقوب په لومړي ځل د هېواد د سیاسي اداري پر یو کولو بریالی شو، دې کورنۍ هم د خپلې واکمنۍ مقام د هېواد د سیاسي یووالي دننه په ګردېز کې وژغورۀ. یعقوب هم هغوی د مرکز د سیاسي لاسبرۍ په منلو او د مالیو په ورکولو سره پر خپل حال پرېښودل.

## ۷ - منصور بن‌افلح

بې له دې چې ګردېزي یې پلار افلح د ابومنصور په کنیه نوملی دی، د دې کس په اړه هیڅ ډول معلومات په واک کې نۀشته. د ګردېزي دا یادونه هغه وخت ده، چې د لیث یعقوب ژوندلیک کښي؛[2] خو تر دې وروسته د غزنوي سلطان مسعود د ژوندپېښو په یادونه کې وایي، چې په ٤٢١ س کې د سلطان‌محمود تر مړینې وروسته ابوسهل مرسل بن‌منصور بن‌افلح ګردېزي د خلافت باورلیک او توغ راوړل؛[3]

[1] - زین‌الأخبار، ٦ مخ.
[2] - پورتنی اثر، ٦ مخ.
[3] - پورتنی اثر، ۷٦مخ.

نو له دې څخه هم معلومېږي، چې منصور د افلح زوی و، چې د ژوندانهٔ زمانه یې (۳۵۰س) شاوخوا اټکلولای شو.

**۸ - ابوسهل مرسل بن منصور**

لکه چې تېر شول، مرسل د غزنویانو د دربار له نومیالیو څخه و، د استازي او سفارت دندې یې درلودې. گردېزی وایي د خلافت د باورلیک او توغ (یعنې د بغداد خلافت له لوري د مسعود د پاچاهۍ په رسمیت پېژندنې نخښه) تر راوړلو وروسته امیر مسعود، مرسل ته نېکې هیلې څرگندې او دعاوې یې ورته وکړې. دا پېښې هرات ته د سلطان مسعود تر رارسېدو (٤۲۱ س) د مخه په نیشاپور کې شوې وې.

د مرسل په اړه د گردېزي له دې یادونې پرته نور څه نه شته او په نورو کتابونو کې یې هم نوم نه دی لیدل شوی؛ خو د غزني له پخوانیو بندونو څخه د غزني د سوېل ختیځ په (۱۵) میلۍ کې (مرسل بند) تر اوسه په دې نامهٔ شته؛ نو پوخ اټکل کېدای شي چې دا بند به د همدې مرسل لویکي گردېزي په نامهٔ وي. مرسل د محمود او مسعود د دربار له ډېرو لویو کسانو څخه و. د مسعود تر پېر په راوروسته پېښنو کې یې نوم نه دی راغلی، نو ښایي د (٤۲۱ س) شاوخوا مړ وي.

**۹- سهل بن مرسل**

گردېزی د مخکې یاد شوي مرسل کنیت ابوسهل لیکي او څرگنده ده، چې سهل د مرسل زوی به په (٤۵۰ س) شاوخوا کې ژوندی و، بې له دې د دې سړي په اړه نور معلومات په لاس کې نهٔشته.

**۱۰ - ابوعلي یا ابوبکر لویک**

لکه د طبقات ناصري او سیاستنامې د مضامینو په غورچاڼ کې چې تېر شول، الپتگین په (۳۵۱س) کې غزنی له یوهٔ لویک څخه ونیو، چې سیاستنامې یې نوم نه دی یاد کړی او طبقات ناصري هم یواځې لاویک امیر لیکي، نو ښایي هماغه پخوانی (۷ گڼه) منصور بن افلح وي. منهاج سراج د کابل د سوېل د لوگر په څرخ کې له امیر سبکتگین سره د ابوعلي لویک[1] د جنگ شرحه - چې د کابل پاچاه زوی یې خپلې مرستې ته راغوښتی و[2]- لیکي. په دې جنگ کې ابوعلي ماتې وخوړه او سبکتگین د

---

[1] - په ځینو خطي نسخو کې د ابوعلي پر ځای ابوبکر هم راغلی دی.

[2] - سیاستنامه وایي د کابلشاه زوی د لویک زوم و، (۱٤۵مخ)

(۳٦٦ س) د شعبان پر ۲۷مه د غزني پر پلاز کښېناست.[۱]

ځرګنده نه ده چې دې ابوعلي یا ابوبکر له افلح، منصور او مرسل سره- چې له همدې کورنۍ څخه وو او همدغه وخت یې ژوند کاوهٔ- څه خپښي او خپلوي درلوده؟ خو په دې چې یو شمېر کسانو به له غزني څخه ابوعلي ته لیکونه کښل او مرستې به یې ځنې غوښتې، هغهٔ هم لښکر او فیلان درلودل او له دښمنانو سره به نښت، نو ځرګندېږي چې پاچاهي مقام او د لویکانو د کورنۍ مشري یې درلوده.

څه رنګه چې دغه مهال په لویکانو کې د عربو په څېر د اولادونو په نامهٔ تسمیې او کنیت رواج درلود، اټکلولای شو چې ابوعلي یا ابوبکر دې د هماغهٔ منصور کنیت وي او بل کس دې نه وي؛ خو دا اټکل هغه مهال پر یقین بدلېدای شي، چې په دې اړه بل لاسوند تر لاسه شي.

اوس د لویکانو د کورنۍ لښتلیک وګورئ:

شېزوګرګ د (۱۰۰ز) شاوخوا (د بغلان د ډبرلیک له مخه)

↓

لویک بوسر د (۱٦۰ز) شاوخوا (د بغلان د ډبرلیک له مخه)

↓

لویک وجویر (هجویر) د (۱۰۰س) شاوخوا (د سخي سرور کیسه)

↓

لویک خانان یا خاقان د خنچل کابلشاه هممهال د ۱٦٤س شاوخوا (ګردېزی او کیسه)

↓

محمد بن خاقان (ګردېزی) د ۲۰۰س شاوخوا

↓

ابو منصور افلح بن محمد، لیث یعقوب ته اېل شو ۲۸۰س شاوخوا (ګردېزی او کیسه)

ابوعلي (ابوبکر؟) د ځرخ په جنګ کې یې د سبکتګین له لاسه ماتې وخوړه ۳٦٥س

منصور بن افلح ۳٥۰س شاوخوا (ګردېزی)

↓

مرسل بن منصور ٤۰۰س شاوخوا (ګردېزی)

↓

سهل بن مرسل ٤٥۰س شاوخوا (ګردېزی)

---

[۱] - طبقات ناصري ۲۲۷/۱.

## ۲- زابلي رتبيلان

عربي مؤرخان د اسلامي سوبو په يادونه کې له لومړۍ لېږدې پېړۍ څخه په زاولستان او سيستان کې د دې ځای د سيمه‌ييزو پاچاهانو نوم چې له تازي سوبمنو سره مخامخ و،(رتبيل) يادوي؛ نو داسې برېښي چې دا د يوۀ پاچاه نوم نه و، بلکې يوه کورنۍ وه. ځکه د لومړۍ پېړۍ له پيله د درېيمې تر وروستيو پورې د دې سيمې هر پاچاه د (رتبيل) په نامۀ ياد شوی دی. که يو سړی وای؛ نو درې پېړۍ به يې دوام نه درلودای.

د دې خبرې دليل د بلاذري او مسعودي څرگندونه ده، چې تر کابل پورې د لومړني اسلامي لښکر د سوبو تر يادونې وروسته- چې له ۳۱س شاوخوا څخه روانې وې- د عبدالملک بن‌مروان (۶۵-۸۶س) د پېر د سوبو په شرحه کې ليکي:

چې تر پخواني وژل شوي رتبيل وروسته د بُست سيمې رتبيل شاه، له عربي لښکر سره وجنگېد؛[1] نو له دې څرگندېږي چې د زابلستان او سيستان د پاچاهانو کورنۍ يې رتبيل بلله.[2]

له بده مرغه په ناعربي او پارسي مأخذونو، په تر لاسه شويو سيکو او ډبرليکونو کې تر اوسه د رتبيل له نامۀ سره مخامخ شوی نه يم، په عربي او پارسي سرچينو کې هم له دې کورني نامۀ پرته د يوۀ پاچاه نوم روښان شوی نه دی. له دې امله موږ د عربي او عجمي مؤرخانو روايتونه دلته راټول کړي او لازمې پايلې ترې اخلو:

### د بلاذري فتوح‌البلدان

د اسلامي پېر په مأخذونو کې تر ټولو پخوانی چې د رتبيل يادونه په کې وينو، د احمد بن‌يحيی بن‌جابر -په البلاذري ۲۷۹س مړ مشهور-

۱ - فتوح‌البلدان ٤۹۱.

۲ - مسعودي په مروج‌الذهب ۷۲/۳ کې وايي: هر څوک چې د هند پولې ته څېرمه پر دې سيمه واکمني کوي، هغۀ ته رتبيل وايي او ابن‌خلکان هم د دې مطلب پخلی کوي.(وفيات‌الأعيان ٥/ ٤٤٥)

فتوح‌البلدان دی. دا ماخذ په کرمان او سیستان کې اسلامي سوبې لـه ۳۰س څخـه د عبدالله بن‌عامر په وسیله- چې ربیع بن‌زیاد یې سیستان تـه ولېږۀ - پیلـوي، د بېلابېلـو عربي سوبمنو له خوا تر کابله پورې د زرنج، بُست، داور، رخج او زابل سوبې یادوي او لوم‌ړی ځل د ربیع بن‌زیاد حارثي د امارت په پېر کې- چې د حضـرت معاویـه لـه خوا د سیستان حاکم و (د ۵۰-۶۰س تر منځ) - د رتبیل یادونه کوي.

بلاذري وايي: څه رنګه چې کابلشاه مسلمانان له کابله پـر شـا کـړل، رتبیـل زابلسـتان او رخج تر بُست پورې ونیول؛ خو ربیع بن‌زیاد هغۀ ته په بُسـت کـې مـاتې ورکـړه. بیـا یـې پـه رخج (اوسني کندهار) کې له هغۀ سره جنګ وکړ، د داور سیمې یې هـم ونیـولې. تـر ربیـع وروسته د همدې معاویه په پېر کې چې کله عبیدالله بن‌ابي بکره د سیستان امیـر شـو، رتبیـل ورسره د خپل هېواد او کابل سیمو له خوا د یو ملیون درهمو په منلو سره سوله وکړه. د یزیـد بن‌معاویه (۶۴س) تر مړینې وروسته، چې کله په سیستان کې د عربي قبایلو تـر منـځ شـخړه پېښه شوه، رتبیل وغوښتل چې هغه ځای په خپلې واکمنۍ پورې وتړي. د عبدالله بـن‌زبیـر د خلافت په وخت کې (۶۴-۷۳س) د عربو د لښکر مشـران زرنـج تـه راغلـل، لـه رتبیـل سره وجنګېدل او ویې واژۀ. بیا د عبدالملک بن‌مروان په پېر کې څه رنګه چې عبدالله بـن‌امیـر د سیستان امیر شو، یو ځل بیا تر وژل شوي رتبیل وروسته هغه واکمن رتبیل لـه عـربي لښـکرو سره مخامخ شو او په بُست کې یې د یو ملیون درهمو په ورکولو سره روغه وکړه.[1]

د حجـاج بـن‌یوسـف د امـارت پـه پېـر کـې، عبیـدالله بـن‌ابي بکـره سیسـتان او رخـج تـه راغـی او د کابـل تـر پولـو پـورې وړانـدې لاړ. پـه دې وخـت کـې رتبیل د ملي ځواکونو په ملګرتیا جنګ پیل کړ، خو عبیدالله د پنځه‌وو لکو درهمو په ورکولو لـه هغـه سره سـولې تـه غـاړه کښېښـوده. پـه دې جنـګ کـې د عربـو لښـکر له منځه لاړ، پاتې یې بېرته ستانۀ شول او بُست ته ورسېدل.[2] تر دې وروسته چې کلـه عبـدالرحمن بـن‌محمـد بـن‌اشـعث د خلیفـه عبـدالملک بـن‌مـروان او حجاج پر ضد پاځون وکړ او د خلافت د ځواکونو له خـوا یـې مـاتې وخـوړه؛ نـو

---

[1] - طبري دا پېښې په ۷۴س کال کې لیکي.

[2] - پورتنی اثر، ۷۹س کال.

رتبیل ته یې پناه راوړه، خو رتبیل هغه د حجاج مامورینو ته وسپارهٔ.[1] حجاج له رتبیل سره په دې شرط نهه کاله سوله وکړه، چې هر کال زر درهمه تاوان ورکړي.

د ولید بن‌عبدالملک په پېر کې قتیبه بن‌مسلم باهلي، د خراسان او سیستان امیر شو؛[2] کله چې یې ورور عمرو بن‌مسلم سیستان ته راورسېد، له رتبیل څخه یې خراج وغوښت؛ خو رتبیل ځواب ورکړ چې: له اطاعته مې سرغړونه نه ده کړې خو هماغه پیسې درکوم چې حجاج ټاکلې وې. کله چې دا ځواب قتیبه ته راورسېد امر یې وکړ چې په هماغو پیسو دې قناعت وکړي، ځکه دا هېواد د عربو لپاره بدمرغه ځای دی.

بیا چې د سلېمان بن‌عبدالملک په پېر کې مدرک بن‌مهلب سیستان ته راغی،[3] رتبیل ورته څه ورنه کړل او د امویانو او ابومسلم د پېر تر پای یې مسلمانو چارواکو ته خراج ورنه کړ، تر هغهٔ چې د عباسي خلیفه منصور په پېر کې معن بن‌زائده شیباني د سیستان والي شو[4] او رتبیل ته یې وکښل چې حجاج ټاکلې پیسې دې راولېږي. رتبیل ډېر لږ څه ورولېږل، معن یې په لیدو غوسه شو او رخج ته د تللو هوډ یې وکړ؛ خو رتبیل له هغهٔ ځایه بېرته زابلستان ته پر شا شو او د عربو لښکر ته درې زره بندیان په لاس ورغلل. د هغهٔ ځایناستي ماوند[5] امان وغوښت او بغداد ته ولېږل شو؛ خو معن د ژمي له وېرې بېرته بُست ته ستون شو.

د مهدي او الرشید والیانو هم تر خپلې وسې بیا دا پیسې له رتبیل څخه اخیستې، کله چې عباسي خلیفه المامون په خراسان کې و، کابل په بشپړ ډول ونیول شو او دا ښار له ډاک (پست) سره ونښت.[6]

---

[1] - طبري، ۸۵ س کال.

[2] - پورتنی اثر، ۸٦ س کال.

[3] - پورتنی اثر، ۹۷س کال.

[4] - پورتنی اثر، ۱۵۱س کال.

[5] - د پخواني افغانستان دا لرغونی نوم د دري ژبې ښکاري، ما= مها (لوی او سپوږمۍ) + وند (د مالکیت او شتمنۍ ادات، د وندن له مصدره یعنې کېښودل او درلودل) نو ماوند د لوی درلودونکي او هغې سپوږمۍ په معنی دی، چې بېلګې یې خداوند، دماوند او نهاوند دي.

[6] - فتوح‌البلدان له ٤٨٤-٤۹۵ مخ پورې.

## احمد بن‌واضح یعقوبي

تر بلاذري وروسته احمد بن‌ابي یعقوب اسحاق بن‌جعفر بن‌واضح الیعقوبي اصفهاني چې د (۲۹۲س) په شاوخوا کې یې ژوند کاوۀ، د سیستان د سیمو په لړ کې کورة زرنج‌العظمی د رتبیل پاچاه پلازمېنه لیکي[1] او بیا د هماغۀ عبدالرحمن بن‌محمد بن‌اشعث کندي داستان راوړي- چې په سیستان کې رتبیل ته ورغی او رتبیل هغه د حجاج مامورینو ته وسپارۀ او له سولې سره یو ځای شو- او وایي: حجاج چې عماره بن‌تمیم لخمي د سیستان د والي په توګه وټاکۀ، نو د رتبیل خوښه نه شوه، له دې امله حجاج هغه لیرې کړ.[2] څه رنګه چې په راوروستو وختونو کې مدرک بن‌مهلب او سیال بن‌منذر او د هشام بن‌عبد الملک (۱۰۵-۱۲۵س) په وخت کې یزید بن‌غطریف پر سیستان وګومارل شول، رتبیل هغوی ته هیڅ ورنه کړل او بې پروا پاتې شو.[3]

همدا مؤرخ په خپل تاریخ کې لیکي:

«په ۸۰ لېږدي کې عبدالرحمن بن‌محمد بن‌اشعث د حجاج له خوا له لسو زرو کسانو سره په سیستان کې وګومارل شو. کله چې بُست ته راغی، د دې ښار پاچاه رتبیل د شاوخوا ټېنګولو تابیا وکړه، عبدالرحمن یې له ځواکونو وویرېدۀ؛ نو د هغۀ له ښاره بېرته بُست ته ستون شو او له رتبیل سره یې د سولې تړون لاسلیک کړ. د حجاج له امره یې سرغړونه وکړه او له هغۀ سره د جنګ لپاره د اهواز پر لور وخوځېد. له څو جنګونو وروسته یې د جماجم په دیر کې ماتې وخوړه او سیستان ته یې مخه کړه؛ خو عبدالله بن‌عامر چې مامور یې هلته و، هغه یې زرنج ته پرېنښود، له دې امله په بُست کې عیاض بن‌عمرو ته ورغی. د عبدالرحمن دا ماتې په ۸۳ س کال کې وه، چې بیا یې د سولې له تېر تړون سره سم له خپلو زرو ملګرو سره رتبیل ته پناه وروړه؛ حجاج، عمارة بن‌تمیم لخمي رتبیل ته ورولېږۀ او ویې ګواښۀ، که عبدالرحمن ورته ونه سپاري، نو سل زره جنګي لښکر به پرې ورمارش کړي؛ خو رتبیل ونه منله.

---

[1] - البلدان ٤٥، د نجف چاپ، ۱۳۷۷ س.

[2] - پورتنی اثر ٤٦.

[3] - پورتنی اثر ٤٧.

په دې وخت کې عبید بن‌ابي سبیع چې رتبیل ته باوري و، په بُست کې عماره بن‌تمیم ته ورغی او دواړه تړونونه یې د حجاج په مهر د رتبیل په نامهٔ راوړل، تر دې چې په پای کې رتبیل، عبدالرحمن هغهٔ ته وسپارهٔ.»[1]

تر دې وروسته په ۹۲س کې د خراسان امیر حجاج، قتیبه ته امر وکړ چې سیستان ته لاړ شي او د رتبیل پر ضد وجنګیږي. قتیبه د سیستان زالق تـه راغـی او پر رتبیل یې برید وکړ. رتبیل پیغام ورواستاوهٔ چې موږ سـوله وکـړه او تاسـو هم ومنله اوس ولې هغه ماتواست؟ قتیبه ورته وویل: که سوله غواړئ نو ستاسو لپاره به ښه وي او که نه هیله‌من یم چې برې به زموږ په برخه وي. قتیبه چـې د رتبیل مقاومت ولید؛ نو خپلو ملګرو ته یې وویل: دا بدمرغه خاوره ده، پـه دې کې عبدالله بن‌امیه، ابـن‌ابي بکـره او نـور لـه منځـه تلـلي دي. مـوږ د رتبیـل لـه تدبیرونو او چلونو لکه د خوراکي توکو او وښو له سـوځولو څخـه ځـان نهٔشـو ژغورلای او نه یې کلاوې ړنګولای شو. له دې امله قتیبه د رتبیل لـه خـاورې د خوارزم خوا ته مخه کړه.[2]

الیعقوبي وایي: تر۱۶۳س وروسته د بغداد عباسي خلیفه المهدي (خراسان و شاوخوا) سیمو ته سفیران ولیږل او هغوی یې غاړې ایښودنې ته را وبلل. له هغې جملې خنچل کابلشاه، د بامیانو شېر او د سیستان پاچاه رتبیل، هغهٔ ته اېل شول.[3]

## محمد بن‌جریر الطبري

امام ابوجعفر محمد بن‌جریرالطبري (۲۲٤-۳۱۰س) چې د اسلامي پېر او عربي ژبې له مشهورو مؤرخانو څخه دی، هغهٔ هم د خپل تاریخ‌الأمم و الملوک په بېلابېلو برخو کې د رتبیل یادونه کړې، چې دلته یې لنډون وړاندې کوو:

د ۲۱ لیږدي کال د سیستان نیولو په یادونه کې وایي:

د حضرت‌عمرﷺ په پېر کې عاصم بن‌عمرو د سیستان نیولو لپاره وګومارل شو، په

[1] - تاریخ یعقوبي ۲/ ۲۷۹، د بېروت چاپ، ۱۹۶۰ز.

[2] - پورتنی اثر ۲/ ۲۸۷.

[3] - پورتنی اثر، ۲/ ۳۹۷.

دې وخت کې پاچاه له خپل ورور رتبيل څخه آمل ته وتښتېد او دواړه سلم بن‌زياد ته ورغلل چې په سيستان کې و. هغۀ دوی ته هلته د اوسېدو اجازه ورکړه او حضرت‌معاويه ته يې د حال څرنګوالی وکېښ؛ خو پاچاه د معاويه تر مړينې وروسته سر راپورته کړ، رتبيل زرنج ته سترګې ونيوې او پر هغو سيمې يې منګولې ښخې کړې.[1]

طبري له عبدالله بن‌ابي بکره سره د رتبيل (۷۹س کال) د جنګونو شرحه همغسې راوړې، چې د بلاذري د فتوح‌البلدان په اقتباس کې رانقل شوې، چې له رتبيل سره په جنګ کې د عربانو ډېر لښکر له منځه لاړ. کله چې حجاج ته دا خبر ورسېد؛ نو خليفه عبدالملک ته يې خبر ورکړ چې که دې هېواد ته ځواکمن او ډېر لښکر راوانه ستول شي؛ څرګنده ده چې رتبيل او ملګري به يې پر دوی بريالي شي.[2] د حجاج دا ليک چې اموي دربار ته ورسېد، عبدالملک يې په ځواب کې وليکل:

«ليک دې راورسېد په سيستان کې مسلمانانو ته له ورپېښو ګواښونو خبر شوم، هغه چې مړۀ شول، اجر يې پر الله ﷻ دی؛ خو هغې ځمکې ته د لښکرو د ورلېږلو په اړه چې مسلمانان هلته په داسې برخليک اخته شول، زما خوښه ستا خوښه ده؛ نو بريالی اوسې.»[3]

حجاج په ۸۰ س کې پر سيستان د عبدالرحمن بن‌محمد بن‌اشعث په مشرۍ څلوېښت زره مجهز وسله‌وال عسکر ورمارش کړل، عبدالرحمن په سيستان کې د منبر له سره وګړي له رتبيل څخه کسات اخيستنې ته راوپارول. رتبيل چې خبر شو، نو د ننواتې ليک يې وکېښ او د سولې غوښتنه يې وکړه؛ خو عبدالرحمن ونه منله او له خپل ځواکمن لښکر سره د رتبيل خاورې ته ورننووت، رتبيل پر شا شو. عربي لښکريان چې ډېر مجهز وو، نو ځکه يې جيش‌الطواويس (د طاووسانو لښکر) بالۀ او دوه مليونه درهمه لګښت پرې شوی و. د رتبيل د خاورې يوه لويه برخه يې له غواوو، مېږو او نورو غنيمتونو سره تر لاسه کړه. هر ځای يې استازي او ډاکيان وټاکل او په خطرناکو ځايونو، درو او ښارونو کې يې لښکري تمځي جوړ کړل.[4]

عرب والي عبدالرحمن له حجاج څخه سر وغړاوۀ او پر وړاندې يې راپاڅېد. تر

---

[1] - طبري ۳/ ۲۵٦.
[2] - پورتنی اثر ۵/ ۱۳۸.
[3] - پورتنی اثر۵/ ۱٤۰.
[4] - پورتنی اثر ۵/ ۱٤۲.

منځ يې لوی جنګونه وشول، په ۸۳ س کې د سيستان زرنج ته پر شا شو. چې هغه ښار ته يې لاره ونه مونده، نو بُست ته راغی. رتبيل چې خبر شو؛ نو عبدالرحمن يې په ورين تندي ومانځ او له خپل لښکر سره د بُست ښخڼو ته راغی. په دې وخت کې يې ملګرو عبدالرحمن بېرته زرنج ته وغوښت او تر هرات پورې وړاندې لاړل؛ خو عبدالرحمن بېرته رتبيل ته پناه يووړه. حجاج رتبيل ته ليک ورولېږئ چې عبدالرحمن بېرته حجاج ته ورولېږي او که نه نو د رتبيل هېواد به د يو مليون لښکر په وسيله لتاړ شي. په پای کې رتبيل د اوو کلو خراج پرېښودو په بدل کې عبدالرحمن د حجاج مامورينو ته وسپارئ او يا يې د هغهٔ سر پرې کړ او حجاج ته يې ورولېږئ. دا په ۸۵س کال کې وو.[۱]

په ۹۲ س کال کې قتيبه بن‌مسلم پر لوی رتبيل او زابل د بريد هوډ وکړ، چې سيستان ته راغی رتبيل د خپلو استازو په وسيله سوله وغوښته.[۲]

**مسعودي**

نوميالی مؤرخ او سيلاني علي بن‌حسين (۳٤٦ س) چې په مسعودي مشهور دی او په خپله يې خراسان او سند سيمې وليدې او مروج‌الذهب کتاب يې په (۳۳۲س) کې وکېښ، د سيستان، بُست او رخج د والي عبدالرحمن بن‌اشعث او حجاج د اختلاف په شرحه کې ليکي: عبدالرحمن د دې وطن د پاچاهانو لکه رتبيل[۳] او نورو پر وړاندې جنګ وکړ. هر څوک چې د هند پولې ته څېرمه پر دې وطن واکمني چلوي، هغهٔ ته رتبيل وايي. بيا عبدالرحمن د خليفه عبدالملک او حجاج له اطاعته سر وغړاوهٔ (۸۲س).[٤]

همدا مؤرخ وايي: په ۲۸۳س کال کې عمرو ليث د بغداد د خليفه معتضد دربار ته سوغاتونه ولېږل، په هغو کې د بُست د غرونو او داور سيمې بت او کوچني بتان وو، چې پر ګاڼو او قيمتي ډبرو ښکلل شوي وو. د بغداد وګړي يې په ورځو ورځو پر ننداره بوخت وو. زابلستان د هغه ځای د پاچاه فيروز بن‌کنک په هېواد مشهور و. دې پاچاه بې‌سارې کلکې او پخې کلاوې درلودې.[۵]

---

[۱] - طبري ۵/ ۱۸۸.

[۲] - پورتنی اثر ۵/ ۲٤٦.

[۳] - په چاپ نسخه کې زنبيل دی، چې د رتبيل اوښتنه ده، شرحه يې وروسته راځي.

[٤] - مروج‌الذهب ۳/ ۷۲ د دارالرجاء چاپ قاهره ۱۹۳۸ ز.

[۵] - پورتنی اثر ۴/ ۱۷۲.

نورو عربي مؤرخانو لکه ابن‌اثیر او ابوالفداء د رتبیلانو د مقاومت په اړه د پخوانیو مؤرخانو همدا ټکي تکرار کړي دي، نوي څه نه لري؛ نو له یادونې یې- چې د تر لاسه شوي تر لاسه کول دي- تېر شو.

**مطهر بن‌طاهر مقدسي**

دې عربي مؤرخ چې د البدءوالتاریخ کتاب یې پر ۳۵۵س د هلمند پر څنډه په بُست ښار کې وکېښ، بروکلمن وايي په همدې ښار کې یې[1] رتبیل ته د عبدالرحمن د پناه وروړو په شرحه کې دا نوی مطلب ورزیات کړ: حجاج۱٤ لکه درهمه د عماره بن‌تمیم په وسیله رتبیل ته د دې لپاره ورولېږل، چې عبدالرحمن ورته وسپاري. رتبیل عبدالرحمن تېرایست، ویې تاړۀ او ورتسلیم یې کړ، خو هغۀ ځان له ماڼۍ څخه را وغورځاوۀ او په رخج کې ومړ، د هغۀ سر یې حجاج ته واستاوۀ.[2]

**ابن‌خلکان**

په ابن‌خلکان مشهور ابوالعباس شمس‌الدین احمد بن‌محمد (۶۰۸-۶۸۱س) د عربي ژبې نامتو مؤرخ چې د بلخي برمکیانو له اولادې څنې و، د لیث یعقوب د ژوند پېښو په شرحه کې لیکي«د سیستان شاوخوا د ترکو (ښایي تَـره‌کي (taráki) د غزني او کندهار تر منځ مشهوره پښتني قبیله) یو ټبر مېشت دی چې هغوی الدراري (ښایي د غزني شاوخوا مېشته پښتني اندړ قبیله) بولي او د هغو پاچاه رتبیل دی. یعقوب پاچاه هغه وواژۀ او تر رتبیل وروسته یې د هغو درې پاچاهان ووژل. د دې سیمې هر پاچاه ته رتبیل وايي.

د شاوخوا لکه د ملتان، رخج، زابلستان، سند، مکران او نورو پاچاهانو چې دا ولیدل؛ نو له یعقوب نه وویرېدل او اېل شول.»[3]

**د رتبیلانو په اړه د پارسي تاریخونو مهم مطالب**

په تاریخ سیستان کې چې مؤلف یې نامعلوم دی او مهمه برخه یې د ٤٤٥س شاوخوا

---

[1] - تاریخ ادب عرب ۳ /٦۲.

[2] - البدء و التاریخ، د پاریس چاپ، ۱۸۹۹ز، شپږم ټوک ۳۷ مخ.

۳ - وفیات‌الأعیان ۵ /٤٤٦، د قاهرې چاپ ۱۹٤۹ز.

کښل شوې، د رتبیلانو په اړه مهم مطالب شته، د هر مطلب یادونه به د پېښو په برخه کې پر خپل ځای وکړو؛ خو څه رنګه چې د تاریخ سیستان لیکوال د دې سیمې د نومیالیو او مېړنیو پر پېښو او احوال تر ټولو خبر سړی دی؛ نو له دې امله دلته د رتبیلانو په اړه د تاریخ سیستان مطالب رانقلوو:

په ٤٧ س کال کې ربیع‌الحارثي بُست، رخذ او هغې سیمې ته راغی او هغه رتبیل[١]... چې تللی و، پر وړاندې یې وجنګېدهٔ، رتبیل ماتې وخوړه او د هندوانو سیمې ته لاړ.[٢] په ٥١ س کال کې عبیدالله ابي بکره سیستان ته راغی، خو په سیستان کې لږ وخت و، بیا بُست او رخذ ته لاړ او په کابل کې دېره شو. د رتبیل پر ضد وجنګېدهٔ او په پای کې یې په دوه ملیونه درهمه سوله وکړه.[٣] رتبیل هغهٔ ته ورغی او ورسره سیستان ته راغی، له دې ځایه یې د زیاد په امر رتبیل پسې بصرې ته ورولېږهٔ. زیاد غوښتل هغه ووینې، چې هلته ورسېدهٔ، ویې نازاوهٔ، خلعت یې ورکړ او بېرته یې عبیدالله بن‌ابي بکره ته راولېږهٔ. د هغهٔ د سخا او زړورتیا په اړه ډېرې کیسې شته؛ خو ما د دې کتاب د لنډکښنې هوډ کړی دی؛ نو وبه نه ښایي هغه څه چې په دې مهم ښار کې د هغه پر مهال وو، په ډېر اوږد وخت کې دې وویل شي.[٤]

تر ٦٤ س کال وروسته عبدالعزیز بن‌عبدالله بن‌عامر بن‌کریز سیستان ته راغی، خبر شو چې بُست او کابل بلوا کړې، د دښتې له لارې یې حرکت وکړ. رتبیل د تَرَکیانو لښکر راټول کړی و، سخت جنګ یې وکړ، دومره سخت چې مسلمانان پر شا شول او غوښتل یې د دښمنانو له ځواک و پرتم څخه وتښتي. عمر بن‌شان العاري چې مشهور سړی و، له عبدالعزیز سره ملګری و، هغه یرغل وکړ او رتبیل ماتې وخوړه.[٥]

تر دې وروسته د رتبیل د جنګونو یادونه په بُست کې په ٧٤س،[٦] بیا د عبیدالله بن‌ابي

---

١ - د تاریخ سیستان خپرندوی او سموونکي ملک الشعراء بهار دا کلمه زنتبیل لوستې، چې د دې بحث په پای کې به یې شرحه ورکړی شي.

٢ - تاریخ سیستان، تهران چاپ١٣١٤ل، ٩١مخ.

٣ - دوه ملیونه.

٤ - تاریخ سیستان، ٩٤ مخ.

٥ - پورتنی اثر، ١٠٦ مخ.

٦ - پورتنی اثر، ١٠٨ مخ.

بکره سره په ۷۸ س، له عبدالرحمن محمد اشعث سره د هغهٔ داستان په ۸۲ س، له اشعث بن‌بشر سره د هغهٔ جنگونه په ۸٦ س کې، له محمد بن‌جحش سره په ۱۰۹ س کې او له سلېمان کندي سره په ۱۳۸ س[۱] کې شوي ده. په ۱۵۱ س کې د معن بن‌زائده له خوا رخذ ته د یزید بن‌مزید د راتگ تفصیل ورکوي، چې رتبیل ورته ډالۍ واستولې؛ خو یزید ورسره په بُست کې ونښت، دېرش زره کسان یې ونیول او د رتبیل ماوید نومي زوم؟ (په بلاذري کې: ماوند د رتبیل خلیفه) امان وغوښت او منصور خلیفه ته ورواستول شو.[۲]

همدا رنگه د سیستان د تاریخ نامعلوم مؤلف تر دې پېر وروسته د سیستان د پېښو په ترڅ کې په دې برخو کې د رتبیل نوم راوړی دی:

د هادي د خلافت پر مهال د ۱٦۹س په صفرې کې تمیم له بُست څخه رخذ ته لاړ او د رتبیل پر وړاندې وجنگېدهٔ، د هغه ورور یې ونیوهٔ او عراق ته یې ولېږهٔ.[۳]

په ۲٤۹س کال کې یعقوب لیث صفاري په رخذ کې له صالح بن‌نضر سره-چې رتبیل ته یې پناه وروړې وه-ونښت، رتبیل یې راوپرځاوهٔ، له شپږو زرو کسانو سره یې وواژهٔ او له څلورو زرو اسونو سره یې دېرش زره کسان ونیول. د رتبیل ورور یعقوب ته تسلیم شو، د رتبیل د سپینو زرو پلاز، خزانه، وسله او ټول خپلوان یې په دوو سوو بېړیو کې سیستان ته ولېږدول شول، چې په هغو کې د رتبیل ورور احرسي (همداسې) هم و. یعقوب د رتبیل د ترهٔ زوی صالح بن‌حجر رخذ ولایت ته حاکم ولېږهٔ[٤] خو صالح د ۲۵۲س په شعبان کې سرغړونه وکړه او د کوهژ (کوهک، د کندهار د لوېدیځ په لس میلۍ کې د ارغنداب پر لوېدیځه څنډه، چې د بیهقي د وینا له مخه د رتبیل مانۍ وه۳مخ) په کلا کې د یعقوب له خوا کلابند شو. کله چې د صالح په دې یقین راغی چې کلا به نیس؛ نو ځان یې وواژهٔ، هغه یې له کلا څخه کښته راوغوځاوهٔ او امن یې وغوښت، د صالح مړی یې بُست ته راوړ او ښخ یې کړ. د یعقوب د دربار سرمنشي محمد بن‌وصیف د یعقوب په ستاینه کې پارسي

[۱] - تاریخ سیستان (۱۱۰- ۱۱۲-۱۱٦- ۱۲۰تر ۱٤۳).
[۲] - پورتنی اثر، ۱٤٤.
[۳] - پورتنی اثر، ۱۵۱.
[٤] - پورتنی اثر، ۲۰٦.

شعر ووایهٔ او رتبیل یې په کې داسې یاد کړ:

به لتام آمد رتبیل و لتی خورد به لنگ
لتره شد لشکر رتبیل و هبا گشت کنام[1]

په ۲۵۵ س کال کې د رتبیل زوی کبر (ښایي گبر یا گیر) چې په بُست کلا کې بندي و، د تېښتې لاره یې وموندله، لوی لښکر یې راټول کړ پر رخذ وروخوځېد او رخذ یې ونیو. یعقوب د همدې کال په ذوالحجه کې د دهٔ مخنیوي ته راووت، د رتبیل زوی له رخذه کابل ته وتښتېد. یعقوب د ۲۵۶س کال په شوال کې پر خلجیو او ترکانو (غلجي او تره‌کي) تر برید او یرغل وروسته سیستان ته راغی.[2]

دوه کاله وروسته د ۲۵۸س په ربیع‌الأول کې یعقوب بیا د رتبیل د زوی د مخنیوي لپاره زابلستان ته لاړ. د رتبیل زوی د نای‌لامان (د غزني د لوېدیځ اوسنی اجرستان) په کلا کې ځای پرځای شو او مورچه یې ونیوه، هغه یې را کوز او بندي کړ.[3]

په تاریخ سیستان کې د رتبیل په اړه همدا مطالب راغلي، چې موږ ترې مهمې پاپلې تر لاسه کړو:

**په مجمل کې**

نامعلوم مؤلف چې مجمل‌التواریخ یې په ۵۲۰ س کې کښلی- دوه ځله په کې د رتبیل یادونه راغلې ده، یوه د حضرت‌عمر په پېر ۲۳ س د مکران د فتحې په شرحه کې، چې وایي:

مکرانیانو د سند له پاچاه ـ چې رتبیل ورته وایي - مرسته وغوښته. هغه د مسلمانانو سره جنگ ته راووت او ووژل شو. بیا د عبیدالله بن‌ابي بکره په شرحه کې لیکي چې‌هغه په سیستان کې له رتبیل سره وجنگېد او سیستان ونیول شو (د ۷۶او ۸۳ تر منځ).[4]

---

[1] - تاریخ سیستان، ۲۱۰/۲۰۸ په دې بیت کې به لتام د ځای نوم وي؟ لتره د ټوټه ټوټه په معنی، لت د گوزار او گرز او کنام آرامځي دي.

[2] - پورتنی اثر، ۲۱۵.

[3] - پورتنی اثر، ۲۱٦.

[4]- مجمل‌التواریخ والقصص ۲۷۹- ۳۰٤ مخونه، د تهران چاپ، ۱۳۱۸ل.

## گردېزي

ابوسعيد عبدالحی بن‌ضحاک بن‌محمود گردېزي هم رتبيل ته د عبدالرحمن بن‌محمد اشعث د پناه وروړو داستان راوړی او هغه د کابل امير گڼي[1]، بيا د يعقوب ليث په احوال کې ليکي چې: له بُست څخه پنجوايي او تگين آباد ته راغی، له رتبيل سره يې جنگ وکړ، پلمه يې جوړه کړه، رتبيل يې وواژهٔ، پنجوايي او رخذ يې ونيول او د غزني، زابلستان او گردېز تر نيولو وروسته د بلخ او باميانو خوا ته لاړ (۲۵۶س کال) له هغه ځايه راستون او په کابل کې دېره شو. د کابل پاچاه غوسه شو، پيروز (ښايي په مسعودي کې د ياد شوي هماغه فيروز بن‌کنک له اولاده) يې ونيو او د بُست پر لور وخوځېدهٔ.[2]

## عوفي

د يعقوب د پلمې او رتبيل وژنې همدا داستان د محمد عوفي بخاري له خوا د جوامع‌الحکايات او لوامع‌الروايات په کتاب (۶۳۰س تأليف) کې هم راغلی، چې موږ به يې د يعقوب د پېر په پېښو او د صفاريانو د حال په شرحه کې راوړو.

# د دې بحث پايلې

۱- د تاريخ طبري او تاريخ سيستان په حواله رتبيل د سيستان او رخذ (اوسني کندهار) په سيمه کې د مسلمانو سوبمنو د راتگ د پېر تر لومړيو (۲۱س‌کال) وروسته موجود و، لکه چې طبري ورته نغوته کوي يو ورور کابلشاه او بل رتبيل نومېدهٔ. څه رنگه چې شاه د کابل د واکمن لقب و، نو بايد ووايو چې له دوو ورونو څخه هغه چې پر زابل، رخذ او سيستان حاکم و، لقب يې رتبيل و او هغه چې پر کابل شاوخوا حاکم و (شاه) ورته ويل کېدهٔ. لکه چې يعقوبي وايي، په ۱۶۳س کال کې کابلشاه خنچل نومېدهٔ او رتبيل د سيستان پاچاه و. همدا رتبيل دی، چې د مجمل د څښتن د وينا له مخه په ۲۳س کال کې د سند پاچاه هم گڼل کېدهٔ؛ نو له دې څخه جوتېږي چې د رتبيل د څواک لمنه له رخذ، زاول او سيستان څخه د سند تر شاوخوا پورې هم پراخه وه، ځکه د رخذ (اوسني کندهار) خاوره تل د بولان تر درې پورې غځېدلې، چې د سند له سيمې سره نښتې ده.

---

[1] - زين‌الأخبار، خطي، ۶۳ الف پاڼه.

[2] - پورتنی اثر، ۸۵ ب پاڼه.

۲- له عربي او پارسي اسنادو څخه د کابلشاهانو او رتبیلانو خپلوي او نږدېوالی څرګند دی؛ خو د رتبیلانو د واک سیمه له سیستان څخه تر غزني پورې غځېده او کابلشاهانو پر کابل و شاوخوا د اباسین تر څنډو پورې واکمني چلوله. هغو لیکوالانو چې کابلشاهان یې رتبیلان ګڼلي، وینا یې د عربي او پارسي مأخذونو د پرېکند اکثریت پر خلاف ده او ګډ کړي یې دي.

۳- د رتبیلانو مرکزیت په زرنج، بُست، پنجوایي او کوهک ښارونو کې و، بیهقي وایي همدا کوهک (= کوهژ چې اوس یې هم د کندهار لوېدیځ ته د ارغنداب پر لوېدیځه څنډه کنډوالې شته) د رتبیل مانۍ وې.

٤- د تاریخ سیستان د وینا له مخه د لیث یعقوب په پېر (۲۵۵ س) کې د رتبیل زوی ګبر و. که چېرته د ګبر کلمې لوستنه سمه وي؛ نو اټکلولای شو چې د درېیمې پېړۍ په منځ کې د رتبیلانو دین ګبري (زردشتي) و. د تاریخي اسنادو له مخه پوهېږو چې ګبري (ګبرکي) دین په سیستان او د افغانستان په لوېدیځو ځمکو کې تر همدې وختونو پورې پاتې و او په پای کې د دې کورنۍ وګړي مسلمانان هم وو.

۵- د رتبیلانو پېر او شمېر

د شتهٔ مأخذونو له مخه پوهېږو چې رتبیلانو د اسلامي پېر له پیله تر (۲۵۸ س) پورې چې لیث یعقوب د هغوی جرړې ایستلې، د واکمنۍ او پاچاهۍ دندې درلودې؛ نو ناشاپه نه دي رامنځ ته شوي او د دې ځمکې تر اسلامي پېره د مخکې پاچاهانو اولادونه وو؛ څه رنګه چې تر اسلامي پېر د مخه د دې کورنۍ د احوال څه سند نه لرو، نو ځکه د عربي او پارسي مأخذونو له مخه شتون یې تر (۲۵۸ س) پورې ثابت ګڼو.

که د مؤرخانو د حکم پر بنسټ چې یوه پېړۍ یې د درېوو نسلونو لپاره ټاکلې ده، د اسلامي پېر په دوه نیمو پېړیو کې د دې کورنۍ د پاچاهانو شمېر په پام کې ونیسو، باید له دې کورنۍ څخه لږ تر لږه اتو-نهو کسانو واکمني چلولې وي، په دې ډول:[1]

---

[1] - څهٔ رنګه چې د دې رتبیلانو د احوال شرحه د کتاب د اقتباسونو په تېرو مخونو کې راغله، دلته یې لنډیز او حوالې ورکول کېږي.

**لومړی**

له لومړی لېږدي تر ۳۳س کال پورې د راشده خليفه‌گانو د پېر رتبيل: د طبري د روايت له مخه يې پېژنو او هماغه دی چې ورور يې پاچاه له هغه څخه آمُل ته وتښتېد او مجمل وايي ووژل شو.

**دوهم**

د امويانو د پېر ۳٤-٦٦س وژل شوی رتبيل، بلاذري، طبري او د تاريخ سيستان مؤلفان وايي، چې هغه هم د مسلمانانو په لاس ووژل شو.

**درېيم**

د اموي پېر بل رتبيل ٦٧-۱۰۰ س: چې بلاذري، يعقوبي، طبري، مقدسي، مسعودي، گرديزی او د تاريخ سيستان مؤلفان وايي، هغهٔ په بُست کې د يو مليون درهمو په ورکولو له مسلمانانو سره سوله وکړه او په (۸٥) کال کې يې بن‌اشعث حجاج ته وسپارهٔ. طبري هغه د رتبيل اعظم په نامهٔ يادوي.

**څلورم**

د اموي پېر د وروستيو رتبيل له ۱۰۱-۱۳۲س: چې د اموي دربار له خوا گومارل شوي حاکم ته يې باج نه ورکاوهٔ.(بلاذري، يعقوبي او تاريخ سيستان)

**پنځم**

د عباسي پېر د لومړيو رتبيل له ۱۳٤-۱٦٦س: ماوند يا ماويد د هغهٔ زوم او خليفه و، چې بغداد ته ولېږل شو. د کابلشاه خنچل همپېر او د بغداد د دربار منونکی. (بلاذري، يعقوبي او تاريخ سيستان)

**شپږم**

د عباسي پېر بل رتبيل له ۱٦٧-۲۰۰س: د عباسي الهادي په پېر ۱٦۹س کې يې ورور ونيول شو او عراق ته يې ولېږهٔ.(بلاذري او تاريخ سيستان)

**اووم**

د عباسي پېر رتبيل له ۲۰۱-۲۳۳س؟: په شتهٔ مأخذونو کې د هغهٔ يادونه نهٔشته.

**اتم**

د صفاري پېر رتبيل له ٢٣٤-٢٤٩س: چې تاريخ سيستان، گردېزی، ابن‌خلکان او عوفي وايي د صالح بن‌نضر په پلوۍ له يعقوب سره ونښت او ووژل شو.

هغه به د سپينو زرو په روان پلاز کې مزل کاوۀ. د محمد بن‌وصيف په بولله کې يې نوم رتبيل راغلی. ورور يې(احرسي)[1] يعقوب ته پناه راوړه او سيستان ته ولېږل شو.

دې رتبيل د ترۀ زوی هم درلود، چې اسلامي او عربي نوم يې صالح بن‌حجر دی. يعقوب هغه د رخذ حاکم وټاکۀ، خو هغۀ په (٢٥٢س) کې ياغي شو او په پای کې يې ځان ووژۀ.(تايخ سيستان)

**نهم**

د رتبيل زوی ٢٥٠-٢٥٨س: دا د مخه په اتمه گڼه کې د ياد شوي رتبيل زوی و. تاريخ سيستان يې گبر بولي. د پلار تر وژنې وروسته په بُست کې بندي و، په ٢٥٥س کال کې وتښتېد، لښکر يې راغونډ کړ او رخذ يې ونيو. يعقوب چې مات کړ؛ نو کابل ته وتښتېد، خو يعقوب چې بېرته ستون شو، هغۀ بيا زابلستان ونيو. وروسته په٢٥٨ کال کې يعقوب هغه د نای(اجرستان) په کوټ کې ونيو او بندي يې پرېښود.(تاريخ سيستان) په همدې سره د رتبيلانو تاريخي کورنۍ له منځه ځي او د دې خاورې پاچاهي د صفاريانو د کورنۍ بنسټگر يعقوب ليث ته لېږدي، نور نو په تاريخ کې د رتبيل نوم نه تر سترگو کېږي.

پاتې دې نه وي چې تر اوسه پورې د رتبيل نوم پر سيکه يا ډبرليک نه دی ليدل شوی. د چينايي سيلانيانو او هندي مؤرخانو په يونليکونو کې يې يادونه نۀشته. څه رنگه چې يې چينايي سيلانيان د زابلستان منځ ته نه دي پرېښي، نو د هغۀ د پاچاهانو يادونه هم نه لري؛

[1]- دا نوم د تاريخ سيستان په خطي نسخه کې ټکي نه لري، نو هغه احريني، احرسي او نور لوستل کېدای شي. زما اټکل دا دی چې ريښه به يې خرښبني وي د خرښبون نامۀ ته نژدې چې د پښتنو د نيکونو په نومونو کې لېدل کېږي او په مطلع سعدين سمرقندي کې خرشواني دی.(مطلع سعدين ٢/ ٣٥٩ د لاهور چاپ)

خو د عربو او عجمو مؤرخان، چې د سیستان تر نیولو وروسته یې د اسلامي سوبو په لومړیو پړاوونو کې له رتبیلانو سره سر و کار و، د هغو ډېرې یادونې لري. موږ یې لنډیز په دې څپرکي کې راوړو او د پېښو برخه به یې په راتلونکو څپرکو کې پر خپل ځای راوړو.

## د رتبیل د نامۀ بېلابېلې خوندیينې او ریښه یې

د رتبیل نوم په عربي او پارسي کتابونو کې په بېلابېلو املاوو خوندي شوی دی او د خطي کتابونو کاتبانو هغه د رتبیل- رتبال- زنبیل- زینل ان د روسل او تلپل په بېلابېلو ډولونو راوړی دی. همدا هېښندې او نااشنا املاوې دي، چې د تاریخ سیستان او مجمل‌التواریخ د فاضل منشي ارواښاد ملک‌الشعراء بهار خراساني د ناسم پوهاوي لامل شوي او دا کلمه یې د پارسي د (زنده‌پیل) له ریښې څخه ګڼلې ده. د هغې اصل یې زنتبیل یا زنبیل وباله[1] او یو شمېر نورو لیکوالو هم همدا نظر ومانۀ.

مشهور افغانپوه، انګلیس څېړونکی راورټي وایي: چې دا نوم اصلاً په هندي کې (رتن پال) و او اړول شوی دی،[2] خو عربي مؤرخانو لکه بلاذري، یعقوبي، طبري او مسعودي په یوه خولۀ دا کلمه رتبیل خوندي کړې ده او د دې جمع یې رتابله لیکلې ده، چې د جمعو پر جمعې لکه قیاصره، نمارده، کیاسره، فراعنه، تراکمه، افاغنه قیاس دی. د مکسرې جمعې دا وزن په عربي کې د پاچاهانو او ملتونو د نومونو په برخه کې تل کارېږي. لکه چې ارواښاد بهار اټکل کړی دا کلمه زنده‌پیل= زنتبیل نه ده، د دې مطلب لپاره څو پاخۀ ادبي او تاریخي دلایل شته:

### لومړی

عربي مؤرخ، عالم او سیلاني مسعودي پرله‌پسې دا نوم رتبیل کښي[3] په داسې حال کې چې همدا مؤلف په همدې کتاب کې د زندبیل کلمه بېله کاروي[4]

---

۱ - د تاریخ سیستان څنډې، ۹۱مخ او مجمل ۴۲۲.

۲ - د افغانستان په اړه یادښتونه ۶۳مخ.

۳ - وګ: په تېرو مخونو کې د مسعودي د مروج‌الذهب اقتباسات.

٤ - مروج‌الذهب ۳/ ۱٦ او ۵/ ۳۰۲.

او دواړه يې سره ګډې کړې نه دي. د زنبيل کلمه چې له آره عربي ده،[1] په عربي سيندونوکې له الزنديبل کلمې څخه جلا راغلې ده او وروستۍ ياده شوې کلمه عربو په خپل مفهوم په بشپړ ډول د دخيلې او معربې کلمې په معنی ګڼله او زنديبل د خندريس په وزن د لوی پيل په معنی معربه ده.[2]

د ساري په توګه د زنديبل کلمه په هماغې معنی چې فردوسي ويلي: «بتن زنده بيل و بجان جبريل» يوه عربي ژبي ملتاني شاعر په عربي بولله کې کارولې، چې په مروج‌الذهب (۱٤/۳)کې‌شته او احمد بن‌عبدالوهاب‌نويري (۷۳۳س‌مړ) په‌نهايةالارب (۳۱۱/۹) کې له مروج څخه نقل کړې ده. همدا رنګه مطيع بن‌اياس عربي شاعر زنتبيل په خپلو شعرونو کې راوړی دی[3] او ابومنصور موهوب بن‌احمد جواليقي (٤٦٥-٥٤۰س) عربي ژبپوه څرګندوي چې الزنتبيل پارسي معربه کلمه ده[4] او د سيندونو او لسان‌العرب ليکوالو هم هغه د لوی پيل په معنی د زنتبيل معربه ګڼلې ده.

همدې جواليقي چې د زنديبل کلمه يې په بشپړ څرنګوالي سره پېژنده په خپل المعرب کتاب کې يې رتبيل د سکستان د پاچاه په معنی خوندي کړې ده چې په خطي نسخه کې د (ر) په زور ليکل شوې ده؛[5] نو له دې څخه جوتېږي چې عربي لغتپوهانو دواړه کلمې بيلابيلې ګڼلې دي.

**دوهم**

عربي شاعرانو د رتبيل کلمه د همدې سيستان د پاچاه په معنی پېژندله. د ساري په ډول د رتبيلانو همپېر يوه شاعر فرزدق د سليمان بن‌عبدالملک اموي (۹٦-۹۹س) په ستاينه کې وويل:

و تراجع الطرداء إذ وثقوا   بالأمن من رتبيل والشّحر[6]

د رتبيلانو د همپېر شاعر له دې بيته څرګندېږي، چې کلمه له آره رتبيل وه، نه

---

۱ - وګ: لسان‌العرب، تاج‌العروس او نور. په منتهي‌الارب ۲۰۳/۲ کې وايي: زِنتبيل کيسه، ګوډی. احمد ابن حسين ابن احمد ابن زنبيل نهاوند له ابوالقاسم اشقراز بخاري څخه د تاريخ بخارا راوي دی. له دې جوتېږي، چې د زنبيل کلمه د عَلَم په ډول هم کارېده.

۲ - منتهي‌الارب ۲/ ۲۰٤.

۳ - د جاحظ کتاب‌الحيوان ۵۰/۷.

٤ - المعرب من‌الکلام الأعجمي ۱۷٦ مخ، د احمد شاکر چاپ، قاهره ۱۳٦۱س.

۵ - المعرب‌الجواليقي ۲٦۳.

٦ - ديوان‌الفرزدق ۳۲٤/۱ چې رتبيل د (ر) په زور دی.

زنتبیل (د هغه په اند) ځکه زنتبیل وزناً او عروضاً په دې کې نه ځایېږي.

**درېیم**

تازیانو په سیستان، رخذ او زابلستان کې د رتبیلانو د جنګونو او مقاومتونو داستانونه اورېدلي وو، چې په ډېره مېړانه یې د تازیانو یرغلګرې لښکرې له منځه یووړې او لکه چې تېر شول د عربو د طاووسانو (جیش‌الطواویس) لښکر یې له منځه یووړ. څه رنګه چې دې نامهٔ د یوهٔ اتل په ډول شهرت موندلی و، نو تازیانو به پر خپلو اولادونو ایښودهٔ، لکه چې یو مشهور محدث هم رتبیل بن‌صالح نومېدهٔ، چې علامه زبیدي یې د سیند په شرحه کې د الرتبیل تر کلمې لاندې یادونه کړې ده[1] او علامه ذهبي ترې ډېر احادیث را نقل کړي دي.[2] له دې ټولو لغوي او ادبي دلایلو څخه جوتېږي، چې د دې نامهٔ اصل رتبیل و، ځکه د زنتبیل درنده کلمه چې ارواښاد بهار د کلمې اصل ګڼلی، د نوموړې بوللې د بیت په عروضي وزن کې نه ځایېږي او که هغه زنتبیل وګڼو؛ نو د الرتبیل په ماده کې نه راځي. لکه چې تېر شول عربي وییپوهانو زنبیل کلمه جلا راوړې او په هغه کې یې عَلم د زنبیل په بڼه یاد کړی دی.

څه رنګه چې دا کلمه له عربو، فارس او یا ماوراءالنهر څخه افغانستان ته نه ده راغلې او ریښه یې د هغو سیمو په ژبو کې نهٔشته؛ نو له دې امله هغه باید یوه کورنۍ کلمه او د افغانستان د خپلو ژبو وګڼل او ریښه یې هم باید د دې ځمکې په ژبو کې وپلټل شي.

## د نامهٔ اټکلي شننه

داسې اټکلولای شو چې د کلمې وروستی توک به"پیل" وي او لکه چې راورټي وایي له"پال"سره به- چې د پښتو او هندي نومونه په پای کې راځي- همریښه وي. په دې ډول به یې اصلي املا "رتپیل"وي، چې په عربي او کلاسیکه پارسي کې د (ب او پ) د توپیر د نشتوالي له امله تل"رتبیل" په یوه (ب) لیکل شوی دی.

[1] - تاج‌العروس، الرتبیل کلمه.

[2] - مشتبه‌النسبه د علامه ذهبي، د ډاکټر بلوچ له مقالې په ګټنې، جون ۱۹۸۵ ز. په منتهی‌الارب ۹۲/۲ کې د دې محدث نوم صالح ابن رتبیل دی.

په ځینو پخوانیو نومونو کې د"پال" کلمه پالل او پیلل راغلې ده، چې په پښتو کې د پرمختګ او پاللو په معنی ده او د پال او پیل د کلمو په پای کې همدا معنی ښندي. لکه مېنه‌پال"وطنپال" او خپلپال"خویش پرور" چې ښايي همدا پال د هندي نومونو اتنپال، ګوپال، جیه‌پال او نورو په پای کې هم موجود وي. په هندي او سنسکرېت کې هم"پالنا"پالنه او پالل دي.(هندي سیند ۱٦۷)

خو د کلمې لومړنی توک (رتو) په هندي او اوستا کې هم و، چې په ګاتونو کې رتو RATU د روحاني مشر او معزز جنتي په معنی راغلی دی. د زردشت د صفت په توګه هم کارېدلی دی، چې هغه یې "رد جهان" ژباړلی دی.[1]

وايي لومړنی کس چې زردشت ولیدهٔ، د نېکۍ پرښته وهومنه وه[2] چې پر ریتا RITA او اشاASHA یعنې د عدالت او معنوي نړۍ د نظم پر ښکارندې یې اعتقاد له هغې څخه زده کړ.[3] دا رتیا به د رت پیل کلمې د لومړني توک پخوانۍ ریښه وي.

د افغانستان د وګړو په نومونو کې دا لومړی توک ډېر دود و. په اوستا ژبه کې د سیستان د داستاني پهلوان رستم اصل نوم راته+ ستخمهRAOTHA STAXMA و، چې د پهلوي ادبیاتو د درخت آسوریک په کتاب کې رتوستخمه راغلی دی. کریستن‌سن وايي، د کلمې دا لومړی توک د رستم د مور رت+ آپت (رود آبذ) یا د فردوسي د وینا له مخه رودابه د کابل پاچاه د لور له نامهٔ سره ورته دی. ځکه د هغهٔ پخواني دود پر بنسټ، چې د نومونو په جوړښت کې موجود و، عادتاً د پلار یا مور نوم د اولادونو د نومونو یوه لویه برخه وه،[4] په پارسي کې هم (رد) کلمې د هوښیار او عاقل معنی درلوده چې ریښه یې د اوستا رتو ده، فردوسي ویلي دي:

---

[1] - فروردین یشت ۱۵۲ بند.

[2] - په پښتو کې (هو=خو= خه) + منه له منل یعنې نېک خیاله او نېک ایمانه.

[3] - تمدن ایرانی، د دومناس ختیځ پېژندونکي مقاله ۸۲ مخ.

[4] - کیانیان د کریستن‌سن ۲۰۳ - همدې مؤلف په خپل بل کتاب کې رته RTA د ابدي نظام، حقیقت، قانون او د خدایانو لمانځنې د دود په معنی راوړی دی.(مزدا پرستی در ایران قدیم ۳۲، د ډاکټر صفا ژباړه، تهران ۱۳۳٦ ل)

بپوشـــید درع ســـیاوش رد   زره را گــره بــر کمربنــد زد[1]

سیاوش اتل زغره واغوسـته   په ملاوستني يې کلکه وتړله

له همدې مقولې ښخه ده، چې په سنسکرېټ کې يې د محبت ربالنوعې، زهره ستوري، مينې او ملگرتيا ته رتي RATI ويله.[2] د پښتو په ښځينه نومونو کې د دې کلمې ريښه (راتو) پاتې ده، چې د روحاني محبوبې او جنتي معشوقې معنی لري. په نرينه نومونو کې (راتگل) له همدې ريښې ښخه دی. رات= رت= رد يعنې روحاني مشر او محبوب+ گل، د کول، کهولا او کهول د تاريخي کلمې له ريښې ښخه دی، چې د دې نامهٔ ټوله معنی (د گران مشر له کورنۍ) يا (سرورزی او بادارخېل) ده؛ خو ځينو د عربي جوړونې د لېوالتياوو په اغېز دا نومونه معرب کړي، راحتو او راحتگل يې بللي، چې په دې ډول يې د هغو لرغونې ريښه او تاريخي اصالت ورک کړی دی.

نو د دې لغوي شننې له مخه وايو: رتبيل ډېر ښکلی او له معنی ډک د افغانستان کورنۍ نوم دی، چې د مينې، خوښۍ او لورېينې د پالونکي يا د مينې د ربالنوع د پاللي يا د سخيانو او هوښيارانو د پالونکي معنی لري.

## د مؤرخانو د ويناوو په اړه څېړنه

زياتره مؤرخانو د رتبيلانو کورنۍ، د کوشاني- يفتلي عناصرو اولاده گڼلې او له کابلشاهانو سره يې گډه کړې ده؛ خو داسې دلايل شته، چې د زابلستان، رخج او سيستان رتبيلان له کابلشاهانو بېلوي.

مهم دليل دا دی، چې د عربو ټولو پخوانيو مؤرخانو لکه چې تېر شول، هغوی د غزني تر شاوخوا پورې د سيستان پاچاهان گڼلي دي؛ نه د کابل پاچاهان؛ خو د مؤرخانو له رواياتو پوهېدای شو چې د دې دوو پاچاهي کورنيو تر منځ خپلوي او خپښي وه. هيونڅانگ چينايي سيلاني چې له هنده په راستنېدو کې د ٦٤٤ز د جون- جولای په مياشتو کې د فلند (بنو)، او- پو- گين (افغانستان)، تسو- کو- چا (زابل)، کاپيسا او کابل ولايتونه ليدلي دي، هغه د کاپيسا او کابل د پاچاهۍ خاوره د لغمان، ننگرهار، گندهارا او پېښور په گډون تر ټکسيلا پورې گڼې او فلند ولايت (پختيا تر

---

[1] - مزديسنا و تاثير آن در ادبيات فارسی ١٢٨ مخ.

[2] - هندي سيند ٤٢٦ مخ، د دنكن فوربس تأليف.

بنو پورې) هم د کاپیسا د پاچاهۍ اړوند ګڼي؛ خو په همدې وخت کې د تسو- کا-چا ولایت (ښایي زابلستان د ارغنداب تر ناوې پورې) جلا پاچاه درلود، چې هوسي‌نا (غزنی) یې پلازمېنه وه. ان د دې دوو ولایتونو ژبو هم توپیر درلود، هیونڅانګ څرګندوي چې د زابلستان د پاچاه نیکونو ډېر مخکې په دې خاوره واکمني درلوده او د کاپیسا او کابل د پاچاهانو تر ولکې لاندې نه دي.[1]

په غالب اټکل، چې د زابلستان او غزني پاچاه به د عربي مؤرخانو همدا رتبیل او یا د نورو مؤرخانو لویک وي، چې په دې کتاب کې دواړه کورنۍ پر خپل ځای شرحه شوې دي.

له رتبیلانو څخه د کابلشاهانو د بېلولو بل دلیل دا دی، چې پخوانی عربي مؤرخ الیعقوبي، چې د رتبیلانو او کابلشاهانو پیر ته نږدې د (۲۸۰س) شاوخوا یې ژوند کاوۀ او ډېر سترګور، باوري او باخبره مؤرخ دی، په خپل تاریخ کې یې کابلشاه خنچل، د بامیانو شېر پاچاه او د سګستان رتبیل پاچاه په یوۀ بحث کې راوړي دي، هر یو یې جلا پاچاه ګڼلی دی او سره ګډ کړي یې نه دي.[2]

همدا رنګه عبیدالله بن‌عبدالله په ابن‌خرداذبه مشهور، چې د۲۳۰س شاوخوا د معتمد عباسي خلیفه ډاکچي"پوسته‌رسان" و او خپل کتاب یې د خلافت د دربار د رسمي اسنادو او اطلاعاتو له مخه ترتیب کړی دی، په څرګنده لیکي چې رتبیل د سیستان، رخج او داور د سیمو پاچاه دی او د کابل پاچاه ته کابلشاه وایي.[3]

څه رنګه چې د هیونڅانګ وینا د عربو د پخوانیو مؤرخانو له ویناوو سره سمون خوري، نو د زابلستان پاچاهي کورنۍ د کاپیسا له پاچاهانو سره نه شو ګډولای. پر دې بنسټ ده، چې انګرېز مؤرخ ری RAY سره له دې، چې د دې دوو کورنیو نژادي نږدېوالی مني، خو بیا یې هم د کابلشاهانو او رتبیلانو تر منځ د توپیر او بېلوني لاملونه په ګوته کړي دي.[4]

[1] - وګ: په همدې کتاب کې د چینایي سیلانیانو برخه.

[2] - تاریخ‌الیعقوبي ۳۹۷/۲.

[3]-المسالک و المالک ٤٠ مخ.

[4] - د شمالي هند د پاچاهي کورنیو تاریخ، د ایچ. سي. ری ۷۲مخ.

ښايي د ګډولو لامل يې دا وي، چې رتبيلانو د وخت له دود سره سم او په کابل کې د خپلو ګاونډيو پاچاهانو په څېر ځان ته"زابلشاه" هم وايهٔ. څه رنګه چې د شاه کلمه د هغوی د نامهٔ توک و؛ نو دواړه کورنۍ به په دې نامهٔ يادې شوې وي.

د دې خبرې دليل د زابلستان د هفتالي پاچاه مهراکولا (۵۰۰ ز شاوخوا) ډبرليک دی چې د کندهار شمال ته د روزګان په شالي دره کې دی او پر هغهٔ يې خپل نوم په يوناني ليکدود باګوس‌شاه زاول"خدايي‌شاه زاول" ليکلی دی.[۱] د هند له مؤرخانو څخه يو پروفيسور "س.هـ. هوديوالا HODIWALA" وايي چې د رتبيل نوم تر ۴۳ س‌کال وروسته پرله‌پسې دوه سوه کاله د عربي مؤرخانو له خوا ياد شوی دی؛ نو دا مطلب ښندي چې د يوهٔ کس نوم نه و، بلکې د يوې کورنۍ نوم او ميراثي پاچاهي لقب دی.

ويلسن دا لقب رتنپال لوستی (تاريخ هند، ايليوټ ۴۱۷ مخ لمنليک)؛ خو راوړتي د رتنپال (رتنه‌پال) او"رنه‌پال" تر منځ شکمن دی، په داسې حال کې چې نورو ليکوالو دغه يوه ښه هم نه ده منلې؛ نو کولای شو د رنزبل RAN ZABAL يا ريزبل RAI ZABAL بڼې يې تصور کړو، چې د زابل رانه يا رای معنی لري، ځکه د زابل د سپينو هونانو د واکمن او د سند او مالوا د سوبمن مهراکولا پلار تورِه‌مانه هم په (۵۰۰ ز) کې د توره‌مانه جاوله JAUVULA په لقب نومل شوی دی. د راجوله RAJUVULA يارانجوبوله RANJUBULA نوم د اندوسيتهن پر سيکو ليدل کيږي (د هند موزيم‌د سيکو فهرست، د سمتهـ ۵۶ مخ ۹۱-۱۹۶ نوټونه) او لکه کننګهم چې (د وروستي اندوسيتهين سيکې ۹۵- ۹۷- ۱۰۸- ۱۱۰) په کتاب کې وايي د هفتليانو ځينې سيکې د شاه زوبوله SHAH-ZOBOLA يا SHAHI-JABULA يا SHAHI JANABULA يا SHAHI JABUVLA په نامهٔ وهل شوې وې. ښايي راجووله يا رای جبوله يا رانوجبوله د جبولشاه يا د زابل پاچاه معنی ولري. د زابل نوم به يې هم د هفتليانو د يوهٔ مشهور پاچاه له نامهٔ اخيستی وي (نوموړی کتاب ۱۰۸). پر دې اټکل سربېره ويلای شو، چې د راجووله يا رنجوبوله نوم به د هفتليانو تر وتو د مخه زمانو پورې اړيکه لري، ځکه ځينې سيکې شته چې دا نوم پرې ليکل شوی او هغه يې

---

[۱]- د پېښور موزيم مجله، ډسمبر ۱۹۵۳ز.

د مهاکشتریه اندوسیتهین ګڼلې دي، چې (۱۱۰م. ز) شاوخوا یې حاکمي کوله. (د الیوت وداوسن د هند پر تاریخ د هودیوالا نښلونې ۲/٦٦۰ دوهم چاپ، علیګړهـ هند ۱۹۵۲ز) لکه چې تېر شول، د عربو او عجمو پخوانیو مؤرخانو د خوندیینې له مخه آره کلمه رتبیل وه، نه بله. ان عربي ادب او د عربو اعلامو ته هم په همدې املاء رتبیل ننوتی؛ نو چې د هغهٔ په بدل کې بل پرېکند سند پیدا نهٔشي، هیڅ دلیل نهٔشته چې موږ د رتبیل له منلو منعه کړي او نورې مسخه شوې بڼې یې ومنلای شو. څه رنګه چې د زابلستان د رتبیلانو د واکمنۍ خاوره له غزني د ارغنداب تر څنډو پورې وه او په کابل او د افغانستان پر ختیځو ولایتونو او د هند په لوېدیځو څمکو یې ولکه او اغېز نه درلود؛ نو باید له کابلشاهانو، د بامیانو له شېرانو او نورو سره ګډ نهٔشي. د هودیوالا تطبیقات هم کمزوری او بې سنده اټکل دی چې د عربو او عجمو مؤرخانو د پرله‌پسې خوندیینې سره په ټکر کې دی، نو دا پیاوړی پرله‌پسې‌والی د پخو دلایلو او د همدې پېر بې له لیکلو اسنادو نهٔشي ردېدای.

## ۳- کابلشاهان

د پاچاهانو بله لړۍ کابلشاهان دي، چې د لومړنیو اسلامي سوبو پر مهال په افغانستان کې واکمنه وه.

د (شاه) لقب د دري تخاري ژبې نړه کلمه ده، چې د ۱۶۰م شاوخوا د بغلان د سرۀ کوتل په ډبرلیک کې څو ځله په یوناني لیکدود SHA کښل شوې، د لوی کوشاني سترواک (بگ شا= لوی پاچاه) له نامۀ سره راغلې او د همدې ډبرلیک په یوې وروستۍ نسخې کې په اوسنۍ املا (شاه=SHAH) هم خوندي شوې ده.[1]

الماني څېړونکی مارکورات وایي د شار، شېر، ښهر، او شاه کلمو ریښه یوه ده او له کشتریه (د پوځي افسرانو پوړ) سره نږدېوالی لري[2] چې په پخوانۍ پارسي کې یې

---

[1] - مادر زبان دری و تحلیل کتیبۀ بغلان ۵۰ او ۹۱ مخونه.

۲ - انسایکلوپیډیا آف اسلام، ش ردیف، لکه چې تېر شول، د کښه‌تر کلمه د پښتو و لویکان غزنه په یوۀ بیت کې او تورکښ کلمه د بایزید پیر روښان په خیرالبیان کتاب کې د لښکریان او نظامیان په هماغې پخوانۍ معنی راغلې ده. مارکوارت وایي د شاه، شېر او شار کلمو اصل همدا کښتریه و، چې په پښتو کې یې معنی تورزن ده.

ریښه د واکمنۍ په معنی کشيXSHY وه، په اوستا کې کشيXSHAY او په سنسکریټ کې کشایتيKSHAYATI(سلطه او ښتنواله)وه. له همدې ریښې کشایتهیه XSHAYATHIYA د پاچاه یا پاچاهي ROYAL په معنی د هخامنشیانو په ډبرلیکونو کې بیا بیا راغلې ده.[1]

په هر حال په افغانستان کې د (شاه) کلمې کارېدنه د بغلان د سرۀ کوتل د ډبرلیک له مخه لومړۍ زیږدې پېړۍ ته رسېږي او څه رنګه چې د افغانستان د پاچاهانو کورنۍ له لومړۍ زیږدي پېړۍ څخه د اسلام تر راتګ پورې د کوشانیانو په اولادونو پورې اړه درلوده، نو له دې امله د دې حاکمانو د کورنیو په نومونو کې د شاه کلمه شته. عرب مؤرخ او جغرافیه‌پوه عبیدالله بن‌خرداذبه (۲۳۰س‌شاوخوا) د پاچاهانو لکه سجستانشاه- مروشاه- داورانشاه- تورانشاه او نورو د نومونو له یادولو سره د کوشانشاه او کابلانشاه نوم هم یادوي.[2] هغه وایي چې د کابل پاچاه ته کابلشاه وایي[3] چې کټ مټ همدا نوم ابوریحان محمد بن‌احمد البېروني (٤٤٠س مړ) هم د پاچاهانو په یادولو کې راوړی دی، د کابل پاچاهان: کابلشاه.[4]

د شاه کلمه چې د لویو کوشانیانو د پاچاهۍ د بنسټګر کنیشکا په سیکو کې د SHA په املا او همدا رنګه د بغلان په ډبرلیک کې د هغه مهال په یوناني لیکدود د SHA-O په بڼه لیکل شوې، لومړی توری چې په هغۀ لیکدود کې (ش) ږغ ته ځانګړی و، هغه ځینې لیکوالو P یعنې یوناني R ګڼلی دی، څه رنګه چې د دې لیکدود تر هرې کلمې وروسته، کلمه بېلوونکیO کښل کېدۀ، هغه یې هم د همدې کلمې برخه ګڼلې ده او په پایله کې یې په ډېره لویه تېروتنه د دري او کوشاني ژبې واضح دلیله کلمه"راو" لوستې او د هندي له"رای"سره یې ګډه کړې ده. په داسې حال کې چې د بغلان په ډبرلیک او د کوشاني پاچاهانو په سیکو کې آره کلمه"شا"

---

۱ - اولډ پرشن ۱۸۱ د پنسلوانیا پوهنتون پروفیسر کینټ، امریکا چاپ، ۱۹۵۳ز.

۲ - المسالک والممالک ۱۷۰، د لیدن چاپ، ۱۳۰٦ س.

۳ - پورتنی اثر ٤۰ مخ.

٤ - آثارالباقیه ۱۲۰، د لیپزیک چاپ، ۱۸۷٦ ز.

ده او په هيڅ ډول (راو يا هندي راى) نه ده.[۱]

د کابلشاهانو په منځ کې د مذهب او دين او يا د کورنيو د ځانګړو نومونو له مخه د مؤرخانو له خوا د تګينشاهانو، برهمنشاهانو، هندوشاهانو او نيکي واکمنو او نورو نومونه هم ياد شوي دي؛ خو زه هغو ته د سلطنت د سيمې او واکمنۍ له مخه يواځې کابلشاهان وايم، چې د هندوکش په سوېل او کابلستان کې يې د ګندهارا د ولايت تر پاى يعنې ټکسيلا پورې واکمني درلوده[۲]. د اليعقوبي د وينا له مخه د هېواد شمالي پوله يې غوروند (اوسنى غوربند) و. هغه د بلخ او باميانو تر منځ ښار دى چې د باميانو شېر پرې واکمني کوله.[۳]

د کابلشاهانو په اړه زما معلومات ډېر لږ او له خپرو ورو سرچينو څخه دي، چې چينايي، هندي، عربي او پارسي کتابونه، سيکې، رنګه دېوالي انځورونه او تر لاسه شوې پڼې دي او مؤرخانو هغه په بېلابېلو نومونو ياد کړي دي. دومره جوته ده چې دا کابلشاهان او هممهالې کورنۍ يې د افغانستان په هر ګوټ کې د کوشاني هفتلي له ګډو توکيو څخه وو چې په کاپيسا، باميانو، غرجستان، کندوز، ګردېز او ويهنډ کې يې مرکزونه درلودل.

د کابل د دې واکمنې کورنۍ پاچاهي نوم تر ۳۸۱س پورې- چې د کابل له لاسه وتلو وروسته يې د سند پر څنډه په ويهنډ کې واکمني درلوده- هم استعمالېدۀ، لکه چې محمد بن‌عبدالجبار عتبي (۴۲۷س مړ) ليکي: کله چې امير سبکتګين پر جيپال برى ومومند، د يو مليون شاهي درهمو په اخيستلو يې له هغۀ سره روغه وکړه.[٤] دا شاهي درهمونه د شاهانو دې لړۍ ته منسوب دي. عتبي په نورو ځايونو کې شاهيه درهمونه کارولي نه دي، درهمونه وايي، يواځې په هغو پېښو کې يې دا اصطلاح

---

[۱] - د دې مقصد د شرحې او دلايلو لپاره وګ: مادر زبان درى.

[۲] - محمد ناظم د ويهنډ د هندوشاهانو- چې د کابلشاهانو اولادونه دي- د هېواد پولې ختيځې خوا ته د چناب تر څنډو او د کشمير له غرونو د ملتان تر پولو پورې ليکي.(حيات سلطان‌محمود ۲۰۳)

[۳] - البلدان د احمد بن واضح اليعقوبي ۵۱ مخ، دوهم چاپ نجف ۱۹۵۷ز.

[٤] - تاريخ يميني، د ډهلي چاپ ۲٦مخ.

کارولې ده، چې د پاچاهي واکمنی په سیمې پورې اړه لري.[1]

کلهنه KALHANA بن کنیکه کشمیری شاعر او مؤرخ چې د راجه‌ترنگیني کتاب یې په ۱۱۴۹ز= ۵۴٤ س کې کښلی، په ډېرو ځایونو کې د دې پاچاهانو نوم اخلي او وایي: د کشمیر پاچاه گوپاله‌ورمن پر (۲۹۰س) په اوده‌بهانده‌پور (سوات او د مردان په شمال) کې شاهي هېواد ونیو.[2] د دې پاچاهي کورنۍ تر ړنگېدا وروسته د هغه غړي او پاتې‌شاهزي د هرشه پر پېر (٤۸۲ ۴۹۵س=۱۰۸۹-۱۱۰۱ز) په کشمېر کې غوره منصبونه درلودل او د هرشه د مِلکو په منځ کې د وسنته‌لیکها VASANTA LEKHA په نامهٔ یوه شاهزۍ او نور وو، چې هغوی ته شاهي‌پتره (شاهزي- شاهزۍ) ویل کېدل. کله چې په ٤۹۵ س=۱۱۰۱ز کې د هرشه پلاز د باغیانو له خوا نسکور شو، دې پاچاهي ښځمنو د خپلې کورنۍ دودونه په ډېره مېړانه او زوړتیا سره وساتل او مقاومت یې وکړ. په پای کې یې د کشمیر په پاچاهي مانۍ کې اور بل او ځانونه یې په کې ستي کړل. کشمیری مؤرخ کلهنه د دې پاچاهي کورنۍ یادونه کوي.[3]

## د کابلشاهانو نومونه

مؤرخانو کابلشاهان په بېلابېلو نومونو یاد کړي دي، ځینو د دین او مذهب له مخه چې پرې گروهمن وو، برهمن، هندوشاهان او بودایان گڼلي دي. یو شمېر مؤرخانو ورته د کوشانو- یفتلي یا ترکو اولاده ویلې ده؛ خو څه رنگه چې د شاهانو دې ډلې او کورنیو په کابلستان کې واکمني درلوده او په زماني واټن کې د دې خاورې خپل استوگن وو؛ نو دا مشترکه وجه د هغو د ټولو په منځ کې شته، زه هم ټول تر همدې سرلیک لاندې پېژنم، که څه هم چې د مسلمانانو او صفاریانو تر لاسبري وروسته د هغوی پلازمېنه له کابله د اباسین څنډې ویهنډ ته لېږدېدلې وه.

---

۱ - د ایلیوټ د هند پر تاریخ د هودیولا نښلونې ۶۰۵/۲.

۲- راجه ترنگیني ۲۱۷/۲، ۵ ترنگ ۲۳۲ شلوک، انگلېسي ژباړه م،ا، ستاین- د لندن چاپ ۱۹۰۰ز.

۳ - پورتنی اثر ۱۲۳/۱، ٤ ترنگ ۱٤۲ شلوک.

۴- پورتنی اثر ۸ ترنگ، ۳۳۳۰ شلوک.

## د البیروني روایت

څه رنگه چې په دې اړه مهم مأخذ د البیروني روایت دی، له دې امله لومړی د هغهٔ د لیکنې ژباړه په لاندېنیو کرښو کې راوړم:

«په کابل کې ترک پاچاهانو واکمني درلوده، چې وایي له آره د تبت دي.[1] د دې لړۍ لومړنی پاچاه برهتگین و....

بیا پر دې ځمکې کابلشاهان واکمن شوي دي، چې د هغوی پر واکمنۍ پېړۍ تېرې شوي او تر شپېتو کسو رسېږي.... ما اورېدلي د هغوی شجره یې د ورېښمو پر ټوټه کښلې او د نغرکوټ[2] په کلا کې ده، ومې غوښتل چې پرې وپوهېږم؛ خو ومې نه کړای شول. له دې پاچاهانو څخه یو کنک[3] دی، چې د پېښور بهار ورته منسوب دی. هغهٔ د کنوج د رای د جنگ اراده وکړه، خو په پای کې له جنگه تېر شو.... او د هغوی وروستی لکتورمان دی،

---

۱ - څهٔ رنگه چې کوشاني او هفتلي آریایي قبایل د پامیر او واخان له هغې خوا د هندوکش شمالي ځمکو ته راکوز شوي وو، له دې امله پخوانیو مؤرخانو هم هغوی ترک گڼلي او فکر یې کړی، چې له تبت څخه راغلي دي.

۲ - نَغَر د سند په سرحد کې یو ښار و، چې د شپږ ورځنې سفر په واټن له غزني څخه لیرې و. (معجم البلدان۲۹۵/۵) دا هماغه کلا ده چې په ٤۳۲ س کې د سلطان مسعود ورور امیرمحمد په کې بندي و (بیهقي ٦۹۵) او د غزني په سلطنت پورې یې اړه درلوده. د شرف الدین علي یزدي له لیکنو څرگندېږي چې نغر کلا د بنو او سند سیند تر منځ پرته وه، ځکه په ۸۰۰ س کې کله چې گوډ تېمور د پختیا ولایت له لارې ایریاب، شنوزان او بانو (اوسنی ایریوب، شلوزان او بنو) ته ورسېد، د ۸۰۰س د ذوالحجې په ۲۱مه یې د نغر کلا ونیوله او د ۸۰۱ س په محرم کې له سند سینده پورېوت. (ظفرنامه ۳۸/۲) دا نغر کلا غالباً هماغه ده، چې العتبي په تاریخ الیمیني ۲۲۳ مخ کې د سلطان محمود په لاس د ۳۹۷س د ربیع الأول په پای کې د هغې نیول گڼي. هغه وایي چې د نغر بهیم دېوال ډېر لوړ او د اوښتو وړ نه و. ډېر لوی بت په کې و، چې په پېړیو پېړیو په کې ډېر زیات زر او جواهرات راټول شوي وو؛ نو ۷۰ملیونه شاهي درهمه او ۷۰۰ منه سرهٔ زر او نور قیمتي څیزونه د سلطان محمود لاس ته ورغلل. کله چې یې دغه گرانبیه خزانې غزني ته ولېږدولې، ډېر زیات وگړي له شاوخوا څخه د هغو نندارې ته راغلل.

۳ - ښایي له دې نامهٔ څخه موخه د کوشانیانو لوی پاچا کنیشکا (۱۳۰ز شاوخوا) وي.

وزير يې لـه برهمنـانو څخـه و او کلـر نومېـدهٔ، چـې بخـت ورسره ياري وکړه، ناڅاپه يې داسې خزانې وموندې چـې پـرې ځـواکمن شو.

څه رنگه چې د لکتورمان کـړهٔ وړهٔ نـاوړه وو، خلکـو د هغـه لـه لاسه وزير ته شکايت وکړ، نو وزير بندي کړ، وزيـر چـې ځـواک درلود په پای کې يې خول او پلاز هم ونيول. بيا برهمنان پاچاهۍ ته ورسېدل، چې سامند او تر هغـه وروسـته کملـو، بهـيم، جيپـال، انندپال او تروجنپال دي. وروستنی يې په ٤١٢س کال کـې و. تـر هغهٔ پنځه کاله وروسته يې زوی بهيمپال واکمن شـو چـې پـه هغـهٔ سره د هندوشاهۍ لړۍ پای ته ورسېده[1] او څوک پاتې نه شو چـې هغه مرکز بيا روښان کړي. دا پاچاهـان د هېـواد لـه پراخـوالي سره هم په ښو اخلاقو، ښـې دنـدې او د ولـس پـه پـاللو مشـهور وو. د هغوی د نېک خـوی ډېـر ښـه دليـل سـلطان‌محمود تـه د اننـدپال ليک دی، سره له دې چې له سلطان سره يې اړيکې تـرينگلې وو؛ خو په ډېره مېړانه يې هغهٔ ته ليک ورواستاوهٔ او ورته ويې ليکل:

اورېدلي مې دي چې ترکان دې پر ضد راپاڅېدلي او خراسان ته راغلي دي. که غواړې له پنځه زرو سپرو، لسـو زرو پليـو او سـلو فيلانو سره به دې مرستې ته دروځغلم او کـه نـه نـو د دې لښـکر دوه برابره به له خپل زوی سره درولېږم؛ خو پـه دې غوښـتنه کـې مې موخه دا نهٔ ده چې ځان درته قدرمن او گـران کـړم، مـا مـاتې درکړې؛ نونه غواړم چې بې لـه مـا دربانـدې بـل څـوک بـرلاسی شي. دې انندپال لـه مسـلمانانو سره د خپـل زوی د بنـديتوب لـه امله ډېره کينه درلوده؛ خو زوی يې تروجنپال داسې نه و.»[2]

[1] - ښايي د برهمني ديانت له امله په دې نامهٔ نومل شوی وي.

[2] - في تحقيق ماللهند، د ابوريحان البيروني، ۳۵۰ مخ، د دکن حيدرآباد چاپ، ۱۹۵۸ز.

د البېروني دا گرانبيه او مغتنم روايت اوس څېړو او د هر نامۀ شاوخوا نور معلومات زياتوو او د کابلشاهانو د لړۍ کسان تر هغه ځايه ټاکو چې پېژندل شوي دي.

## کنک

ريناود M.REINAUD په «منتخبات عربيه» او د هند په يادښتونو کې کنک هماغه لوی کوشاني پاچاه کنيکا= کنيشکا گڼلی دی؛ خو تهوماس THOMAS د هغو ژباړو په اعتماد چې د البېروني د ويناوو له منتخباتو شوې دي، کنک د کابلشاهانو وروستی کس او په سامند برهمن پسې پيوست پاتې شونی گڼي، چې په دې صورت کې بايد دا شاه دوهم کنک او د البېروني له ياد کړي هغۀ څخه پرته بل وي.[1]

د البېروني د کتاب‌الهند په متن کې کنک هماغه دی، چې د پېښور بهار ورته منسوب و او د کنوج د نيولو اراده يې وکړه. البېروني وايي د دې لړۍ وروستی پاچاه لکتورمان دی: «وکان آخرهم لکتورمان.» خو وروستنيو مؤرخانو د البېروني دا وينا ډول ډول نقل کړې ده، چې تهوماس د خطي نسخې تر ليدلو وروسته هغه تر ټولو باوري وگڼله.

هغۀ د لندن د آسيايي ټولنې په کتابتون کې د وزير رشيدالدين فضل‌الله د جامع‌التواريخ عربي خطي نسخه (۷۰٤س تأليف) وموندله چې په هغې کې وايي: «و رجع کنک إلى ولايته وهو آخر ملوک کتورمان.»

د دې عربي عبارت اصل د برتانيې موزيم په پارسي نسخه کې داسې دی: « او کنک خپل ولايت ته راوگرځېد او هغه د کتورمان پاچاهانو وروستنی و.»[2]

همدا مطلب د بناکتي فخرالدين ابوسليمان داؤد بن محمد

[1] - هېره دې نه وي چې مسعودي هم (فيروز ابن کنک) د زابلستان د پاچا په نامۀ ياد کړی دی او په تېر بحث کې يې هم د مروج‌الذهب په حواله يادونه وشوه.

[2]- د هند پر تاريخ د هوديوالا نښلوني، ايليوټ ۲/۴۰۳.

د تاریخ «روضة أولی‌الألباب في تاریخ الأکابر والأنساب» د ۷۱۷س تألیف په خطي نسخه کې داسې دی:

«او تر هغهٔ وروسته کنک او هغه د کتورمان پاچاهانو وروستنی و.»

همدې روایت ته ورته د جامع‌التواریخ په یوه خطي نسخه کې داسې راغلي دي: تر باسدیو وروسته د هغو یو پاچاه کنک و،[1] هغه د کتورمان[2] پاچاهانو وروستی دی.[3]

د البېروني د کتاب‌الهند د موجوده نسخې شرحه د کنک په اړه له هغه څه سره په بشپړ ډول توپیر لري، چې په "جامع‌التواریخ" او "روضة أولي‌الألباب" کې راغلي دي. پر دې بنسټ ریناود (یادښتونه ۳۰ مخ) وایي: ښایي رشیدالدین وزیر د نوموړو مطالبو په نقل کې د کتاب‌الهند بله نسخه یا د البېروني بل تألیف تر مطالعې لاندې درلوده او له هغه څخه یې شرحه اخیستې وي.[4]

مسټر تهوماس وایي: هغه سیکې چې د فیل او زمري شکل لري او د برهمني پاچاهانو په غویي او آس‌سپور لرونکو سیکو پسې جوړې شوې وې، د سري‌ونکه‌دېوا SRI- VANKA DEVA نوم پرې کیندل شوی چې البېروني یاد کړی، همدا کنک به وي. خو د تهوماس دا اټکل هم کمزوری دی، ځکه هغه خپله دا مني چې پر سیکو د نوموړي نوم خوندیینه ورکه VARKA[5] او پر کنک د ورکه اوړون او تبدیل هم له اټکله لیرې دی.

په غالب گومان د البېروني دا کنک هماغه پاچاه دی چې مسعودي د زابلستان ښار د هغهٔ د زوی په نامهٔ پېژني او وایي:

«إنّ زابلستان تعرف ببلاد فیروز بن کنک ملک زابلستان، وقد قدمنا فیما سلف من کتب‌الأخبار عن قلاع فیروز بن کنک الملک ببلاد زابلستان ألتی لیس فی العالَم علی ما ظهر للناس من ذوی‌العنایة والتنقیر ومن أکثر في‌الأرض‌المسیر

---

[1] - د دې کلمې تلفظ په انگلیسي آثارو کې KANAK دی.

[2] - دا کلمه په خطي نسخه کې کیورمان لیکل شوې ده.

[3]- هودیوالا ۲/۴۰۴.

[4] - پورتنی اثر ۲ /۴۰۴.

[5]- پورتنی اثر ۴۲۱.

أحصن منها ولا أمنع ولا أعلى في‌الجو ولا أكثر عجائب منها.»[1]

ژباړه: «زابلستان د هغهٔ هېواد د پاچاه فیروز بن‌کنک په نامهٔ یادېږي او ما مخکې په خپلو کتابونو کې د زابلستان په ښار کې د فیروز بن‌کنک د کلاګانو ستاینه کړې ده، چې د دېوالونو د لوړوالي او نورو عجایبو له مخه یې په نړۍ کې ساری نهٔشته او څوک چې په نړۍ کې ګرځېدلي، د هغو ساری یې نه دی لیدلی.»

ښايي چې کنک د کابلستان پر سیمه او زوی یې فیروز پر زابلستان واکمن وي او په راوروستو وختونو کې یې د دې لړۍ پاچاهانو ته فیروز ویلی وي، ځکه ګردېزي هم په ۲۵۶س کال کې یو کس فیروز د لیث یعقوب همپېر بولي چې یعقوب هغه نیولی و.[2]

## خودو ویه‌که

لنګویرټ ډیمز وايي په اسلامي دایرةالمعارف کې له هغو پاچاهانو څخه دی، چې یواځې یې د سیکو په وسیله پېژنو او نوم یې خودوویه‌که KHUDUWAYAKA لوستل شوی دی.[3]

باید پوه شو چې خدای کلمه د اسلامي پېر تر لومړیو پورې په پارسي ادب کې د پاچاه، مالک او حاکم په معناوو کارېدله او خداوندګار د فردوسي په شهنامه کې کابلخدای او زابل خدای او د اسلامي پېر د لومړیو په تاریخونو کې ګوزګان‌خداه، سامان‌خداه او بخاراخداه په همدې معنی دي.٤ د خدای کلمه په پښتو کې تر اوسه بېلابېل تلفظونه لري: خدوی- خودوی- خلوی، خودی.

دا نوم د کوشانیانو په پېر کې هغه ستړواکمن ته ویل کېدهٔ چې د ټولو مالک به و. د بغلان د سرهٔ کوتل په ډبرلیک (۱۶۰زشاوخوا) کې په دوو بڼو خودی XOADE او خوادیوګ XOADEOG راغلی دی، چې په دواړو بڼو کې یې موخه کوشاني ستړواکمن او

[1]- مروج‌الذهب٤/ ۱۷۳.
[2] - زین‌الأخبار، خطي، ۸۵ پاڼه.
[3]- اسلامي دایرةالمعارف، لومړی ټوک، د افغانستان کلمه.
[4]- زین‌الأخبار، د ګردېزي ۱۳- ۱٤، المسالک والممالک د ابن خرداذبه ٤۱او طبري ۷/ ۸.

لوی پاچاه دی. دوو ختيځپېژندونکو ماريګ او هيننګ هغه د اختيار څښتن او مالک او د AUTOKRATOR د پارسي خديو، د ترکي KHEDIV او د فرانسوی د KHEDIVE انډول ګڼلی دی.

پر سيکو د کابلشاهانو د نامهٔ او د بغلان ډېرليک له خوندينې د دواړو نومونو نږدېوالی څرګندېږي او معلومه ده چې اصل يې د افغانستان تر اسلام د مخه دري کې خودی XOADE و او په پای کی يې د درناوي يو (ګ) ورزيات شوی، چې همدا (ګ) په وروستيو زمانو کې د درناوي او مينې په (ک) بدل شوی دی او تر اوسه په پښتو او پارسي کې د همدې موخو لپاره ليدل کېږي.[1]

د افغانستان د وګړو په منځ کې په داسې تاريخي نامهٔ نومونه (تسميه) د لسمې لېږدې پېړۍ تر شاوخوا پورې دود وه. داسې چې د احمدشاه بابا په نيکونو کې د يوهٔ نوم سلطان خودکی يا خدکه و، چې د خواجه خضر بن‌سدوخان د پښتنو د سدوزيانو د لړۍ د مشهور مشر زوی و. د دې نيکهٔ ټولو اولادونو ته سدوزي (خودکی) لړۍ وايي.[2]په همدې کورنۍ کې د اکبر خودکه په نامهٔ مؤلف تېر شوی، چې د خپلې قبيلې په تاريخ کې يې يوه رساله کښلې وه. افغان پېژندونکي انګرېز څېړونکي راورټي دا نوم KHADKAH ګڼلی او وايي چې د تذکرةالملوک په خطي کتاب کې د اکبر خدکه د رسالې په حواله مطالب نقل شوي دي.[3]

## سپاله‌پتي

د دې لړۍ له پاچاهانو څخه بل سپاله‌پتي‌دېوا SPALA PATI DEVA دی، چې يواځې له هغهٔ څخه د زياتو راپاتې سيکو له مخه پېژندل کېږي او د تاريخ په کتابونو کې د هغهٔ څه څرک نه لګي. دغه سيکې په ناګري ليک دي.

---

[1]- د شرحې او تفصيل لپاره وګ: مادر زبان دری و تحليل کتيبهٔ سرخ کوتل بغلان، کابل، ۱۳۴۲ل.

[2] - حيات افغاني، تاريخ سلطاني او صولت افغاني ۳۳۸.

[3] - پښتو ګرامر، سريزه، راورټي، د لندن چاپ، زما رساله مؤرخان ګمنام افغان، کابل کالنۍ ۱۳۲۵ل او د دې کرښو د ليکوال تأليف، ابداليان پيش از احمدشاه، د کابل چاپ.

لکه چې د کلر په یادونه کې اشاره کوو، ځینو هماغه کلر ګڼلی، د هغۀ د سیکو سپاله کلمه یې سیاله لوستې او تېروتي دي. په داسې حال کې چې په پخوانۍ پارسي کې سپاده SPADA کلمه د لښکر معنی لري او سپاله‌پتي د لښکرمشر (سپه‌بد) معنی ښندي. په پارسي او پښتو کلمو کې په لام د دال اوړون ډېر زیات دی.[۱]

د پتي PATI کلمه په ویدي ژبه کې د بادار او رئیس په معنی وه. ویس‌پتي VIC-PATI د کلي مشر و.[۲] همدا رنګه په ویدي سنسکرېټ کې (د غوجلې‌مشر) ګوتراپتي GOTRA-PATI، (د ځرځي‌مشر) راجه‌پتي او قوم‌مشر و د ټولو کلیومشر ګرامه‌پتي GRAMA-PATI دی. د پت او پتي کلمې چې په سنسکرېټ کې د ډېرو کلمو مصدر و، د عزت، ښتن او بادار معنې یې درلودې[۳] او په پښتو کې اوس همدا معنی لري. پتي هغه څوک دی چې مخور، د حیا او عزت څښتن وي. اټکل کېږي چې د دري په سپهبد، کوهبد او نورو کلمو کې به له (بد) سره همریښه وي. د پښتو شاعر پیر محمد میاجي ویلي دي:

داسې ووی شېخ متي     د مولا په عشق پتي[٤]

نو د دې لغوي څېړنې له مخه د سپاله‌پتي معنی= سپاده‌پتي مشر او سرلښکر ده، چې په دري ژبه کې دا کلمه سپهبد شوې ده.

دا لقب د اسلامي پېر په لومړیو کې هم د ځینو امیرانو لپاره کارېدۀ، لکه چې په عربي تاریخونو کې د ۹۱س کلونو په شاوخوا کې د بلخ حاکم د بلخ سپهبد په نامۀ یاد شوی دی.[۵]

## پدمه

پدمه (PADAMA) له هغو پاچاهانو څخه دی چې نوم یې یواځې له موندل

---

[۱] - پټهانان، د سر اولف کیرو، د لندن چاپ۱۹۵۸ز، ۱۱۰ مخ.

[۲] - کیمبرج هستري آف انډیا ۱/ ۹٤.

[۳]- هندي سیند، د دنکن فوربس، د لندن چاپ.

[٤] - پټه خزانه، د کابل چاپ، ۱۳۳ مخ.

[۵] - طبري ۵/ ۲۳۰.

شویو سیکو څخه پېژندل شوی دی، چې لنګویرټ ډیمز یې نوم په دې لړ کې راوړی دی.[1]

پر هغې سیکې چې د فیل او زمري انځورونه لري او موندل شوې ښلګه یې د کلکتې په موزیم کې وه، نوم یې سريپدمه SRI- PADAMA معلومېږي.[2]

## وکه دېوا

دا نوم د هغو مسي سیکو له مخه پېژني، چې زیاتې موندل شوې دي او یو شمېر عالمانو هغه سريوکهدېوا SRI-VAKKA- DEVA لوستی دی.[3]

په داسې حال کې چې انګرېز سیکه پېژندونکی لیکوال لنګویرټ ډیمز هغه د ونکهدیوه WANKA-DEVA په املا لیکلی دی.[4] په هر حال غنه نون چې تر واو وروسته راغلی دی، داسې توری دی چې کله نه تلفظ کېږي.

ښایي چې دا نوم وړ+ ک وي، چې وړ په مماله (ساکن) زور په پښتو کې د کامیاب (بریالي) او سوبمن په معنی دی، د پړ په مقابل کې او لکه د هغه او اوسمهال د پښتنو د نومونو به د درناوي او تحبیب یو کاف په پای کې ورسره نښلول شوی وي؛ ځکه د ړ/ ڼ مخرجونه او تلفظونه سره نږدې دي او د پښتو دا دواړه توري په سنسکریت او هندي ژبو کې هم وو.

## دوه کابلشاهان د ۳٦س شاوخوا

په ۳٦ س شاوخوا کې د عربو لویو واکمنانو او د پیغامبر یوهٔ یار، عبدالرحمن بن سَمُره SAMURA د سیستان، رخج او زابل له لارې پر کابل برید کړی و.

تاریخ سیستان او بلاذري وایي:[5] په دې وخت کې کابلشاه له خپل هېواد او ښار

---

[1] - اسلامي دایرةالمعارف، لومړی ټوک، د افغانستان کلمه.

[2] - د کلکتې موزیم د سکو کتلاک ۱/ ۲٤۳.

[3]- پټهانان، د سر اولف کیرو ۱۱۰ مخ او د کلکتې موزیم د سکو کتلاک ۱/ ۲٤۳.

[4]- اسلامي دایرةالمعارف، لومړی ټوک، د افغانستان کلمه.

[5]- فتوح‌البلدان٤۸۹ او تاریخ سیستان تر ۸۵مخ وروسته.

څخه دفاع کوله، چې د جنگونو او مېړانو په زړهٔ پورې داستان یې د تاریخ سیستان مؤلف په ډېره لطیفه انشاء لیکلی دی او ما هغه د پارسي او عربي تاریخونو په حواله په خپل ځای د دې کتاب په دوهم څپرکي کې د کابل د نیولو په بحث کې راوړی دی؛ خو څه رنگه چې مؤرخان د دې کابلشاه نوم نه لیکي؛ نو د هغه د نامهٔ ټاکل د هغو کابلشاهانو له منځه ستونزمن دي چې په دې څپرکي کې یې نومونه اخیستل شوي دي.

د تاریخ سیستان مؤلف په دې جنگ کې د دوو کابلشاهانو یادونه کوي چې یوهٔ ته لوی‌کابلشاه وایي. له دې څخه معلومېږي چې ابن‌سَمُره د کابل د ۳۶ س کال په جنگ کې دوه کسه کابلشاهان خپلې مخې ته ولاړ لیدل، چې لوی کابلشاه د کوچني کابلشاه تر ماتې او تسلیمۍ وروسته هم خپل مقاومت ته دوام ورکاوهٔ، ۲۸ زره مجهز فیل‌وال لښکر یې درلود او مهلب بن‌ابي صفر ورته ماتې ورکړې وه.[1]

## خنچل

د تېرو هندي، چینایي او د البېروني له مأخذونو پرته د دې کابلشاهانو یو بل کس د ځیرمن او باوري عرب مؤرخ احمد بن‌واضح یعقوبي (۲۹۲س شاوخوا) د لیکنې له مخه پېژنو، هغه وایي: «د ۱٦٤س شاوخوا عباسي خلیفه المهدي بن‌منصور خپل سفیران شاوخوا پاچاهانو ته ولېږل او ورته یې د اېلېدا بلنه ورکړه چې زیاترو یې غاړه کېښېښوده، له دې پاچاهانو څخه یو کابلشاه پاچاه و، چې خنچل یې بالهٔ.»[2]

د خلیفه المهدي دا همېېر کابلشاه چې د (۱٦٤س شاوخوا) یې ژوند کاوهٔ، په تاریخ یعقوبي‌کې یې‌نوم (حنحل) چاپ‌راغلی او د سخي‌سرور د کراماتو په نیمگړې خطي نسخه کې (خنجل) دی[3] چې گومان کېږي د کاتبانو په لاسوهنه اوښتی دی.

---

[1]- تاریخ سیستان ۸۸ – د دې کتاب دوهم څپرکی او د کابل نیولو سرلیک وگورئ.

[2] - تاریخ یعقوبي ۳۹۷/۲ د بېروت چاپ، ۱۹٦۰ز.

[3]- د شپږمې پېړۍ یو کوچنی پارسي خطي کتاب، چې د سخي سرور د کراماتو شرحه یې درلوده، په ډېره اسماعېل خان کې له بلوچو سره و، په دې بحث کې زما مأخذ همدا خطي نسخه ده. د تفصیل لپاره په دې کتاب کې د لویکانو بحث وگورئ.

په کراماتو کې د کلمې لومړی توری (خ) او دوهم په دواړو کې (نون) او دریم په یعقوبي کې (ح) او په کراماتو کې (ج) او څلورم په دواړو کې (ل) دی چې له مجموعې څخه یې (خنجل) جوړېږي، چې زما په اند له آره خنچل و؛ خو د عربي او پارسي د پخوانۍ املا له مخه چې د (ج-چ) په ټکو کې یې توپیر نه کاوۀ، په ابجدي (جیم) یې خنجل لیکلی دی.

دا نوم د ژبنۍ شننې له مخه داسې تجزیه کولای شو:

"خن" د الف په حذف د "خان" مخفف دی، په کاکړو پښتنو کې تر اوسه یو نوم دی چې (خَن‌تمَا) یې تلفظوي او ختنماخان د شلمې پېړۍ په لومړیو کې د ږوب او کوټې له نومیالیو څخه و. دا نوم هم د خن له مصدره د خان مخفف دی؛ خو د نامۀ دویم جز (تما) هم لرغوني ریښه لري، ځکه په تاریخ کې له دې کلمې سره د صفتونو یو ځای کېدل لرو، لکه گئوتما (د گئو= له نژاده) [1] او د مردم کلمه هم مرتم (مړ- تما) وه یعنې د مړو له نژاده چې په اوستا کې د مردني په معنی ده.[2] همدا رنگه په اوستا کې (سپین تما) د زردشت کورنی لقب و[3] چې لومړی جز یې د پښتو سپین د (سپېد) په معنی او دوهم جز یې تما هماغه د نژاد په معنی د پښتو کلمه ده، چې بله بڼه یې په پښتو کې (تومنه) ده. نو خنتما هم خانزوی او خان نژاده په معنی دی چې مجازاً په پښتو کې د اصیل، نجیب او مغرور یو صفت دی.

په پښتو کې د دې نامۀ بله بېلگه خانگل (خان+ کهول= کول) ده، چې دواړه کلمې پخوانۍ او دوهم جز یې هماغه تاریخي کولا= کول= کهول دی، چې د مهراکولا د نامۀ په پای کې هم راغلی دی او معنی یې کورنۍ ده.

پښتانۀ اوس هم په مرکبو کلمو کې د خان کلمه د الف په تخفیف تلفظ کوي لکه خانگل= خنگل او خانمړی= خنمړی.

نو خنچل هم په اصل کې خان‌چل دی، چې دوهم جز (چل) یې په پښتو کې د

---

[1]- بودا، د ډاکټر جولیوس، د ۱۹۰۵ز چاپ.

[2]- یشتها ۲/ ٤۲.

[3]- یسنا ۱۹.

طرز، چلن، کړو وړو، طریقې او دود معنی لري،[1] ملا میران کندهاري ویلي وو:

نه په چل د عشق پهېږي، نه یې زده دی     لغوړن مچ دی بـوڼېږي رقیـب تـل تـل

نو خنچل نوم د خانی او (لوړشخصیتی) چلـن لرونکـي پـه معنـی او پـه تحـت اللفظي تعبیر (خان خوی او خان‌چلن) دی. د خـان کلمـه لـه چنګېـزي مغولانـو سره خراسان ته نه ده راغلې، بلکې له اسلام نه په پېړېو پېړیو د مخه په دې خاوره کـې وه او د هفتالي (ابدالي) آریایي وګړو له هماغه هون= هان= خان نامۀ څخه جوړه شوې کلمه ده.

لکه چې په دې کتاب کې مې د مخه د لویکانو په بحث کې شرحـه ورکـړې ده، دا کابلشاه خنچل د غزني او ګردېز د لویکـانو د کورنیـو هممهـال و او خپلـوي یـې ورسره درلوده. (وګ: په تېر څپرکي کې د لویکانو برخه)

## لکتورمان

البېروني وایي (عربي متن) لکتورمان د خپلې کورنۍ وروستی سړی دی، چـې د هغۀ برهمني مذهبه وزیر کلر، تـرې پـلاز و خـول وتـروړل. لکـه چـې ومـو ویـل، پـه وروستیو تاریخونو کې د البېروني دا څرګنـد عبـارت اړول شـوی دی او رشـیدالدین وزیر او بناکتي په داسې ډول راوړی دی، چې کتورمان یې د پاچاهانو لړۍ ګڼلـې ده او مخکې یاد شوی کنک یې د دې کتورمان لړۍ وروستی کس ګڼلی دی.

[1] - دې نامۀ ته ډېر ورته یو د کشمیر د پاچا راجه اوچل نوم دی چې له (۱۱۰۱- ۱۱۱۱ز= ۵۰۵ س) پورې یې واکمني کړې ده. ډېر نېک ولسپال پاچا و (راجه ترنګیني، اتم ترنګ ۲/ ۲) چې نوم یې هم همدا معنی ښندي: او= هو د نېک په معنی او ښه + چل یعنې کړه؛ نو اوچل= هوچل د نېک عمله په معنی دی، چې د نامۀ وروستی جز یې هماغه چل د خنچل نوم دی. دا راجه په کشمیر کې د ۱۱۱۱ز کال د ډسمبر په ۸ مه نېټه ووژل شو.(۸ ترنګ ۳۷۹ شلوک) د دې ډول نومونو بېلګې په پښتو کې ډېرې دي، لکه هومل= ایمل (هو+ مل)= نېک ملګری) هودیر= ادیر (هو+ دیر= ښه استوګنی، د ساپو له درېوو قبیلو څخه د یوې نوم) چې د سلطان‌محمود په پېر کې ادیرا نومی کوټوالي مشهور و. (انتخابات آداب‌الحرب والشجاعه، د فخر مدبر، د لاهور چاپ، ٤٢ مخ).

هوديوالا د البېروني د اصل اوښتې بڼه کتورمان تر څېړنې لاندې نيولې ده او د هغۀ اړيکه له کټار (کټور KATORS) سره ښيي چې د کافرستان (اوسني نورستان) د يوې قبيلې نوم دی او الفنسټن په خپل کتاب (٦ /٣٧٦) کې ياده کړې ده. د چترال او گلگت واکمن ته تر اوسه (کټار پاچاه) وايي.(وگ: د بخارا کتاب د برنس تأليف٢٠٩/٢) او د بنگال د آسيايي ټولنې مجله (٣٣١/٧) د تقويم‌البلدان مؤلف وايي کټار ولايت د کابل پر پولو د تورنمريو (تورپوښو) استوگنځی و. گوډ تېمور پر هند د يرغل په لاره کې له خاواک او اندراب څخه تېر او د کټارو او تورنمريو پر غرۀ يي په ٨٠٠ س کې بريد کړی و.[1]

ابوالفضل بيهقي هم د کټار د هندوانو يادونه کوي چې د محمود او مسعود د دربار پر يوۀ لښکرمشر (تلک هندو) باندې راټول شوي وو. په تاريخ يميني کې العتبي وايي د سلطان‌محمود په لښکر کې خلجيان پښتانۀ او هندوان موجود وو. د طبقات اکبري او مسعودي تاريخونو د وينا له مخه په دې بهرنيو هندوانو کې د کټار د وگړو يوه ډله هم موجوده وه چې مشري يې تلک (TILAK) ته ورکړې شوې وه؛ نو ښايي چې دا اوسنی کټار به له هماغه پخواني کټار سره اړيکه لري.[2]

په دې کې شک نۀشته چې کټار قبيلې د اوسني نورستان وگړي دي او ښايي چې د بيهقي او طبقات اکبري له کتور څخه مقصد هم دوی وي؛ خو دا کلمه د البېروني په اصل متن کې لکه چې تېر شول، لکتورمان ده او د يوۀ چا نوم دی، نه د يوې قبيلې. له دې املـه مـوږ د البېـروني لـه مـتن څخـه چـې يـو پخوانی سترگور مؤرخ او څېړونکی دی او د کتاب‌الهند په ټولو خطي او چاپي نسـخو کـې يـو ډول لکتورمـان کښـل شـوی دی، سـترگې نۀشـو پټـولای او د رشيدالدين او بناکتي پر نوي او اړولي نقل باور نۀشو کـولای، پـه دې احـتمال چې ښايي رشيدالدين د کتاب‌الهند بله نسخه درلوده او په هغې کې کتورمان و، هغه هم د يوۀ کس په نامۀ نۀ، بلکې د پاچاهي کورنۍ يا لړۍ نوم (د رشيدالدين

---

[1] - ظفرنامه ٢/ تر ٢٣وروسته.

[2] - د هند پر تاريخ د هوديوالا نښلونې، د ايليوټ ٢/ ٤٠٦.

نقل قول‌په کنک سرلیک کې تېر شو).

نو د البېروني شهادت او د کتاب‌الهند د خطي او چاپي نسخې خوندیینه، په کابلشاهانو کې لکتورمان (لکه تورمان) د دغې کورنۍ وروستی پاچاه گڼي او تر هغه مهاله چې لرغونې خطي نسخې او د کتاب‌الهند متن دا مطلب په بل ډول او هغې طریقې چې رشیدالدین نقل کړی، ونه ښيي، د همدې چاپي نسخې خوندیینه به د اعتبار وړ وي.

خو هغه څه چې هودیوالا کتور په اوښتي کتورمان پورې نښلولی، په هغۀ څه پورې نښلونه ده چې ریښه یې کمزورې او د منلو او یقین وړ نه ده او په ناشوني پورې نښتل دي.

## د دې نامۀ مخینه

پوه شئ چې په پخواني تاریخ کې تورمان نوم مخینه لري، چې د آریایي ژبو په تاریخي نومونو کې داسې (من) پای او (توره- د دري شمشېر په معنی) توک‌وال نومونه ډېر دي، لکه په پخوانیو آریایي ټولنیزو پرگنو کې کښتریه د لښکري او پوځي واکمنانو ټولی و. د مؤرخانو او چینایي سیلانیانو د وینا له مخه د اسلامي پېر په لومړیو کې د کابلشاهانو کورنۍ له همدې پرگڼې څخه وه. دا نوم لکه چې تېر شول، په پښتو کې کښه‌تور او تورکښ (شمشېرکش) و، چې د پیر روښان بایزید (۹۸۰س شاوخوا) په خیرالبیان کې تورکښ نظامیانو او واکمنانو ته ویل شوی دی او د غزني د لویکانو په یوۀ بیت کې کښه‌تـُر د همدې لښکر په معنی راغلی دی.[۱]

په آریایي نژادو سپینو هونانو کې د مشهور هفتلي پاچاه مهراکولا د پلار نوم (تورامانه) و، چې په هندي ډبرلیکونو کې یې خپل نوم" مهاراجه تورامانه شاه جاوله" یعنې لوی تورمان د زاول پاچاه کښلی دی او هغۀ د ۵۰۰ ز شاوخوا ژوند کاوۀ.[۲] همدا رنگه د کملو اصلي نوم توره‌مانه و، چې شرحه یې وروسته راځي.

---

[۱]- د دې مطلب د شرحې لپاره وگ: د پښتو ادبیاتو تاریخ، لومړی ټوک، د کابل چاپ ۱/ ۶۵، لویکان غزنه، د کابل چاپ۱۳٤۱ل او د دې کتاب د لویکانو څېړکی.

[۲] - د افغانستان تاریخ ٤۷۲/۲.

څرګنده ده چې دا نوم تر دې وروسته د کشمیر په پاچاهانو کې هم کارېدلی، د راجه ترنګیني مؤلف کلهنه د کشمیر له پاچاهانو څخه یو په دې نامهٔ یاد کړی دی او هغه د راجه هیرنیه ځایناستی او ورور ګڼي. تر هغهٔ وروسته یې زوی دوهم پرورسینه پر پلاز کښېناست (د ٦ز پېړۍ دویمه نیمایي) او دا تورمان د شريشتههسینه زوی له ګونندیه کورنۍ څخه و، چې زموږ پاچاهانو د هغهٔ د سیکې لاره خپله کړه او یو په بل پسې یې شري توره- شري تو او ان یواځې توره هم لیکلې ده.[1]

د مؤرخانو له دې شرحې څخه له زابله تر کشمیره د پخوانیو پاچاهانو په نومونو کې د (توره) کلمې خپرېدا ثابتېږي او ان د ترنګیني شريوره له ګزارشونو (۲۱۳/۳) څرګنده ده، چې د کشمیر د پاچاه سلطان حسین (۸۷۷- ۸۸۷س=۱۴۷۲-۱۴۸۲ز) تر پېره هم تورماني سیکې په کشمیر کې چلېدې، هغه وايي: کله چې حسین پاچاه ولیدل چې د ستر تورمانه سیکې نورې نه چلېږي، نو د دوې دیناري[2] په نامهٔ نوې سیکې یې چلن ته راوایستې.

اوس نو د دغو تاریخي اسنادو له مخه ویلای شو چې: تورمان= تورمانه= تورمن د افغانستان د خلکو پخوانی نوم و او په کشمیر کې یې هم پلیوني شوې ده، چې په پښتو کې توره د دري شمشېر په معنی+ من د فاعلیت، ملکیت او نسبت له اداتو څخه دی؛ نو تورهمن د هغه چا صفت دی، چې زړور او توریالی وي.

خو په لکهتورمان کې ـ چې موږ پرې ږغېږو ـ د یوهٔ کابلشاه نوم دی. د (لکه) کلمه هم معنی لري او د پښتو په ځانګړو دوه مماله زورونو د تشبیه له اداتو څخه دی؛ نو لکه+ تورمن د تورمن ته ورته، ساري او بدیل معنی لري، یعنې هغه څوک چې زړور او تورزن وي او ښایي چې د دې پاچاه نوم یې د ښې تشبیه او نېک فال په توګه د مهراکولا له پلار تورمن او یا بل تورمن نومي څخه اطلاق او ټاکلی وي.

---

[1]- د راجه ترنګیني پر ژباړه د اورل ستاین نښلونې د لومړي ټوک سریزه ۸۲ مخ او دوهم ټوک، ۳۲۰مخ.

[2]- دا نوم هم له پښتو سره سمون خوري یعنې دوه دیناری.

څه رنګه چې لکتورمان د کلر له خوا ګوښه شو؛ نو د هغه د ژوندانهٔ زمانه د (۲۰۰س) شاوخوا اټکلولای شو.

## کلر KALAR

البیروني وایي لکتورمان د خپلې لړۍ وروستی پاچاه دی چې خپل وزیر له منځه یووړ او هغه یې پر ځای کښیناست.

هودیوالا وایي: دا هماغه سیالهپتي SYALA-PATI دی چې په افغانستان کې پر موندل شویو سیکو لیکل شوی او سیاله پر کلر اوښتی دی (؟). که البیروني دا معلومات د خلکو له خولو څخه اخیستي وي، نو د خلکو په خولو کې دا لړ بدلون شونی دی. سیالپتي د یوناني ZOTIS مساوي دی چې یو عسکري لښکرمشر او ښایي سیالجیت SYAL-JATS یا د پنجاب د جهنګسیال JHANG-SYAL نیکهٔ به وي.[1]

خو د هودیوالا دا رایه له رښتینولۍ بېخي لیرې ده، په دې معنی چې لومړی خو د دې نامهٔ سم تلفظ په ناګري لیکدود پر سیکو سپالهپتي SPALA- PATI دی، نه سیالهپتي. دوهم دا چې د سم سپالهپتي او د ناسم سیالهپتي بدلون په کلر د هیڅ تاریخي او ژبني سند له مخه ثابت نهٔ دی او نهٔ د ژبپوهنې د اصولو له مخه یو له بل سره سمون خوري؛ خو د هغې پر ځای راغلې سپالهپتي کلمه د تاریخي بنسټونو او فیلالوژۍ له مخه د شننې نور او مستند لاملونه لري.[2]

د دې لړۍ مؤسس دا کلر هماغه لیلهشاه دی، چې په اړه یې د هغهٔ د زوی کملو په شرحې کې زیات توضیحات ورکوم او د ژوندانهٔ زمانه یې د۲۵۰س شاوخوا اټکلوو.

پته دې نه وي، چې د للیهشاه نوم نوی نه دی، بلکې د ۵۰۰ ز شاوخوا د هفتالیانو له خوا په دې نامهٔ یوهٔ واکمن پر ګندهارا واکمني چلوله، چې د سونګین د مسافرت پر

[1] - هودیوالا۲/ ۴۲۲.

[2] - وګ: په همدې بحث کې سپالهپتي.

مهال د دې لړۍ دوهم نسل پاتې و (۵۲۰ ز) خو پر بودايي دين گروهمن نه و؛ نو د سونگ‌ين يې سوړ او نامناسب هرکلی وکړ.[1]

د لليه د نامۀ په اوریدو - چې تاريخي مخينه لري- د افغان اوریدونکي په ذهن کې د (لالا) کلمه راگرځي، چې د افغانستان په خلکو کې د درناوي په دود هر هندو ته ويل کيږي. که مسلمانان يې په خپلو منځو کې وکاروي، د مشر ورور يا هغۀ چا لقب دی چې د مشر ورور غوندې وي. څه رنگه چې لليه‌شاه هم پر هندوواله گروهمن و، ښايي چې دا کلمه د افغانستان په ژبو پښتو او پارسي کې له همدې پيره پاتې وي.

## سامنته يا سامند

البيروني تر کلر وروسته پاچاه گڼي. پر سيکو سامنته يا سامنته-ديوا -SAMANTA DEVA دی چې سيکې يې په افغانستان، ټول پنجاب او شمالي هند کې موندل کيږي.

د تهوماس په اند همدې سامند د خپلو بودايي نيکونو سيکې- چې د فيل او زمري شکلونه ورباندې وو- بدلې او د غويي او زمري شکلونه يې پرې وکښل، چې له بودايي پر برهمني دين د اوښتنې توپيري نخښه وي؛[2] خو د تهوماس دا وينا سمه نه ده، ځکه موږ د تهوماس په سيکو د فيل شکلونه هم وينو[3] او نوم يې داسې مشهور و

---

[1] -وگ: د چينايي سيلانيانو په شرحه کې د سونگ‌ين برخه.

[2]- د اسيايي ټولنې مجله، لندن۹/ ۱۸۱.

[3]- سر اولف کيرو (پټانان ۱۱۰) وايي د سکو شهادت د البيروني د وينا يوه برخه تاييدوي او بله يې ردوي، ځکه د سند سيند له ځنډې د ويهنډ له شاوخوا ډيرې موندل شوې سکې د سپينو زرو کوچنۍ ټوټې دي چې پر يوۀ مخ يې اس سپور او پر بل مخ يې غويي سپور کيندل شوی دی.
دوهم ډول سکې مسي دي چې پر يوۀ مخ يې د زمري او په بل يې د فيل شکل دی؛ خو يواځې د سپينو زرو يوه سکه شته چې پر هغې د دوه‌وو پاچاهانو انځورونه رسم شوي، پر يوۀ مخ بهيمه‌ديوا او پر بل يې سامنته‌ديوا دی. څيړونکي اټکل کوي چې د سامنته‌ديوا انځور به يې د خپلې کورنۍ د معنوي ارزښت په ډول پر سکو حک کړی وي. (د سکه پيژندنې کتاب، ۱۱ټوک،٦ برخه، ۱۳۳مخ، د ۱۹۵۲ز چاپ)

چې د مسلمانانو تر سوبې پورې په ډهلي (۵۸۸س= ۱۱۹۲ز) او د پتهورا د رای پر سیکو هم کښل کېدۀ.

څه رنګه چې پر سیکو د یوۀ کس د نامۀ تکرار دوې پېړۍ وروسته معقول نه برېښي؛ له دې امله هماغه سیکې چې د (سريسامنته‌دېوا) نوم پرې دی، باید د البېروني د همدې یاد کړي سامند وي؛ خو که د سامنته کلمه له بل نامۀ سره پر سیکې راشي ، دلته به لقب وي، چې د جنګي، پهلوان او لښکرمشر معنی ښندي.

دا لقب يې د وروستیو غزنویانو په پېر کې په سريهمیر (SRI- HAMIR) یعنې (حضرت امیر) بدل کړ. همدا د سامنته کلمه په راوروستو وختونو کې د بردچند (BARD-CHAND) له خوا په مطلق ډول د زړور مشر (STAL WART- KNIGHT) په معنی کارېدلې ده.[۱]

محمد ناظم وايي: د للیه‌شاهي د بنسټپال (للیه) تر مړینې وروسته د کابلشاهانو له کورنۍ څخه یو څوک چې سامنته دېوا نومېدۀ، د خپلو نیکونو پلاز يې تر لاسه کړ؛ خو د (۲۹۱س=۹۰۳ز) په شاوخوا کې د کشمیر د راجه ګوپاله‌ورمن له خوا لیرې او مات شو او د هغۀ پر ځای يې (تورمانه کملوکه) پر پلاز کښېناوۀ.[۲]

باید پوه شو چې د غزنویانو په پېر کې هم د دې کابلي پاچاهانو داستانونه په خلکو کې دود وو، لکه چې د سلطان‌محمود د دربار مشهور شاعر استاد ابوالقاسم حسن بن‌احمد عنصري (٤۳۱ س مړ) د شادبهر، عین‌الحیوة، خنګ‌بت او د بامیانو د سرۀ بت داستانونه په نظم کړي وو.[۳]

همدا داستانونه ابوریحان البېروني د قسیم‌السرور، عین‌الحیوة او حدیث‌الصنمي الباميان په نومونو له پارسي څخه عربي ته وژباړل.[٤]

---

۱- هودیوالا۲/ ۴۲۲.

۲ - سلطان‌محمود ۲۰۳ او همدا مطلب د اصل کشمیري مأخذ په حواله وروسته راځي.

۳ - لباب‌الألباب ۳۲/۲.

٤- د محمد بن زکریا د کتابونو لیکلړ ۳۹ او د سیدحسن برني، البېروني اردو، د علیګړهـ چاپ.

له بده مرغه د دې داستانونو پارسي او عربي اصل له منځه تللی او اوس يې پته نۀشته؛ خو اټکلولای شو چې د شادبهر او عين‌الحيوة داستانونو له همدې سامند سره اړيکه درلوده. د عنصري لاندېني بيتونه هم د دې داستان دي، چې ښايي له علي بن‌احمد اسدي طوسي سره به د (٤٥٠ س) په شاوخوا کې وو او درې بيته يې ترې د لغت‌لوس په سند کې رانقل کړي دي:

چـون بيامـد بوعـده بـر"سـامند"   آن کنيـزک سـبک ز بـام بلنـد
برســن ســوی او فــرود آمــد   گفتــی از جنبشــش درود آمــد
جان "سامند" را به لـوس[١] گرفـت   دست و پای سرش ببوس گرفت[٢]

د دې داستان په عربي نامۀ کې د"عين‌الحيوة"کلمـه زمـا پـه انـد د سـامند کټ مټ ژباړه ده؛ ځکه (ساه) په پښتو کې د روح او ژونـد پـه معنـی ده چـې مجازاً په نفس هم اطلاق شوې چې د ژوندانۀ نخښه ده. ساهو ژوندي او آزاد ته وايي. د دې نامۀ دوهم جز (مند) د نوموني او ملکيت لـه اداتـو څخـه دی چې په پښتو او پارسي دواړو کې کارېږي. په پښـتو کـې يـې ريښـه د منـدل= منتل د تر لاسه کولو او ميندلو په معنی شته، نو سا+ مند (د ژوندانۀ څښتن او د روح او ژوند خاوند) دی. په پښتو کې تر اوسه ډېـر نومونـه د (سـمندخان) په نامۀ لرو چې همدا تـاريخي سـامند او عـربي عين‌الحيـوة دی. لکـه چـې د مخه مو وويـل کـه کلـه يـې دا نـوم د لقـب او صـفت پـه ډول هـم پـر سيکو کـارولی وي، معنـی بـه يـې ژونـدی، خوشـحال، د ژوندانـۀ نخښـې لرونکـی، پهلوان او عربي عين‌الحيوة وي.

## کملو

البېـروني وايــي کملــو تــر ســامند وروســته دی، چــې تهومــاس يــې د تلفـظ لـــه ليرېـــوالي سره د پخـــواني يـــاد شـــوي خودويکـــه KHVADAVAYAKA سره اړيکي ورکوي او وايي چې د دې دوو کلمو توري سره اوښتي او ګډ شوي دي؛

---

[١]- لوس: عاجزي او کميني کول (لغت فرس)، همدا لغت په همدې معنی د پښتو په لوڅې پوڅې کې ژوندی دی.
[٢]- لغت فرس، د اسدي طوسی ٦٠، د تهران چاپ، ١٣٣٦ل.

خو هوديوالا گروهمن دی چې دا نوم د عوفي د «جوامع‌الحکايات» په يوه کيسه کې هم کټ مټ د البېروني د خونديني غوندې راغلی دی، چې د البېروني د روايت سموالی څرگندوي. د دې کيسې پر بنسټ هغه د صفاري عمرو ليث (۲۶۵-۲۸۶س= ۸۷۸= ۹۰۰ز)[۱] هممهال و.

داسې برېښي چې د البېروني او عوفي دې کملو د هېواد پر شمال ختيځو څنډو واکمني کړې ده او دا هغه څوک دی چې د کشمير د پاچاهانو په ملاتړ يې واک تر لاسه کړی دی، ځکه کشميری مؤرخ کلهنه وايي: گوپاله‌ورمن (۹۰۲-۹۰٤ز= ۲۹۰-۲۹۲س) چې پولادي سړی او د ملکې د خزانې ساتندوی و، د شاهي هېواد يوه برخه يې په اوده‌بهانده UDABHANDA (سوات او د اوسني مردان شمال) کې ونيوه او د شاهي هېواد دا برخه يې د لليه زوی توره‌مانه ته ورکړه. پر هغهٔ يې کملوکه (KAMALUKA) نوی نوم کښېښود.[۲] دا لويه لليه‌شاهي د درد DARAD او توروشکه TURUSHKA (په څرگنده هفتاليان) پاچاهانو د هېوادونو ترمنځ پرته ده.[۳] اورل‌ستاين وايي د تورمانه يادونه د لسمې زېږدې پېړۍ د راجت په کتاب (۲۲۳/۵) کې هم د هندوشاهيانو په کورنۍ کې شوې ده.[٤] همدې لوېديځوال څېړونکي په هغهٔ مضمون کې چې د اوده‌بهانده د پاچاهي کورنۍ په اړه يې د ۱۸۹۳ز د اگسټ په يوې الماني مجله کې وکښښ، وويل:

د البېروني کلر هماغه د کلهنه لليه‌شاه LALLIYA دی، چې لليه د کملوک پلار دی او په راجه ترنگيني کې د دې پاچاهانو د ډېر ځواک و شهرت يادونه شوې ده.

پروفيسور چارلس‌سيبولد SEYBOLD او جنرال کننگهم دواړو د لرغونو آثارو په سروې (۵ج ۸۳ مخ) کې د کلر او لليه‌شاه پر يووالي خبرې کړې دي.[۵]

ساخاو د البېروني د کتاب‌الهند په يوه څنډه ۳٦۱/۲ کې وايي: چې د کملو نوم بايد د يوهٔ نامهٔ يوه برخه وي، لکه کملو اردهنه KAMALALAVARDHANA خو

۱ - مجلهٔ جمعيت شاهی آسيايی ۱۸۰/۹، کيسه تر دې وروسته راوړل کېږي.
۲ - راجه ترنگيني ۲۱۷/۲ پنځم ترنگ،۲۳۲-۲۳۳ شلوک.
۳ - پورتنی اثر، پنځم ترنگ، ۱۵۵/۱۵۲ د پورتني اباسين (اندوس) درد قبيلې د کوهستان په چيلاس او چترال کې دي.
٤ - د همدې کتاب څنډې ۸۱/۱.
۵ - راجه ترنگيني، د ټهاکرا چهرچند شاهپوريه ژباړه، لاهور چاپ ۱۹۱۲ز، دوهم ټوک، د ۱٦۵ مخ ۱۱نوټ.

دیارام‌سهني د لرغونو آثارو په رپوټ (۲۰مخ، د لاهور چاپ ۱۹۱۷ز) کې د جیپاله د پلار بهیمه BHIMA یوه کتیبه خپره کړه، په هغې کې د دې پاچاه بشپړ نوم د کلکه‌مله‌وارمن KALAKAMALAVARMN په بڼه خوندي شوی دی. د راجه ترنګیني TARANGINI RAJA (پنځم ترنګ ۲۳۲ شلوک) د کتاب په حواله، د کشمیر پاچاه ګوپاله‌ورمن (۲۹۰-۲۹۲ س=۹۰۲-۹۰٤ز) د اوده‌بهانده‌پوره (ویهنډ) یاغي پاچاه سامنته‌دېوا له منځه یووړ او پر ځای یې تورامنه TORAMANA د للیه (البېروني کلر) زوی د کملوکه KAMALOKA په نامهٔ کښېناوهٔ، چې باید د البېروني او عوفي همدا کملو وي.[1]

د برتانيې په موزیم کې یوه ناویاته او ځانګړې سیکه ده، چې د شري کمره SHRI KAMARA یا KHAMARAYAKA په نامهٔ وهل شوې چې د همدې کملو پاچاه ګڼل شوې ده. (د هند د منځنیو پېړیو سیکې، کننګهم ۵۹).

اولف کیرو وایي: ګومان کېږي، چې هغه به د اسلام دین منلی وي (؟) [2]

هغه کیسه چې د مخه ورته اشاره وشوه، د سدیدالدین محمد عوفي (۶۲۵س) له کتاب «جوامع الحکایات ولوامع الروایات» څخه رااخیستل شوې ده، چې د ایلیوټ د هند د تاریخ په دوهم ټوک (۱۷۰ مخ) کې یې د خطي نسخې له مخه انګلیسي ته ژباړلې ده، زه یې پارسي اصل د کابل د یوې خطي نسخې له مخه رانقلوم:[3]

«داسې وایي چې عمرو لیث د زابلستان امنیه قوماندان فردعان[4] وګومارهٔ او له څلورو زرو سپرو سره یې هغې خوا ته ولېږهٔ. هغه مهال سګاوند د هندوانو ډېر لوی عبادتځی و، د هندوستان له څنډو به وګړي له بتانو نه د

١ - پر راجه ترنګیني د اورل ستاین ۹۶نښلونه ۱۰۱/۲.

۲ - پټانان ۱۱۰.

۳ - ما دا برخه هم پښتو ته ژباړلې ده.(ژباړن)

٤ - د کابل په نسخه کې په عین دی؛ خو د ایلیوټ په نقل کړې نسخه کې فردغان په (غ) دی. هودیوالا وایي، چې دا نوم فروعان او فروغان هم ویل شوی دی؛ خو زه یې سم فروخان ګڼم، ځکه اردشېر بابکان د ساساني لړۍ بنسټپال یوه نجلی وادهٔ کړه، چې د پلار نوم یې فرخان و، همدا د طبرستان د یوهٔ لښکرمشر نوم هم و، چې له ۷۰۶- ۷۲۲پورې یې حکم چلولی دی او د ابن اسفندیار په تاریخ کې یې یادونه راځي.(د برون انګرېزي ژباړه ۹۹مخ) دا نوم پر هغهٔ مهال ډېر دود و او جستي په "نامهای ایرانی۹٤مخ" کې شاوخوا شل بېلابېل کسان په دې نامهٔ ښودلي او لیکلي دي.

تبرک غوښتنې لپاره راتلل. فردعان چې کله زابلستان ته ورسېد، لښکر یې ورمارش کړ او سګاوند یې ونیوۀ. بتان یې مات کړل او بت لمانځي یې وشړل. ځینې غنیمتونه یې لښکریانو ته ورکړل، نور یې لیث عمرو ته ولېږل، د سوبې خبر یې ورولیکۀ او مرسته یې ځنې وغوښته. د سګاوند د نیولو خبر د هندوستان رای (پاچاه) کملو[1] ته ورسېد.

ډېر زیات لښکر یې راټول کړ او زابلستان ته وخوځېدۀ. فردعان چې کله د هند د عسکرو د راتلو خبر واورېد، یو شمېر هندوان یې راټول کړل او هندوستان ته روان شو. د کملو عسکري پوځغالي ته ورغی او ورته ویې ویل: فردعان چې سګاوند ونیو، پوه شو چې هندوان د هغۀ پام په بله کوي؛ نو شاوخوا ته یې څوک ولېږۀ او لښکر یې راوغوښت، دا وخت د مسلمانانو دومره لښکر هغۀ ته راټول شوی چې ځمکه به تنګه کړي، له شا به پسې لیث عمرو راورسېږي، هغوی هوډ کړی چې تاسو کلابند کړي او ټول مو ووژني.

رای کملو چې دا خبر واورېد، هم هلته پاتې شو، په لښکرکښۍ کې یې ځنډ راوست، نو فردعان ته له خراسانه مرسته راورسېده؛ نور دې ډلې امکان نه درلود چې له هغۀ سره وجنګېږي؛ نو په دې هېښند چل په خپله موخه کې بریالی شو.»[2]

له دې داستان او له عمرو لیث سره د کملو لههممهالتیا جوتېږي، چې هغۀ

---

۱- د کابل په نسخه کې کلمو لیکل شوی دی؛ خو د جوامع‌الحکایات په زیاترو خطي نسخو، له هغې جملې د ایلیوټ د مرجع په هغې کې د البېروني له خوندیینې سره تر لام د میم پر مخکېوالي (کملو) سم دی، څۀ رنګه چې د کلهنه خوندیینه هم همداسې ده؛ نو د کابل موزیم د نسخې خوندیینه به د اعتبار وړ نه وي.
۲- د عوفي د جوامع الحکایات خطي نسخه.

د ۲۸۰س شاوخوا ژوند کاوۀ؛ ځکه د عمرو لیث د پاچاهۍ پیل په ۲٦٥س او د هغۀ نیول په ۲۸٦س کې دي.

هغۀ ته يې د هندوستان پاچاه له دې امله ويلی دی، چې هغه مهال يې د هند پر لوېديځو سيمو هم واکمني کوله او لکه چې د لويکانو په بحث کې تېر شول، کابل او زابلستان د يعقوب ليث په پېر کې نيول شوي وو. نو پر دې بنسټ به يې خپل ورور عمرو ليث د امنيه قوماندان په توګه هلته استولی وي؛ خو د عوفي دا خبره چې کملو دې د عمرو ليث صفاري هممهال وي، د وخت ټاکنې له پلوه له هغې شرحې سره سمون نه خوري چې کلهنه په راجه ترنګيني کې ورکړې ده، ځکه د کلهنه د سند له مخه کملو بايد د (۲۹۱س) په شاوخوا کې پاچاهۍ ته رسېدلی وي، په داسې حال کې چې د عمرو ليث د پاچاهۍ پېر په ۲۸٦ س کې د هغۀ په نيولو سره تېر شوی و.

په هر حال څه رنګه چې د کلهنه روايت تر عوفي پخوانی دی او هغه د پاچاهانو پر احوالو ډېر ښه خبر معلومېږي؛ نو بايد وويل شي، چې عوفي به په دې کيسه کې د عمرو ليث د پېر په اړه تېروتی وي او يا به تر هغۀ د مخه د دغسې کيسې د مأخذ ليکوال تېروتی وي.

اوس که د کملو کلمې ته وګورو، د دې سيمه‌ييزو او کورنيو پاچاهانو د نومونو غوندې معلومېږي. لکه چې ومو ويل د دې نامۀ په خوندينه کې د کَمَرَه او که‌مه‌ره‌يه‌که هم د سيکو له مخه نقل شوي دي، موږ پوهېږو، چې په"ل" د"ر" اوړون په پښتو او پارسي کلمو کې شته دی، لکه ديوار= دېوال او غربال= غلبېل؛ نو د کملو يوه بڼه بايد کمرو هم وي او دا نوم تر اوسه د اباسين د وادۍ د وګړو په منځ کې دود او کارېدونی دی. په پښتو کې کَمَر د رنګين، برګ او ښکلي په معنو دی، چې وروستی واو که چېرته له نرينه سره راشي، لکه خير، خيرو او حبيب، حبو او بني، بنو د درنښت لپاره دی؛ خو که دا له ښځينه سره وکارول شي، ښځينه‌توب ښيي لکه کمروخان او کمرو بي بي.

له کلهنه څخه د دې کلمې د منقولې بڼې په پای کې د نمانځنې (ک) هم ورزيات شوی، چې موږ يې بېلګې د دې دورې د وګړو په نومونو کې د دې کتاب په بېلابېلو برخو

کې ښودلي دي؛ خو د دې نامۀ هندي خوندیینې به اړونې وي، چې تل په نامانوسو نومونو کې په لیرې چاپېریال، بېلابېلو ژبو او لیکدودونو کې رامنځ ته کېږي.

## بهیم

د البېروني په لېست کې تر کملو وروسته راغلی چې سیکې یې د BHIM په نامۀ په کابلستان کې موندل شوي؛ خو په هند کې ببخي لږې لیدل شوي دي.

د هغو پاچاهانو د لړۍ له منځه چې البېروني یې نومونه یاد کړي، یواځې همدا بهیم د غویي او اس سپرو پاچاهانو له ډلې څخه بې شکه چې د سري بهیم دېوا SRI BHIM DEVA له سیکو سره سمون خوړلای شي. ریناود وایي: دا هماغه پاچاه دی، چې العتبي او فرشته دواړو د نګرکوټ بنسټوال ګڼلی دی،[1] چې هماغه د مخه یاد شوی نغر دی.

د کشمیر د نامتو مؤرخ کلهنه د څرګندونې له مخه دا بهیم د للیه پاچاهانو له ځایناستو او ښایي د کملو زوی وي، چې د ملکې ډېډا DIDDA له نیکونو څخه و.[2] په شپږم ترنګ ۱۷۸ شلوک او اووم ترنګ ۱۰۸۱ شلوک کې د اوده‌بهانده‌پوره د بهیمه‌شاهي BHIMA SAHI یادونه شوې ده.[3]

د بهیم د ژوندانۀ زمانه اټکلاً (۳۰۰س شاوخوا) ټاکلای شو. هیونځانګ چینایي سیلاني د نهم لېږدي شاوخوا د پېښور شمال ته په غرۀ کې پر نیلي تیږې د"بهیم دېوا" د مېرمن د بت کیندنې کیسه کوي چې له دې عبادتځي د ۱۵۰لی په واټن (اټکلي پنځه میلۍ) د ویهنډ مشهور ښار سوېل ختیځ خوا ته و. (سي- یو-کی دوهم کتاب د کین تو لو= ګندهارا څېرکی) نو ښکاري، چې د بهیم دېوا نوم په دې سیمه کې پخه مخینه لري.

---

[1] - د هند یادښتونه، ۲۵۷ مخ د هودیوالا په وسیله ۲/ ٤۲٦.

[2] - د کشمیر د پاچا راجه کشم ګپتا مېرمن (۳٤۹-۳۷۰س=۹٦۰-۹۸۰ز).

[3] - د راجه ترنګیني په ژباړه کې شاهپوریه ۲/ ۱٦٥ یوولسم نوټ.

# جیپال

البیروني یې نوم تر بهیم وروسته یادوي؛ خو هېښنده دا ده، چې تر اوسه د جیپال هیڅ سیکه نه ده موندل شوې او فرشته هغه ته د اشتپال زوی (د بریګس له انګلیسي ژباړې سره سم: هتپال) او برهمن ویلی دی. په دې نومونو کې د پال روستاړی دا څرګندوي، چې دا پاچاهان دې له یوې جلا کورنۍ څخه وي.

د یمیني تاریخ په پیل کې د جیپال د واکمنۍ لوېدیځ برید تر لغمان پورې ګڼل شوی او څرګنده ده چې کابل د مخه سبکتګین نیولی و؛ نو له دې څخه معلومېږي چې د دې کورنۍ واکمني به یواځې پر کابل له مخکې یاد شوي بهیم سره پای ته رسېدلې وي.

ځینو مؤرخانو لکه ابوالفدا د جیپال د هېواد پراخوالی تر ډهلي پورې ګڼلی دی؛ خو د البیروني «کتاب‌الهند» او «قانون مسعودي» د دې خبرې پخلی نه کوي؛ نو د جیپال ولکه له لاهور څخه تېره شوې نه ده، په داسې حال کې چې پلازمېنه یې د سند پر څنډه ویهنډ و.[1]

محمدناظم دا جیپال غالباً د بهیم زوی ګڼي، چې په (۳۴۹س=۹۶۰ز) کې پر پلاز کښېناست او دوه ځله له سبکتګین سره وجنګېد؛ خو سبکتګین تر لغمانه سوبه وکړه. جیپال د هېواد د لوېدیځو سیمو په بدل کې ختیځ خوا ته د هېواد زیاتې سیمې په خپلې واکمنۍ پورې وتړلې او په (۳۸۱س=۹۹۱ز) کې یې د لاهور راجه بهرت ته - چې له خپلې پولې (چناب) څخه راتېر شوی و- ماتې ورکړه. د جیپال زوی انندپال لاهور فاتحانه ونیو او بېرته یې راجه بهرت ته وسپارهٔ؛ خو لږ وروسته چندردت خپل پلار بهرت ګوښه کړ او له جیپال سره سیال شو. په (۳۸۹س=۹۹۹ز) کې جیپال خپل زوی انندپال بیا ورواستاوهٔ، په پایله کې یې چندردت ونیو او د هغهٔ هېواد یې- چې ختیځ ته د بیاس تر سینده غځېدهٔ- له خپل هېواد سره وتاړهٔ او خپل زوی انندپال ته یې وسپارهٔ.[2] د جیپال پر ضد د سلطان‌محمود جنګونه مشهور دي،

---

[1] - هودیوالا ۲/ ٤۲٦.

[2]- محمدناظم له ۲۰۳- ۲۰۵ سلطان‌محمود، د آداب‌الملوک په حواله د ۱۹۲۷ز کال چاپ، د آسیایي شاهي انجمن په مجله کې خپور شوی دی.

چې د سلطان‌محمود ژوندانۀ او غزنويانو په څېرکي کې بـه يـې شرحـه کـړو. العتبـي وايي همدې جيپال د (۳۹۳ س) کال په لومړيو کې ځان وسوځاوۀ او ومړ.[۱]

د دې پېر په اديبانو کې جيپال له غزنويانو سره د خپلو جنګونو له امله مشهور و، فرخي د سلطان‌محمود په ستاينه کې يوه بولـه لري، چې په کې وايي:

کيست آن کس کـه سر از طاعـت تـو بـاز کشـد

کـه نـه چـون ايلـک آيـد سـته و چـون جيپـال

(د فرخي دېوان ۲۱٤)

د سلطان‌محمود په يوه بله ستاينواله بولـه کې همدا شاعر، جيپال او د هغه زوی داسې يادوي:

خلافـت جـدا کـرد جيپاليـان را    ز کـت هـای زريـن و شـاهانه زيـور

خلاف تو کرده است ننـدائيان را    بی‌آرام و بی‌هال[۲] و بيخواب و بيخـور

(د فرخي دېوان ۸۳)

د جيپال او انندپال سيکې نه دي تر لاسه شوي؛ خو په ۱۸۹۷ز کـې د سـوات پـه بريکوټ کې يو ډبرليک په سنسکرېت ژبه او سردا SARADA ليکدود وموندل شو، چې اوس په لاهور موزيم کې شته، پـه دې ډبرليـک کـې د جيپـال لـه خـوا مطالـب لوستل کېږي، چې ژباړه يې داسې ده: «د تر ټولو لوړ واکمن د لويو پاچاهانو د لوړ او لوی پاچاه سري‌جيه‌پاله ديوه په پاچاهۍ کې.»[۳]

له دې ډبرليک څخه جوتېږي، چې سوات د جيپاله په واکمنۍ کې شامل و او دا پاچاه ځان تر پاچاهانو لوړ او د سترټولواک پر پوړۍ ګڼي.

د دې پاچاهانو په نومونو کې د (پال) روستاړی شته، چې د (رتپيل) په نامـۀ کـې (پيل) دی او لکه چې ورته نغوته وشوه، پالل په پښتو کې د (پروردن) معنـی ښـندي، چې په هندي ژبو کې هم ريښه لري. که وغواړو دا ليک وشنو؛ نو جيـه= زی + پـال دی. د قوم پالونکي يا ژوندانۀ پالونکي په معنی. ښايي دا ځايي او سيمه‌ييز نوم وي.

---

۱ - تاريخ يميني ۱۵۹.

۲ - هال د ارامۍ او هوساينې معنی ښندي.

۳ - پټانان ۱۱۲.

## انندپال

البېروني دا له جيپال وروسته د دې پاچاهانو تر وروستي د مخه ګڼلی دی. تهوماس وايي: د انندپال سيکې د پنجاب او هند د ګنګا وادۍ په شمالي برخو کې ډېرې پيدا کېږي؛ خو دا سړی به د ډهلي له ننګپال پرته بل وي، چې د انندپال تر پېر يوه نيمه پېړۍ وروسته يې ژوند کړی او العتبي وروستی ياد شوی انندپال بللی دی.[1]

انندپال د جيپال زوی د لاهور واکمن و، تر پلار وروسته د ۳۹۳س شاوخوا پر پلاز کښېناست، لکه چې د ۳۹۶س په پسرلي کې يې د سلطان د لښکرو له لاسه ماتې خوړلې او کشمېر ته تښتېدلی و؛ نو ځکه يې ګاونډي راجه‌ګان له ځان سره ملګري کړل او د خپل زوی برهمنپال په مشرۍ يې د پېښور لور ته لښکر ولېږهٔ. سلطان‌محمود ورته په ۳۹۹ س په ويهنډ کې ماتې ورکړه. انندپال تر دې لږ وروسته ومړ او پر ځای يې زوی تريلوچنپال کښېناست.[2]

د البېروني د ليکنې له مخه- چې متن يې د مخه تېر شو- انندپال يو مېړنی او غيرتي پاچاه و. هغه ليک چې سلطان‌محمود ته يې کښلی او مضمون يې البېروني رانقل کړی دی، د هغه د کړو وړو او شخصيت کيسه کوي.

د انندپال د نامهٔ په پای کې هم (پال) يعنې پالونکی روستاړی شته. انند په پښتو ادب کې د ژوندانهٔ، خوښۍ او خوشحالۍ معنی ښندي، خوشال‌خان وايي:

څه به غم د مال و ملک د دين و دل کړم

چې لا ستا له غمـه روغ ګـرځم اننـد دی[3]

نو د دې ادبي شننې له مخه انندپال د (ژوندپالونکی او خوښي پالونکی) معنی لري چې د خپلو نيکونو او اولادونو له نومونو سره په ترکيب او معنی کې نږدې دی.

## تريلوجنپال- تروجنپال

البېروني هغه تروجنپال کاږي، چې د املاء په بدلون په نورو کتابونو کې تدن‌جيپال،

[1] - هوديوالا ۴۲۷/۲.

[2] - تاريخ يميني ۲۱۲، فرشته ۲۵ او ګردېزی ۶۷.

[3] - سلطان‌محمود ۹۶ د البېروني په حواله.

نندواجیپال، توروجیپال، پوروجیپال او نور نور راغلي؛ خو ریناوډ هغه تریلوچنپال TRILOCHAN PAL لوستی دی، چې د«تر درې چینو زیات» په نامهٔ تلمېح به وي. پارسي مؤرخان عموماً هغه د جیپال لمسی بولي، چې موخه یې لومړنی جیپال دی. ښایي د دې نامهٔ سمه بڼه (پورجیپال) وي، چې العتبي یې د واکمنۍ پراخوالی تر کنوج او رهب پورې لیکي او د انندپال یو بل زوی د برهمنپال په نامهٔ یادوي، چې دا بل دی.

ابوریحان البیروني وایي تروجنپال په ٤١٢ س کې ووژل شو. د هغهٔ د پاچاهۍ پر پیل نه پوهېږو؛ خو له محمود سره یې د کنوج د جنګ مقابله په ٤٠٩ س کې پیل شوې وه.[1] د کشمیري "کلهنه" د شرحې له مخه، د تریلوچنپاله TRILOCHAN PALA په نامهٔ دا پاچاه له للیه پاچاهي کورنۍ څخه دی، چې په سخت مقاومت سره یې هند ته د تروشکه یعنې مسلمانانو مخه نیولې وه.[2] په دې پېر کې د کشمیر پاچاه "سم ګرامه دېوا SAM GRAMA DEVA" و چې د "اننته دېوا ANANTA DEVA " په نامهٔ راجه یې ځایناستی شو. د دې راجه د پاچاهۍ په پېر کې د للیه پاچاهانو اولاده د شاهي پتره (شاهزي) په نامهٔ د کشمیر په دربار کې په درناوي سره اوسېده.[3] له سلطان‌محمود سره د تریلوجنپال جنګونه او تر ٤٠٤س وروسته د هغهٔ د زوی بهیمپال مقاومت په تفصیل سره د تاریخ په کتابونو کې راغلي دي، چې د غزنویانو او سلطان‌محمود د ژوندانهٔ په څېړکي کې به یې شرحه کړو.[4] د تروجنپال نوم هم سیمه‌ییز او ځایي برېښي، ځکه تروجن په پښتو کې توروجن د تورځن (تورې وهونکی) او زړور سړي معنی ښندي. د شمشېر په معنی توره هغه کلمه ده چې په کشتریه او نورو پخوانیو نومونو، لکه تورمن کې مخینه لري؛ نو توروجن+ پال به د

---

[1] - مرغلرې (د خوشال خان دېوان) ٤١٣.

[2] - هودیوالا ٤٢٨/٢.

[3]- پورتنی کتاب، ٧ ترنګ له ٤٧ تر ٦٩ شلوک پورې.

[4]- فرخي د سلطان‌محمود د دربار شاعر په (ګنګ) کې د سلطان د سوبو په اړه یوه بولله لري، چې په دې بیت کې یې د دې پاچا یادونه راغلې ده:

تروجنپال سپه را بشب ګذاشته بود

به پیل از آب ازانسو ګرفته راه ګذار

(د فرخي دېوان، د دبیر سیاقي چاپ، تهران ١٣٣٥ل، ٦٣مخ) چې املا یې په ځینو خطي نسخو کې تروجنپال ده.

تورځنانو او مېړنو په معنی وي، چې دا شننه د هغهٔ د نیکونو له دود او روایاتوسره سمون لري.

## بهیمپال

دا د کابلشاهانو وروستی سړی و، چې د غزنویانو سوبو په ختیځ کې له منځه یووړ. هغه پر پلاز تر ناستې د مخه د خپل پلار د هېواد په دفاع کې د نیډربهیم (نه ویرېدونکی بهیم DAUNT LESS) په نامهٔ جنګېدلی و.[1] العتبي په هند کې د هغهٔ د ژوند پېښو په اړه شرحه ورکوي؛ خو تر اوسه د"پال" پاچاهانو د هیڅ یوهٔ سیکه نه ده تر لاسه شوې. وایي بهیمپال په ٤١٧س کال کې تر پلار پنځه کاله وروسته مړ دی. په داسې حال کې چې یو کس وروستی مؤرخ حیدر رازي (١٠٢٦س) د هغهٔ پاچاهي نهه کاله ګڼلې ده.[2]

توضیح: د دې څېرکي په پای کې له اټکلي کلونو سره د کابلشاهانو د نومونو پرتلیز لښتلیک وګورئ.

## د کابلشاهانو د مقام اهمیت

کابلشاهان د خپل اوږدهٔ او سخت مقاومت له امله- چې په پېړیو پېړیو یې له اسلامي سوبمنو لښکرو سره کړی دی- په مؤرخانو او په تېره په عربو کې اهمیت او شهرت لري. دا چې د افغانستان د خاورې خپل عناصر او د دې هېواد د پخوانیو کورنیو اولادونه وو؛ نو زموږ په ملي تاریخ کې هم د اعتبار وړ ځای لري.

هغوی د دې هېواد فرهنګ ښودونکي او ساتندویان وو. البېروني وایي ښه اخلاق، ښه پاچاهي او ولسپالنه د هغوی ځانګړنې وې.[3] د انندپال د لیک مضمون چې سلطان‌محمود ته یې وکښهٔ[4] د هغهٔ د مېړانې، لوړ احساس او لوړ شخصیت کیسه کوي.

کابلشاهان یواځې د هېواد دننه د لوړ اخلاقي او ټولنیز شهرت او مقام څښتنان نه

---

[1] - هودیوالا د تاریخ یمیني په حواله.

[2] - زبدة التواریخ (خطي).

[3] - کتاب‌الهند ٣١٥.

[4] - د البېروني د متن ژباړه، دا لیک د کابلشاهانو په سرلیک کې تېر شو.

وو، بلکې شهرت يې د هغهٔ مهال په اسلامي نړۍ کې خپور و، چې مؤرخان حيرانوي. کله چې ليدل کېږي د اسلامي خلافت په پلازمېنه بغداد کې يې د هغو د سيکو پليوني کوله، دا معنی لري چې عباسي خليفه ألمقتدربالله په (۲۹۵=۹۰۸ز) کې د کابلشاهانو د سيکې په پليونۍ، قالب او بڼې سيکه وهلې او خپل نوم يې پرې په عربي تورو ليکلی دی. دا د دې دليل دی چې کابلشاهانو او د هغو سيکو عربو او مسلمانانو ته ډېر اهميت درلود.[1] د کابلشاهانو د سيکو پليونۍ د هېواد دننه هم دوام وموند، چې د اسلامي واکمنو په پام کې د هغوی اهميت او غوره‌والی په ګوته کوي. د ساري په توګه مشهور سيکه‌پېژندونکی لنګويرټ ډيمز انګرېز وايي: سلطان مودود بن‌سلطان مسعود غزنوي (۴۳۲- ۴۴۱س) پر خپلو سيکو د غوا سيوا Siva پېره د سري‌سمنته‌دېوا په ليکنه وکنسته، چې د اوهنډ او ټکسيلا د کابلشاهانو له سيکو څخه اخيستل شوې ده.[2]

کابل د افغانستان د واکمنو له خوا د ځواک د لوړ مرکز په توګه پېژندل کېدهٔ، چې په کابل کې به د دوی پاچاهي په رسميت ونه پېژندل شوه، دا مقام يې نه شو نيولای لکه چې ابواسحق ابراهيم بن‌محمد اصطخري (۳۴۶س مړ) هم همداسې ليکي:

«وايي هغه پاچاه ته پاچاهي لازمه نه ده، چې په کابل کې ورسره بيعت ونهٔشي، که له کابله ليرې هم وي چې کابل ته رانهٔشي، د پاچاهي مستحق نه دی؛ هغه دلته په پاچاهي کښېنوي.»[3]

همدا مطلب د حدودالعالم نامعلوم مؤلف (ښايي ابن‌فريغون) په ۳۷۲س کې داسې ويلی دی:

«کابل يو ښارګوټی دی، کلک او مشهور کوټ لري، مسلمانان او هندوان په کې

[1] - پټانان، اولف کيرو، ۱۱مخ.

[2] - اسلامي دايرةالمعارف، لومړی ټوک د افغانستان کلمه.

[3] - مسالک او ممالک، پارسي ۲۲۰، د تهران چاپ ۱۳۴۰ل او عربي ۲۸۰ مخ.

اوسېږي. په هغه کې بتخونې دي، د رای قنوج پاچاهي نه بشپړېږي، چې د دې بتخونو ليدو ته ورنهٔشي او د هېواد توغ يې دلته ځوړندوي.»[1]

د کابلشاهانو دا ديني او سياسي لوړاوی په راوروسته پېرونو کې هم په افسانو کې پاتې‌شو، وينو چې د سلطان‌محمود د دربار شاعر عنصري د سامند داستان د (شادبهر) په نامهٔ په نظم کړی و، ان چې علامه البېروني په عربي د" قسيم‌السرور و عين‌الحيوة"په نامهٔ وژباړهٔ،[2] چې دا هم د عامو خلکو له ليده د کابلشاهانو اهميت او شهرت څرګندوي. که د دې داستان عربي يا پارسي نسخه پاتې وای، يقيناً چې زموږ پخوانی اثر به وای.

د هغو پېښو تفصيل به د کتاب په راتلونکو څپرکو او د هرې لړۍ په ځانګړي بحث کې ورکړی شي، چې د کابلشاهانو، اسلامي سوبمنو، صفاريانو او غزنويانو پر مهال شوي دي.

---

[1] - حدودالعالم ٦٤.

[2] - وګ: د کتاب په همدې څپرکي کې د سامند سرليک.

# ۴- نپکیان

د اوومې زېږدې پېړۍ په لومړۍ نیمایي کې د افغانستان یوه بله پاچاهي کورنۍ هم د نپکي‌ملکا په نامهٔ یادېږي، چې یوائې د تر لاسه شویو سیکو له مخه پېژندل شوې ده. دا سیکې د افغانستان په شمال او سوېل کې لاس ته راغلې دي.

گومان کېږي د پاچاهانو دا ډله د هفتالي او کوشاني سیمه‌ییزو امیرانو اولادونه دي، چې د هفتالیانو د عروج تر دورې وروسته یې د هندوکش په شمال او سوېل کې واکمني درلوده.[1]

موسیوهاکن له غزني څخه دوې سیکې تر لاسه کړې، چې هغه د نپکیانو گڼي. دا چې د دې پاچاهانو د خول نخښې د بامیانو د امیرانو هغې ته ورته دي؛ نو موسیوهاکن وایي چې د دې کورنیو تر منځ به خپلوي وي.[2]

څه رنگه چې واکمنو تگینانو نپکي سیکې پرله‌پسې وهلي دی؛ نوځکه مؤرخان وایي چې نپکیان تر تگینانو له مخه تېر شوي دي. د ملکا[3] کلمې انډول په پهلوي لیکدود کې د (پاچاه) لپاره هزوارش و؛ نو د دې واکمنو لقب هم "نپکي‌شاه" گڼلای شو.

نپکیانو ته په منسوبو سیکو کې د پاچاه څېره کټ مټ هفتالي پاچاهانو ته ورته ده؛ لوړې پوزې لري، خو پر پاچاهي خول یې ښکرور غویي معلومېږي، چې د دې پېر د نورو پاچاهانو پر سیکو نهٔشته، په داسې حال کې

[1] - د بنگال د آسیایي انجمن په مجله کې د مارتن مقاله، دوهم ټوک ۱۹۳۶ز کال.

[2] - تاریخ افغانستان ۲/ ۴۷۹ د موسیوهاکن د (تجسسات جدید باستانشناسی بامیان) کتاب په حواله.

[3] - ملکاMALKA آرامي لغت دی د پاچا معنی ښندي.

چې د همدې سيکې پر شا غرغنډه اورتون نقش شوی، ښي او کيڼ اړخ تـه يـې دوې پرښتې دي، چې د هغه پېر پر ټولـو سـيکو نقـش کېـدې. ښـايي دا دود د زردشتي دين له پاتې شونو څخه و، چې آثار يې د زېږدو پېړيو په لومړيو او د لويو کوشانيانو په پېر کې هـم ليـدل کېـږي. د (۱٦۰ز) شـاوخوا د يـوۀ اورتـون پاتې شونې د بغلان په سرۀ کوتل کې پيدا شوي چې د دې مدعا پخـلی کـوي. د نپکيانو په اړه زيات معلومات نه لرو او نه يې د اسلامي پېـر مؤرخـانو يادونـه کړې ده، يواځې د پخوانيو شواهدو لـه مخـه د دې نومورکـو پاچاهـانو د نـژاد، دين او کورنۍ څرک لګولای شو.

## ۵- د هندوکش د شمال امیران

د اوومې زېږدې پېړۍ په لومړۍ نیمايي کې د هندوکش په شمال او تخارستان ولایت کې تر بلخ او میمنې[۱] پورې توه‌کیو (د کوشاني- هفتلي اولاده) نژاده امیرانو واکمني درلوده چې مرکز یې کندوز و. هیونځانګ دا خاوره د (تو- هو- لو TO-HO-LO) په نامهٔ یاده کړې ده، چې د زر لی (هر لی= ۵۰۰ متره) په پراخوالي له شماله سوېل ته او درې زره لی اوږده له ختیځه لوېدیځ ته پرته وه. ۲۷ ولایتونه یې درلودل چې هر ځای د کندوز د خان یو تابع، واکمن و. پوهو یعنې بلخ یې کوچنی راجګړ (پاچاهي ښار) ګڼل کېدهٔ.[۲] بې شکه تو هو لو د سنسکرېت هماغه طخاره او د عرب لیکوالو تخارستان دی. د (۶۳۰ز=۹س) شاوخوا د تونګ یبغو مشر زوی (تاردوشاد TARDUCHAD) په کندوز کې واکمن و. هغه د خان طورفان زوم او دینپال - مېلمه‌پال پاچاه و، چې زوی یې زهر ورکړل او پر ځای یې کښېناست. دا پاچاه د کوچیانو غوندې و، پر یوهٔ ځای نه‌کښېناستهٔ او په یوهٔ ښار کې نه اوسېد.[۳] هیونځانګ وایي د کندوز د دې پاچاه په خاوره کې منګ- کن MUNG-KIN (منجان)، (او- لي – ني O-LI- NI) اهرنګ یا اوسنی حضرت امام، هو- لو- هو HO- LO- HO (راغ)، کی- لي – سي – مو KI- LI- SI- MO (کشم)، پو- لي- هو POLI-HO (بلور) هي- مو- تا – لو

---

[۱] - تخارستان په دې وخت کې پراخ و او تر میمنې او مروه‌رود پورې یې رانیول. بلاذري وايي تر دېرشم کال وروسته عبدالله ابن عامر، تخارستان ته احنف ابن قیس ولېږهٔ، هغه د احنف مانۍ ونیوه چې د مروه‌رود یو کوټ و (فتوح‌البلدان ۵۰۲) په دې جنګ کې د مروه‌رود او مرغاب له اوسېدونکو سره ترکان هم وو (۵۰۳) چې همدا د کوشان و هفتلي وګړو اولادونه دي.

[۲] - سي.یو. کی، د بیل ژباړه، لومړۍ او دولسم کتاب.

[۳] - پورتنی اثر دولسم کتاب او تاریخ افغانستان ۲/ ۴۹٤.

HI-MO- TA- LO (بدخشان) PO- TO-CHANG-NA پو- تو- چنګ- نه (درایم) KIU-LANG- NA کيو- لنګ- نه (يمګان) IN-PO- KIN ان- پو- کن (ګوران د کوکچې پورتنۍ سيمه) KWOH- SI- NO کو- زي- نو (خست) TA- MO- SI- TITI تا- مو- سي- تي تي (د ختلان شاوخوا) SHI- KI- NI شي- کي- ني (شغنان) او AN-TA- LO- PO ان- تا- لو- پو (اندراب) شامل وو.[1]

---

[1] - سي.يو. کی دولسم کتاب.

## ٦- تګينان

د لومړيو درېو اسلامي پېړيو په موده کې د افغانستان په تاريخ کې د ځينو اميرانو او واکمنو نومونه يادېږي، چې د نومونو په پای کِې يې د تِـګين TIGINکلمه ورزياتېږي.

دا لړۍ پاچاهان ښايي له يوې ځانګړې کورنۍ څخه نه وي؛ خو د هندوکش د شمال د اميرانو په څېر هغوی هم له کوشاني‌هفتلي وګړو څخه دي، چې تر اسلام د مخه د هندوکش شمالي خواوو او تخارستان ته راغلي او دلته يې د دې خاورې مليت، فرهنګ او تمدن منلی او د همدې هېواد له وګړو څخه شمېرل کېږي. ان د يوهٔ په نامهٔ يې د ارغنداب او هلمند د ناوو تر منځ د اوسني کندهار په لوېديځ کې يو ښار و، چې د غزنويانو په پېر کې يې هغه تګين آباد (تګناباد) بالهٔ او په پارسي او عربي تاريخونو کې يې نوم اخيستل کېږي.[1] د غزنويانو د پېر (٤٣٨-٥١٥ س) شاعر مسعود سعد سلمان د ارسلان پاچاه په ستاينه کې وايي:

چو ابر نصرت باريد چرخ فصل خزان
بهار گشت ز ملک تو در تگين آباد[2]

تِګين آباد ترکي کلمه ده، محمود بن‌حسين کاشغری (٤٦٦س) چې يو عالم او ترکي لغتپوه دی، په دې اړه وايي:

«د تګين لغوي معنی مريی او غلام دی او ترکانو به کمشتګين هغه غلام ته وايهٔ، چې څېره به يې د سپينو په څېر روښانه وه. آلب تګين د چالاک مريي او قتلغتګين د مبارک مريي معنی ښندي. دا نوم تر دې وروسته د خاقانيانو د اولادونو ځانګړی لقب

[1]- وګ: زين‌الأخبار، تاريخ بيهقي، يميني او ابن اثير. وګ: د تګين آباد د موقعيت ټاکلو لپاره په کابل چاپ آريانا مجله (پنځم کال شپږمه ګڼه) کې زما مقاله.
[2]- د مسعود سعد دېوان ١١٢.

وګرځېدۀ او تل يې د ژوبلورو الوتونکو له نومونو سره نښلاوۀ، لکه جغري‌تګين يعنې هغه تګين چې (سخته غوټه کوي) کج‌تګين يعنې پياوړی تګين. دا نوم لـه مريـانو او غلامانو څخه د افراسياب کورنۍ ته ولېږدېد او څه رنګـه چـې يـې د پلرونـو درنـاوی کاوۀ؛ نو په خطاب او ليکنه کې يې وويل:

«دې بنده داسې وکړل او هغسې يـې وويـل» دا تعبـير پـه لومړيـو کـې د نفـس د تواضع او د هغو د پلرونو د درناوي لپاره و؛ خو وروسـته دا نـوم د هغـو پـه مـنځ کـې خپور او ځانګړی شو.»[1]

همدا مؤلف د تِکِت کلمې په اړه وايي: چې د تګين ناقياسي جمع ده، چې آره معنی يې مريی دی او وروسته د خاقانيانو لقب وګرځېدۀ. اکاتِکِت د وګړو مشران او کوچکان د پاچاهانو زوذات دي.[2]

په دې ترتيب د تګين کلمې په خراسان او دري ادب کې د لښکرمشر او حاکم معنی درلوده، لکه فردوسي چې وايي:

تګينـــان لشـــکر ګزينـــان چنـــين　　برفتند يکسر بتوران زمين (۳/ ۲۰۱)
بکشـــت از تګينـــان لشـــکر بـــسی　　پذيره نيامدمر اورا کـــسی (۳/ ۲۲۰)

فرخي وايي:

همه خانان و تګينان و سواران دلـير　　داشتند از سپه او و ازو دست بـــسر[3]

همدغه د سلطان‌محمود په ستاينه کې وايي:

ګــــــاهی بــــــدريا در شــــــوی　　ګــــاهی بــــه جيحــــون بګــــذری
ګــه رای بګريــزد ز تــو، ګــه رام　　و ګـه خـان و تګـين (ديـوان۲۵۹)

---

[1] - ديوان لغات الترک، استانبول چاپ ۱۳۳۵س، لومړی ټوک ۳۴۷ مخ.

[2] - پورتنی کتاب ۱/ ۲۹۷.

[3] - ديوان فرخی، د تهران چاپ ۱۳۳۵ل، ۱۷٤ مخ.

ناصر خسرو قبادیانی (٤٨١س مړ) چې له ترکانو سره یو متعصب خراسانی سړی دی، د خراسانیانو له حاله په فریاد کې وایي:

بــه پــیش ینــال و تگــین چــون رهــی    دوانند یکسر غنــی و فقـیر (دیـوان ١٩٢)

بیا وایي:

هـــر چنـــد مهـــار خلـــق بگرفتنـــد    امروز تگین و ایلک و یبغو[١] (دیوان ٣٨٠)

د (١٣٤س=٧٥١ز) په شاوخوا کې چې ووکونګ چینایي کارپوه ګندهارا او تخارستان لیدل، هغه د (ته- له- ته- له – تي)= تحن په لقبونو د ګندهارا په شاوخوا کې د امیرانو معلومات ورکوي، چې په غالب ګومان هماغه تِجِن یا تګین‌شاهان به وي، چې سیکې یې هم موندل شوې دي.[٢]

دا تګینان چې پر تخارستان او کندوز یې واکمني وه، داسې ښکاري چې د چین د نانګانو د زور له امله یې د هندوکش سوېل ته پناه راوړې او د اتمې زېږدې پېړۍ تر دویمې نیمایي پورې به یې په ګندهارا کې کوچنی امارت جوړ کړی وي. کله چې ووکونګ چینایي ګندهارا ته راغی او دلته رنځور شو، پاچاه، ملکه او وزیران یې د بودایي عبادتځیو په جوړولو او بیارغولو بوخت ولیدل؛ نو له دې څخه جوتېږي چې بودایي دین او هنر تر دغه وخته پورې په همدې خاوره کې ادامه درلوده. ډاکټر لارډ د تګینانو څلوېښت سیکې د هندوکش په شمال کې موندلې او کننګهم د هغو نورې دېرش له کابله تر لاسه کړې وې، چې په دې خاوره کې د دې ډلې پاچاهانو د شتون پخلی کوي.[٣]

یو شمېر مؤرخان اټکلوي چې ښایي د تګینانو لومړی پاچاه د البېروني په کتاب‌الهند کې یاد شوی برهاتګین وي، چې د یونانیانو تر ماتې وروسته به په ختیځ کې د هغوی پر ځای ناست وي. ریناود د بره BARH یا برهه BARHA له کلمې‌سره

[١] - تګین، ایلک او یبغو درېواړه د ترک امیرانو القاب وو.

[٢] - تاریخ افغانستان ٢/ ٥٠٥.

[٣]- پورتنی کتاب ٢/ ٥٢٠.

فرهها تهسه PHARAHTASSA ته اړیکه ورکوي، چې د اکلمه لیسن او ویلسن د ګریکو بربرین GRECO- BARBARIAN پر ځینو سیکو لوستې ده او په یوناني کې پر فراتس PHARAATES اوښتې ده.[1]

البېروني دا پاچاهان تبتي ترکان ګڼي، دا د کوشاني هفتالي آریایي قبیلو د اصل لېرد تعبیر دی او بیا وایي: د هغو لومړی برهتګین دی.

هغې سمڅې ته د برهتګین ننوتل چې د البېروني په پېر کې بفر[2] نومېده او په کابل کې وه او بېرته له چېنې، خولۍ، موزو او وسلې سره د هغهٔ راوتل فولکلوري او داستاني اړخ لري. البېروني وایي د برهتګین له اولادونو څخه تر (۶۰) کسانو پورې واکمني کړې ده او د نغرکوټ په کلا کې یوه وریښمینه ټوټه وه، چې د دې واکمنو شجره پرې کښل شوې وه.[3]

د چینایي اسنادو له مخه څرګنده ده چې: د دې واکمنو اولادونه د اسلامي لښکرو تر بري پورې په دې خاوره کې وو، ځکه چې د چین سترواکمن کاو-څانګKAO-TSONG (۶۵۰-۶۳۸ز= ۳۰-۶٤س) پر (٤۰س=۶۶۰ز) کال په ګندهارا کې د دې لړۍ د یوهٔ پاچاه په نامهٔ فرمان ورکړی و او هغهٔ هم په (۱۰۰- ۱۰۹س= ۷۱۸ او ۷۲۷ز) کې د چین له سترواکمن منګ‌هوانګ MING- HOUANG سره لیک رالیک درلود او په هغهٔ مکتوب کې یې - چې په ۱۰۰س ۷۲۷ز کې یې د نوموړي سترواکمن په نامهٔ لېږلی - پر تخارستان د عربي لښکرو یرغلونه یادکړي دي.[4]

د هغې شرحې له مخه چې البلاذري یې ورکوي، د حضرت‌عثمانﷺ په پېر کې چې عبدالله بن‌عامر د خراسان والي و، د هغه له خوا قیس بن‌هیثم د تخارستان ټوله سیمه په سوله ونیوله او تر سمنجان (سمنګان= اوسني ایبک) پورې ورسېد. څه رنګه

---

[1]- د هند پر تاریخ د هودیوالا نښلونې ۲/ ٤۰۸

[2] - د هند په حیدرآباد کې د کتاب‌الهند د چاپ نسخې په (۳٤۸مخ) کې د دې سمڅې نوم بفر چاپ شوی چې پر (ف) باندې یې درې ټکي ایښي دي؛ نو معلومه ده چې په خطي نسخه کې داسې وه او باید د یوه داسې بړغ استازي وکړي چې د (ف- و) تر منځ وي؛ خو د ایلیوټ په ژباړه (تاریخ هند۲/ ۱۰) کې BAKAR دی؟

[3] - کتاب‌الهند ۳٤۹.

[4] - تاریخ افغانستان ۲ /۵۳۳.

چې يې د دې ځای خلکو مخنيوی وکړ، هغوی يې کلابند کړل او د مټ په زور يې ونيو. د حضرت‌عثمان تر شهادت د مخه عبدالله بن‌خازم د خلکو هغه ډلې وځپلې چې په خراسان کې سره راټولې شوې وې او بصرې ته لاړ.[1]

دا چې حضرت‌عثمان د (۳۵ س) کال په ذوالحجه کې شهيد شوی، نو د پاچاهانو د دې لړۍ پراخه واکمني د هندوکش پر شمالي ولايتونو له سمنگانو څخه تر مروې سيند او ميمنې پورې څرگنده ده. ښايي چې نيزک هم له دې خلکو څخه وي او د تگين د نامۀ له اشتراکه دا هم اټکلېدای شي چې بلکاتگين، الپتگين او د غزنويانو د لړۍ د بنسټگر سبکتگين نور نيکونه به هم د دې خلکو اولادونه او يا به يې ترمنځ څه اړيکه وي، لکه چې بيهقي وايي: سبکتگين نوی مسلمان او په خپله يې اسلام منلی و[2] نو له دې څرگندېږي چې د هغۀ نيکونه به په غزني کې مسلمانان نه وي او يا به يې د سبکتگين په څېر اسلام نوی منلی وي (وگ: د دې کتاب په بل ټوک کې د غزنويانو څېرکی.)

د عباسي خليفه المهدي (۱٦٤س) د همپېرو پاچاهانو په ډله کې اليعقوبي د تخارستان د پاچاه نوم شروين يادوي، چې نوموړي خليفه ورته استازی ورلېږلی او خپل اطاعت منلو ته يې رابللی و.[3] څه رنگه چې شروين داسې نوم دی، چې هماغه د شار، شېر او شاه ريښه لري؛ نو ويلای شو، چې دا اميران هم له هماغو کوشان و هفتلي بومي خلکو څخه دي، چې تر اسلام پېرۍ پېړۍ پخوا په همدې سيمه کې مېشت او ځايي اوسېدونکي وو. په ثقافت، دين، ژبه او ټولنيزو آدابو کې په بشپړ ډول خراسانيان وو.

## نيزک NIZAK او شاد

د اسلامي سوبو په لومړيو کې د افغانستان په شمالي سيمو کې د نيزک يا نيزک طرخان نوم هم يادېږي. په عربي تاريخونو کې لومړی ځل هغه هلته يادوي، چې په ۳۱س کال کې د ساسانيانو وروستی پاچاه يَزدگِرد بن‌شهريار د عربو بريدگرو

[1] - فتوح‌البلدان ۵۰۵.

[2] - تاريخ بيهقي ۱/ ۱۰۳.

[3] - تاريخ‌اليعقوبي ۲/ ۳۹۷.

له لاسه ماتې خوړلې او مروې ته تښتېدلی و.

په دې وخت کې د مروې پوله‌ساتی ماهویه بن‌مافناه بن‌فید نومېدهٔ، چې زوی یې (براز) د هغه استازی و.[1]

کریستېن‌سن وایي دا مهال په تخارستان کې یبغو (په عربي کې جبغویه) واکمني کوله چې د کوشاني پاچاهانو پخوانی لقب و- یو امیر یې تر لاس لاندې و، چې هغه یې شاذ (د خشایثیا یعنې پاچاه له ریښې څخه) بالهٔ او نیزک طرخان چې په بادغیس کې واکمن و، همدا شاذ یې خپل بادار مانهٔ.[2]

داسې برېښي چې نیزک به د یوهٔ کس نوم نه وي، بلکې واکمنان به وي، چې د تخارستان د یبغو تر لاس لاندې یې د امو ناوې پر سوېلي سیمو واکمني کوله. ځکه موږ د دې پېر په تاریخ کې لومړی ځل د نیزک طرخان نوم په ۳۱س کال کې د یزدگرد د وژلو په داستان کې اورو، چې د مروې پوله‌ساتي ماهویه د نیزک‌طرخان په مرسته دا پاچاه وژلی و.[3] په تاریخ کې یې وروستۍ یادونه هماغه ده چې په ۹۱س کې په تخارستان کې د عربي حاکم قتیبه بن‌مسلم باهلي په امر ووژل شو.[4]

له ۳۱- ۹۱ کال پورې ٦٠ کاله واټن دی او که چېرته په ۳۱ کال کې نیزک فعال او ځواکمن واکمن وګڼو؛ نو هرومرو باید ۲۵ کلن وي، چې د بدخشان په اشکمش کې د وژنې پر مهال (۹۱س) ۸۵ کلن و؛ نو ستونزمنه برېښي چې یو کس دې تر (۷۰) کالو زیاته واکمني وکړي او د عمر په پای ۸۵ کلنۍ کې هم دومره کارند، جنګي او زور ازمایونکی وي، چې د عربو له ځواکمنو لښکریانو سره دومره وخت ډلې چمتو کړي او هم دې میاشتې میاشتې د (کرز) غرهٔ په یوه څنډه کې په لوړه او تنده مقاومت وکړي.

نو په قوي اټکل سره ویلای شو چې نیزک هم د یوې کورنۍ یا د واکمنو د لړۍ

---

۱ - طبري ۳ /۳٤٤ خو براز کلمه د وراز یوه بڼه ده، چې ورازبندګ او شهربراز هم د هغهٔ مهال القاب دي او وراز= ګراز خوک دی (ساسانیان کریستېن‌سن ٤۸۲).

۲ - ساسانیان عربي ژباړه۴۸۲. پته دې نه وي چې شاذ د دري ژبې اصیله او پخوانۍ کلمه ده.

۳ - فتوح‌البلدان د بلاذري ۳۸۸، د ابن اثیر الکامل ۳۵۸ د قاهرې چاپ، ۱۳۰۱س.

٤ - طبري۲۳۵/۵.

لقب دی، چې د اسلامي پېر په لومړيو کې يې له تخارستانه تر مروې پورې ولکه وه. ابن خرداذبه د ترکو د کوچنيو پاچاهانو په ډله کې د نيزک نوم هم يادوي.[1]

د يزدګِرد هممهال نيزک (۳۱س شاوخوا) - چې عربي مؤرخانو يې لښکريان کوشاني‌هفتلي عناصر ګڼلي دي - د يزدګرد لور وغوښته؛ خو ساساني شاهزي په يوۀ ليک کې هغه خپل مريی وګاڼۀ او دې خبرې ته يې غاړه کېنښوده. له دې امله نيزک په ګناباد (جنابذ چې په طبري کې په جليند اوښتی دی) کې په هغه بريد وکړ، يزدګرد مروې ته وتښتېد، ژرندې ته ننووت او د ژرندګړي په لاس ووژل شو.[2]

بيا د نيزک يادونه په (۸٤س) کال کې ليدل کېږي، چې يزيد بن‌مهلب يې په بادغيس کې کلا ونيوله، نيزک د کلا خزانې هغۀ ته وسپارلې او د عربو له لښکرو سره يې سوله وکړه.[3] په (۸۷س) کې کله چې د اموي وليد بن‌عبدالملک له خوا قتيبه بن‌مسلم باهلي د خراسان والي وټاکل شو، همدې نيزک د مسلمانانو بنديانو يوه ډله خوشې کړه او قتيبه ته يې ورولېږله. هغۀ سليم ناصح وګومارۀ چې نيزک غاړې ايښودنې ته راوبلي. نيزک تر تړون وروسته له قتيبه سره په دې شرط سوله وکړه، چې بادغيس آزاد پرېږدي او دلته رانۀ شي.[4] تر دې وروسته نيزک په (۸۸س) کال کې د امو د شمالي سيمو په جنګونو کې له قتيبه سره ملګری ومو[5]. په دې جنګونو کې قتيبه د سغد له پاچاه طرخون سره د فديې او برمتې په ورکولو سوله وکړه؛ خو نېزک چې غوښتل يې خپل شمالي سيال د عربو پر ځواکونو مات کړي، په دې پېښې خواشينی شو. طبري وايي خپلو ملګرو ته يې وويل: دا عرب د سپي غوندې دي، که يې وهې دولی وهي او که ډوډۍ وراچوې نو لکۍ وهي. که پر ضد يې وجنګېږې او بيا څه ورکړې، نو خوشحالېږي او ټول هېروي؛ ښه دا ده چې يې پرېږدو.[6]

---

[1] - المسالک و الممالک، د ليدن چاپ ۴۱، ۱۳۰٦س.

۲ - فتوح‌البلدان ۳۸۸ او طبري۳۴٦/۵.

۳ - طبري۵/ ۱۸٦ او الکامل۴ /۲۴۰.

٤ - پورتنی اثر ۵/ ۲۱۸ او الکامل۴/ ۲۵۳.

[5] - فتوح ۵۱۷ او طبري۵/ ۲۲۳.

[6] - پورتنی اثر ۵/ ۲۲۹.

نیزک په آمل کې له قتیبه څخه اجازه واخیسته او له واره یې تخارستان ته مخه کړه. کله چې د بلخ د نوبهار عبادتځي ته ورسېد، هلته په نښواتو او عبادت بوخت شو؛ خپلو ملګرو ته یې د قتیبه د پښېمانۍ وویل او وېراندوینه یې وکړه چې هغوی ورپسې دي. دا خبره رښتیا شوه او قتیبه چې مغیره بن‌عبدالله د نیزک د نیولو لپاره ګومارلی و، د بلخ بروقان ته راورسېد؛ خو نیزک ځان په ډېرې چټکۍ سره خلم درې ته ورساوۀ او د قتیبه او عربي لښکرو پر وړاندې راپورته شو.[1]

## د نیزک پاڅون او د ټلوالې جوړېدا

نیزک د تخارستان د بوډا الشذ[2] جبغویه تر لاس لاندې و، ځرنګه چې یې په دې خوځښت کې هغه په خپل مخ کې خنډ لیدۀ؛ نو تر ټولو د مخه یې الشذ ونیوۀ او د سپینو

---

۱ - طبري۵/ ۲۲۹.

۲- همدارنګه په طبري کې دا د هماغۀ شاذ معربه بڼه ده چې مخکې مو شرحه ورکړه او عربي الف لام پرې داخل شوی دی. دا د دې خاورې ډېره اصیله کلمه ده، له بهره نه ده راغلې. اصل یې دري تخاري دی چې موږ د دې مطلب لپاره کلک دلایل لرو، په دې ډول: د طبري الشذ له شک پرته الشاذ= الشاد دی او که عربي الف لام ترې لیرې کړو شاد کلمه پاته کېږي او دا شاد په دري تخاري کې د شاه په معنی و، نه د پارسي او سنی شاد چې له پهلوي شات څخه راوتی دی. په اوستا کې شاته= شیاته و.

د دري تخاري ډبرلیک له مخه- چې د بغلان له سرۀ کوتله تر لاسه شوی او په ۱۶۰ز شاوخوا پورې اړه لري- ځرګنده ده چې په هغې ژبې کې تر الف وروسته ځینې دال پای کلمې موجودې وې، په اوسنۍ پارسي او پښتو کې یې وروستی دال په (هـ) اوښتی دی، لکه ساد چې وروستی دال یې په (هـ) اوښتی؛ نو په پارسي کې ترې (چاه) او په پښتو کې ترې (څاه) کلمه جوړه شوې ده. ځرګنده ده چې کله دا وروستۍ (هـ) هم حذف او تخفیف کېږي، نو په پښتو کې ورته (څا) وایو چې جمع یې په لومړۍ بڼه (څاهان) اوپه دویمه بڼه (څاګانې) راځي. بېلګه یې د بغلان په ډبرلیک کې د (تاد) کلمه ده چې اوس په پارسي او پښتو کې (تا) د نهایت وروستاړی له هغې څخه پاتې دی. اوس که د (شاد) کلمه د همدې حذف او تخفیف تر قانون لاندې ونیسو له هغې څخه (شا- شاه) منځته راځي چې د همدې بغلان په کتیبه کې د (شا) کلمه د پاچا په معنی ډېر ځله کارېدلې ده (وګ: زما تألیف مادر زبان دری، د کابل چاپ ۱۳۴۲ل).

له دې ژبنۍ تاریخي مطالعې څخه دې پایلې ته رسېږو، چې د پاچا په معنی د شاد کلمه تر زېږد دمخه په تخاري ژبه کې موجوده وه، خو د لومړۍ زېږدي پېړۍ شاوخوا د (شا) په بڼه سپکه شوې او د بغلان په ډبرلیک کې په همدې بڼه راغلې ده؛ نو د کلمو پخوانۍ بڼه کله په مرکباتو کې خپل اصالت او بڼه ساتي، چې له هغې جملې څخه همدا پخوانۍ (شاد) کلمه د پاچا په معنی د خراسان په ځینو لرغونو نومونو کې پاتې ده، لکه محمشاد= ممشاد (محمد شاد= اوسنی محمد شاه) او احمشاد= احمد شاد= اوسنی احمدشاه.

پټه دې نه وي چې د شاد کلمه په تخارستان کې د اسلامي پېر تر لومړیو پورې په خپلې هماغې پخوانۍ بڼې وساتل شوه. هیونڅانګ وایي په (۹ س) کې په کندز کې د تاردوشاد په نامۀ د تونګ‌یبغو مشر زوی واکمني کوله (وګ: لومړی څپرکی، د هندوکش د شمال امیران) چې د دې پاچا اصل نوم (تاردو) او دوهم جز یې همدا (شاد) دی او ټول تاردوشاه دی.

زرو په زنځیر یې وتاړۀ. د قتیبه حاکم محمد بن‌سلیم ناصح یې له تخارستانه وشاړۀ. د دې لپاره چې د عربو مخې ته ټول ملي ځواکونه سره یو موټی او مجهز کړي، د خُلم درې (تاشقرغان) دې خوا ته یې مرکز جوړ کړ د هغۀ مهال ټولو امیرانو او مشـرانو تـه یې- چې د هېـواد پـه شـمال کـې یـې واکمنـي درلـوده- لیکونـه ولیکـل او د قتیبـه د مخنیوي لپاره یې د ملي ځواکونو راټولولو ته راوبلل. څرنگه چې د ژمي موسم و، نـو ټولو ملي مشرانو د مقابلې اوجنگ لپاره پسرلی مناسب وگانۀ، مشران دا وو:

۱- د بلخ اسپهبد (دا مهال د بلخ حاکم په دې لقب مشهور و).

۲- د مروه‌رود دهقان باذام (دهقان د ملي مشر لقب و).

۳- د تالقانو سهرک دهقان.[۱]

٤- تُرسل د فاریاب دهقان (د اوسنۍ میمنې شاوخوا)

۵- جوزجانی د جوزجان (اوسني سرپل) دهقان.

خو د هندوکش دې خوا چې د کابلشاه واکمني وه، نیزک هغه هـم پـه دې مـلي ټلواله کې گډون ته راوبالۀ او ژمنه یـې تـرې واخیسـته چـې کـه پـه شـمال کـې مـلي ځواکونه د عربو له خوا پر شا شي، باید کابلشاه ورته په خپله خاوره کې پناه ورکړي.

کابلشاه دا ټول شرطونه ومنل او نیزک خپل درانده مالونه کابـل تـه ولېـږل. قتیبـه چې کله له دې ترتیباتو خبر شـو، سـخت ژمـی رارسـېدلی و، نـو د کـار ختمـول یـې راتلونکي پسرلي ته پرېښودل او په بېړه یې خپل ورور عبـدالرحمن لـه ۱۲ زره لښـکر

---

۱ - دا نوم د طبري په همدې پنځم ټوک کې سهرب چاپ شوی دی.

سره د بلخ په دوه فرسخۍ (بروقان) کې ځای پرځای کړ. په خپله په (۹۰س) کال کې د تالقانو له واکمن سره ونښت، چې له نیزک سره یې په پوځي تړلواله کې د ګډون ژمنه کړې وه. ډېره مرګ ژوبله یې واړوله او د څلورو فرسخو په واټن یې په سولۍ شوي جسدونه وځړول.[۱]

چې د یخنۍ موسم تېر شو په (۹۱ س) کې قتیبه د مروه‌رود، فاریاب، جوزجان او تالقانو پوله‌ساتي تابع کړل او له ډېرو ځواکونو سره - چې له نیشاپور او نورو ځایونو څخه رارسېدلي وو - د بلخ خوا ته وخوځېد. د بلخ اسپهبد هم مقاومت ونه کړای شو.

نو د نیزک ځواکونو په خلم دره کې سخت جنګونه وکړل، د خلم ښار (اوسنی تاشقرغان) چې د درې دې خوا ته پروت دی، د نیزک د مدافع ځواکونو مرکز و. د قتیبه ځواکونو چې (د تاشقرغان تنګي) له دې ورۀ پرته بله لاره نه درلوده او د دې خاورې له جغرافیایي وضعیت او لارو سره هم اشنا نه وو، نو څه وخت همدلته پاتې شول.

له بده مرغه د دې خاورې له خانانو یو چې روب‌خان یې بالۀ او د روب او سمنګانو مشر و، د ځانژغورنې په هیله قتیبه ته راغی او چې د امن ژمنه یې تر لاسه کړه؛ نو بیا یې د لښکري کلا نتوتځی ور وښود، چې د درې بلې خوا ته و.

په دې ډول د روب خان د بې همتۍ په پایله کې د نیزک لومړنی د فاعي سنګر د خلم په ورۀ کې مات شو او د عربو لښکرې په سمنګان ور مارش شوې. نیزک د بغلان په پنج‌چاه کې مقاومت کاوۀ، چې سیال یې ځواکمن ولیدۀ نو خپل درانده مالونه یې کابلشاه ته ورولېږل او په خپله یې کرز غرونو ته پناه یووړه. په داسې حال کې چې د قتیبه ورور عبدالرحمن ورپسې و، قتیبه په خپله په اسکیمشت (غالباً د تالقانو اوسنی اشکمش) کې واړول. څرنګه چې کرز درې له یوې لارې پرته بل نتوتځی نه درلود، نو تر دوو میاشتو پورې عرب بریدګرو د هغې د نیولو توان نه موندۀ.

په دې موده کې د خوراکي توکو کمښت او د ننکیو ناروغۍ خپرېدا په کرز کې د نیزک لښکر او ملګري ګواښل، ان په بوډا جبغویه (یبغو) باندې هم ننکۍ راوختې. قتیبه یو چم دا وسنجاوۀ، چې سلیم ناصح یې نیزک ته ورولېږۀ او ویې ګواښۀ که نیزک رانه ولي نو په دار به یې وځړوي.

---

[۱]- طبري ۵ / ۲۳۰.

د قتیبه تمځی د هغهٔ د ورور عبدالرحمن له لښکري تمځي دوه فرسخه لیرې و او سلیم ناصح د قتیبه له سپارښتنې سره عبدالرحمن ته ورغی، له هغه ځایه یې ډېره ډوډۍ او حلوا واخیستل، د عبدالرحمن کسان یې د کرز درې په خولهٔ کې وګومارل او ویې ویل:

هر وخت چې نیزک له ما سره یوځای ووینئ؛ نو سم له واره زموږ او د درې د خولې په منځ کې خنډ شئ او لښکریان په ډوډۍ او حلوا بوخت کړئ!

سلیم له داسې کاري نقشې سره نیزک ته ورغی او هغه یې د پناه او امان په هیله د قتیبه اطاعت ته راوبالهٔ، نیزک تسلیم شو، له هغهٔ سره له درې را ووت او سلیم ته یې وویل:

هیڅوک نه پوهېږي چې چېرته مري؟ خو زه پوهېږم چې قتیبه ما وژني.

په هر حال، د کرز درې د کلابند ځواک مقاومت پای ته رسېدلی و او د نیزک وروستۍ جوپه له بوډا یبغو او د نیزک له وربرونو صول او عثمان او د یبغو د مرستیال صول طرخان او د نیزک د امنیت د منصب دارانو خنس او طرخان سره له کرزه راووتله. کله چې د عبدالرحمن تمځي ته راورسېدل ټول یې زنځیر زولانه کړل. قتیبه معاویه بن‌عامر علیمي د کرز په دره کې د نیزک د شتمنیو په لوټلو وګومارهٔ او حجاج ته یې لیک ولیکه، ٤٠ ورځې وروسته ځوابي لیک راورسېد چې د نیزک د وژلو امر په کې شوی و.

قتیبه د امان له ژمنو او تړونونو سره هم- چې له نیزک سره یې کړي وو، د قتیبه لښکرمشرانو نه هېرول او په عسکري غونډو کې به یې یادول- دا ټول شاوخوا دولس زره نیزکیان ووژل. نیزک یې د هغهٔ له دوو وربرونو سره د اشکمش په وخش‌خاشان چینه کې په دار وځړاوهٔ. د نیزک سر د حجاج دربار ته ولېږل شو. مغیره بن‌حبناء دا داستان په یوه اوږده بولله کې ووایهٔ چې دا بیت د هغې دی:

لعمری لنعمت غزوة الجند غـزوةً    قضت نحبهـا مـن نیـزک و تعلـت

د نیزک ټوله شتمني او سامانونه قتیبه ولجه کړل. تر دغو ټولو یې په موزیم کې ګرانبیه غمی و، هغه هم د قتیبه لاس ته ورغی. یبغو یې پرېښود او په شام کې یې د ولید دربار ته ولېږهٔ[1]

---

[1] - طبري ٥/ تر ٢٢٥ وروسته، البلدان د یعقوبي ٦٠، الأنساب د عبدالکریم سمعاني ٢١٢ پاڼه، د بریل چاپ ١٩١٢ز، د ابن اثیر الکامل تر ٣/ ٢٤٦- ٤/ ٢٦٣ وروسته.

د نيزک د خوځښت داستان چې د تخارستان وروستی مدافع کس و، په دې ډول پای ته ورسېد. د نيزک نوم د تخاري ژبې له هغو ځايي نومونو څخه بريښي چې هلته دود وو. د ساري په ډول په (۱۲۱ س) کې چې نصر بن‌سيار په ماوراءالنهر کې پر لښکرکښيو پيل کاوۀ، په شاش (اوسني تاشکند) کې يې د عمرو العاص مريی، نيزک بن‌صالح گومارلی و.[١]

داسې بريښي چې د ۹۱ س کال وژل شوي نيزک به اسلام نه وي منلی، ځکه کله چې د قتيبه له لښکر ځنې جلا شو او د بلخ نوبهار ته ورسېد، هلته يې د لمانځنې مراسم ترسره کړل. څرنگه چې په دې وخت کې نوبهار د بودايي دين د اربابانو عبادتځی و، نو بايد په خپله نيزک مسلمان ونه گڼو، په داسې حال کې چې د وراره عربي نوم يې عثمان دی او ښايي مسلمان شوی وي.

اليعقوبي ليکي: چې نيزک مسلمان او نوم يې عبدالله ايښودل شوی و[٢] خو ښايي دا اسلام منل يې هم اجباري وي او کله چې يې د قتيبه له اطاعته سر وغړاوۀ نو خپل پخواني دين ته به گرځېدلی وي.

يعقوبي د نيزک د مېرمن له خولې يوه په زړۀ پورې خبره رانقلوي، چې له سوبمنو څخه د دې خلکو د کرکې او ورته د نه تسليمۍ روحيه په ډاگه کوي، وايي: «د نيزک او د هغۀ د خوريي سرونه يې تر پرېکولو وروسته حجاج ته ولېږل، قتيبه د نيزک کونډه په نکاح کړه، کله چې يې له هغې سره د يوځای کېدو تکل وکړ، د نيزک کونډې وويل: څه ناپوه سړی يې! تۀ گومان کوې چې گڼې خوښېږې مې، زما مېړۀ دې هم ووژۀ او د هغۀ پاچاهي دې هم ونيوه! قتيبه چې دا خبره واورېده له هغې ليرې شو او ويې ويل: هر ځای چې دې زړۀ وي هلته لاړه شه».[٣]

---

١ - طبري ٥/ ۴۹۵. ښايي همدا نيزک وي، چې موږ يې د ابومسلم په داستان ۱۳۷س کې يادونه مومو او په درېيم څپرکي کې به يې راوړو.

٢ - تاريخ‌اليعقوبي ٢/ ٢٨٦.

٣ - پورتنی اثر ٢/ ٢٨٦.

## ۷- د باميانو شېران

په غالب گومان دا لړۍ پاچاهان به هم د کوشاني هفتليانو زوذات وي، چې په باميانو کې يې واک چلاوۀ، پر بودايي دين گروهمن وو او د عربو تر سوبو وروسته مسلمانان شوي دي.

په (اې) سره په پارسي کې د شېر کلمه د مشهور ځېروونکي حيوان زمري په معنی ده. له همدې امله عربي مؤرخان چې کله د افغانستان د دې سيمه‌ييزو واکمنانو په اړه گړېږي همدا معنی يې ترې مراد ده. عربي مؤرخ اليعقوبي وايي پر باميانو يو دهقان سړی واک چلوي چې هغۀ ته اسد او په پارسي کې شېر وايي.[1]

خو د نويو ژبڅېړنو او د اوسنيو ژبپوهانو په اند د شېر او شار کلمه (چې تر دې وروسته پرې بږغېږو) له شاه او شهر سره همريښه ده، چې له پخوانۍ آريايي کلمې کشتريه (پوځي پوړ) څخه جوړه شوې او معنی يې هماغه پاچاه او واکمن دی.[2]

کريستېن‌سن وايي شهرگ او شېر د خشې يا خششرا يا خشتريا له ريښې اخيستل شوي چې په اوستا کې د پاچاه، امير او هېواد په معنی وه.[3]

تر هغه ځايه چې رامعلومه ده، د باميانو شېر تر ټولو پخوانۍ يادونه د موسی خورني (٤٨٧ز مړ) په جغرافيه کې شوې ده، چې ارمني تأليف يې تر (٥٧٩ز) وروسته گڼي. د دې پخوانۍ جغرافيې په خراسان ولايت کې شېرې

[1] - البلدان ٥١.

[2] - دايرةالمعارف اسلامي، د مارکوارت د ايرانشهر په حواله.

[3] - ساسانيان، عربي ژباړه ۴۸۲.

بامیکان یاد شوی دی.[۱]

د اسلامي پېړیو په لومړیو کې دا نوم پر بامیانو سربېره په نورو نږدې او ګاونډیو سیمو کې هم لیدل کېږي، لکه چې د تاریخ بخارا مؤلف ابوبکر محمد بن جعفر نرشخي (۲۸۱ - ۳٤۸ س) په پخوانیو زمانو کې د بخارا ښار بنسټګر شاهزی شېر کشور بن قراجورین یغبو ګڼي.[۲] دا دواړه کلمې شېر او کشور بیا هم له خپلې هماغې پخوانۍ ریښې سره اړیکه لري چې یادونه یې وشوه.

لکه چې تر دې وروسته راځي د شېر لقب د سیستان په صفاري کورنۍ کې هم لیدل کېږي، په (۹س=٦۳۰ز) کې چې کله چینایي سیلاني هیونڅانګ بامیانو (فان ین نه) ته ورسېد، د خلکو دود دستور، پیسې او ژبه یې تخارستان ته ورته وو، چې بودایي دین او کوچنی مذهب یې درلود. د دې ځای پاچاه په دې دین سخت ټینګ و. په لویه دیني غونډه (موکشامهاپرشاد) کې چې هر پنځه کاله وروسته به د بودایي دین د اوامرو په اړه جوړېده، له خپلو مېرمنو او اولادونو سره ګډون کاوهٔ، ان دولتي خزانه به یې وربخښله.[۳] شامن - هویي - لي SHAMAN - HWUI – LI د هیونڅانګ مرید چې د هغه «ژوندلیک» یې کښلی دی، وایي چې د بامیانو پاچاه هیونڅانګ خپلې ماڼۍ ته وبالهٔ او مېلمستیاوې یې ورته وکړې.[٤] موسیوګدار و هاکن لیکي چې تر (۷۲۷ ز ۱۰۹ س) چې چیني سیلاني هوی‌تچاو HOUEI - TCHEAO د سي- یو (کابل) له لارې فان ین (بامیانو) ته راغی، په دې وخت کې یو کس هو HOU (تاجیک) پر دې ښار خپلواکمني چلوله، ډېر پلي او سپارهٔ غښتلي لښکریان یې درلودل.[٥]

---

[۱] - تاریخ تمدن ساسانی، د سعید نفیسي ۱/ تر ۳۲۰ وروسته، د تهران چاپ ۱۳۳۱ل.

[۲] - تاریخ بخارا، د احمد ابن محمد قباوي پارسي ژباړه او د محمد بن زفر لنډون ٦مخ، د تهران چاپ، ۱۳۱۷ل.

[۳] - سي ـ یو ـ کی، لومړی کتاب، د بیل ژباړه.

[٤] - تاریخ افغانستان ۲/ ۵۱۴.

[٥]- آثار عتیقهٔ بامیان ۸٦، د کابل چاپ.

لکه چې لرغونپوهان څرګندوي په ۱۹۳۰ز کې د باميانو په کرک دره کې د يوۀ عبادتځي پر دېوالۀ د يوۀ پاچاه انځور پيدا شوی چې اوس په کابل موزيم کې دی، همدا انځور د هغۀ پاچاه له بنې سره ورتهوالی لري چې پاچاهي جامې او خول لري او د باميانو د ۵۳ متره بت په تاقچه کې کيندل شوی او د باميانې شېرانو په يوۀ کس پورې- چې پر خپل خول يې درې اوږمکی او درې کړی دي- اړه لري. مسيوهاکن له غزني څخه يوه سيکه تر لاسه کړې چې همداسې خول لري. د هغۀ په نظر د باميانو د شېرانو دا لړی له پنځمې زېږدې پېړۍ څخه هلته موجوده وه.

اصطخري وايي، چې باميان د بلخ د نيمايي هومره دی او دا هېواد د بامياني‌شېرانو ګڼل کېږي.[۱]

اليعقوبي احمد بن‌واضح (تر ۲۹۲ س وروسته مړ) شېر د باميانو پاچاه ګڼي، چې عباسي خليفه المهدي په ۱٦٤س کال کې د نورو پاچاهانو په ډله کې هغه خپل اطاعت ته رابللی او استازی يې ورلېږلی و.[۲]

ابن‌خرداذبه ابوالقاسم عبيدالله (۲۳٤ س شاوخوا) هم د خراسان او ختيځ په پاچاهانو کې د باميانو پاچاه ته شېر وايي.[۳] ابوريحان البېروني (٤٤۰ س مړ) د القابو په لښتليک کې د باميانو شېر راوړي[٤] او ابوالقاسم ابن‌حوقل (۳٦۵ س شاوخوا) وايي چې د باميانو هېواد د باميانې شېر ګڼل کېږي.[۵]

د دري پخوانيو شاعرانو هم د باميانې شېر دا لقب پېژاندۀ، منوچهري وايي:

پيش از همه شاهانست در ماضی و مستقبل
بيش از همه شيرانست در شيری و در شاری
(ديوان ۱۰٤)

---

[۱] - مسالک الممالک ۲۸۰.
[۲] - تاريخ‌اليعقوبي ۲/ ۳۹۷.
[۳] - المسالک و الممالک ۳۹.
[٤] - آثارالباقيه ۱۰۲.
[۵] - صورت‌الأرض ۲/ ۴۴۹.

ناصر خسرو قبادیانی (٤٨١ س) یو بیت لري، چې د هغهٔ دېوان چاپوونکو مسخ کړی او زه یې داسې لولم:

مر طغرل ترکمان و جغری را بابخت نبود و بامهی کاری
استاده بُد به بامیان شیری بنشسته بعز در بشین شاری

چې په دې وروستي بیت کې یې بپامیان او دربشیر؟ بې معنی کلمې چاپ کړې دي.[1] ناصر خسرو د سلجوقیانو په بري افسوسونه کوي، وایي چې تر هغو د مخه دلته خپل پاچاهان وو او په بامیانو کې شېر ولاړ او په بشین (د غرستان پلازمېنه) کې شار پر پلاز ناست و.

عبدالحی بن‌ضحاک گردېزی (٤٤٠س شاوخوا) د بهرام‌گور په داستان کې په هند کې د شېرمه یادونه کوي چې خپله لور یې بهرام ته ورکړې وه.[2]

او دا شېرمه د لوی او غټ زمري معنی لري، چې مسعودي یې هم یادونه کړې او د بامیانو له پاچاهانو څخه یې گڼي،[3] خو داسې برېښي چې شېر د هغهٔ لقب دی ځکه چې نوم یې د فردوسي په شاهنامهٔ، مجمل‌التواریخ او القصص کې شنگل او د ثعالبي په غرر ملوک الفرس کې شنکلت دی. خو د لور نوم یې په مجمل کې سینوذ راغلی دی، نو ښکاره ده چې د فردوسي د سپینود اوښتې بڼه ده، هغهٔ وایي:

بدو داد شنگل سپینود را چو سرو سهی شمع بی دود را[4]

د بامیانو له شېر سره د «مه» صفت په مقابل کې کله د نري صفت هم کارول شوی دی او ښایي د بامیانو له پاچاهانو څخه یوهٔ (شنگل) ته یې چې تر نورو غټ و، شېرمه ویلی وي، نورو ته یې (نری) باریک وایهٔ، یعنې کوچنی او ووړ. د دې صفاتو لپاره یې په را وروسته زمانو کې مهین او کهین لیکهٔ، لکه د سیفي هروي په تاریخنامهٔ هرات کې چې تر سترگو کېږي.

د سلجوقیانو مشهور وزیر خواجه نظام‌الملک طوسي سیاستنامه یا سیرالملوک د

---

[1] - دیوان ناصر خسرو ۴۶۸.
[2] - زین‌الأخبار خطي نسخه، د ساسانیانو څلورم پوړ.
[3] - مروج‌الذهب ۱/ ۲۲۲ چې په تېروتنه یې دا کلمه شبرمه چاپ کړې ده.
[4] - شاهنامه ۴/ ۳۱٦.

الپتگین په داستان کې وایي:

«او د بامیانو دا امیر هغه دی چې نری شېر (شېر باریک) یې بولي.»[1]

له دې څخه څرګنده ده، چې د الپتگین پر مهال هم د بامیانو شېر د نري شېر په نامهٔ په همدې ځای کې واکمني چلوله[2] او الپتگین ورسره وجنګېدهٔ، ویې نیوهٔ او بیا یې وباخښهٔ. دا پېښې به د (۳۴۷ س) شاوخوا وي، چې د الپتگین د همدې کال وهل شوې سیکه شته. زما په اند چې دا دواړه شېرمه او نری‌شېر یعنې مهین او کهین به د بامیانو د شېرانو یوې کورنۍ ته منسوب وي.

د مسعودي او ګردېزي شېرمه یا د فردوسي شنګل د لومړي ساساني پاچاه یزدګرد (٤٢٠ - ٤٣٩م) د زوی، بهرام‌ګور هممهاله دی او د سیاستنامې نري‌شېر د (۳۴۷س= ۹۵۸ز) شاوخوا ژوند کاوهٔ، چې د دې دوو زمانو تر منځ پنځه پېړۍ واټن دی؛ نو باید لږ تر لږه د دې لړۍ ۱۵ نورو کسانو په بامیانو کې واکمني کړې وي. دا سمه ده، ځکه چې د اسلامي پیر په لومړیو کې لکه چې ومو لیدل په بامیانو کې د دې لړۍ شېرانو واکمني درلوده او عرب مؤرخان یې له یادونې چوپ نه دي. څرګنده ده چې د دې کورنۍ کسان د اسلامي سوبو پر وخت د اسلام دین ته راوښتي دي.

الیعقوبي د بامیانو د هماغهٔ شېر تر یادونې وروسته ـ ١٦٤س د عباسي خلیفه المهدي هممهاله و ـ په دې اړه هم نور مهم معلومات راکوي، وایي:

---

[1] - سیر الملوک ۱۴۵ د هیوبرت دارک چاپ ۱۳۴۰ل. تهران.

[2] - د نري شېر نوم عام شوی و او د بامیانو د شېرانو له کورنۍ پرته نورو ته هم ویل کېده، لکه چې طاهر ابن خلف د سیستان د صفاریانو له اولادې د ۳۸۱س شاوخوا هم په "نري شېر" مشهور و، چې د محمد بن حسین وزیر په تألیف ذیل تجارب‌الامم نسخه ۳۸۹س شاوخوا کې په شېر بابک اوښتی؛ خو په تاریخ هلال صابي کې په سمه بڼه شېر باریک خوندي دی (ذیل تجارب‌الامم ۱۵۹، د قاهرې چاپ ۱۹۱۶ز). همدارنګه د سیستان له صفاري پاچاهانو څخه یو لیث بن‌علي ته یې شېر لباده وایهٔ، ځکه هغهٔ سره چپنه اغوسته، د ۲۹۶ س. شاوخوا (تاریخ سیستان ۲۸۴). همدارنګه تر اسلام دمخه زمانو کې د بخارا وګړو د ترکانو له پاچا قراجورین یبغو څخه مرسته وغوښته او هغه خپل زوی" شېر کشور" له لوی لښکر سره بخارا ته واستاوهٔ (تاریخ بخارا ٦١).

«د باميانو ښار د غرونو په منځ کې پروت دی، چې يو کس دهقان پکې واکمن دی، هغۀ ته اسد او په پارسي کې شېر وايي. هغه د مزاحم بن‌بسطام په لاس د منصور په پېر کې مسلمان شو. مزاحم يې لور خپل زوی محمد بن‌مزاحم ته را وادۀ کړه.

کله چې فضل بن‌يحيي (برمکی) خراسان ته راغی، د باميانو د شېر له زوی حسن سره په غوروند (غوربند) کې مخامخ شو، پر دۀ تر بري وروسته يې په باميانو کې خپلواک پرېښود او د خپل نيکۀ په نامۀ يې د باميانو شېر ونوماوۀ»[1]

بيا همدا اليعقوبي ليکي:

«فضل بن‌يحيی بن‌خالد بن‌برمک د رشيد په پېر کې پر ۱۷۶س کال د خراسان والي شو، هغۀ ابراهيم بن‌جبريل له زيات لښکر سره پر کابل ورمارش کړ. د تخارستان پاچاهان او دهقانان يې هم ورسره ولېږل. په دې پاچاهانو کې يو حسن د باميانو شېر هم و.»[2]

د يعقوبي له دې روايته د باميانو له شېرانو دوه کسه پېژنو: لومړی د باميانو شېر چې د عباسي خليفه منصور په وخت (۱۳۶- ۱۵۸س) کې د مزاحم بن‌بسطام په لاس مسلمان شو، بل د هغۀ زوی حسن، چې د (۱۷۶ س) شاوخوا يې تر پلار وروسته ژوند کاوۀ.

له دې تاريخي اسنادو څخه پوهېږو چې د باميانو د شېرانو لړۍ به د سبکتگين د نيکونو په بري د (۳۴۷ س) شاوخوا پرې شوې وي، ځکه په وروستيو پېښو کې د دې پاچاهانو نوم نښان نۀشته او لکه چې تېر شول په (۳۶۵ س) کال کې ابن‌حوقل باميان شېر ته منسوب گڼلي دي، خو هلته د شېر د شتون په اړه څه څرگندونې نه لري.

د باميانو د شېرانو د لړۍ د کاليز ترتيب لپاره (وگ: د دې څېرکي اړوند لښتليک.)

[1]- البلدان ۵۱.

[2]- پورتنی اثر ۵۲.

## ۸ - د غور سوريان

په هغهٔ پېر کې چې په دې څېړکي کې زموږ تر مطالعې لاندې دی، د افغانستان په زړهٔ او د غور پر څمکه د سوريانو د لړۍ واکمنان هم موجود وو، چې څايي آريايي وګړي يې ګڼلای شو. له ژبنيو څېړنو او د هغو له رواياتو څرګنده ده، چې په ويد کې د ياد شوي پکهت خلکو او د هيرودوت له روايتونو سره اړيکه لري.[۱]

د دې څېړکي په سر کې د زور او زون عبادتځي په شرحه کې نغوته وشوه، چې د زوري قبيلو= د غور او هرات د شمال سوريان د افغانستان د خلکو له پخوانيو ديني رواياتو سره اړيکي او تړښت شته.

د زور او يا سوريا رب‌النوع نوم تر اسلام وروسته پراختيا مومي او په دې نامهٔ ښارونه، قبيلې او کسان نومل کېږي. د ساري په ډول زورآباد يوه سيمه وه، چې اوس هم په همدې نامهٔ د سرخس په سوېل او د هرات ولايت د افغان پولو په شمال لوېديځه وروستۍ څنډه کې پرته ده. ياقوت هغه د (زورابذ) په بڼه د سرخس له سيمو څخه ليکلې[۲] او ابن‌اثير هغه ته منسوبو کسانو ته زورابذي وايي.[۳] د ا زور د سور په بڼه هم ليکل شوی دی. ابوبکر عتيق بن‌محمد السورآبادي الهروي د تفسير السورآبادي ليکوال د الپ ارسلان هممهالـه (٤٥٥ - ٤٦٥ س) د همدې څای دی.[٤] څرنګه چې سرخس او سورآباد د هرات ولايت اړوند وو، نو حمدالله مستوفي

---

[۱]- د پکهت د تفصيل لپاره وګ: د دې کرښو د ليکوال تأليف، د پښتو ادبياتو تاريخ لومړی ټوک، د کابل چاپ او د افغانستان تاريخ لومړی ټوک، د کابل چاپ.

[۲] - مراصد ۲/ ٦۷٥.

[۳] - اللباب في تهذيب الأنساب د علي ابن محمد ابن اثير ۱/ ٥۱۲، د قاهرې چاپ ۱۳٥۷ل.

[٤] - کشف‌الظنون ۱ /۳۱۰.

هغهٔ سورآبادي هروي نوملی دی؛[1] نو سوري او سوريان داسې قبيلې، کورنۍ او کسان وو، چې د خراسان د اسلامي پېر په تاريخونو کې د هغو د ډېرو نوميالیو او مشاهېرو نومونه راوړل کېږي.

تر ټولو پخوانی کس چې د عربي مؤرخانو په حواله يې پېژنو، ماهويه بن‌مافنا بن‌فيد د مروې پولەساتی دی[2] چې مؤرخانو يې نسبت سوري ته کړی او څرگنده ده، چې له همدې سوريانو څخه دی. يادونه يې د همدې څېرکي د نيزک په داستان کې تېره شوه.

ماهوی‌سوري، د ساسانيانو وروستی پاچاه يزدگرد چې د عربو له لښکره مروې ته تښتېدلی و، په ۳۱س کې د يوهٔ ژرنده‌گړي په لاس ووژهٔ.[3] سوري بيا کوفې ته حضرت‌علي رضي الله عنه ته ورغی او له هغه حضرت څخه يې د دې سيمې د دهقانانو، سپرو او ملکانو په نامهٔ ليک واخيست چې جزيه او ماليې هغه ته ورکړي.[4]

څرگنده ده چې دا ماهويه مسلمان شوی و. طبري وايي په ۳۶ س د جمل تر جنگ وروسته د حضرت‌علي رضي الله عنه حضور ته ورغی او په دې مضمون ليک يې ځنې واخيست:

«بسمِ الله الرّحمن الرّحيم، سلامٌ على مَنِ اتّبَعَ الهدَى، أمّا بعد، فإنّ ماهويه أبراز مرزبانَ مرو جاءني، وإنيّ رضيتُ عنه وكتب سنةَ ۳۶».[5]

د دې ماهوی‌سوري د مستقيمو نيکونو او لمسيو په اړه معلومات نه لرو؛ خو فردوسي د شاهنامې په پای کې دا داستان په تفصيل سره نظموي او هغه روايات رانغاړي چې تر ماهوی څلور پېړۍ وروسته د فردوسي په پېر کې پاتې وو، مهم ټکي يې دا دي: يزدگرد له عربو سره په جنگ کې ماتې وخوړه او:

ز بغداد راه خراسان گرفت   همه رنجها بر دل آسان گرفت

---

[1] - تاريخ گزيده ۶۹۴، د تهران چاپ ۱۳۳۹ل.

[2] - طبري ۳/ ۳۴۴ مارکوارت په ايرانشهر کې ۲۸۹ د ماهويه د پلار نوم ماه‌ناهيد لوستی او هيننگ فيد د دهقان په معنی د خوارزمي لغت فيند ته نږدې گڼي (پر ويس او رامين د مينورسکي نښلونې ۴۲۷).

[3] - طبري ۳/ ۳۴۸، فتوح‌البلدان ۳۸۸.

[4] - فتوح ۵۰۵، تاريخ يعقوبي ۲ /۱۸۴.

[5] - طبري ۳/ ۵۵۷.

جهاندار چون کرد آهنگ مرو    بماهوی سوری کنارنگ[1] مرو
یکی نامهٔ نوشت با درد و خشم    پر از آرزو دل، پر از آب چشم

وروستنی ساساني پاچاه په دې لیک کې مروې ته خپل راتگ او له ترک خاقان او د چین له فغفور څخه د مرستې اعلان کوي، دلته فردوسي په زغرده ماهوی سوري نژاده گڼي.

هیونی برافگند بر سان باد    به نزدیک ماهوی سوری نژاد

ماهوی سوري د یزدگرد تود هرکلی وکړ؛ خو څرنگه چې یې ډېر مجهز او زغره‌وال نېزه‌لرونکی لښکر درلود؛ نو نه یې غوښتل له منځه تللي سیال ته بیا ځواک پربږدي او د فردوسي د وینا له مخه:

شتابان همیکرد تخت ارزوی    دگر شد برای وبه آیین و خوی

ماهوی یو بېژن طرخاني نومی پهلوان، ساساني پاچاه ته وپاراوهٔ، چې په پایله کې یې د خسرو ژرنده‌گړي په لاس یزدگرد ووژل شو.

دا ماهوی سوري د فردوسي په داستان کې د شپانهٔ زوی او د شپنو مشر دی. مینارسکي وایي د ماهوی د پلار او نیا نومونه لکه په طبري کې چې راغلي، د فردوسي د دې ادعا شونتیا کمزورې کوي، چې هغه یې د شپانهٔ زوی گڼلی دی،[2]فردوسي د ساساني پاچاه له خولې وایي:

کنارنگ مرو است ماهوی نیز    با لشکر و پیل و هرگونه چیز
کجا پیشکار شبانان ماست    بر آوردهٔ دشتبانان ماست[3]

او بیا د ماهوی د پاچاهي ادعا او د روحانینو نصیحت نه منل داسې بیانوي:

شبان زاده را دل پر از تخت بود    ورا پند آن موبدان سخت بود[4]

---

[1] -کنارنگ د هېواد د سرحدي سیمو حاکم و. دا کلمه د کرل رنگ په بڼه د پخوانۍ دري تخاري ژبې په ډبرلیک کې لیدل کېږي ـ چې له بغلان څخه تر لاسه شوی دی او په ۱۶۰ز شاوخوا پورې اړه لري، (مادر زبان دری ۸۱ مخ، د کابل چاپ، ۱۳۴۲ل).

[2]- پر ویس او رامین د مینورسکي نښلونې ۴۲۷.

[3] - شهنامه۵/ ۳۰۹.

[4] - پورتنی اثر ۵/ ۳۲۳.

د ماهوی سوري دا د شپانۀ زویولي او صحراییتوب ښایي د خراسان د هغو پیاوړو کوچي قبیلو کیسه وکړي، چې واکمنانو یې ځواکمن لښکر، فیلان او هر ډول توکي درلودل. ماهویه سوري چې د دې قبیلو واکمن و، د خپل ساساني سیال تر له منځه وړلو وروسته، د خپل واک لمنه هرې خوا ته وغځوله، بلخ او هرات یې ونیول او خپل لښکرمشر کرسیون یې بخارا ته ولېږۀ:

| | |
|---|---|
| بمهتر پسر داد بلخ و هری | فرستاد بهر سویی لشکری |
| چو لشکر فراوان شد و خواسته | دل مرد بی برشد آراسته |
| سپه را درم داد و آباد کرد | سردودۀ خویش پر باد کرد |
| یکی نامور پیش او اندرون | جهاندیده‌یی نام او کرسیون |
| بشهر بخارا نهادند روی | چنان ساخته لشکر جنگجوی[1] |

نو د فردوسي د داستان له مخه دا سوري نژاده ماهوی د هماغۀ بېژن په لاس له درېو زامنو سره ووژل او وسوځول شو. بیا په مروه کې د هغۀ د ادارې یو ګراز نومی مشر پاتې شو او دا هم په خپله له بېژن سره له منځه لاړ.

د فردوسي دا کیسه‌ییز روایت که ټول رښتیا هم نه وي؛ غټ ټکي یې چې ماهوی سوري نژاده و او له یزدګرد سره ونښته، د نورو مؤرخانو له روایتونو سره سمون خوري؛ نو د هغو له مخه ویلای شو، چې ماهوی سوري بهرنی وجود درلود، د اسلامي پېر په لومړیو کې د خراسان د دې څنډې واکمن و. په دې افسانوي ډول وژل یې هم د تاریخي متونو مخالف دي. عربي مؤرخان په یوه خولۀ دي چې هغه د حضرت‌علي رضي الله عنه تر پېره ژوندی و.

## د غور سوریان او شنسبانیان

د غور د دربار مؤرخ منهاج سراج جوزجانی چې د خراسان له پوهانو او ځیرکو مؤرخانو څخه دی، د نورو ځواکمنو سوري نومیالیو مخورو خبرې کوي، چې د غور د ټولواکانو نیکونه دي، که له ماهوی سوري سره د هغوی نږدې اړیکي جوت هم نه وي، دومره ویلای شو چې د سوریانو کورنۍ ده.

---

[1] - شهنامه ۵/ ۳۲۹.

نوموړی مؤرخ د تاریخ ناصري د غورچانې[1] په حواله سور او سام د افسانوي ضحاک دوه وروڼه[2] ګڼي. سور چې مشر و نو امیر او سام چې کشر و نو لښکرمشر شو. د هغوی اولادونو د غور په منديش کې تر اسلام پيړۍ پيړۍ د مخه امارت درلود. له همدې کورنۍ بل کس چې نوم يې بسطام بن‌مهشاد و، د باميانو او شغنان په غرونو او تخارستان واکمني چلوله، (بسطام د پهلوان په معنی د ګستهم= وستهم معرب دی).

منهاج سراج د ملک‌الکلام فخرالدين مبارک‌شاه د نسبنامې په حواله چې د

[1] - تاريخ ناصري غالباً د تاريخ بيهقي هماغه پنډ ټوکونه دي، چې منهاج سراج وايي د غزنينو له لويانو څخه يوۀ د سلطان معزالدين محمد سام په پېر (۶۰۰س شاوخوا) کې هغه غورچانې کړی دی.

[2] - دا نوم په پښتو سرچينو کې سهاک دی (پټه خزانه د تاريخ سوري په حواله)= اژي‌دهاکه= دهاک= معرب ضحاک، يا ازدهاق چې هغه يې بيوراسپ (د لس زرو اسونو څښتن) هم بالۀ. مور يې ورک (ودک) د جمشيد خور وه. خراساني اعلام لکه ضحاک (۴۰۰س) د زين‌الأخبار د ليکوال عبدالحی ګرديزي پلار، ظاهري فقيه ضحاک شيباني (۲۸۷س شاوخوا) ضحاک باميانو ته نږدې ښار و سهاکا (پخوانۍ مشهوره آريايي قبيله، چې سکستان د هغو په نامۀ دی) سهاک (د هغۀ مفغنه بڼه) او سهاکزی (د افغاني قبيلو نومونه) څرګندوي، چې دا نوم د افغانستان په اعلامو کې پخوانۍ ريښه لري (د تفصيل لپاره وګ: پر طبقات ناصري زما نښلونې ۲ /۲۶۹ د کابل چاپ، ۱۳۴۳ل).

په پخوانيو داستانونو او شاهنامو کې چې دهقانان او خراساني راويان يې رالېږدوونکي وو او فردوسي هغه په خپله شاهنامه کې خوندي کړل، د کابلي پاچاهانو يادونه شوې ده، چې د همدې داستاني ضحاک اولادونه وو. د فريدون د زوی منوچهر په پېر کې د زابلي پهلوانانو له کورنۍ څخه د سام نريمان زوی زال کابل ته راغی او د کابل پاچا مهراب کابلي د هغۀ هرکلی وکړ:

| | |
|---|---|
| يکی پادشاه بود مهراب نام | زبردست و با گنج و گسترده کام |
| ببالا بکردار آزاده سرو | برخ چون بهار و برفتن تذرو |
| دل بخردان داشت مغزردان | دو کتف يلان و هش موبدان |
| همی داد هر سال با سام ساو | که با وی بر زمش نبد ايچ تاو |
| ز ضحاک تازی گهر داشتی | ز کابل همه بوم و برداشتی |

فردوسي وايي دې مهراب کابل‌خدای (د بغلان په دري ډبرليک کې هم د خودی کلمه د پاچا لپاره کارېدلې ده) د سين‌دخت له نسه د رودابې په نامۀ سپوږمۍ مخې لور درلوده، چې زال کابل‌خدای هغه وادۀ کړه او د رستم مور ده. د زال او رودابې د مينې داستان د فردوسي د شاهنامې له ډېرو غورو داستانونو څخه دی.

سلطان علاءالدین حسین جهانسوز په نامهٔ یې پیل او د غیاث الدین محمد سام (۵۸۰س شاوخوا) په نامهٔ یې پای ته رسولې ده، د دې کورنۍ واکمن د اسلامي پېر په لومړیو کې ملک شنسب[1] بن‌خرنک گڼي چې اولادونو ته یې شنسبانیان وایي. شنسب د علي رضي الله عنه د خلافت په پېر کې د هغهٔ په خولهٔ ایمان راوړ او له هغهٔ څخه یې باورلیک او توغ واخیست. د هغې کورنۍ هر څوک به چې پر پلاز کښېناستهٔ هغه باورلیک او توغ به یې هغهٔ ته ورکاوهٔ.[2] دا لومړنی غوري واکمن دی چې په اسلامي پېر (۳٦س شاوخوا) کې د هغهٔ معلومات لرو. لکه چې‌تېر شول په مروه کې د هغهٔ هممهاله ماهوی‌سوري واکمني چلوله. ښایي د مروې او غور دواړه واکمن د خلافت په حضور مشرف شوي وي.

د دې کورنۍ بل واکمن امیرپولاد د ملک شنسب له ناسکه زامنو څخه یو دی، چې د غور شاوخوا غرونه یې په ولکه وو او د خپلو پلرونو نوم یې ژوندی کړ. کله چې د عباسي بلنې څښتن ابومسلم مروزي راپاڅېدهٔ او اموي امیران یې له خراسان څخه وایستل، امیرپولاد د غور لښکر د ابومسلم مرستې ته وروست او د عباسیانو په بري کې یې د پام وړ کار وکړ. ډېر وخت د مندېش د ماڼۍ او غور د درو واکمني د هغهٔ په نامهٔ وه.[3]څرنگه چې په خراسان کې د ابومسلم د پاڅون مهال د (۱۳۰ س=٧٤٧ ز) شاوخوا دی،[4] نو د امیرپولاد د واکمنۍ پېر همدغه وختونه ټاکو[5].

## امیرکروړ جهان پهلوان

د پښتو د «پټې خزانې» له مخه تر امیرپولاد وروسته د امیرکروړ جهان پهلوان په

---

[1] - ښایي د دې نامهٔ اصل شین + اسپ یعنې اسماني رنگه اس وي، د پخوانیو آریایي نومونو لکه گشتاسپ، لهراسپ او نورو په قیاس؛ ځکه شین په پښتو کې اسماني رنگ دی او ښایي د دې نامهٔ لومړنی جز په (شین) تطبیق کړو، چې د ۹س شاوخوا چینایي سیلاني هیونڅانگ په خپلو یادښتونو کې څو ځله د افغانستان په شمالي او ختیځو بېلابېلو سیمو کې د (شین) په نامهٔ د لوړ نسله اسونو د شتون یادونه کړې ده. په پښتو کې (شن) د پیل صفت هم راغلی دی (پټه خزانه ۵۱) او شنېدل د اس بږغ دی.

[2] - طبقات ناصري ۱ /۳۲۰ په کابل کې د حبیبي دوهم چاپ، ۱۳۴۲ل.

[3] - طبقات ناصري ۱/ ۳۲۴.

[4] - طبري ٦/ ۴۳.

[5] - د بابا غرهٔ لوړې څوکې ته شاه‌پولادي وایي او په ختیځ غور کې د (دای‌پولادي) په نامهٔ یوه سیمه شته، ښایي چې دواړه د غور د دې امیر نامهٔ ته منسوب وي.

نامهٔ د هغهٔ یو زوی پېژنو. دا امیرکروړ (کروړ په پښتو کې د کلک او ټینګ معنی ښندي) د محمد بن داؤدخان هوتک (په ۱۱٤۲س کې د پښتو شاعرانو د تذکرې پټې خزانې مؤلف) له خوا د پښتو تر ټولو پخوانی شاعر او د یوې حماسي EPIC ویاړنې ویونکی لیکل شوی دی. د شېخ کټه بن یوسف متي زي خلیل (۷۵۰ س شاوخوا) له تألیف «لرغوني پښتانهٔ» څخه یې د هغهٔ ژوندلیک او شعرونه اخیستي دي، په داسې حال کې چې شېخ کټه هغه په خپل کتاب کې د محمد بن علي بُستي له تاریخ سوري (٦٥٠س شاوخوا تألیف) څخه په بالستان (د غور د سوېل والشتان او اوس د کندهار د شمال د تېرې سیمې اړوند) کې نقل کړي وو، چې متن یې دا دی:

«ذکر د جهان پهلوان امیرکروړ، زوی د امیرپولاد سوري غوري: نقل کا زبدة الواصلین، شېخ کټه متي زی غوریاخېل په خپل کتاب" لرغوني پښتانهٔ" کښې، چې دی نقل کا له" تاریخ سوري" څخه چې په بالشتان یې کتلی او موندلی و، شېخ کټه علیه الرحمه هسې وایي چې په تاریخ سوري کې راوړي: امیرکروړ د امیرپولاد سوري زوی و چې په کال (۱۳۹) هجري، د غور په مندېش کې امیر سو او جهان پهلوان یې بالهٔ.

وایي چې د غور کوټونه، بالشتان، خیسار، تمران[1] او بر کوشک یې ټول ونیول او د رسالت له کهوله یې په خلافت کې ډېر کومکونه وکړل. نقل کا: چې امیرکروړ ډېر غښتلی او پهلوان و، په یوهٔ تن له سلو جنګاورو سره جنګېدی، ځکه یې نوکروړ بالهٔ چې معنی یې ده کلک او سخت. وایي: امیرکروړ به په ژمي[2] زمینداور کې و او هلته یې ماڼۍ درلوده چې کټ‌مټ د مندېش په شان وه او په دغه ځای کې یې ښکار

[1] - دا ټولې کلاګانې اوس هم د غور په بېلابېلو سیمو کې په همدغو نومونو باندې پاتې دي.

[2] - په اصل کې دوبی دی؛ خو زمینداور د غور د پاچاهانو ژمنۍ پلازمېنه وه (طبقات ناصري ۱/ ۳٦۴).

کاوهٔ او عشرت. په تاریخ سوري کې راوړي چې دا امیران له پېړیو په غور او بالشتان او بُست کې وو او د هغهٔ سور نومې له اولاده دي، چې د سهاک له پښته و.

امیرپولاد په هغهٔ دعوت کې شریک و، چې ابوالعباس سفاح د امویانو سره جگړه کوله او ابومسلم[1] یې هم مرستی و، په تاریخ سوري کې محمد بن‌علي البُستي داسې کښلي دي: چې د عباسي دعوت په جنگونو کې چې امیرکروړ ډېرې سوبې وکړلې نو یې دا بیتونه وویل، چې ویاړنه یې بولي، هغه دا دي، چې شیخ کته علیه الرحمه له تاریخ سوري رانقل کړي دي:

«زه یم زمری، پر دې نړۍ له ما اتل نسته
په هند و سند و پر تخار او پر کابل نسته
بل پر زابل نسته، له ما اتل نسته

***

غشی د من مې ځي، برېښنا پر مېرخمنو باندې
په ژوبله یونم یرغالم پر تښتېدونو باندې
په ماتېدونو باندې، له ما اتل نسته

***

زما د بریو پر خول تاوېږي هسک پر نمنځ او په ویاړ
د آس له سوو مې مځکه رېږدي غرونه کاندم لتاړ
کړم ایوادونه اوجاړ، له ما اتل نسته

***

[1] - عبدالرحمن ابن مسلم مروزي خراساني د عباس خلافت په تأسیس کې پوخ لاس درلود. د خراسان له نومیالیو څخه دی چې عباسي خلیفه منصور په ۱۳۷س کې هغه وواژهٔ. وګ: د هغهٔ د خوځښت په اړه د دې کتاب درېیم څپرکی.

زما د تورې تر شپول لاندې دي هرات و جَروم[1]
غرج[2] و باميان و تخار بولي نوم زما په اودوم
زه پېژندوی يم په روم، له ما اتل نسته
***
پر مرو زما غشي لوني ډاري دښن راڅخه
د هريوا لرود[3] پر څنډو ځم تښتي پلن راڅخه
رپي زړن راڅخه، له ما اتل نسته
***
د زرنج سوبه مې د تورې په مخسور وکړه
په باداری مې لوړاوی د کول د سور وکړه
ستر مې تربور وکړه، له ما اتل نسته
***
خپلو وګړو لره لور پېرزوينه کوم
دوی په ډاډينه ښه بامم ښه يې روزنه کوم
تل يې ودنه کوم، له ما اتل نسته
***
په لويو غرو مې وينا درومي نه په څنډه و په ټال
نړی زما ده نوم مې بولي پر دريغ ستايوال
په ورځو، شپو، مياشت و کال، له ما اتل نسته
***

شـــيخ کتـــه لـــه "تاريخ ســـوري" نقلـــوي چـــې اميرکـــروړ عـــادل او ضـــابط او د ښـــې وينـــا خاونـــد و. دۀ بـــه هـــر کلـــه شـــعرونه ويـــل،

---

[1] - جَروم د جَرم جمع د گرم معرب د گرمسير په معنی دی= د افغانستان سوېلي ځمکې.
[2] - غرج د غر معرب او غرجستان د غرستان معرب دی، د غور په شمال لوېديځ کې.
[3] - هريوالرود همدا اوسنی هريرود دی، له دې معرباتو د وياړنې پر ويونکي د عربي ژبې اغېز ځرگندېږي.

په کال ۱۵۴ هجري د پوشنج[۱] په جنګو کې مړ سو او تر دۀ وروسته یې زوی امیر ناصر ایوادونه ضبط کړل او د غور، سور، بُست او زمینداور پر مځکو خاوند سو.»[۲]

د دې تاریخي سند له مخه دوه کسه پېژنو امیرکروړ او زوی یې امیر ناصر، په نورو مأخذونو کې یې یادون نۀشته، وروستي د (۱٦۰ س شاوخوا) پر غور او د بُست و زمینداور پر شاوخوا واکمني چلولې ده. د پلار (امیرکروړ) ویاړنه یې پر پخوانۍ پښتو یو شعر دی، چې د هغۀ د ویناوال د مقام، نړۍ نیونې، زړنتیا او حماست کیسه کوي او داسې کلمې لري چې اوس په پښتو کې نه کارېږي.[۳]

منهاج سراج جوزجانی له امیرپولاد (۱۳۰س شاوخوا) وروسته د هارون‌الرشید تر پېره (۱۷۰س= ۷۸٦ ز شاواخوا) د دې کورنۍ د واکمنو یادونه نه کوي، خو د تاریخ سوري روایت دا ځلوېښت کلنی تشه ډکوي.

منهاج سراج د دې کورنۍ بل امیر د غور له مشرانو څخه یو کس بنجی بن‌نهاران شنسبي لیکي، چې له خپل یوۀ هممهال غوري امیر شیش بن‌بهرام سره د هارون‌الرشید دربار ته لاړ. امیر بنجی د امیرالمؤمنین د قسیم په لقب د غور په امارت او امیر شیش په لښکرمشر وپېژندل شو. راوروسته غوري پاچاهان د دې امیر بنجي اولاده ده، چې د نسب لړۍ یې هماغه ضحاک ته رسېږي. منهاج سراج وایي هغه ښکلی، د غوره اخلاقو څښتن او په ټولو غورو ځانګړنو سینګار و. له هارون‌الرشید څخه یې باورلیک او توغ راووړ لکه چې د غور پاچاهان د امیر په هماغه قسیم لقب د مغولو تر راتګ پورې په غور و هند کې وو. د غوریانو د پاچاهۍ د مشهورو لښکرمشرانو کورنۍ د هماغه شیش بن‌بهرام له نژاده ده.

---

[۱]- پوشنج: د پوشنګ معرب او د هرات د لوېدیځ اوسني غوریان دي.

[۲]- پټه خزانه تر ۳۰ وروسته، د کابل چاپ، ۱۳۲۳ل.

[۳] - د شرحې او ادبي- کره‌کتنیزې شننې لپاره وګ: د لیکوال تألیف، د پښتو ادبیاتو تاریخ ۲/ ۸۱، د کابل چاپ ۱۳۴۲ل.

د صفاريانو په پېر کې د غور د منديش امارت لوی پاچاه امير سوري بن‌محمد ته ورسېد او د (۲۵۳ س= ۹٦۷ز شاوخوا) لکه چې د صفاريانو په احوال کې به په تفصيل سره راشي، يعقوب ليث صفاري د نيمروز سيمه تر رخج پورې ونيوه. دا وخت په لر او بر والشتان[۱] کې د غوريانو قبيلې لا مسلمانې شوې نه وې، د غرونو پر څنډو يې دېوالونه ووهل او روغ پاتې شول[۲]. څرنګه چې د غور واکمني بيا په همدې لړ کې پاتې شوه، نو د غزنوي دولت تر کمزورۍ وروسته له هغوی څخه لوی پاچاهان رامنځ ته شوي، د هر يوهٔ يادونه به د غزنويانو او غوريانو په اړوند څپرکي کې راشي او هغه چې د اسلام د ځلا په لومړيو کې تېر شوي په دې ډول دي:

۱- ماهوی سوري د حضرت‌علي رضي الله عنه هممهاله د ۳۱ - ۳٦ س شاوخوا.

۲- شنسب بن‌خرنک- د سور له اولادې- د افسانوي‌ضحاک ورور د ۳٦ س شاوخوا.

۳- اميرپولاد د شنسب له اولادې د ۱۳۰ س شاوخوا.

٤- جهان پهلوان اميرکروړ د اميرپولاد زوی ۱۳۹ - ۱۰٤ س.

۵-امير ناصر د اميرکروړ زوی ۱٦۰ س شاوخوا.

٦- امير بنجی بن‌نهاران د اميرالمؤمنين قسيم د ۱۷۰ س شاوخوا.

۷- امير سوري بن‌محمد د ۲۵۳ س شاوخوا.

لاندېنی لښتليک وګورئ.

---

[۱] - د کندهار د شمال لوېديځ په پنځوس ميلۍ کې د غور سوېل ته يوه سيمه ده، چې اوس هم په همدې نامهٔ يادېږي.

[۲] - طبقات ناصري ۱/ ۳۱۸.

# د اسلام د ځلا شاوخوا د افغانستان د واکمنانو په اړه د کلونو پرتلیز لښتلیک

| کلونه | د غرني لویکان | د زابل رتبیلان | د بامیانو شېران | کابلشاهان | تګینـــان | د غور سوریان |
|---|---|---|---|---|---|---|
| ۱۰۰ز | شـــهزوگرگ ۱۰۰ ز | | | | بـــرهتګین؟ | |
| | لویک بوسر ۱٦۰ ز | | | | | |
| | | | | | | |
| ۲۰۰ز | | | | | | |
| | | | | | | |
| | | | | | شپېتهٔ پښـتـه (البـېروني) | |
| ۳۰۰ز | | | | | | |
| | | | | | | |
| | | | | | | |
| ۴۰۰ز | | | شـېرمه د بهـرام گـور همهاله ۴۳۰ ز شاوخوا | کنک | | |
| | | فیروز بن کنـک؟ | | | | |
| | | | د بامیکانو شـېر موسی خـورني ۴۸۰ ز | خودویه که | | |
| ۵۰۰ز | | | | سپاله پتي | | |
| | | | | پدمه | تونک بیغو | |
| | | | | وکه دیـوا | | |
| ۱ س | | رتبیـل د ۳۰ س شاوخوا | شېر د هیونڅانګ همهالـه د ۹ س شـاوخوا | کابلشاه ۳٦ س شاوخوا | تار دوشاد ۹ س | ماهوی سوري ۳۴س شاوخوا |
| | | // // ٦۰ س | | لوی کابلشاه ۳٦ س | نیزک ۳۱ س شاوخوا شادیبغو ۸۰ س | شنسپ ۳٦ س شاوخوا |
| | | لوی رتبیـل ۱۰۰ س | | | نیزک ۹۱ س شاوخوا | |
| ۱۰۰ س | وجویر ۱۰۰ س | رتبیل ۱۳۰ س شاوخوا | هو ، د هوتجاو د وینا لـه مخې ۱۰۹س شاوخوا | | نیزک د ابو مسلم همهالـه ۱۳۰س شاوخوا | امیر پولاد ۱۳۰س شاوخوا |
| | | // // ۱٦۴ س | شېر ، د منصور و مسـلم همهاله ۱۴۵س شاوخوا | خنچل ۱٦۴ س | تګیـن د وو کونـګ د وینـا له مخې ۱۳۴ س شاوخوا | امیر کروړ ۱۳۹ س |
| | خانان (خاقـان) ۱٦۴س | // // ۲۰۰ س | حسن د پخواني شـېر زوي ۱۷٦س شاوخوا | | | امیر ناصر ۱٦۰ س |
| ۲۰۰س | محمد بن خانـان ۲۰۰ س | // // ۲۳۰ س | شېر ، د ابن خرداذبـه د وینا له مخـې۲۳۴س شاوخوا | لکتورمـان ۲۰۰ س شـاوخوا | | امیر بنجی ۱۷۰ س شـاوخوا |
| | | // // ۲۵۰ س | | کلر ۲۵۰ س شاوخوا | | |
| | افلح بن محمـد ۲۸۰ س | // // ۲۵۸ س | | سامند ۲۸۰ س شـاوخوا کملو ۲۹۱ س شـاوخوا | | امیر سـوري ۲۵۳ س شـاوخوا |
| ۳۰۰س | | | | بهیم ۳۲۰ س شاوخوا | الـپ تګیـن ۳۵۲ س مړ اسحاق ۳۵۵ س مړ | |
| | منصور بن افلـح ۳۵۰ س | | شـېر باریـک، د الپتګیـن همهاله ۳۴۷ س | جیه پاله ۳۵۰ س شـاوخوا | بلکـا تګیـن ۳٦۴ س مړ پـیري تګیـن ۳٦۳ س مړ | |
| | ابو علي یـا ابوبکـر؟ ۳٦۵ س | | شېر، د ابن حوقـل د وینـا له مخې ۳٦۵ س ؟ | انند پاله ۳۹۳ س شـاوخوا | سـبکتګین ناسـته ۳٦٦ س | |
| ۴۰۰ س | مرسل بن منصـور ۴۰۰ س | | | تروجنپالـه ۴۱۰ س شـاوخوا | قراتګین پـه غـزني او زابـل کې ۳۷۰ س شـاوخوا | |
| | سهل بن مرسـل ۴۵۰ س | | | بهیم پاله ۴۷۱ س | | |
| | | | | | | |

# دوهم څپرکی

## په افغانستان کې اسلامي سوبې

د راشده خلیفه‌گانو او امویانو پېر د ابومسلم خراساني تر پاڅون پورې

(۱- ۱۳۲ س)

خراسان – په افغانستان کې د اسلامي سوبو پیل – د قارن خوځښت – په سوېل کې اسلامي سوبې – د عبدالرحمن بن‌سَمُره واکمني – د کابل نیول – د امویانو پېر – قتیبه بن‌مسلم باهلي – د یوۀ خراساني ونډه – د ابومسلم تر پاڅون پورې اموي امیران – اسد او د بلخ مرکز کېدل – د اسد گوښه کېدل او د حکم واکمني – اثرش، جنید او عاصم – بامیاني دروازې ته د اسد بیا راتگ؟ نصر بن‌سیار او د امام یحیی وژنه – د عبدالله بن‌معاویه وژنه – پر اموي پېر د هرات والیان – د خراسان د والیانو لښتلیک – سیستان او د افغانستان سوېل د امویانو په پېر کې – د طاووسانو لښکر – د ابومسلم تر پاڅون پورې د سیستان والیان – د افغانستان په ختیځ او سوېل یعنې بلوچستان کې اسلامي سوبې – سیمه‌ییز واکمن او د نیمروزیانو یرغل – له دې سیمې سره د عربو لومړی ځل مخامخېدنه – علافیان او د سند راجه – د محمد بن‌قاسم سوبه – د خراسان په ختیځو څنډو کې تر ملتان پورې نورې سوبې – تر محمد بن‌قاسم وروسته – د مهلب کورنۍ پاڅون – د اموي دولت وروستۍ ورځې – د خراسان په ختیځو - سوېلي څنډو او سند کې د اموي چارواکو لښتلیک.

# ۱ - خراسان

په اوومه زېږدي پېړۍ کې له تخارستانه د هلمند او کابل تر ناوو پورې د افغانستان د لوېديځو او شمالي سيمو د ډېرې لويې برخې نوم خراسان و. داسې برېښي چې په دې نامهٔ دا تر پنځمې زېږدي پېړۍ وروسته د ساسانيانو په پېر کې مشهور شوی وي.

خراسان په پهلوي کې د ختيځ په معنی و[۱] يعنې د لمر خاتهٔ خوا.

ځکه همدا سيمه د ايران د پخوانيو دښتو لمر خاتهٔ ته وه او دا چې دري ژبو شاعرانو د غزني پاچاهانو ته د ختيځ پاچاهان ويل، له همدې مقولې څخه دي.[۲] فخرالدين گرگانی چې د ويس او رامين کتاب يې په ٤٤٥ س کې په زړهٔ وړونکې او لطيفه دري مثنوي په نظم کړی او هغه بېشکه په پهلوي پوهېدهٔ د خراسان د نامهٔ په اړه وايي:

خوشا جا يا بر و بوم خراسان　　درو باش وجهان را می خور آسان
زبان پهلوی هر کاو شناسد　　خراسان آن بود کزوی خور آسد
خور آسد پهلوی باشد خور آيد　　عراق و پارس را خور زو برايد
خوراسان را بود معنی خور آيان　　کجا از وی خور آيد سوی ايران

چه خوش نامست وچه خوش آب و خاکست
زمين و آب و خاکش هر سه پاکست[۳]

يو عرب څېړونکی عبدالله بن‌عبدالعزيز اندلسی (٤٨٧س مړ) هم په دې اړه

---

[۱] - مفاتيح‌العلوم ۷۲ مخ.
[۲] - د ساري په ډول د عنصري په بيت کې: ايا شنيده هنرهای خسروان بخبر بيا زخسرو مشرق عيان ببين تو هنر
[۳] - ويس و رامين ۱۲۸ مخ.

ځرګندوي چې خراسان په پارسي کې د لمر خاتۀ معنی لري.[1]

په ارمني ژبه یو کوچنی کتاب دی، چې د پنځمې زیږدې پېړۍ د ارمني مؤرخ، موسی خورني (د خورناتسي بنسټګر) ګڼل شوی، خو د هغۀ له مطالبو ځرګندیږي، چې په راوروسته دوره کې کښل شوی او بنسټ یې د بطلیموس پر جغرافیا ولاړ دی چې د ایران دښتې یې پر ځلورو ولایتونو وېشلې دي:

په لوېدیځ کې د خور بران، په سوېل کې د نیمروز، په ختیځ کې د خراسان او په شمال کې د کاپکوه (قفقاز) ولایت.

همدا مؤلف د خراسان سیمه له همدان او کومش څخه تر مروه روت (مرو رود) او هرو او کاتاشان (هرات و پوشنګ) بژین (د غرجستان افشین) تالکان (تالقان) ګوزګان، اندراب، وست (خوست) هروم (سمنګان) زمب (زم) پیروز نخچیر (په تخارستان کې) ورجان (ولوالج) بهلي‌بامیک (بلخ) او شېري بامیکان (بامیان) پورې ګڼي.[2]

په پهلوي ژبه په اتیا کلمو کې د جغرافیې یوه کوچنۍ رساله د شتروهای ایران په نامۀ شته[3] چې د عباسي خلیفه ابودوانیق منصور (۱۳٦ – ۱۵۸س) په پیر کې تألیف شوې ده، په هغې کې د خراسان سیمه له کومش، ګرګان او کاین (قاین) تر سمرکند (سمرقند) او بخل‌بامیک (بلخ بامي) پورې غځوي (٤)

د اسلامي پېر د مؤرخانو او لیکوالو تر منځ هم په دې اړه روایات وو، له هغې ډلې څخه عبدالحی بن‌ضحاک ګردېزی د غزنوي پېر مؤرخ (٤٤١ س شاوخوا) د خراسان نوم د اردشېر بابکان تر پېره (۲۲٤ ـ ۲٤١ ز) پورې لوړوي او وایي:

«تر هغۀ د مخه د نړۍ لښکرمشر یو و، هغۀ لښکر مشران ځلور کړل:

لومړی د خراسان لښکرمشر، دوهم د خربران لښکرمشر، لوېدیځ خوا یې هغۀ ته ورکړه، درېیم نیمروزان لښکرمشر، سوېلي‌سیمه یې هغۀ ته ورکړه

[1] - معجم ما استعجم ۱/ ٤۸۹.

[2] - تاریخ تمدن ایران ۱/ تر ۳۲۰ وروسته.

[3] - سبک شناسی ۱ / ٤۹.

[4] - تاریخ تمدن ساسانی ۱/ تر ۳۲۰ وروسته.

او څلورم د آذربايجان لښکرمشر، چې شمالي سيمه يې هغۀ ته ورکړه.»[1]

تر دې وروسته د خراسان په اړه وايي:

«او "اردشير" خراسان څلور لښکرمشره کړ: يو د مروه شايګان لښکرمشر، دوهم د بلخ او تخارستان لښکرمشر، دريم د ماوراءالنهر لښکرمشر او څلورم د هرات، پوشنګ و بادغيس لښکرمشر»[2]

هرتسفلډ د پايکلي کتيبې په شرحه (۳۷ مخ) کې د ساساني پېر د خراسان پولې داسې ټاکي:

«درى (اوسني تهران) له شاوخوا د البرز غرونو په لړۍ کې د خزرسمندرګي په سوېل ختيځه څنډه کې کرښه وکاږئ او لطف آباد ته يې ورسوئ، له هغه ځايه يې له تجند و مروې تېره، له کرکي او جيحون سره يې ونښلوئ، بيا همدا کرښه د حصار له غرۀ څخه پامير او له پاميره له بدخشان سره ونښلوئ، چې له بدخشانه د هندوکش د غرونو له لړۍ سره هرات، قهستان، ترشيز او د خواف سوېل ته ورسېږي او بېرته د رى له شاوخوا سره ونښلي.»[3]

په دې اړه اسناد شته چې د خراسان کلمه تر اسلام د مخه د افغانستان همدې سيمې ته ويل شوې ده او دا ټوله سيمه په کې شامله وه. د هفتليانو په سيکو کې يې دا پاچاهان "خراسان خواتاو" يعنې "خراسان خداى" ليکلي دي او بيا هم د پهلوي ژبې په يوه سيکه کې "تګين خراسان شاه" ليدل کېږي. د همدې سيکې پر بل مخ ښځينه نيم تنه يي انځور راغلى چې چاپېره ترې د رڼا شپول کېندل شوى، ښايي چې د خراسان د پرتم ځانګړې نخښه وه. کټ مټ همدا شکل دوهم ساساني خسرو له

---

[1] - زين الأخبار، د ګرديزي، خطي نسخه ۲۲ پاڼه.

[2] - پورتنى اثر، خطي نسخه ۵۳ ب پاڼه.

[3] - ايران در عصر ساسانيان، د کريستين سين، اردو ژباړه ۱۷۹.

هفلیاتو څخه د ۶۱۳ز شاوخوا د خراسان د نیولو په یاد ضرب کړی دی.

د هفتلیاتو پر یوه سیکه پر پهلوي"خورهاپروت" (فرهافزود) او پر بل مخ یې "هپتل‌خواتاو" او مرتانشاه- چې یو هفتلي پاچاه و- نوم کیندل شوی دی. اونوالا وایي د اوومې زیږدې پیړۍ په لومړۍ څلورمه کې دې مرتانشاه ځان په زابلستان کې یفتلشاه بللی و. اټکل دا دی چې نیم‌تنه‌یي ښځینه انځور او د رڼا شپول به د خراسان نښان او د عربو مطلع الشمس (ختیځ) وي.[1]

عربو جغرافیه‌پوهانو لکه ابن‌خردادبه، مسعودي، اصطخري، ابن‌حوقل او نورو هر یوۀ د خراسان د پراخوالي په اړه له سیاسي وضعې او دولتي تشکیلاتو سره سمې خبرې کړې دي، له هغې ډلې مطهر بن‌طاهر مقدسي (۳۵۵ س شاوخوا) وایي:

خراسان پنځم اقلیم دی، چې د خراسان طراز، نویکث، خوارزم، اسبیجاب، شاش، طاربند او بخارا ښارونه هم په کې شامل دي.[2] احمد بن‌عمر په ابن‌رسته مشهور هم د خراسان برخه له طبسین او قهستان څخه تر بلخ او تخارستان او شمال لور ته تر بخارا، سمرقند، فرغانې او شاش (تاشکند) پورې ګڼي.[3] احمد بن‌واضح الیعقوبي (تر ۲۹۲ س وروسته مړ) هم د خراسان برخه له جورجان او نیشاپوره تر بلخ او تالقانو او شمال لور ته تر بخارا پورې لیکي.[4]

امام محمد بن‌احمد البشاري مقدسي (۳۷۵س) وایي: ابوزید بلخي د صورة الارض مؤلف چې د دې هنر مخکښ دی، خراسان پر دوو خواوو (تر امو سیند پورې راپورې) ویشي چې په بره خوا کې یې فرغانه او بخارا تر صغد و شاش (تاشکند) پورې هم وو.[5] مطهر بن‌طاهر وایي د خراسان اوږدوالی د دامغان له شاوخوا د امو (بلخ نهر) تر ناوې

---

[1] - آریانا چنګاښ ۱۳۲۶ل، د اونولا بر د هفتالیانو پهلوي سیکې، رسالې په حواله.

[2] - البدء والتاریخ ۴ / ۵۲.

[3] - الأعلأق‌النفیسه ۱۰۵ مخ.

[4] - تاریخ‌الیعقوبي ۱ / ۱۴۴.

[5] - احسن‌التقاسیم في معرفة الأقالیم ۶۸.

او پلنوالی یې له زرنج څخه تر گرگان پورې دی، چې له امو راپورې تر ختل، شغنان، بدخشان، واخان او د هند تر پولو پورې رسېدهٔ.[1]

د اسلامي پېر تر ټولو څېرمن جغرافیه لیکونکی یاقوت‌حموي چې خراسان یې د مغولو تر تاړاک د مخه په خپلو سترگو لیدلی دی، وایي:

«خراسان د عراق له آزاد ورد، جوین او بیهق څخه پیل او وروستۍ برید یې تخارستان، غزني او سیستان ته- چې له هند سره نښتی دی- رسېږي. څلور برخې لري: لومړۍ برخه یې ابرښار دی، چې نیشاپور، قهستان، طبسین، هرات، فوشنج، بادغیس، طوس او طاران په کې راځي. دویمه برخه: مروه شاهجان، سرخس، نساء، ابیورد، مروه‌رود، تالقان، خوارزم او آمل پر امو باندې. درېیمه برخه: فاریاب، جوزجان، بر تخارستان، خست، اندراب، بامیان، بغلان، ولوالج، رستاق او بدخشان. څلورمه برخه: ماوراءالنهر له بخارا تر شاش، صغد، فرغانې او سمرقند پورې.»[2]

عرب مؤرخ احمد بن‌واضح یعقوبي (۲۹۲س شاوخوا) هم په هغو بیتونو کې چې سمرقند یې ستایلی د خراسان تر ښکلا یې لوړ گڼلی دی.

علت سمرقند أن یقال لها　زین خراسان جنة الکور[3]

د حدودالعالم مؤلف چې په غالب گومان ابن‌فریغون نومېدهٔ- د مینارسکي د اټکل له مخه د خراسان د فریغون له کورنۍ څخه و- په ۳۷۲ س کې د خراسان برید ختیځ لور ته هندوستان، لوېدیځ ته د گرگان شاوخوا، شمال ته د امو سیند ټاکلی دی، چې تخارستان، بامیان، پنجهیر (پنجشیر)، جاریابه او د اوسني افغانستان ټول ښارونه په خراسان یا یې په اړوندو سیمو کې گڼي؛[4] نو په خپل پراخ مفهوم د ساساني پېر خراسان په گوته کوي، چې اصطخري وایي

---

[1]- البدء والتاریخ ۴/ ۷۹.

[2] - مراصدالاطلاع ۱/ ۴۵۵، معجم‌البلدان۲/ ۳۵۱.

[3] - د یعقوبي البلدان ۱۲۶مخ، د نجف چاپ، ۱۹۵۷ز.

[4] - حدودالعالم ٦٢.

پلنوالی یې له بدخشان تر خوارزم سمندرګوټي پورې رسېدۀ.[1] ابن‌فقیه د خراسان برید شمال ختیځ کې راشت ښیي، چې له ترمذه یې شپېتۀ فرسخه واټن درلود. فضل بن‌یحیی برمکي په دې پوله کې د ترکانو د ډاکو د مخنیوي لپاره دروازه جوړه کړې وه. (کتاب‌البلدان تر ۳۱٤وروسته)

نو د اسلامي پېر د لومړیو په خراسان کې ټول اوسنی افغانستان شاملولای شو، چې مهم مرکزونه یې په همدې خاوره کې وو. د سند سیند د څنډو او بولان درې وګړي اوس هم افغاني کوچیانو ته- چې د غزني له شاوخوا څخه هغې سیمې ته ورکوزېږي- خراساني وایي. دا هغه نوم دی چې له پخوا څخه پاتې دی.

سوبمنو عربو ته- چې د حضرت‌عمر په پېر کې یې د احنف بن‌قیس (۱۸س کال) په مشرۍ د خراسان په نیولو لاس پورې کړی و ـ دې سیمې ځانګړی اهمیت درلود، لکه چې یو عرب شاعر نړۍ خراسان بولي:

والناس فارس والإقلیم بابل، وال إسلام مکة والدنیا خراسان[2]

په دري ادب کې هم د خراسان په اړه ډېر مهم مطالب شته، لکه ناصر خسرو قبادیاني بلخي (۳۹٤-٤۸۱س) چې د بدخشان په یمګان کې خپل ټاټوبی بېخي خراسان ګڼي:

مرا مکان به خراسان زمین به یمگانست کسی چرا طلبد در سفر خراسان را[3]

منوچهري دامغانی (٤۳۲ س مړ) بلخ، د سمرقند رودک او بُست په خراسان کې ګڼي، وایي:

از حکیمان خراسان کو شهید و رودکی بوشکور بلخی و بوالفتح بستی هکذی[4]

خو په را وروسته وختو یعني پنځمه او شپږمه لېږدي پېړۍ کې تر امو ورپورې ځمکې د خراسان په حساب کې نه ګڼي، چې لامل یې ښایي سیاسي جلاوالی وي. د ساري په توګه عثمان مختاري غزنوي (۵۳۰ س شاوخوا) د وزیر نظام‌الملک علي

[1] - مسالک الممالک ۲۸۳.
[2] - معجم‌البلدان ۲ / ۳۵۳.
[3] - دیوان ناصر خسرو ۱۰.
[4] - دیوان منوچهری ۱۴۰.

خطيبي سمرقندي په ستاينه کې وايي:

همیشـــه ملـــک خراســـان بـــران مقـــوم بـــود
چنانکـــه ملـــک ســـمرقند ازیـــن گرفـــت قـــوام
همــــــه جـــــلال خراســـــــان و مـــــــاوراءالنهر
زبـــــوعلی بنظـــــام آمـــــد وعـــــلی نظـــــام[1]

د اوحدالدين محمد انوري خراساني (۵۸۰س شاوخوا) دا مطلع هم د دې دليل دی چې پر خپل مهال يې د خوارزم څمکه په خراسان کې شامله نه ده گڼلې:

آخـر ای خـاک خراسـان! داد یزدانـت نجـات
از بـــلای غـــیرت خـــاک ره گرگـــانج وکـــات[2]

بيا وايي:

دل و جـــــان بـــــا نعـــــیم خوارزمنـــــــد
وای بــــر تـــــن کـــــه خراســـــان اســـــت

---

[1] - دیوان مختاری ۳۵۰.

[2]- دیوان انوری ۲۳.


د اسلامي پېر د لومړيو خراسان او
د اړوندو سيمو او لارو اټکلي نقشه يې
ترتيب: د دې کتاب مؤلف
د لومړي ټوک د ۱۴٦ مخ اړونده
گرگان
غز صحرا
فرغانه
اشروسنه
سغد
پامير
گلگت
بخارا
سمرقند
مرو
بلخ
باميان
کابل
غزني
هرات
کرمان
هلمند
هند ته
پارس ته

## ۲- په افغانستان کې د اسلامي سوبو پیل

### د شمال په جبهه کې

له هغې وضعې سره چې د دې کتاب په لومړي څپرکي کې روښانه شوه، د اسلام د ځلا پر مهال د افغانستان ختیځ، لویدیځ شمال او سویل د بېلابېلو پاچاهانو او واکمنو په لاس کې و، چې کورني دینونه، ژبې او ثقافتونه یې درلودل، د پېړیو په تېرېدو یې سیمه‌ییز - ځایي رنګ لاره او اداري جوړښت هم مرکزیت نه درلود.

تر اوسه لا د اسلام د ځلا شل پنځه ویشت کاله تېر شوي نه وو او لوی خلیفه حضرت عمر رضي الله عنه د خلافت پر ګدۍ ناست و، چې د عربو نړۍ نیوونکی لښکر په تازه او پیاوړې اسلامي روحیې د پارس د ساسانیانو اوږدمهاله ستر واکمني له پښو وغورځوله. د ساسانیانو وروستی پاچاه درېیم یَزدګِرد د شهریار زوی د کسری لمسی د جلولا (۱۶س) او نهاوند (۲۱س) تر جګړو وروسته له سپېڅلي زردشتي اور سره د اصفهان، ری او کرمان له لارې خراسان او مروې ته راوتښتېد. لکه چې تېر شول په (۳۱س) کال کې دلته ووژل شو او زردشتي لمبې تر پېړیو پېړیو وروسته مړې شوې.

د عربو لومړنی لښکرمشر احنف بن‌قیس تمیمي دی چې په ۱۸ یا ۲۲س کال[۱] کې په یزدګرد ورپسې کېدو ګومارل شوی و. هغه د طبسین[۲] له لارې خراسان ته راغی او هرات یې په جنګ ونیو.[۳] صحار عبدي یې هلته واکمن

[۱] - طبري ۳/ ۲۴۴ دواړه روایتونه راوړي دي او همدارنګه ابن اثیر ۳/ ۱۶.

[۲] - د نیشاپور او اصفهان سیمې تر منځ کلی چې قهستان نومېږي (اصطخري ۲۱۵ او مراصد ۲/ ۸۷۹) بلاذري وایي طبسین دوه کوټونه دي؛ یو یې طبس او دوهم یې کرین، چې د خراسان ورونه دي (فتوح‌البلدان ۴۹۹).

[۳] - فصیحي وایي په دې لښکر کې مت بن ابو ایوب انصاري چې د شیخ الاسلام عبدالله انصاري نیکهٔ دی، هرات ته راغی او دلته مېشت شو (مجمل فصیحي ۱/ ۱۲۷).

وگومارۀ او بیا یې له نیشاپوره تر تخارستان پورې مروه‌رود، بلخ او د افغانستان شـمالي سیمې ونیولې. احنف چې مروې ته ستون شو، نو ربعي بـن‌عـامر یـې پـر تخارسـتان حاکم وټاکۀ.

په دې وخت کې هم یزدگرد د افغانستان په شمالي ولایتونو کې د ترکو د خاقان او سغدیانو د مرستې تر لاسولو په هیله گرځېدۀ راگرځېدۀ؛ ځکه نو حضرت‌عمر رضي الله عنه د مروې او بلخ د نیولو د خبر تر اورېدو وروسته د عربو لښکرمشر احنف بن‌قیس ته امر وکړ، چې تر امو سیند پورې نه وځي او د ماوراءالنهر، خاقان او ساساني پاچاه د نورو پاتې‌لښکرو پرضد مقاومت‌وکړي.[1]خو د خراسان د دې برخې اصلي اوسېدونکو - چې د عربو، ساسانیانو او خاقاني ترکانو د ځواکونو د اخ و ډب په منځ کې پراتۀ وو- په دې ترڅو پرانیستلو کې لږه ونډه واخیسته او دا درېواړه پردي ځواکونه یې پرېښودل چې زور سره معلوم کړي. په پای کې د احنف ځواکونه پر ټولو لاسبري شول، یزدگرد چې د چین له پاچاه څخه مرسته غوښتې وه؛ خو د هو ځواب یې نه و تر لاسه کړی؛ نو په خپل کار کې لا هم کمزوری شو.[2]

د ۲۳ س کال په وروستۍ میاشت کې د نهاوندي مجوسي انځورگر، ترکاڼ او پښن (ابو لوء لوء) - چې ایرانی بندي او د مغیره بن‌شعبه مریی و-[3] د تورو په گوزارونو د اسلام نومیالی خلیفه حضرت‌عمر بن‌خطاب شهید شو او درېیم خلیفه حضرت عثمان بن‌عفان یې پر ځای کښېناست. په عثماني پېر کې د شمالي ولایتونو وضع هماغسې وه، چې د نیزک او ماهوی سوري په شرحه کې مو ولیکله.

کله چې پر۳۱ س کال یزدگرد په مروه کې ووژل شو، ځایي واکمنو او له هغو څخه

---

[1] - طبري ۳ /۲۴۴ او ابن اثیر ۳/ تر ۱۶وروسته.

[2] - پورتنی اثر ۳/ ۲۵۰ او ابن اثیر ۳ /۱۹.

[3] - مروج‌الذهب مسعودی ۲ /۲۱۲، طبري ۳ /۲۶۳ او مجمل فصیحي ۱/ ۱۲۷، وایي ابو لوءلوء نصراني او مسیحي و او د عاتکې بنت زید بن‌عمر الخطاب په مرثیه کې یې نوم فیروز دی: فجعنی فیروز لا در دره ★ با بیض تال لکتاب منیب (طبري ۳ /۲۸۵).

ماهوی سوري له عربو سوبمنو سره دوستانه اړیکي درلودل. له ۲۸ یا ۲۹ س کال[1] راهیسې د عربي لښکر ۲۵ کلن لښکرمشر عبدالله بن‌عامر بن‌کریز د خلافت له خوا پر خراسان واکمني درلوده. د عربو هماغه تجربه‌کار کس احنف بن‌قیس تر ۳۰س کال وروسته د خراسان په ورونو طبسین کې د هفتلیانو له پاتې ځواکونو سره ونښت او د خراسان د کوهستان (قهستان) تر نیولو وروسته یې په ۳۱ س کال[2] کې د دې سیمې له خلکو سره په شپږ زرو درهمو سوله وکړې وه.

فصیحي وایي په خراسان کې د ابن‌عامر چارواکي دا وو: په مروه شاهجان کې حاتم بن‌نعمان، په مروه‌رود کې احنف بن‌قیس، په سرخس کې عبدالله بن‌حازمه بلخي او په هرات کې خلید بن‌عبدالله حنفي یا اوس بن‌ثعلبه لیثي.[3]

پر۳۵ س کال په مدینه کې دربیم خلیفه حضرت‌عثمان په خپل کور کې د باغیانو له خوا کلابند او په ډېر دردوونکي حال شهید شو. له ۳۱ س کال وروسته د حضرت‌عثمان تر شهادت پورې چې خراسان د هماغهٔ عبدالله بن‌عامر او د عربو لښکرمشرانو تر امارت لاندې و، نورې یې دا بریاوې په برخه شوې:

۱) د عبدالله بن‌عامر د قوماندان، امیر بن‌احمر یشکري[4] له خوا په ۳۱ س کال کې تر سرخس او مروې پورې د ابرښار، طوس، ابیورد او نسا نیول چې د مروه شاهجان پوله‌ساتی براز[5] د دوه ویشت لکو درهمو په ورکولو د ابن‌عامر له حاکم حاتم بن‌نعمان باهلي سره سوله وکړه؛[6] خو په دې وخت کې سخته یخني راغله او د امیر بن‌احمر لښکریان

---

[1] - گردېزی یې واکمني له ۲۳س کاله لیکي، چې گویان (جوین) یې پلازمېنه وه، د ملحان گویاني لور یې وادهٔ کړه.

[2] - فتوح‌البلدان ۴۹۹، طبري ۳ / ۳۴۹، مجمل فصیحي ۱/ ۱۳۰.

[3] - مجمل ۱/ ۱۳۱.

[4] - په طبري ۳ / ۳۵۰ کې امین چاپ دی، بلاذري ۴۹۹ او ابن اثیر ۳/ ۶۰ وایي چې سم یې د زبیر په وزن (اُمیر) دی او گردېزی وایي په ۲۷س کال په مروه کې د خراسان حاکم و.

[5] - د مروې دا حاکم به هماغه براز د ماهویه سوري زوی وي، ځکه ماهویه د عربو مؤرخانو په اند ابوبراز دی.

[6] - طبري۲ / ۳۵۰، فتوح ۵۰۱ او البلدان ۵۷.

تر مروې بهر وو، د مروې خلکو هغو ته په کورونو کې ځای ورکړ او اراده یې وکړه چې هغه پوځ کلابند کړي. د مروې بازاريانو او کاکه‌گانو چې دا هوډ وکړ، حاکم براز بن‌ماهويه او د ښار دهقان دواړه خبر شول؛ نو ويې نه غوښتل چې د خلکو دا تدبير پلی شي، د عربو لښکرمشر يې خبر کړ. د امير لښکريانو د مروې ډېر وگړي ووژل او کورونه يې ور ولوټل، تر دې چې د ښار وگړي راغونډ او ځينې کسان منځگړي شول، مالونه ومنل شول او هغه شخړه هواره شوه.[1]

۲) د عربو يوډ بل لښکر د يزيدجرشي په مشرۍ زام، نيشاپور، باخرز او جوين ونيول.[2]

۳) دا مهال د خراسان په سرخس کې رادويه (زادويه) پوله‌ساتی و، چې د بن‌عامر له خوا عبدالله بن‌خازم د هغه مقابلې ته ورغی. د رادويه تر وژلو وروسته يې سرخس ونيو او د رادويه ميثاء نومې لور د ابن‌خازم په لاس کښېوته.[3]

٤) په ۳۲س کال کې احنف بن‌قيس د مروې پوله‌ساتی باذان- چې د کسرۍ له مهاله يې د کورنۍ همدا دنده وه- کلابند کړ؛ خو باذان خپل ورارۀ ماهک د خپل استازي او ژباړن په توگه له يوۀ ليک سره احنف ته ور ولېږۀ او د ٦۰ زرو درهمو په باج منلو يې د روغې وړانديز وکړ. لښکرمشر احنف هغه په دې شرط ومانۀ چې باذان او د سپرو نور مشران به د اسلام د لښکر مرسته کوي. د باذان ځوابليک د دې شرطونو په منلو او د شاهدانو د نومونو په ليکلو د ۳۲ س کال د محرم په مياشت کې د دوشنبې په ورځ ولېږل شو.[4] احنف چې له مروه‌والو سره سوله وکړه، خپل څلور زره لښکر يې د تخارستان لور ته وخوځاوۀ. په مروه‌رود کې د احنف مانۍ ته ورغی او په درې لکه درهمه يې د هغه ځای له خلکو سره سوله وکړه.

خو د تخارستان، جوزجان، تالقانو او فارياب خلکو د هغۀ پر وړاندې ۳۰ زره کسان

---

[1] - زين‌الأخبار، ۵۷ ب خطي پاڼه.

[2] - فتوح‌البلدان ۵۰۰.

[3] - د دې ليک متن په طبري ۳/ ۳۵٦ کې شته.

راټول کړل. احنف هغوی هم د احنف د مانۍ تر دولس فرسخۍ (رسکن) پورې په شا کړل او له خپل پنځ زریز ځواک سره پر جوزجان او بلخ لاسبری شو. د څلورو لکو درهمو باج په اخیستو یې د هغهٔ ځای له خلکو سره روغه وکړه. د خپل ترهٔ متشمس زوی بشر یې د هغهٔ ځای حاکم وټاکهٔ.[1]

همدا رنگه احنف څلور زره عربان او زرکسه عجمي د حاتم بن‌نعمان باهلي په مشرۍ له هیطالانو (یفتلیانو) سره جنگ ته وخوځول، په مروه‌رود کې یې احنف کلا جوړه کړه او مروه‌رود یې په سوله ونیوهٔ.[2]

۵) د عرب لښکرمشر ابن‌عامر بله ډېره مهمه لښکرکښي پر هرات، بادغیس او پوشنگ وه، چې په ۳۲ س کې د خلید بن‌عبدالله حنفي په مشرۍ ترسره شوه. دلته عرب مؤرخان د هرات د حاکم نوم نه اخلي او یواځې (د هرات د عظیم) په نامهٔ یې پېژني.[3] هراتیانو د عربانو د دې لښکریانو پر ضد جنگ او مقاومت وکړ، تر دې چې په خپله د خراسان واکمن، بن‌عامر هم پر هرات یرغل وکړ. د هرات واکمن یې د یو ملیون درهمو په منلو سره سولې ته اړایست او دا ژمنلیک یې وروسپارهٔ:

«بسم‌الله‌الرحمن‌الرحیم هذا ما امر به عبدالله بن‌عامر عظیم هراة و بوشنج و بادغیس: امره بتقوی‌الله و مناصحة‌المسلمین و اصلاح ما تحت یدیه من الأرضین. و صالحه عن‌هراة سهلها وجبلها علی‌أن یؤدي من‌الجزیة ما صالحه علیه، و أن یقسم ذالک علی الأرضین عدلاً بینهم. فمن منع ما علیه فلا عهد و لاذمة. وکتب ربیع بن‌نهشل و ختم إِبن‌عامر.»[4]

---

[1] - طبري ۳/ تر ۳۵۵ وروسته.

[2] - زین‌الأخبار، د گردېزي، ۵۸ خطي پاڼه.

[3]- په مجمل فصیحي کې ۱/ ۱۳۲ د هرات د والي نوم بازان دی.

[4] - فتوح ۵۰۱ د دې عربي لیک ژباړه په مجمل فصیحي کې دا ډول ده:« دا د عبدالله عامر بن بکیر لیک دی د هرات، بادغیس او پوشنج مشر ته. هغه ته د تقوا او پرهیزگارۍ او له مسلمانانو سره د عدل امر وشو. له هغه سره د دې سیمو د

د سولې تر دې تړون وروسته، چې د هرات له باذان سره لاسلیک شو، ابن‌عامر پر ۳۲س کال د حضرت‌عثمان رضی الله عنه حضور ته ورغی او پر خراسان یې درې کسه وټاکل. احنف بن‌قیس، حاتم بن‌نعمان باهلي او قیس بن‌هثیم [1] چې وروستني په تخارستان کې پرمختګ وکړ او په پای کې یې هغه ښار په سوله ونیو. سمنګانو ته چې ورسېد، د سمنګان خلکو مقاومت وکړ، قیس هغوی کلابند کړل او په زور او سختۍ پرې لاسبری شو. [2]

## د قارن خراساني پاڅون [3]

خراسانیانو د یَزدګِرد تر وژنې او د ماوراءالنهر د قوماندانانو د ځواکونو له په شا کېدو

رعیت د اصلاح او د هرات د غرنیو او دښتي ۱۵۰ سیمو سوله وشوه، چې په عدل کې ونډه ورکړي. دا لیک د نوموړي کال د روژې په شلم ولیکل شو و قیل احدی و ثلاثلین یعنې ۳۱ (مجمل فصیحي ۱ /۱۳۲).

[1] - فتوح ۵۰۵ او طبري ۴ /۳۵۹.

[2] - ابن اثیر ۳ /٦۲.

[3] - قارن پخوانی او آریایي نوم دی، چې په پخوانیو داستانونو کې راغلی او د شاهنامې د روایاتو له مخه د کاوه زوی او د کیاني، فریدون، ایرج او منوچهر د پېرونو د پهلوانانو له نومیالیو څخه دی. فردوسي هغه قارن کاوکان یعنې قارن د کاوک زوی نوملی. دا نوم که څه هم په اوستا کې نه دی راغلی؛ خو د اشکانیانو په پېر کې له لویو کورنیو څخه یوه د کارن په نامهٔ یادېده، چې د ساسانیانو په پېر کې یې هم خپل ځواک وساتهٔ. د دریمې هجري پېړۍ شاوخوا او د مامون تر پېره پورې یې هم شتون درلود (حماسه سرایي در ایران ۵۷۴).

مینارسکي وایي په ۵۰م کال کې د بین‌النهرین اشکاني واکمن کارینسCARENES نومېد، چې دا نوم د همدې قارن یوه بڼه ده (د فخر ګرګاني پر ویس او رامین د مینارسکي نښلونې ۴۳۱).

د ساسانیانو په پېر کې اووه لویې کورنۍ وې، چې د هغوی لاسبری او ځواک له هخامنشي پېره په میراث پاتې شوی و. له دې کورنیو څخه یوه د قارن کورنۍ ده او په ۵۰ م کې په هغهٔ جنګ کې چې د ګودرز او مهردات تر منځ وشو، یو کس په همدې نامهٔ مشهور و. د قارن کورنۍ په اشکاني پېر کې له شاهي ځانګې څخه وه او د قارن پهلو په لقب یادېده. د فیروز ساساني په پاچاهۍ کې دوه کسه سرداران مشهور وو، چې یو یې مهر ابن سوفرا (سوخرا) د قارن له کورنۍ و او پر سیستان یې د "هزار فت" په نامهٔ حاکمي کوله (ساسانیان کرستین سین۳۸٦) د مجمل‌التواریخ و القصص څښتن وایي د نوشېروان د ورور نوم هم قارن و، چې د طبرستان واکمن و. دا نوم د طبرستان د واکمنانو په کورنۍ کې تر ۱۵۰س شاوخوا پورې هم پاتې و. ځکه طبري او ابن اثیر وایي قارن د طبرستان واکمن، استاد سیس وواژهٔ.

له دې ټولو تاریخي لاسوندونو څرګنده ده، چې قارن تاریخي نوم دی؛ خو داسې لاسوند نشته چې د۳۲س کال دا خراساني قارن دې له هماغې پخوانۍ کورنۍ څخه وي؛ په دې تصور چې په پانګوالي نظام کې بې له هغو کسانو چې پیاوړې کورنۍ بنسټ ولري، نور څوک نهٔشي کولای په یوه پاڅون کې څلوېښت زره لښکر پر ځان راټول کړي؛ نو باید دا قارن هم، د هماغو تاریخي قارنانو اړوند وګڼو؛ خو د دې اټکل لپاره له بهره دلیل ته اړتیا ده. د یادولو وړ ده، چې د هرات په شمال کې د مختار غرهٔ په لمنه کې د سېلابونو یوه ناوه شته، چې په پسرلي کې سیند جوړوي او وګړي هغهٔ ته (قارون سیند) وایي او په غالب ګومان سم به یې رود قارن وي، چې له قارنانو څخه به د یوهٔ په نامهٔ وي. دا معلومات راته ښاغلي دانشمند فکري سلجوقي راکړل.

وروسته بې له دې چاره ونه لیده، چې له یرغلگرو ځواکونو سره ښکېل شي او خپله خاوره د نویو راغلو عربانو له یرغله وساتي، ځکه دوی زیاترو تر اسلام د مخه سیمه‌ییز اداري مرکزونه او ځایي واکمن درلودل او د لوېدیځو او ختیځو سیمو د ستړواکانو تر بشپړې ولکې لاندې نه دي راغلي.

په ۳۲ س کال کې چې کله عبدالله بن‌عامر له خراسان څخه د خلافت دربار ته لاړ، نو د طبسین، بادغیس، هرات او قهستان وگړي د دې خاروې د یوۀ قارن نومي په مشرۍ په خراسان کې د مېشتو عربانو پر وړاندې را پاڅېدل. قیس چې تر سمنگانو پورې مخکې تللی و، ډېر خواشینی راستون شو.

څرنگه چې په دې وخت کې عبدالله بن‌خازم د خراسان امیر ته له ابن‌عامر څخه یو سند اخیستی و، نو قیس په دې بهانه د قارن له مقابلې څخه تېر شو او ابن‌عامر ته ورغی، خو عبدالله بن‌خازم چې یو ازمېیلی او زړور سړی و، له څلورو زرو لښکریانو سره چې هر یوۀ د خپلې نېزې په څوکه پورې غوړه بله ټوټه درلوده، د شپې له خوا یې د قارن پر لښکر یرغل وکړ او یو شمېر یې ترې ووژل، په هغو کې په خپله قارن هم د جنگ پر میدان سر بایلود او عربي ځواکونو ډېر بندیان ونیول. په ۳۳ س کال کې احنف بن‌قیس مروه شاهجان په سوله ونیو او مروه‌رود یې په جنگ تر لاسه کړ. په خپله عبدالله بن‌عامر هم راغی، په ابرښار کې ځای پر ځای شو او د هغۀ ځای له خلکو سره یې سوله وکړه.[1]

د حضرت‌علي د خلافت په پېر (۳۷ س شاوخوا) کې جعده بن‌هبیره مخزومي مروې ته راغی، چې د حضرت‌علي رضي الله عنه د توریٰ زوی او زوم و. د مروې دهقان براز بن‌ماهویه د مروې ټولو دهقانانو ته لیک وکېښ چې جعده ته خراج ورکړي. هغۀ په خراسان کې ډېرې سوبې وکړې. بیا عبدالرحمن بن‌ابزي خزاعي د حضرت‌علي رضي الله عنه له خوا د مروې حاکم شو، چې هوښیار او سپېڅلی سړی و. هغۀ په خراسان کې نېک دودونه رامنځ ته کړل، له خلکو سره یې نېکۍ وکړې؛ نو هغه لا په خراسان کې و، چې علي رضي الله عنه فرمان ومونډ (شهید شو).[2]

[1] - طبري ۳/ ۳۶۰ او ابن اثیر ۳/ ۶۶.
[2] - زین‌الأخبار، ۵۹ب پاڼه.

# د افغانستان په سوېل کې اسلامي سوبې

## او د سیستان د پروېزشاه د مقاومت پای

د حضرت‌عمر رضي الله عنه د خلافت په وروستي کـال ۲۳س، بریـالی اسـلامي لښـکر د کرمان له لارې د سیستان پولو ته رارسېدلی و. دوو عربو لښکرمشرانو عاصم بن‌عمرو تمیمي او عبدالله بن‌عمیر پر سیستان او پلازمېنه زرنج برید وکـړ. د دې ځـای وګـړي یې په ښار کې کلابند کړل، چې په پای کې یې د خراج او باج په ورکولـو سره سـوله وکړه. په دې وخت کې د سیستان پلنـوالی تـر خراسـان زیـات و، چـې پـولې یـې لـه کندهار او ترک (ښايي تَرَک) سره نښتې.[1]

د سیستان خلکو تر یوۀ وخته په سـولې او بـاج ورکولـو ځانونـه وسـاتل، خـو پـر ۳۰س کال او عثماني پېر د خراسان حاکم عبدالله بن‌عامر، مجاشع بن‌مسعود سـلمی بیا سیستان ته راولېږۀ. دا ځل د سیستانیانو مقاومت لا زیات و، جنګ یې وکړ او ډېـر مسلمانان یې ووژل، تر دې چې مجاشع سـتړی او لـه سیسـتانه سـتون شـو. کلـه چـې مجاشع د بُست، زمینداور او سیستان له لارې مخ پر کرمان وخوځیـد، سـختې واورې او یخنۍ په مجاشع مانۍ کـې رابنـد کـړ، ټـول لښـکر یـې تـر واورې لانـدې شـو او هیڅوک ترې خلاص نه شو.[2]

د مجاشع د ماتې خبر حضرت‌عثمان رضي الله عنه ته ورسېد، چې لـه سیسـتانه پـه بـد اکـر راستون شوی و؛ نو ربیع بن‌زیاد حارثي یې له لښـکر سره عبـدالله تـه ورولېـږۀ چـې د سیستان د نیولو هڅه وکړي.

ربیع د کرمان پهره (فهرج) او زالق (جالق) په سوله سره ونیول. د زالق په پنځه میلۍ کې د کرکویه خلکو جنګ ونه کړ او د هیسون اوسېدونکو هم سوله وکړه؛ خو

---

[1]- طبري ۳/ ۲۵٦، الکامل ۳/ ۲۲ او مجمل فصیحي ۱/ ۱۲۷.

[2]- زین‌الأخبار ٦۰ الف پاڼه او تاریخ سیستان ۸۰.

چې کله له هیرمند (هندمند) سیند او نوق درې څخه راتېر شول او د زرنج درې میلۍ زوشت ته راورسېدل، د سیستان لښکریان ورووتل، سخت جنګ یې وکړ او ډېر مسلمانان ووژل شول.[1]

د سیستان خلکو په ناشرود او شرواد (د زرنج کلي) کې هم مقاومت او سخت جنګونه وکړل. بلاذري د زوشت جنګ ته لوی جنګ وایي، خو په دې ټولو جنګونو کې بری د مسلمانانو مل و. په پای کې د سیستان پلازمېنه زرنج کلابند شو. په دې وخت کې د سیستان پاچاه ځایي زردشتي کس و، چې بلاذري یې نوم پروېز پوله‌ساتی لیکي؛[2] خو په تاریخ سیستان کې ایران بن‌رستم بن‌آزادخو بن‌بختیار دی (۸۱ مخ) نو له دې څرګندېږي چې د (۳۰ س) شاوخوا سیستان د خپلو سیمه‌ییزو واکمنو په لاسو اداره کېدهٔ او د زابل د رتبیلشاهانو ولکه تر دې ځایه نه وه رارسېدلې، یا هغوی په خپله هم رتبیلان وو. پوله‌ساتي پروېز (یا ایران؟) د زرنج کلا له دننه له عرب لښکرمشر ربیع بن‌زیاد څخه امن وغوښت او د سولې شرایط یې وړاندې کړل. په خپله د زرنج له کلا راووت، کله چې د عربو لښکرغالي ته ورسېد ویې لیدل چې لوړ دنګ، وازخولی، شونډور، داړو سړی (ربیع) د جنګ د مړو پر ډېرۍ ناست دی او ملګرو یې هم د مړو جسدونو ته ډډې وهلې دي. پوله‌ساتي چې دا زړهٔ بوږنوونکی حال ولید هک‌پک شو، له ربیع سره یې د زرو وصیفو (زلموټي مریان- المنجد) په ورکولو سوله وکړه، چې هر مریی به له ځان سرهٔ زرین کټوری لري.[3]

د تاریخ سیستان نامعلوم لیکوال (٤٤٥ س شاوخوا) په دې اړه د ربیع د بري داستان له ډېرې زړهٔ پورې شرحې سره لیکي، چې د سیستان د خلکو د روحیې او وضعې کیسه کوي. څرنګه چې ډېر خوندور او ګټور دی، کټ مټ (پښتو ژباړه) دلته راوړل کېږي: «ربیع لاړ، عسکر یې له ځان سره کړل، له هیرمنده تېر شو، مخې ته یې د سیستان عسکر راووتل، سخت جنګ یې وکړ، له دواړو ډلو

[1] - فتوح ۴۸۴ او تاریخ سیستان ۸۱.

[2] - پورتنی اثر ۴۸۵.

[3] - پورتنی اثر ۴۸۵.

خو له مسلمانانو لا ډېر ووژل شول.[1]

مسلمانانو بیا برید وکړ، د سکستان وګړي ښار ته ستانهٔ شول، نو د سیستان پاچاه ایران بن‌رستم بن‌آزادخو بن‌بختیار، د زردشتي عالمانو مشر[2] او نور مشران وروغوښتل او ورته ویې ویل دا داسې کار نه دی، چې په ورځ، کال او زرو کې دې پای ته ورسېږي، په کتابونو کې راغلي چې دا دین او دا ژوند به په کلونو کلونو وي. په وژنو او جنګونو دا کار نه سمېږي، اسماني پرېکړې څوک نهٔشي بدلولای،[3] تدبیر دا دی چې سوله وکړو. ټولو وویل، چې غوره ده.

نو استازی یې ورولېږهٔ چې موږ په جنګ کې کمزوري نه یاستو، ځکه دا د مېړنیو او پهلوانانو ښار دی؛ خو له الله تعالی سره جنګ نهٔشي کېدای او تاسو د الله عسکر یاست، زموږ په کتابو کې ستاسو او د محمدﷺراڅرګندیدل شته. سوله ښه ده، چې دولت ډېر وپایي او له دواړو خواوو دا وژنې ودرېږي.

استازي پیغام ورکړ.

ربیع وویل: عقل همدا غوښتنه کوي، چې دهقان[4] یې وایي، موږ سوله تر جنګ ډېره غوره ګڼو.

امن یې ورکړ، عسکرو ته یې فرمان صادر کړ، چې وسله کښته کړئ، څوک مه ربړوئ، هر څوک چې غواړي ځي راځي دې.

بیا یې امر وکړ، له هغو مړو یې وستل جوړ کړ، د پاسه یې پرې جامه وغوړوله، له هماغومړو یې تکیه ځایونه جوړ کړل، ورغی هلته کښېناست. په

---

[1] - دا هماغه د زرنج شاوخوا د نوق، زوشت، ناشرود او شرواد جنګونه دي، چې د بلاذري د فتوح په حواله یې یادونه وشوه.

[2] - موبد موبدان: د زردشتي دین د روحانیونو لوی مشر و.

۳- هغه کسان چې په خپل ځان کې کمزوري ویني او یا فاسد نظام د هغوی د ژوندانهٔ بنسټ لړزولی وي، تل همداسې بهانې لټوي او دا د هر فاسد نظام پای ده.

[4] - د هقان د کروندګرې پوړۍ رئیس و او مسلمانانو د ایران مشران او احیاناً پاچا او پوله‌ساتي ته دهقان ویلی دی، چې جمع یې دهاقین ده: په دې وختونو کې یې په ټولنیزو پوړیو کې لومړۍ درجه خپله کړې وه.

خپله ایران بن‌رستم، مشر زردشتي عالم او مشران راغلل، کله چې لښکرغالي ته ورننوتل، وستل ته نږدې شول، چې هغه يې داسې ولیده، پلي شول او ودرېدل. ربیع لوړ، دنگ او غنمرنگه سړی و، داړې يې لویې او شونډې يې پرېړې وې. ایران بن‌رستم چې هغه په داسې حال کې ولید او له مړو يې د هغه وستل ولید، مخ يې ورواړاوه او ملگرو ته يې وویل: وایي چې شیطان (اهریمن) په رڼا ورځ نه راځي، دا دی په رڼا ورځ راغی او په دې کې هیڅ شک نه‌شته! ربیع وپوښتل چې هغه څه وايي؟ ژباړن وژباړل، ډېر يې وخندل. بیا ایران بن‌رستم له لیرې ورسره سترې‌مه شي وکړل او ویې ویل: موږ به ستا دې وستل ته در نه شو، چې ناپاک وستل دی! نو هم هلته يې جامه واچوله او کښېناستل. له هغه سره يې تړون وکړ، چې هر کال به له سیستان څخه امیرالمؤمنین ته زر زر درمه ورکوم او سږ کال زر خادمان پېرم، چې د هر یوه په لاس کې به د زرو کټوری وي او ډالۍ به ورلېږم. په دې خبره يې ژمنه وکړه او ژمنلیکونه يې سره ورکړل.»[1]

ربیع دوه نیم کاله پر سیستان واکمني وکړه، چې په دې وخت کې يې ٤٠ زره مریان ونیول. سنارود او قرنین (د رستم آخور) يې هم ونیول او د بُست تر پولو راورسېد؛ خو له هغه ځایه بېرته ستون شو او د عبدالله بن‌عامر پر لور وخوځېد. په دې وخت کې د ربیع کاتب او سرمنشي حسن‌بصري و چې د اسلام له لویو پوهانو څخه و.[2]

## د عبدالرحمن بن‌سَمُره واکمني

ربیع چې له سیستانه لاړ، سیستانیانو له فرمان نه مخ واړاوه او له مسلمانانو باغیان شول. دا خبر چې د خلافت دربار ته ورسېد، عبدالله بن‌عامر د حضرت‌عثمان په

---

[1] - تاریخ سیستان ۸۲.

[2] - فتوح ۴۸۵، تاریخ سیستان ۸۳او زین‌الأخبار ۵۹ مه الف پاڼه.

فرمان د خلافت له مدبرو او هوښیارو او د پېغامبر  له اصحابو څخه عبدالرحمن بن‌سمره بن‌حبیب بن‌عبدالشمس سیستان ته راولېږهٔ.

کله چې د سیستان ورهٔ ته ورسېد، د هغه ځای پوله‌ساتی پرویز (ایران) بن‌رستم یې د جشن په ورځو کې په خپله مانۍ کې کلابند کړ. بیا یې ورسره په دوو ملیونو درهمو او دوو زرو زلموټو مریانو سوله وکړه. ابن‌سمره بیا پر کش، رخج او داور سیمو یرغل وکړ او لکه چې د سوریانو په بحث کې وویل شول په زمینداور کې یې د زور بت ونړاوهٔ، بُست او زابل یې هم ونیول. څرنگه چې په دې وخت کې حضرت‌عثمان په مدینه کې شهید شو او د خلافت‌واگې حضرت‌علي رضي الله عنه ته ورسېدې، ابن‌سمره له سیستانه لاړ او امیر بن‌احمر یشکري یې هلته وټاکهٔ؛ خو د زرنج وگړي پورته شول او هغه یې له هغه ځایه یې وایست (۳۵س کال).[1]

په دې وخت کې د عربو د صعالیک شوکمارو یو ټولي چې حسکه بن‌عتاب حطبي او عمران بن‌فیصل برجمي[2] یې مشران وو، زالق او زرنج ونیول. څرنگه چې حضرت‌علي رضي الله عنه عبدالرحمن بن‌جرو طایي[3] د سیستان حاکم کړ، حسکه هغه وواژهٔ او بیا بن‌کاس عنبري له څلورو زرو لښکریانو سره د حضرت‌علي رضي الله عنه له خوا د حسکه د ځپلو لپاره راوځغاست او ویې واژهٔ (۳۵ س کال).[4]

خو د افغانستان په سوېل کې د ۳۰ س کال شاوخوا په عثماني پېر کې د خراسان او سیستان د حاکم عبدالله بن‌عامر بن‌ربیعه لښکریان تر قندابیل (د بلوچو اوسنۍ گنداوه) او مکران پورې رارسېدلي وو، عبدالله یو پوه او خبرلوخ سړی چې حکیم بن‌جبله عبدي نومېدهٔ، د هغې سیمې د احوالو په معلومولو وگومارهٔ. حکیم چې کله د حضرت‌عثمان رضي الله عنه حضور ته ورسېد په خپل رپوټ کې یې وویل:

---

[1] - فتوح ۴۸٦، الکامل ۳ / ۵۰ او تاریخ سیستان ۸۴.

[2] - الکامل ۳/ ۱۳۳: عمران ابن الفضیل برجمي.

[3] - همدارنگه په تاریخ سیستان او الکامل کې؛ خو په فتوح کې جرء وجزء چاپ شوی دی.

[4] - فتوح ۴۸۷ او تاریخ سیستان ۸۵.

«مائها وشل، و ثمرها دقل، ولصها بطل، إِن قل الجيش فيها ضاعوا، و إِن كثروا جاعوا.»[1]

د اسلام خليفه چې دا خبرې واورېدې ويې ويل:« أخابر أم ساجع؟» يعنې ته رپوټچي يې که سجع‌ساز؟

په هر صورت کله چې خليفه د هغې سيمې له کړکېچنې وضعې خبر شو، امر يې وکړ چې په هغې سيمې کې وړاندې لاړ نه‌شي.

خو د ۳۸ س= ٦۵۸ ز کال په پای کې و، چې د اسلام لښکر له سيستانه راووت او تر کيکانان (قيقان= د بلوچو د اوسني کلات شاوخوا) غرونو پورې وړاندې لاړ.

چچنامه وايي چې په دې جنگ کې د مسلمانانو لښکرمشر تاغر (ثاغر) بن‌دعر نومېدهٔ. البلاذري د هغهٔ د بل لښکرمشر نوم حارث بن‌مرهٔ عبدي ليکي، هغهٔ د حضرت‌علي رضي الله عنه په اجازه د دې سيمې نيولو ته مخه کړه او ډېر غنيمتونه او مريان يې تر لاسه کړل. په کيکان کې ۲۰ زره پلي کسان د حارث مقابلې ته راووتل، سخت جنگ ونښت حارث هلته په ٤۲ س کې له خپلو ډېرو ملگرو سره ووژل شو.[2]

## د کابل سوبه

په ۳٦ س کال کې د ابن‌سَمُره SAMURA په لاس

د کتاب په لومړي څپرکي کې شرحه ورکړې شوه، چې په لومړيو اسلامي پېړيو کې پر زابلستان د رتبيلانو، پر کابل د کابلشاهانو، پر باميانو د شېرانو، پر غزني او گردېز د لويکانو، د هندوکش په شمالي ولايتونو د تگينانو او پر غور و هرات د سوريانو کورنيو واکمني درلوده. دا ټولې کورنۍ ځايي وگړي او د افغانستان د سيمه‌ييزو واکمنو يا کوشانيانو- هفتليانو له اولادې څخه وو.

څو پاڼې د مخه مو ولوستل چې تر ۳۵ س کال پورې د سيستان د سيمه‌ييزو

[1]- فتوح ۵۳۰ او چچنامه ۷۵: يعنې او به يې خړې، مېوې يې تروې او غلهٔ يې زړور دي، که لږ لښکر ورشي، له منځه ځي او که ډېر ورشي نو له لوږې مري.
[2]- پورتنی اثر ۵۳۱، چچنامه ۷۷.

واکمنو لړۍ - چې وروستنی پولهساتی یې پروېز ایران نومېدۀ - د عربي سوبمنو په لاس ړنګه او اېل شوه او يو کال وروسته بيا هماغه تجربهکار او مدبر عرب کس عبدالرحمن بن‌سمره چې د سيستان په چارو کې يې مخينه، معلومات او تجربه درلوده، د حضرت‌معاويه بن‌ابي سفيان (د صفين د جنګ په بهير کې) له خوا د سيستان د والي په توګه وټاکل او په۳٦ س راولېږل شو.

ابن‌سمره د عربو د نوميالیو مشرانو له يوۀ ټولي سره سيستان ته راغی. ياور يې عباد بن‌حسين او يو شمېر مسلمان پوهان لکه حسن‌بصري هم له هغۀ سره وو. دلته يې د جُمعې جومات او د اسلامي تبليغ مرکز جوړ کړ، چې حسن‌بصري په کې اسلامي احکام تدريسول. ابن‌سمره په سيستان کې تر څه تمېدا وروسته د خواش او بُست له لارې رخج (اوسني کندهار) او زابلستان ته راغی. د دې ځای مرتد شوي وګړي يې په زور او سوله اېل کړل. کابل ته راغی، وګړي يې په کوټ کې کلابند کړل او په منجنيق يې کوټ سوړې بوږې کړ. عرب مېړني ابن‌خازم د کابل له ځواکونو څخه فيل له پښو وغورځاوۀ، کابل ښار يې په زور ونيو او ډېر مريان يې له دې ځايه بوتلل.[1]

ابورفاعه عبدالله بن‌حارث عدوي د بصرې له نوميالو پوهانو او اصحابو څخه دی، چې حديثونه يې ترې روايت شوي دي. هغۀ په دې جنګونو کې ګډون درلود او په ٤٤ س کال په کابل کې شهيد شوی دی. هغه د سيستان په جنګونو کې د عبدالرحمن بن‌سمره ملګری و. د هغۀ نوم يې ابورفاعه تميم بن‌اسيد هم راوړی، چې کنيت يې ابوقتاده عدوي هم ليکل شوی دی.[2] دا هماغه څوک دی چې زيارت يې تر اوسه په کابل کې مشهور او شهدای صالحين يې بولي. د نوميالیو د تذکرو زياتره مؤلفان وايي چې د دې نوميالي صحابي قبر په کابل کې دی.[3]

---

[1] - تاريخ سيستان ۸۵او فتوح ۴۸۸.

[2] - الأصابه ۷ /٦۷.

[3] - ښاغلي عالم ګويا اعتمادي د کابل چاپ آريانا مجلې د لومړي کال په پنځمې ګڼې (۱۳۲۲ل /جوزا /لومړۍ) کې يوه مفصله مقاله ليکلې او له معتبرو کتابونو څخه يې په دې اړه د مؤرخانو اقوال رانقل کړي، د زياتې څېړنې لپاره دې هغه وکتل شي.

ابن سمره خپل شل کلن زړور او پوه قوماندان مهلب بن ابي صفره په فارس الفرسان (د سپرو سپور) مشهور د جنګ لپاره ټاکلی و او کابلشاه چې یو ازمېیلی جنګي سړی و، په دې جنګونو کې په خپله د زړورو پهلوانانو غوندې ګډون کاوۀ چې د هغه خوندور داستان د تاریخ سیستان نامعلوم لیکوال داسې لیکلی دی:

«د کابل پاچاه په خپله هم جنګ کاوۀ، داسې سړی و چې څوک یې سیال نه و، ډېر یې ووژل، تر څو ویشت زرو پورې مسلمانان یې په لاس شهیدان شول. مهلب چې هغه ولید، پر کابلشاه یې برید وکړ. په دې وخت کې کابلشاه خپل لښکر ته ورستون شوی و، هغه یې په نېزه وواهۀ، په شا یې ولګېده، نېزه په زغره کې ننوته، په کابلشاه کې ننه نه وته، راوګرځېدۀ او هغه بله خوا د زغرې یې رامخې ته شوه، مهلب ښه په زور کې شو، چې بیا یې ووهي، دومره څواک یې په ځان کې پیدا کړ، چې ویې غوښتل کابلشاه د اس له شا وتښتوي، تر دې چې هغه اس له ورږه ونیو، اس پر ځای ودرېد. اخر یې نېزه راوایسته او کابلشاه په منډه له هغه ځخه وتښتېد. په دغه وخت کې یې څوک راولېږۀ، سوله یې وکړه او ویې ویل: نه! له دې ډول عسکرو سره په جنګ څه نه کېږي...»[1]

داسې برېښي چې د کابلشاه تر ابلېدو او کابل نیولو وروسته عرب لښکریان د لوی کابلشاه مقابلې ته راوتلي دي، چې همدا مهلب د هغۀ له عسکرو سره جنګېږي او وروستی مقاومت یې له منځه وړي. دې لوی کابلشاه ۲۸ زره مجهز فیل لرونکي سپارۀ درلودل، د دې جنګ داستان هم د تاریخ سیستان د لیکوال له لیکنې څخه اورئ:

---

[1] - تاریخ سیستان ۸۸.

«بیا چې کله د لوی کابلشاه جنگ ته لاړل، هغه له اووه‌و لویو فیلانو او منظم لښکر سره رامخکې شو. له هر لوی فیل سره څلور زره سپاره وو او سخت جنگ يې کاوه. د اسلام عسکر له فیلانو تښتېدل او څوک نه وروړاندې کېدل.

کله چې مهلب دا حال ولید، رامخکې شو، تر زنده‌پیل ورلاندې وت، پیل‌وانانو پرې پیل ورخملاوه، مهلب زنده‌فیل له لاندې نه یوه نېزه وواهه... نور فیلان او عسکر په تېښته ستانه شول. د اسلام عسکرو په وژلو لاس پورې کړ، ډېر يې ترې ووژل او ونیول، داسې لویه سوبه د مهلب په لاس کې وه...»[1]

ابن‌سمره د کابل تر سوبې وروسته مهلب ته لښکرمشري ورکړه او هغه په٤٤س کال کې له کابله د ختیځو ولایتونو نیولو ته مخه وکړه. د ملتان او کابل تر منځ يې بنو او الاهور[2]

---

[1] - تاریخ سیستان ۸۸.

[2] - د بنه او الاهور په ټاکلو کې چې د لاهور په املا هم راغلی، د مؤرخانو اختلاف دی. ځینو بنه اوسنی بنو او الاهور د پېښور ختیځ ته د سمه یوسفزو په سیمه کې د اباسین پر غاړه هنډ ته څېرمه لاهور گڼلې ده، چې اوس لاهور کوچنی کلی دی او شاوخوا ترې د پخوانیو ودانیو پاتې شونې خاورینې غونډۍ تر سترگو کېږي. هغه چې پرښته لاهور د جیپال پلازمېنه گڼلې، همدا د سند سیند پر ښي غاړه لاهور به وي، نه د پنجاب لاهور (پټانان سراولف کیرو ۹۸) مېجر راورټي پر افغانستان د یادښتونو کتاب (۳۱۹مخ) کې په لاهور د الاهور په تطبیق کې له دې امله شکمن دی، چې د سند سیند پر غاړه د یوهٔ لاهور ورته څه پته نه وه او لاهور ته د مهلب رسېدل هم د تاریخي متونو له مخه څرگند نه دي.

بلاذری بنه او الاهور د کابل او ملتان تر منځ گڼي، په داسې حال کې چې د پنجاب لاهور له دې لارې ډېر لیرې پروت دی؛ نو له دې امله د بنه او الاهور په ټاکلو کې بله رایه هم شته دی، چې حقیقت ته نږدې برېښي: څرنگه چې د بلاذري د بیان په لړۍ کې بنه او الاهور د کابل او ملتان پر لاره یاد شوي دي؛ نو بنه به د سلېمان غرهٔ د لمنو او د سند ناوې تر منځ همدا بنو نه وي، ځکه دا بنو هماغه ده چې فخر مدبر مبارکشاه په آداب‌الحرب والشجاعه (۱۲مخ) او بابر په (بابرنامه ۱۱۸ مخ) کې هغه د بنو په املا راوړې او منهاج السراج جوزجاني په طبقات ناصري کې هغه د غزني او ملتان تر منځ د (بنیان) په املا یاده کړې ده او له سلطان التمش سکې راپاتې دي، چې په بنیان کې وهل شوې دي او د شرف‌الدین یزدي په ظفرنامه کې (بانو) دی. تر هغه ځایه چې څرگنده ده: د بلاذري بنه او الاهور باید د پېښور په ختیځ کې د سند سیند پر غاړه د یوسفزیو په سیمه کې د کابلشاهانو دویمنۍ پلازمېنه ویهند (د سند پر غاړه اوسنی هنډ) وي او دلته د سلیم خان او توتالۍ په سیمه کې د گوماتي ویالې په دوه میلۍ او د لاهور په لس میلۍ کې د (بنه ډهېرۍ) یعنې بنه غونډۍ په نامهٔ ځای شته دی، چې خاورینې غونډۍ او د لرغونو آثارو نخښې په کې هم لیدل کېږي. په لس میلۍ کې ورته د لاهور په نامهٔ ځای هم پروت دی (یوسفزئی افغان، په اردو ژبه د الله بخش یوسفي ۲۵۹، دوهم چاپ کراچې ۱۹٦۰ز) چې په قوي گومان باید د بلاذری الاهور همدا لاهور وي (د تفصیل لپاره وگ: پر طبقات ناصري ۲/ ۳٦۵او ۴۱۳ زما نښلونې)

ونیول او سوېل لور ته تر قیقان[1] پورې وړاندې لاړ. عرب شاعر الازدي د مهلب لښکر په بنه کې داسې ستایلې دی:

ألم تـــر أن الأزد لیلـــة بیتـــوا   ببنة کانوا خیر جیش المهلب[2]

(یعني آیا د مهلب د لښکر تر ټولو غوره نومیالي ازدیان دي ونه لیدل، چې د شپې په بنه کې وو.)

د مهلب لښکریان د قیقان (د بلوچو کلات) په ښار کې د هغې سیمې له اتلسو سپرو جنګیالیو سره مخامخ شول، دا اتلس مېړني سپارهٔ تر وروستۍ سلګۍ پورې وجنګېدل او مړهٔ شول. څرنګه چې د دې سپرو د اسونو ورږ او لکۍ پرېکړې شوې وې، مهلب لومړی ځل امر وکړ، چې د عربي اسونو ورږ او لکۍ هم همداسې پرېکړي.[3] دا د عربو لومړۍ لښکرکښي وه، چې د کابل له لارې د سند پر شاوخوا سیمو وشوه. ځینو نویو مؤرخانو د ا برید د خیبر درې له لارې ګڼلی دی؛[4] خو د پخوانیو تاریخي اسنادو له مخه څرګنده نه ده او ښایي چې د کابل سیند ناوې یا د کونړ او باجوړ له لارې تېر شوي وي.

د تاریخ سیستان لیکوال وایي د عبدالرحمن د واکمنۍ موده ۳ کاله وه، د هغهٔ د امارت په پېر کې د اسلام بنسټونه په افغانستان کې تر کابل پورې ټینګ شول او یو شمېر مسلمانو عالمانو، چې په سر کې یې حسن‌بصري و، د تبلیغ له لارې اسلامي احکام په خلکو کې ټینګ کړل. کله چې عبدالرحمن له دې مادي او معنوي سوبو

[1] - قبقان یا کیکانان په اوسني بلوچستان کې د بلوچو کلات ته نږدې یو ښار و؛ خو په تاریخ سیستان (۸۸مخ) کې د هغهٔ پر ځای قندابیل دی، چې اوس یې په هماغهٔ بلوچستان کې ګنداوه بولي (جغرافیه ممالک خلافت شرقیه ۳۳۲).

[2] - فتوح‌البلدان ۵۳۱.

[3] - پورتنی اثر ۵۳۱.

[4] - تاریخ سند، د سید ابو ظفر ندوی، د هند د اعظم ګړهـ چاپ، ۱۹۴۷ز.

وروسته د معاويه دربار ته لاړ، د هغهٔ پر ځای په ٤٥ س کال کې ربيع بن‌زياد د سيستان واکمن وټاکل شو. په خپله عبدالرحمن په ٥٠ س کال کې په بصره کې ومړ. وايي عبدالرحمن له کابله عراق ته مريان بيولي وو، چې په بصره کې يې د هغهٔ په ماڼۍ کې د کابل ودانيو په دود يو جومات د هغهٔ لپاره جوړ کړی و.[1]

[1] - فتوح ۴۸۹، تاريخ سيستان ۸۹، طبري ۴/ ۱۷۰.

## ۳- د امویانو پېر

(۴۰ – ۱۳۲س)

په ٤٠ س کال کې د حجاز له امويانو څخه حضرت‌معاويه بن‌ابوسفيان د راشده خليفه‌گانو د پېر تر پای ته رسېدو وروسته پر پراخ اسلامي هېواد واک وموند. هغه مدبر او هوښيار سړی و، د هېواد په اداره کې يې پوخ لاس او زياته ځيرکي درلوده او د واکمنۍ ځانگړنې په کې راټولې وې.

د هغۀ د امارت په پير کې د اسلامي اداري د مرکزونو انديښنې او کورنۍ شخړې پای ته ورسېدې او مسلمانو لښکرو او نوميالو خپلو سوبو ته په بېلابېلو جبهو کې ادامه او پراختيا ورکړای شوه؛ په خراسان کې هم مسلمانو لښکرمشرانو په دوو شمالي او سوېلي جبهو کې پرمختگ وکړ.

په شمال کې هغه مهال چې په کوفه، بصره او دمشق کې د عربو اميرانو ترمنځ کورنۍ شخړې او جنگونه روان وو او په پای کې څلورم خليفه حضرت‌علي رضي الله عنه شهيد شو او د هغۀ زوی امام حسن رضي الله عنه د خلافت چارې حضرت‌معاويه ته پرېښودې، د بادغيس، هرات، پوشنگ او بلخ يعنې ختيځ خراسان خلکو وخت غنيمت گڼلی او د عربو د اطاعت‌پړي غوټه يې سسته کړې وه، خو حضرت‌معاويه خراسان د بصرې له امارت سره عبدالله بن‌عامر ته پرېښود. عبدالله له خپلې خوا قيس بن‌هيثم سلمی پر خراسان والي کړ (٤١ س کال).

قيس د هرات او شمالي خراسان سيمې لاندې کړې او تر بلخ پورې وړاندې لاړ. د بلخ مشهور او پخوانی عبادتځی نوبهار يې ويجاړ کړ. وچ عطاء بن‌سائب[1] نومې يو

---

[1] - لومړنی مسلمان کس چې هرات ته د وچې دروازې له لارې ننوتی و، عطاء و؛ نو ځکه يې ورته وچ عطاء وايۀ (الکامل۳/ ۲۱۱) د هرات ښار دا دروازه تر اوسه په همدې نامۀ يادېږي.

کس يې د بلخ حاکم کړ. عطاء د بلخ په يو سفر کې د هغهٔ پر درېو نهرونو پلونه جوړ کړل چې د عطا پر پلونو مشهور وو. د بلخ خلکو چې له قيس څخه د سولې هيله وکړه، له هغو سره يې سوله وکړه. عبدالله بن‌خازم يې پر هرات، پوشنگ او بادغيس په سوله والي کړ چې د هغه په وسيله له دې ځايه ډېرې شتمنۍ ابن‌عامر ته ورسېدې. ٤١ س کال.[1]

په ٤٥ س= ٦٦٥ ز کې زياد بن‌ابوسفيان (د سميې زوی او د معاويه دعوه‌يي يعنې استلحاقي ورور) د بصرې، خراسان، سيستان او شاوخوا سيمو د حاکم په توگه وټاکل شو. هغهٔ پر دې خاوره له خپلې خوا کسان حاکمان کړل او خراسان يې په لاندې ولايتونو ووېشهٔ:

پر مروه امير بن‌احمد يشکري، دهٔ لومړي ځل په مروه کې عرب استوگن کړل.

پر ابرښار (نيشاپور) خليد بن‌عبدالله حنفي.

پر مروه‌رود، فارياب او تالقانو قيس بن‌هيثم.

پر هرات، بادغيس، قادس او پوشنگ نافع بن‌خالد طاحي.

زياد پر دې کسانو ډېر شريف او سپېڅلی سړی حکم بن‌عمرو غفاري وټاکهٔ چې د پېغامبر ﷺ له اصحابو څخه و. هغهٔ پر دغو ولايتونو سربېره د امو په شمال کې هم پرمختگ وکړ.[2]

ابن‌اثير وايي غفاري لومړنی مسلمان دی چې له امو سينده يې اوبه وڅښلې، اودس يې تازه او د يوهٔ (احد ذات) لپاره يې دوه رکعته لمونځ وکړ. همدې ښاغلي صحابي لومړی ځل د غور پر غرونو يرغل وکړ، د هغهٔ ځای وگړي يې د تورې په زور اېل کړل او ډېر غنيمتونه يې ونيول.

وايي چې زياد هغه ته وليکل: اميرالمؤمنين له ما څخه سرهٔ او سپين زر غوښتې دي، نو هغه بايد په خلکو ونه وېشې او راويې لېږې. غفاري يې په ځواب کې وليکل: ما ته د الله

---

[1] - فتوح ٥٠٦ او الکامل ٣/ ٢١٣.

[2] - پورتنی اثر ٥٠٦ او طبري ۴/ تر ١٦٥ وروسته او الکامل ٣/ ٢٢٨.

کتاب د امیر تر لیک د مخه رارسېدلی دی؛ نو له دې امله یې ټول سرۀ او سپین زر پر خلکو ووېشل او بیا په ۵۰ س کال کې د خراسان په مروه کې ومړ.[۱]

په ۵۱ س کال کې د بادغیس او گنج‌روستا وگړو پاڅون وکړ او خپل پخواني دین ته بېرته واوښتل؛ نو شداد بن‌خالد اسدي پرې یرغل وکړ، ډېر یې ووژل او ځینې یې مریان ونیول؛ خو معاویه له هغوی سره خپله ژمنه ترسره او مریان یې ایله کړل. لومړني مریان چې بېرته یې خراسان ته ورکړل هغه وو.[۲]

د غفاري په مړینې پخواني تشکیلات رنگ شول، زیاد په خراسان کې د عرب مېشتېدنې سیاست خپل کړ او په گانده کې یې د دې خلکو د سرکښیو د مخنیوي لپاره، ربیع بن‌زیاد حارثي په۵۱ س= ۶۷۱ز کې د خراسان والي کړ. پنځوس زره عرب یې له خپلو کورنیو سره تر امو راپورې ولایتونو کې مېشت کړل، چې د عربو ځینې لوی مشران هم په کې وو. له دې نویو راغلو عربو څخه ۲۵ زره کوفیان د عبدالله بن‌ابي‌عقیل او ۲۵ زره بصریان د ربیع تر مشرۍ لاندې وو، چې بیا د امو شمال ته پراتۀ ولایتونه د همدې نویو راغلو ځواکونو په وسیله تر گواښ لاندې ونیول شول. کله چې ربیع بن‌زیاد حارثي په ۵۳س کال کې ومړ او زوی یې عبدالله بن‌ربیع هم دوې میاشتې وروسته په مروه کې ومړ، په دې وخت کې زیاد بن‌ابوسفیان هم له نړۍ وکوچېد (۵۳ س) نو حضرت‌معاویه، ۲۵ کلن ځوان عبیدالله بن‌زیاد د خراسان والي کړ. هغه په ۵٤ س کال کې له ۲٤ زره عرب لښکر سره د امو له سوېله پر بخارا او د امو په شمالي ولایتونو یرغل وکړل او له قبج‌خاتون بخارا خداة (د بخارا ملکه) سره یې په یو ملیون درهمو سوله وکړه. عبیدالله دوه کاله نور د خراسان واکمن پاتې شو.[۳]
په عبیدالله پسې په ۵٦ س کال د درېیم خلیفه عثمان ﷺ زوی سعید، د معاویه له خوا د خراسان والي وټاکل شو. هغه له خپلو ځواکونو سره له امو تېر شو او بخارا یې

---
[۱] - الکامل ۳/ ۲۳۰ او ۲۳۷، زین‌الأخبار، ٦۰ ب خطي پاڼه.
[۲] - زین‌الأخبار، ٦۰ ب خطي پاڼه.
[۳] - فتوح تر ۵۰٦ وروسته او طبري ۴/ تر ۲۱٦ وروسته او الکامل ۳/ ۲۴٦ او زین‌الأخبار، ٦۱ الف پاڼه.

ونیوه. په دې جنګ کې قُثَم بن‌عباس د حضرت‌محمد ﷺ د ترۀ زوی هم له هغۀ سره و چې په سمرقند کې شهید او ښخ شو؛ خو سعید له خپل شریک سره د خراسان په خراج کې چل وکړ. له دې امله معاویه له هغۀ څخه ووېرېد او ګوښه یې کړ. د هغۀ پر ځای یې په ۵۹ س کال کې عبدالرحمن بن‌زیاد بن‌ابوسفیان چې شریف سړی و، خراسان ته راولېږۀ. هغه تر دوو کلونو او د معاویه تر مړینې پورې دلته پاتې شو.[1]

کله چې په ٦٠ س کال حضرت‌معاویه په دمشق کې ومړ او پر ځای یې زوی یزید کښېناست، هغۀ د عبدالرحمن ٢٤ کلن ورور سلم بن‌زیاد د خراسان او سیستان حاکم کړ. له هغۀ سره د بصرې د سپرو یو شمېر مخور، عرب توریالي او شپېر زره د وخت غوره او ښه لښکریان هم وټاکل شول او په جنګ یې لاس پورې کړ؛ خو ژمی راورسېد؛ نو د عربو لښکریانو په مروه شاهجان کې دمه وکړه. د خراسان دهقانان خوارزم ته نږدې د خراسان په یوۀ ښار کې سره راغونډ شول چې په مشوره د خپل کار چاره وسنجوي. د عربو له مخورو څخه مهلب بن‌ابي صفره هم له سلم سره و، هغۀ په شپږو زره عربي ځواکونو نوموړي امیران په هغۀ ښار کې کلابند کړل. په څو ویشت ملیونه درهمو خراج او د ۵۰ ملیونه نور تاوان په اخیستو یې ورسره سوله وکړه او دا مال یې د مروې له پوله‌ساتي سره یزید بن‌معاویه ته ور ولېږۀ.[2]

سلم بن‌زیاد د یزید او د هغۀ د زوی معاویه تر مړینې٦۵س کال پورې په خراسان کې حاکم و. څرنګه چې د یزید او د هغۀ د زوی په مړینه د امویانو امارت ولړزېد، خراسانیانو پاڅونونه او د سلم له اطاعته سر غړونې وکړې. سلم سرخس ته لاړ او مهلب بن‌ابي صفره یې د مروه‌رود، فاریاب، تالقانو او جوزجان والي کړ. په هرات کې یې اوس بن‌ثعلبه بن‌زفر وټاکۀ. کله چې نیشاپور ته ورسېد، هلته یې خراسان د امارت فرمان له یو لک درهمو سره عبدالله بن‌خازم ته ورکړ.

[1]- فتوح ۵۱۰، طبري ۴ /۲۳۳. ګردېزی د عبیدالله د حاکمۍ پیل ۴۴س او د حکومت مرکز یې مروه لیکي او وایي چې سعید په ۵۲س کې مروې ته راغی.

[2] - طبري ۴/ ۳٦۲او الکامل ۴/ ۴۹.

په دې وخت کې په خراسان کې د عربي قبيلو او عرب مشرانو تر منځ نفاق راولاړ شو، خراسانيانو له دې نفاقه ګټه واخيسته، د هغوی چارواکي يې وشړل، ان په هرات کې يې د ابن‌خازم پر مانۍ يرغل وکړ او عرب يې کلابند کړل؛ خو ابن‌خازم پرې برى وموند. خپل زوی محمد يې د هغهٔ ښار والي وټاکهٔ او په خپله مروې ته لاړ.[1]

ابن‌خازم د عربي بني تميم قبيلې په مرسته خپل سيالان له خراسان څخه ورک کړل او وشاح بن‌بکير يې د شماس بن‌دثار په ملګرتيا لښکرمشر وټاکهٔ؛ خو تميميانو پاڅون وکړ او په هرات کې يې محمد بن‌عبدالله بن‌خازم وواژهٔ. (٦٥س) دا نفاق په ټول خراسان کې له مروې تر ابرښار پورې پاتې شو. چې په بل کال ٦٦ س کال ابن‌خازم بيا د عربي قبيلو يو شمېر مشران په فرتنا[2] مانۍ کې کلابند کړل. په دې جنګ کې له دواړو لورو يو شمېر مخور ووژل شول او ابن‌خازم د همدې نفاق او ګډوډۍ په حال کې په خراسان کې پاتې شو، تر دې چې په پای کې له بني تميمو څخه بحير بن‌وفاء صريمي[3] پر طوس او د نيشاپور پر ابرښار يرغل وکړ. ابن‌خازم خپل زوی موسى له خپلو مالونو او پنډونو سره ترمذ ته ولېږهٔ.[4] څرنګه چې په دې وخت کې د امويانو امارت عبدالملک بن‌مروان ته رسېدلی و او يو شمېر عربو له عبدالله بن‌زبير سره بيعت کړی و، نو په (٧٢ س کال) کې عبدالمالک، بن‌خازم ته د خراسان د اووه کلن امارت له ژمنې سره يو ليک واستاوهٔ چې له خلکو څخه ورته بيعت واخلي؛ خو ابن‌خازم د عبدالملک غوښتنه ونه منله او د هغهٔ ليک يې د هغهٔ په استازي سورة بن‌اشيم وخوړ او ويې ويل: که

---

[1]- طبري ۴/ تر ۴۲۰ وروسته او الکامل ۴/ ٧٦.

[2] - فَرتَنا: په مروه‌رود کې يوه مانۍ وه (مراصد ۴/ ۱۰۲) دا کلمه ابن اثير ناسمه لوستې او «و اتى قصره قريباً عدة من فرسانهم» يې ليکلې (الکامل ۴/ ۱۲۵) په داسې حال کې چې په طبري کې پرلپسې فرتنا راغلې او دا سمه ده.

[3] - په طبري کې ۵/ ۲۱: بحير ابن ورقاء صريمي. ګرديزی: بحر ابن ورقا.

[4] - طبري۴/ ۴۸۴ او ۵۴۵، الکامل ۴/ ۱۰۲ او ۱۲۵ او فتوح ۵۱۲.

د ابن‌طریده (عبدالملک) بیعت د رسول‌الله ﷺ د نږدې ملګري د زوی پر اطاعت غوره وګڼم، نو سبا به الله ﷻ ته څه ځواب ووایم؟[1]

عبدالملک چې د ابن‌خازم دا ځواب واورېد، د خراسان د عربو له نفاقه یې کار واخیست او د ابن‌خازم له خوا د مروې حاکم، بکیر بن‌وشاح[2] ته یې د خراسان امارت ورکړ. بکیر د ابرښار او مروې له خلکو څخه د عبدالملک لپاره بیعت واخیست. ابن‌خازم چې بکیر پیاوړی ولید، نو د ترمذ په لور زوی ته ورروان شو؛ خو بحیر بن‌ورقاء د عربو له یوه ټولي سره ورپسې شو او د مروې په اته فرسخۍ‌شاهمیغد کلي کې یې ونیو او د وکیع بن‌عمیره قریعي په لاس له دوو زامنو عنبسه او یحیی سره ووژل شو. د هغه‌سر یې په دمشق کې عبدالملک ته ورولېږه (۷۲س کال).[3] هغه تر ټولو پخوانی‌مسلمان امیر دی چې په خراسان کې یې په خپل نامه سیکه ووهله. بارتولد وایي د دې سیکې بېلګه په ترکستان کې د روسي جنرال کوماروف په ټولګه کې موجوده وه.

د ابن‌خازم تر وژنې وروسته د بکیر او بحیر تر منځ هم شخړه پیدا شوه، خراسانیان هم د عربو له دې شخړو او نفاق څخه ډېر ستړي شول، عبدالملک ته یې ولیکل چې له قریشو څخه یو کس د خراسان والي وټاکي چې د عربو د قبیلو د شخړو او جنګونو مخنیوی وکړي؛ نو هغه امیه بن‌عبدالله اموي د خراسان او بکیر بن‌وشاح د تخارستان والي کړ (۷٤ س کال.[4] کله چې امیه خپل زوی عبدالله هرات او سیستان ته راولېږه رتبیل هغه ونیو او ویې واژه.[5] خو د امیه امارت هم د خراسان د عربو شخړې کرار نه کړای شوې او لږ وروسته د امیه او بکیر تر منځ هماغسې جنګ ونښت. کله چې امیه د بخارا د نیولو او د موسی بن‌عبدالله خازم (چې په ترمذ کې ناست و) د مخنیوي هوډ وکړ، بکیر مروې ته راغی، د امیه زوی یې ونیو او خراسانیان

---

[1] - فتوح ۵۱۲ او تاریخ یعقوبي ۲/ ۲۷۱.

[2] - یعقوبي: بکیر ابن وساج؟

[3] - فتوح ۵۱۳، طبري ۵/ ۲۲، الکامل ۵/ ۱۸۸ او تاریخ یعقوبي ۲/ ۲۷۱.

[4] - پورتنی اثر ۵۱۳، طبري ۵/ ۳۸ او الکامل ۴/ ۱۷۸.

[5] - تاریخ یعقوبي ۲/ ۲۷۲.

يې د اميه پرخلاف وپارول. اميه په بېره د بخارا له خلکو سره د ډېر لږ باج په اخيستو سوله وکړه. موسی يې هم په ترمذ کې پرېښود او په خپله له امو راپورېوت، بکير ته يې ماتې ورکړه، ويې نيو او ويې واژۀ (۷۷س کال).[١]

## د حَجّاج[٢] د امارت په پېر کې

عبدالملک بن‌مروان په ۷۸ س کال کې اميه بن‌عبدالله له خراسان څخه گوښه کړ او د خراسان او سيستان ټول ولايتونه يې حجاج بن‌يوسف ته وسپارل. حجاج د امويانو يو پياوړي خو ظالم امير و. هغۀ له خپلې خوا د خراسان حکومت مهلب بن‌ابي صفره او سيستان عبيدالله بن‌ابي بکره ته ورکړ. مهلب له امو سينده پورېوت او په ۸۰ س کال کې يې ختل، کش، سغد، نسف او نور ووهل. کله چې په ۸۲ س کال کې د مروه‌رود زاغول ته ورسېد، هلته يې له نړۍ سترگې پټې کړې. حجاج يې پرځای د هغۀ زوی يزيد بن‌مهلب ته د خراسان امارت ورکړ. په دې وخت کې ابن‌اشعث لکه چې د رتبيلانو په بحث کې تېر شول هرات ته راغی؛ خو يزيد ورته ماتې ورکړه (۸۳ س کال). يو کال وروسته (۸٤س) يې په بادغيس کې د نيزک کلا ونيوه او د هغه ځای خزانې يې خپلې کړې؛ حجاج په ۸۵ س کال کې يزيد له خراسانه گوښه کړ. د يزيد پر ځای يې د هغۀ ورور مفضل بن‌مهلب وگومارۀ. هغه شپږ مياشتې وروسته بادغيس په جنگ ونيو او ډېر غنيمتونه يې تر لاسه کړل چې هر لښکري ته يې اته سوه درهمه ورسېدل. تر دې وروسته يې پر اخرون او شومان[٣] هم ور ودانگل. په همدې کال د موسی بن‌عبدالله بن‌خازم- چې په ترمذ کې يې مرکز جوړ کړی او څو ځله د ماوراءالنهر له خلکو سره جنگېدلی و - د ځپلو لپاره د مفضل

[١]- فتوح ۵۱۴، طبري ۵/ تر ۱۲۸ وروسته او الکامل ۴/ ۲۱٦.

[٢] - ابو محمد بن يوسف بن حکم ثقفي (۴۰- ۹۵س) ځيرک لارښود او وينې تويوونکی عرب خطيب دی، چې د حجاز په طايف کې زېږېدلی. د عبدالملک اموي په پېر کې په شام کې لښکرمشر شو. په حجاز کې د عبدالله ابن زبير پر وړاندې وجنگېد، هغه يې وواژۀ، پر مکه، مدينه او طايف حاکم شو. تر دې وروسته په اموي دربار کې تر ټولو لوی اداري کس، لښکرکښ او ډېره موده د عراق او خراسان لوی حاکم و. مؤرخان هغه د خپل پېر وينې تويوونکی کس گڼي. هغه د واسط ښار جوړ کړ او په همدې ښار کې په ۹۵س ومړ او قبر يې اوبو يووړ (الأعلام۲/ ۱۷۵).

[٣] - شومان: د ماوراءالنهر په چغانيانو کې يو ښار و (مراصد ۲/ ۸۲۰).

له خوا ۱۵ زره لښکر د عثمان بن‌مسعود په مشرۍ وگومارل شو، چې د امو شمالي سيمې يې د موسی له ځواکونو څخه پاکې کړې او په خپله هغهٔ يې هم وواژهٔ.[۱]

## قتيبه بن‌مسلم باهلي[۲]

د امويانو په پېر کې خراسان د اړ و دوړ او شخړو سرچينه وه، دې کار دوه لامله درلودل: يو دا چې د خراسان خلکو او ځايي واکمنو د عربو واکمنو اطاعت ته په اسانۍ غاړه نه ايښوده، ځو ځو ځله د اړ و دوړ او شخړو سرچينه وگرځېد او غوښتل يې چې خپله خپلواکي له لاسه ور نه کړي.

دوهم په عربو کې د قبيلوي روح فساد ډېر کلک ځای نيولی و، کله چې يې خراسان ونيو، د عربي قبيلو په منځ کې د مشرۍ، لوړوالي او واکمنۍ د مسألې پر سر سخت اختلافات راولاړ شول، چې په دې سيمه کې يې د عربي ولکې دوام سخت گواښهٔ. اموي دربار د خراسان کړکېچني اوضاع ته ځير و، د مفضل بن‌مهلب پر ځای يې- چې له پرهېزگارۍ او نېکۍ کورنۍ څخه و- يو ډېر سرتمبه، لښکرکښی او خوني سړی پر خراسان وگومارهٔ.

دا پولادي سړی قتيبه نومېدهٔ، چې د وليد بن‌عبدالملک د امارت پر لومړي کال (۸۶ س) د حجاج بن‌يوسف له خوا خراسان ته راغی. دا داسې مهال و چې مفضل خپل لښکر د ماوراءالنهر د شومان او اخرون نيولو لپاره چمتو کړی و. قتيبه چې د ادب، ژبې او تورې سړی و، د دې لښکر د معاينې پر مهال يې يوه پاروونکې وينا وکړه. اياس بن‌عبدالله يې

---

۱ - فتوح ۵۱۶، طبري ۵/ تر ۱۹۵ وروسته، الکامل۴/تر ۲۱۹وروسته، تاريخ يعقوبي ۲ / ۲۷۶ او زين‌الأخبار ۶۲مه الف پاڼه.

۲ - ابوحفص قتيبه ابن مسلم ابن عمرو ابن حصين باهلي د اموي پېر له لويانو او نوميالیو سوبمنو او د عربو له وياړونو څخه دی. هغه په خپله لس کلنه حاکمۍ کې په ماوراءالنهر کې د چين تر څنډو مخکې لاړ او په آزادۍ سره يې حاکمي وکړه. پر عسکري زړورتيا سربېره يې په عربي شعر او روايت کې هم لاس درلود. په ۴۹س کې وزېږېد او په ۹۶س کې هغه مهال چې د سلېمان ابن عبدالملک اموي امير په پېر کې يې خپله بشپړه خپلواکي اعلان کړه او د اموي دربار له اطاعت څخه يې سر وغړاوهٔ، د عربي لښکر مشران يې پر وړاندې راپاڅېدل او وکيع ابن حسان تميمي هغه په فرغانه کې په ۵۵ کلنۍ کې وواژهٔ. لکه چې د دې کتاب په لومړي څپرکي کې تېر شول، هغه د هندوکش د شمالي ولايتونو او تر بغلان پورې د تخارستان په نيولو کې هېښنده لښکري کارنامې لري، چې په دې سيمو کې يې ډېر وگړي ووژل (الأعلام ۶ /۲۸).

په مروه کې د لښکري چارو او عثمان بن‌سعدي[1] يې د ماليو او باج لپاره پرېښود او په خپله له مجهزو لښکريانو سره د افغانستان شمالي ولايتونو ته راوخوځېد. کله چې تالقانو ته راورسېد؛ د بلخ ځينې مشران او دهقانان راغلل او غاړه يې کېښېښوده. چې له امو سينده تېر شو، د اعورچغانيانو قوماندان بيش د سپينو زرو له کونجيانو سره ډالۍ راوړې او قتيبه يې خپل دربار ته وبالۀ. همدا رنګه د کفتان (په طبري کې همداسې؛ خو په فتوح کې کفيان) حاکم او د جوزجان قوماندان ډالۍ وړاندې کړې او غاړه يې کېښېښوده؛ خو د شومان او اخرون (تخارستان) واکمن مقاومت وکړ او قتيبه سره تر جنګ وروسته يې د باج په منلو امان وموند او قتيبه له هغه ځای مروې ته ستون شو. خپل ورور صالح يې لښکرمشر کړ. په ماوراءالنهر کې يې د نصر بن‌سيار سره په سوبو او جنګونو لاس پورې کړ.

وايي چې په همدې کال د بلخ په جنګ کې د نوبهار عبادتځي د خادم ډاکټر ابي خالد برمک بن‌برمک ښځه هم نيول شوې وه، چې د قتيبه له ورور عبدالله بن‌مسلم څخه امېدواره شوه او کله چې قتيبه له بلخيانو سره سوله وکړه او بنديان يې بېرته ورکول، دې بلخي ښځې د خپل بچي د نسب ثابتولو دعوه وکړه. عبدالله په همدې ورځو کې ومړ؛ خو د دې ښځې د اولاد د نسب ثابتولو سپارښتنه يې وکړه.[2]

په خراسان کې د قتيبه واکمنۍ لس کاله له ۸۶ – ۹۶ س پورې دوام وکړ او په دې موده کې د عربو دې نامتو جنرال د امو په شمال کې ډېرې سوبې او لښکرکښۍ وکړې، چې د کتاب له موضوع څخه بهر دي؛ خو هغه څه چې په دې لسو کالو کې د افغانستان په شمالي سيمو کې وشول، شرحه يې د دې کتاب د لومړي څپرکي د نيزک په بحث کې تېره شوه.

مؤرخانو په خراسان کې د قتيبه د واکمنۍ د پېر د عربو لښکريانو شمېر شرحه کړی دی، چې دا عسکر په (۹۶س) کال کې د وکيع بن‌حسان په مشرۍ د قتيبه پر ضد راپاځېدل او په پايله کې قتيبه د هغه له يوولسو خپلوانو سره ووژل شو. د عربو د دې عسکرو شمېر داسې و:

---

[1] - همدارنګه په طبري کې؛ خو په الکامل کې: عثمان السعيدي.

[2] -فتوح ۵۱۷، طبري ۵/تر ۲۱۴ وروسته، الکامل ۴/ ۲۵۲ د دې روايت کره‌کتنه به د دې کتاب د برمکيانو په برخه کې راشي.

له بصريانو نهه زره، له بکر اووه زره د حضين بن‌منذر په مشرۍ.

له بني تميم لس زره، د ضرار بن‌حصين ضبي په مشرۍ.

له ازد قبيلې لس زره، د عبدالله بن‌حوذان په مشرۍ.

له عبدالقيس څلور زره، د عبدالله بن‌علوان عوذی په مشرۍ.

له کوفيانو اووه زره، د جهم بن‌زخر او عبيدالله بن‌علي په مشرۍ.

عجمي مريان اووه زره، د حيان خراساني په مشرۍ.[1]

د دې عسکرو ټول شمېر ۵۴ زره و.

د دې عربو لښکريانو شمېر دومره زيات نه و، چې له سمرقند، شاش (تاشکند) او د چين له څنډو دې تر بغلان پورې د ټول خراسان او ماوراءالنهر لپاره بسنه وکړي؛ خو کلکه او پياوړې اسلامي روحيه، د قتيبه او نورو عربو لښکرمشرانو زړورتيا او وړتيا، د پخواني دين و مذهب کمزوري او شړېدا، د قبيلوي مشرانو اختلاف او د خراسانيانو د مرکزيت نشتون د دې لامل شو چې دا لږ ځواکونه دا ټوله سيمه لاندې کړي.

خو د امويانو نفاق او قبيلوي فيوډاليزم (ځمکوالي) او د حجاج بن‌يوسف مړينه (۹۵س کال) د دې لامل شو چې پر خراسان د عربو د ولکې بنسټ ولړزوي. خراسانيان چې داسې موقع ته سترگې پر لاره وو- لکه چې وروسته به راشي- د عربو له دې قبيلوي شخړو څخه يې ډېره گټه واخيسته.

څرنگه چې د امويانو د امارتي نظام بنسټ پر قبيلې، شخص او کورنۍ ايښودی شوی و او په ۹۶ س کال کې سلېمان بن‌عبدالمالک د اموي امارت پر پلاز کښېناست او حجاج بن‌يوسف هم ومړ، نو دوه کسه ډېر زړور او نړۍ نيوونکي اموي جنرالان چې له حجاج سره يې اړيکي درلودل، د سلېمان په دربار کې وځکول او ورټل شول.

يو په شمال کې همدا قتيبه بن‌مسلم چې تر تاش او کاشغر پورې په خراسان او ماوراءالنهر کې اسلامي سوبې د هغهٔ د همت پوروړې دي او بل محمد بن‌قاسم ځوان اموي لښکرمشر چې د سند په جبهه کې يې د سمندر تر څنډو، دېبل او ملتان

[1] - فتوح ۵۲۰، طبري ۵/ ۲۷۷ او الکامل ۵ /۷.

پورې پرمختګ وکړ. دا دواړه لوی، زړور او بريالي جنرالان د سلېمان د دربار پر پلمو په ډېر خواشينوونکي ډول ليرې او ووژل شول.

## د يوۀ خراساني ونډه

په داسې وخت کې چې په خراسان کې د امويانو ولکه کمزورې کېده، د عربو له خپلمنځي شخړو څخه د خراسانيانو ګټه اخيستنه، يو داسې کار و چې دې خلکو هېر نه کړ. لکه چې په تېرو کرښو کې مو ولوستل، د قتيبه په ٥٤ زره عسکري ټوليو کې اووه زره عجم هم وو، چې مشري يې يوه ترټرې کوله او هغه حيان خراسانی و. حيان د خپلو خلکو د ګټې په پار د عربو د کورنيو جنګونو په اوربلونه کې لاس درلود.

حيان خراساني د قتيبه خطرناک سيال وکيع بن حسان د هغۀ پر خلاف ولمساوۀ او د مرستې - ملګرتيا ژمنه يې ورسره وکړه. کله چې د دې دوو سيالو عربو کار جنګ ته ورسېد، وکيع عربي عسکر د قتيبه پر ضد پاڅول، حيان خپلو عجمو عسکرو ته داسې وويل:

«عرب د خپلو ديني احکامو پر خلاف سره جنګيږي، پرېږدۍ چې يو بل سره ووژني»[1] « ای د عجمو ډلې! نو ځانونه د قتيبه لپاره وژنئ؟ آيا دا ناروغي تاسو ته غوره ده؟»[2]

حيان خپل زوی ته لارښوونه وکړه چې که د جنګ په ډګر مې خپله خولۍ وګرځوله او د وکيع د لښکريانو لور ته ورغلم، بايد ټول عسکر د وکيع له ځواکونو سره يو ځای شي.

د حيان دا لارښوونه ترسره شوه؛ نو عجميان له وکيع سره يوځای شول او قتيبه له ټولې کورنۍ سره له منځه لاړ. حيان وتوانېدۀ د عربو دا سوبمن، پياوړی او پوه جنرال چې په خراسان کې يې وينې تويې کړې وې، په خپله د عربو په لاس له منځه يوسي،

[1] - طبري ٥ /٢٧٧.
[2] - فتوح ٥٢١.

چې ښېشکه په خراسان کې د عربو د ولکې او واکمنۍ د ځوړ پیلامه وه.

وایي یوهٔ خراساني د قتیبه تر مړینې وروسته وویل:

«ای عربو! تاسو داسې سړی وواژهٔ، که زموږ او مړ وای، د هغهٔ جسد مو په تابوت کې ایښودهٔ چې د جنګ په ورځ د هغهٔ په وسیله بریالي شوی وای...»[1]

حیان په خراسان کې د عربو تر ټولو لوی او کارند دښمن وپېژندل شو، داسې چې په ۱۰۲س کال کې سورة بن‌حر، د عربو قوماندان سعید خذینه ته اطلاع ورکړه، چې حیان د عربو تر ټولو لوی دښمن دی. هغهٔ خراسان د قتیبه پر ضد راپاڅاوهٔ او اوس هم غواړي چې تا ته شخړې راپیدا کړي او په خپله له دې کلاګانو څخه په یوه کې پټ شي.

سعید خپلې غونډې ته حیان راوغوښت، په شیدو کې یې زهر ورکړل، نو څلور ورځې وروسته ومړ او په دې ډول د دې نومیالي د ژوندانهٔ کیسه پای ته ورسېده.

۱- طبري ۵/ ۲۸۳.

## ۴- د ابومسلم تر پاڅون پورې اموي امیران

د قتیبه تر وژنې وروسته د هغهٔ وژنو (قاتل) وکیع بن‌حسان تر لسو میاشتو پورې پر خراسان واکمني وچلوله. په ۹۷ س کال کې یزید بن‌مهلب د سلیمان‌بن‌عبدالمالک له درباره خراسان ته راغی. لومړی کار یې دا و چې خپل زوی مخلد یې د وکیع د محاسبې لپاره وټاکهٔ، هغه یې بندي کړ او ورته ویې ویل: «د خدای مال راکړه!» خو وکیع ځواب ورکړ:«آیا زه د الله ﷻ خزانچي وم؟»

یزید خپل زوی مخلد په خراسان کې پرېښود او په خپله یې له یو لک جنګي عربو او خراسانیانو سره د خراسان لوېدیځې خوا جرجان او دهستان ته مخه کړه. تر هغې چې په ۹۹س کال کې سلیمان بن‌عبدالمالک ومړ او پر ځای یې اموي نیاومن، قلندر او سمچاری اموي خلیفه حضرت‌عمر بن‌عبدالعزیز کښېناست. دا لوی او پرهېزګار خلیفه د پېغامبر او د هغهٔ د خلیفه‌ګانو پر لاره روان شو، هره خوا یې اسلامي سوبو ته دوام ورکړ. د ماوراءالنهر قوماندانانو ته یې لیک وکېښ او هغوی یې د اسلام دین ته راوبلل، چې ځینو د اسلام دین ومانهٔ. خلیفه جراح بن‌عبدالله حکمي د خراسان امیر وټاکهٔ. هغهٔ مخلد بن‌یزید او د هغهٔ چارواکي بندیان کړل او عبدالله بن‌معمر یشکري یې ماوراءالنهر ته ولېږهٔ، چې د شاش او چین تر پولو پورې مخکې لاړ. جراح د توري پر موټي او زور کاروني باوري و، د مال دولت په لګولو کې هم ډېر بې پروا و، د سرو او سپینو زرو تختې به یې تر خپل توشک لاندې ایښودې. چې خپل کسان به یې دربار ته ورغلل، هر یو به یې هومره واخهٔ چې وړ به یې و؛ خو خلیفه معقول او

نرم سیاست درلود او له اہل شویو ملتونو څخه به یې یواځې د باج په اخیستو بسنه کوله. ځکه نو د خلیفه او د هغۀ د چارواکي د سیاست تر منځ ټکر رامنځ ته شو. خلیفه د هغۀ پر ځای خپل دوه غوره چارواکي ورولېږل چې عبدالرحمن بن‌نعیم خامدي لښکرمشر او عبدالرحمن بن‌عبدالله قشیري مستوفي و.[1] په ۱۰۰س کې هرات ولایت علي بن‌عامر ضبي ته وسپارل شو.[2]

د دې دوو کسانو د گومارنې په اړه د خلیفه فرمانونه چې خراسانیانو ته لیکل شوي د ټولنیزې ادارې او پرهېزگارۍ د مخینې خورا څرگندې او روښانه بېلگې او د خراسان په تاریخ کې خوندي دي، قلندر او ولسپال خلیفه داسې ولیکل:

«ای خراسانیانو! ستاسو پر جنگي چارو مې عبدالرحمن بن‌نعیم او پر مالي چارو مې عبدالرحمن بن‌عبدالله وگومارۀ؛ خو له پخوا ورسره اشنا نه یم؛ د هغو په اړه د شتو معلوماتو له مخه مې غوره کړل، که خوښ مو وي؛ نو د الله ﷻ شکر پر ځای کړئ او که نه نو له الله ﷻ څخه مرسته وغواړئ، ولا حول ولا قوة إلا بالله.»[3]

په خپله عبدالرحمن بن‌نعیم ته یې داسې و لیکل:

«اما بعد: تل د الله ﷻ بنده‌گانو ته د الله لپاره، نصیحت کوونکی بنده اوسه! د الله ﷻ په لاره کې د خلکو له ښکنځلو مه وېرېږه، ځکه چې الله ﷻ تا ته تر خلکو ډېر غوره او د هغۀ حق زیات دی. د خلکو په کارونو کې نېکۍ، نصیحت، امانت او خیر غوښتنې ته مخه کړه، داسې نه چې بې له حق بل څه ته لېوال شې، له هغۀ هیڅ پټ نه دي او بې له هغه بل پناځی نۀشته.»[4]

د خیر او نېکۍ دې خلیفه په ۱۰۱س کال کې له نړۍ سترگې پټې کړې. هغۀ په پراخه اسلامي هېواد کې - چې هغه مهال د مدیترانې له سمندره د چین تر پولو پورې

[1] - فتوح ۵۲۴، طبري ۵/ تر ۲۹۰ وروسته، زین‌الأخبار، ٦٦ الف.

[2] - مجمل، د فصیحي ۱/ ۱۸۲.

[3] - طبري ۵/ ۲۹۰.

[4] - پورتنی اثر ۵/ ۲۹۰.

رسېدهٔ- د خراسان پر دريځ په بشپړ او ښه ډول پوهېدهٔ. خپل د خراج مامور عقبه بن‌زرعه طايي ته يې -چې تر قشيري وروسته لېږل شوی و- داسې لارښوونه وکړه:

«په اسلامي پولو کې تر خراسان لوی او مهم ځای نه وينم، د هغهٔ باج په بشپړ ډول راغونډ کړه؛ خو ظلم مه کوه، که د هغهٔ ځای ماليې ستا لپاره بسنه نه کوي، ما ته راوليکه چې له دې ځايه درته ډېر مال درولېږم.»[1]

نو عقبه د تر لاسه شويو ماليو تر سنجولو وروسته خليفه ته وليکل:

چې د دې ځای باج او عوايد د دې ځای تر لګښت ډېر دي. خليفه ورته لارښوونه وکړه: زياتې او پاتې پيسې د هغه ځای پر اړمنو ووېشه![2]

د خليفه عمر بن‌عبدالعزيز تر مړينې وروسته په ۱۰۱س کال کې يزيد بن‌عبدالملک د هغهٔ پر ځای کښېناست. د عراق او خراسان لپاره يې مسلمه بن‌عبدالملک والي وټاکهٔ. مسلمه له خپلې خوا سعيد بن‌عبدالعزيز اموي د خراسان حاکم کړ. هغه شتمن او نازک سړی و، رنګه چپن يې اغوسته او څوړند ګونځې ويښتان يې وو. کله چې له خراسانيانو څخه ملک ابغر او سعيد متفضل ورته ورغلل وېې ويل: هغه د خذينه (د هقانه= د کور مېرمن) په څېر دی.[3] هغه په دې نامهٔ يعنې سعيد خذينه مشهور شو.

سعيد د خراسان د پخوانيو حاکمانو چارواکي ګوښه او د مروې په کوټ کې يې بنديان کړل. پر هرات يې معقل بن‌عروه قشيری حاکم کړ، په خپله تر امو په ور پورې خاوره کې په جنګ او ټکولو بوخت شو؛ خو دا چې ځان خوښی او پر خپله خبره مين سړی و، د خراسان مشرانو ترې مسلمه ته شکايت وکړ. په پايلې کې سعيد بن‌عمرو حرشي (بني‌حريش ته منسوب) په ۱۰۳س کال کې د خراسان د

---

[1] - طبري، ۵ /۳۲۱.

[2] - پورتنی اثر، همدغه مخ.

[3] - لکه چې په لومړي څپرکي کې مې د بغلان د ډېرليک او نورو قوي مدارکو پر بنسټ شرحه ورکړه، خودی= خدای په پخوانۍ دري کې د پاچا او شهنشاه او د واک د څښتن په معنی و او واکمنو ته يې زابل‌خدای، کابل‌خدای او تخار خدای ويل. څرګنده ده، چې مؤنثه يې خذينه وه، چې بلاذري ۴۲۵مخ، طبري/۵ ۳۵۰ او ابن اثير /۵ ۴۳ دا مطلب راوړی دی.

امير په توگه راغی. څرنگه چې د امو په شمالي سيمو کې شخړې ډېرې وې، هغه په ۱۰٤س کال کې له امو څخه تېر شو او د ساماني کورنۍ له د هقانانو سره ونښت[۱] چې د هغو جنگونو شرحه د افغانستان د تاريخ د نده نه ده. په همدې کال عباس بن‌اوس او محصن بن‌خزيمه په هرات ولايت کې واکمن وو.[۲]

په همدې کال۱۰٤ س کال کې يې سعيد له خراسانه گوښه کړ او پر ځای يې مسلم بن‌سعيد کلابي وگومارهٔ. هغه د هشام بن‌عبدالملک په امارت ۱۰۵س کې له امو تېر شو او له افشين سره ونښت. په شپږو زرو مريانو يې ورسره سوله وکړه او بېرته مروې ته راستون شو. هغه پر تخارستان نصر بن‌سيار هم حاکم کړ. د مضر او يمني عربي قبيلو تر منځ د بلخ په بروقان کې شخړه رامنځ ته شوه؛ خو د دواړو خواوو د استازو په خبرو حل شوه. په ۱۰۵س کال کې فضل بن‌هناد د هرات حاکم وټاکل شو. هغهٔ ابراهيم بن‌عبدالرحمن حنفي په خپلې استازې ولېږهٔ.[۳]

اسد او بلخ مرکز کېدل: په ۱۰٦س کال کې مسلم بن‌سعيد په داسې حال کې چې په فرغانه کې پر جنگ بوخت و، د خراسان له حاکمۍ ليرې او پر ځای يې اسد بن‌عبدالله وگومارل شو. هغهٔ په ۱۰۷س کال کې د تالقانو غرهٔ ته څېرمه پر غرشستان غرونو بريد وکړ، خو د هغهٔ ځای قوماندان نمرون (په طبري ۳۸۷/۵ کې همدا رنگه؛ خو په فتوح ۵۲٦ کې نمرود؟) سولې ته راوړاندې او مسلمان شو. اسد بيا د غور پر غرونو هم بريد و کړ. د هغهٔ ځای خلکو خپل مالونه په يوه بنده سمڅه کې ايښي وو، چې له هيڅ خوا يې لاره نه درلوده، خو اسد تابوتونه جوړ کړل، خپل کسان يې په کې کښېنول او پر بياستو يې هغو سمڅو ته ورسول؛ نو څومره چې يې کولای شول هغومره مالونه يې راوکښل.

بيا يې خپل پوځي مرکز له بروقان (د بلخ دوه فرسخي) څخه بلخ ته راولېږداوهٔ، دفترې يې هم دې ښار ته راوړې او د بلخ په ودانولو يې پيل وکړ. د ا کار يې د هغهٔ

[۱] - فتوح ۵۲۵، طبري ۵/ تر ۳۵۰ وروسته او الکامل ۵/ ۴۹.

[۲] - مجمل فصيحي ۱/ ۱۸۵.

[۳] - پورتنی اثر ۱/ ۱۸۷.

ځای یوهٔ مشر ابوخالد برمک بن‌برمک (د نو بهار خادم) ته وسپارهٔ او عربي لښکر یې- چې په بروقان کې و- بلخ ته ولیږداوهٔ (۱۰۷س کال).[1] په مروې پسې بلخ د خراسان او ماوراءالنهر لپاره د عربو د ادارې او ځواکونو دوهم مرکز شو. په ۱۰۷س کال کې مجشر بن‌مزاحم سلمی او شجاع بن‌تیهان قرشي په هرات کې واکمن وو.[2]

وايي اسد بن‌عبدالله له امو سینده پورېووت او پر ختلان یې برید وکړ، د هغهٔ ځای واکمن خاقان ورته ماتې ورکړه. څرنگه چې په ډېره رسوایۍ قوادیانو ته راستون شو، ماشومانو یې په اړه شعرونه ویل:

از ختلان آمذی　　برو تباه آمذی[3]

ځینې داسې کیسه کوي په ۱۰۸س کال چې اسد له ختل څخه په ماته راستون شو، خراسانیانو یې په اړه ویل:

از ختلان آمذی　　برو تباه آمذی　　بیدل فراز آمذی[4]

## د اسد گوښه کېدا، د حکم واکمني او خراسان ته د عباسي بلونکو لومړنی راتلنه

اسد بن‌عبدالله په خراسان کې ښهٔ نوم نه لارهٔ، په عربي قبیلو کې یې تعصب او شخړې راپیدا کړې. یو عرب مشر نصر بن‌سیار یې د هغهٔ له مضر عرب ملگرو سره په متروکو وواههٔ. وگړي به یې په خپلو ۱۲ زره تورزنو وسله‌والو سره وگواښل. څرنگه چې بلخیانو ورته"کارغهٔ" وايهٔ؛ نو یوه ورځ یې د بلخ د منبر پر سر وویل:

«یا أهل بلخ! لقبتموني ألزاغ والله لأزیغن قلوبکم»[5]

په داسې حال کې چې خراسان له شخړو ډک و، اموي امیر هشام بن‌عبدالملک د خراسان له قوماندانۍ څخه اسد بېرته وغوښت. هغهٔ په ۱۰۹س کې د خراسان د دهقانانو له

---

[1] - فتوح ۵۲۶، طبري ۵/ تر ۳۸۸ وروسته او الکامل ۵/ ۶۴.

[2] - مجمل فصیحي ۱/ ۱۸۷.

۳ - دا او ورپسې بیت په اسلامي پېر د دري له تر ټولو پخوانیو منظومو شعرونو څخه دي.

٤ - طبري ۵/ ۲۹۰.

۵ - پورتنی اثر ۵/ ۳۹۴.

يوۀ تهولي سره عراق ته لاړ او د هغۀ پر ځای حکم بن‌عوانه کلبي وګومارل شو.

په همدې وخت کې په عربي هېوادونو کې د امويانو پر ضد د عباسي خلافت خوځښت په پټه پيل شوی و. څرنګه چې خراسان په سياست کې مهم مرکز و او خراسانيانو هم غوښتل چې په خراسان کې د عربو لاسبرى د پياوړو عربي کورنيو ترمنځ په کورنيو جنګونو او نفاق کمزوری کړي، نو دا سيمه د عربو د ځواکمنو اموي اميرانو له کورنۍ سره د اختلاف مرکز وګرځېد. د لومړي ځل لپاره يو عباسي بلونکی، چې ابومحمد زياد، د محمد بن‌علي بن‌عبدالله بن‌عباس له خوا خراسان ته راولېږل شو. د حرب بن‌عثمان په وسيله -چې د بلخ اوسېدونکی و- د خراسانيانو په نامۀ ليک هم راورسېد. د بلونکو دې ډلې خلکو ته د امويانو تېري او ظلمونه په ګوته کړل. د هغوی د تبليغ او مخالفت زور چې د مروې د باج مامور حسن بن‌شېخ ته ورسېد، دا خبر يې اسد ته ورساوۀ، اسد له دې بلونکو څخه د کوفې لس اوسېدونکي د مروې په کشانشاه کې ووژل (۱۰۹س).[1]

## اشرس، جنيد او عاصم

هشام بن‌عبدالملک ۱۰۹س کال کې د اسد تر ګوښه کولو وروسته اشرس بن‌عبدالله سلمی خراسان ته راولېږۀ. هغه عالم او نېک سړی او په خراسان کې د جغر[2] په لقب مشهور شوی و. منشي يې خالد بن‌عبدالله قشيري او لښکرمشر يې ابواميه عميره تبطی و. د مروې قاضي يې محمد بن‌زيد ګومارلی و او فضال بن‌زياد سلمی په هرات کې واکمني چلوله.[3]

اشرس چې خراسان ته راغی، وګړي خوښ شول. هغه د ټولو چارو واګې په لاس کې ونيوې او لومړنی رابط لښکر (له دښمنه د پولو ساتندوی) يې په خراسان کې جوړ کړ، چې قومندان يې عبدالملک بن‌دثار باهلي و.

اشرس د ماوراءالنهر اهل‌ذمه اسلام ته راوبلل، څوک چې مسلمانان شول له جزيې

۱ -فتوح ۵۲۶، طبري ۵/ تر ۳۹۲ وروسته او الکامل ۵/تر ٦٦وروسته.

۲ -په طبري ۵/ ۳۹٦ کې جَغَر دی، د چنګښې معنی ښندي (برهان)

۳ -مجمل ۱/ ۱۸۸.

ځخه وبخښل شول؛ نو په دې ډول د خراسان د خراج کچه راټيټه شوه. کله چې د اشرس مامورين د کمښت د پوره کولو په فکر کې شول د سغد او بخارا دهقانانو مقاومت وکړ. اشرس، عميره بن‌سعد پر هغوی وګومارهٔ، هغهٔ د عجمو مشران او دهقانان سپک کړل، جامې يې ور څيرې او خانتمايي يې ورته تر پښو لاندې کړه. کله چې خلکو له ترکانو څخه مرسته وغوښته، ګډوډي رامنځ ته شوه. اشرس آمل ته لاړ او خپل لس زره کسيز لښکر يې ماوراءالنهر ته وخوځاوهٔ. په داسې حال کې چې د بخارا او ماوراءالنهر د نورو سيمو په جنګونو بوخت و، جنيد بن‌عبدالرحمن په ۱۱۱س کال کې د قيمتي مرغلرو دوه هارونه هشام او د هغهٔ مېرمن ته ډالۍ کړل، نو د هغو په بدل کې د اشرس پر ځای د خراسان حاکم وګومارل شو. هغه لس زره بصري عسکر د عمرو بن‌مسلم او لس زره کوفي عسکر د عبدالرحمن بن‌نعيم په قوماندانۍ خراسان ته راوستل. خپل ځواکونه يې -چې له عراقه يې له ځان سره راوستي وو- په دېرش زرو ليندو او دېرش زرو ډالونو سنبال کړل. پر دې سربېره يې د نورو ۱۵ زره کسانو د مقررۍ اجازه واخيسته. جنيد په مروه کې مجشر بن‌مزاحم، په بلخ کې سورة بن‌حر او په هرات کې وليد بن‌قعقاع عبسي د ملکي چارو حاکمان کړل او حبيب بن‌مره عبسي يې لښکرمشر کړ. په ۱۱۲ س کال کې يې عماره بن‌حريم تخارستان ته له ۱۸ زره لښکر سره ولېږهٔ او نور لس زره کسان يې هم د ابراهيم بن‌بسام ليثي په مشرۍ له بلې جبهې څخه هغه لور ته وخوځول. جنيد د دې ځواکونو په وسيله کلونه کلونه په ماوراءالنهر کې په شخړو او جنګونو بوخت پاتې شو، تر دې چې پر ۱۱۶س کال په مروه کې ومړ.[1]

تر جنيد وروسته د هشام له خوا عاصم بن‌عبدالله هلالي د خراسان والي شو. څرنګه چې حارث بن‌سريج د انتخذ (اوسني اندخوی) په سيمه کې د جنيد له خوا ګومارل شوی و، هغه عاصم ته غاړه کېنښوده او تر فارياب مخکې راغی، خو عاصم هغه تر بندي کولو وروسته خوشې کړ. حارث له څلورو زره کسانو سره بلخ ته مخه کړه. له هغې خوا نصر بن‌سيار له خپل لس زره لښکر سره له هغهٔ سره مخامخ شو، خو بلخيانو ماتې وخوړه او حارث بلخ ونيو. د جوزجان، فارياب، تالقانو او مروه‌رود ټولې سيمې يې ونيوې. له خپل ۶۰ زره لښکر سره يې پر مروې بريد و کړ او د

[1] - فتوح ۵۲۷، طبري ۵/ تر ۳۹۷ وروسته، الکامل ۵/ ۷۲ او ۷۶ او زين‌الأخبار، ٦٧ ب.

جوزجان دهقانان، د فارياب دهقان ترسل، د تالقانو قوماندان سهرب او د مروې دهقان قرياقس يې له ځان سره ملګري کړل؛ خو حارث په دې جنګ کې ماتې وخوړه او ډېر ملګري يې د مروې په سيند کې ډوب شول.[1]

**د اسد بيا راتګ**

يو کال وروسته (۱۱۷س) عاصم د خراسان له امارته ليرې او پر ځای يې اسد بن‌عبدالله بيا وګومارل شو. هغهٔ د عباسي بلونکو مخنيوي ته خپله پاملرنه واړوله، چې په خراسان کې را پيدا شوي وو. له دې جملې څخه عمار بن‌يزيد په خداش (نوی مسلمان اورلمانځی) مشهور په مروه کې ونيول شو چې لاس او ژبه يې پرې کړی شول. اسد په ۱۱۸س کې د بلخ ښار مرکز کړ او حکومتي دفترونه يې هلته ولېږدول، کارخانې يې جوړې کړې، له دې ځايه يې پر تخارستان او د جبغويه پر سيمو بريد وکړ او ويې نيوې. کله چې بېرته بلخ ته راستون شو، هماغه حارث بن‌سريج د تخارستان په تبوشکان کې بلوا وکړه، د ماوراءالنهر له خاقان، د تخارستان له خلکو او جبغويه تخاري څخه يې ډېرش زره جنګيالي راټول کړل او خلم ته راغی.

اسد په ۱۱۹س کال کې له اووه زرو خراسانيانو او شاميانو سره مقابلې ته ورغی او کرمانی بن‌علي يې په بلخ کې حاکم پرېښود. د خاقان او حارث ځواکونو ته يې ماتې ورکړه، تر درې فرسخو ورپسې شو، ډېر يې ترې ووژل او (۱۵۵) زره مېږې او نور څاروي يې په غنيمت ونيول. خو د جوزجان د ورد سيمې په جنګ کې د واورې او باد توپان د عربو لښکر چې د جعفر بن‌حنظله بهراني په مشرۍ جنګېدهٔ، پوپنا او تېښتې ته اړ کړ. کله چې ابوالهندي اسدي د هشام حضور ته ورسېد د دې ماتې په اړه چې اسدي په سان (اوسني سانچارک) کې خوړلې وه، يوه بولله وويله چې دا بيتونه د هغې دي:

فکـم مـن قتيـل بـين سـان وجـزة    کثير الأيادي من ملـوك قماقـم
ترکـت بـأرض الجوزجـان تـزوره    سـباع وعقبـان لحـز الغلاصـم[2]

« چې لوراند پاچاه پرې ډېرې لورېينې کړې وې، د جوزجان د سان او جزه

---

۱ - طبري ۵/ تر ۴۲۸ وروسته.

۲ - پورتنی اثر ۵ /۴۵۵ او الکامل ۵/ ۹۶.

سیمې تر منځ مړۀ او د ځناورو او گوربتانو خوراک شول.»

بدر باميانی: دا وخت په ختلان کې بدر طرخان نومی يو باميانی - غالباً د باميانو شېرانو له اولادې څخه- واکمن و، اسد د مصعب بن‌عمرو خزاعي په مشرۍ هلته لښکر ورولېږۀ، او بدر طرخان يې د امان په ژمنه راوغوښت. طرخان راووت او يو مليون درهمه يې ومنل؛ خو اسد هغه ته وويل: ته غريب باميانی يې! له ختله ووځه! طرخان ځواب ورکړ، ته خراسان ته له لسو کوچنيو اوښانو سره راغلې، خو که اوس له دې سيمې ځې؛ نو مالونه به دې پنځه سوه اوښان وړلای نۀشي، ما چې د خپلې ځوانۍ ورځې دلته تېرې کړې او په توره مې مال گټلی دی، څرنگه خالي لاس ووځم؟ اسد د باميانې په دې معقول؛ خو سپکوونکي ځواب غوسه شو، سره له دې چې د امان ژمنه يې ورسره کړې وه، هغۀ يې وواژۀ. (۱۱۹س) [۱]

اسد بن‌عبدالله په (۱۲۰س) کال کې د مهرگان جشن په ورځ په داسې حال کې چې د هرات له دهقان څخه يې د يو مليون درهمو په ارزښت ډالۍ اخيستې، د امرود په نوې رسېدلې مېوه يې پر هراتي دهقان گوزار وکړ، په دې وخت کې يې پټ زخم وشلېده او د بلخ په ښار کې ومړ[۲] د بلخ د اسدآباد بنسټ هغه ايښی دی.[۳]

## نصر بن‌سيار او د امام يحيی حسيني وژنه

په ۱۲۰ س کال کې د اسد تر مړينې وروسته د خراسان د چارو مشهور تجربه‌کار نصر بن‌سيار ليثي د هشام بن‌عبدالملک له خوا د خراسان امير شو. هغۀ په بلخ کې مسلم بن‌عبدالرحمن، په مروه‌رود کې وشاح بن‌بکير، په هرات کې حارث بن‌عبدالله او په ابرښار (نيشاپور) کې يې زياد بن‌عبدالرحمن حاکم کړ.

دا وخت د اموي واکمنۍ پر خلاف د عباسي بلونکو اغېز په خراسان کې خپور شوی و، سره له دې چې اموي چارواکو له دې خلکو سره سخت چلن وکړ، خو خراسانيانو دا ښه گڼله چې له ظالمو اموي واکمنو سره د عباسيانو له اختلافه په خپله

---

۱ - طبري ۵/ ۴۶۳ او الکامل ۵ /۱۰۰.

۲ - پورتنی اثر ۵ / ۴۶۵ او الکامل۵/ ۱۰۱.

۳ - مجمل ۱/ ۱۹۴.

ګټه کار واخلي او د عربو د ځواکمنو کورنيو په دې ګډوډۍ کې خپله سياسي پېژندګلوي او خپلواکي وګټي.

د عباسيانو نومياليو او بلونکو هم خراسان د امويانو په مقابل کې د سياسي هڅو يواځينی ستر مرکز ګاڼه، نو وروسته له هغه چې پلار يې زيد د امويانو له خوا ووژل شو، امام يحيی بن‌زيد بن‌علي بن‌حسين بن‌علي بن‌ابي طالب، خراسان ته پناه راوړه او له حريش بن‌عمرو سره په بلخ کې پټ شو. وليد بن‌زيد بن‌عبدالملک چې د امويانو د امارت پرګدۍ کښېناست، په ۱۲۵س کال کې يې د خراسان حاکم نصر بن‌سيار ته خبر ورکړ چې يحيی بن‌زيد په بلخ کې د حريش کره پټ دی. نصر د بلخ حاکم عقيل بن‌معقل عجلي ته امر وکړ، چې يحيی ونيسي. عقيل په بلخ کې حريش شپږ سوه کروړې وواهه؛ خو يحيی يې ورونښود، په پای کې قريش بن‌حريش وويرېده چې پلار يې مړ نه کړي، نو امام يحيی يې له ملګرو سره عقيل ته وسپاره. نصر سيار هغه د مروې په کوټ کې بندي کړ، خو د وليد له درباره د هغه د آزادېدو امر راورسېد، نو نصر بن‌سيار هغه ته دوه زره درهمه او دوه کچر وبخښل. (يعقوبي وايي يحيی له زندانه وتښتېد) له بلخه سرخس او بيهق ته راغی او له خپلو اويا (يعقوبي ۱۲۰ کسه ښيي) ملګرو سره د نيشاپور له حاکم عمرو بن‌زراره سره - چې لس زره لښکر يې لاره- مخامخ شو، خو خراسانيانو جنګ ونه کړ او د عمرو لښکر ماتې وخوړه. هغه په خپله ووژل شو او امام يحيی هرات، سرخس او بادغيس ته مخه کړه. په دې وخت کې نصر بن‌سيار د امام يحيی په څارنې پسې لښکرمشر سلم بن‌احوز هلالي ګومارلی و؛ نو هغه يې له ملګرو سره په جوزجان کې وموند او ورسره ونښت. په دې جنګ کې امام يحيی د جوزجان په ارغوی (اوسنی قراغو) کلي کې د سورة بن‌محمد کندي په لاس ووژل شو. (۱۲۵س شعبان) [1]

خو هغه کلی چې د امام يحيی قبر په کې دی اوس"امام خورد" نومېږي، چې د

[1] - طبري ۵/ ۵۳۶، الکامل ۵/ ۱۲۷ او تاريخ‌اليعقوبي ۲/ ۳۳۲.

اوسني سرپل ښار د ختيځ په يو نيم کيلو مترۍ (د شمالي افغانستان د شبرغان او بلخ[1] تر منځ) کې پروت دی. د امام يحيی قبر هم هلته دی، کوفي کتيبه او زړه وداني لري. دا په گچو کې کېندل شوې کتيبه ده، نو څومره چې لوستل کېږي، داسې ده:

«بسم‌الله‌الرحمن‌الرحيم‌هذا قبر السيد يحيی بن‌زيد بن‌علي بن‌الحسين بن‌علي بن‌ابي طالب رضوان‌الله عليه قتل با رغوی في يوم‌الجمعة في شهر شعبان‌المعظم، سنة خمس و عشرين و مائة، قتله سلم بن‌احوز في ولاية نصر بن‌سيار، في ايام‌الوليد بن‌يزيد لعنهم‌الله، مما جری علی يد أبي‌حمزه احمد بن‌محمد غفرالله له ولوالديه... مما أمر ببناء هذه‌القبة الشيخ الجليل ابوعبدالله محمد بن‌شادان الفارسی (القادسی؟) حشره الله مع محمد و اهل‌بيته... مما عمل‌البناء‌الترمذی غفرالله له و ولوالديه هذه[2]القبة ابوعبدالله محمد بن‌شادان پارسي ابومحمد و علی غفر له و لوالديه برحمتک يا ارحم‌الراحمين... الامير ابي‌بکر و الامير محمد بن‌احمد و احشرهم مع محمد المصطفیﷺوعلی المرتضی و وليه‌المجتبی... الحسينيه: محمد بن‌شادان پارسي ابتغاءلثواب‌الله و تقرباً الی رسول‌الله و محبة لاهل‌بيته الطيبين.»[3]

---

[1] - د اوسني سرپل په مرکز کې دی. (ژباړن).

[2] - په اصل کې (هذا) دی.

۳ - دا ډېرليک ډېر پېچلی ليکل شوی، د لوستو وړ نه دی او د وخت پخوانيوالي هم په کې ماتېدل او رژېدل رامنځ ته کړي دي. په پورتنۍ بڼه د جوزجان له پوهانو څخه يوۀ هغه لوستی او د کابل په ژوندون خپرونه (۱۳۴۱ل، چنگاښ، ۱۵مه گڼه) کې خپور شوی دی. پته دې نه وي، چې د دې ودانۍ سبک د سلجوقيانو د پېر له ودانيو سره ورته دی او ډېر اټکل کېږي، چې پر دې پېر جوړه شوې وي. موږ يې جوړوونکی محمد ابن شادان اوس نه پېژنو؛ خو ابن‌خلکانوايي يو کس علي ابن شادان د سلجوقيانو په پېر کې د بلخ ښار معتمد عليه و، چې مشهور وزير حسن ابن علي نظام‌الملک طوسي (۴۰۸- ۴۸۵س) د خپلې ودې او پرمختگ په پيل کې له هغۀ سره ليکنې راليکنې درلودې او علي هغه هر کال مصادره کاوۀ، تر دې چې حسن ترې وتښتېدۀ او د داؤد ابن ميکائيل خادم شو (وفيات‌الأعيان ۱ /۱۴۲) که چېرته دا علي د بلخ حاکم د هغې ودانۍ د جوړوونکي محمد ورور وي او د هغوی پلار گڼ او يو کس وي؛ نو د دې ورونو د ژوندانۀ مهال د (۴۳۰س) شاوخوا گڼلای شو، چې دا وداني به هم د همدې پېر وي.

دا و هغه متن چې له دې زړې ليکنې څخه لوستل کېږي. روښانه ده، چې دا وداني او کتيبه د اهل‌بيتو په شيعه‌ګانو پورې اړه لري او د لعنهم الله کلمه څرګندوي، چې د امويانو تر پېره وروسته ليکل شوې ده، چې د امويانو وېره په منځ کې نه وه.

عبدالحی ګرديزي وايي:

له هغۀ سره يې د کلي دې لور ته جنګ وکړ او يحيی بن‌زيد يې وواژۀ.[1] د دې کلي نوم چې د امام وژنځی و، په مروج‌الذهب‌مسعودي (٦ ټوک ٦ مخ) کې ارغونه او د ابن‌منها په عمدةالطالب (د بمبيي چاپ، ١٣١٨س،٢٣مخ) کې ارغوی او په دايرةالمعارف اسلام (٤ ټوک ١٢١٥مخ) کې ارغوه چاپ شوی؛ نو څرګنده ده چې دا ټول د ارغوی کلمې اړونې دي.[2]

د ١٨ کلن امام يحيی بن‌زيد خوځښت خراسانيانو ته موقع ورکړه، چې د اموي چارواکو له ظلمونو او تېريو څخه ښکاره کرکه څرګنده کړي. کله چې امام يحيی يواځې ١٢٠ او يا په بله وينا ٧٠٠ کسه ملګري درلودل د سلم بن‌احوز لس زره کسيز ځواک - چې هرومرو په کې خراسانيان وو- و نه جنګېد او په پايله کې يې د نيشاپور مامور عمرو وواژۀ. مسعودي دا مام يحيی دا خوځښت د اموي چارواکو د ظلمونو او تېريو په مقابل کې يو پاڅون ګڼي.[3]

نويو مسلمانانو ترکانو چې د خپلو پخوانيو ګروهو يوه ګډوله يې درلوده، د يحيی شخصيت ته د لوړتيا په ګروهيزې حيرانتيا سره وکتل، هغه او د هغۀ کورنۍ يې

---

[1] - زين‌الأخبار خطي نسخه ٦٩ پاڼه.

[2] - د طبقات ناصري نښلونې، د کابل چاپ ١٣٤٢ل ٢/ ٣٨٧ په جوزجان کې د امام يحيی قبر مشهور و او عربي شاعر دعبل ابن علي د علويانو د امامانو د مرثيې په بولله کې هغه ته نغوته کوي او وايي:

قبور بکوفان و اخری بطيبة    و اخری بفخ مالها صلوات
اخری بارض الجوزجان محلها    و قبر بباخمری لدی القربات
(مروج‌الذهب ٣/ ٢٢٣)

[3] - پورتنی اثر ٣/ ١٤٥.

فوق‌العاده کسان وګڼل او په نمانځه کې یې له حده تېر شول، د ساري په توګه، زکریا بن‌محمد بن‌محمود قزویني (۶۸۲- ۱۲۸۳س مړ) په بغراج کې د ترکانو یادونه کوي، چې یحیی بن‌زید علوي ته ځانونه منسوبوي او زرین کتاب لري، چې پر پوښ یې د زید د مړینې مرثیه کیندل شوې ده.

دې کتاب ته لوی دیني اهمیت ورکوي او زید پاچاه او حضرت‌علي إله‌العرب ګڼي او چې اسمان ته وګوري وایي: «هغه د عربو إله دی، چې کله پورته ځي او کله کښته راځي»[۱]

د قزویني له دې روایت او په جوزجان کې د امام یحیی د قبر له کتیبې څخه جوته ده، چې خلکو ورته بشپړه عقیده درلوده، هغه یې د پیغامبر ﷺله کورنۍ څخه او د امویانو له ظلمه خپل ژغورونکی ګاڼه.

## د عبدالله بن‌معاویه وژنه

عبدالله بن‌معاویه بن‌عبدالله بن‌جعفر طیار بن‌ابي طالب د رسالت له کهالۀ څخه دی، چې نیا یې زینب د حضرت رسول‌الله ﷺ لمسی یا د فاطمې لور وه. هغۀ په (۱۲۷س) کې په کوفه کې پاڅون وکړ او خلک یې پر ځان راټول کړل. د کوفې والي عبدالله بن‌عمر بن‌عبدالعزیز د ورځې درې سوه درمه هغۀ او د هغۀ ورونو ته ټاکلي وو، چې په دې ډول یې راضي کاوۀ.

کله چې بیا په کوفه کې د عبدالله بن‌عمر او د عربو د نورو امیرانو تر منځ شخړه پیدا شوه او ابن‌عمر په خپل کار کې کمزوری شو، خلک تر عبدالله بن‌معاویه راټاو شول، د حکومت ماڼۍ ته یې بوت او بیعت یې ورسره وکړ؛ خو هغه ماتې وخوړه او له کوفې څخه راووت.عبدالله له کوفې څخه مداین ته لاړ، حلوان، اصفهان او ری یې ونیول. زامباور وایي په خپل نامۀ یې سیکه هم ووهله. څرنګه چې یې هلته هم ماتې وخوړه؛ نو د کرمان له لارې یې خراسان ته مخه کړه. په دې هیله د هرات څنډو ته راغی، چې ابومسلم د نبوي‌کورنۍ پلوي دی او د دۀ ملاتړ به وکړي.

---

[۱] - عقیده او شریعت په اسلام کې، د ګولډزیهر، عربي ژباړه ۲۲۰ د قزویني د آثارالبلاد په حواله، په ګوتینګن کې د ووستنفلډ چاپ، ۱۸۴۸ز.

دا وخت په هرات کې ابونصر مالک بن‌هیثم خزاعي حاکم و، هغهٔ عبدالله هرات ته راوبالهٔ. عبدالله چې راورسېد، مالک یې د راتګ خبر ابومسلم ته ورکړ. تر دې چې د ابومسلم په امر یې پر ۱۲۹س په هرات کې پر خولهٔ بالښت کښېښودل او ووژل شو. قبر یې په هرات کې مشهور دی.[۱]

دا وو هغه څه چې ابن‌اثیر د عبدالله بن‌معاویه په اړه کښلي‌دي؛ خو فصیح‌احمد خوافي په مجمل‌فصیحي (۲۰۷/۱)عبدالله حسیني په اصیل‌الدین واعظ (۸٦٤س) مشهور، په مقصدالاقبال (۱۱ مخ) او جلال‌الدین بن‌عبدالحمید په وسیلةالشفاعة (خطي ۱۲ مخ) کې د عبدالله د شهادت کال (۱۳٤س) کښلی دی، چې هماغه د ابن‌اثیر وینا مؤثقه ده. خواندمیر هم په حبیب‌السیر (۲/ ۱۹۷) کې د هماغهٔ ۱۲۹س کال کې پخلی کړی دی. د دې کتابونو مؤلفان لیکي کله چې عبدالله قهستان ته راغی، ابومسلم مرزوي شبل بن‌طهامان[۲] ته - چې تر هغهٔ له مخه په هرات کې حاکم و- یو لیک وکېښ چې په هره وسیله وي، هغه ځان ته وغواړه؛ نو شبل ټولې ډالۍ برابرې کړې او په خورا درنښت یې ورته لیک وکېښ، ویې هڅاوهٔ چې هرات ته راشي.... تر دې چې د هرات اسفزار[۳] ته راغی او له هغه ځایه د هرات ښار وچې دروازې ته نږدې پلی شو... شبل ابومسلم ته لیک واستاوهٔ، چې بونګه لاس ته راغله.

ابومسلم په پټه هغهٔ ته لیک وکېښ چې کار یې ورخلاص کړه او سر یې ماته راولېږه! نو هغه مخور یې ونیو، څو ورځې وروسته یې وواژهٔ او مبارک سر یې ابومسلم ته ولېږهٔ. د هغهٔ بدن مبارک یې د مصرخ پر قطیبان غونډۍ ښخ کړ، دا د ۱۳٤س کال پېښه ده.[٤]

د عبدالله قبر اوس په هرات کې مشهور دی، په ۷۰٦س کې کرت پاچاه ملک

---

[۱] - الکامل ٥/ ۱۷۷.

[۲] - ابو علي شبل ابن طهمان هروي د عباسي خلافت له ۱۲ مشرانو څخه و، چې په ۱۰۰س کې د محمدعلي ابن عبدالله ابن عباس له خوا ټاکل شوي وو (طبري ٥ /۳۱۷)

[۳] - اوسنی شینډنډ (ژباړن).

[٤] - له مقصدالاقبال څخه لنډون ۱۲ او وسیلةالشفاعة خطي ۱۰.

غیاث‌الدین محمد ولد ملک شمس‌الدین کهین پر هغهٔ گومبزه جوړه کړه چې لوحې یې ورته په ۱۳۰۷س کال کې کښلې دي.

مصرخ‌کوټ د هرات ښار په شمال کې لرغوني کلا ته - چې پخوا یې شهرت درلود- څېرمه یو ځای او د خواجه عبدالله انصار زېږنځی دی. دې ځای ته یې له دې امله مصرخ ویلی دی، چې صرخ په عربي کې ږغ ته وایي. روایت دی چې د عبدالله تر مړیني وروسته په کوټ کې یوهٔ ږغ انګازې وکړې او په هغه ږغ سره ویجاړ شو، نو بیا وروسته په مصرخ سره یاد شو.[1] خواند میر مؤرخ هم وایي:

«د هغهٔ جناب قبر د هرات په مصرخ کې دی او د ساداتو په مزار مشهور دی»[2]

پر معاویه د عبدالله د پلار د نومونې وجه یې داسې لیکلې ده: پلار یې له معاویه سره و، چې د زوی زوکړې زېری ورکړی شو، حضرت‌معاویه ترې هیله وکړه، چې یو لک درهم واخلي او پر زوی د معاویه نوم کښېږدي، کله چې هغهٔ ومنله، نو خلکو وویل: چې بد نوم یې په لږ قیمت واخیست.[3]

د عبدالله بن‌معاویه د عقیدو په اړه محمد بن‌عبدالکریم شهرستانی لیکي:

«او دا عبدالله پر تناسخ ګروهمن و، هغه دا چې د یوهٔ روح بل ته ننوتلای شي او ثواب او سزا د بني‌ادمانو او یا حیواناتو په اشخاصو پورې تړلې ده. هغه دا دعوه کوله چې روح‌الله عیسی علیه‌السلام راستون شوی او په هغهٔ کې ننوتی دی. د الوهیت او نبوت دعوه یې وکړه او داسې یې وګڼله چې د غیبو پر علم پوهېږي. پلیوني یې د هغهٔ پر اطاعت زړهٔ بایللي او پر قیامت کافران شول، ځکه ګروهمن شول چې تناسخ په دنیا کې دی او ثواب او سزا به په دې کسانو کې وي... د عبدالله بن‌معاویه او د سفاح پلار محمد بن‌علي او منصور عباسي (۱۲۶س) خلیفه‌ګانو د ملګرو تر منځ کلک

---

[1] - مجمل‌فصیحي ۱/ ۲۰۷.

[2] - حبیب‌السیر ۲/ ۱۹۷، د تهران چاپ، ۱۳۳۳ل.

۳ - ابن اثیر ۵/ ۱۷۷.

اختلاف دی، ځکه دواړه په امامت کې د ابي‌هشام بن‌محمد بن‌حنفیه څخه د وصیت دعوه کوي»[1]

## د اموي پېر د هرات ځیني والیان

۱-علي بن‌عامر ضبي (ضب نومي ځای ته منسوب، چې په حجاز کې دی) ۱۰۰س کال.

۲- عباس بن‌اوس او محصن بن‌خزیمه ۱۰۳ س کال.

۳- فضل بن‌هناد (۱۰۵س) چې له خپلې خوا یې ابراهیم بن‌عبدالرحمن حنفي کفیل کړ.

٤- مجشر بن‌مزاحم سلمی او شجاع بن‌تیهان قرشي ۱۰۷ س کال.

۵- فضال بن‌زیاد سلمی۱۰۹س کال.

٦- یحیی بن‌ضبه ۱۱۱ س کال.

۷- ولید بن‌قعقاع عنسي، حاتم بن‌معاویه او یزید بن‌عماد ازدي ۱۱۲ س کال.

۸- قاید بن‌منیع سعیدي ۱۱۵ س کال.

۹- ابراهیم حنفي ۱۱٦ س کال.

۱۰- حارث بن‌حشر عامري او زیاد بن‌عبدالرحمن عامري ۱۲۰ س کال.

۱۱- بشر بن‌بسطام حنظلي لومړی ځل ۱۲۱ س کال او دوهم ځل ۱۲٤ س کال.

۱۲- مغلس بن‌زیاد عامري ۱۲۲ س کال.

۱۳- خطاب بن‌محمد سلمی ۱۲۳ س کال.

۱٤- مراره بن‌شهاب ۱۲۵ س کال.

۱۵- ابراهیم بن‌عبدالرحمن ۱۲٦ س کال.

۱٦- هیضم بن‌مسلم عبدي ۱۲۷ س کال. دا د هاشمیانو له جملې څخه و، چې په همدې کال گوښه شو او پر ځای یې مقداد بن‌شرجیل عنسي راغی.

۱۷- خازم بن‌عبدالله په ۱۲۸ س کال کې. تر دهٔ وروسته په همدې کال علي

---

۱ - الملل و النحل ۱/ ۱۵۷ د ابن حزم برهامش او د صدر ترکه پارسي ژباړه ۱۱۱.

بن‌معقل حنفي او عمار بن‌علي چې دواړو خازم بن‌عبدالله وواژهٔ، علي بن‌معقل له هرات څخه لاړ او خپل مرستیال غسان بن‌علي یې په هرات کې پرېښود.

۱۸ لومړني امیران چې د هاشمیانو له خوا هرات ته راغلل، عثمان کرماني ازدي او بسام بن‌ابراهیم وو. دا د ابومسلم چارواکي دي، ۱۲۸س کال.

۱۹- پر ۱۳۰س کال د ابومسلم له خوا په هرات کې د عثمان کرماني، بسام بن‌ابراهیم، مالک بن‌هیثم او ابوعلي شیباني ټاکل، چې په همدې کال ابوعلي شبل بن‌طهمان شیباني هرات ولایت ته راغی. ابونصر موسی بن‌حسان د هرات د خراج مامور وټاکل شو. په ۱۳۹س کال کې گوښه او پر ځای یې ابوسهل هیثم بن‌سلېمان سعدي، عبدالله بن‌اسحاق او هشام بن‌یزید بن‌فضل راغلل.[۱]

دا و په هرات کې د اموي پېر د مشهورو چارواکو لیکلړ، بیا د هرات واکمني عباسي دولت ته پاتې شوه؛ نو نومونه به یې د عباسیانو د پېر په پېښو کې یاد کړو.

## د خراسان د والیانو لیکلړ

اوس د راشده خلیفه‌گانو او امویانو د پېر د خراسان د والیانو مفصل لیکلړ د اسلامي سوبو له لومړیو د ابومسلم خراساني تر راڅرگندېدا پورې لاندې کاږو.

په خراسان کې د اسلامي سوبو پیل، ۲۳س.

احنف بن‌قیس ۲۳س.

عمیر بن‌عثمان د ۲۸س شاوخوا.

عبدالله بن‌قیس د ۳۰س شاوخوا.

عبدالله بن‌عامر ۲۳س.

مرستیالان یې { قیس بن‌هیثم ۳۲ س.
عبدالله بن‌خازم ۳۳ س. }

خلید بن‌کاس د حضرت‌علي رضي الله عنه له خوا ۳۶ س.

خلید بن‌قره یربوعي (د حضرت‌علي رضي الله عنه له خوا) ٤٧ س.

---

۱- د هرات د حاکمانو دا لیکلړ د مجمل فصیحي د لومړي ټوک (۱۸۲- ۲۱۰مخ) له مخه ترتیب شوی دی.

## اموي پېر

قيس بن هيثم (دوهم ځل د حضرت معاويه له خوا) ٤١ س.

عبدالله بن خازم (دوهم ځل) ٤١ س.

حكم بن عمروالغفاري ٤٤ س (٥٠ س مړ)

مرستيالان يې:
- امير بن احمد يشكر ٤٥ س.
- انس بن ابي اناس بن ربيع حارثي ٤٧ س.
- غالب بن فضاله ليثي ٤٨س.

خليد بن عبدالله حنفي ٥٠ س.

انس بن ابي اناس (دوهم ځل) ٥١ س.

عبيدالله بن زياد ٥٣ س.

سعيد بن عثمان بن عفان (د لږ وخت لپاره) ٥٦ س.

مرستيال يې: اسلم بن زرعه (دوه كاله) ٥٦ س.

عبدالرحمن بن زياد بن ابي سفيان ٥٨ س.

سلم بن زياد ٦١ س.

## د عبدالله بن زبير له خوا

عبدالله بن خازم (دريیمه پلا) ٦٤- ٦٩ س.

مرستيال يې: مهلب بن ابي صفره ٦٤ س.

اوس بن ثعلبه بن زفر ٧٠ س.

عبدالله بن خازم (څلورمه پلا) ٧١ س.

## د اموي عبدالملک له خوا

بكير بن وشاح ٧١ – ٧٢ س.

اميه بن عبدالله - ٧٣ – ٧٤ س.

## مهلبيان

مهلب بن ابي صفره ٧٨ س.

يزيد بن مهلب ۸۲ س.
مفضل بن مهلب ۸۵ س.
قتيبه بن مسلم باهلي ۸٦ س ـ يزيد بن مهلب (دوهم ځل) ۹۷ س.
جراح بن عبدالله حكمی (د عمر بن عبدالعزيز له خوا) ۹۹ س.
عبدالرحمن بن نعيم القرشي (قشيري) ۱۰۰س.
سعيد بن عمرو حرشي (د يزيد اموي له خوا) ۱۰۱ س.
مسلمه بن عبدالملک ۱۰۲س.
مرستيال يې: سعيد بن عبدالعزيز په خذينه مشهور ۱۰۲س.
عمر بن هبيره ۱۰۲س.
سعيد بن عمرو حرشي (د ابن هبيره مرستيال) ۱۰۳س.
مسلم بن سعيد کلابي (د ابن هبيره مرستيال) ۱۰٤س.
خالد بن عبدالله قسري ۱۰۵ - ۱۲۰س.

مرستيالان يې:
- وروريې اسد بن عبدالله قسري ۱۰۵س.
- حکم بن عوانه کلبي ۱۰۹س.
- اشرس بن عبدالله سليمی (سلمی) ۱۰۹س.
- جنيد بن عبدالرحمن بن عمرو ۱۱۰ س.
- ابن ابي حارثه مصري ۱۱٦س مړ.
- عاصم بن عبدالله هلالي ۱۱٦س.
- اسد بن عبدالله (دويمه پلا) ۱۱۷س.
- جعفر بن حنظله بهراني ۱۲۰س.

يوسف بن عمر بن شبرمه ۱۲۰س.
مرستيال يې: نصر بن سيار کناني ۱۲۰ - ۱۳۱س.
د ابومسلم راڅرگندېدا لومړۍ پلا ۱۲٤س.
نصر بن سيار (د خراسان خپلواک والي) ۱۲۵ تېښته ۱۳۰س.[۱]

تر دې وروسته ابومسلم خراساني په خراسان کې پاڅون کوي او عباسي واليان پر دې خاوره واکمني چلوي چې شرحه به يې په بل څپرکي کې راشي.

---

۱ - معجم الأنساب و الأسرات الحاكمة د زامباور ۱ /۷۷.

## ۵- سیستان او د افغانستان سوېل د امویانو پېر

په تېرو مخونو کې مو د افغانستان د سوېل له جبهې څخه د اسلامي عسکرو په لاس د کابل سوبه یاده کړه. په ٤٥ س کال کې د حضرت‌معاویه د دربار له خوا زیاد بن‌ابوسفیان د معاویه دعوه‌ییز (استلحاقي) ورور، چې مور یې سمیه وه، د بصرې خراسان او سیستان امیر شو. هغهٔ ربیع بن‌زیاد حارثي خراسان ته راولېږهٔ. (٤٦ س کال) [١]

تاریخ سیستان وایي، ربیع چې دلته راغی، د نېکو چارو بنسټ یې کېښېښود، پر خلکو یې لازم کړ، نو د قرآن او تفسیر علم یې زده کړ. عدل و انصاف یې خپور کړ. ډېر گبرکان یا زردشتیان مسلمانان شول. د خراج اداره یې جوړه. د مستوفیانو حساب لپاره یې منشیان، څارونکي او معتمدان وگومارل. په دې چارو کې یې لارښود حسن‌بصري و؛ چې بې د هغهٔ له تدبیره یې هیڅ نه کول.[٢]

د زابلستان د پاچاه رتبیل پر وړاندې د ربیع د جنگونو یادونه د رتبیلانو د احوال په شرحه کې تېره شوه، هغه په دې جنگونو کې تر بُست، رخج (اوسني کندهار) او داور سیمې پورې وړاندې تللی و. په ۵۳س کال کې تر دوو کالو او دوو میاشتو امارت وروسته ومړ.[٣]

تر ربیع وروسته په ۵۱ س کال کې عبیدالله بن‌ابي بکره د سیستان والي شو. هغهٔ د زابلستان له رتبیل سره په یو ملیون درهمو سوله وکړه (تاریخ سیستان لیکي: دوه ملیونه). ربیع ته امر شوی و، چې له سیستان څخه زردشتیان وباسي او اورتونونه یې مړهٔ کړي. د سیستان مشرانو او زردشتیانو د بغاوت هوډ وکړ او پرې یې نښودل،

---

[١] - فتوح ۴۸۹، طبري ۴/ ۱۷۰ او الکامل ۳ /۲۲۸.

[٢] - تاریخ سیستان ۹۲.

[٣] - طبري ۴ /۲۱٦، فتوح ۴۸۹.

چې اورتونونه یې ونړول شي. په دې اړه یې د شام له درباره مشوره وغوښتنه، ځواب راغی چې هغوی ژمن دي؛ نو باید عبادتځي یې ویجاړ نهٔشي. عبیدالله بې جوړې، نیاومن، سخي او زړور سړی و، چې تر کابله یې سوبه وکړه او رتبیل یې په سوله سیستان ته راووست او بصرې ته یې ولېږهٔ.[1]

عبیدالله تر ۵۳ س کال پورې په سیستان کې پاتې شو او بیا د حضرت‌معاویه له خوا عُباد بن‌زیاد سیستان ته راغی. عباد نېک سړی و، د هرې پنجشنبې په ورځ به یې د بېوزلو شکایتونه اورېدل او د هرې اړتیا غوښتنه به یې ور پوره کوله، خلکو ته به یې ډالۍ ورکولې او ښېګڼه به یې ورسره کوله.

عباد له سیستان نه پر کندهار او کابل لښکرکښي وکړه، په جنګونو کې بریالی شو، د زرو ډکې کوټې یې وموندې او د مسلمانانو لاس ته ستر غنیموتونه ورغلل.[2] بلاذري د عُباد د لښکرکښیو وختونه هم شرحه کوي، چې له سیستان سنارود[3] ته او له هغه ځایه د کهز[4] شاوخوا ته راغی. د سیستان له سینده هندمند (هیرمند) ته تېر شو او بیا یې کش[5] ونیو، چې له دښتې تېر شو نو کندهار [6] ته راورسېد. له کندهاریانو سره وجنګېد او ماتې یې ورکړه. کندهار یې د مسلمانو سرتېرو په تلفاتو سره ونیو. عُباد چې د کندهاریانو پګړۍ اوږدې ولېدې، هماغسې یې جوړې کړې چې عُبادیه یې ورته ویلې.

ابن‌مفرغ د کندهار، ګرمسیر او د هغهٔ ځای د جنګ یادونه داسې کړې ده:

---

۱ - تاریخ سیستان ۹۴، فتوح ۴۹۰.

۲ - پورتنی اثر ۹۵.

[۳] - سَنارود د سیستان په یو فرسخۍ کې د یوې ویالې نوم و، چې له هلمنده یې سرچینه اخیسته او ډېر کلي یې خړوبول. د اوبو د زیاتوالي په موسم کې په کې بېړۍ چلېدې (مراصد ۲ /۷۴۲).

[٤] - ښایي ګِزَه په سییستان کې ښار وي، چې معربه یې جزه ده (معجم‌البلدان۴/ ۴۵۹). په تاریخ بیهقي ۱ /۳ کې د تیز غرهٔ کلا نوم راغلی، چې د رتبیل کوټ و. د غزني د دربار امیرانو محمد ابن محمود په تګین‌آباد کې ونیو او په دې کوټ کې یې بندي کړ. په تاریخ سیستان (۲۰۷مخ) کې دا نوم قلعهٔ کوهژ دی، چې په رخذ کې وه؛ خو څېړنې ته اړتیا ده چې دا دواړه یو ځای و که دوه؟

[٥] - ښایي اوسني میوند ته څېرمه د ارغنداب او هلمند ناوو ترمنځ پروت کشک‌نخود وي.

٦ - په اسلامي پېر کې دا د اوسني کندهار تر ټولو پخوانۍ یادونه ده، په درېیمه او څلورمه هجري پېړۍ کې د هغه پر ځای تګین‌آباد یادېږي او د غزنویانو او غوریانو په پېرونو کې د کندهار نوم نه لیدل کېږي. تر هغه وروسته د۶۰۰س شاوخوا د سیفي هروي په تاریخ هرات کې بیا د کندهار نوم همدې اوسني ښار ته ویل کېږي.

کم بالجروم وأرض الهند من قدم    ومن سراینک قتلی لاهم قبروا
بقندهار، ومن تکتب منیّته    بقندهار یرجّم دونه الخبر[1]

«په گرمسیر او د هند په خاوره کې زموږ ځومره نومیالي ووژل شول، چې قبرونه ورته هم ونه رسېدل، دا د کندهار داستان دی او هر څوک چې هلته ومړ، بیا یې خبر را نغی.»

په ٦١ س کې د معاویه تر مړینې وروسته یې زوی یزید، د عُباد پر ځای د هغهٔ ورور سلم بن‌زیاد د سیستان او خراسان والي کړ. هغهٔ خپل بل ورور یزید بن‌زیاد سیستان ته راولېږهٔ. په دې وخت کې کابلیانو سرغړونه وکړه او اموي لښکرمشر ابوعبیده بن‌زیاد یې بندي کړ. یزید بن‌زیاد پر هغو لښکرکښني وکړه او په جنزه[2] کې ورسره وجنګېد، خو په دې جنګ کې یزید بن‌زیاد له خپلو زیات شمېر ملګرو سره ووژل شو او عربو ماتې وخوړه.

سلم چې د خپل ورور له ماتې او مړینې خبر شو، طلحه بن‌عبدالله بن‌خلف خزاعي - چې په طلحه‌الطلحات مشهور و- یې د ورور د ژغورنې لپاره سیستان ته ولېږهٔ. عمر د طلحه ورور یې لښکرمشر کړ، طلحه د کابل له خلکو څخه بندي ابوعبیده بېرته په پنځه‌لکو درهمو وپېرهٔ او له کابله بُست او سیستان ته راستون شو. هغه پوه، عاقل او مخور سړی و. سیستانیانو هغه په سخاوت، عدالت او زړورتیا خوښاوهٔ. د ٦٢س شاوخوا په سیستان کې ومړ او د سیستان په تهل مهاجر کې ښخ شو.

طلحه چې مړ شو زوی یې عبدالله پر (٦٣س) کال د سیستان حاکم شو؛ خو د سیستان د عرب نژاده مشرانو په منځ اختلاف پیدا شو او هر یوهٔ یوه سیمه ونیوله، نو رتبیل ته موقع په لاس ورغله چې له دې ګډوډۍ څخه ګټه واخلي او د عربو د اطاعت کړۍ له غاړې وباسي. هغهٔ لښکرکښني وکړه او د سیستان پلازمېنه زرنج یې

[1] - فتوح ۵۳۲.

[2] - همدارنګه د بلاذري په فتوح‌البلدان ۴۹۰ کې چې ښایي همدا غزنی وي. د دې پېر شاعر ابن عراده د دې پېښو په اړه بولله لري، چې دا بیت د هغې دی: قتلی بجنزه و الذین بکابل و یزید اعلن شانه المکتوم (طبري ۴ /۴۲۱)

ونیو. په دې وخت کې د حضرت‌معاویه، زوی یزید او لمسي یې معاویه مړۀ شوي او د اموي پاچاه مروان‌حکم او عبدالله ابن‌زبیر (د حضرت ابوبکر صدیق لورنی لمسی) تر منځ اختلاف او جنگ رامنځ ته شوی و. ابن‌زبیر د عراق او خراسان امارت حارث قباع بن‌عبدالله مخزومي ته ورکړ. قباع عبدالعزیز بن‌عبدالله بن‌عامر بن‌کریز د سیستان حاکم کړ (٦٤س کال).

عبدالعزیز د طلحه خپارۀ شوي عسکر راټول کړل او زرنج ښار یې له رتبیل څخه ونیو. رتبیل چې د ابوعفراء عمیر مازني په لاس ووژل شو، نو بیا یې بُست او کابل ته مخه کړه او د رتبیلانو پاتې شونو سره یې سخت جنگ وکړ. د کابل او زابل کار یې ورپاک کړ او بریالی سیستان ته راستون شو. عبدالعزیز عالم او عالمدوست سړی و، ان چې د زردشتي پوهانو پندونه او پوهنیزې ویناوې یې هم اورېدې. د سیستان له متکلم مجوسي رستم بن‌مهر هرمزد سره به یې مجلسونه کول. تر ۷۲ س کال پورې د سیستان‌حاکم و. په ۷۳ س کې د ابن‌زبیر تر وژنې وروسته د عبدالملک بن‌مروان له خوا حجاج بن‌یوسف ثقفي د عراق، خراسان او سیستان والي شو. هغۀ خراسان او سیستان امیه بن‌عبدالله ته ورکړل. امیه خپل زوی عبدالله بن‌امیه سیستان ته راولېږۀ چې په ۷٤س کال کې سیستان ته راورسېد. سمدواره یې د رتبیل سره د جنگ اعلان وکړ. عبدالله چې بُست ته راورسېد رتبیل ورته په یو ملیون درهمو (د تاریخ سیستان د وینا له مخه: دوه ملیونه) ورکولو د سولې وړاندیز وکړ. یو خروار زر یې ور ولېږل او درې لکه درهمه یې په ځانگړي ډول عبدالله ته وړاندې کړل، چې د هغۀ لښکریان د رتبیل ښارونه ونه سوځوي، ویجاړ یې نه کړي او په دې شرط تړون لاسلیک کړي.[1]

حجاج چې له دې احواله خبر شو په(۵۵س کال) کې یې موسی بن‌طلحه سیستان ته راولېږۀ، هغه تر (۷۸س) کال پورې په سیستان کې حاکم پاتې شو. په هم دې کال عبیدالله بن‌ابي بکره د حجاج له خوا د سیستان والي شو، چې حریش بن‌بسطام یې لښکرمشر و. بو بردعه بن‌عبیدالله هم له لوی لښکر سره له پلار سره و.[2]

[1] - فتوح ۴۹۱، تاریخ سیستان تر ۱۰۵ وروسته.

[2] - تاریخ سیستان ۱۱۰، طبري ۵/ تر ۱۳۴ وروسته او فتوح ۴۹۱.

سیستانیانو د عربي دولت له کمزورۍ ګټه اخیسته او د زابلستان سیمه‌ییز پاچاه رتبیل هم موقع ته کاته. سیستانیانو د عربي امویانو له ولکې د ځان خلاصۍ لپاره په سیستان کې خوارج پیاوړي کړل، چې د امویانو له مجهز او ځواکمن لښکر سره مقاومت وکړای شي. خوارجو تر ډېره په سیستان کې مرکزیت درلود. هغه مهال چې به هر څوک د خلافت د مرکزي ولکې مخې ته راپاڅېدهٔ، خارجي نومل کېدهٔ. له همدې امله د خراسان زیاتره خپلواکي غوښتونکي چې د اموي امارت له اطاعته به یې سر غړاوهٔ، خوارج ګڼل شوي دي. همدا اصطلاح د عباسیانو په پېر کې هم پاتې شوه. دا راپاڅېدونکي ځواکونه د خراسان او سیستان ځایي کسان او یا هغه عربان وو، چې په دې خاوره کې مېشت شوي او د دې ثقافت یې خپل کړی و.

**جیش الفناء**

عبیدالله ته له زیاتو ځواکونو سره حجاج امر کړی و، چې د رتبیل خاوره ونیسي، لښکریان یې ووژني، کلاوې یې ونړوي، بچیان یې مریان کړي. د تاریخ سیستان مؤلف وایي: «د عبیدالله لښکرمشر حریش له لوی لښکر سره راغی، د سیستان وګړي بیا له سره جنګ ته راووتل. سخت جنګ یې وکړ او ډېر وګړي یې ووژل. د حریش لښکریان لوږې- تندې راواخیستل، ډېر ووژل شول. شریح بن‌هاني‌الحارثي او عبدالله بن‌عباس هم هغه ورځ په دې جنګ کې ووژل شول. یو ماتې شوی ټولی چې کلي ته ننووت، خلکو ډوډۍ ورکړه او ویې خوړه. څرنګه چې یې ډېره وخوړه، نو ټول مړهٔ شول، هیڅ کس ترې ژوندی پاتې نه شو یا ووژل شول یا مړ شول؛ نو عربو جیش الفناء ونوماوهٔ»[1]

عبیدالله د ۷۸ س کال په لومړیو کې سیستان ته راورسېد او خپل زوی بوبردعه مغیره یې د خراج او مالي چارو مسوول وټاکهٔ. څرنګه چې د رتبیل ځواکونو د زابلستان له خوا هغه ګواښهٔ؛ نو د (بکوا) دښتې له لارې بُست ته لاړ. دلته دوه ځواکونه سره مخامخ شول. له عبیدالله سره لوی لښکر و، رتبیل ورسره سخت جنګ

---

[1] - پورتنی اثر ۱۱۱.

وکړ. د عربو لښکریانو لاس ته ډېرې غواوې، مېږې او نور مالونه ورغلۀ او کابل ته رانږدې شول؛ خو د رتبیل لښکریان ورو ورو شاته شول او هغه یې داسې ځای ته راورسول چې وتل ترې ګران وو. په پایله کې عبیدالله سولې ته غاړه کښېښوده. طبري، تاریخ سیستان او بن‌اثیر وایي اووه لکه درهمه او بلاذري وایي یو لک درهمه عبیدالله ومنل چې رتبیل ته یې ورکړي او خپل درې زامن (نهار، حجاج او ابي‌بکره) هم برمتې په ډول، له لیکلي تړون سره رتبیل ته ورولېږي. په تړون کې دا شرط هم و: تر هغه مهاله چې عبیدالله په سیستان کې وي له رتبیل سره به نه جنګېږي.

عبیدالله په داسې خواشینوونکي حالت کې خپل لښکریان د رتبیل له منګولو خلاص کړل او د بُست په دښتو کې ترې ډېر له لوږې تندې مړۀ شول. عبیدالله چې بُست ته ورسېد پر دې پېښې دومره خواشینی شوی و، چې په بُست کې د غوږ له درده ومړ (۷۹ کال) چې قبر یې په بُست کې دی.[۱]

### د طاووسانو لښکر (جیش‌الطواویس)

ځواکمن اموي حاکم حجاج د عبیدالله د ماتې او د هغۀ د لوی لښکر د پوپنا کېدو احوال اموي پاچاه عبدالملک ته ورکړ. د عبیدالله په لښکر کې چې مسلمانانو ته زښت زیات تاوان واوښت او ډېر زیات له منځه لاړل، حجاج پر سیستان او رتبیل د بلې لښکرکښۍ په اړه د خلیفه نظر وغوښت، عبدالملک د دې کار واک حجاج ته پرېښود. هغه ۲۰ زره د کار کوفیان غوره کړل[۲] او د خپلو یو لک و شل زرو سپرو له منځه یې لس زره مجهز سپارۀ هم وټاکل.[۳]

د اموي دولت دا عسکر ډېر مجهز، سنبال او منظم وو، وسله، د لارې اسونه او ټول جنګي لوازم یې ورته وسپارل. تاریخ سیستان وایي هغه څه چې د هغوی لپاره لازم وو- وسله، سپرلي او معاش- ټول یې ورته چمتو کړل او دا لښکر یې

---

۱- فتوح ۴۹۲، طبري ۵/ ۱۳۷ او تاریخ سیستان ۱۱۲.

۲- طبري ۵/ ۱۴۰.

۳- تاریخ سیستان ۱۱۲.

جیش‌الطواویس ونوماوهٔ، څکه چې ټول زړور، اشراف او د عربو شتمن وو.[1]

بلعمي د تاریخ طبري په ژباړه کې په دې اړه وایي:

«او دروند لښکر یې وروليږهٔ، بې له دې چې په هغې ورځ یې ډالۍ ورکړې، دوه ملیونه لګښت یې هم ورکړ او لښکر وخوځېد. په تجهیزاتو او ورسره وسلو یې خلکو هغه لښکر جیش‌الطواویس نوماوهٔ، یعنې له طاووسانو سره یې تشبیه کړل»[2]

د طاووسانو لښکر په دې ډول او د دوو ملیونو درهمو په ورکولو چمتو شو. حجاج د لښکر توریالیو ته ډالۍ ورکړې او په هغې ورځ چې دا لښکر یې معاینه کاوهٔ یوهٔ زړور او مجهز سپارهٔ ته یې پنځه پنځوس زره درهم وبخښل.[3]

حجاج د دې مجهزو وسله‌والو لښکرمشر خپل یو کس سیال عبدالرحمن بن‌محمد بن‌اشعث وګومارهٔ چې په ټول عراق کې ترې کرکه کېدهٔ. د حجاج دا سړی سخت بد راتهٔ او تل یې دا په زړهٔ کې وه چې ویې وژني. هغه یو ورځ حجاج ته ورغی، حجاج وویل: د دې سړي تګ ووینئ، په الله ﷻ سوګند که له لاسه مې وشي، سر یې پرې کړم.[4]

په داسې حال کې حجاج، د عبدالرحمن په لېږلو کې دا موخې درلودې: خپل سیال له عراقه لیرې باسي او په سیستان او زابل کې یې د دې خاورې قهرېدلو خلکو او د مجرب جنګي حاکم رتبیل منګولو ته وسپاري، همدهٔ د جیش‌الفناء د برخلیک پریکړه کړې وه. که عبدالرحمن بریالی شي په خپله د هغهٔ او جنګي زابلیانو له شره به په امان شي او که ماتې وخوري؛ نو د دښمن سر به یې پر دښمن چقولی وي.

عبدالرحمن د طاووسانو له لښکر سره په (۸۰ س) [5] کې سیستان ته راورسېد، خو

---

۱ - پورتنی اثر۱۱۲.

۲ - د هند د کانپور چاپ د بلعمي په ژباړه (۴ /۶۷۱) کې دا عبارتونه مسخه شوي او سمه بڼه یې اروابناد بهار د تاریخ سیستان پر څنډو (۱۱۲مخ) د بلعمي له خطي نسخې څخه لکه د متن په څېر راخیستې ده.

[3] - طبري ۵/ ۱۴۱.

[4] - پورتنی اثر ۵/ ۱۴۰.

۵ - طبري او ابن اثیر دا د ۸۰ کال تر پېښو لاندې راوړې دي؛ خو د تاریخ سیستان مؤلف د عبدالرحمن راتلل (۸۲ س) کال لیکي، څرنګه چې د طبري سند پخوانی دی، نو باور پرې کېدای شي؛ په همدې کال عبدالرحمن په سیستان کې

چې ويې ليدل د امويانو مخالفين لا د مخه په سيستان کې پر ځای شوي وو او له دې ځايه له اموي ځواکونو سره جنګېدل. مخالفان مؤرخان خوارج بولي؛ غالب ګومان دا دی، چې دا خلک د امويانو پر خلاف د خپلو راوتنو له امله خوارج نومل شوي دي، ځکه زياتره د اموي دولت نوکران او کارمندان او په خراسان او سيستان کې مېشت عربان وو، چې د اموي اميرانو مخې ته پاڅېدل او سرغړونه يې کوله. د دې خاورې ځايي اوسېدونکو هم د عربو واکمنو له دې اختلاف څخه په خپله ګټه کار واخيست.

په دې خاوره کې د عبدالرحمن لومړنی مقابله له هميان[1] بن‌عدي سدوسي نومې سړي سره وه. حجاج هغه کرمان ته لېږلی و، چې که د سيستان او سند د حاکمانو اړتيا شي، مرسته ترې واخلي؛ خو هميان له حجاجه پر سرغړونه راپاڅېد. د تاريخ سيستان څښتن وايي هغه د سيستان د خوارجو لوی سرخېل و. له لوی لښکر سره راغلی و، عبدالرحمن ورسره وجنګېد، دواړو خواوو ته ډېره مرګ ژوبله واوښته. په پای کې هيان ماتې وخوړه او عبدالرحمن د هغې ډلې د مخورو او نوميالیو سرونه حجاج ته ورولېږل، چې ترې وژل شوي وو.[2]

عبدالرحمن تر دې سوبې وروسته د خوارجو مخې ته د سيستان په زرنج کې خپل ځواکونه راغونډ کړل، د سيستان پر منبرونو يې توندې ويناوې وکړې او عرب (تازيان) يې هغه خطر ته متوجه کړل چې له رتبيل او ځايي خلکو يې درلود. د خراسان له والي مهلب بن‌ابي صفره څخه يې عسکر او کاري کسان وغوښتل. عبدالله بن‌عامر يې - چې پلار يې د سيستان سالار و او په خلکو کې يې درنښت درلود- ونازاوهٔ او ښار ته يې رانيوست. سيستان يې ورته وسپارهٔ او په په خپله يې له درانهٔ

---

نه و او په ديرالجماجم کې د حجاج پر وړاندې جنګېدهٔ، چې په ۸۳ س کال کې يې ماتې وخوړه او د سيستان رتبيل ته يې پنا راوړه (طبري ۵/ ۱٦۳).

۱ - نوم يې په طبري کې۵ /۱۴۲ کې د متن په څېر دی؛ خو په تاريخ سيستان کې همام او همان دی. څرنګه چې په الکامل (۴ /۲۲۰) کې هم هميان دی، نو بايد د تاريخ سيستان د يواځينی نسخې خونديينه، اوښتنه وګڼو.

۲ - تاريخ سيستان ۱۱۳.

لښکر سره د رتبیل ځپلو ته مخه کړه.[1]

رتبیل چې د عبدالرحمن له لښکرکښۍ خبر شو، د سولې پیغام یې ور ولېږهٔ؛ خو عبدالرحمن ونه منهٔ او بُست ته راغی. د رتبیل پر ضد یې سخت جنگ وکړ، زیات غنیمتونه یې ونیول. رتبیل په خپلو جنگي چارو کې ځانگړی ترتیب درلود، چې له دشمن سره کلي په کلي او کلا په کلا جنگېدهٔ او بیا یې پر شاتگ کاوهٔ چې مقابل ځواکونه هغو سختو ځایونو ته ننباسي چې تېرېدل ترې ستونزمن وي؛ خو د هغهٔ سیال د پخوانیو لښکرو له منځه تگ څخه پند واخیست او څرنگه چې د رتبیل له دې ترتیب سره اشنا و، په نیول شویو ځمکو کې یې حاکم وگومارهٔ، د پوست مرکزونه یې وټاکل، په درو او مهمو ځایونو کې یې ساتندویان وگومارل او په دې ترتیب یې بُست، زابل او کابل د سند تر څنډو پورې لاندې کړل رتبیل چې هم خوندي او لیرې ځایونو ته په شا شوی و؛ نو په دې ځایونو کې کراري رامنځ ته شوه او عبدالرحمن د دې سوبو خبر حجاج ته ورکړ.[2]

مخکې مو وویل: چې د اموي دربار د دې دوو لویو حاکمانو یعنې عبدالرحمن او حجاج تر منځ پخوانۍ گوندي وه. په دې وخت کې چې عبدالرحمن پر سیستان او زابل تر کابل پورې لاسبری شو او د دې ځای تر سنبالۍ وروسته پیاوړی شو، حجاج ترې ووېرید؛ نو څو لیکونه یې ور ولېږل، چې پر رتبیل او د هغهٔ پر سختو او ستغو غرنیو سیمو برید وکړي؛ خو عبدالرحمن چې په دې کار کې خپل ورکاوی لیدهٔ، نو خپلو لښکریانو ته یې وویل:

«حجاج ما ته امر کوي چې د دښمن پر خاوره برید وکړم، خو دا هغه ځمکه ده، چې پرون په کې ستاسې وروڼه پوپنا شوي دي؛ نو د حجاج دا امر نشم منلای.»

عربي لښکرې او مشران له عبدالرحمن سره له حجاجه یاغي شوې او له عبدالرحمن سره یې تړون وکړ: چې حجاج د عراق له امارته لیرې کړي، په خراسان

---

[1] - طبري، ۵/ ۱۴۱، تاریخ سیستان ۱۱۳ او الکامل ۲۲۰.

[2] - پورتنی اثر ۵/ ۱۴۲، تاریخ سیستان ۱۱۴، الکامل ۲۲۰ او تاریخ‌الیعقوبي ۲/ ۲۷۷.

کې د مروې حاکم مهلب بن‌ابي صفره ته يې هم ليک وکېښ او هغه يې د حجاج مخالفت ته وهڅاوۀ.

عبدالرحمن په دې ډول له حجاج څخه سر وغړاوۀ او سيستان ته راغی. په بُست کې يې عياض بن‌هميان بکري (له بني سدوس څخه) والي کړ. زرنج يې عبدالله بن‌عامر تميمي ته وسپارۀ او له رتبيل سره يې په دې شرط سوله وکړه، چې که بريالی شو همېشه به ترې باج نه اخلي او که ماتې يې وخوړه؛ نو پناه به ور وړي.[1]

عبدالرحمن په ۸۲ س کې له خپل لښکر سره له سيستانه له حجاج سره جنګ ته وخوځېد. اموي پاچاه عبدالملک د حجاج په ملاتړ په بصره کې سخت جنګ وکړ. عبدالرحمن ماتې وخوړه او کوفې ته لاړ. د کوفيانو په مرسته يې په ديرجماجم کې ۸۱ ځله جنګ وکړ. په پايلې کې پرې د حجاج ځواکونه لاسبري شول او عبدالرحمن په ۸۳ س کې د پارس او کرمان له لارې بېرته سيستان ته راستون شو.[2] تر دې وروسته د عبدالرحمن برخليک هماغه و، چې په لومړي څپرکي او د رتبيلانو په بحث کې تېر شو او دا پېښې په ۸۵ س کې د عبدالرحمن په مړينه پای ته ورسېدې.

[1] - طبري۱۴۷/۵، تاريخ سيستان ۱۱۵، الکامل ۴/ تر ۲۲۳ وروسته او تاريخ‌اليعقوبي ۲/ تر ۳۸۷ وروسته.

[2] - پورتنی اثر ۵/ تر۱۶۳ وروسته، تاريخ سيستان ۱۱۶، الکامل ۴/ تر ۲۲۳ وروسته او زين‌الأخبار ۶۳ الف.

## ٦- د ابومسلم تر پاڅون پورې د سیستان والیان او د رتبیل حالت

رتبیل چې عبدالرحمن د حجاج چارواکو ته وسپارهٔ، نو د هغوی تر منځ سوله ټینګه شوه. حجاج عماره بن‌تمیم لخمي د سیستان والي کړ (۸۵س کال) خو څرنګه چې د رتبیل عماره خوښ نه شو؛ نو حجاج هغه ګوښه کړ او د هغهٔ پر ځای یې په (۸۶ س) کال کې عبدالرحمن بن‌سلیم کناني وټاکهٔ، چې یو کال وروسته ګوښه شو. پر ځای یې مسمع بن‌مالک شیباني راغی. هغهٔ له ابوخلده خارجي سره - چې د سیستان ډېر مشران ورسره وو- جنګونه وکړل، هغه یې ونیو او د حجاج دربار ته یې واستاوهٔ. په خپله مسمع پر همدې کال (۸۶س) په سیستان کې ومړ او ورارهٔ یې محمد بن‌شیبان (یا سنان) د هغهٔ ځایناستی شو؛ خو د حجاج له خوا اشهب بن‌بشر کلبي چې خراساني و، د سیستان والي شو. هغهٔ له رتبیل څخه په باج اخیستو کې سختي وکړه، رتبیل ترې حجاج ته شکایتلیک وکېښ، له دې امله یې سمدواره ګوښه کړ.[1]

اموي پاچاه عبدالملک بن‌مروان چې ومړ، له ولید بن‌عبدالملک سره په دمشق کې بیعت وشو. هغهٔ حجاج پر عراق، خراسان او سیستان پرېښود. حجاج خراسان او سیستان قتیبه بن‌مسلم باهلي ته وسپارل، چې د هېواد په شمالي سیمو کې یې د احوال شرحه د مخه ورکړې شوې ده.

قتیبه دوه ځله سیستان ته راغی لومړی ځل د (۸۶س) کال په رجب کې چې ورپسې یې ورور عمرو بن‌مسلم و. هغه له رتبیل سره ونښت، له هغهٔ یې د جنسي باج پر ځای نقدې پیسې وغوښتې؛ خو رتبیل ونه منلې او ویې ویل: له حجاج سره مې د جنس په ورکړه سوله کړې ده.

---

[1] - البلدان یعقوبي ۴۶، فتوح ۴۹۲ او تاریخ سیستان ۱۱۸.

عمرو يې د حال څرنګوالی قتیبه ته ور ولیکهٔ، هغه سیستان ته راغی او رتبیل احوال وروليږهٔ: «ما سرغړونه نه ده کړې، هماغه جنسي باج واخلئ، زیاتی مه کوئ، که په سوله خوښ شواست ستاسو په خیر ده او که نه هیله‌من یم چې دربانديږ برلاسی شم.» قتیبه خپلو لښکریانو ته وویل: «دا بدشاګومه سیمه ده، په دې کې عبدالله بن‌امیه، بن‌ابي بکره او نور عرب نومیالي وژل شوي دي، موږ د رتبیل له جنګي چلونو څخه ځان نهٔشو ژغورلای. هغه به زموږ خواړهٔ او واښهٔ وسوځوي، په تینګو کلاوو کې به پناه واخلي؛ نو غوره ده چې د جنسي مالونو په اخیستو سره جوړ شو».[1]

هغه یو څه مهال په سیستان کې پاتې شو، بیا خراسان ته راغی او عبدربه بن‌عبدالله لیثي یې په سیستان کې حاکم کړ. اشعث بن‌بشر بربوعي یې د سیستان او خراسان د وضعې د توضیح لپاره د ډالیو له پېټو سره حجاج ته وروليږهٔ. حجاج همدا اشعث چې یو هوښیار سړی و، په ۸۸س کې د عبدربه پر ځای د سیستان والي وټاکهٔ. هغه بُست ته لاړ او له رتبیل سره یې د سولې پر شرایطو خبرې وکړې. د تړون څرنګوالی چې یې حجاج ته وروکېښ، حجاج ته سوله هیڅ ښکاره شوه، غوسه شو او اشعث یې ګوښه کړ. بیا یې د سیستان چارې قتیبه ته وسپارلې. قتیبه خپل ورور عمرو بن‌مسلم سیستان ته ولیږهٔ. هغه څو ورځې په سیستان کې و او بیا بُست ته لاړ او له رتبیل سره یې جنګ پیل کړ. په پای کې سوله وشوه، چې د دې موضوع خبر یې حجاج ته ورکړ، حجاج ونه منله، نو قتیبه ته یې امر وکړ چې په خپله سیستان ته له رتبیل سره جنګ ته لاړ شي.[2] قتیبه په (۹۲س) کال کې د ولید بن‌عبدالملک په پېر کې سیستان ته راغی. هغه د کار سړی و، د سیستان خلک او عالمان یې راټول کړل او له رتبیل سره یې جنګ ته ځواکمنې لښکرې چمتو کړې. د دې لپاره چې دښمن ته خپل زور وښیي، زر جوړې جوتي غویان یې له دوو زرو بزګرانو سره راټول کړل، د بزګرۍ سامانونه یې واخیستل، ځمکه یې وکرله او داسې یې وښوده چې دا فصل ونه ریبي نو له دې ځایه به لاړ نهٔشي.

رتبیل چې کله دا خبر واورېد وویرېد او پوه شو چې قتیبه د بېرته ستنېدو هوډ نه لري. استازی یې وروليږهٔ او دا یې ومنله چې هر کال به دوه ملیونه درهمه ورلېږي. د

---

[1] - البلدان ۴۶، فتوح ۴۹۳، الکامل ۴ /۲۷۳، تاریخ‌الیعقوبي ۲/ ۲۸۷ او زین‌الأخبار ۶۴ الف.

[2] - تاریخ سیستان ۱۲۰.

۹٤س کال په ذوالحجه کې یې د یوۀ کال نقد ورولېږل.[1]

په دې منځ کې حجاج بن‌یوسف په ۹۵س او اموي پاچاه ولید بن‌عبدالملک په ۹٦س کال کې ومړ. قتیبه هم په همدې کال۹٦س کې په فرغانه کې ووژل شو، نو د دمشق اموي پاچاه سلېمان بن‌عبدالملک په۹۷س کال کې یزید بن‌مهلب د عراق او خراسان او ورور یې مدرک بن‌مهلب د سیستان والي کړ. مدرک په سیستان کې ډېر وخت پاتې شو، خو چې رتبیل یې پاته وانه ړوله او باج یې هم ورنه کړ، یزید خپل ورور له سیستانه گوښه کړ او د هغۀ پر ځای یې خپل زوی معاویه بن‌یزید دلته وگومارۀ. معاویه د سیستان له خلکو سره ښه چلن وکړ، رتبیل هم یو څه باج ورکړ، نو هغه د سلېمان د مړینې او د حضرت‌عمر بن‌عبدالعزیز تر خلافت ۹۹س کال پورې دلته پاتې شو.[2]

خو د زابلستان واکمن رتبیل تر دې وروسته خپلواک پاتې شو، بلاذري وایي د امویانو د حکومت تر وروستیو او ان ابومسلم ته یې هم هیڅ باج ورنه کړ. چې د دې کار لامل یې وپوښته ویې ویل:

«هغه کسان چې ډنگر او توروربړه وو، د لمانځۀ نخښې یې په څېره کې جوتې وې، د خرماوو گاولې یې وې او ما ته راتلل هغه څه شول؟»

ځواب یې ورکړ:

«هغوی مړۀ شول.»

رتبیل وویل:

«که څه هم چې تاسې ښکلي یاست؛ خو هغه تر تاسې باوفا او په خپلو بریدونو کې لا سخت وو».

کله چې یې له هغه پوښتنه وکړه: « حجاج ته دې باج ورکاوۀ او ما ته یې نه راکوې، ولې؟ رتبیل وویل: هغه یو داسې سړی و، چې که یو درهم گټه به یې په کې نه وه، هم د خپلې موخې په ترلاسي کې په هیڅ ډول

---

[1] - تاریخ سیستان ۱۲۱.

[2] - فتوح ۴۹۳، البلدان ۴۷ او تاریخ سیستان ۱۲۲.

لګښت اړ نه و؛ خو تاسې چې يې په مقابل کې د لسو تمه ونه لرئ يو درهم لګښت هم نه کوئ»[1]

له پورتني استدلاله يې د هېوادنيو چارو په اړه نظر او له امويانو سره د مقاومت ځواک اټکلولای شو.

کله چې عمرثاني د ۹۹س کال په صفره کې د اسلامي خلافت پر ګدۍ کښېناست، پاکلمني او پرهېزګار مامورين يې وټاکل. د تاريخ سيستان ليکوال وايي سباک بن‌منذر شيباني (يعقوبي وايي: سيال) سيستان ته راولېږل شو. هغه نېک او سپېڅلی سړی و؛ نو وګړي په امن شول او شخړې هوارې شوې. بيا عبدالرحمن بن‌نعيم غامدي او سري بن‌عبدالله دلته حاکمان شول. تر هغه چې عمر بن‌عبدالعزيز په ۱۰۱س کې ومړ او اموي پاچاه يزيد بن‌عبدالملک سيستان ته عمر بن‌هبيره محتسب و قوماندان او قعقاع بن‌سويد يې د مستوفي په توګه راولېږه. (۱۰٤س کال)

قعقاع په سيستان کې له هلمند سينده يو نهر وکينده، چې د زرنج ښار يې خړوباوه. دا نهر د زرنج له طعام ورۀ تېرېده؛ نو ځکه يې طعام رود هم بالۀ.[2]

هغه د عبدالملک د پېر تر پايه په سيستان کې پاتې شو، کله چې په (۱۰۵س) کال کې هشام بن‌عبدالملک پر اموي پلاز کښېناست، يزيد بن‌غريف همدانی يې د سيستان حاکم کړ. څرنګه چې رتبيل سر غړولی و او خراج يې نه ورکاوه، بلال بن‌ابي کبشه يې د هغۀ مقابلې ته راولېږه؛ خو رتبيل غاړه کېنښوده او بلال بېرته سيستان ته راستون شو. دا مهال د سيستان قاضي چې د احاديثو راوي او د سيستان له مخورو څخه و معمر بن‌عبدالله و؛ خو خوارج بيا لاسبري شول او د سيستان لښکرمشر بشر حواري يې وواژۀ. له دې امله په (۱۰۸س) کال کې اصفح بن‌عبدالله کلبي (شيباني) د سيستان د حاکم په توګه راغی او محمد بن‌جحش يې لښکرمشر و. هغه په (۱۰۹س)

[1] - فتوح ۴۹۳.

[2] - تاريخ سيستان ۱۲۵ او د يعقوبي البلدان ۴۷.

کې بُست ته راغی، پر رتبیل یې لښکرکښي وکړه او سخت جنګونه یې وکړل. په پای کې رتبیل پر مسلمانانو لارې بندې کړې، ډېر مسلمانان یې ووژل او په خپله اصفح تښتې شو، چې سیستان ته راورسېد دلته ومړ. دا جنګ په (۱۰۹س) کې و.[۱] بیا د اموي پېر تر وروستیو پورې لاندېني کسان پر سیستان واکمن شوي دي:

### محمد بن‌حجر کندي

کندی د اصفح تر مړينې وروسته په ۱۰۹س کې سیستان ته راغی. د خالد بن‌عبدالله قسري له خوا د خراسان حاکم ګومارل شوی او څه مهال دلته و.[۲]

### عبدالله بن‌بلال برده[۳]

یعقوبي وایي هغه عبدالله بن‌ابي برده بن‌ابوموسی اشعري دی، چې نیکهٔ یې د رسول‌الله له ملګرو څخه و. په ۱۱۱س کې د خراسان د حاکم خالد بن‌عبدالله له خوا سیستان ته راغی. نېک سړی و، په خلکو کې یې عدل چلاوهٔ. د زرنج ښار د پارس په یوهٔ ځای کې یې یو لوی جومات جوړ کړ. ځمکه یې ورته په نغدو سرو او سپینو زرو وپېرله ـ اوقاف یې ورته وټاکل. په بوحریر مشهور یو پرهېزګار لوی عالم محدث عبدالله بن‌حسین یې د سیستان قاضي کړ. د عبدالله د حکومت پر پېر په سیستان کې بېسارې سخته زلزله وشوه. همدا مهال په سیستان کې خوارج پیاوړي شول.[٤]

### ابراهیم بن‌عاصم عقیلي

په ۱۱٦س کال کې د هشام اموي د دربار له خوا یوسف بن‌عمر ثقفي د عراق، خراسان او سیستان حاکم وټاکل شو. هغه ابراهیم بن‌عاصم د همدې کال په رجب کې سیستان ته راولېږهٔ. ابراهیم نېک او نیاومن سړی و، د هشام تر مړينې پورې په

[۱] - تاریخ سیستان ۱۲٦، البلدان ۴۷ او تاریخ‌الیعقوبي ۲ / ۳۱۹.
[۲] - پورتنی اثر ۱۲۷؛ خو یعقوبي یې نوم د سیستان د والیانو په لیکلړ کې نه دی راوړی.
[۳]- همدارنګه په تاریخ سیستان کې ۱۲۷.
[٤] - پورتنی اثر ۱۲۷ او البلدان ۴۷.

سیستان کې پاتې شو. د ۱۱٦س کال په صفره کې همدلته ومړ.[۱]

## حرب بن‌قطن هلالي

حرب د ابراهیم تر مړینې وروسته په ۱۲٦س کې د سیستان والي شو. څرنګه چې په همدې کال په عراق کې د نبوي کورنۍ د بلونکو یو کس عبدالله بن‌معاویه پاڅون وکړ او تر جنګونو وروسته سیستان ته راغی (په هرات کې د وژنې شرحه یې تېره شوه)، حرب ونه غوښتل چې ورسره وجنګېږي، نو د سیستان له واکمنۍ ګوښه شو. په همدې کال کې محمد بن‌عروان (عزان؟) راغی[۲]، هغهٔ حرب ونیو، بندي یې کړ، خو حرب نېک او نیاومن سړی و، د سیستان مشرانو بیا له عرب واکمنه دلته د هغهٔ واکمني وغوښته، نو بېرته د سیستان حاکم شو؛ خو د سیستان د بني تمیم او بني بکر قبیلو تر منځ شخړه پیدا شوه او ډېره مرګ ژوبله یې واړوله؛ حرب پر ځان ووېرېد او له سیستانه لاړ.[۳]

## سعید بن‌عمر او د شیخانو پېښه

په ۱۲۸س کال کې سعید اعور د سیستان پر حکومت وګومارل شو. د همدې کال په محرم کې راغی؛ خو یواځې بنو تمیم عربو هغهٔ ته غاړه کښېښوده او بني بکر سرغړونه وکړه. له همدې امله یو بُستي بحتري بن‌سهلب نومې کس (د یعقوبي د وینا له مخه: بجیر بن‌سهلب)، د اموي پاچاه ابراهیم بن‌ولید له درباره د شخړې د هوارې په موخه سیستان ته راغی؛ خو د بني تمیم او بني بکر تر منځ د جنګ ډګر لا تود شو، ډېر مخور او مشران په کې ووژل شول، ځکه یې دا پېښه وقعة‌الشیوخ وبلله.

سیستانیانو د عربو له دې خپلمنځو جنګونو څخه ګټه واخیسته، د سعید او بحتري دواړو جنګیالي یې له زرنج څخه وایستل او د هغو پر ځای یې سوار بن‌اشعر

[۱] - پورتنی اثر ۱۲۸ او البلدان ۴۷.
[۲] - په طبري ۵ / ۵۷۳ کې ابن غزان.
[۳] - تاریخ سیستان ۱۳ او البلدان ۴۸.

د ۱۳۰س کال په جمادي الاولی کې پر سیستان وتاکهٔ.

د سیستان بلوا پنځوس زرو کسانو ته ورسېده، سوار او بحتري يې ووژل او هيثم بن‌عبدالله بغاث يې په دې شرط امير کړ، چې هيڅ بکر سيستان ته راپرېنږدي. د زرنج کلا يو مهال د همدې ځای د بلواګرو په لاس کې وه، تر دې چې ابومسلم عبدالرحمن په خراسان کې راڅرګند شو. په سيستان کې دا پېښې تر (۱۳۱س) پورې روانې وې.[1] د دې سيمې نورې پېښې به په وروستيو څپرکو کې په تفصيل سره راوړو.

[1] - تاريخ سيستان تر ۱۳۲ وروسته.

## ۷- د افغانستان په ختيځ او سويل کې اسلامي سوبې

### يعنې په بلوچستان او سند کې

په لومړۍ اسلامي پېړۍ کې له خراسان او سيستانه د عربو سوبې ختيځو سيمو ته غځېدلې او د مهران (سند سيند) ناوې لوېديځې ټولې سيمې يې رانيولې وې. څرنگه چې دا سيمې د خراسان او سيستان ولايتونو ته څېرمه پرتې دي او د اسلامي سوبو پر مهال يې تاريخ له دغو ولايتونو سره گډ دی، نو پر جغرافيايي وضعې يې رڼا اچول کېږي او بيا يې نورو هغو پېښو ته لنډه نغوته کېږي، چې د اسلامي سوبو په لومړيو کې هلته پېښې شوې دي.

#### جغرافيايي وضع

په اوومه اسلامي پېړۍ کې خراسان، سيستان او رخج ته څېرمه سيمې په درېو لويو ولايتونو وېشل شوې وې، چې په هغو کې له درېيمې زېږدې پېړۍ د (شاه) په نامۀ سيمه‌ييزو پاچاهانو واکمني کوله، چې شرحه يې تېره شوه. نوميالی عرب جغرافيه‌پوه او څېړونکی ابي القاسم عبيدالله بن‌عبدالله احمد په بن‌خرداذبه مشهور- چې د ۲۰۵-۲۸۰س کلونو تر منځ يې ژوند کاوۀ او د عباسي خليفه معتمد په اداره کې د مخابرې او ډاک (پوست) مامور و- ليکي: د ساساني اردشېربابکان (۲۲٤-۲٤۱ز) د دربار له خوا ځينې پاچاهان په رسميت پېژندل شوي وو، چې په هغو کې د مکرانشاه، قيقانشاه او قفصشاه (د دې سيمې پاچاهان) په لويې لړۍ کې د کوشانشاه، سگستانشاه، هندوانشاه، کابلانشاه، داورانشاه، قشميرانشاه او نورو نومونه اخيستل کېږي.[۱]

---

[۱] -المسالک و الممالک د ابن خرداذبه ۱۷.

درې مشهور ولایتونه چې زموږ تر بحث لاندې سیمې یې رانغښتې د مکران، طوران او سند ولایتونه وو، چې کله یې د طوران ټول ولایت په سند ولایت کې دننه هم ګڼلی دی. په دې ولایتونو کې د آریایي نژاد پاتې شوني کېږدۍمېشتي شپانهٔ اوسېدل.

**مکران ولایت**

مکران چې لوېدیځ ته یې کرمان، شمال ته یې سیستان، سوېل ته یې سمندر او ختیځ ته یې هند و، یو وچ ولایت دی چې پراخه دښته او بیدیا لري. اوږدوالی یې له تیز تر قصداره پورې کابو۱۲پړاوه دی (هر پړاو ۱۲ میله) او مشهور ښارونه یې کیز، قیربون، قصرقند، دزک، فهلفهره او راسک دي. بوره یې مشهوره ده.[۱]

د پارس خلیج پر غاړه د تیز بندر د مکران ځانګړی سوداګریز مرکز و او پلازمېنه یې فنزبور یا بنجبور (اوسنی پنج ګور) نومېده. دوو نورو ښارونو ارمیل او قنبلي یې هم شهرت درلود، چې لومړی اوس لس‌بېله او دوهم یې خیروکوټ دی.[۲]

د تیز له بندره په پنځه پړاوه واټن کیز (اوسنی کیچ) کې پروت و، چې له دې ځایه فنزبور دوه پړاوه واټن درلود. دې ښار ته د قصر قند له خوا لاره راتله او کیز او قصرقند دواړه د ارمبیل په شپږ پړاوۍ کې پراته وو. له دې ځایه تر قنبلي پورې دوه او له قنبلي د سند تر مشهور بندر دېبل پورې څلور پړاوه وو.[۳]

**طوران ولایت**

د مکران شمال ختیځ او د هند پولو ته څېرمه د طوران سیمه پرته وه. قصدار= قزدار (اوسنی خضدر د شمالي عرض‌البلد په ۳۷ درجو او ٤۸ دقیقو او د ختیځ طول‌البلد په ٦٦ درجو او ۳۷ دقیقو کې) یې پلازمېنه وه. چې د بدهه په نامهٔ سیمه هم په کې شامله ده. قندابیل (= اوسنۍ ګنداوه د شمالي عرض‌البلد په ۲۸ درجو، ۷ دقیقو او د ختیځ طول‌البلد په ٦۷ درجو او ۷ دقیقو کې) یې مرکز و.

---

۱ - معجم‌البلدان۵/ ۱۸۰.

۲ - جغرافیه خلافت شرقی۴۹۷.

۳ - اصطخري ۱۷۸، ابن حوقل ۲۳۳ او مقدسي ۴۸۵.

کیزکانان= قیقان د طوران له مشهورو ښارونو څخه دی، چې اوس د بلوچستان د کلات په نامهٔ یاد او مشهور دی.[1]

بشاري مقدسي د (۳۷۵س) کال شاوخوا د طوران ښارونه قندابیل، بج ثرد (بجي رته) جث رد (جسرته) بکانان، خوزی، رستاکهن، رستاق روذ، موردان، ماسکان، کهرکور، محالي، کیزکانان، سوره او قصدار ښیي،[2] چې له اوسنیو ځایونو سره یې تطبیق گران دی. ابن‌حوقل د مکران د تیز له بندره د قصدار واټن ۱۲پړاوه (۱٤٤میله) ښکلی دی.[3]

**سند ولایت**

په شپږمه زېږدې پېړۍ کې د سند واکمن راجه سیهرس (شري هرشه) بن‌ساهسي رای نومېدهٔ. پلازمېنه یې ارور ښار (الور= د سند سیند پر غاړه اوسنی روهري) و او د هېواد پولې یې په شمال ختیځ کې کشمیر، په سوېل لوېدیځ کې مکران، په سوېل کې سیند او دېبل او شمال ته په کیکان کې د کردانو غرهٔ ته رسېدې او ټول سند په پنځهو برخو وېشل کېدهٔ:

لومړی- برهمن‌آباد: چې نیرون کوټ، دېبل، لوهانه، لاکهه او سمه په کې شامل وو.

دویمه- سیوستان: چې بودهیه، جنکان او د مکران تر بریده د روجهان غرو لمنې په کې شاملې وې.

دریمه- اسکلنده: چې بانیه، تلواره او چچ‌پور د بودهپور تر شاوخوا پورې په کې شامل وو.

څلورمه- ملتان: چې سکه، برهمپور، کرور، اشهار، کنبه د کشمیر تر بریده په کې شامل وو.

پنځمه- پلازمېنه ارور: چې کردان، کیکانان او برهاس په خپله د راجه تر فرمان لاندې وو.[4] ابن‌حوقل په سند و شاوخوا کې یې دا ښارونه ښیي: منصوره، دېبل، نیرون، قالري، انري، بلري، مسواهي، نهرج، بانیه، منجابري، سدوسان، الرور، جندرور.[5]

---

[1] - جغرافیه خلافت ۵۰۰.

[2] - احسن‌التقاسیم تر ٤۷٦ وروسته.

[3] - صورة‌الأرض ۲/ ۳۲۷.

[4] - چچنامه ۱۵، د ډهلي چاپ، ۱۹۳۹ز.

[5] - صورة‌الأرض ۲/ ۳۱۹.

**سیمه‌ییز واکمن او د نیمروزیانو یرغل**

لکه چې ومو ویل د شپږمې زېږدې پېړۍ په وروستیو کې د سیمه‌ییزو واکمنو اولادونو پر سند او ورځېرمه سیمو واکمني کوله او د سیهرس په نامۀ یو راجه پر گدۍ ناست و. څرنگه چې یې پر هېواد د نیمروز (سیستان) د پاچاه له خوا یرغل وشو او نیمروزیان کرمان ته راورسېدل. رای سیهرس (شري هرشه) له خپلې پلازمېنې ارور (اوسنی روهري) مقابلې ته ورووت؛ خو لښکر یې مات شو او سیهرس د جنگ په ډگر کې ووژل شو. بیا یې زوی رای ساهسي د پلار پر گدۍ کښېناست او پر ټول سند یې د خپل پوه وزیر رام بدهمین په مرسته تر هغۀ مهاله واکمني چلوله، چې پنډت چچ بن‌سیلایچ اول وزیر او بیا پاچاه شو. د ټول سند تر نیولو وروسته یې ملتان د کشمیر تر پولو ونیو. په (۲س) کال کې یې مکران سیمه هم په سند پورې وتړله او تر ٤٠ کاله پاچاهۍ وروسته په ٦٦٠ ز کال د سند په پلازمېنه ارور کې ومړ. بیا پرې دې لاندې راجه‌گانو واکمني کړې ده:

راجه‌چندر: د چچ ورور چې د بودا پر دین گروهمن و، تر اووه کلنې پاچاهۍ وروسته پر ٤٨س= ٦٦٨ زکال ومړ.

راجه‌داهر: د چچ کوچنی زوی تر چندهر وروسته په ارور کې پاچاه شو؛ خو په برهمن‌آباد کې د چندر زوی راج یو کال واکمني وچلوله او چې مړ شو پر ځای یې د داهر مشر ورور (دهرسیه بن‌چچ)، پر گدۍ کښېناست او په ۵۲ س کې ومړ؛ نو ټول سند داهر ته پاتې شو.[1]

**له دې سیمې سره د عربو لومړۍ مخامخېدا**

په ۱۵س کې د دوهم خلیفه حضرت‌عمر له خوا عثمان بن‌ابي العاصي ثقفي د عمان او بحرین حاکم وټاکل شو.[2]

---

[1] - له چچ نامې لنډون تر۱۴ مخ وروسته، تاریخ معصومي، د سید معصوم کندهاري او تاریخ سند د سید ابوظفر ندوی، چې د دواړو مأخذ هماغه لومړی کتاب دی.

[2] - فتوح ۵۳۰.

هغه خپل ورور حکم له بحرین څخه له جنګي بېړيو سره د هند غاړو ته راولېږه او د ګاه‌تهانه (د ګجرات او بمبيي د کوکن تر منځ) بندر يې ونيوهٔ. بيا يې بل ورور مغيره بن‌ابي العاصي د سمندر له لارې پر ساحلي ښار دېبل او حکم پر بروص (د ګجرات بهروچ) بندر بريد وکړ.[1]

دا وخت د سند د رای چچ بن‌سيلايچ د پاچاهۍ ۳۵ کاله تېر وو، کله چې مغيره د دېبل ساحلي ښار کلابند کړ. پاچاه له دېبل څخه مقابلې ته راووت چې سامه بن‌ديوايج نومېدهٔ. مغيره په دې جنګ کې ومړ. دا خبر چې خليفه حضرت‌عمر ته ورسېد، ربيع بن‌زياد حارثي يې- چې د مکران او کرمان حاکم و- د هند له غزا څخه په کلکه منع کړ.[2]

د حضرت‌عثمان په خلافت کې تر (۲٤س) کال وروسته سند ته څېرمه په افغاني ولايتونو کې د عرب واکمنو جنګونه روان وو. عبدالله بن‌عامر بن‌کريز په سيستان، عبيدالله بن‌معمر په مکران او مجاشع بن‌مسعود په کرمان او قفص (کوچ و کېچ) غرونو کې په جنګ جګړو اخته وو.[3] د حضرت‌علي په پېر کې ثاغر بن‌دعر (۳۸س کال) او حارث بن‌مرهٔ عبدي د بهرج او غونډيو له لارې پر کيکانانو بريد وکړ او په ٤۲س کال کې له شلو زرو کيکانيانو سره ونښتل او بيا مکران ته راستانهٔ شول.

په ٤٤س کې د حضرت‌معاويه بن‌ابي سفيان په پېر کې عبدالله بن‌سوار عبدي له څلورو زرو سپرو سره پر کيکانيانو بريد وکړ، په پايله کې ووژل شو. لښکر يې ماتې وخوړه او د ډېرو زيانونو تر ګاللو وروسته مکران ته راستون شو.[4]

عرب واکمن تر دې وروسته په دې سيمو کې په احتياط مخکې راتلل. د عبدالله بن‌سوار تر مړينې وروسته سنان بن‌سلمه هذلي تر دوو کالو پورې په مکران او سند کې حاکم و. تر هغه وروسته راشد بن‌عمرو جديدي چې شريف او همتناک ځوان

---

[1] - فتوح ۵۳۰.

[2] - چچنامه ۷۳.

[3] - الکامل ۳/ ۹۷.

[4] - چچنامه ۷۷، فتوح ۵۳۱ او الکامل ۳/ ۳۲۱.

و، دې سيمې ته راغی. له کيکانيانو څخه يې پاتې ماليې واخيستې، غنيمتونه او مريان يې ونيول. کله چې د سيستان له لارې ستنېدۀ، پنځوس زره کسانو ورته لاره ونيوه او ويې واژۀ. تر دې وروسته سنان بن‌سلمه (د ٦٠ س شاوخوا) [1]د سند په بودهيه سيمه کې ووژل شو. سنان غوره سوبمن او پرهېزګار سړی و، هر چېرته چې به رسېدۀ نېکې طريقې به يې دودولې.

په (٦١س) کې ابوالاشعث منذر بن‌جارود عبدي په بوقان او کيکان کې جنګونه وکړل او قصدار يې ونيو؛ خو د توران په شاوخوا کې له ناروغۍ ومړ. پر ځای يې زوی حکم بن‌منذر د سند والي شو. شپږ مياشتې وروسته بېرته وغوښتل شو او پر ځای يې د عبيدالله بن‌زياد له خوا بن‌هري باهلي وګومارل شو. په سختو جنګونو يې ډېرې سيمې ونيوې، برياوې يې په برخه شوې او غنيمتونه يې تر لاسه کړل چې يوۀ شاعر يې په اړه داسې وويل:

لولا طعاني بالبوقان ما رجعت منه سرايا ابن‌حرّيّ بأسلاب[2]

(که ما په بوقان کې نېزې نه وهلای؛ نو د ابن‌حري لښکر به له غنيمتونو سره نه راګرځېدای)

د (٧٩س) کال شاخوا د سند د څنډو له راجه‌ګانو څخه رمل (رنمل) له راجه‌داهر څخه سرغړونه وکړه او د راور له لارې يې پر پاچاهي پلازمېنه ارور لښکر ورمارش کړ، داهر يې مقابله ونه کړای شوه. په دې وخت کې هغه بني‌سامه عربان چې له علافيانو سره د اسلامي هېوادونو له عربو حاکمانو څخه راتښتېدلي وو او داهر ته يې پناه راوړې وه، داهر ترې د مرستې او ملاتړ غوښتنه وکړه، پنځه سوه زړورو جنګياليو عربو د محمدعلافي په مشرۍ د رنمل پر لښکر شپنی يرغل وکړ، ډېر يې ترې ووژل او ماتې يې ورکړه. د رنمل لښکر چې تښتېدۀ (٨٠ زره) بنديان او (٥٠) فيلان يې داهريانو او عربو ته پرېښودل.[3]

---

[1] - فتوح ٥٣٢ او چچنامه ٨٢.

[2] - پورتنی اثر ٥٣٣.

[3] - چچنامه تر ٧٠ وروسته او الکامل ۴/ تر ٣٠٨ وروسته.

# ۸- په سند کې د محمد بن‌قاسم[1] سوبه

## او د سیمه‌ییزې راجګۍ ړنګول

په سند کې د عرب نژادو علافیانو اغېز او د عراق، خراسان او سند له اموي حاکم حجاج سره د هغوی اختلاف د اموي دربار د اندېښنې لامل و. لکه چې تېر شول عبدالرحمن محمد بن‌اشعث له حجاج سره تر اوږدۀ بغاوت او سختو جنګونو وروسته په۸۵س کال کې د زابلستان د پاچاه (رتبیل) په لاس له منځه لاړ. د هغۀ یو ملګری او د باغي ډلې مخکښ عبدالرحمن بن‌عباس بن‌ربیعه بن‌عبدالمطلب چې د بني‌هاشمو مخور و، د حجاج له منګولو وتښتېد او سند ته یې پناه یووړه، چې د اموي دربار د مخالفانو پناه‌ځی و.[2]

څرنګه چې اموي لښکریان دوه ځله له سنده پوپنا او ناکام راستانۀ شوي وو، حجاج د خراسان او سیستان د دې ځنډو پاکول مهم وګڼل؛ نو خپل ځوان زوم او د ترۀ زوی د پارس حاکم ۱۷ کلن محمد بن‌قاسم بن‌محمد بن‌حکم بن‌ابي عقیل ثقفي یې له درانۀ لښکر سره له شېرازه مکران او سند ته راولېږۀ.

د محمد بن‌قاسم لښکر د ابوالاسود جهم بن‌زحر جعفي په مشرۍ له شپږو زرو

---

۱ - محمد ابن قاسم په ٦۲س= ٦۸۱م کې زوکړی او په ۹۸س= ۷۱۷ز کې مړ دی. د امویانو له لویو لښکرمشرانو څخه دی، چې پلار یې د حجاج له خوا د بصرې والي و. د ولید ابن عبدالملک په پېر کې د سند پر نیولو وګومارل شو او تر ملتانه یې ونیو. څرنګه چې تر ولید وروسته یې ورور سلېمان ابن عبدالملک د امویانو د حاکمۍ پر ګدۍ کښېناست، هغۀ د حجاج ټول حاکمان لیرې کړل او له هغې جملې محمد ابن قاسم یې هم له سند په واسطه راوست، بندي یې کړ او په زندان کې ووژل شو. (الأعلام ۷/ ۲۲۵).

۲ - الکامل ۴/ ۳۹۰.

شامي سپرو او نورو ډېرو لښکريانو، شپږ زرو چټکو اوښانو او درې زرو بختي[1] اوښانو سره په ۹۲س کال کې د سند په لور راوخوځېد. لښکر دومره سنبال و چې تار وستن يې هم درلودل. دا چې په سند کې سرکه نه پيدا کېده؛ نو حلاجي شوې پنبه يې په سرکه ککړه او سيوري ته وچه کړه، چې اموي لښکريان په سند کې هغه د اړتيا پر مهال په اوبو کې وخوټوي او سرکه ترې جوړه کړي.[2]

محمد بن‌قاسم د وچې پر دې لښکر سربېره زياتې بېړۍ هم سنبالې کړې، له زياتو سامانونو، لوازمو، وسلو او جنګياليو سره يې د سمندر له لارې دېبل بندر ته وخوځولې. په دې بېړيو کې د (عروس) په نامهٔ منجنيق هم و، چې پنځه سوه کسانو به لېږداوهٔ.[3]

د محمد بن‌قاسم د وچې پلي لښکر د مکران له لارې پر فنزبور (پنج ګور) او ارمابيل (ارمن‌بېله) بريد وکړ. د حجاج په امر ورسره د مکران د والي محمد بن‌هارون نوي رارسېدلي عسکر يو ځای شول؛ خو محمد بن‌هارون په قنبل (قنبلې) کې ومړ. جهم بن‌زحر له مخکښ لښکر سره د دېبل پر مشهور بندر بريد وکړ، سمندري عسکر د سمندر له لارې په دې ځنډه کې پلي شول. د ۹۲ س کال د محرم مياشت او د جُمعې ورځ وه، چې محمد بن‌قاسم لومړی ځل په دې خاوره کې خطبه وويله او د جُمعې لمونځ يې ادا کړ. تر ښار چاپېره يې خندق وکيندهٔ، نېزې يې ودرولې، هر لښکري ټولی تر خپل توغ لاندې راکوز شو. هغه مناره سور توغ پرې چې، د بودا پېرۍ په کې پرته او د خلکو عبادتځی و، رپېدهٔ. د (عروس) منجنيق په وسيله يې هغه مشهوره بتخونه په تيرو وويشتله او په دې ډول دېبل (ديول) ښار ونيول شو. داهر واکمن وتښتېد او په نيول شوي ښار کې تر درې ورځو پورې وژنې روانې وې. د بتخونې ډېر ساتندويان ووژل شول. د دې عبادتځي پر ځای جومات جوړ او څلور زره عربان په دې ښار کې مېشت شول.[4]

---

[1] - جَمّازه د چټک اوښ په معنی او بُختي اوښ يو ډول سور رنګه پياوړی او لوی خراساني اوښ دی (غياث).

[2] - فتوح ۵۳۴.

[3] - پورتنی اثر ۵۳۵.

[4] - پورتنی اثر ۵۳۵ او تاريخ يعقوبي ۲/ ۲۸۸.

په دې جنګ کې صاحب بن‌عبدالرحمن د لښکر په مخ، جهم بن‌زحر په پای کې، عطیه بن‌سعد عوفي ښي او موسی بن‌سنان هذلي يې کيڼ اړخ ته و. سمندري لښکرې د خریم بن‌عمرو بن‌مغیره په سمندرمشرۍ د دېبل پر څنډو پلې شوې.[1]

د زابلستان، سیستان او خراسان د سرحدي سیمو د وروستيو بریدونو د دېبل د کلابندۍ او سوبې داستان په لړ تفصیل سره د چچنامې (۶۱۳س) د ژباړونکي علي بن‌حامد کوفي له خولې واورئ:

«محمد بن‌قاسم د دېبل پر څمکه کوز شو، د خندق کیندلو امر یې وکړ او توغ یې ورپاوۀ، نغاره یې وډنګوله، هر ځای چې برابر و، لښکر هم هلته مېشت شو. منجنیقونه یې راوایستل او ویې لګول. د امیرالمؤمنین یو ځانګړی منجنیق و، چې عروسک نومېدۀ، تیره به یې چې توغوله نو لټ به یې پنځه سوه کسانو راکښۀ.

د دېبل په منځ کې یوه لوړه، دنګه او ګومبزي بتخونه وه، شین وربښمین توغ پرې رپېدۀ. د بتخونې لوړوالی ۴۰ او د ګومبزې لویوالی هم ۴۰ ګزه و. د توغ اوږدوالی دومره و، چې له خلاصېدو سره څلور کنجه کېدۀ، هر کنج یوۀ لور ته کږېدۀ او پر برجونو د ځوړند غوندې رپېدۀ. کله چې یې د اسلام لښکر ولیدۀ- توغ یې پر ورۀ ورپاوۀ او کوټوالا جنګ ته رامخکې شول. محمد قاسم لښکر سنبال او برید یې وکړ، نو کوټوالاوو ځانونه له دېواله پناه کړل. ناڅاپه یو برهمن له کلا راووت، پناه یې وغوښته او ویې ویل:

تل دې وي عادل امیر، زموږ د ستورپوهنې په کتابونو کې یې حکم کړی دی، چې سند ولایت به د اسلامي لښکر په لاس ورشي او کفار به مات شي، خو د بتخونې دا توغ جادو دی، تر هغه چې دا توغ رپېږي، د دې کوټ نیول ناشوني دي، باید هڅه وشي چې د دې بتخونې سر ونړېږي، توغ ځیرې ویرې او برې شونی شي.

نو محمد قاسم، جعوبه سلمی منجنیقي راوغوښت او ورته ویې ویل: د بتخونې دا توغوال ور د منجنیق په تیره نړولای شې؟ که دې راوغورځاوۀ لس زره درهمه انعام

---

[1] - چچنامه، ۱۰۲.

درکوم. جعوبه وویل: د پلازمېنې دا ځانګړی منجنیق چې عروسک نومېږي، دوه ګزه یې نړولای شي، زه په درې تیرو ور او توغ راغورځوم او د بتخونې سر نړوم...

نو بله ورځ... محمد قاسم جعوبه راوغوښت، منجنیق یې ټاکلي ځای ته یووړ، لښکر یې چمتو کړ، له کوټه راچاپېر شول او ډزې یې پیل کړې، پنځه سوه رسۍ کښوونکي یې راوستل. جعوبه لومړۍ تیره وروتوغوله، مسلمانانو د تکبیر چغې ووهلې. په لومړي ګوزار توغ ځیرې او د ورځ له سره جلا شو. بله تیره یې چمتو کړه، له قوماندې سر سم یې د بتخونې ور وویشت او مات شو.

ور - چې ګومبزه وه- ړنګ شو او همېشنۍ کوډې ګډې وډې شوې، دېبلیان اوتر شول، د الله ﷻ په حکم کوټ له ځمکې سره هوار شو.»[1]

په دې ډول محمد بن‌قاسم د دېبل بتخونه ړنګه کړه، ښار یې ونیو او له دېبلیانو سره ټول عرب بندیان یې خوشې کړل. وداع بن حمید نجدي یې هلته حاکم کړ او د دېبل د رای دوې لوښې حجاج ته ولېږل شوې.

محمد بن‌قاسم بیا د ارمابیل له لارې د نیرون کوټ (د سند اوسنی حیدرآباد) نیولو هوډ وکړ. په دې وخت کې ورته د رای داهر ګواښلیک راورسېد چې په سند کې د ابوالعاصي ثقفي د بدې پایلې او بدیل یادونه یې په کې کړې وه. هغه یې د رای جیسیه بن‌داهر د سلو مستو فیلانو له ځواکه او له دې ویرولی و، چې ټول هند، سند، مکران او توران د هغهٔ تر فرمان لاندې دي او پر سپین پیل سپور دی.

خو محمدقاسم د دې لیک ځواب چې په (۹۳س) کې کښل شوی، په ډېرو سختو ټکیو او ډاډه زړهٔ سره ورکړ. خپل لښکریان یې نیرون ته وخوځول. منجنیقونه او جنګي سامانونه یې د مهران (سند) سیند د ساکره بېلې له لارې په بېړیو کې ولېږدول.[2]

هغه د دېبل د نیولو په اړه حجاج ته لیک کښلی و، چې ځواب یې حجاج له خوا راورسېدهٔ. دا لیک د نیول شویو ملتونو پر وړاندې د اسلامي سوبمنو روحیه په ډاګه کوي او د سوبو په تاریخ کې تر ټولو مهم لاسوند دی؛ نو دلته یې کټ مټ راوړو:

---

[1] - چچنامه ۱۰۶.

[2] - پورتنی اثر تر ۱۰۵ وروسته.

«بسم‌الله‌الرحمن‌الرحيم له حجاج بن‌يوسف څخه محمد بن‌قاسم ته:
بايد پوه شې، زموږ د زړۀ ډاډېينه او د همت غوښتنه په دې پورې تړلې ده، چې تاسو به په هر حال کې برلاسي ياست، سرلوړی او بريالی اوسې! دښمنان به د الله ﷻ له لورېينې ډېر ژر ليرې، په همېشني عذاب او قهر ککړ وي. پام دې وي، بدګوماني ونه کړې، د هغو ټول فيلان، اسونه، شتمني او مالونه ستا روزي ده، بايد له ملګرو سره ښه چلن او د هر يوۀ درناوي وکړې، ټولو ته ډاډ ورکړې چې دغه ټول ولايت به ستا سيمه شي. څه چې د هرکوټ له نيولو په لاس درځي، هغه چې لښکر ورته اړتيا لري په لګښتونو او بخښلو[1] يې ولګوې. چې څومره دې له وسه وي د آبادۍ او هوساينې هڅه وکړې،[2] سختي او بخل ونه کړې. د ليرې سيمو د ښېرازۍ او آبادۍ هڅه وکړې چې په لښکر کې غله ارزانه وي. هغه څه چې په ديبل کې درپاتې دي که پر هغه يې ولګوې، ډېره غوره ده، نه د کوټونو په زېرمو کې. چې کله سيمه ونيول او کوټونه کلک شي، د ولسونو د هوساينې او مرستې هڅه بايد وشي. کله چې بزګران، کسبګر او سوداګر هوسا او ارام وي ولايت ښېراز او شتمنېږي، ان شاء الله تعالی کتبه فی العشرين من رجب سنة ثلاث وتسعين[3] د ۲۰ مه ۹۳ س»

محمدقاسم تر نيرون کوټ پورې- چې له ديبله ۲۵ فرسنګه (۷۵ميله) واټن لري- په اووه ورځو کې ورسېد، د ښار مشر حاکم سلامي او ښار ونيول شو. محمدقاسم هلته محمد ذهلي خپل امنيه قوماندان وټاکۀ او د بودايي بتخونې پر ځای يې جومات

[1] - اهبت: بخښل.
[2] - يعنې ابادي او اساني.
[3] - چچنامه ۱۱۵ مخ.

ودان کړ. بیا یې د سیوستان (سهوان= سدوسان) نیولو ته مخه کړه، چې د هغه په کوټ کې د داهر د ترۀ زوی بجهر ابن‌چندر مقاومت کاوۀ؛ خو تر یوې اوونۍ کلابندۍ وروسته یې ښار پرېښود او د بودهیه لور ته وتښتېد. دا مهال د دې سیمې حاکم کاکه بن‌کوتک نومېد، چې سیسم (اوسنۍ سېوۍ) یې پلازمېنه وه او پر بودایي دین گروهمن و. هغه د سولې لپاره محمدقاسم ته ورغی او بېرته د همدې سیمې حاکم وگومارل شو. په سیسم کې یې عبدالملک بن‌قیس دقیقي ورسره قوماندان وټاکۀ. وداع بن‌حمید نجدي او عبدالقیس جارودي یې د هغې سیمې د ادارې لپاره وگومارل.[۱]

د عربو لښکر د ۹۳ س کال په محرم کې د اشبهارکوټ پر نیولو بریالی شو. د سند شاوخوا له راجه‌گانو راجه راسل او راجه موکه بسایه هم اېل شول. راجه‌داهر د مسلمانانو پر ضد یواځې پاتې شو او د مهران سیند پر غاړه یې د مقابلې لپاره تیاری وکړ. د (۹۳س) کال د روژې له لومړۍ ورځې څخه جنگ ونښت، د مخکښ او مرکزي لښکر مشري د داهر د زوی جیسیه پر غاړه وه. د هغۀ د لښکر په مرکز کې لس زره سپارۀ جنگېدل. دې لښکر سل جنگي فیلان، لس زره زغرور وسله‌وال او دېرش زره پلي عسکر درلودل، چې د ټول پوځ شمېر یې (۶۰ زره) و.

خو مسلمانانو د ۹۰۰ نفت اندازو په گډون ټول پنځلس نیم زره لښکر درلود. د دواړو لوریو جنگ د روژې تر لسمې پورې اوږد شو، په همدې ورځ راجه‌داهر راورکوټ ته څېرمه په جنگ کې ووژل شو (پنجشنبه د روژې لسمه ۹۳س). سر یې ورته په عراق کې حجاج ته ولېږۀ. د داهر ښځه لاډي ونیول شوه او محمد قاسم په نکاح کړه. عمرو بن‌خالد کلبي چې داهر یې وژلی و، په یوه ویاړنه کې وویل:

---

۱ - چچنامه تر ۱۱۸وروسته.

الخيل تشهد يوم داهر والقنا و محمد بن‌القاسم بن‌محمد
أني فرجت الجمع غير معرد حتى علوت عظيمهم بمهند
فتركته تحت العجاج مجندلا[1] متعفر الخدين غير مؤسد[2]

«ډېر اسونه او نېزې او محمد بن‌قاسم بن‌محمد شاهدان دي، چې ما د داهر په ورځ څه وکړل؟ ما د دښمن ليکې څيرلې، تر دې چې د هغو مشر مې د هندي تورې تر گوزار لاندې راوست او په داسې حال کې مې پرېښود چې اننگي يې په وينو ککړ او لت پت وو او تر سر لاندې يې بالښت نه و.»

د عربو دا جنگ او سوبه خلکو ته دومره مهمه وه، چې د داهر او د هغهٔ د وژونکي انځورونه يې جوړ کړي وو. بلاذري وايي منصور بن‌حاتم هغه په بروص (بهروچ) کې ليدلي وو[3] او وايي:

«کله چې يې د داهر سر د حجاج مخې ته کښېښود او د هغهٔ چتر او توغ يې رانسکور کړل او بنديان يې په پايزارځي کې کتار کړل، د بني ثقيفو يو کس ودرېد، د راور د نيولو او داهر د وژلو په خوشحالۍ کې يې دا شعر ووايه:

فتحت بلاد السند بعد صعوبة ومهابة لمحمد بن‌القاسم
ساس الامور سياسة ثقفية بشهامة منه و رای جازم»[4]

«د سند سيمه تر ډېرو کړاوونو وروسته د محمد بن‌قاسم په مېړانه ونيول شوه، هغهٔ چارې په هوښيار سياست، مېړانه او ژور فکر ترسره کړې».

[1] - په اصل کې (مجدلا) دی.

[2] - فتوح ۵۳۷، چچنامه ۱۸۵، د ندوي تاريخ سند ۷۷ او تاريخ يعقوبي ۲/ ۲۸۹.

[3] - په اصل کې (مجدلا) دی.

) دی.

د ندوي تاريخ سند ۷۷ او تاريخ يعقوبي ۲/ ۲۸۹.

# ۹- په ختیځه څنډه کې نورې سوبې

## خراسان تر ملتان پورې

محمد بن‌قاسم د راجه‌داهر د کار تر ختمولو وروسته د نورو سیمو په پاکولو بوخت شو. څرنګه چې د داهر زوی جیسیه لا په راور کوټ کې مقاومت او خور یې (بائي) له ۱۵ زرو جنګیالیو سره د هغهٔ ملاتړ کاوهٔ؛ نو د محمد لښکریانو په دې کلا برید وکړ، جیسیه برهمن آباد ته وتښتېد؛ خو د داهر خور بائی د راور د نجونو له یوهٔ ټولي سره ځان په اور ستي کړ، شپږ زره لښکریان مړهٔ او دېرش زره ونیول شول.[5]

جیسیه په برهمن آباد[6] کې د جنګ تابیا وکړه، له خپل ورور ګوپي (قوفي) بن‌داهر څخه چې د ارور په پلازمېنه (اوسنی روهړي) کې و، له خپل وراره چچ بن‌دهرسیه چې په باتیه کوټ کې حاکم و، د هغهٔ د ترهٔ له زوی د بدهیه او کیکانان له حاکم دهول بن‌چندر څخه یې مرسته وغوښته.

خو محمد بن‌قاسم د ۹۳ س. کال په شوال کې پر دوو کوټونو بهرور او دهلیله - چې د داهر د ترهٔ زوی دیوراج په کې له ۱۶۰۰۰ زره جنګیالیو سره مقاومت کاوهٔ- یرغل وکړ دواړه کوټونه یې د ۹۳س کال په ذوالحجه کې ونیول او نوبه بن‌هارون ته یې وسپارل. په خپله یې د ۹٤س کال په جمادي الاولی کې پر برهمن آباد برید وکړ، چې جیسیه په کې له خپل ٤۰ زره لښکر سره ناست و. شپږ میاشتې یې دا ښار کلابند کړ، په پای کې جیسیه کشمیر ته وتښتېد او برهمن آباد د ۹٤س کال د ذوالحجې په وروستیو کې د یکشنبې په ورځ په داسې حال کې ونیول شو چې کابو ۲۶ زره سندیانو یې شاوخوا سرونه وښندل. محمد

---

یخ سند ۷۷ او تاریخ یعقوبي ۲/ ۲۸۹.

یخ یعقوبي ۲/ ۲۸۹.

وابشاه ضلع کې.

بن‌قاسم پر شتمن پوړ سرانه۴۸ درهمه (تقریباً ۱۰۰ افغانۍ) پر منځني پوړ ۲۴ درهمه (تقریباً ۵۰ افغانۍ او پر ببوزله ۱۲ درهمه (تقریباً ۲۵ افغانۍ) جزیه کښېښوده. په مقابل کې یې هغو کسانو ته د دیني مراسمو د تر سره کولو آزادي ورکړه، چې اسلام یې ونه مانئ. د جنګ له زیانېدلیو ښاریانو سره یې یو لک و شل زره درهمه مالي مرسته وکړه. وداع بن‌حمید نجدي یې په برهمن‌آباد کې کوتوال وګومارئ او هذیل بن‌سلیمان ازدي یې د کیرج د سرحدي سیمو د ساتنې لپاره وټاکئ. حنظله بن‌ابي بنانه کلبي په دهلیله کې حاکم شو. قیس بن‌عبدالملک مدیني او خالد انصاري یې له زرکسیز پلي لښکر سره سیوستان ته ولېږۀ. یو تولی چاره‌سنجي او کارپوهان یې د دېبل او نیرون د چارو سنبالۍ ته ولېږل. د ۹۵س کال د محرم په درېیمه له برهمن‌آباد څخه وخوځېد، ارور، ساوندري، بسمد، لوهانه، سمه‌سهته، بابیه، سکلنده او سکه یې په ولکه کې راوستل. د ملتان ښار یې - چې د داهر ورارۀ کنداراي بن‌چندر په کې حاکم و- کلابند کړ. شپږ زره ملتانیان ومړل او په ۹۵س کال کې دا ښار هم د محمد د لښکریانو لاس ته ورغی. د ملتان د سرو زرو خزانې - چې دا ښار یې د هغو له امله فرج بیت‌الذهب (طلایي سرحد) بالۀ- د سوبمنو مسلمانانو لاس ته ورغلې او د سرو زرو مشهور ۲۳۰ منی بت هم د غنیمت له مالونو سره په بېړۍ کې د دېبل بندر له لارې په عراق کې حجاج ته ورولېږل شو.[۱] بلاذري وایي شپېته ملیونه درهمه د مسلمانانو لاس ته ورغلل[۲] وایي چې په فرج بیت‌الذهب کې یې په یوه بتخونه کې څلوېښت بهاره سرۀ زر وموندل چې هر بهار ۳۲۳ منه دی. دا ټوله شتمني (۱۳۳۲۰) منه سرۀ زر وو، یعنې له (۲۳۹۷۶۰۰) مثقالو او (۳۵۹٦٤۰۰) درهمو سره برابر و[۳].

محمد د ملتان تر نیولو وروسته امیر داؤد بن‌نصر عماني پر ملتان، عکرمه بن‌ریحان

---

[۱] - چچنامه تر ۱۹۳ وروسته، فتوح تر ۵۳۸ وروسته.

[۲] - فتوح ۵۳۸.

[۳] - د ابن خرداذبه المسالک و الممالک ۵٦.

شامي د ملتان پر سيمو، احمد بن‌خزيمه مدني يې د اشبهار او کرور پر کوټ او خريم بن‌عبدالملک تميمي يې د جهيلم پر غاړه د برهمپور پر کوټ وټاکۀ. په دې وخت کې د محمد بن‌قاسم د لښکريانو شمېر پنځوس زره سپرو ته رسېدۀ.[1]

سند د کشمير له پولو تر سمندر پورې مخ پر سوېل غځېدلی و، محمد د ټول سند تر نيولو وروسته د کشمير پولو ته ورسېد. هلته يې سرحدي نخښې ودرولې او ابوحکيم شيباني يې له لس زرو سپرو سره د قنوج هرچندر رای بن‌جهتل ته ورولېږۀ، چې د سند هېواد او بنګال تر منځ يې د هند په مرکز کې واکمني درلوده. ابوحکيم په اودهاپور کې تم شو او زيد بن‌عمر کلابي يې د اموي خليفه له ليک سره قنوج ته استازی ورولېږۀ، چې راجه اسلام ته راوبلي او که نه نو اسلام ته سرټيټ کړي، خراج او جزيه ورکړي؛ خو راجه د دې پيغام له منلو نټه وکړه.[2]

د ۹۵ س. کال په شوال کې د عراق، خراسان او سند اموي حاکم حجاج بن‌يوسف ومړ، محمد بن‌قاسم ته چې په ملتان کې دا خبر راورسېد له هغه ځايه بېرته وګرځېد او په لاره کې يې د سيند او ګجرات پر پوله پراته بيلمان (بهليمان) ونيول. کله چې کېرج (جيپور) ته ورسېد، د هغه ځای حاکم راجه دوهر جنګ ته راووت؛ خو د جنګ په ډګر کې ووژل شو او يوۀ شاعر وويل:

نحن قتلنا داهـراً و دوهـراً والخيل تـردی مــنسراً فمنــسراً[3]

«موږ داهر او دوهر په داسې حال کې ووژل، چې د سپرو ټولي هر لور ته بريدونه کول.»

## تر محمد بن‌قاسم وروسته

په دې ډول سند ولايت چې د افغانستان په ختيځ ګاونډ کې تر مهران (سند) سيند پورې غاړې پروت و، محمد بن‌قاسم د ۹۵س کال تر وروستيو پورې ونيو. کله چې د ۹۶ س کال په جماديالاخر کې وليد بن‌عبدالملک په دمشق کې ومړ، ورور يې سلېمان پر اموي پلاز کښېناست. هغۀ له حجاج او د هغۀ له کورنۍ سره سخت وران و؛ نو يزيد بن‌مهلب يې د عراق والي او صالح بن‌عبدالرحمن خارجي يې د

[1] - چچنامه ۲۴۱.

[2] - چچنامه تر ۲۴۱ وروسته او د ندوي تاريخ سند تر ۱۱۷ وروسته.

[3] - فتوح ۵۳۹.

خراج مسوول کړ. دغه دواړه د حجاج او د هغهٔ د کورنۍ کلک دښمنان وو. هغهٔ محمد بن‌قاسم د سند له واکه گوښه او یزید بن‌ابي‌کبشه سکسکي یې د سند والي کړ. هغهٔ محمد زنځیر زولانهٔ عراق ته ولېږهٔ، چې هلته ووژل شو. محمد پر دغه مهال ویل:

اضاعوني وای فتی اضاعو   لیـوم کریهـة و سـداد ثغـر[1]

«هغوی زه له لاسه ورکړم او داسې ځوان یې له لاسه ورکړ، چې د بدو ورځو او سرحد ساتنې لپاره په کار راتهٔ.»

یزید په سند کې اتلس ورځې وروسته ومړ او د سلېمان بن‌عبدالملک له خوا حبیب بن‌مهلب والي شو؛ خو جیسیه بن‌داهر له هغې تښې گټه واخیسته چې د محمد د بند او مړینې له امله راپیدا شوه، هغه راستون شو او برهمن‌آباد یې ونیو. سندیان باغیان شول؛ خو حبیب ورسره د مهران پرغاړه مخامخ شو. د ارور وگړي اېل شول او ځینې یې په جنگ او زور اېل کړل.

کله چې د ۹۹س کال په صفره کې سلېمان بن‌عبدالملک ومړ او پر ځای یې نیاومن او نېکچاری خلیفه عمر بن‌عبدالعزیز کښېناست، هغهٔ عمر بن‌مسلم باهلی (د قتیبه ورور) د سندحاکم کړ. اسلام ته د بلنې لیکونه یې د هند پاچاهانو ته ولېږل، چې ځینو یې اسلام ومانهٔ. په دغو کې جیسیه بن‌داهر هم مسلمان شو او په اسلامي نومونو ونومل شول.[2]

## د مهلبیانو پاڅون او د جنید حکومت

د عمر بن‌عبدالعزیز د ناستې پر لومړي کال مهلب هغه پیاوړې کورنۍ چې د عراق، خراسان او سند والیان وو، د زیاتو لگښتونو او زیاتخورۍ په جرم گوښه شول. په دوی کې یزید بن‌مهلب په ۱۰۱س کې د یزید بن‌عبدالملک اموي په پېر کې یاغي شو، ټـول عراق او خراسـان یې ونیـو. سنـد ته یې هم خپـل یـو ملـگـری وداع

---

[1] - یعقوبي ۱/۳۵٦او فتوح ۵۳۹.

[2] - فتوح ۵۴۰.

بن‌حمید ازدي راولېږهٔ؛ خو د اموي دربار له خوا دا باغیان هلال بن‌احوز تمیمي پسې واخیستل او تر ۱۰۲ س پورې یې قندابیل او د سند شاوخوا له هغو څخه پاکه کړه. په ۱۰۷ س کې جنید بن‌عبدالرحمن مري د سند حاکم وټاکل شو. هغه دېبل ته راغی او د مهران پر غاړه تر برهمن‌آباد پورې ورسېد. دا مهال جیسیه بن‌داهر د دې ښار واکمن و، جنید ته یې پیغام ورولېږهٔ چې زه مسلمان شوی یم او د پرهېزګار خلیفه عمر بن‌عبدالعزیز له خوا د دې سیمې حاکم یم؛ نو ځکه به دې دلته لاسوهنې ته پرېنږدم!

جنید د لښکر او جنګي بېړیو تر سنبالنې وروسته پر جیسیه برید وکړ او د مهران د ختیځې څنډې جنګ کې، په خپله جیسیه ونیول او د جنید په امر ووژل شو. چچ (صصه) بن‌داهر د هغهٔ ورور چې د جیسیه د پوښتنې او د جنید له چلن او کړنو څخه د شکایت لپاره د عراق له لارې اموي دربار ته روان و، هم ونیول شو او جنید وواژهٔ. بیا د سند د ختیځو څنډو: کیرج (چې پاچاه یې راه= رای نومېدهٔ) مرمد، مندل، دهنج، بروص، ازین، سرست، بیلمان او د سند د سوېلي څنډو د ټاپووزمو پر نیولو بریالی شو.[1] د جنید دې بریاوو ټول هندیان دومره هک‌پک کړي وو، چې د پول کیشي په پېر کې له دې پېښو لس یا دولس کاله وروسته یې په نوساري کې پر ۱۲۱ س= ۷۳۸ ز کال یو ډبرلیک وکښه او په هغهٔ کې وایي:

«عربي لښکرو د سند، سوراسته، چادرا، ماروار او بهلیمان واکمنۍ هکې پکې کړي دي.»[2]

جنید په ۱۱۱ س کال کې د سند له واکه ګوښه او پر ځای یې تمیم بن‌زید عتبي راغی، چې لټ او بدخرڅه سړی و. په دې وخت کې مسلمانانو په سند او د هند په غاړو څنډو کې خپل ځینې مرکزونه له لاسه ورکړل. تمیم په دېبل کې ماءالجوامیس (د مېښو ډنډ) ته نږدې ومړ. پر ځای یې حکیم بن‌عوانه کلبي د سند حاکم شو. هغه عمرو بن‌محمد بن‌قاسم چې د سند د پخواني سوبمن زوی و، سند ته خپلې

---

[1] - فتوح ۵۴۱، د ندوی تاریخ سند تر ۱۲۶ وروسته او تاریخ یعقوبي ۲/ ۳۱۷.

[2] - د ندوي تاریخ سند ۱۳۲ د پراچین اتهاس د ګجراتي کتاب په حواله.

لښکرمشرۍ ته راووست. د سند و هند پر پولو یې د محفوظې په نامهٔ ښار جوړ کړ، چې د مسلمانانو پناځی وي. عمرو بن‌محمد بن‌قاسم د پلار په څېر په سند کې په مهمو کارونو بریالی شو او بیا یې امنیت راوست. بحر ته د سند سیند تویېدنګځي ته نږدې یې د هغه سیند په یوه ټاپووزمه کې د منصورې ښار بنسټ کښېښود، چې بیا په سند کې د عربي حاکمانو مرکز و.[1]

څرنګه چې په ۱۲۱س کال کې عوانه له سندیانو سره په یوهٔ جنګ کې ووژل شو، عمرو بن‌محمد بن‌قاسم د سند خپلواک واکمن شو. هغه خپل سیال یزید بن‌عرار ونیو، بندي یې کړ[2] او تر پنځه کالو پورې د سند په واکمنۍ پاتې شو؛ خو پر ۱۲۵س کال چې اموي ولید بن‌یزید په دمشق کې د امویانو پر ګدۍ کښېناست هغهٔ هماغه یزید بن‌عرار چې یو وړ او کارپوه سړی و، له زندانه راوایست او د عمرو پر ځای یې سند ته ولېږهٔ.

دا مهال د امویانو دولت د شړېدو وروستي پړاو ته رسېدلی و. د عباسیانو بلوونکو هر لور ته کار کاوهٔ او کله چې په ۱۲۶س کال کې مروان‌الحمار بن‌محمد پر اموي پلاز کښېناست، باغي منصور بن‌جمهور کلبي، د سیاست په ډګر کې ماتې وخوړه او سند ته یې مخه کړه چې د یزید بن‌عرار- خپلوان یې و- په مرسته څه کار وکړي؛ خو یزید د سیاست د ډګر دې نوي داوطلب ته مطلوب ځواب ورنه کړ. منصور چې د سند سیند غاړې ته ورسېدهٔ، سدوسان ښار یې ونیو، جنګي بېړۍ یې چمتو کړې او له یزید سره یې جنګ ته ملا وتړله.

## د اموي دولت وروستۍ ورځې

منصور په مېړانه وجنګېدهٔ، د یزید ځواکونه یې شاته وتمبول، ابن‌عرار په منصوره کې کلابند شو. په پای کې یې ځان منصور ته وسپارهٔ؛ خو منصور هغه ژوندی په دېوالهٔ کې ښخ کړ او په خپله پر ټول سند په ۱۳۰س کې لاسبرى شو. خپل ورور

[1] - فتوح ۵۴۳ او تاریخ یعقوبي ۲/ ۳۱۷.
[2] - تاریخ یعقوبي ۲ /۳۳۳.

منظور يې د قندابيل او دېبل حاکم کړ.

په ۱۳۲س کې چې د عباسيانو د دولت پيل و، ابومسلم خراساني له خپلو باوري کسانو څخه يو کس مغلس عبدي سيستانی له يوۀ لښکر سره سند ته ولېږۀ. مغلس په دېبل کې د منصور کلبي له ورور منظور سره مخامخ شو، په جنګ کې يې منظور وواژۀ. دا خبر چې منصور ته ورسېدۀ له منصورې څخه له درانۀ لښکر سره راووت او د هغۀ ښار شاوخوا يې سره سخت جنګ وکړ، مغلس په کې تر نيولو وروسته د منصور په امر ووژل شو.[1]

هغه پېښې چې بيا په سند کې رامنځ ته شوي د عباسيانو د واک په پېر پورې اړه نه لري، چې د کتاب په راتلونکو څپرکو به يې پوره يادونه وشي.

اوس د امويانو د پېر د ټولو هغو چارواکو ليکلړ راوړو، چې په سند او د خراسان په ختيځو او سوېلي سيمو يې واکمني چلولې ده:

عبدالرحمن بن‌سمره (لومړنی فاتح) ٤٢ س کال.

عبدالله بن‌سوار عبدي د معاويه له خوا ٤٣س کال.

سنان بن‌سلمه بن‌محبق هذلي د مکران سوبمن ٤٨س کال.

راشد بن‌عمرو جديدي ازدي ٤٩ س مړ.

منذر بن‌جارود عبدي په ابوالاشعث مشهور له ٥١-٦١س کال پورې.

ابن‌حري باهلي تر ٦١س وروسته.

مجاعه بن‌سعر تميمي د ٧٠ س شاخوا.

سعيد بن‌اسلم بن‌زرعه کلابي ٧٥س.

عبيدالله بن‌ابي بکره ٧٩س.

عبدالرحمن بن‌محمد بن‌اشعث ٨١ س.

محمد بن‌قاسم بن‌محمد بن‌حکم بن‌ابي عقيل ثقفي د حجاج زوم ٨٩ س.

حبيب بن‌مهلب بن‌ابي صفره ٩٥س مرستيال يې عمرو بن‌عبدالله.

عمرو بن‌مسلم باهلي د قتيبه ورور ٩٩س.

---

[1] - تاريخ يعقوبي ۲/ ۳۴۰او فتوح ۵۴۳.

جنید بن‌عبدالرحمن مري ۱۰۷س.
تمیم بن‌زید عتبي ۱۱۱س.
حکم بن‌عوانه کلبي د ۱۱۲س شاوخوا، ۱۲۱س مړ.
عمرو بن‌محمد بن‌قاسم (د منصورې بنسټگر) ۱۲۱س تر ۱۲۵س پورې.
سلیمان بن‌هشام بن‌عبدالملک اموي ۱۳۲س مړ.
منصور بن‌جمهور کلبي د امویانو وروستی امیر په ۱۳۲س کال کې.[۱]

[۱] - معجم‌الأنساب و الأسرات الحاکمة، د زامباور د کتاب عربي ژباړه ۴۱۵ دوهم ټوک، د قاهرې چاپ ۱۹۵۱ز.



# دریم څپرکی

## د ابومسلم پاڅون

او د عباسیانو د پېر په لومړیو کې د پوشنګ د طاهریانو تر راڅرګندېدا پورې د افغانستان اوضاع

(۱۳۲-۲۰۵س)

د ابومسلم د پاڅون پیلامه او د عباسي دولت جوړېدل، له رواني وضعې د خراسانیانو ګټنه، د ابومسلم راڅرګندېدا، د هغهٔ د کار پیل، د سپیدنګ او ماخوان لښکرکوټ، د خطر اعلان، د ابومسلم په هڅه د عباسي خلافت اعلان، ابومسلم په خراسان کې، د ابومسلم پلازمېنه، ابومسلم او بهافرید، ابومسلم د حج په سفر کې، ابومسلم د منصور تر تېغ لاندې، د ابومسلم ټبر او اولادونه، خراسان تر ابومسلم وروسته او د پاڅونو دوام، د سنباذ پاڅون، د اسحاق پاڅون، د سپین‌پوښو اړ و دوړ، د راوندیانو پاڅون، د برازبنده پاڅون، نور پاڅونونه، د استاد سیس هراتي پاڅون، مقنع خراسانی، یوسف‌البرم، د طاهریانو تر راڅرګندېدا پورې د خراسان نورې پېښې، د طوسي سمونې، هارون او د کابل شاه‌بهار، د حصین سیستاني پاڅون، د فضل برمکي واکمني، له دربار سره د غوریانو اړیکي، د حمزه پاڅون، حمزه ته د هاورن لیک او ځواب یې، د ګردېز وداني، د حمزه شخصیت او مړینه، له امام علي بن‌موسی رضا سره بیعت او مړینه یې، بلخي برمکیان، د عباسیانو د پېر په لومړیو کې د افغانستان د ختیځ لوري د ولایتونو او سند اوضاع، د سند والیان- د سیستان، خراسان او هرات والیان.

## ۱- د ابومسلم د پاځون پیلامه

### او د عباسي دولت جوړېدل

لکه چې په تېرو څپرکو کې مو ولوستل د ۲۰س= ٦٤۰ز کال شاوخوا د عربي لښکرو لومړنی ټولی خراسان ته رارسېدلی او هرات یې په ولکه کې راوستی و.

په راتلونکې یوې پېړۍ کې د خراسان د خلکو دفاعي جنګونه د سیستان، سند، ملتان او تخارستان تر څنډو په سختۍ او زغم سره روان وو او د خراسان خلکو د مهران (سند) تر څنډو پورې د سیمه‌ییزو مشرانو په لاربښوونه د خپلې خپلواکۍ او ملي پېژندګلوۍ دفاع کوله.

د خراسانیانو دې ملي مقاومت لاملونه درلودل، چې تر ټولو مهم یې دا وو:

**لومړی**: د دې خاورې وګړي د نیشاپور له شاوخوا د مهران تر څنډو تل تر اسلام پخوا له خپلواکۍ او خپلو حکومتونو څخه برخمن وو. د خپلواکۍ غوښتنې او غرور په روح د خپلو دینونو، آدابو، دودونو، تمدن او فرهنګ په چاپېریال کې روزل شوي وو. که کله پر دې خلکو د نورو ملتونو ځواکونه لاسبري شوي او خپله سیاسي مشري یې رامنځ ته کړې ده، دا لاسبري وګړي هم لږ وروسته د خراسان په ځایي او سیمه‌ییزو خلکو کې حل شوي او ټولو یې د فرهنګ، ژبې، دین او تمدن په ګډون د دې خاورې رنګ و بوی خپل کړی دی. ان تر ټولو ځواکمنې او لویې ستړواکۍ یې هم ـ چې تر اسلام له مخه ساسانیانو په پارس کې جوړه کړې وه ـ پرله‌پسې په دې ټوله خاوره واکمني نه ده کړې. لکه چې د مخه مو وویل اردشېر بابکان (درېیمه زېږدې پېړۍ) د دې خاورې ټول پاچاهان او واکمنان د (پاچاه) په نامۀ په رسمیت

پېژندلي وو[1] چې په خپلواکۍ او آزادۍ یې په خپل هېواد کې واک چلاوۀ. وګړو یې هم پر خپلو تېرو ویاړونو او د نیکونو پر میراثونو ډېر ویاړل او د خپل خراساني ملیت غرور یې له لاسه نه ورکاوۀ. د ساري په ډول اسماعېل بن‌یسار د اموي پېر شاعر چې له خراساني نسایي مریانو څخه و[2] په‌خپلو عربي شعرونو کې یې تل د نیکونو په ویاړونو ویاړل، عجم یې پر عربو غوره ګڼل او ویل یې:

أصلي كريم ومجدي لايقاس بـه    ولي لسـان كحـدّ السّـيف مسـموم
أحمي به مجدَ أقوام ذوي حسب    من كلّ قـرم بتـاج[4] الملـك معمـوم
جحـاجح[3] سـادة بلـج مرازبـة    جـرد عتـاق مسـاميح مطـاعيم
هنـاک أن تسـالی تنبـی بـأن لنـا    جرثومـة قهـرت عـز الجـراثيم[5]

«زه له ساهو توکمه یم او بې ساري ښاغلی، داسې ژبه لرم چې د تېغ د لښې غوندې زهرجنه ده. په دغې لویې خپل قومونه ساتم، چې ښاغلي او داسې مشران دي چې شاهي خول لري.

هغوی سپین پوستي ویاړمن ساتي او لوراند خپلواکپال، مېلمه‌پال دي. که زما پر نژاد پوهېدل غواړې؛ نو وبه وایم: زه له هغه نژاده یم چې لویو نژادونو ته یې ماتې ورکړې ده.»

پر عجمي نژاد دا ویاړنه او د نیکونو پر ښېګڼو نازېدنه په خراسانیانو کې د دې لامل شوی و، چې له امویانو او د عربو له واکمن پوړ سره یې کلکه دښمني وه. د

[1] - د دوهم څپرکي ۷ سرلیک د ابن خردادبه په حواله وګورئ.

[2] - ابو فاید اسماعېل ابن یسار نسایي د عربي ژبې شاعر دی، چې له آره عجمي بندي و او په کلک عجمي تعصب او شعوبیت مشهور دی. د بني تمیم بن مره قریش له مریانو څخه و، د ۱۳۰س شاوخوا مړ دی. اوږد عمر یې درلود د عبدالملک ابن مروان او راوروسته امویانو دربارونو ته یې تګ راتګ درلود. شعرونه یې په الأغاني۴/ ۱۱۸ /۱۲۶ کې راوړل شوي دي (الأعلام۱ /۳۲۸) څرګنده ده چې نسایي په خراسان کې نساء ښار ته منسوب دی (اللباب ۳/ ۲۲۳) فجرالإسلام (۱۵۱ مخ) د پارسي ژباړې په څنډه کې وایي چې یسار یې له دې امله د نساء ګڼلی چې د وادۀ خواړۀ به یې پخول او پلورل؟ خو د دې نسبت لپاره یې کوم سند نه دی راوړی؛ نو د تأمل وړ دی.

[3]- په اصل کې (حجاحج) دی.

[4]- په اصل کې (یحتاج) دی.

[5] - ضحی‌الإسلام۱ /۳۱ د الأغاني د څلورم ټوک په حواله.

همدې شاعر پلار (یسار)، آل مروان ته په داسې کرکه کتل، چې د مرگ پر مهال یې د توحید د کلمې پر ځای ویل: پر مروان دې د خدای لعنت وي.[1]

ړوند تخارستاني شاعر بشار بن‌برد چې د ارتداد پر جرم په ۱٦٧ س کال کې ووژل شو ـ په دې ملي تعصب کې یې کار دې ته رسولی و، چې په ډاگه یې د اسلام د روح پر ضد شعر وایهٔ او د زردشتي دین د گروهمنو له کړو سره سم یې اورلمانځهٔ او ویل یې:

ألأرض مظلمـة والنّـار مــشرقة    والنّار معبودة مذ كانـت النّـار[2]

«ځمکه تیارهٔ او اور روښانه دی، نو تر هغهٔ چې اور وي د لمانځلو وړ دی.»

دوهم: سوبمنو عربانو له خپلو زیاترو نیولو سیمو څخه بندیان نیولي وو، چې مریان یې بلل. دا کسان په عربي کورنیو کې د (مریانو) په ډول ورننوتل او له هماغو عربي کورنیو څخه وگڼل شول چې په کې لوی شوي او روزل شوي وو. د تاریخ او تذکرو په کتابونو کې داسې کسان ډېر مومو، چې هغه یې فهري، تمیمي یا مضري بالولاء گڼلي دي.[3] دا په خپله د دې دلیل دی، چې مریان خپل ملیت ته د نسبت له نعمت څخه محروم وو. په حکومتي اداره لکه امویانو کې چې د خپل کار بنسټ یې د عربیت پر تعصب او نژادي سیاست ایښی و او له عربي قبیلوي روح سره یې ټینگ تړاو درلود ـ دې خلکو کړاوونه، ځورونې او سپکاوي گالل او له خپلو انساني حقونو څخه یې محرومي محسوسوله. د داسې اوضاع پایله له عربو سره دښمني وه او دا رټل او سپک شوي وگړي یې د خپلو نیکونو د شان او مقام ساتنې ته هڅول. هغوی زیار ایستهٔ، هغه څه بېرته تر لاسه کړي، چې د عربو پر لاسبري کې یې له لاسه ورکړي دي.

د اموي دولت چارواکو او واکمنو به تل د پراخه اسلامي دولت له بېلابېلو برخو څخه د دولتي خراج او مالیو په بدل کې اموي دربار ته په زرگونو تور او سپین مریان

---

[1] - ضحی ۱ / ۳۱.

[2] - تاریخ ادبی ایران، د براون، پارسي ژباړه ۱ /۳۸۷.

[3] - المعارف، د ابن قتیبه ۱۹۷، د قاهرې چاپ، ۱۳۰۰س.

لېږل،[1] اموي واکمنو به هغه د لښکرمشرانو او درباریانو تر منځ وېشل. په بزګرۍ، صنعت، جنګ او نورو چارو کې به یې ترې کار اخیست. په پای کې د مریانو شمېر تر آزادو زیات شو، د جنګ زیاترو ډګرونو ته به د آزادو پنځه برابره دا مریان لېږل کېدل[2] او په هر جنګ کې هم ډېر وژل کېدل. لکه چې مختار بن‌ابي عبید پر ٦٦ س کال په عراق کې د امام حسین رضي الله عنه د غچ اخیستنې او د محمد بن‌حنفیه علوي د خلافت لپاره راپورته شو. په لښکر کې یې مریان د آزادو عربو دوه برابره وو. د ٦٧س کال په جنګ کې ترې شپږ زره کسان ووژل شول؛ په داسې حال کې چې له آزادو عربو څخه ایله ٧٠٠ کسه وژل شوي وو.[3] مریان به زیاتره بې معاشه ګومارل کېدل،[4] خو ځینو هوښیارو حاکمانو به یې ژوند په پیسو پېرهٔ. حضرت معاویه به هر یوهٔ ته ١٥ درهمه ورکول، د عبدالملک په پېر کې ٢٠شل درهمو او د سلېمان د خلافت په پېر کې ٢٥ درهمو ته ورسېدل؛ خو هشام ٣٠ درهمو ته ورسول.[5]

امویانو خپل مریان ډېر سپک ګڼل او د هغو د کړاوونو او ځورونې پروا یې نه کوله؛ خو مریانو خپل دا برخلیک زغامهٔ. کله به د امویانو له ربړ و ازاره د هېواد لیرې سیمو ته تښتېدل. لکه چې د مشهور سندرغاړي ابراهیم موصلي نیکهٔ (میمون) د امویانو له ظلمه تښتېدلی و.[6]

سره له دې چې د اسلام د رښتینو احکامو سرچینه قرآن او د رسول‌الله سنت دي، چې د مریانو او ټولو مسلمانو ملتونو په اړه د برابرۍ حکم کوي او ټول وګړي چې د اسلام دین یې منلی وي، یو د بل ورونه ګڼي (إنماالمؤمنون إخوة فاصلحوا بین أخویکم)[7] قرآني حکم دی؛ خو د امویانو په پېر کې چې نژادي سیاست او د عربو برتري خپل لوړ کچ ته رسېدلې وه، عربو تل مریانو (ناعربو ملتونو)

---

[1] - مروج‌الذهب ٣/ ٣٥۴.

[2] - الکامل ٣/ ١٧٣.

[3] - طبری ۴/ ٥٧٧ او الکامل ۴ /١٢١ او ١٣٦.

[4] - الکامل ٥/ ٢۴.

[5] - العقدالفرید ٢/ ٢۴٩.

[6] - الأغاني ٢/ ٥.

[7] - قرآن، الحجرات ١٠.

ته په کرکه او کینه کتل او سپکول یې. د عربو دا ناوړه چلن و، چې مریانو عربو ته په ښه سترګه نه کتل، د عربو پر ضد سره یو شوي وو او په خپلو کې یې یو ځواک رامنځ ته کړی و.

مختار چې په خپل خوځښت کې د مریانو له ځواکه کار اخیست او هغوی یې پالل، طبري وایي د کوفې مشرانو هغه وراټهٔ، چې ولې یې مریان ځان ته نږدې کړي او حق یې ورکړی، چې پر اس او اوښ سپارهٔ شي او ولې یې هغه آزاد شوي مریان، له عربو سره ګډ کړي دي! [1]

دریېم: ناعربي مریان چې په دربار او ښارونو کې د عربو عامه ژوند ته ورننوتل، هغوی د فرهنګ، مدنیت او پوهې خاوندان وګړي وو؛ نو سوداګري، صنعت، بزګري، د بازار و دفتر کارونه او ټولې مدني چارې یې په خپل واک کې ونیوې. د هغو دا ځواک او مدني اغېز داسې برید ته ورسېد، چې نږه عربان ترې ووېرېدل او د ځان خلاصون په لټه کې شول. د دواړو خواوو دا شخړه او وېره د مریانو د راویښېدو وسیله شوه؛ نو د عربو په اند د مریانو د پاڅون او ځواکمنۍ خطر یقیني و، لکه چې عرب مؤرخ احمد بن‌محمد په بن‌عبدربه مشهور (۲٤٦- ۳۲۸س) وایي: «معاویه وویل زما په اند دا سرهٔ [2] زیات دي؛ داسې ګنم چې یوه ورځ به عربو ته راپاڅېږي، نو باید ځینې یې ووژنم او څه یې د لارو جوړولو او بازار د ادارې لپاره ژوندي پرېږدم.» [3]

په داسې حال کې مریان د خپل ورځ تر بلې زیاتېدونکي اغېز په پراختیا د اموي د وېر هېواد په ګوټ ګوټ کې ځان ته ځیر وو او د متعصبو امویانو له ولکې څخه د ځان خلاصونې لپاره یې پیلامه لټوله. په خراسانیانو کې له عربو څخه کرکه دومره زیاته شوې وه، چې خراساني مشهور شعوبي شاعر بشار بن‌برد بن‌یرجوخ تخارستاني (۷٥-۱٦۷س) د عربو په غندنې او په خپل عجمي نسل و برم ویاړنې ویلې وې:

---

[1] - فجرالإسلام، دوهم څپرکی او تاریخ‌التمدن الإسلامی ۴ /۸۷.

[2] - عربو ناعربي مریانو ته حمراء ویل (تاریخ‌التمدن الإسلامی ۴ /۵۹)

[3] - فجرالإسلام د عقد الفرید په حواله.

سأخبر فاخر الأعراب عني وعنه حين تأذن بالفخار
أحين كسيت بعد العرى خزا و نادمت الكرام على العقار؟
تفاخر يا إبن راعية وراع بني الأحرار حسبك من خسار
و كنت إذا ظمئت إلى قراح شركت الكلب في ولغ إلأطار[1]

«ويارمنو عربو ته به د وياړنې پر وخت د خپلې او هغوی د پېژندگلوۍ په اړه ووایم چې تر لغړتیا وروسته مو شرم اغوستی! یا مو له مشرانو سره په یوه کټوري څښلي؟ ای د شپانه زویه! که د ژغورندویانو له زامنو سره وياړنې وکړې، همدا تاوان دې بس دی، حال دا چې که تږی یې له سپي سره پر یوه کوغالي اوبه څښې!»

څلورم: د هغه نظام حتمي پایلې ـ چې بنسټ یې پر ځانګړو ټبریزو او توکمیزو برتریو ایښودل شوی وي ـ دا دي چې د مشرانو او ځواکمنو او کارګرانو تر منځ یې د واک غوښتنې، ځواک و اغېز پراخېدنې او د نورو د ځېښناک په اړه سیالۍ او اختلافونه رامنځ ته کېږي. یو ټولی په بل پسې تورې ته لاس کوي، وسله‌وال جنګ کوي، خپل تر لاس لاندې کسان یو بل ته راولاړوي، هڅوي او بې لارې کوي. د امویانو پر پېر د سیاست په ډګر کې د دې کار ډېرې بېلګې وینو، چې بني‌هاشمو عربو ځانونه د واکمنۍ او اسلامي خلافت مستحق ګڼل؛ خو څرنګه چې د امویانو کورنۍ تر ۴۰س کال وروسته د حضرت‌معاویه په څېر مدبر او سیاستوال کس په وسیله د نیل له ناوې تر سند سیند پورې پر پراخه هېواد ولکه ټینګه کړه، هاشمیانو بېلابېلو وسیلو ته لاس واچاوه چې د اسلامي هېواد واګې تر لاسه کړي.

څرنګه چې خراسان یو مهم او شتمن مرکز و او خلکو یې هم له اروایي پلوه او په بشپړ ډول اموي ولکې ته غاړه نه وه ایښې او تل د خپلې خپلواکۍ او ملي ارزښتونو د خوندیینې لپاره جنګېدل، نو هر چا چې به د امویانو د منلو له کړۍ سر

[1] -الأغاني ۳ /۲۳.

ایست او په سر کې به یې د مقاومت خیال پالۀ؛ دې لور ته به راتلل او د خراسانیانو د مرستې تمه به یې کوله.

یو تر بله د عربو دا پلمې جوړونې او لمسونې به کله ناڅاپه او داسې سختې رامنځ ته کېدې، چې په خپله د عربي ملت له ارزښتونو سره به یې هم ټکر درلود. د ساري په ډول کله چې امام ابراهیم، خراسانی ابومسلم د عباسي خلافت د بلونکو او پلویانو مشر وګومارۀ او خراسان ته یې راولېږۀ، په خپلو سپارښتنو کې یې ورته وویل: «که دې کولای شول په خراسان کې چې هر چا په عربي خبرې کولې، بلنه مه ورکوه او هر پنځه لویشتیز شکمن ماشوم ژوندی مه پرېږده.»[1]

نو د اموي دولت اداره د دویمې لېږدې پېړۍ په لومړیو کې چې له نبوي پېره سل کاله تېر شوي وو، ډېره ګډوډه او وشړېدۀ. وګړي د اموي چارواکو له ظلم و ازاره ډېر وکړېدل. اموي واکمن په مزو چړچو او زیاتو نېشو او خوښیو کې ډوب وو، نو شکایتونه وشول، ګونګوسې خپرې شوې او ان ځینو شاعرانو د دې عیاشیو ناوړه پایلې هغو ته وړاندې کړې. له هغو څخه یوۀ اموي امیرانو ته په وینا کې وویل:

إنّ البريّــة قــد ملَــت سياســتكم   فاستمسكوا بعمود الدّين و ارتـدعوا
لا تلحمــنّ ذئـاب النّـاس أنفسـكم   إنّ الـذّئاب إذا مـا ألحمـت رتعـوا
لا تبقـــرنّ بأيـــديكم بطـــونكم   فـثمّ لا حســرة تغنــي ولا جـزع[2]

«وګړي ستاسو له ظلمه وکړېدل، خبر شئ! له دې کاره لاس واخلئ او د دین پر بنسټ منګولې ښخې کړئ! ځانونه د لېوانو په څېر د ولس په غوښو مه مړواست! د غویانو په څېر مه ډېرخواره کېږئ! ځکه د داسې وضعې په پایله کې به افسوس او پښېماني ګټه ونه لري.»

د پردیو تېریو او د امویانو ظلمونو د خراسانیانو په مغزو کې د کرکې او تېښتې د سوچ جرړې غځولې وې او خلکو غوښتل چې ځان له هغو خلاص کړي. د اسفزاري له دې لیکلې کیسې، د خراسانیانو اروایي کرکه او ناخوښي په ډاګه ده:

[1] - الكامل ٥/ ١٦٥.

[2] - الأغاني ٥/ ١٦٧

«وايي: ابومسلم يو بوډا هراتی وپوښت چې څو کلن یې؟ ويې ويل: شپږ کلن- ویل دا څرنگه کېدای شي، ته خو بوډا يې؟! ويې ويل: ای اميره! عمر هغه دی چې په امن او ډاډ کې تېر شي، موږ ستا په وخت کې له ظلم او تېري خوندي شوي ياستو او دا له شپږ کاله ډېر نه دي. هغه چې د امويانو په وخت کې تېر شوی، عمر يې نهٔ گڼم.»[1]

مسعودي وايي، یزید بن‌معاويه د ښکار ډېر زيات مينه‌وال و او ښکاري حيوانات لکه سپی، بيزو او پړانگ به يې روزل. ټنگ ټکور او شراب يې ډېر خوښ وو؛ نو چارواکي يې هم پر پلهٔ تلهٔ، شراب به يې څرگند څښل. د هغه په واکمنۍ کې په مکه او مدينه کې ټنگ‌ټکور او د لهو لعب ډولونه راڅرگند شول، چې پخواني مسلمانان پرې اخته نه وو.[2] د امويانو په پېر کې د رامنځ ته شوې سياسي، فکري او ټولنيزې اوضاع لنډيز دا و، چې دا دولت يې رانسکور کړ.

## له رواني وضعې د خراسانيانو گټنه

په داسې حال کې چې د اموي دولت بنسټ ولړزېدهٔ، خراسانيانو، د خپلو سختو مبارزو په پای کې- چې يوه پېړۍ يې د خپلو ملي ارزښتونو او خپلواکۍ ساتنې لپاره کړې وې- له رواني وضعې څخه گټه اخيسته. د دې خلکو ملي سياست داسې و چې د امويانو د رژيم د مخالفانو ملاتړ وکړي، چې هغه په خپله هاشميان او نور عرب وو. لکه چې په همدې پېړۍ کې خراسان د خلافت او امارت د ټولو مدعيانو پټنځی و؛[3] که د ابوطالب او که د عباس د کورنۍ وو، خو د اموي ولکې د مخالفينو پاڅونونه د اسلامي هېوادونو په ختيځ (خراسان) کې وشول، چې موږه يې ځينې پېښنو ته په تېرو څپرکو کې نغوتې وکړې.

---

[1] - روضات الجنات في اوصاف مدينة هرات ١ /١٧٦.

[2] - مروج‌الذهب ٢ /٦٨.

[3] - الآداب‌السلطانية، د ابن طقطقي محمد ابن علي ١٢٨، د قاهرې چاپ، ١٩٢٣ز.

د خپلواکۍ غوښتنې په دې غورځنګ کې د ټولو مسلمانانو د خواخوږۍ راخپلولو لپاره د خراسانیانو شعار په څرګنده «کتاب‌الله، سنت رسول‌الله او د آل‌محمد په رضا تلنه وه»[1] خو هغه څه چې په حقیقت کې د هغو موخه وه، د عربي ولکې ختمول او د خپلواکۍ بیا تر لاسه کول وو. همدا لویه موخه عربو د مریانو (ناعربو خراسانیانو) له کړو وړو څخه معلومه کړې وه، چې مرکز یې مروه او د خراسان نورې سیمې وې. لکه چې عرب شاعر د مروې او خراسان د نورو سیمو بني‌ربیعه عربو ته خطر اعلانوي، چې دا خراساني مریان- که څه هم عربي نسبونو ته منسوب شوي دي- بېل دین لري او عرب وژنې ته یې ملا تړلې ده:

قـوم یـدینون دینـا مـا سـمعت لـه   عن الرسول ولا جائـت بـه الکتـب[3]

فمن یکن سائلی عن[2] أصل دینهم   فــان دیـــنهم أن تقتـــل العـــرب[4]

«دا (د خراسان مریان) یوه ډله ده او داسې دین لري چې له پېغامبر  او اسماني کتابونو څخه نه دی ثابت، که څوک له ما د هغو د دین بنسټ وپوښتي، ورته به ووایم: بې له عرب وژنې بل دین نه لري.»

نو خراسانیانو چې څه غوښتل، د هغه مهال له سیاسي اوضاع او هغو ډلبندیو څخه په ګټنه یې تر لاسه کړل چې په عربو کې رامنځ ته شوې وې. لویه، پراخه او ځواکمنه اموي سترواکي یې له منځه یووړه او د هغې پر ځای یې نوی عباسي دولت رامنځ ته کړ، چې شرحه یې وروسته راځي. تر دې چې د دې پرله‌پسې هڅو او هاند په پایله کې یې په خراسان کې کورنۍ، ملي او دولتي ادارې بیا راژوندۍ او سمې کړې.

---

[1] - الکامل ٥/ ١٨١.

[2] - په اصل کې (عم) دی.

[3] - په اصل کې (الکتاب) دی.

[4] - اخبارالطوال د ابو حنیفه دینوري ٣٤٣، د قاهرې چاپ، ١٣٣٠ س.

## ۲- د خراساني ابومسلم راڅرګندېدا

د لومړۍ لېږدې پېړۍ په وروستیو کې د عباسیانو د خلافت پټ غورځنګ د هېواد په ښارونو کې پوختابۀ ته رسېدلی و. محمد بن علي بن عبدالله بن عباس چې د حضرت محمدﷺ د تره له کورنۍ او د بني هاشمو له مشرانو څخه و، د دې سیاسي خوځښت مخکښ و. هغه په ۱۰۰س کې هغه مهال چې عمر بن عبدالعزیز د خلافت پر ګدۍ ناست و، خپل دولس کسه مشران وټاکل چې په هغو کې یو د ابومسلم زوم خراسانی ابوعلي شبل بن طهمان هروي د بني حنیفه مریی و. محمد بن علي چې د خلافت مدعي و، د هېواد ۷۰ مخور کسان یې د اهل بیتو بیعت ته راوبلل. محمد بن خنیس، ابومحمدصادق، ابا عکرمه سراج او حیان عطار یې خلکو ته د بلنې او تبلیغ لپاره خراسان ته راولېږل. دا لومړۍ بلنه وه چې د عباسي خلافت لپاره تر سره شوه.[1]

کله چې د عباسیانو دا بلونکي خراسان ته راورسېدل، په ۱۰۲ س کال کې د هغو د بلنې رپوټ د عمرو بن بحیر تمیمي په لاس اموي حاکم سعید خذینه ته ورسېد. خذینه هغوی راوغوښتل او د هغوی د احوال څېړنې په لټه کې شو. هغوی وویل د سوداګرۍ لپاره راغلي یاستو. د دې خبرې شهادت د ربیعه او یمن خراسان مېشتو هم ورکړ،[2] نو نوموړي بلونکي خلاص شول؛ خو په ۱۱۸س کال کې چې عمار بن یزید د عباسیانو د پلیونو په مشرۍ خراسان ته راولېږل شو، هغۀ په مروه کې خپل نوم بدل کړ او په خداش مشهور شو، خو د دې

---

[1] - طبري ۵/ ۳۱٦.

[2] - پورتنی اثر ۵/ ۳۵۸.

ځای اموي والي اسد بن‌عبدالله يې لاس او ژبه پرې او د نړۍ له ليدو يـې بـې برخـې کړ.[1] تر دې وروسته په ۱۲۰ س کې بکير بن‌ماهان د محمد بن‌علي له خوا خراسان ته راولېږل شو. له ځان سره يې د دې بلنې د نخښې په توګه له محمده امسـا راوړه او پـه دې ډول يې د عباسيانو ټول مشران او پليـوني لـه ځـان سره کـړل.[2] کلـه چـې محمـد بن‌علي په ۱۲۵ س کې ومړ او پر ځای يې ابراهيم الإمام بن‌محمد کښېناست، هغهٔ پـر ۱۲۶ س کال بيا ابوهاشم بکير بن‌ماهان خراسان ته راولېږهٔ. هغهٔ په مروه کې د عباسي خلافت مشران او بلونکي راټول کړل او د ابراهيم ليک يې ورته ولوست. په دې توګه ابراهيم د دې بلنې د امام په توګه په خراسان کې وپېژندل شو. پليونو يې د نفقو ټولې پيسې د بکير په لاس ابراهيم ته ولېږلې.[3]

په دې وخت کې په خراسان کې د عباسي کورنۍ د پليونو پټ تشکيلات پاخهٔ شوي وو، څرنګه چې په ۱۲۷س کې د ابراهيم امام له خوا ابوسلمه خراسان ته راغی، د دې غورځنګ ټول منسوبين پرې راټول شول او د خپلو مالونو د خمس او نفقو پيسې يې هغهٔ ته ورکړې.[4] بيا د ابومسلم په نامهٔ خراسانی کس د دې غورځنګ په سر کې راڅرګند شو.

**ابومسلم څوک و؟**

د ۱۰۰ س کال شاوخوا د خراسان د پلازمېنې مروې په يوهٔ کلي کې چې ماخان يا فريدين (زندين) نومېدهٔ او د مروې په درې فرسخۍ کې پروت و،[5] د بندادهرمزد په نامهٔ يو کس مېشت و[6] چې د هغهٔ کلي مشر بلل کېدهٔ. کله به يې له کوفې سره د څارويو سوداګري کوله. غالب اټکل دی چې تر اسلام منلو پخوا يې نوم او دين زردشتي و. هغه آزاديپال او ملکزی و، چې نسب يې مؤرخانو داسې کښلی دی:

---

[1] - طبري ۵/ ۴۴۰.

[2] - پورتنی اثر ۵/ ۴۶۷.

[3] - پورتنی اثر ۵/ ۵۹۲.

[4] - پورتنی اثر ۵ /۶۲۲.

[5]-ابن‌خلکان۱ /۲۸۰ د زندين شرحه په راتلونکو مخونو کې راځي.

[6] - مجمل، ۳۱۵، اروابناد بهار خراسانی وايي، د دې نامهٔ اصل ونداد هرمز دی.

مجمل د حمزه بن‌حسن په حواله «اصفهان» کتاب کې: نسب يې سيدوش د گودرز کشوا زوی ته رسېږي.[1]

ابن‌خلکان: مسلم وقيل عثمان الخراساني بن‌يسار بن‌سدوس بن‌جودرز د بزرجمهر بن‌البختگان له زامنو.[2]

ابن‌اثير: عثمان بن‌بشار بن‌سدوس بن‌جودرز د بزرجمهر له زامنو.[3]

مافروخي: ابومسلم د رهام بن‌جودرز له زامنو او ويل شوي د شيدوش بن‌جودرز له زامنو[4]

دا شجرې که سمې هم نهٔ وي، دومره روښانوي چې د ابومسلم کورنۍ د خراسان د مروې[5] په منځ کې له لوړ نژادو اشرافو څخه وه.

نو د ابومسلم پلار بندادهرمزد مروي خراساني تر مسلمانېدو وروسته عربي نوم عثمان او لقب مسلم غوره کړ. د عمر په پای کې د آذربايجان په فايق کلي کې اوسېدهٔ او هم هلته يې له نړۍ سترگې پټې کړې.[6]

---

[1] - مجمل ۳۱۵.

[2] - وفيات‌الأعيان ۱ /۲۸۰.

[3] - الکامل ۵/ ۹۳.

[4] - محاسن اصفهان ۲۴.

[5] - ځينو مؤرخانو ابومسلم اصفهانی ليکلی دی، دا نسبت به له دې امله وي چې هغه به په اصفهان کې زېږېدلی وي. مطهر ابن طاهر مقدسي دواړه روايتونه راخلي او د هغهٔ د زوکړې ځای اصفهان گڼي (البدءوالتاريخ ٦ /۹۲) او همدا مؤرخ وايي چې ابودلامه زند بن جون اسدي عربي شاعر د عباسي پېر د لومړيو۱٦۱ س مړ، چې د ابومسلم هممهاله دی، په خپلو شعرونو کې هغه وغاندهٔ او د منصور خليفه په پليونۍ‌يې د ابامسلم پر ځای يې ابامجرم وبالهٔ او ويې ويل:

أبـــامجرم مـــا غـــيرالله نعمـــة     علـى عبـده حتـى يغييرهـا العبـد
أفى دولة المنصور حاولـت غـدرة     ألا أن اهــل الغــدر أبــاک الکــرد

(ابن خلکان۱ /۲۸۳)

«ای ابا مجرمه! الله جل جلاله له خپلو بنده‌گانو څخه نعمت نه سپموي، تر هغهٔ چې په خپله بنده هغه تغيير نه کړي، ايا د منصور په دولت کې د غدر سوچ کوې؟ خبر شه چې ستا هغه کُرد پلرونه خاينان وو.» په دې شعر کې يې د ابومسلم پلرونه کرد گڼلي او ښايي چې د مروې له کردانو څخه وي، چې خراسانيان وو.

[6] - ابن‌خلکان۱/ ۲۸۱ او مجمل ۳۱۵.

ابن‌خلکان وايي د ابومسلم مور وشيکه نومېده، چې په مجمل (۳۱۵مخ) کې وسيکه او د مقدسي په البدءوالتاريخ (۹۲/۲) کې وشيله کښل شوې ده. دا ښځه په کوفه کې د آذين بنداد بن‌وسيحان کورنۍ کې وه، چې تر سلم لېږدي د مخه د ابومسلم پلار نکاح کړه. څرنګه چې يې پلار په همدغو کلونو کې د اموي پېر د وروستيو د يوۀ مشهور او نوميالي چارواکي عيسی بن‌معقل عجلي سره خپښي کړې وه او تر سلم لېږدي کال د مخه په آذربايجان کې ومړ؛ نو د ابومسلم مور په همدې کورنۍ کې وه. پر همدې کال د عمر بن‌عبدالعزيز د خلافت په پېر کې ابومسلم د عيسی کره وزېږېد او لوی شو.[1] مور يې د دې خراساني نژاده کوچني نوم له خراساني دودونو سره سم بهزادان کښېښود،[2] چې وروسته بيا په ابراهيم بن‌مسلم اسلامي نامۀ ونومل شو. ابن‌اثير او ابن‌خلکان وايي د ابراهيم الإمام د ټينګار له امله يې خپل نوم عبدالرحمن کړ.[3] کنيت يې ابواسحق و، [4] خو په ابومسلم مشهور دی. بارتولد وايي د هغۀ پر شتۀ سيکو هم (ابومسلم عبدالرحمن بن‌مسلم) وهل شوی دي.[5]

## د ابومسلم صورت او سيرت

ابومسلم مندری، غنم‌رنګی، ښکلی، ورين‌ټندی، نيکچاری، ببرڅنی، پلن‌تنی، لنډ ورونی او خبرلوخ سړی و. په عربي او پارسي يې شعر وايۀ. هيڅکله يې ټوکې نه کولې، نه خندېدۀ؛ خو په جنګ بوخت و. په هيڅ سوبه او لويو کارونو کې يې خوښي او په هيڅ پېښه او د دښمنانو په لاسبري کې يې پر مخ څه غم غوسه ليدل شوې نۀ ده. وسله يې توره وه. په سزا ورکولو کې يې په هيڅ خپل پردي زړۀ نۀ سو.[6]

---

[1] - پورتني آثار ا/ ۲۸۱ او ۳۱۵.

[2] - تاريخ برګزيدګان، د امير مسعود سپهرم (۱۱۷مخ)، د تهران چاپ، ۱۳۴۱ل. د دې پارسي نامۀ لپاره تر ټولو پخوانی سند د ياقوت معجم‌الأدباء (۱۳/ ۲۰۴) دی، خو امير مسعود يې حواله نه ده ورکړې. څرنګه چې ابومسلم له خراساني پلار و مور زېږېدلی، چې دواړه نړه ځايي نومونه لري؛ نو د هغۀ اصلي نوم به "بهزادان" وي او ياقوت هغه په څرګنده بيان کړی دی.

[3] - وفيات ۱/ ۲۸۰ او الکامل ۵/ ۱۲۰.

[4] - ابن اثير ۵/ ۹۳.

[5] - اسلامي دائرةالمعارف په انګليسي ژبه ۱/ ۱۰۲، د لندن چاپ،۱۹۱۳ز.

[6] - مجمل ۳۲۸، مقدسي ۶/ ۹۲.

ابوالحسن علي بن‌محمد مدايني- چې د تاريخ كتاب يې كښلى، ثقه مؤرخ دى، طبري او مسعودي ترې روايتونه راخيستي - د ابومسلم دا ځانګړنې ليكلي دي. د مجمل ښتن د پورتنى شرحې په څېر په پارسي اړولي دي؛ خو ابن‌خلكان هم د همدې مدايني په حواله د ځينو نورو ځانګړنو لكه خوږږغى، تور سترګى په عربي او پارسي كې خبرلوڅ، خوږ ژبى، د شعرونو راوي او كارپوه، په ورزياتولو دا ځانګړنې يادوي او وايي:

بېځايه يې نه خندل او نه يې ټوكې كولې، په كال كې يې يو ځل له ښځو سره كوروالى كاوه. هغه به ويل چې كوروالى لېونتوب دى او بس ده چې انسان په كال كې يو ځل لېونى شي. پر خپل كالهٔ زيات غيرتمن (باناموسه) و. په مانۍ كې يې يو روزان و، چې په هغهٔ كې به يې د ښځو اړتيا وړ شيان وراچول. وايي چې د وادهٔ په شپه يې ناوې پر كوم اس سپره راوسته، هغه يې وواژهٔ او زين يې ورته وسوځاوهٔ چې بل څوک پرې كښېنني.[1]

منهاج سراج جوزجانی د ابومسلم د سيرت په شرحه كې وايي: لوی مېړنی او بې تمې و، هيڅكله يې له چا تمه ونه كړه، ويې نه غوښتل او منع يې نه كړل، زر پخليګر يې وو. هره ورځ به يې د هغهٔ په پخلنځي كې درې زره منه ډوډۍ پخوله. ۱۳۰ پسونه به له غويانو او چرګانو پرته مصرفېدل. د پخلنځي د الاتو باركښ يې ۱۲۰۰ وو. كوم كال چې حج ته لاړ په جوپه كې يې ږغ وكړ: هر څوک چې په جوپه كې د خوړو پخولو لپاره اور بل كړي، زه يې له وينې بېزار يم، بايد د ټولو جوپه‌والو د اړتيا وړ خوارک ښناک زما وي....لقب يې ټولواک شو، د هغهٔ نغاره يې په څلور كونجه مروه‌شاهجان كې تر ٦۱۷ س پورې ډنګوله. د نغارې اس به يې د هغې مانۍ په ورهٔ كې و، چې په مروې كې يې جوړه كړې وه.[2]

ابومسلم په دې صورت او سيرت سره په خراسان كې داسې اوښتون راوست چې

---

[1] - وفيات ۱ /۲۸۱، مقدسي ٦/ ۹۵.

[2] - طبقات ناصري ۱۰٦/۱، د حبيبي دوهم چاپ، كابل ۱۳۴۲ل او مقدسي ۵/ ۹۵.

د تاریخ بهیر یې بدل کړ. ان عرب مشرانو هم هغه د تاریخ تر ټولو لوی مېړنی وګڼلو، لکه چې یوه ورځ د عباسي خلیفه مامون په مخکې د ابومسلم یادونه وشوه، هغه وویل:

«د ځمکې تر ټولو لوی پاچاهان درې کسه دي، چې دولتونه یې لېږدولي دي: لومړی سکندر، دوهم اردشېر او درېیم خراساني ابومسلم.»[1]

ابومسلم ډېر اغېزناک شخصیت درلود، د سخا او بخښنې لاس یې اوږد و. عربو هم هغه د نفس په برتریو منلی دی. ابن‌اثیر وایي هغه بانده‌چیانو ته جامې ورکولې، کوهیان یې کنل او لارې یې جوړولې. د هغه د ځانګړنو یادونه د عربو په منځ کې د هر چا په خوله وه.[2]

وایي اموي پاچاه مروان د مکې استوګنو ته د ابومسلم په اړه کښلي وو، چې جوماتونه یې نړولي او قرآنونه یې سوځولي دي. د مکې استوګنو چې د بیت‌الله زیارت ته د هغه د راتګ واورېدل، لیدلو ته یې راووتل. هغه چې حرم ته راغی، له اسه راکوز شو، خپلې ګاولې یې وکښلې او یېلې پښې یې د بیت‌الله د زیارت مناسک داسې ادا کړل، چې تر ده پخوا هیڅ پاچاه نه وو تر سره کړي. د مکې خلکو چې هغه په دې ځانګړنو ولیده، ویې ویل:

«موږ تر دې د مخه هیڅ حاکم نه دی لیدلی، چې تر ده یې د محترم حرم زیات درناوی کړی وي.»[3]

ابومسلم ساده ژوند درلود، په توره کېږدۍ کې اوسېده، ساتندویان او دروانچیان یې نه درلودل. زغم، لویي او صبر یې مشهور وو. د امویانو تورونه یې - چې د هغه د ګروهې او دین په اړه یې لګولي وو- په ساده ګۍ او دیني منطق رد کړل. داسې چې د آلین په لښکرکوټ کې پر ۱۲۹س کال د مروې ځینې کسان ورته ورغلل او په فقه کې یې د هغه رایه وپوښتله، هغه ځواب ورکړ:

«له دې پوښتنو څخه تاسو ته په نېکۍ امر او له بدۍ منع کول ډېر غوره دي. زه

---

[1] - ابن خلکان ۱ /۲۸۱.

[2] - الکامل ۵ /۲۲۲.

[3] - مقدسي ۵/ ۹۵.

تر داسې پوښتنو ستاسې ملګرتيا ته ډېره اړتيا لرم، لوی کار مې مخې ته دی؛ نو ما وبخښئ.»[1]

که څه هم يو شمېر مؤرخانو د ابومسلم د فلسفې او ديني ګروهو په اړه خبرې کړې دي، د ساري په ډول بن‌حزم اندلسي (٤٥٦ س مړ) هغه د اروا د تناسخ له قايلينو څخه ګڼلی او وايي چې هغهٔ هم د محمد بن‌زکريا رازي، احمد بن‌حابط او نورو په څېر ګروهه درلوده، چې اروا له جسمه تر بېلېدا وروسته د نورو خولو ته لېږدي، که څه هم هغه جسدونه د پخوانيو په څېر نهٔ وي.[2]

ابومسلم له قوي زړهٔ او پوهې سره فصيحه ژبه درلوده، په عربي شعر کې ماهر و، مقدسي وايي د قرآن حافظ و. نبوي حديث يې له عکرمه، ابي‌الزبير مکي، ثابت بناني او محمد بن‌علي بن‌عبدالله بن‌عباس او سدير څخه زده کړي وو. د ابراهيم بن‌ميمون الصايغ او عبدالله بن‌مبارک په څېر محدثانو له هغه څخه روايتونه کړي دي. توره پګړۍ يې تړله او ويل به يې چې حضرت رسول‌الله هم د مکې د سوبې په ورځ توره پګړۍ تړلې وه؛ نو دا د پرتم او دولت جامه ده. د هغه زړورتيا، اند، عقل، تدبير، لرليد او مېړانه مشهور دي. يوه ورځ چا وپوښت چې پر دښمنانو ستا د لاسبري لامل څه و؟ ويې ويل:

زغم، رازساتنې، پر غمونو صبر، د مقاديرو او احکامو اسان ګڼنې زه خپلو وروستيو موخو ته ورسولم. هغهٔ به تل ويل:

قد نلتُ بـالحزم والكتمان مـا عجـزت  عنـه ملـوك بنـي مـروان[5] إذ حشـدوا
مـا زِلـتُ اسـعى بجهـدى فى ديـارهم[3]  و القـوم في غفلـة بالشـام قـد رقـدوا
حتـــى طـــرقتهم بالســـيف فـــانتبهوا  مـــن نومـــة لم ينمهـــا قـــبلهم احـــد
ومـــن رعـــى غـــنما في أرض مَســـبعةٍ[4]  ونـــام عنهـــا تـــولىّ رعيهـــا الأســـد[1]

[1] - طبري ٦/ ٣٢ او الكامل ٥ /١٧٤.
[2] - الفصل فى الملل و الاهواء والنحل، د قاهرې چاپ، ١٣٤٧س، ٧٧ مخ.
[3] - په اصل کې (دمارهم) دی.
[4] - الكامل: معشبه.
[5] - الكامل: بني ساسان؟

«زه په ژورفکرۍ او رازساتنه هغهٔ څه ته ورسېدم، چې بني مروان له خپل لښکر سره نه دي ورسېدلي، کله چې هغوی په شام کې بې پروا ویدهٔ وو، ما یې د وژنې هڅه وکړه او چې په توره مې ووهل له خوبه -چې هیڅ کس به داسې نه وي ویده شوی-راویښ شول.

هو! هغه څوک چې خپلې مېږې د ځناورو په سیمه کې څروي او ویدهٔ شي، نو د هغهٔ د مېږو شپني به زمري وکړي.»

ابومسلم پر ژمنه ولاړ، مېړنی او مغرور سړی و. وایي چې د خپل کار په پیل کې بې ملهٔ پرخرهٔ سپور نیشاپور ته ورغی. د شپې یې د نیشاپور د دهقان فاذوسیان مجوسي ور ټک ټک کړ. کله چې د دهقان کسان راووتل، هغهٔ ورته وویل: ورته ووایئ چې ابومسلم راغلی دی، زر درمه او سپرلي غواړي. کله چې مشر ته وویل شول، هغهٔ وویل: ابومسلم په کوم لباس کې او له څو کسو سره راغلی دی؟ هغوی ویل یواځې دی او ډېرې زړې جامې یې اغوستي دي.

دهقان چې دا خبره واورېده، زر درمه یې له خپلې یوې ځانګړې سپرلۍ سره ورکړل او ویې ویل: څه چې دې وغوښتل در مې کړل، که نور څه غواړې درکوم یې. ابومسلم ورسره ژمنه وکړه چې ستا دا بخښښن به هم هسې لاړ نهٔ شي. کله چې یې نیشاپور ونیو نو د فاذوسیان او یوهٔ بل خپلوان مال او شتمنۍ ته یې زیان ونه رساوهٔ.[2]

ابومسلم آزادیپال او مبارز مېړنی و، چې د خپلو ملي موخو لپاره یې د عباسیانو له ډلې سره د امویانو پر خلاف جوړ جاړی وکړ؛ خو موخه یې دا وه چې د امویانو پیاوړی رژیم په خپله د عربو په ملګرتیا له منځه لیرې کړي او بیا خپل ولس د عباسیانو له لاسبري هم خلاص کړي. د دې موخې کلک دلیل شته په دې ډول: که چېرته ابومسلم یواځې د دین او له اهل‌بیتو سره د ځانګړې مینې له مخه د عباسیانو د خلافت په لاره کې زیار ایست؛ نو کله چې یې دا موخه تر لاسه کړه او د امویانو ولکه پای ته ورسېده؛ ابومسلم ولې له عباسي دربار او د ابراهیم امام له اولادونو سره- چې په څرګنده پرې عقیدتمند او ګروهمن و- جوړ جاړی ونه کړ؟

---

[1] - وفیات ۱ /۲۸۲ او الکامل ۵ /۲۲۸، په تاریخ ګزیده (۲۹۰ مخ) کې یې دا بیتونه د وروستي اموي امیر مروان الحمار ګڼلي دي؛ خو تېروتنه ده، د جمهورو په اند د ابومسلم دي.

[2] - الکامل ۵/ ۲۲۹.

تر دې چې دوهم عباسي خليفه ابوجعفر منصور دوانيقي- هماغه کورنۍ چې د ابومسلم په هڅه د خلافت پلاز ته رسېدلې وه - د ابومسلم په کړو وړو دومره شکمن شو ـ وروسته به په تفصيل سره راشي ـ چې د دې زړور مېړني د وژنې اقدام يې وکړ؛ نو له دې څخه برېښي چې په مغزو کې يې يو پلان درلود او منصور هغه خپل يواځينی سيال وګاڼۀ او په پلمه يې سر ورپرې کړ. دا مطلب به په راتلونکو مخونو کې په تاريخي اسنادو سره لا روښانه کړو.

## د ابومسلم راڅرګندېدل او د کار پيل يې

ابن‌خلکان (۲۸۱/۱) حمزه اصفهانی[۱] او نور زياتره مؤرخان وايي ابومسلم په ۱۰۰س کې د اموي خليفه عمر بن‌عبدالعزيز په پېر کې زېږېدلی دی. د دې وينا پلويان د هغۀ عمر د وژلو پر مهال ۳۷ کاله ګڼي، په داسې حال کې چې المقدسي يې زوکړه په ۱۰۲ س کې او عمر يې د وژلو پر مهال يعنې په ۱۳۷ س کې يې د هغۀ ۳۵ کاله ګڼلی دی.[۲]

د ابومسلم د کمکينې ورځې په اصفهان کې د معقلي عجلي په کورنۍ کې تېرې شوې دي. هغه له عيسی بن‌معقل سره و چې پلار يې (عثمان) له څه پېښې سره مخامخ شو، د ابومسلم مور وسيکه يې عيسی ته وسپارله، د هغۀ کره وزېږېد او لوی شو... ډېر ځيرک، پوه او عاقل وخوت.[۳]

عجلي کورنۍ د عباسي خلافت په اداره کې د بغداد د کرخ مشهور اميران، لښکرکښان او د تورې، قلم او فرهنګ نومیالي وو. ابومسلم د عيسی له اولادونو سره په ښوونځي کې درس ولوست، اديب او حافظ شو. دی لا کوچنی و چې ژبې او شعرونه يې زده کړل. د بني‌عجل په کور کې له عيسی سره اوسېدۀ. کله چې د عراقينو امير خالد بن‌عبدالله قسري دا عجلي امير د کوفې د پاتې خراج له امله په کوفه کې ونيو، ابومسلم هم هلته لاړ او کله به زندان ته د عيسی خدمت ته ورتۀ.[۴] په دې وخت کې د محمد بن‌علي الامام د بلونکو او مشرانو يوه ډله چې سلېمان بن‌کثير خزاعي، لاهز بن‌قريظ تميمي او قحطبه بن‌شبيب

---

[۱] - حبيب‌السير ۲/ ۱۳۵.

[۲]-البدء و التاريخ ٦ /۹۵.

[۳] - مجمل ۳۱۵.

[٤] - وفيات ٥/ ۲۸۱، طبقات ناصري ۱/ ۱۰٦ او مجمل ۳۱٦.

طايي په ګډون څو کسه خراسانيان وو، زندان ته د عيسى د پوښتنې لپاره ورغلل او د ابومسلم په خبرو او وړتياوو هک‌پک شول.[١]

له ابومسلم سره دا د خپلو هېوادوالو لومړۍ ليدنه وه، چې د کوفې په زندان کې وشوه. ابن‌اثير وايي ټولو ابومسلم وړ وګاڼه او د هغهٔ عقل، پوهې، خبرو او ادب ته ګوته پر غاښ شول. ابومسلم چې پوه شو، هغوی د عباسي خلافت بلونکي دي او د اموي واکمنۍ پای ته رسولو لپاره هلې‌ځلې کوي، نو ورسره يو ځای شو. کله چې عيسى او ورور يې ادريس د کوفې له زندانه وتښتېدل، ابومسلم له دې دوو ورونو او د خراساني بلونکو له ډلې سره مکې ته مخه کړه او هلته د ابراهيم بن‌محمد سره- چې د پلار تر مړينې وروسته د عباسيانو د بلونکو امام و- يو ځای شول. ابومسلم څه وخت د دې امام په خدمت کې پاتې شو، دا د ١٢٤ س کال شاوخوا وو.[٢]

په مکه کې د ابومسلم تم کېدل څلورو کالو ته رسېږي، ځکه هغه په ١٢٨س کال کې ١٩ کلن شوی و، چې د ابراهيم امام له خوا د مشرانو په غوښتنه خراسان ته ولېږل شو. امام ورته ليک وسپارهٔ چې خپل ټول باور يې پرې ښرګند کړ او خپل پليوني يې د هغهٔ اطاعت ته راوبلل.[٣]

ابومسلم له ادب، پوهې او ځوانې مترې سره خراسان ته راغی او ځان ته يې د هڅو او هلوځلو ډګر هوار کړ. په ١٢٩س کې د جماديالاخر په نيمايي کې له اويا مشرانو سره حج ته د تګ او د ابراهيم امام د ليدنې په اراده د خراسان دندانقان[٤] ته ورسېد، ځکه امام په يوهٔ ليک کې هغه بللی و، چې د خراسان د خلکو د احوال لپاره د هغهٔ حضور ته ورشي؛ خو هلته له کامل او ابوکامل سره مخامخ شو. د وخت د تنګسې له امله د حج له سفره تېر شو او د خپل اغېز او تبليغ د پراختيا لپاره د خراسان

---

[١] - مجمل ٣١٦.

[٢] - ابن اثير ٥/ ١١٩، وفيات ١/ ٢٨١، مجمل ٣١٦او طبري ٥/ ٥١٢.

[٣] - پورتنی اثر ٥ /١٦٥، وفيات ا/ ٢٨١، مجمل ٣١٦او طبري ٦/ ١۴.

[٤]- دَنَدانقان د مروې او سرخس تر منځ، د مروې شاهجان په لس فرسخۍ کې د شګلنو په منځ کې ښارګوټی و (مراصد ٢/ ٥٣٧)

په ښارونو لکه (نسا، قومس او مروه) کې ګرځېدۀ راګرځېدۀ. د ۱۲۹ س کال په شعبان کې د مروې فنین[۱] کلي ته ورغی چې ابوداؤد رئیس په کې واکمن و. له ابوالحکم عیسی بن‌اعین - چې د عباسیانو د مشرانو له ډلې څخه و - سره یې د خپلې موخې تبلیغ ته ملا وتړله. د همدې کال د روژې میاشتې په لومړۍ نېټه یې د مروې په سپیدنګ (سفیدنج) کې خپله بلنه په ډاګه کړه او تورې جامې یې واغوستې[۲] چې د دې بلنې نخښه وه، د خراسان غاړو څنډو ته یې خپل بلونکي او استازي په دې ډول ولېږل:

(د روژې ۲۵مه ۱۲۹س)

ابوداؤد له عمرو بن‌اعین سره تخارستان او له بلخ راکښته سیمې ته.

نضر بن‌صبیح تمیمي له شریک بن‌غضي تمیمي سره آمل او بخارا ته.

ابوعاصم عبدالرحمن بن‌سلیم تالقانو ته.

ابوجهم بن‌عطیه خوارزم ته.

موسی بن‌کعب ابیورد او نسا ته.

خازم بن‌خزیمه مروه‌رود ته.[۳]

ابومسلم د خرقان په اړوند کلي سپیدنګ کې دېره شو. د ۱۲۹س روژې په ۲۵مه د پنجشنبې په شپه یې ظل نومې توغ چې پر ۱٤ ذرعې نېزه راځړېدۀ، له

---

[۱] - فَنین: د مروې یو لوی کلی دی، چې وګړي یې فَنِي هم بولي. (مراصد)

[۲] - په مجمل کې وایي: ابومسلم لکه د شیدوس غوندې تورې جامې اغوستل غوره کړل (۳۱۵مخ) د امویانو نخښه او لباس شین و؛ ابومسلم وغوښتل چې د هغوی خلاف وکړي... تر هغه وروسته یې تورې جامې واغوستې چې برم او دبدبه یې په کې ولیده (۳۱۷مخ). بلعمي وایي ابومسلم خپلو ملګرو ته وویل چې تورې جامې واغوندي... او د خراسان ښارونو ته یې لیکونه وکښل چې تورې جامې واغوندي... د ابومسلم په امر د نساء، باورد او مروه‌رود ټولو وګړو تورې جامې واغوستې... په دې اړه سمه خبره دا ده چې امویانو شنې جامې اغوستې او شین توغ یې درلود؛ نو ابومسلم وغوښتل چې دا دود بدل کړي (د طبري ژباړه ۴ /۷۳۳) دا د تورو جامو اغوستلو دود، چې طبري هغه د اظهارالدعوة والتسوید په عبارت راوړی، د نیکونو پخواني دود ته د ابومسلم او د هغه د ملګرو ورګرځېدل او د خراساني نیکونو د آدابو را ژوندي کول وو، چې د مجمل لیکوال ورته نغوته کړې ده.

[۳] - طبري ٦/ ۳۱او الکامل ٥/ ١٦٩.

سحاب نومې توغ سره پر ۱۳ ذرعې نېزې راځړېدهٔ پورته کړ چې دواړه ابراهیم امام رالېږلي وو، تورې جامې يې واغوستې او خپلو ملګرو ته يې وويل:

«څرنګه چې تاسې مظلوم یاست او په دې لاره کې جنګېږئ؛ نو الله به برى درکړي.»[1]

ابومسلم شپه مهال په سپیدنګ کې لوى اور بل کړ او له خرقان څخه يې خپل ملګري ورته راغونډ کړل، چې دا يې د پلیونو راغونډولو نخښه وه. دا دود د ختیځ افغانستان په غرنیو خلکو او قبیلو کې ژوندى دى.

هغو استازو او بلندویانو ځورېدلي ولسونه دې نوي خوځښت ته راوبلل چې ابومسلم د خراسان څنډو ته لېږلي وو. څرنګه چې له امویانو او د هغو له چارواکو څخه د کرکې حس خپور شوى و او ولس هم غوښتل چې له هغهٔ شرم او ځورېدنې څخه ځان خلاص کړي؛ نو د ابومسلم دې بلنې ته يې د زړهٔ په مینه تود هرکلى ووایهٔ. لومړى ځل ورته د مروې د خلکو ګومارلي نهه‌سوه پلي او څلور سوه سپارهٔ کسان د سقادم له اوسېدونکو سره راغلل. د هرمزفره او نورو سیمو له خلکو څخه هم تر دوو ورځو پورې دیارلس سوه پلي او شپاړس سپارهٔ او ابوالعباس مروزي د تکبیر په نعرو سره په سپیدنګ کې د ابومسلم لښکرکوټ ته راغلل. هغهٔ د سپیدنګ‌کوټ مضبوط کړ او د کوچني اختر لمونځ يې- چې په امویانو کې دود نه و- د سلېمان بن‌کثیر په امامت ادا کړ. د ماخوان او ګیرنګ (جیرنج) په سیمو کې يې هم خندقونه او عسکري استحکامات جوړ کړل.

په دې وخت کې د خراسان اموي واکمن نصر بن‌سیار و. هغه تر اتلسو میاشتو وروسته خپل یو مریى (یزید) له لوى لښکر سره د ابومسلم د مخنیوي لپاره وګومارهٔ. هغهٔ هم مالک بن‌هیثم خزاعي او مصعب بن‌قیس له یوهٔ لښکر سره د یزید مقابلې ته ورولېږل. دواړه لوري د آلین په کلي کې سره مخامخ شول. یزید ماتې وخوړه او له اته کسانو سره ونیول شو. په داسې حال کې چې له لښکریانو څخه يې ۳٤ کسه وژل شوي وو، خو ابومسلم د یزید درملنه وکړه او هغه يې بېرته نصر سیار ته ورولېږهٔ. کله چې یزید خپل بادار ته ورسېد، د ابومسلم او د هغهٔ د ملګرو په اړه يې وویل:

---

[1] - طبري، ٦/ ٢٥ او الکامل ٥/ ١٧٠.

«د ابومسلم پلیوني لمونځونه پر خپل وخت په اذانهٔ او جمع ادا کوي، د قرآن تلاوت کوي، الله ډېر ډېر یادوي، ولس د رسول‌الله اطاعت ته رابلي؛ نو په دې ډول یې کار پرمختګ کوي. که تهٔ مې بادار نه وای؛ نو هیڅکله به راګرځېدلی نه وای او له هغهٔ سره به پاتې شوی وای.»[1]

خو خازم بن‌خزیمه د ابومسلم استازي چې مروه‌رود ته لېږل شوی و، په ګنج روستاه (ګنج رستاق) کې یې لښکر راټول کړ او د (۱۲۹س) د ذي القعدې په لومړۍ نېټه یې د مروه‌رود حاکم بشر بن‌جعفر سعدي وواژهٔ، چې د نصر بن‌سیار له خوا ګومارل شوی و او ابومسلم ته یې د هغه ځای د نیولو زېری ولېږهٔ.[2]

## د سپیدنګ او ماخوان لښکرکوټ

ابومسلم د آلین تر سوبې وروسته پر مروې او مروه‌رود لاسبری شو او ډېر وګړي پرې راټول شول. په توره کیږدۍ کې یې بې له ساتندوی او قوماندان ژوند کاوهٔ، خلکو به ورته په درنه سترګه کتل او ویل به یې چې هغه د بني‌هاشمو[3] یو نومیالی دی، چې د زغم، درنښت او آرامۍ څښتن دی. ابومسلم د ۱۲۹س کال په وروستیو

---

[1] - طبري ۶/ ۲۸ او الکامل ۵- ۱۷۱.

[3] - د ابومسلم په نسب کې د تاریخ د زیاترو پهلوانانو په څېر هېښنده داستانونه جعلي راوړل شوي او دا چې وګړو هغه له بني‌هاشمو څخه ګڼلی، ښایي ځینو پلیونو یې د بني‌هاشمو د پلویانو د همکارۍ راجلبولو لپاره په هماغه وخت کې جعل دود کړي وي، ابن اثیر وایي: ابومسلم د سلیط بن عبدالله بن عباس له اولاده ګڼل شوی او دا سلیط د هغې وینځې له نسه و، چې د هغې د حمل نسبت یې عبدالله بن عباس ته کړی دی. داسې چې ولید ابن عبدالملک اموي سلیط د عبدالله بن عباس د میراث په وېش کې وخښماوهٔ، هغه د دمشق قاضي په مخکې د علي بن عبدالله بن عباس سره دعوه وکړه، چې د عبدالله زوی دی. سلیط ته د ابومسلم د نسبت دا داستان دومره مشهور شو، چې کله عباسي خلیفه منصور ابومسلم واژهٔ، همدا انتساب یې د هغهٔ جرم وګاڼهٔ، چې له امله یې ووژل شو (طبري ۶ /۱۳۷ او الکامل ۶/ ۱۲۱) خو بني‌هاشمو ته د هغهٔ د نسبت په اړه په خپله ابو مسلم چوپ و. لکه طبري او ابن اثیر وایي په ۱۲۹س کې کله چې ابومسلم د آلین په لښکرکوټ کې مېشت و، د مروې پرهېزګار ځوانان هغهٔ ته راغلل او د هغهٔ د نسب پوښتنه یې ځنې وکړه، ابومسلم ځواب ورکړ:

«خبری خیرالکم من نسبی» یعنې تاسو ته زما پیغام زما تر نسبه غوره دی. (طبري ۶/ ۳۲ او الکامل ۵/ ۱۷۴). که چېرته ابومسلم په خپله د دې انتساب پلوي وای؛ نو هرومرو به یې دا څرګند کړی وای.

کې نضر بن‌نعیم ضبي هرات ته واستاوهٔ، چې هلته د اموي واکمن نصر سیار له خوا عیسی بن‌عقیل لیثي حاکم و. نضر هرات ونیو او عیسی، نصر سیار ته وروتښتېدهٔ. په دې ډول پر هرات او مروه د ابومسلم ولکه ټینګه شوه.

په دې وخت کې په خراسان کې دوه کسه پیاوړي امیران وو: یو شیبان بن‌سلمه سدوسي حروري و، هغه په مروه کې و او د اموي والي نصر بن‌سیار پر ضد جنګېدهٔ او له ځواکمنو خوارجو څخه ګڼل کېدهٔ. بل جدیع بن‌علي کرمانی په مروه کې ناست و، چې دواړه د خراسان د اموي والي نصر بن‌سیار سیالان وو او هغهٔ ته یې غاړه نه ایښوده. ابومسلم له دې دوو کسانو سره جوړ جاړی وکړ، چې د هغو په وسیله د اموي حاکم سر وچقوي. څرنګه چې په دې وخت کې د ابومسلم لښکر ډېر و او د سپیدنګ په لښکرکوټ کې‌نه ځایېدهٔ؛ نو په سپیدنګ کې تر۴۲ ورځو تمېدو وروسته یې د ۱۲۹س کال د ذوالقعدې په۲۱مه د چارشنبې‌په ورځ خپل لښکرکوټ ماخوان ته ولېږداوهٔ او د ابواسحق خالد بن‌عثمان کره دېره شو. د لښکر لپاره یې خندق وکیندهٔ، چې یوې غاړې ته یې مصعب بن‌قیس حنفي او بهدل بن‌ایاس ضبي پېره کوله او بلې غاړې ته یې ابوشراحیل او ابوعمرو اعجمي ګومارل شوي وو. لښکرمشر ابونصر مالک بن‌هیثم او د ساتندویانو قوماندان ابواسحاق خالد بن‌عثمان و. لښکردفتر کامل بن‌مظفر او د تحریراتو دفتر یې اسلم بن‌صبیح اداره کاوهٔ. قضایي چارې یې تمیمي مشر قاسم بن‌مجاشع ته سپارلې وې، چې مازیګر مهال به یې لښکریانو ته پر امویانو باندې د بني‌هاشمو د غوراوي تبلیغ کاوهٔ او د جمعې لمونځ به یې ورکاوهٔ. داؤد بن‌کراز مالیات راغونډول او د لښکر دفتر په وسیله یې خپلو اووه‌و زرو لښکریانو ته لومړی درې درې او بیا څلور څلور درهمه ورکول.[1]

ابومسلم په حقیقت کې د اموي ولکې پر ضد مقابله کوله؛ خو د نوموړو دوو کسانو یعنې

---

[1] - طبري ۶/ ۳۴او الکامل ۵/ ۱۷۵.

شیبان او جدیع تر منځ هم یو خنډ و، چې کله به یې د اموي حاکم نصر سیار سره اختلاف او کله هم موافقه کوله. نو ابومسلم جدیع په ۱۲۹س کال او شیبان په ۱۳۰س کې له منځه یووړ[1] او اوس یواځې له نصر سیار سره مخامخ شو.

## د خطر اعلان

د مجمل مؤلف لیکي: نو له نصر بن‌سیار او ابن‌الکرماني سره پېښې او جنګونه وو، چې نصر یې له خراسانه وایست او بیا یې ابن‌الکرماني وواژهٔ... نصر بن‌سیار (طبري او ابن‌اثیر وايي: د ابومسلم له راوړاندې کېدو او د هغه د پلیونو له ډېرېدو وویرېد) او اموي پاچاه مروان ته یې د دې خبر په اړه لیک وکېښ او دا بیت یې په کې وکښهٔ:

أری جـذعاً أن یـثن لم یقـوریض علیه، فبادر! قبل أن یثنـی الجـذع[2]

« کوچنی غونډاری وینم، د اېلولو هڅه یې وکړه، ځکه که لوی شي د هیچا به پرې زور ونه رسېږي.»

کله چې مروان لیک ولوست، د هغه په اړه یې هیڅ سوچ ونه کړ، له خوارجو او نورو سره په جنګونو او شخړو بوخت و، هیڅ ځواب یې ورنه کړ. څرنګه چې له بریده ووت او وخت په وخت یې په ډاګه بلنې پیل کړې، نصر بل ځل دا بیتونه وویل، په لیک کې یې وکښل او مروان ته یې واستول:

اری بـین الرّمـاد ومـیض جمـر فـأحج بـأن یکـون لـه ضرام[3]
فـإنّ النّـار بـالعودین تـذکی و إنّ‌الحـرب مبـدؤها کـلام[4]

---

[1] - الأعلام ۲/ ۱۰۴ او ۳/ ۲۶۲.

[2] - جَذَع دوه کلن پسهٔ او خوسکي، درې کلن اس او پنځهٔ کلن اوښ ته وايي. اثنی البعیر شپږم کال ته د اوښ داخلېدل، ریض یا رایض راموونکی (منتهي‌الارب) په ابن‌خلکانکې ریض او په مجمل کې رایض دی.

[3] - رماد: ایره- ومیض: لږه برېښنا- جمر: بل اور- ضرام: لمبه او سوځېدل د طبري متن دی. الکامل: اری بین الرماد و میض نار- و اخشی أن یکون. مجمل: اری خلل الرماد و میض جمر و یوشک أن یکون. الفخري او مسعودي: اری بین الرماد و میض نار- و یوشک أن یکون. تاریخ یعقوبي: اری بین الرماد و میض جمر-و یوشک أن یکون له ضرام. ابن خلکان: اری خلل الرماد میض نار- و یوشک أن یکون لها ضرام.

[4] - د طبري او الکامل په متن کې داسې دی: الفخري و مسعودي نور کلمات لکه طبري -الحرب اولها- خو په مجمل کې فان‌النار بالزندین توری- و أن الحرب یبعثها کلام، په ابن‌خلکانکې لومړی مصرعه د مجمل غوندې ده- الحرب اولها- تاریخ یعقوبي: فان النار بالعودین توری- و أن الفعل یقدمه الکلام، عود د لرګي په معنی او تذکی د بلېږي په معنی. توری: وارخطایي او بېره کوي. په هغه صورت کې چې د لومړی مصرعې کلمه د مجمل، ابن‌خلکاناو ګزیده د وینا له مخه زندین ووایو، د مروې په درې فرسخۍ کې به د ځای نوم وي، چې ابن‌خلکانهغه د ابومسلم د پلار بنداد هرمز ټاټوبی ګڼلی دی؛ خو په چاپ نسخه کې فریدین چاپ شوی (وفیات ۱/ ۲۸۰) چې دومره د باور وړ نه دی. ګومان کېږي، چې سم به یې زندین وي، چې د دې بیت په لومړی مصرعه کې په درې روایتونو راغلی دی. د یاقوت د وینا له مخه زَندان په مروه کې یو کلی و (معجم‌البلدان۲/ ۱۵۳) چې ښایي د دې زندین اوښتې بڼه وي.

فـإن لم يطفهـا عقـلاء قـوم    يكـون وقودهـا جثـث و هـام[1]
فقلت من التّعجّب ليت شعري    أيقـــاظ أُميّـــة أم نيـــام[2]
فـان يـک قومنـا اضـحوا نيامـاً    فقـل: قومـوا فقـد حـان القيـام[3]

«۱- زه په ايرو کې سرې سکروټې وينم، داسې وګڼه چې دا اور بلې لمبې هم لري، ۲- ځکه اور پر دوو لرګيو لا ښۀ لګي او د جنګ پيل، خبرې دي. يا اور په زندين کې التهابي شوی او د جنګ پيل، خبرې دي، ۳- که د قوم پوهان يې مړ نه کړي، پياوړي بدنونه به يې لرګي وي، ٤- کاشکې پوه شوی وای چې امويان ويدۀ دي که وينښ؟ ٥- که زموږ قوم سهار مهال ويدۀ وي، هغو ته ووايه چې پاڅېږئ چې د پاڅون وخت راورسېد.»

څرنګه چې د نصر بن‌سيار د خطر دا اعلام اموي امير مروان ته ورسېد، هغه له خوارجو او نورو سره په جنګونو کې سخت ښکېل و او خراسان ته يې لښکر ونه لېږلای شو؛ خو د نصر په ځواب کې يې يواځې همدومره وکښل:

«هغه څه چې د پېښې شاهد ويني، غايب يې نۀشي ليدای، هر ډول چې کولای شې د دې درد چاره وکړه.»

[1] - دا بيت په طبري، ابن اثير، مجمل او تاريخ يعقوبي کې نشته، په الفخري کې د متن په څېر دی. مسعودي: فان لم تطفئوها تجن حرباً- مشمرة يشيب لها الغلام. ابن خلکان: لئن لم يطفها الخ؛ خو جثث او هام د څربو او پياوړو بدنونو په معنی دي (منتهي‌الارب).

[2] - د طبري، ابن اثير او فخري روايتونه د متن په څېر دي؛ خو په تاريخ يعقوبي، مجمل، ابن‌خلکاناو مسعودي کې اقول من التعجب الخ دی.

[3] - دا بيت په نورو مأخذونو کې نشته او يواځې مسعودي راوړی دی (مروج‌الذهب ۳/ ۱۷۰).

کله چې د اموي دربار دا ځواب نصر ته راورسېد خپلو ملګرو ته یې وویل:
ستاسو د بادار له دې ځوابه ښکاري چې برى به يې په برخه نه وي.[1]

نصر بن‌سیار په خراسان کې د خپل سیال ځواکونه لیدل او له بلې خوا د اموي دربار په کمزورۍ هم پوهېدهٔ چې مروان ورسره مرسته نهٔشي کولای. چې د دربار له مستقیمې مرستې نهیلی شو، د خراسان د وضعې او د ابومسلم د راڅرګندېدا خبر یې د عراق اموي حاکم یزید بن‌عمرو بن‌هبیره فزاري ته ورکړ او د خراسان د خطرناکې اوضاع په اړه یې دا بیتونه وکښل او بیا یې د خطر اعلان وکړ:

أبلغ يزيد وخير القول أصدقه[2] وقد تبينت أن لا خير في الكـذب
أنّ خراسان أرض قد رأيت بها بيضاً لو افرخ قد حدّثت بالعجب
فـراخ عــامين إلا أنّهـا كـبرت لمّـا يطـرن وقـد سربلـن بالزّغـب
فان يطرن ولم يحتل لهن[3] بهـا يلهـبن نـيران حـرب ايمـا لهـب

« رښتیا خبره چې غوره ده یزید ته ورسوئ، ځکه په دروغو کې خیر نهٔشته. خراسان یوه سیمه ده چې په هغې کې مې هګۍ لیدلي دي، که بچي راوړي، نو هک‌پک به شې او که دا بچي لوی شي، بڼکې پرې راوخېژي او والوځي او مخنیوی یې ونهٔشي؛ نو د جنګ سختې غرغندې به پورته شي.»

په دې ډول اموي واکمن نصر بن‌سیار د ابومسلم او د هغهٔ د ورځ تر بلې زیاتېدونکي ځواک مخې ته ونه درېدای شو. ابومسلم د ۱۳۰س د جماديالاخر پر ۲۱مه د پنجشنبې په ورځ د مروې په ښار کې، چې د خراسان مرکز و کښته شو. نصر تر څه مقاومت وروسته له مروې وتښتېد او د ۱۳۱س په ربیع‌الأول کې همدان ته

---

[1] - طبري٦/ ٣٢، الکامل ٥/ ١٧٤، تاریخ یعقوبي ٢/ ٣٤١، مجمل ٣١٦، الفخري ١٢٩ او وفیات ١ /٢٨٢.
[2] - دا بیتونه په طبري ٦/ ٣٧، مروج‌الذهب مسعودي ٣ /١٧١ او الکامل ٥/ ١٧٤ کې په لږ توپیر راغلي دي او هغه څه چې په متن کې دي، د طبري دي. د مسعودي مخالف روایت دا دی:
بأن أرض خراسان رأيت بها. ابن اثیر: و قد تيقنت... وروستی بیت: الا تدارک بخیل‌الله معلمة- الهبن نيران الخ. بیض: هګۍ، لو افرخ: که بچي راوړي. سر بله: کمیس یې ورواغوست. زغب: د چرګوړي (یا هر بچي) په بدن کوچنۍ ژېړې بڼکې راټوکېدل. حتل: سیال او بډ (منتهي‌الأرب).
[3] - په اصل کې (لهمن) دی.

نږدې په ساوه نومې سیمه کې په ناکامۍ ومړ.

په همدې ۱۳۰س کال موسی بن‌کعب د ابومسلم له خوا ابیورد (باورد) ته ولیږل شو او هغه ځای یې ونیو. ابوداؤد خالد یې د بلخ نیولو لپاره وګومارهٔ چې هلته زیاد بن‌عبدالرحمن قشیري حاکم و. هغه د بلخ، ترمذ او تخارستان له خلکو سره د ابوداؤد مقابلې ته جوزجان ته ورغی؛ خو ماتې یې وخوړه، ترمذ ته وتښتېد او بلخ د ابوداؤد لاس ته ورغی. په دې جنګ کې د جدیع کرماني دوه زامن عثمان او علي ووژل شول. کله چې ټول خراسان د ابومسلم لاس ته ورغی، هغه شاوخوا ته خپل مامورین په دې تفصیل سره ولیږل:

سباع بن‌نعمان ازدي سمرقند ته.

ابوداؤد خالد بن‌ابراهیم تخارستان ته.

محمد بن‌اشعث طبسین او پارس ته.

مالک بن‌هیثم د امنیې قوماندان.

قحطبه بن‌شبیب له ابوعون عبدالملک بن‌یزید، مقاتل بن‌حکیم عکي، خالد بن‌برمک بلخي، خازم بن‌خزیمه، منذر بن‌عبدالرحمن او نورو سره طوس ته.

قاسم بن‌مجاشع نیشاپور ته.

د ابومسلم ځواکونو د خراسان په لوېدیځو څنډو کې پرمختګ وکړ، قحطبه "ری" ښار ونیو. په ۱۳۱س کې ابومسلم په خپله له مروې نیشاپور ته راغی او د قحطبه ځواکونو تر اصفهان، همدان او نهاوند پورې پرمختګ وکړ. ابوعون عبدالملک بن‌یزید خراساني او مالک بن‌طریف خراساني له خپلو څلورو زرو ځواکونو سره د ۱۳۲س په محرم کې زورښار ونیو او د قحطبه لښکریان د دجلې او فرات څنډو ته ورسېدل. څرنګه چې قحطبه په دې نیولو رانیولو کې ووژل شو یا په دجلې سیند کې ډوب شو، خراسانیانو یې زوی حسن امیر کړ. هغهٔ په ۱۳۲س کې کوفه د محمد بن‌خالد په مرسته ونیوه. د قحطبه بل زوی (حمید) مداین او د هغهٔ شاوخوا ونیول. ابوسلمه‌حفص بن‌سلېمان خلال (د آل‌محمد په

وزیر مشهور) هم له خراسانیانو سره یو ځای شو. په دې ډول خراسانیانو د ټول خراسان، پارس او د دجلې او فرات سیمو واګې تر لاسه کړې او اموي دربار یې ولړزاوه.[1]

[1] -طبري تر ٦/ ٤٣ وروسته، ابن اثیر تر ٥ / ١٧٩ وروسته، مجمل ٣١٨، مروج‌الذهب ٣ / ١٧٢، تاریخ یعقوبي تر ٢/ ٣٤٠ وروسته.

# ۳- عباسیان او د عباسي خلافت اعلان

## د ابومسلم په زيار

په ابن‌طقطقي مشهور محمد بن‌علي په آداب‌السلطانيه (۷۰۱س تألیف) کې کښي:

«حضرت پېغامبر يو مهال د بني‌هاشم دولت د جوړېدو زېری وکړ او خپل تره عباس ته يې وويل چې دا به ستا په اولاده کې وي. کله چې يې زوی عبدالله وزېږېد او هغه يې عباس ته وروړ، په غوږ کې يې ورته اذان وکړ او ويې ويل:

«يا الله ده ته د دين علم او د تأويل پوهه ورکړه، چې دا به د پاچاهانو پلار وي.»

له دې روايته وګړي دا ګڼي چې د عباسي دولت زېری حضرت پېغامبر کړی و؛ نو څکه اموي دولت د خلکو له پامه سپک، رټلی او په ګناهونو او بديو ککړ و. محمد بن‌علي بن‌ابي طالب (ابن‌حنفيه)[1] يې د خپل ورور حسين تر شهادت وروسته د هغهٔ دولت څښتن ګاڼهٔ چې پېغامبر يې زېری ورکړی و.

کله چې محمد بن‌حنفيه ومړ خپل زوی ابوهاشم عبدالله ته يې په دې اړه وصيت وکړ، هغه په دمشق کې له هشام بن‌عبدالملک اموي سره مخامخ شو. هشام چې د هغهٔ د علم، مشرۍ او فصاحت مقام وليد، ترې وويرېدهٔ؛ نو په شيدو کې يې زهر ورکړل. وايي کله چې عبدالله پوه شو چې زه به مړ شم؛ نو د شام په حميمه کې محمد بن‌علي بن‌عبدالله بن‌عباس ته ورغی او هغهٔ ته يې د خپلې ډلې د يوهٔ ټولي په مخ کې د خلافت وصيت وکړ او په خپله مړ شو.

تر دې وروسته محمد بن‌علي عباسي د خلافت دعوه وکړه، هر لور ته يې پټ

---

[1]- د مصر په چاپ الفخري کې په تېروتنې سره پرله‌پسې ابن‌حنيفه چاپ شوی دی، چې سم يې ابن حنفيه دی، خوله بنت جعفر الحنفيه خپلې مور ته منسوب، چې زوکړه يې په ۲۱س او مړينه يې په ۸۱س کې ده (الأعلام ۷/ ۱۵۲).

بلونکي ولېږل او دې کار ته یې تر مرګه دوام ورکړ. زامن یې ابراهیم، سفاح او منصور وو. د پلار تر مړینې وروسته د هغهٔ پر ځای ابراهیم امام کښېناست. خپل بلونکي یې هر لور په تېره خراسان ته ولېږل، ځکه پر دې خلکو یې باور درلود او تل به یې ویل: د پیغامبر د اهل‌بیتو په پلوی به تور توغونه له خراسانه راوځي. کله چې هغهٔ خپل بلونکي خراسان ته ولېږل، خراسانیانو او دهقانانو په پټه د هغو بلنه ومنله، چې په پای کې ابومسلم هلته ورسېد. په داسې حال کې چې ابراهیم امام په حجاز او شام کې پر خپله مصلی ناست و او چا ته یې مال، وسله او سپرلۍ ورنه کړلې، خراسانیان د هغهٔ لپاره وجنګېدل او د خراج مالونه یې ورته ورولېږل.

کله چې ابومسلم په خراسان کې ځواکمن شو او پر عراق یې لښکر ورمارش کړ، مروان اموي په حران کې ابراهیم امام ونیو او ورونه یې سفاح او منصور د خپلوانو او ملګرو له یوې ډلې سره په کوفه کې ابوسلمه حفص بن‌سلېمان خلال - چې د شیعه‌وو مشر و- ته وروتښتېدل. بوسلمه په کوفه کې هغوی ته په خپل کور کې ځای ورکړ او د آل‌محمد شیعیان پرې راټول شول. تر هغهٔ چې ابومسلم خپل لښکر له خراسانه کوفې ته ولېږهٔ او سفاح یې د هغهٔ له شیعیانو سره د کوفې جامع جومات ته بوت او هلته یې په ۱۳۲س کې ورسره د خلافت بیعت وکړ.»[۱]

دا و د پېښې لنډ بهیر چې ابن‌طقطقي ورته نغوته کړې ده. له هغهٔ څخه روښانېږي چې د عباسیانو د دولت بنسټ د خراسانیانو او ابومسلم په لاس ایښودل شوی دی. ون‌فلوتن دا وضع په ډېرو لنډو الفاظو کې ښه انځور کړې ده، وایي:

له هرې خوا ډلې ډلې له ابومسلم سره یو ځای شول، د هرات، پوشنج، مروه‌رود، تالقانو، مروې، نیشاپور، سرخس، بلخ، چغانیانو، تخارستان، ختل، کش، نخشب، له هر لورې څخه د هغهٔ ملاتړ ته راتلل. ټولو تورې جامې اغوستې وې، توروزمه کوړخونه او ګورزونه یې په لاسو کې وو، چې ویل یې کافرځپونکي دي.[۲] ځینې خلک به په اسونو او نور به په خرو

---

[۱] -الفخري تر ۱۲۸وروسته او زین‌الأخبار ۷۱مه الف پاڼه.

[۲] - تاریخ ادبی ایران، پارسي ژباړه ۱/ ۳۵۵، دینوري په اخبارالطوال ۳۶۰ مخ کې کافرکوبات خوندي کړی دی او کافرکوب یا کافرکش اصطلاح د شلمې پېړۍ تر لومړیو پورې په کندهار کې کارېده. د خپلواکۍ په جنګ ۱۹۱۹ز کې

سپارۀ راتلل. خپلو خرو ته به يې رغ کاوۀ او د مروان په نامـۀ بـه يـې يـادول - څکـه د دوهـم مروان لقب الحمار و- شمېر يې سل زره کسه و.[1]

نو له امويانو څخه عباسيانو ته خلافت لېږدوونکي فعال او لوی کارکوونکي دوه کسه وو: يو په خراسان کې ابومسلم و چې "امين آل‌محمد" يې بالۀ او بل په کوفه کې ابوسلمه خلال همدانی و، چې هغۀ "وزير آل‌محمد" نومل شوی و.[2]

ابومسلم په خراسان کې پاڅون وکړ، د هغۀ لښکريان د اموي دربار له کارکوونکو سره له تخارستان او سمرقنده د کوفې تر دروازو پورې وجنګېدل او د امويانو د ځواک ټغر يې ټول کړ. په داسې حال کې چې ابوسلمه د کوفې په ښار کې د کار بنسټ ايښی و او د ۱۳۲س د ربيع‌الأول په لسمه= ۷۴۹ ز د اکتوبر پر ۳۰ مه د جمعې په ورځ يې له ابوالعباس عبدالله سفاح بن‌محمد بن‌علي بن‌عبدالله بن‌عباس سره بيعت وکړ او د عباسيانو د خلافت پېر پيل شو.

---

وګړو خپلې وسلې ته کافرکشه ويله. ون‌فلوتن دا کافرکوب نيمه تور کوږخ ګڼلی دی؛ خو د کندهاريانو کافرکش ته په کتنې بايد د تبر يو ډول وي. په هغو داستانونو کې چې په پارسي او ترکي کې د (ابومسلم نامه) په نامۀ له بېلابېلو داستان ويونکو څخه شته او ابومسلم يې په کې د اتل په بڼه راوړی دی او له ماوراءالنهر تر استانبول پورې د وګړو په عامو غونډو کې په مينه او لېوالتيا سره اورېدل کېږي، ابومسلم يې خراسانی او د هغه وسله يې يو ډول تبر ګڼلی دی. ان په ترکيه کې اخيانو او بکتاشي ملنګانو د ابومسلم دا تبر د خپلو ډلو د نخښو په ډول د خانقاوو پر دېوالونو انځوراوۀ او ګروهمند وو، چې حضرت‌محمد ﷺ ابومسلم ته په خوب کې د تبر جوړولو امر کړی و او تر څه وخت وروسته همدا تبر اخي خردک جوړ کړ. ځينو بکتاشي ملنګانو او مېړنيو د اناطولېې او عثماني خلافت د خاورې دننه په خپلو کمربندونو کې کوچني تبرونه درلودل، چې هغه يې د ابومسلم تبر بالۀ (وګ د خراسان تبر لرونکی ابومسلم، د ډاکټر مېرمن مليکوف کتاب، په فرانسوي ژبه، د پاريس چاپ، ۱۹۶۲م.) دې داستانونو او په اخيانو او بکتاشيانو کې د ابومسلم د تبر د نخښې شتون ته په کتنې بايد وويل شي، چې کافرکوب تبر و، نه کوږخ (چقماق) ټوپک.

[1] - تاريخ ادبی ايران، د براون، پارسي ژباړه ۱/ ۳۵۵ د ون‌فلوتن د کتاب (د عربو د ولکې په اړه څېړنه) په حواله چې هغه هم د دينوري د اخبارالطوال په حواله راخيستی دی.

[2] - طبري، ٦/ ۱۰۳ او آثارالوزراء ۳۰.

هغه انقلاب چې ابومسلم رامنځ ته کړ او عباسیان یې پاچاهي پلاز ته ورسول، په خراسان کې د هغهٔ خوځښت پیلامه شوه چې د عربي لاسبري ټغر یې ټول کړ. تر دې وروسته د دې ملي خوځښتونو لمنه په خراسان کې تر هغهٔ مهاله وینو چې د پوشنګي طاهریانو په وسیله دلته د یوهٔ ملي حکومت بنسټ ایښودل کیږي. دا ټول خوځښتونه او پاڅونونه د دې لپاره وو، چې خراسانیان د تازیانو له ولکې څخه خلاص شي. ان عباسي ابراهیم امام چې په خپله د عربو هاشمي مشر و، څرنګه چې یې دلته عرب ضد روحیه لیدله، نو یو ځل یې ابومسلم ته په یوهٔ لیک کې وکښل چې: «په خراسان کې ټول عربي ژبي ووژني»[1] اډوارډ براون وایي د دې ملي خوځښتونو پایله دا شوه: هغه قوم چې تابع او خراج ورکوونکی و، کرکه ترې کېده او سپکاوی یې کېدهٔ، سم له واره د دې انقلاب له امله د ذلت له کندې د عزت څوکې ته وخوت او د واکمنۍ تر ټولو لوړو او اغېزناکو دندو او د قوماندې مقاماتو ته ورسېد.[2] د عباسیانو په پېر کې د خراسانیانو اغېز دومره و، چې ابوریحان البېروني عباسیانو ته خراسانیان او دې لړۍ ته د ختیځ خلیفه‌ګان وایي.[3] د امویانو د لاسبري د تمبولو لپاره له کوفې بهر او دننه دوو کسانو کار کاوهٔ، له بهره ابومسلم او د هغهٔ فکري او لښکري اغېز و، چې کوفې ته یې پام شو؛ خو د پلازمېنې دننه هم خالد بن‌برمک (د برمکي کورنۍ نیکهٔ) له ډېرې پانګې، ځیرکۍ او کارپوهۍ سره موجود و، چې د خپل هېوادوال ابومسلم له فکر سره مل و او له خپلو ورونو سره یې د عباسیانو په ملاتړ کار کاوهٔ.[4]

څرنګه چې خالد بن‌برمک د اموي دربار له نومیالیو او زړورو لښکرمشرانو او لښکرکښانو څخه و؛ عباسیانو او د محمدﷺکورنۍ ته د خلافت په لېږد کې یې لېوالتیا ډېر اهمیت درلود، نو هغه یې هم د عباسیانو د خلافت له بنسټګرانو څخه ګڼلی دی. په دې اړه عبدالجلیل یزدي له ابوالقاسم بن‌غسان څخه روایت کوي:

---

[1] - طبري ٦ /٧٩.

[2] - تاریخ ادبی ایران ١ /٣٦٠.

[3] - پورتنی کتاب، د آثارالباقیه په حواله.

[4] - برمکیان ٥٠.

خالد برمکي په بخښنې، سخا، ژمنتيا او وفا کې د نړيوالو مخکښ و... د خلافت په مرکز کې د عباسيانو د دولت بنسټ هغهٔ کښېښود»[1]

ومو ويل چې د نبوي کورنۍ وزير ابوسلمه خلال په کوفه کې د عباسيانو د خلافت ټينګوونکی و، خو دې همداني سړي د کوفيانو په منځ کې هومره لاس نه درلود، چې په خپله دا کار وکړي او يا دا چې په هغهٔ عربي ښار کې خراساني برلاسی دومره پياوړی او ټينګ و، چې ابوسلمه د ابومسلم لمنه ونيوله، ځکه نو موږ د خبرې سر د لومړي ساماني منصور (۳۲۵-۲۲۹س) په وزير ابوعلی محمد بلعمي پورې نښلوو، چې د دې دورې اوضاع د طبري د معتبر تاريخ په حواله څرنګه روښانوي؟:

«او د ابومسلم کار هره ورځ مخته روان و، د ټولو خلکو په زړونو کې د هغهٔ وېره ولوېده او ورسره ملګري شول. ايدون وايي په منبرونو چې به يې خطبه ويله نو ويل به يې: اللهم اصلح الامير امين آل محمد ﷺ... وګړي په خراسان کې پر ابومسلم راټول شول، د هغهٔ امر ته يې غاړه کښېښوده او خراج يې هغه ته ورکاوهٔ... حسن بن قحطبه کوفې ته تر دېرشو زرو له زياتو کسانو سره ننووت. ابوسلمه بن حفص بن سليمان الخلال - چې د نبوي کورنۍ وزير يې باله - هم هلته و. ابوسلمه د قحطبه زوی ته ورنږدې شو، حسن چې هغه وليد، پاڅېد... ابوسلمه کښېناست او حسن هم ورسره کښېناست، امر يې وکړ، وګړي دې جومات کې ورته راټول شول. هيڅ مشر او هاشمي نه و، چې په هغه ورځ په جامع جومات کې حاضر نه و. وګړي پوه نه شول چې هغوی د څه لپاره راټولوي او څه به کوي؟... په کوفه کې په هغې ورځ د علويانو يوه ډله وه،

---

[1] - تواريخ آل برمک، د عبدالجليل يزدي، د ۷۶۲س تأليف، دويم ټوک، منتخب ادبيات ايران ۱- ۵۴.

ځینـو داسـې وانګېرلـه چـې د ابوطالـب د اولادې د بیعـت لپـاره ده؛ نـو ابوسلمه دریځ ته ورپورته شو، خطبه یې وویلـه، د الله ثنـا او سـتاینه یـې وکړه او ویې ویل: ای خلکو هیڅ کس داسې نه چې نـه وسـلې تـه لاس کولای، نه پر سپرلی سپرېدلای او نه تورې جامې اغوستلای شي او سبا جومات ته راشي چې له هغه چا سره چې وړ یې وي بیعـت وکـړو، نـو د ابوطالب اولاده نهیلې شـوه، وګـړي بېرتـه کورونـو تـه سـتانۀ شـول، تـور توغونـه یـې جـوړ کـړل، شـپه لا نـه وه راغلـې چـې ټولـو تـورې جـامې اغوستې وې، وګړي جومات ته راغلل، ډولونـه یـې ووهـل، توغونـه یـې هسک او د تکبیرونو ږغونه یې پورته کـړل. د آل‌محمـد وزیـر ابوسـلمه دریځ ته وخوت، د الله عزوجل ثنا یې وویلـه، پـر رسـول‌اللهﷺ یـې درود ووایۀ، بیا یې وویل ای مسلمانانو! هغه څه چې زه یـې کـوم تاسـو راسره ملګري یاست؟ ویې ویل، څه ویل غواړئ؟ ووایاست. ابوسلمه وویل:

د آل‌محمدﷺ آمین ابومسلم عبدالرحمن لیک راستولی او ما ته یـې امر کړی دی، چې له بني‌هاشمو څخـه یـو خلیفـه وټاکـه، چـې وګـړي د امویانو له ځور و ظلم څخـه خـلاص شي. مـا د بني‌هاشـمو ژوندلیکونـه وکتل؛ خو تر عبدالله بن‌محمد بن‌عباس مې هیڅ مهـم او غـوره کـس پـه کې ونه لیدۀ. دی تر ټولو پوه او نېک دی، ما غوره کړ؛ نو تاسو یـې هـم غوره کړئ. هغـوی وویـل ډېـره ښـه ده، ښـه کـار دې کـړی دی، الله دې درته اجر درکړي، زموږ کار ستا د کار تابع دی. خلکو تکبیرونـه وویـل، ابوسلمه څوک ولېږۀ او ابوالعباس بن‌محمد یې راوست. هغه په اوښه سـپور راغی، توره پګړی یې تړلې وه او تورې جامې یې اغوستې وې. د جُمعې ورځ وه، جومات ته راننـووت، امـر یـې وکـړ مؤذنـانو د لمانځۀ اذانونـه وکـړل. بیـا

ابوالعباس بن‌محمد دریځ ته جګ شو، د الله ثنا یې وویله، پر پېغامبرﷺ یې درود ووایهٔ، خطبه یې پیل کړه او بیا یې وویل:

الله عزوجل په خراسان کې زموږ ډله وګومارلهٔ، چې زموږ پر قدر پوه شو او زموږ کینه یې سره کړه... بیا له دریځه راکوز او مخکې شو د جُمعې لمونځ یې ورکړ. چې له لمانځهٔ راوګرځېد، کښېناست او خلکو ورسره بیعت وکړ، د هجرت ۱۳۲س کال او د ربیع‌الأول لسمه وه. دا د عباس رضي الله عنه[1] د کورنۍ لومړنی خلیفه‌توب و.»

په داسې حال کې چې ټول خراسان او پارس تر کوفې پورې له اموي هېواده جلا شوي وو، د ابومسلم په زیار په کوفه کې د عباسي خلافت بنسټ کښېښودل شو. وروسته د ۱۳۲س دجمادي‌الاخر په ۱۱د شنبې په ورځ د امویانو وروستي پاچاه مروان حمار موصل ته نږدې په زاب کې د خراسانیانو له لاسه ماتې وخوړه، د مصر بوصیر صعید ته وتښتېد، هلته د ۱۳۲س د ذولحجې په ۲۷ مه د یکشنبې په ورځ ووژل شو او په دې ډول د امویانو د امارت دوره پای ته ورسېده. په داسې حال کې چې ابراهیم امام بن‌محمد هم پر همدې کال د امویانو په زندان کې وژل شوی او یا مړ و.[2]

[1] - تاریخ طبري، د بلعمي، پارسي ژباړه ۴/ ۷۳۶ د کانپور د نولکشور چاپ، ۱۹۱۶ز.

[2] - طبري ۶ /۹۱.

## ۴- ابومسلم په خراسان کې

د امويانو د ړنګر په ړولولو او د عباسيانو په رامنځ ته کولو ابومسلم خپلو هيلو ته نه و رسېدلی او د خراسان د بشپړې خپلواکۍ لپاره د هغهٔ نقشه تر اوسه نيمګړې وه.

لومړني عباسي پاچاه سفاح له هماغې لومړۍ ورځې په اسلامي نړۍ کې د ابومسلم لوی اغېز ته د شک په سترګه کتل او هغه يې خپل يواځينی سيال ګاڼهٔ. پر دې سربېره ځواکمن وزير ابوسلمه خلال چې سفاح يې د خلافت پر ګدۍ کښېنولی و، په کوفه کې په شان ـ شوکت او قوت سره اوسېدهٔ. په دربار او د خلافت په چارو کې يې پوخ لاس درلود، د سفاح ورسره زړهٔ بداوی پيدا شوی و؛ نو غوښتل يې چې دا دوه پياوړي کسان له مخه لرې کړي؛ خو تر دغه مهاله لا د عباسيانو نوی دولت نه و ارام شوی او سفاح د اموي دولت له پاتې شونو سره په جنګ جګړه بوخت و. ابن‌طقطقي وايي څرنګه چې د عباسي دولت بنسټ په چل‌ول او درغلۍ ايښودل شوی و،[1] سفاح خپل ورور ابوجعفر منصور پر همدې ۱۳۲س کال په خراسان کې ابومسلم ته ورولېږهٔ او د بلعمي د وينا له مخه:

«کله چې ابوالعباس د شام له کاره وزګار شو، خپل ورور ابوجعفر يې راوغوښت او ورته ويې ويل: خراسان ته لاړ شه او له خراسانيانو سره کلک بيعت وکړه، له ابومسلم سره وګوره او د هغهٔ خبره واوره. ابوجعفر له درې سوه مواليانو او مريانو سره ری ته راغی، له ری څخه يې د خراسان لاره ونيوه. کله

[1] - الفخري ۱۳۳.

چې مروې ته رانږدې شو ابومسلم يې د مروې دوه فرسنګۍ ته هرکلي ته ورووت. کله چې يې پر ابوجعفر سترګې ولګېدې، له آسه راکوز شو، لاسونه يې ورښکل کړل او ترې مخکې شو، ابوجعفر ډېر ټينګار وکړ نو کښېناست. بيا مروې ته ننووت او له ابومسلم سره يې واړول. له هيچا څخه ونه ډارېد، د خراسان ډېر وګړي يې اېل وليدل، ډېر زيات خوشحاله شو... ابوجعفر وويل: اى ابومسلمه! تهٔ چې يې نن څومره ګڼې، موږ هومره له ابوسلمه بن‌حفص بن‌سلېمان څخه ګيله کوو، چې پر اميرالمؤمنين باندې ظلم او کبر کوي او د هغهٔ خلافت هيڅ نه ګڼي. پر موږ نيوکې هم کوي او له خپله حده تېر شو. والله چې اميرالمؤمنين ستا د زړهٔ لپاره هغهٔ ته څه نه وايي، ځکه چې هغه تا وزير کړ.»[1]

ابومسلم چې د درباريانو په دې ټېل ماټېل کې خپل دريځ ښېل او ځانګړی ګاڼهٔ، بې له دې چې په دې اړه خپل ناپېيلتوب اعلان کړي، بلــه چاره يې نه درلوده، د خليفه د ورور منصور دې خبرې ته يې داسې ځواب ورکړ:

«ما تا او اميرالمؤمنين ته امر وکړ، چې څنګه غواړئ هماغسې ورسره وکړئ »[2]

ابومسلم، منصور له ډېرو ډاليو سره ډاډه رخصت کړ. کله چې عباسي دولت د ابومسلم له وضعې څخه ډاډه شو، عباسي دربار ته د منصور له وررسېدو سره سم يې، ابوسلمه خلال کله چې له درباره راووت د ۱۳۲کال د رجب په يوه شپه کې په پټه او هېښنده ډول ووژل شو. هېښندوونکې خو لا دا ده چې دا ناوړه وژنه يې هم په ابومسلم ورواړوله[3] په داسې حال کې چې بوسلمه ترې د سفاح د اوضاع تر ليدو وروسته خواشينی او له بني‌هاشمو سره د هغهٔ په لېرې

[1] - تاريخ طبري، د بلعمي ژباړه ۴/ ۷۴۰.
[2] - پورتنی کتاب او پورتنی مخ.
[3] - طبري ۳ / ۱۰۳ او مروج‌الذهب ۳/ ۱۹۹.

کولو کې همږغی شوی و؛ نو له دې امله ورته سفاح غوسه او په ښتې شوی و.[1]

ابومسلم له ملۀ ځواک سره د عباسي دربار پر وړاندې په خراسان کې مقاومت کاوۀ او لکه چې د طبري په سند کې تېر شول، سفاح او منصور ته یې«امر کاوۀ» تهوا ګوندې د لویو چارو امر کوونکی رښتیا هم هغه و. منهاج سراج وايي په دې وخت کې له پارس څخه تر سند پورې په ټول خراسان «شهنشاه» و. محمد بن‌اشعث یې پارس ته ولېږۀ چې هلته یې د ابوسلمه د کارکوونکو سرونه پرې کړل[2] او هغه سیمه یې هم پاکه کړه. کله چې په ۱۳۳س کې شریک بن‌شېخ مهري په بخارا کې له دېرش زره لښکر سره د علویانو په پلوۍ د عباسیانو پر خلاف پاڅون وکړ، ابومسلم زیاد بن‌صالح خزاعي له لس زره لښکر سره هلته ورولېږۀ، چې شریک یې وواژۀ او د بخارا خداة په مرسته یې ماوراءالنهر اېل کړ. پر همدې کال د ابومسلم له خوا ابوداؤد خالد بن‌ابراهیم له وخش څخه ختلان ته ولېږل شو او حنش بن‌سبل د هغه ځای واکمن د ختلي دهقانانو له یوۀ ټولي سره کلابند شو؛ خو په پای کې شپې د شپې له خپلو نوکرانو او دهقانانو سره فرغانې ته وتښتېد، چین ته لاړ او د ابومسلم مامور ابوداؤد بلخ ته راغی.[3]

په ۱۳۴ س کې همدې ابوداؤد د ابومسلم په امر پر کش لښکر ورمارش کړ او د هغۀ ځای واکمن اخرید یې وواژۀ. ډېر زرکاري او ګل کاري شوي چینایي لوښي یې له زینونو، سامانونو، ورېښمینو ټوکرانو او چینایي قیمتي څیزونو سره تر لاسه کړل. هغه یې ابومسلم ته-چې په سمرقند کې و-وروړل او پر کش یې د اخرید ورور طاران وګومارۀ. ابومسلم په خپله د سغد او بخارا تر پاکولو وروسته مروې ته راوګرځېد. د سمرقند د کلا جوړولو امر یې وکړ او زیاد بن‌صالح یې د سغد او بخارا والي کړ.[4]

زیاد په ۱۳۵س کال کې د عباسي دربار په لمسون په ماوراءالنهر کې له ابومسلم څخه سر وغړاوۀ. سباع بن‌نعمان ازدي چې له ابومسلم سره و، د عباسي دربار له خوا

[1] - ابن اثیر۵/ ۲۰۸.
[2] - طبري ٦/ ۱۱۰.
[3] - پورتنی اثر ٦ /۱۱۲ او تاریخ بخارا تر ۷۳ وروسته.
[4] - پورتنی اثر ٦/ ۱۱٦.

وګومارل شو چې هرچېرته يې لاس برشي ابومسلم ووژني. په دې وخت کې د تالقانو د راونديانو يوۀ ټولي په ترمذ کې د هغه ځای حاکم وواژۀ، ابومسلم د دې شخړې د پای ته رسولو لپاره په بېړه آمل ته ورغی. کله چې هلته د دربار له پلمې خبر شو، سباع يې د آمل حاکم حسن بن‌جنيد ته وسپارۀ چې سل دُرې يې ووهي او بيا يې ووژني. ابومسلم له آمله بخارا ته لاړ او د زياد ځواکونو ته يې ماتې ورکړه. ارکث دهقان د سباع سر پرې کړ او ابومسلم ته يې ورولېږۀ. بيا کش، شا او غر هم ونيول شول او ابومسلم خپلې پلازمېنې مروې ته راوګرځېد.[1]

**په سيستان کې**

د خراسان په سوېلي ولايتونو کې هم د ابومسلم استازي ټاکل شوي او دا ولايتونه د سياسي ادارې يووالي ته رسېدلي وو. کله چې په ۱۲۷س کې ابومسلم راڅرګند شو، مالک بن‌هيثم يې له ډېرش زرو کسانو سره سيستان ته ولېږۀ. هغۀ اموي حاکم هيثم بن‌عبدالله چې ډېرش زره شامي سپارۀ يې درلودل، د يو مليون درهمو په اخيستلو روغ رمټ شام ته ولېږۀ او سيستان يې ونيو. د سفاح په خلافت کې عمر بن‌عباس د ابومسلم له خوا د سيستان حاکم و او خپلوي يې ورسره درلوده. يو کال وروسته سيستانيانو او بلواګرو عمر وواژۀ او مطر بن‌ميسره پر هغۀ ځای لاسبری شو. د ۱۳۳س په جمادي‌الاولی کې ابوالنجم عمار بن‌اسماعېل د سيستان امارت لپاره ورولېږل شو. هغه په سيستان کې له ابوعاصم سره چې له بُست څخه راغلی و وجنګېده، په پايله کې ابوالنجم ماتې وخوړه او ابوعاصم د سيستان واکمن، بناغلی او د دبدبې څښتن شو. له زيات لښکر سره له سيستان څخه لاړ، چې خراسان ونيسي؛ خو له هغې خوا ابوداؤد چې د ابومسلم له خوا د خراسان والي و، سلېمان بن‌عبدالله کندي يې له ډېرو لښکريانو سره سيستان ته له ابوعاصم سره د جنګ لپاره ولېږۀ. د سيستان خلکو هم له عبيدالله بن‌علا او حضين بن‌ربيع سره لښکرې جوړې کړې او د ابومسلم د والي ابوداؤد د لښکر د ملاتړ لپاره يې ورولېږلې. په فراه کې يې سخت جنګ وکړ او باغي ابوعاصم يې وواژۀ. سلېمان ته د ۱۳۸س په ربيع الاخر کې

[1] - طبري ۶ /۱۱۷ او ابن اثير ۵ /۲۱۶.

سیستان په لاس ورغی[1] دا پېښه هغه وخت وشوه، چې ابومسلم د حرمینو په سفر تللی او ورپسې په ۱۳۷س کې وژل شوی و.

## په غور کې

د ابومسلم د عروج په پېر کې د خراسان په مرکزي غرنۍ لړۍ یعنې غور کې د سوري کورنۍ پیاوړو امیرانو واک درلود، چې په دې وخت کې د دې کورنۍ واکمن د ملک شنسب له اولادې څخه امیرپولاد او د هغه زوی امیرکروړ جهان پهلوان و. د هغوی د واکمنۍ مرکز د غور مندېش و. د غور دا امیران د ابومسلم په خوځښت کې د هغهٔ ملګري او ملاتړي وو. منهاج سراج جوزجانی په طبقات ناصري کې د دې مرستې یادونې کوي، موږ یې شرحه په لومړي څپرکي کې د سوریانو په برخه کې ورکړې ده، هلته یې وګورئ.

## خو په سند کې

د ابومسلم ولکه د خراسان په سوېل ختیځو ولایتونو کې تر سند او د بحر تر څنډو پورې خپره شوې وه. په ۱۳۲س کال کې یې یو سیستانی کس مخلص عبیدي سند ته ولېږهٔ، لکه چې د دوهم څپرکي په پای کې یې یادونه وشوه، په همدې کال په سند کې ووژل شو. ابومسلم چې یو مدبر او زړور سړی و د هغهٔ پر ځای یې موسی بن کعب تیمیي د سند والي کړ. هغه له ۲۰ زره لښکر - د ابن اثیر د وینا له مخه ۱۲زره-سره سند ته ورسېد او په قندابیل (اوسنۍ ګنداوه) کې یې واړول. په دې وخت کې منصور بن جمهور کلبي لکه چې شرحه یې تېره شوه پر سند لاسبری شوی، د عباسي دربار او ابومسلم له اطاعته یې سرغړولی او د هغه والي مغلس یې هم وژلی و؛ خو موسی د منصور ټول ملګري ځان ته راواړول او بیا له قندابیل څخه د سند څنډې ته ورسېد. په یوهٔ سخت جنګ کې یې منصور ته ماتې ورکړه. هغه یې لاس ته ورغی او ویې واژهٔ او په ۱۳۴س کال کې یې منصوره ونیوه.[2] تر دې وروسته د سند ټوله خاوره د ابومسلم د دې حاکم تر امر لاندې شوه.[3] سندیانو د سفاح دربار ته یو پلاوی

[1] - تاریخ سیستان تر ۱۳٦ وروسته.

[2] - تاریخ یعقوبي ۲ /۳۵۸.

[3] - فتوح البلدان ۵۴۳.

واستاوهٔ، چې د سفاح د مړینې د ناروغۍ پر مهال وروړسېد؛ خو درې ورځې وروسته سفاح ومړ او دې پلاوي څه پایله تر لاسه نه کړه.[1] موسی تر ۱۴۰س پورې د سند پـر خـاوره حاکم پاتې شو. په همدې موده کې وو، چې ابومسلم ووژل شو، د سند نورې پېښې چې پـر عباسي پېر اړه لري، په راتلونکو بحثونو کې به روښانه شي.

## د ابومسلم پلازمېنه

ابومسلم د خراسان او خپل هېواد د چارو د ادارې مرکز مروه وټاکله چې د دې سیمې د تمدن پخوانی مرکز و. دا ښار تر اسلامي سوبو وروسته په خراسان کې د خلیفه‌ګانو د لښکریانو تمځی و. د ښار د ننه یې د ښار له ورهٔ سره د عتیق په نامهٔ جومات جوړ کړی و، چې د جمعې لمونځ په کې ادا کېدهٔ او بني ماهان جومات یې بالهٔ؛ خو ابومسلم د مروې په ماجان کې لوی جومات جوړ کړ او جوخته یې ورسره خپله دارلاماره له بازار او زندان سره جوړه کړه.

په دارالاماره کې لویه ګومبزه وه، تر هغې لاندې به کېښناست. تر هغهٔ دوې پېړۍ وروسته هم روغه پاتې او د امیرانو د ناستي ځای و. دا ګومبزه یې له خښتو څخه جوړه کړې وه، چې پراخوالی یې ۵۵ ذراعو ته رسېدهٔ. څلور ورونه یې څلورو دفترونو ته ورمات وو او د هر دفتر مخې ته څلورلارې وه.

ابومسلم د مروې پخواني بازارونه د زاړهٔ مزګت له څنګه ماجان سیمې ته ولېږدول.[2] ماجان د یوې ویالې نوم و، چې له ماجان سیمې راتله او د مروې له منځه تېرېده.[3] نو په هماغه نامهٔ مشهوره شوې وه.

ابومسلم ماجان له دې امله خپله دارالاماره کړې وه، چې هلته یې لومړی ځل د ابي‌نجم کورنۍ د استوګنځي پر ګومبزه د عباسیانو تور شعار راځړولی و. دا ګومبزه تر څلورمې پېړۍ او د اصطخري تر مهاله پاتې وه.[4]

---

[1] - تاریخ یعقوبي ۲ /۳۶۱.

[2] - اصطخري ۲۵۸.

[3] - معجم‌البلدان۵ /۳۲.

[4] - اصطخري ۲۶۰.

## ابومسلم څرنګه بها فريد له منځه يووړ؟

د ابومسلم پر مهال د بها فريذ بن‌ماه فروردين په نامهٔ يو څوک د نيشاپور اړوندې سيراوند سيمې په خواف کلي کې راڅرګند شو[1] چې له آره د زوزني له خلکو څخه و. هغه له خراسان څخه د اوو کالو لپاره چين ته لاړ او کله چې له هغهٔ ځايه بېرته راستون شو يو شمېر هېښنده څيزونه يې له ځان سره راوړل، يو يې د پستو وربښمو شين نرى او نرم کميس و، چې په موټي کې ځايېدهٔ. هغه شپه مهال عبادتځي ته وخوت کله چې سهار له هغه ځايه راکوز شو يوهٔ بزګر وليد؛ نو بهافريد ورته وويل:

هغه وخت چې هغه ورک شوى و، اسمان ته ختلى و او هلته ورته جنت او دوزخ ښودل شوي دي او د الله له خوا ورته وحيې شوې ده. دا شين کميس يې وراغوستى او نړى ته يې رالېږلى دى.

بزګر يې خبره ومنله او خلکو ته يې وويل چې ما يې په خپلو سترګو له اسمانه راکوزېدل ليدلي دي؛ نو بهافريد د پېغامبرى دعوه وکړه او خلکو ته يې بلنه ورکړه. ډېر وګړي پرې رامات شول. هغهٔ په ډېرو دودونو کې د مجوسيانو مخالفت وکړ؛ خو د زردشت پخلى يې وکړ او د هغهٔ دين يې د خپلو پليونو لپاره غوره کړ. هغه دعوه کوله چې په پټه ورته وحيې راځي، اووه لمونځونه يې پر خپلو پليونو فرض کړل، يو د الله په وحدانيت کې، دوهم د ځمکې او اسمان په خلقت کې، درېيم د ځناورو په پيدا کولو او روزى کې، څلورم په مړينه کې، پنځم په قيامت او حساب کتاب کې، شپږم د دوزخيانو او جنتيانو او هغهٔ څه په اړه چې د هغو لپاره چمتو کېږي. اووم د جنتيانو په ستاينه کې.

بهافريد د خپلو پليونو لپاره په پارسي ژبه يو کتاب راوړ. امر يې وکړ، چې د لمر سترګې ته په يوهٔ زنګانهٔ سجده وکړي، تل په هر ځاى کې لمر ته وګوري، د سر او بدن ويښتان پرېږدي، د خوراک پر مهال زمزمه (د زردشتيانو غلې دعاوې) ونه وايي،

[1] - ابن‌نديم وايي: چې بها فريد د ابرشهر (نيشاپور) د روى د کلي و (الفهرست ۴۷۳).

بې له زرو نور څاروي حلال نه کړي، شراب ونه څښي او مړي ونه خوري. میندې، خویندې، لونه، وریرې او خورزې نکاح نه کړي او تر څلورسوه درهمو د مېرمن مهر زیات ونه ټاکي. باید پلونه او لارې د خپلې مزدورۍ په اوومې برخې جوړې کړي؟

کله چې ابومسلم نیشاپور ته راغی زردشتي مشران او عالمان راغونډ شول او ویې ویل چې بهافرید د اسلام په دین او زردشتي آیین دواړو کې تباهي رامنځ ته کړې ده.

له دې امله ابومسلم عبدالله بن‌شعبه ولېږه، بهافرید یې د بادغیس په غرونو کې ونیو، ابومسلم ته یې راوست چې له پلیونو سره ووژل شو؛ خو د بهافریدیانو په نامهٔ یې د هغه ځینې پلیوني پرېښودل چې خپل دین وپالي او له زردشتي زمزمه‌ویونکو سره سخته دښمني وکړي. هغوی گروهمن دي، چې بهافرید په ژېړ اس سپور اسمان ته ختلی او لکه څرنگه چې ختلی، هماغسې راکوزېږي او له خپلو دښمنانو غچ اخلي.[1]

هغه څه چې پورته وژباړل شو د البېروني لیکنه ده؛ خو ابن‌ندیم په دې اړه وایي:

«د عباسي دولت په لومړیو کې د ابرښار په روی کلي کې یو مجوسي سړی (بها فرید) راپیدا شو، پنځه لمونځونه به یې بې سجدې په داسې حال کې ادا کول چې قبله به یې کیڼ اړخ، یعنې مخ به یې ختیځ ته و. هغهٔ کوډې وکړې او مجوسیان یې خپل دین ته راوبلل؛ نو ډېر وگړي یې دین ته ورواوښتل.

ابومسلم دوه کسه شبیب بن‌داح او عبدالله بن‌سعید ولېږل چې د اسلام بلنه ورته ورکړي. بهافرید په ښکاره اسلام ومانهٔ او تورې جامې یې واغوستې؛ خو بیا بېرته واوښت او ووژل شو. په خراسان کې یې تر اوسه (۲۴۳س) پلیوني شته دي. دا د ابراهیم بن‌عباس صولي روایت دی، چې په خپل کتاب «دولت عباسی»کې یې لیکلی دی.[2]

شهرستاني هم د دې ډلې په اړه هماغه تېر مطالب راوړي دي؛ خو نوی یې دا

---

[1] - آثارالباقیه ۲۱۰ او زین‌الأخبار، د گرېزي ۷۰ ب پاڼه.

[2] - الفهرست، د ابن‌ندیم ۴۸۳.

دي چې: بهافریدیانو ته سیسانیه هم وایي. مشر یې د نیشاپور د رستاق خواف نومي سړی و، چې د خراسان د خواف سیمې بنسټ یې ایښی دی او په اصل کې د مرمي و، اور یې لمانځۀ. اورلمانځنه یې پرېښوده او مجوسیان یې له اورلمانځنې منع کړل.... د مجوسیانو لارښود یې د ابومسلم مخې ته وروست او د نیشاپور په لوی ورۀ کې یې وواژۀ. د خواف پلیوني وایي: خواف یې پر ژیړ اس سپور اسمان ته وخېژاوۀ، په دې چټک اس به سپور راکوز شي او له خپلو دښمنانو به غچ واخلي.[1]

نو د بهافرید په اړه زموږ معلومات هیڅ هم نه دي او په دې لږو معلوماتو چې مؤرخانو د هغۀ په اړه ورکړي دي، اډوارډ براون وایي نه شو کولای د هغۀ د ګروهې د اصولو د ماهیت په اړه څرګند دریځ خپل کړو. ښایي د هغۀ د ګروهې تر ټولو مهم هغه بېلتون وي، چې د اوو عدد په اړه ورته قایل دی او بل د غیابت او راګرځېدا په اړه د دې ډلې مؤسس دی.[2]

په هر صورت بهافرید په خراسان کې د ابومسلم د پېر له فکري ښکارندو څخه دی، چې په خپله د ابومسلم په لاس له منځه تللی او ښایي د هغه د وژلو اصلي لامل بې له دې بل نه وي، چې هغه د ابومسلم د راڅرګندېدو په لومړیو کې د بادغیس په غرونو او د خراسان په زړۀ کې خوځښت رامنځ ته کړی و، چې د ابومسلم د سیاسي ځواک له تمرکز سره په ټکر کې و.

مجدخوافي چې په ۷۳۳س کې یې د ګلستان په پلیونی روضۀخلد کتاب وکېښ، د بهافرید په اړه یې تېر شوي مطالب راوړي دي؛ خو هغه څه چې پورته نۀشته، دا دي: بهافرید د خوافو د زاوې کلي و، چې د مجد خوافي په پېر کې یې بهافریدي بالۀ. په همدې کتاب کې د هغۀ دهقان نوم چې لومړی ځل پر بهافرید ګروهمن شو (خداداد) کښل شوی دی.[3]

[1] - الملل و النحل، پارسي ژباړه ۱۸۶.

[2] - تاریخ ادبی ۱/ ۴۶۲.

[3] - مجلۀ شرق ۹۷ د روضة خلد د خطي نسخې په حواله.

## ۵- ابومسلم د حج په سفر کې

په ۱۳۶س کال کې ابومسلم، سفاح ته وکښل چې هغهٔ ته عراق ته د ورتګ اجازه ورکړي، چې اجازه وشوه نو د خراسانيانو له يوې لويې ډلې سره له خراسانه د سفاح دربار ته ورسېد او تود هرکلی يې وشو.[1] بلعمي وايي، ابومسلم په خراسان کې ابوداؤد خليفه کړ او روان شو. کله چې رى ته ورسېد، يو څه کړمن شو، کله چې له ناروغۍ ورغېد له هغهٔ ځايه وخوځېد او کوفې ته لاړ. له سفاح سره يې وليدل او څه وخت هلته و، چې د حج وخت يې راورسېد. ابوجعفر منصور پرله‌پسې ابومسلم د سفاح په مخکې په بدو ياداوهٔ او ويل به يې که غواړې چې نړۍ پاکه شي، ابومسلم له منځه يوسه، هغه غواړي له آل ابوسلمه څخه يو کس واک ته ورسوي. سفاح په دې وخت کې هغهٔ ته وويل:«داسې بايد ونهٔشي، که موږ دغه اراده وکړو د عراق او خراسان ولسونه به راپورته شي». ابومسلم له لويې ډلې سره په پاچاهي ترتيب او ډېر برم و پرتم مکې او حج ته لاړ.[2]

عباسيانو له هماغې لومړنۍ ورځې څخه ابومسلم خپل يواځينی سيال وګاڼهٔ؛ خو سفاح چې هوښيار سړی و، تر هغه مهاله چې د ځواک، برم و پرتم ستنه يې نه وه ټينګه، د ابومسلم له منځه وړل يې سم ونه ګڼل. کله چې يې ورور منصور د خراسان له سفره راوګرځېد او د ابومسلم د نه پاملرنې او نه درناوي شکايت يې سفاح ته وکړ، هغه وويل:«څه بايد وشي، ما د ابومسلم لوړ مقامي د امام ابراهيم له وينا څخه معلومه کړې" هغه دولتي واکنده او د احکامو پابند "دی»[3]

---

[1] - طبري ۶/ ۱۱۹.

[2] - بلعمي ۴/ ۷۴۱.

[3] - تاريخ‌اليعقوبي ۲/ ۳۵۱.

د عباسي دربار له اشخاصو سره د ابومسلم چلن داسې و، چې بې له خليفه سفاح يې نور څوک نه پېژندل او هيچا ته يې سر ټيټ نه کړ. کله چې په همدې سفر کې د سفاح دربار ته ورسېد، د هغهٔ ډېر عزت او درناوی يې وکړ او د هغهٔ شکايت په اړه يې هيڅ يادونه ونه کړه چې منصور ترې درلوده؛ خو يوه ورځ ابومسلم دربار ته ورغی او چې ويې ليدل منصور هم له خليفه سره ناست دی، سلام کلام يې ورسره ونه کړ، سفاح چې ترې د دې چلن لامل وپوښت، ابومسلم ځواب ورکړ:

«هو هغه مې وليد؛ خو د خليفه په موجوديت کې به بل د درناوي وړ نه وي».[1]

ابومسلم غوښتل چې له ځان سره پوره ځواکونه حج ته بوځي؛ خو سفاح اجازه ورنه کړه او څرګنده ده چې له هغهٔ يې سترګه سوځېده؛ نو هغهٔ ته يې وکښل چې يواځې له ۵۰۰ کسانو سره راشه.

ابومسلم د ورسره اتو زرو کسانو له جملې، يواځې زر کسان غوره کړل، پوره خزانې يې له ځان سره واخيستې. کله چې يې له سفاح څخه د حج اجازه واخيسته؛ نو خليفه له وېرې خپل ورور منصور- چې د ابومسلم کلک مخالف و- ورسره د حج سفر ته ولېږهٔ. د حج د جوپې مشر يې وټاکهٔ او ابومسلم ته يې وويل: که ابوجعفر حج ته نه تلای؛ نو هرومرو مې تهٔ د حج پر مهال خپل والي ټاکلې.[2]

سفاح خپل ورور په دې ډول د ابومسلم له جوپې سره د هغهٔ د څارنې او احتمالي خطر د مخنيوي لپاره ولېږهٔ او په خپل نشتون کې يې هغه د خلافت ځايناستی وټاکهٔ. په خپل او د کورنۍ په مهر يې د هغهٔ د ځايناستی فرمان وکېښ او هغه يې د عباسي دربار مخور عيسی بن‌موسی ته وسپارهٔ. ورپسې د ۱۳۶س د ذي الحجې په ۱۳مه د يکشنبې په ورځ پر ننکيو د عراق انبار کې مړ او هم هلته ښخ شو.

عيسی بن‌موسی د سفاح د همغې مړينې په ورځ د عراق له خلکو څخه په انبار کې د ابوجعفر منصور لپاره بيعت واخيست او د محمد بن‌حصين عبدي په لاس يې

---

[1] - يعقوبي ۲/ ۳۵۱.

[2] - طبري۶ /۱۲ او الکامل ۵/ ۲۱۸.

مکې ته د بیعت لیک واستاوهٔ. په دې وخت کې د حاجیانو جوپې په زکیه نومي ځای کې اړولي وو، چې د عراق لیکونه وروړسېدل، دلته یې له منصور سره بیعت وکړ، ابومسلم هم بیعت وکړ او د منصور خلافت یې ومانهٔ.[1]

د عباسي دربار د وضعې او د ابومسلم د دریځ په روښانولو کې- چې د هغهٔ د وژنې لامل شو- د مجمل‌التواریخ و القصص د لیکوال دا څرګندونه د لوستو او اورېدو ده، چې وایي:

« سلېمان بن کثیر چې د ټولـو بلونکـو مخـکښ او ډېـر لـوی سـړی و، پـه یـوه سـپکه خـبره چـې هغـهٔ کـړې وه، ابومسـلم د ابوجعفر المنصور په مجلس کې د هغهٔ د وژلو امر وکـړ. منصـور په دې حال ډېر خوابدی شـو، لـه ابومسـلم سره یـې پـه زړهٔ کـې کینه پرېوته، سفاح ته راستون شو او ویې ویـل: کـه دا سـړی پـه دې اداره او فرمان همداسې وي لکه چې یې غواړي؛ نـو دا کـار به له موږ واخلي او بل ته به یې ورکړي. سفاح ته یـې دا خـبرې وکړې او ویې پاراوهٔ چې که ابومسـلم راونـه غـواړې او ویـې نـه وژنې، کار دې نه سمېږي... د ابومسلم کار ژر خلاص کړه او که نه نو دا واک له موږه اخلي. چې زه یې وینم، په دې برم و پـرتم هـر څـه چـې وغـواړې کـولای یـې شـې. پـه ۱۳٦س کـال کـې ابومسلم اجازه وغوښته چې حج ته لاړ شي. راغی او سـفاح یـې ولید، درناوی یې پر ځای کړ، ابومنصـور جعفـر پـه بیـړه ورغـی، ورور ته یې وویل:

تر دې غوره به تهٔ هغه چېرته ومومې؟ سفاح وویل: دا خبره څرنګه ښایي؟ هغه چا چې زما لپاره یې ټوله نړۍ پاکه کړه، هغه څرنګه ووژنم؟ منصور چوپ

[1] - طبري ٦/ ١٢٢، یعقوبي٢/ ٣٦٤او الکامل ٥/ ٢١٩.

شو. سفاح وویل: ته هم له ما څخه حج ته د تللو اجازه وغواړه، له هغهٔ سره لاړ شه، تل ورسره خبرې کوه، چې په زړهٔ کې یې بل سوچ راونه گرځي او علویان او بل څوک یې ونه ویني. له پامه یې مه باسه؛ نو همداسې یې وکړل.»[1]

څرنگه چې منصور رسماً په خلافت ومنل شو، د هغهٔ له ابومسلم سره لکه چې وویل شو، د نظر اختلاف او سیالي وه، چې د خپل ورور سفاح د خلافت په پېر کې یې له پرلهپسې هڅونو سره هم په پلي کولو نه و بریالی شوی؛ نو د واک له هماغې لومړۍ ورځې څخه د ابومسلم د له منځه وړلو په سوچ کې شو، خو ابومسلم ښايي په خراسان کې په خپل لوی اغېز او بې ساري پیاوړتیا او عباسیانو ته په خپلو خدمتونو ډاډه و، نو داسې تصور یې نه کاوهٔ، چې په دومره بیړه او اسانۍ د خلیفه له غچ اخیستنې او خطر سره مخامخ شي. له همدې امله ده چې کله د سفاح له مړینې سره سم د منصور ترهٔ عبدالله بن‌علي په شام کې راپاڅېد، د خلافت دعوه یې وکړه او له ځان سره یې ۱۷زره خراساني لښکریان هم ملهٔ او همږغي کړل.[2]

منصور وغوښتل چې د دې دښمن سر په بل دښمن وچقوي او د وروستي ځل لپاره دا زړور خو پاک زړی خراسانی په خپله گټه وکاروي، یو غولوونکی غوندې لیک یې ابومسلم ته ولیکهٔ، هغه لا تر دې وخته په مکه کې و. کله چې استازي وروړسېدل دوه پړاوه له مکې راوتی و چې لیک یې ورکړ، له هغهٔ سره یې ښې ژمنې کړې او لیکلي یې وو: ستا د درنښت نخښې زما په دولت کې راڅرگندې دي، چې دا لیک دروړسېږي، باید له دغهٔ ځایه شام ته روان شې او له عبدالله بن‌علي سره وجنگېږې، چې غاړه کښېږدي او بیعت وکړي او که نه سر یې پرې کړه.[3]

---

[1] - مجمل ۳۲۴.

[2] - د طبري د وینا له مخه ۱۷ زره او د مجمل د وینا له مخه اووه زره.

[3] - بلعمي ۴/ ۷۴۱.

ابومسلم د منصور دا فرمان ومانۀ، د لیک له اخیستو وروسته مخ په شام روان شو؛ خو عبدالله بن‌علي چې د ابومسلم د ورتگ واورېدل، له دې وېرې چې د هغۀ د اووه زریز یا اوولس زریز لښکر خراسانیان د ابومسلم له لښکر او خپلو ښاریانو او خپلوانو سره یو ځای نۀشي، ټول یې بې وسلې کړل او په یوه ورځ یې ووژل. ابومسلم چې د زاب (طبري او یعقوبي وایي په نصیبین کې) پر غاړه ډېر تړی ښکارېدۀ، شپږ میاشتې له عبدالله سره وجنگېد، ماتې یې ورکړه. دا جنگ د ۱۳۷س د جمادی الاخر په ۷مه وشو[1] چې د عباسي خلافت د گدۍ پر مخالفینو د ابومسلم وروستی گوزار او بری و؛ خو ابومسلم د خپلو دې ټولو سرښندنو بدله څرنگه ولیدله؟

[1] - طبري ۶ /۱۲۶ او مجمل ۳۲۵.

## ٦- ابومسلم د منصور تر تېغ لاندې

عباسيانو چې د نبوي کورنۍ وزير او خپل لارښود، ابوسلمه خلال له رازونو په ډکې او هېښندې وضعې وژلی و، اوس د نبوي کورنۍ د امين وار راورسېد، چې منصور خليفه هغه خپل لوی دښمن[1] او په پاچاهۍ چارو کې يواځينی سيال گاڼه.

وايي يوه ورځ منصور د خپل دربار د يوه باوري کس مسلم بن‌قتيبه سره د ابومسلم په اړه مشوره کوله، مسلم وويل: «لو کان فيهما آلهة إلاالله لفسدتا[2]» منصور چې د مسلم دا وينا واورېده؛ نو ځواب يې ورکړ: ستا مشوره مې واورېده، ومې منله.[3] ابومسلم هم دا وضع په بل ډول ليده، د جنگونو په کتابونو کې يې لوستي او يا يې له ستورپوهانو اورېدلي وو، چې دی (ابومسلم) د اموي دولت له منځه وړونکی او د بل دولت جوړوونکی دی؛ نو انجام به يې ښه نه وي او وبه وژل شي.[4]

اوس بايد هغه کس ووينو چې څنگه په خپله په همدې دام کې ننښلي! چې د عباسي خلافت د ستنو ټينگولو او منصور د کورنۍ لپاره يې درې لکه کسان وژلي وو[5]

کله چې ابومسلم د منصور پر وړاندې د خلافت د مقام مدعي عبدالله بن‌علي له مخه ليرې کړ، په دې جنگ کې د خراساني سوبمنو لاسونو ته قيمتي مالونه او

---

[1] - طبري ٦ /١٣٨.

[2] - قرآنکريم، انبياء سورت ٢١، يعنې که په دواړو جهانونو کې بې له الله، نور خدايان وای؛ نو بېشکه چې فاسدېدل.

[3] - ابن خلکان ١/ ٢٨٢.

[4] - طبري ٦/ ١٣١.

[5] - مجمل ٣٢٧ او طبري ٦ /١٣٧ دا شمېر شپږ لکه گڼي.

جواهرات ورغلل، منصور چې ډېر کنجوس و او هغه يې له همدې امله ابودوانيق (دانه شماری) بالهٔ، ابوالخصيب يې د غنيمتونو او مالونو د حساب لپاره ورولېږهٔ، چې ابومسلم پرې ډېر زيات وخښمېد او ويې ويل:«د مسلمانانو د وينو په تويولو کې امين يم؛ خو په مالونو کې نهٔ!»

ابوالخصيب چې د ابومسلم خښم وليد، په دې پلمه چې د استازي نه تړل شته او نه زنداني کول، ځان يې د هغهٔ له منگولو خلاص کړ او چې کله د منصور دربار ته ورسېد، د ابومسلم وضع يې بيان کړه. وويرېدل چې خراسان ته لاړ نهٔشي، نو د يقطين په وسيله يې د منصور يو ليک ابومسلم ته واستاوهٔ: چې « د شام او مصر والي اوسه! او دا کار تا ته تر خراسان غوره دی، هر څوک چې دې خوښ وي، له خپل لوري يې پر مصر وگوماره او په خپله په شام کې پاتې شه، چې اميرالمؤمنين ته نږدې اوسې! چې کله دې وغواړي ژر ورته حاضرېدای شې!»

د منصور دا فرمان چې ابومسلم ته ورسېد و خښمېد او ويې ويل: زه يې د شام او مصر والي کړم، په داسې حال کې چې خراسان مې خپل دی، هغهٔ د سپکاوي لپاره د خليفه استازي يقطين بن‌موسی ته يوه خوشکه وکړه، په غوسه او خواشينۍ يې خراسان ته د تلو يينگ وکړ.

منصور چې د يقطين رپوټ واورېد له انبار څخه مداين ته راغی او ابومسلم يې ځان ته وروغوښت؛ خو ابومسلم ورته وکښل:

«له ساماني پاچاهانو څخه داسې روايت شوی دی چې: د خلکو د امن پر مهال وزيران د وېرې په ځای کې دي؛ نو زه هم ستا له نږدېوالي تښتم؛ خو له ليرې پر خپله ژمنه ټينگ او فرمان منونکی يم. هغه غاړه ايښودنه چې له ليرې وي، له روغتيا سره مله ده. که په داسې وضع خوښ ياست؛ نو موږ به ستا منونکي ياستو»[1]

د ابومسلم ليک چې منصور ته ورسېد، د هغهٔ په ځواب کې يې وليکل:

«ستا ليک مې ولوست، تهٔ د هغو وزيرانو غوندې ککړ نه يې، چې تل

---

[1] - طبري ٦/ ١٣٠ او الکامل٥/ ٢٢٣.

د خپلو جرمونو د زياتوالي له امله د دولت د وېرې هيله کوي او د هغو هوساينه د خلکو د نظام په ګډوډۍ کې وي. نو ولې ځان د هغو وزيرانو غوندې ګڼې؟ په داسې حال کې چې تل دې د غاړې ايښودنې او ښېګڼې له لارې د خلافت د امر د ستونزو زغملو هڅه کړې ده!

اميرالمؤمنين، عيسی بن‌موسی ته امر کړی، چې د هغهٔ د خبرو تر اورېدو وروسته دې تسلي وشي! داسې دليل نهٔشته چې ستا د نيت د خرابېدو لامل شي، نور په هغهٔ ورهٔ راننوځه چې درته بېرته دی»[1]

منصور په دې ډاډګيرن ډوله او له خوشامندو ډک ليک سربېره جرير بن‌زيد بجلي- چې د هغهٔ مهال له هوښيارانو او د ابومسلم له اشنايانو څخه و- هغهٔ ته ورولېږهٔ، هغهٔ ابومسلم وغولاوهٔ او د خراسان له تګه يې تېر کړ.

خو ابومسلم د مقابل لوري چمونو او خپلو خدمتونو ضايع کېدو ته ځير شو، د هغو وينو په تويولو پښېمانه شو چې د عباسي خلافت د بنسټ ټينګولو لپاره يې تويې کړې وې. په هغهٔ ليک کې چې منصور ته يې وکېښ، په ډاګه يې خپله پښېماني وکښله او دا چې هغه يې غولولی او د نورو د تمو د لوبو اله ګرځېدلې او په خپل لاس يې د عباسي خلافت بنسټ ټينګ کړی، په دې ټولو مراتبو يې توبه او پښېماني وکړه، دا پښېماني ډوله ليک داسې و:

«اما بعد: ما د الهي فرايضو د ترسره کولو لپاره يو کس امام او لارښود ونيو چې د علم له کوځې راوتی او د رسول‌اللهﷺ له خپلوانو څخه و، خو هغهٔ زه د قرآن په تحريف تېرويستم او په لږه شتمنۍ يې په تمه کې واچولم. هغهٔ زه مغرور کړم چې توره مې له تېکي راوويسته او زړهٔ خوږي مې پرېښوده. د چا عذر مې ونه منهٔ، له جنګه مې لاس وانخيست او دا ټول کارونه مې ستا د دولت د ټينګښت لپاره وکړل، تر دې چې هغو کسانو چې

[1] - طبري ٦/ ١٣١ او الکامل ٥/ ٢٢٤.

تاسو يې نه پېژندلئ، ويې پېژندلئ؛ خو اوس الله د توبې توان راکړ او الله پر خپلو بنده‌گانو ظلم کوونکی نه دی»[1]

ابومسلم چې کله حلوان ته لاړ ويې ويل، د حلوان دې خوا ته د صاحب ډېر کارونه دي. نو منصور، ابومسلم ته پرله‌پسې ليکونه لېږل پيل کړل، ژمنې يې وکړې او امر يې وکړ: چې ټولو بني‌هاشمو ورته ليک وکېښ... په پای کې يې خپل تره عيسی ورولېږۀ چې ابومسلم يې راوگرځاوۀ؛ خو منصور تر دې له مخه د خراسان باورليک د ابومسلم يوۀ مامور (ابوداؤد خالد بن‌ابراهيم ذهيلي) ته ولېږۀ، نو هغۀ خراسان ونيو. دا خبر چې ابومسلم ته راورسېد، ډېر زيات غوسه شو، بې له تللو يې هيڅ چاره ونه ليده.[2]

څرنگه چې دې ټولو ډاډينو او هڅو د ابومسلم په راضي کولو کې پدل ونه کړ، په پای کې منصور د هغۀ يو هېوادوال (ابي حميد مروه‌رودي) له يوۀ ليک سره ورولېږۀ او سپارښتنه يې وکړه چې لومړی هغه په پستو خبرو وغولوي او ورته ووايي چې که سولې ته غاړه کښېږدي او راوگرځي؛ نو خليفه به ورته ډېر لوړ مقام ورکړي، چې بل چا ته به يې ورکول ناشوني وي، که چېرته راونه گرځي او انکار وکړي؛ نو ورته دې وويل شي چې:

اميرالمؤمنين وايي: «اوس چې ته د عباس خپل نه يې، زه د محمدﷺ د ذمت برائت کوم، چې ستا مقابله او جنگ به له ځان پرته بل چا ته ونه سپارم، که سيند ته ننوځې هلته به دې ومومم او که اور ته ورکوز شې هم هلته ته به درکوز شم، چې ودې وژنم او يا ووژل شم»[3]

ابوحميد له ابومالک او يوې بلې ډلې سره په حلوان کې په ابومسلم پسې ورورسېد او ويې ويل: خلکو تا ته د اميرالمؤمنين داسې خبرې راورسولې چې هغۀ نه دي کړي، غواړي د کينې له مخه د خليفه پېرزوينه چې پر تا يې کړې ده، له تا څخه واخلي، په داسې حال کې چې اوس هم د آل‌محمد امين ياست! وگړي دې هم په همدې صفت پېژني او د الله بدله به تر دې هم لويه وي. لومړی تا موږ دې لارې او د نبي د اهل‌بيتو او عباسيانو اطاعت ته راوبللو او امر دې وکړ، چې د هغو له مخالفينو

[1] - طبري ٦ /١٣١، الکامل ٥ /٢٢٤ او مروج‌الذهب ٣/ ٢١٧.
[2] - مجمل ٢٢٦.
[3] - طبري ٦ /١٣٢.

سره وجنګېږو، اوس چې خپلو هیلو ته رسېدلي او د هغو په اطاعت او محبت راغونډ شوي یاستو، غواړې چې زموږ کار وران او زموږ ټولی تس نس کړې؟ ایا موږ ته دې نه وو ویلي، که څوک په دې لاره کې له تاسو سره مخالفت وکړي ویې وژنئ او ان که زه هم مخالفت وکړم ومې وژنئ؟

ابومسلم چې د خپلو هېوادوالو دا خبرې واورېدې، د خراسان یوۀ نیزک ته یې پیغام ولېږۀ چې ما تر تا ډېر هوښیار نه دی لیدلی، نو تاسو په دې اړه څه وایاست؟

نیزک نظر ورکړ چې خلیفه ته مه ورځه، ری ته راشه، چې د خراسان او ری منځ ستا دی، د دې ځای وګړي ستا لښکریان دي، یو به هم ستا له امره سر ونه غړوي او تل به د خپلو لښکریانو په منځ کې خوندي یاست. ابومسلم هم د نیزک نظر خوښ کړ او ابوحمید ته یې منفي ځواب ورکړ.[1]

له بلې خوا منصور خلیفه په خراسان کې د ابومسلم، مامور ابوداؤد ته یو لیک وکېښ او تر مړینې پورې یې ورسره د خراسان د حاکمۍ ژمنه وکړه. ابوداؤد هم ابومسلم ته ګواښنده لیک وکېښ، هغه یې د الله د خلیفه‌ګانو او د پېغامبرﷺ د اهل‌بیتو له سرغړونې منع کړ او ورته ویې ویل: بې د منصور له اجازې خراسان ته رانۀ شې!

په دې وخت کې د ابومسلم د ساتندوی ټولي باوري قوماندان ابواسحق د منصور خلیفه له خوا د خراسان واکمنۍ ته په دې شرط په تمه شو، چې ابومسلم هلته له ورتګ منع کړي او د بني‌هاشمو یو ټولی هم هغۀ په دې وګومارۀ. هغه چې ابومسلم ته ورورسېد، ویې ویل: ټول بني‌هاشم ستا پر حق قانع دي، ستا درناوی کوي او هغه څه چې د ځان لپاره غواړي، ستا لپاره یې هم خوښوي؛ نو باید امیرالمؤمنین ته ورشې!

کله چې دې سړي د ملګرتیا په منطق د ابومسلم نظر واړاوۀ او ویې غوښتل چې خلیفه ته ورشي، نیزک ابومسلم ته وویل:

ما للرجال من القضاء محالة ذهب القضاء بحيلة الأقوام

«یعنې وګړي له قضاء سره جنګ نه کوي او قضاء په قومونو کې خپل کار کوي»

---

[1] - طبري ٦/ ١٣٣، الکامل ٥/ ٢٢٥ ښایي هماغه نیزک ابن صالح وي، چې مخکې یې یادونه وشوه.

اوس چې منصور ته ورتگ غواړې؛ نو چې مخې ته يې ورغلی، ويې وژنه او هر څوک چې غواړې خليفه يې کړه، ځکه وګړي به ستا له نظره مخ وانۀ ړوي.

په هر صورت هغه څه چې د منصور خليفه په پام کې وو، دا وو چې: يوه ورځ خليفه وړينې جامې اغوستې او په روميه (مداين ته نږدې) کې پر مصلی ناست و، هغۀ د ابومسلم وروستی ليک خپل وزير ابوايوب توراني ته ورکړ او ويې ويل: پر الله سوګند که ابومسلم ووينم سمدواره به يې ووژنم.

په داسې حال کې ابومسلم د اجل نيولي ښکار غوندې د مداين لور او د منصور تمځې ته راروان و، د ۱۳۷س د شعبان پر ۲۵مه د سه شنبې په ورځ په روميه کې د خليفه لښکرکوټ ته ورسېد. منصور چې وليدۀ ويې نازاوۀ، تسلي يې ورکړه او ورته ويې ويل: نن شپه ارام وکړه، حمام ته لاړ شه ځان د سفر له کړاوه بېغمه کړه او سبا راشه.[1] خو د خليفه موخه دا وه، چې د دې لوی سيال د وژنې لپاره چاره وکړي او خپله نقشه په بري سره پلې کړي.

بله ورځ منصور خليفه د ساتنديانو قوماندان عثمان بن‌نهيک له خپلو څلورو کسو ساتنديانو سره- چې شبيب بن‌واج مروه‌رودي (مسعودي: بن‌رواح) او ابوحنيفه حرب بن‌قيس هم په کې وو- د ابومسلم په وژنې وګومارۀ. هغوی يې د پردې شا ته پټ کړي وو او ورته ويلي يې وو، چې لاسونه مې وپړکول تاسو له دننه راووځئ او ابومسلم به په تورو ووهئ!

کله چې يې ابومسلم ته اجازه ورکړه ورننووت او ودرېد، منصور ترې توره وغوښته چې ويې ويني، ابومسلم توره له غاړې را ايله کړه، د منصور مخې ته يې کښېښوده، هغۀ وويل: دا زما د ترۀ عبدالله تېغ دی؟ ويل هو اميرالمؤمنينه! ويل دا توره له ما سره ښايي، خبرې يې پيل کړې، د هغه کنيت يې واړاوۀ، د ابومسلم پر ځای يې ابومجرم بالۀ او هر څه چې يې ورته په زړۀ کې وو، ويل يې چې ولې دې فلانی کار داسې وکړ؟ ابومسلم به يې عذر وايۀ، منصور وپارېدۀ، ويل: ويلک مجرم يعنې هلاک شې مجرمه! د هرې خبرې دليل وايې؟ بيا يې لاسونه وپړکول، هغه سړي راووتل پر ابومسلم يې د تورو ګوزاورنه وکړل، ابومسلم همداسې نېغ ولاړ و، هيڅ يې ورونه کتل او ويې ويل: منصوره ما مه وژنه چې پښېمانه به شې، په کارېږم دې.

---

[1] - طبري ٦/ تر ۱۳۴ وروسته او مجمل ۳۲٦.

منصور ورته وویل: لاس دې پرې شه، په توره یې سر ووهئ! همداسې یې وکړل او ومړ، د ۱۳۷س د شعبان۲۶مه، چهارشنبه (۷۵۵ز) د راتگ دویمه ورځ. په فرش کې یې راونغاړۀ، کار یې خلاص شو؛ نو منصور وویل:

زعمـت أنّ الـدّین لا یقتضـی فاسـتوف بالکیـل أبـا مجـرم
سقیت کأساً کنـت تسـقي بهـا أمـرّ في الحلـق مـن العلقـم[1]

«داسې دې گڼله چې د خلکو پور به درڅخه وانه خیستل شي، ای د گناهکارو پلاره! اوس هماغومره خپله جزا وڅکه! څکه هماغه تریخ کټوری چې دې په خلکو وڅښه، اوس په تا وڅښل شو.»

په دې ډول منصور خلیفه خپل خراسانی سیال- چې له دریو تر شپږو لکو پورې کسان یې د عباسیانو د خلافت د پیاوړتیا لپاره وژلي وو؛ خو هغۀ خپل یواځینی لوی دښمن گاڼۀ ـ له منځه یووړ. د هغۀ د لښکر مخکښانو ته یې هېښنده جایزې ورکړې، د هغوی تر لاس لاندې کسانو ته یې هم ډېرې پیسې وروبخښلې چې د ابومسلم په وژنې ماڼیجن نۀشي. هغوی چې کله له هغو جایزو سره له درباره راستانۀ شول، له ځانونو سره یې ویل: «مورږ خپل بادار په پیسو وپلورۀ»[2]

کله چې یوۀ عباسي درباري جعفر بن‌حنظله د ابومسلم مړی ولیدۀ ویې ویل: «ای امیرالمؤمنینه! همدا نن ورځ د خپل خلافت پیل وگڼه»[3]

څکه د هغۀ د خلافت رښتینې ورځې همدا اوس پیل شوې وې او بل مدعي او سیال یې نه درلود.

منصور چې تکړه خبرلوڅ و، د ابومسلم تر وژنې وروسته یې خلک راغونډ کړل

---

[1] - مجمل ۳۲۷، طبري ٦/ ۱۳۵، مروج‌الذهب ۳ /۲۱۹ خو په تاریخ‌الیعقوبي ۲ /۳٦۸ کې داسې دی:

اشرب بکأس کنت تسقی بها امـر فـی فیـک مـن العلقـم
کنت حسبت الدین لایقتضی کـذبت والله أبـا مجـرم

[2] - طبري ٦ /۱۳۹.

[3] - پورتنی اثر ٦ /۱۳۸ او مروج‌الذهب ۳ /۲۱۹.

او د پاځون نه کولو وینا یې ورته وکړه:

«ای خلکو! د امر منلو له مینې د سرغړونې وحشت ته مه ورکړېږئ! د امامانو پرضد کینې ته په زړهٔ کې ځای مه ورکوئ! ځکه هغه څوک چې له خپل امام سره کینه وکړي، په کینه یې پاچاه د هغو له خبرو پوهېږي، له کارونو یې په ډاګه کېږي او رسوا کېږي. هغه امام چې الله یې د دین خوښونې او حق لوړونې لپاره غوره کوي، له دې ډول کینو یې ژغوري. زه ستاسې حقونه تر پښو نه لاندې کوم؛ خو د دین حق هم ستاسې له امله نه تېیوم، چا چې وغوښتل چې دا خت (د خلافت کمیس) له ما وباسي، په هغهٔ پسې مې توره له تېکي راوایسته. ابومسلم له ما سره بیعت وکړ، دا یې ومنله چې که څوک له دې بیعته سر وغړوي، وینه به یې مونږ ته مباح وي. تر دې بعیت وروسته هغه په خپله ترې سر وغړاوهٔ، نو پر هغهٔ یې داسې حکم وکړ چې تل یې په خپله پر نورو زما لپاره کړی و. د هغهٔ حق ته په پام، زه پر هغهٔ د حق له پلي کولو منع نه کړم»[1]

د منصور له دې وینا جوتېږي چې هغهٔ په دیني دلایلو د خلکو د قانع کولو هڅه کړې او د ابومسلم کړهٔوړهٔ یې د هغهٔ د وژلو لپاره په حقه دلیل ښودلی دی. حقه هم دا ده چې ابومسلم زړور، جنګیالی، مخکښ او اغېزناک مېړهٔ و؛ خو په خپل سیاست کې یې کمزوري ټکي هم درلودل او په پای کې هغه هم په هماغهٔ جرم ووژل شو، چې زرګونه انسانان یې په خپله پرېکړه وژلي وو. هغه په عربي کورنیو کې چې آل هاشم ته یې ډېر عقیدت درلود، د عباسي شیعیانو په منځ کې روزل شوی و؛ نو ناچاره یې له کوچنیتوب دا ګروهه له ځان سره درلوده او په داسې حال کې چې د خراسانیتوب انګېزه یې هم په وینه کې وه او د وعده کړی شوي ژغورونکي (موعود سوشیانت) د راپیدا کېدو ګروهه یې هم له خپل زردشتي پلار، کورنۍ او چاپېریال

[1] - مروج الذهب ۳/ ۲۱۹.

څخه خپله کړې وه، بارتولد وايي چې اسلامي بنسټونه يې له پخوانيو ګروهو سره ګډ کړل او په ماوراءالطبيعه مسايلو کې پر يو ډول تجسم او حلول ګروهمن و.[1]

ابومسلم د عجمي او عربي ګډ تفکر و فرهنګ يوه بېلګه وه. د خلافت په مسأله کې يې په ډاګه د توارث د ګروهې او نبويﷺکورنۍ ملاتړ وکړ او د عباسيانو له سرسختو ملګرو څخه و. په دې لاره کې يې ډېر وګړي ووژل، دولت يې رنګ کړ او د هغۀ پر ځای يې هغه څوک رامنځ ته کړ چې غوښتۀ يې. په داسې حال کې چې په خراسان کې ناست و، په کوفه کې سياسي اوضاع د هغۀ له غوښتنې سره سمه څرخېده. له هماغۀ کس سره به د خلافت بيعت کېدۀ چې هغۀ به غوښت؛ خو بيا وروسته يې له همدې کورنۍ سره سيالي شوه او د اطاعت سر يې ورته نه ټيټاوۀ. سره له دې چې د نبوي کورنۍ د وزير ابومسلمه خلال بده پايله يې په خپلو سترګو وليده، بيا هم په خپله هماغۀ ناوړه برخليک ته وروڅغاست.

د ابومسلم د ماتې يو مهم لامل به د ځوانۍ له توندو احساساتو سره د هغۀ سخت ملي غرور هم وي. ځکه ابومسلم د خپلې وژنې پر مهال ۳۵ يا ۳۷ کلن و او په دې منګ کې هر څوک زياتره تر تدبير، تفکر او تعقل زيات د احساساتو مني!

د ابومسلم په حرکاتو، کړنلار او کړو وړو کې د خراساني وياړونو يا ملي واک د بيا رامنځ ته کولو سخته لېوالتيا ځرګنده ده. لکه چې ومو ويل هغۀ د امويانو عربي لاسبري او ان بنيهاشمو ته سر ټيټ نه کړ؛ خو همدۀ په خپل ټول سياسي ژوندانۀ کې د عباسيانو د واکمنۍ بنسټ ټينګ کړ. ان د منصور ځينې کورني سيالان يې- چې له هماغۀ ټبر وو- هم له منځه يووړل. نو له دې څخه جوتېږي، چې د ابومسلم په نفس کې دوو مهمو داعيو کار کاوۀ: يو ملي او خراساني غرور او بل عربي روزنې او د عربي فرهنګ اغېز چې ابومسلم په کې له کوچنيتابۀ روزل شوی و. دې پياوړې داعيې تل د هغۀ پر سياسي چلن و کړو وړو اغېز کاوۀ او د دواړو په منځ کې هکپک و.

د ساري په ډول کله چې يقطين بنموسی د منصور له خوا ابومسلم ته راغی او هغۀ يې

---

[1] - دائرةالمعارف اسلامي ۱/ ۱۰۲، د ليدن چاپ، ۱۹۱۳ز.

ډېر غوسه ولید؛ نو یقطین ورته د ډاډګیرنې لپاره وویل: ښځه دې راباندې په درې کانو طلاقه وي، چې امیرالمؤمنین زه یواځې ستا د بریالیتوب مبارکۍ درکولو ته رالېږلي یم. ابومسلم هغه په درنښت څنګ کې کښېناوهٔ، کله چې لاړ، نو خپلو ناستو ملګرو ته یې وویل:

«په الله سوګند چې یقطین مېرمن پر ځان طلاقه؛ خو له بادار سره یې وفا وکړه»[1]

له دې روایته څرګنده ده چې ابومسلم د ځان په اړه د دربار له پلمو او بدنیتۍ خبر و؛ خو بیا هم د هغهٔ د ډاډګیرنو تر اغېز لاندې راتهٔ، تر دې چې په همدې لاره کې یې سر بایلود.

وایي چې ابونصر د ابومسلم د دربار له باوري کسانو څخه و، چې هغهٔ ته یې خراسان ته د تګ او د منصور دربار ته د نهٔ تګ رایه ورکړې وه. کله چې د ابومسلم تر وژنې وروسته همدا ابونصر د منصور مخې ته راوړسېده، پوښتنه یې ترې وکړه: ابومسلم ته دې د خراسان د تګ اشاره کړې ده؟ ابونصر وویل: هو امیرالمؤمینه! د هغهٔ پر ما احسانونه وو، زه یې وپاللم، نو چې له ما یې مشوره وغوښته، خیر مې یې ولټاوهٔ او که اوس تاسو هم ما وپالئ او بیا د څه په اړه زما رایه وغواړې نو غوره څه به درته وایم.[2]

د طبري له دې روایته هم څرګندېږي، چې دوستانو ابومسلم د منصور دربار ته له ورتګه منع کړی او دا خطر یې لیدلی و؛ خو هغهٔ باور او ارادت چې ابومسلم د روزنې له اغېزه له کوچنیوالي د ابراهیم امام پر کورنۍ پیدا کړی و، هغهٔ یې ناوړه پایلې ته راکاږهٔ.

نو ابومسلم د سیاسي تېروتنو او یا د مقابل لوري د پلمو او چالاکیو له امله ناکام ووژل شو؛ خو د هغهٔ د دې ملي خوځښت پایلې وروسته د خراساني دولت په بیا رامنځ ته کولو او په دې خاوره کې د ملي واکمنۍ په تمرکز کې وینو، چې ټوله پایله او د هڅو دوام د هغهٔ پوروړی دی.

---

[1] - مروج الذهب ۳/ ۲۱۷.

[2] - طبري ٦/ ۱۴۰ او دې ته اشاره ده چې ګردېزی وایي: وزیر یې ابومسلم ته وویل:«مه ورځه چې بیا به رانشې» ویې نه منله (زین الأخبار، خطي ۷۱ب پاڼه).

# ۷- د ابومسلم ټبر او اولادونه

د مجمل څښتن ليکي: له هغهٔ څخه هيڅ ملکيتونه، شتمنۍ او مريان پاتې نه شول؛ خو پنځه خدمتګارې وينځې. د يسار بن‌عثمان په نامهٔ يې يو وروړ و،[1] حمزه د هغهٔ زوی و. عماره د حمزه زوی و، هغه چې د خليفه‌ګانو پر مهال يې د سړيتوب، لوړهمتۍ، سخا او غرور يادونه مشهور دي... پر ابومسلم د وياړ په اړه علي بن‌حمزه بن‌عماره بن‌حمزه بن‌يسار د اصفهان په کتاب کې ويلي دي:

| | |
|---|---|
| نقلنـــا إلـــى آل النبـــى خلافـــة | وملكـاً وجـدناه مضـبما (؟) مضـيعا |
| و لـولا سـيوف الله فينـا لأصـحبت | ملوك بنـى مـروان فـى الـدين رتعـا |
| منعنـا خمانـاً بالقواضـب و القنـا | جـــلاداً و مازلنـــا اعـــزوا منعـــا |
| ابومســـلم عمـــى و إن كـــان ســـيداً | هماماً قريعاً مــصر حيا سـميدعا؟ |
| السناالاولى صالوا على الغى بالهدى | ودانـو بنـى العبـاس مرئـاً ومسـمعا |
| ونحـــن ســـئمنا المـــارقين ببأســـنا | إلـى أن راينـا عـودهم قـد تخرعـا[2] |

«موږ نبوي کورنۍ ته خلافت او پاچاهي ولېږدول، په داسې حال کې چې بدحاله او ضايع پاتې وو، که موږه د الله توري نه وای راکښلي، بن‌مروان پاچاهانو په دين کې بدعت کاوهٔ، موږه بې همته په خپلو نېزو منع کړل او تر ټولو مخور کسان ياستو. ترهٔ مې ابومسلم غوره، غيرتي، عزتمن او مشهور مېړنی مشر و. ايا موږ لومړني کسان نه ياستو چې د هغهٔ په لارښوونه مو پر کجروان يرغل وکړ؟ له عباسيانو سره په ليدو کتو کې نږدې شوي ياستو، مبتدعان مو له خپله پرتمه سترې کړل تر دې چې په پای کې سپک شول.»

---

[1] - ابن‌خلکان وايي ۱/ ۲۸۱ ابومسلم څو وروڼه درلودل، چې يو يې يسار دی.

[2] - مجمل ۳۲۸.

ابومسلم د فاطمې او اسما په نامهٔ دوې لوڼې درلودې.[1] دا هغه فاطمه ده، چې خُرمیان گروهمن وو، د هغې له نسله به یو کس راپیدا او نړۍ نیوونکی شي او له ابن‌عباس څخه به پاچاهي واخلي. دې ډلې پر مهدي بن‌فیروز درود وایهٔ، چې د همدې فاطمې بنت ابومسلم له اولادې څخه و.[2]

د ابومسلم درې ښځې وې چې په کال کې به یې یو ځل له ښځې سره کوروالی کاوهٔ او ویل به یې بس ده چې انسان په کال کې یو ځل ځان زوم کړي.[3] له دې ښځو څخه یوه هغه ده چې په ۱۹ کلنۍ کې ابراهیم امام هغه ابومسلم ته په نکاح کړه. هغه په ابونجم مشهور د عمران بن‌اسماعیل طایي لور وه، چې[4] په خراسان کې مېشت و او په ۱۳۳س کې د ابومسلم له خوا سیستان ته د حاکم په توگه ولېږل شو. هلته یې له بوعاصم او بنو تمیم سره جنگ وکړ او ماتې یې وخوړه.[5] د هغهٔ نوم الیعقوبي ابوالنجم عمران بن‌اسماعیل بن‌عمران کښلی دی.[6]

ابومسلم خپله لور فاطمه محرز بن‌ابراهیم ته ورکړې وه او اسماء د فهم بن‌محرز مېرمن وه. ابن‌اثیر وایي اسماء اولاد درلود؛ خو له فاطمې اولاد پاتې نه شو،[7] ابوحنیفه دینوري وایي: بابک‌خرمي (۲۲۳س وژنه) چې د ابومسلم د وینې د غچ اخیستو لپاره را پورته شو، د مطهر بن‌فاطمه بنت ابومسلم له اولادې څخه و. خُرمیان ځانونه دې فاطمې بنت ابومسلم ته منسوبوي[8] د دې وینا له مخه باید فاطمه هم له محرز څخه

---

[1]- مجمل، همدغه مخ.
[2]- البدوء و التاریخ ۴ /۵۲.
[3]- پورتنی اثر ۵/ ۹۲.
[4]- الکامل ۵/ ۱۱۹.
[5]- تاریخ سیستان ۱۳۷.
[6]- البلدان ۴۸.
[7]- الکامل ۵/ ۱۱۹.
[8]- اخبار الطوال ۳۹۷.

اولاد ولري.

د سلجوقیانو وزیر خواجه نظام‌الملک ابوعلي حسن بن‌علي وايي له فاطمې بنت ابومسلم څخه د فیروز په نامهٔ زوی پاتې شوی، چې خُرم دینان يې پوه ځوان (الفتی‌العالم) بولي او درود پرې وايي.[1]

په راوروسته وختونو کې یوهٔ لیکوال ځان ابومسلم ته منسوب کړی او دعوه يې کوله چې د هغهٔ له اولادې څخه دی؛ خو جوته نه ده چې دا دعوه څومره رښتینې ده.

د غوري پېر په وروستیو او د ۶۰۰س شاوخوا کې د آداب‌الحرب والشجاعه پارسي کتاب مؤلف فخر مدبر مبارکشاه دعوه کوله چې نیکهٔ يې خزانچي شریف ابوالفرج د سلطان ابراهیم غزنوي د دربار وزیر د ابومسلم له اولادې څخه و، هغه وايي: ابومسلم د عباسیانو د دولت واکوال چې د کتاب د مؤلف له نیکونو څخه دی، په غشیو يې جنګ کاوهٔ او د هغه ځولۍ (تیردسته) شل منه وه.[2]

که د فخر مدبر دا دعوه حقیقت ته نږدې وي؛ نو ویلای شو چې ابومسلم اولاده درلوده چې تر هغه ۵۰۰ کاله وروسته يې ځانونه هغهٔ ته منسوب کړي او د غزني په دربار کې يې د خزانچي او وزیر دنده درلودلې ده.

[1] - سیاستنامه ۲۴۳، د مرتضی مدرسي چاپ، تهران۱۳۳۴ل، د ۴۸۵س تألیف، په سیاستنامه کې يې الفتی‌العالم، هوښیار کوچنی ژباړلی دی.

[2] - آداب‌الحرب و الشجاعة ۱۰۷، الف خطي پانه.

## ۸- تر ابومسلم وروسته خراسان او د ملي خوځښتونو دوام

په خراسان کې د ابومسلم خوځښت او له امويانو څخه عباسيانو ته د حکومت لېږد په اسلامي تاريخ کې دوې ډېرې ښکاره او مهمې پايلې ورکړې:

لومړۍ: لکه چې ومو ويل دا خوځښت په خراسان کې د نورو ملي خوځښتونو پيلامه شوه، چې په پای کې د خراسان د خپلې پاچاهۍ په جوړېدو پای ته ورسېد. په اسلامي پېر کې د دې خاورې لومړنی تولواک ابومسلم و، چې په همدې نامهٔ مشهور و او د هغه نغاره يې د خراسان د مروې شاهجان د څلور لارې پر سر تر ۶۱۷س پورې ډنگوله.[1] هغهٔ په خراسان کې خپله سيکه هم دود کړې وه.[2]

دويمه: په دې خوځښت سره چې د عباسي دولت د رامنځ ته کېدو لامل شو، خراساني او عجمي عناصر، د دربار د خلافت تشکيل، لښکر او نورو ته ورننوتل، چې اوس نو عباسي دربار هغه متعصب او نړه عربي دربار نه و، بلکې د خراساني مدنيت او فرهنگ عناصر هم پرې ورگډ شول. په پايله کې خراسانی ژبې، فرهنگ، علوم، لارښوونې، روايات هم وژغورل شول؛ خو پر وړاندې يې عربي لاسبری په بشپړ ډول له منځه لانړ. لکه چې د آل‌محمد د وزير ابوسلمه خلال له مړينې سره سم په ۱۳۲ س کال کې د خراسان يوهٔ مخور کس خالد بن‌برمک بن‌جاماس بن‌يشتاسب بلخي[3] چې د بلخ نوبهار عبادتځي د چوپړانو له مشهورې کورنۍ څخه و، د سفاح وزير شو. هغه د عباسي خليفه‌گانو د دربار له باوري کسانو او کارپوهو مشاورينو

---

[1] - طبقات ناصري ۱/ ۱۰۷.

[2] - دايرةالمعارف اسلامی ۱/ ۱۰۲.

[3] - ابن خلکان ۱/ ۱۰۵.

ښځه و. د خلافت د خراج دفتر مسوولیت ور تر غاړې و او د عجمي فرهنګ او آثارو د ساتنې هڅه یې کوله. داسې چې په ۱۴۵س کې یې د بغداد د ودانولو پر مهال منصور خلیفه د کسرا دفتر د ودانۍ له ړنګولو منع کړی و،[1] وروسته به د هغهٔ او د کورنۍ په اړه یې په تفصیل سره بحث وکړو.

لکه چې پوهېږو او د مخه مو وویل: کله چې ابومسلم له خراسانه هغهٔ سفر ته مخه کړه چې پایله یې د هغهٔ وژنه وه، په خراسان کې یې ابوداؤد خالد بن‌ابراهیم زهلي د خپل ځایناستي په توګه پرېښود چې هغهٔ روزلی یو عرب و.

دې بدعمله سړي چې له خپل پالونکي سره خیانت وکړ او لکه چې ومو ویل د منصور په نغوته یې ابومسلم خراسان ته له راتګه منع کړی و، د ابومسلم تر وژنې وروسته په خراسان کې د منصور له خوا والي شو. دې سړي خراسان د عباسي هېواد برخه وګرځوله او دومره یې غاړه کښېښوده چې کله په ۱۴۰ س کې عباسي منصور خپل ترهٔ عبدالله بن‌علي ونیو، هغه یې د خپل خلافت په ماڼۍ کې بندي کړ، د هغهٔ یو شمېر ملګري یې په خراسان کې ابوداؤد خالد ته راواستول چې هغهٔ یې دلته ووژل.[2]

## د ابومسلم د کسات اخیستنې لپاره

### د سنباد[3] پاڅون (۱۳۷س= ۷۵۵ز)

کله چې د ابومسلم د وژنې کرغېړن خبر خراسان ته راورسېد، د دې ځای وګړي یې- چې خپل یو لوی مشر یې له لاسه ورکړی و- سخت غوسه کړل او په دې لړه کې شول

[1] - آثارالوزراء ۳۰او الکامل ۵ /۲۷۱.

[2] - طبري ٦/ ۱۴۵.

[3] - سُنبات د نندارېز او نندارې والا په معنی. سنباد د یوهٔ نیشاپوري مجوسي نوم و؛ خو فکري او عقلي ځواک ته یې هم وایي (برهان ۱۱۷۰) تر اسلام دمخه وخت کې سنباد د یوهٔ حکیم نوم و، چې سندبادنامه له هغهٔ راپاتې ده. ښایي د پوه، فکري او عاقل په معنی سندباد له سنباد سره نږدېوالی ولري، چې ریښه یې په پښتو کې سند د پند په وزن او معنی د عقل، سنجولو او رای په بڼه ژوندۍ ده، خوشحال خان وایي:
«پلار د خپل رای شهٔ زوی د خپل رای شهٔ جدا جدا دي سره سَندونه»
(وګ: د خوشحال خان مرغلرې، کندهار، د حبیبي چاپ ۱۳۱۷ل، ۱۱۲۲ مخ فهرست، د سندول کلمه) د یادولو وړ ده، چې د سُنبت نوم د شوروي په آذربایجان کې کارېږي.

چې خپل شتون او ملي هويت وژغوري. له همدې امله په دې سيمه کې د عباسيانو د لاسبري پر ضد پرله‌پسې پاڅونونه وشول.

موږ چې د کوم پېر په اړه بږغېږو د خراسان په زياترو ښارونو او کليو کې داسې کسان پاتې وو، چې پر زردشتي دين گروهمن وو او مؤرخانو گبر، گبرک، مغان يا مجوس بللي دي.[1] څرنگه چې د اسلام تر خپرېدا د مخه د گبرانو دين د خراسان د زياترو خلکو رسمي دين و، نو د هغهٔ لرغوني دين روايات او شعاير د اسلام منلو په لومړيو کې هم په خلکو کې دود او تولمنلي وو. آثار يې د خلکو له ذهنونو، گروهو او تفکر څخه وتلي نه وو. د زردشتيانو يوه گروهه دا وه چې په گانده کې به د رزتشت له نسله درې زامن د سيستان هامون د سيندگوټي پر غاړه راڅرگند شي، هر يو به له بله زر کاله واټن ولري او کله چې يې د «سوشيانت»په نامهٔ وروستی زوی راڅرگند شي، شيطاني درواغجن لښکر به له څېرمې پوپناه شي او د سوشيانت د راڅرگندېدو د پاڅون پر مهال به د هامون سيندگوټی خوږ وي.[2]

د گبرکي دين دا منتظره موعود چې "هوشيدر بامي" يا "هوشيدر ماه" هم نومل شوی دی، هماغه موعود دی چې مجوسيان يې د راڅرگندېدو انتظار باسي،[3] لکه څرنگه چې مسلمانان هم د مهدي د راڅرگندېدو انتظار باسي.

په پرېوتو او مخڅوړو ټولنو کې د ابومسلم غوندې نابغه‌گانو او نوميالیو رامنځ ته کېدل او ډارمه‌يي مړينه يې د هغهٔ په اړه د خلکو په عقيدو کې رسوخ او ارادتمندي زېږوي، چې تر مړينې وروسته يې هم د هغهٔ راستنېدو ته سترگې پر لاره وي او د دايمي فنا قايل نه وي. منطقي او اروايي دليل يې هم دا دی، چې انسان د ځانژغورنې او ښېگڼې له حال سره سخته لېواليتا لري او د نېکمرغۍ او ښېگڼې له هيلې سره اوسېږي. له همدې امله که د يوهٔ نابغه په وجود کې خپله ژغورنه او

[1] - تاريخ سيستان ۱۴۲، مزديسنا و شعر پارسی ۳۹۵او سياستنامه ۲۱۴.
[2] - يشتها ۲/ تر ۲۸۹ وروسته او مينو خرد ۲/ ۲۳۸.
[3] - تاريخ ادبی ايران ۱ /۳۵۹.

خلاصېدنه حس کړي، د هغهٔ تر مړينې وروسته د هماغې خير- ښېګڼې په تمه په معجزه‌يي توګه د هغهٔ د راستنېدو انتظار باسي. د زياترو بشري اتلانو او نوابغو په اړه د خلکو همداسې ارادتمندي موجوده وه. ان په شلمه پېړۍ کې هم ځينې وګړي تر ډېره وخته د هټلر ژونديتابهٔ ته قايل او د هغهٔ افسانوي راستنېدا ته سترګې پر لاره وو.

خراسانيان چې د عربو د لاسبري په پايله کې د خپلواکۍ له نعمته بې برخې شوي وو، د ابومسلم په راڅرګندېدا يې د خپلواکۍ غوښتنې د پخوانيو هيلو د ترسره کېدو انتظار درلود؛ نو: «ښه وځلېد، خو ډېر ژرتېرى نعمت و.»

څرنګه چې هغه په ناکامۍ ومړ او اوس يې هغوى له افسانوي کارنامو څخه محروم وو، نو ځکه يې د زردشتي دين د موعود اصلاح کوونکي په څېر ګاڼهٔ او ون‌فلوتن وايي د ابومسلم په مړينه ګروهمن نه وو. د هغهٔ د راستنېدا انتظار يې کاوهٔ او عقيده يې درلوده چې په خپله راستنېدا کې به ټوله ځمکه د عدل په رڼا روښانه کړي. نور ګروهمن وو، چې امامت يې لور فاطمې ته رسېدلی دی.[1]

مسلمانانو مؤرخانو ابومسلم ته منسوبه دا ډله مسلميه ګڼلې ده، چې د هغهٔ په امامت يې عقيده درلوده او ويل به يې ابومسلم نه دی مړ، بلکې ژوندی او خواړهٔ خور دی. ابن‌نديم له يوهٔ بلخي سړي څخه روايت کوي: مسلميه ته خرم دينيه هم وايي او د خرم‌آباد په نامهٔ يې کلی په بلخ کې موجود و.[2]

د زردشتي دين له دې پليونو څخه يو، چې د ابومسلم له وژنې سره سم يې تورې ته لاس کړ او د خپل ګران مشر د وينې د غچ اخيستنې لپاره راووت، د اهروانه کلي (په تاريخ طبري ٦ /١۴٠ کې: اهن وانه؟) د نيشاپور سيمې يو کس و، چې نوم يې سنباذ، په فيروز اسپهبد مشهور او ابومسلم روزلی و.

سنباذ ډېر پليوني ومونډل بې ځنډه يې نيشاپور، قومس او ری ونيول او کله چې ری ته ورسېد، د ابومسلم هغه خزانې يې تر لاسه کړې چې د حج د سفر پر مهال يې هلته ايښې وې.

---

[1] - سيادت عرب ٦٨ او مروج‌الذهب ٣/ ٢٢٠.

[2] - الفهرست ۴٨٣.

د ډېرو مالونو څښتن شو؛ خو پر سوداګرو يې غرض ونه کړ. ويل يې چې حجاز ته د تګ او د کعبې ويجاړولو اراده لري.[1] هغۀ د طبرستان د مجوسيانو او مزدکيانو، رافضيانو او د کوهستان د مشبهانو يوه لويه ډله راغونډه کړه، لومړی يې باعبيده حنيفي وواژۀ، چې د منصور له خوا د ری حاکم و. د عراق او خراسان خلکو ته يې وويل: ابومسلم يې نه دی وژلی؛ کله چې يې منصور د وژلو هوډ وکړ، هغه د الله تعالی (اسم اعظم) ووايۀ، سپينه کوتره ترې جوړه شوه او والوته. اوس په کوټ کې له مهدي او مزدک سره ناست دی. دا درېواړه راوځي، مخکې به يې ابومسلم وي. د سنباذ خوځښت داسې ځای ته ورسېد چې يو لک کسان پرې راغونډ شول. کله چې به له ګبرانو سره ګوښی شو، ويل به يې: د عربو دولت شو، چې د بني ساسان په يوۀ کتاب کې مې ليدلي دي، چې کعبه ويجاړه نه کړم، راوبه نه ګرځم، هغه يې د لمر په بدل کې جوړه کړې ده، لکه چې پخوا وه. موږ ه هماغسې لمر خپله قبله کوو.[2]

سنباذ د خپلو راڅرګندېدو په اويا ورځو کې تر هغۀ مهاله زياتې سوبې وکړې، تر هغه چې منصور خليفه يې د ټکولو لپاره له لس زره لښکر سره جهور بن‌مرار عجلي راواستاوۀ، د همدان او ری ترمنځ يې جنګ وکړ. د سنباذ ٦٠ زره پليوني يې ووژل، ښځې او کوچنيان يې ورته بنديان کړل. په خپله سنباذ د طبرستان او قومس په منځ کې د لونان طبري په لاس ووژل شو. د اوښانو ترهېدل او لښکرکوټ ته تېښته د هغۀ د لښکرماتې لامل ليکل شوی دی.[3] ابن‌اثير وايي: چې سنباذ د خپل لښکر تر ماتې وروسته د طبرستان واکمن ته پناه ورووړه، چې په لاره کې يې طوس نومي واکمن سر پرې کړ او منصور ته يې د هغۀ د وژلو خبر ورکړ. د هغۀ مالونه يې ونيول او ديلم ته وتښتېد.[4] اډوارډ براون وايي د سنباذ مجوسي پاڅون که څه هم وېرووني او بوږنووني و؛ خو دوام يې ونه کړ، ايله ٧٠ورځې وغځېد.[5] جهور چې کله سنباذ وواژۀ؛ نو په ری کې تم شو، څومره ګبرکان چې يې وموندل، ټول يې ووژل. مالونه يې ترې ولوټل،

---

[1]- طبري ٦/ ١٤٠ او الکامل ٥ /٢٢٩.

[2]- سياستنامه ٢١٤.

[3]- طبري ٦/ ١٤١، الفخري ١٥٤ او مروج‌الذهب ٣/ ٢٢٠.

[4]- الکامل ٥/ ٢٢٩.

[5]- تاريخ ادبي ١/ ٤٦٧.

ښځې او اولادونه یې ترې مړیان بوتلل او په مړییتابهٔ کې یې ساتل؛[1] خو جهور چې د سنباذ دا مالونه او د ابومسلم د خزانو پاتې شونې تر لاسه کړې وې، هغه یې منصور ته ور ونه لیږلې. منصور هم هغه گوښه کړ او محمد بن‌اشعث خزاعي یې له یو لوی لښکر سره د جهور و جنگ ته ورولیږهٔ او د سنباذ پر پاتې شویو میراثونو یې سره سخت جنگ وکړ. جهور ماتې وخوړه، ډېر ملگري یې ووژل شول او په خپله آذربایجان ته وتښتېد او هم هلته یې وواژهٔ.[2]

د سنباذ پلیوني د هغه تر وژنې وروسته څه مهال په ری کې پاتې شول، لکه چې شهرستاني (۴۷۹ - ۵۴۸س) د غالیه ډلې په شرحه کې- چې پر رجعیت، تشبیه او تناسخ گروهمن دي- وایي: دې ډلې ته په ری کې مزدکیه او سنباذیه وایي.[3]

## د اسحاق پاڅون

ابن‌ندیم وایي کله چې ابومسلم ووژل شو، یو شمېر بلونکي او نږدې کسان یې چې مسلمیه یې بولي لیرې‌سیمو ته لاړل، له هغې ډلې اسحاق نومی د ماوراءالنهر ښارونو ته لاړ او هلته یې ابومسلمي بلنه پیل کړه. دعوه یې وکړه چې ابومسلم د ری په غرونو کې بندي دی او په ځانگړي وخت کې به بیا راشي.

دا اسحاق په تُرک مشهور شو، ابن‌ندیم وایي لامل یې هم دا دی چې هغه د ترکو سیمو ته تللی او هلته یې خلک د ابومسلم رسالت ته رابللي دي. ځینې وایي هغه د علویانو د یحیی بن‌زید بن‌علي له اولادې څخه دی، چې د امویانو له ظلم څخه تښتېدلی او د ترکو په سیمو کې گرځېدهٔ راگرځېدهٔ؛ نو دا مذهب یې هلته د خپل کار د پرمختگ لپاره جوړ کړ. د اخبار ماوراءالنهر کتاب لیکوال وایي: هغه د ماوراءالنهر له خلکو او یو نالوستی سړی و، چې له پېریانو سره یې اړیکي درلودهٔ. که چا به وپوښت، یوه شپه وروسته به یې ځواب ورکاوهٔ. ابومسلم چې په دې برخلیک اخته شو، اسحاق خلک هغهٔ ته رامات کړل او

[1]- سیاستنامه ۲۱۵.

[2]- طبري ٦/ ۱۴۲.

[3]- الملل و النحل، پارسي ژباړه ۱۳۴، د تهران چاپ، ۱۳۳۵ل.

دعوه یې وکړه، چې هغهٔ پیغامبر او د زردشت له خوا رالیږل شوی دی، په خپله زردشت هم ژوندی دی او د خپل دین د مرستې لپاره رامیدان ته کیږي. دا په خراسان کې د رامنځ ته شوې مسلمیه ډلې اسرار دي.[1]

د اسحاق د کار د پایلو په اړه معلومات نه لرو، ځکه د هغهٔ یادونه یواځې ابن‌ندیم کړې او نورو معلومات نه دي ورکړي.

[1]- الفهرست ۴۸۳.

## د سپین‌پوښو خراسانیانو پاڅون

## او د خالد وژنه

د مخه مو وویل چې ابوداؤد خالد ذهلي د ابومسلم تر وژنې وروسته په خراسان کې والي او د عباسي دربار ډېر منونکی و؛ نو له همدې امله ورته خراسانیانو په ښه نظر نه کتل او تل په دې لټه کې وو، چې څنګه یې له مخه لیرې کړي. ځکه د ابومسلم دا روزلی ملګری د هغه په پله روان نه شو او د عباسي دربار د بشپړ اطاعت سپارښتنې یې کولې.

پر دې سربېره خراسانیان له دې سړي خوشحاله نه وو، ځکه هغه له خپل بادار ابومسلم سره وفا ونه کړه. د نعمت همدې ناشکرۍ هغه خطرناکې پایلې ته ورساوه چې: د ۱۴۰س د ربیع‌الأول په یوه شپه کې یعنې د ابومسلم تر وژنې درې کاله وروسته، ابوداؤد خالد بن‌ابراهیم د مروې د دارالامارت په کشماهن ورځ کې په خوارۀ خوب ویدۀ و، چې د خراساني عسکرو یوۀ ټولي - ګردېزی په زین‌الاخبار کې وایي له سپین‌پوښو څخه او د سعید جولا تر مشرۍ لاندې و- د هغۀ له امره غاړه وغړوله، د پنډغالي شاوخوا یې ورته ونیوله. د بلواګرو عسکرو شور ځوږ هغۀ له خوارۀ خوبه راویښ کړ، نو هغوی یې له خپل کور راچاپېر ولیدل.

خالد چې د رنځېدلو عسکرو ډېر سخت پاڅون ولید؛ پوه شو چې کار یې پای ته رسېدلی او د روزونکي ابومسلم د کسات اخیستنې وخت یې رارسېدلی دی، ناچاره د خپل تمځي بام ته وخوت چې خپل پلوي عسکر د ځان‌ژغورنې لپاره راوبلي. سپېده داغ مهال چې لړه رڼا خپره وه، له بلې راولوېد او ملا یې ماته شوه. پر همدې مازیګر یې ساه ورکړه[1] او خلکو په خپلو سترګو د هغۀ چا

[1] طبري ٦/ ١٤٦.

پایله ولیده چې له خپل روزونکي او پالونکي سره یې خیانت کړی و.
چې خالد مړ شو، د مروې امنیه قوماندان عصام د ادارې واګې په لاس کې ونیوې او د خراساني پاڅونوالو مشر سعید جولا یې وواژه. د منصور خلیفه له خوا عبدالجبار بن‌عبدالرحمن ازدي- چې د خلافت د دربار د امنیه ځواکونو سرقوماندان و ـ خراسان ته راولیږل شو.
هغه خراسان ته له رارسېدو سره سم د دې ځای د لښکرو ځینې مشران مجاشع بن‌حریث الانصاري د بخارا واکمن، ابومغیره خالد بن‌کثیر د قوهستان واکمن او حریث بن‌محمد ذهلي د خالد تروړزی ونیول او ویې وژل. نور مخور خراساني مشران یې بندیان کړل او د دولتي مالونو ـ چې د خالد پر مامورینو پاتې وو ـ په راټولولو یې لاس پورې کړ. خراسان ته د عبدالجبار راتګ د ۱۴۱س کال د ربیع‌الأول په ۱۰ مه نېټه و.[1]

[1] - طبري ٦ تر ۱۴٦ وروسته او زین‌الأخبار، خطي ۷۳ پ پاڼه.

# د خراساني راونديانو پاڅون

په لومړي څپرکي کې مو د لويکانو او د بغلان اورتون او عبادتځي په منځ کې د هغو د پېريو په بحث کې وويل، چې د هغه مهال خلکو د خپلو پاچاهانو لمانځنه او درناوی کاوهٔ. د هغو بتان يې په عبادتځيو کې ايښودل، لکه چې د لومړۍ اسلامي پېړۍ په دري ادبياتو کې د خودی، خودیوگ او خدای کلمې هم په خراسان کې دود وې، د دويمې زېږدي پېړۍ په وروستيو کې د بغلان په ډبرليک کې د بگ‌شاه= لوی پاچاه او شهنشاه لپاره هم کارېدلي دي، چې بېلگه يې په کابل‌خدای، زابل‌خدای، گوزگان خدات، بخارا خدات او نورو کې د اسلام د ځلا په تاريخ او ادبياتو کې هم وينو.[1]

دې پخوانيو گروهو په اسلامي پېر ډول ډول بڼې خپلې کړې او لکه چې ومو ليدل د ابومسلم تر مړينې وروسته کله د وعده شوي او منتظر مهدي په بڼه راښکاره شوې- چې د خراسان سنباديان يې مدعيان شول ـ او کله هم د حلول، تناسخ، اتحاد، تشبيه او نورو په بڼو راڅرگندې شوې. دې ټولو گروهو د توحيد له گروهې سره- چې د اسلام دين يې داعي و- ټکر او اختلاف درلود. له همدې امله يې داعيان او راژوندي کوونکي په هر ځای کې د مسلمانانو له خوا وځپل شول. ان هغه سياسي خوځښت هم شنډ شو، چې د دې خوځښتونو تر شا پټ و.

په حقيقت کې بايد وويل شي: د دې وروستيو پر بې گټې محافظه کارۍ ولاړو او د بشري فکري ودې ضد گروهو ککړتيا وه، چې د خراسانيانو سياسي او ژغورنده خوځښتونه يې شنډول، ځکه خلکو له فکري رڼايي‌او د عصر و زماند عقلي پرمختگ له بهير سره هغه زړې گروهې د خپل نوي ژوندانهٔ چورليځ گرځولای نه

---

[1]- د دې مطالبو د شرحې لپاره وگ: د ليکوال دوه کتابونه؛ پښتو و لويکان غزنه او مادر زبان دری، د کابل چاپ.

شوې. نو تر هغۀ مهاله چې د ملي پېژندګلوۍ د تثبیت او د خپلواکۍ د تر لاسولو لپاره سیاسي خوځښتونه او غورځنګونه د زړو او ورستو ګروهو له ککړتیا څخه پاک او نره شوي نه وو، هیڅ سیاسي خوځښت ګټور نه شو؛ خو یواځې د هرات د پوشنګیانو تر خوځښت وروسته وو، چې د خراسانیانو سیاسي خوځښت د اسلامي دیني ګروهو په منلو د عربو د لاسبري پر ضد ګټور شو او د هغۀ د بري لامل همدا و، چې دې خوځښت په زړو ګروهیزو چټلیو خپله لمنه ککړه نه کړه، یواځې د یوۀ نوي سیاسي خوځښت په توګه د خپلواکۍ د ترلاسي لپاره رامنځ ته شو. موږ به په خپلو راتلونکو بحثونو کې د ټولو سیاسي خوځښتونو ناکامۍ شرحه کړو، چې د زړو ګروهو افسانوي رنګ یې اخیستی و.

اوس راګرځو هغو پاتې خوځښتونو ته چې په خراسان کې تر ابومسلم او سنباذ وروسته رامنځ ته شوي وو:

په ۱۴۱س کال کې یوه ډله خراسانیان راڅرګند شول، چې مؤرخانو راوندیان بللي دي. طبري او ابن‌اثیر وایي د ابومسلم په څېر د بني‌هاشمو په بلنه او د روحونو په تناسخ ګروهمن وو. د راوند په نامۀ څو ځایونه په کاشان، اصفهان او موصل کې شته؛[1] نو ځکه ځینو هغوی د کاشان یا اصفهان د راوند بللي دي؛ خو لکه چې طبري (٦/١۴٧) ابن‌اثیر (۵/٢٣٨) او ابن‌طقطقي وایي دا راوندیان خراسانیان وو، نو له دې امله به د خراسان د راوند وي، چې په څرګنده په نیشاپور کې پروت و.[2] انګریز ختیځپوه اډوارډ براون هم دا روایت غوره او تایید کړی دی.[3] پر دې سربېره په ابن‌الراوندي مشهور د احمد بن‌یحیی په نامۀ یو کس د ابوالقاسم بلخي له خوا د محاسن‌خراسان په کتاب کې یاد شوی و، چې ابن‌ندیم هغه د همدې کتاب په حواله د مروه‌رود استوګن بللی دی.[4] له دې هم څرګندېږي چې د احمد نیکۀ راوندي دې

---

[1]- مراصد الاطلاع ٣/ ۵٩٨.

[2]- وفیات‌الأعیان ١/ ٢٧.

[3]- تاریخ ادبي ١ /۴٦٩؛ خو په مجمل‌التواریخ او القصص ٣٢٩ کې یې د نورو ټولو متونو پر خلاف هغوی راوندیان ګڼلي، وایي چې ریښه یې له عبدالله رونده څخه ده او ابومسلم ته یې زهر ورکړي وو، چې ویښتان او خوږ یې وغورځول.

[4]- الفهرست ۴مه تکمله.

قبیلې ته منسوب او د خراسان له مروه‌رود څخه و. د هغهٔ کتابونه هم مسلمانانو ښهٔ نـه ګڼل او د اسلامي ګروهو ضد مطالب یې په کې راوړي وو.

نو راوندیان د بني‌هاشم خلافت له بلنې سره د زړو ګروهو او خرافاتو په ګډولو د هغهٔ مهال په دیني ډلو کې ځانګړې دریځ لري. هغوی په څرګنده په کړو وړو کې د عباسیانو په پلوۍ دومره زیاتی او افراط وکړ، چې ابوجعفر منصور یې خدای، د مکې حاکم هیثم بن‌معاویه خراسانی یې د جبرایل سیوری او د دربار د ساتندویانو سرقوماندان عثمان بن‌نهیک- هماغه د ابومسلم قاتل- یې د انسان د روح ځای وګاڼهٔ. کله چې ۶۰۰ سوه کسان د خلیفه تر ماڼۍ چاپېره ګرځېدل؛ نو داسې یې ویل: دا زموږ د خدای ماڼۍ ده؛ خو منصور د هغو دا افراطي درناوی ونه مانهٔ او د راوندیانو دوه سوه مشران یې زندان ته واچول[1] ځیرک ختیځ‌پېژندونکی هالینډی ډوزي DOZAY (۱۸۲۰- ۱۸۸۳ز) په دې اړه وایي:

«هغوی ناپوه متعصبین وو، چې د هند او ایران د افکارو تر اغېز لاندې یې خپلو پاچاهانو ته خدایان ویل. تر هغهٔ مهاله چې د عباسیانو بری په شک کې و، د عباسي خلیفه‌ګانو چلن له دې ډلې سره صبر او زغم و؛ خو کله چې یې ولکه ومونده نو نور یې ورسره نرمي ښه ونه ګڼله، ځکه د نرمۍ په صورت کې یې یواځې اهل‌سنت و الجماعت نه بلکې ټول عرب توکمي د ځان پر خلاف راپارول. له بله پلوه د عباسي خلیفه‌ګانو ځان ته د خدای نامهٔ نه منل د دې لامل شول چې دا وګړي د هغو پر وړاندې بې مینې شي. راوندیانو هغه مهال دې معنی ته مخه کړه، چې د منصور دربار ته په درناوي یې انعامونه تر لاسه کړل؛ نو هغه یې خپل خدای وبالهٔ... یواځې دا نه چې خلیفه د هغو درناوی ونه مانهٔ، بلکې د هغو مشران یې زندان ته واچول؛ نو له هغهٔ مهاله وروسته منصور خلیفه د راوندیانو په اند خلیفه نه و. دوی هغه څوک له خدایه جلا نه ګاڼهٔ چې په حقه پاچاه دی او که به پاچاه له خپلې خدایۍ منکرېدهٔ له

---

[1]- طبري ۶/ ۱۴۷ او الکامل ۵/ ۲۳۸.

غاصب پرته بل څه نه و؛ نو باید له پاچاهۍ ګوښه شي... طبري وایي دا پرګنه په خپله د هغهٔ تر مهاله یعنې د لسمې زېږدې پېړۍ تر پیله موجوده وه. د مظهریت او تناسخ پر ګروهې سربېره راوندیانو په ډاګه د ښځې د اشتراک په اړه د مزدک رایې هم ومنلې او د ځان په اړه په معجزهیي ځواک ګروهمن وو. ان ځینو یې په دې خیال چې الوتلای شي ځانونه له لوړو ځایونو څخه راوغورځول او ړېزمرېز شول...»[1]

داسې برېښي چې د عباسیانو په پلازمېنه کې د راوندیانو له افراطه ډکې ګروهې د ځرګندېدو موخه دربار ته رسېدل او هلته د الې ګولې جوړول وو. ځکه کله چې په هاشمیه کې شاوخوا شپږ سوه کسه راغونډ شول (بغداد لا نه و جوړ شوی) خلیفه له دې نابېره ټولې ووېرېد او د هغو دوه سوه مشران یې بندیان کړل، امر یې وکړ چې راغونډ نهٔشي. خو هغوی د دې لپاره چې موخې ته یې د چا پام نهٔشي، تش تابوت یې پر اوږو واخیست او داسې یې وښودل چې مړی د ښخولو لپاره هدیرې ته وړي، په دې ډول له ښاره تېر شول، زندان ته له رسېدو سره سم یې ورونه مات کړل او خپل مشران یې راوایستل. د منصور پر استوګنځي یې برید وکړ، د دربار ډېر کسان یې ووژل، په هغو کې یې د خلیفه د ساتندویانو قوماندان عثمان بن‌نهیک هم وواژهٔ. که معن بن‌زائده د منصور مرستې ته نه وای رارسېدلی؛ نو هرومرو یې هغه هم واژهٔ؛ خو په پای کې د خلیفه ځواکونه پر اوضاع لاسبري شول او راوندیان یې د تورې په زور وایستل. دا پېښه د راوندیانو په ورځ مشهوره شوه.[2]

د عباسي پلازمېنې په زړهٔ کې د راوندیانو د پاڅون له بهیر او د خلیفه د ځواکونو له خوا د هغو له ټکولو دا لاس ته راځي چې د خلیفه او د هغهٔ د دربار له کسانو سره د دې ډلې د عقیدت او خدایتابهٔ ځرګندونه بې ښودنې بل څه نه وو. لکه چې دینوري روښانه کړې ده، هغوی له ابومسلم سره اړیکي درلودهٔ او یوه موخه یې هم د

[1]- تاریخ ادبی، د براون ۱/ ۴۶۹ د دوزي د کتاب اسلام په حواله ۲۴۱.
[2]- طبري ۶/ ۱۴۹ او الکامل ۵/ ۲۳۸.

ابومسلم د وینو پور اخیستل وو.[1]

ون‌فلوتن د مدایني (۲۱۵س مړ) د روایت له مخه د راوندیانو په اړه وایي: چې د هغو یو کس چې پر پیس اخته و او برگی بلل کېدهٔ، راوندیان یې غُلو ته وبلل او داسې یې وگڼله چې د عیسی بن‌مریم علیه‌السلام روح حضرت‌علي ته ننوتی او وروسته نورو امامانو ته. هغوی محرمات مباح وگڼل او خلیفه منصور یې په خدایي ونیو؛ خو منصور خلیفه هغوی خپل سیاسي دښمنان گڼل، چې د هغهٔ د دښمن ابومسلم خراساني له پلیونو څخه وو. سره له دې چې له هغوی سره یې هماغه د ابومسلم معامله وکړه او د هغو ډلوژنه یې وکړه؛ خو په بشپړ ډول یې د هغوی جرړې ونه ایستلای شوې، لکه چې د دې خلکو د خوځښتونو غځېدا به تر دې وروسته د مقنع خراساني، برازبنده، بابک‌خرمي او نورو په پاڅونونو کې ولیدل شي.[2]

[1]-اخبار الطوال ۳۸۰.

[2]- تاریخ الإسلام السیاسي ۲/ ۱۰۲ د حسن ابراهیم حسن، د قاهرې چاپ، ۱۹۴۸ز، د ون‌فلوتن د سیادت عربي کتاب په حواله ۹۶.

# د برازبنده[1] پاڅون او خراسان ته

# د المهدي راتګ

بل خراساني بلواګر چې د منصور په وخت کې يې د ابومسلم په پلیونۍ په خراسان کې الهګوله جوړه کړه او وګړي یې تر خپل سپین توغ لاندې د عباسیانو د لاسبري پر خلاف راپورته کړل، برازبنده بن‌بمرون؟ دی چې یواځې د ګردېزي د زین‌الاخبار په لاسوند یې پېژنو.

لکه چې ومو ویل د خراساني راوندیانو خطرناک پاڅون په هاشمیه پلازمېنه کې

[1]- دا خراساني نوم ډېر پخواني دی او تر اسلامي پېر د مخه هم په خراسان کې مخینه لري. اټکل کېږي چې دا نومیالی کس د دې خاورې د پخوانیو حاکمانو له اولادونو څخه دی. څکه ابن خرداذبه وایي د هرات، پوشنګ او بادغیس د پاچا لقب برازبنده و، چې برازان او ابراز هم لیکل شوی دی (المسالک و الممالک تر ۳۹وروسته) او لکه چې د ون‌فلوتن د کتاب تسلط عرب په حواله کریستن‌سن لیکي: په نسا کې یې حاکم ته وراز او په غرجستان کې وراز بندګ وايۀ. (ساسانیان، اردو ژباړه۶۷۶)

دا نوم د حیواناتو په نامۀ د تسمیې له مقولې څخه دی، چې په دې کتاب کې یې ډېرې بېلګې په خراساني نومونو کې راغلي دي. په اوستا کې ورازه او په پهلوي کې ورازو او په پارسي کې ګراز د ګداز په وزن د خوګ په معنی دی، په پخوانۍ هندي کې وراهه، په کردي کې بیراز او په ارمني کې ورز هماغه معنی ښندي. برازبنده د غرجستان د هماغۀ ورازبندګ پارسي شوې بڼه ده.

د ګردېزي د زین‌الأخبار په دوو خطي نسخو کې چې په انګلستان کې شته، دا نوم ناسم لیکل شوی دی؛ خو سم یې د ابن خرداذبه پر بنسټ برازبنده دی؛ په دواړو نسخو کې یې د پلار نوم د ـمرون د لومړي له ټکو پرته دی، چې هغه عرون هم لوستل کېدای شي؛ په هر صورت مشکوک دی او تر هغه چې د یوۀ بل پیاوړي سند پر بنسټ یې سمه بڼه تر لاسه نۀشي دا اوسنۍ بڼه به یې په شک او تردید کې وي. دا چې ښاغلي سعید نفیسي د زین‌الأخبار په چاپي برخه کې دا کلمه اټکلي پیروز لیکلې؛ نو چې سند نه لري، باور پرې نه ښایي.

پای ته ورسېد او منصور د هغو له منګولو خلاص شو؛ خو پر همدې مهال د خراسانیانو د کسات اور بل ځای بل او سرې غرغنډې یې رامنځ ته کړې.

ویلي مو وو، چې عباسي خلیفه منصور د خپلو امنیه ځواکونو قوماندان عبدالجبار بن‌عبدالرحمن ازدي په ۱۴۱س کال کې خراسان ته لېږلی و. دا سړی چې له خپل منشي معاویه سره مروې ته راغی، سمدواره ځان ته غره شو، منصور ته یې لیک وکېښ چې کورنۍ او اولادونه یې خراسان ته ورولېږي؛ خو منصور وروښۀ لېږل. عبدالجبار د مخالفت نیت وکړ، د مروې، بلخ، خراسان او نورو ښارونو خراج یې زیات کړ او نیشاپور یې خپل خوریي خطاب بن‌یزید ته ورکړ او د منصور له امره یې سرغړونه وکړه.

همدا مهال په خراسان کې برازبنده د عباسیانو د لاسبري پر وړاندې یو خوځښت رامنځ ته کړی و، هغۀ عبدالجبار هم ځانته وروبالۀ او د دربار پۀ خلاف یې ولمساوۀ. عبدالجبار د برازبنده لاسنیوی وکړ او د برازبنده د خوځښت نخښه او سپین توغ یې پورته کړ. یوه ډله عرب خزاعیان یې- چې د عباسي لاسبري پلویان وو او دا بلنه یې ونه منله- ووژل چې په هغو کې د دربار قوماندان او باوري کسان هم وو، لکه د ابوداؤد خالد امنیه قوماندان عصام او د منصور استازی قدامه حرشي.

عباسي دربار ته د دې خبر په وررسېدو، منصور وویل: خراسان یې زما له پلویانو څخه خالي کړ. منصور خلیفه په ۱۴۱س کې د برازبنده او عبدالجبار د مخنیوي لپاره خپل زوی او ځایناستی محمد المهدي له ډېر لښکر سره خراسان ته راولېږۀ.

المهدي له درانۀ ځواک سره ری ته راورسېد، خازن بن‌خزیمه یې له حرب بن‌زیاد سره د دې خوځښت د مخکښانو پر ځپلو وګومارل او المهدي خپل ځواکونه په نیشاپور کې راغونډ کړل. دا وخت د خراسان د بلواګرو ځواکونو مرکز په مروه کې و.

برازبنده او عبدالجبار د سوار نومي قوماندان په مشرۍ ۵۰۰۰ زره جنګیالي د

جنگ ډگر ته ولېږل؛ خو دې لښکر ماتې وخوړه او حرب بن‌زیاد مروې ته مخه کړه، چې ورلنډه شو په خپله عبدالجبار او برازبنده جنگ ته راووتل؛ برازبنده د جنگ په ډگر کې د حرب په لاس ووژل شو، خراساني ځواکونو ماتې وخوړه او ډېر مړي یې پر ځای پرېښودل. عبدالجبار د (زم) پر لاره وتښتېد، د ینبې په کرونده کې پټ شو. عبدالغفار بن‌صالح تالقاني هغه له خپل منشي معاویه سره ونیو او مجشر بن‌مزاحم ته یې وسپارهٔ چې د منصور مخې ته وروستل شو. د ابن‌هبیره په ماڼۍ کې یې ترې لاس و پښې او سر پرې کړ. کورنۍ یې ورته د عرب سمندرگي دهلک ټاپو ته جلاوطنه کړه. د برازبنده او عبدالجبار دا ماتې د ۱۴۲س کال د ربیع‌الأول پر شپږمه د شنبې پر ورځ وه.

کله چې دا بلوا سړه شوه خازن بن‌خزیمه مروې ته راغی او حرب یې هرات او تالقانو ته ولېږهٔ. حسن بن‌حمران یې د بلخ، زم او د امو د څنډو پر پاکولو وگومارهٔ، چې هغه هم پاتې خراساني بلواگرو وواژهٔ.[۱]

د خلافت ځایناستی المهدي تر ۱۴۴س کال پورې په خراسان کې د چارو سمون ته پاتې شو. پر همدې کال په قرماسین کې له پلار سره یو ځای شو؛ خو په خراسان کې د منصور له خوا ابوعون عبدالملک بن‌یزید، حاکم و، چې په ۱۴۳س کال کې مروې ته راورسېد او نور اووه کاله (۱۴۹س) همدلته پاتې شو.

---

۱- زین‌الأخبار ۷۳ب خطي پاڼه، طبري ٦/ تر ۱۵۰ وروسته او د یعقوبي البلدان ٦۳.

# د استاد سیس تر پاڅون پورې

## نور خوځښتونه

له هغو پاڅونونو څخه د سیستان سیمه هم بې برخې پاتې نه شوه، چې د ابومسلم تر وژنې وروسته د افغانستان خلکو د عباسیانو د لاسبرې پر خلاف وکړل. لکه چې د مخه مو وویل په ۱۳۸س کې سلېمان بن‌عبدالله کندي د فراه تر جنګ وروسته پر سیستان لاسبری شوی و. کله چې د دې سیمې د ناکرارۍ خبرونه منصور ته ورسېدل، هنادي‌السري يې د سیستان حاکم راولېږۀ.

هنادي او سلېمان په هغه ځای کې سره یو ځای شول چې په سلېمان لښکرکوټ مشهور و؛ نو ویې لیدل چې په ټوله سیمه کې د پاڅون او انقلاب اور په غرغنډو دی. د دې خوځښت لارښوونه د سیستان د رون و چول کلي د یوۀ مخور «رقاد» زوی حضین کوي او ډېر وګړي پرې راغونډ شوي دي.

په۱۴۱س کال کې هنادي، سلېمان له حضین سره جنګ ته وګوماره. هغۀ په جنګ کې حضین وواژۀ. د رخذ (اوسني کندهار) په پولو کې يې هم جنګونه وکړل او ډېر مالونه يې راټول کړل. د سیستان لښکرمشر ته پلی شو؛ خو د دې دوو عربي حاکمانو تر منځ هم جوړجاړی رانغی او په خپلو کې سره ونښتل. د سیستان ملتپالو د حضین د غچ لپاره سلېمان ونیو او د هناد ملاتړ يې وکړ. بیا منصور اړ شو د هناد د ټکولو لپاره يې د۱۴۱س کال په پای کې سیستان ته بل حاکم وټاکۀ چې زهیر بن‌محمد ازدي و.

زهیر سیستان ته له راننوتو سره سم د هناد سره جنګ وکړ، هغه يې وواژۀ او سلېمان يې هماغسې په بند کې وساتۀ. شجاع بن‌عطار يې له لوی لښکر سره سند ته واستاوۀ. هغه هلته غزا وکړه، ډېر مال او فیلان يې تر لاسه کړل. کله چې راستون شو، له زهیر سره مخالف شو، په ښار کې سره وجنګېدل چې په پای کې يې د زیاد

بن‌همام راسبي په هڅه د ۱۴۴س کال په محرم کې سوله وکړه.

د ۱۴۶س په شوال کې خال‌المهدي یزید بن‌منصور سیستان ته راغی. دا وخت په بُست ولایت کې یوه لویه بلوا جوړه شوه، چې مخکښ یې له لغیریانو (غالباً بلوچي لغاریان) څخه د محمد بن‌شداد په نامهٔ یو کس و، دوه کسه مجوسیان آذرویه او مرزبان هم د یوهٔ لوی ټولي په ملتیا له هغهٔ سره یو ځای شول. کله چې ځواکمن شو؛ نو د سیستان یینګ یې وکړ. یزید بن‌منصور ورسره جنګ وکړ او عثمان طارابي یې د سیستان خلیفه وټاکهٔ. د هغو تر منځ ډېر جنګونه وو، په پای کې یزید بن‌منصور ماتې وخوړه او نیشاپور ته وتښتېد.

عباسي خلیفه منصور ته چې کله د دې سیمې کار ستونزمن ښکاره شو، دا ځل یې لوی او مشهور کس معن بن‌زائده شیباني- چې د راوندیانو په پاڅون کې یې خلیفه له مرګه ژغورلی و، د دې خدمت په بدله کې- د سیستان حاکم وټاکهٔ. هغه د ۱۵۱س په شعبان کې سیستان ته راغی او لکه چې په لومړي څپرکي کې مو د زابلي رتبیلانو د پېښو په شرحه کې ولیکل په رخذ (اوسني کندهار) کې له رتبیلانو سره ونښت؛ بخښښ او سخا یې درلودل؛ خو بیا هم د خلکو خوښ نه و. کله چې د هغې ماڼۍ پر بام د شرابو په مجلس کې ناست و، چې د هغه لپاره یې جوړه کړې وه، ځایي وګړي په غوغا راننوتل، خېټه یې وروڅیرله او په بُست کې ښخ شو. دا د ۱۵۲س د ذولحجې ۸مه د پنجشنبې ورځ وه.[۱]

د معن تر مړینې وروسته په سیستان کې غوغا او شخړه پاتې شوه او د عباسي خلیفه منصور تر مړینې پورې د هغه ځای اوضاع کړکېچنه وه.

---

۱- له تاریخ سیستان څخه لنډون تر ۱۴۵ مخ وروسته.

# د استاد سیس[1] هراتي پاڅون

عباسي خليفه منصور- چې لاسونه يې د خراسانيانو په وينو ككړ وو- د دربار ډېر كارند، باوري او پوه كسان دې خاورې ته راولېږل؛ خو ځينې يې ووژل شول او

[1]- دا كلمه ښايي له نصاري نومونو څخه وي او نه پوهېږم چې ماده يې څه ده؛ خو ښايي سرياني. ابو ريحان البېروني په آثارالباقيه كې د نصاراوو د اخترونو په شرحه كې وايي: ذكر ان سيس‌الجاثليق اول من اورد النصرانية إلى خراسان. (آثارالباقيه ۲۹۴) نو استاد سيس ښايي نصراني وي. طبري او ابن اثير هيڅ نه وايي چې څه كاره، په څه مذهب او څه دين و؟ مروج‌الذهب يې يادونه نه ده كړې. په طبري او ابن اثير كې د استاد سيس اضافه له الف لام پرته ده او په آثارالباقيه (۲۵مخ) كې هم د محمد بن اسحق بن استاد بنداد السرخسي په نامهٔ كې بې الف لامه راغلى دى، نو عربانو گومان كړى دى چې دا كلمه د هغه د نامهٔ جز دى، خو بيا په وروستيو پېړيو كې د ساري په ډول په ځلورمه پېړۍ كې يې هغه د لقب په ډول له الف لام سره (الاستاذ) د كسانو تر نومونو د مخه كاراوهٔ (يادداشتهاى قزوينى، پنځم ټوك ۱۸۰، د تهران چاپ، ۱۳۳۹ز)

د ابن ابي اصيبعه (۶۰۰- ۶۶۸س) د عيون الانباء في طبقات‌الاطباء لومړي ټوك ۳۱۵ مخ د محمد ابن زكريا رازي د ژوندپېښو په شرحه كې وايي:«كتاب فيما جرى بينه و بين سيس المنانى يريه خطاء موضوعاته و فساد ناموسه في سبع مباحث». د رازي د دې كتاب نوم مخاريق‌الانبياء دى.

د البېروني د رسالې د پاريس پول كراوس چاپ ۱۹۳۶ز (۱۴۰ مخ) د محمد ابن زكريا رازي د كتابونو په لېست كې د الرد على سيس الثنوي يادونه شوې ده، چې هماغه پورتنى كتاب به وي. (مانى و دين او ۳۶۹مخ، د احمد افشار تأليف، د تهران چاپ ۱۳۳۵ش)

بايد پوه شو چې سيس نوم ايښودنه له پخوا راهيسې په خراسان كې دود وه، د ساري په ډول د بدخشان د منجان درې په وروستيو كې يو قبر شته چې وگړي يې گور شيش (د ښيښ مړيستون) بولي او د كندهار په لهجه يې په دوه ښينونو تلفظوي. د منهاج السراج د وينا له مخه همدا نوم د غور د پاچاهي كورنۍ په نيكونو كې موجود و. يوه غوري قبيله شيشانيان بولي او امير شيش ابن بهرام غوري ته منسوبه ده، چې املا يې په ځينو خطي نسخو كې سيش هم راغلې ده (طبقات ناصري ۱/ ۳۲۵) نو تصور كولاى شو چې د دې ټولو نومونو اصل يوې سيمه‌ييزې او مقامي ريښې ته راگرځي او د ښيښ منجاني نوم او شيش يا سيش غوري به هماغه هروي سيس وي. د افغانستان په پارسي او پښتو كې سيسۍ يوه خړه صحرايي تر زركې كوچنۍ مرغۍ ده، چې پسته او خوندوره غوښه لري او كه د سيس نوم د الوتونكو لكه باز، ښارو، توتي، گوربت، كجير او نورو په نامهٔ د نوملو له مقولې څخه تصور كړو- چې په افغانستان كې تر اوسه دود دي- نو ويلاى شو چې سيس سيمه‌ييز خراساني نوم دى.

ځينې يې وتښتېدل او د ولس د خپلواکۍ غوښتنې پاڅونونو دوام وکړ. د دې پاڅونونو په لړ کې له فکري او انقلابي پلوه د استاد سيس پاڅون ډېر مهم او بې ساري دی.

استاد سيس د هرات د بادغيس اوسېدونکی و، چې په دې پاڅون کې يې د حريش سيستاني په نامۀ ملگری هم درلود. د هرات، بادغيس، سيستان او د خراسان د نورو ولايتونو له ولسونو څخه درې لکه جنگيالي پرې راټول شول او په ۱۵۰س کال کې پر ټول خراسان لاسبري شول او اجثم مروه‌رودی يې د لښکر له ځينو قوماندانانو سره وواژۀ.

د دې خطرناک پاڅون خبر چې منصور خليفه ته ورسېد؛ نو خازم بن‌خزيمه يې- چې د هغۀ له زوی المهدي سره د خراسان په نيشاپور کې و- د استاد سيس د ځپلو لپاره راولېږۀ. دا وخت د خراسان والي اسيد بن‌عبدالله په ۱۵۰س کې ومړ. کله چې خازم د خراسان شاوخوا ته راورسېد؛ نو له خپلو ۲۲زرو لښکريانو څخه يې شپږ زره ښه جنگيالي غوره کړل او۱۲زره نور کارند کسان يې هم ورسره کړل، چې مشري يې د بکار بن‌مسلم عقيلي پر غاړه وه. د لښکر د ځانگو په ښي اړخ کې هيثم بن‌شعبه، په کيڼ کې د خراسان د واکمنو زامن نهار بن‌حصين سعدي او ترار خدايکي موجود وو. توغوال يې هم زبرقان او بسام وو.

د عربي لښکر عسکري تابيا، د خندق، وسلو او نورو ترتيباتو استحکام په ډېر مهارت سره شوی و. پر دې سربېره يې له لښکري تبليغاتو څخه هم کار واخيست. کله چې سيستانی حريش په دفاعي ترتيباتو بوخت و، د تخارستاني نويو لښکرو د رارسېدو اوازه يې هم د استاد سيس د جنگياليو غوږونو ته ورسوله.

سخت جنگ ونښت او خراسانيانو په ډېره مېړانه مقاومت کاوۀ. په داسې حال کې چې د جنگ په ډگر کې شاوخوا اويا زره ککرۍ پرتې وې او ۱۴ زره هم نيول

شوي وو، د استاد سیس لښکریانو ماتې وخوړه. خازم د څلورو زرو بندیانو سرونه پرې کړل. استاد سیس له خپلو لږو لښکرو سره غرۀ ته پناه یووړه چې په پای کې له خپلو اولادونو او خپلوانو سره ونیول شو. دا پاڅون په (۱۵۱س) کې پای ته ورسېد.[۱]

د استاد سیس له پلیونو څخه ۳۰ زره کسان آزاد شول، چې له هغه سره تسلیم شوي وو؛ خو د خپلوانو جوپه یې بغداد ته ولېږل شوه او هغوی یې په بغداد کې ووژل.[۲] کورنۍ یې هم هلته پاتې شوه او لور یې مراجل یا مرجیله هارون‌الرشید په نکاح کړه. دا بادغیسۍ خراسانۍ[۳] ښځه د مشهور عباسي خلیفه مامون مور ده. ابن‌اثیر وایي استاد سیس زوی هم درلود، چې نوم یې غالب او د مامون ماما و. همدې کس مشهور وزیر فضل بن‌سهل ذوالریاستین د سرخس په حمام کې (۲۰۲س شعبان) وژلی و.[٤]

عبدالرحمن فامي په تاریخ هرات کې- معین‌الدین اسفزاري ترې رانقل کړې ده- وایي: د استاد سیس پلیوني د لغریانو له ډلې څخه ۳ لکه کسان وو، چې دېرش زره ترې مړۀ او ۱۱زره یې بندیان شول. هغوی د منصور په ټس کې د هرات والي داؤد باهلي له شعبان څخه تر ذوالقعدې پورې څلور میاشتې کلابند کړی و.[٥]

دا لغریان ښایي د بلوچو همدا لغاري قبیله وي، چې د بلوچانو اولادونه د کرتانو تر پېره په هرات او مروه کې مېشت وو[٦] او اوس د بلوچستان په برنۍ برخه کې مېشت دي. د سیفي هروي په «تاریخنامۀ هرات» کې د بلوچي او لغري عسکرو یادونه د هرات د کرتانو پر مهال (اوومه لېردې پېړۍ) ډېره راغلې.

---

۱- طبري ٦/ تر ۲۸۵ وروسته او زین‌الأخبار، خطي ۷۵الف پاڼه.

۲- الیعقوبي تاریخ ۲/ ۳۸۰.

۳- مجمل ۳۵٦، تاریخ‌الیعقوبي ۲/ ٤٤٤او طبقات ناصري ۱/ ۱۱۳.

٤- الکامل ٥/ ۲۸۱ او زین‌الأخبار ۷۵الف پاڼه.

٥- روضات الجنات ۲/ ٤۹.

٦- تاریخنامۀ هرات، د سیفي هروي په بېلابېلو برخو کې.

# د سپين‌پوښو پاڅون او مقنع خراسانی

د استاد سيس په وژنې او د خپلواکۍ غوښتونکو په ځپلو سره د انقلاب بلې لمبې مړې نه شوې، د خراسان وګړي له ظلم او تېري سره سره له پاڅونونو څخه غلي نه شول. په حقيقت کې د دې پاڅونونو او خوځښتونو پاروونکی او پياوړی هڅوونکی هم هغه د خپلواکۍ غوښتنې کلک احساس و.

د عباسي دولت عسکرو او ساتندويانو تر سختو او ويروونکو جنګونو وروسته چې د استاد سيس د پليونو سره يې وکړل، د هوساينې ساه واخيسته. د بغداد خليفه منصور د دربار له لويو بلونکو او مهمو کسانو څخه يو حميد بن‌قحطبه طايي د (۱۵۱س) په شعبان کې خراسان ته راواستاوۀ. هغۀ په ۱۵۲س کې د کابل پر لور لښکر وخوځاوۀ.[1] په داسې حال کې چې د هېواد ختيځ ته د عربو ځواکونه د سوېل او سند سيمو له خوا ملتان او کشمير ته رارسېدلي او د سند سيند په بېړيو کې يې د ګندهارا مرکز (ويهند) هم نيولی و او (بد) عبادتځی يې هم ورته په جومات بدل کړی و.[2]

حميد تر ډېره پر خراسان واکمن پاتې شو. د هغۀ د واکمنۍ په پای کې وو، چې لوی عباسي خليفه المنصور د حج په سفر کې د ۱۵۸س کال د ذولحجې په ٦مه نېټه د حجاز په بئرميمون کې ومړ، زوی او ځايناستی يې (المهدي) د عباسي خلافت پر ګدۍ کښېناست. په همدې وخت کې د خراسان والي حميد بن‌قحطبه هم د ۱۵۹س کال په لومړيو کې ومړ. المهدي يې پر ځای نوی حاکم ابوعون عبدالملک بن‌يزيد وټاکۀ او حمزه بن‌مالک يې د سيستان والي کړ.[3]

---

[1]- طبري ٦/ ۲۹۴.

[2]- فتوح‌البلدان ۵۴۴.

[3]- طبري ٦/ ۲۵۲.

## یوسف‌البرم

۱٦٠س کال په خراسان کې د یوې بلې غوغا د راپارېدو پیل و؛ په دې وطن کې یوسف بن‌ابراهیم نومي یوهٔ سړي - چې په یوسف‌البرم مشهور و- پاڅون وکړ، د مهدي په کړو وړو یې نیوکه وکړه او د خلکو یوهٔ لوی ټولي یې ملګرتیا وکړه.[1]

ون‌فلوتن وایي چې یوسف وګړي نېکۍ ته رابلل او بې له دې یې بله موخه نه درلوده[2] او لکه چې الیعقوبي وایي: یوسف د بخارا د بني ثقیف له مریانو څخه و، چې په نېکۍ په امر او له بدۍ په منع کې یې هلې‌ځلې کولې. پلیوني یې ډېر شول او د عباسیانو د لاسبري پر خلاف یې د پاڅون اعلان وکړ. یزید بن‌مزید شیباني د المهدي خلیفه له خوا د خراسان د بلواګرو له یوهٔ کس یحیی شاري سره په جنګ بوخت و. د یوسف د پاڅون خبر چې المهدي ته ورسېد، نو یزید ته یې ولیکل چې د یوسف د مخنیوي لپاره خپل ځواکونه وګوماري. یزید خپل لښکریان د یوسف جنګ ته راوایستل او خراسانیانو هم تر څه بریده مقاومت وکړ، چې یوسف او یزید یو له بل سره لاس په لاس جنګ پیل کړ؛ خو یوسف ونیول شو او پلیوني یې تسلیم شول. هغه یې له ملګرو او خپلوانو سره بغداد ته ولېږهٔ. کله چې په رصافه کې د المهدي مخې ته ورسېد؛ نو امر یې وکړ چې د یوسف لاس او پښې پرې کړي او بیا هرثمه بن‌اعین د خپل ورور په غچ کې- چې په خراسان کې وژل شوی و- د هغهٔ سر غوڅ کړ. د یوسف نور ملګري هم ووژل او مړي یې د المهدي لښکرکوټ ته نږدې د دجلې پر پلهٔ وځړول شول. وایي عباسي خلیفه په دې ورځ دومره په قهر و، چې بندي یوسف ته یې ډېرې سپکې سپاندې او ردې بدې ویلې.[3]

ګردیزی وایي: یوسف ثقفي حروري د حمید په وخت کې رامیدان ته شو، حکیم

---

[1]- طبري ٦/ ۳۵۸.

[2]- سلطهٔ عرب ۵۹ د براون د تاریخ ادبی په وسیله ۱/ ۴۷۲.

[3]- تاریخ‌الیعقوبي ۲/ ۳۹۷او طبري٦/ ۳۵۹.

تالقانی او ابومعاذ فاریابی ورسره وو، پوشنگ یې له مصعب بن‌زریق څخه نیولی و. یوسف پر مروه‌رود، تالقانو او گوزگانان باندې ولکه کړې وه، تر دې چې د بلخ هاشمیانو یې پر ضد جنگ وکړ او هغۀ ته یې ماتې ورکړه. ابومعاذ فاریابی یې ونیو د مهدي مخې ته یې ورولیږۀ. مهدي امر وکړ او بومعاذ یې په بغداد کې پر دار وځړاوۀ.[1]

## د مقنع راڅرگندېدا او سپین توغ

د یوسف پاڅون ډېر لنډ و، په هماغۀ ۱۶۰س کې له منځه لاړ؛ خو په هغۀ پسې یو بل ډېر خطرناک پاڅون وشو، چې له فکري پلوه یې تر ابومسلم وروسته د خراسانیانو له نورو پخوانیو پاڅونونو سره ورته‌والی درلود. پلیوني یې تر سپین توغ لاندې له سپینو ختو سره راټول شول؛ ځکه یې هغوی سپین‌پوښي (المبیضة) وگڼل.[2]

د دې ډلې بنسټوال د مروې د یوۀ کلي کازه[3] یو کس و، چې په هاشم مشهور، نوم یې هاشم بن‌حکیم[4] یا هاشم بن‌حکم[5] یا عطاء حکیم[6] یا حکیم مقنع[7] یا حکیم و.[8] د هغه د پاڅون کال ۱۶۱س لیکل شوی دی.

نرشخي وایي هغه د ابومسلم په پېر کې د خراسان له قوماندانانو څخه و، چې د برازبنده په خوځښت کې له عبدالجبار بن‌عبدالرحمن ازدي (هغه حاکم چې د عباسي دربار له اطاعته یې سر وغړاوۀ) سره مرستیال او وزیر و. د عبدالجبار تر نیولو وروسته، هاشم حکیم هم ونیول شو، له مروې نه بغداد ته یووړل شو او هلته بندي و.

---

[1]- زین‌الأخبار ۷۶ الف پاڼه.

[2]- ابوریحان البیروني د دې ډلې د احوالو او عقایدو د شرحې په اړه د اخبارالمبیضة په نامۀ کتاب درلود.

[3] - کازه د مروې یو کلی و چې نسبت یې کازي او کارقي ته کېږي (معجم‌البلدان۴/ ۴۳۰) خو البیروني د دې کلي نوم«کاوه کیمردان» لیکلی دی (آثارالباقیه ۲۱۱) ښایي کاوه د کازه اوړون وي.

[4] - تاریخ بخارا ۷۷ او آثارالباقیه ۲۱۱.

[5] - مجمل ۳۳۵.

[6] - ابن خلکان ۳۱۹.

[7] - طبري ۶/ ۳۶۷ او الکامل ۶ /۱۶.

[8] - زین‌الأخبار ۷۵ ب.

کله چې په راوروسته کلونو کې خلاص شو نو بیا مروې ته راغی.

خو د مقنع پلار حکیم هم د خراسان د امیر له قوماندانانو څخه و، چې د منصور خلیفه په پېر کې یې ژوند کاوه او د بلخ و. په خپله مقنع په لومړیو کې دوبیتوب کاوه، بیا یې په زده کړو پیل وکړ او هر ډول زده کړې یې وکړې. مداریتوب، له اوره د خلاصي او کوډو علم یې زده کړ او د نبوت دعوه یې هم کوله. ډېر زیات ځیرک و، د پخوانیو د علومو ډېر کتابونه یې لوستي وو. په کوډو کې ډېر زیات راڅلېدلی و. مقنع یې ځکه بللی دی، چې خپل سر او ږیره به یې پټ ساتل، ځکه چې ډېر بدرنګه و، سر یې پک او په یوه سترګه شړا و؛ نو تل به یې شین څپوټی پر سر و.[1]

د مقنع د ګروهې په اړه مؤرخان په دې اند دي، چې هغه تناسخ او حلول ته قایل و او د خدایي دعوه یې کوله. ویل به یې څرنګه چې تر جسم خپلولو د مخه هیڅوک هغه نه‌شي لیدلای؛ نو د انسان په اډانه د بشر په بڼه څرګند شو، چې ولیدل شي.[2]

د حلول‌دا لړۍ ابوبکرمحمد بن‌جعفر نرشخي (۲۸۶- ۳۴۸س) داسې شرحه کړې ده:

«ویل زه ستاسو او د ټولې نړۍ خدای (په خولهٔ یې خاورې) یم او ویل زه هغه یم چې ځان مې د آدم په بڼه خلکو ته څرګند کړ، بیا د نوح، بیا د ابراهیم، بیا د موسی، بیا د عیسی، بیا د محمد ﷺ او بیا د ابومسلم په بڼه او بیا په دې بڼه چې وینئ یې! خلکو وویل: نورو د پیغامبرۍ دعوې وکړې، ته د خدایي دعوه کوې! ویې ویل هغوی نفساني وو، زه روحاني یم»[3]

[1] - تاریخ بخارا ۷۷.

[2]- آثارالباقیه ۲۱۱ او الفخري ۱۶۲.

[3]- تاریخ بخارا ۷۸.

د مقنع پلیونو ویل چې: د الله روح په ابومسلم کې ننوتی و، هغه مړ نه دی، راستون به شي او هغه چې منصور وواژه، شیطان و، چې ځان یې د ابومسلم په بڼه جوړ کړی و. دا وګړي چې په مروه او هرات کې دي برکوکیان یې بولي.[1] البېروني وايي د هغهٔ تر پېره (۴۴۰س) پورې هم په ماوراءالنهر کې یوه ډله وه، چې په پټه د مقنع د دین پلیوني او په ښرګنده مسلمانان وو؛[2] خو نظام‌الملک وايي: مقنع مروزي شریعت یو دم له خپله قومه پورته کړ او له پیله یې هغه دعوه وکړه، چې باطنیان یې کوي.[3]

شهرستانی وايي مقنع چې د خدايي دعوه وکړه، لومړی پر رزامیه (د رزام پلیوني او د حضرت‌علي او ابومسلم امامت او په هغوی کې د الهي روح حلول ته قایل) مذهب و. دا ډله د خرمیه یو ټولی دی، چې فرایض یې پرېښودل، د امام پېژندنه او د امانت ادا کول د هغو د مذهب له اصولو څخه دي.[4]

مقنع د خراسان ټولو ولایتونو ته خپل استازي واستول او لیکونه یې وکښل، چې د هغو مضمون ابوبکر محمد بن‌جعفر نرشخي داسې راخیستی دی:

«بسم الله‌الرحمن‌الرحیم، من هاشم بن‌حکیم سید السادات إلی فلان بن‌فلان: ألحمد لله الذی لاإله إلا هو، إله آدم و نوح و إبراهیم و عیسی و موسی و محمد و أبومسلم ثم أن للمقنع‌القدرة و السلطان والعزة و البرهان.»

پر ما ګروهمن او پوه شئ چې پاچاهي او خدايي زما ده، بې له ما بل خدای نشته. هر څوک چې پر ما وګروهي، جنت د هغهٔ او هر څوک چې ونه ګروهي دوزخ د هغهٔ دی».[5]

---

[1]- الفرق بین الفرق ۳۴۱ او د شهرستاني الملل و النحل ۱ /۲۰۵.

[2] - آثارالباقیه ۲۱۱.

[3]- سیاستنامه ۲۳۵.

[4]- د الملل و النحل پارسي ژباړه ۱۱۳.

[5]- تاریخ بخارا ۷۸.

که نسبت یې سم وي د دې لیک له مضمونه هم ښکاره ده، چې مقنع حلول ته قایل و او هغه لړۍ یې تر ابومسلم وروسته پر خپل ځان پای ته رسېدلې ګڼلې ده.

د مالونو او ښځو د اشتراک او د مزدک دین[1] د ټولو قوانینو د اباحت په اړه هم پر مقنع تور شته. د هغو کسانو د وژنې[2] حکم به کېده، چې له هغه سره به یې مخالفت کاوه. د هغه پلیونو به جوپې او کلي لوټل. مذهب یې دا دی چې لمونځ ونه کړي، روژه ونه نیسي، د جنابت غسل ونه کړي؛ خو آمین وي او دا ټول څیزونه له مسلمانانو پټ وساتي. د مسلمانۍ دعوه وکړي، ویل کېږي چې هغوی خپلې ښځې یو بل ته مباح کوي او وایي: ښځه لکه ګل غوندې ده، هر څوک چې یې بویوي، هیڅ یې نه کمېږي.[3]

ابن‌العبري ابوالفرج بن‌هارون وایي: چې مقنع خپلو پلیونو ته ویلي وو، چې د هغه روح به تر مړینې وروسته د ایره‌نو ویښتانو د ښښتن په قالب کې چې په ایره‌نې رنګه اس به سپور وي، تر څه وخت وروسته راڅرګند شي او د ځمکې مخ به ولکه کړي؛ نو په دې ډول د سنباذ، مقنع او خرمیه ډلو ګروهې- چې د هغو د مشرانو دویمه راګرځېدنه ده- له آره سره یو ډول دي.[4]

مقنع تل د ګرانبیو زرو یا په بله وینا د شنو وربښمو نقاب پر مخ راځړاوه چې پلیوني یې د ښېرې له رڼا او د ښې له ځلا څخه زیانمن نه وي. مخالفین یې وایي چې هغه خپله کرغېړنه او بدرنګه ښېره په هغه نقاب پټوله، ځکه د ننکیو ناروغۍ یې مخ ټکي ټکي کړی او یوه سترګه یې ورړنده کړې وه. لیرې نه ده چې د هغه دا نقاب

[1]- مزدک ابن بامداد د قباد ساساني د پاچاهي پر مهال په ایران کې د پیغامبرۍ دعوه وکړه او د دوو اصلو رڼا - تیارې او د مالونو - ښځو په اشتراک ګروهمن شو. قباد یې پر دین وګروهېد؛ خو په پای کې زردشتي روحانیونو او شاهزي خسرو انوشېروان او دولتیانو، قباد د مزدک ریښنو کاږلو او له منځه وړلو ته وهڅاوه او په ۵۲۸ ز کې له خپلو پلیونو سره ووژل شو. د بابک‌خرمي (۲۰۱س شاوخوا) پلیونو خردم دینانو چې مزدک ته نږدې ګروهه یې درلوده، ځانونه یې د مزدک د مېرمن فاده، لور «خرمې» نامهٔ ته منسوبول (د جلال همائی تاریخ ادبیات پارسی ۲۲۷)
[2]- آثارالباقیه ۲۱۱.
[3]- تاریخ بخارا ۷۹- ۸۹.
٤ - مختصرالدول ۲۱۷.

د پَنام زردشتي پليوني وي، چې موبدانو به په دې نامۀ نقاب په خپلو ديني مراسمو کې په مخ راخپراوۀ، چې سپېڅلي اور ته د خولې وږم او بړاس ور نۀشي، شهيد بلخي په دې اړه ويلي وو:

بتا نگارا! از چشـم بـد بـترس همـی    چرا نداری با خويشتن همی تو پَنام

نرشخي وايي يوه ورځ په ماوراءالنهر کې د مقنع د پليونو پنځوس زره سړي د کوټ ورۀ ته راټول شول، د هغۀ د ليدو غوښتنه يې وکړه. هغۀ ځواب ورکړ چې تاسو د دې توان نه لرئ، هر څوک چې ما وويني پر ځای مري. آخر د ليدنې لپاره د پليونو عذر و زارۍ ډېرې زياتې شوې، هغۀ د سغد، کش او نخشب له دهقانانو څخه سل نجونې راغونډې کړې، هرې يوې ته يې آيينه په لاس کې ورکړه، د کوټ بام ته راوختلې، هغه مهال چې د لمر وړانگې پر ځمکه لگېدلې وې، ټولو آيينې په لاسونو کې ونيوې، کله چې پرې د لمر وړانگې وځلېدې، په ځلا يې کور وړنگن شو؛ نو هغۀ قوم پر نورو وياړ کاوۀ، چې موږ د الله ديدار وکړ.[1] له دې کيسې څخه پايله اخلو چې مقنع د خلکو راټولولو او د ځان په اړه د هغو د عقيدت ساتنې لپاره له اغېزناکو لارو چارو څخه کار اخيست.

بل هېښنده څيز چې د مقنع په نامۀ مشهور شوی و، سپوږمۍ وه چې هره شپه د نخشب (په ماوراءالنهر کې يو ښار، اوسنی قرشي) له کوهي څخه راوتله. زکريا بن‌محمد قزويني (۶۷۴س) وايي دغه کار يواځې پر رياضي او د وړانگو پر انعکاس کېدۀ، ځکه بيا يې په هغۀ کوهي کې د سيمابو لويه کاسه وموندله.[2]

په عربي او عجمي ادب کې د نخشب‌سپوږمۍ نسبت مقنع ته وشو. په پارسي ادب کې يې هغه ماه سنام (ماه سيام) او ماه کش او ماه مزور ونومله.[3] ځينې گروهمن دي چې د مقنع دا کړه د فزيک او کېميا په علومو او د درملو او محلولونو په خواصو کې د هغۀ پر مهارت

---

[1]- تاريخ بخارا ۸۷.

[2]- آثارالبلاد ۳۱۲ د براون د تاريخ ادبی په وسيله.

[3]- برهان قاطع ۱۹۵۹. د ساري په ډول رودکي وايي: نه ماه سيامی نه ماه فلک + که اينت غلامست و آن پيش کار
سنايي وايي: گر مقنع ماهی از چاهی برآورد از حيل + پس خدايی کرد دعوی گو بيا اندر نگر (دېوان ۱۵۸)
د فرخي دی: ماه را گر خلاف او طلبد + مطلب جز بچاه نخشب باز (دېوان ۲۰۱)
ابو العلا معری وايي: افق انما البدر المقنع رأسه + ضلال وغی مثل بدرالمقنع (ابن‌خلکان۳۱۹)
سوزني وايي: سود افتاد خيره سری را هم از خری + تـا آفـتـاب و مـاه بـر آرد زچـاه کــش
دعوی کند خدايی و مر هيچ خلق را + نتوان که دستگيرد از جوع و از عطش (مجمل فصيحي ۱/ ۲۳۲)

ترسره کېدل.[1]

مقنع غوښتل چې ځان په مروه کې د عباسیانو د ځواکونو له مرکزه لیرې وساتي؛ نو ځکه یې خپل بلونکي له امو ورهاخوا ورولېږل، یو یې عبدالله بن‌عمر مروي هم و، چې خپله لور یې مقنع ته نکاح کړې وه. دا عبدالله له آمو تېر شو، نخشب (اوسنی قرشي) او کش ته ورغی، ډېر وګړي یې پر مقنع وګروهول، د کش خلکو د مقنع دین ومانهٔ او عمر سوبخي د سوبخ (د نسف یو کلی) د خلکو په ملاتړ خپل عربي امیر ووازهٔ او د ماوراءالنهر زیاتره وګړي د مقنع دین ته راواوښتل.

دا مهال په خراسان کې حمید بن‌قحطبه د عباسیانو حاکم و، هغهٔ د مقنع د نیولو امر وکړ، د آمو پر غاړه یې سل سپارهٔ وګومارل، چې مقنع له آمو ورپورېوتو ته پرېنږدي او ویې نیسي؛ خو مقنع له خپلو شپږ دېرشو باوري کسانو سره له آمو څخه پورېوت او د کش په کلي کې

[1]-برګزیدګان ۱۳۲، د امیر مسعود تألیف، د تهران چاپ، ۱۳۴۱ل.

يې ټيکاونه ونيوه. د سنام کوټ[1] يې جوړ کړ چې ډېر پوخ و. ډېر مال او بې شمېره نعمتونه يې هلته راټول کړل او خپل سپين پوښي يې د هغو د ساتنې لپاره وګومارل.[2]

مقنع د خپل خوځښت په لومړيو کې دوه مهم کارونه وکړل: لومړی دا چې سرښندوني پليوني او پر ځان ګروهمن مؤمنان يې وروزل. ګرديزی وايي د جنګ په ډګر کې يې بړغ کاوۀ «يا هاشمه مرسته وکړه»[3] نو له دې څخه څرګنديږي چې سپين پوښو هغه خپل ځواکمن مرستندوی ګاڼۀ. بله دا چې مقنع د عباسي دولت د ځواکونو پرضد له ترک خاقان سره په ليکنه راليکنه کې له هغۀ څخه مرسته وغوښته.[4] نو له همدې امله کافرو ترکانو د خراسان د ښارونو لوټلو ته لاس رااوږد کړ، د مسلمانانو شمتنې يې لوټلې، ښځې او اولادونه به يې ورته نيول او وژل.[5]

سپين پوښو لومړنی اور په بخارا کې بل کړ، چې شپه پر شپه د نومجکت په کلي کې پر يوۀ جومات ورواوښتل او مؤذن يې له ۱۵ لمونځيانو سره ووژۀ. بيا يې د هغۀ کلي اوسېدونکي له تېغه تېر کړل. دا په ۱۵۹س کال کې (د ګرديزي د وينا له مخه ۱۵۷س) د سپين پوښو لومړی پاڅون و چې د بخارا اميرحسين بن معاذ يې انديښمن کړ. د دې ډلې مشر د بخارا حکيم احمد نومی يو سړی و، چې درې جنګيالي او مېړني قوماندانان ورسره وو: له کوشک فضيل څخه د حشري او باغي په نامۀ او دريم يې له غجدوان کلي څخه کردک و. هغوی د خپلو سپين پوښو په ملتيا جنګ پيل کړ او يو شمېر

[1] - د دې کوټ نوم د تاريخ په کتابونو کې د سام، سنام او سيام په بڼو ليکل شوی؛ خو ياقوت حموي د خپلې جغرافيې په کتاب المشترک وضعاً و المختلف صقعاً (۲۵۴مخ) د ګوتينګن چاپ، ۱۸۴۶ز، کې هغه سنام ليکلی چې مقنع خارجي هغه په ماوراءالنهر کې جوړ کړی و. ابن خلکان وايي د دې کوټ نوم د اخبار خراسان په کتاب کې هم په همدې ډول راغلی او د کش په کلي کې و، ۳۱۹مخ.

[2] - تاريخ بخارا ۸۰.

[3] - زين الأخبار ۷۵ ب. عربي مؤرخانو دا بړغ د «يا هاشم اعنا» په عبارت ليکلی دی (ابن اثير ۱۶/۶ او الفخري ۱۶۲).

[4] - آثارالباقيه ۲۱۱.

[5] - زين الأخبار ۷۵ او تاريخ بخارا ۸۰.

قوماندانان يې د دولتي ځواکونو په ګډون مات کړل، تر هغۀ چې حسين بن‌معاذ د بخارا له ځواکونو او د هغۀ ځای له قاضي عامر بن‌عمران سره د ۱۵۹س په رجب کې هغوی ته پام شو او د نرشخ= نرجق په کلي کې سره وجنګېدل. په دې جنګ کې د سپين‌پوښو اووه سوه کسان د هغو له مشر حکيم بخاري سره ووژل شول، ماتې يې وخوړه او پاتې د مقنع لور ته لاړل.

په دې جنګ کې د عربي ځواکونو قوماندانان د يحيی زامن جبريل او يزيد وو. جبريل د عباسي خليفه المهدي وزير و او د خليفه د دربار له خوا د سپين جاميزو د ځپلو لپاره له درانۀ ځواک سره ګومارل شوی و. هغۀ د نرشخ په کلي کې د مقنع د پليونو مقاومت په لښکري تدابيرو له منځه يووړ. په دې ترتيب چې تر هغۀ کلي چاپېره يې خندق وکيندۀ او پرله‌پسې څلور مياشتې يې جنګ وکړ. څرنګه چې يې د سپين‌پوښو کلک مقاومت وليد، چې هره ورځ به يې بريا وه او مسلمانان ناتوانه شول، نو مالک بن‌فارم يا (فازم) په يوۀ تدبير سوچ وکړ. پر لرګيو، نفتو او منجنيق يې د نرشخ کوټ ځينې برخې ويجاړې کړې او حکيم بخاري د سپين‌پوښو مشر يې په يوه پلمه ونيو او له خپل خشوی نومي مرستيال سره يې يو ځای وواژۀ. دا کار عباس د جبريل زوی وکړ.

اوس جبريل د سغد د سپين‌پوښو جرړو ايستلو ته ملا وتړله، چې هلته د مقنع له مهمو کسانو څخه يوۀ سغديان مقاومت کاوۀ، په پای کې يوۀ بخارايي سړي وواژۀ. په دې وخت کې د خراسان امير معاذ بن‌مسلم په ۱۶۱س کې مروې ته راغی او له هغه ځايه يې خپل ځواکونه ترتيب کړل. پر هغۀ ۵۷۰ زره خراساني مېړونه راټول شول او د جنګ ډېر آلات يې جوړ کړل. درې زره کارند کسان يې له ترښځو، بېلونو، لرونو او تبرونو سره چمتو کړل، منجنيقونه او عرادې يې جوړې کړې او له غوره تابيا سره يې سغد ته مخه کړه، چې هلته له ترکو سره د سپين‌پوښو ډېر لښکريان راغلي وو. معاذ له هغو سره دوه کاله وجنګېد؛ خو د سپين‌پوښو په ليرې کولو بريالی نه شو.[1] په دې جنګونو کې د عباسي دولت د لښکريانو قومانده د سعيد بن‌عمر، حرشي او مصيب بن‌سلم پر غاړه وه. د مقنع له خوا د سپين‌پوښو «خارجه» نومی مشر د پنځلس

[1] - تاريخ بخارا تر ۸۱ وروسته.

زرو کسانو په ملتیا وجنګېد، په پای کې یې ماتې وخوړه او په داسې حال کې چې درې زره کسان ووژل شول، پاتې د مقنع لور ته راستانهٔ شول.[1]

د سپین‌پوښو سخت مقاومت روان و او معاذ په دې کار کې ستړی او زهیر شوی و، نو ځکه یې د خراسان له حاکمۍ ګوښه کېدل وغوښتل. المهدي د هغهٔ پر ځای مسیب بن‌زهیر ضبي‌خراسان ته راولیږهٔ او هغه د (۱۶۳س)کال په جماديالأولی کې مروې ته راغی. د هغه ځای د چارو تر سنبالنې وروسته د رجب په میاشت کې بخارا ته لاړ، چې د کولارتګین په نامهٔ د مقنع یوهٔ قوماندان په کې د سپین‌پوښو د ځواکونو مشري کوله. مسیب د بخارا امیر جنید بن‌خالد خوارزم ته ولیږهٔ چې له هغه ځایه سپین‌پوښو ته مرسته راونه رسیږي. په خپله یې لښکر جوړ او له کولارتګین سره یې جنګ پیل کړ.[2]

## مقنع څرنګه ځان وسوځاوهٔ؟

څرنګه چې سپین‌پوښو له عباسي دولت سره مقاومت وکړ، نرشخي وایي مسلمانان په خپل کار کې کمزوري شول؛ نو چیغه تر بغداده ورسېده، خلیفه مهدي زړهٔ تنګی شو او د هغو جنګ ته یې ډېر لښکر راواستاوهٔ. په پای کې په خپله نیشاپور ته راغی، ځکه د دې وېره وه چې اسلام به زیانمن شي او د مقنع دین به ټوله نړۍ ونیسي.[3]

د عباسي‌خلافت ځواکونو سپین‌پوښو ته کار سخت کړ، تر تېغه پاتې سپین‌پوښي په سنام‌کوټ کې پر مقنع راغونډ شول. سعید حرشي پرې کړۍ راتنګه کړه او له ډېر لښکر سره یې اوږده کلابندي پیل کړه. د خپل لښکر لپاره یې تر کوټ چاپېره کورونه او حمامونه جوړ کړل، چې اوړی- ژمی هم هلته وي.[4]

نو د مقنع د پاڅون او مقاومت موده البېروني او نرشخي۱۴کاله لیکلې ده او دا به یې د خوځښت په اعتبار له پاڅونه تر مړینې پورې سمه وي.

په هر صورت په سنام‌کوټ کې د مقنع د کلابندۍ موده هم اوږده وه او هغه

---

[1] - زین‌الأخبار ۷۶ب.

[2] - تاریخ بخارا ۸۵.

[3] - پورتنی اثر ۸۰.

[4] - پورتنی اثر، ۸۷.

کسان چې ورسره وو، د کلابندۍ د اوږدې مودې له امله تنګ او د خلافت لښکریانو ته تسلیم شول. مقنع چې ولیدل تر دې زیات مقاومت به ونه کړای شي، خپلو ښځو او ټولو اړوندانو ته یې زهر ورکړل او ویې وژل. په خپله هم هغه تنارۀ ته ورغی چې له درې ورځو راهیسې یې تود کړی و. کله چې یې هغه سرۀ تنارۀ ته ځان وروغورځاوۀ، داسې لوګی پورته شو چې څه نخښه یې ونه لیدل شوه. په هغه کوټ کې هیڅوک ژوندی پاتې نه شو. د هغۀ د سوځېدو لامل دا و، هغۀ به پرله‌پسې ویل کله چې زما بنده‌ګان ګناهکار شي، زه اسمان ته خېژم، پرښتې رالېږم او پر خپلو مخالفینو خښمېږم. هغه ځان ځکه وسوځاوۀ چې وګړي ووایي هغه اسمان ته وخوت، چې پرښتې راولېږي، له موږ سره مرسته وکړي او دین یې په نړۍ کې پاتې شي.[1]

البېروني زیاتوي: څرنګه چې مقنع له هر لوري ځان کلابند ولیدۀ، نو ځان یې اور ته ورغورځاوۀ چې جسد یې ټوټې ټوټې، تري تم او دا کار د هغۀ د پلیونو په اند د هغۀ د الوهیت د دعوې د پر ځای کېدو بنسټ شي؛ خو په دې کار بریالی نه شو او مړی یې په تنارۀ کې پیدا شو، سر یې ترې پرې کړ او په حلب کې المهدي ته یې ورواستاوۀ.[2]

ابن‌اثیر وایي د مقنع له پلیونو څخه دېرش زره کسه سعید ته تسلیم او یواځې دوه زره کسه ورسره پاتې شول. څرنګه چې پوه شو د مرګ وخت یې دی، خپلې کورنۍ او ښځو ته یې زهر ورکړل او ویې ویل چې بدن یې وسوځوئ چې د دښمنانو لاس ته ور نۀشي. پر دې سربېره په هغۀ کوټ کې چې څه سامانونه، څاروي او نور توکي وو، ټول یې وسوځول او خپلو پلیونو ته یې وویل: څوک چې له ما سره اسمان ته تلل غواړي، ځان دې اور ته وغورځوي. بیا یې ځان له کورنۍ، ښځو او نږدې خپلوانو سره اور ته وغورځاوۀ او ټول وسوځېدل. کله چې سوبمن لښکریان کوټ ته ورننوتل ګوري چې سکیره تش دی. همدا وضع وه چې د ماوراءالنهر پاتې سپین‌پوښي پلیوني یې د فتنې او بې لارۍ په حالت کې پاتې شول.[3]

د مقنع د مړینې کال ټاکلو په اړه مؤرخان په یوه خولۀ نه دي، طبري او ابن‌اثیر د دې

---

[1] - تاریخ بخارا، ۸۸.

[2] - آثارالباقیه ۲۱۱.

[3] - الکامل ۶/ ۲۱.

پیښېږي نېټه ۱۶۳س=۷۸۰ز - کله چې المهدي په حلب کې و- لیکلې ده[1] په داسې حال کې چې البېروني یې مړینه په ۱۶۹س= ۷۸۶ز کې لیکي؛[2] خو ابن‌خلکان او ابن‌العبري له طبري سره همږغي دي.[3]

څرنګه چې المهدي د ۱۶۹س د محرم په وروستۍ لسیزه کې د عراق د ماسبذان[4] په لس فرسنګۍ «رذ» کې مړ دی او په حلب کې نه و، نو ځکه به دا د البېروني وینا تېروتنه وي او د مقنع مړینه هماغه ۱۶۳س= ۷۸۰ز ده.

---

[1]- طبري ۶/ ۳۷۴ او الکامل ۶/ ۲۱.

[2] - آثارالباقیه ۲۱۱.

[3] - وفیات‌الأعیان ۳۱۹ او مختصرالدول ۲۱۷.

[4] - ماسَبَذان د عربو د عراق پر پوله شمال خوا ته پروت و (جغرافیای خلافت شرقی).

## ۹- د طاهريانو تر راڅرګندېدا پورې د خراسان نورې پېښې

لکه چې تېر شول د منصور او المهدي په پېر کې خراسان له شخړو ډک و او د خراسان د پرګنو پاڅونونه روان وو. د دربار سیاست همدا و چې دا پاڅونونه د زندیقه،[1] کفر او الحاد په تور تورن کړي، چې وګړي د دين په نامهٔ د هغو پر ضد راپورته کړي.

المهدي په دې کار کې ډېره هڅه وکړه، مسعودي وايي د زنديقانو د احوال پلټنې لپاره يې د يوهٔ باوري کس تر څارنې لاندې د زنديقانو اداره (ديوان زنادقه) په نامهٔ ځانګړې اداره جوړه کړه، چې د زنديق څارنې مشر- يې (صاحب الزنادقه) بالهٔ. دا اداره د زنديقانو د احوالو په معلومونه او محاکمې مکلفه وه. پر دې سربېره يې د هغو د کتابونو د ردولو او مناظرې لپاره يوه علمي ډله ترتيب کړه.[2]

---

[1] - دا پهلوي کلمه ZANDIK د مانوي او فاسدالعقيده په معنی د کرتير موبد موبدان په ډبرليک کې د ساساني پاچاهانو (۲۷۱-۲۸۲ز شاوخوا) په پېر کې د پارس د تخت جمشيد په نقش رستم کې کارېدلې ده او له اوستايي کلمې ZANDA څخه راوتلې ګڼل شوې ده، چې د لارشکوونکي، ګناهکار او دروغجن په معنی وه. څرنګه چې زردشتيانو د ماني پليوني په دې ځانګړنو پېژندل؛ نو هغوی يې زنديکان وبلل يعنې مرتد، ملحد او بې دينه. د زنديک کلمه عربو په همدې معنی معربه او زنديق کړه (برهان ۱۰۳۹) خو پروفيسر بيوان انګرېز ګروهمند دی، چې د کلمې ريښه په آرامي کې سديقا وه، د عربي د همدې صديق په معنی، څرنګه چې پهلوي ته ولېږدېده، زنديک شوه او لومړی دال په مشدد دال کې په نون واوښت چې لومړی ب د عربي د شبت په کلمه کې په پارسي نون اوښتې، شنبذ او وروسته شنبه شوې ده. سديقا په آرامي کې صديق او د ماني پليونی و (کاوه اووم کال۴ /۵ ګڼه). د امويانو د پېر په پای کې د زنديق کلمه د هغې کورنۍ د مخالفينو له خوا هغو کسانو ته وکارېدله چې په اموي دربار کې يې د شاهزيو په روزلو پيل وکړ، لکه عبدالصمد ابن عبدالاعلي د و ليد ابن يزيد اموي خليفه روزونکی (الأغاني ٦ /١١ او ١٣٢) او جعد ابن درهم د وروستي اموي خليفه مروان روزونکی (الفهرست ۴۷۲) نو ښايي پر دوی د زنديقه‌وو د تور پورې کولو موخه يې په بې دينۍ او الحاد د اموي خليفه ګانو بدنامول وي.

[2] - مروج الذهب ۲/ ۴۰۱.

لکه په پخوانیو بحثونو کې مو چې ولیدل د خراسانیانو په پاڅونونو کې دوه لاملونو مهم کار کاوهٔ: لومړی دا چې دې ولس د خپلې ملي پېژندګلوۍ او خپلواکۍ لپاره په زړونو کې یوه ولوله درلوده او سره له دې چې د اسلام دین یې منلی و، بیا یې هم د خپلو ملي پاچاهیو ساتنه غوښتله.

دوهم د ملي ارزښتونو او فرهنګ ساتنې او ښايي د زاړهٔ دین او طریقې حس و چې په ځینو خلکو کې د سرغړونې او بلوا په بڼه راڅرګندېدهٔ. همدا شی د عربو د لاسبرې پر وړاندې د الحاد او زندیقه‌وو د تبلیغ وسیله هم ګرځېدهٔ. په داسې حال کې چې د اختلاف بنسټیز لامل سیاسي و او بس.

کله چې د سپین‌پوښو وروستی خوځښت د مقنع په مړینه پای ته ورسېد، د خراسان لوی واکمن په مروه کې مسیب بن‌زهیر و. هغهٔ په خراسان کې (د مسو او قلعي درمونه) دود کړل چې مسیبي درمونه ګڼل کېدل. هغه اتهٔ میاشتې په خراسان کې پاتې شو. څرنګه چې یې د خراج اندازه زیاته کړې وه؛ نو خراسانیان ورپسې راپاڅېدل.[1]

دا پېښې په ۱٦٦س کال کې رامنځ ته شوې. د خراسان د پاڅون خبر چې المهدي خلیفه ته ورسېد، هغه طوسي خراسانی فضل بن‌سلېمان د خراسان واکمن کړ او سیستان یې هم د هغهٔ د واکمنۍ پر سیمه ورزیات کړ. هغه له خپل لوري تمیم بن‌سعید د سیستان حاکم کړ.[2]

تمیم د (۱٦۹س) کال د صفرې په **۲۲**مه د شنبې په ورځ سیستان ته راورسېد. بشر بن‌فرقد ورسره د خراج د مسوول په توګه سیستان ته راغی.کله چې یې د سیستان چارې سمې کړې، بشر یې هلته پرېښود او په خپله یې په بُست کې واړول. له هغه ځایه یې پر رخذ (اوسني کندهار) برید وکړ، چې رتبیل یې پاچاه و. د رتبیل ورور یې ونیو او عراق ته یې ولېږهٔ.[3]

---

[1] - زین‌الأخبار ۷۷ الف.

[2] - طبري ٦/ ۳۸۸ او الکامل ٦/ ۳۰.

[3] - تاریخ سیستان ۱۵۱.

## د طوسي سمونې

ابوالعباس فضل بن‌سلېمان طوسي د (۱٦۷س) کال په ربیع‌الأول کې مروې ته راورسېد. له وګړو سره یې ښه چلن وکړ، څرنګه چې په خپله هم خراسانی و او د ولس د ژوندانهٔ پر ستونزو او شکایتونو پوهېدهٔ؛ نو په یو لړ اداري او ټولنیزو سمونو یې لاس پورې کړ، ګټور کارونه یې وکړل چې د خراسان په تاریخ کې یې سارى نهٔشته. ګردېزی وایي ابوالعباس دومره پر خلکو ګران شو چې په قهستان، طبسین، آمل، نسا، باورد، هرات او پوشنګ کې د هغهٔ له دوده بل نه خوښېدهٔ.[1]

د ابوالعباس طوسي سمونې دا وې:

۱- د ځینو ځواکمنو او زورواکو له خوا د مروې له بزګرانو په زور نیول شوې کرنیزې ځمکې یې بېرته خپلو خاوندانو ته ورکړې، ګردېزی وایي:

«پنځه زره واره اوبه یې چې قوماندانانو او ملکانو په زوره نیولې وې د مروې خلکو ته بېرته ورکړې»[2]

وار یا (بست آب) د اوبو هغه اندازه ده، چې د مروې د بزګرو تر منځ د کرنیزو ځمکو د خړوبولو لپاره وېشل کېدې. یو بست د اوبو تېرېدنګ هغهٔ سورې ته ویل کېدهٔ، چې اوږدوالی او پسور یې د یوې وربشې هومره وي.[3] طوسي د ولس له عامه حقونو څخه پنځه زره واره اوبه چې قوماندانانو او ملکانو پرې خېټې اچولې وې، هغوی ته بېرته وروګرځولې او د بزګرانو ژوند یې سم کړ.

۲- د لومړنی کړنې په مقابل کې یې«د قوماندانانو ارزاق»زیات کړل.[4] یعنې د لښکر د منصبوالو معاش او حقوق یې زیات کړل او د هغو پېټی یې د خلکو له اوږو کښته کړ.

۳- د ځینو هغو ودانیو د رغولو او پراخولو هڅه یې وکړه چې په عامه ژوند پورې اړه لري، د ساري په ډول د مروې جومات یې لوی کړ، انګړونه او بڼونه یې وپېرل او د مروې پر هدیرو یې ورزیات کړل، د امو په بېدیا کې یې فضل‌آباد جوړ کړ او د

---

۱ - زین‌الأخبار ۷۷ ب.

۲ - پورتنی اثر.

۳ - مفاتیح‌العلوم ۴۵.

٤ - زین‌الأخبار ۷۷ب.

۵- پورتنی اثر، همدغه مخ.

سغد او بخارا تر منځ یې لوی دېوال وغځاوه، چې د ترکانو له یرغلونو خوندي وي.[1]

۴- له خلکو څخه د دولت په نامهٔ اخیستل کېدونکو مالیو کې عدالت په پام کې نه نیول کېده، ځینو لږه او ځینو ډېره ادا کوله؛ نو طوسي د خلکو تر منځ د خراج وېش سم کړ، هغه څه یې له خلکو لیرې کړل چې د مسیب له خوا د خلکو پر مالیو ورزیات شوي وو او زیات اخیستل یې روا ونه ګڼل.[2]

په داسې حال کې چې ابوالعباس طوسي په خراسان کې داسې ګټورې کړنې تر سره کړې وې، لکه چې تېر شول المهدي خلیفه د (۱٦۹س) کال د محرم په ۲۲مه د پنجشنبې په ورځ د ماسبذان په (رذ) کلي کې ومړ، زوی او ځایناستی یې موسی الهادي د عباسي خلافت پر ګدۍ کښېناست؛ خو د خلافت دوره یې لنډه وه، تر دیارلس میاشتو زیاته نه وه او د ۱۷۰ س کال په ربیع‌الأول کې ومړ. په دې موده کې هماغه ابوالعباس طوسي په خراسان کې حاکم و. په سیستان کې هم کثیر بن‌سالم حاکم او اسد بن‌حبله امنیه قوماندان و. کله چې د الهادي تر مړینې وروسته یې ورور هارون‌الرشید د بغداد د خلافت پر ګدۍ کښېناست، د سیستان وګړي پر کثیر بن‌سالم پسې راپاڅېدل او د خلافت له ځواکونو سره وجنګېدل. کثیر له سیستان څخه وتښتېد او د ۱۷۰س کال په جمادي‌الأولی کې بغداد ته ورسېد. نو هارون‌الرشید د خراسان حاکم فضل طوسي ته امر وکړ چې د سیستان سنبالنه هم پر خپله غاړه واخلي. طوسي اصرم بن‌عبدالحمید د سیستان حاکم وټاکهٔ او تر هغه وروسته عبدالله بن‌حمید د اصرم ورور د ۱۷۱س کال په رجب کې د هارون د دربار له خوا د سیستان پر حکومت وټاکل شو.[3]

پر خراسان د عباسي دولت د لومړنیو واکمنو لاسبری یواځې په ښارونو او سوداګریزو لارو پورې محدود و؛ خو په غرنیو او لیرې پرتو سیمو کې سیمه‌ییزو واکمنانو خپلسری واک درلود. په رخذ او زابل کې رتبیلانو، په غزني او ګردېز کې لویکانو، په بامیانو کې شېرانو، په تخارستان کې شاد و نیزکو، په کابل او ګندهارا ناوه

---

[2]- تاریخ بخارا ۴۱.

[3]- تاریخ سیستان ۱۵۲.

کې کابلشاهانو او په غور کې سوريانو خپله خپلواکي ساتله، چې موږ د دې کتاب په لومړي څپرکي کې تړول شرحه کړي دي.

يعقوبي مؤرخ څرګندوي چې د المهدي په پېر کې سيمه‌ييزو واکمنو، لکه د کابل پاچاه خنچل، د تخارستان واکمن شروين، د باميانو واکمن شېر او د سيستان واکمن رتبيل، د هند، سغد، چين او ترک د پاچاهانو غوندې خپلواک حکمونه چلول. المهدي دې ټولو پاچاهانو ته ليکونه وکښل او هغه يې خپل اطاعت ته راوبلل.[1] له دې څخه جوتېږي چې د منصور او مهدي په پېر کې د خراسان خپل اميران خپلواک اوسېدل. همدا يعقوبي پر خراسان د عباسيانو بشپړ او پوره برلاسی د مامون په پېر کې ګڼي، چې د دې ځای ټولو واکمنو د مامون دربار ته خپله بشپړه غاړه ايښودنه څرګنده کړې ده.[2]

نو پر خراسان د عباسيانو د پرېکنده لاسبري وخت يواځې پنځه کاله ګڼلای شو، چې له ۲۰۰ څخه تر ۲۰۵ س پورې دی، ځکه په همدې کال طاهرپوشنګی بيا پر خراسان لاسبری شوی او په دې خاوره کې يې د داخلي او ملي حکومت بنسټ ايښی و.

---

[1] - تاريخ يعقوبي ۲/ ۳۹۷.

[2] - پورتنی اثر ۴۵۲.

## د هارون خلافت او د کابل شاه‌بهار ویجاړول

ابوالعباس طوسي په ۱۷۱س کې د خراسان له حاکمۍ ګوښه او پر ځای یې د هارون‌الرشید له درباره جعفر بن‌محمد بن‌اشعث وټاکل شو. ګردېزي وایي هغهٔ د ۱۷۱س[1] په ذوالحجه کې خپل زوی عباس کابل ته راولېږهٔاو شاه‌بهار یې ویجاړ کړ. د شاه‌بهار ټوله شتمني یې ولجه کړه.[2]

څرنګه چې عباس د کابل لور ته پرمختګ وکړ، د هغه ځای له خلکو سره وجنګېد او کابلستان یې ونیو. وروسته یې شاه‌بهار[3] لاس ته ورغی او چې څه په کې وو، غنیمت یې ونیول.[4]

دا عبادتځی چې په کابلستان کې و- لکه چې تر دې وروسته به راشي- اووه کاله وروسته بیا د دې خاورې د برمکي حاکم فضل بن‌یحیی په لاس ویجاړ شو. الیعقوبي هغه د کابلشاه د ښارونو، لکه غوروند (غوربند) فج غوروند (غوربند کنډو) سارخود (نسخه: سرخبذ= د بامیانو سرخبت) بندل استان (ښایي: فندقستان د غوربند یوه دره) په ډله کې راوړې او وایي: په شاه‌بهار کې یې یو بت لمانځهٔ، مسلمانانو سوبمنو ورته اور واچاوهٔ او ویې سوځاوهٔ.[5]

---

[1] - د زین‌الأخبار په خطي نسخه کې سنة ست و سبعین و مائة۱۷۶ لیکل شوي، چې د کاتب تېروتنه ده، ځکه په خپله ګردېزي لیکي چې عباس ابن جعفر په ۱۷۵س کې ګوښه شوی او موږ په متن کې د ابن اثیر وینا راوړې چې په ۱۷۱س کې ګوښه شوی او سم یې همدا دی.

[2] - زین‌الأخبار ۷۸ الف.

[3] - د الکامل په چاپ نسخه کې په تېروتنه سانهار؟ چاپ دی.

[4] - الکامل ٦/ ۴۷.

[5] - البلدان ۲۹۰، د لیدن دوهم چاپ، ۱۸۹۲ز.

پټه دې نه وي په افغانستان کې څو «شاه‌بهار» عبادتځي وو، چې په هغو کې یې د پاچاهانو پېرې ایښودې. څرنګه چې بهار کلمې د عبادتځي معنی درلوده او په سنسکرېټ کې د«وهاره» په بڼه ده، نو باید وویل شي چې شاه‌بهار د پاچاه د عبادتځي معنی درلوده، لکه چې د لوی کنیشکا کوشانشاه پېرې د بغلان د سرۀ کوتل له نوشاد څخه راوتلې ده. په ۱۹۳۷ز کال کې د موسیوهاکن د لرغونپوهنې پلاوي د غوربند درې په فندقستان کې د سیاه‌ګرد د سوېل په څلور کیلو متری کې پر یوې غونډۍ د یوۀ عبادتځي نښې وموندې. د هغۀ په کیندنو کې د یوۀ پاچاه او یوې ملکې پېرې د لمر او سپوږمۍ د ارباب‌الانواعو له رنګه انځورونو او سیکو سره وموندل شوې، چې په ٦مې زېږدې پېړۍ پورې اړه لري.[۱]

د «شاه‌بهار» کلمه د زیاتې کارېدنې له امله په مخففو یا توږل شویو بېلابېلو بڼو رامنځ ته شوه، چې موږ یې اوس پاتې شونې د غزني په شیبار او د هندوکش په مشهور کنډو شیبر کې وینو. لکه چې ابوالفضل حسین بیهقي وایي، په غزني کې د«شاه‌بهار»په نامۀ میدان د غزنویانو تر پېره موجود و، چې پاچاه به خپل لښکر په هغۀ کې معاینه کاوۀ.[۲] دا نوم د غزنویانو تر پېر ۴۰۰س شاوخوا پورې په غزني کې پاتې و. ښایي تر اسلام د مخه پېرونو کې په همدې ځای کې هم په همدې نامۀ عبادتځی موجود و.[۳]

په پرېکنده او یقیني توګه نو اوس د کابل د دې شاه‌بهار ځای ټاکل ستونزمن دي؛ خو مؤرخانو هغه د غوربند او بامیانو د سرۀ بت په لیکه کې یاد کړی دی او دا اټکل رامنځ ته کوي چې د کابل شاه‌بهار به همدا شیبر او یا هغۀ ته نږدې بل ځای وي، چې تر دې وروسته د فضل برمکي د حاکمۍ په احوالو کې هم د هغۀ یادونه راځي.

---

[۱] - تاریخ افغانستان ۲/ ۴۰۱.

[۲] - تاریخ بیهقي ۲۵۵- ۵۲۴ او نور. فرخي د غزني د دې شاه‌بهار په اړه وایي:

هر چه در هندوستان پیل آرای بود پیش کردی و در آوردی بدشت شاه‌بهار (دیوان ۸۷).

[۳] - په اوسني شیبر کې د شاه‌بهار لنډه بڼه پاتې ده او څرنګه چې (ښ) په ختیځو لهجو کې په (خ) اوړي نو ویلای شو چې (د ننګرهار او پېښور سیمو تر منځ) د خیبر درې نوم د همدې کلمې یوه بڼه ده. دا نوم د عربستان د یهودانو له کلا څخه نه دی راغلی، چې حضرت علي یې دروازه نړولې وه.

د يادولو ده، چې په غالب گومان دا شاه‌بهار يو اورتون و او سپېڅلی زردشتي اور يې په کې بلاوهٔ، د دې مطلب لپاره دوه دليله لرو:

لومړی دا چې د بغلان د سرهٔ کوتل د جومات د زاړهٔ عبادتځي په آثارو (۱۶۰از شاوخوا) کې د اور او اورتون نخښې موندل شوې دي؛ نو له هغو څخه جوتېږي، چې دا دين په دې خاوره کې پاتې و. دوهم دا چې عربي شاعر مروان بن‌ابي حفصه (۱۷۸س شاوخوا) د خراسان برمکي حاکم فضل بن‌يحيی په يوه بولله کې وستايهٔ، په کابلستان او خراسان کې يې د هغهٔ سوبې وستايلې او په يوهٔ بيت کې يې د کابل په غرونو کې د بې لارۍ اورونو ته داسې نغوته وکړه:

أبحت جبال الكابلي ولم تدع بهن لنيران الضلالة موقدا[1]

لکه چې يعقوبي پرې رڼا اچوي، د فضل بن‌يحيی لښکريانو د کابل په غرونو کې د شاه‌بهار عبادتځی نړولی او سوځولی و او دې پېښې په ولس کې شهرت درلود؛ نو ويلای شو چې په دې بيت کې «نيران‌الضلالة» په هغهٔ اورتون کې د سپېڅلي اور شتون ته نغوته ده.[2]

[1] - طبري ۶/ ۴۶۴ يعنې د کابل غرونه يې ونيول او په هغو کې يې د گمراهۍ د اور بلونې لپاره اورتون پرېنښود.

[2] - د بندهش په ۱۷ څپرکي کې يې لوی اورتونځی (آذر فروبغ) د کابل په روښان غرهٔ کې ښودلی دی (يسنا ۱/ ۱۳۲) او د بغلان د سرهٔ کوتل له ډبرليک (۱۶۰از شاوخوا) څخه د هغه ځای په نوښاد عبادتځي کې د اير (د پښتو اور د آتش په معنی) شتون څرگندېږي، چې دا کلمه په کې دوه ځله راغلې ده.

# د حصین سیستاني پاڅون

جعفر بن‌محمد بن‌اشعث تر۱۷۳س پورې په خراسان کې حاکم و، چې په گوزڼ ومړ. په هغهٔ پسې يې زوی عباس، د هارون‌الرشيد له خوا دلته واکمن شو. هغهٔ د پلار چلن خپل کړ او درې کاله يې واکمني وکړه. په ۱۷۵س کې يې هغه گوښه کړ او پر ځای يې د هارون ماما غطريف بن‌عطاء کندي په خراسان کې وټاکل شو.[۱]

غطريف چې د دربار له باوري کسانو او د خليفه له خپلوانو څخه و، له زيات ځواک سره خراسان ته راغی. داؤد بن‌يزيد بن‌حاتم مهلبي[۲] يې - چې د سيستان له لويانو څخه و - د خراسان له لارې دلته راوليږهٔ. هغه د ۱۷۶س د ربيع‌الأول په ۱۱مه د پنجشنبې په ورځ زرنج ته راورسېد، چې د خراج مسوول همام بن‌سلمه هم ورسره و.[۳]

غطريف د خراسان په شمال او سوېل کې - چې له شخړو ډک وو - په جنگ او تصفيې لاس پورې کړ. عمر بن‌جميل يې فرغانې ته وليږهٔ، چې جبويه[٤] يې له هغه ځايه وايست او تر يوهٔ وخته پورې هلته د امنيت ټينگښت لپاره پاتې شو.[۵]

د امويانو د راځرگندېدو له پيله د خراسان د ملي خوځښتونو او پاڅونونو مرکزونه په شمال کې وو او دا وضع د مقنع تر پاڅون پورې روانه وه. څرنگه چې مروه او نيشاپور د عباسيانو په پېر کې د عباسي ځواکونو ټيکاونه وگرځېده او خراسانيان هم د

---

۱ - طبري ٦/ ۴۴۷، البلدان ٦۴ او زين‌الأخبار ۷۸الف.

۲ - دا نوم په الکامل او زين‌الأخبار کې متن ته ورته دی؛ خو په تاريخ سيستان کې داؤد بشر المهلبي دی.

۳ - زين‌الأخبار ۷۸الف او تاريخ سيستان ۱۵۳.

٤ - جبويه: د غزانو او خرلخيانو مشر او پاچا دی (مفاتيح‌العلوم ۷۳)

۵ - زين‌الأخبار ۸۷الف.

بلخي برمکیانو د اغېز له امله- چې تول وزیران او د عباسي دربار او د بغداد خلافت د اداري معتبر او پیاوړي کسان وو- د دولت په چارو کې په خپل ګډون روحاً قانع شوي وو؛ نو له همدې امله د ملي خوځښتونو مرکز له شمال څخه سوېل یعنې د سیستان او رخذ سیمې (د هلمند او ارغنداب ناوې) ته ولېږدېد، ځکه چې دا سیمه د خلافت د ځواکونو او عباسي حاکمانو له لاسبري څخه لرې لیرې وه. تر دې وروسته وینو چې سیستان او د هلمند څنډې د خوارجو (هغه کسان چې د خلافت د اداري خلاف به راپاڅېدل) پاځونځی او تمځی ګرځېدلی و.

د ۱۷۳س شاوخوا چې عثمان بن‌عماره مزني د هارون‌الرشید له درباره د سیستان واکمن و، هغهٔ خپل زوی صدقه له عسکرو سره بُست ته راولېږهٔ، ځکه چې په دې وخت کې د رخذ یو شمېر وګړي (د هفتالیانو پاتې شوني) د هلمند او ارغنداب د څنډو تر منځ سیمو کې خپارهٔ شوي وو او د پخوانی خپلواکۍ غوښتنې یې کولې. د صدقه لښکر په رخذ کې له هغو سره ښکېل شو؛ په داسې حال کې چې له هغو څخه یې ډېر وژلي وو، رخذیان مات شول. د دې لپاره چې د دې ولس له لاسه نور زیانونه ونه ویني، صدقه سیستان ته رانغی او په بُست کې ځای پر ځای شو.[1]

په دې وخت کې د بُست او سیستان تر منځ وګړو هم- چې د هلمند پر شنو او ښېرازو څنډو مېشت وو- پر لښکریانو او د عباسي خلافت په کارکوونکو بریدونه کول. د دې ملي بلواګرو (د عربو مؤرخانو په تعبیر: خوارجو) مشر د سیستان د اوق[2] یو کس و، چې حصین (د تاریخ سیستان د یواځینی خطي نسخې په خوندیینه: حضین) نومېدهٔ او د قیس بن‌ثعلبه مریی و. حصین په ۱۷۵س کې راپورته شو، د سیستان امیر عثمان بن‌عماره د هغهٔ مخنیوي ته لښکر ورولېږهٔ؛ خو حصین د عثمان لښکر مات کړ، تر هرات، پوشنګ او بادغیس پورې وړاندې لاړ.

څرنګه چې د خراسان عمومي واکمن غطریف خطر رالنډ ولید؛ نو داؤد بن‌یزید یې له۱۲زره سنبال لښکر سره د حصین د ځپلو لپاره ورولېږهٔ. حصین له ۶۰۰ جنګیالیو

[1] - تاریخ سیستان ۱۵۲.
[2] - اوق د سیستان له ۱٦ ښارګوټو څخه یو و (تاریخ سیستان ۲۸).

مېړونو سره (ګردېزي ۳۰۰ ښيي) پر هغوی ورودانګل او ټول يې ووژل.

عباسي دربار داؤد - چې په خپله هم سیستانی و- د حصین مقابلې وهڅاوۀ او د ۱۷۷س د ربیع‌الأول پر۱۳مه له ډېر لښکر او اربکیانو سره د حصین پر وړاندې راووت. په اسفزار کې يې تر منځ لوی جنګ شو، له دواړو خواوو څخه ډېر وګړي ووژل شول. په پای کې حصین د اسفزار د جنګ پر ډګر له خپلې مېرمنې سره سر وبایلۀ[1] او دا خوځښت پای ته ورسېد.

## د فضل بن‌یحیی برمکي حاکمي

غطریف تر ۱۷۶س پورې په خراسان کې د عمومي حاکم په توګه مقرر و. د هغۀ په پېر کې پر جنګي عملیاتو او د حصین سیستاني پر له منځه وړنې سربېره په خراسان کې يو اقتصادي اقدام دا هم شوی، چې هغۀ د حصین د جنګونو پر مهال - ښايي د مالي تنګسې له امله- په خراسان کې ځانګړی درم دود کړی و. هغه يې غطریفي درم بالۀ او تر ۴۵۰س شاوخوا پورې په بخارا کې راکړه ورکړه په هغۀ کېده.[2]

غطریف په ۱۷۶س د خراسان له حاکمی ګوښه او پر ځای يې په عروس مشهور، حمزه بن‌مالک خزاعي وټاکل شو؛ خو يو کال وروسته مشهور کس او د هارون د دربار وزیرزی فضل بن‌یحیی برمکي- د بلخي برمکیانو له مشهورې کورنۍ څخه - د خراسان او ری په امارت‌وټاکل شو. هغۀ یحیی بن‌معاذ د ۱۷۷س په روژه کې خراسان ته راولېږۀ او په خپله د ۱۷۸س کال په محرم کې دلته راغی.[3]

د خراسان لوی نومیالی فضل بن‌یحیی برمکي د دې ولس په غوښتنو پوه و. هغۀ د خراسان د شمالي ولایتونو امنیت ته پام واړاوۀ او د ماوراءالنهر سیمې يې پاکې کړې. د اسروشنه پاچاه خاراخره چې تر دې دمه هیچا ته نه و ورغلی او غاړه يې نه وه

---

[1] - زین‌الأخبار ۷۸الف، الکامل ٦/ ۵۰ او تاریخ سیستان ۱۵۳.

[2] - پورتنی اثر ۷۸الف.

[3] - طبري ٦/ تر ۴۵۸ وروسته او زین‌الأخبار ۷۸ ب.

ایښې، هغهٔ ته راغی[1] نو بې‌شمېره غنیمتونه فضل ته ورسېدل.[2]

فضل سیستان ولایت هم د خراسان له حاکمۍ سره وتاړهٔ او مشهور طبیب ابراهیم بن‌جبرایل بختیشوع یې - چې د هغهٔ د ساتندویانو او امنیتي ځواکونو قوماندان و- په سیستان ولایت کې وګومارهٔ، هغه د ۱۷۹س کال په ربیع‌الأول کې د شنبې په ورځ زرنج ته راورسېد او له عمر بن‌مروان سره- چې په سیستان کې یې سرغړونه کړې وه- ونښت، تر سخت جنګ وروسته پرې لاسبری شو.[3]

د فضل له مهمو کړنو بله دا وه چې د هغهٔ په پېر کې کابلستان او بامیان هم د خراسان په مرکزي حکومت او عباسي دولت پورې وتړل شول. د هغهٔ لښکریان په کابلستان کې تر غورروند او بامیانو پورې وړاندې لاړل. په دې سوبو کې هغهٔ د بامیانو حسن بن‌شېر خپل مرستیال کړ، هغه یې د خپل نیکهٔ په نامهٔ «شېر بامیان» ونوماوهٔ او پر بامیانو یې د هغهٔ واکمني په رسمیت وپېژندله. فضل خپل هماغه لښکري قوماندان ابراهیم بن‌جبریل د تخارستان له واکمن، دهقانانو او د بامیانو له شېر حسن سره کړ، د غوربند ښار، د غوربند غاښی، سرخ بد (د بامیانو سرخ‌بت) او فندقستان دره یې ونیوله او د«شاه‌بهار»عبادتځی یې - چې شرحه یې مخکې تېره شوه- ړنګ کړ. ابراهیم او سوبمنو لښکریانو دلته ولاړ لمانځل کېدونکی بت وسوځاوهٔ. په دې ډول د کابل سیمې پاچاهان هغهٔ ته اېل شول او باج یې ورکړ، پاچاهان دا وو:

د کاوسان ښار وګړي د هغو له پاچاه سره چې عفریکس[4] نومېدهٔ؟

د مازران ښار وګړي له خپل پاچاه سره.

د سرخود (سرخ بد) ښار وګړي له خپل پاچاه سره.

د لوی کابل ښار- چې جروس یې بالهٔ- وګړي.

کابل ښار د حضرت‌عثمان بن‌عفان په پېر کې عبدالرحمن بن‌سمره نیولی و؛ خو بیا بېرته له لاسه وتی و او بې له سوداګرو ورته څوک نه شو ورتلای. له هغهٔ څخه

---

[1] - طبري او زین‌الأخبار.

[2] - الفخري ۲۸۱.

[3] - تاریخ سیستان ۱۵۴.

[4] - په اصل کې ټکي نهٔشته.

لویه کابلي هریږه راوړي.[1]

فضل پر سوبو او امنیت راوستو سربېره په خراسان کې یو شمېر نورو ګټورو کارونو ته هم لاس واچاوهٔ، چې دا وو:

د فضل برمکي کارونه

۱- د عامه هوساینې لپاره د جوماتونو، تمځیونو او ډنډونو جوړول[2] له دې جملې څخه یې د بخارا جومات پراخ کړ او د هغهٔ د جوړولو لپاره یې زښتې ډېرې پیسې ورکړې. د روژې په شپو کې یې په جوماتونو کې څراغونه او قندیلونه ولګول. د بلخ په ښار کې یې ویالهٔ وایستله. په ټول خراسان کې یې جوماتونه او کاروان سرایونه جوړ کړل.[3] د بلخ نوبهار د پخواني عبادتځي په څنډه کې یې -چې نیکونه یې د هغهٔ چوپړان وو- جومات هم جوړ کړ.[4]

۲- د یوهٔ ځانګړي خراساني لښکر جوړول چې شمېر یې پنځهو لکو ته رسېدهٔ. له دې لښکر څخه شل زره کسان بغداد ته بوتلل شول، چې هلته د «کرنبیه» په نامهٔ مشهور شول او نور په خراسان کې په ځانګړو نومونو سره دلته په دفترونو کې پاتې شول. مروان بن ابي حفصه په دې اړه شعر لري، چې په دې بیت کې د لښکر شمېر ته نغوته کوي:

أثبــت خمــس مئـين في عــدادهم   من الألوف التي أحصت لك الكتب[5]

۳- د دولت د حقوقو او خراج په پوره کولو کې یې هڅه وکړه، لکه چې له ابراهیم بن جبریل سره د سیستان د خراج څلور ملیونه درهمه موجود وو، په داسې حال کې چې له نورو لارو څخه اووه ملیونه درهمه راټول شوي وو.

۴- د فضل برمکي په هڅه په خراسان کې بشپړ امنیت راغی او د عباسي دولت مخالفې ډلې له منځه لاړې. په تېره د کابل په غرنیو سیمو کې د هغهٔ سوبې او د شاه‌بهار اورتون (د کابل عبادتځی چې شرحه یې تېره شوه) ویجاړول هغه کارونه دي، چې هغه یې په عربي نړۍ کې د هغو له امله ستایهٔ، لکه چې عربي شاعر مروان

[1] - البلدان د یعقوبي ۵۲.

[2] - طبري ٦/ ۴٦۲.

[3] - تاریخ آل برمک ۲۰ او تاریخ بخارا ۵۹.

[4] - وفیات‌الأعیان ۴۰۹.

[5] - طبري ٦/ ۴٦۲.

بن‌ابي حفصه په يوه بولله کې د هغهٔ سخا او کرم وستايهٔ او و يې ويل:

نفى عـن خراسـان العـدو كـما نفـى ضحى الصبح جلبات الدجى فتغردا

أبحـت جبـال الكـابلى و لم تـدع بهــن لنــيران الضــلالة موقــدا[1]

«يعنې: دښمن د تيارې په څېر- چې د سهار له رڼا تښتي- له خراسانه وشړل شو او تا د کابل غرونه داسې پاک کړل، چې د بې‌لارۍ د اور لمبه په کې پاتې نه شوه.»

۵- فضل د دولت د مالونو پوره کولو هڅه وکړه؛ خو د خراسان په اداره کې يې ځانګړی چلن په پام کې ونيو، چې په هغهٔ کې د خراسانيانو ګټې نغښتې وې. هغه واليان چې د عباسي دربار له خوا د دې پراخ او وېړ هېواد په څنډو کې مقررېدل له خلکو څخه يې د مالونو په اخيستو اسره نه کوله، هڅه يې کوله چې ډېر مالونه او شتمنۍ تر لاسه او يوه مهمه برخه يې د خليفه دربار ته وړاندې کړي.

خو برمکيانو په خراسان کې د دربار دا مالي سياست پلی نه کړ، څرنګه چې په هغو کې د خراساني مليت عنصر پياوړی و، ويې نه غوښتل چې د دې سيمې د خلکو مالي بنسټ دې کمزوری او ناڅيزه وي او يا دې د عباسي دربار د ځواکونو تر بريد لاندې راشي.

د مجمل‌التواريخ و القصص کتاب نوموړکی ليکوال، چې د برمکيانو احوال يې ليکلي او د خپل نيکهٔ مهلب بن‌محمد بن‌شادي له ليکنو يې په هغهٔ کتاب کې مطالب راخيستي وو، د برمکيانو د کورنۍ د پلار يحيى بن‌خالد رايه يې- چې هارون پلار بالهٔ او وزير يې و- داسې ليکلې ده: «وروسته تر هغهٔ چې فضل له خراسان څخه لاړ او پر ځای يې علي بن‌عيسى بن‌ماهان راغی. کله هارون چې په خراسان کې و، علي هغهٔ ته راغی او دومره مالونه، مريان، وينځې اسونه، ټوکران، سپين او سرهٔ زر، د رمبوسي غوټه، مښک، عنبر او د قاقم، سپلم، وړيو او نورو څخه جوړ توکي يې راوړل چې په ليدو يې د هارون سترګې ټېغې پاتې شوې. کله چې فضل د خراسان امير و، خزانې ته د هغهٔ مال لسمه برخه هم رسېدلې نه وه.

هارون چې کله د مالونو دا ډېرۍ وليدې؛ نو يحيى ته يې وويل: تا ويل چې هغه

---

[1] - طبري ۶/ ۴۶۴.

(علي بن‌عیسی) خراسان ته مه لېږه او ما ونه منل، ډېر ښهٔ وشول چې ستا مې ونه منل.
یحیی وویل: که په دې پسې سرخوږی نه وي؛ نو نېمکرغي ده، ښایي چې د داسې مال او شتو له تر لاسولو وروسته د هغهٔ ولایت د اداري لپاره د دې مال د یوهٔ درهم پر ځای د لسو لګولو اړتیا رامنځ ته شي او هغهٔ لس برابره د ځان لپاره نه وي ایښي او دومره یې امیرالمؤمنین ته نه وي راوړي او چې خراسان له شتو تش شي، وګړي به له مصادرې سترې شي او دښمنان به سر راپورته کړي، چې مخنیوی به یې ګران وي.»[1]

نو فضل او د هغهٔ کورنۍ د دې ښېګڼ‌خوښي سیاست په پلي کولو کې دومره زیار ویوست چې د مجمل څښتن وایي، په پای کې د رشید زړهٔ له برمکیانو څخه موړ شوی و او لکه چې راځي د دې لویې کورنۍ د تباهۍ یوه وسیله شوه؛ خو خراسانیانو ترې دومره مننه وکړه او د احسان پوروړي یې شول، چې د هغهٔ حکومت په پېر کې یې د هغهٔ د درناوي، انعام او احسان د شکر څرګندولو لپاره په شل زرو نویو زېږېدلو ماشومانو فضل نومونه کښېښودلي وو.[2]

٦- جهشیاري وایي ابن‌خلکان لیکلي دي: فضل چې خراسان ته راغی د ځور دودونه یې له منځه یووړل، خلکو ته پاتې مالیات یې ورووبخښل او د هغو اسناد یې وسوځول، د عسکرو معاشونه یې زیات کړل. په یوهٔ کال کې یې خپلو مامورینو او مراجعینو ته لس ملیونه درهمه وبخښل.[3]

٧- د تمدن او اسلامي علومو په خپرولو کې د فضل له نه هېرېدونکو خدمتونو څخه یو دا دی، چې د خراسان کاغذ جوړونې صنعت ته یې وده ورکړه، چې یو مرکز یې په سمرقند کې و. کله چې له خراسان څخه بغداد ته ستون شو، دا ماهر خراساني صنعتکاران یې هلته بوتلل، هغوی د کاغذ جوړونې د صنعت لپاره په بغداد کې کارخونې جوړې کړې. دا صنعت چې له چین څخه خراسان ته رارسېدلی و، په اسلامي هېواد کې خپور شو، پرمختګ یې وکړ او بیا د اندلس له لارې اروپا ته ولېږدېد.[4]

---

[1] - مجمل ٣۴۴ او د نامعلوم مؤلف اخبار برامکه ٦٣ مخ، د تهران چاپ، ١٣١٢ل.

[2] - تاریخ آل برمک د عبدالجلیل یزدي، د شیفر چاپ، په منتخبات ادبیات پارسی کې، دوهم ټوک ٢٧ - ٢٨ مخونه.

[3] - وفیات‌الأعیان ٢/ ۴٠٩.

[4] - تاریخ فرهنګ ۴٠٧، د هټي تاریخ عرب ٨٦ او د ابن‌خلدون مقدمه ٢٥٠.

## له دربار سره د غوریانو اړیکي

برمکي فضل په ځیرکانه تدابیرو سره شخړو ځپلی خراسان له عباسي دربار سره نږدې کړ. له هغې جملې څخه په دې وختونو کې د غور د غرنیو خلکو او د هغهٔ ځای د سیمه‌ییزو آمرانو اېلېدنه وه. د غور له سیمه‌ییزو امیرانو څخه د شنسب بن‌خرنک کورنۍ له دربار سره دوستانه اړیکي درلودهٔ.

د هارون‌الرشید په پېر کې تر ۱۸۰س وروسته د دې کورنۍ امارت امیر بنجي نهاران ته رسېدلی و. له خپل سیال شیش بن‌بهرام سره د غور په امارت د هغهٔ شخړه راولاړه شوه، تر دې چې په پای کې د خلیفه حضور ته لاړل او هارون‌الرشید امیربنجي د قسیم امیرالمؤمنین په نامهٔ د غور په امارت وټاکهٔ، د غور پهلواني او لښکرمشري یې شیش ته ورکړه. د غور لوی پاچاهان د همدې امیر بنجي نهاران له پښته دي.[1]

د دې موضوع د تفصیل لپاره وګ: د دې کتاب په لومړي څپرکي کې د غور د سوریانو برخه او په راتلونکي ټوک کې د غوریانو څپرکی.

[1] - طبقات ناصري ۱/ ۳۲۶.

## ۱۰- د حمزه سیستاني پاڅون

## او نورې بلواګانې

برمکي فضل تر ۱۷۹س پورې په خراسان کې پاتې شو، بیا هارون‌الرشید د هغهٔ پر ځای منصور بن‌یزید حمیري وټاکهٔ چې د المهدي ماما و. هغه د ۱۷۹س په ذوالحجه کې خراسان ته راغی. څرنګه چې په همدې وخت کې سیستان او خراسان بیا له شخړو ډک او وګړي هم د خراسان له امارته د فضل د ګوښه کېدو له امله خواشیني وو؛ نو د خراسان د چارو په سر کې د یوهٔ قوي او مدبر شخص اړتیا وه، یو کال وروسته د ۱۸۰س کال په سر کې علي بن‌عیسی بن‌ماهان[۱] د خراسان حاکم شو[۲] چې د دربار او عباسي لښکر له اعتمادي کسانو څخه و.

علي بن‌عیسی اداري او پیاوړی پوځي شخص و. تر لسو کالو پورې یې په دې خاوره کې حاکمي وکړه. لکه چې تېر شول دلته یې هېښنده پانګه راټوله کړه او بغداد ته یې ولېږدوله. د هغهٔ منشي حفص بن‌منصور مروزي خراساني و. خراج‌خراسان کتاب د هغهٔ له تألیفاتو څخه دی.[۳]

په خراسان کې علي ته څو مهم کارونه په مخکې پراتهٔ وو، د هغو خطرناکو پاڅونونو د

---

[۱] - علي ابن عیسی ابن ماهان د رشید او امین د پېر له مشرانو څخه دی، چې امین یې له ځیناستی څخه د مامون لیرې کولو ته وهڅاوهٔ. د امین له خوا د مامون پر ضد جنګ ته واستول شو او د همدان، اصفهان، قم او غرنیو سیمو والي شو. هغه له ۴۰ زره لښکر سره له بغداد څخه راووت، د مامون له خوا طاهر بن حسین پوشنګي په ری کې له هغهٔ سره مخامخ شو او په همدې جنګ کې په ۱۹۵س=۸۱۰ز کې ووژل شو (الأعلام ۵ / ۱۳۳).

[۲] - زین‌الأخبار ۷۹الف.

[۳] - طبري وایي په ۱۸۰ س کال کې مشهور برمکي وزیر جعفر ابن یحیی د خراسان او سیستان امیر شو، هغهٔ له خپل لوري محمد بن حسن بن قحطبه خراسان ته ولېږهٔ (۶/ ۴۶۹) خو د جعفر دا حاکمي له څو میاشتو زیاته نه وه.

اور لمبې مړې کول چې د عباسيانو د لاسبري پر خلاف په خراسان کې بلې شوې وې.

**د ابوالخصيب بلوا**

په ۱۸۳س کال کې ابوالخصيب وهيب بن‌عبدالله نسايي نومی يو سړی د خراسان په نساء کې پيدا شو، چې د حريش له مريانو څخه و. تر دريو کالو پورې يې په نساء، ابيورد، طوس او نيشاپور واک وچلاوهٔ. مروه يې کلابنده کړه، هلته له ماتې خوړو وروسته، سرخس ته راغی، کار يې مظبوط شو او څه وخت يې په دې خاوره کې د عباسي دولت له ځواکونو سره مقابله وکړه.

په ۱۸۶س کې علي بن‌عيسی چې د خلافت دربار ته تللی او ډېر زيات مال يې له خراسان څخه وړی و، بېرته د ابوالخصيب د مقابلې لپاره خراسان ته راغی. له مروې څخه يې عباسي ځواکونه له ابوالخصيب سره د جنګ لپاره رامارش کړل او ابوالخصيب په هغهٔ جنګ کې ووژل شو، علي د هغه ښځې او اولادونه مريان ونيول؛[1]خو:

**حمزه**

د دې پاڅون په منځ کې د سوېل په جبهه کې حمزه له سيستان څخه راپورته شو. د پاڅون پيل يې په ۱۸۰س کې و، چې هماغه د عمر بن‌مروان خوځښت يې رانوی کړ. عربو مؤرخانو دواړه خارجيان ګڼلي دي، ځکه چې د عباسي دولت د لاسبري پر خلاف راپاڅېدلي وو.

د ۱۸۰س په شعبان کې په خراسان کې د عباسيانو لوی حاکم علي بن‌عيسی، له خپل لوري همام بن‌سلمه د خراج، لمانځهٔ او د سيستان د جنګ حاکم وټاکهٔ. سم له واره يې پسې نصر بن‌سلېمان دې ولايت ته راولېږهٔ. بيا يې د ۱۸۱س کال په محرم کې يزيد بن‌جرير وټاکهٔ او خپل زوی عيسی يې سيستان ته راولېږهٔ. هغهٔ له سيستانه بُست او له هغهٔ ځايه تر کابله وړاندې لاړ او د ۱۸۲س کال په لومړيو کې سيستان ته وګرځېد.

په داسې حال کې د زوطهماسب له نسله حمزه بن‌عبدالله چې مخور، عالم او زړور سړی و، د سيستان له "رون و چول" څخه راپورته شو، څرنګه چې د عباسي دولت يوهٔ مامور بې ادبي وکړه؛ خو حمزه چې عالم شخص و، هغه ته يې نصيحت وکړ، هغه مامور د حمزه په

[1] - طبري ٦/ ٤٧٣ او الکامل ٦/ ٦٩.

تباهی پسې راواخیسته او په پایله کې د حمزه په لاس له منځه لاړ.[1]

طبري او ابن‌اثیر د حمزه د پلار نوم اترک؛ خو طبري یې بیا شاري هم بولي او د هغهٔ د پاڅون کال یې ۱۷۹س لیکلی دی[2]؛ نو له دې څرګنده ده، چې هغه د غرجستان د شارانو کورنۍ ته منسوب و؛ چې د خراسان پر یوه ټوټه څمکه یې واکمني درلودلې ده.

خو د پلار نوم یې چې د تاریخ سیستان څښتن عبدالله لیکلی دی، په عربي ماخذونو کې (اترک) دی او دا به د پهلوي د پخوانۍ کلمې آذرک یوه بڼه وي، چې د اسلام تر منلو د مخه په دې نامهٔ نومل کېدهٔ. په ابن‌فندق مشهور علي بن‌زید بیهقي هم هغه حمزه بن‌آذرک الخارجي لیکلی دی.[3]

آذر یا اور د اوستا له آتر ریښې څخه او د پهلوي آتور د ایزدان مزدیسنا له نومونو څخه یو دی او په اوستا کې د اهورا مزدا زوی و، چې په دې نامهٔ په سلګونو مصدر نومونه، په زردشتي دین کې شته. [4] موږ له دې نامهٔ څخه اټکل کولای شو، چې د حمزه پلار پر زردشتي دین ګروهمن و.

حمزه د ۱۸۰س شاوخوا د عباسیانو د مامور تر وژنې وروسته د حج په سفر ووت. په دې سفر کې یې د قطري بن‌الفجاة[5] له ملګرو سره- چې د عباسیانو د مخالفو خوارجو له مخکښانو څخه و- اړیکه ونیوه. بېرته چې سیستان ته راوګرځېده، دلته د ملي مشر په توګه ومنل شو، د عباسي لاسبري مخالفان پرې راغونډ شول، د خلف خارجي او حصین شاوخوا پنځه زره ملګرو ورسره بیعت وکړ.

---

[1] - تاریخ سیستان ۱۵۶.

[2] - طبري ٦/ ۴٦۵ او الکامل ٦/ ٦١.

[3] - تاریخ بیهقي ۴۹، د تهران چاپ، ۱۳۱۷ل.

[4] - د بېلګې لپاره وګ: مزدیسنا و تأثیر آن در ادبیات پارسی ۱۸۷ او ۵٦٠.

[5] - ابو نعامه قطري ابن‌الفجاءة جعونه ابن مازن تمیمي د ازارقه وو یعنې د شین‌پوښو خوارجو له مشرانو څخه و، چې د بحرین د قطرب اوسېدونکی و. له مېړنیو جنګیالیو، وییناوالو او شاعرانو څخه ګڼل کېدهٔ. ۱۳ کاله د امویانو پر وړاندې وجنګېد. مؤرخانو هغه په زړنتیا، ځواک او هیبت کې وېروونکی، طامة‌کبرا او لویه ټکه کس ګڼلی دی. څو ځله د حجاج پر لښکرو برلاسی شوی دی. په پای کې په ری او طبرستان کې په جنګ کې له اسه راولوېد او ورون یې مات شو. د هغه سر یې حجاج ته وروړ. د هغه د پاڅون داستان په مؤرخانو کې مشهور دی (الأعلام ٦/ ۴٦).

علي بن‌عيسی چې پر دې پېښه خبر شو، نو خپل زوی عيسی يې له لښکر سره د حمزه جنگ ته ورولېږۀ. د ۱۸۲س په شوال کې د جمعې په ورځ د دواړو خواوو تر منځ سخت جنگ ونښت. په داسې حال کې چې ډېر لښکريان يې مړۀ شوي وو، عيسی د حمزه له لاسه ماتې وخوړه او د دښتې له لارې خراسان ته وتښتېد.

عيسی چې په جنگ او دښمن ماتونه کې نوم لارۀ، په دې جنگ کې يې ډېره سخته ماتې وخوړه او بې حيا شو، ان چې يوۀ شاعر ورته داسې پېغور ورکړ:

يا ابن‌علی اين تسری في الفلاة    وكنت ليث الغاب قبل مرسلاً

بين يدی حمزة في قله؟    فصرت في الجبن لدينا مثلاً[1]

«ای د علي زويه! په دې دښته کې چېرته تښتې! پخوا يې ته د درگې (نيستان) زمری گڼلې، په داسې حال کې چې نن له حمزه نه د وېرې بېلگه شوي ياست!»

په هر حال عيسی په ډېره بې پتۍ د خپل لښکر له يو شمېر مخورو او قوماندانانو سره خراسان ته وتښتېد او حمزه د زرنج ښار ونيو، په داسې حال کې چې د هغۀ ښار حاکم حفص بن‌عمر هم د هغۀ له جنگه مخ واړاوۀ او په يوه خنډه کې پټ شو.

حمزه د سيستان وگړي راغونډ او د بغداد دربار ته له نقدي او جنسي ماليو ورکړې يې منع کړل او په خپله په خپل ځای کې پاتې نه شو، له خلکو سره يې ژمنه وکړه، چې له هغوی څخه به هيڅ ډول باج او خراج نه اخلي.[2]

نو حمزه د سيستان تر پاکولو وروسته خراسان ته مخه کړه او په ۱۸۵س کې تر بادغيس او پوشنگ پورې ورسېد. په دې وخت کې د هرات حاکم عمرويه بن‌يزيد ازدي، خپل شپېر زريز لښکر د حمزه مقابلې ته ورولېږۀ؛ خو د حمزه ملي سرښندويانو د عمرويه ډېر لښکريان ووژل او ماتې يې ورکړه. په خپله عمرويه هم په دې جنگ کې سر بايلود.

[1] - تاريخ سيستان ۱۵۷.

[2] - پورتنی اثر ۱۵۸.

علي بن‌عیسی چې د حمزه دا دوهم برى هم وليد؛ نو له واره يې خپل زوی حسین له لس زره جنګي لښکر سره د هغهٔ مقابلې ته راولېږهٔ؛ خو حسين چې په هغهٔ پسې توره راونه ایستلای شوه؛ نو د جنګ پر ځای يې حمزه ته د سولې ليک وکېښ، زکات يې ورکړ؛ خو جنګ يې ونه کړ، نو پلار يې خپل بل زوی عیسی د لښکر قوماندان وټاکهٔ. که څه هم حمزه عیسی ته په لومړي جنګ کې هم ماتې ورکړه او بلخ ته يې په شا وتمباوهٔ؛ خو پلار يې علي د خپل زوی ملا ور وتړله او د حمزه لښکريانو ته يې په باخرز کې ماتې ورکړه. حمزه له څلوېښتو کسانو سره بېرته له نیشاپوره کهستان (قهستان) ته په شا شو.

علي د حمزه تر ماتې وروسته خپل لښکر د سیستان اوق او جوين ته واستاوهٔ او د حمزه د مرستندویانو ټول کلي يې وسېځل، هر چا چې له حمزه سره تړاو درلود ووژل شو. چې زرنج ته رارسېدهٔ، په دې جرم يې دېرش زره کسان ووژل، چې د ګرديزي په تعبير قعدي خوارج يعنې بې وسلې کلیوال وو.

علي د عيسی زوی د سیستان تر لوټلو وروسته عبدالله بن‌عباس نسفي پر سیستان والي وټاکهٔ او له خلکو يې باجونه واخيستل. په زرنج کې يې د مالونو راغونډولو لپاره څلور زره کسان وګومارل او د سیستان له خلکو څخه يې درې مليونه درهمه په زور واخيستل. بل ځل بيا په اسفزار کې له حمزه سره ونښت، چې هلته د حمزه ډېر لښکريان مړهٔ شول او په خپله هم په مخ ټپي او د انګورو په بڼ کې پټ شو؛ علي بن‌عيسی، چې طاهر بن‌حسین د پوشنګ والي کړ، حمزه بیا يو ډله راغونډه کړه، پر پوشنګ يې برید وکړ او وېره ترهه يې خپره کړه. طاهر حمزه ته ټول منسوب کسان، د خوارجو په نامهٔ ووژل او مالونه يې ورولوټل.[1]

طبري وايي عیسی بن‌علي بن‌عیسی په دې جنګونو کې تر زابلستان، کندهار او کابل پورې ورسېد او مشهور شو؛ نو ابوالعُذافر د هغهٔ په ستاينه کې وويل:

کـاد عیسـی یکـون ذا القـرنين بلـغ المـــشرقين و المغــربين
لم يـــدع کـــابلاً و لا زابلســـتا ن فـما حولهـا إلـی الـرخجين[2]

---

[1] - ابن اثیر ٦/ ٦١.

[2] - طبری٦/ ٤٧٢.

«نږدې ده چې عیسی د ذوالقرنین غوندې- چې مشرقینو او مغربینو ته ورسېد - وپېژندی شي،کابل، زابلستان او د هغو شاخوا یې تر رخجین[1] پورې پرېښودل.»

هارون‌الرشید له خپلو شاهزیو، وزیرانو، قاضیانو او قوماندانانو سره په ۱۸۶س کې حج ته لاړ، هلته یې د خپل زوی عبدالله مامون د ځایناستی سند وکېښ، هغه یې د دربار د مخورو په شهادت ثبت کړ او د کعبې پر دېوال یې وځړاوهٔ. په دې سند کې یې مامون د خراسان په ټولو چارو، پولو، سیمو، جنگي او لښکري چارو، خراج، ډاک، بیت‌المال، صدقاتو او زکات کې د خپل ځایناستي په توگه خپلواک حاکم کړ. دا شهادتپاڼه د ۱۸۶س په ذوالحجه کې لاسلیک، ترتیب او پر کعبه وځړول شوه.[2]

د دې سند له مخه چې په دوو نسخو کې د هغهٔ د دوو زامنو المامون او محمد په لیک او لاسلیک کښل شوی و، خراسان د مامون برخه شوه. د ۱۸۶س کال د محرم اووه شپې پاتې وې چې د شنبې په گهیځ د هارون‌الرشید له خوا د ټولو مسلمانانو او عباسي دولت د اتباعو په نامهٔ فرمان په دې ډول صادر شو او یو لک درهمه یې مامون ته وروبخښل. د دې احوال په منځ کې علي بن‌عیسی په خراسان کې پر خلکو سخت زور راوست، د شخصي مالونو په راغونډولو او د رعیت په لوټلو کې یې ډېر زیاتی وکړ؛ نو دربار ته د خراسان د خلکو شکایتونه ورسېدل او پر گوښه کولو یې سره یوه خولهٔ شول؛[3] خو دا کار په بغداد کې د برمکیانو د وژنو او پر خراسان د حمزه د زړهٔ بوږنوونکو یرغلونو- چې ادامه یې درلوده- له امله درې کاله نور هم وځنډېد او علي په خراسان کې د حمزه د یرغلونو مخنیوی کاوهٔ.

د ۱۸۶س کال په محرم کې سیف بن‌عثمان طارابي جنگي او قضایي حاکم او حصین بن‌محمد القوسي د سیستان د خراج مسوول وټاکل شو. هغوی پخوانی حاکم

---

[1] - عربو د اوسني ارغنداب او کندهار سیمه رخذ یا رخج بلله. له دوه رخجو څخه موخه د ارغنداب سیند دواړې غاړې دي.

[2] - طبري، ٦/ ٤٧٦ او تاریخ یعقوبي تر ٢ /٤١٦ وروسته.

[3] - پورتنی اثر ٦/ ٤٨٣.

حفص بن‌عمر ترکه وواژۀ او لکه چې تېر شول د ۱۸۷س په ربیع‌الأول کې یې د هغۀ پر ځای د خراسان لښکرمشر عبدالله بن‌عباس نسفي سیستان ته ولېږۀ. د ۱۸۸س په شوال کې چې حمزه د خراسان له لوري پر سیستان بیا یرغل وکړ، هغۀ د زرنج په لښکرکوټ کې د عباسي دولت ټول مامورین ووژل، په ښار کې یې له عیسی بن‌علي سره جنګ وکړ. قوماندان یې عفان بن‌محمد هم په دې اخ و ډب کې ووژل شو؛ خو حمزه له سیستان څخه بیا خراسان ته مخه کړه. چې په نیشاپور کې یې د علي بن‌عیسی د ځواکونو له خوا ماتې وخوړه؛ نو د ۱۸۹س په ذوالقعده کې د سیستان څنډو ته راغی.

په پای کې علي بن‌عیسی د حمزه له یرغلونو څخه ستړی شو او د بغداد دربار ته یې لیک واستاوۀ، چې د سیستان په خوارجو کې یو ځوک راپورته شوی دی، په خراسان او کرمان تل یرغلونه کوي او د دې درېو سیمو ټول مامورین یې ووژل؛ نو عاید ورک شو؛ یو درم، یوه حبه له خراسان، سیستان او کرمان څخه نه راځي.[1]

دا لیک چې د بغداد دربار ته ورسېد او د حمزه د یرغلونو اهمیت او له درېو مهمو ولایتونو خراسان، سیستان او کرمان څخه د دولت د عایداتو او مالیو ټولیز کمښت ثبوت شو؛ نو خلیفه هارون‌الرشید د چارې په لټه کې شو.

په دې وخت کې د حمزه سپارۀ دېرش زرو کسانو ته رسېدل، په پنځه سوه کسیزو ډلو یې وېشلي وو، چې پوره برم او ځواک یې درلود. ځغاستونکي بریدګر یې هر لور ته لېږل او په خپله په هیڅ ځای کې تر یوې ورځې زیات نه پاتې کېدۀ.[2]

د خراسان کړکېچني اوضاع ته د هارون‌الرشید پام شو او په خپله یې په ۱۸۹س کې ری (اوسني تهران) ته سفر وکړ. چې کله یې د خپل والي علي بن‌عیسی لوټ تالان ولید؛ نو د جمادي‌الأولی په میاشت کې یې د علي د محاسبې او د مالونو د معلومولو لپاره د قاضیانو یو پلاوی وټاکۀ او خپل ساتندوی قوماندان هرثمه بن‌اعین

[1] - تاریخ سیستان ۱۶۰.

[2] - پورتنی اثر، ۱۶۰.

يې د خراسان د راتلونکي والي په توګه مقرر کړ. پلټونکي پلاوي او قاضيانو په ۱۹۱س کې د علي شتمني ۸۰ مليونه وشمېرله، په داسې حال کې چې عيسی د علي زوی د بلخ د خپل کور په يوهٔ بڼ کې ۳۰ مليونه درهمه ښخ کړي وو. کله چې د دې هېښنده مالونو د مصادرې امر ورکړی شو، هغه يې پر ۱۵۰۰ اوښانو په ګورګان کې هارون‌الرشيد ته ولېږدول.[1]

په هر صورت د علي له اوضاع څخه د خراسان شکايت وروستي بريد ته ورسېد او د طبري د وينا له مخه، څرنګه چې هغه حسين بن‌مصعب (د پوشنګ له لويو مخورو څخه يو کس) ته سپکې سپورې وويلې، ملحد بن‌ملحد يې ورته ووايهٔ او د مرګ ګواښ يې ورته وکړ. حسين هم دربار ته شکايت ورساوهٔ، په پای کې هارون خليفه دومره وخښمېدهٔ، چې په خپل قلم يې د هغهٔ د ګوښه کېدو له خښمه ډک فرمان وکېښ او هغهٔ يې په کې حرامي وبالهٔ.[2]

په دې ترتيب علي بن‌عيسی له خراسان څخه ګوښه او په ۱۹۱س کې يې ځای هرثمه ونيو. هرثمه مرو ته راغی او علي يې د هارون حضور ته ورولېږهٔ. خليفه د ۱۹۳س په صفرې کې له ګورګان څخه طوس ته راغی او خپل زوی مامون يې مرو ته ولېږهٔ. څرنګه چې ناروغ و، د ۱۹۳س کال د جمادي‌الاخر په ۳مه د شنبې په نيمه شپه په طوس کې ومړ او د همدې ښار د سناباد په کلي (وروسته مشهد) کې ښخ کړی شو.

طوس ته د هارون‌الرشيد خليفه د راتګ موخه دا وه، چې د خراسان کړکېچنه اوضاع له نږدې وڅېړي او د سيستاني يرغلګر او زړور مشر حمزه چاره وکړي. دا وخت هرثمه بن‌اعين له خپلې خوا سيف بن‌عثمان طارابي پر سيستان وټاکهٔ؛ خو دی د حمزه له وېرې زرنج ته رانغی، فراه او بُست ته لاړ. له هغه ځايه يې لښکر راغونډ او سيستانی کاکه ابوالعريان يې - چې جنګي قوماندان و- هم له ځانه سره کړ. هغهٔ په ۱۹۲س کې په سيستان کې له محمد بن‌حضين سره وجنګېد؛ خو ماتې يې وخوړه. تر دې وروسته کله چې صالح‌حماد د خوارجو پر وړاندې جنګ ته راووت، هغه هم له خپلو لښکريانو سره ووژل شو، د سيستان والي سيف بن‌عثمان هم ومړ او د سيستان

[1] - طبري ٦/ ٥١٢.

[2] - پورتنی اثر٦/ ٥١٤.

اوضاع هماغسې کړکېچنه پاتې شوه.[1]

## حمزه ته د خلیفه لیک او د هغهٔ ځواب

هارون‌الرشید چې کله خراسان ته راورسېد، تر مړینې څو میاشتې د مخه یې حمزه ته لیک وکېښ. دا لیک د هغهٔ د دربار د منشي اسماعیل بن‌صبیح په قلم د ۱۹۳س د صفرې پر ۲۲مه د جمعې په ورځ کښل شوی او کټ مټ هغه مضمون په تاریخ سیستان کې (تر ۱۶۲مخ وروسته) راغلی دی.

څرنګه چې دا دوه لیکونه زموږ د هېواد په تاریخ کې ډېر اهمیت لري، دلته یې لومړی ژباړه راوړو او بیا یې تاریخي پایلې راباسو:

د هارون د لیک ژباړه

«بسم‌الله‌الرحمن‌الرحیم: د الله د بنده امیرالمؤمنین هارون له لوري حمزه بن‌عبدالله ته!

پر تا سلام، هغه الله ستایم چې بې له هغهٔ بل الله نه‌شته، درود دې وي د هغه پر بنده او استازي محمدﷺ.

وروسته دا چې: الله تبارک و تعالی خپل نبي محمد ټولو خلکو ته زېری ورکوونکی او وېروونکی راولېږهٔ، چې د الله له امر سره سم وګړي هغهٔ ته راوبلي. هغه د روښانه څراغ غوندې دی، چې منونکو ته د جنت زېری ورکوي او سرغړوونکي له دوزخ څخه وېروي.

الله کریم پر خپل استازي معزز کتاب نازل کړ، چې په هغهٔ کې یې روا او ناروا، فرایض او حدود او د خپل دین لارې روښانه کړې. محمد هم موږ ته الهي پیغام راورساوهٔ، خپل امت ته یې نصیحت وکړ، سمې لارې یې ورروښودې، چې د هغهٔ د امت په منځ کې اوس په لمانځهٔ، د لمانځهٔ په وختونو، حج، فرایضو او حدودو کې اختلاف نه‌شته. الله په خپلو بنده‌ګانو د پېغامبرانو منل واجب کړل او د هغو منل یې خپلو منلو ته نږدې وبلل. که څوک ورته غاړه کښېږدي؛ نو لکه چې الله ته یې غاړه کښېښوده او که څوک سر وغړوي؛ نو لکه چې له الله یې سر غړولی وي. څرنګه چې الله د هغهٔ په وسیله په خپلو بنده‌ګانو حجت بشپړ کړ، هغه یې ځان ته وبالهٔ او د الله کتاب او سنت یې- چې د الله د رضایت لامل، د حاکم برې او خلاصی او د مخالف

[1] - تاریخ سیستان ۱۶۱.

هلاکت او تباهي ده- د امت په منځ کې پرېښودل.

نو اميرالمؤمنين هم تا د الله کتاب او د هغهٔ د استازي سنتو ته رابولي، چې امر ته يې غاړه کښېږدې او له سرغړونې ځان وژغورې! څرنګه چې ستا او د اميرالمؤمنين د مامورينو تر منځ د خراسان، سيستان، فارس او کرمان په جنګونو کې وينې توېې شوې دي؛ نو اميرالمؤمنين ستا او ستا د ملګرو د خير، ښېګنې، روغتيا، سلامتۍ او هوساينې لپاره لازم وګڼل، چې تاسو ټول له خپلو مسلمانانو ورونو سره يو ځای شئ، د غنيمت په مالونو، حق او عدالت کې ونډه ولرئ او ستاسو وينې ناحقه توېې نهٔشي.

دا دی چې ستاسو له پخوانيو وينو تويونو او مالي لوټنو چې د اميرالمؤمنين له مامورينو سره په جنګونو کې شوې دي، تېرېږي او هغه درته بخښي؛ نو ستاسو خير په دې کې دی، چې تهٔ اميرالمؤمنين ته غاړه کښېږدې او له احسان څخه يې برخمن شئ. اوس چې هغه ستاسو هېواد ته رانږدې او ستا په څنګ کې کوز شوی دی، ستا وينې، شتمنۍ او ځان ته امان ورکوي او له هغو ټولو ګناهونو، وينو تويونو او لويو- کوچنيو مالي لوټنو څخه تېرېږي، چې ستا او يا ستا د ملګرو له خوا شوي دي. هر څه چې مو په دې جنګونو کې وړي، خپل مو دي.

که د مسلمانانو ټولي ته رانوځې، امر ومنې، له تېرو ګناهونو توبه وباسې، اميرالمؤمنين او ځايناستو ته يې غاړه کښېږدې، نور له تېريو او لوټنو څخه ځان وژغورې، د هغهٔ امان ومنې او هغهٔ ته راشې؛ نو د الله په ژمنه او د اميرالمؤمنين او د هغهٔ د نيکونو په ذمه کې به يې، له خپلو ملګرو سره به امان ومومې او ستاسې وينې او مال او هغهٔ څه به ټول خوندي وي، چې په جنګونو کې مو تر لاسه کړي دي.

نو د اميرالمؤمنين نصيحت ومنه او له هغهٔ ښه نظره ګټه واخله چې تا او ستا دوستانو ته يې لري. پوه شه چې دا کار به ستا لپاره په اوس او ګانده کې ګټور وي.

پر هغو ښېګڼو او غوراويو باور وکړه، چې پر تا يې پېرزو کړي او د ژمنې پر وفا يې په امن کې اوسه! د اميرالمؤمنين له ځري سره د هغهٔ حضور ته راشه! او که د هغهٔ پناه ونه منې او را نهٔشې؛ نو دا امنليک او د اميرالمؤمنين استازی ژر بېرته راولېږه. هغه

به له تا سره ونه ځنډېږي، إن شاءالله.

الله دې ګواه وي چې اميرالمؤمنين دې عذر ومانۀ او پر تا يې خپل حجت پای ته ورساوۀ. و كفی بالله شهيداً والسلام عليكم ورحمة الله وبركاته. و كتب إسماعيل بن‌صبيح مولی اميرالمؤمنين يوم الجمعة لثمان‌بقين من صفر سنة ثلث و تسعين ومائة (١٩٣س) و الحمد لله و صلواته علی رسوله محمد و آله أجمعين.»[1]

## د حمزه بن‌عبدالله ځواب

«بسم الله الرحمن الرحيم. د خدای د بنده حمزه اميرالمؤمنين له خوا.

سلامتيا دې وي د الله پر دوستانو.

او وروسته: الله تبارک و تعالی ادم عليه‌السلام غوره او هغه يې عزتمن کړ، الله د هغۀ اولاد له هغۀ پيدا کړ او خپل امانت يې هغۀ ته وسپارۀ. د خپل ربوبيت پېژندنه او طاعت يې پر هغۀ واجب کړل، خپل نبيان او استازي يې هغه ته ورولېږل، خپل کتابونه يې نازل او خپل دين يې روښانه کړ.

دا نبيان په ټولو امتونو کې پر يوه لاره او بېلابېلو شريعتونو يو په بل پسې وهځول شول او وروستيو يې د مخکنيو تصديق وکړ. په دې ډول پېړۍ تېرې شوې او امتونه د الله د عبادت او د رسول د تصديق په لاره روان وو، تر دې چې الله، محمد د تشې (خلا) په زمانه کې راولېږۀ او هغه يې د جزا ورځې ته نږدې د عالم رحمت، خاتم الانبياء او د هغوی تصديقوونکی کړ. پر هغۀ يې فرقان نازل کړ چې د نورو کتابونو ناسخ او پر هغو غالب دی.

د الله دې استازي د الهي کتاب تابعداري وکړه، له دښمنانو سره په جهاد، د الله دين ته په بلنه او امت ته په نصيحت کې د الله په امر وچليد؛ الله خپل دين هغۀ ته بشپړ کړ، خپل دليل يې هغۀ ته ورساوۀ او پر ځمکه يې هغه پياوړی کړ. کرامت او فضيلت يې ورورباخښنۀ، چې په پای کې يې مړ کړ او خپل نبوت يې پر هغۀ پای ته ورساوۀ. وحيې يې بنده کړه؛ خو د هغۀ د امت لپاره يې کتاب‌الله او سنت پرېښودل. حلال او حرام، سنت او فرض، محکم، متشابه او امثال، د غاړه ايښودونکو ثواب، د

[1] - تاريخ سيستان، ١٦٢.

ګناهګارو عذاب یې په کې څرګند کړل، چې د الله دوستان تر پېغامبر وروسته په هغه منګولې ولګوي او پلیوني یې وکړي. الله هم د دښمنانو پر وړاندې د هغو مرستندوی او ملګری دی. اسلام او مسلمانان تل د الله له نعمتونو څخه برخمن دي. د ابي بکر او عمر ﷺ په خلافتونو او د عثماني خلافت په سر کې د الله د لورېینې دروازې ورته بېرته وې.

خو څرنګه چې په دې وختونو کې وګړي په غولوونکې دنیا پسې شول او د الله د کتاب او د پېغامبر د سنتو خلاف یې وکړ، نو د امت په منځ کې د یووالي پر ځای نفاق رامنځ ته شو او ډلې یې سره جلا شوې؛ خو مؤمنانو ته الله په اختلافي مسایلو کې د حق لور ته لاره وښوده او هغه کسان یې بې لارې کړل چې د الله له کتاب او پېغامبري سنتو څخه یې مخ واړاوهٔ؛ خو د حق ساتونکو ته حق خدای، د دین او د خپل کتاب لاره وښوده چې تل به په سمه لاره وي او د امت د باطلپالو ځینې د حقپالو په وسیله وګواښي.

همدا لامل دی چې د مسلمانانو په منځ کې ډلې پیدا شوې؛ په دې وضعې سره به اسلام او مسلمانان تر قیامت پورې زیانمنېږي. که په دې بې‌لاریو راټول شي؛ نو ښشکه چې د قیامت ورځ به پرې لا سخته او ترخه وي. زه له ناپوهۍ، بېلارۍ او د شریانو په ډله کې له پاتېدو له الله څخه پناه غواړم.

هغه لیک راورسېد چې په هغهٔ کې دې زه د الله کتاب او د پېغامبر سنتو ته بللی وم او په هغهٔ کې ستا له کارکوونکو سره په خراسان او اړوندو سیمو کې زما د جنګونو یادونه شوې ده او د خپلې بخښنې، امن او احسان دې هم لیکلي وو، چې که موږ هغه ومنو، فرمان ته غاړه کښېږدو؛ نو ښشکه چې ستا له بخښښونو به برخمن اوسو.

څرنګه چې ستا د لیک پر ټولو موخو پوه شوم؛ نو اوس وایم:

د الله کتاب مې منلی او سرغړونه ترې جایزه نه ګڼم، بې له هغهٔ بل حَکم نه پېژنم، وګړي هم هغهٔ ته رابولم، د الله شکر کاږم چې خپل دین یې راوښود او سمه لاره یې راته پرانیسته، چې وګړي مضبوط کتاب او د الله عبادت ته راوبولم، په دې لاره کې له هغو سره جهاد وکړم چې خلاف یې کوي. و الله المعین الموفق و لا حول ولا قوة إلا بالله العظیم.

خو هغه څه چې دې د خپلو کارکوونکو پر وړاندې زما د جنګ په اړه لیکلي وو؛ نو زما دا جنګونه پر دې بنسټ نه دي، چې د پاچاهۍ لپاره ستا پر ضد شخړه وکړم او یا له دنیا سره مینه وي، نه غواړم چې له دې لارې برم و پرتم تر لاسه کړم. سره له دې چې ستا د مامورینو ناوړه کړنې ټولو خلکو ته معلومې وې، له وینو تویولو، د مالونو له إباحت او د الله منع کړیو فحشاوو څخه نه دي اوښتي، بیا هم ما اجازه نه ده ورکړې چې وګړي یې پر وړاندې راپورته شي او سرغړونه پیل کړي. ګومان نه کوم چې د خراسان، سیستان، پارس او کرمان د مامورینو بد حالت دې له تا پټ وي؛ نو له دې امله یې له اوږدونې تېرېږم.

خو زما په اړه ستا د احسان او نظر په برخه کې باید وویل شي: که زه له هغو کسانو څخه واوسم، چې دنیا د سملاسي مزو چړچو او نعمت لپاره غواړي او له ګاندې تېرېږي؛ نو د الله پر لویي پناه غواړم چې زما برخه او نصیب داسې شی ونه ګرځوي، ځکه څوک چې دین په دنیا وپلوري، تاواني دی او هغه خیر چې پایله یې اور دی، خیر نه دی. هغه شر چې جنت ته دې ورسوي، شر نه وي.

خو د غنیمت د مالونو او صدقو په اړه داسې وایم چې تر لومړیو دوه خلیفه‌ګانو وروسته مسلمانانو په بخښښونو، ارزاقو او صدقو کې خپله برخه له لاسه ورکړې او دا مالونه تل له نامناسبو ځایونو څخه اخیستل شوي او په نامستحقو لګول شوي دي. والله حسیب خلقه.

خو هغه چې زه دې خپل امان او اطاعت ته وبللم، آیا د مخلوق لپاره تر دې ډېر غوره امان شته چې: د قیامت په ورځ خلاصی ومومي؟

نو خپل قیامت او هغه ځای ته پام وکړه چې هغه ته ورځې! چې هلته هر لږ عمل هم شمېرل کېږي. آیا نه وینې چې دې دنیا له هغو کسانو سره- چې دا یې غوره کړه- څه وکړل؟ څرنګه یې هغوی تباه کړل؟ او هغو راټول کړي هیڅ یې په ښه رانغلل؟ یواځې یې خپل اعمال په غاړه کې کړی پاتې شول، په داسې حال کې چې په هغهٔ وخت کې پښېمانۍ ګټه نه درلوده، د خپل قیامت لپاره یې له پښېمانۍ او پرېشانۍ پرته توښه نه درلوده.

ما له خپل الله سره ژمنه کړې ده، چې د هغهٔ د امر پرځایونې هڅه وکړم، د هغهٔ

امر منلو ته وګرې راوبولم او د هغهٔ د دښمنانو پر وړاندې تر هغهٔ جهاد وکړم، چې په دې لاره کې سر وبايلم. په خپله ژمنه ټينګ يم او تر سره کولو ته يې ژمن يم، الله تعالی وايي: و أوفوا بعهدي أوف بعهدکم.

له الله څخه غواړم چې ما ته له هغهٔ څه ګټه راورسوي، چې د هغهٔ له کتابه پرې پوهېږم! له هغو کسانو څخه مې وژغوري، چې خپل دين يې پټ کړی دی.

موږ الله تعالی خپل پالونکی ګڼو.

اسلام مو د ځان لپاره دين غوره کړی دی.

محمد د الله استازی ګڼو.

قرآن کريم زموږ لارښود او حکم کوونکی دی.

زموږ الله د اسمانونو او ځمکو پالونکی دی. بې له هغهٔ بل الله نه پېژنو. هذه سبيلي أدعوا إلی‌الله علی بصيرة أنا و من‌إتبعني، و سبحان‌الله رب‌العالمين. و ما أنا من‌المشرکين ولاحول ولاقوة إلابالله، لاحکم إلالله، يقضي‌الحق و هو خيرالفاصلين، فإن تولوا فقل حسبي‌الله لا إله إلا هو، عليه توکلت و هو رب‌العرش‌العظيم و صلی‌الله علی محمدالنبی و علی جميع‌المرسلين.»[1]

## دې دوو ليکونو ته يوه پاېليزه کتنه

دا ليکونه د تاريخ له انده په زړهٔپورې او د لوستو وړ مواد لري. د تاريخ سيستان مؤلف وايي حمزه د هارون له استازي سره ښه چلن وکړ او رخصت يې کړ، خليفه چې د هغهٔ ځواب سخت وليد او پوه شو چې پر خپلو بنسټونو کلک ولاړ دی؛ نو د هغهٔ د ځپلو لپاره د ۱۹۳س په جمادي‌الأخر کې له ګرګان څخه طوس ته راغی چې همدلته ومړ.

د هارون ليک نرمه او پسته لهجه لري چې د خپل مخالف لوري ټول دښمنانه اعمال بخښي او د غاړې ايښودو په صورت کې هغه ښې ګاندې ته هيله‌من کوي. تر څنګ يې ژمنه ورسره کوي چې د غنيمتونو او صدقو له پيسو څخه به هم هغهٔ ته

---

[1] - تاريخ سيستان ١٦۴، پارسي ژباړه يې د دې کتاب د ليکوال (حبيبي) ده.

برخه ورکړی شي.

په لیک کې هارون حمزه ته د ځان او د هغهٔ د دوو کسو ځایناستو د اطاعت وړاندیز کوي. غواړي مقابل لوری په کلک ایمان ډاډمن کړي چې په خپله او ملګري به یې د خلیفه له امان او احسان څخه په بشپړ ډول برخمن وي او هغه څه به ترې به وا نه خیستل شي، چې په جنګونو کې یې تر لاسه کړي دي.

خو د حمزه په ځوابیه لیک کې داسې ټکي شته چې:

۱ حمزه په خپله د مؤمنانو د امارت مدعي دی؛ نو له دې امله د بغداد د خلیفه په مقابل کې ولاړ دی. په دې لیک کې یې هم ځان د خدای بنده او امیرالمؤمنین ګڼلی او د خلیفه د اطاعت کړی یې له خپلې غاړې ایستلې ده.

۲ حمزه پر اسلامي بنسټونو، کتاب‌الله او نبوي سنتو ټینګ ولاړ دی؛ مقابل لوری له شریعت او کتاب‌الله تېری کوونکی ګڼي؛ نو ځکه واجب الاطاعة هم نه دی.

۳ د حمزه د لیک لهجه سخته، ستغه او کلکه ده، له هغې څرګندېږي چې حمزه پر خپلو بنسټونو ډېر کلک او ټینګ ولاړ دی، ګواښ او تمه یې ترې نهٔشي ګرځولای.

۴ حمزه هغو بې اتفاقیو او ډلو ټپلو ته چې تر دوو خلیفه‌ګانو وروسته رامنځ ته شوې په حیرانتیا ګوري، اوس یواځې کتاب او سنت د خپل ژوندانهٔ چورلیځ ګڼي او له هغو د دفاع په لاره کې هر ډول سرښندنې، جهاد او وینې تویونې ته چمتو دی.

۵ د حمزه خوځښت د دنیا، مادي ګټو او یا د پاچاهي مقام تر لاسولو او ناځاپي پرتم د هڅو پر بنسټ نه دی، هغه بیړنی پر ځنډني نهٔ غوره کوي؛ نو د هارون د اطاعت وړاندیز هم ردوي.

۶- حمزه د دین او کتاب‌الله د پېژندنې په چارو کې پوهه لري، چې د هغې په رڼا کې خپلو بنسټونو ته پراختیا ورکولای شي.

۷ حمزه د خپل خوځښت بنسټیز لامل د ظلم او ستم مخنیوی ګڼي او په خپل لیک کې څرګندوي چې د خلافت مامورینو په خراسان، پارس، سیستان او کرمان کې د خلکو

وينې تويولو، مالونو روا ګڼلو او فحشاوو ته لاس اچولی؛ نو وګړي حق لري چې د هغو د شر مخنيوی او د دې موخې لپاره پاځون وکړي.

٨- حمزه د خليفه نېک نظر د احسان او امان له تړون سره ردوي، ځکه هغه د دنيوي ګټې لپاره پاځون نه دی کړی او دين په دنيا نهٔ پلوري.

٩- هارون، حمزه او د هغهٔ ملګرو ته په غنيمتونو، صدقو او ارزاقو کې د ونډې تمه ورکوي؛ خو حمزه د دې کار پر بنسټ نيوکه لري، وايي چې دا مالونه له هغو خلکو څخه په ظلم اخيستل کيږي، چې بايد دا درانهٔ ماليات يې پر اوږو نهٔ وي او تر دې ناروا لاس ته راوړنې وروسته پر داسې مدرکونو لګول کيږي، چې يو يې هم جايز او معقول نهٔ دی.

١٠ د ليک له مضمونه ښکاري، چې حمزه کفري او زنديقي ګروهې نه درلودې او د هغهٔ پليوني هم سپېڅلي او مجاهد خلک وو. ځکه په دې ليک کې د هغو موخه په دې لاره کې د الله له حکم، د پېغامبر له سنتو او د الوهيت او جهاد له سپېڅلتيا پرته بل څه نه دي.

حمزه په داسې بنسټونو سره د ظلم د مخنيوي لپاره له هارون‌الرشيد سره جنګېدهٔ. د تاريخ سيستان مؤلف وايي کله چې هارون طوس ته راغی او لښکر يې راوست، حمزه د جنګ تابيا وکړه، ډېر خلک چې پر هغهٔ راټول شوي وو، د مېرمنو مَهرونه يې ورکړل، وصيتونه يې وکړل او کفنونه يې واغوستل. دېرش زره وسله‌وال سپارهٔ لاړل، چې ټول پرهېزګاران او تلاوت کوونکي وو.[1]

په دې ډول حمزه غاړه‌تړي او منونکي جنګيالي پليوني درلودل، چې هغهٔ يې امام او اميرالمؤمنين ګاڼهٔ. موږ د عباسيانو د لاسبري او د هارون‌الرشيد خليفه د نرم او جوړجاړيز ليک د منفي اغېز پر وړاندې د دې خلکو پر روحيه له دې عربي بيتونو ښه ترا پوهېدای شو، چې يوهٔ يې ويلي دي:

أظـــن هـــارون و أشــياعيه    أنـــا نبيـــع الحـــق بالباطـــل
نمـق فـى قرطاسـيه اسـطراً    اجهل به مـن كاتـب جاهـل
خشن فى بعض و في بعضـه    لـين كفعـل اللاعـب الهـازل

[1] - تاريخ سيستان ١٦٨.

يعـرض سـلطاناً علـى حمـزة　ملكـاً و شـيكاً غـير ماطـل
ولـم يكـن حمـزة ممـن يبيع　الاجلـة، بالعاجـل الزايـل
هو الامام المرتضـى و الـذى　يقيم صعرا لا عـوج المائـل
والصـادق الوعـد اذا مـاوائ　لـيس بمخـلاف ولا ماطـل[1]

«هارون‌الرشيد او د هغهٔ ملگرو داسې وګڼله چې موږ به حق پر باطل وپلورو، هغهٔ د خپل ناپوه ليکونکي په وسيله په خپل ليک کې څو کرښې وکښلې، ځينې يې ستغې او ځينې يې هم نرمې وې، چې په دې اړه يې کړهٔ ټوکمار لوبغاړي ته ورته وو.

هغهٔ حمزه ته د خپلې چټکځوړې پاچاهۍ ځواک وروښود، په داسې حال کې چې حمزه له هغو کسانو څخه نه دی، چې ګانده پر چټکځوړي حاضر وپلوري. هغه داسې غوره امام دی، چې هر لارورکی لارې ته سيده کوي او پر خپله ژمنه ټينګ، رښتينی او صادق دی.»

په هر حال په داسې پياوړې او ژوندۍ روحيې سره حمزه او شاوخوا دېرش زره سپارهٔ پليوني يې د هارون د مقابلې لپاره نيشاپور ته نږدې راغلل؛ خو چې څنګه يې واورېدل: هارون ومړ او لښکر يې هم بغداد ته ستون شو؛ نو سيال يې مخ ته ونه ليد او د رعيت او عامو خلکو آزار يې هم په پام کې نه و، نو له خپلو ځواکونو سره يې د سند و هند د پولو نيولو ته مخه کړه. خپل پنځه زره سپارهٔ يې په پنځه‌سوه کسيزو ټولګيو کې په خراسان، سيستان، پارس او کرمان کې وګومارل او امر يې ورته وکړ چې:

«چې دا ظالمان پر بېوزلو ظلم ته مه پرېږدئ او د دې لښکرو (د خليفه) خبره به په خپله دې ځای ته ورسېږي، چې هغوی يو په بل پسې راپاڅي او موږ ورمخې ته نهٔشو چې هغوی يو له بل سره ډېر تباه کړي.»[2]

د حمزه دريځ دا و، چې خوځښت يې د ظلم د مخنيوي لپاره و او خپل پرهېزګار او تلاوت کوونکي پليوني يې هم تر وسې وسې له جنګه منع کول.

---

[1] - تاريخ سيستان، ۱٦۸.

[2] - پورتنی اثر ۱٦۹.

نو حمزه خپل هېواد په درېو برخو پر خپلو اولادونو ووېشۀ او د سند و هند په پولو کې تر ډېرو جنګېدو وروسته د مکران له لارې سيستان ته راوګرځېد.[1]

په دې وخت کې حمزه بيا په خراسان کې ټولی جوړ کړ، د هرات و سيستان مامورينو ورته مالونه راولېږل. په ۱۹۴س کال کې د شل زريز لښکر په مرسته ورسره عبدالرحمن نيشاپوری مخامخ شو، په داسې حال کې چې د حمزه لښکر ايله شپږ زره کسان وو، د دواړو لورو تر منځ په سخت جنګ کې د حمزه ډېر کسان ووژل او په خپله له سيستان څخه د هرات خوا ته را په شا شو.[2]

خو د حمزه اولادونه په سيستان کې د بوعقيل په مشرۍ پاتې او نيمايي سيستانيان له هغوی سره وو. څرنګه چې د ۱۹۴س په ذوالقعده کې مامون خليفه د سيستان امارت فتح بن‌حجاج ته ورکړ، هغه د ۱۹۵س په شوال کې د بوعقيل له پلیونو سره ونښت؛ خو د فتح لښکرمشر علي بن‌ابي علي ماتې وخوړه، د زرنج ښار ته يې پناه يووړه او زياتره ملګري يې ووژل شول. څو کاله يعنې د ۱۹۹س تر رجب وروسته د سيستان د خواش سيمې حرب بن‌عبيده نومی مېړۀ په بُست کې راپورته شو او ډېر وګړي پرې راغونډ شول. د مامون له خوا يې د سيستان حاکم اشعث بن‌محمد بن‌اشعث مقابلې ته راووت، جنګ د حرب په ماتې پای ته ورسېدۀ. اشعث ورپسې شو؛ خو حرب بېرته راوګرځېد او سخت جنګ يې وکړ، چې اشعث يې وتمباوۀ او ډېر لښکريان يې ووژل شول. تجهيزات، سامانونه او څاروي يې د حرب لاس ته ورغلل؛ نو په دې سره پياوړی شو. اشعث د حرب له يرغلونو څخه د بُست کلا ته پناه يووړه؛ خو حرب هغه ونيو او بندي يې کړ. حمدويه بن‌اشعث عجلي يې- چې په سيستان کې راپورته شوی و- هم له‌منځه يووړ، دا پېښې د ۱۹۹س تر پای پورې په سيستان کې رامنځ ته شوې. حرب په خپل دېرش زريز سپارۀ او پلي ځواک سره پر ټولو مخالفينو بريالی شو.

په دې وخت کې د بغداد د خليفه له خوا په سيستان کې ليث بن‌فضل حاکم و، خو له حرب سره يې د مقابلې توان نه درلود. د ۲۰۰س کال په منځ کې حمزه د مکران له لارې

---

[1] - تاريخ سيستان ۱۷۰.

[2] - زين‌الأخبار ۸۰الف او الکامل ۶/ ۸۳.

سیستان ته راغی، لیث ورسره د اړیکو ټینګولو هڅه وکړه او لیک یې ورواستاوۀ، چې تا ډېرې غزاګانې وکړې؛ نو غواړم چې درسره یو ځای شم او مرسته دې غواړم چې مسلمانان د حرب له شره خلاص کړې، چې د هغه وسلې ډېرې او پرتم یې پیاوړی شوی دی. حمزه د عباسي حاکم دا ایتلاف ومانۀ، د حرب او د هغۀ د لښکریانو جنګ ته یې ملا وتړله او په یوۀ ډګر کې یې د حرب د ملګرو څه د پاسه شل زره کسان ووژل. تر څلورو کالو پورې چې لیث په سیستان کې حاکم و، د حمزه او د هغۀ له ملګرو سره یې سوله وه.[1]

په دې وخت کې د حمزه سیاست دا و، چې بېوزله وګړي له ظلمه خلاص کړي او د بغداد مامورین له هغو څخه زیات څه اخیستو ته پرېنږدي. د ۲۰۴س په شوال کې اعین بن‌هرثمه او تر هغۀ وروسته د ۲۰۵ س په روژه کې عبدالحمید بن‌شبیب د سیستان حاکمان شول. د حمزه ملګرو د دې ځای په چارو کې دومره لاس پیدا کړی و، چې له هغۀ ځایه د خلافت مامورینو ته له خوړو او شومې نفقې پرته نور څه په لاس نه ورتلل، د تاریخ سیستان مؤلف وایي:

«نور خوارج یې غلي کړي وو، په خپله یې څه نه اخیستل؛ خو نور یې هم نه پرېښودل، چې څه واخلي. تل یې په غور، هند و سند یرغلونه کول او د سیستان وګړي یې ونه ځورول؛ خو هغه عسکر یې وژل چې پر هغوی به یې یرغلونه کول او ورسره به جنګېدل.»[2]

حمزه د سیستان په څنډو کې اړولي وو او عربو حاکمانو د هغۀ له ځواکه یو د بل پر وړاندې مرستندویه ګټه اخیسته، لکه چې د ۲۰۸س په جمادي‌الاخر کې معدل بن‌حضین یا (حصین) فراه ته راغی، له حمزه څخه یې عسکر وغوښتل او ټول سیستان یې ونیو. بیا د ۲۱۳س په جمادي‌الأولی کې احمد بن‌طاهر زرنج ښار ته راغی؛ خو د حمزه ملګرو ورسره سخت جنګ وکړ او ښار ته یې پرېنښود.[3]

---

[1] - تاریخ سیستان ۱۷٦.

[2] - پورتنی اثر ۱۷۷.

۳ - پورتنی اثر ۱۷۹.

## د ګردېز تر ودانیو د حمزه د واک پراختیا

د سیستان او خراسان د خلکو لاربنود او سیاسي شخص حمزه خپل واک تر رخذ، غزني، کابل او ګردېز پورې غځولی و. هغه د پښتني غرونو په منځ کې د خپلو پلیونو لپاره پنډغالی جوړ کړ، چې د ګردېز ښار دی.[1]

د تاریخ سیستان د نومورکي مؤلف دا وینا څرګندوي چې د حمزه واک د سپین‌غر او سلېمان غرهٔ تر لمنو پورې غځېدلی و. ښایي ګردېز تر هغهٔ د مخه هم شتون درلود، لکه چې د دې کتاب په لومړي څپرکي کې مو ولوستل د لویکانو د پخوانۍ کورنۍ د واکمنۍ ځای و او په ګردېز کې د حمزه له ودانۍ څخه به موخه دا وي، چې د هغهٔ کوټ یا بالاحصار به یې رغولی وي. دا ښار د څلورمې لېږدې پېړۍ په منځ کې د غزني او هندوستان د لارې نیمایي کې جوړ شوی او کلک کوټ یې درلود، چې درې بارې یې درلودې او وګړي یې خوارج وو.[2]

د حدودالعالم (۳۷۲س) د نومورکي مؤلف له دې نغوتې هم څرګندېږي چې تر حمزه یوه پېړۍ وروسته هم د هغهٔ پلیوني په ګردېز کې مېشت وو.

## د حمزه شخصیت او مړینه

حمزه د سیستان ډېر مشهور جنګیالی، ځیرک او مجاهد سړی و. هغه د اسلامي پېر د لومړیو پر ګروهې، کتاب او سنتو ګروهمن او د هغو کسانو مخالف و، چې له دغې سمې لارې څخه به یې سرغړاوهٔ. د اړتیا پر مهال به چې کله د مخالفینو تر برید لاندې راتهٔ، وسلې ته به یې لاس کاوهٔ او سخت به جنګېدهٔ. د دې تر څنګ یې د خلکو له ځورونې او بډو اخیستنې څخه ځان ژغورهٔ او د بغداد د دربار مامورین یې دې ته نه پرېښودل چې له خراسانه هېښنده مالونه یوسي.

حمزه ځان امیرالمؤمنین ګاڼهٔ؛ نو د عباسیانو برلاسی، امارت او خلافت یې نه مانهٔ او په سیستان او خراسان کې یې یو ډول ګرځند حکومت جوړ کړی و. پر یوهٔ ځای

---

۱ - پورتنی اثر ۲۴.

۲ - حدودالعالم ۴۵.

پاتې نه شو او تل يې خپل ملګري او عسکر له بې دينو سره پر جهاد بوخت وساتل. که کله له مسلمانانو سره جنګېدلی نو هغه هم د دفاع په موخه.

د اميرحمزه او د هغهٔ د جنګونو هېښنده داستانونه د خلکو په ذهنونو کې پاتې شول، هغه يې‌له ځواکمنو پهلوانانو څخه وګاڼهٔ چې د خارق‌العاده ځواک ښکارندوی شو، لکه چې تر اسلام مخکې يې رستم څښتن و. بايد وويل شي چې حمزه د اسلامي پېر يو رستم دی او د اسلام لپاره داسې سخت جنګېدهٔ، لکه رستم چې هغه مهال د سترواکی د عزت او ځواک ساتنې لپاره جنګېدلی و.

وروستيو مؤلفانو په پارسي ژبه کې د اميرحمزه په اړه داستانونه وکښل، پر کيسو بوخت شول او ځينو هغه په تېر کې د پيغامبرﷺ ترهٔ حضرت‌حمزه وګاڼهٔ. اوس موږ د دې داستانونو پنډ پنډ کتابونه لرو، چې ولس يې له لوستو او اورېدو خوند اخلي او مشهور شوي دي.

د اديانو او فلسفي ګروهو د عالمانو په منځ کې هم حمزه مشهور شوی، ان چې د خوارجو يوه ځانګړې ډله يې"حمزيه" نوملې ده. محمد شهرستاني دا ډله د حمزه بن‌اذرک ملګرې او د عجارده خوارجو له ډلو څخه ګڼلې ده، وايي:«حمزيه په قدر او نورو بدعتونو کې له ميمونيه سره ورته ده – خو بې د هغوی د مخالفانو او د مشرکانو له کوچنيانو- څکه ټول وايي چې په دوزخ کې دي. حمزه د اوق د اوسېدونکي حصين بن‌رقاد- چې په سګستان کې يې پاڅون وکړ- ملګری و. وروستيو خوارجو د قدر او رياست د استحقاق په مسأله کې د هغهٔ مخالفت وکړ او يو تر بله بېزار شول. حمزه پر يوهٔ مهال دوه امامان جايز ګڼي، چې تل مجتمع الکلمه نه وي او د غاړې ايښودنې لپاره د دښمنانو پر وړاندې راپورته نهٔشي...

خليفه له حمزيه‌وو سره د قدر په مسأله کې مخالفت وکړ، د خير و شر اضافت يې الهي کبريا ته وکړ او په دې خبره کې له اهل‌سنتو سره يوه خولهٔ دی. حمزيه‌وو وويل چې د هغوی په وينا کې څرګنده نيمګړتيا ده...»[1]

عربي مؤرخان د حمزه د مړينې په نېټه کې تېروتي دي، طبري يې په اړه څه نه

[1] -الملل و النحل، پارسي ژباړه د افضل اصفهاني ۹۵، د تهران چاپ، ۱۳۳۵ل.

وايي او د هغهٔ وروستی احوال چې ورکوي د ۱۸۵س په پېښو کې دی، چې عیسی بن‌علي بن‌عیسی د حمزه لس زره ملګري وژلي وو، په دې ځای کې طبري وايي:

«و فیها عاث حمزة الشاری ببادغیس»[1] غالباً دا د (عاث) کلمه چې په عربي کې د حیرانۍ او پرېشانۍ په معنی ده[2] ځینو مؤرخانو به هغه مات لوستلې وي، لکه احمد بن‌واضح یعقوبي چې د علي بن‌عیسی بن‌ماهان په امارت کې وايي:

حمزه شاري په بادغیس کې د هغه په وړاندې راپورته شو؛ خو علي ماتې ورکړه، ورپسې شو تر دې چې کابل ته ورسېد او هغه یې واژهٔ.[3]

که موږ د یعقوبي دا وینا ومنو؛ نو حمزه باید د ۱۸۰ او ۱۹۰س کلونو تر منځ وژل شوی وي، چې په خراسان کې د علي بن‌عیسی د حاکمۍ کلونه دي. په داسې حال کې چې ابن‌اثیر د ۱۹۲س تر پېښو لاندې د حمزه او عبدالرحمن نیشاپوري د جنګ خبر ورکوي او څرګندوي چې په ۱۹۴س کې حمزه په هرات کې و.[4] لکه چې تېر شول، حمزه ته د هارون‌الرشید لیک په ۱۹۳س کې لیکل شوی او په همدې وخت کې ژوندی او بریدګر و.

نو د حمزه د مړینې نېټه ۲۱۳س ده چې ګردېزی یې په اړه وايي:

«هرات ته لاړ، غازیان ورپسې شول، اخر یې وواژهٔ، اندر شهور سنة ثلث عشر و مأتین»[5]

د تاریخ سیستان نومورکي لیکوال د هغهٔ مړینه د فرمان وموند په تعبیر راوړې چې په څرګنده طبیعي مړینه ده، نه وژنه. هغه د دې نېټې جزیات داسې لیکي:

« او حمزه خارجي د جمادي‌الاخر په دولسمه د جمعې په ورځ ۲۱۳ جنت (؟)

---

۱- طبري ٦ /۴۷۲.

۲- منتهي‌الارب ۳ /۲۰۸.

۳- البلدان ٦۴.

٤ - الکامل ٦/ ۸۳.

۵ - زین‌الأخبار ۸۰ الف پاڼه.

ته فرمان واخیست.»[1]

نو موږه په دې اړه د تاریخ سیستان د مؤلف وینا- چې په خپله سیستانی او په هغهٔ څه خبر دی چې په کور کې یې دي- سند گڼو خو له بده مرغه د دې کتاب په یواځینی خطي نسخه کې د حمزه د مړینې ځای نه لوستل کېدهٔ، چې دوه لومړي توري یې ټکي نه لري او ښایي چې هغه بنهیش ولوستل شي، چې اوس نیش و غورک د کندهار او زمینداور تر منځ د کندهار په شمال لوېدیځو غرونو او د غور د غرنۍ لړۍ په سوېلي څوړو کې پراتهٔ دي.

د حمزه پلیونو د هغهٔ د مړینې په ورځ ابواسحق ابراهیم بن‌عمیرالجاشنی چې نېکزړی سړی و، خپل امیر وټاکهٔ؛ خو دې خلکو چې د مسلمانانو (اهل‌تهلیل) په لوټلو کې د حمزه خبرې په پام کې ونه نیوې، ابراهیم د هغوی له امارت کولو ډډه وکړه، زرې ته لاړ او په درگه (دکیانو ځنگل) کې پټ شو. د هغهٔ پر ځای یې د ۲۱۵س په جماديالاخر کې له ابوعوف بن‌عبدالرحمن سره بیعت وکړ.[2] دا ابوعوف د سیستان د کرنک کلي اوسېدونکی و، چې عرب ورته ارنج وایي.[3]

بیا هم په خراسان کې د خوارجو مقاومتونه او جنگونه روان وو، چې د طاهریانو د پېر په پیښو کې به ورته نغوته وشي.

## له امام علي بن‌موسی رضا سره بیعت او مړینه یې

د هارون تر مړینې وروسته د هغهٔ د زامنو مامون او امین تر منځ د پاچاهي پر سر شخړه رامنځ ته شوه، مامون په خراسان او امین په بغداد کې له خلکو څخه بیعت واخیست. په پای کې کې طاهرپوشنگی له خراسان څخه راپورته شو او هېواد یې تر بغداد پورې د مامون لپاره ونیو. په ۱۹۸س کې یې د بغداد پلازمېنه تر لاسه کړه، امین یې وواژهٔ او د هغهٔ سر یې مامون ته ولېږهٔ.

مامون چې له هغې خوا ډاډه شو، په خراسان کې پاتې شو او د دې لپاره چې د علویانو زړونه یې گټلي او د پرله‌پسې پاڅونونو مخنیوی یې کړی وي، حضرت‌علي

---

[1] - تاریخ سیستان ۱۸۰.

[2] - تاریخ سیستان، ۱۸۰.

[3] - پر تاریخ سیستان د ارواښاد بهار حاشیې ۱۸۰، د یعقوبي په حواله.

بن‌موسی بن‌جعفر بن‌محمد بن‌علي بن‌ابي طالب يې- چې د رسالت د کورنۍ له نومياليو څخه و- تر خپلې مړينې وروسته د مسلمانانو خليفه او خپل ځايناستی وټاکهٔ. له خلکو څخه يې د هغهٔ لپاره د«الرضی من آل‌محمد ﷺ» په نامهٔ بيعت واخيست او د تورو جامو شعار يې په شنو جامو بدل کړ. خپله لور"ام‌حبيب" يې امام علي ته ورکړه او درناوي يې ورزيات کړ؛ خو کله چې مامون له طوس څخه سرخس ته راوګرځېد، د ۲۰۳س کال د صفرې په وروستيو کې نوموړی امام د ډېرو انګورو په خوړو نابېره ومړ[1] او يا په بله وينا پر انګورو مسموم او شهيد شو.[2]

دا نوميالی امام چې په ۱۴۸س کې په مدينه کې زوکړی و، په طوس کې د هارون‌الرشيد له قبر سره ښخ شو. اوس دا ښار د دې پېښې په ياد «مشهد مقدس» بولي.

---

[1] - طبري ٦/ ١٢٩.

[2] - الکامل ٦/ ١۴۴.

# ۱۱- بلخي برمکیان

د بلخـي برمکیـانو کـورنۍ د عبـاسي دولـت لـه مهمـو غړو، د فرهنـګ لـه ممثلانو او د اسلامي علمي او مـدني خوځښت لـه بنسـټوالو څخـه ده، چې د اسلامي پېر د افغانستان په تاریخ کې زښت زیات اهمیت لري. موږ د لنډیز پـه ډول په څو مخونو کې د دې لویې بلخي کورنۍ کارنـامې- چې د افغانسـتان د تاریخ برخه ده- راوړو.

## د بلخ نوبهار او چوپړواله یې

په افسانوي پېرونو کې چې آریایي قبایل لومړی ځل د امو په سوېلي سـیمو کـې مېشتېدل، هغه پاچاه چې یما YIMA بن ویونګهوت نومېـدۀ او مـوږ یـې د جمشـید یـا جم په نامۀ پېژنو، د آهورا مزدا خدای له لوري وګومارل شو، چې په بخدي (بلخ) کې د لومړني مدنیت، ودانۍ او آبادۍ بنسټ کښېږدي.

تر مېلاد شاوخوا شپږ پېړۍ د مخه زردشت د دې بشري لـومړنۍ ودانـۍ پـه اړه د اوستا په کتاب کې وویل:

> «آهورا مزدا یما ته امر وکړ، چې لویه کلا جوړه کړي چې هـر بازو یې د آس ځغاستې د یوۀ ډګر هـومره اوږد وي. بـل اور، یـوه یوه جوړه غوا- غویي، مېږه- مږ، سپۍ- سپی، الوتونکي او نـور پـه کې ځای پر ځای کړي او د لوړو ونو تخمونه او خوشبویه مېـوې په کې وروزي. کړوپ، لېوني، لټ، بدچلنـه، دروغجـن، رخـه ګر، برګي، خراب غاښي او معیوب انسانان په کې پرېنږدي.

په لويې کلا کې باید د یوې هاترې (اټکلاً یو میل) په اوږدوالي اوبه بهاندې وي او ښېرازه - تازه چمنونه ولري. د دې لويې کلا په منځنۍ برخه کې باید شپږ واټونه وکښل شي. درې نور واړه واټونه دې يې هم په نورو برخو کې وغځول شي، چې په لويو واټونو کې يې زر نرينه او ښځينه او په کوچنيو کې هم شپږ سوه کسان ځايېدای شي. دا ښار باید یو ور او یوه کړکۍ ولري.

یما د خدای امر پر ځای کړ او لویه کلا یې - چې امر یې شوی و - له ختو جوړه کړه. هلته یې د ځان لپاره استوګنځی جوړ کړ چې یو غولی، یوه لوړ پوړیزه ودانۍ او یو دالان یې درلود. هلته یې د انسان، حیوان، ونو او الوتونکو نسلونه وروزل.»[1]

په دې ډول د یما لویه کلا جوړه او د لومړني مدنیت بسټ کښېښودل شو. د بلخ دا لویه کلا وروسته د زردشتي دین مرکز وګرځېد. د زردشت له درېو زامنو څخه یو چې اوروتت نره (URVATAT_ NARA) نومېدهٔ د دې عبادتځي خادم وګومارل شو، چې د عبادتځي خادم (TEMPORAL LORD OF THE WARA) یې باله.[2]

واره کلمه چې د دې تاریخي ودانۍ (وروسته زردشتي عبادتځی) نوم و او غالباً چې د نړۍ له تر ټولو پخوانیو عبادتځیو څخه یو ګڼل کېږي، په باختري او هندي آریایانو کې یې دومره شهرت وموند چې د آریا نژاد په ټولو ژبو کې یې ریښې وځغلولې. په دې معنی چې په سنسکرېت ژبه کې په تقریبي او مجازي معنو د دې ریښې ډېرې کلمې شته دي. واړWAR انګړ، ځای، هندو سوځ، واړا VARA د یوهٔ ښار ځلورمه او د بېلابېلو پرګنو استوګنځی، واړی د دربار او بن غولی او انګړ[3] هغه کلمې دي چې له دې ریښې سره اړیکي لري او څو پېړۍ وروسته د بودایي دین د لاسبري په پېر کې د (وهار) کلمه له دې سرچینې راوځي، ځکه د مزدیسنا آیین تر

---

[1] - وندیداد فرګرد ۲ فقره له ۲۱- ۴۳.

[2] - د اوستا پر ۲۱مخ د ډارمستېټر حاشیه.

[3] - هندي سیند ۷۶۱.

راڅرګندېدا وروسته د بودا دین بخدي نیسي او دا مشهور زردشتي عبادتځی هم بودايي مرکز ګرځي، چې په دې وخت کې د اوستا واره هم په بودايي وهار بدل او همدا وهار په بهار بدلېږي.[1]

په لومړي څپرکي کې مو د خوارزمي د مفاتیح‌العلوم په استناد ولیکل چې د لومړیو لېږدو پېړیو مسلمانانو مؤلفانو بهار د بتانو د عبادتځي په معنی پېژاند او نوبهار د هماغهٔ نووهاره پارسي بڼه ده.[2] چینایي ګرځندوی هیونڅانګ چې د ۶۳۰ز د اپریل پر شلمه= ۹س په بلخ کې و، دا عبادتځی د (ناواویهارا) په نامهٔ بودایي مرکز ګڼي.[3] هغه مهال چې اسلامي سوبمن د امویانو په پېر کې د سند سیمې ته راورسېدل، دلته يې د (نووهار) په نامهٔ ډېر بودایي عبادتځي وموندل[4]، چې د نوبهار په نامهٔ یو يې د سیمه‌ییزو راجه‌ګانو په پلازمېنه (ارور= اوسني روهري) کې و. کله چې محمد بن‌قاسم اموی سوبمن په ۹۵س کې د ارور کوټ ته ننووت، د تاریخ سندهـ مؤلف وايي: «ټول ښاریان د نوبهار بتخونې ته راغلل، سجده يې کوله او بت يې نمانځهٔ»[5]

نو د «هندي نووهار= خراسانی نوبهار) نومونه د اسلام په لومړیو کې د بودایي عبادتځیو لپاره په هند و افغانستان کې دود وو. د بلخ نوبهار هماغه اوستايي واره ده، چې د بودایي دین تر رواجېدو وروسته وهار، نووهار او نوبهار شو، نظامي وايي:

بهــار دل افــروز در بلــخ بــود    کـزو سرخ گـل را دهـان تلـخ بـود
پـری پیکرانـی در و چـون بهـار    صــنم خانهــائی چــو خــرم بهــار

منصور رازي او فرخي هم د بتخونې مفهوم په بهار کې څرګندوي او وايي:

---

[1] - تعلقات هند و عرب ۱۱۲.
[2] - زاخاور در مقدمهٔ کتاب‌الهند، ۳۱.
[3] - دایرة‌المعارف اسلامي ۱/ ۶۶۴.
[4] - چچنامه ۴۲/۴۴/ ۴۶.
[5] - پورتنی اثر ۲۲۶.

بهـار بتانسـت و محـراب خـوبی     بـــروی دلارام و زلفـــین دلـــبر
(منصور)
هنگام خزانست و چمـن رابـدر انـدر     نو نو زبت زرین هر سوی بهاریسـت
(فرخی)
امیر معزي په زغرده نوبهار د برهمنو بتخونه ګڼي:
بهار جان کن از انروی بزمخانۀ خویش     اګرچه خانۀ تـو نوبهـار بـرهمن اسـت
د نوبهار نوم تر دې وروستیو پورې په بلخ کې ژوندی پاتې دی، تر (۱۰۰۶ز) شاوخوا چې د بلخ ښار ودان و، شپږ ورونه یې درلودل، چې له هغو څخه یې یوۀ ته نوبهار یا «بابه‌قو» ور وایۀ.[1]
دقیقي په خپله شهنامه کې د افسانوي پېر خبرې کوي، د بلخ دا نوبهار د الله لمانځونکو ځای ګڼي او وایي:
چو ګشاسپ را داد لهراسپ تخت     فرو آمد از تخت و بربست رخـت
بـبلخ ګـزین شـد بـران نـو بهـار     کـه یـزدان پرسـتان بـدان روزګـار
مـر ان خانــه را داشـتندی چنــان     کـه مـر مکـه را تازیـان ایـن زمـان
بدان خانه شـد شـاه یـزدان پرسـت     فـرود آمـد آنجـا و هیکـل ببسـت[2]
دقیقي وایي د همدې ګشتاسپ په پېر کې د زردشت په نامۀ پیغامبر راغی، د سپېڅلي اور لوښی یې راوړ، ښه دین یې رواج کړ او بت لمانځنه یې له‌منځه یووړه:
پدیـــد آمـــد آن فـــرۀ ایـــزدی     برفـــت از دل بدســـګالان بـــدی
رۀ بـــت پرســـتی پراګنـــده شـــد     بـــه یـــزدان پرســـتی پـــر آګنـــده شـــد
پـــر از نـــور ایـــزد ببـــد دخمهـــا     وز آلـــودګی پـــاک شـــد تخمهـــا[3]
د دې پخوانیو روایتونو له مخه پوهېدای شو، چې د بلخ په نوبهار کې بت لمانځنه وه او تر هغې وروسته زردشت هلته مزدا لمانځنه او سپېڅلی اور دود کړ. څرنګه چې د بودا ژوند د (۵۶۳- ۴۸۳مخزېږدو) کلونو تر منځ دی او زردشت هم تر مېلاد شپږ پېړۍ د مخه

---

[1] - مزارات بلخ، خطی ۵۵ د محمدصالح ورسجي.
[2] - شاهنامه فردوسی ۳ /۱۸۸.
[3] - شاهنامه ۳/ ۱۹۱.

تېر شوی دی؛ نو باید ووایو چې دا بت لمانځنه بودایي دین نه و، ښایي د پخوانیو اربابالانواعو پېرې لمانځنه وي.

له دې مطالعې څخه باید داسې پایله واخیستل شي،چې: د بلخ نوبهار تر مېلاد شپږ پېړۍ د مخه د آهورامزدا او اور عبادتځی و، تر هغه وروسته به د درېیمې مخزېږدې پېړۍ په شاوخوا کې د بودا دین دلته رارسېدلی او د بلخ زردشتي نوبهار به په بودایي نواویهاره بدل شوی وي، څکه چې د آشوکا (۲۳۲م. ز مړ) له ډبرلیکونو چې په ننگرهار او کندهار کې موندل شوي، پوهېږو چې بودایي دین په دې پېر کې د افغانستان په خاوره کې خپور شوی و. یونانی مؤرخ الکزانډر پلي هیستهور ALEXANDER - POLYHISTOR (۸۰- ۶۰ م. ز شاوخوا) د بلخي بت لمانځونکو یادونه کوي.[1]

داسې برېښي چې د لویو کوشانیانو او کنیشکا په پېر کې تر۱۰۰ز شاوخوا وروسته د دین په مسأله کې آزادۍ موجودې وې، د مزدایسنا او اورلمانځنې دینونه له بودایي دین سره یو ځای د افغانستان په خاوره کې دود وو. څکه موږ وینو چې د ۱۶۰ز شاوخوا د بغلان د سرۀ کوتل اورتون د نوکونزوک کنارنگ ماریگ په لاس بیا رغېږي او سپېڅلی اور په کې بلېږي (له هغۀ عبادتځي د تر لاسه شوي ډبرلیک پر بنسټ) او بیا د ۱۸۰ز شاوخوا له همدې کورنۍ څخه د ماریگ په نامۀ یو څوک د وردگو په خوات (د کابل او غزني تر منځ) کې بودایي عبادتځی جوړوي (د هغۀ خروشتي ډبرلیک پر بنسټ چې له خواته تر لاسه شوی دی) [2] او هیونڅانگ په ۶۳۰ز کې د بلخ نووهار د بودایي دین لوی مرکز گڼي.

په هر صورت د بلخ نوبهار د اسلام په لومړیو کې بودایي عبادتځی و او خدمت یې د بلخ یوې پخوانۍ کورنۍ کاوۀ، چې عرب مؤرخان یې برامکه بولي. له عربي شاعرانو څخه یو وایي نوبهار برمکیانو ودان کړی دی:

اوحش النوبهار من بعد جعفر ولقد کان بالبرامک یعمر

---

[1] - دین بودا کتاب، د برلین چاپ، ۱۹۰۶ز، د وان کوبین زویت افلیگ تألیف.

[2] - مادر زبان دری ۱۳۴.

« هماغه نوبهار چې د برمکيانو په وسيله ودان و، تر جعفر وروسته وېروونکی پاتې شو.» د دې نامۀ تر ټولو پخوانی يادونه په اسلامي پېر کې د عربي مؤرخانو په آثارو کې شوې ده؛ تر اسلام د مخه وختونو کې يې څرک نه لرو. څکه په ۹س کې چينايي سيلاني هيونڅانګ د بلخ د نوبهار عبادتځی ليدلی دی او د هغۀ اوضاع يې مفصله ليکلې ده. يوه مياشت هلته و او د هغۀ له دوو کسو خدمتګارانو سره يې د دوستی تار هم غځولی و؛ خو د برمک کورنی په اړه څه نه وايي.

**برمک**

ښکاري چې برمک د يوۀ کس نوم نه، بلکې د کورنی نوم دی، چې د نوبهار عبادتځي خدمتګاران او ساتندويان وو. له دې کورنی څخه چې به هر يو د خدمتګاری پر ګدی ټاکل کېدۀ، هغۀ به يې برمک بالۀ. کله چې د هند و چين و کابل پاچاهان د دې عبادتځي ليدو ته راغلي، نو د برمک لاسونه يې مچ کړي دي. د نوبهار شاوخوا اووه فرسخه سيمه يې تر حکم لاندې وه. ډېر اوقاف، جايدادونه او شتمنی د برمک په لاس کې وې او هر کال به ورته هېښنده ډالی رارسېدې.[1]

قاضي احمد بن‌خلکان چې په خپله هم له دې کورنی ګڼل شوی، د برمک نسبت يې داسې راوړی دی: برمک بن‌جاماس بن‌يشتاسف[2] چې د همدې برمک عربي نوم يې جعفر ليکلی دی،[3] هغه د اردشېر بابکان د سلاکار ګودرز له نسله ګڼي چې په ۹۷س کې د امويانو پر وزارت وټاکل شو.[4] نظام‌الملک وايي د ارد شېر د پاچاهی له مهاله يې پلرونه وزيران وو. د بلخ نوبهار هغوی ته وقف او وزارت يې ميراثي دی. د وزارت په تنظيم او کرکټر کې کتابونه لري، چې اولادونه يې د ليک او ادب تر زده کولو وروسته ولولي او د وزارت آداب زده کړي.[5]

---

[1] - معجم‌البلدان ۵/ ۳۰۸.

[2] - وفيات‌الأعيان ۱/ ۱۰۵.

[3] - البرامکه ۲۲.

[4] - نزهةالقلوب ۳۹.

[5] - سياستنامه ۱۷۷.

د برمک په شجره کې به د جاماس او ویشتاسف نوم هماغه د اویستا جاماسپه او د گشتاسپ وزیر جاماسپ نه وي، چې فردوسي یې په شهنامه کې یادونه کړې ده او د افغانستان د تاریخ په اویستایي پېر پورې اړه لري، بلکې دا جاماس او ویشتاسف چې د نوبهار عبادتځي خادمان وو، باید په لومړي اسلامي پېړۍ کې یې ژوند درلودلی وي. ښایي چې نسبت یې هماغهٔ د اردشېر بابکان سلاکار گودزر ته سم وي، ځکه بلعمي- چې پخوانی او معتبر مأخذ دی- هم وایي:

«شېرویه پر پلاز کښېناست.... او د برمکیانو نیکهٔ، برمک بن فیروز یې وزیر کړ.»[1]

له دې څخه هم څرگندېږي، چې په دې کورنۍ کې د ساساني پېر تر وروستیو او اسلام څرکه پورې وزارت پاتې و، ځکه شېرویه په (۶۲۸ز) کې پر گدۍ ناست دی چې د حضرت رسول الله ﷺ د ژوندانهٔ له ورځو سره هممهاله و.

څرنگه چې برمک کورنۍ لقب و، نو په بېلابېلو پېړونو کې بېلابېلو اشخاصو ته کارېدلی دی. د دې نامهٔ په معنی کې هم بېلابېل اقوال شته، چې زیاتره یې عقلاً او علماً د منلو وړ نه دي:

د البېروني د آثارو څېړوونکی ډاکټر زخاو اروپایي سنسکرېت‌پوه، وایي چې: د برمک نوم د سنسکرېت له پرمک سره نږدېوالی لري، چې معنی یې مشر، رئیس او د لوړې پوړۍ څښتن دی.[2] د دې نظر پخلی هانري کرن KERN هم کړی دی. د کلمې اصل په سنسکرېت کې پره‌مکه PARAMAKA گڼي،[3] چې د دې دوو کسو اروپایي پوهانو نظر به تر نورو ټولو اقوالو سموالي ته نږدې وي، ځکه په پښتو کې چې د دې خاورې پخوانۍ ژبه ده او له اویستا او سنسکرېت سره کلک اړیکي لري، هم د برمک کلمه د سنسکرېت له هماغې معنی سره

[1] - تاریخ بلعمی ۱/ ۱۱۸۵ د اروانښاد بهار سمونه، د تهران چاپ، ۱۳۴۱ل.

[2] - تعلقات هند و عرب ۱۲۰.

[3] - تاریخ دین بودا در هند ۲/ ۴۳۴ د لوسین‌بووا په وسیله ۳۸.

سمون خوړلی شي، په دې توجیه: په ختني متونو کې دا کلمه د هغې په سنسکرېتي بڼه پرمخه PARMUKHA د رئیس او لوی بودایي راهب په معنی راغلې ده، چې د پره‌مهه په بڼه یې هم راوړې ده، په پښتو کې یې پرمخ بللی شو. د لوړاوي توری «پر» د پارسي د «بر» او انګلیسي د ON + مخ، په زورکي د مخ او مخته په معنی، په ګډه سره پرمخ د شخص صفت دی، چې مشر، لارښود او رئیس دی. د پښتو دا «پرمخ» د کلمې له ختني بڼې سره ډېر نږدېوالی لري. (د کلمې د ختني بڼې لپاره د لندن ایشیا ټک سوسایټي مجلې د بیلي مقاله وګورئ).

یوستي په " نامهای ایرانی" نومې کتاب (۱۵مخ) کې برم پارسي ویی ګڼي چې معنی یې پاچاهي او لویي ده.[۱] د یوستي دا رایه به هم د برمک کلمې په ریښه کې د هغو کسانو پخلی وکړای شي چې د کلمې ریښه همدا برم ګڼي.

په دې کې شک نه‌شته چې برم خراساني کلمه ده او موږ د دې کتاب په دریم څپرکي کې په خراسان کې (۱۶۰س شاوخوا) د یوسف برم خوځښت شرحه کړ، له هغه هم څرګنده ده، چې بَرْم خراساني نوم و. دا کلمه تر اوسه په پښتو کې د جلال، لویوالي، شوکت او دبدبې په معنو ژوندۍ ده، چې خوشحال خان خټک بَرْم راوړې ده؛[۲] خو په کندهار کې یې برَمْ وایي.

لکه چې په لومړي څپرکي کې مو د لویک د کلمې په شرحې کې ویلي دي، په خراساني او پښتو نومونو کې د درنښت (تجلیل) او مینې (تحبیب) کاف کارول عام دي؛ نو همدا برم به یې د خټک، هوتک، اخک، لویک، تورک او د سلګونو نورو نومونو په قیاس، برمک کړی وي، چې په معنی کې یې لویي او پرتم نغښتی دی.

پټه دې نه وي، چې برمک نوم تر اوسه په افغانستان کې په قبیلو او د هغو په استوګنځیو کې پاتې دی، د بېلګې په ډول د بلخ[۳] د لوېدیځ په **۳۲** کیلومترۍ کې د یوهٔ کلي نوم برمک دی. په همدې نامهٔ په سانچارک (اوسني شبرغان) کې د تکزار د

---

[۱] - برمکیان ۱۸۵.

۲ - د خوشحال‌خان کلیات، د حبیبي چاپ، کندهار ۲۴۸.

[۳] - قاموس جغرافی افغانستان ۱/ ۲۵۳.

شمال لوېديځ په ۳۱ کیلومترۍ کې د ختیځ طول‌البلد په ٦٦ درجو ۱۲ دقیقو او ۳٦ ثانیو او د شمالي عرض‌البلد په ۳۵ درجو او ۴۵ دقیقو کې یو کلی دی.[۱]

برمک نوم په عربو کې هم دود شوی و، بلاذري د برمک بن‌عبدالله دابلي یادونه کوي، چې د هغهٔ هممهاله و.[۲]

**جعفر برمک (لومړی)**

په اسلامي پېر کې د بلخي برمکیانو د کورنۍ لومړنی پېژندل شوی سړی همدا جعفر دی. د مسلمانو مؤرخانو د روایتونو پر بنسټ کورنۍ یې د ۳۰س= ٦٥۱ز شاوخوا مسلمانه شوه؛ نو ځکه د هغهٔ ځای د واکمن طرخان نیزک د کینې او تېري لامل وګرځېد. برمک له لسو زامنو سره لوټ او ووژل شو؛ خو یواځې ابوخالد جعفر له دې پېښې روغ پاتې او له مور سره کشمیر ته جلاوطن شو. هلته یې زده‌کړې وکړې او په طب، ستورپوهنې، ریاضیاتو، او طبیعي علومو کې یې لاس پیدا او د نیکونو لاره یې خپله کړه. بیا بېرته بلخ ته راغی او د نوبهار خدمتګاري یې دهٔ ته وسپارله. د چغانیانو پاچاه له لور سره یې وادهٔ وکړ، له هغې څخه یې حسن، خالد او عمر زامن دي.[۳]

مؤرخان د جعفر ژوند د ولید بن‌عبدالملک (۸٦ - ۹٦ س) په پېر کې ګڼي، چې په دمشق کې د خلیفه دربار ته هم ورغلی و. پر جسمي ښکلا سربېره په علم، ادب، انشاء او ویناوالۍ کې هم یوه بېلګه وه، چې د ولید په دربار کې د سرمنشیتوب رتبې ته ورسید.[٤] دربار ته د هغهٔ د رسېدو او د سلیمان بن‌عبدالملک (۹٦ - ۹۹س) پر وزارت د ټاکل کېدو داستان نظام‌الملک راوړی دی.[۵]

عربي مؤرخانو جعفر کوچنی برمک او د هغهٔ پلار جاماس لوی برمک بللی دی. د ابن‌عدیم له تاریخ حلب څخه یې روایت کړی دی، چې کله جعفر د هشام بن‌عبدالملک

---

[۱] - قاموس جغرافی افغانستان ۱/ ۲۵۵.

[۲] - انساب الأشراف ۱۹۴- ۲۰۰.

[۳] - برمکیان ۴۲- نورو مؤرخانو د عمرو پر ځای، سلیمان هم کښلی دی (همدا اثر ۴۹).

[٤] - البرامکه ۲۹.

[۵] - سیاستنامه ۱۷۸.

(۱۰۵-۱۲۵س) دربار ته ورسېد؛ نو هلته يې محمد بن‌علي بن‌عبدالله بن‌عباس وليدۀ او خپل زوی خالد ته يې سپارښتنه وکړه چې د رسالت کورنۍ ته د خلافت په راګرځېدا کې هڅه وکړي.[۱] له همدې مهاله ده، چې د برمک کورنۍ د عباسي خلافت په پلويانو کې شامل شوې ده او د عباسي بلونکو د مشرانو په جمله کې د جعفر برمکي د زوی خالد نوم اخلي.[۲]

په هر حال د برمکي کورنۍ د لومړنيو احوالو په اړه د عربو او عجمو ليکوالو روايات ګډوډ او افسانه يي دي، ان د جعفر د نامۀ په اړه هم سره يوه خولۀ نه دي. ضيا برني په اکرام الناس[۳] کې د ابوالقاسم محمد طايفي په حواله ليکلي چې جعفر برمکي اورلمانځی و، د عبدالملک مروان د ليدلو اراده يې وکړه او دمشق ته لاړ. دا هم د زياتره مؤرخانو د رواياتو له مخه ثابت نه دي. ځکه د اسلام د ځلا په لومړيو کې د دې وګړو دين بودايي و، زردشتي نه و. همدا رنګه د جعفر تګ د سلېمان بن‌عبدالملک دربار ته دی، نه په خپله د عبدالملک دربار ته.[٤]

طبري وايي: په ۱۰۷س= ۷۲۵ز کې د خراسان اموي حاکم اسد بن‌عبدالله خپل پنډغالی له بروقان (د بلخ له دوه فرسخۍ) څخه دې ښار ته راولېږداوۀ او ابوخالد برمک ته يې امر وکړ، چې د بلخ ښار جوړ کړي. په بروقان کې مېشتو ټولو اموي لښکريانو ته يې په بلخ کې هماغسې استوګنځي ورکړل، چې په بروقان کې يې لرل او چا چې نه درلودل، هغوی ته هم کورونه ورکړی شول. د بلخ د ودانۍ لپاره يې له ټولو سيمو څخه د هغو له ماليو سره سم کارګران راټول کړل.[٥] دا مطلب ابن‌ثير هم راوړي.[٦] د طبري او ابن اثير له روايت څخه داسې برېښي چې په ۱۰۷س کې د خالد پلار برمک په بلخ کې و. څرنګه چې د پخوانيو روايتونو له مخه د ۹۰س شاوخوا په دمشق کې د وليد، د ۹۷س شاوخوا د وزير سلېمان بن‌عبدالملک

---

[۱] - تاج‌العروس ۷/ ۱۰۹.

[۲] - البرامکه ۳۴.

[۳] - ملک‌الکتاب، د ميرزامحمد، د بمبيي چاپ.

[٤] - مقدمه اخبار برامکه، د تهران چاپ ۱۳۱۲ل.

[٥] - طبري ۵/ ۳۸۸.

[٦] - الکامل ۵/ ٦۵.

او د ۱۱۵س شاوخوا د هشام ابن‌عبدالملک په دربار کې و؛ نو ویلای شو چې جعفر د خالد پلار د سلېمان تر پېر وروسته یعنې د ۱۰۰س شاوخوا بلخ ته راغلی، یو وخت همدلته و او بیا د هشام دربار ته ورغلی دی. څکه د ابن‌خلکان د روایت له مخه چې د ابوحفص عمر بن‌ازرق د تألیف" اخبار برامکه" له کتاب څخه یې نقلوي: دې برمک (جعفر) د هشام له درباره رخصت وغوښت چې خپلې سیمې ته لاړ شي، نو هشام لیک وکېښ چې هغه د خپلې سیمې حاکم کړي؛ خو څرنګه چې دا برمک د خراسان پر لاره ګرګان ته راورسېد همدلته ومړ[1] چې د مړینې کال یې د هشام تر مړینې (۱۲۵س) د مخه د ۱۲۰س شاوخوا اټکلولای شو.

بیا نو د عربي تاریخونو له مخه چې د خلیفه‌ګانو د دربارونو د احوالو په اړه د هغو وینا سند وي، د جعفربرمک یادونه په هغو دربارونو کې نه ده شوې او لومړنی سړی چې له دې کورنۍ څخه یې د خلافت مامورینو او چارواکو ته لاره کړې، مقدسي وایي خالد بن‌برمک د عباسي سفاح په دربار کې دی.[2] له همدې امله که موږ د اموي خلیفه‌ګانو دربارونو ته د جعفر برمک او د هغهٔ د سفرونو په اړه د نورو مؤرخانو ټول داستانونه هیڅ وګڼو، د طبري د روایت له مخه یو کس برمک- چې د خالد پلار دی- په بلخ کې مومو چې په ۱۰۷س کې له اموي حاکم اسد بن عبدالله سره ملګری او د بلخ ښار په بیارغونه یې لاس پورې کړی و.

**خالد بن‌برمک**

د برمکیانو د کورنۍ هغه کس چې د لومړي ځل لپاره یې شتون او پېژندګلو مؤرخانو ته څرګنده ده او ټول په یوه خولهٔ هغه د دې کورنۍ بنسټوال پېژني همدا خالد برمکي دی.

د ابن‌عساکر د وینا له مخه چې ابن‌خلکان د هغهٔ له"تاریخ دمشق" څخه نقل کړې د خالد زوکړه په ۹۰س کې او مړینه یې په ۱۶۵س کې ده. په داسې حال کې چې ابن‌قادسي یې په اخبارالوزراء کې د مړینې کال ۱۶۳س لیکلی دی.[3]

---

[1] - مقدمهٔ اخبار برامکه، د ابن‌خلکانپه حواله، د تهران چاپ.

[2] - البدء و التاریخ ۱۰۶/۶.

[3] - وفیات‌الأعیان ۱۰۶/۱.

د يوۀ روايت له مخه د خالد کوچنیواله په کشمیر کې تېره او لومړنۍ روزنه يې هلته شوې ده[1]، ځکه د ۹۰س کال شاوخوا چې د زوکړې کال يې دی، پلار يې په کشمیر کې و. هلته يې طب، ستورپوهنه، فالپوهنه، کوډې او نور علمونه زده کړل [2] او بيا له پلار سره په بلخ او اموي دربار کې و. مؤرخان يې د پوهې په ستاينه او ځانګړنو کې يوه خولۀ دي، ان مسعودي وايي چې اولادونو يې ونه کړای شول چې په رأيې، زړنتيا او بخښنښ کې هغه ته ورسېږي.[3]

ابن‌طقطقي وايي: خالد بن‌برمک د عباسي دولت له پوهو، لويو، بخښاندو، ويښو او ژورفکرو کسانو څخه و. سفاح هغه وزارت ته غوره کړ، هغۀ سره له دې چې د وزارت چارې يې ترسره کولې، خو ځان ته يې وزير نه وايۀ[4] بلکې خالد د پلار له وصيت سره سم د اموي دولت په وروستيو کې د هغۀ دولت د ليرې کېدو او د نبوي کورنۍ د نوي دولت د جوړېدو له کلکو پلويانو څخه و. په هماغه وخت کې چې ابومسلم خراسانی په خراسان کې د امويانو له مامورينو سره جنګېدۀ، خالد برمکي هم د هغۀ له باوري او زړورو لښکرکښانو څخه و.

موږ په تاريخ کې د هغو کسانو په ډله کې چې د عباسي ابراهيم امام له ځانګړو ملګرو سره يې د عباسي دولت د تأسيس لپاره په خراسان کې هلې‌ځلې کولې، د خالد برمکي نوم په ۱۲۹س مومو، چې د عباسيانو له يوۀ ځانګړي ملګري قحطبه بن‌شبيب سره په ګرګان کې همکاري لري، د عباسي پلويانو مالونه له هغۀ سره دي[5] او د ابومسلم د خوځښت له غړو څخه يو دی.

بيا چې کله خالد په ۱۳۰س کې څلوېښت کلن سړی دی (ځکه چې زوکړه يې په ۹۰س کې ده) هغه د ابومسلم د لښکرمشر او لارښود په توګه مومو، چې دا وخت ابومسلم د امويانو

---

[1] - تاج‌العروس ۷/ ۱۰۹.

[2] - يوه شاعر په دې بيت کې د برمکيانو دا علوم راجمع کړي دي:

قل ليحيى اين الکهانة و السحر + و اين النجوم من قتل جعفر

[3] - مروج‌الذهب ۳/ ۲۸۴.

[4] - الفخري ۱۴۰.

[5] - طبري ۶/ ۳۱او الکامل ۵/ ۱۸۳.

مامورين له خراسان څخه ايستلي او خپل کسان يې په ټول خراسان کې حاکمان گومارلي وو. په دې جمله کې قحطبه طوس ته لېږل کېږي، له هغهٔ سره د لښکر څو مشران هم ملگري دي، چې يو يې خالد برمکي دی.

د قحطبه لښکريانو پر طوس يرغل وکړ او څه د پاسه لس زره کسان يې په يوهٔ جنگ کې له مخالفينو ووژل. بيا د تميم بن‌نصر او نابي بن‌سويد له دېرش زريز لښکر سره مخامخ شو، په دې جنگ کې بيا خالد بن‌برمک له زرو کسانو سره په يوه جبهه کې وجنگېد. قحطبه چې په خپله د جنگ ډگر ته راځي، همدا خالد برمکي د لښکريانو په ښي اړخ کې وجنگېد. د سوبې او تميم و نابي تر وژلو وروسته د مات شوي لښکر د مالونو په تر لاسولو وگومارل شو.

بيا د ۱۳۰س په ذوالقعده کې قحطبه له خراسانيانو سره و، چې په گرگان کې يې د اموي چارواکو لښکريان وموندل، خراسانيان يې په يوه بليغه او احساساتي وينا کې د دښمنانو پر وړاندې راوپارول. په دې جنگ کې بيا خالد برمکي د ابومسلم د لښکر په کيڼ اړخ کې وجنگېد. د جنگ د دې ډگر سوبه هم د شامي لښکر د لسو زرو کسانو په وژلو وشوه او اموي چارواکی نباته بن‌حنظله ووژل شو.[1] د خالد لاس ته زښت زيات غنيمتونه ورغلل چې پر خپلو ملگرو يې ووېشل.[2]

په ۱۳۱س کې عامر بن‌ضباره له خپل سل زريز لښکر سره د «ری» شاوخوا د قحطبه له شل زريز لښکر سره ونښت، چې د لښکر په ښي اړخ کې د قحطبه يو لښکرمشر هم خالد بن‌برمک و. په دې جنگ کې هم خراسانيان پر شاميانو بريالي شول او د عامر مجهز لښکريان يې مات کړل. لښکريان دومره مجهز وو چې ان له ځان سره يې د موسيقۍ آلې او د شرابو ژۍ هم درلودې.[3]

جهشياري وايي، يو ځل عباسي خليفه المهدي وغوښتل د دې جنگ کيسه

[1] - طبري ٦/له ٥٢-٥٦ او الكامل ٥/ ١٨٣.

[2] - تاريخ يعقوبي ٢/ ٣٤٣.

[3] - طبري ٦/ ٦٦ او الكامل ٥/ ١٩٠.

واوري چې د مروان حاکم، ابن‌ضباره څنګه ماتې وخوړه؟ هغۀ ته وويل شول له خالد برمک دې وپوښتي، چې په دې جنګ کې و او د پېښې شاهد دی.

المهدي چې ترې وپوښتل، خالد ځواب ورکړ:« صفونه مو چې څنګه تيار کړل، الله تعالی يې په زړۀ کې وېره واچوله او د سوبې باد زموږ توغ ورپاوۀ، د الله شکر او ستاينه دې وي.»

المهدي چې د خالد دا ځواب واورېد، ويې ويل: ډېره ښه او لنډه کيسه دې وکړه.[1]

په ۱۳۲س=۷۴۹ز کې خالد بن‌برمک له مسيب بن‌زهير سره د دُيّرقني[2] نيولو ته ولېږل شو، تر دې وروسته وينو چې خالد استوناوند (دنباوند د ری د چارواکو کوټ) کلابند کړی، د هغۀ ځای پاچاه يې له‌منځه وړی او د هغۀ دوې لوڼې يې بغداد ته لېږلې دي. يوه يې المهدي وپېرله، د منصور بن‌مهدي مور ده«البحريه» نومېده.[3]

د طبري د روايت له مخه چې ابن‌اثير هم راخيستی، خالد بن‌برمک په ۱۳۲س کې د سفاح عباسي د خراج دېوان مشر (د ماليې وزير) و[4] چې له لښکرمشرۍ څخه يې په دفتري چارو لاس پورې کړی دی.

د طبري د څرګندونې له مخه خالد تر ۱۳۶س پورې د بغداد د خراج دېوان مشر و.[5] بيا وروسته هم په همدې پلازمېنه کې د منصور عباسي په پېر کې په غالب ګومان پر همدې دنده پاتې شوی دی. ځکه وينو چې په ۱۴۶س کې د بغداد د ودانولو پر مهال د خليفه مشاور و، چې تفصيل به يې وروسته د خالد د شخصيت په شرحه کې راشي. يو کال وروسته په ۱۴۷س کې خالد بيا د المهدي د ځايناستۍ په مسأله کې چې د عيسی بن‌موسی پر ځای ټاکل کېدۀ، د خليفه سلاکار او مشاور مومو. دا ستونزمن کار د خپل ځايناستۍ پر حق د عيسی له ټينګار سره سره د خالد په هڅه د

---

[1] - تاريخ الوزراء او الکتاب، د اخبار برامکه په وسيله ۲۶.

[2] - دا نوم په «برمکيان بووا» کې په ناسمه سره «ديرفونا» شوی، د طبري ۶ /۷۶ او الکامل ۵/ ۱۹۳د وينا له مخه سم يې دُيّرقني دی، د لومړي په پېښن او د دوهم په شد او د بغداد په ۱۶ فرسخۍ کې د نهروان په سيمو کې دجلې ته يو ميل نږدې پروت دی (معجم‌البلدان ۲/ ۵۲۸).

[3] - معجم‌البلدان ۱/ ۱۷۶.

[4] - طبري ۶/ ۱۱۱ او الکامل ۲۱۳.

[5] - پورتنی اثر ۱۱۸.

المهدي په ګټه پای ته ورسېدۀ. دواړو منصور خليفه او ځايناستي يې ترې مننه وکړه او د هغۀ رښتينولي يې وستايله.[1]

په ۱۵۸س کې منصور خليفه، خالد بن‌برمک درې مليونه درهمه مصادره کړ او درې ورځې وخت يې ورکړ. څرنګه چې په دې وختونو کې کُردانو په موصل کې بغاوت وکړ، امنيه قوماندان مسيب بن‌زهير، چې د خالد ملګری و، خليفه ته يې وړانديز وکړ چې خالد د موصل والي کړي. خليفه هم پاتې درې لکه درهمه چې خالد نه وو ورکړي، هغۀ ته وبخښل او د هغۀ په نامۀ يې د موصل ولايت فرمان ورکړ. هغۀ په پوهې او سولې سره د دې ولايت چارې د خپل درنښت او وقار په ساتلو سنبال کړې. د منصور تر مړينې وروسته د هغۀ زوی المهدي هم خالد برمک په موصل کې پرېښود، د هغۀ ورونه حسن او سلېمان يې هم ورولېږل.[2]

ابن‌فقيه وايي د مهدي د پېر په لومړيو کې خالد په طبرستان کې د مسمغان پر کوچنۍ پاچاهي بريد وکړ، مسمغان پاچاه يې مات کړ او د هغۀ ښځه او درې لونې يې بغداد ته ولېږلې. وايي په دې جنګ کې خالد دومره مېړانه وکړه چې انځور يې له هغې وسلې سره چې په جنګ کې يې کارولې وه، د هغۀ د عسکرو له خوا پر خپلو ډالونو نقش شو.[3]

خالد د المهدي په پېر کې په موصل کې حاکم و، چې په ۱۶۳س= ۸۷۰ ز کې مهدي خپل ځايناستی زوی الرشيد د روم (اوسنۍ ترکيې) غزا ته ولېږۀ، له هغۀ سره يې خالد او د هغۀ ورونه حسن او سلېمان هم ولېږل. يحيی بن‌خالد په دې لښکرکشۍ کې د ځايناستي سرمنشي او د عسکرو د نفقاتو (لوژستيک) مدير و. هارون تل په لښکرکښيو او نورو چارو کې له هغۀ څخه مشوره اخيسته. په دې جنګ کې يې سترې برياوې تر لاسه کړې. خالد په سمالو ډګر کې څرګندې کارنامې وکړې. څرنګه چې د هارون لښکرمشر ربيع‌حاجب، د مهدي خليفه حضور ته سلېمان بن‌برمک له يوۀ پلاوي سره ولېږۀ، خليفه يې درناوی وکړ.[4]

---

[1] - طبري ٦/ ٢٨٠ او الکامل ٥/ ٢٧٥.

[2] - پورتنی اثر ٦/ ٣٠٤.

[3] - کتاب‌البلدان، د ابن فقيه همداني۳۱۴ د بووا په وسيله ۵۷مخ.

[4] - طبري ٦/ ٣٧٦.

جهشياري وايي د ځايناستی هارون لښکرې چې په همدې (۱٦۳س) کال کې د ختيځ روم له جنګه بېرته راوګرځېدې، خالد ومړ. مهدي ورته کفن، عطر او موميايي ولېږل او هارون‌الرشيد يې جنازه وکړه.[۱]

**د خالد برمکي شخصيت**

خالد برمکي غيرتي او مېړنی ځوان او د لوړ مقام، ښېګڼې او لوړېينې څښتن و. هغه که د جنګ په ډګر کې زړور او تورزن و؛ نو په دفتري او اداري چارو کې د محاسبې او انشاء بېلګه و. څرنګه چې يې د عباسي کورنۍ د خلافت د تأسيس لپاره مهمې چارې ترسره کړې وې؛ نو د دې کورنۍ د لومړني خليفه سفاح او د هغهٔ له اولادونو سره يې لوړ مقام او عزتمن ځای درلود. ان برمکي کورنۍ د عباسي کورنۍ برخه ګرځېدلې وه. طبري وايي ام خالد بنت يزيد (د خالد برمک مېرمن) د سفاح لور ريطې ته تی ورکاوهٔ او د سفاح خليفه مېرمنې ام سلمه د خالد لور ام يحيی ته تی ورکړی و.[۲] دا دواړه نجونې به په يوهٔ کټ کې ويدېدې. يوه ورځ سفاح خالد ته وويل: زه دې خپل خادم کړم په دې معنی چې لور دې زما له لور ريطې سره يوځای ويده وه، کله چې د شپې راويښ شوم، ګورم چې د هغو مخپټی (څادر) ليرې لوېدلی دی؛ نو په خپل لاس مې بېرته د هغو په مخونو وغوړاوهٔ.[۳]

خالد د هېښنده ځيرکتيا څښتن و، چې بېلګه يې په دې کيسه کې راغلې ده، وايي:

هغهٔ د ابومسلم په پلوۍ په يو جنګ کې له اموي واکمنو سره جنګېدهٔ، د کور په بلۍ د ډوډۍ په خوړلو بوخت و، ليدل يې چې له صحرا څخه د وحشي ژويو او هوسيو يو ګورم په ډېره بيړه کلي ته راځغلي. خالد وويل دښمن زموږ لور ته راځغلي او د وحشي ژويو دا ګورم چې د کلي لور ته راروان دی؛ نو يوه ډله ورپسې راروانه ده. لږ وروسته د خالد اټکل په يقين بدل شو، دوړې پورته شوې چې د دښمن لښکر ورپسې و؛ خو د خالد لښکريانو لا د مخه د مخنيوي او جنګ تابيا کړې وه.[٤]

---

[۱] - تاريخ الوزراء و الکتاب، د اخبار برامکه د سريزې په وسيله ۳۱، تاريخ ابن‌خلدون ۳ / ۲۲۳. مړينه يې په ۱٦٦س کې ده.

[۲] - برمکيان بووا ۵۸.

[۳] - الفخري ۱۴۰.

[٤] - ابن خلکان ۲ /۳۲۲.

طبري وايي: خالد په موصل باندې داسې واکمني وکړه چې د مخه يې د هغهٔ په څېر وېروونکی امير نه و ليدلی. په داسې حال کې چې هغهٔ له چا سره سختي نه وه کړې، په چا يې ظلم نه و کړی؛ خو وېرې يې د خلکو په زړونو کې ځای درلود.[1]

خالد تل خپل عجمي او خراساني ارزښتونه ساتل او سره له دې چې په عربي دربار کې يې ژوند کړی و، عجمي وياړونو ته يې لېوالتيا ښکارنده وه. د ساري په توګه کله چې منصور د بغداد په ماڼۍ کې په مداين کې د کسرا ماڼۍ نړولو په فکر کې شو، چې له توکو يې د نويو ودانيو په جوړولو کې کار واخلي، خالد د هغې تاريخي ودانۍ د نړولو رأی ور نه کړه او دلايل يې وړاندې کړل. منصور د هغهٔ دا اختلاف له عجمي وياړونو سره د لېوالتيا له امله وګاڼهٔ او په غوسه يې وويل: هلاک شې (هيهات)! چې مخالفت کوې، بې له عجمي لېوالتيا بل دليل نه لري.[2]

بخښنه او ښېګڼه د خالد ځانګړنې وې او دومره مشهورې وې چې په اړه يې ويل کېږي، د يارانو کورونه زياتره هغهٔ ودان کړي دي. د هغو د ښځو مهرونه يې ورکړي دي. وينځې، څاروي او آسونه يې د هغو لپاره پېرلي دي.[3]

ځرنګه چې د هغهٔ دربار تل د مرستې او کومک ځای و او دا کسان يې سوّال (د واو په شد) نومل، خالد دا نوم هغو کسانو ته لازم نه ګاڼه چې مشران او مخور به وو، نو امر يې وکړ چې د هغهٔ مراجعين دې (زوّار) ونوموي چې د سپک نامهٔ له امله يې سپکاوی ونهٔشي.[4]

پر شاعرانو باندې د خالد لګښت او ډالۍ هم مشهورې دي، وايي له هغهٔ د خراسان تازي ژبي شاعر بشار بن‌برد تخارستاني د هر بيت په مقابل کې - چې هغه يې ستايلی و - لس زره درهمه جايزه واخيسته او بيا يې د ستاينې د څو بيتونو په مقابل

[1] - طبری ٦/ ٣٠۴ او الکامل ٦/٦.

[2] - پورتنی اثر ٦/ ٢٦۴ او الکامل ٥/ ٢٧١.

[3] - تاريخ الوزراء و الکتاب.

[4]- الفخري ١۴٠.

کې لس زره درهمه ورکړل او هم به همدې شاعر د هرې غونډې لپاره له هغه څخه پنځه زره درهمه اخیستل. په یوه غونډه کې یې ترې د یوې ستاینې په بدل کې دېرش زره درهمه بخښنښ واخیست.[1] په داسې حال کې چې دا خراساني شاعر د عربو پر خلاف په خپل سخت تعصب، شعوبیت او عجمپالنې مشهور و او زندیق یې بالۀ؛ نو په همدې ګناه یې وواژۀ.[2]

## یحیی بن‌خالد برمکي

خالد برمکي دوه زامن درلودل، یو محمد چې ډېر مشهور نه و او بل ابوالفضل یا ابوعلي یحیی دی چې د ۱۱۹س په پای یا د ۱۲۰س= ۷۳۸ز په پیل کې وزېږېد[3] او د خپلې کورنۍ په لمن کې وروزل شو، چې د پخوانې فرهنګ او دود ساتندویه وه.

مؤرخان وایي ادیب، خبرلوخ، سخي او مفکر عالم ترې جوړ شو.[4] څرنګه چې یې پلار د عباسي دربار د سفاح او منصور له ارکانو څخه و، یحیی هم په دربار کې وروزل شو. لومړی ځل د منصور خلیفه له خوا په ۱۵۸س=۷۷۴ز کې کله چې یې پلار خالد د موصل واکمن ګومارل کېدۀ، یحیی د آذربایجان د حکومت واکمن وګومارل[5] او د منصور تر مړینې پورې هلته پاتې شو.

د المهدي په پېر کې خالد او زوی یې یحیی دواړه د دربار مهم ارکان وو. خالد خپل زوی یحیی ته د شاهزي هارون د روزنې دنده وسپارله؛ نو هغۀ له کوچنیوالي دا شاهزی په خپله غېږه کې روزلی و.[6] په ۱۶۳س کې چې المهدي خپل زوی هارون د آذربایجان د ټولو ولایتونو او ارمینیه واکمن وټاکۀ، یحیی بن‌خالد یې د شاهزي د

---

[1] - برمکیان ٦٠ د الأغاني په حواله ۳/ تر ۳٦ وروسته.

[2] - وګ: په همدې بحث کې د برمکیانو د مخځوړ لاملونه.

[3] - په تاریخونو کې یې د یحیی د زوکړې کال په یقیني ډول نه دی تعیین کړی؛ خو څرنګه چې یې مړینه د ۱۹۰س د محرم په درېیمه په ۷۰ یا ۷۴ کلنۍ کې ده (ابن‌خلکان ۲/ ۲۴٦) له همدې امله به یې زوکړه د ۱۱۹وروستۍ یا د ۱۲۰س کال پیل وي او که عمر یې ۷۴ کاله وي نو زوکړه یې په ۱۱۵س کې ده.

[4] - ابن خلکان ۲/ ۲۴۳.

[5] - طبري ٦/ ۳۰۴ او الکامل ٦/ ٦.

[6] - ابن خلکان ۲/ ۲۴۳.

تحریراتو دفتر د منشي وګومارهٔ.[1] هغه شپږ کاله د هارون په خدمت کې و. د ۱۶۹ س کال په محرم= ۷۸۵ز کې المهدي خلیفه ومړ. زوی او ځایناستی یې الهادي په جرجان کې د طبرستان له وګړو سره په جنګ بوخت و او یواځې شاهزی هارون په ماسبذان کې د پلار د مړینې پر بستر حاضر و.

د المهدي له مړینې په خبرېدو د بغداد د لښکریانو په منځ کې اړ و دوړ جوړ شو، عسکرو خپل پاتې معاشونه وغوښتل. د المهدي ملکې خیزران- چې د دوه شاهزیو الهادي او الهارون مور وه- د دې ستونزې حل د دربار دوو لویو کسانو یحیی او ربیع بن‌یونس ته وسپارهٔ. ربیع بن‌یونس د هارون روزونکی او په بغداد کې د هغهٔ کفیل و. خو بلواګر د ربیع تر مانۍ راچاپېره شول او د هغې ورونه یې وسوځول؛ یحیی دا اړودوړ په تدبیر او زړورتیا غلی کړ او ربیع یې وژغورهٔ. لښکریان یې د محرز بن‌ابراهیم په ضمانت قانع کړل چې د خپل اتلس میاشتني معاش تر اخیستلو وروسته خپارهٔ شول. بیا یې هارون ته لارښوونه وکړه چې هادي د خلیفه په توګه وپېژني او پلازمینې ته یې راوغواړي.[2]

نوی خلیفه الهادي د ۱۶۹س په صفره کې د هارون او یحیی په بلنه بغداد ته ورسېد او بیعت ورسره وشو، خو دې خلیفه هارون ته د نسبت او نږدېوالي له امله یحیی د دربار د لویانو په لړ کې په ماموریت ونه ګومارهٔ. څرنګه چې د خلیفه مور خیزران په هېوادنیو چارو کې لاس پیدا کړی و او امیرانو همېشه ترې لارښوونې غوښتې؛ نو په خپله الهادي په مزو چړچو بوخت شو؛ ځکه نو د هېواد چارې خرابې شوې. په پای کې له خپل زوی الهادي سره د خیزران اختلاف پیدا شو. الهادي وغوښتل چې د پلار د وصیت پر خلاف خپل ورور هارون د خلافت له ځایناستۍ څخه محروم او پر ځای یې خپل زوی جعفر ځایناستی کړي. په دې اړه یې د دربار له مشرانو موافقه او بیعت هم واخیست؛ خو یحیی د خیزران په مرسته د هارون په پلوۍ هڅه کوله او

[1] - طبري ۶/ ۲۷۷ او الکامل ۶ /۲۵.

[2] - پورتنی اثر ۶/ ۴۰۶ او الکامل ۶/ ۳۵.

هغه شل زره درهمه يې هم رد کړل چې له جعفر سره د بيعت لپاره يې ورته ورکول. يحيی، الهادي ته وويل: زوی دې (جعفر) زلموټی دی؛ نو بايد د ځايناستي په اړه د المهدي وصيت په پام کې ونيول شي[1] خو الهادي په دې کار کې تاوتريخوالي او زور ته لاس واچاوۀ، يحيی او هارون يې بنديان کړل او په مرګ يې وګواښل چې د هغۀ د زوی جعفر ځايناستي ومني.

خو خيزران چې له خپل زوی الهادي څخه خواشينې شوې وه، د ۱۷۰س ۷۸۶ز د ربيع‌الأول په ۱۴مه شپه يې خولۀ ورټپه او مړ يې کړ. خيزران سمدواره زندان ته لاړه چې يحيی او هارون راخوشي کړي.

يحيی په يوه تنګه خونه کې بندي و، چې پښې په کې نه غځېدې او شپې يې په ولاړه تېرولې. چې له تنګ او تيارۀ زندان بهر يې د ساتندويانو د پښو شکالو واورېده؛ نو ويې انګېرله چې د هغۀ په وژلو پسې راغلي دي؛ خو کله چې ور بېرته شو ويې ليدل چې خيزران ولاړه ده او ورته وايي:

د هادي خولۀ مې ټپه کړه، اوس مړ دی، راووځه چې ځو.[2]

چې يحيی يې له زندانه راوايست، د خليفه ياور يقطين له هغۀ سره د هارون خونې ته ورغی. هارون چې وليدل د هادي د دربار ياور يقطين راغی، داسې يې وانګېرله چې د هغۀ په وژلو پسې راغلی دی؛ خو يقطين سلام وکړ او هغۀ ته يې د اميرالمؤمنين خطاب وکړ.[3]

يحيی د هارون د پلار په ځای و، ځکه اولادونو يې له هارون سره تی رودلی و او رضاعي ورونه يې وو. هارون له کوچنيوالي د يحيی د لورينې په لمن کې روزل شوی او د خپل خلافت په لاره کې د هغۀ د هڅو پوروړی و؛[4] نو پر دې بنسټ د خلافت پر ګدۍ تر کښېناستو وروسته يې يحيی خپل وزير غوره کړ، ابراهيم موصلي په دې اړه وويل:

ألم تـر أن الشـمس كانـت سـقيمة فلـما ولـی هـارون أشرق نورهـا

بـيمن امـين‌الله هـارون ذی النـدی فهـارون و اليهـا، ويحيـی وزيرهـا

---

[1] - الفخري ۱۸۰.

[2] - تاريخ‌اليعقوبي ۲/۴۰۶.

[3] - برمکيان بووا، د تاريخ يزدي په حواله.

[4] - الفخري ۱۸۰.

نو هارون د هېواد ټولې چارې یحیی ته وسپارلې او د ګومارنو او ګوښه کولو واک یې ورکړ. خپل مهر یې ورته ورکړ. مور ملکې خیزران هم د هېواد په چارو کې لاس درلود او یحیی به ترې رأی غوښتله؛[1] خو څرنګه چې خیزران په ۱۷۳س=۷۸۹ز کې مړه شوه؛ نو ټول ځواک د یحیی لاس ته ورغی. ابن‌طقطقي وايي یحیی د هارون سرمنشي، کفیل او وزیر و. اوس د دولت ټولې چارې په هغه پورې وتړل شوې. د پولو ساتنه، د نیمګړتیاوو پلټنه، د دولت د شتمنیو راغونډول، د شاوخوا سیمو آبادول، د خلافت پراختیا او د مهماتو ذمه‌واري، ټول ورپر غاړه وو. هغه رسا لیکوال او ځیرک ادیب و. رسا رایه، ښه تدبیر، سمون، د دولت په چارو کې یې اوږده تجربه او آزاد لاس درلود. زغمونکی، پاک‌لمنی، درووند او د پرتم خاوند و.[2]

یحیی د عباسي پېر په علمي خوځښت، د فکري رنسانس په پیل، د علومو په خپراوي، د علمي کتابونو په ژباړه او د پوهانو په روزنه کې څرګندې کارنامې لري، چې د فکري، علمي او ادبي ژوندانۀ په اړه به یې د دې کتاب په ځانګړې څپرکي کې یادونه وکړو.

که د یحیی په ټولنیزو افکارو، سیاسي، ادبي او اداري شخصیت پوهېدۀ غواړو، نو د هغۀ په اړه د مامون خلیفه دا وینا باید ولولو چې ویل یې:« یحیی بن‌خالد او د هغۀ زوی په بلاغت، وړتیا، سخاوت او زړورتیا کې ساری نه لري» دا د دې لوی بلخي شخصیت د ښېګڼو په اړه د پاچاه وینا ده! خو د سفیان ثوري غوندې ملنګ- چې د الله لمانځونکو صوفیانو له لویانو څخه و- چې کله ورته یحیی د میاشتې زر درهمه وټاکل، په سجده کې یې دعا کوله او ویل یې:«ای الله! یحیی چې زما دنیایي کار راجوړ کړ، هغسې یې ته د آخرت کار ورجوړ کړه.»[3]

پر دې سربېره د یحیی پر شخصیت د هغۀ له ویناوو - چې په اخلاقو او سیاست کې یې لري- هم پوهېدای شو؛ د ټولنیز ژوندانۀ په اړه به یې اولادونو ته ویل:

[1] - طبري ٦/ ۴۴۴ او الکامل ٦/ ۴۴.

[2] - الفخري ۱۷۹.

[3] - عصرالمأمون ۱/ ۱۴۰.

«هغه څه چې مو اورېدلي،غوره ترې ولیکئ!
او هغه څه چې مو لیکلي، غوره ترې یاد کړئ!
او هغه څه چې یاد کړئ، غوره ترې بیا وویاست!»[1]
خبرلوڅ څوک دی؟ او خبرې باید څرنګه وشي؟ یحیي وایي:
« له هر ولس سره د هغهٔ له ارزښتونو سره سمې خبرې کول بلاغت دی!»
پاچاهان هر چا ته په یوه سترګه نه ګوري، ځکه پاچاهان د هغوی همکاران دي:
«د پاچاهانو او یوهٔ کس تر منځ خپلوي نه وي.»

**پر واکمنو د ولس حقونه**

« زما د سپرلي دوړه هیڅکله د چا پر ږیره ونه لګېده؛ خو ساتنه او درناوی مې یې پر ځان واجب کړ او د هغو حق مې پر ځان لازم وګاڼهٔ.»

خپل زوی ته یې د زده‌کړو په اړه نصیحت وکړ:

«ګرانه زویه! له هر علمه څه غوره کړه او ګټه ترې واخله!

څوک چې په څه نه پوهېږي، نو د هغهٔ دښمن وي او زما نه خوښېږي چې تهٔ د فرهنګ و ادب د څه شي دښمن واوسې!»

ځانپېژندنه او درنښت په انسان کې څه ځانګړنې پیاوړې کوي؟

«د واک پر مهال به هیڅوک لوی چاري ونه وینې؛ خو هغه چې داسې وګڼي، څه ته چې دی رسېدلی د هغه تر کچې او پوړ لوړ دی. داسې څوک به ونه وینې چې د واکمنۍ پر مهال عاجزي او کمیني وکړي؛ خو هغه چې ځان یې تر هغهٔ پوړ لوړ وي، چې ورته رسېدلی دی.»

کله چې وګړي له چا د واکمنۍ پر مهال شکایت کوي، دوه چارې لري، یحیی خپل یوهٔ چارواکي ته ولیکل:

«له تا شکایت کوونکي ډېر او منندویان لږ دي؛ نو باید عدالت وکړې او یا ګوښه

[1] - تاریخ بغداد، خطیب بغدادي ۱۴/ ۱۲۹.

شي.»[1]

یحیی سم سیاست د الله په اطاعت او خلکو ته د دوو ورونو په ببرته کولو کې گڼي؛ لومړی په مهربانۍ، لګښت او لورېینې او دوهم په سختۍ، کنجوسۍ او منع کې[2] چې دا د زیاتي او کمي تر منځ د منځلارۍ درجه ده.

تاریخ تل د تېرو انسانانو تجربې راتلونکو ته لېږدوي او وروستي نسلونه د تېرو له تجربو څخه پند اخلي. د تاریخ دې لړۍ او تسلسل ته یحیی په لنډېز سره داسې نغوته کوي:

«تر موږ د مخکنیو کړنې زموږ لپاره پند دي او زموږ کړنې به د راتلونکو پند اخیستونکو چورلیځ وي.»[3]

یحیی او څلورو زامنو یې تر ۱۷۳س وروسته په خپلواکۍ سره د عباسي دولت چارې په لاس کې ونیوې؛ نو په حقیقت کې د خلافت د ماشین او د بغداد دربار چلوونکي شول. هارون ته د امیرالمؤمنین له نامهٔ پرته واک و ځواک پاتې نه شو. له همدې امله په ۱۸۷س= ۸۰۲ ز کې هغو ته د هارون وضع بدله شوه. مؤرخان وایي د برمکیانو د بدمرغۍ او نیولو ورځې پیل شوې. د ۱۸۷س د محرم په وروستۍ شپه د یحیی نومیالی او ځواکمن زوی جعفر د هارون په امر ووژل شو. یحیی له دوو زامنو فضل او موسی سره بندي شو او د برمکیانو ټول مالونه او شتمنۍ وترورل شوې.[4]

د فرات د غاړې په رافقه (پخوانۍ رقه) کې د یحیی او د هغهٔ د زامنو د بندیتوب دورې تر دربو کالو پورې دوام وکړ. لکه چې ومو ویل د ۱۹۰س د محرم په ۳مه نابېره د ۷۰ یا ۷۴ کالو په عمر ومړ او د فرات پر غاړه د هرثمه په (ربض) کې ښخ شو. د یحیی وروستۍ خبره دا وه چې د هغهٔ د بسترې لاندې یې یوه رقعه وموندہ، چې پرې لیکل شوي وو:

---

[1] - د یحیی دا ویناوې یې د مقدمهٔ اخبار برامکه په سریزه کې له تاریخ بغداد، عقدالفرید او د راغب اصفهاني د محاضرات الادباء څخه راخیستي دي.

[2] - عصرالمأمون ۱/ ۱۴۰.

[3] - البرامکه ۱۲۲.

[4] - طبري ٦/ ۴۸۴.

و حـــق‌الله إن الظلـــم لـــوءم    و إن الظلـــم مرتعـــه وخـــيم
إلى ديان يوم الـدين نمضـى    و عنـدالله تجتمـع الخصـوم [1]

«حقه دا ده چې ظلم غندل شوی او پایله یې خطرناکه ده. موږ د جزا د ورځې قاضي ته ورځو او ټول دښمنان به هلته سره راټولیږي.»

له برمکیانو سره د هارون د وضعې د بدلون په اړه روایات بېلابېل دي؛ له برمکیانو سره د عباسي دربار د ستر دیني مشاور محمد بن‌لیث اختلاف او هارون ته نصیحت چې- یحیی دی د الله له پوښتنې نه‌شي خلاصولای- یا دا چې هارون د یاغي علویانو یو کس یحیی بن‌عبدالله بن‌حسن، جعفر ته سپارلی و چې ویې ساتي؛ خو هغهٔ خوشې کړ او یا دا چې هارون خپله خور عباسه، جعفر ته په نکاح کړه، خو امر یې وکړ چې کوروالی ورسره ونه کړي؛ مگر جعفر رالاندې کړه. کله یې چې ترې اولاد وزیږید، هغه یې پټ کړ، مکې ته یې ولېږهٔ. د ۱۸۶س د حج په سفر کې هارون په دې کار خبر شو. چې د عراق د انبار د مامورینو عمر نومې ځای ته ورسېدهٔ د ۱۸۷س د محرم د میاشتې په وروستۍ یا د شنبې په شپه یې جعفر وواژهٔ. [2]

خو د برمکیانو د بدمرغۍ اصلي لاملونه به یواځې دغه نه وي، د تاریخي پېښو د شننې له مخه یو شمېر لاملونه چې د دې سترې کورنۍ د ځوړتیا لامل شول، په لنډ ډول سره دلته یادوو: د هغهٔ مهال د سیاسي نظامونو یوه حتمي پایله دا وه چې د خلکو یو پوړ په کې د گڼو گټو پر بنسټ سره راټولېدهٔ؛ خو په پای کې به دا خلک د همدې تر لاسه کړو گټو پر سر په خپلو کې پر شخړو شول او بیا به هر ځواکمن له دې وېرې چې نور ملگري ترې واک ونه تروړي، پر نورو برید کاوهٔ او له‌منځه به یې وړل.

عباسي خلیفه هارون هم تر هغه مهاله چې د خپلو سیالانو په منځ کې راایسار و او درباري لویانو او ځواکمنو ته یې اړتیا درلوده، د برمکیانو له اغېز، پوهې او تجربې

[1] - ابن خلکان ۲/ ۲۴۶.

[2] - د جعفر د دې وژنې لاملونه زیاترو مؤرخانو لکه طبري، ابن اثیر، الفخري، ابن‌خلکان او نورو لیکلي دي، وگ: البرامکه تر ۲۱۲ وروسته او عصرالمأمون ۱/ تر ۱۵۴ وروسته.

ځخه يې کار اخيست؛ خو چې ويې ليدل د هغوی واک و ځواک لوړ پوړ ته رسېدلی دی او نږدې ده چې په خپله د هغهٔ دريځ ته خطر پېښ کړي؛ نو د هغوی د ځپلو امر يې وکړ، ابن‌طقطقي دا مطلب داسې ځرگندوي:

«يوه ورځ هارون د خلد مدينةالسلام په ماڼۍ کې و، د خپلې ماڼۍ له بامه يې ليدل چې خلک د برمکيانو پر استوگنځي – چې د هارون د ماڼۍ هاخوا ته و – راغونډ شوي دي؛ نو ويې ويل: الله دې يحيی ته خير ورکړي چې زه يې د چارو له ذمې خلاص کړی يم.

څه وخت وروسته يې بيا دا ننداره وکړه او ويې ويل: يحيی د هېواد ټولې چارې په ظلم سنبالوي، اوس په حقيقت کې هغه خليفه دی او ما ته يې يواځې نوم راپاتې دی.»[1]

د هارون دا خبره رښتيا وه؛ ځکه اوس د برمکيانو برم و پرتم، سخاوت، درنښت، تدبير، پوهې او سياست د خلافت مقام په بشپړ ډول تر اغېز لاندې راوستی و، په هر ځای کې د خليفه پر ځای برمکيان ستايل کېدل. وايي چې کله هارون د حج په سفر ووت، يحيی او دوه زامن يې فضل او جعفر هم ورسره وو او کله چې هارون په مدينه منوره کې د ډاليو او سوغاتونو ورکولو لپاره کښېناست، يحيی ورسره و. کله چې مامون کښېناست، جعفر ورسره و او خلکو ته يې سوغاتونه ورکول. همدا رنگه له امين سره فضل برمکي يو ځای و؛ نو خلکو دا د برمکيانو خپلې ډالۍ وگڼلې او ويې ويل:

أتانا بنو الأملاک من آل برمک  فيا طيب أخبار و يا حسن منظر
إذا نزلوا بطحاء مکة أشرقت  بيحيی و بالفضل بن‌يحيی و جعفر
فتظلم بغداد و تجلو لنا الدجی  بمکة ما حجوا ثلاثة أقمر[2]

« موږ ته آل برمک راغلي چې د پاچاهانو له نسله دي، څه ښکلې ننداره او خوږ

[1] - الفخري ۱۹۰.
[2] - پورتنی اثر، ۱۸۲ په لنډون.

زېرى دى! چې يحيى، فضل او جعفر د درېو سپوږميو په څېر د حج لپاره بطحا ته راغلل، مکه يې په پلوشو روښانه شوه، خو بغداد يې په ليرېوالي تيارهٔ دى.»

په داسې حال کې چې خلکو هر څه د برمکيانو خپل ګڼل، خليفه او د هغهٔ ورونو ته يې د برمکيانو غوندې مخه نه ورکوله؛ نو طبعاً د خلافت کورنۍ اغېزمنه او غمجنېده او نه يې غوښتل چې خراسانۍ او عجمه کورنۍ د عباسي هېواد پر برخليک دومره برلاسې او حاکمه وي. دا کټ مټ هماغه حالت دى چې نيکهٔ يې منصور د ابومسلم د لوى شخصيت پر وړاندې ورسره مخامخ شوى و:

ابن‌خلکان عربي شعرونه رااخلي چې هغه يوهٔ نوموړکي سړي هارون ته رالېږلي او په کې ليکلي يې وو: د خلافت رښتيني څښتنان برمکيان دي، ښايي تر تا وروسته پر خول او پلاز منګولې ښخې کړي. وايي چې دا شعرونه د برمکيانو پر وړاندې د هارون د راپارېدنې لامل وګرځېدل:

قـل لامـين الله فـى أرضـه    ومـن اليـه الحـل والعقـد
هذا بن‌يحيى قد غـداً مالكـاً    مثلـك مـا بيـنكما حـد
أمـرک مـردود إلـى أمـره    و أمـــره لـــيس لـــه رد
و نحـن نخشـى أنـه وارث    ملكـك ان غيبـک اللحـد[1]

«د الله امين او د حل و عقد د چارو څښتن (خليفه) ته ووايهاست: دا د يحيى زوى (جعفر) ستا غوندې د هېواد څښتن شوى دى، اوس ستا او د هغهٔ تر منځ توپير نهٔشته، هغه ستا امرونه ردولاى شي؛ خو د هغهٔ امرونه نه ردېږي، موږ وېرېږو ستا تر مرګ وروسته به هېواد هغهٔ ته په لاس ورشي.»

ځرنګه چې د عباسي هېواد اداره او ځواک په بشپړ ډول برمکيانو ته په لاس ورغلل او متعصبو عربو وليدل چې د هېواد ټول تشکيلات او نظم د هغو د هڅو او هوښيارۍ ميراث دى، ويې نه غوښتل چې داسې وياړنې له ځان څخه ليرې کړي؛ نو يوه جعلي کيسه يې جوړه کړه چې په ۸۶ س= ۸۰۵ ز کال کې چې د حجاج له خوا

---

[1] - وفيات‌الأعيان ۱/ ۱۰۸.

قتیبه بن‌مسلم د خراسان نیولو ته راغی، په بلخ کې یې د برمک ښځه په غنیمت ونیوه، هغه یې خپل ورور عبدالله بن‌مسلم ته ورکړه، عبدالله هغه لاندې کړه او له یو ځای کېدنې یې خالد وزیږېد؛ نو خالد عربي نسله دی. ان د طبري، ابن‌خلدون او ابن‌اثیر غوندې مؤرخانو هم دا کیسه رااخیستې ده؛ نو ترې څرګندیږي چې عربو په څه وسیلو غوښتل عجمي ویاړونه له ځان سره ونښلوي!

خو برمکیانو چې په بغداد او دربار کې یې فرهنګ و ثقافت او خپل ځانګړی علمي او ټولنیز چاپېریال رامنځ ته کړی و؛ د اموي دربار رنګ یې بشپړ بدل کړی و. د خپلو نیکونو د ویاړونو او خراساني ارزښتونو په ساتنه کې یې ډېره زیاته هڅه کوله او په دې کار کې دومره پر برید واوښتل چې ابن‌ندیم وایي زیاتره برمکیان زندیقان وو.[1] متعصب عربي شاعر اصمعي هغوی مشرکان ګڼل، چې تل یې د قرآني آیتونو په مقابل کې د مزدک ویناوې دلیل نیوۀ:

إذا ذكر الشرک فی مجلس أضائت وجوه بني برمک
و إن تليت عندهم آية أتوا بالاحاديث عن مزدک[2]

«کله چې په غونډه کې د شرک یادونه وشي؛ نو د برمکیانو څېرې رڼا وکړي او که آیت ورته تلاوت شي، د مزدک وینا رامخته کوي.»

طبري څرګندوي چې د برمکیانو د بدمرغۍ یو تر ټولو مهم لامل دا و چې زندیقانو ته یې لېوالتیا درلوده. د برمکیانو په اړه د عربو همدا نظر دی چې د اصمعي د پورتنیو بیتونو په څېر شعرونه یې ویلي دي او ان وروستیو مؤرخانو د برمکیانو کورنۍ د اسلام په جامه کې مجوسیان ګڼلي دي. وایي چې هغوی هارون‌الرشید ته وړاندیز وکړ چې د کعبې دننه د خوشبویۍ د لوګي کولو لپاره نغری جوړ کړي چې هلته د تل لپاره عود وسوځوي، موخه یې دا وه چې کعبه د اور لمانځنې ځای کړي؛

[1] - الفهرست ۴۷۳.

[2] - المعارف د ابن قطیبه ۱۴۸؛ خو د جاحظ په البیان‌والتبیین ۱۵۰/۲ کې د مزدک پر ځای، مروک راغلی چې د زندیقانو د یوۀ پخواني کتاب نوم دی او حمزه اصفهاني هم دا نوم راوړی دی.

خو هارون په دې موخه پوه شو او هغو ته يې د راپارېدو لامل وګرځېد.[1]

بلعمي وايي ابوربيع محمد بن‌ليث چې عالم، ليکوال، واعظ او پرهېزګار انسان و، هارون ته يې وليکل:

«ای اميرالمؤمنينه! د قيامت په ورځ به څه وايې او څه دليل به وړاندې کوې چې يحيی بن‌خالد، اولادونه او کورنۍ يې تا پر مسلمانانو مقرر کړي، د مسلمانانو چارې دې هغوی ته سپارلي، هغه زنديق دی او ټوله کورنۍ يې په همدې مذهب ده.»[2]

د ژوندانهٔ له وضعې، د خلکو له رابللو، سخا، بخښنې او د هېواد په ټولو مالي او اداري سرچينو له لاسبرې پوهېدای شو، چې برمکيان هم د خپل نيکهٔ ابومسلم په څېر د عباسي خلافت د څرخ دننه د خپل برم و ځواک د بيا ترلاسي لپاره طرح لري؛ نو له همدې امله يې تل د عربو د هاشميانو د دوه‌و سياسي ډلو (علويان – عباسيان) په سياليو کې د معتزليانو په څېر منځلاری سياست خپلاوهٔ، چې يو پر بل وګواښي، کمزورې يې کړي او په دې منځ کې يې پر ځای خپل ځواک و اغېز ټينګ کړي. همدا سياست و چې د هارون پام يې وضعې ته راواړاوهٔ. که څه هم لږ وروسته د مامون په پېر کې په خپله خليفه هم هغه د خپل کار چورليځ ګرځولی و.[3]

هغه څه چې د تاريخي اوضاع او برمکيانو د بدمرغه برخليک په شننه کې څه نا څه د منلو دي، دا دي، چې ابن‌خلدون شرحه ورکړې او د تاريخي کره‌کتنې په ځير شننې ولاړه ده؛ نو دلته يې لنډيز وړاندې کوو:

«د برمکيانو د بدمرغۍ لامل دا و چې د دولت چارې يې په ظلم او خپلسرۍ چلولې، مالي سرچينې يې ټولې په لاس کې وې او ان که د

---

[1] - الفرق‌بين‌الفرق ۲۷۰.

[2] - ترجمه طبري، د بلعمي ۴/ ۷۵۷.

[3] - عصرالمأمون ۱/ ۱۵۸.

هارون به په خپله مال ته اړتیا وه لاسرسی یې ورته نه درلوده. برمکیان پر خلافت دومره برلاسي او په واک کې شریک وو، چې خلیفه د هېواد په چارو کې واک نه درلود. څرنګه چې د هغوی اغېز په دې ډول زیات شو، د لویې اوازه یې خپره شوه، د دولت ټول منصبونه او مهمې چارې یې اولادونو، خپلوانو او خپلو روزلو کسانو ته وسپارلې. وزارت، منشیتوب، مشري، مرستیالي، د جنګ او قلم چارې یې له نورو واخیستې او خپلو ګومارلو ته یې وسپارلې. ان وایي د هارون په دربار کې د یحیی له کورنۍ ۲۵ کسانو دفتري او پوځي دندې درلودې. په خپله یحیی د هارون مرستیال او د هغهٔ خلیفه و، چې پلار یې ګاڼهٔ او د ټولو لویو او کوچنیو چارو واکمن شو.

نو د خلیفه د دربار پر ځای د برمکیانو استوګنځی د ولسونو مرجع شوه، وګړي پرې رامات او سرغړوونکي یې منونکي شول. د امیرانو ټولې ډالۍ د برمکیانو په دربار پورې اړوندې شوې. هغوی هم د لورېینې او بخښنې لاس دومره وغځاوهٔ چې د خلیفه پر ځای شاعرانو هغوی ستایل. د عباسي هېواد په هر ځای کې یې کورونه، د کر ځمکې او شتمنۍ تر لاسه کړې او د هېواد چې څه مالي سرچینې وې، د هغوی په واک کې وې.

د همدې وضعې له امله په ټول هېواد کې له برمکیانو سره د کینې او سیالۍ سخت حس راڅرګند شو، متهونګیانو یې هارون ته چغلۍ وکړې او هغهٔ یې د دې وضعې له خطرناکو پایلو وویراوهٔ. په تېره بنيقحطبهوو په دې چغلۍ کې هڅه وکړه چې په پای کې د برمکیانو د پوپنا کېدو لامل شوه.»[1]

---

[1] - مقدمهٔ ابن خلدون ۱۴.

دا هغه وضع ده چې تل یې د هغهٔ مهال پانګوال نظام ګواښهٔ او د دې نظام د چارواکو طبیعي تاریخي بهیر یې یو د بل پر ضد کاوهٔ. ان چې د واک په دې اړ و دوړ کې د برمکیانو اختیار لهمنځه لاړ او د عباسي خلافت ماشین هم د برمکیانو د نشت له امله مخځوړ روان شو.

خو دا وضع د خراسان د لیرې پرتو او خپلواکۍ غوښتونکو ولسونو په ګټه وه او هر څومره چې مرکز یعنې بغداد کمزورى کېدهٔ، هغوی د خپلو ملي ګټو په خوندیتوب کې ځواکمنېدل، داسې چې تر دې پېښو لږ وروسته د هراتي پوشنګیانو له خوا د خراسان خپلواک مرکزي دولت جوړ شو.

**فضل بن‌یحیی**

د یحیی له زامنو څخه- چې عربي شاعر هغه د څلورو عناصرو غوندې ګڼلي وو[1]- یو فضل دی چې د هارون رضاعي ورور او یو مهال یې وزیر هم و. په ۱۴۸س کال د ذولحجې په درویشتمه په مدینه کې زېږېدلی دی.

فضل د ځوانۍ په ورځو کې د پاچاهي حرم مشر و. په ۱۷۰س= ۷۸۶ز کې د محمدالامین شاهزي په روزنه وګومارل شو او د امین د ځایناستۍ په اعلان کې یې هم لاس درلود. په ۱۷۴س=۷۹۰ز کې هارون هغه خپل وزیر کړ. کله چې په ۱۷۵س= ۷۹۱ز کې یحیی بن‌عبدالله علوي په دیلم کې باغي شو او د خلافت دعوه یې وکړه، د هارون د دربار له خوا د هغهٔ د مخنیوي لپاره فضل وګومارل شو. هغهٔ دا بغاوت په سوله، تدبیر او پخلاینې غلی کړ او یحیی علوي یې بغداد ته راوست. د دې خدمت په بدله کې په ۱۷۷س کې له جرجان، طبرستان، ارمینیا، ری او دماوند نیولې تر کرمان، سیستان او خراسان پورې د خلافت د ټولو ختیځو سیمو واکمن شو.[2] لکه په اړوندو څپرکو کې چې تېر شول، د فضل لښکریان د کابل تر غورونده ورسېدل او د شاه‌بهار عبادتځی یې ونړاوهٔ. فضل د بلخ د نوبهار عبادتځي په یوهٔ کنج کې جومات هم

[1] - اولاد یحیی اربع + کاربع الطبایع (ابن‌خلکان ۲/ ۲۴۳).

[2] - ابن‌خلکان ۱/ ۴۰۸، برمکیان بووا تر ۸۵ وروسته او البرامکه تر ۱۲۵ وروسته.

جوړ کړ. په ۱۷۹س کې د خراسان له دې واکمنۍ بغداد ته ستون شو. موږ د دې څېرکي په نهمه برخه کې په خراسان کې د فضل کارنامې شرحه کړې دي.

په احسان، سخا، سیاست او اداري مشهور فضل د برمکیانو د کورنۍ نومیالی او کارند غړی او د بغداد د عباسي خلافت له نومیالیو وزیرانو څخه دی، چې د (حاتم الإسلام و خاتم‌الکرام) په نومونو یې نوملی دی.[1] څرنګه چې په ۱۸۷س کې دې ستري کورنۍ ته هارون راوپارېدۀ، نو فضل یې هم له پلار او وروڼو سره د (رقې) په زندان کې بندي کړ، چې هم هلته په ۱۹۳س= ۸۰۸ز کې د ۴۵ کلو په عمر ومړ.[2]

**جعفر برمکي**

د یحیی بل زوی او د هارون د دربار بل مشهور وزیر جعفر دی، چې په ۱۵۱س= ۷٦۸ز کې په مدینه کې زېږېدلی دی. د پلار او خپلې لويې کورنۍ په غېږ کې وروزل شو او د تورې، قلم ادب، بلاغت، سخاوت او لورېینې له نومیالیو څخه شو. د ابن‌خلکان د وینا له مخه- چې د ابن‌قادسي له کتاب الوزراء څخه یې نقل کړې- فقه یې د امام ابوحنیفه رضي الله عنه له مشهور شاګرد قاضي امام ابویوسف (۱۱۳-۱٦٦س) څخه زده کړه او په دې علم کې یې دومره لاس پیدا کړ چې د هارون‌الرشید په حضور کې یې په یوه شپه کې ۱۰۰۰ حکمه ولیکل، په داسې حال کې چې یو یې هم د فقهې د حکم مخالف نه و.[3]

جعفر په تنکۍ ځوانۍ کې د هارون تر پلازناستې (۱۷۰س) وروسته له خپل پلار سره د بغداد په دربار کې و. جهشیاري وايي د شاهزي مامون په روزنه ګومارل شوی و. هغۀ د هارون‌الرشید په امر د بغداد له مخورو څخه د مامون لپاره د ځایناستۍ بیعت هم واخیست.[4] د وزارت مهر له هغۀ سره و، ځکه د هارون مور خیزران یې تل ملاتړ

---

[1] - برمکیان بووا ۹۴.

[2] - ابن خلکان ۱/ ۴۱۲.

[3] - پورتنی اثر، ۱/۱۰۵.

[4] - کتاب الوزراء د اخبار برامکه په وسیله ۱۰۰.

کاوهٔ؛ خو څرنگه چې په ۱۷۳س کې خیزران ومړه، هارون چې هغه ښخه کړه، له هدیرې څخه له راستنېدو سره سم یې امر وکړ چې له جعفر څخه مُهر واخلي، فضل بن ربیع ته یې ورکړي او ویې ویل: مخکې مې هم غوښتل چې فضل وزیر وي؛ خو مور مې نه منله؛ نو د هغې اطاعت مې کاوهٔ.[1] جعفر له خپل پلار سره پاتې شو چې په ۱۷۶س کې هارون هغه د موسی بن‌عیسی پر ځای د مصر حاکم وټاکهٔ. هغهٔ له خپل لوري عمر بن‌مهران مصر ته ولېږهٔ؛[2] خو یو کال وروسته په ۱۷۷س کې یې د مصر له حاکمۍ گوښه کړ او پر ځای یې اسحق بن‌سلیمان ولېږهٔ.[3]

په ۱۸۰س= ۷۹۶ز کې په شام کې لوی پاڅون وشو، هارون د پاڅونوالو د ځپلو لپاره درووند ځواک وگومارهٔ او جعفر ته یې وویل: دې جنگ ته په خپله لاړ شه! او که نه نو زه ورځم. جعفر له بشپړو تجهیزاتو، لښکر او وسلو سره شام ته لاړ، په داسې حال کې چې د پولیسو مشري یې عباس بن‌محمد کوله او د جعفر د ساتندویانو ټولمشر شبیب بن‌حمید و.[4] دواړه د عباسي دربار له مشهور لښکرکښانو څخه وو.

جعفر د شام د اوضاع په سمولو بریالی او بیا بغداد ته راستون شو، هارون یې درناوی وکړ او د دربار د ساتندویانو مشر یې کړ. جعفر په ۱۸۵س کې له خپل پلار یحیي سره د کعبې زیارت ته لاړ.[5] په دې کلونو کې یې په لوړ پرتم او واک ژوند کاوهٔ. ان ابن‌خلدون وایي د (سلطان) او د عباسي ستراوکۍ د ریاست کُل لقب یې درلود. د جعفر نوم په سیکو هم وکیندل شو. په پارسي ادب کې چې جعفري زرو شهرت موندلی دی، د دهٔ په نامهٔ دي.

---

[1] - طبري ٦/ ۴۴۷ او الکامل ٦/ ۴۸.

[2] - پورتنی اثر ٦/ ۴۵۸ او الکامل ٦/ ۵۰.

[3] - پورتنی اثر ٦/ ۴۶۰ او الکامل ٦/ ۵۷.

[4] - پورتنی اثر ٦/ تر ۴۵۸ وروسته.

[5] - برمکیان بووا ۱۰۲ او ۳۹.

هارون ته خبرلوخ، هوښيار، ځيرک، سخي او زغمونکی جعفر ډېر گران و، ځکه چې هغه د خپل ورور فضل پر عکس - چې توند خويه و- نرم او ښه اخلاق درلودل.

څرنگه چې فضل په کوچني وزير مشهور و، هارون وغوښتل چې جعفر دې هم دا لقب ولري؛ نو له خپل پلار يحيی څخه يې وغوښتل چې هغهٔ ته دې هم د فضل غوندې د مهمو چارو د چلولو واک ورکړي چې خلک ورته کوچنی وزير ووايي.[1]

جعفر پر پوځي او اداري شخصيت سربېره د پوهې، علم او فرهنگ څښتن هم و. په ناستو کې به يې تل نوميالو پوهانو پر علمي مسايلو بحثونه درلودل او جعفر به هغه په مينه او لېوالتيا سره اورېدل. د جعفر شخصيت د هغهٔ د ځينو ويناوو له مخه پېژندلای شو چې مؤرخانو ترې رانقل کړي دي، د ساري په ډول:

۱- د واکمنو درناوی او لويي په عدل کې او سپکوالی يې بې له ظلمه په بل څه کې نه وي.

۲- د هېواد د پوپنا کېدو تر ټولو مهم لامل د کرنيزو ځمکو شاړېدل دي، کوم واکمن چې پر ولس دومره زور راوړي چې ځمکه ترې شاړه پاتې شي، د هغهٔ شخص غوندې دی چې د لوږې د سړولو لپاره د خپل بدن غوښه وخوري.

کله چې ولس د واکمنو له ظلمه د ځمکې کر ته لاس ورنه وړي؛ نو ښه ځمکه شاړه او اغزنه پاتې کېږي، ماليات يې دولت ته نه رسېږي، نو د عسکرو په لگښتونو کې په خپله کمی راځي، عسکر د هغهٔ هېواد له ساتنې لاس اخلي، په پايله کې يې حکومت کمزوری او د دښمنانو تر بريد لاندې راځي.[2]

جعفر له داسې درک، ځيرکۍ، پوهې او فرهنگ سره د هارون د دربار له ډېرو نږدې کسانو څخه و؛ خو لکه چې تېر شول د ۱۸۷س د محرم په وروستۍ شپه په بشپړه بې‌رحمۍ د همدې خليفه په امر ووژل شو او جسد يې ورته د بغداد پر پله وځړاوهٔ. هارون په دې نااټکله حرکت سره د برمکيانو کورنۍ - چې پر اسلامي هېواد بشپړه برلاسې وه- له‌منځه ليرې کړه او د يحيی شل کسه اولادونه او لمسيان يې زندان ته واچول. ابن‌عبدربه

[1] - الفخري ۱۸٦.

[2] - المستطرف فی کل فن مستظرف او عقدالفريد د البرامکه په وسيله ۱۹۹.

وايي د هغوی له مالونو او نقدو څخه دېرش مليونه او ٦٧٦ زره ديناره چې کابو سل مليونه افغانۍ کېږي، د عباسيانو خزانې ته راغلل.[1]

## د برمکيانو سيکې

د برمکيانو د کورنۍ د پرتم او لويۍ يوه ښکارنده دا ده، چې هغوی د عباسي خليفه په شتون کې هم په خپلو نومونو د سيکې وهنې حق درلود، چې اوس يې هم د سيکو بېلګې د برتانيې د لندن په موزيم کې شته:

۱- د يحيی په نامۀ د سپينو زرو سيکه چې په محمديه کې په ۱۷۳س= ۷۹۰ز کې وهل شوې د برتانيې په موزيم کې شته (لين پول کتلاک، لومړی ټوک، ۵ نقش ۱۹۳مه ګڼه).

۲- د جعفر په نامۀ، د ۱۸۴س= ۸۰۱ ز کال د سرو زرو سيکه د برتانيې د لندن موزيم (پورتنی کتلاک، لومړی ټوک، ۱۵۲مه ګڼه) کې شته.

۳-د جعفر په‌نامۀ د سپينو زرو سيکه چې په بغداد کې‌موندل شوې، د سرهنګ ايلوتي د سيکو په ټولګه کې، د ۱۷۷س= ۷۹۴ز کال وهنه، همدا کتلاک، ۲۱۲مه ګڼه.

۴- د جعفر په نامۀ د سپينو زرو سيکه، د محمديه د ۱۸۱س= ۷۹۸ز د همدې کتلاک، ۱۹۷مه ګڼه.[2]

۵- په معجم‌الأنساب کې د زمباور د وينا له مخه، محمد بن‌يحيی چې تر ۱۷۹س پورې د دربار ياور و، د هغۀ په نامۀ هم سيکه ليدل شوې ده.

٦- همدې مؤلف (زمباور) خالد د يحيی پلار هم د سيکې خاوند ښودلی دی.[3]

**يادون**

له همدې کورنۍ موسی بن‌يحيی او د هغۀ زوی عمران له هغو کسانو څخه دي چې د افغانستان په ختيځ او سند ناوه کې د مامون په پېر کې روښانه کارنامې لري؛ خو څرنګه چې د دې کتاب موضوع تر ۲۰۵ س پورې ټاکل شوې ده؛ نو په راتلونکي ټوک کې به د موسی او عمران کارنامې پر خپل ځای يادې شي.

---

[1] -البرامکه ۲۹۰ او د عقدالفريد په حواله.

[2] - برمکيان بووا ۱۲۴.

[3] - معجم‌الأنساب د زمباور، عربي ژباړه ۱۳.

## د برمکیانو د کورنۍ د مشهورو کسانو د نسب شجره



## ۱۲- د افغانستان د ختيځو ولايتونو او سند اوضاع

### د عباسيانو د پېر په لومړيو کې

د درېيم څپرکي په څلورمه برخه کې مو د ابومسلم د چارواکو تر ادارې لاندې د سند ولايت اوضاع شرحه کړه، چې موسی بن کعب يې د هغې سيمې والي کړی و. نوموړی په ۱۴۰س کې بغداد ته روان شو او په ۱۴۱س کې هلته ومړ.[۱] د سند حاکمي د هغۀ نالايقه زوی عيينه بن موسی ته پاتې شوه. دا چې هغۀ وړتيا نه درلوده د عربي قبيلو تر منځ کورنۍ جنګونه پيل او لويې شخړې رامنځ ته شوې؛ نو عباسي خليفه منصور له خپلو مشهورو مشرانو څخه يو په هزارمرد مشهور عمر بن حفص له عقبه بن مسلم سره سند ته راولېږۀ. په ۱۴۲س کې د هغۀ ځواکونه سند ته راورسېدل، عيينه د مقاومت توان په ځان کې ونه ليد؛ نو له منصورې څخه وتښتېد او په رخج (اوسني کندهار) کې ووژل شو.[۲]

هزارمرد څو کاله په سند کې پاتې شو[۳] په دې وخت کې عبدالله اشتر علوي د ابوطالب د کورنۍ له کسانو څخه يو- چې د عباسيانو په مقابل کې د اسلامي خلافت مدعي و- له بصرې څخه سند ته راوتښتېد. هزارمرد هغه د سند د سرحدونو يوۀ راجه ته ورولېږۀ، چې د نبوي کورنۍ ملګری و. له همدې مهاله په سند کې د علوي شيعه‌ګانو د خوځښت بنسټ کښېښودل شو.[٤]

---

[۱] - طبري ٦/ ١٥٢ او الکامل ٥/ ٣٨٧.

[۲] - تاريخ يعقوبي ٢/ ٣٧٣.

[۳] - په تاريخ يعقوبي کې دوه کاله او په ابن اثير کې تر ١٥١س پورې دی.

[٤] - ابن اثير ٥/ ٢٨١.

په ۱۵۱س کې هزارمرد د سند له حاکمۍ څخه په افريقا کې وټاکل شو او پر ځای يې هشام بن‌عمرو تغلبي د سند منصورې ته راغی چې د علويانو او عبدالله د اغېز نوغی وکاږي. هغهٔ په همدې کال خپل ورور سفيح ولېږهٔ، عبدالله اشتر يې د سند په يوهٔ ښکارځي کې وموند او په جنګ کې يې وواژهٔ.[1] څرنګه چې يې د سند خاوره د علويانو له پلويانو پاکه کړه، په مهران (سند سيند) کې يې د جنګي بېړيو ټولی چمتو کړ، د عمرو بن‌جمل په مشرۍ يې بحري لښکر د نارند (د ګجرات لوېديځه څنډه) لور ته ولېږهٔ او په خپله د هند پولو ته ځير شو. قندابيل (اوسنۍ ګنداوه) او ملتان يې تر کشمير پورې ونيول او خپل ورور بسطام بن‌عمرو يې پر منصورې حاکم کړ. هشام چې ملتان ته ورسېد او تر يوهٔ جنګ وروسته يې ونيو، په سند سيند کې يې د شمال په لور بېړۍ وخوځولې او د اوسني اټک مخامخ قندهار ښار (ويهنډ) ته ورسېد. هغه ښار يې ونيو، د بد (بودا) عبادتځی يې ونړاوهٔ او د هغهٔ پرځای يې مزګت (جومات) جوړ کړ. د هغهٔ په پېر کې د سند سيمې ودانې شوې او خلک ترې خوشحاله وو. د چارو سنبالنه يې ښه وکړه او پولې يې وساتلې.[2] منصور خليفه په ۱۵۶س کال کې د کرمان ولايت هم د هغهٔ په ولکه کې ورکړی و.[3]

هشام په ۱۵۷س کال کې د سند له بې سارو ډاليو سره د منصور حضور ته لاړ او لړ وروسته په عراق کې ومړ. پر ځای يې معبد بن‌خليل تميمي- چې يو ساهو سړی و- د سند والي شو.[4] په ۱۵۸س کې چې منصور ومړ او زوی يې المهدي خليفه شو، معبد په سند کې و، خو په ۱۵۹س کې ومړ. مهدي يې پر ځای روح بن‌حاتم مهلبي د سند والي کړ. هغهٔ د سند رای او د هند مهراج‌فور ته يې ليکونه واستول او غاړې ايښودنې ته يې راوبلل؛[5] نو څرګنده ده چې دې رای او فور د سند سيند د ختيځو

---

[1] - ابن اثير ۵/ ۲۸۳ او طبري ۲/ ۲۹۰.

[2] - فتوح‌البلدان ۵۴۴ او تاريخ اليعقوبی ۲/ ۳۷۳.

[3] - ابن اثير ۵/۶.

[4] - تاريخ يعقوبی ۲/ ۳۷۳ او طبري ۶/ ۳۰۲ او الکامل ۶ /۵.

[5] - يعقوبي ۲/ ۳۹۵.

غاړو پر سيمو واکمني درلودله.

تر ۱۶۰س وروسته د بغداد له دربار پر سند بېلابېل واليان گومارل شوي دي؛ خو ځايي اوسېدونکو کوچي وگړو زطو (جټانو) په کې همېشه پاڅونونه کول او وضع يې کړکېچنوله؛ نو المهدي په ۱۶۴س کې خپل مريي ليث بن‌طريف د جټانو د ځپلو لپاره راولېږۀ. په ۱۶۵س کې يې سند ته د ليث د مرستې لپاره له بصرې څخه ځواکمن لښکر راوخوځاوۀ. هغه د جټانو د پاڅونونو په غلي کولو بريالی شو او دا خلک څنډو ته خپارۀ شول.[1]

المهدي چې په ۱۷۰س کې ومړ او د هارون‌الرشيد پېر پيل شو، د ليث پر ځای سالم يونسي د سند واکمن شو؛ خو پر دا مهال د حجاز د نزاري او د يمن د قحطاني قبيلو تر منځ- چې ټول نوي راغلي عرب وو- په سند کې کورني جنگونه روان وو. د کړکېچنې وضعې د سړولو لپاره د هارون له درباره څو واليان راغلل؛ خو د کړکېچ پر اراملو يو هم بريالی نه شو. په پای کې په ۱۸۴س کې داؤد بن‌يزيد مهلبي - چې د مهلب کورنۍ د پخوانيو واکمنو يو پياوړی او ځواکمن سړی و- پر سند وگومارل شو.

داؤد د عربو ټول قبيلوي بلواگر يو په بل پسې ستړ کړل، منصوره يې ونيوله او ټوليز امنيت يې رامنځ ته کړ. له دربار سره يې د سند ډاک، تگ راتگ، سوداگريز او علمي اړيکي ټينگ کړل (چې په راتلونکي کې به يې شرحه کړو).

داؤد په بريالیتوب او ښې ادارې سره تر شلو کالو پورې پر سند واک وچلاوۀ او په دې موده کې به يې له سند څخه دربار ته پرېمانه ماليې لېږلې. کله چې په ۲۰۵س کې ومړ او زوی يې بشر د هغۀ ځايناستی شو، ويې منله چې د کال زر زره (يو مليون) درهمه به د مامون دربار ته لېږي.[2]

د سند وروسته پېښې په هغه پېر پورې تړاو لري چې طاهريانو په خراسان کې خپلواکي تر لاسه کړه؛ نو د سند نورې پېښې به د کتاب په دوهم ټوک کې په خپل وار سره شرحه کړو.

---

[1] - يعقوبي ۲/ ۳۹۸.

[2] - طبري ۷/ ۵۹ او الکامل ۶/ ۱۴۹.

# عباسي پېر د سند واليان

۱- عبدالرحمن بن‌مسلم عبدي ۱۳۴س.

۲- مسيب بن‌زهير ۱۳۴س.

۳- موسى بن‌كعب خثعمي ۱۳۴- ۱۴۱س. د موسى مرستيال عيينه بن‌موسى بن‌كعب تر ۱۴۲س.

۴- ابوجعفر عمر بن‌حفص بن‌عثمان مهلبي ۱۴۲س.

۵- هشام بن‌عمرو تغلبي ۱۵۱س.

٦- معبد بن‌خليل ۱۵۷س، ۱۵۹س مړ.

۷- بسطام بن‌عمرو ۱۵۹س.

۸- روح بن‌حاتم مهلبي ۱٦۰س.

۹- نصر بن‌محمد بن‌اشعث ۱٦۱س.

مرستيال يې: عبدالملک بن‌شهاب (۱٦۱ س) د څه وخت لپاره.

۱۰- اسحاق بن‌سلېمان بن‌علي عباسي ۱۷۴- ۱۷۷س.

۱۱- داؤد بن‌يزيد مهلبي ۱۸۴س.

۱۲- بشر بن‌داؤد بن‌يزيد (پخوا ياد شوی) ۲۰۵س.

۱۳- حاجب بن‌صالح ۲۱۱س.

۱۴- غسان بن‌عباد ۲۱۳س. مرستيال يې: موسى بن‌يحيى برمكي.

۱۵- عمران بن‌موسى برمكي ۲۱۷ س.

۱٦- حيدر بن‌كاوس افشين ۲۲۳س.

۱۷- صفاري يعقوب ليث ۲۵۷س.[1]

---

[1] - معجم‌الأنساب، د زمباور، ۴۱۵.

# د سيستان، خراسان او هرات واليان

## د عباسيانو د پېر له پيل ۱۳۰- ۲۰۵س پورې

د کتاب د دوهم څپرکي په وروستيو کې مو د اسلامي پېر له پيله د امويانو تر سقوط پورې په تفصيل سره د اسلامي پېر د واليانو نومونه راوړل، نور يې اوس د عباسيانو د پېر له پيله په خراسان کې د ملي حکومت تر ټيکاو او د پوشنگ د طاهريانو تر خپلواکۍ پورې په راتلونکو مخونو کې راوړو:

## د سيستان واليان

۱- عمر بن‌عباس بن‌عمير د زراره له اولاده د ابومسلم له خوا د سفاح په خلافت کې تر (۱۳۲س) وروسته، هغه په ۱۳۳س کې د بُست او سيستان تر منځ دښته کې د بني تميم په جنگ کې ومړ.

۲- ابوالنجم عمار يا عمران بن‌اسماعيل په ۱۳۳س کې د ابومسلم له خوا؛ چې د بوعاصم بُستي له خوا يې ماتې وخوړه.

۳- سليمان بن‌عبدالله کندي د خراسان د حاکم ابوداؤد خالد بن‌ابراهيم ذهلي له خوا، په ۱۳۸س کې د بوعاصم مقابلې ته راووت، هغه يې وواژۀ او په رخذ کې له رتبيل سره ونښت.

۴- هنادي سري د منصور خليفه له خوا د ۱۴۱س شاوخوا.

۵- زهير بن‌محمد ازدي د منصور خليفه له خوا د ۱۴۳س شاوخوا.

۶- يزيد بن‌منصور د مهدي خليفه له خوا په ۱۴۶س کې.

۷- عبيدالله بن‌علاء د يزيد بن‌منصور له خوا ۱۵۱س.

۸- معن به زائده شيباني د منصور له درباره ۱۵۱س.

۹- مهدي بن‌حمزه خزاعي د المهدي خليفه له خوا (۱۵۹س) چې هغهٔ په خپله استازۍ خالد بن‌سويد سيستان ته ولېږهٔ.

۱۰- زهير بن‌محمد ازدي دوهم ځل د مهدي له درباره په ۱٦۱س کې.

۱۱- تميم بن‌سعيد د الهادي خليفه له درباره په ۱٦۹س کې.

۱۲- کثير بن‌سالم د الهادي خليفه له درباره په ۱٦۹س کې.

۱۳- فضل بن‌سلېمان د هارون‌الرشيد د دربار له خوا په ۱۷۰س کې.

۱۴- عبدالله بن‌حميد د هارون د دربار له خوا په ۱۷۱س کې.

۱۵- فضل بن‌يحيی د هارون له درباره په ۱۷۸س کې او د هغهٔ له خوا يزيد بن‌جرير او بيا ابراهيم بن‌جبريل تر ۱۷۹س پورې.

۱٦- علي بن‌عيسی بن‌ماهان د هارون له درباره په ۱۸۰س کې چې هغهٔ له خپل لوري علي بن‌حضين، بيا همام بن‌سلمه او بيا اصرم بن‌عبدالحميد او په ۱۸۲س کې يې خپل زوی عيسی بن‌علي سيستان ته ولېږهٔ.

۱۷- سيف بن‌عثمان طارابي پر لمانځهٔ او جنګ، حضين بن‌محمد قوسي پر خراج، د علي بن‌عيسی له خوا په ۱۸٦س کې.

۱۸- زهير بن‌مسيب د مامون له خوا ۱۹۳س.

۱۹- فتح بن‌حجاج ۱۹۴س د مامون له خوا.

۲۰- محمد بن‌اشعث طارابي د مامون له خوا په ۱۹۷س کې.

۲۱- ليث بن‌فضل په ابن‌ترسل مشهور د قهستان والي د مامون خليفه له خوا چې هغهٔ احمد بن‌فضل په ۱۹۹س کې سيستان ته راولېږهٔ.

۲۲- غسان بن‌عباد د مامون خليفه له خوا، چې هغهٔ له خپل لوري اعين بن‌هرثمه وټاکهٔ او اعين له خپل لوري عمر بن‌هيثم په ۲۰۴س کې راولېږهٔ.

۲۳- عبدالحميد بن‌شبيب د غسان له خوا د ۲۰۵س په روژه کې.

۲۴- طاهر بن‌حسين پوشنګي د مامون د دربار له خوا ۲۰٦س کې.[1]

---

[1] - د واليانو دا ليکلړ د تاريخ سيستان له ۱۳٦- ۱۷۷ مخ پورې لنډ او ترتيب شو.

تر دې وروسته د سيستان اداري په رسمي ډول د طاهريانو په دربار پورې وتړل شوې چې موږ به يې شرحه د دې کتاب په دوهم ټوک کې ورکړو.

## د خراسان واليان

۱- ابومسلم عبدالرحمن د سفاح او منصور په پېر کې ۱۳۰- ۱۳۷س.

۲- ابوداؤد خالد بن‌ابراهيم ذهلي د منصور له خوا ۱۳۷س.

۳- عبدالجبار بن‌عبدالرحمن ازدي د منصور له خوا ۱۴۰س، وژنه ۱۴۱س.

۴- محمد مهدي د فخري حاکم و، ۱۴۱س.

مرستيال يې سري بن‌عبدالله ۱۴۱ او خازم بن‌خزيمه ۱۵۰ س.

۵- اسيد بن‌عبدالله خزاعي د المهدي له خوا د ۱۵۰ س شاوخوا.

٦- حميد بن‌قحطبه طايي په ۱۵۱س کې. دا سيکه هم لري (مړينه ۱۵۹س).

۷- ابوعون عبدالملک بن‌يزيد خراساني ۱۵۹س. دۀ سيکه هم وهلې ده.

۸- معاذ بن‌مسلم رازي د ربيعه مريی د مهدي له خوا ۱٦۳س.

۹- مسيب بن‌زهير ضبي د مهدي له خوا ۱٦۳س.

۱۰- ابوالعباس فضل بن‌سلېمان طوسي د مهدي له خوا ۱٦٦س.

۱۱- جعفر بن‌محمد بن‌اشعث خزاعي د هارون له خوا ۱۷۱س سيکه هم لري.

۱۲- مخکې ياد شوی عباس بن‌جعفر د هارون له خوا ۱۷۳س.

۱۳- خالد غطريف بن‌عطاء د هارون ماما د هغه له خوا ۱۷۴س.

۱۴- حمزه بن‌مالک خزاعي د هارون له درباره ۱۷٦س.

۱۵- فضل بن‌يحيی برمکي د هارون له درباره ۱۷۷س.

۱٦- منصور بن‌يزيد حميري د هارون له درباره ۱۷۹س.

۱۷- علي بن‌عيسی بن‌ماهان د هارون له درباره ۱۸۰- ۱۹۱س. سيکه هم لري.

۱۸- جعفر بن‌يحيی برمکي د هارون له درباره يواځې شل ورځې ۱۸۰ س.

۱۹- هرثمه بن‌اعين بلخي د هارون له دربار څخه ۱۹۱س.

۲۰- مامون بن‌خلیفه هارون ۱۹۳- ۱۹۴س.

۲۱- عباس بن‌جعفر دوهم ځل د مامون له خوا ۱۹۳س.

۲۲- حسن بن‌سهل د مامون له خوا د خلافت پر ټوله ختیځه خاوره ۱۹۸س.

۲۳- رضا بن‌ابي الضحاک د فضل‌بن‌سهل‌ښاوی (د خور مېړهٔ) د مامون له خوا د ۲۰۴س شاوخوا.

۲۴- غسان بن‌عباد د مامون له خوا ۲۰۴- ۲۰۵س.

۲۵- طاهر بن‌حسین پوشنګي د طاهریانو د لړۍ بنسټګر ۲۰۵س چې ژوندلیک او په خراسان کې یې حاکمان، د دې کتاب په دوهم ټوک کې بشپړېږي.

## د هرات والیان

۱- عثمان کرماني ازدي او بسام ابراهیم د ابومسلم له چارواکو څخه ۱۲۸س.

۲- ابوعلي شبل بن‌طهمان شیباني د ابومسلم له خوا حاکم، موسی بن‌حسان د خراج مسوول ۱۳۰ س.

۳- ابومنصور بن‌طلحه خزاعي د سفاح له خوا ۱۳۴س.

۴- ابوکامل خباز د منصور له خوا ۱۴۲س.

۵- داؤد بن‌کرار باهلي ۱۴۴- ۱۴۸س د منصور له خوا.

٦- تمیم بن‌عمرو، د رجب میاشت ۱۵۱س.

۷- حماد بن‌عمرو ذهلي، ۱۵۴ صفره – ۱۸۵ س.

۸- یحیی بن‌عمرو د مهدي خلیفه استازی، عبدالله بن‌حمید بن‌قحطبه طایي والي ۱۵۸س.

۹- ابورجاء حنظلي یوه میاشت- تمیم بن‌عمر او مصعب بن‌زریق خزاعي درې میاشتې ۱۵۹س.

۱۰- خزیمه بن‌خازم حنظلي د مهدي له خوا ۱۵۹س دوه کاله او اووه میاشتې.

۱۱- عبدالعزیز هندلي د مهدي له دربار څخه ۱٦۱س.

۱۲- مطرف بن‌نعمان سعدي د مسیب له خوا ۱٦۳س.

۱۳- عبدالرحمن بن‌عبدالعزیز ضبي، محرم ۱٦۴س.

۱۴- مشمرح بن‌شمر ضبي، شوال ۱٦۴س تر یو کال او پنځهٔو میاشتو پورې.

۱۵-یزید بن جریر بجلي ۱۶۶چې د هرات د لاس سر پلورنې بازار هغهٔ جوړ کړ.
۱۶-هارون بن حمید ایادي ۱۶۷-۱۶۹س، بیا امنیه قوماندان شو.
۱۷-قطن بن حارث طایي ۱۶۹س د جعفر بن محمد له خوا تر درېو کالو پورې.
۱۸-مهدي بن حماد ذهلي د هارون له خوا د جماديالأولی په نیمایي کې ۱۷۲س.
۱۹-منذر بن اسد ازدي، محرم ۱۷۵-۱۷۶س.
۲۰-عبدالله بن ربیع، محرم ۱۷۶س او عبدالله بن حمید خزاعي ربیعالأول تر پنځه نیمو میاشتو پورې.
۲۱-اسماعېل بن عزوان کلبي ۱۷۸س.
۲۲- محمد بن عبدالله بحتري ۱۷۹س دوه میاشتې. هشام بن ابي هیثم او حسن بن ثابت ۹ میاشتې.
۲۳-عمرو بن یزید ازدي ۱۸۰س حسن بن ثابت امنیه قوماندان.
۲۴-حسن بن علي بن عیسی، جماديالاولی ۱۸۲س.
۲۵- مشمرح بن شمر دوهم ځل د هارون له خوا د ۱۸۳س په صفره کې، تر یو کال او اووه‌و میاشتو پورې.
۲۶-ابراهیم بن محمد شیباني ۱۸۴س.
۲۷-سیف بن کثیر قرشي ۱۸۶س په همدې کال کې ابراهیم بن محمد شیباني دوهم ځل.
۲۸-مشمرح بن شمر درېیم ځل ۱۸۷س، هغهٔ محمد بن اسحق بن شمر خپل ځایناستی کړ.
۲۹-حسین بن مصعب بن زریق ۱۸۹س هغه څو ورځې وروسته خپل زوی طاهرپوشنګی پر هرات خپل ځایناستی کړ.
۳۰-عبدالله بن ابي نصر د هرثمه بن اعین له خوا ۱۹۰س تر دهٔ وروسته احمد بن معصب.
۳۱- حسین بن مصعب دوهم ځل د هارون خلیفه له خوا ۱۹۳س، دهٔ خپل زوی هارون پر هرات ځایناستی کړی و. حسین د عمر تر پای پر هرات والي پاتې شو او په ۱۹۹س کې په هرات کې ومړ. تر هغهٔ وروسته یې زوی هارون د هرات واکمن، د هغهٔ له خوا عثمان بن زیاد حاکمي کوله.
۳۲-الیاس بن اسد ساماني ۲۰۴س.
۳۳-عبدالله بن طاهر ۲۰۴ س[۱] تر دهٔ وروسته د خراسان ټوله پاچاهي په طاهریانو پورې اړونده شوه.

---

[۱] - د هرات د والیانو دا لیکلړ د مجمل فصیحي د لومړي ټوک له ۱۹۹-۲۷۴ مخ پورې ترتیب شو.

# څلورم څپرکی

## د افغانستان اقتصادي، ټولنیزه، اداري، فکري، علمي او ادبي اوضاع

## د اسلام د خپرېدو په لومړۍ دوو پېړیو (۱- ۲۰۰س= ۶۲۲- ۸۱۵ز) کې

اقتصادي سرچینې – کرنه او صنعت – سوداګري – سیکې – وزنونه او پیمانې – اداره او دولتي تشکیلات – لښکري تشکیلات – ډاک او لارې – ټولنه او پرګنې – ښځې – د خلکو د ژوندانهٔ ډول، دودونه او ځېرې – جامې – وختونه او کالیز – اخترونه او ځانګړې ورځې – ودانۍ، ماڼۍ او ښارونه – خیریه ودانۍ – جوماتونه – فرهنګ: فکر، علم و ادب – مذهبونه او ډلې.

## (۱)

# اقتصادي سرچينې

له دې سرليک څخه موخه د ټولې هغې اوضاع ځرګندونه ده، چې په اقتصاد، د اقتصاد په څانګو، ماليې، کرنې، سوداګرۍ، صنعت، انرژۍ، څاروي روزنې او نورو پورې اړه لري.

ځرنګه چې دا خاوره په ختيځ کې د هند و چين د پراخو هېوادونو او په لوېديځ کې د پارس، کوچنۍ اسيا او عربي هېوادونو تر منځ پرته ده، په شمال کې يې هم د جيحون تر لويې ناوې بلې غاړې ته د خوارزم او سغد آبادې سيمې پرتې وې؛ نو همېشه د سوداګريز لېږد رالېږد ګودر و. د ورېښمو پخوانۍ لاره هم له دې خاورې تېرېده، چې د هند و چين سوداګريزې جوپې يې لوېديځو هېوادونو پارس، عراق، کوچنۍ آسيا او ختيځ روم ته رسولې.

ځرګنده ده چې د افغانستان کرنيزه وضع هم د پراخو ځمکو، ځپاندو سيندونو، د اوبو د سرچينو، برابرې هوا او پوره وګړني ځواک له امله ښه وه؛ نو ډول ډول سوداګريز او غذايي پيداوار يې درلودل. دې وضعې طبعاً د ولس او هېواد مالي او اقتصادي بنسټ ټينګاوۀ.

د ۶۰ س= ۶۷۹ز کال شاوخوا د حضرت‌معاويه په واکمنۍ کې د اموي دربار حاکم عبيدالله بن‌ابي بکر د کابل او زابل يعني د سند او هلمند د ناوو تر منځ سيمې له واکمن (رتبيل) څخه حق‌الصلح يو مليون درهمه واخيستل. بيا هم بل رتبيل په بُست کې، عبدالله بن‌اميه ته د ۷۴س=۶۹۳ز په شاوخوا کې يو مليون درهمه ورکړل.[۱]

---

[۱] - فتوح‌البلدان د بلاذري تر ۴۹۱ وروسته. مقريزی وايي د هرو لسو درهمو وزن د سپينو زرو له شپږو تر اوو مثقالو پورې و او که د يوۀ مثقال سپينو زرو قيمت پنځه کاغذي افغانۍ حساب کړو، يو مليون درهمه به له اوسنيو پنځه مليونو افغانيو سره مساوي وي.

د تاريخ سيستان نومورکی ليکوال وايي: چې په رتبيل زور راغی؛ نو يو خروار زر يې ډالۍ ورولېږل او دوه ځله يې په دوه مليونه درمه سوله وکړه. په داسې حال کې چې عبدالله بن‌اميه درې لکه درهمه (کابو يو نيم مليون افغانۍ) ځانته هم له هغهٔ څخه اخيستې وې.[1]

په ۶۰س کال کې مهلب بن‌ابي صفره، د خراسان ځايي اميران د خوارزم په يوهٔ سرحدي ښار کې کلابند کړل او په څو ويشت مليونو خراج او نورو پنځوسو مليونو عوارضو يې ورسره سوله وکړه. د يزيد بن‌معاويه دربار ته يې اويا مليونه درهمه د مروې له پوله‌ساتو سره ولېږل.[2]

د ۱۱۱س=۷۲۹ز شاوخوا د سند عرب حاکم تميم بن‌زيد عتبي، اتلس مليونه طاطري درهمه د سند خزانې ته راټول کړل.[3] له همدې روپو د رتبيل او د خراسان د دهقانانو د خزانې مالي وضع سنجېدلای شي، چې په لږ وخت کې لس مليونه افغانۍ د زابل د رتبيلانو او ۷۰ مليونه له خراسان څخه عربو سوبمنو ته حق‌الصلح ورکړی شوې دي.

د امويانو او عباسيانو په پېر کې د خراسان مالي وضع ښه شوه او دا ولايت د عربي چارواکو له مهمو مالي سرچينو څخه و. طبري وايي په ۱۲۰س= ۷۳۷ز کال کې يواځې د هرات دهقان په بلخ کې عربي حاکم اسد بن‌عبدالله ته د يو مليون درهمو (= پنځه مليونه افغانيو) ډالۍ وړاندې کړې. په هغو کې د سرو او سپينو زور دوه ککوړي، د سپينو او سرو زرو کوزې، مروي، قوهي او هروي ورېښمين ټوکران او د نږه سرو زرو بنګړي وو. دې ډاليو د کور غولی ډک کړی و.[4]

---

[1] - تاريخ سيستان ۱۰۸.

[2] - طبري ۴/ ۳۶۲.

[3] - فتوح‌البلدان ۵۴۲.

[4] - طبري ۵/ ۴۶۵.

دا د یوهٔ هراتي دهقان ډالۍ وې، چې په بلخ کې یې د یوهٔ عرب حاکم دربار ته وړاندې کړې او ګرانبیه مالونه د پنځه ملیونو په ارزښت وو. عربي واکمنو تل له خراسان څخه نفیسې او ګرانبیه شتمنۍ تر لاسه کړي دي، داسې چې د اسلام د خپرېدا د لومړیو په خراسان کې د امویانو په پېر کې د ٦٣س= ٦٨٢ز شاوخوا د یزید بن‌معاویه د دربار له خوا د عربو مشهور او سخي حاکم طلحة‌الطلحات خزاعي په سیستان کې والي و، ابوالاسد نومی شاعر ورته راغی او د هغهٔ په ستاینه کې یې څو بیته وویل، د طلحه په لاس کې دوه قیمتي یاقوت وو، چې یو یې په یو لک درمه (اټکلاً پنځه لکه افغانۍ) پېرلی و، نوموړي شاعر ته یې وباخښهٔ، شاعر هغه عراق ته یووړ او په یو لک شل زره درهمه یې وپلورهٔ.[1]

د حضرت‌معاویه د پېر - چې عبدالرحمن بن‌زیاد د خراسان حاکم و- یوه ډېره په زړهٔ پورې کیسه مشهوره ده چې ګردېزی یې داسې رااخلي:

«نو معاویه خراسان عبدالرحمن بن‌زیاد ته ورکړ، عبدالرحمن له خراسان څخه اتیا ځله یو ملیون درمه راټول کړل. حجاج بن‌یوسف ترې هغه ټول بېرته واخیستل او ملنګ یې کړ، مالک بن‌دینار وویل: عبدالرحمن په خپل سل کاله ژوند کې بې له لګښت او سینګاره، هره ورځ زر درمه جوړ کړي وو؛ خو حجاج هغه داسې ځای ته ورساوهٔ چې یوه ورځ پر خرهٔ سپور و، مالک ترې پوښتنه وکړه: ستا هغه ټول مال څرنګه شو؟ ویې ویل: لاړ او دا خر مې هم د بل چا راوستی دی.»[2]

له هغه وطنه چې یو والي یې په کم وخت کې اتیا ملیونه درهمه (کابو څلور سوه ملیونه افغانۍ) راټولولای شي، نو اټکل ترې کېدای شي چې د هغهٔ د ولس اقتصادي وضع څومره شتمنه وه!

---

[1] - تاریخ سیستان ۱۰۳.

[2] - زین‌الأخبار، خطي ٦١ الف پاڼه.

د ۱۰۷س= ۷۲۵ز شاوخوا د اموي هشام بن‌عبدالملک په پېر کې په ختیځ ولایت سند او د خراسان په ګاونډیو سیمو کې، جنید بن‌عبدالرحمن مري والي و، د روپو په ډالۍ کولو او بخښلو کې مشهور شو؛ خو له بدخرڅۍ او اسراف سره سره یې په خزانه کې څلوېښت ملیونه درهمه (کابو دوه سوه ملیونه افغانۍ) پاتې وو. کله چې بیا وروسته تمیم بن‌زید عتبي د سند حاکمۍ ته راغی، په خزانه کې یې اتلس ملیونه درهمه (کابو ۹۰ملیونه افغانۍ) پرتې وې.[1] یعقوبي وایي: همدې جنید د محاسبې په خپل دفتر کې ثبت کړي وو چې: له سند نه یې شپږ لکه پنځوس زره مریان، اتیا ملیونه درهمه (کابو ۴۰۰ ملیونه افغانۍ) وړې دي.[2]

له دې ارقامو او شمېرنو چې د تاریخ په پاڼو کې خپاره واره پاتې دي، ښه ترا څرګندېږي چې د خراسان خاوره او اړوندې سیمې یې له اقتصادي اړخه ډېرې شتمنې وې. د عباسي دولت د ټولو عوایدو او مالیو درېیمه برخه له دې ځایه پوره کېده، ان مقدسي د خراسان د خاورې د آبادۍ په اړه وایي:

«موږ د بغداد غوندې ښارونه لرو، په داسې حال کې چې په خراسان کې تر دې ښارونو لوی کلي شته دي.»[3]

د خلیفه‌ګانو په نظر د خراسان مالي ارزښت دومره و چې ډېرو عباسي خلیفه‌ګانو خپل هېواد یواځې خراسان ګاڼه. کله چې یې عباسي خلیفه مامون ته د خراسان د حاکم غسان بن‌عباد استعفی ورسوله، مامون په هېښتیا وویل: «نه پوهېږم ولې دې ناپوه له خراسان څخه استعفی ورکړې ده؟ په داسې حال کې چې زه په خپل هېواد کې بې له خراسانه بل ځای نه پېژنم.»[4]

جرجي زیدان وایي: د خراسان مالیې تر څلوېښت ملیونو درهمو پورې رسېدې او دا مالیې د عراق د خراج په ګډون، د عباسي هېواد د ټولو مالیو نیمایي وې. نو عباسي

[1] - فتوح‌البلدان ۵۴۱ او ۵۴۲- تاریخ‌الیعقوبي ۲/ ۳۱۷.
[2] - تاریخ‌الیعقوبي ۲/ ۳۱۷.
[3] - احسن‌التقاسیم ۱۲۲.
[4] - تاریخ‌الیعقوبي ۲/ ۴۵٦.

خلیفه‌ګانو همېشه خراسان ته پاملرنه درلوده او ویل یې:«عراق یواځې د مال لپاره دی، خو خراسان هم مال لري او هم سړي.»[1]

## خراج او مالیې

لکه چې ومو ویل اسلامي سوبمنو په خراسان کې له ځایي حاکمانو او واکمنانو سره، د ټاکلو نقدي روپو په اخیستلو سوله کوله. هغوی کله کله هم د کلني نقدي او جنسي خراج لکه مریانو، اسونو، څارویو او نورو په منلو ځان له جنګ و یرغله ژغوره.

دا روپۍ چې هر کال له ځایي واکمنو اخیستل کېدې، د عربي حاکمانو په ځواک او پیاوړتیا پورې یې اړه درلوده. په دې معنی چې: که عرب حاکم به پیاوړی و او د ځایي واکمنو د ځپلو توان به یې درلود، هغوی به له عرب لښکر څخه د ځان‌ژغورنې لپاره، همېشه چوپتیاحق (حق‌السکوت) ورلېږه او که نه نو د مؤرخانو په اصطلاح «سرغړوونکي» وو.[2]

خو د امویانو او عباسیانو په پېر کې خراسان او څلورګوني ښارونه یې نیشاپور، مروه، هرات او بلخ د عربي ځواکونو پنډغالي او مرکزونه وګرځېدل. حسابي حکومتونه چې اداره، دفتر، محسابه او تشکیلات یې لرل په دې خاوره کې د عربو تر لاس لاندې جوړ شول.

وایي اموي چارواکو د خراج په راټولو او اخیستو کې تل له خلکو سره بېلاري او سختي کوله، په جبر او زور به یې زیات اخیستنه کوله؛ نو خلکو یې پرضد پاڅونونه کول، د بزګرۍ او ودانۍ کار به پاتې و، نو زیاتره کرنیزې ځمکې شاړې او ویجاړې وې.[3]

په هر صورت د اموي اسلامي دولت مالي مرکز«بیت‌المال» و، چې هغه د اوسمهال د مالیې وزارت انډول ګڼلای شو او څوک چې به د بیت‌المال مشر او مامور و، د اوس وخت د مالیې د وزیر مقام یې درلود. بیت‌المال په لاندېنیو سرچینو بډای و:

---

[1] - تاریخ‌التمدن الإسلامی ۲/ ۸۰.

[2] - وګ: لومړی څپرکی، د رتبیلانو احوال.

[3] - تاریخ‌التمدن الإسلامی ۲/ ۷۶ د الفخري په حواله.

خراج – جزيه- زكات- غنيمت – فئ – عشرونه.[۱]

امويانو د هغو مالونو کچه زياته کړه چې د راشده خليفه‌گانو پر مهال په پورتنيو نومونو اخيستل کېدل. د ماليې اخيستنې د څارنې او ادارې لپاره يې دقيق نظام رامنځ ته کړ، ان د عبدالملک بن‌مروان د گوښه شويو مالي مامورينو د کړنو د څېړنې لپاره د «دارالاستخراج وضع» په نامهٔ اداري رامنځ ته کړې چې له مالي دندې د گوښه کېدو پر مهال به يې د هغهٔ د کړنو پلټنه او څېړنه کوله.[۲]

خو عباسيانو د ظلمونو مخنيوی، ښارونه آبادول او د بزگرو ملاتړ پيل کړ او د بلوسگرو چارواکو لاسونه يې د ولس له گرېوانه وايستل. عباسي خليفه منصور خپل ډېر چارواکي ورټل او مصادره يې کړل او هغه څه يې ترې بېرته واخيستل چې له ولس څخه يې په زور او ظلم اخيستي وو، هغه يې د «مظالمو د مال کور» په نامهٔ ځانگړي بيت‌المال ته ورسپارل.[۳]

تر هغه ځايه چې څرگنده ده د عباسي پېر په لومړيو يعني د دويمې لېږدې پېړۍ په سر کې خراج او ځمکني ماليات په درې ډولو اخيستل کېدل:

۱- محاسبه يا مساحه: چې د کرنيزې ځمکې د پراخوالي له مخه به نقدي يا جنسي او يا دواړه اخيستل کېدل، چې اوس يې «جريبي» بولو.

۲- مقاسمه: چې د ځمکې د محصولاتو او پيداوار له اندازې به اخيستل کېده.

۳- مقاطعه: چې د ماليې په اړه به د حکومت او د ځمکې د واکوال (متصرف) تر منځ هوکړه کېده او مقاطع يا د ځمکې واکوال به هماغه روپۍ ورکولې او په ځمکه کې به يې مالکانه واک درلود.[٤]

د عباسي پېر په منځ کې د خراسان د ځمکو د اندازې کار پيل شو، د محاسبې له مخه به يې ماليه ټاکل کېده، لکه چې د المهدي په پېر ۱۶۵س= ۷۸۱ز کال کې د شوان کلي حنان بن‌نعمان سعدي، د فضل بن‌سلېمان په امر د هرات د ځمکو د اندازه کولو کار پيل

---

[۱] - النظم‌الإسلاميه تر ۲٦٥ وروسته.

[۲] - پورتنی اثر، ۲۷۰.

[۳] - تاريخ‌التمدن الإسلامی ۲/ ۷٦ د ابن اثير په حواله.

[٤] - تاريخ الإسلام السياسي ۲/ ۲۲۳.

کړ او د ربيع‌الأول په نيمه کې هرات ته رسېدلی و.[1]

د هارون‌الرشيد په پېر کې کله چې علي بن‌عيسی بن‌ماهان تر ۱۸۰س= ۷۹۶ز وروسته لس کاله د خراسان حاکم و، د هغه منشي حفص بن‌منصور مروزي چې يو د معلوماتو څښتن خراسانی و، خراج‌خراسان کتاب يې تأليف کړ،[2] چې د دې خاورې د خراج اندازه، مقدار او ډولونه يې په کې ثبت او شرحه کړي وو. له بده مرغه چې دا کتاب له منځه تللی؛ نو ځکه موږ اوس د دې مسألې د جزياتو په اړه معلومات نه لرو؛ خو په همدې پېر کې حضرت ابويوسف يعقوب بن‌ابراهيم انصاري (۱۱۳- ۱۸۳س) چې مشهور فقيه، د امام ابوحنيفه شاګرد او د هارون د دربار قاضي و، خپل کتاب‌الخراج يې ليکلی و.[3]

که څه هم چې د مروزي خراج‌خراسان کتاب اوس په لاس کې نه‌شته، خو په يوه وخت کې پر يوې موضوع د دوو مؤلفانو له تأليف څخه څرګندېږي چې پر دې پېر د خراسان خراج د نورو عباسي ولايتونو د خراج غوندې بشپړ سم، څارل شوی او کره شوی و، هغه څه چې فقيه ابويوسف په عراق کې وليکل، مروزي منشي هماغه کار د خراسان لپاره وکړ.

د قاضي ابويوسف په اند درې څيزونه د عباسيانو د بيت‌المال سرچينې وې:

۱- **د غنيمتونو پنځمه**: د غنيمتونو د مالونو په پنځه‌و کې يوه برخه چې بيت‌المال ته رسېده.

۲- **خراج**: يعنې د کرنيزو ځمکو ماليه، د ذميانو ګزيت (جزيه) او عشرونه (لسمه برخه).

۳- **صدقې**:[4] په اسلامي پېر کې چې له اسلامي فقهې سره سم ځانګړی مالي نظام ترتيب او پلی شو، بيت‌المال په ټولو ولايتونو په تېره خراسان کې موجود و او د هغو مالونو زېرمه‌تون يې ګڼڼه، چې مسلمانان يې مستحق وي؛ خو څښتن يې ځانګړی نه وي. دا مالونه همېشه د مسلمانانو پر ښېګڼو لګېږي.[5]

---

[1] - مجمل فصيحی ۱ /۲۳۳.

[2] - زين‌الأخبار، خطي ۷۹ الف مخ.

[3] - د قاهرې چاپ، ۱۳۶۴س.

[4] - تاريخ امم اسلاميه، د خضري تر ۱۸۸ وروسته.

[5] - تاريخ‌التمدن الإسلامی ۱/ ۱۶۳.

په اسلامي فقه کې د بیت‌المال حقیقي سرچینې دا دي:
(۱) صدقه (۲) غنیمت (۳) فئ (۴) خراج

**۱- خو صدقې**

د زکات مالونه دي چې له شتمنو څخه اخیستل او بېوزلو ته ورکول کېږي. د دې شرعي کار- چې قرآن‌کریم یې د ادا کولو حکم کوي- د ادارې او ترتیب لپاره د خلافت په مرکز کې د صدقو اداره او په ټولو ولایتونو کې یې څانګې وې. د اسلامي فقهې د حکم له مخه زکات یې له څارویو، زرو، مېوو او څمکنیو فصلونو څخه د حضرت پېغامبر ﷺ د امر له مخه ورکاوۀ. دا ترتیب حضرت ابوبکر رضي الله عنه په یوۀ لارښودلیک کې بحرین ته د حضرت‌انس د لېږلو پر مهال لیکلی او نبوي مهر یې پرې لګولی و.[۱]

پر اس، سورلۍ او خرۀ زکات نه وي. په یوۀ کال کې د مالونو او څارویو یعنې د څرېدونکو اوښانو، ګډو او غواوو د زکات لنډیز داسې دی:

**د اوښانو زکات**

له ۵ اوښانو یو مږ، له ۱۰ دوه، او له ۱۵ درې، له ۲۰ څلور، له ۲۵ یوه یو کلنه اوښه، له ۳۶ یوه دوه کلنه اوښه، له ۴۶ یوه درې کلنه اوښه، له ٦۱ یوه څلور کلنه اوښه، له ۷٦ تر ۹۰ دوې دوې کلنې اوښې، له ۹۱ تر ۱۲۰ دوې درې کلنې اوښې او تر ۱۲۰ وروسته زکات له سره پیلېږي.

**د ډنګرو (غواوو او غویانو) زکات**

پر ۳۰ ډنګرو یو یوکلن ډنګر، پر ۴۰ ډنګرو یو دوه کلن ډنګر، له ۴۰ تر ٦۰ پر هر سر د یوۀ دوه کلن ډنګر د قیمت څلوېښتمه برخه، له ٦۰ څخه دوه یو کلن ډنګران، له ۷۰ یو یوکلن او یو دوه کلن ډنګران، له ۹۰ درې یو کلن ډنګران، له ۱۰۰ دوه یو کلن ډنګران او یو یو کلن‌ډنګر، تر دې‌وروسته پر هرو دېرشو او څلوېښتو حسابېږي.

**د څارویو زکات**

له ۴۰ یو څاروی، له ۱۲۱دوه څاروي، له ۲۰۰ درې څاروي، له ۴۰۰ څلور څاروي؛ تر

---

[۱] - وګ: تیسر الوصول ۲/ ۱۲۲ او هدایه کتاب الزکاة، د حنفي فقهې او نور.

دې وروسته په هرو سلو يو څلوی.

**د سرو او سپينو زرو زكات**

د سرو زرو نصاب ۲۰ مثقاله او د سپينو زرو ۲۰۰ شرعي درمه دی. هر درم اووه مثقاله کېږي او هر مثقال ۲۰ قيراطه=۲۴ نخوده دی. هر قيراط پنځه منځنۍ وربشې وي.

له هرو شلو مثقالو سرو زرو نيم مثقال او له هرو دوو سوو درمو سپينو زرو ۵ درمه زكات وركول کېږي. تر دې وروسته په هرو څلورو مثقالو سرو زرو کې دوه قيراطه او په هرو څلوېښتو درمو کې يو درم زكات فرض دی.

**د كانونو زكات** [1]

تر ځمکې لاندې مالونه، که طبيعي يا خَلقي وي، کان دی او که مخلوقي وي نو خزانه ده. د سرو او سپينو زرو، اوسپنې، سيمابو له کان څخه چې په خراجي ځمکه کې پيدا شي، پنځمه برخه (خمس) اخيستل کېږي. که دا کان په دارالحرب کې وي؛ نو ټول د موندونکي دی. پر فيروزې، مرغلرو او عنبرو زكات نه‌شته. له ښخې شوې خزانې هم خمس وركول کېږي.[2]

**د مېوه‌يي بڼونو زكات**

له بڼونو، مېوه‌يي ونو او ځمکې د اوبخور د ډول په توپير زكات اخيستل کېدهٔ. که له باران او ويالو څخه به بې کړاوه او بې اوبو ورستنولو خړوبېدهٔ، زكات يې عشر (له لسو يو) و او که د خلکو په کړاو او سترېا به خړوبېدهٔ، د عشر نيم زكات به يې وركاوهٔ. دا په هغهٔ صورت کې وو چې د تر لاسه شوې مېوې وزن به پنځه‌و وسقو [هر وسق= ۶۰ صاع، هر صاع= ۵ رطله او له درېو يو (ثلث)] ته رسېدهٔ. د خرما ونې، تاكونه او داسې نور هم په همدې حکم کې وو.[3]

---

[1] - تيسر الوصول ۲/ ۱۲۸.

[2] - د زكاتونو دا شرحه له حنفي مذهب سره سمه ده، چې په خراسان کې عام و، له سراج الاركان څخه لنډون تر ۱۰۷ وروسته، د كابل د عالمانو د يوهٔ پلاوي تأليف ۱۳۳۴س چې له معتبرو حنفي کتابونو يې راخيستې ده. همدارنگه وگ: د ماوردي احكام‌السلطانيه د ۴۵۰س شاوخوا ۱۱باب تر ۱۱۳ مخ وروسته.

[3] - تاريخ‌التمدن الإسلامی ۱/ ۱۶۴.

**د غلو دانو زکات**

لکه د غنمو، وربشو، وریجو، لوبیاوو، چنو او داسې نورو هغه مهال واجبېدهٔ چې د پیداوارو وزن به پنځه وسقو ته ورسېد. زکات یې هم د مېوو په څېر و.[1]

هغه روپۍ چې د صدقو اداره کې راټولېدې د صدقو مامور په څارنه تر دوو سوو پورې د هغو پر اتو مستحقو پوړونو وېشل کېدې، چې په قرآنکریم[2] کې د فقیرانو مسکینانو، د صدقو د مامورینو، مؤلفه‌قلوبو، آزادېدونکو مریانو، پوروړو، غازیانو، مجاهدینو او مسافرو په نومونو یاد شوي دي. د صدقو مامور تر نورو مالي کارمندانو زیات واک درلود چې دا روپۍ بې د خلیفه له ځانګړې اجازې ولګوي. په داسې حال کې چې نورو مامورینو بې د خلیفه، والي او وزیر له اجازې د بیت‌المال په روپو کې‌د لاسوهنې آزادانه حق نه درلود. قاضي ابویوسف په کتاب‌الخراج کې څرګنده کړې ده، چې له فقیرانو څخه موخه مسلمانان او له مساکینو څخه موخه اهل‌ذمه (نصارا او یهود) بېوزله دي.[3]

**۲- د غنیمت مالونه**

د اسلامي بیت‌المال دویمه مالي سرچینه هغه مالونه وو، چې مسلمانانو به په جنګونو کې تر لاسه کول او هغه څلور څیزونه وو: بندیان، مریان، ځمکه او مالونه.

جنګي بندیان به د فدیې په ورکولو سره آزادېدل؛ خو ښځې او کوچنیان یې هغه مریان وو، چې وژنه یې جایزه نه وه او د فدیې په منلو آزادېدای شول. نیولې ځمکې هم د حضرت‌عمر رضي الله عنه په امر خپلو څښتنانو ته د خراج په ورکولو سپارل کېدې چې شرحه به یې راشي.

خو د غنیمت لېږدوړ مالونه د قرآنکریم د آیت له مخه پر پنځه‌و برخو وېشل کېدل[4] چې څلور برخې یې د جنګیالیو خپلې او پنځمه (خمس) یې د پېغامبر ﷺ وه او هغه به هم پر

---

[1] - تاریخ‌التمدن الإسلامی، ۱/ ۱۶۴.
[2] - قرآنکریم، سورة التوبة، ٦٠ آیت او ماوردي ١٢٢.
[3] - تاریخ‌التمدن الإسلامی ۱/ ۱٦٥.
[4] - قرآنکریم، سورة الانفال، ۴۱ آیت.

پنځه‌و مستحقو ډلو وېشل کېده:

۱- په خپله حضرت پیغامبر، مېرمنې یې او د مسلمانانو عامه ښېګنې.

۲- د حضرت رسول خپلوان له بني‌هاشم او آل عبد مناف څخه.

۳- د یتیمو مریانو او وینځو په ګډون اړمن یتیمان.

۴- بې بسایني بېوزلان.

۵- لاروي او بې سرپناه مسافر.[۱]

**۳- فئ:**

په اسلامي شرع کې فئ هغه مال دی چې له نامسلمانو څخه بې جنګه، د بخښنې او سولې په حالت کې اخیستل کېږي. جزیه، خراج، عشر او نور په کې شامل دي. وېش یې هم لکه د غنیمتونو په پنځه‌و برخو دی، چې له پنځه‌و یوه یې د حضرت رسول‌الله ﷺ په ژوندانۀ کې د هغۀ وه؛ خو د هغۀ تر رحلت وروسته د بیت‌المال حق شو. د اسلام د خپرېدو په لومړیو کې به هغه د اسلامي لښکریانو، مهاجرو او انصارو تر منځ برابر وېشل کېدۀ؛ خو حضرت‌عمر رضی الله عنه د دې مالونو لپاره اداره رامنځ ته کړه، د لښکریانو حقوق یې وټاکل چې له بیت‌المال څخه به ورته ورکول کېدل.

د فئ د خزانې یوه سرچینه د جزیې په نامۀ روپۍ وې چې له ټولو نامسلمانو نرینه‌وو (بې له شېخ فاني، ښځې او کوچني) د نصاراوو، یهودو، مجوسیانو او عجمو بت لمانځونکو (بې له عرب بت لمانځونکو او مرتدانو) اخیستل کېدې.

د جزیې اخیستلو دا دود له پخوا څخه په نورو ملتونو کې هم و، په پنځمه مخزېږدې پېړۍ کې د آتن یونانیانو د کوچنۍ آسیا د څنډو پر اوسېدونکو جزیه ایښې وه. بیا رومیانو له خپلو لاس لاندې ملتونو څخه جزیه اخیستله. ان ابن‌اثیر وایي د نوشېروان په پېر کې یې له عامو خلکو د هغوی د وس په کچه ۱۲یا ۸ یا ٦ یا ۴ درمه اخیستل. عربي ته د جزیې نوم هم له پارسي ګزیت څخه ورغلی دی.

حضرت‌عمر رضی الله عنه د جزیې اخیستنې درجې داسې ټاکلې وې، چې امام ابوحنیفه هم د

[۱] - تاریخ‌التمدن الإسلامی ۱/۱٦٦ او ماوردي ۱۲۷.

هغو امر کړی دی:

له شتمنو او وس‌والاوو ۴۸ درمه د کال چې څلور درمه به یې میاشت کې ورکول.

له منځنیو خلکو ۲۴ = = دوه = = = =

له بېوزلو او غریبو ۱۲ = = یو = = = =[1]

[1] - تاریخ‌التمدن الإسلامی ۱/ ۱۷۰ او ماوردي ۱۴۴.

## (۴)

## د اسلامي دولت خراج او مالي سرچينې

په پخوانیو مدنیتونو کې انسانانو ځمکه د حکومتونو او د هېواد د مشرانو ملکیت ګاڼۀ. د تورات په روایت د پخواني مصر ځمکې د فرعونانو ملکیت و. لرغونو جرمني قومونو هم خپلې ځمکې د خپلو واکمنانو او مشرانو ګڼلې. تاتاريانو ولس ته د څارويو او سپرليو درلودل جايز ګڼل؛ خو ځمکې يې د افرادو حق نه ګاڼۀ.

څرنګه چې پخوانی انسان په دې ګروهه و، چې د ځمکې حقيقي څښتن د قبيلې مشر يا حکومت دی؛ نو که څوک په کې برخوال کېږي او له فصل نه يې ګټه اخلي، بايد د ګټې څه برخه يې حکومت يا مشر ته ورکړي.

په زياترو پخوانيو آريايي قبيلو کې ځمکه عمومي ملکيت و او مشرانو به د څه وخت کرنې او ګټې اخيستې په پار د يوۀ يا څو کالو لپاره وېشله، چې دا دود تر اوسه هم د پښتني غرنيو سيمو په ځينو قبيلو کې شته. په اتمه او نهمه لېږدې پېړۍ کې د يوسفزو پرګنو روحاني مشر- شېخ ملي د پېښور او شمالي سيمو ځمکې تر سوات او سند سيند پورې په همدې اصولو پر پرګنو وېشلې وې.

په ټولو پخوانيو ملتونو لکه روميانو پارس - مصر - عراق - هند - چين او نورو کې حکومت له کرنيزو ځمکو د ماليې اخيستنې حق درلود. کله چې عربو اسلامي حکومت جوړ کړ، حضرت عمر رضي الله عنه په مدينه کې د لښکر، ماليو او نورو ادارې جوړې

کړې. څرنګه چې د امویانو په پېر کې اسلامي سوبې پراخه شوې، عبدالملک بن مروان د ۸۱ س=۷۰۰ ز شاوخوا حکومتي اداري عربي ژبې ته واړولې او عباسیانو هم د خراج او مالیو مرکزي اداره د خلافت په کرسۍ کې رامنځ ته کړه. لومړی ځل د لومړي عباسي خلیفه سفاح په پېر کې بلخي خالد بن برمک (د هغو تجربو له مخه چې د خراسان د اداري او مالي اوضاع په اړه یې درلودې) د هغو پر وزارت او مشرۍ مقرر شوی و. تر هغهٔ وروسته هم د هغهٔ زوی یحیی همدا دنده درلوده. یحیی د المهدي په ورځو کې د پارس د خراج اداري تنظیم او د هغو مالیې یې ثبت او وټاکلې.[1]

امویانو د اسلامي سوبو لمنه ختیځ لور ته د سند تر څنډو او شمال لور ته د سغد تر لیرې پرتو سیمو او د چین تر پولو پورې وغځوله. دې خاورې تر اسلامي سوبې د مخه څه ناڅه د پارس په ساساني پاچاهانو او څه په ځایي پاچاهانو او واکمنانو پورې اړه درلوده.

د هغو ملکي تشکیلاتو له مخه چې د ساسانیانو د پېر تر وروستیو او د لومړۍ لېږدې پېړۍ په لومړۍ نیمایي کې د هغوی تر لەمنځه تګ پورې په خراسان کې وو، د مالیې وزیر، د مالیې، کرنیزو چارو او صنایعو مسوول ته یې «واستریوشان سالار» وایهٔ. د هغهٔ په امر به په هر ولایت کې یو کس محاسب مستوفي ګومارل کېدهٔ، چې هغه به یې "شهرپو آمارکار" بالهٔ. د ځمکو د مالیې او د شخصي یا سرانه جزیې راټول د هغهٔ دنده وه.

له کرنیزې او آبادې ځمکې به یې د هغې له پیداوارو سره سم له شپږمې تر درېیمې پورې اخیستل. دینوري وایي چې دا اندازه به له لسمې تر نیمې هم رسېدله.[2]

هیونڅانګ د افغانستان په سوېل لوېدیځو ولایتونو کې چې د پو- لا – سي په نامهٔ له اوسني کندهاره پیلېدل، د یو ډول ګزیت (جزیه) یادونه کړې، چې د کورنۍ هر غړي به د سپینو زرو څلور سیکې حکومت ته ورکولې[3] له دې معلومېږي چې د زابل پاچاهانو او رتبیلانو له خپل رعیت څخه د څلورو درهمو (اټکلاً د شل افغانیو) په اندازه سړي سر مالیه (جزیه) اخیسته.

---

[1] - تاریخ التمدن الإسلامی ۱/ ۱۷۱.

[2] - ایران عهد ساسانی، اردو ژباړه ۱۶۰.

[3] - سي. یو. کی، ۱۱ کتاب، د پو – لا – سي څپرکی.

په ساساني رژیم او د افغانستان د لوېديځ په سیمه‌ییزو پاچاهانو کې د مالیې ورکولو دود دا و، اوس یې په ختیځو ولایتونو کې څېړو چې د اسلام د راتګ پر مهال په بشپړ ډول د سیمه‌ییزو پاچاهانو او واکمنو تر اداري لاندې اوسېدل:

د مخه مو وویل چې د افغانستان د ختیځ رتبیلانو او نور ځایي واکمنو څو څو ځله ملیونونه درهمه د حق‌الصلح په ډول اسلامي لښکرکښانو ته ورکړي دي، نو له دې معلومېږي چې د نغدو ډکې خزانې یې درلودې.

چینایي سیلاني هیونڅانګ چې د ۹س= ۶۳۰ز کال په وروستیو کې د کابل د شمال له کاپیسې څخه لغمان، ننګرهار او ګندهارا یعنې د هند ګاونډیو ځمکو ته ورتېر شوی و، د دې سیمې د اداري او مالیاتي اوضاع په اړه وایي:

«دلته جبري کار نه‌شته، مالیې هم لږې اخیستل کېږي. هغه خدمتونه هم عادلانه دي، چې ولس یې باید د اړتیا پر مهال تر سره کړي. ټول ولس یې د خوړو ترلاسي لپاره په کرنه بوخت دی. هغه کسان چې پاچاهي ملکیتونه کري، د ځمکې د پیداوارو شپږمه برخه خراج ورکوي. سوداګر تل د راکړې ورکړې لپاره سفرونه کوي. د پلونو، سیندونو، ټکسونو او حق‌العبور ډېره لږه مالیه اخیستل کېږي. دولتي کارونه په ولسي ـ اشر کېږي. د کار په اندازه معقوله باړه (اجوره)ورکوي. حاکمان، وزیران، قاضیان او دولتي مامورین د ژوندانۀ د لګښتونو لپاره ځانګړې ځمکې لري.»[1]

د هیونڅانګ له دې مهمو تشرېحاتو څرګندېږي، چې ولس د ځمکې د ملکیت حق درلود او د ځمکې ډېره لویه برخه د ولس ملکیت و. د کرنیزې ځمکې یوې برخې پر خول او پلاز اړه درلوده، چې بزګرانو به یې د پیداوارو شپږمه برخه دولت ته ورکوله. دولتي مامورینو پر نغدي مدد معاش سربېره د ګټې اخیستنې لپاره، کرنیزې

[1] - سي. یو. کی، دوهم کتاب، ۱۶ سرلیک.

ځمکې هم درلودې. دولت د ځمکې پر خراج سربېره نورې کوچنۍ ماليې لکه پر پلونو، سيندونو او سرکونو د تېرېدنګ‌حق اخيست. له سوداګرو يې هم مالياتي ټکسونه اخيستل.[1]

نو په افغانستان کې د خراج او ماليې ټولونې دود تر اسلام د مخه زمانو کې هم و، خو د دې ماليو ټوله اندازه نه شو ټاکلای، دا چې طبري وايي: پنځم ساساني پاچاه بهرام (۴۲۰- ۴۳۹ز) د خپلې پلازناستې پر مهال د ولس پر ذمه پاتې اويا مليونه درمه (= اټکل ۳۵۰ مليونه افغانۍ) ماليې بخښلې وې،[2] نو له دې د ماليې رښتينې اندازه اټکلولای شو.

د امويانو اسلامي دولت د حکومتولۍ دودونه، د ماليو اداره، دفترونه جوړول او نور له خپلو مخکنيو او اړوندانو څخه اقتباس کړل، چې له هغې جملې يې د پهلوي خراګ کلمه د خراج په معربه کلمه بدله کړه. دا کلمه پهلوي ته هم له آرامي څخه راغلې وه، چې د تورات په تلمود سفر کې خَرَګا د سرانه يا فردي ماليې په معنی ده. بيا عربو د اتمې زېږدې پېړۍ په لومړۍ نيمايي کې د آرامي او پهلوي ګزيت کلمه په جزيه معربه کړه او له هغې يې د سرانه فردي ماليې معنی واخيستله. خَرَګا يې په خراج واړوله، چې موخه يې ځمکنۍ ماليه ده.[3]

ماوردي وايي په اسلامي فقه کې ځمکه په څلور ډوله ده:

۱- احياءموات: يعنې هغه ځمکه چې کر او راژوندي کول يې د مسلمانانو پر غاړه دي او له هغې دولت ته عشر (لسمه) ورکوي.

۲- هغه ځمکه چې څښتنانو يې اسلام منلی وي، دا هم عشري ځمکه ده.

۳-هغه ځمکه چې مسلمانانو په زور نيولې او غنيمت کړې وي، له دې هم عشر ورکوي.

---

[1] - په ۵۶۲ز کال کې د نوشېروان او د روم د کسرا تر منځ د سولې هوکړه لاسليک شوه، په درېيمه ماده کې يې څرګنده ده چې د روم او ايران سوداګر به سوداګريز مالونه ګمرکونو ته لېږدوي او تر ګمرکي حقوقو ورکولو وروسته به يې پلوري (ساسانيان ۱۶۱).

[2] - ساسانيان ۱۶۰، د طبري په حواله.

[3] - پورتنی اثر، ۱۵۹ د نولدکه د طبري د ژباړې په حواله ۱/ ۲۴۱ او سلطنت عرب د ولهاوزن ۱۷۳.

۴- هغه ځمکه چې د پخوانيو ځښتنانو په لاس کې وي او سوله ورسره شوې وي، که ځښتنانو يې اسلام هم منلی وي دا د خراج ځمکه ده.

حضرت‌عمر رضي الله عنه د خراج اندازه داسې ټاکلې وه:

لومړی: هماغه اندازه چې په ساساني دولت کې اخيستل کېده، پر يوه جريب يا ۳۶۰۰ مربع ذراعو يو درهم او يو قفيز.[۱]

دوهم: د تاکونو او مېوه‌يي ونو په يوه جريب بڼ لس درهمه، د خرما پر بڼ اته درهمه، د گنيو پر فصل شپږ درهمه، د لمدې خرما پر بڼ پنځه درهمه، د غنمو پر کروندې څلور درهمه او پر وربشو دوه درهمه.[۲]

خو په خراسان کې به کله د کرنيزې ځمکې ماليه د اوبخور له مخه هم اخيستل کېده، يعنې هرڅومره اوبه به چې د کرنې ځښتن وکارولې هماغومره به يې خراج ورکاوه. دې دود ته يې پر اوبو خراج وايه، چې د ساسانيانو تر پېره پاتې و، لکه چې د ۳۷۲س په شاوخوا کې د خُلم خراج پر اوبو و.[۳]

د کرنيزو ځمکو پر خراج، عشر، صدقو، جزيو او غنيمتونو سربېره چې يادونه يې وشوه، د اموي او عباسي دولتونو خزانې د کرنيزو ځمکو د عشر، د کانونو، څرځايونو او دارالضرب د پنځمې، د اوبو، مالگې او ځنگلونو د ماليو عايد هم درلود.

حضرت‌عمر رضي الله عنه پر سوداگريزو مالونو چې له نورو هېوادونو رالېږدېدل او يا ورلېږدېدل، گمرگي ماليه چې مکوس يا مقوس يې بالۀ، په دې ډول وضع کړې وه:

له ذميانو (يهود او نصارا) نيم عشر يعنې په هرو شلو درهمو کې يو درهم.

له مسلمانانو د عشر څلورمه يعنې له څلوېښت درهمو يو درهم (چهل يک)

له پرديو اتباعو چې اسلامي اتباع نه وو: پوره عشر (لسمه)

تر ۲۰۰ درهمو کم ارزښته مالونه له دې ماليو معاف وو.[٤]

---

[۱] - د کپيز معرب ۱۲ صاعه اندازه، چې هر صاع ۸ رطله دی؛ خو يو قفيز ځمکه د ۱۴۴ شرعي گزو اندازه ده (غياث) چې ۳۶۰ ذراعه کېږي (ماوردي ۱۵۲)

[۲] - تاريخ‌التمدن الإسلامی ۱/ ۱۷۴، مقريزي ۲/ ۱۱۹ او ماوردي ۱۷۵.

[۳] - حدودالعالم ٦۱.

[٤] - تاريخ‌التمدن الإسلامی ۱/ ۱۷۸.

## د خلیفه‌ګانو په هېواد کې د خراسان
## او اړوندو سیمو خراج

اسلامي هېواد د عباسي خلیفه‌ګانو هارون او مامون په پېر کې خپل وروستي پراخوالي ته رسېدلی و، چې ۲۷ ختیځو او لوېدیځو ولایتونو له ۲۰۰- ۲۵۰ ملیونو پورې نفوس درلود.[۱]

له ختیځو سیمو څخه یې: په دې کرښو کې موږ مکران، طوران، د خراسان صحرا، سیستان، په خپله خراسان او سند تر بحث و مطالعې لاندې نیسو، چې دې سیمو د عربو د سوبو پر وړاندې ګڼ برخلیک درلود او لکه چې ابن‌حوقل نغوته کوي: په خراسان کې داسې سیمې وې چې مالیې به یې ترې په کال کې په یو ځل اخیستې. همدا رنګه به یې له ځینو ځمکو په کال کې دوه ځله اخیسته، لکه هرات.[۲]

د تاریخ له پاڼو څرګندېږي چې عباسي دولت له مخکنیو یادو شویو مالي سرچینو څخه په خراسان او اړوندو سیمو کې لاندیني عایدات درلودلي دي:

**د جهشیاري او ابن‌خلدون د وینا له مخه**

ابوعبدالله محمد بن‌عبدوس جهشیاري (۳۳۱س= ۹۲۴ز شاوخوا) وایي چې د هارون‌الرشید په پېر کې، عمر بن‌مطرف د سرشمېرنې کاتب د بیت‌المال د عایداتو لایحه جوړه او هغه یې یحیی بن‌خالد برمکي ته وړاندې کړه.[۳]

په دې سرشمېرنه کې د عباسي دولت د ټولو ولایتونو د عواید سرشمېرنه ثبت ده؛ خو موږ هغه څه رااخلو چې د خراسان په خاوره او زموږ په بحث پورې اړه لري:

---

۱ - تاریخ‌التمدن الإسلامی ۱/ ۸۳.

۲ - صورة‌الأرض ۴۲۴.

۳ - کتاب‌الوزراء و الکتاب تر ۲۸۱ وروسته.

**۱- خراسان**

۰۰۰، ۰۰۰، ۲۸ درهمه نقد

۰۰۰، ۲ منه د سپینو زرو ټوټې

۰۰۰، ۴ سپرلی

۰۰۰، ۱ مریان

۰۰۰، ۲۷ جوړې جامې

۰۰۰، ۳۰ پیمانې هریړه

**۲- سیستان**

۰۰۰، ٦۰۰، ۴ درهمه نقد (په البلدان کې یعقوبي لس ملیونه درهمه وایي)

۳۰۰ جوړې جامې

۰۰۰، ۲۰ پیمانې بوره

**۳- مکران**

۰۰۰، ۴۰۰ درهمه نقد

**۴- سند او اړوندې سیمې یې:**

۰۰۰، ۵۰۰، ۱۱ درهمه نقد

۳ درې فیلان

۰۰۰، ٦۰۰ جامې او چپنې

۱۵۰ منه هندي عود

۱۰۰۰ جوړې گاوله (پښاک)

دا سرشمېرنه ابن‌خلدون هم په خپله مشهوره مقدمه کې رانقلوي، چې د جهشیاري د څرگندونې له مخه د هارون د خلافت په پېر او د عباسیانو د زور په ورځو ۱۹۰س= ۸۰۵ ز پورې اړه لري؛ خو موږ دلته یواځې د یوې وینا پر ځېړنه نه راځو او نورو کتابو ته هم سر ورښکاره کوو:

### د قدامه بن جعفرد وینا له مخه

د عباسي دربار دا لوړ پوړی بغدادی کاتب چې په ۳۳۷س= ۹۴۸ز کې مړ دی، خپل کتاب الخراج یې د رسمي اسنادو له مخه په ۳۱٦س= ۹۲۸ز کې وکښس چې د عباسي خزانې د ۲۲۵س= ۸۳۹ ز شاوخوا د سولې د وخت مالیات یې په کې شرحه کړل:

له خراسان ۰۰۰، ۰۰۰، ۳۷ درهمه

له سیستان ۰۰۰، ۰۰۰، ۱ درهمه

له مکران ۰۰۰، ۰۰۰، ۱ درهمه [1]

### د تاریخ سیستان د وینا له مخه

د تاریخ سیستان نامعلوم لیکوال (تر ۴۴۵س= ۱۰۵۳ز وروسته تألیف) د سیستان او خراسان د مالیې پخوانی وخت د سولې له مخه لیکي:

د سیستان له کرتانو: بُست، رخذ، کابل، زابل، نوزاد - زمینداور، اسفزار او خجستان: یو ملیون درهمه

خو د سیستان ټول خراج (۰۰۰، ۳۹۷، ۵) درهمه دی، په لاندې شرحه:

۰۰۰، ۳۱۲، ۵ درهمه د خراج ډولونه

۰۰۰، ۸۵ درهمه دولتي ځمکې او جزیه

همدا مؤلف د ټول خراسان مالیه د اسلامي سیمې تر وروستي بریده د عبدالله بن طاهر په وخت کې د ۲۱۱س= ۸۲٦ز شاوخوا ۳۸ ملیونه درهمه لیکي.[2]

### ابن خردادبه

بل روایت د ۲۳۲س= ۸۴٦ ز شاوخوا د ابن خردابه دی، چې د مالي عایداتو د سرشمېرنې د رسمي اسنادو له مخه یې چمتو کړی او وایي: د خلافت د دربار مالي او اداري جوړښت هماغه و چې تر اسلام د مخه په خراسان کې مروج و او د عباسي خلافت د ختیځو سیمو مالي عاید د درهم په حساب داسې و:

سیستان: (۰۰۰، ۷۷٦، ٦)

---

[1] - کتاب الخراج تر ۲۴۹ وروسته، د لیدن چاپ.

[2] - تاریخ سیستان ٢٦ او ۳۰.

رخج، زابل او زمینداور تر تخارستان پورې (۹۴۷، ۰۰۰)
سرخس (۳۰۷،۴۴۰)
مروه شاهجان (۱، ۱۴۷، ۰۰۰)
مروه‌رود (۴۲۰، ۴۰۰)
بادغیس (۴۴۰، ۰۰۰)
هرات، اسفزار او گنج رستاق (۱، ۱۵۹، ۰۰۰)
د هرات لوېدیځ پوشنگ (۵۵۹، ۳۵۰)
تالقان د مروه‌رود او بلخ تر منځ (۲۱، ۴۰۰)
غرجستان د هرات، مروه‌رود او غزني تر منځ (۱۰۰، ۰۰۰) او دوه زره پسونه.
د تخارستان شاوخوا د بلخ او جیحون تر منځ-زم (۱۰۶، ۰۰۰)
فاریاب (۵۵، ۰۰۰) (په طبري ۵/ ۵۰۹ کې اویا زره درهمه)
قبروغن (قته‌غن؟) (۴، ۰۰۰)
گوزگانان (۱۵۴، ۰۰۰)
ترمذ (۲، ۰۰۰)
برمخان او بنجار (شایي بنجهیر= پنجشیر) (۲۰۶، ۵۰۰)
ختلان، بلخ او غزنی سیمې یې (۱۹۳، ۳۰۰)
مندجان (۲، ۰۰۰)
خلم (۱۲، ۳۰۰)
روب او سمنگان (۱۲، ٦۰۰)
ریوشاران (۱۰، ۰۰۰) (ربوشاران؟)
بامیان (۵، ۰۰۰)
کابل (۲، ۰۰۰، ۵۰۰) او دوه زره غزي وینځې د شپږ لکو درهمو په ارزښت.
مکران (۱، ۰۰۰، ۰۰۰)
شغنان (۴۰، ۰۰۰)

یمگان (۳،۵۰۰)

وخان (۲۰ ،۰۰۰)

کران (۴،۰۰۰)

کست (خست و فرنگ) (۱۰ ،۰۰۰)

اخرون؟ (۳۲ ،۰۰۰)[۱]

همدا مؤلف وايي د خراسان ټوله ماليه د ۲۱۱س=۸۲۶ ز کال شاوخوا د طاهريانو د واکمنۍ پر مهال داسې وه:

۴۴ ،۸۴۶ ،۰۰۰ درهمه نقدي

۱۳ د سپرلۍ اسونه

۲ ،۰۰۰ پسونه

۲ ،۰۰۰ غزي مريان د شپږو لکو درهمو په قيمت

۱ ،۱۸۷ جوړې بيستۍ

۱ ،۳۰۰ تختې اوسپنه[۲]

په دې وخت کې خراسان پنځوس مالي ناحيې درلودې او طاهريانو يې ماليه په پورته ډول د خلافت دربار ته ورکوله.[۳]

## البشاري مقدسي

په البشاري‌مشهور، نوميالی مؤرخ، جغرافيه‌پوه او سيلاني شمس‌الدين‌محمد بن‌احمد مقدسي چې د نوح بن‌منصور ساماني (۳۷۵س= ۹۸۵ز) په پېر کې يې د عباسي خليفه‌گانو اسلامي هېواد ليدلی، د عباسيانو تر ځواکمن پېر وروسته يعنې د خراساني دولتونو د جوړېدو د وخت مالي وضع ليکي. که څه هم دا سرشمېرنه زموږ تر بحث وروسته مهال (يعنې د کتاب په بل ټوک) پورې اړه لري؛ خو د يوه منځني حد د تر لاسه کولو او د اوضاع د پرتلنې لپاره گټوره ده، هغه وايي:

[۱] - المسالک و الممالک د ابن خرداذبه تر۳۵ وروسته او تاريخ تمدن ايران ساسانی تر ۳۰۰ وروسته.

[۲] - ابن خرداذبه ۳۹.

[۳] - تاريخ‌التمدن الإسلامی ۲/ ٦۲.

«د خراسان سیمې د سامانیانو په لاس کې دي او هغوی ته خراج ورکوي. خو د سیستان، خوارزم، غرج‌الشار، جوزجان، بُست، غزنینو او ختل امیران ډالۍ ورلېږي.

سیستان د لیث‌کورنۍ، غرج د شار، جوزجان د فریغونانو او غزنین و بُست د اتراکو (د سبکتگین نیکونه) په ولکه کې دي. له هر مریي څخه له ۸۰ تر ۱۰۰ درهمه او له ترکي وینځو له ۲۰ تر ۳۰ درهمو، له اوښ دوه درهمه، له توکو یو درهم، له قالبي سپینو زرو څخه له یوۀ تر نیم درهم پورې مالیه اخیستل کیږي.»[1]

له لاندېنیو سرشمېرنو څخه چې البشاري مقدسي ورکړې دي، تر ابن‌خرداذبه د وروسته سل کلن پېر د مالیو او عایداتو توپیر څرګند دی:

**د خراسان اصل خراج**: (۹۳۰، ۸۰۰، ۴۴) درهمه نقد، شل زره څارويِ‌او پسونه، ۱۰۱۲ کسه مریان، ۱۳۰۰ جوړې جامې او د اوسپنې تختې.

وخان (۰۰۰، ۴۰)

نیشاپور (۶۰۰، ۱۰۸، ۱) درهمه (درې اړوندې خزانې یې ۸۴۷، ۶۲۴، ۱ درهمه او د هغو د کانونو اندازه ۷۲۰، ۷۵۸) درهمه

سیستان (۰۰۰، ۹۴۷)

غزنی (۰۰۰، ٦۰۰)

کابلستان (۰۰۰، ۵۰۰، ۱)

بلخ (۳۰۰، ۱۹۳)

خلم (۰۰۰، ۱۲)

تخارستان او بامیان (۴۳۲، ۱۵٦)

[1] - احسن‌التقاسیم تر ۳۳۷ وروسته.

جوزجان (۴۰۰، ۲۲۰)

مروه‌رود (۲۳۷، ۰۰۰، ۱)

مروه شاهجان (۱۸۴، ۱۳۲، ۱)

هرات او شاوخوا يې (۴۲۱، ۹۳۵، ۱)

قهستان (۸۸۰، ۹۸۷)

سرخس (۰۰۰، ۹۰) درهمه (په البلدان کې یعقوبي وایي: یو ملیون درهمه)

خوارزم (۱۲۰، ۴۲) [1]

مکران (۰۰۰، ۰۰۰، ۱) [2]

اوس موږ دا د پنځه‌و مؤرخانو ټولې سرشمېرنې په یوه مخ کې ترتیبوو او حسابي پایلې ترې اخلو:

---

[1] - احسن‌التقاسیم ۳۴۰.

[2] - پورتنی اثر ۴۸۵.

### د خراسان او د هغه د ټولو اړوندو سیمو مالیه

| | |
|---|---|
| ۱- د جهشیاري او ابن خلدون<br>د وینا له مخې د ۱۹۰س. = ۸۰۵ز شاوخوا | نقدي ۰۰۰، ۵۰۰، ۴۴ درهمه<br>جنس ۰۰۰، ۵۰۰، درهمه اټکلاً<br>ټول ۴۵ ملیونه درهمه |
| ۲- د تاریخ سیستان<br>د وینا له مخې د ۲۰۰ س = ۸۱۵ز شاوخوا | خراسان ۰۰۰، ۰۰۰، ۳۸ درهمه<br>سیستان ۰۰۰، ۳۹۷، ۵ درهمه<br>د سیستان کورتان یو ملیون درهمه<br>ټول ۴۴ ملیونه |
| ۳- د قدامه بن جعفر د وینا له مخې<br>د ۲۲۵س = ۸۳۹ز شاوخوا | ۰۰۰، ۰۰۰، ۳۹ درهمه |
| ۴- ابن خردابه<br>د ۲۰۰ – ۲۳۲س = ۸۴۶ز شاوخوا | نقد ۰۰۰، ۸۴۶، ۴۴ درهمه<br>جنس ۰۰۰، ۲۰۰ درهمه اټکلاً<br>ټول ۴۵ ملیونه درهمه |
| ۵- البشاري مقدسي<br>د ۳۰۰ س = ۹۱۲ز شاوخوا | نقد ۹۳۰، ۸۰۰، ۴۴ درهمه<br>جنس ۰۰۰، ۲۰۰ درهمه<br>ټول ۴۵ ملیونه درهمه |

په دې تفصیل نو د عباسیانو خزانې ته د خراسان او اړوندو سیمو ټول مالي عاید شاوخوا ۴۵ ملیونه درهمه (= اټکلاً ۲۲۵ ملیونه افغانۍ) وې.

## په عباسي دولت کې د خراسان مالي دريځ

د هغو معلوماتو له مخه چې د مؤرخانو له ليکنو لاس ته راغلي دي، د هـارون او مامون په پېر کې او د هغۀ خلافت د ځواک په زور کې د بغداد د عباسي دولت ټـول مالي عوايد په دې ډول وو:

۱- د ابن‌خلدون د ليکنې له مخه له ۲۰۴-۲۱۰س (۰۰۰، ۱۵۵، ۳۹۶) درهمه

۲- د قدامه = = تر ۲۲۵ س شاوخوا (۳۵۰، ۲۹۱، ۳۸۸) =

۳- د ابن‌خرداذبه = = تر ۲۳۲س شاوخوا (۳۴۰، ۲۵۶، ۲۹۹) =

له دې څرګندېږي چې د درېيمې لېږدې پېړۍ په لومړيو کې بې له جنـسي مالونو او غلو د عباسي دولت ټـول مـالي عوايـد د ځلـور سـوو مليونـو درهمـو شاوخوا وو.[1]

اوس که د خراسان مالي عوايد چې ۴۵ مليونـه درهمـه وو، پـه دې مهـال د عباسي خزانې له ټول عايد سره پرتله کړو؛ نو نهمه برخه يې له دې ځايه وه. پـه داسې حال کې چې پر دې مهال د عربي دولت ولکه د سند له څنډو د مـصر تر نيل هاغاړې پورې پراخه وه؛ نو څرګنده ده چې د خلافت تر ټولو سمسـوره او مهمه مالي سرچينه همدا د خراسان سيمه ګڼل کېده.

په هغو ماليو کې چې د خراسـان لـه خـاورې د عباسـيانو خزانـې تـه تللـې او ۴۵ مليونه درهمو (۲۲۵ مليونو افغانيو) ته رسېدې، د نيشاپور تر څنډو پورې ټول خراسان راتۀ؛ خو د رخذ (اوسني کندهار) زابـل، غـزني او کابـل ولايتونـه پـه کـې نـه وو او د ابن‌خرداذبه او البشاري په سرشمېرنو کې يې نومونه نۀشته. پر دې بنسټ د هغۀ مهال

[1] - تاريخ‌التمدن الإسلامی۲/۱۱۱ د عباسي دولت له دې مالي وضعې سره، د روم د دولت مالي ځواک پرتله کړئ، چې د ګبن مؤرخ د وينا له مخه، روماني دولت د خپل ځواک په زور کې د ۴۰۰ مليونه درهمو شاوخوا عايد درلود (امپراطوری روما ۱/ ۱۱۰) او د ابن خرداذبه د وينا له مخه د پارس ماليې د کسرا پروېز په پېر کې تر ۷۲۰ مليونو درهمو پورې رسېدې.

مالي اوضاع له اوسمهال سره چې سياسي جغرافيې تغيير کړی دی، نه شو تطبيقولای. بيا هم که وغواړو چې د هغۀ مهال مالي اوضاع له اوسمهال سره پرتله کړو، د اوسني کندهار، کابل، غزني، ننگرهار او پختيا ولايتونه د لوېديځو برخو د کسر په مقابل کې رااخلو او د افغانستان سږنۍ بودجه وينو، چې د ۱۳۴۳ل د وړي په مياشت کې د ماليې وزارت له خوا ترتيب او خپره شوې ده، د ۱۳۴۳ل کال ټول عايد دا دی: [1]

په ۱۳۴۳ل کال کې ۰۰۰، ۸۵۰، ۲۹۴، ۴ افغانۍ

د ۲۰۰س کال شاوخوا ۰۰۰، ۰۰۰، ۲۲۵ =

زرکلن توپير ۰۰۰، ۸۵۰، ۰۶۹، ۴ =

نو په دې حساب په وروستيو زرو کلو کې ټول مالي عوايد څوارلس ځله زيات شوي دي.

**د ماليو زياتوالی او کموالی**

د اسلامي سوبو په سر کې د عربو سوبمنو اداري نظم او تشکيل په خراسان کې- چې دارالحرب و- پياوړی نه و او ټول خراسان هم د اسلامي ادارې په گورت کې نه و راغلی، ځکه نو د اسلامي دولت مالي عايدات او پيداوار له لږې کچې پيل او ورو ورو زيات شوي دي، چې موږ په لښتليک کې د خراسان د ټولې ماليې شمېر ۳۸/ ۳۹/ ۴۴ / ۴۵ مليونه درهمه وښود.

خو دا زياتوالی پرله‌پسې او ولاړ نه و، کله په کې نويو لاملو کمی زياتی رامنځ ته کاوۀ. د ساري په ډول د ۱۲۳س= ۷۴۰ز شاوخوا د فارياب خراج اويا زره درهمه و.[2] حال دا چې د ۲۳۲س= ۸۴۶ ز شاوخوا يواځې پنځه پنځوس زره درهمه و،[3] په داسې حال کې چې د ۲۳۲س= ۸۴۶ز شاوخوا د فارياب خراج پنځه پنځوس زره درهمه و.

همدا رنگه ابن‌خرداذبه وايي د گوزگانان د ماليې ټول عايدات ۱۵۴ زره درهمه وو، حال دا چې ابن‌حوقل وايي د ۳۵۰س= ۹۶۱ز شاوخوا يو لک دينارو او څلور

[1] - انيس کابل، (۱۴۳) مه گڼه، د ۱۳۴۳ل. د اسد ۱۹مه، د ماليې د وزير د بيانيې له مخه.

[2] - طبري ۵/ ۵۰۹.

[3] - ابن خرداذبه په المسالک والممالک کې.

لکو درهمو ته رسېدل.[1]

د یعقوبي په وخت کې د نیشاپور مالیات څلور ملیونه درهمه وو،[2]خو یوه پېړۍ وروسته د البشاري په وخت کې -لکه چې تېر شول – د دوو ملیونو شاوخوا وو.

د شمېرو د توپیر بله بېلګه دا ده:

| نوم | ابن‌خرداذبه | ابن‌حوقل | البشاري |
|---|---|---|---|
| سیستان | ۶،۷۷۶۰۰۰درهمه | یو لک دیناره او درې لکه درهمه | ۹۴۷،۰۰۰ درهمه |
| کابل او غزنی | ۲،۷۴۷،۵۰۰ = | یو لک دیناره او شپږ لکه = | ۲،۱۰۰،۰۰۰ = |

په هر صورت د شمېرو او شمېرنو له دې توپیر څخه پایله اخیستلای شو چې د دولت د عایداتو کچه ثابته نه وه، د کلونو او طبیعي او سیاسي لاملونو په توپیر تل په کې کمی او زیاتی راتلٔ. په تېره د اسلام د راتګ په لومړیو او د دې خاورې د ولس په دفاعي جنګونو کې چې کله د خلافت له خاورې پراخه هېوادونه جلا او څه موده ورسره یو ځای شوي دي.

د ۲۹۰س= ۹۰۲ ز شاوخوا چې په ابن‌فقیه مشهور ابوبکر احمد بن‌محمد همداني‌خپل کتاب‌البلدان کښلٔ، د هغو سیمو په ګډون چې د عبدالله بن‌طاهر پوشنګي په ګورت کې وې، د خراسان ټول خراج یې (۴۴۰، ۸۴۷، ۰۰۰) درهمه کښلی دی،[3] چې دې یوې وینا ته د پخوانیو ډېرو پر وړاندې اعتبار نه شو ورکولای، ځکه دا اندازه د عباسي دولت تر ټولو عایداتو- چې د مخه مو یې یادونه وکړه- هم زیاته ده.

---

[1] - صورة‌الأرض ۴۴۳.

[2] - البلدان ۴۲.

[3] - د ابن فقیه د کتاب‌البلدان لنډیز ۳۲۹، د لیدن چاپ، ۱۳۰۲س.

## کرنه، صنعت او بزګري

خراسان د ختیځ لوري له ولایتونو سره د سند تر ناوې پورې پراخه سیمه وه،چې د اوبو او سیندونو پرېمانه سرچینې درلودې. د پامیر، هندوکش او بابا غرونو لړیو او د غور او غزني لوړو هرې خوا ته مست سیندونه بهاند کړي وو او پراخه ځمکې یې خړوبولې، چې د کرنیز ارزښت له مخه یې لاندینۍ کرنیزې سیمې رانغاړلې:

۱- په شمال کې د امو لویه ناوه له پامیره راوځي او شمالي او سوېلي مرستیال سیندونه ورسره یوځای کېږي. دې لویې کرنیزې سیمې ته موږ"د امو کرنیزه سیمه" وایو چې په شمال کې د سغد، بخارا او خوارزم ښې کرنیزې پراخې سیمې او په سوېل کې تر تخار، بلخ، جوزجان او فاریاب پورې، یبره‌ګرې ځمکې رانغاړي.

۲- د هریرود او مروه‌رود سیمه، چې تر سرخس پورې هرات ولایت، مروه او بادغیس په کې راځي او د کرنې او پووندې تر ټولو ښه مرکز و.

۳- د هلمند سیمه: چې د غور، زمینداور، بُست او سیستان سیمې په کې راځي او د دې برکتي سیند پر څنډو ستر مدنیتونه او لوی ښارونه لکه داور، سروان، بُست او زرنج ودان وو او یواځې سیستان د اسلامي خلافت یو خپلواک او مهم ولایت ګڼل کېدهٔ.

۴- د ارغنداب او ترنک سیمه: د زابل، رخج او پخوانۍ پنجوایي له غزني د ارغنداب تر ناوې پورې رانغاړلې، چې د غزني، تګین آباد، پنجوایي او میوند مشهور ښارونه په کې وو.

۵- د کابل سیند سیمه: چې له کابل څخه د سند تر سیند پورې ټوله پخوانۍ ګندهارا رانغاړله. کابل ولایت، ننګرهار، لغمان، کونړ او پېښور په کې شامل وو. دې

هرې سیمې پراخه کرنه او د کرنې ښې او یېره‌ګرې ځمکې درلودې او د کابل، دنپور (اوسنی جلال‌آباد) پرشاوور (پېښور) ویهند (د سند پر غاړه اوسني اټک ته مخامخ) غوندې مشهور ښارونه یې درلودل.

٦- مهران سیمه: یعنې سند سیند چې د ملتان، اوچ، الرور (روهري) او دېبل پورې یې د پېښور د سوېل ټوله خاوره رانغاړله. په دې سیمه کې پراتهٔ مشهور ښارونه اوچ، ملتان، (بنیان) بنو، منصوره، تهته، رور، بسمد او دېبل وو. دا پراخه حوزه د امویانو او عباسیانو په ګورت کې د یوهٔ جلا ولایت په توګه سنبالېده. کله به یې مکران ولایت، طوران او قصدار هم د هغې برخه ګڼله؛ خو دې ټولې خاورې د صنعت، کرنې او سوداګرۍ له مخه له خراسان سره جوت تړاو درلود.

اوس موږ دغه شپږ کرنیزې او صنعتي سیمې‌د تاریخ په پاڼو کې‌څېړو چې د بزګرۍ د پیداوارو، کرنې، او صنعت کومې ځانګړنې یې درلودې؟

د اسلامي پېر په لومړیو کې چې اسلامي سوبمن لا دې خاورې ته نه وو رارسېدلي، مشهور چینایي سیلاني او نړۍ ګرځی هیونځانګ په ۹س= ٦٣٠ز کې دا هېواد ولیدهٔ او هند ته لاړ. په ۲۴س= ۶۴۴ز کې له هغې خوا راستون شو. په خپلو دې دوهم ځلي لیدنو کې د ځینو ولایتونو کرنیزې اوضاع ته نغوتې لري:

په تخار ولایت کې له پخوا څخه د پنبې کروندې وې او هیونځانګ هم وایي چې زیاتره اوسېدونکي یې د خپلو جامو لپاره ښه پنبه کاروي او ځینې یې وړۍ هم کاروي.[1]

جوزجان (هو-شي-کین) ولایت چې ډېر څرځایونه او رودونه یې درلودل، د ډېرو ښو (شین) اسونو روزنځی ګڼل کېدهٔ. د جوزجان او بامیانو تر منځ غرونو کې چې کی- چي (ګز) یې بولي شینکي او غلې ډېرې؛ خو ګلان او مېوې په کې لږې وې.[2]

د پو – هو (بلخ) په اړه وایي: ځمکني او کرنیز پیداوار یې ډول ډول دي او د بېدیانیو او کرنیزو ګلانو شمېرنه یې ستونزمنه ده.[3]

---

[1] - سي. یو. کی، لومړی کتاب: تو – هو – لو= تخار.

[2] - پورتنی اثر، لومړی کتاب ۱۱۲.

[3] - پورتنی اثر: پو – هو (بلخ) ۱۰۹.

باميان: مېوې او ګلان کم؛ خو ښه پسرلني غنم لري. څاروي روزنې ته ډېر ور دی. د څارويو او اسونو د روزنې لپاره چې ډېر په کې پيدا کېږي پرېمانه څرځايونه لري. غوره پوښاک يې له پوستکي او وړيو څخه جوړېږي، چې د هغهٔ ځای لپاره ډېر ګټور او مناسب دی.[1]

کاپيسا: هر ډول غلې، د مېوه‌يي ونو پرېمانه ډولونه، ښهٔنسلي شين SHEN اسونه، د خوشبوی يو- کين YU- KIN (ښايي کورکمان) جرړې په کې پيداکېږي او وګړي يې وړينې جامې د حيواناتو په پوستکو ښکلې کوي.[2]

لغمان: د شولو د توليد لپاره مناسب او د ګنيو فصلونه لري. مېوه‌يي ونې په کې پرېمانه دي. د خلکو جامې د سپين کتان وي.[3]

سوات دره: چې هيونځانګ د او- چنګ –نه (اوديانه) په نامهٔ ياده کړې او وايي چې غلې- دانې په کې زرغونېږي؛ خو ښه يېره نه ورکوي. پرېمانه انګور او لږ ګنې لري. په خاوره کې يې سره او سپين زر پيداکېږي او د يو کين د کرنې لپاره مناسب دی. ځنګلونه يې ګڼ او سيورن او مېوې او ګلان يې پرېمانه دي. د خلکو جامې يې سپين کتان دی. فاهيان وايي (۸ څپرکی) دا سيمه له سمسورۍ او ښېرازۍ نه د اوديانه (په پراکريت کې اوجانه) بلل شوې ده.[4]

ګندهارا وادي: چې پو–لو- شا- پو- لو (پېښور) يې پلازمېنه ده، پرېمانه غلې، راز راز ګلونه او مېوې لري. ګنې يې هم ډېر زيات دی چې کلکه شکره (ګوړه) ترې جوړوي.[5]

بلور: چې د پو–لو- هو په نامهٔ د واورينو غرو په منځ کې پروت و، تر هُنزا او کشمير پورې د نورستان، چترال او چيلاس درې دي چې وګړي يې وړينې جامې اغوندي. هوا يې

[1] - سي. يو. کی، ۱۱۳.
[2] - پورتنی اثر، ۱۱٦.
[3] - پورتنی اثر، ۱۴۴.
[4] - پورتنی اثر، ۱٦٦.
[5] - پورتنی اثر، ۱۵۰.

ډېره سمه ده. پیداوار یې غنم، می، سرۀ او سپین زر دي، څکه نو شتمن هېواد دی.[1]

د سند سیند وادي: د سین – تو (سند) وادي د غلو دانو د ودې لپاره مناسبه ده، غنم او ږدن په کې ډېر کرل کېږي. سرۀ او سپین زر او مس زیات لري. غویان، پسونه، اوښان، کچر او نور ډول ډول څاروي په کې روزل کېږي. اوښان یې کوچني او یو کوپه دي. سره، سپینه، توره مالگه او کانونه لري. د سند سیند د غاړو وگړي پر څاروي رزونه بوخت دي چې خپل خواړۀ ترې برابروي.[2]

قصدار: هیونڅانگ د (لانگ کی لو) په نامۀ هېواد یادوي چې د قصدار او د بلوچو د کلات تر منځ سیمه باندې یې تطبیق کړی دی. یو ښار لاکوړه یې د میسون له خوا د کلات او قصدار تر منځ کنډوالو کې ټاکل شوی دی.[3]

د دې سیمې خاوره ډېره ښېرازه او یبره‌گره ده، پرېمانه پیداوار ورکوي. جواهر او قیمتي ډبرې په کې پیدا کېږي. په کی – کیانگ – نا (= د بلوچو اوسنی قیقان او کلات) هېواد کې ډېر زیات پسونه او اسونه روزل کېږي. غوره‌نسلي شین اسونه یې غټ او گرانبیه دي.[4]

لوېدیځ لوری: هیونڅانگ له غزني څخه د رخذ، سیستان او هرات لور ته نه دی تللی؛ خو څرنگه چې د هغۀ پر مهال دا ولایتونه د کابلشاهانو په گورت نه وو او د اټکل له مخه چې رتبیلانو او سیمه‌ییزو واکمنو پرې واکمني کوله او زردشتي دین (مزدا لمانځنه) په کې دود و[5] نو دا سیمه یې پو – لا – سي (پارس) نوملې ده، چې د

---

[1] - سي. یو. کی، ۱۷۸.

[2] - پورتنی اثر، ۴۶۱.

[3] - جغرافیای قدیم هند، ۳۱۱.

[4] - سي. یو. کی وروستی کتاب ۱۱، ۴۶۸ مخ.

[5] - څکه خپل مړي به یې د زردشتیانو په دود په څمکتلونو کې کېښودل (هیونڅانگ).

ارغنداب وادي او اوسنی کندهار هم په کې شامل وو. څکه هيونځانګ وايي د دې هېواد د پاچاه په مانۍ کې د بودا کچکول ايښی و. چې همدا تيرن لوښی د اوسني کندهار په لوېديځ زاړهٔ ښار کې پروت و، په ۱۳۰۵ل کې کابل موزيم ته راوړل شو.

هيونځانګ وايي د دې هېواد هوا توده او سيمې يې پراخې دي. وګړي يې د اوبخور اوبه راخېژوي (په څرګنده د کارېز سيستم). شتمن او مالدار دي. کاني سرۀزر، سپين‌زر، بلور، مرغلرې او نور ګرانبيه توکي په کې پيدا کېږي. په زرينو، ورېښمينو او وړينو ټوکرانو او غالۍ اوبدنه کې لوی لاس لري. غوره‌نسلي شين[1] اسونه او اوښان لري. د ښکلو هنرونو جوړ شيان يې په ګاونډيو هېوادونو کې ډېر خوښېږي. د دې ځای وګړي پوستينې، وړينې او لمځينې چپنې او رنګه ورېښمينې جامې اغوندي.[2]

غزنی: هو – سي – نه (غزنه) د تسو– کو – چا (اراکوزيا) پلازمېنه ده، چې سيمې يې د کرنې لپاره برابرې دي. پرېمانه ژمني غنم لري. بوټي، ونې، ډول ډول ګلان او مېوې يې هم زياتې دي. يو - کين (کورکمان) او هنجه هم په کې زرغونېږي. د دې هېواد بله سيمه هو– سا- لو (غالباً هزاره) ده، له چينو يې هر لور ته اوبه بهاندې او د شاوخوا په کرنه کې کارېږي.[3]

له نورو سيمو څخه انتا– پو – لو- (اندراب) منظمه کرنه، ګلان او مېوې لري. خوست او کندوز هم د بزګرۍ پيداوار، غلې او پرېمانه ونې لري. د تخار يبره‌ګره خاوره د هر ډول غلې لپاره مناسبه ده. ژمني غنم، هر ډول شينلي او بېلابېلې مېوې په کې شته دي. وګړي يې وړينې، لمځينې او پوستينې جامې اغوندي. په بدخشان او شغنان کې هم د غنمو ډولونه، لوبيا، انګور، ناک او د الو ډولونه پرېمانه دي. پامير،

[1] - وګ: لومړی څپرکی او د غور د سوريانو برخه د شن اس نوم.

[2] - سي. يو. کی، ۴۶۵.

[3] - پورتنی اثر، ۴۷۰.

بلور او د تخار کوران د سرو او سپینو زرو هېښنده زېرمې لري.[1]

دا وو هغه څه چې زموږ د هېواد د ختیځو، لوېدیځو او شمالي سیمو د کرنیزې-بزګریزې اوضاع او پیداوارو په اړه د هیونڅانګ له لیکنو راوځي. له دې څرګنده ده چې افغانستان د نهم لېږدي کال شاوخوا چې لا دې خاورې ته د اسلام نخښې نه وې رارسېدلې، یو سمسور او ښېراز کرنیز هېواد و، چې غنمو، غلو دانو او مېوه‌یي ونو په کې رواج درلود. کرونده او څاروي روزنه یې پراخه او سمسور څرځایونه یې د یادونې وړ وو. پسونه او غوره نسلي اسونه په کې پرېمانه روزل کېدل. خلکو د سرو او سپینو زرو له کانونو څخه هم ګټه اخیسته، له پنبې، وړیو او د ژویو له پوستکو یې پوښاک جوړاوۀ؛ نو په دې بنه چې هیونڅانګ انځور کړې، د هغۀ مهال وګړي د خوراک او پوښاک له اړخه پر ځان بسیا وو او د هېواد له ځمکې، اوبو، پرېمانه څرځایونو او سیندونو څخه یې په زړۀ پورې ګټه اخیستې ده.

## د اسلام په لومړیو کې

عرب او عجم جغرافیه‌پوهان او مؤرخان هم د خراسان د بېلابېلو سیمو د کرنې، کرنیزو او صنعتي پیداوارو په اړه اطلاعات او نغوتې لري، چې تر هیونڅانګ په وروسته مهال یعنې دویمې او دریمې لېږدي پېړۍ پورې اړه لري.

د حدودالعالم مؤلف جوزجانی وایي: خراسان یوه سیمه ده، ډېره شتمني او پرېمانه نعمتونه لري. د نړۍ منځني نفوس ته نږدې دی. په هغۀ کې د سپینو او سرو زرو کانونه او قیمتي تیږې شته چې له غرونو تر لاسه کېږي. په خراسان کې اسونه، جامې، سرۀ او سپین زر، فیروزې او درمل شته.[2]

ابن‌حوقل وایي: د سرخس او بلخ اوښانو، د غور او خلج پسونو، د بلخ د شاوخوا د سپرلیو څارویو، د مروې او نیشاپور نخي او وړینو ټوکرانو، د غزي پسونو غوښو، د امو د اوبو خوږوالي او د خراسان ترکي مریانو لوی نوم درلود. تل د سپرلو دا

[1] - سي-یو - کی، تر ۴۷۲ وروسته.
[2] - حدودالعالم ۵۵.

څاروي، مريان، خوراکونه او پوښاکونه د نړۍ نورو سيمو ته لېږدېدل چې ګرانبيه ترکي مريان يې بې ساري وو او د خراسان په بازارونو کې تر لاسه کېدل. د يوۀ مريي او وينځې قيمت تر درېو زرو دينارو پورې رسېدۀ.[1]

د خراسان د ښارونو د پيداوارو مشهور توکي دا وو:

## هرات

بيستۍ، خشتي‌قند، ځوښه (حدودالعالم) له غرونو يې د ژرندې د پلونو او فرشونو تيږې راوايستل کېږي (اصطخري) کونځلې، پولاد، پسته، انجه، ورېښمين ټوکران، طايفي وڅکې (احسن التقاسيم).

## مالن (مالان)

ښې طايفي وڅکې (حدود) د کورو (انګورو) بڼونه لري (اصطخري).

## کروخ

وڅکې يې مشهورې دي او هرې خوا ته وړل کېږي (حدود او اصطخري).

## مروه

ښه پنبه، هنجه، ميده‌حلوا، سرکه، ورېښمين ټوکران، سپين ورېښمين ټوکران (حدود) ډېره‌خوندوره ډوډۍ، خوږې مېوې، وڅکې او وچ ختکي يې عراق ته وړي. پرېمانه ورېښم لري. د ورېښمو چنجي له مروې څخه ډېرو ليرې ځايونو ته وړل کېږي. ښه پنبه او بيستۍ لري (اصطخري) خام ورېښم، ورېښم، پنبه، غواوې، پنېر، ځوښه، مس، کونځلې، وڅکې، ګبين، انځر، انار، بلور، اورلګيت، ګيلټ، ګوګړ (احسن التقاسيم) او د خراسان غوره او په زړۀ پورې جامې (البلدان).

## ګوزګان

پرېمانه ښۀ اسونه، لمڅي، خورجينونه، د اس ګېډبندونه، ټغرونه، کنونه، د خنج په نامۀ کلک لرګي (حدود) رنګ شوي پوستکي يې ټول خراسان او ماوراءالنهر ته وړل کېږي (ابن‌حوقل).

---

[1] - صورةالأرض ۴۵۲.

## تالقان (د مروه‌رود شمال)

شراب او لمڅي (حدود).

## کندرم (په گوزگان کې یو ښار)

ښهٔ او پرېمانه شراب، غوزان، انگور، بادام (حدود او ابن‌حوقل).

## بلخ

ترنجان، نارنجان، گني او نیلوفر (حدود) د بلخ بختي بېساري اوښانو نړیوال نوم لارهٔ (اصطخري) له هرې خوا ورته توکي راوړي، د سوداگرۍ او غوره سپرلۍ مرکز دی (ابن‌حوقل).

## تخارستان

اسونه، پسونه، د سپرلۍ څاروي، غلې او ډول ډول مېوې (حدود او ابن‌حوقل).

## ولوالج

غوزان، پسته، وریجې، ښکرونه او د گیدړو پوستکي (احسن التقاسیم).

## سمنگان

ښهٔ شراب او ډېرې مېوې (حدود).

## بنجهیر (پنجشیر)

د سپینو زرو کان لري (حدود او ابن‌فقیه) لاجورد او قیمتي ډبرې (ابن‌حوقل).

## پروان

د سرو زرو کان (احسن التقاسیم).

## غور

کیږدۍ، زغرې او ښې وسلې (حدود) پسونه، پرېمانه کروندې او ورشوگانې (اصطخري) د غور په غرو کې چې بامیانو او پنجشیر ته رسېدلي له پیله تر پایه، د سرو او سپینو زرو کانونه دي (ابن‌حوقل).

## سیستان

فرشونه، ټغرونه، وچه خرما، هنجه (حدود) ډول ډول خواړهٔ، خرما او انگور لري.

د سیستان او مکران تر منځ سیمو څخه پرېمانه انجه تر لاسه کېږي او په زیاترو خوړو کې کارېږي. د سیستان په طاق کې انګور ډېر دي (اصطخري).

## بُست

وچې مېوې، بیستي او صابون (حدود) انګور او خرما (اصطخري) عطر او کشمالي (احسن التقاسیم).

## نیشاپور

ډول ډول ټوکران، ورېښم او پنبه (حدود) چې زیاترو اسلامي هېوادونو ته وړل کېږي (اصطخري).

## طوس

د فیروزې کان، مس، سرب، رانجه، ګیلټې، درانهٔ دېګونه، پرتوغاښونه او جورابې (حدود) اوسپنه، سپین‌زر، سرې‌تیږې (د سرمینځنۍختېه) بلور، انجه (ابن‌حوقل) د سورلنډي، سپلم، پیش پړانګ او د بیلونګړي (سنجاب) د پوستکو ډولونه (البلدان او یعقوبي).

## پوشنګ (د هرات لوېدیځ)

هغه ګیاه چې پې یې د مار و لړم د زهرو ضد دي (حدود) د ناجو لرګي ترې هرې خوا ته وړي (اصطخري).

## سرخس

اوښان (حدود) پسونه او اوښان (اصطخري).

## بون

څوښې (حدود).

## ریوشاران (ربوشاران؟)

د زرو کان (حدود).

## درمشان، ساروان او مانشان (ګوزګان)

ډېر څاروي (غواوې، پسونه) د سرو او سپینو زرو، اوسپنې، سرپو، مسو، رنجو او شګوګل ډول ډول کانونه (حدود).

## انبار (د گوزگان پلازمېنه)

له دې ځایه ټولې نړۍ ته گوزگاني پوستکي وړي (حدود) اټکلاً دا پوستکي همدا اوسنۍ پېښې دي، چې اوس هم نړیوال نوم لري. انگور او د انگورو بڼونه یې مشهور وو (ابن حوقل).

## سان (د گوزگان او اوسني سنگچارک سیمه)

ډېر پسونه (حدود) او غرني غوزان (اصطخري).

## رباط کروان (د گوزگان پر پوله)

د سرو زرو کان (حدود).

## غرج‌الشار (غرستان)

سپین زر، لمڅي، غوره نسلي‌اسونه او د سپرلۍ څاروي (احسن التقاسیم) د څارویو گېډبندونه (ابن فقیه).

## فره

خرما او ډېرې مېوې (حدود).

## درغش (زمینداور)

زعفران (حدود).

## بدخشان

د سپینو او سرو زرو کانونه، مقناطیس، لاجورد او تبتي مشک (حدود) ډول ډول قیمتي ډبرې (ابن حوقل) بشاري وایي په بدخشان کې یاقوت وزمه د قیمتي ډبرو کان دی چې بې له دې ځایه نه موندل کېږي. هلته د لاجوردو، بلورو، زهرضد تیږو او بکرو - پنه ډبرې چې اور ترې بلوي- کانونه شته (احسن).

## رودان (رخذ)

مالگه (حدود) غلې، مېوې (اصطخري) یو ډول شنې‌مې (ابن حوقل).

## سکاشم (واخان)

ویستیاړ، غشي، مشک یا ژۍ (حدود).

## سنګلیج (بدخشان)

د بدخشاني مقناطیسو او لعلو کان (حدود).

## سند

پوستکي، څرمنې، پښاک (پایزار) خرما او خوږه (حدود) کافور و نیل (ابن‌فقیه) د کامهل کیله او ناریال (نزهة القلوب) د پخواني بدهـ او اوسني کشمور هندي عود، نېزه او وله (ابن‌خردادبه) د منصورې خرما، ګني، لیموګان او آمونه، (اصطخري) د ملتان وریجې، غنم، بادام، ناریال، کېله او خرما (بشاري) د قصدار پرېمانه انګور (ابن‌حوقل).

## رخج یا رخذ (اوسنی کندهار)

وړینې جامې (غالباً کوسی) چې بیت‌المال ته ترې زیاتې پیسې ځي او پرېمانه غلې لري (اصطخري).

## سروان (غالباً اوسنی ساروان کلا)

پرېمانه مېوې، خرما او انګور (اصطخري).

## صالقان (د کندهار د سوېل لوېدیځ اوسنی زله‌خان)

پرېمانه مېوې، خرما، غلې، لاسيتوکران چې وګړي یې زیاتره دوړان دي (اصطخري).

## مارآباد (هرات)

پرېمانه وریجې چې نورو سیمو ته یې له دې ځایه وړي (اصطخري).

## بشین (غرج)

له دې ځایه پرېمانه وریجي بلخ او نورو سیمو ته وړي (اصطخري).

## سورمین (غرج)

پرېمانه وڅکې(اصطخري)چې له دې ځایه یې نورو ښارو ته وړي (ابن‌حوقل).

## د مروه‌رود له ښارونو څخه

غلې او پرېمانه انګور (ابن‌حوقل).

**کابل**

نیل، نخي ټوکران چې له هغو څخه ډېرې ښکلې ښځینه جامې او اتګوټي دسمالونه جوړوي او د خراسان له لارې یې چین او سند ته وړي. د اوسپنې پرېمانه کانونه لري (ابن حوقل).

**وخان او شغنان**

مښک، مریان، د سرو زرو کان او سیندني سرۀ زر (ابن حوقل).

**قیقان (د بلوچو کلات)**

انګور، انار او نورې د سړو سیمو مېوې (اصطخري).

**غزني**

ډېره ښه او پاکه غوښه (احسن).

**خلج (د غزني او کندهار تر منځ د غلجو سیمه)**

د دې ځای پسونه ټول خراسان ته لېږدي (ابن حوقل).

**ماوراءالنهر**

اوښان، د سپرلۍ څاروي، خرۀ، پسونه، وړین او ورېښمین ټوکران، ښه بیستی، اوسپنه، سره او سپین زر، سیماب، نوشادر، بې‌جوړې کاغذ، ترکي مریان، تبتي مښک، زعفران، د سپلم، بیلونګړی او د ګیدړ پوستکي، ښکلې پاچاهي جامې، ښیښه، قلعي، سرپ، نفت، قیر، زرکنډ، فیروزه، د ډبرو سکاره (ابن حوقل) لمڅي، زغرې، کورت او مَتر (تازه کورت) (حدود).

# د اوبخور سيستم

لکه چې ومو ويل پخواني افغانستان مست سيندونه او د اوبو پريمانه سرچينې درلودې، بزګرانو د سيندونو او چينو په بهاندو اوبو اوبخور کاوۀ. د هلمند، کابل، هريرود، امو، مروه‌رود، ارغنداب، ترنک او کونړ سيندونو خواوو ته پراخو سيمو د کر غوره ځمکې درلودې. هغه چې څرګنده ده د اوبو له سرچينو دوه ډوله ګټنه کېده:

**۱- نهرونه**

له سيندونو د نهرونو کيندل، چې لومړی يې سيند ته بند جوړاوۀ او ډېرې زياتې اوبه يې په نهر کې بېلولې. بيا له هماغۀ نهر څخه د اوبخور لپاره زيات شمېر کوچنی او فرعي ويالې بېلېدې. د ځمکې د سر له اوبو دا ډول ګټه اخيستنه وه- نهر کيندنه او د ويالو سمون د اسلامي احکامو له مخه د دولت يوه دنده وه- او لګښتونه يې ټول له بيت‌المال څخه ورکول کېدل.[1]

د سيستان په خاوره کې يې په همدې ډول له هلمند سيند څخه اوبه اخيستې. سيستان ولايت او د زرنج لوی او مشهور ښار په همدې اوبو آباد و. څرنګه چې د اسلامي سوبو په لومړيو کې د هلمند سيند سطحه لوړه وه او اوبه يې ورکولې؛ نو نهرونو کيندلو ته يې اړتيا نه وه؛ خو د ۱۰۴س= ۷۲۲ز کال په پای کې د يزيد بن‌عبدالملک په پېر کې قعقاع بن‌سويد د سيستان د ماليې، خراج، لمانځۀ او جنګ مسوول، له هلمند سيند څخه زرنج ښار ته نهر وايست. دا نهر له هغۀ ور څخه تېرېدۀ چې پر خوړو ور مشهور و. هغه تر ټولو لومړنی سړی و چې سيستان ته يې د خوړو

---

[1] - خضري در تاريخ الأمم الإ سلامية ۳/ ۱۵۴، د امام ابويوسف د کتاب‌الخراج په حواله.

نهر وکيندهٔ، تر هغهٔ د مخه کيندلو ته اړتيا پيدا شوې نه وه.[1]

د زرنج ښار خړوبونې لپاره يې له خوړو نهر څخه کوچنۍ ويالې کيندلې وې، چې لومړۍ په پخواني ورهٔ (باب عتيق) ښار ته ننوته، دويمه په نوي ورهٔ (باب جديد) او دريمه د خوړو ورهٔ. همدا رنگه د زرنج ښار چاپېريال د بهاندو اوبو ويالې درلودې.[2]

د اصطخري پر مهال د هلمند سيند اوبه داسې وېشل کېدې: لومړی ترې د خوړو په نهر کې اوبه راتللې، د ښار له کليو تېرېدې او د نيشک شاوخوا ته رسېدې. دوهم د باشترود[3] نهر چې يو شمېر کلي يې خړوبول. بيا ترې د سيستان په يو فرسنگۍ کې سنارود نهر بېل شو، چې د اوبو په زياتېدو په کې بېړۍ چلېدې. د زرنج ښار زياتره ويالې له سنارود څخه وې. يوې څانگې يې دېرش کلي خړوبول. د ميلي په نامهٔ چې ترې کومه وياله بېلېده ډېرو زياتو کليو ته يې اوبه ورکولې. همدا رنگه زالق ويالې څو نورو کليو ته اوبه ورکولې او پاتې يې په کزک ويالې ورگډېدې. دلته بند و چې زره بحيرې ته يې د اوبو د بهېدنگ مخنيوی کاوهٔ؛ خو د اوبو په زياتېدو به لهمنځه تهٔ.[4]

د سيستان د اوبخور بله سرچينه د بشلنگ نهر و[5] چې د غور له څنگه راووت، دا سيمې يې خړوبولې او لږې اوبه چې به پاتې کېدې، زره بحيرې ته تويېدې.[6] د اوبو بند او شگو بند تړل د سيستان د سمسورتيا شرط و،[7] ځکه کرنه او ښېرازي د هلمند د اوبو په بند

---

[1] - تاريخ سيستان ۲۴۱.

[2] - اصطخري ۲۴۱.

[3] - د مسالک په کتاب کې د دې ويالې نوم په بېلابېلو بڼو باشترود- باسرود – سرور او ناشرود راغلی، په تاريخ سيستان کې ناشيرود او په بلاذري کې ناشروز دی.

[4] - اصطخري، ۲۴۴.

[5] - بشلنگ: د غور سيمه او د ښې کرکيلې ځای دی (د ٦۴شاوخوا). بشلنگ تر اوسه په همدې نامهٔ په پورتني زمينداور کې شته.

[6] - ابن حوقل، ۴۱۸.

[7] - تاريخ سيستان ۲۱ او اصطخري ۲۴۲.

پورې تړلې وه. څرنگه چې د زرنج چاپېره شگې زياتې وې او سخت بادونه به هم لگېدل؛ نو که د شگو بند به جوړ نه شو؛ کليو او کروندو ته به زيان رسېدهٔ.[1]

د هغه مهال وگړو د نورو سيندونو له اوبو څخه د گټنې لپاره هم هڅه کړې ده او د کرنې په بله حوزه يعنې هريرود ناوې په سيمه کې د ويالو په کيندنې سره کرنيزو ځمکو ته پرېمانه اوبه بهېدې. اصطخري وايي هرات ښار، هر لور ته او په هر ورهٔ کې روانې اوبه او بڼونه درلودل، چې فيروزآباد ور (اوس کندهار ور) تر نورو آباد و. د هريرود اوبو د غور له کروان څخه سرچينه اخيستې او تر هرات پورې ترې څو نهرونه بېل شوي دي.

**لومړي:** د نو جوی بُغرا (نهر)[2] چې د سپيدنگ[3] کلي ته يې اوبه ورکولې.

**دوهم:** بارست[4] نهر چې د گواشان،[5] سَياوشان،[6] مالن،[7] تيزان[8] او روامز[9] کلي يې خړوبول.

**دريم:** النجان نهر[10] د سوسان[11] په کلي کې.

---

[1] - حاشيهٔ تاريخ سيستان ۲۱ د خطي عجائب البلدان په حواله.

[2] - په اصطخري کې: برخوی، ويرخوی او برجوی؟ په ابن حوقل کې: بوخوی؟ په ادريسي کې: وحری؟ په مقدسي کې: دو حون؟ چې ټول د نو جوی اوږېدلې بڼې دي او اوس نوې وياله (جوی نو) د هرات له ښېرازو بلوکونو څخه ده، چې ښايي پخوا نو جوی وه.

[3] - د اصطخري او ابن حوقل په متن کې: سنداسنگ، په ځينو خطي نسخو کې: سپيداسنگ. په مقدسي کې: شبيدان؟ په ادريسي کې: سمنداسنه؟ دی، چې د اوسني سنگ سپيد، اولنگ دی.

[4] - همداسې په اصطخري او ابن حوقل کې؛ خو په ځينو خطي نسخو کې باريست دی. په مقدسي کې بارشت راغلی دی. اوس: نهر گزره.

[5] - د لومړي په زور اوس هم شته.

[6] - اوس په همدې نامهٔ شته.

[7] - اوس مالان.

[8] - اوس: د ادوان تيزان بلوک.

[9] - همداسې په اصطخري او ابن حوقل کې؛ خو اوس يې شتون څرگند نه شو.

[10] - په اصطخري او ابن حوقل کې: اذريجان؟ چې سم يې د هري شمال ته د اوسني النجان بلوک دی.

[11] - همداسې په اصطخري او ابن حوقل کې. په مقدسي کې: منوسان؟ اوس معلوم نه شو.

**څلورم:** سکوکان[١] نهر په سله[٢] کلي کې.

**پنځم:** کمبراغ[٣] نهر په کوکان[٤] کلي کې.

**شپږم:** غوسجان[٥] نهر په کرک[٦] کلي کې.

**اووم:** کنک[٧] نهر د غوبان[٨] او کربکرد[٩] په کليو کې.

**اتم:** سبغر[١٠] نهر د بغاوردان[١١] او فيرد[١٢] په کليو کې.

**نهم:** انجيل نهر[١٣]، چې د هرات ښار ته اوبه ورکوي او تر يوه پړاو پورې يې د سيستان په لاره ښونه شته.[١٤] دې نهو مشهورو نهرونو د هرات سيمه خړوبوله او سمسوروله چې

---

[١] - همداسې په اصطخري؛ خو په ابن حوقل کې شکوکان دی. ښايي سکوان وي، چې حافظ ابرو د فوشنج په کليو کې ياد کړی دی.

[٢] - همداسې په اصطخري کې. ابن حوقل: شغله؟ چې اوس يې د شتون څرک ونه لګېد.

[٣] - په اصطخري او ابن حوقل کې: کراغ، چې په څرګنده د هرات اوسنی کمبراغ بلوک دی.

[٤] - همداسې په اصطخري، ابن حوقل او مقدسي کې؛ خو په ادريسي کې: کورکان؟ چې اوس معلوم نه دی.

[٥] - په اصطخري کې: غوسمان؟ او په ادريسي کې: غوسيجان. په مقدسي کې عوسجان او په ابن حوقل کې غوسجان. اوس معلوم نه دی.

[٦] - همداسې په اصطخري کې؛ خو په ابن حوقل، ادريسي او مقدسي کې: کوک دی؟ اوس معلوم نه دی.

[٧] - همداسې په اصطخري کې؛ خو په ابن حوقل او مقدسي کې کبک دی او معلوم نه شو.

[٨] - همداسې په اصطخري کې؛ خو په ابن حوقل کې: غوتان، په ادريسي کې غزنان او په مقدسي کې عرنان دی، اوس ونه پېژندل شو ښايي د اوسني غوچان اوړون وي.

[٩] - همداسې په اصطخري، ابن حوقل او مقدسي کې؛ خو په ادريسي کې کرنکرد؟ دی.

[١٠] - په اصطخري کې فغر چاپ دی؛ خو په مقدسي او ادريسي کې:" نهر يعرف بسنقر يسقی رستاق سرخس" دی. په ابن حوقل کې " نهر يعرف بسبغر يسقی رستاق سوخين؟ فی حد بوشنج راغلی او د اصطخري په پارسي ژباړه کې: رود فغرکی روستای سوخير در حد پوشنګ برانست، چاپ شوی؛ خو سبغر وياله تر اوسه شته او سبقر د هرات د نه بلوک سيمه وه. (روضات الجنات اسفزاری ١-۴٨)

[١١] - د صمعاني په انساب ٣۵مخ کې عبدالله بغاورداني او په نفحات کې هم بوحفص بغاوردان او د انصاري په طبقات الصوفية کې همداسې دی، د هرات بغاوردان ته منسوب او نورې بنې يې اوښتنې دي.

[١٢] - همداسې- اوس معلوم نه شو.

[١٣] - بله املا يې انجير ده، اوس هم ورته انجيل وياله وايي.

[١٤] - اصطخري تر ٢٦ وروسته او ابن حوقل۴٣٨.

ځینې یې تر اوسه په هماغو زړو نومونو پاتې دي او د اصطخري او ابن‌حوقل تر مهاله یعنې څلورمې لېږدي پېړۍ پورې هم وو.

مروه‌رود د ځمکې سر اوبو بله ناوه وه، چې د مروې سیمه او د خراسان پلازمېنه یعنې د مروې مشهور ښار ترې آباد و او مرغاب یې بالۀ. د مرغاب سیند د بامیانو له شاوخوا څخه سرچینه اخیسته او لویه سیمه یې خړوبوله چې ډېر شمېر کلي په کې وو او په پای کې د مروې ښار شاوخوا ته رسېدۀ.

په مروې کې یې د اوبخور یوۀ واحد ته «بست‌آب» وایۀ او په ۱۶۷س=۷۸۳ز کې کله چې فضل بن‌سلېمان طوسي د خراسان واکمن و، په مروه کې مخورو او مشرانو له خلکو څخه په زور سره پنځه زره بست‌آبه نیولي وو؛ خو فضل هغه بېرته خلکو ته ورکړل او یو لړ کرنیزې سمونې یې وکړې. یعنې د خلکو په منځ کې یې د خراج او مالیو بخښنې برابر کړ. دا دود یې له مروې پرته په قهستان، طبسین، آمل، نسا، باورد، هرات او پوشنګ کې هم رامنځ ته کړ.[1]

د مروې ښار د نیم فرسخۍ په دیه زرق کې یو ځای و چې هغه یې «اوبوېش» او په عربي کې «مقسم ماء» بالۀ. دلته یې د اوبو د بهیر مخې ته په لرګي کې کوچنۍ ویالې کیندلې وې، چې هره ویاله یو لوري ته تلله او هر لوري له سیند څخه برابرې اوبه اخیستې. که اوبه به کمېدې؛ نو کمې اوبه به هم برابرې وېشل کېدې. د مروې دې «اوبوېش» ځانګړی لوړ رتبه امیر درلود، چې لس زره کسان یې تر امر لاندې وو او معاش یې هم له همدې لارې و.[2]

په دې ډول د مروې ښار او شاوخوا یې په بېلابېلو ویالو خړوبېدۀ چې له هغو څخه د ښار ډېرې ودانۍ په هرمزفره ویالې باندې وې او دا ویاله تر سرخس پورې غځېدلې وه. د «رأس‌الشابای» په نامۀ مشهوره سیمه په همدې ویاله ودانه وه.

---

[1] - زین‌الأخبار، خطي ۷۷ ب پاڼه.

[2] - اصطخري ۲۶۱ او ابن حوقل ۴۳۶.

د مروې بله مشهوره وياله ماجان نومېده چې دارالاماره، نوی جومات، زندان او د ابي‌نجم کورنۍ سرای ته یې اوبه ورکولې. درېیمه د رزیق ویاله وه چې د ښار له ورهٔ تېرېده او ښاريانو ترې اوبه څښلې. عتيق جومات او د خالد کورنۍ ماڼیو ته یې هم اوبه ورکولې. څلورمه ویاله د اسعدي خراساني په نامهٔ مشهوره وه، چې باب سنجان، بني ماهان او د مروې د پوله‌ساتي ودانۍ یې خړوبولې. د مروې ښار او کلي پر دې مشهورو څلورو ویالو خړوبېدل.[1]

د امو د ناوې په شمال کې یې هم له سیندونو څخه د نهرونو په وسیله اوبه رابېلولې، د ساري په ډول له سغد سیند څخه د کلاباد په سیمه کې د بخارا لپاره اوبه رابېلې شوې وې. د رأس الورغ په سیمه کې نهر و چې بخارا یې په دوو برخو بېلاوهٔ. له رأس السکر څخه هم د سمرقند نهرونه ایستل شوي وو. په دې کرنیزه برخه کې فشدیزه، نوکند، جویبار، جوغشج، بیکند، نوکنده، طاحونه، کشته، رباح، رېگستان او زغارکنده نور نهرونه وو چې د ښار دارلاماره، بازارونه، ګلان او فصلونه یې خړوبول.[2]

تر امو پورې غاړه د خراسان بله ښیرازه او آباده برخه د سغد یا زرافشان سیند پراخه ناوه وه، چې د سمرقند حوزه یې خړوبوله او د سمرقند کش ورهٔ نهر ترې رابهېدهٔ، چې اوبه یې ټولو کورونو ته رسېدلې؛ نو داسې کور نه و چې اوبه او باغچه ونه لري.[3] پر دې سربېره له دې سیند څخه یې یو شمېر نور نهرونه ایستلي وو. د ښار نهر د سرپو و، سطح یې هم ورته په سرپو پوښلې وه؛ خو سربند یې د تیرو و. د دې نهر د ساتنې لپاره مجوسي ساتونکي ګومارل شوي وو.[4]

---

[1] - اصطخري ۲٦۰ او ابن حوقل ۴۳۵.

[2] - مقدسي ۳۳۱ او اصطخري تر ۳۱۰ وروسته.

[3] - معجم‌البلدان ۵/ ۱۲۳.

[4] - اصطخري تر ۳۱۷ وروسته.

## ۲- کاریز

د اسلامي پېر د لومړیو د اوبخور په سیستم کې تر ځمکې لاندې اوبو ځخه هم ګټنې رواج درلود. په زیاترو سیمو کې یې د کاریز کیندنې په وسیله تر ځمکې لاندې اوبو ځخه ګټه اخیسته. د دې سیمې اوسېدونکي تر ځمکې د لاندې اوبو د ځای او کاریز کیندنې په کار کې ماهر وو. وایي د مروې پخوانی کوټ- چې په څلورمه لېږدې پېړۍ کې ویجاړ شوی و- د هغهٔ ښار پر لوړه برخه پروت و او د کاریز د اوبو په وسیله خړوبېدهٔ چې دا کاریز د ابن‌حوقل تر مهاله بهاند و.[1]

هغه مهال چې عربي سوبې د شام، بین‌النهرین او پارس ښېرازو او کرنیزو سیمو ته راورسېدې، د اسلامي فقهې مخکښانو د هغو ځمکو د خراج، مالیو، شاړو آبادولو او نورو لپاره قواعد جوړ کړي وو، چې د ځمکې د سر په اوبو خړوبېدې. د دغو قوانینو یادونه د فقهې او خراج په کتابونو کې شوې ده.

خو مسلمانان په خراسان کې تر ځمکې د لاندې اوبو او کاریزونو له ربړې سره مخامخ شول، چې په عربستان، شام او بین‌النهرین کې بې مخینې وې. نو د خراسان او عراق فقیهان د خراسان د لوی پاچاه عبدالله‌بن‌طاهر په امر راټول شول او د کاریز شرعي احکام یې وکښل، په دې اړه د خبرو وار ګردیزي مؤرخ ته ورکوو، هغه وایي:

«ورپسې نیشاپوریان او خراسانیان عبدالله ته راغلل، د کاریزونو لانجې وړاندې شوې. د فقهې په کتابونو او د رسول‌اللهﷺپه حدیثو کې د کاریز او د هغهٔ د احکامو په اړه لا څه نه وو راغلي. نو عبدالله د خراسان ټول او د عراق ځینې عالمان راوغوښتل، چې د کاریز د احکامو په اړه کتاب ولیکي. هغه یې کاریز «قنی» ونوماوهٔ، چې له هغهٔ سره سم یې په اړه حکمونه وکړي. هغه کتاب تر دې وروستیو پورې پر ځای دی. د کاریزونو په اړه چې حکمونه کیږي؛ نو د هغهٔ کتاب له مخه کیږي.»[2]

---

[1] - صورةالأرض ۴۳۵.

[2] - زین‌الأخبار ۳، د تهران چاپ ۱۳۱۵.

بشاري مقدسي د نیشاپور د مشهورو کاریزونو یادونه کوي، چې تر ځمکې لاندې بهېدل او اوبه یې په اوړي کې سړې وې. هر کاریز له څلورو تر اویا پوړې سپرغې یا سترګی درلودې او بیا د ځمکې پر مخ رابهېدې. نیشاپور ښار د حیره او معمر ورۀ، د ابي عمرو خفاف، شادیاخ او سوار په کاریز خړوبېدۀ.[1]

**د اوبو کښی**

د پخوانی دري د بغلان د سرۀ کوتل په ډبرلیک کې، د عبادتځي د ترمیموونکي او د هغۀ د ځاه د بنسټګر نوکونزوک ستاینوم، کښی (فرياستارآب-ABFREICTAR) کښل شوی دی، اټکلاً په دریېمه زیږدې پېړۍ او ۱۶۰ز شاوخوا د «کښي» دنده ډېره مهمه وه، ان په همدې ډبرلیک کې د لوی پاچاه د فرياستارآب نسبت په خپله کوشاني پاچاه ته شوی دی. له دې معلومېږي چې د ټولواک له درباره ګومارل کېدۀ او د کرنې، اوبو او ښار جوړونې د وزیر پر ځای یې کار کاوۀ.

د لومړیو دوو پېړیو د کوشاني پېر په تشکیلاتو کې او په دري ژبه د دې منصب شتون څرګندوي، چې پخوا او اسلامځلا ته په نږدې پېر کې د اوبورسونې او کرنې دندو ډېر اهمیت درلود او د هېواد په تشکیلاتو کې د ټولواک له درباره د فرياستارآب په نامۀ وزیر و. د اوبو رسونې په همدې تشکیلاتو کې ډېرو خلکو کار کاوۀ. لکه چې تېر شول د مروې په «اوبوېشنځي» کې د کښي په مشرۍ لس زره کسانو کار کاوۀ. څرنګه چې دې خلکو د اوبرسي او ویالو د کیندنې په چارو کې لاس درلود، نو په اسلامي پېر کې هم پر خپل دې منصب پاتې شول. لکه چې په تېرو کرښو کې مو د اصطخري په حواله وویل، د سغد او سمرقند د بندونو او نهرونو د ساتنې لپاره په اسلامي پېر کې هم زردشتي ساتندویان ګومارل شوي وو، چې په دې کار کې یې اوږده مخینه او پوره لاس درلود.

[1] - احسن التقاسیم ۳۲۹.

# صنایع

د سند تر ناوې پورې د پارس، هند او ماوراءالنهر د پراخو او شتمنو هېوادونو تر منځ خراسان او څېرمه سیمه یې پرتې وې. سوېل ته یې د عربو سمندرگی و، چې سوداگریز بندرونه یې درلودل او له افریقایي سواحلو او سوېلي هند سره یې تر هند و چین او په خپله چین پورې د بېړیو تگ راتگ درلود.

په داسې حال کې د نړۍ د بېلابېلو هېوادونو د سوداگریزو مالونو او مصنوعاتو پېر و پلور د خراسان په بازارونو کې کېدۀ او یا له دې لارې ختیځ، لوېدیځ او شمال ته لېږدېدل. صنعتکاران طبعاً د صنعتي آثارو له لیدنو کتنو اغېزمنېدل او په خپلو مصنوعاتو کې یې ډول ډول اغېز مانۀ، نو د دې کار همېشنۍ پایله د صنعتي آثارو رنگارنگي او د صنعت پالنه ده. دا دی موږ په راتلونکو کرښو کې د تاریخ په کتابونو کې په دې اړه خپلو مطالعاتو ته دوام ورکوو:

**ټوکر اوبدنه**

د پنبې، کتان، وړینو او وربښمینو ټوکرانو اوبدنه له پخوا راهیسې په دې سیمه کې دود وه. موږ په تېرو پاڼو کې د هیونڅانگ او د اسلامي پېر د نورو مؤرخانو د ویناوو له مخه د خراسان په څو ځایونو کې د بېلابېلو ټوکرانو په اړه یادونې کړې دي.

هیونڅانگ د هېواد په ختیځو سیمو کې د کیاو – شي – یي (د ناروزلو چنجیو وربښم)، تسو – مو (د Hemp یو ډول= شاهدانه)، کین – پو – لو (کمبله) چې د وزې له پستو وژغنو څخه اوبدل کېده او د هو – لا – لي (د یوۀ صحرایي حیوان د وړیو ټوکر) یادونه کوي چې له ډېرو نفیسو او ناویاتو ټوکرانو څخه دي.[1] نو موږ له دې خبرې د

---

[1] - سي. یو. کی، دوهم کتاب، ۱۳۳ مخ.

خراسان په ختیځو څنډو او د سند سیند په ناوه کې د اوبدنې د دود څرک لګولای شو.

طبري وایي: په ۱۲۰س= ۷۳۷ز د هرات دهقان په بلخ کې عرب حاکم اسد بن‌عبدالله ته ګرانبیه ډالۍ وړاندې کړې، په هغو کې مروي، هروي او قوهي ورېښمين ټوکران هم وو[1]، چې دا درېواړه سيمې په خراسان پورې اړه لري.

ابن‌اثیر د هراتي ټوکرانو شهرت ته نغوته کوي او مقريزی چې کله د مشهورو مصري ټوکرانو نومونه اخلي، په هغو کې د نازکو زرينو، مخملو او نورو ټوکرانو په لړ کې د خراساني په نامز ټوکر هم يادوي.[2] له دې څرګندېږي چې خراساني ټوکران تر مصره مشهور شوي وو.

د خراسان په شمال او ماوراءالنهر کې د ورېښم اوبدنې صنعت ډېر لوړ کچ ته رسېدلی و. پر ټوکرانو به حيواني‌انځورونه، شکلونه، ماتې‌کرښې او څرګندې‌زوايې جوړېدې. مشهور فرنګی پوه سر اورل سټاين په چينايي ترکستان او کاشغر کې د هغو بېلګې تر لاسه کړي او ګروهمن دی، چې کارونه يې د سمرقند او بخارا دي؛ خو داسې دي لکه له دويمې تر څلورمې لېږدې پېړۍ پورې د ايران صنعتي توکي.

دې پېر ته د منسوبو ټوکرانو له ډولونو څخه يو د ورېښمو او پنبې خراسانی ټوکر دی چې پخوا د فرانسې د سن‌زوش په کليسا او اوس‌د پاريس په لوور موزيم کې دی. په هغۀ په کوفي خط کښل شوي دي:«عزو اقبال للقايد بن‌منصور بختګين اطال الله بقاءه» ښايي موخه هغه مشر وي، چې د عبدالملک بن‌نوح ساماني په دربار کې و او ابن‌اثير وايي په (۳۴۹س= ۹۶۰ز) کال کې ووژل شو. د دې ټوکر شکلونه او ښکلاينې د لوی فيل، طاووس او اوښ انځورونه دي. له هغو معلومېږي چې اسلامي سبکونه راڅرګند او د ټوکرانو څنډې د حيواناتو او نباتاتو په انځورونو او ځينو کرښو ښکلل شوې دي.[3]

[1] - طبري ۵/ ۴۶۵.

[2] - خطط مقريزی ۱/ ۴۱۷.

[3] - صنايع ايران بعد از اسلام ۲۳۰، د ډاکټر زکي محمدحسن پارسي ژباړه، د تهران چاپ، ۱۳۲۰ل.

د قاهرې د اسلامي صنايعو په موزيم کې د عباسي پېر ټوکران شته، چې د اوبدنې ځايونه يې مروه او نيشاپور وو. د متروپوليتن په موزيم کې د کتان ټوکر شته چې گل‌ډوله ليکنه پرې ده او په ۲٦٦س= ۸۸۰ز کال کې په نيشاپور کې اوبدل شوی دی.[۱]

د عباسيانو په پېر کې چې د سوکالۍ، امنيت او مدنيت غوړېدنې ورځې وې، د خراسان د اوبدنې صنعت ډېر پرمختگ وکړ او د عربي هېوادونو او خليفه‌گانو د واک په سيمه کې مشهور او دود شو. تر دې چې يواځې د عباسي خليفه المکتفی‌بالله له مړينې وروسته يې د هغهٔ په پاتې لباسونو کې ٦۳ زره خراساني او مروي ټوکران او ۱۳ زره مروي پگړۍ وشمېرلې.[۲]

د خراسان په لوېديځه برخه کې نيشاپور د ټوکر سازۍ او سوداگرۍ مرکز و او لويې سوداگريزې جوپې ترې تللې. له هغهٔ ځخه د کتاني او نخي ټوکرانو پرېمانه ډولونه او په زړهٔ پورې ورېښميني‌جامې- چې پاچاهانو او لويانو ورسره ډېره لېوالتيا درلوده- کفري او اسلامي ښارونو ته لېږدېدې. داسې چې په ښهٔوالي، اصيلوالي او خپلو ځانگړنو کې ورته د نورو ښارونو ټوکران نه رسېدل.[۳]

په کابل کې هم اوبدنه دود وه، له پنبې ځخه يې قيمتي ټوکران اوبدل. ښکلي ښځينه پرتوگونه او اتگوټيز دسمالونه يې ترې جوړول او دا توکي به له خراسان ځخه چين او سند ته لېږدېدل.[٤]

د اسلامي سوبو په پيل کې کندهارۍ پگړۍ مشهورې وې، هغه مهال چې د حضرت‌معاويه له‌خوا په ۵۳س= ٦۷۲ز کې عباد بن‌زياد د سيستان والي شو، هغهٔ د هلمند او ارغنداب پر وادۍ يرغل وکړ، چې کندهار ته راورسېد، بلاذري وايي ويې ليدل چې د خلکو شملې اوږدې دي؛ نو د هغو په پليون يې پگړۍ پر سر او دود کړه چې هغه عباديه ونومل شوه.[۵]

د دې اوږدو پگړيو بهرنۍ خوا يې په تېلې‌گلابتون کاري کوله او د کوچني هرم شکل

---

[۱] - راهنمای صنایع اسلامی تر ۲۴۲ وروسته، د ډيماند، پارسي ژباړه، د تهران چاپ ۱۳۳٦ل.

[۲] - تاريخ‌التمدن الإسلامی ۵/ ۱۰۷.

[۳] - صورة‌الأرض ۴۳۳.

[٤] - پورتنی اثر ۴۵۰.

[۵] - فتوح‌البلدان ۵۳۲.

يې درلود. د زري ګنډنې او پګړۍ جوړونې دا صنعت د خپلواکۍ تر جنګه هم په کندهار کې دود و؛ خو بیا له همدې مهاله لنډې ګومبز ډوله پګړۍ دود شوې او د هغو اوږدو هرمډوله پګړيو کارېدنه پرېښودل شوه چې په پښتو کې يې تېش بللې. په ګومبزي پګړيو د تيلې د ښکلو ګلانو جوړونې صنعت تر اوسه هم په کندهار کې شته.

د سمرقندي ټوکرانو نقره‌يي او سمرقنديه نومې جامې مشهورې وې.[1]

## د بخارا بيت‌الطراز

په خراسان کې د بخارا ښار د پخواني ثقافت او هنر مرکز و. تر اسلامي پېر د مخه يې هنري او ثقافتي وياړونه درلودل، چې له هغې نه د بيت‌الطراز په نامهٔ د اوبدنې يو مرکز مشهور و، نرشخي هغه داسې ستايلی دی:

«په بخارا کې جامع جومات ته نږدې د کوټ او ښار تر منځ يوه کارخانه وه، چې يزديانو[2]، بالشانو، مصليانو او فندقي[3] بُرديانو به د خليفه لپاره فرشونه او خېمې په کې اوبدلې. په يوهٔ فرش يا پرده به د بخارا خراج مصرفېدهٔ. له بغداده به هر کال ځانګړی مامور راتهٔ او د بخارا د ټول خراج په بدل کې به يې دا توکي وړل... داسې هېڅ پاچاه، امير، رئيس او چارواکی نه و چې دا توکي به يې نه درلودل. رنګونه يې سرهٔ، سپين او شنهٔ وو. اوسمهال په ټولو ولايتونو کې د هغو تر ټولو مشهور ټوکر زندنيجي[4] دی.»[5]

---

[1] - احسن‌التقاسيم ۳۲۵.

[2] - يزدي: يزد ته منسوب لباس (ستين‌ګاس فرهنګ ۱۵۳۰) ښايي همدا د يو ډول ټوکر علمي نوم و.

[3] - بُرد: يو ډول ليکې ليکې لباس، ښايي فندق نومې ځای ته منسوب وي (غياث)

[4] - زندنيجي: د بخارا يوهٔ کلي زندنه ته منسوب چې« ثياب زندنجيه» يې مشهور دی (معجم‌البلدان).

[5] - تاريخ بخارا ۲۴.

## خوږه جوړونه

په لومړۍ اسلامي پېړۍ کې د خراسان په سوېلي سيمو يعنې مکران او طوران کې د خوږې جوړونې صنعت عام و. ځکه د دې سيمو تود اقليم د ګنيو د کر لپاره برابر و. عرب جغرافيه‌پوهان د دې سيمې په صنعتي توليداتو کې د خوږې او د هغې د سوداګرۍ يادونه کوي. دا يو ډول سپينه خوږه وه چې اوسمهال يې «مسري» بولي.

اصطخري د طوران په ښارونو کې د جدران (ابن حوقل: خرذان» کلي نوم اخلي چې خوږه به له هغهٔ ځايه وړل کېده. همدا رنګه د ماسکان او قصدار ښارونو ډېره خوږه درلوده چې هغه يې نورو ښارونو ته وړله.[1] که څه هم چې د ماسکان سپينه دانه‌داره خوږه مشهوره وه؛ خو وروسته ترې د طوران خوږه ښه او د ماسکان هغه دويمه درجه شوه.[2]

## بادي ژرندې

تر اوسه هم په هرات او سيستان کې بادي ژرندې شته. په دې سيمه کې د کال په يوهٔ بشپړ فصل کې دومره باد لګي چې منځني څرخونه څرخولای شي؛ نو وګړي له دې موسمي باد لګېدنې ګټنه کوي. دا بادي ژرندې د خراسان او سيستان ځانګړی صنعت دی.

کله چې سوبمن عرب دې خاورې ته راورسېدل، يواځينی څيز چې د هغوی د هېښتيا لامل شو، همدا بادي ژرندې يا د هغو په خپله وينا (طواحين‌الرياح) وې، چې هر عرب جغرافيه‌پوه يې يادونه کړې ده.

اصطخري وايي: په سيستان کې سخت بادونه دوام کوي، دومره سخت چې هغو ورته ژرندې جوړې کړي، چې پر باد ګرځي.[3] ابن‌حوقل هم همدا مطلب ليکلی دی.[4] البشاري بادي ژرندې د سيستان له هېښندو څيزونو څخه ګڼي، چې د هوا او باد

[1] - اصطخري ۱۷۷ او صورةالأرض ۳۲۵.

[2] - احسن‌التقاسيم ۱۸۱.

[3] - مسالک الممالک ۲۴۲.

[4] - صورةالأرض ۴۱۵.

په وسیله ګرځي او غنم پرې اوړهٔ کوي.[1]

## زرګري او فلزکاري

خراسان د غرونو او ډول ډول کانونه په لرلو سره امتیاز او شهرت لري. د بدخشان د یاقوتو او لاجوردو، د پنجشېر او اندراب د سرو او سپینو زرو، د نیشاپور د فیروزې او قیمتي ډبرو د کانونو او د هندوکش، غور او نورو غرونو د کانونو یادونه د جغرافیې په پخوانیو کتابونو کې شوې ده. مؤرخان پرې هم چوپ پاتې شوي نه دي.

د زرګرۍ، پسولسازۍ او غمي‌کارۍ صنایع د ډول ډول کانونو له امله د خراسان په بازارونو کې طبیعي صنعت دی. موږ وینو چې خراساني هنرپالو په ښکلو صنعتونو کې پوخ لاس درلودلی دی.

مسعودي وایي: چې په ۲۸۳س= ۹۸۶ز کال کې صفاري عمرو لیث د خراسان پاچاه سل اسونه او ډېر خراساني خرهٔ د خراساني توکو له ډکو صندقانو او څلور ملیونو درهمو سره د بغداد د خلیفه المتوکل دربار ته ډالۍ کړل. په دې جمله کې د جستو یو بت و، چې په بُست او داور سیمه کې د صفاري پاچاه لاس ته ورغلی و. دا بت څلور لاسې ښځینه پېره وه. د دوو لاسونو طلایي بنګړي یې په سرو او سپینو قیمتي ډبرو ښکلل شوي وو. ځینې کوچني بتان هم ورسره وو، چې پر هغو یې ګانې او قیمتي کانې کارولي وو. دا پېرۍ یې درې ورځې د بغداد د خیتځ برخې د پولیسو په اداره کې د خلکو د ننداري لپاره کښېښودې او بیا یې د المعتضد دربار ته یووړې.[2]

له دې داستانه څرګندېږي چې صفاري عمرو لیث دا بتان له داور او بُست څخه تر لاسه کړي؛ نو هرومرو د دې خاورې صنعتي محصول و، چې تر دریېمې لېږدې پېړۍ پورې پاتې و. په همدې څېرکي کې مو د نساجۍ او اوبدنې د صنعت په شرحه کې وویل، چې په ۱۲۰س= ۷۳۷ز کال کې د هرات دهقان، په بلخ کې عرب حاکم

---

[1] - احسن التقاسیم ۳۳۳.

[2] - مروج الذهب ۴ / ۱۷۲.

ته د دې وطن د نفیسو توکو قیمتي ډالۍ وړاندې کړې وې، په دې ډالیو کې په دې تفصیل د هرات د زرګرۍ مصنوعات هم وو:

د سرو او سپینو زرو د مانۍ دوه بولګې، کوزې، د سرو زرو بنګړي او د سرو او سپینو زرو کاسې. د سرو او سپینو زرو دې توکو د عرب حاکم د کور غولی ډک کړی و.[1]

د اسلامي پېر د خراسان د فلزکارۍ په بېلګو کې برونزي لوښي او کوزې شته. د دې لوښو سینګارنې راوتې یا ننوتې او د سرو مسو په ټوټو پسولل شوې دي، چې زیاتره یې د لیننګراد په هرمیتاج موزیم کې شته. له هغو څخه یو یې د انار ونه ده چې پاڼې یې لرې غټې انځور او په مسو ښکلل شوې دي او د بالتیمور د والټرز WALTERS په ګالري کې پرته ده. دا توکي چې د جوړېدنې نېټه یې اتمه زېږدې پېړۍ ګڼلای شو، په اسلامي پېر کې د خراسان د پسولنې او ښکلاپوهنې د ښوونځي تر ټولو پخوانۍ بولګه ده.[2]

**کاغذ جوړونه**

د کاغذ جوړونې صنعت تر مخزېږدي پېړۍ د مخه په چین کې دود و، له هغه ځایه د امو د ناوې شمالي ښارونو ته راخپور او په ماوراءالنهر کې د کاغذ جوړونې کارخونې جوړې شوې وې. مسلمانانو دا صنعت له سمرقندیانو څخه زده کړ؛ خو د دې د خپرولو او پراخولو هڅه یې ونه کړه. وایي چې په ۱۳۴س=۷۵۱ز کې ځینې چینایي بندیان اسلامي هېواد ته راوستل شول[3] چې کاغذ یې د کتان، بنګو او سونډو له ولیو جوړاوه؛ نو مسلمانانو ترې کاغذ جوړونه زده کړه. ښایي د کاغذ کلمه هم له آره چینایي او د پارسي له لارې عربي ته ورغلې وي. برمکی فضل بن‌یحیی چې په

---

[1] - طبري ۴ / ۴۶۵.

[2] - راهنمای صنایع اسلامی، د ډیمانډ، پارسي ژباړه ۱۳۷، د تهران چاپ ۱۳۳۶ل.

[3] - دکتور هتی در تاریخ عرب ۲/ ۵۰۳، د قاهرې چاپ ۱۹۶۱ز، د بارتولد د ترکستان په حواله ۲۳۶.

۱۷۸س= ۷۹۴ز کې د خراسان حاکم و، لومړنی کس دی چې دا صنعت يې له خراسانه عراق او بغداد ته يووړ.[۱] څرنگه چې د عباسيانو په پېر کې د ليکنو راليکنو او رسمي دفتري سجلونو لپاره نري پوستکي ډېر نه پيدا کېدل؛ نو فضل بن‌يحيی برمکي- چې دا صنعت يې په خراسان کې ليدلی و- امر وکړ او کاغذ جوړوونکي يې له خپلو کارخونو سره بغداد او شام ته ولېږدول. مقريزی وايي جعفر برمکي په حکومتي دفترونو کې د پوستکي پر ځای کاغذ کارول دود کړل. د شام د کاغذ صنعت د اندلس له لارې اروپا ته خپور شو او په همدې CHARTA DAMASCENA نامهٔ يې ونوماوهٔ.[۲] کاغذ چې د چين د وگړو اختراع وه، د سمرقند او خراسان له لارې بغداد ته ورسېده او په اسلامي هېوادونو کې دود شوه.[۳] تر څلورمې لېږدې پېړۍ پورې هم د کاغذ جوړونې کارخونې په خراسان کې وې، لکه چې جوزجانی د سمرقند په شرحه کې وايي:

«او په هغهٔ کې کاغذ جوړېږي، چې ټولې نړۍ ته يې وړي.»[٤]

ابن‌حوقل د ماوراءالنهر جوړ کاغذ په ښهٔوالي او زياتوالي کې بې ساري گڼي.[۵] د سمرقند جوړ کاغذ به تل نورو ځايونو ته لېږدېدهٔ.[٦]

شرف‌الزمان طاهر مروزی د ۵۱۴ س=۱۱۲۰ز شاوخوا ليکي: په پخوا وختونو کې سمرقند له چين سره اړيکي درلودهٔ، کله چې مسلمانانو ونيو، له چينايانو څخه د کاغذ جوړونې ډېر ښهٔ آثار هلته پاتې شول، چې د کاغذ يو مخ سپين او بل يې ژېړ و.[۷]

گوستاولوبون وايي: چينايانو په پخوا وختونو کې د ورېښمو له تارونو څخه کاغذ جوړ کړی و او د لېږدو کلونو په لومړيو کې نوموړې اختراع له چين څخه سمرقند ته

---

[۱] - پورتنی اثر.

[۲] - تاريخ‌التمدن الإسلامی ۱ / ۲۰۰.

[۳] - کتاب‌الهند ۱۳۳ او تاريخ فرهنگ د ډاکټر عيسی صديق ۴۰۷ او تاريخ عرب د هتي ۸٦.

[٤] - حدودالعالم ٦٦.

[۵] - صورة‌الأرض ۴٦۵.

[٦] - کتاب‌البلدان د ابن فقيه ۲۱۵.

[۷] - طبايع‌الحيوان ٦ او ۱۰.

راغلې وه. کله چې عربو سمرقند ونيو، هلته يې د کاغذ جوړونې کارخونې وموندې؛ خو د ورېښمو پر ځای يې د پنبې کاغذ دود کړ، ځکه چې ورېښم هر چېرته نه پيدا کېدل. په اروپا کې له زړې پنبې څخه کاغذ جوړونه د عربو په لاس دود شوه. د اسکوريال په کتابتون کې پر همدې پنبه‌يي کاغذ د اروپا تر ټولو پخوانی کتاب شته، چې په ۴۰۰س= ۱۰۰۹ز کې کښل شوی دی.[1]

د اموي دولت تر وروستيو پورې په دمشق کې ليکنې په پوستکي باندې کېدې او حکومتي مکتوبونه د پوستکي پر ټوټو ليکل کېدل. د عباسي سفاح په پېر کې چې خراساني بلخي خالد بن‌برمک ته وزارت وسپارل شو، حکومتي مکتوبونه يې له هغو سجلونو او ټوټو څخه د کتابونو په ډول واوړل، تر هغه چې د هارون‌الرشيد په پېر کې جعفر بن‌يحيی برمکي کاغذ دود کړ.[2] ابن‌نديم وايي په هغهٔ کې چينايي او خراسانی کاغذ هم و، چې له کتان څخه جوړېدهٔ. وايي چينايي کارګرو هغه پخوا په خراسان کې جوړ کړی و او د امويانو او عباسيانو په پېر کې خپور او دود شو.[3]

**پره تورنه :**

پره تورنه او جوړونه هغه صنعت دی، چې په افغانستان کې تر اسلام وړاندې و او د دوو مدنيتونو (بودايي- يوناني) د ګډولې په پايله کې د افغانستان او ګندهارا په خاوره کې ډېر لوړ پوړ ته رسېدلی و. ان انځور، معشوقه او د کندهار بت د خپلې تاريخي ښکلا له امله د اسلامي پېر په دري ادبياتو کې هم د حسن و ښايست د غوره بېلګې په ډول ګڼل کېدل، لکه:

زخوبـــان و از ريـــدکان سرايـــی   به قصـر تو هر خانه يی قنـدهاری

(دېوان فرخی ۳۷۵)

وثاق تو از نيکو ان چـون بهشـت   سرای تـــو از لعبتـــان قنـــدهار

---

[1] - تمدن اسلام وعرب ۶۲۱.

[2] - تاريخ‌التمدن الإسلامی ۳ / ۵۷.

[3] - الفهرست ۳۲.

(دېوان فرخی ۱۵۳)

نگـار قنـدهاری قند لـب نیسـت    تـو قنـدین لـب نگـار قنـدهاری

(دېوان عنصری ۱٦٧)

بوی خاک از نرگس و سوسن چـو مشـک تبتـی
روی بـاغ از لالـه و نســرین چـو نقـش قنـدهار

(دېوان انوری ۱۳۰)

صــانعی بایــد حکــیم و قــادر و قــایم بــذات
تــا پدیــد آیــد ز صــنع وی، بتــان قنــدهار

(دېوان سنایی ۱۴۱)

په پنځمه لېږدې پېړۍ کې د هفتليانو ځواک او پر جنگي چارو او يرغل د خلکو بوختيا د دې لامل شوه چې د پېرې‌تورنې او بت جوړونې صنعت مخ پر ځوړ شي؛ خو له دې سره هم دغه هنر لەمنځه لانړ او لمنه يې تر اسلام - چې د بت تورنې منع کوونکی و- راتګه وغځېده، عالم ليکوال ښاغلی کهزاد په دې اړه ليکي:

«د فندقستان - د غوربند درې سياه‌گرد ته مخامخ- د عبادتځي بودايي آثار چې په ۷مې زېږدې پېړۍ پورې اړه لري، هغه بېلګې دي چې په افغانستان کې د پنځمې زېږدې پېړۍ د ګريک و بوديک صنعت تر ځوړ وروسته د پېرۍ‌تورنې او رنګه دېوالي انځورونو د نړۍ، نوی او وروستی خوځښت ښيي. د موسيوهاکن له څېړنو جوتېږي، ساساني صنعتي لاملونه او ځانګړنې چې په ۴مه زېږدې پېړۍ کې د ګريک و بوديک د پېرې‌تورنې له ښوونځي سره ګډ شوې وې، يو ځل يې بيا خپل ځای هندي لاملونو په تېره د ګوپتايي پېر ځانګړنو ته پرېښود. د فندقستان سبک د چين د تانګانو د پېر پر پېرې‌تورنې اغېز وکړ. د فندقستان په پېريو کې د اندام تناسب خپل ځای زياتې رنګونې ته پرېښی او صنعتګر غوښتي چې د خپل لاس محصول په رنګونو لا ښکلی کړي؛ خو رنګول د تناسب ځای نه‌شي نيولای، په تېره د پېريو سرونه د بدن په پرتله ډېر کوچني برېښي.

په هر حال د افغانستان د بودايي پېرې‌تورنې وروستي آثار د فندقستان هغه

ګڼلای شو؛ خو دا هم باید په پام کې ولرو چې ګڅي آثار آن په ۸ مه زیږدي پېړۍ کې هم جوړ شوي دي.»[1]

د دې څېړنو له مخه پوهېدلای شو چې له ۱۰۰ تر ۲۰۰ س پورې یعنې د پړې‌تووړنې صنعت په افغانستان کې د اسلامي سوبو په بهیر کې د خپل ژوندانهٔ وروستي پړاوونه وهل، تر هغهٔ چې د بت ماتوونکو مسلمانانو په لاس لهٔمنځه لاړ.

[1] - تاریخ افغانستان ۲/ ۳۷۵.

# سوداګري

د ٦مې او ۷مې زېږدي پېړۍ افغانستان، د هندوستان و پارس د ساساني هېواد، د ماوراءالنهر هېوادونو او چين تر منځ او سوېل لور ته تر عربو سمندرګي پورې پروت و، چې د وربښمو مشهوره لاره ترې تېرېده.[1] د فرانسوي پوهانو په تعبير« رنه‌ګروسه »يا د بودايانو د ليدو لاره هم وه. د هند، پارس، چين او ماوراءالنهر هېوادونو سوداګريزې جوپې په دې خاورې عراق، عربي هېوادونو او مصر ته تېرېدې؛ نو ځکه يې د سوداګرۍ غوره ښارونه او مرکزونه درلودل.

د نهم لېږدي کال او تر هغه راوروسته د دې خاورې د سوداګريزې وضعې معلومات د هيونڅانګ په خولۀ موږ ته رارسېدلي دي، چې د هغو ځينې ټکي د يادونې وړ دي:

د هيونڅانګ پر پېر د افغانستان و هند په سرحدي ولايتونو کې د سرو او سپينو زرو، سپينو وړيو، مرغلرو، عنبرو، جواهرو او قيمتي ډبرو د ډولونو سوداګري کېده[2] او د کابل د شمال په کاپيسا کې د زياترو هېوادونو توکي پيدا کېدل.[3]

**درې سوداګريزې لارې**

له افغانستان څخه د هند خاورې ته درې سوداګريزې لارې وې:

**لومړۍ**

شمال ته د کابل او کونړ سيند له ناوې څخه د باجوړ لاره يا د کابل سيند ناوې په لاره د پېښور وادۍ او د اباسين غاړو ته تېرېده. د دې وادۍ په پای کې د سند سيند پر غاړه د کابلشاهانو دويمنی پلازمېنه يوداکهنده يعنې ويهند پروت و چې ستر

---

[1] - تمدن ايرانی ۴۵۳.

[2] - سي. يو. کی، د دوهم کتاب پای، تر ۱۵۰ وروسته.

[3] - پورتنی اثر تر ۱۱٦ وروسته.

سوداګریز مرکز و او وګړي یې بډای او پرمختللي وو. دلته د نورو هېوادونو د سوداګریزو توکو او مالونو لوی ګودام و،[1] چې د هند مښک، مرغلرې، او قیمتي توکي په کې وو.[2]

دې شمالي سوداګریزې لارې، تخار ولایت او کابل له هند سره نښلول. څرنګه چې د هندوکش د شمالي سیمو سوداګري له هند سره له دې لارې کېدهٔ؛ نو د کابل د شمال پروان د سوداګرو ځای و چې د هندوستان ور یې بالهٔ.[3] کابل ښار چې دا سوداګریزې لارې په کې سره نښتې، یواځې د هغهٔ په بازار کې تر دوو ملیونو دینارو په زیات قیمت نیل پلورل کېدهٔ.[4]

کابل ولایت د هندوکش په شمال کې له بلخ ولایت سره نښتی و. دا د سودا او سوداګرو آباد ځای و، چې د هندوستان‌ګودام یې بالهٔ.[5] له هر لوري ورته سوداګریز مالونه راتلل او د سوداګریزو راکړو ورکړو مرکز و.[6] بلخ له جوزجان سره نښتی و او جوزجان ښار د صنعتکارانو، سوداګرو او سوداګریزو مالونو ګودام و[7]؛ نو سوداګریز اهمیت یې زیاتېدهٔ. البشاري وایي ګټوره سوداګري او پرېمان سوداګریز توکي یې درلودل او د سند بازار و.[8] بلخ ۱۴ ورونه درلودل چې البشاري یې دوه: د هندوانو ور او د یهودانو ور ګڼي. بارتولد وایي: دا نومونه د هغو کوڅو د شتون کیسه کوي چې هندي او یهودي سوداګر په کې اوسېدل.[9]

---

۱ - سي. یو. کی، ۱۶۳.
۲ - حدودالعالم ۴۶.
۳ - پورتنی اثر ۶۴.
٤ - ابن حوقل ۴۵۰
۵ - حدودالعالم ۶۱.
٦ - ابن حوقل ۴۴۸.
۷ - پورتنی اثر ۴۴۲.
۸ - احسن القاسیم ۳۰۲.
۹ - جغرافیای تاریخی ایران ۵۷.

نو د هندوکش د شمالي ولایتونو جوپې د کابل او لغمان له لارې د سند سیند څنډو او هندوستان ته رسېدلې. لغمان هم د سوداګرو ځای او د هندوستان ګودام و. تر هغۀ وروسته دنپور (د اوسني جلال آباد شاوخوا او د بابر آدینه‌پور) د ټول خراسان او مسلمانانو سوداګرو ځای و.[1]

د پېښور وادۍ په وروستیو کې ختیځ لور ته د ویهند مشهور ښار پروت و، چې د کابلشاهانو دویمنۍ پلازمېنه ګڼل کېده. اوس د سند سیند پر ښي څنډه اټک ته مخامخ د هند کلي د تاریخي ویهند پر ځای شته. دا ښار د هند، پېښور او کابل تر منځ سوداګریز ځای و. د څلورمې لېږدي پېړۍ تر وروستیو پورې په کې مسلمانان لږ وو. د هندوستان بېړۍ به زیاتره دې ښار ته راتللې.[2]

**دویمه**

ختیځ لور ته د افغانستان دویمه سوداګریزه لاره له غزني او پکتیا ولایت څخه په ګومل او نورو درو، بنو (پخوانی بنیان) ته رسېدله، چې له هغه ځایه د نیلاب ګودر له لارې د اوسني پنجاب خاورې ته تېرېده.

غزنی ودان ښار و، ابن‌حوقل وایي د دې سیمې په ټولو ښارونو کې د غزني غوندې آباد او ګڼ‌توکیز ښار نه و، چې دا یې هم د هند بندر بالۀ.[3]

څرنګه چې غزنی شمال لور ته د کابل له وادۍ او سوېل لور ته د ارغنداب او هلمند له وادیو سره نښتی و، نو سوداګریز اهمیت یې ډېر و. شاوخوا یې خلج وګړي (اوسني غلجي کوچیان) د مېږو له ګرځندو ټلونو (رمو) سره اوسېدل،[4] چې غزني ته او یا له هغه څخه د سوداګریزو مالونو او توکو د لېږد وسیله کېدل.

غزنی له دوو سوداګریزو مرکزونو یعنې کابل او بامیانو سره نښتی و، که څه هم کابل (جروس) د حضرت‌عثمانؓ په خلافت کې نیول شوی و؛ خو د یعقوبي تر پېره ۲۹۰س= ۹۰۲ز سرپټی ښار بلل کېدۀ او بې له سوداګرو ورته څوک نه شو

[1] - حدودالعالم ۴۶.
[2] - پورتنی اثر، همدغه مخ.
[3] - صورةالأرض ۴۵۰.
[4] - حدودالعالم ۶۴.

ورتلای. سوداګرو ورته د لویې هریړې د وړلو لپاره تګ راتګ کاوه.[1] دا هریړه د طبي بوټي دانه ده چې په یوناني او انګلیسي یې MYROBALON بولي او تر ټولو مهم ډول یې په کیبولک (کابلۍ) مشهور و،[2] چې د کابل له عمده سوداګریزو توکو څخه ګڼل کېدهٔ. ان چې کابل یې د غوره هریړې ښار بالهٔ.[3] همدا رنګه د کابل د ډېرو ښو نخي ټوکرانو سوداګریز اهمیت دومره و چې له هغو څخه یې دسمالونه او اتځنډي خوله‌وچي (عرقپاک) جوړول او د خراسان ټولو ښارونو، چین او سند ته یې وړل. کابل د نیل د سوداګرۍ مرکز هم و، لکه چې ابن‌حوقل د هغهٔ ځای له سوداګرو څخه اورېدلي وو، یواځې د کابل په ښار او شاوخوا کې په کال کې د سرو زرو د دوو ملیونو دینارو نیل پلورل شوی او لا یوه اندازه نور هم له سوداګرو سره و.[4] پر دې سربېره یې په بازارونو کې د هند نفیس توکي او چینایي مالونه تر لاسه کېدل.[5]

له دې دوو لارو - لومړۍ او دویمې- څخه چې یوه یې هند او بله یې شمال ته ماوراءالنهر او چین ته رسېدله، له دې دوو هېوادونو څخه سوداګریز مالونه ایران او نورو هېوادونو ته لېږدېدل چې مهم یې چینایي ورېښم وو؛ خو دا سوداګري په شپږمه زېږدې پېړۍ کې کمه شوې وه، ځکه رومیانو د ورېښمو چنجو د تار تو‌تان وروزل او د آسیایي ورېښمو له اړتیا څخه خلاص شول.[6] همدا رنګه هندي لوښي، خراسانۍ اوسپنه، د کشمیر رنګه ټوکران، عود، مښک او دارچیني له چین او عود، لونګ، کوپره، نخي ټوکران او فیلان له هند و سند څخه د افغانستان پر لاره لوېدیځ او عربي هېوادونو ته لېږدېدل.[7]

---

[1] - البلدان د یعقوبي ۵۳.

[2] - جغرافیای خلافت شرقی، اردو ژباړه ۵۲۷.

[3] احسن‌التقاسیم ۳۰۴.

[4] - ابن حوقل ۴۵۰ او ادریسي ۷۲.

[5] - جغرافیای خلافت ۵۲۸.

[6] - ایران ساسانی، د کریستن‌سن ۱٦٦.

[7] - تاریخ تجارت در عصر اموی ۳۷.

ابوزید سیرافي وايي: د هندوستان جوپې پرله‌پسې خراسان او له هغۀ ځايه هند ته ځي راځي. زابلستان (د ترنک او ارغنداب ناوه) د دې لويو جوپو لاره ده[1] او هندي توري (مُهند).

الماني فون‌کريمر وايي: د افغانستان د شمال شبرغان له لارې سوداگري کېده.[2] ژوزف‌هاکن وايي د ختيځو او چينايي جوپو د سوداگريزو مالونو د راکړې ورکړې مشهور برج همدلته و.[3]

**درېيمه**

د خراسان او سيستان ډېره مهمه درېيمه لاره د سند و هند خاورې ته له نيشاپور، هرات، سيستان او بُست څخه په رخج تېرېده او د پښين او شال (اوسنۍ کوټه) له وادۍ څخه په بولان درې د سند پراخې وادۍ ته ورکښته کېده.

په دې سيمه کې ډېر مشهور او سوداگريز ښار هرات و، چې لوېديځ خوا ته د خراسان له بل مهم سوداگريز مرکز نيشاپور سره نښت. نيشاپور د اسلامي عسکرو د راتگ له هماغۀ پيل څخه ځانگړی مرکزي اهميت درلود او په خراسان کې د عربو د لښکرکښيو لوی تمځی و. دا ښار په څلورمه لېردې پېړۍ کې ډېر آباد شو، د سوداگرو او سوداگرۍ ځای و.[4] د سوداگرۍ د ډولونو لپاره يې ځانگړي بازارونه درلودل. صنعتکارانو، خولۍ جوړوونکو، پوستين گنډونکو، رسۍ پلورونکو، نورو کسبگرو او د صنعت خښتنانو په بازار کې ځانگړې کوڅې درلودې. د هغۀ د ټوکر پلورنې له بازار څخه به نورو سيمو ته پرېمانه توکي لېږدېدل. په خراسان کې د سوداگريزو جوپو په تگ راتگ کې تر نيشاپور بل لوی ښار نه و. ډېر غوره نخي او ورېښمين ټوکران به له دې ځايه نورو اسلامي ښارونو ته لېږدېدل.[5]

---

[1] - کتاب‌الهند و السند ۲۰۱.

[2] - تهذيب مشرق در عصر خلفاء، اردو ژباړه ۲۲.

[3] - تمدن ايرانی ۴۵۴.

[4] - حدودالعالم ۵۵.

[5] - صورةالأرض ۴۳۳.

مقدسي وايي: نيشاپور د ختيځ و لوېديځ خزانه او د سوداګرۍ مرکز و. د هغهٔ سوداګريز توليدات تر عراق او مصر پورې لېږدېدل. د پارس، سند، مکران، خوارزم او جرجان د سوداګريزو مالونو ګودام و.[۱]

هرات د دغسې لوی سوداګريز مرکز په ختيځه خوا کې پروت و، په داسې حال کې چې شمال ته د خراسان له بل سياسي- اقتصادي مرکز مروې سره نښتی و او د بخارا سوداګريزه لاره هم سوېل لور ته له دې ښار سره نښته.

بخارا د اسلامي پېړيو په لومړيو کې د سوداګرۍ له پلوه ځانګړی نوم درلود. تر دې چې عربو هغه په عربي ژبه مدينةالتجار بلله. يواځې د جعلي زرو په يوهٔ بازار کې چې دروذګران او انځورګران په کې وو، د ورځې تر پنځوس زرو درمو زياته سوداګري کېده.[۲] هرات شمال ته د بخارا، ماوراءالنهر او خوارزم له مشهورو ښارونو سره نښت، په داسې حال کې چې سوېل خوا ته له سيستان او رخج سره نښتی و. د خوارزم له جرجانيې څخه به تل خراسان او ګرګان ته سوداګريزې جوپې راتلې.[۳] ابن‌حوقل وايي: د هغهٔ نخي او وړين ټوکران به د نړۍ ليرې ځنډو ته لېږدېدل او د هغهٔ سوداګرو به له شمالي هېوادونو سره هم سوداګري کوله.[٤]

هرات د خراسان د زړهٔ او د سوداګريزو جوپو د لارو نښتنګځی و. اصطخري وايي د هغو توکو د کښته کېدو ځای و، چې له پارس څخه به خراسان ته رالېږدېدل. هرات د خراسان، سيستان او پارس ور ګڼل کېدهٔ.[۵]

پر هغې لويې لارې د هلمند سيند پر غاړه د بُست مشهور ښار پروت و، چې له هرات، سيستان او پارس څخه له رخذ او بولان درې سره نښته. بُست يې د هندوستان

---

۱ - احسن‌التقاسيم ۳۱۵.

۲ - تاريخ بخارا ۲۵.

۳ - اصطخري ۲۹۹.

٤ - صورةالأرض ۴۸۱.

۵ - اصطخري ۲٦۵.

ور او د سوداګرو ځای بالهٔ.[1] چې د هندوستان سوداګریزې خونې په کې وې.[2] په همدې وادۍ کې اټکلاً د رخذ ختیځ لور ته د غرهٔ پر سر د غزق (غزه) په نامهٔ ښار و، چې ډېر نعمتونه او تولیدات یې درلودل او د سوداګرو ځای و.[3]

لکه چې ومو ویل دا سوداګریزه لاره پر زابلستان سند ته رسېده، هلته لوی سوداګریز مرکز الرور (اوسني روهري) دی چې په همدې لاره پروت او سامان یې پلازمېنه وه. همدا رنګه ملتان، بسمد، منصوره او دېبل غوره سوداګریز مرکزونه وو، چې بشاري مقدسي او ابن‌حوقل دواړو په دې ښارونو کې د سوداګرۍ د ګڼې ګونې یادونه کړې ده.[4]

کله چې به یې سوداګریز توکي له طوران څخه تېرول راتېرول؛ نو د اوښ په هر بار به یې شپږ درهمه او په هر مریي به یې دولس درهمه ګمرکي محصول اخیست. له هند څخه سند ته په راغلو توکو به په هر بار شل درهمه محصول اخیستل کېدهٔ. په داسې حال کې چې سند ته د لېږلي هر رنګ شوي پوستکي ګمرکي محصول یو درهم و او دا ګمرکي محصول د کال ټولټال یو ملیون درهمو ته رسېدهٔ.[5]

د اسلامي پېر په لومړیو کې ملتان ښار د سند وادۍ دیني او کلتوري مرکز و، د محمد بن‌قاسم تر سوبو وروسته (۹۳= ۷۱۱ز) د امویانو او د هغو د امیرانو پنډغالی شو او خپل اقتصادي او سوداګریز ارزښت یې د سمندري لارې تر پیدا کېدو او د اتلسمې پېړۍ تر وروستیو پورې وساتهٔ. ملتان د هند او خراسان د سوداګرۍ مهم بازار و، په تېره چې زرګونو هندي سیلانیانو ورته تګ راتګ کاوهٔ.

هغوی په زیاته کچه عود او خوشبویه هندي لرګي له لیرې سیمو څخه ملتان ته رالېږدول، په ځانګړي ډول د کامروپ عود دومره پاسته او غوره وو، چې پر هغو به

---

[1] - حدودالعالم ۶۳.
[2] - اصطخري ۲۴۵.
[3] - حدودالعالم ۶۴.
[4] - صورةالأرض تر ۳۲۰ وروسته او احسن‌التقاسیم ۴۸۱.
[5] - احسن ۴۸۲.

يې په آسانۍ سره مهر کيندۀ. يو من به يې تر ۲۰۰ دينارو پورې قيمت درلود او له دې ځايه به سوداګرو نورو ښارونو ته لېږداوۀ.[1]

**له عربي هېوادونو سره سوداګري**

خراسان لوېديځ لور ته له عراق، پارس، بين‌النهرين او د عربي خلافت له نورو هېوادونو سره سوداګري درلوده. بغداد، بصره او کوفه د خراسان د سوداګريزو توکو پلورنځي وو. د منځنۍ آسيا سوداګريزې جوپې له بخارا او پارس څخه بغداد ته رسېدې.[2]

هغه لاره چې له سنده سيستان او پارس ته تېرېده، شمال لور ته له پنجاب سيمې او د افغانستان له غزنۍ لږې سره د کابل، غزني او نورو سوداګريزو مرکزونو له لارې نښتې وه او د هند د مصاله‌جاتو جوپې يې په خراسان او بخارا کې خپرولې.[3] هندي لوښي، خراسانۍ اوسپنه، رنګه کشميري ټوکران، عود، لونګ، کوپره، نخي ټوکران او فيلان يې له هند و سنده بغداد ته لېږدول.[4]

د ۱۴۵س= ۷۶۲ز شاوخوا چې منصور خليفه د بغداد بنسټ کښېښود، هغۀ د دولت ځينو چارواکو ته ځمکې ورکړې، چې ودانۍ په کې جوړې کړي. له هغې جملې د منصور د مريي ربيع بن‌يونس يوه ټوټه ځمکه وه چې خراساني‌سوداګرو او خراساني ټوکر پلورونکو په کې خونې درلودې. له ټول خراسان څخه به يې ډول ډول ټوکران لېږدول، د نورو ښارونو ټوکران په کې نه وو. د بغداد يو ور خراسان ور نومېدۀ، چې په هغۀ به خراسان ته تګ راتګ کېدۀ. د بغداد بله ټوټه ځمکه د شعبه بن‌زيد کابلي وه. د حرب بن‌عبدالله بلخي ربض[5] - چې څو ورونه يې درلودل- د بغداد لويه برخه ګڼل کېده.

---

[1] - ابوزيد سيرافی در کتاب‌الهند و الصين، ۱۲۹.

[2] - تاريخ الإسلام السياسي ۲/تر ۲۴۹وروسته، د هيد HEYD د «تاريخ تجارت در قرون وسطی» په حواله ۲۶/۱.

[3] - پورتنی اثر ۲ / ۲۵۳.

[4] - پورتنی اثر ۲/ ۲۵۴ د حضارة الاسلام فی دارالسلام په حواله.

[5] - «رَبَض» کلمه داسې تشرېح شوې: په دوه زورونو تر ښار چاپېره کورونه او استوګنځايونه (المنجد).

بلخیان، مرویان، کابلیان او نور خراسانیان په کې اوسېدل او هرې ډلې مشر درلود. همدا رنګه د پولیسو د قوماندان حکم بن‌یوسف بلخي ټوټه، د تمیم بادغیسي ټوټه، د ابي عبید معاویه بن‌برمک بلخي ټوټه او د خالد بن‌برمک بلخي ودانۍ په بغداد کې د خراسانیانو په نامهٔ مشهورې او د خراساني سوداګرو تمځایونه وو.[1]

په خراسان کې یې د بخارا د کارګرو ځای «وذار» بالهٔ چې هلته وذاري کم رنګه ټوکران اوبدل کېدل. مقدسي وایي د دغو نوم یې د بغداد له مخورو اورېدلی دی، چې خراسانی وربښمین ټوکر یې بالهٔ او په بغداد کې مشهور و.[2]

د بغداد له جوړېدو وروسته چې د عباسیانو پلازمېنه شوه، د خراسان سوداګري ورسره روانه وه. د هند له سیمو سوداګرو یاقوت، الماس، له نیشاپوره خوږبویه تېل، وربښم، وربښمینې څادرې او لرګین تالي، له بلخه ټوکران، له ماوراءالنهره کاغذ، نوشادر، مښک، د سپلم، بیلونګړی او ګیدړ پوستکي، له بخارا فرشونه، مصلې او وړین ټوکران، له چینه مښک، کافور او عود او له ماوراءالنهر، سمرقند او خراسان څخه سپین پوستي مریان (چې د هر یوهٔ قیمت تر پنځه‌و زرو دینارو پورې و) بغداد ته لېږدول. د سوداګرۍ وچه لاره له خراسان څخه هند، ترکستان، تبت او د چین ښارونو ته تېرېده.[3]

بصره د عربو بل سوداګریز مرکز و، چې د هغهٔ مهال نړیوال سوداګریز زېرمه‌تون ګڼل کېدهٔ او د بغداد ور یې بالهٔ. د وچې او سمندر له لارې به په کې سوداګري کېده. له ختیځو هېوادونو (عراق او خراسان تر چین پورې) به دغه ښار ته سوداګریزې جوپې ورتلې.[4]

یعقوبي وایي بصرې هغه مهال نړیوال نوم لارهٔ او د سوداګریزو توکو او سوداګرۍ غوره مرکز و.[5] له دې عربي ښار سره د وچې له لارې د خراسان سوداګري هم روانه وه.

---

[1] - کتاب‌البلدان یعقوبي تر ۸ وروسته.

[2] - احسن‌التقاسیم ۳۲۴.

[3] - تاریخ‌التمدن الإسلامی ۵/ تر ۳۸ وروسته.

[4] - تاریخ الإسلام السیاسي ۲/ ۲۵۰ بحوالت کتاب التبصر بالتجارة و مقدمه سیدحسن حسنی ۲.

[5] ـ البلدان ۸۰.

## له چين سره سوداګري

خراسان په شمال ختيځو برخو يعني د تخار او واخان په ختيځو پولو کې د چين له لوېديځو سيمو سره نښت. دې پراخه تاريخي هېواد پخوانی مدنيت او فرهنګ درلود. د چين سوداګريز توکي به همېشه د بخارا او منځنۍ آسيا په ښارونو کې پلورل کېدۀ. کله چې عربي لښکرې د سيحون څنډو ته ورسېدې؛ نو چين ته د مسلمانو سوداګرو د تګ راتګ لاره پرانيستل شوه. د ورېښمو او ورېښمينو چينايي ټوکرانو د رالېږدولو لپاره د سوداګرو جوپې هغه هېواد ته تللې. د چين دا سوداګري تر هغۀ مهاله پورې په خراسان کې زياته وه چې په مروه کې ورېښمين صنعت دودېدۀ.[1]

بدخشان د سوداګرو او د سرو- سپينو زرو، ياقوتو او لاجوردو د کانونو ځای و. هغه جوپې چې له تخار او بدخشان څخه تېرېدې، د هغو د ادارې او کنټرول لپاره مامون خليفه د دوه‌و غرونو تر منځ دېوال جوړ کړی او په هغۀ کې يې ور درولی و، چې د عربانو ور يې بالۀ، جوپې به په هغۀ ورۀ وتلې.[2] په غالب ګومان دا چين ته د تلونکو جوپو لاره وه. تبت ته له بدخشان او تخارستانه پر دې لارې سربېره له غرنيو لړيو څخه بله لاره هم تېرېده. هلته يې د غرۀ پر سر ور جوړ کړی و، چې د تبت ور يې بالۀ. مسلمانو باج اخيستونکو يې ساتنه کوله. کله به چې سوداګريزې جوپې او وګړي د واخان سيمې ته ننوتل نو د تبت په دې ورۀ کې به يې باج ورکاوۀ.[3]

په تېرو بحثونو کې مو د چين سوداګرۍ هغه مهال شرحه کړې، چې د دويمې سوداګريزې لارې په اړه مو خبرې کولې.

لکه چې د مشهور بوټي پېژندونکي او درملپوه محمد بن‌احمد تميمي مقدسي (۳۸۰س= ۹۹۰ز مړ) له کتاب حبيب‌العروس و ريحان‌النفوس څخه يې رااخيستي دي، د

[1] - تاريخ الإسلام السياسي ۲ / ۲۵۳ د تاريخ تجارت په حواله ۱/ ۳۷.

[2] - حدودالعالم ۶۴.

[3] - پورتنی اثر ۷۲.

مښکو ډولونه له تبت او د چین له سوېلي سیمو خراسان ته راوړل کېدل، له هغې جملې قصار ته منسوب قصاري مښک. قصار د هند و چین تر منځ یو ښار و، چې په قیمت، بوی او اصل کې چینایي مښک تر دې کم وو. خراساني سغدي سوداګرو به دا په خپله شا خراسان ته راوړل او له دې ځایه به د نړۍ څنډو ته لېږدېدل.[1] همدا رنګه د چین د صنف ښار په نامهٔ، صنفي عود له ډېرو غورو عودو څخه وو. قطني، منطاوي او لواقي عود هم له چین څخه رالېږدېدل او مشهور وو.[2]

خراسان چې د چین او عربي هېوادونو تر منځ پروت و او د چین او عربو تر منځ سوداګري له دې لارې کېده؛ نو د چین سوداګریز توکي له خراسان څخه د آسیا لوېدیځو هېوادونو ته لېږدېدل او چین ته د سفر لپاره د اوبو لاره دومره معمول نه وه، بلکې زیاتره به د وچې له لارې تېرېدل. د چین توکي به یې سمرقند ته او له هغهٔ ځایه حلب او نورو لویو ښارونو ته لېږدول. له مسلمانانو سوداګرو څخه یو په «ختاییﻧامه» کتاب کې - چې په ۱۵مه زېږدې پېړۍ کې یې په پارسي لیکلی دی- وایي چې چین ته په وچه درې لارې وې: د کشمیر- ختن او منګولیا لاره،[3] چې درېواړه له خراسان څخه تېرېدې او دا خاوره لکه چې تر اسلام د مخه وخت کې د وربښمو لاره وه، د اسلامي پېر په لومړیو کې یې هم له چین سره سوداګریز اړیکي او د سوداګریزو جوپو تګ راتګ درلود.

له ډېرو غورو توکو څخه - چې چینایانو له خراسان څخه غوښتل- یو یې هم مشهور نیل و چې چینایي ښځو به خپل باړخوګان پرې ښکلل او ډېر یې خوښاوهٔ. ان په ځانګړي ډول به د چین ملکې غوښت.[4] همدا رنګه به چینایانو بابلۍ غالۍ په ډېره

---

[1] - ضمایم البلدان یعقوبی ۱۱۸.

[2] - پورتنی اثر ۱۲۰.

[3] - تمدن اسلام وعرب، د ګوستاولوبون ۷۱۹.

[4] - مطالعات چینی، د هرت تألیف ۲۳۵.

لېوالتيا پېرلې. د شام قيمتي ډبرې، د قلزم سمندر مرجان او مرغلرې، د شام او مصر ټوكران او د لوېديځې آسيا نېشه‌يي څښاک به د خراسان له لارې چين ته لېږدېدۀ[1]. د خراسان او مروې وړين ټوكران په لويو جوپو كې چين ته لېږدېدل.[2]

د بيكند او ماوراءالنهر اوسېدونكي ټول سوداگر وو، د چين او سمندر سوداگري يې كوله او ډېر شتمن وو.[3]

## د خراسان د اړوندو سيمو سوداگريز توكي

**سيستان:** خرما، هنجه، زميناداوري لمڅي يعنې كوسي (اصطخري) زنبېلونه، د خرما د پوټكي بياستې او پوزي (مقدسي)

**كابل:** ښۀ نخي ټوكران، اتڅنډي دسمالونه چې ټول خراسان، چين او سند ته وړل كېږي (ابن حوقل) كابلي‌هريړه او ښۀ نيل (ادريسي).

**بُست:** وچې مېوې، بيستې او صابون (ابن حوقل).

**سروان:** مېوې، انگور او خرما (ابن حوقل).

**مروه:** وچ خټكي، هنجه، ورېښم، پنبه، نخي ټوكران (اصطخري) ورېښمين او نخي څپوټي، غواوې، پنير، ديگونه، څوښه او مس (مقدسي).

**بلخ:** بُختي اوښان، تركي مريان (اصطخري) صابون، كونځلې، وريجې، غوزان، بادام، مميز، غوړي، كوكناردانه، انگور شربت، انځر، انار شربت، خورې، تيلې، سرپ او سلفيټ (مقدسي).

**بدخشان:** تبتي مښک (حدود) عقيق، لاجورد (اصطخري) د سرو، اناري او نورو ښو رنگونو گرانبيه ډبرې (ابن حوقل).

**كران:** مښک او مريان (اصطخري).

**شومان:** زعفران (اصطخري).

**طوس:** ښې بياستې، پوزي او غلې دانې (احسن التقاسيم).

**سرخس:** غلې دانې او اوښان (مقدسي).

**ترمذ:** صابون او هنجه (مقدسي).

---

[1] ـ كريستين‌سن در ساسانيان ١٦٧، د هرت په حواله.

[2] - تاريخ تجارت در عصر اموى ٣٧.

[3] - تاريخ بخارا ٢٢.

**ولوالج:** کونځلې او غوړي يې، غوزان، بادام، پسته، وريجې، چنې، وربشې، غوړي، د څارويو ښکر، د ګيدړ پوټکي او کورت (مقدسي).

**خوارزم:** د سورلنډي، بيلونګړی، قاقم، ګيدړ او خز پوټکي، د وزو او هوسيو رنګ شوي پوټکي، شمعې، غشي، خولۍ، د کب غاښ، بکره (پنډ) د اس رنګ شوي پوټکي، ګبين، تورې، زغرې، ځنغوزې، پسونه، غويان، انګور، مميز، کونځلې، فرشونه، جامې، وريښمين ټوکران، څپوټي، جندرې (قلف) ليندې، کورت، کبان او کښتۍ (مقدسي).

**فرغانه:** ترکي مريان، سپينې جامې، وسلې، تورې، مس او اوسپنه (مقدسي) سرۀ او سپين زر، سيماب، بکره، فيروزه، اوسپنه، چودن او سرپ (اصطخري) د فرغاني مرخنۍ ځنډو ته وړل کېږي (ابن حوقل) نوشادر، ضدزهر تيرې، مقناطيسي تيږي (حدود).

**نيشاپور:** (ابهرشهر) د رېوند کان پيروزه (مقدسي) د نخي او وريښمينو ښکلو ټوکرانو ډولونه چې زياترو ښارونو ته لېږدېدل (ابن حوقل) پښۍ (رواش) چړې، سپين ټوکران، شهجهاني پګړۍ، څادرې، وريښمين، عتابي، سعيدي او مشطي او موينه ټوکران، ګانې او اوسپنه (احسن التقاسيم).

**ختلان:** اسونه، کچرې او څاروي (ابن حوقل).

**کش:** د درملو، ښو کچرو، ترنجبينو او سرې مالګې کان چې ټولې نړۍ ته يې ترې وړي (حدود).

**ترمذ:** ښۀ صابون، شنۀ پوزي او بادپکي (حدود).

**چغانيان:** وړين ټوکران، شړۍ او زعفران (حدود).

**قباديان:** روناس (يو ډول بوټی چې جرړې يې د ټوکرانو په رنګونې کې کارېږي) چې په لويه کچه هند ته وړل کېدل (ابن حوقل) نفت، فيروزه، قير او کنډ (مقدسي).

**شرغ** (بخارا): د انګورو د ځوښې مغزينه حلوا، د غويانو پوستکي، لرګي، تروۀ او تازه کبان، قرقل پوستکي او خامتا (تاريخ بخارا).

**د بخارا زندنه:** زندنيچي بيستۍ چې عراق، پارس او هند ته به يې د وريښمين

ټوکر په نرخ وړله. (تاریخ بخارا).

**هرات:** پرېمان وربښمین او خلدي ټوکران، طایفي وڅکې، شنې او سرې وڅکې، د انګورو ځوښه، خوږه، پولاد او پِسته (مقدسي) مارابادۍ وریجې، د پوشنګي سبر لرګي (اصطخري) کروخي ممیز او طایفي مالنۍ وڅکې (ابن‌حوقل).

**غرستان:** بشین وریجې او د سورمین وڅکې (اصطخري) سپین زر، لمڅي، ښهٔ فرشونه، ټغرې، ښهٔ اسونه او کچران (مقدسي).

**پنجهیر:** (پنجشیر) سرهٔ زر، لاجورد او نورې قیمتي ډبرې (ابن‌حوقل).

**جوزجان:** پوستکي چې ټول خراسان ته لېږدي (اصطخري) په غالب اټکل د قره‌قل پوستکي.

**بامیان:** هر کال د سرو زرو د دوو ملیونو دینارو په قیمت نیل (ابن‌حوقل).

**نسا او ابیورد:** وربښمین ټوکران، کونځلې او غوړي یې، زرین او بنبوزي ټوکران او د ګیدړو پوستکي (احسن‌التقاسیم).

**ماوراءالنهر:** نخي، وړین او د پوستکو ټوکران، نوشادر، کاغذ، سیماب، سرهٔ او سپین زر، ډېر غوره ترکي‌مریان، تبتي‌مښک، لواښي خرهٔ، چغاني زعفران، د سورلنډي، بیلونګړی، ګیدړ او نورو پوستکي، ناویاته اوسپنیز آلات او داسې ټوکران چې د پاچاهانو وړ وو (اصطخري) سرهٔ او سپین زر، د ویلې کېدو وړ جواهر، درمل لکه خوری، سلفېټ او ګوګړ (حدود).

**بخارا:** نري ټوکران، جوالونه، ګېډبندونه، وازدې، اشموني ټوکران، د مېښو پوستکي او غوړي (مقدسي) نخي ټوکران، فرش، مصلې او ښکلي وړین ټوکران (اصطخري)د بخاري په نامهٔ د عربو د خوښې درنې‌بیستۍ (ابن‌حوقل) ښوره (حدود).

**سند:** د خراسان د ختیځې سوېلي څنډې د سند له خاورې دا سوداګریز توکي لېږدېدل:

له منصورې ګني، له قصداره بوره، له طورانه بوره، له سندان څخه وریجې، ټوکران او کوپره، له ګنداوي بُختي اوښان (اصطخري) سنډاګان، مېښې او ګوره خرهٔ

له سند څخه لېږدېدل (تنبیه‌والاشراف) چرګان او طاووسان (البلدان) له ملتان څخه مښک او له دېبل څخه ډېر ښهٔ تبتي مښک، له منصورې ګاولې او د فیل‌غاښ (البشاري) خو رنګ شوي پوستکي، اوړهٔ، بصري خرما، اسونه او عود چې یو من په دوه سوه دیناره پلورل کېدل (کتاب‌الهندوالسند، تقویم‌البلدان او ابن‌اثیر) د سند له عایداتي توکو څخه وو.[1]

د منصورې کنبایتي ښکلي پېښاک مشهور و، فیلان، عاج او ګټور طبي بوټي ترې لېږدېدل. لېمو، انبه او دوه کوپه بُختي اوښان یې مشهور وو.[2]

سندي پېښاک بغداد او نورو عربي هېوادونو ته ډېر لېږدېد او په ښکلا کې دومره مشهور و، چې هغه یې یوائې د شاهزیو او شتمنو وړ ګاڼهٔ. څرنګه چې ډېر ډولي او ښکلي و، نو د پرهېزګارانو او درویشانو لپاره یې د هغو په پښو کول مناسب نه ګڼل. د امام احمد بن‌حنبل مروي خراساني (۲۴۱س= ۸۵۵ ز) په کتاب‌الورع کې د «باب‌لبس‌النعال‌السندیة» تر سرلیک لاندې ځانګړې شرحه راغلې ده.[3] د سند له نورو سوداګریزو توکو څخه کټ (هندي قسط، د یو ډول درملو نوم) د بانس او ولې لرګي هم وو، چې له دې ځایه لېږدېدل.[4]

## د سمرقند سوداګریز مرکز

د امو د لویې ناوې شمال ته د چغانیانو، ختل او سغد پراخې، ښېرازې او یېره‌ګرې وادۍ او د مرکزي آسیا سمسورې سیمې پرتې وې. دلته د سمرقند ستر سوداګریز مرکز له څلورو خواوو د چین، ترکستان او خراسان له هېوادونو سره نښتی و. اصطخري وایي د ماوراءالنهر ګودام او بندر، د سوداګریزو توکو د تولید او سوداګرو تر ټولو لوی مرکز و. له دې ځایه یې توکي نورو ښارونو ته وړل. په دې ښار کې د ماوراءالنهر تر ټولو غوره مریان پلورل کېدل. په کش کې په لویه کچه ترنجبین

[1] - تاریخ سند ابوظفر تر ۳۴۰ وروسته په متن کې د نوموړي اثر په حواله.

[2] - احسن‌التقاسیم ۴۸۱.

[3] - کتاب‌الورع ۱۰۱، د مصر سعادت مطبعه ۱۳۴۰س.

[4] - ابن خرداذبه ۷۱.

راټولېدل چې نورو هېوادونو ته به يې هم وړل.[1] لکه چې په همدې څپرکي کې مو د صنايعو په بحث کې شرحه ورکړې، سمرقند د کاغذ جوړونې او سوداگرۍ مهم مرکز و، چې له دې ځايه به نورو ښارونو ته هم وړل کېدۀ. هغه مهال چې هيونڅانگ په ۹س= ٦۳۰ز کال کې سمرقند ليدۀ، دا گڼمېشته ښار د زياتره بهرنيو هېوادونو د سوداگريزو توکو زېرمه‌تون و.[2]

**د سمرقند سوداگريز توکي:** کاغذ او د سوڼدو پړي (حدود) ايرني، سرۀ گلدار او ورېښمين ټوکران، ځنغوزې، غوزان، لوی مسي دېگونه، مرتبانونه، د اوښ څرمنې، رکابونه، د باروړونکو کوري او گېډبندونه (مقدسي) موزې، ښيښې، سرۀ او سپين زر (اصطخري).

**د څارويو سوداگري**

عربي چارواکي او سوداگر د خراسان، ماوراءالنهر او سند تر نيولو وروسته په دې سيمو کې له ځينو گټورو ژويو او باروړونکو څارويو سره مخامخ شول، چې له عربي هېوادونو او د خلافت له مهمو مرکزونو سره يې د هغو سوداگري پيل کړه او په خپلو هېوادونو کې يې د هغو څارويو نسل وروزۀ. په دې ډله کې داسې څاروي وو چې په ژوندنيو چارو کې په کار راتلل. له هغې ډلې يې گنداوي (بلوچي) اوښان له خراساني نسل سره يوځای او په بلخ کې يې ډېر پياوړي بُختي اوښان رامنځ ته کړي وو، چې پاچاهانو او اميرانو به په ډېرو لوړو بيو پېرل او کارول. خراسان، پارس او نورو هېوادونو ته به يې بيول.[3]

مسعودي وايي د سند د عربي واکمنو مهلب کورنۍ د سنډا او مېښو نسل له دې ځايه بصرې ته يووړ او له هغۀ ځايه د يزيد بن‌عبدالملک په پېر کې د شام پولو ته ولېږدول شو، چې نسل يې د مسعودي تر پېره پاتې و.[4]

لکه چې مؤرخان ليکي: د خراسان لارښود پلار او مشهور مېړۀ ابومسلم چې د

---

[1] - مسالک الممالک اصطخري تر ۳۱۸ وروسته.

[2] - سي. يو. کی، لومړی کتاب ۹۹.

[3] - اصطخري ۱۷٦.

[4] - تاريخ سند ابوظفر۳۴۴، د التنبيه والاشراف په حواله۳۵۵.

مروې په يوۀ کلي يعنې د هغه ښار د درې فرسخۍ په ماخوان کې مېشت و، کله به يې کوفې ته د څارويو سوداګري کوله،[1] له دې هم څرګندېږي چې د خراسان د څارويو سوداګري روانه وه.

**روسي سوداګر**

ابن‌خرداذبه د عباسيانو په پېر کې د عېسوي روسي سوداګرو يادونه هم کوي، چې د وچې او سمندر له لارې يې سفر کاوۀ. دې سوداګرو له روم سمندرګي حرکت کاوۀ او د روم کسرا ته يې ګمرکي عشر ورکاوۀ. د بغداد، پارس، کرمان (او د افغانستان د سوېل) له لارې به سند، هند او چين ته تلل.[2]

[1] - ابن‌خلکان ۱ /۲۸۰.

[2]- المسالک والممالک ۱۵۳.

# سیکې

د سرو او سپینو زرو او نورو فلزاتو سیکه وهنه د خراسان په خلکو کې له پخوا څخه رواج وه. د اسلام تر څرک پخوا د هندي، یوناني او پارسي سیکو جوړونې سبک له سیمه ییزو ځانګړنو سره ګډ شوی او د دې خاورې په مشهورو ښارونو کې یې له هغۀ سره سمه سیکه وهلې ده، چې بېلابېلې بېلګې یې په کورنیو او بهرنیو موزیمونو کې خوندي دي.

لکه چې د دې کتاب په لومړي څپرکي کې مو ولوستل، د اسلام څلا ته نږدې په کابل او ګندهارا وادۍ کې د سند سیند تر هاغاړې پورې کابلشاهانو پاچاهي درلوده، مستر سمتهـ وایي د هغو سیکې د هند موزیم د سیکو په لیکلړ (۱ټوک، ۲٤۳) کې په درې ډوله موندل کېږي.

۱- د غویي او سپارۀ په بڼه

۲- د فیل او زمري په بڼه

۳- د زمري او طاووس په بڼه[1]

دا سیکې د کابلشاهانو په نامۀ په سرو- سپینو زرو او مسو باندې وهل شوي دي. ډېرې بېلګې یې د افغانستان په ختیځو ولایتونو کې تر سند سیند او پنجاب وادۍ پورې موندل کېږي. دا سیکې د سري‌سامنته‌دېوا- سري‌پدمه- سري‌واکه‌دېوا- کمر- بهیمه‌دېوا او نورو په نومونو وهل شوې دي.

نېکي پاچاهانو (د ٦پېړۍ شاوخوا) ته د منسوبې د سپینو زرو پر یوې ګردې

---

[1] - تاریخ افغانستان ۲/ ۵۹۱.



د سیکو بېلګې

۱- پورتنۍ د سري سامنته دېوا کابلشاه سیکه (وګ: ۹۰ مخ)

۲ منځنۍ د سري سپاله پتي دېوا کابلشاه سیکه (وګ:۸۰ مخ)

۳- لاندینۍ له نېکي ملکانو د یوې سیکه (وګ: ۱۰۵مخ)



د سیکو بېلګې

۱- پورتنۍ د غرستان د شارانو د یوهٔ سیکه (وګ: ۲۹ مخ)

۲- منځنۍ د یفتلي پاچاهانو دوه سیکې چې په کابل کې تر لاسه شوې دي.

۳- لاندینۍ د یوهٔ یفتلي پاچاه سیکه چې د هډې په یوه ستوپه کې موندل شوې ده.

چې وزن یې ۵۲/۸ گرینه او کچه یې۱/۳ انچه ده، پر مخ یې د پاچاه نیم‌تنه انځور کېندل شوی، والۍ یې پر غوږ‌و دي او پر خولۍ یې د تندي له پاسه نوې میاشت لیدل کېږي؛ پر مخ یې نپکي‌ملک او شا ته یې د پاچاه کلمه کښل شوې ده. د همدې سیکې پر شا په منځ کې اورتون دی، چې دواړو خواوو ته یې دوې پرښتې لیدل کېږي او د سرونو د پاسه یې بگۍ انځور شوې ده. دا سیکې د کلکتې په موزیم کې خوندي دي.[1]

خو د کابل د ځینو پاچاهانو سیکې په لاندیني تفصیل سره دي:

**۱- سپاله‌پتي‌دېوا:** د سپینو زرو گرده ۵٤ گرینه او ۸/ انچه- د سیکې پر مخ کېڼ لور ته روان غویي- د پاسه پرې پر هندي ژبه او لیکدود: سري‌سپاله‌پتي‌دېوا: - د سیکې پر شا: پاچاه پر اس سپور دی، په ښي لاس کې یې نېزه او مخې ته یې په هندي د (گرا) کلمه لیکل شوې ده.

**۲- سامنته‌دېوا:** د سپینو زرو گرده ۵۱/۲ گرینه او ۸/ انچه سیکه- د سیکې مخ د مخکنۍ غوندې- د سیکې شا: د مخکنۍ سیکې غوندې؛ خو دلته د پاچاه شا ته (بهي) کلمه کښل شوې ده. د دې پاچاه مسي‌سیکې د هغۀ د سپینو زرو د هغو غوندې دي.

**۳- د همدې پاچاه** د سپینو زرو گرده سیکه وزن یې ۳۰/۷ گرینه او کچه یې ۸۷/ انچه- د سیکې مخ: ولاړ فیل او لاندې ترې د سري‌سامنته‌دېوا نوم کښل شوی دی- د سیکې پر شا: کوږلکیزی زمری.

**٤- ونکه دېوا:** د ۳مې گڼې غوندې د سپینو زرو گرده سیکه د فیل او زمري په بڼه وزن یې ۳۱/٦ گرینه او کچه یې ۷۵/ انچه – د سیکې مخ: فیل او د سري ونکه دېوا نوم- د سیکې شا: د زمري انځور.

**۵- خودویکه:** د سپینو زرو گرده سیکه وزن یې٤۹/۷ گرینه او کچه یې ٤۷/ انچه- د سیکې پر مخ د سري خودویکه له نامۀ سره غویي- پر شا یې سپور سړی انځور شوی دی.[2]

په دې سیکو کې چې د اسلام د څرک مهال ته نږدې په افغانستان کې دود وې د

---

[1] - کابل کالنی ۱۳۱۷ل، تر ۳۳۷ مخ وروسته، د کلکتې موزیم د سکو د لیکلړ په حواله، دوهم ټوک.

[2] - پورتنی کالنی.

پاچاهانو پوښاک او جامې سیمه‌ییزې او افغاني دي. بادامي سترګې، لوړې او دنګې پوزې، ګڼ ویښتان، ورین تندي، ټول د اوسني غزني د پښتني قبیلوي ځوانانو د څېرو په شان دي؛ خو د غوبي انځور د هندي اغېز او تر اسلام پخوا د هند و افغان د ګډو دیني افکارو ښکارندويي کوي. پر اس سپور نېزه‌وال د غزني د قبیلو تاریخي ځانګړنې دي، چې تر اوسه یې دا دود ساتلی دی؛ فرخي وايي:«بګونهٔ شل افغانیان دو پره و تیز»[1]یعنې د پښتنو د شِل غوندې دوه پرې او تېرهٔ. نو ویلای شو چې د سلطان‌محمود په پېر کې هم پښتني شِل یعنې نېزې شهرت درلود او اټکلاً چې د غزني د شِلګر د تسیمې وجه هم دا ده، چې ځوانان یې تر اوسه هم په نېزې یا سانګې وهنې او سپرلۍ کې بې ساري دي؛

خو هغه څه چې د نورو پاچاهانو پر سیکو د غوبي نخښه د اورتون او مزدیسنا له نخښو سره لیدل کېږي،[2] د افغاني او پارسي د ګډ دین (زردشتي) اغېز دی.

چینایي سیلاني هیونځانګ د لومړۍ لېږدې پېړۍ په لومړۍ نیمایي کې لیدلې دي، چې په تخارستان کې د سرو او سپینو زرو سیکې چلېږي؛ خو وايي چې: د نورو ولایتونو د سیکو له شکل سره د دې سیکو شکل توپیر لري.[3] هغهٔ د هېواد په سوېل لوېدیځو ولایتونو کې د سپینو زرو لویې چلندې سیکې هم لیدلې دي.[4] څرنګه چې له دې سیمې څخه په کیندنو کې د ساسانیانو د سرو او سپینو زرو سیکې زیاتې موندل کېږي او بېلګې یې په کابل موزیم کې شته، نو باید وویل شي چې د هیونځانګ موخه هم دا ساساني سیکې دي. همدې چینایي سیلاني په کاپیسا کې د سرو- سپینو زرو او مسو سیکې لیدلې دي، چې په شکل او نقش کې یې د نورو هېوادونو له سیکو سره توپیر درلود. د هیونځانګ د یادښتونو د ژباړن «بیل» اټکلوي

[1] - دیوان فرخي ٦٢.
[2] - لکه د افغانستان په تاریخ کې د نیکیان سکه ۲/ ۵۰۳.
[3] - سي. یو. کې، لومړی کتاب ۱۰۴.
[4] - پورتنی اثر ۴٦۵.

چې دا مسي سیکې په خپله د کنیشکا دي.[1]

د اسلامي لښکرو له سوبو سره په ټولو نیول شویو هېوادو او له هغې جملې په افغانستان کې طبعاً د عربي دولت سیکې دود شوې، لکه چې د زیاترو اموي او عباسي خلیفه‌گانو سیکې د دې سیمې د پخوانیو ښارونو په کنډوالو کې د خاورو له ډېریو تر لاسه او بېلگې یې د کابل او پېښور په موزیمونو کې لیدل کیږي.

په اسلامي پېر کې د سیکې خپرېدو د پیل په اړه روایتونه بېلابېل دي، له هغې جملې څخه مقریزي وایي: د حضرت‌عمر فاروق رضي الله عنه په پېر کې یې لومړی ځل سیکې د کسروي (ساساني) درهمونو د بڼې، شکل او وزن په پلیون خپرې کړې او پر هغو یې «لاإله إلاالله وحده» او «محمد رسول‌الله» وکښل. د دې هرو لسو سپینو زرو درهمونو وزن شپږ مثقاله و. حضرت‌عثمان رضي الله عنه پرې الله اکبر هم وکښئ.

د امیر معاویه په پېر کې د هغهٔ ورور زیاد بن‌ابوسفیان په بصره او کوفه کې درهمونه دود کړل، چې هر لس درهمه یې اووه مثقاله وو. هغه سیکه چې په دمشق کې د امیر معاویه له خوا ووهل شوه، انساني انځور یې لارهٔ چې غاړې ته یې توره ځوړنده وه. په اموي پېر کې مصعب بن‌زبیر په عراق کې د اموي درهمونو پر بنسټ سیکه ووهله. اموي عبدالملک په عراق کې د خپل حاکم حجاج بن‌یوسف په لاس انځوریز درهمونه دود کړل، چې هر درهم شپږ دانگه (دوانیقه) وزن درلود او «قل هو الله احد» یې پرې وکښئ.[2]

د اسلام په لومړیو کې یې کله د رومي دینارونو پلیون هم کړی دی، د ساري په ډول خالد بن‌ولید په طبریه کې پر۱۵س= ۶۳۶ز کال د چلیپا، جوغې او توپ په شکل دینار دود کړ. پر هغهٔ یې په یوناني تورو د خالد نوم کښلی و او پر یوې خوا یې له عربي جامو سره د هغهٔ انځور دی. همدا رنگه کټ مټ پارس ته ورته دینارونه هم شته، چې پر یوې خوا یې اورتون او پرښتې او پر بلې یې له ورمکیوال خول سره د پاچاه (اټکلاً د ساسانیانو یو وروستی پاچاه) شکل کیندل شوی او یواځې یې د معاویه نوم پرې ورزیات کړی دی.

---

[1] - پورتنی اثر ۱۱۷.

[2] - تهذیب و تمدن اسلامی، اردو تر ۲/ ۱۲۱ وروسته، د مقریزي د نقود الاسلامیة خطي نسخه، مکتبة‌الظاهرة دمشق.

خو اموي خليفه عبدالملک بن‌مروان (٦٥- ٨٦ س) عربي سيکې د روم او پارس له پليونه خلاصې کړې، لس مثقاله درهمونه او اووه مثقاله دينارونه يې په ټول اسلامي هېواد کې دود کړل او پخوانۍ سيکې يې باطلې کړې. بيا حجاج په عراق او خراسان کې ١٥قيراطي درهمونه ووهل. خراسان هم د هغهٔ هېواد يوه برخه وه چې په ښارونو کې يې پر کوفي ليک د عربي دولت سيکې وهل کېدې. پر هغو سيکو يې- چې د دويمې لېږدې پېړۍ تر لومړيو پورې يې وهلې دي- د ښار نوم او دارالضرب نه دي کښلي. که پر سيکه يې د هغې نېټه ليکلې؛ نو دا نېټه يې د جمل په تورو د السنه او عام کلمو... په ورزياتولو ليکلې نه په هندسي رقمونو.

د سيکې وهلو ډول ډېر ساده او لومړنی و، په دې معنی چې لومړی يې له اوسپنې څخه قالب جوړاوهٔ، په هغهٔ کې به يې کلمې او مطلوب مطالب کيندل او هغه بهٔ يې «سيکه» بلله. دا نوم وروسته مسکوکو توکو ته هم وويل شو. بيا به يې د درهم يا دينار هومره د سرو يا سپينو زرو ټوټې په هغهٔ اوسپنيز قالب کې ټکولې چې مطلوب نقش يې پر مخ پاتې شي. دا کارخونه به يې دارالضرب بلله.[1]

پر دې سربېره هغه سيکې چې عربي دولت د خليفه‌گانو په نامهٔ خپرولې او دودولې، د ځينو پخوانيو ناعربي دولتونو لکه ساسانياني پاچاهانو او د گندهارا، کابل، پنجاب او باختر بودايي پاچاهانو سيکې هم په کې ليدل کېږي، د خليفه نوم او کلمه يې د هغو د پخوانيو شکلونو او انځورونو له پاسه پرې ورووهلې، چې بېلگې يې کله ناکله د افغانستان د پخوانيو ښارونو له کنډوالو څخه راوځي.

اصطخري او ابن‌حوقل وايي چې د افغانستان په ختيځو سيمو کې د سند تر واديو پورې له دود سيکو څخه يوه قنهري (جمع يې قنهريات) نومېده، چې تر څلورمې لېږدې پېړۍ پورې د ملتان پښتنو لودي واکمنو هم هغه وهلې او له پنځه‌وو عراقي درهمو سره مساوي وه. همدا رنگه يې نږه طلايي سيکه له درېو هندي درهمو سره مساوي وه.[2]

---

[1] - تاريخ‌التمدن الإسلامی ١/ ١٠٢.

[2] - مسالک الممالک، د اصطخري ١٧٣.

دا قنهري د قندهاري مخفف دی، ابن‌حوقل هغه په زغرده سره د القندهاريات په بڼه ليکلې ده.[1] د اصطخري په خطي نسخه کې: قاهري- القندهاريات- القاهريات او نور وو. بې شکه چې دا سيکه د پخوانی گندهارا په نامهٔ ده، چې البشاري مقدسي يې تر غزني پورې مروجه ښيي.[2] مورږ څلوېښت کاله وړاندې هم په کندهار کې د کندهاری په نامهٔ د سپينو زرو سيکه درلوده، وزن يې د سپينو زرو يو مثقال و او له ۳٦ پيسو سره برابره وه، چې د نويو کابليو سيکو= ٦۰ پيسې په دوديدو سره له‌منځه لاړې.

د ختيځو ولايتونو او سند بله چلنده سيکه د طاطري په نامهٔ درهم دی، چې له دوه پر درې او يو درهم سره برابر دی؛ خو د سرو زرو دينار هم هلته مروج و. دا نړه طلايي سيکه له درې هندي دينارو سره مساوي وه.[3] ابن‌خرداذبه وايي زرين دينار ٤/۲۵ سرهٔ زر او د سپينو درهم ۲/۹۷ نقره درلوده.[4]

شرف‌الزمان طاهر مروزي (٥١٤س=۱۱۲۰ز شاوخوا) وايي طاطري[5] د سپينو زرو ټوټې دي چې د پاچاه شکل پرې کيندل شوی او هر يو يې يو مثقال وزن لري.[6]

**د پيسې، درهم او دينار کلمې**

پيسه له ډېرو پخوانيو زمانو څخه په افغانستان او ختيځو هېوادونو کې چلېده او اوس هم د کوچني مسي يا جستي پولي واحد په توگه پاتې ده.

په افغانستان کې د ۱۳۰۵ل شاوخوا پر عشري سيستم د سيکو اصلاح عملي شوه. هغه مهال يې تاريخ ته له ځيرنې او خواخوږی پرته د پيسې پخوانی او تاريخي سيکه‌يي واحد پرېښود او د دې کلمې- چې سيمه‌ييزه او کورنی وه- پر ځای يې پول کلمه خپله کړه، چې

[1] - صورةالأرض ۲/ ۳۲۱.
[2] - احسن‌التقاسيم ۴۸۱.
[3] - فتوح‌البلدان ۵۴۲ او تاريخ سند ۳۷۳، د اخبارالسند والهند په حواله ۱۴۷، د پاريس چاپ.
[4] - تاريخ تمدن ايران ساسانی تر ۳۰۰ وروسته.
[5] - ښايي طاطري د پښتو د يوې خپلې کلمې ټېري معربه بڼه وي او ټېر په پښتو کې سيني ته وايي، افغانان تر اوسه هم سيکې د گاڼې په ډول پر سينه راځړوي؛ نو اټکل کېږي چې دا سکې يې پر سينې د راځړېدو له امله ټېری بللې وي؛ خو دا اټکل بهرني سند او قرينې ته اړتيا لري.
[6] - طبايع‌الحيوان ۳۵، د لندن چاپ ۱۹۴۲ز.

ريښه يې پردې او يوناني OBOLOS ده.[1] په داسې حال کې چې د پيسې کلمه د افغانستان د پخوانيو آريايي الفاظو له پاتې شويو څخه ده او د تسميې وجه يې دوه ډوله راوړي:

**لومړی:** پخواني آرياپان چې هند ته ولېږدېدل، سوداګرو به د سوما سپېڅلي بوټي د افغانستان له غرونو څخه هند ته ووړ او هلته به يې پر نږه طلايي رنګه غويانو بدلاوه. دا غويان يې پاسو PASU بلل چې وروسته هرې سيکې او شتمنۍ ته هم وويل شول. په پخواني رومن کې هم شتمني پيسو يا پيکوس PECUS او د سيکو پيسې هم پيکوس يا پيکو PCECU وې.[2]

**دوهم:** «سهراب جمشېد بلسارا» د اوستا او پهلوي استاد، وايي دا کلمه له اوستايي پې ای سه PAESA ريښې څخه اخيستل شوې ده چې د توږل شوي يا حجاري شوي نقش او صورت معنی يې درله. مارکوپولو وايي: پيزه مسي سيکه وه، چې په چين کې هم د «قبلای‌قاآن» په وخت کې چلنده وه، چې هماغه هندي پيسه او پخوانی آريايي کلمه ده؛[3] خو درهم او دينار هم د اسلامي پېړيو له لومړيو څخه (لکه چې په دې بحث کې تفصيل ورکړی شو) په افغانستان کې رواج درلود. قدامه بن‌جعفر وايي د عباسي پېر طلايي دينار د سپينو زرو ۱۵ درهمه وو.[4] «بلسارا» وايي درهم کلمه هم د درج DRAJ (سنجول) له اوستايي ريښې څخه راوتلې ده، چې عموماً به د سپينو زرو سيکه وه او ۲۰ درهمه له يوه طلايي ستيتر سره مساوي وو. همدا رنګه بلسارا په دې اند دی، چې دينار کلمه هم له آريايي دنار (DANAR) څخه اخيستل شوې او په ونديداد کې د تول د کاڼي په معنی ده.[5]

بايد وويل شي چې د اسلامي دينار وزن ۳/ ۲ ګرامه= ۲۲ نخوده، د درهم وزن ۲ ګرامه سپين زر= ۱۵ نخوده او هر لس درهمه عموماً يو دينار؛ خو د جعفر برمکي بشپړ عيار دينار ۱۳ درهمه و.[6] په داسې حال کې چې د منصور خليفه په پېر يعنې د عباسي خلافت په لومړيو کې هر دينار د سپينو زرو د ۱۵ درهمو ارزښت درلود[7] او

---

[1] - حواشي برهان ۴۲۸، د يوناني- انګليسي اکسفورډ سيند په حواله.

[2] - تاريخ افغانستان ۱ /۱۳۹.

[3] - ايران نامه ۳/ ۲۱۵.

[4] - کتاب‌الخراج ۲۴۹.

۵ - ايران نامه ۳/ ۲۱۵.

٦ - چهل مقاله کسروی ۱۲۰، د تهران چاپ، ۱۳۳۵ل.

۷ - تاريخ‌التمدن الإسلامی ۲ /۳۳.

لس زره درهمه یوه بدره BADRA وه.[1]

### غطريفي، مسيبي او محمدي درهمونه

د اموي او عباسي واکمنيو په پېر کې د عراق، خراسان، سيستان او نورو هر يوۀ حاکم چې د دربار له خوا ټاکل کېدۀ، د خپل واک د سيمې په ښارو کې به يې د سيکې وهلو واک درلود. د ساري په ډول د خراسان د واليانو له ډلې حميد بن‌قحطبه‌طايي (۱۵۱س=۷٦۸ز) عبدالملک بن‌يزيد خراساني (۱۵۹س۷۷۵ز) جعفر بن‌محمد (۱۷۱س= ۷۸۷ز) علي‌بن‌عيسی (۱۸۰س= ۷۹٦ز) هرثمه بن‌اعين (۱۹۱س=۸۰٦ ز) او غسان‌بن‌عباد (۲۰۲س= ۸۱۷ ز) هغه کسان وو، چې هغوی وهلې سيکې شته.[2] د ۱۸۵س= ۸۰۱ز په روژې کې د هارون‌الرشيد ماما، غطريف بن‌عطا د خراسان د حاکم په توگه راغی، هغۀ له بېلابېلو فلزاتو سرو او سپينو زرو، قلعي، مسو او اوسپنې څخه د گډو درهمونو سيکه د بخارا په ماخک ماڼۍ کې ووهله، چې غطريفي سپين زر (په ولسي تلفظ غدريفي) يې بلل. څرنگه چې گډه وه او توريده؛ نو خلکو هر ښپږ غدريفي د نږه نقرې په يوۀ درهم بدلول. په ۲۰۰س= ۸۱۵ ز کال کې د نږه نقرې شل درهمه له ۸۵ غدريفي درمو سره برابر وو. دا درهمونه تر شپږمې پېړۍ پورې هم په بخارا کې دود وو. په ۵۲۲س= ۱۱۲۸ز کې د اسعارو د مبادلې نرخ داسې و:

د نږه نقرې ۱۰۰ درمه= ۷۰ غدريفي درمه

د سرو زرو يو مثقال= اووه نيم غدريفي درمه[3]

لکه چې محمد بن جعفر نرشخي(۲۸۹-۳٤۸س) وايي د حضرت ابوبکر صديق ﷺ د خلافت په پېر کې کانا بخار خدات لومړی ځل په بخارا کې پر نږه نقرې سيکه وهلې وه او پر هغې يې خپل شکل له پاچاهي خول سره کيندلی و.[4] اصطخري وايي کله چې يې د غدريفي درهمونو سيکه ووهله پر هغو هم انځور و.[5]

---

۱ - آثارالباقيه ٦۴.

[2] - زمباور در معجم‌الأنساب ۱/ ۷۷.

[3] - تاريخ بخارا ۴۴.

[4] - پورتنی اثر ۷او ۴۳.

[5] - مسالک الممالک ۳۱۴.

پر غطريفي درهمونو سربېره مسيبي او محمدي درهمونه او فلوس[1] هم د عباسي پېر له سيکو څخه دي، چې لومړی یې د مهدي د دربار له خوا د خراسان د حاکم مسيب بن‌زهير په نامهٔ دی، گرديزی وايي: مسيبي درم چې په ماوراءالنهر کې يې دهٔ ته منسوبوي، غطريفي، غطريف بن‌عطاء کندي او محمدي، محمد بن‌زبيده ته منسوب دی. دا درمونه د سپينو زرو، جستو او قلعي گډوله دي.[2]

په اسلامي پېر کې عربي واکمنو په زياترو اداري مرکزونو کې دارالضـرب هم درلود، چې سيکه به په کې وهل کېده. په خراسان کې هم دارالضرب و[3] او لکه چې ومو ويل: خراساني لاربنود او ملي مشر- ابومسلم سيکه وهلې وه. همدا رنگه د جعفر بن‌ابوطالب له لمسي- عبدالله بن‌معاويه سيکه راپاتې ده، چې په ۱۲۹س=۷۴٦ز په هرات کې ووژل شو.[4] د خراسان د ځينو حاکمانو سيکې مو مخکې شرحه کړې.

د علي‌باشا مبارک مصري د شرحې له مخه، د اسلامي سيکو وزنونه داسې وو:

۱- د حضرت‌عمر او عثمان سيکه: لس درهمه= ٦مثقاله سپين زر.

۲- د معاويه سيکه: لس درهمه= ۷ مثقاله سپين زر.

۳- په عراق کې د مصعب بن‌زبير سيکه: لس درهمه= ۷ مثقاله سپين زر.

۴- په ۷٦س= ٦۹۵ز کال کې د عبدالملک بن‌مروان سيکه:

دينار= ۲۲ قيراطه سرهٔ زر

درهم= ۱۵ قيراطه سپين زر

هر لس درهمه= ۷ مثقاله سپين زر

---

[1] - د فلوس کلمه د يوناني له اوبولوس څخه معربه ده، چې د پارسي پول هم له دې ريښې څخه دی (حواشي برهان ۴۲۸).

[2] - زين‌الأخبار، خطي ۷۷الف او اصطخری ۳۲۳.

[3] - تاريخ‌التمدن الإسلامی ۱/۱۰۰.

[4] - زمباور په معجم‌الأنساب کې ۷۰.

۵- د یزید بن‌عبدالملک د پېر په عراق کې د هبیریه سیکه: لس درهمه= ۶مثقاله سپین زر.

۶- د هشام بن‌عبدالملک سیکه: لس درهمه= ۷مثقاله سپین زر.

په دې ترتیب د عبدالملک د سیکې وزن هر درهم د ۹۴ /۲ او ۷۰ /۲ گرامو او د هغۀ د دینار وزن د ۶۴/ ۴ او ۲۲ /۴ گرامو تر منځ و.[1]

**د خراسان دارالضرب**

د امویانو او عباسیانو په پېر کې د خراسان دارالضرب په لاندېنیو ښارونو کې و، چې د هغو سیکې په کابل او نورو موزیمونو کې شته:

۱- اموي: په ۹۰س= ۷۰۸ز کال په کرمان کې، د کابل موزیم ۶ گڼه سیکه، د برلېن ۴۰ گڼه، د برتانیې ۱۴۲ گڼه، د قاهرې ۱۴۱ گڼه او د پاریس موزیم ۳۱۳ گڼه سیکه.

۲- اموي: په ۹۰س= ۷۰۸ز کال په مروه کې، کابل۶، قاهره ۱۵۲، پاریس ۳۲۶ او پېترزبورگ ۳۳۳ گڼه سیکه.

۳- اموي: په بلخ کې ۱۱۷س=۷۳۵ز، د۷/ ۲ گرامو په وزن، کابل ۳۳گڼه، چې پر یوۀ مخ یې «لااله الا الله وحده لاشریک له» او پر بل مخ یې «محمدرسول‌الله» او پر څنډه یې «بسم الله ضرب هذالفلس ببلخ» کښلي دي.

۴- عباسي: په بلخ کې۱۸۲س= ۷۹۸ز، کابل۴۸، برلېن۹۸۳، برتانیه ۱۷۰، قاهره ۴۴۳، پاریس ۷۸۱ او پېترزبورگ ۱۳۶۲گڼه سیکه.

۵- عباسي: په بلخ کې ۱۸۵س=۸۰۱ ز، کابل ۴۹، برتانیه ۱۷۰، قاهره۴۴۴، پاریس۷۸۳ او پېترزبورگ ۱۳۶۱ گڼه سیکه.

۶- عباسي: په بلخ کې ۱۸۷س=۸۰۲ ز، کابل ۵۰، برلېن ۱۰۰۲، برتانیه۱۷۳، قاهره۴۴۸ او پېترزبورگ۱۴۱۸ گڼه سیکه.

۷- عباسي: په هرات کې ۱۹۳س= ۸۰۸ ز ۲۴ ملي متري د ۲/ ۳ گرامو په وزن چې پر یوۀ مخ یې هراة- نصر بن‌سعد کښل شوي دي، کابل ۵۱ گڼه سیکه.

۸- عباسي: په زرنگ کې ۱۸۶س=۸۰۲ز، کابل ۵۷، برلېن ۱۰۳۴، برتانیه ۱۷۹،

[1] - محاضرات تاریخ اسلام ۲۲۱/۲، د علي مبارک د خطط په حواله، وروستی ټوک.

قاهره۴۵۸، پاریس ۷۹۹، پتېرزبورګ,۱۴۱۹

۹- عباسي مامون: په ګزه= جزق[۱] کې ۲۱۷س=۸۳۲ز، کابل ۶۱ ګڼه.

۱۰- عباسي مامون: په هرات کې۲۰۶س=۸۲۱ ز، کابل۶۲، برلېن۱۴۲۸، برتانیه ۳۰۱.

۱۱- عباسي مامون: په سمرقند کې۲۰۱س=۸۱۶ ز، کابل۶۶، برلېن۱۳۷۴، برتانیه ۲۸۸، قاهره ۵۷۴، پتېرزبورګ ۱۷۲۵.[۲]

د اصطخري د څرګندونو له مخه په ماوراءالنهر کې دوه دارالضربونه وو: په سمرقند او تونکت کې چې اسماعلیه او مکسره درهمونه او دینار په هغو کې مروج و.[۳] او د هندوکش د شمال په اندراب کې یې هم د بنجهېر او جاریابه د کانونو له سپینو زرو څخه د درم سیکې وهلې.[٤]

[۱] - جزَه په سیستان کې یو ښار دی (مراصد ۳۳۱/۱) د خراسان له اړوندو ښارونو څخه و (حدودالعالم ۶۴).

[۲] - فهرست مسکوکات اسلامی موزهٔ کابل، دومینیک سوردل، د دمشق چاپ، ۱۹۵۳ز.

[۳] - مسالک الممالک ۳۲۳.

[٤] - حدودالعالم ۲ او ٦.

# وزنونه او پیمانې

د افغانستان په ختیځو ولایتونو کې د اسلام د څرک په لومړیو کې تر عباسي پېره زیاتره ټولنیز دودونه او روایات له سند سیند د ورپورې غاړې سیمې سره ګډ وو او کابلشاهانو د ټکسیلا تر شاوخوا پورې حکم چلاوۀ. دویمه پلازمېنه یې هم د سند سیند پر غاړه ویهنډ و.

له همدې امله یې له لوېدیځ هند سره ګډې سیکې، وزنونه او پیمانې درلودې، چې تر اوسه هم تر پېښوره پورې زیاتره هندي وزنونه او پیمانې پاتې دي.

هغه وزنونه چې د اسلامي پېړیو په لومړیو کې په ختیځو سیمو او هند کې دود وو، دا دي:

**د زرو وزن**

۴ مدرې= یو پاذه

۴ پاذه= یوه کله

٦ کله= یوه جوه

۴ وربشې= یو اندی (یو غوز)

۴ اندی= یو ماشه

١٦ ماشې= یو سوورن (چې درې پر څلور یې یوه تله ده)

١توله= دوه صحیح یو پر لس مثقاله

نو یو سوورن مساوي دی له:

١٦ ماشې، ٦۴ اندی، ٢٥٦ وربشې، ١٦٠٠ کله، ٦۴٠٠ پاذه، ٢٥٦٠٠ مدرې.[١]

---

١ - کتاب‌الهند١٢۴.

**د بت جوړونې په صنعت کې اندازه**

۱۰ رینوو= یو رجو

۸ رجو= یو بالاگو (سرجو)

۸ بالاگو= یو لیک (لنگو؟)

۸ لیک= یوه ژوکه (قمل)

۸ ژوکه= یوه وربشه (شعیره)

**د خیزونو وزنونه**

۴وربشې (شعیره)= یو اندی

۴ اندی= یوه ماشه

۱۶ ماشې= یو سوورن

۴ سوورن= یو پَلُو

**وچ خیزونه**

۴ پلو= یو کربو

۴ کربو= یو پرستو

۴ پرستو= یو آرها

**لانده خیزونه**

۸ پلو= یو کربو

۸ کربو= یو پرستو

۴ پرستو= یو آرها

۴ آرها= یو درُون (د لومړي په سکون او د دوهم په پېښس)

۲ درُونه= یو شرپ (شرت؟)

۲ شرپه= یو جنا

نو هر سوورن= ۳درهمه، هر پَلُو ۱۸۰ درهمه= ۵ /۳ منه دی او ترازو ته تله وایي.[۱] د بهار په نامهٔ وزن لري= دوه زره پلو[۲] او هر آرها له۶۴ پلو= ۱۲۸ درهمو= یو رطل سره مساوي دی.

---

[۱] - تله د ترازو په معنی په پښتو کې تر اوسه ژوندۍ ده.

[۲] - کتاب‌الهند تر ۱۲۳وروسته، ښایي په خروار او اشتروار کې بهار کلمه په (وار) اوښتې وي.

همدا رنګه ۴ آرها یو درُون او ۲۰ درونه یو خار وي.[۱]

**پیمانې**

له پیمانو یې یوې ته «سبي» ویله، چې څلور سبي یوه پرستو وه او د سبي څلورمې ته یې کرُو (د لومړي په غړوندي او د دوهم په پېښس) وایهٔ او ۱۲ سبي یو «کلهسي» او د کلهسي څلورمه «مانه» وه؛ خو د غنمو په وزن کې هر سبي له ۲۰ منو سره مساوي و چې خوارزمي سخ ته ورته دی. په داسې حال کې چې کلهسي د غور په نامهٔ پیمانې غوندې دی او هر غور۱۲سخه و.[۲]

**د اوږدوالي مقیاس**

په وزنونو کې کوچنی معیار شعیر (= وربشه) و، په اوږدوالي کې یې هم کوچنی مقدار وربشه نیولې ده، په دې ډول:

۸ وربشې= یو انګل (انګشت)

۴ انګل= یو رام (قبضه)

۲۴ انګل= یو هت (لاس یا ذراع)

۴ هت= یو دهنو (قوس یا باع)

۴۰ دهنو= یو نل

۲۵ نل= یو کروس (هر ۴ کروهه له یوهٔ فرسخ سره مساوي دي)

نو په دې حساب یو کروه څلور زره ذراعه او یو میل هم همداسې او سره مساوي دي. د اوږدوالي په مقیاسونو کې اته میله یو جوژن او هر جوژن دوه دېرش زره ذراعه و.[۳]

د اوږدوالي په مقیاسونو کې، هیونڅانګ وایي د لښکر د تګ یو ورځنی واټن یو یوجانا و، چې ۳۰ چینایي لی= ۱۰ میله دی. همدا یوجانا له ۸ کروسه (کروه) سره مساوي و او هر کروه هغه واټن دی، چې د غویي اواز په کې اورېدل کېږي.

---

[۱] - کتاب‌الهند ۱۲۸.

[۲] - پورتنی اثر ۱۲۹.

[۳] - پورتنی اثر ۱۳۱ او ۱۵۹.

یو کروه= ۵۰۰ دهنو

یو دهنو= ۴ هته

یو هت= ۲۴ گوتې

یوه گوته= ۷ وربشې[1]

ابن‌خرداذبه وایي د عربو تر لاس لاندې خراسان کې د خلافت د نورو سیمو غوندې د جنس په مالیو کې پیمانه دود وه، چې کُر یې بلله، د شپږ خروارو معادله،[2] او لکه چې المقدسي نغوته کوي په منصوره، ملتان، کندهار او طوران (اوسنی بلوچستان) کې من له مکي من سره مساوي و. همدا رنگه په طوران کې د کېچي په نامهٔ بله پیمانه دود وه، چې له ۴۰ منو غنمو سره مساوي وه. د مطل په نامهٔ ملتانی پیمانه له ۱۲منه غنمو سره مساوي وه.[3]

خوارزمی کاتب محمد وایي: په هر ښار کې د جرېب اندازه بېله ده، ځکه یو جرېب لس قفیزه دی، چې په ښارونو کې قفیز ځان ته اندازه لري او نیشاپوری قفیز له اویا منو غنمو سره مساوي دی. د نیشاپور په ځینو څنډو کې قفیز دوه نیم منه دی، چې په دې حساب یو جرېب ۲۵ منه کېږي، په داسې حال کې د نیشاپور په ځینو کلیو کې یو قفیز یو نیم من او په دې بنسټ هر جرېب ۱۵ منه دی. خو په بخارا کې نغنجه پیمانه ۷۵ منه غنم دي او په خوارزم او تخارستان کې هر سُخ له ۲۴ منه او دوه قفیزه سره مساوي دی. د خوارزمیانو غور پیمانه ۱۲ سخه ده، چې هر لس غوره یو غار دی. خو په نسف کې د غار مقیاس سل قفیزه او هر قفیز نهه نیم منه دی.[4]

د خروار، اشتروار او من کلمې له خراساني ژبو څخه عربي ته تللي او دود شوې وې. قدامه بن‌جعفر خروار د خرهٔ په درووند بار تعبیر کړی دی او هم د من کلمه راوړي.[5] موږ وینو چې من کلمه عربي ته ننوتې ده او جمع یې مسعودي امنان او البیروني امناء راوړې ده.[6]

---

۱ - سي. یو.کی، دوهم کتاب ۱۳۰.

۲ - مسالک الممالک، د ابن خرداذبه.

۳ - احسن‌التقاسیم، ۴۸۲.

٤ - مفاتیح‌العلوم، ۴۵.

٥ - کتاب‌الخراج او صنعة الکاتب ۲٦۳.

٦ - مروج‌الذهب ۱/ ۲۲٦ او کتاب‌الهند ۱۲۹.

لکه چې ومو ليدل د من کلمه د وزن د يوۀ مشهور معيار په توگه له هنده تر خراسان او عربو پورې د اسلامي پېر تر لومړيو پورې او وروسته دود وه. دا کلمه د آريايي او سامي ژبو تر منځ مشترکه ده. «منه» د وزن هغه تيره وه، چې په بابل کې کارېده. په يوناني کې يې دا کلمه منه MNA په هماغه معنی کاروله. همدا رنگه په هند او د ايران په دښتو کې«مان» د اندازې په معنی دی. په هغې سوداگرۍ کې چې د اشکاني پېر د آريايانو او روميانو تر منځ کېده، ځينې درمل د من په حساب پلورل کېدل.[1]خوارزمی وايي، عربي رطل نيم من او هر من ۲۵۷ درهمه، ۱۸۰مثقاله او ۲۴ اوقيه کېدۀ. هر اوقيه لس صحيح پنځه پر اووه درهمه او هر رطل ۱۲۸ درهمه و.[2]

لکه چې مصري علي‌مبارک باشا وايي: د اسلامي دورې مثقال د اوقيه شپږمه و، چې هر اوقيه۳۲ /۲۸ گرامه دی؛ نو يو مثقال له۷ /۴ گرامه سره مساوي دی؛ خو د ۶۹ /۴ گرامه وزن والا يو بل مثقال هم و.[3]

**د اوبو د دفتر مقياسونه**

په خراسان کې د اوبو د وېش او د هغو د اندازې لپاره هم ځانگړې اندازې وې، چې د کاست و فزود په نامۀ يې د اوبو په دفتر کې د ځمکو خراج د هغو له اوبو سره سم اخيست. عربو د اوبو د خراج د دې دفتر نوم د «الکستبزود» KASTABZOOD په نامۀ معرب کړی و. په دې دفتر کې يې د اوبو د اندازې قياسي واحد داسې سوری ټاکلی و، چې اوږدوالی او پسور يې د يوې وربشې (شعيره) په اندازه و. دې اندازې ته به يې بست وايۀ، چې په مروه کې د قياسي واحد په توگه منل شوی و. د هغه جمع به يې په عربي کې ابست ABSUT ليکله. هر لس بسته يو فنکل FUNKUL کېدۀ او که چېرته به يې د اوبو پر وېشنځې د ځمکې لور ته لښتی جوړاوۀ؛ نو هغه يې الکوالجه بالۀ.[4]

---

[1] - ايران نامه۳/ ۱۹۷، د تهران چاپ، ۱۳۲۱ل.

[2] - مفاتيح‌العلوم ۱۲.

[3] - محاضرات تاريخ امم اسلامية ۲/ ۲۲۱ د خطط د وروستي ټوک په حواله.

[4] - مفاتيح‌العلوم، د خوارزمي ۵۰.

## اداره او دولتي تشکیلات

هغه مهال چې عرب سوبمنان په لومړۍ لېږدي پېړۍ یعنې د اوومې زېږدي پېړۍ نیمایي کې خراسان او د افغانستان خاورې ته راورسېدل، دلته د هېواد اداره د سیمه‌ییزو پاچاهانو په لاس کې وه؛ خو له موږ سره د هغو د ملکي یا عسکري ادارې او تشکیلاتو د جزیاتو معلومات نهٔشته. له بده مرغه کوم اثر په واک کې نه لرو، چې د دې پېر په ګونګې او نامعلومې وضعې مو وپوهوي.

خو ځینې مؤرخان نغوتې لري، چې د دې سیمې د چارواکو د حکومتولۍ پاخهٔ افکار ترې څرګندېږي؛ نو له هغو څخه معلومېږي چې واکمن پوړ او پاچاهانو د حکومتولۍ په چارو کې غوره بنسټونه او ښېګڼې درلودې.

هیونځانګ نړیوال چینایي سیلاني چې د دې خاورې د حاکمانو دربار او اداره یې د (۹س) شاوخوا په بېلابېلو وختونو کې لیدلي وه، د اداري تشکیلاتو، مالیو، معاشوالو عسکرو، حاکمانو، وزیرانو، قاضیانو، نورو دولتي مامورینو، اجیرو ایله‌جاري ځواکونو او د پلونو او سرکونو د ټیکسونو خبرې کوي. له مامورینو څخه هر یوهٔ د دې خاورې یوه برخه د خپل ژوندانهٔ د اړتیاوو د لیرې کولو لپاره غالباً د جاګیر په ډول درلوده. کله چې د یوهٔ پاچاه تر مړینې وروسته، بل د خول او پلاز څښتن کېدهٔ، دا څلور دندې یې پر غاړې اخیستې:

۱- د دولتي چارو تر سره کول، سربښندنې او د هغو ډالۍ ورکول.
۲- له ولس سره مرسته او د هېواد وزیرانو او لویو مامورینو ته د معاش ورکړه.
۳- لایقو او ممتازو کسانو ته د انعامونو او خلعتونو ورکړه.
۴- روحاني پوړ ته د خیرات او صدقاتو ورکړه.[1]

[1] - سي – یو- کی، دوهم کتاب ۱۴۲.

د هيونځانګ له دې شرحې څخه ځرګنده ده، چې د افغانستان پاچاهي دولتونو بشپړ دولتي تشکيلات درلودل او دا کار دليل هم لري، چې په همدې پېر کې په هند کې ختيځ لور او د ايران په ساساني هېواد کې لوېديځ لور ته حکومتي تشکيلات او حکومتي تنظيمات وو. که فرضاً د دې خاورې حاکمانو تشکيلات هم نه درلودل، نو هرومرو پرې خپلو ختيځو او لوېديځو بهيرونو اغېز کړی دی. که نه تر دې پخوا په دې خاوره کې د کوشانيانو ستر‌واکي تېره شوې وه، چې هرومرو به د هغو د حکومتولۍ د تشکيلاتو پاتې شوني هم راپاتې شوي وي.

## د حکومتولۍ او اداري فرهنګ نظريه

د اسلامي پېر د مؤرخانو له رواياتو څخه هم ځرګندېږي، چې د دې خاورې واکمنانو او ولسونو ځلانده او تلپاتې فرهنګ درلود. ان د نړيوالتوب په چارو کې يې ځانګړې او غوره نظريات درلودل، چې د ځينو مؤرخانو د ليکنو په ټولګو کې يې ښه ترا ليدلای شو.

د خراسان حاکمانو د اسلام‌ځلا ته نږدې درې څېزونه د ادارې او حکومتولۍ له لوازمو څخه ګڼل چې د هغو په باور د عجمو د سوبې او برلاسي لامل همدا و:

په ۱۲۰س= ۷۳۷ز کې پر خراسان د اسد بن‌عبدالله د حاکمۍ په پېر کې په بلخ کې د اسد دربار ته له هرات څخه يو دهقان راغی او د مهرګان جشن په ورځ يې هېښنده ډالۍ وړاندې کړې. په دې دربار کې د هرات دهقان وينا وکړه، چې په کې ويلي يې وو:

«خدای دې امير ته خير ورکړي! موږ د عجمو ټولي څلورسوه کاله، په داسې حال کې چې ناطق کتاب او مرسل نبي مو نه درلود، يواځې په زغم، پوهه او برم (صبر، هوښياري او درنښت) مو نړۍ ونيوه او هر چا چې په دې درې خويونو سره هر لوري ته مخه کړه، خدای ورته برۍ وباخښه.»[1]

د هرات دهقان د خپلې وينا په پای کې دا درې خويونه د مشرۍ‌ځانګړنې وګڼلې.

---

[1] - طبري ۵- ۴۶۵.

اسد چې دا عالمانه خبرې واورېدې، هغه يې د خراسان د دهقانانو ښېګڼې وګڼلې.

البلاذري (۲۷۰س= ۸۸۳ ز شاوخوا) د زابلستان د حاکم رتبيل په اړه ليکي: د سلېمان بن‌عبدالملک په پېر کې (۹۶- ۹۹س) يزيد بن‌مدرک بن‌مهلب د سيستان حاکم و، رتبيل هغهٔ ته هيڅ ډول باج ورنه کړ. له هغهٔ پوښتنه وشوه چې ولې دې حجاج ته باج ورکاوهٔ او نورو ته يې نه ورکوې؟

رتبيل وويل: حجاج هغه مړنی و چې خپلې موخې ته د رسېدو په لاره کې يې هر ډول لګښت کاوهٔ، که څه هم چې له هغې به يې يو درهم هم نه تر لاسه کاوهٔ؛ خو تاسو چې يې په بدل کې د لسو درهمو تمه ونه لرئ، يو درهم نه لګوئ.[1]

څرګنده ده چې رتبيل پر ژمنه ټينګېدا، پرتم او د حکومتولۍ چارو ته پاملرنه خوښول، يو ځل يې له خپلو هممهالو عربو څخه پوښتنه وکړه: «چې ډنګر او توربخن وو، د لمانځهٔ نخښې يې په څېرو کې ښکارېدې، پېناک يې د خرما د پاڼو وو او ما ته راتلل، هغه کسان څه شول؟»

ځواب ورکړی شو:«هغوی مړهٔ شول.»

رتبيل وويل: که څه هم تاسو ښکلې او روښانه ياست؛ خو هغوی تر تاسو وفادار او په خپله حمله کې سخت وو.»[2]

په دې سوال و ځواب کې لومړنيو مسلمانانو ته- چې ښې ښېګڼې، غوره اخلاق او ساده‌ګي يې درلوده؛ خو وفا، جهاد او سرسختي په کې وه- د رتبيل کلکه لېوالتيا څرګنده ده؛ نو ګوندې لومړني مسلمان سوبمنان او د پيغامبر ﷺ اصحاب يې ستايلي او پر خپلو هممهالو امويانو يې- چې د حکومتولۍ ښېګڼې يې نه درلودې- نيوکه کړې ده، چې دا په خپله د حکومتولۍ په چارو کې د هغهٔ فکري لوری څرګندوي.

د هغه مهال په خراساني ټولنه کې زردشتي وګړو هم لوړ اداري فرهنګ او د فکر و نظر پوخوالی درلود، تر دې پورې چې‌مسلمانو عربي‌حاکمانو هم ترې پند اخيست.

---

[1] - فتوح‌البلدان ۴۹۳.

[2] - پورتنی اثر، ۴۹۳.

د اموي مروان‌الحاکم په پېر ٦۴س= ٦٨٣ز کې عالم او علم دوسته کس عبدالعزيز بن‌عبدالله بن‌عامر د سيستان حاکم و. د هغهٔ په پېر کې د سيستان رستم بن‌مهر هرمزد مجوسي متکلم شهرت درلود، عربي واکمن دې مجوسي عالم ته وويل: دهقانان د حکمت خبرې کوي، ما ته ترې څه ووايه! رستم د حکومتولۍ او اداري فرهنګ په چارو کې هغه ته دا پندناکې خبرې وکړې:

«د ناپوه سړي دوستي د جعل کارۍ له امله بې حقيقته وي، په عبادت کې ريا کوي او خپله ګټه د ولس په ځورولو کې لټوي.

چې څو بد ژبي يې په منځ کې تا ويلې ما ويلې ونه کړي، د دوو کسو دوستي پاتې کېږي. که هيلې او غوښتنې پرې زوروري نهٔشي، پوه تل ځواکمن وي. د پاچاهۍ او پاچاه کار تر هغه مهاله سم وي چې وزيران يې پر سمه وي.»[1]

له دې او ورته خبرو څخه پوهېدای شو چې د دې خاورې ولس د حکومتولۍ، ادارې او ټولنيزو اخلاقو په چارو کې څه ډول فکر کاوهٔ؟ نو د هغوی د چارو اداره، سياست او حکومتولي به په همدې ډول وو.

**اداره په اسلامي پېر کې**

عرب سوبمنان په لومړۍ لېږدې اسلامي پېړۍ کې د خراسان خاورې ته د ژوندانهٔ له ساده بنسټونو، خو له اسلامي روحيې سره راورسېدل. هغوی په عراق او د لوېديځ خراسان په يوه برخه کې د ساسانيانو د ادارې ډول او دولتي تشکيل وليد، چې څو پېړۍ عمر يې درلود او د هغهٔ مهال له لويو او پرمختللو ستراکيو څخه وه؛ نو د ادارې او حکومتولۍ په مسايلو او دولتي ادارو جوړولو کې يې له هغهٔ څخه زياته ګټه واخيسته.

کله چې عرب خراسان ته راغلل، دلته د ادارې او حکومتولۍ له پلوه له خپلو ځانګړو لرغونو دودونو سره خانخانۍ موجودې وې. له هغو پانګوالو او مخورو څخه چې حاکمي يې کوله، درې ډلې ډېرې مشهورې وې:

لومړۍ يې شهريج، جمع يې شهارجه؛

---

[1] - تاريخ سيستان ١٠٦.

دويمه يې پوله‌ساتی (مرزبان) چې‌عربي‌جمع‌یې (مرازبه) پوله‌ساتي یا سرحدیان؛ او دریيمه یې کنارنگ بلله.

د دې لړی د ټيټ پوړو په اړه مو- چې هرې یوې په خپل وار واک درلود- د ولس په پوړونو کې شرحه ورکړې ده.

د ساسانیانو په هېوادنیو تشکیلاتو کې چې اولاده یې د اسلامي پېر په لومړیو کې پسي واخیستل شوه، هر ولایت کوچنۍ ضِلعې درلودې. نولدکه وایي هرې فرعي ضلعې ته یې ښار او د هغې مرکز ته یې ښارگوتی وایۀ. د دې سیمې حاکم شهریگ و، چې د دهگانانو له پوړه ټاکل کېدۀ؛ خو د روستا= روستاگ= رستاق (یعني کلی) حاکم ته یې دیهیگ وایۀ. یعقوبي (۱/ ۱۷۷) شهریگ ته رئیس الکور وایي او لکه چې مسعودي په مروج‌الذهب (۲ /۲۴۲) کې راوړي: شهریگ د آزاذانو له پوړه او تر دهگانانو یوه درجه لوړ و، چې مسعودي یې جمع شهارجه لیکي.[1]

د شهریج معرب نوم په عربو کې دومره مشهور شوی و، چې د مهدي عباسي له هممهاله عربي شاعرانو څخه یوۀ شهاریج د دهقانانو اولاده گڼلې او ویلي یې دي:

حتى إذا أيسروا قالوا وقد كذبوا نحن الشهاريج أولاد الدِهاقين[2]

مرزبان چې په کارنامۀ اردشېر بابکان کې مرژپان راغلې د پوله‌ساتي یا سرحددار (صاحب‌الثغر) په معنی[3] د مرز+ بان مرکب دی، مرز په اوستا کې میریزو (MEREZU) او په پهلوي کې مرژ (MARJ) د یوۀ هېواد د پولې په معنی و، بان د ساتنې له اداتو څخه دی، مرزبان به د پولي واکمن او ساتندوی وي[4] چې د اسلام څرک ته نږدې د ساسانیانو د پېر په اداري تشکیل کې مرزبان یعنې پوله‌ساتی د دې اداري یو مهم غړی و. عربو به یې جمع مرازبه لیکله.[5]

---

[1] - کریستن‌سن در ساسانیان ۱۸۲.

[2] - الأغاني ۱۲ /۱۷٦.

[3] - لغات کارنامه ۹۴.

[4] - برهان قاطع ۴/ ۱۹۸۷.

[5] - مروج‌الذهب ۱ /۲۴۱.

یعقوبي وايي: مرزبان د ايالت واکمن و، چې مسعودي ورته په التنبيه کتاب کې د بريدپولو واکمن وايي. د هېواد څلورو خواوو ته يو يو مرزبان و؛ خو هم هغه په مروج‌الذهب کې ساساني هېواد د څلورو سپه‌بذو په لاس کې ګڼي، چې هر يوۀ د مرزبان په نامۀ مرستيال درلود.

کريستين‌سن وايي: مرزبان د ساساني پېر په لومړيو کې نه و او د دې کورنۍ په پخوانيو ډبرليکونو کې نه تر سترګو کېږي. دا لقب لومړی ځل د پنځم بهرام په پېر کې (۴۲۰- ۴۳۸ز) ليدل کېږي چې د ارمينيه واکمن ته مرزبان ليکي او د پاچاه ورور نرسي د مرزبان کوشان (يعنې د کوشان پوله‌ساتی) په لقب يادوي.[1]

نو بايد ووايو چې: د سرحدي ايالتونو واکمنانو ته يې مرزبانان ويل؛ خو کله يې د هېواد دننه ټيټ پوړي چارواکي هم په دې نامۀ يادول. دې پوړ به د جنګ پر مهال د سپاه‌بذانو تر امر لاندې د لښکر د سالارۍ دندې هم پر غاړه درلودې او له لوړو کورنيو به ټاکل کېدل، لکه چې طبري وايي: دې مرزبانانو ته به يو د سپينو زرو او کله هم د سرو زرو تخت ورکول کېدۀ. ان چې کله به د پاچاهي کورنۍ شاهزي او غړي هم د مرزبانۍ منصب ته رسېدل. «نولدکه» له عربي مأخذونو څخه رااخيستي چې د اسلامي خلافت په ختيځو برخو زرنګ (سيستان) هرات، مروه، سرخس، نيشاپور او طوس يعنې د خراسان په اړوندو سيمو کې مرزبانان واکمن وو.[2]

**کنارنګ**

تر ټولو پخوانی لاسوند چې په افغانستان کې يې د دې په اړه لرو، د ۱۶۰ز شاوخوا اړوند د افغانستان د کوشاني ټولواک کنيشکا د اولادې د بغلان د سرۀ کوتل په ډبرليک کې د دې کلمې يادونه ده، چې په ډبرليک کې په يوناني تورو کرل‌رنګ (KARAL- RANG) راغلی او د يوۀ لښکري منصب کورنی نوم و.[3]

---

[1] - ايران شهر، د مارکوارت ۵۲.

[2] - ساسانيان تر ۱۷۸ وروسته.

[3] - مادر زبان درى ۸۱او ۱۳۳.

د فرانسي له اوسمهالو پوهانو څخه يو «ماريگ» دا کلمه يو پوځي لقب له KARA يعنې لښکر+ درنگ څخه مرکب لوستی او انگليسي پوه «هيننگ» وايي: دا کلمه کټ مټ هماغه پارسي کنارنگ او له کنار+ درنگ څخه مرکبه ده، چې د کوشاني ستروا‌کۍ د گاونډي ايالت د واکمن يا د يوۀ سرحدي ولايت د واکمن لقب و.[1]

تر اسلام مخکې او وروسته زمانه کې يې سرحد ته د پاچاهي کناره (څنډه) ويله لکه منهاج سراج جوزجاني چې د قلج ارسلان سلجوقي په اړه ليکي: د افرنجه کنار د هغۀ له خوا ډېر وتکېدۀ.[2] د دې کلمې جمع په پارسي کې (کنارههای پادشاهی وې، چې سرحدي واکمنو ته عربو سيمه‌ييز پاچاهان (ملوک‌الاطراف) ويل او کُنارنگ يې د سرحد په معنی له کُنارک لغت څخه اخيستی، گڼلی دی. په هره بريدپوله کې کنارنگان وو چې له پخوا راهيسې يې د سرحدداري او سرحدي حکومت دا ميراثي منصب درلودلی دی. فردوسي د کنارنگ په اړه زيات شعرونه لري، چې له ټولو يې همدا د سرحدداري معنی څرگندېږي، لکه:

و از آن بگذری رود آبست پیش    که پهنای او را دو فرسنگ بیش
کنارنـــگ دیـــوی نگهبـــان او    همـــه نـــره دیـــوان بفرمـــان او

د کنارنگ د زړورتيا اومېړانې په اړه وايي:

کدامســـت گـــرد کنارنـــگ دل    بمردی سیه کـرده در جنـگ دل[3]

همدا رنگه فردوسي وايي د مروې کنارنگ ماهوی نومېدۀ او د شپنو (کوچيانو) مشر و:

کنارنـگ مـرو اسـت مـاهوی نیـز    بـا لشـکر و پیـل و هرگونـه چیـز
کجـا پیشـکار شـبانان ماسـت    بـر آورده دشـتبانان ماســت[4]

د (۳۴۶س= ۹۵۸ز) کال د محرم د تأليف شهنامې په پخوانۍ سريزه کې، چې د دري نثر پخوانۍ بېلگه ده او هغه ابومنصور بن‌احمد معمري د خراسان د يوۀ مخور،

---

[1] - د پاريس آسياتيک ژورنال د ۱۹۵۸کال څلورمه گڼه او د لندن د ختيځو څېړنو بولټن ۱۹۶۰ز.
[2] - طبقات ناصري ۱/ ۳۱۲.
[3] - سبک شناسي بهار ۱/ ۴۲۸.
[4] - پر ويس او رامين نښلونې، د مينارسکي ۴۲۷.

ابومنصور محمد بن‌عبدالرزاق په نامهٔ لیکلې، د دې منثورې سریزې د لیکوال په شجره کې د کنارنگ نوم پرله‌پسې راځي، نو ترې معلومېږي چې د کنارنگ په نامهٔ کسانو د اسلام په لومړیو کې په دې خوا خراسان کې شهرت درلود. طبري د ۳۱س= ۶۵۱ز په پېښو کې دا نوم د کناري مرزبان طوس په بڼه راوړی[1] بلاذري همدا نوم د خراسان د سوبو په یادونه کې کنارنک راوړي،[2] چې په خطي نسخو کې د کنازنگ مرزبان طوس په بڼه اړول شوی دی[3] او همدا نوم دی چې ابن‌خرداذبه هغه د کنار (کنارنک) په بڼه د نیشاپور واکمن لیکلی دی.[4]

لکه چې پوهېږو د پنځمې لېږدې پېړۍ تر شاوخوا پورې د خراسان د دهقانانو، روحانینو او کورنیو تر منځ، د نسبونو د ساتنې لړۍ دود وه او په دې هره کورنۍ کې د خپلو نیکونو په اړه روایتونه موجود وو، چې پښت له پښته ساتل کېدل (کټ مټ همدا حالت اوس د پښتنو په منځ کې شته) او ځینې یې په تصادفي ډول په ځینو کتابونو کې خوندي پاتې دي. له هغې جملې د ابومنصور محمد بن‌عبدالرزاق د شپږم نیکهٔ کنارنگ په اړه روایتونه دي، چې د ابومنصوري شاهنامې په سریزه کې یې وینو[5] او مخکې ورته نغوته وشوه.

شمس فخري اصفهانی په دې اړه د ۷۴۴س= ۱۳۴۳ز شاوخوا لیکي:

«کنارنگ د هغهٔ ملک واکمن ته وایي او مرزبان هم ورته وایي، بېلگه په خپله د هغهٔ:

کمینه بنده ات هرجا که باشد     بود آنجا زاقبالت کنارنگ»[6]

تر شمس فخري د مخه دا کلمه د اسدي طوسي له خوا هم د لوري د ښتن او پوله‌ساتي په معنی ثبته شوې ده، د فردوسي د دې بیت په سند:

---

[1] - طبري ۳/ ۲۸۸۶.

[2] - فتوح‌البلدان ۴۰۶.

[3] - مقدمهٔ قدیم شهنامه در هزارهٔ فردوسي ۱۴۷.

[4] - المسالک و الممالک ۳۹.

[5] - حماسه سرایی در ایران ۸۷

[6] - معیار جمالی ۲۸۶، د تهران چاپ، ۱۳۳۸ل.

ازین هر دو هرگز نه گشتی جدا      کنارنگ بودند و او پادشاه

د امام اعظم ابوحنیفه د نیکونو په لړ کې - چې ابن‌ندیم وایي د کابل اوسېدونکي وو-[1] هم د کنارنگ نوم یاد شوی دی.[2] که دا روایت سم هم نه وي؛ نو د دې نامهٔ پر شهرت او اعتبار ترې پوهېدای شو. څرگنده ده چې ځینو پوله‌ساتو یعنې د خراسان د خپلواکو سیمو هر واکمن ته یې کنارنگ وایهٔ. بیزنتي مؤرخ «پروکوپ»[3] وایي د کنارنگ منصب په ځینو کورنیو کې میراثي و. د ابرښار یعنې نیشاپور د شمال پوله‌ساتي ته یې کنارنگ وایهٔ. څرنگه چې درېیم ساساني یزدگرد د عربو له ویرې خراسان ته وتښتېد، د طوس حکمران ته یې- چې هغهٔ ته هم کنارنگ ویل کېدهٔ-پناه ورووړه.

د خپلواکو حاکمانو د القابو په لیکلړ کې یې د نیشاپور حاکم کنار او د طوس هغه کنارنگ بللی دی. ثعالبي په غرر اخبارالملوک‌الفرس کې څرگندوي، چې د طوس حاکم کنارنگ و. د ساساني پېر په پوځي پېښو کې کله له دې ټکي سره مخامخېږو چې ساساني ټولواک فلانی کنارنگ د جنگ ډگر ته لېږلی دی. له دې څرگندېږي چې کنارنگ پوځي دندې هم درلودلي دي. د گشنسپ‌داد په اړه - چې د ساساني پاچاه «کواذ» د دربار له مشرانو او مخورو څخه و- واضح لیکل شوي چې هغه کنارنگ و. حمزه اصفهاني د ابونواس د دېوان په شرحې کې د طوس او مروې پوله‌ساتی کنارنگ لیکلی دی.

یواځې یې د پارس د ختیځو پولو واکمن ته کنارنگ نه وایهٔ، بلکې په نورو سیمو کې هم دا اصطلاح دود وه. داسې چې که د نورو هېوادونو سفیر به ساساني دربار ته راتهٔ، په لاره کې به یې د ولایتونو کنارنگانو هرکلی کاوهٔ او ښایي د کوچنیو سیمو حاکمانو ته به یې کنارنگ وایهٔ. فردوسي هم په شهنامه کې شل ځایه دا کلمه سکیره د حاکم په معنی راوړې ده.[4]

---

[1] - الفهرست۲۸۴.

[2] - مجمل، د فصیحي ۱/۱۷۰.

[3] - PROCOPIUS د شپږمې لېږدې پېړۍ بیزنتیني مؤرخ.

[4] - تاریخ تمدن ساسانی ۱ /۲۵۴، تهران ۱۳۳۱ش.

په دې اړه چې کنارنگ په افغانستان کې يو پوځي منصب و، د سراج‌الدين عثمان بن‌محمد مختاري غزنوي (۵۰۸ س= ۱۱۱۴ز شاوخوا) په شهريارنامه کې نغوته شته چې د سيستاني رستم د اولادونو جنگونه په کې راځي او د افغانستان په خاورې پورې اړه لري.

د هغې يواځينۍ خطي نسخه د برتانيې په موزيم کې ده.[۱]

په دې منظوم داستان کې چې يوهٔ غزنوي شاعر د غزني په دربار کې ويلی، د هيتاله (هياطله) پاچاه يو داستان راغلی، چې په کې د کنارنگ کلمه د يوهٔ پوځي منصب په مفهوم داسې راغلې ده:

کنارنـــگ هيتـــال بـــا شـــش هـــزار بيامـــد برامـــد غـــو گـــير و دار
چو از پيش برخاست بانگ و غريو بجنبيـــد از جـــا ســـپهدار نيـــو
شـــب تـــار و آواى روينـــه خـــم بـــتن زهـــرهٔ شـــير گرديـــده گـــم
کنارنـــگ غريـــد ماننـــد ديـــو گرفتـــه ره گـــرد فرخنـــده نيـــو[۲]

د غوريانو تر پېره د غزني او باميانو په منځ کې د کنارنگ‌کوټ په نامهٔ يوه کلا وه[۳] چې تر ۶۰۰س ۱۲۰۳ز شاوخوا پورې د دې نامهٔ د شتون کيسه کوي. دا کلمه د خراسان په اداري تاريخ کې مهم او ځانگړی ځای لري، چې سيندکښونکو هغه د لومړي په پېښ د پوله‌ساتي په معنی ليکلی ده،[٤] خو څرنگه چې په پهلوي کې KANARANG او په سرياني کې QANARAQ او په يوناني کې کنارگس د لومړي په زور وه او په اوستا او پهلوي کې د کناره KANARA کلمه د (ک) په زور ده؛ نو تلفظ به يې هم په لومړي زور سم وي. څکه د بغلان په ډبرليک کې يې تخاري بڼه (کرل رنگ) هم د لومړي په زور ده.

د بغلان د ډبرليک له منځپانگې دا هم څرگندېږي، چې کنارنگ د پاچاه (په تخاري دري کې: خوديوگ) له خوا گومارل کېدهٔ. په دې ډبرليک کې نوکونزوک له خپل نامهٔ سره «کنارنگ از طرف خوديوگ» ليکلی دی.

---

[۱] - فهرست ريو، تر ۵۲۴ وروسته.

[۲] - حماسه سرايي ۳۱۵، د شهريارنامې د يوې خطي نسخې په نقل.

[۳] - طبقات ناصري ۱/ ۴۶۱.

[٤] - فرهنگ شاهنامه ۲۲۳، د تهران چاپ، ۱۳۲۰ل.

# په خراسان کې عرب مامورين

په لومړيو دوو اسلامي پېړيو کې- چې په دې کتاب کې زموږ د څېړنې او پلټنې موضوع ده- ټول خراسان د سند سيند تر څنډو پورې له اسلامي خلافت سره وتړل شو او د اموي او عباسي خليفه‌گانو د دربار له خوا گومارلو حاکمانو په اداره کاوۀ.

د اسلامي سوبو په سر کې د نيول شويو هېوادونو اداره تر ملکيتابۀ، عسکري نيواک ته ډېره ورته وه. ځکه مامورين او واليان د لښکرو مشران وو، چې د نيول شويو سيمو په څنډو کې به دښتو او بېدياوو ته نږدې په خپلو لښکري پنډغالو کې مېشت وو. په کليو او ښارونو کې نه اوسېدل او له خلکو سره به نه گډېدل. ان حضرت‌عمر رضي الله عنه اسلامي عسکر په کرکيله له بوختېدو هم منع کړي وو. هغوی به په خپلو پنډغالو کې وو او د پسرلي په ورځو کې به يې د خپلو آسونو پادې ورشو ته د څر و څربښت لپاره بيولې.[1]

د اسلامي هېواد د اجرائيه او قضائيه ځواک واک به د اسلامي خليفه‌گانو په لاس کې و. له خپل لوري به يې د حاکم «عامل» په نامۀ يو څوک په نيولو ولايتونو کې گومارۀ. وروسته يې بيا والي بالۀ، چې امير به هم بلل کيدۀ. دنده يې په لمانځۀ کې امامت، د شخړو هوارى، د لښکر مشري او د نورو حاکمانو څارنه وه. د خراج حاکم به يې تر څنگ کار کاوۀ. يعني امير به سياست اداره کاوۀ او مالي چارې د خراج د واکوال په لاس کې وې.[2]

راشده خليفه‌گانو او امويانو به د ولايتونو اميران او حاکمان له عربو څني ټاکل؛ خو د خلافت دا گومارل شوي به خليفه ته سخت ژمن او د سوکالۍ او ديني زده‌کړو

[1] - تاريخ‌التمدن الإسلامى ۱۰۸/۱.

[2] - تاريخ الإسلام السياسي ۱ /۳۵۴.

د وسایلو په برابرولو اړ وو. حضرت‌عمر رضي الله عنه به چې حاکم گومارۀ، ورته ویل به یې: پر الله سوگند چې ما تاسو د خلکو د وهلو او له هغو څخه د مالونو راغونډولو لپاره ټاکلي نه یاست، بلکې د سنتو او دیني زده‌کړو لپاره مو لیږم او که څوک ستاسو له ظلمه راته شکایت وکړي؛ نو هماغسې جزا به ووینئ، پوه شئ چې مسلمانان ونه وهئ، چې ذلیل نۀشي، هغوی ډېر وخت له مېړمنو او کورونو څخه مه لیرې باسئ، په شخړو یې مه اخته کوئ، حقونه یې مه تروړئ! خېټوان او عیاش کېږئ مۀ، ان پر خرۀ هم مه سپرېږئ! او بې د خلکو له اړتیاوو لیرې کولو بل کار مه کوئ!»[1]

د هغۀ سپارښتلیک له مخه چې حضرت‌عثمان رضي الله عنه خپلو ټولو چارواکو ته لیږلی او طبري هغه د (۲۴س=۶۴۴ز) کال په پېښو کې خوندي کړی، د راشده خلیفه‌گانو چارواکو څلور خویونه درلودل:

۱- باید د خلکو ساتندوی او پالونکي وي، نه مالیه اخیستونکي. یعنې د اسلامي حاکم د گومارنې موخه د رعیت هوساینه ده، نه یواځې د حکومت د پیسو راغونډول.

۲- د عدل پامنیوی او دا چې د حکومتي چارو د سنبالنې لپاره پر خلکو ظلم ونه کړي او نه د خلکو د راضي کولو لپاره د حکومت حقونه ضایع کړي. له خلکو هغه څه واخلي چې د حکومت حق دی او هغه څه ورکړي چې د هغوی حق دی.

۳- د ذمیانو د حقونو، ځان او مال ساتنه، چې کټ مټ د مسلمانانو غوندې د عدل وړ دي.

۴- له دښمنانو سره هم باید باوفا معامله وشي او درغلي ونۀشي. لومړی ورته باید اسلامي بلنه ورکړی شي، چې د مسلمانېدو په صورت کې د ورورولئ حق لري، که سوله ومني، د ساتنې حق به ولري او که جنگ ته لاس واچوي نو ورته چلن دې ورسره وشي.[2]

---

[1] - طبري ۲۷۳/۳.

[2] - طه‌حسین در کتاب عثمان ٦٩، د قاهرې چاپ.

د راشده خلافت او د لومړۍ اسلامي پېړۍ د نیمايي مامورین- چې د لښکرکښیو او نیواک دنده هم ورتر غاړه وه- په داسې شرایطو د عدالت او تقوا له روحیې سره مخته تلل؛ نو د هغوی د پرمختګ او پراخو سوبو لامل هم همدا نېک چلن او غوره اخلاق وو.

## د امارت ډولونه

د امویانو په پېر کې خراسان تر سند د ورپورې غاړې سیمو پورې ونیول شو. اموي دولت په ختیځو سیمو کې (عربي او عجمي) دوه عراقه د یوهٔ والي تر نظر لاندې درلودل، چې کوفه یې مرکز و. ټول خراسان، ماوراءالنهر، کرمان او سیستان تر کابل او سند سیمې پورې د عجمي عراق اړوند وو. د عجمي عراق د والي له خوا به د خراسان او ماوراءالنهر حاکم ګومارل کېدهٔ چې په مروه کې یې مرکز و؛ خو د سند او زابلستان د ختیځو سیمو لپاره بېل حاکم ګومارل کېدهٔ او دا د عراق ولایت د اموي دولت تر اداري لاندې له پنځهو ولایتو څخه و.[1]

د امویانو او عباسیانو په پېر کې عربي امارت دوه ډوله و:

## لومړی ځانګړی امارت

کله به د خلافت له درباره د ځانګړو چارو لکه د لښکر مشرۍ د سنبالولو او د ولایتونو او بریدپولو د ساتنې‌لپاره یو څوک ګومارل کېدهٔ؛ خو د قضا، مالیو او صدقاتو په چارو کې یې د لاسوهنې حق نه درلود،[2] د دې ډول ځانګړي‌امارت بېلګې موږ په تېرو څېړکو کې د خراسان په واکمنو کې ډېرې ولیدې، چې د خلافت د دربار له خوا به ګومارل کېدل. کله چې په ۹۵س= ۷۱۳ز کې د عراق او خراسان امیر حجاج بن‌یوسف ومړ، خلیفه ولید بن‌عبدالملک د هغهٔ زوی په همدې ولایت کې پر لمانځهٔ او یزید بن‌ابي‌مسلم پر خراج وګومارهٔ.[3]

د خراسان په حاکمانو او امیرانو کې هم همدا ترتیب وینو، لکه په ۱۳۰س= ۷۴۷ز کې

[1] - تاریخ عرب د سید امیرعلي ۱۸۷، د لندن چاپ۱۹۲۷ز

[2] - احکام‌السلطانیه د ماوردي، تر ۳۰ وروسته.

[3] - المعارف د ابن قتیبه ۳۵۹، د قاهرې چاپ، ۱۹۶۰ز

ابوعلي شبل بن‌تهمان د ابومسلم له خوا د لمانځۀ او د هرات د حکومت په اداره گومارل شوی و. په داسې حال کې چې موسی بن‌حسان د خراج حاکم و[1] چې دا د ځانگړي امارت ډول دی.

په ۱۰۱س= ۷۱۹ز کې چې عمر بن‌هبیره د عراق، خراسان او سیستان امیر و، هغۀ حکم بن‌عبدالله په سیستان کې د لمانځۀ او جنگ لپاره وگومارۀ او قعقاع بن‌سوید یې د مالیې او خراج لپاره؛ خو لا ډېر وخت نه و تېر چې د ۱۰۴س= ۷۲۲ز کال په پای کې لمونځ، جنگ، مالیه او خراج ټول قعقاع ته وسپارل شول.[2] نو له دې څرگندېږي، چې ځانگړی امارت کله په عام امارت هم بدلېدۀ او یو کس پر لمانځۀ، جنگ او خراج گومارل کېدۀ.

**دوهم عام امارت**

دا ډول امارت هم په دوه ډوله و:

**لومړی د استکفاء یا تفویض امارت:** چې د خلیفه له خوا به په خوښه او اختیار سره یوۀ بشپړ باوري چا ته سپارل کېدۀ او اته مهم کارونه یې درلودل:

۱- د لښکر تدبیر، په څنډو کې یې ترتیبول او هغوی ته خوراکه رسول.

۲- د قضایي چارو د احکامو او حاکمانو څارنه.

۳- د مالیو وضع کول، د صدقاتو اخیستل، مامورین پرې ټاکل او پر مستحقینو د هغو وېشل.

۴- له تغییر و تبدیله د دین ساتل او د اسلامي هېواد د پولو دفاع.

۵- د الله او خلکو په حقوقو کې حدود ټینگول.

۶- د جُمعې او نورو لمونځونو امامت او ورته خپل خلیفه ټاکل.

۷- حج ته د حاجیانو لېږل او په دې اړه د اسانتیاوو برابرول.

۸- که د ولایت پولې د دښمن له خاورې سره لگېدلې وي، جهاد، د جنگي غنیمتونو وېش، د لښکر ترتیب او جنگي چارې د والي دندې دي.[3]

---

[1] - وگ: د دې کتاب د درېیم څپرکي پای، د هرات د والیانو شرحه.

[2] - تاریخ سیستان ۱۲۵.

[3] - احکام‌السلطانیه ۳۰.

خراسان د امویانو او عباسیانو په پېر کې له دې ډول ولایتونو څخه و او زیاتره والیان چې د عراق د امیر له خوا گومارل کېدل، د خراسان، ماوراءالنهر، زابلستان او کابل په پولو کې به یې جهاد هم کاوۀ.

**دوهم د برلاسي امارت**

والي یا بل چارواکي چې به یو ولایت په زور نیوۀ؛ نو خلیفه به هم ناچاره هغه هم هلته والي پرېښودۀ. په دې صورت کې به هغۀ چارواکي پر خلکو خپلواک حکم چلاوۀ؛ خو دیني مسایل خلیفه ته ځانگړي وو، چې سترگې یې پرې نه شوې پټولای.[1]

په خراسان کې چې د خلافت له مرکزه لیرې و، زیاتره امیران دا ډول وو. له هغو څنې عبدالرحمن بن‌محمد بن‌اشعث د خراسان اموي امیر د حجاج له امره سر وغړاوۀ او خراسان یې ونیو، چې شرحه یې په دوهم څپرکي کې تېره شوې ده. همدا رنگه چې ابومسلم مروي د عباسیانو د خلافت په پیل کې پر خراسان برلاسی شو، د بغداد دربار ناچاره هغه په دې سیمه کې په رسمیت وپېژاند. بیا د پوشنگي طاهریانو دولت هم په همدې ډول په خراسان کې رامنځ ته شو؛ خو دې لاسبري هم لاندیني شرایط درلودل:

۱- د امامت د منصب ساتنه او په خلافت کې د ملت د چارو تدبیر.

۲- خلافت ته د دیني اطاعت ځرگندونه.

۳- د دښمنانو پر وړاندې د مسلمانانو مرستې ته د خلکو راغونډول.

۴- د اسلامي شرعي احکامو نافذېدل.

۵- د شرعي مالونو تر لاسه کول چې ورکوونکو ته پاتې نۀشي.

٦- شرعي حدود باید په بشپړ ډول او په حقه پلي شي.

۷- امیر باید د دین په ساتنه کې هڅه وکړي.[2]

**د امارت مرستیالي**

په خراسان او اړوندو سیمو کې د امویانو او عباسیانو د پېر د اداري یوه ځانگړنه

---

[1] - احکام‌السلطانیه ۳۳.

[2] - تاریخ‌التمدن الإسلامی ۱ /۱۱۱ او ماوردي ۳۴.

دا وه، چې عربي خلیفه‌گانو د ولایتونو امارت هغو کسانو ته سپارهٔ چې د خلیفه له کورنۍ، د دربار له نږدې کسانو او یا ځواکمنو څخه به وو. دا امیران به تل د خلافت په پلازمېنه کې ناست وو، د امارت سیمې ته به نه تلل؛ خو له خپل لوري به یې دغه ولایت ته د ادارې او مالیو راټولولو لپاره یو مرستیال لېږهٔ، چې موږ یې د کتاب په تېرو څپرکو کې ډېرې بېلگې ښودلي دي.

د حکومت دې ډول د اموي دولت په اداره کې بشپړه نیمگړتیا رامنځ ته کړه، ځکه د خلافت د کورنۍ او د نورو مخورو کورنیو لوی درباري کسان به د خلافت په مرکز کې ناست وو او له هغهٔ لیرې ځایه به یې حکم چلاوهٔ، چې دې زیانمن چلن اموي کورنۍ له خطرناکو پایلو سره مخامخ کړه.[1]

## د مامورینو ډلبندي او دفترونه

په اموي پېر کې خراسان او سیستان د هغهٔ امیر اړوند وو، چې د خلافت له لوري به پر عراقینو او د خلافت پر ختیځو سیمو گومارل کېدهٔ او کوفه یې مرکز و. دې امیر به عموماً په خراسان کې د درېو سترو موخو لپاره خپل استازی او مامور گومارهٔ:

۱- پر لمانځهٔ ۲- پر جنگ ۳- پر مال او خراج.[2]

لکه چې وویل شول کله به دا ځانگړې امارت په عام امارت بدلېدهٔ او یواځې یو کس به په پورتنیو درېواړو چارو گومارل کېدهٔ؛ خو د قاضیانو ټاکنه به د خلیفه واک و، چې د هغهٔ په نامهٔ به یې په اسلامي سیمو کې د قضا چارې ترسره کولې.

د اموي او عباسي خلافتونو په پېر کې عموماً د ولایتونو او سیمو د ادارې لپاره گومارل شوي مامورین په دې ډول وو:

**لومړی** خراج‌واکوال (د خراج‌عامل) او د بیت‌المال څښتن. **دوهم** قاضي. **درېیم** لښکرمشر. **څلورم** امنیه قوماندان. **پنځم** لمونځواکوال (د صلاة‌عامل).[3]

---

۱ - سید امیرعلي در تاریخ عرب ۱۹۰.

۲ - تاریخ سیستان ۱۲۵.

۳ - تاریخ الإسلام السیاسي ۱ /۳۵۸.

## بیت‌المال

د اسلام د ځلا پر مهال په خراسان او عراق کې د ساساني دولت مالي نظام چلېدهٔ، چې د پاچاهي دربار خزانچي ته یې په کې گنزور وایهٔ.[1] دا گنز چې د گنج، کنز او خزانې له کلمو سره همریښه دی، د دولت د ټولو مالي برخو د راغونډولو مرکز و او د سلطنت په مقام کې یې د «گنزآمار» په نامهٔ ځانگړی دفتر درلود. په سر کې یې د دربار له منشیانو څخه یو څوک د «گنزآمار دبهیر» په نامهٔ مقرر و.[2]

مسلمانانو چې په لومړۍ لېږدې پېړۍ کې خراسان ونیو، هغوی هم د خپلو مالي چارو د ادارې او نظم لپاره د خلافت په مرکز او نیول شویو ولایتونو کې بیت‌المال درلودهٔ، چې د بیت‌المال‌څښتن به د دې پېر د مالیې د وزیر په توگه هغه اداره کاوهٔ.

بیت‌المال به چې له چا نه پیسې اخیستې هغه مدارک دا وو: خراج، جزیه، فئ، زکات، غنیمت، عشرونه، چې موږ یې شرحه د دې څېرکي په لومړۍ برخه کې ورکړې ده.

## حق‌الصلح

عربو سوبمنو په خراسان، زابل او کابل کې د دې ځای له خلکو د خپلې سوبې او لاسبري پر مهال د حق‌الصلح په نامهٔ د بیت‌المال لپاره هېښنده نقدي پیسې هم اخیستې. دا هغه مهال و چې د خراسان وگړي او د هغو ختیځې سیمې لا د اسلامي فقهې او خراج د قوانینو تر بشپړ نظام لاندې نه وې راغلې، کله چې به یې سیمه‌ییزو حاکمانو ته ماتې ورکوله نقدي باج به یې ترې اخیست، چې دلته یې د ساري په ډول څو بېلگې وړاندې کېږي، چې د فئ په مال کې شامل دي:

۱- په ۳۱س= ٦٥١ز کې د مروې پوله‌ساتي حاتم باهلي له خلکو څخه دوه ملیونه او دوه لکه درهمه حق‌الصلح واخیستل.[3]

۲- په ۳۱س= کې احنف بن‌قیس د قهستان له خلکو سره په ٦ لکو درهمو سوله وکړه.[4]

۳- په ۳۲س= ٦٥٢ز کې احنف د مروه‌رود له خلکو څخه ۳ لکه درهمه او د بلخ

---

۱ - کریستین‌سن در ساسانیان ۱۵۹.

[۲] - مفاتیح‌العلوم ۷۲.

[۳] - طبري ۳/ ۳۵۰ فتوح ۵۰۱.

[٤] - فتوح‌البلدان ۴۹۹.

او جوزجان له خلکو څخه څلور لکه درهمه واخیستل.[1]

۴- په ۳۲س کې ابن‌عامر د هرات له حاکم څخه یو ملیون درهمه حق‌الصلح واخیستل.[2]

۵- د امویانو په پېر کې عربو سوبمنو د زابلستان له پاچاه رتبیل څخه څو څو ځله نقدي باجونه اخیستي دي، چې د دې حق‌الصلح باجونو شرحه مو په لومړي څپرکي کې پر خپل ځای په تفصیل سره ورکړې ده. له دې څخه جوتېږي، چې د افغانستان خلکو پوره یوه پېړۍ د نقدي پیسو په ورکولو سره د عربو د یرغلونو پر وړاندې خپله خپلواکي ساتله.

## د خراج دېوان

عربو په اداري جوړښت کې د دېوان کلمه له پهلوي څخه واخیسته. د ساسانیانو په پېر کې د مرکزي حکومت نظم او سمون د څو دفترو له خوا کېدهٔ، چې هر یوهٔ ته یې په پهلوي کې دېوان وایهٔ[3] ابن‌خلدون وایي څرنګه چې دېوان کلمه عربو واخیسته په سر کې یې د عوایدو او لګښت د حساب ثبت ټولګې ته ویله؛ خو وروسته یې هغهٔ ځای ته دېوان وایهٔ، چې د مالیو مامورین به په کې کښېناستل او په پای کې د دولتي مامورینو ټول مرکزونه د دېوان په نامهٔ ونومېدل،[4] لکه چې د امویانو په پېر کې یو دېوان د خراج او بل د اراضي بیت‌المال په نامهٔ و. عباسیانو هم یو د خراج او بل د لګښت د حساب په نامهٔ دېوان درلود.[5]

خو عربو د خراج کلمه د پهلوي له خراګ څخه اخیستې ده، چې دې ژبې ته هم له آرامي څخه راننوتې وه او معنی یې ځمکني مالیات دي. د اسلام‌ځلا ته په نږدې مهال کې یې د مالیو لوی آمر ته «واستریوشان سالار» وایهٔ، چې ګوندې د مالیې، کرنې، سوداګرۍ او صنعت وزیر و. د هر مالي دېوان آمر ته یې آمارکار (محاسب‌اعلی) وایهٔ او د هر ولایت لوی مالي مامور «شهرپو آمارکار» نومېدهٔ او د بیت‌المال څښتن هم ګنزور و.[6]

---

[1] - طبري ۳/ ۳۵۵.

[2] - فتوح ۵۰۱.

[3] - کریستین‌سن در ساسانیان ۵۲۵.

[4] - مقدمهٔ ابن‌خلدون ۱٦.

[5] - تاریخ تمدن شرق در زمان خلفاء ۱/ تر۱۷۴ وروسته.

[6] - ساسانیان ۱۵۸.

حضرت‌عمر رضي الله عنه د ۲۰س=۶۴۰ز کال په محرم کې دېوان لښکر او دېوان خراج و ماليات رامنځ ته کړل، چې په مصر کې په قبطي، په عراق او خراسان کې په پهلوي او په شام کې يې په رومي ژبه ليکل کول. بيا د عبدالملک اموي په پېر ۸۰ س=۶۹۹ ز شاوخوا کې پر عربي ژبه واوښتل. د دفترونو دا جوړښت د عجمو د اداري نظام پليون و،[1] چې په خراسان کې هم دود و. د خراج دېوان بنسټ د ۴۶س= ٦٦٦ز شاوخوا د اموي دولت والي ربيع‌الحارثي د حسن‌بصري په مرسته ايښی و. د خراج د دې دېوان کارمندان دا وو:

۱- **منشي او حاسب:** (د حساب او شمار ليکنې مامور)

۲- **جُهبَذ:** ماليات اخيستونکی، چې بندار يې هم بالهٔ.

۳- **جابي:** د ماليې، باج او خراج راټولوونکی.

۴- **مستوفي:** د ماليو د عمومي دېوان آمر.

۵- **مشرف:** لوړڅاري او د ماليو پلټونکی.

٦- **استوار:** ښايي د مستوفي تر لاس لاندې معتمد.[2]

د عباسيانو په پېر کې د ولايتونو د چارو اداري، مرکزيت او ښکلا ومونده او د خلافت د مامورينو ځواک په کې زيات شو. دا کار هم د يوهٔ بلخي خراساني يعنې د برمکيانو نيکهٔ خالد په لاس د سفاح په پېر کې وشو، چې د خراج د مرکزي دېوان تر چتر لاندې يې په ټول هېواد کې د مامورينو دفترونه پرانيستل.[3] د دې دېوان کارمندانو ته لازم وو، چې په حساب و مساحت، ضرب و تقسيم وپوهېږي او امين و نياومن وي، چې د دولت حق واخلي او ضايع يې نه کړي.[4]

د عباسي هارون د پېر ستر قاضي امام ابويوسف د هغهٔ چا لپاره دا ځانګړنې اړينې ګڼلې چې د خراج پر راټولو به ګومارل کېدهٔ: خراج‌واکوال بايد فقيه، عالم،

[1] - النظم‌الإسلاميه تر ۲۱۵ وروسته.

[2] - تاريخ سيستان ۹۲.

[3] - تاريخ‌التمدن الإسلامی ۱/ ۱۷۲.

[4] - آثارالأول في ترتيب الدول، د حسين ابن عبدالله ۷۱، د قاهرې چاپ، ۱۲۹۵س.

خلکو ته غوږ نیونکی وي. د الله په لاره کې له ملامتې او رټنې څخه ونه وېرېږي او په خپل حکم کې تېری ونه کړي.[1]

### د بقایاو دفترونه

د اوسمهال په څېر چې په مالیې وزارت کې د بقایاو دفترونه دي، د دوهمې لېږدې پېړۍ په منځ کې هم په خراسان کې همدا دفترونه وو. په ۱۷۸س= ۷۹۴ز کې د بلخي برمکیانو د مشهورې کورنۍ له وزیرانو څخه فضل بن‌یحیی برمکي د خراسان حاکمۍ ته راغی. هغهٔ په خراسان کې ښهٔ کارونه وکړل، د زور زیاتي مخنیوی یې وکړ، جوماتونه او خیریه ودانۍ یې جوړې کړې او د بقایاوو دفترونه یې هم وسوځول؛[2] نو له دې څخه معلومېږي چې مالیات او دولتي حقونه د ولس پر غاړه پاتې وو او په دې دفتر کې ثبتېدل.

## پولیس او امنیه قوماندان

په تېرو څپرکو کې د پېښو د شرحې په ترڅ او د خراسان او اړوندو ښارونو د حاکمانو په لړ کې مو پرله‌پسې د هغو کسانو نومونه ولیکل چې پر پولیسي چارو گومارل شوي وو. شُرطَه، جمع یې شُرَط د جنگ د قوماندان، د لښکر د مخکښ او د والي د مرستندوی په معنی دی. قوماندانانو ځانگړي شعارونه او نښانونه درلودل چې په هغو به پېژندل کېدهٔ؛ نو ځکه په دې نامهٔ مشهور شول.[3]

شرطه هغه ځواکونه وو چې اوس ورته پولیس وایو. خلیفه او والي به د نظام په ساتنه، کورني امنیت، د جنایتکارو او فاسدانو په نیولو او نورو اداري چارو کې ترې کار اخیست. څرنگه چې یې د ځانگړو نخښو درلودل پر ځان شرط او لازمي کړي وو، نو هغه شرطه وبلل شول.

په اسلام کې لومړی ځل حضرت‌عمر ﷺ د شپېنۍ گزمې نظام رامنځ ته کړ. د حضرت‌علي ﷺ په پېر کې د پولیسو اداره جوړه شوه. د دې اداري رئیس یې امنیه‌قوماندان «صاحب‌شرطه» وبالهٔ. په دې ماموریت به له قومي مشرانو ځواکمن او قبیلې‌والا گومارل کېدل، چې له والي سره په امنیت ټینگولو کې مرستندوی وي.

د عباسي خلافت په اداره کې د شرطه اهمیت دومره زیات و، چې لوی عباسي

[1] - تاریخ الإسلام السیاسي ۱ /۳۶۲ د کتاب‌الخراج په حواله.
[2] - ابن خلکان ۱/ ۴۰۹.
[3] - المنجد ۳۹۴ او منتهي‌الأرب ۱ /۳۳۷.

خلیفه منصور شرطه د خلافت له څلورو عناصرو څخه ګڼله، چې امنیه قوماندان کمزوري د پیاوړو له تېري څخه وژغوري.[1] کله چې یې خراسان ته د دربار اعتمادي امیران رالېږل؛ نو امنیه قوماندان به یې هم د دربار له مهمو کسانو څخه مقرراوه. لکه په ۱۷۸س= ۷۹۴ ز کال کې چې هارون‌الرشید خپل وزیرزی فضل بن‌یحیی برمکي د خراسان امیر کړ، د عباسي دربار له نومیالیو یې ابراهیم بن‌جبریل د شرطه او ځارندوی (د پولیسو رئیس) په توګه ورسره وګوماره چې د کابل په سوبه کې هم له هغه سره و. په دې سوبه کې یې اووه ملیونه درهمه تر لاسه کړي وو.[2]

په ۱۲۹س= ۷۴۶ زکال کې چې ابومسلم خراساني د ماخوان په خندق کې خپل مامورین وګومارل، په هغو کې یې ابونصر مالک بن‌هیثم امنیه قوماندان او ابواسحاق خالد بن‌عثمان د خپل ساتندویانو قوماندان وګوماره.[3]

د رامنځ ته کېدو په پیل کې دا اداره د قضا د محکمې تر لاس لاندې وه، څکه دنده یې د قاضي د حکمونو او حدودو پلي کول وو. قاضي چې به څه پرېکړه وکړه، امنیتي ځواکونو به عملي او ترسره کوله. خو بیا امنیه قوماندان د قضا له محکمې بېل شو او د نظر او جرمونو په پلټنه کې یې خپلواکي تر لاسه کړه[4] ان د هشام بن‌عبدالملک (۱۰۵- ۱۲۵س) په پېر کې نوی نظام رامنځ ته شو، چې یوه باوري کس به د امنیه قوماندان او لښکرمشر دندې دواړه ترسره کولې.[5]

نو شرطه په دوو لومړیو اسلامي پېړیو کې د جرمونو په څېړنه او پلټنه، د امن په ټینګښت او عدالت خوندیینه کې کټ مټ د اوسنیو پولیسو دنده درلوده. په څلورمه پېړۍ کې امنیه قوماندان کوټوال او د پولیسو اداره کوټوالي وبلل شوه، چې پښتو سیمه‌ییز نوم و، (کوټ) کلا ته وایي او (وال) د څښتنولۍ له اداتو څخه دی، چې (کوټ+ وال) د ښاروال او د کلا د څښتن معنی ښندي. خو دا نره او کورنی زرکلن نوم په دې وروستیو کې په قوماندان او قوماندانۍ واوښت، چې هیڅ تاریخي، ادبي

[1] - تاریخ‌التمدن الإسلامی ۱/ ۱۸۰.
[2] - طبري ۶/ ۴۶۳.
[3] - پورتنی اثر، ۶/ ۳۴.
[4] - تاریخ الإسلام السیاسي ۱/ ۳۶۰.
[5] - مقدمهٔ ابن‌خلدون ۲۱۸.

او ملي ارزښت نه لري.!!!

## د قضا محکمه

د هېواد په ختیځو سیمو او د کابلشاهانو او رتبیلانو په واکمنۍ کې د قضایي او عدلي چارو د څرنګوالي په اړه معلومات نه لرو، بې له دې چې هیونځانګ د ۹س= ۶۳۰ز شاوخوا د جرمونو، شکنجو او د هغو د جزاګانو د وضعیت د څرنګوالي په اړه خبرې کوي، د جزایي قوانینو او عادلانه محکمې د شتون او د حکومت له امرونو د سرغړونې پر مهال د جسماني جزا د شتون[1] معلومات ورکوي. وایي چې که څوک له ټولنیزو قوانینو، د ژوندانۀ له آدابو او عدالت څخه سرغړونه وکړي، یا رښتیا ونه وایي؛ نو جزا یې د پوزې، غوږ، لاس یا پښې غوڅول او کله له سیمې شړل دي. د کوچنیو جرمونو په مقابل کې نقدي جریمه اخیستل کېږي. که تورن کس منکر شي؛ نو د پېښې د څېړنې او پرېکړې لپاره د جرم د اثبات څلور ډوله ازمېښتونه او وسایل کارېږي او تر ثبوت وروسته محکومېږي.[2]

له دې رپوټ څخه څرګندېږي چې د جرمونو د څېړنې، جزا او محاکمې د قوانینو د پلي کولو او پرېکړې لپاره هغه مهال په اداري تشکیل کې مرجع موجوده وه چې په اسلامي پېر همدا اداري دندې قاضي او امنیه قوماندان ته سپارل شوې دي.

د خراسان په زردشتي ټولنه او د هېواد په لوېدیځو او سوېلي برخو کې چې عدلي او قضایي قوانین د مزدیسنا له روایاتو سره سم ترسره کېدل، د زردشتي دین او پهلوي روایاتو د کتابونو په وسیله موږ ته پوره معلومات رارسېدلي دي، چې د اسلام څلا او عربي سوبو د خپرېدا پر مهال د دې سیمې قضایي وضعیت موږ ته روښانوي. موږ دلته د استاد کریستن‌سن په حواله چې د پهلوي له روایتي کتابونو او نورو معتبرو سرچینو څخه یې راغونډ کړي دي، د دې موضوع د مطالبو کلیاتو ته نغوته کوو:

عدلیه محکمه له ډېر پخو راهیسې د منځنۍ آسیا په اداري تشکیلاتو کې وه. په ساساني پېر کې هم د قاضي منصب ډېر زیات اعتبار درلود. یواځې هغه څوک په

---

۱ - په اصل کې نشتون دی.

۲ - سي. یو.کی، دوهم کتاب ۱۳۹.

دې منصب ټاکل کېدهٔ چې د تجربې، امانت ساتنې او قانونپوهې ځانګړنې په کې راټولې وي او په دې برخه کې بل ته اړتیا ونه لري.[1]

په ساساني پېر کې د درباري کسانو شپږ لویې او مشهورې کورنۍ وې چې د هېواد بېلابېلې چارې یې په میراثي توګه اداره کولې؛ نو د دربار قضا به هم له دې کورنیو پر یوې اړه درلوده. په ولایتونو کې به یې هم قاضي تل له روحاني پوړه ګومارهٔ. له دې امله د قاضي (د هغهٔ مهال دادور) یادونه تل له نورو روحاني پوړونو لکه دستوران، موبدان او هیربدان سره کېږي. قاضي ته یې داذور، قاضي‌القضات ته یې شهرداذور یا داذورِ داذوران وایهٔ،[2] چې کله به د هغهٔ ځینې دندې د (آئین‌بذ) په نامهٔ بل چا ترسره کولې (غالباً امنیه قوماندان یا د اسلامي پېر مفتي).

په ولایتونو کې هم یو داذور مقرر و، چې په اړوندو سیمو کې به ورسره د سروشورذ داریګ (شرعي‌څارونکي) او دستورهمداذ (مرستیال دستور) په نامهٔ دوو کسو قضایي مامورینو په قضایي چارو کې مرسته کوله. د عسکرو قاضي یې سپاه داذور بالهٔ او هم کله هیربدانو یعنې د اورتونو چوپړانو د داذوران غوندې قضایي پرېکړه کوله.[3]

د مزدیسنا له روایتي احکامو سره سم به کله د یو شمېر داذورانو په ګډون ګډې منځمهالې محکمې جوړېدې، چې د پېښې شاهدان او مدعیان به یې په ټاکلي وخت کې راغوښتل، دعوې به یې اورېدې او پرېکړې به یې اورولې. څوک به چې د خپلو مطالبو او دعواوو څرګندولو لپاره محکمو ته راتلل له قضایي حکمونو سره سم به یې د ډېرو خبرو او وخت ضایع کولو اجازه نه درلوده. که داذور به د خپل غرض لپاره حق ناحقه کاوهٔ؛ نو هغه به یې هم تر قضایي پلټنې لاندې نیوهٔ.[4]

نامهٔتنسر ته په کتلو هغه جرم چې تر قضایي پلټنې لاندې به نیول کېدهٔ درې ډوله و:

---

۱ - دین کرد ۸- ۷۴.

۲ - په روم کې جوړ د ختیځ پېژندونکو د انجمن رپوټ د توادیا مضمون.

۳ - مروج‌الذهب ۲/ ۱۵۶.

٤ - دین کرد ۲۲ /۱۰.

لومړی د الله ﷻ د امر مخالف جرم لکه په دیني ګروهو کې الحاد او بدعت. دوهم د پاچاه د مخالفت جرم لکه بغاوت، جنګ او غداري. دریم هغه جرم چې ولس به په خپلو کې کاوۀ لکه غلا، زنا او زیانمنول. د لومړي او دوهم ډول جرم جزا اعدام او د دریم ډول جرم بدله جسماني جزا وه او کله به هم اعدام و.[١]

کله به یې سیاسي بندیان هېرکوټ (محبس انوش برد) زندان ته لېږل، چې د بندي د نامۀ یادول هم منع و.[٢]

د ولس د عدل غوښتنې وروستی مرجع په خپله پاچاه و، چې عارضانو یې همېشه دربار ته لاسرسی درلود او کله به هم د ولس د عرضونو اورېدو لپاره پاچاه په اس سپور بهر راووت، په تېره په دوو جشنونو: نوروز او مهرګان کې به یې په عدلي غونډو کې ګډون کاوۀ او د ولس شکایتونه به یې اورېدل.[٣]

## تر اسلامي سوبې وروسته

د نبوي ژوند په پېر کې د مسلمانانو قاضي په خپله پیغامبر ﷺ و چې د امت شخړې به یې هوارولې. د مدینې اوسېدونکو په خپلو کې ژمنه کړې وه چې د خپلو دښمنیو او بې اتفاقیو د لیرې کولو لپاره به الله او د هغۀ رسول ته رجوع کوي.[٤]

حضرت پیغامبر ﷺ له وحیې سره سم د امت تر منځ پرېکړه کوله او د دښمنو ډلو دعوې به یې اورېدلې. که به د څرګند دلیل، سوګند، شاهدانو د حاضرېدو، لیکلي سند، ځیرکۍ، خسنې او نورو له مخه د چا حق ثابت او رښتینولي به یې څرګنده شوه؛ نو د چارو د ظاهر پر بنسټ به یې پرېکړه کوله او داسې به یې ویل:«ما ته امر شوی چې د چارو د ظاهر بنسټ پرېکړه وکړم او الله په پټو چارو پوه دی.» کله چې د اسلام دین خپور او پراخ شو؛ نو رسول‌الله ﷺ خپلو ځینو اصحابو ته د قضا او فتوا اجازه ورکړه چې شمېر یې ۱۳۱ نرو او ښځو ته رسېدلی و. له دې ډلې څخه ۷ کسانو شهرت درلود: عمر، علي، عایشه، عبدالله بن‌مسعود، زید بن‌ثابت، عبدالله بن‌عباس او عبدالله بن‌عمر رضي الله عنهم.

---

[١] - نامۀتنسر تر ١٦ وروسته.

[٢] - نولدکه، در ترجمۀ تاریخ طبری ١/ ١۴۴.

[٣] - کریستین‌سن در کتاب ساسانیان تر ۳۹۵ وروسته، د سیاست نامې په حواله او کتاب‌التاج د جاحظ.

[٤] - ابن هشام ٢/ ٩۴.

څرنګه چې د حضرت‌عمر رضي الله عنه په پېر کې اسلام خپور شو او د اسلامي ټولنې مدني او ټولنيز حال هم د امت د افرادو تر منځ د راپيدا شويو ستونزو د حل لپاره د يو تشريعي نظام د طرحې غوښتنه کوله، نو حضرت‌عمر لومړی ځل په اسلامي ولايتونو کې قاضيان وګومارل، چې له قرآن- سنتو (د پيغامبر وينا او کړۀ)، قياس او اجماع سره سم يې پرېکړه کوله. يعنې په هغو مسايلو کې چې د کتاب، سنت او يا د امت د پوهانو اجماع به نه وه؛ نو هغه پېښه به يې له ورته پېښو سره چې په هغو کې څرګنده پرېکړه شوې وي، قياس کړه او حق به يې له باطل څخه جلا کړ.[1]

حضرت‌عمر رضي الله عنه اسلامي قاضيانو ته فرمان صادر کړ- په اسلام کې د قضايي مرافعاتو لنډيز او د قضا د علم بنسټ ګڼل کېږي -چې مهم ټکي يې دا دي:

۱- قضا څرګند آيتونه او ثابت سنت دي (يعنې په هغو کې د الله امر او د پيغامبر سنت بنسټ دی).

۲- قاضي بايد د پېښو شويو مسايلو په حقيقت، پټ اړخ او پای ځان پوه کړي، کله چې ورته حق څرګند شي، پرېکړه وکړي او پوه شي چې د هغۀ حق په اړه خبرې کول ګټه نه لري، چې د نافذېدو وړ نه وي.

۳- قاضي بايد د زورور او کمزوري تر منځ په مساواتو او عدالت پرېکړه وکړي (دا د اسلامي قضايي مساواتو بنسټ دی).

۴- پر مدعي څرګند دليل او پر منکر سوګند دی او هلته چې حلال حرام او حرام حلال نۀشي، د مسلمانانو تر منځ سوله جايزه ده.

۵- حق پخوانی دی، که چېرته نن ورځ د يوې مسألې په حقوالي پرېکړه وشي او سبا يې لا ډېره حقه بڼه پيدا شي، بايد حق ته راګرځېدنه وشي، ځکه حق ته راګرځېدنه پر باطل له همېشوالي څخه غوره ده.

۶- هغه څه چې په کتاب او سنت کې نه وي بايد بېلګې او ساري يې وسنجول او پر هغو قياس وشي (دا د فقهي قياس بنسټ دی).

۷- هر مدعي د څرګندو دلايلو حق لري، که څرګند دلايل وړاندې کړي، خپل حق اخلي او که نه نو د قضا پرېکړه پرې پلې کېږي.

---

[1] -احکام‌السلطانيه، د ماوردي ٦٦.

۸- په حق غوښتنه کې هر مسلمان د بل مسلمان عادل شاهد دی؛ خو په هغهٔ صورت کې شهادت نهٔشي ویلای چې د متروکو وهلو د حد (قذف) حکم پرې شوی وي، د درواغو په شهادت مشهور وي او یا پرې د دوستۍ او خپلوۍ تور لګېدلی وي.

۹- د قضا په مسایلو کې باید د ولس له ناارامولو، خواشینولو او ځورولو څخه ډډه وشي او د حق پر مهال- چې الهي اجر او لوړېینه ورپورې تړلې ده- له مقابل لوري سره بد سلوک ونهٔشي.[۱]

په دې ډول اسلامي قضا د راشده خلیفه‌ګانو په پېر کې خپلواکه او د درناوي وړ وه. هر ځای قاضي د علم، تقوا، عدل او پرهېزګارۍ په رڼا کې د کتاب، سنت، د امت د اجماع او کله هم په ځانګړو حالاتو کې د قیاس او خپلې اجتهادي رأی پر بنسټ پرېکړه کوله؛ خو د خپلو پرېکړو د تدوین او ثبت لپاره یې د قضا دیوان نه درلود. قاضي به د دعواوو د هوارولو لپاره په خپل کور یا جومات کې کښېناستهٔ.[۲]

د امویانو په پېر کې هم قاضیان د خپلو احکامو په صادرولو کې خپلواک وو او د ورځني سیاست او حکومت تابع نه وو. د هغوی حکم پر والیانو او مستوفیانو هم پلی کېدهٔ. قاضیان به د امت له هغو ډېرو ښو کسانو غوره کېدل، چې له الله به وېرېدل او د خلکو تر منځ به یې عادلانه حکم کاوهٔ؛ خو په خپله خلیفه به تل د قاضیانو کړنې څارلې، که کله به بې لارې کېدل؛ نو ګوښه کېدل به، لکه چې کندي وایي:کله چې یحیی بن‌میمون حضرمي د یتیم د مال په پېښه کې له انصافه لرېووت او هشام بن‌عبدالملک خلیفه خبر شو؛ نو خپل والي ته یې امر وکړ چې:«یحیی د قضا له چوکۍ وشړه! پر ځای یې پاک‌لمنی، پرهېزګار او بې عیبه چې د الله په لاره کې د رټونکو له رټنې نه ویرېږي د خپل لښکر قاضي کړه!»[۳]

د اسلام په لومړیو کې زیاتره قاضیان نېغ په نېغه د خلیفه‌ګانو له خوا ګومارل کېدل او کله به هم خلیفه خپل امیر ته لیکل چې فلانی متقي کس د فلاني ښار قاضي کړه! لکه چې

---

[۱] - محاضرات تاریخ الأمم الإ سلامیة ۲-۸، د قاهرې چاپ ۱۳۸۲س د شېخ محمد خضري او تاریخ الإسلام السیاسي ۱/ ۳۷۹ د سنن دار قطني په حواله او د جاحظ کتاب‌البیان ۲/ ۶۳ او د مبرد کتاب الکامل لومړی ټوک.

[۲] - تاریخ الإسلام السیاسي ۱/ ۳۷۹.

[۳] - پورتنی اثر، د کتاب القضاة په حواله ۴۲۳.

حضرت‌علي رضي الله عنه خپل یوهٔ چارواکي ته ولیکل:« د خلکو تر منځ د پرېکړې لپاره د خپل ولس تر ټولو غوره کس وټاکه چې تمه‌گر، تنگ نظری، پر بېلاربیو ټینگاري، له حقه تښتېدونی او له ډېرې د لږې پوهې منونکی نه وي. په حقایق موندنه کې زغمونکی او پرې ټینگ وي. څرنگه چې داسې کس ډېر لږ پیدا کېږي؛ نو هغه په خپلو ډالیو ونازوه! خلکو ته یې اړتیا کمه او عزتمن یې کړه.!»

قضا د راشده خلیفه‌گانو په پېر کې د شخړو او دعواوو حل ته ځانگړې وه؛ د قصاص او حدودو د احکامو نافذېدلو په خلیفه‌گانو او د هغو په والیانو پورې اړه درلوده. تأدیبي جزاگانې - لکه بندي کېدل - هم د خلیفه یا والي له خوا ورکول کېدې؛ نو ځکه په هغهٔ پېر کې د قضا دایره تنگه وه.[1]

په دې پېر کې د قاضي لپاره هغه ځانگړنې اړینې وې چې عمر بن‌عبدالعزیز خلیفه ښودلې وې؛ هر قاضي چې دا پنځه ځانگړنې ولري، بشپړ دی:

د پخوانیو پېښو په اړه معلومات - له تمې څخه پاکوالی - زغم - د امامانو متابعت او د علم و رأی له څښتنانو سره ناسته پاسته.[2]

د امویانو په پېر کې د قضا دفتر ترتیب او د احکامو لیکنې ته اړتیا پیدا شوه، نو کله چې د حضرت‌معاویه بن‌ابي سفیان له خوا سلیم بن‌عنز قاضي شو، هغهٔ د میراث په یوه مسأله کې پرېکړه وکړه او سند یې وکېښ، چې لښکرمشرانو لاسلیک کړ. دا لومړی ځل د قاضي پرېکړه ثبتونه وه چې په اسلامي پېر کې ترتیب شوه.[3]

د ابن‌بلخي د شرحې له مخه: وروسته په بغداد کې هم د قاضیانو د غونډو پرېکړې ثبتېدې او په پام کې نیول کېدې. ان په نورو ولایتونو کې یې هم د قضا دیوان شرعي او قضایي اسناد ثبتول. ابن‌بلخي وایي: که په وروستیو سلو کالو کې کوم سند کښل شوی وي؛ نو نسخه یې د غونډو د پرېکړو په ورځنیو یادښتونو کې ثبت ده.[4]

---

[1] - محاضراة تاریخ الأمم الإ سلامیة ۲/ تر ۸۷ وروسته.

[2] - تاریخ الإسلام السیاسي ۱/ ۳۷۹، د کندي د کتاب القضاة په حواله ۴۲۳.

[3] - پورتنی اثر.

[4] - فارسنامه ۱۱۸، د کیمبرج چاپ، ۱۹۲۱ز.

د امویانو تر پېر وروسته، د اسلامي قضیو نظام د عباسي پېر په لومړیو کې بدلون وموند، په دې معنی چې په دې پېر کې څلورګوني مذهبونه حنفي، شافعي، حنبلي، مالکي په اسلامي نړۍ کې پیدا شول او هر قاضي مکلف و چې له دې مذهبونو څخه په یوۀ سمه پرېکړه وکړي؛ نو اجتهادي روح- چې د مخه د قضا په احکامو کې نافذ و-کمزوری شو. ان ځینو عباسي خلیفه‌ګانو د قضا په چارو کې لاسوهنه کوله او کله به یې خپل قاضیان اړایستل چې د هغوی د خوښې فتوا ورکړي. همدا لامل و چې امام ابوحنیفه نعمان د عباسي خلیفه منصور د قضا منصب له منلو څخه انکار وکړ، ان د مشهور روایت له مخه په دې لاره کې په قمچنو ووهل شو؛ خو قضا یې ونه منله او ویې ویل:«په دنیایي قمچنو وهل کېدنه د هغې دنیا د اوسپینزو قمچنو تر وهل کېدنې اسانه ده.»[1]

د هارون‌الرشید په پېر کې یې د کتاب‌الخراج څښتن قاضي ابویوسف د خلافت په مرکز بغداد کې د قاضي‌القضات یا اقضی‌القضات په توګه وګومارۀ. هغه په نورو ولایتونو او ښارونو کې قاضیان وګومارل[2] او د لومړي ځل لپاره یې د قاضیانو لپاره ځانګړې جامې مقررې کړې. په همدې وختونو کې د قاضي واک پراخ شو او له هغې ځانګړې دندې- چې د لانجمنو تر منځ په پرېکړې کې رابند و- د دعوا پر حلولو او خلاصولو، د اوقافو او ولیانو ګومارلو او پر نورو عامه چارو یې هم لاس پورې کړ. ان قاضي یحیی بن‌اکثم د رومیانو پر وړاندې د مامون خلیفه د جنګي لښکرو مشري هم وکړه.[3]

د قاضیانو په دندو کې له رامنځ ته شوي بدلون سره، د قضا مقام هم د خلافت تر اغېز لاندې راغی. بیا هم اسلامي امیرانو د قضا د مقام درناوی کاوۀ او قاضیانو هم د دې مقام د پرتم او درنښت ساتلو هڅه کوله، لکه چې یو ځل یو چا دعوه وکړه چې پر عباسي خلیفه مامون یې دېرش زره دیناره دي. د پرېکړې پر مهال چې کله خلیفه قاضي یحیی بن‌اکثم ته راوستل شو؛ نو د خلیفه د کښېناستلو لپاره ورته مصلی غوړول کېده؛ خو قاضي مخنیوی وکړ او ویې ویل:

---

[1] - المستطرف فی کل فن مستظرف، د احمد ابشیهي ۱/ ۱۱۹، د قاهرې چاپ.

[2] - په اصل کې ونه ګومارل دی.

[3]- تاریخ الإسلام السیاسي ۲/ ۳۲۵ او تمدن اسلامي ۱/ ۱۸۵.

«دلته خلیفه ته تر خپل مقابل د ناستې ښهٔ ځای نه ښایېږي.»[1]

خو په خراسان کې - چې د اسلامي خلیفهگانو او د دمشق او بغداد تر اداري نظام لاندې و- طبعاً د قضا همدا اداره له هماغو حقونو او جوړښتونو سره موجوده وه. موږ د اسلام د راتګ په لومړیو کې په دې سیمه کې د ځینو اسلامي فقیهانو په اړه معلومات لرو چې د ټولو دیني چارو، د اسلامي احکامو د ښوونې، د جوماتونو او ممبرونو د جوړونې څارنه یې کوله او د قضا چارې هم ورته سپارل شوې وې. د ساري په ډول په ۳۳س= ۶۵۳ز کې چې عبدالرحمن ابن‌سَمُره د حضرت‌عثمان له خوا سیستان ولایت ته راغی، حسن‌بصري او لوی فقیهان هم ورسره راغلل. حسن‌بصري د سیستان د جامع‌جومات محراب جوړ کړ. په دې وخت کې د سیستان په زرنج کې عمر بن‌عبدالله، مهلب بن‌ابي صفره، قطری بن‌الفجاءة، سیدان، عالمان او مخور وو[2] چې په دیني چارو کې یې د پوهې ځانګړی نوم درلود او یواځې د حسن‌بصري (۱۱۰س مړ= ۷۲۸ز) فتواګانې یې په اووهو ټوکو کې راغونډې کړې وې.[3]

په ۱۰۷س= ۷۲۵ز کې چې یزید بن‌عریف د سیستان والي شو، هغهٔ د سیستان مخور محدث معمر بن‌عبدالله د هغه ځای قاضي کړ، چې تر هغهٔ وروسته د ۱۱۱س په شعبان= ۷۲۹ز کې محدث او لوی پرهېزګار بو حریر بن‌عبدالله بن‌حسین د سیستان قاضي شو.[4]

له هغو مشهورو قاضیانو څخه چې د اسلامي سوبو په لومړیو کې د مسلمانانو له عسکرو سره د خراسان ختیځو نیول شویو سیمو ته راولېږل شو، صدرالإمام موسی بن‌یعقوب ثقفي دی، چې د سند سوبمن محمد بن‌قاسم هغه د هغهٔ هېواد په پلازمېنه ارور کې د شرعي چارو، قضا او خطابې د اداره کولو لپاره وګومارهٔ (۹۳س= ۷۱۱ز شاوخوا). د دې قاضي اولادونه بیا پېړۍ پېړۍ په دې سیمه کې د قضا پر منصب پاتې شول، لکه چې د ۶۱۳س= ۱۲۱۶ز شاوخوا هم اسماعیل بن‌علي له همدې کورنۍ څخه د ارور (بکهر) قاضي و او د عربي سند

---

[1] - المستطرف ۱/ ۱۱۹

[2] - تاریخ سیستان ۸۹.

[3] - اعلام‌الموقعین، د تاریخ التشریع الاسلامي په حواله، د مصر د شرعیاتو پوهنځي د مدرسانو تألیف ۱۸۶، د قاهرې چاپ، ۱۹۴۶ز.

[4] - تاریخ سیستان ۱۲۶ او ۱۲۷.

تاریخ یې علي بن حامد ته د چچنامې د ترتیب لپاره ورکړی و.[1]

چې د اسلام دین او بنسټونه یې په خراسان کې دود شول؛ نو د دې سیمې له وګړو څخه هم ځینې کسان- چې په دیني چارو کې یې پوهه او لاس درلود- د قضا منصب ته رسېدلي دي. موږ پوهېږو چې علي بن مجاهد بن مسلم کابلی چې امام ترمذي ترې په خپل جامع کې حدیث روایت کړی او د حضرت امام ابوحنیفه له شېخانو څخه دی، د (۱۰۰س= ۸۱۷ ز شاوخوا) په ری کې قاضي و.[2] د همدې دویمې لېږدې پېړۍ په سر کې عماره سرخسي د سرخس قاضي، ابوسفیان نسائي د مروې قاضي، حسن (۱۵۹س=۷۷۵ز مړ) امام او د مروې قاضي، حفص بن عبدالرحمن بلخي (۱۹۹س=۸۱۴ ز مړ) د نیشاپور قاضي، مالک بن سلېمان هروي د هرات قاضي، مجاهد بن عمرو د بخارا قاضي، حسن بن محمد لیثي د مروې قاضي، ابومطیع حکم بن عبدالله بلخي (۱۹۹س= ۸۱۴ ز مړ) د خراسان مشهور قاضي، اسحاق بن ابراهیم حنظلي د سمرقند قاضي، امام او د ترمذ و چغانیان قاضي او په خراسان کې د حنفي کتابونو او فقهې خپرندوی عبدالعزیز بن خالد ترمذي، ړوند عمر بن رباح (۱۷۱س= ۷۸۷ز مړ) د بلخ قاضي او محدث، د حدیثو له نومیالیو څخه ابوغالم یونس مروزيقاضي (۱۵۹س= ۷۵۵ز مړ) ابوعلي خوارزمي د خوارزم قاضي، چې دا ټول د امام ابوحنیفه ملګري، هممهالي او د خراسان د سیمو قاضیان وو. له دوی څخه ځینې کسان کله تر خراسان د بهر ولایتونو قضاوو ته هم رسېدل، لکه چې ابومعروف سیستانی د امام ابوحنیفه ملګری یو وخت د رم (کردستان) قاضي و او سهل بن مزاحم- هغه عالم چې د امام ابوحنیفه علم یې په خراسان کې خپور کړی و- چې کله عباسي خلیفه مامون قضا منلو ته وبالهٔ، هغهٔ ونه منله.[3] همدا رنګه عبدالله بن عبدالرحمن دارمي سمرقندي چې د مسلم، ابوداؤد او ترمذي شېخ او له ډېرو مشهورو محدثینو او فقیهانو څخه دی په ۱۸۱س= ۷۹۷ ز کې زېږېدلی او یو وخت د سمرقند قاضي و، هغه د سنن دارمي مؤلف او

---

[1] - چچنامه ۹ او ۲۳۵، د بمبيي چاپ، ۱۹۳۹ز.

[2] - معجم المصنفین ۳/ ۷۴، د بېروت چاپ، ۱۳۴۴س.

[3] - پورتنی اثر ۲/ تر ۱۰۹ وروسته.

په ۲۵۵س= ۸٦۹ز کې مړ دی.[۱]

همدا رنگه ابوعصمت نوح بن‌مریم په جامع مشهور د مروې قاضي و (۱۷۳س= ۷۸۹ز) [۲]هغه کس دی چې لومړی ځل یې حنفي فقه راغونده کړه،

تر ۱۱۴س= ۷۳۲ز وروسته عمر بن‌محمد بن‌قاسم (د سند سوبمن) هلته د منصورې ښار بنسټ کښېښود، د قاضیانو محکمه یې هم په کې جوړه کړه، چې د قاضیانو او مامورینو لپاره یې دفترونه او د قضایي دوسیو ساتنې لپاره خونې درلودې.[۳]

ابومسلم خراساني چې د خلافت اداري نظام یې په خراسان کې دود کړ، قضایي چارو ته یې هم پاملرنه وکړه او په ۱۲۹س= ۷۴٦ز کې یې د خپل حکومت مهم چارواکي وګومارل، چې قاسم بن‌مجاشع تمیمي نقیب یې ترې د قضا په چارو وګومارۀ. د ماخوان په خندق کې د ابومسلم امام هم و او د مازیګر تر لمانځۀ وروسته به یې کیسې هم ویلې او د بني‌هاشمو ښېګڼې به یې د امویانو له بدګڼو سره بیانولې.[٤]

د هارون‌الرشید په پېر (۱۷۲س= ۷۸۸ز) کې تر جمادي‌الأولی وروسته چې صدقه بن‌عثمان له عسکرو سره بُست ته راغی، لوی فقیه قاضي مطرف بن‌سمره هم ورسره و، چې شل کاله یې په سیستان کې قضا وکړه او په ۱۸۱س= ۷۹۷ ز کې دلته ومړ.[٥]

د مامون په پېر کې ابوالحسن نظر بن‌شمیل مازني له فقیهو پرهېزګارانو، د عربي ژبې له مخکښانو او د خلیل بن‌احمد شاګرد و، چې په مروه کې زېږېدلی او څلوېښت کاله یې عربي نحو په بصره کې لوستلې وه، کله چې خپل وطن مروې ته راغی، مامون د خراسان پر قضا وګومارۀ. هغه لومړنی قاضي و چې د خراسان قضا یې حنفي فقهې ته واړوله (۲۰۳س مړ= ۸۱۸ز) [٦]

---

[۱] - بروکلمان در تاریخ ادبیات عرب ۳/ ۱۹۹.

[۲] - بروکلمان ۳/ ۲۵۴.

[۳] - تاریخ سند، د ندوي ۳۵۰، د احسن‌التقاسیم په حواله.

[٤] - طبري ٦/ ۳۴.

[٥] - تاریخ سیستان، تر ۱۵۲ وروسته.

[٦] - بروکلمان در تاریخ ادب عرب ۲/ ۱۳۸.

د خراسان له لويو قاضيانو څخه چې د بخارا قاضيان وو، نرشخي دا نومونه يادوي: سيبويه بن‌عبدالعزيز بخاري (۱۰۰س=۷۱۸ز شاوخوا) ابوديم حازم سدوسي، عيسى بن موسى غنجار، حسن بن‌عثمان، عامر بن‌عمر، اسحاق بن‌ابراهيم خيطي (۲۰۸س= ۸۲۳ ز په طوس کې مړ) او سعيد بن‌خلف بلخي. وروستنى د جمادي‌الأولى په وروستۍ شپه د بخارا قاضي وګومارل شو. په عدل، لورېينه او نېکو خويونو مشهور و.[۱]

## د قاضيانو او مامورينو معاش

داسې برېښي چې تر اسلام د مخه د افغانستان په ختيځه برخه کې وزيرانو او لويو دولتي مامورينو نقدي معاشونه او جاګيرونه دواړه درلودل، ځکه هيونځانګ چينايي سيلاني د ۹س=۶۳۰ز شاوخوا وايي چې حاکمان، وزيران، قاضيان او دولتي مامورين هر يو د خپل ژوندانۀ د اړتياوو ليرې کولو لپاره يوه ټوټه ځمکه لري،[۲] له دې څخه څرګندېږي د جاګير دود چې تر ۱۸ز پېړۍ پورې په افغانستان او هند کې مروج و، په هغه پېر کې هم موجود و او هر دولتي مامور به جاګير اخيست چې د هغۀ په پيداوارو به يې ژوند کاوۀ.

خو د ساسانيانو په دولتي اداره کې چې د اسلام تر راتګ پورې يې د هېواد په لوېديځو برخو کې دوام وکړ، سرکاري مامورينو نقدي معاش درلود چې د دولت د خزانې د لګښت يو مدرک همدا د حکومتي چارو د اداره کوونکو مامورينو معاش و.[۳]

په اسلامي پېر کې لومړی ځل حضرت‌عمر بن‌خطاب تر دولتي دفترونو جوړولو وروسته د مامورينو او لښکريانو معاش مقرر کړ، چې د کوفې د والي عمار بن‌ياسر معاش په مياشت کې شپږ سوه درهمه ته رسېدۀ. د جريبکښ مامور عثمان بن‌حنيف ورځنى معاش پنځه درهمه او د پسۀ څلورمه برخه وه. پنځه زره درهمه يې کلنۍ بخښښي درلوده. د کوفې او بصرې د قاضيانو معاش د مياشتې سل درهمه او د پسۀ

---

[۱] - تاريخ بخارا تر ۲ وروسته.

[۲] - سي. يو. کې، دوهم کتاب ۱۴۲.

[۳] - کريستېن‌سن در ساسانيان ۱۶۲.

ځلورمه د ورځې وه. د خلافت د مامورينو دا معاش د امويانو او عباسيانو په پېر کې دومره زيات شو چې فضل بن‌سهل د خلافت په ختيځ ولايت او خراسان کې د مامون خليفه په پېر کې درې مليونه درهمه معاش درلود. د نورو مامورينو معاش هم د هغو د ماموريت د پراختيا او اهميت هومره و.[1]

قاضي‌القضات امام ابويوسف يعقوب بن‌ابراهيم انصاري (۱۱۳- ۱۸۲س) عباسي خليفه هارون ته لارښوونه کوي او فتوا ورکوي چې د دولت د قاضيانو او مامورينو خواړهٔ له بيت‌المال څخه ورکړي. هر قاضي او والي ته دې ځومره چې مناسب وي ورکړل شي او د زياتولو او کمولو واک يې د خليفه په لاس کې دی.[2]

د اسلامي پېر د تاريخ د سرچينې له مخه د قاضيانو اعاشه د مياشتې تر لس دينارو لږه او د ورځې تر اووه‌و دينارو زياته نه وه، ځکه کله به يې د قاضيانو په دندو نورې چارې لکه د بيت‌المال او مظالمو څارنه او نورې هم ورزياتولې؛ نو په دې صورت کې به يې د هغهٔ معاش هم زياتاوهٔ؛ خو د قاضي عادي معاش د وروستي اموي خليفه مروان په پېر کې د مياشتې تر لس دينارو زيات نه و.[3]

## احتساب

د اسلامي پېر په قضايي اداره کې، د حِسبَت نظام له قضا سره يو ځای رامنځ ته شو. د قضا واک د قاضي، محتسب او د مَظالِمو قاضي تر منځ مشترک و. په دې معنی چې قاضي د دين د احکامو له مخه عامې شخړې هوارولې، محتسب عام نظام څارهٔ او د جناياتو مخنيوی يې ځای پر ځای کاوهٔ. په داسې حال کې چې د مظالمو قاضي د دې وخت د تمييز او استيناف د رئيس غوندې و، چې له قاضي، محتسب او نورو څخه به يې د خلکو شکايتونه اورېدل.

کله به قضا او حسبت له يوهٔ کس سره وو، چې هم به يې د قضا له دندې سره سم

---

[1] - تاريخ‌التمدن الإسلامی ۱/ ۱۱۲.

[2] - کتاب‌الخراج، پارسي ژباړه ۲۸۲، د کابل چاپ، ۱۳۳۵ل.

[3] - تاريخ الإسلام السياسي ۱/ ۳۸۳.

په پرېکړه کې څېړنه او غور کاوهٔ او هم به يې د محتسب غوندې د پېښو په هوارولو کې بېړه او سختي کوله.[1]

د حسبت نظام لومړی پلا حضرت‌عمر رضي الله عنه رامنځ ته کړ او په خپله يې دا کار عملي کړ. د ساري په ډول کله چې يې اوښ‌والا په دې جرم په لښته وواهه چې پر خپل اوښ يې بار درووند کړی دی؛ نو دا د حِسبَت عمل و؛ خو د محتسب نوم د عباسي خليفه مهدي په پېر (۱۵۸- ۱۶۹س) کې دود شو.[2]

محتسب په اسلامي قضايي نظام کې، بېلابېلې قضايي او ټولنيزې دندې درلودې او ديني احکام يې پلي کول، چې ابن‌خلدون د احتسابي دندو کليات داسې شمېرلي دي:

۱- د منکراتو توضيح او د هغو د کوونکو تأديب او زجر.

۲- د عامو ښاري اسانتياوو مراعاتولو ته د خلکو هڅول، لکه: د لارو نه بندول، له درنو بارونو د کراکښو منع کول، د هغو نويو ودانيو د ړنګولو امر چې لارويانو ته يې د زيان فکر کېږي.

۳- د ښوونځيو د کوچنيانو په وهلو کې د ښوونکو د زياتي مخنيوی.

۴- په ژوند توکو، تول او پيمانو کې د خيانت او دهوکې مخنيوی، چې اوس د ښاروالیو دنده ده.

۵- انصاف او هغو چارو ته د خلکو هڅول چې صريح حکم په کې نه وي؛ خو ټولنې ته ګټورې وي.

دې دندو له آره پر قاضي اړه درلوده؛ خو چې د هغهٔ کارونه ډېر وو او دغه يې نه شو سنبالولای، نو ځکه محتسب ته سپارل کېدل او هغه د قضا د منصب خادم و.[3]

د حسبت ديني‌دنده معتبرو او مخورو مسلمانو ته سپارل کېدهٔ او هغهٔ له خپل لوري په ټولو ښارونو او کليو کې مرستيالان ټاکل، چې تل د بازارونو او کاروباريانو

---

۱ - احکام‌السلطانية، د ماوردي تر ۶۱ وروسته.

۲ - تاريخ الإسلام السياسي ۱/ ۳۸۰.

۳ - مقدمهٔ ابن‌خلدون ۱۹۶.

څارنه وکړي. په خپله محتسب به په لوی جومات کې کښېناسته او خپلې د ندې به يې له دې ځايه ترسره کولې.[1]

## د تېريو مخنيوی (شکايات اورېدنه)

د عدالت پلي کېدا او د خلکو د عمومي شکايتونو ليرې کولو لپاره، د اسلامي پېر په اداري او قضايي تشکيل کې شکايت اورېدنه او د ظلمونو مخنيوی کېدهٔ. «صاحب مَظالِم» - يعنې هغه څوک چې د مظالمو او تېريو مخنيوی يې کاوهٔ- به په خپله خليفه يا يې امير او يا وزير و. کله به د خليفه او وزير له خوا په هېوادونو او ښارونو کې شکايت اورېدونکي «اصحاب مظالم» هم گومارل کېدل.

په اسلامي پېر کې لومړی ځل حضرت‌علي رضي الله عنه په دې کار پيل وکړ، هغهٔ د شکايتونو اورېدلو لپاره ټاکلې ورځ نه درلوده؛ چې کله به يې عدل غوښتونکی مخې ته ورتهٔ نو د هغهٔ حق به يې ورکاوهٔ؛ خو د امويانو په پېر کې د شکايتونو اورېدلو لپاره ځانگړې ورځ وټاکل شوه. عبدالملک بن‌مروان به په يوې ځانگړې ورځ شکايتونه اورېدل او که به په کې له ستونزو سره مخامخېدهٔ؛ نو هغه به يې خپل قاضي بن‌ادريس ازدي ته سپارل. بيا عمر بن‌عبدالعزيز هم په خپله د خلکو شکايتونه اورېدل. عباسي خليفه‌گانو مهدي، هادي، رشيد او مامون هم د خلکو شکايتونه اورېدل. که له ډېر ځواکمن چا به هم شکايت کېدهٔ، نو پوښتنه به يې کېده. د ساري په ډول يوه ورځ يوهٔ يمني عمر بن‌عبدالعزيز ته شکايت وکړ چې وليد بن‌عبدالملک مې ځمکه نيولې ده، خليفه يې په اړه د ځانگړي ملکيت دفتر (صوافي) وپلټهٔ، چې شکايت رښتيا و؛ نو امر يې وکړ، هغه ځمکه يې له دفتر څخه وضع او خپل څښتن ته يې وسپارله. همدا رنگه يوه ورځ زړو جامو والا بوډۍ مامون ته د هغهٔ له زوی (عباس) څخه شکايت وکړ، خليفه خپل زوی د شکايت کوونکې څنگ ته ودراوهٔ او د شکايت په پلټنه يې پيل وکړ.[2]

د صاحب مظالم دندې له قاضي سره توپير درلود، ځکه په هغهٔ څه کې چې قاضي به يې له انفاذه بې وسه و، صاحب مظالم په بشپړ ځواک او پياوړي لاس سره حکم او د تېري

---

[1] - تاريخ تمدن الإسلامی ۱/ ۱۹۰.

[2] - پورتنی اثر، ۱/ ۱۸۸.

مخنیوی کاوهٔ. له باطل څخه د حق په بېلولو کې به يې ډېر مدارک او شواهد تر لاسه کول. کله به يې پېښې هم د حلولو لپاره هرومرو يوهٔ امين پلاوي ته سپارلې. په داسې حال کې چې قاضي دا کار د دواړو لوريو بې موافقې نه شو کولای؛ نو صاحب مظالم د پرتم و ځواک څښتن و.[1]

د مظالمو محکمه به عموماً په جوماتونو کې جوړېده، چې مشري به يې خليفه يا والي يا د هغو گومارلي مرستيال پر غاړه درلوده. کله چې عباسي خليفه مامون د (۱۹۷س= ۸۱۲ز) شاوخوا په خراسان کې و، گردېزي وايي:

«هغهٔ په خراسان کې عدل خپور کړ او نېک دودونه يې رامنځ ته کړل، د مروې ښار په شايگان سرای کې دېره شو، هره ورځ به جامع جومات ته راتهٔ، شکايتونه به يې اورېدل، عالمان او فقيهان به يې کښېنول، د مظلومانو خبرې به يې اورېدې او د هغوی حق به يې ورکاوهٔ.»[2]

د شکايت اورېدنې محکمه به د پنځه ډلو خلکو په شتون کې جوړېده:

۱- د صاحب مظالم د مرستندويانو او ملاتړو: چې د هغو په ځواک به د قضا حکم نافذېدهٔ.

۲- حاکمان: چې د پېښې په اړه او مالک ته د حقوقو په بېرته ورکولو کې به يې معلومات ورکول او د پېښې د خاوند د دعوا حقايق به يې څرگندول.

۳- فقيهان: چې صاحب مظالم به د شرعي مسايلو د ستونزو په اړه ترې فتوا اخيسته.

۴- کاتبان: چې د دواړو لورو ويناوې به يې ليکلې او د هغوی حقوق به يې ثبتول.

۵- شاهدان: چې د دواړو لورو د دعواوو د اثبات هڅه به يې کوله او شهادت به يې وايهٔ.

په دې ډول د مظالمو محکمې په هره موضوع کې عامه شکايات اورېدل. د صاحب مظالم دندې دا وې:

۱- د هغو پېښو څېړنه او په اړه يې نظر چې کسانو يا ډلو به د واليانو په اړه وړاندې کولې او له حقې لارې څخه د واليانو د اوښتنې شکايت به يې کاوهٔ، يا به د خراج مامورين د ماليو په راغونډولو کې بېلارې کېدل او يا به د دفترو کاتبانو د مسلمانانو په مالونو کې کمی–زياتی کاوهٔ.

---

[1] - ماوردی در احکام‌السلطانية، تر ۷۷ وروسته.

[2] - زين‌الأخبار، خطي ۳۸ ب.

۲- د معاش‌والاوو شکایتونه اورېدل- که به د هغوی معاش کم او یا تر ټاکلي وخت ناوخته ورکول کېدۀ- ځښتن ته د غصب شویو مالونو بېرته سپارل او اوقاف څارل.

۳- د هغو احکامو نافذول چې قاضي یا محتسب یې له نافذېدو عاجز وي او د دوو ښکېلو لوریو پېښنه څارل.

۴- د عبادتونو لکه حج، اخترونو او جهاد، اداینه په پام کې نیول.[۱]

د مظالمو محکمه په راوروسته وختونو او د عجمو پاچاهانو په منځ کې په دارالعدل واوښته. د هغې مشر یې په عربي کې "امیرالعدل" او په پارسي کې "میرداد" ونوماوۀ. هغه د سلطان او پاچا له خوا د عدل په رامنځ ته کولو او خلکو ته په حق ورکولو کې مرستیال او ملک‌الامراء ګڼل کېدۀ. میرداد تل د پرتم، توري او ډېر اعتبار ځښتن ګومارل کېدۀ.[۲] لکه‌چې‌د منهاج‌السراج جوزجاني له لیکنې څرګندېږي، تر ٦۵۰س= ۱۲۵۲ز پورې هم د هند په افغاني سلطنت کې د میرداد منصب موجود و، چې جاګیرونه او میاشتني حقوق یې درلودل.[۳]

۱ - تاریخ الإسلامی السیاسی ۲/ ۲۴۰ د ماوردي د احکام‌السلطانیة په حواله تر ۸۰ وروسته.

۲ - آثارالأول فی ترتیب الدول، د حسن ابن عبدالله ۷۵، د قاهرې چاپ، ۱۲۹۵س.

۳ - طبقات ناصري ۲/ ۴۱.

## ډاک یا پست (بَرِید) او لارې

له بَرِید څخه موخه هغه اداره ده چې اوس یې پستPost بولي او دنده یې د خلکو د مخابرو، مکتوبونو او لیکونو رسول دي.

د بیابانونو په هېواد ایران کې پست ډېر پخوانی دی. د دې کلمې اصل له ویریدوس veredus یوناني کلمې څخه اخیستل شوی دی. د استازي سپرلی، اس یا استازي معنی یې درلوده. وروسته یې د استازي ادارې، دستګاه او هم هغې ودانۍ ته وویله چې د دوو استازو تر منځ وه.[1]

د افغانستان په ختیځه برخه کې تر اسلام د مخه د احوال ثبتونې اداره موجوده او هیونځانګ لیدلې وه؛ هغه وایي: په هر ولایت کې یو مامور وي چې د ښو – بدو پېښو، افتونو او نورو خبر ورکوي او د پېښلیکنې‌او لیږنې‌دفتر ته «ني – لو – پي– چا» وایي.[2] یعنې اسمان ډوله حفظیه Bluede poset چې باید د مسودو ساتندویه وبلل شي.

د عباسي خلیفه‌ګانو په وخت کې یې د پست ترتیب د خلافت په اداره کې د ساساني او اموي پېرونو له مخینې څخه خپل کړ؛ خو پست حکومتي چارو ته ځانګړی و او په ولس پورې یې اړه نه درلوده. د پست د ادارو له جوړولو موخه دا وه چې د ولایت او پاچاهي مرکز تر منځ چټکې او اسانې رسنۍ موجودې وي.

په ساساني پېر کې پست پلیو یا سپرو کسانو رساوۀ او د پست په هر پړاو کې د دې کار لپاره اس او کسان موجود وو. په عربي سیمو کې یې له اوښ څخه کار اخیست. د «خسرو او ریدک» په کتاب کې د پست د اس نوم په پهلوي کې «بګدیس پانیګ» و.

---

[1] - دایرةالمعارف اسلامی، لومړی ټوک.

[2] - سي. یو. کی، دوهم کتاب ۲/ ۱۳۵ په کلکته کې د سوسیل ګپتا چاپ، ۱۹۵۸ز.

په پهلوي ژبه کې د ایوبریذ – دوبریذ او سه‌بریذ اصطلاحات هم شته دي چې موخه ترې چټک استازي او پسته‌رسان دي، چې یو – دوه یا درې زین کړي اسونه به یې د پاچاهي پست رسولو لپاره له ځان سره درلۀ او وار په وار به یې ترې کار اخیست.[۱]

یاقوت‌حموي د پست واټن په صحرا کې ۱۲ میله او په شام او خراسان کې ٦ میله لیکي او د ابومنصور له خولې وایي چې برید د استازي په معنی دی او ابراد (د افعال د باب مصدر) د لېږنې په معنی دی. عرب وایي: (الحمی بریدالموت) یعنې تبه د مرگ استازې ده، چې په دې صورت کې د کلمې اصل عربي دی، په داسې حال کې چې ځینې هغه بُرید (پرې کړ) له پارسي څخه معرب گڼي.[۲] خوارزمی وایي: چې د اس لکۍ به یې پرېکړه؛ نو هغه به یې بُریده بالۀ او کله چې کلمه معربه شوه، بَرِید شو چې استازي او سپرلۍ دواړو ته هم وویل شوه. د هر برید واټن دوه فرسخه دی.[۳]

لکه چې مؤرخان وایي د پست ترتیب په اسلامي پېر کې د حضرت‌معاویه بن‌ابي سفیان له خوا ونیول شو، ځکه تر هغۀ مخکې په شام او عراق کې موجود و. څرنگه چې تر هغۀ وروسته همدې ډاکچي د سیمې، مامورینو او خلکو د اوضاع معلومات مرکز او خلافت ته ورکول؛ نو دې ادارې اهمیت پیدا کړ او د ولایتونو د احوال اخیستنې لوی مرکز شو. ډاکچي مکلف و چې د خپلې سیمې د اوضاع معلومات د خلافت دربار ته ورکړي.

وایي هغه ورځ چې طاهرپوشنگي د خراسان پر منبر د مامون خلیفه نوم له خطبې وغورځاوۀ، ډاکچي هغه ملامت کړ خو طاهر وویل: هېر مې شو، په هېره مې ونه وایۀ؛ نو له دې امله د دې کار اطلاع مامون ته مه ورکوه! ډاکچي ځواب ورکړ: خلیفه هرومرو د سوداگرو له لیکونو له دې کاره خبرېږي او څرنگه چې دا خبر بې له ما هم ورسېږي؛ نو زما د نعمت د زوال لامل دی. طاهر چې دا خبره واورېده، نو د خراسان ډاکچي ته یې اجازه وکړه

---

[۱] - کریستېن‌سن در ایران عهد ساسانیان ۱٦۷، د فان کریمر د تاریخ تمدن شرق در عهد خلفاء ۱/ ۱۹۵، خسرو و ریدک د اونوالا چاپ او د ویانا د ختیځو علومو په مجله کې د گایگر مقاله تر ۹۰۳ وروسته د ۱۹۱۵ زچاپ، په حواله.

[۲] - معجم‌البلدان ۱/ ۳۵.

[۳] - مفاتیح‌العلوم ۴۲.

چې خبر یې خلیفه ته ورولیکي.

په دې ډول ډاکچیان د کړنو څارونکي او دولتي پلټونکي وو، که چا به په ولایت کې د خپلواکۍ توغ هسکاوهٔ؛ نو له مرکز سره به یې د ډاک د څښتن اړیکي پرې کول. مامون چې هم په خراسان کې د اوسېدو پر مهال د خپل ورور امین نوم له خلافته لیرې کړ، نو له هغهٔ سره یې د خراسان د ډاکچي اړیکي هم پرېکړل.

د خلافت په اداره کې د ډاکچي اهمیت دومره و چې عباسي خلیفه منصور به ویل: زما د دربار څلور کسه په کار دي: قاضي چې د الله په لاره کې د خلکو له ښکنځلو ونه وېرېږي. دوهم امنیه قوماندان چې کمزوری له ځواکمن څخه وژغوري. درېیم خراج اخیستونکی چې پر ولس تېری ونه کړي. څلورم ډاکچي چې د دې درېواړو احوال راته سم راورسوي.

ډاکچیان به تل د دربار باوري کسان گومارل کېدل. هغوی به د ډاک لارې له غلو او ډاکوانو څخه ساتلې او هر لور ته به یې خپل جاسوسان لېږل او لازم اطلاعات به یې په لنډه لاره او ډېرې چټکې سپرلۍ لېږل. عباسي دولت د ډاک لېږلو **۹۳۰** لارې درلودې، چې د مامورینو او سپرلیو کالنی لگښت یې تر (۱۰۰، ۱۵۹) دینارو پورې رسېدهٔ. د امویانو په پېر کې د ډاک لگښت تر څلورو ملیونو درهمو پورې و.[۱]

په هر صورت د عباسي خلیفه‌گانو په پېر کې د ډاک اداره د هغوی په ټول هېواد او په تېره بیا په خراسان کې موجوده وه او مور یې شتون د امویانو د پېر په خراسان کې هم مومو. په دې معنی چې په ۸۰ س= ٦۹۹ز کال کې کله چې د سیستان او زابلستان رتبیل‌شاه له عربو سوبمنو سره جنگېدهٔ، عبدالرحمن بن‌محمد له عربي عسکرو سره پر دې هېواد یرغل وکړ، رتبیل ورسره کلي په کلي او کلا په کلا جنگ کاوهٔ او بېرته به شاته کېدهٔ؛ خو عبدالرحمن مخکې تگ کاوهٔ، هر ښار چې به یې نیوهٔ، یو حاکم به یې په کې له ملگرو سره گومارهٔ او د یوهٔ او بل ښار تر منځ به یې ډاک نښلاوهٔ.[۲]

د طبري له دې روایته څرگنده ده چې په ۸۰ س کې هم د عربو سوبمنو تر منځ د

[۱] - تاریخ‌التمدن الإسلامی ۱/ ۱۸۰.

[۲] - طبري ۵/ ۱۴۱.

ډاک دود موجود و، په دې اړه طبري وايي: و وضع البرد فيما بين کل بلد و بلد،[1] بُرُد د بريد (ډاک) جمع ده او د لومړی لېږدې پېړۍ په منځ کې يې هم په سيستان او زابلستان کې شتون ثابت دی.

بل سند چې په خراسان کې يې د ډاک د شتون لپاره ليکلای شو، دا دی چې په ۹۹س= ۷۱۷ز کال کې جراح بن‌عبدالله حکمي د عمر بن‌عبدالعزيز له خوا د خراسان او ماوراءالنهر حاکم و، چې د سمرقند دهقان «دېواستي» ورته په عربي ژبه ليک کښلی، دا ليک شوروي ختيځ پېژندونکي فريمان په **۱۹۳۳**ز کې له نورو سغدي او عربي اسنادو سره د تاجيکستان په مغ غرهٔ کې موندلی دی. په دې ليک کې ديواستي له امير جراح څخه هيله کوي چې د ډاک له څارويو څخه څاروی (دابة من دواب‌البريد) راولېږي.[2]

د عربو د ډاک رسولو لړۍ د هارون‌الرشيد په پېر کې پراختيا موندلې وه. هغه مهال چې مامون په خراسان کې و، مامورينو يې کابل نيولی و او د خراسان د ډاک لړۍ يې له کابل سره نښلولې وه.[3]

د عباسي پېر په خراسان کې په هرو دوو فرسخو (٦ ميلو) کې ډاک‌پړاو (رباط) موجود و. د دې وينا دليل د البشاري مقدسي څرگندونه ده چې وايي:

«ميل د فرسخ درېيمه برخه ده؛ خو د ډاک پړاو توپير لري. په صحرا او عراق کې **۱۲**ميله او په شام او خراسان کې ٦ ميله دی. ځکه يې نو په خراسان کې په هرو دوو فرسخو کې پړاوونه جوړ کړي دي، چې ډاکچيان په کې واوسېږي.»[4]

د خبرونو رسونې لپاره يې په ځانگړو پړاوونو کې گړندي او ځغلنده اسونه ساتل، کله چې به ډاک‌وړونکی له پخواني پړاو څخه نوي ته رسېدهٔ؛ نو خپل اس به يې- چې چټکې ځغاستې به ستړی کړی و- پرېښود او له دې پړاوه به يې بل دمه اس تر

[1] - طبري ۵/ ۱۴۱.
[2] - پر تاريخ بيهقي د سعيد نفيسي حاشيې ۳/ ۹۷۳ د سغدي متونو په حواله،۵۵ د لېنن‌گراد چاپ ۱۹۳۴ز.
[3] - فتوح‌البلدان ۴۹۵.
[4] - احسن‌التقاسيم ٦٦.

بل پړاوه پورې بیوهٔ. په عراق کې د ډاک د پړاو واټن ۴ فرسخه او هر فرسخ درې میله و. وایي د برید کلمه له آره پارسي «برید دم» ده، ځکه چې د ډاک د اس لکۍ به یې له نورو د پېژندنې په موخه غوڅوله.[١] د ډاک اهمیت دومره و چې عبدالملک بن‌مروان امر وکړ: ډاکي چې هر وخت وغواړي له ما سره لیدلای شي.[٢]

هغه ترتیبات چې د ډاک د چټکتیا لپاره یې نیولي وو، په هغو کې د هغهٔ پېر له تر ټولو چټکو وسایلو څخه کار اخیستل کېدهٔ او د عربو تر ټولو لیرې لښکري مرکزونه به یې د خلافت د لوړپوړو چارواکو د قوماندې له مرکز سره نښلول. د ساري په ډول کله چې اموي زلمی سوبمن محمد بن‌قاسم د هند سمندر پر څنډو د دېبل ښار پر نیولو بوخت و (د ۹۲س= ۷۱۰ز شاوخوا) هغهٔ به په هرو درېو ورځو کې د جنگ د اوضاع او خپلو سوبو حال حجاج ته ورکاوهٔ- چې د عراق په واسط کې و- د خپلو کړنو په اړه به یې د هغهٔ رأی اخیستله او د لیکونو ځوابونه به یې هم له هغهٔ ځایه په درېو ورځو کې رارسېدل.[٣]

د سند د څنډو او د عراق د واسط تر منځ واټن، څه د وچې او څه د سمندر له لارې تر شاوخوا زر میله لږ نه دی، چې په درېو ورځو کې د سپارهٔ ډاکچي په وسیله د هغهٔ وهل هم د هېښتیا ځای دی!

د خراسان تر خاورې ورهاخوا په ختیځو برخو یعنې سند کې هم د ځري په وسیله د ډاک او ډاکي انتظام نخښې لیدل کېږي. د ساري په ډول د ۵۰س= ٦۷۰ ز شاوخوا د سند د سیمه‌ییزو واکمنو تر منځ د سولې او جنگ په چارو کې لیک رسونه او ځری لېږنه روانه وه.[٤]

د عباسیانو د خلافت د ډاک اداري تشکیلات- چې په خراسان کې هم دود وو- د هغې شرحې له مخه چې د عباسیانو د خراج د اداري له مامورینو څخه یو کس قدامه بن‌جعفر (۳۰۰س=۹۱۲ز شاوخوا) یې ورکوي، داسې دي:

د پست یا ډاک اداري د «ډاکچي» په نامهٔ یو کس مشر درلود. له هرې خوا چې

---

[١] - الآداب السلطانية، د الفخري ١٠١.
[٢] - تاریخ الإسلام السیاسي ١/ ٣٥٩ د صبح الاعشی په حواله ١۴/ ٣٦٧.
[٣] - فتوح‌البلدان ۵۳۵ او تحفة الکرام ٣/ ١٣.
[٤] - چچنامه تر ۴٠ وروسته.

به د ډاک کڅوړې وررسېدې، هغه به يې خپل خپل ځای ته لېږلې او هغه څه چې به د ډاکيانو او خبروالاوو (د احوال ضبطونې ماموران) له خوا هغۀ ته رسېدل، کټ مټ هماغه يا د هغو لنډيز به يې خليفه ته لېږۀ. د ډاک مامورين - چې د «ډاکچي» تر اداري لاندې کار کاوۀ- دا وو:

۱- **پروانه**: يا د ډاک کڅوړې وړونکی، چې په عربي کې يې ورته «فروانقي» وايۀ (جمع: فروانقيين يا فرانق) چې د پارسي د هماغۀ پروانه معرب دی.

۲- **موقعين**: چې «اسکدار» يې هم بالۀ، په مفاتيح‌العلوم کې خوارزمي وايي د دې کلمې اصل له کوداري څخه و، يعنې له چا او له کومه يې لرې؟ دې کس تل د درج کتاب درلود چې په هغۀ کې به يې د ډاک د کڅوړو شمېر، راغلي او لېږل شوي ليکونه او د هغو د څښتنانو نومونه ليکل؛ چې د اوسنی صادرې واردې د کتاب غوندې و. د درج او ثبت دا کتاب يې هم «اسکدار» بالۀ.

۳- **مرتبين**: د ډاک د اداري مامورين چې فرعي ډاکخونې به يې اداره کولې، آمرانو به يې ټاکلي خواړۀ او اجوره درلوده.

ډاکچي- چې د ولايتونو د ډاک لوی آمر ګڼل کېدۀ- تل د خليفه ځانګړی معتمد و، ځکه هغۀ پر اداري وړتيا سربېره د ځيرنې، امانت او راز ساتنې ځانګړنې هم درلودې او د ډاک له لارو او پړاوونو څخه به بشپړ خبر و. داسې چې کله به خليفه کوم لور ته تۀ يا به يې لښکرکښي کوله، نو بايد ډاکچي د لارې بشپړ احوال له ځان سره چمتو او وړاندې کړی وای.[1]

## د ډاک لارې

د خليفه‌ګانو د هېواد په خراسان کې د پوستې رسونې کرښې معلومې وې او په لازمو ځايونو کې يې د پروانه او اسکدار او د سپرلۍ د څارويو غوجلې او اسغالي

[1] - کتاب‌الخراج او صنعة‌الکاتب ۱۸۵.

جوړ کړي وو. دې غوجلو په خراسان کې یو له بله شپږ میله واټن درلود.

قدامه بن جعفر چې د بغداد د خلیفه‌گانو د دربار یو مامور و، د رسمي اسنادو له مخه یې د ټول هېواد پوستي کرښې لیکلې دي. موږ د هغو کرښو له‌منځه د خراسان او شاوخوا پوست‌کرښې په گوته کوو- چې ورسره سوداگریزې لارې هم وې- چې د هغهٔ پېر جغرافیایي وضع روښانوي:

هغه لاره چې د خلافت له مرکز بغداد څخه د خراسان خوا ته رارسېده، له واسط څخه بصرې او له بصرې څخه اهواز، شېراز، سیرجان او سیستان ته راتېرېده. بله لاره له بغداد څخه حلوان، کرمانشاهان، همدان او ری ته رارسېدلې وه، چې بغداد یې له خراسان سره نښلاوهٔ، په دې ډول:

## له ری تر نیشاپور پورې

له ری تر مفضل‌آباد پورې ۴ فرسخه= ۱۲ میله

له مفضل آباد تر افریذین پورې (ابن‌حوقل: افرندین) ٦ فرسخه= ۱۸ میله

له افریذین تر کاسب پورې ۸ فرسخه= ۲۴ میله

له کاسب تر خوار پورې ٦ فرسخه= ۱۸ میله

له خوار تر قصرالملح پورې ۷ فرسخه= ۲۱ میله

له قصرالملح تر رأس الکلب پورې ۷ فرسخه= ۲۱ میله

له رأس الکلب تر سرخ پورې ۴ فرسخه= ۱۲ میله

له سرخ تر سمنان پورې ۴ فرسخه= ۱۲ میله

له سمنان تر آخرین پورې ۹ فرسخه= ۲۷ میله

له آخرین تر دایه کلي پورې ۴ فرسخه= ۱۲ میله

له دایه تر قومس پورې ۴ فرسخه= ۱۲ میله

له قومس تر حداده پورې ۷ فرسخه= ۲۱ میله

له حداده تر کوزستان پورې (مقدسي: کورستان) ۴ فرسخه= ۱۲ میله

له کوزستان تر بذش پورې ۳ فرسخه= ۹ میله

له بذش تر میمد پورې (مقدسي: میمذ) ۱۲ فرسخه= ۳٦ میله

له میمد تر هفتدره (ابن‌خردادبه: هفتکند. اصطخري، حوقل، مقدسي او ابن‌رسته: هفدر) ۷ فرسخه= ۲۱ میله.

له هفدر تر اسدآباذ پورې ۷ فرسخه= ۲۱ میله

له اسدآباذ تر بهمن‌آباد پورې ٦ فرسخه= ۱۸ میله

له بهمن‌آباد تر نوق پورې ٦ فرسخه= ۱۸ میله

له نوق تر خسروگرد پورې ٦ فرسخه= ۱۸ میله

له خسرو گرد تر حسین‌آباد پورې ۴ فرسخه= ۱۲ میله

له حسین‌آباد تر سنکردر پورې ۵ فرسخه= ۱۵ میله

له سنکردر تر بیشکند (ابن‌رسته،ابن‌خردادبه‌او مقدسي:بیکند)۵ فرسخه= ۱۵میله

له بیشکند تر نیشاپور پورې ۵ فرسخه= ۱۵ میله

له ری تر نیشاپور پورې ټول واټن ۱۴۰ فرسخه= ۴۲۰ میله.[۱]

## له نیشاپوره تر مروې پورې

له نیشاپور تر بغیس پورې ۴ فرسخه= ۱۲ میله

له بغیس تر حمراء پورې ٦ فرسخه= ۱۸ میله

له حمراء تر مثقب‌ملوس پورې ۵ فرسخه= ۱۵ میله

له نوقان تر مزدوران عقبه پورې ٦ فرسخه= ۱۸ میله

له مزدوران تر اوگینه پورې (ابن‌خردادبه: آبگینه) ۸ فرسخه= ۲۴ میله

له اوگینه تر سرخس پورې ٦ فرسخه= ۱۸ میله

له سرخس تر قصر نجار پورې ۳ فرسخه= ۹ میله

له قصر نجار تر اشترمغاک پورې ۵ فرسخه= ۱۵ میله

له اشترمغاک تر تلستانه پورې ٦ فرسخه=۱۸ میله

له تلستانه تر دندانقان پورې ٦ فرسخه= ۱۸میله

له دانداقان تر ینوگرد (ابن‌خردادبه او مقدسي: جروجرد) ۵ فرسخه= ۱۵ میله

---

[۱] - کتاب‌الخراج، د قدامه ابن جعفر ۲۰۱.

له ینوگرد تر مروې ښار پورې ۵ فرسخه= ۱۵ میله

له نیشاپور څخه تر مروې پورې ټول واټن ۷۰ فرسخه= ۲۱۰ میله.[1]

## له مروې تر آمل پورې

لهمروېشاهجان تر کشمیهن (اصطخري، مقدسي او یعقوبي:کشماهن) ۵ فرسخه = ۱۵میله

له کشمیهن تر پوستهخانه دیوان (ابن خرداذبه: دیواب) ٦ فرسخه= ۱۸ میله

له دیوان تر طهملج پورې (ډاکخونه) ۲ فرسخه= ٦ میله

له طهملج تر منصف پورې (ډاکخونه) ۴ فرسخه= ۱۲ میله

له منصف تر احساء پورې (ډاکخونه) ۸ فرسخه= ۲۴ میله

له احساء تر نهرعثمان ډاکخونې پورې (ابن خرداذبه او مقدسي: بئر عثمان) ۳ فرسخه= ۹ میله

له نهر عثمان تر عقیر پورې (پوسته خانه) ۳ فرسخه= ۹ میله

له عقیر د آمل تر ښار پورې ۵ فرسخه= ۱۵ میله

له مروېشاهجان تر آمل پورې ټول واټن ۳٦ فرسخه= ۱۰۸ میله.[2]

## له آمل تر بخارا پورې

له آمل د امو تر څنډو پورې ۱ فرسخ= ۳ میله

د امو پر بله غاړه علي کلی (ابن خرداذبه، اصطخري، مقدسي او ابن حوقل: فربر) ۱ فرسخ= ۳ میله

له علي کلي په دښته کې د ام جعفر تر کوټ پورې ٦ فرسخه= ۱۸ میله

له ام جعفرکوټ څخه تر بیکند پورې د دښتې په لاره ٦ فرسخه= ۱۸ میله

له بیکند د بخارا تر ورۀ پورې ۲ فرسخه= ٦ میله

له ورۀ د ماستین تر کلي پورې یونیم فرسخ= څلورنیم میله

له ماستین تر بخارا پورې ۵ فرسخه= ۱۵ میله.

---

[1] - کتاب الخراج ۲۰۲.

[2] - پورتنی اثر ۲۰۳

له آمل تر بخارا ټول واټن دوه ويشت نيم فرسخه=اووه شپېټ نيم ميله.[1]

## له بخارا تر سمرقند پورې

له بخارا ښار تر شرغ پورې (ابن‌خرداذبه، اصطخري او ابن‌حوقل: جرغ)
۴ فرسخه= ۱۲ ميله

له شرغ تر طواويس پورې ۳ فرسخه= ۹ ميله

له طواويس تر كوك‌پورې (سوېلي‌غرونه‌يې‌له چين‌سره‌نښلي) ۳ فرسخه=۹ ميله

له كوك تر كرمينيه پورې ۴ فرسخه= ۱۲ ميله

له كرمينيه تر دبوسيه پورې ۵ فرسخه= ۱۵ ميله

له دبوسيه تر ربنجن پورې (اصطخري، مقدسي، ابن‌خرداذبه او حوقل: اربنجن)
۵ فرسخه= ۱۵ ميله

له ربنجن تر زرمان پورې ٦ فرسخه= ۱۸ ميله

له زرمان تر قصرعلقمه پورې ۵ فرسخه= ۱۵ ميله

له قصر علقمه تر سمرقند پورې ۲ فرسخه= ٦ميله

له بخارا تر سمرقند پورې ټول واټن ۳۷ فرسخه= ۱۱۱ ميله.[2]

## له مروې بلخ او ترمذ ته

له مروې د فاز تر كلي پورې ۷ فرسخه= ۲۱ ميل

له فاز تر مهدي‌آباد پورې د بيابان په لاره ٦ فرسخه= ۱۸ ميله

له مهدي‌آباد تر يحيى‌آباد پورې (ډاكخونې) ۷ فرسخه= ۲۱ ميله

له يحيى‌آباد تر قرنين پورې- چې وګړي يې مجوسيان او د خرو سوداګري يې مشهوره ده- ۵ فرسخه= ۱۵ ميله.

له قرنين تر اسدآباد پورې ۷ فرسخه= ۲۱ ميله

له اسدآباد تر حوزان پورې ۵ فرسخه= ۱۵ ميله

له حوزان تر احنف مانى پورې ۴ فرسخه= ۱۲ ميله

---

[1] - كتاب‌الخراج، ۲۰۳.

[2] - پورتنى اثر ۲۰۴.

له احنف مانې تر مروه‌رود پورې ۵ فرسخه= ۱۵ میله
له مروه‌رود تر ارسکن د درهٔ قصر عمرو په لاره ۵ فرسخه= ۱۵ میله
له ارسکن تر اسراب پورې (د غرهٔ په سمڅو کې کلی) ۷ فرسخه= ۲۱ میله
له اسراب د تالقانو تر کنجاباد پورې ٦ فرسخه= ۱۸ میله
له کنجاباد تر تالقانو پورې ٦ فرسخه= ۱۸ میله
له تالقانو تر کسحان (مقدسي او ابن‌خردادبه: کسحاب) ۵ فرسخه= ۱۵ میله
له کسحان تر د مروې تر ارغین وادۍ پورې ۱ فرسخ= ۳ میله
له ارغین په‌غرنۍ‌لاره د فارياب د کوره اړوند تر قصرخوطه ۵ فرسخه= ۱۵ میله
له قصر خوط تر فارياب ښار پورې ۲ فرسخه= ٦ میله
له فارياب تر القاع دښتې پورې ۵ فرسخه= ۱۵ میله
القاع د جوزجان اړونده ۴ فرسخه= ۱۲ میله
له القاع په دښته کې تر شبورقان پورې ٦ فرسخه= ۱۸ میله
له شبورقان د بلخ تر سدرهٔ کوډلې پورې[1] ٦ فرسخه= ۱۸ میله
له سدره تر دستجرده پورې (ابن‌خردادبه: دستگرد) ۵ فرسخه= ۱۵ میله
له دستجرده د عود تر لوی کلي پورې (ابن‌خردادبه: الفور) ۴ فرسخه= ۱۲ میله
له عود تر بلخ پورې د آبادیو پر لاره ۳ فرسخه= ۹ میله
له بلخ ښاره تر سیاه‌جرد پورې (اوسنی سیاه‌گرد) ۵ فرسخه= ۱۵ میله
له سیاه‌گرد د امو تر څنډې پورې د بیابان پر لاره ۷ فرسخه= ۲۱ میله
د امو له څنډې ترمذ ته تېرېږي، له هغه ځایه تر صرمنجانه ٦ فرسخه= ۱۸ میله
له صرمنجان تر دارزنګي پورې (سمسور کلی) ٦ فرسخه= ۱۸ میله
له دارزنګي تر برنجي کلي پورې ۷ فرسخه= ۲۱ میله
له برنجي تر صغانیان (چغانیان) پورې ۵ فرسخه= ۱۵ میله

[1] - سدره د پوستې لپاره کوچنی رباط و، چې د ۲۰۳س په زلزله کې دلته د اوبو چینه راووته او ټوله سارا پرې خړوبه او سمسوره شوه.

له صغانیان د راشت په لاره تر بونذا کلي پورې ۳ فرسخه= ۹ میله

له بونذا تر هموران پورې (ابن‌خرداذبه: همواران) ۷ فرسخه= ۲۱ میله

له همواران تر ابان کسوان پورې ۸ فرسخه= ۲۴ میله

له ابان کسوان تر شومان پورې ۵ فرسخه= ۱۵ میله

له شومان تر واشجرد (واشگرد) پورې ۴ فرسخه= ۱۲ میله

له واشگرد تر راشت پورې- چې په دې سیمه کې د خراسان وروستی ښار ګڼل کېږي- ۴ ورځې لاره ده چې د فرغانې له پولو سره نښلي.[1]

## له بلخ څخه تخارستان ته

له بلخ تر ولاري پورې ۵ فرسخ= ۱۵ میله

له ولاري تر سواحي پورې ۳ فرسخه= ۹ میله

له سواحي تر خُلم پورې د صحرا په لاره ۳ فرسخه= ۹میله

له خلم تر بهار پورې ۷ فرسخه= ۲۱ میله

له بهار تر بکبانول؟ پورې ۵ فرسخه= ۱۵ میله

له بکبانول تر قارض‌عامر پورې (ابن‌خرداذبه: قارض‌عام= کاریزعام) ۷ فرسخه= ۲۱ میله. دا کارېز له امو سیند ۱۸ فرسخه لیرې د غرونو په منځ کې پروت و.[2]

## له سېرجان څخه سیستان ته

هغه لاره چې له اهواز څخه شېراز او سېرجان ته تېرېدله، د سیستان ولایت یې له مرکز بغداد سره نښلاوه. دا سوېلي لاره مکران، زابلستان ولایت او سند ته هم رسېدله.
د قدامه ابن‌جعفر د شرحې له مخه له سېرجان څخه سیستان ته داسې وه:

له سېرجان څخه قهستان ته ٦ فرسخه= ۱۸ میله

[1] - قدامه ابن جعفر در کتاب‌الخراج ۲۱۱.

[2] - پورتنی اثر ۲۱۲.

له قهستان څخه کومخ رباط ته ۸ فرسخه= ۲۴ میله

له کومخ رباط څخه ساهوی ته ٦ فرسخه= ۱۸ میله

له ساهوی څخه امسیر ته (مقدسي: ازمین) ۴ فرسخه= ۱۲ میله

له امسیر څخه خناب ته ٦ فرسخه= ۱۸ میله

له خناب څخه غبیراء ته ۴ فرسخه= ۱۲ میله

له غبیراء څخه کورم ته (مقدسی: کوغون) ۸ فرسخه= ۲۴ میله

له کورم څخه کشک ته ۸ فرسخه= ۲۴ میله

له کشک څخه رائین ته ۱۰ فرسخه= ۳۰ میله

لەرائین- دارجین (اصطخري،ابن خرداذبەاو مقدسي:دیروزین)۸فرسخه= ۲۴ میله

له دارجین څخه بم ته ۱۲ فرسخه= ۳٦ میله

له بم څخه نرماسیر ته (ابن خرداذبه، مقدسي او اصطخري: نرماشیر) په صحرا کې ۸ فرسخه= ۲۴

له نرماسیر څخه سیستان ته ۱۰۰ فرسخه= ۳۰۰ میله

په دې ډول د کرمان له مرکز سیرجان څخه تر سیستان پورې په صحرا کې ۱۸۸ فرسخه= ۵٦۴ میله لاره وه، چې په ځینو ځایونو کې یې سرک هم درلود.[1]

## نورې لارې

هغه شرحه چې د خراسان د ډاک د لارو په اړه قدامه بن جعفر ورکړې، په پورته ډول راواخیستل شوه؛ خو هماغه مهال د افغانستان د نورو لارو شرحه داسې ده؛ له نورو جغرافیايي سرچینو څخه دلته رانلډېږي، چې دا موضوع بشپړه او نیمه پاتې نهٔشي:

## خراسان

له نیشاپور تر بوزجان ۴ پړاوه | له بوزجان تر پوشنگ ۴ پړاوه
له پوشنگ تر هرات یو پړاو | له هرات تر اسفزار ۳ پړاوه

---

[1] - کتاب الخراج ۱۹٦.

له اسفزار د هرات تر دره آخر ۲ پړاوه
له نیشاپوره تر طوس ۳ پړاوه
له نسا تر فیراوې ۴ پړاوه
له قاین تر هرات ۸ پړاوه
له مروې تر هرات ۱۲ پړاوه
له مروې تر نسا ۴ پړاوه
له بلخه تر مروه‌رود ۱۲ ورځې لاره
له بلخ تر اندراب ۹ پړاوه
له بامیانو تر غزني ۸ پړاوه
له بدخشان تر ترمذ ۱۳ پړاوه
له زم تر آمل ۴ پړاوه
له مروې تر کشمیهن ۱ پړاو
له هرمزفرې تر باشان ۱ فرسخ
له مروې تر دندانقان ۴ فرسخه
له هرات تر کروخ ۳ ورځې
له فردگرد تر خرگرد دوې ورځې
له هرات تر باشان ۱ پړاو
له خیسار تر استربیان ۱ پړاو
له مارآباد تر اوبې ۱ پړاو
له هرات تر بینې ۲ پړاوه
له کیف تر بغشور ۱ ورځ
له خُلم تر ورواليز (ولوالج) ۲ ورځې
له تالقان تر بدخشان ۷ ورځې
له سمنگان تر اندراب ۵ ورځې

له درې تر سیستان ۷ ورځې لاره
له نیشاپور تر نسا ٦ پړاوه
له نیشاپوره د قوهستان تر قاین ۹ پړاوه
له مروې تر مروه‌رود ٦ پړاوه
له مروې تر ابیورد ٦ پړاوه
له هرات تر سرخس ۵ پړاوه
له بلخ د امو تر څنډو او ترمذ ۲ ورځې
له بلخ تر بامیانو ۱۰ پړاوه
له بلخ تر بدخشان ۱۳ پړاوه
له ترمذ تر زم ۵ پړاوه
له آمل د خوارزم تر ښاره ۱۲ پړاوه
له کشمیهن تر هرمزفرې ۱ فرسخ
له مروې تر جیرنج (گیرنگ) ٦ فرسخه
له هرات تر مالن نیمه ورځ
له پوشنگ تر فرگرد دوې ورځې
له خرگرد تر زوزن یوه ورځ
له باشان تر خیسار ۱ پړاو
له استربیان تر مارآباد ۱ پړاو
له اوبې تر چشت ۲ ورځې
له بینې تر کیف ۱پړاو
له بلخ تر خُلم ۲ ورځې
له ورواليز تر تالقان[1] ۲ ورځې
له خلم تر سمنگان ۲ ورځې
له اندراب تر جاربایه ۳ ورځې

[1]- په اصل کې طایقان دی.

له جاربايه؟ تر بنجهير (پنجشير) ۱ ورځ
له بلخ تر بغلان ٦ پړاوه
له مذر تر که (کهمرد) ۱ پړاو
له بلخ تر شبورقان ۳ پړاوه
له فارياب تر تالقانو ۳ پړاوه
د پنجشير له معسکر تر پروان ۲ پړاوه
له بلخ تر مذر (مدر و موي) ٦ پړاوه
له که تر باميانو ۳ پړاوه
له شبورقان تر فارياب ۳ پړاوه
له تالقانو تر مروه ردو ۳ پړاوه[1]

## د سيستان او زابل لارې

له سيستان هرات ته لومړی پړاو کرکويه ۳ فرسخه
له بشتر تر جوين ۱ پړاو
له باشتروذ تر کنجر ۱ پړاو
له سرشک تر فره پل ۱ پړاو
له فرې تر درې ۱ پړاو
له کوستان د اسفزار تر خاستان ۱ پړاو
له کاريز سري تر تورغر ۱ پړاو
له جامان تر هرات ۱ پړاو[2]
له کرکويه تر بشتر ۴ فرسخه
له جوين تر باشتروذ ۱ پړاو
له کنجر تر سرشک ۱ پړاو
له فره پل تر فره ښار ۱ پړاو
له درې د سيستان آخر تر کوستان ۱ پړاو
له خاستان تر کاريز سري ۱ پړاو
له تورغر تر جامان ۱پړاو

## له سيستان څخه بُست ته

له زرنج تر زانبوق ۱ پړاو
له سروزن تر حرورې[3] ۱ پړاوه
د بيابان له رباطه- آب شور رباط ۱منزل
له کرودين د قهستان تر رباط ۱ منزل
له عبدالله رباط تر بُست ۱ منزل
له زانبوق تر سروزن ۱ پړاو
له حرورې تر دهک ۱ پړاو
له آب شور تر کرودين[4] رباط ۱ منزل
له قهستان د عبدالله تر رباط ۱ منزل
له دهک د بُست تر يو فرسخۍ پورې ټول بيابان دی[5]

---

[1] - مسالک الممالک، د اصطخري تر ۲۸۲ وروسته.
[2] - پورتنی اثر ۲۴۸.
[3] - جهان‌نامه: حذوري. مقدسي: حروزن. د سروزن او حروري تر منځ د نيشک نهر او د خښتو پل و.
[4] - ادريسي: کرورين. مقدسي کروين. جهان‌نامه: کرود.
[5] - اصطخري ۲۵۰.

## له بُست څخه غزني ته

لـــه بُســـت تـــر فيروزقنـــد ۱منـــزل
لـــه ميغـــون تـــر ربـــاط كبـــير ۱ منـــزل
لـــه پنجـــوايي تـــر تگين آبـــاد ۱ منـــزل
لـــه خرســـانې تـــر سراب[1] ۱ منـــزل
لـــه اوقـــل تـــر جنكـــل آبـــاد ۱ منـــزل
لـــه غـــرم تـــر خاســـت[2] ۱منـــزل
لهجومه- خابسار[3]د غزني‌لومړي بريد۱ منزل
لـــه خشـــباجي تـــر هـــزار ربـــاط ۱ منـــزل

له فيروزقند د ميغون[4]تر رباط پورې ۱ منزل
له رباط‌كبير- رخج ښار يعنې پنجوايي ۱ منزل
لـــه تگين آبـــاد تـــر خرســـانې[5] ۱منـــزل
لـــه سراب تـــر اوقـــل[6] ۱ منـــزل
لـــه جنكـــل آبـــاد تـــر غـــرم[7]كـــلي ۱ منـــزل
لـــه خاســـت تـــر جومـــه كـــلي[8] ۱ منـــزل
لـــه خابســـار تـــر خشـــباجي ۱منـــزل
لـــه هـــزار تـــر غـــزني ۱ منـــزل [9]

## له پنجوايي تر بالس (اوسنی بلوچستان)

لـــه‌پنجـــوايي -حجريـــه‌ربـــاط
(اوســـنۍ‌دبـــرۍ)۱منـــزل
لـــه جنكـــي تـــر ربـــاط بـــر ۱ منـــزل
لـــه اســـفنجاى تـــر ســـپوۍ ۲ پـــړاوه

لـه حجريـه تـر جنكـي ربـاط ۱ منـزل
لـه ربـاط بـر تـر اسـفنجاى ۱منـزل

## په هلمند ناوه کې

له سيستان تـر جـزې پـورې ۳ پـړاوه
لـه جـزې تـر فـرې پـورې ۲ پـړاوه

---

۱ - ښايي اوسنی سراسپ.
۲ - ادريسي: جابست. جهان‌نامه: خواست.
۳ - جهان‌نامه: خوابسار. مقدسي: حاشان.
٤ - ادريسي او جهان‌نامه: معون. مقدسي: ميعوف؟
۵ - مقدسي: حرساد. جهان‌نامه: خراسان.
٦ - ادريسي: اوق. جهان‌نامه: اوفي. مقدسي: اوز.
۷ - جهان‌نامه: عوم. مقدسي: عرم. ادريسي: عزيز.
۸ - ادريسي: حومه. جهان‌نامه: حوم.
۹ - اصطخري ۲۵۲.

لــه نــه تــر فــرې پــورې ۱ پــړاو — له کش تر سیستان پورې ۳۰ فرسخه
له سیستان تر طاق پورې ۵ فرسخه — لــه قــرنین تــر خــواش پــورې ۱ منــزل
لـه بُسـت تـر سروان پـورې ۲ پـړاوه — له پنجوايي تـر کهـک پـورې ۱ فرسخ
له‌سروان - زمینداور تل پورې ۱ پړاو — لــه تــل تــر درغــش پــورې ۱ پــړاو
لــه تــل تــر بغنــین یــوه ورځ — له‌بغنین د بغنین- سوېلي بشلنګ ۱ پړاو[1]

عربو جغرافیه‌پوهانو د خراسان د لارو واټنونه او پړاوونه تر بامیانو او غزني پورې، د دې پورتنۍ یادونې په څېر لکلي دي. څرنګه چې کابل او د افغانستان ختیځ ولایتونه د سند تر ناوې پورې د عباسي پېر تر لومړیو پورې رسماً د خلافت په سیمو کې شامل نه وو، له دې امله عرب جغرافیه‌پوهان چې د معلوماتو مأخذونه یې د بغداد د خلافت رسمي سرچینې وې، د ختیځو ولایتونو د ډاک او لارو پر تفصیل چوپ پاتې دي؛ نو موږ د بحثونو د بشپړوالي لپاره دا مطالب د البیروني له څرګندونو رااخلو:

له لوهاور (لاهور) تر جندراهه نهر ۱۲ فرسخه (هر فرسخ ۴ میله)= ۴۸ میله.

له جندراهه تر جېلمه ۸ فرسخه= ۳۲ میله. له جېلمه د ګندهارا تر پلازمېنې ویهنډه (قندهار) د سند سیند پر لوېدیځه غاړه ۲۰فرسخه=۸۰ میله. له ویهنډ تر پرشاوور (پېښوره) ۲۴ فرسخه= ۹۶ میله. له پرشاور تر دنبور (اوسنی جلال‌آباد او د بابر آدینه‌پور) ۱۵ فرسخه= ۶۰ میله. له دنبوره تر کابله ۱۲ فرسخه= ۴۸ میله. له کابله تر غزني ۱۷ فرسخه= ۶۸ میله.[2]

---

[1] - اصطخري ۲۵۲.

[2] - کتاب‌الهند ۱۶۵.

## لښکري تشکیلات

پخواني آریـایي وگـړي چـې د هنـدوکش لـه لمنـو ختـیځ او لوېـدیځ تـه کوچېـدلي، پـه خپلـو کـې یـې پـوځي تشـکیلات درلـودلي دي. پـه تېـره هغـو ځانګړی پوځي ترتیب درلود چې ختیځ لور او د هند خاورې ته رسېدلي دي.

د پخوانیـو آریایـانو د پـوځي تشـکیلاتو پـه اړه، د مهابهـارت پـه تـاریخي جنګ او د هغهٔ په کتاب کې (د ۱۵/۱۴ مخزېږدې شـاوخوا) نغـوتې شـته، چـې په هغهٔ کې یې یوهٔ لوی پوځي واحد تـه اکشـوهنيAKSHAUHINI یـا اچهـوني وایـهٔ.[1] البېـروني وایـي دا پـوځي نظـام د عسـکرو د چمتـووالي، لېږد رالېـږد او پرځایونې لپاره نیول شوی و، چې تر اسلامي پیره هم موجود و. څرنګـه چـې د کابلشاهانو او رتبیلانو پخواني دودونه له هندي آریایانو سره یو وو، نـو د پـوځ درلودنې دا پخواني دودیز ترتیب یې هم درلودلی دی.

د البېروني د شرحې له مخه: یو لوی پوځي واحد له لاندېنیو اجـزاوو څخـه ترکیبېدهٔ:

د لښکر یو کوچنی واحد یې پتي PATI بالهٔ چې پنځـهٔ پـلي، درې آسـونه، یو پیل او یوه بګۍ په کـې شـامل وو. پـه سنسـکرېت کـې یـې دې عـرادې تـه رتهه RTHA ویله چې په شطرنج کې رخا او د یونانیانو په اصطلاح جنګي بګـۍ ده.[2] د لښکر مخ پورته ترتیب داسې دی:

۳ پتي یو سیناموخ SINAMUKH (درې عرادې، ۹ آسونه، ۱۵ پلي، ۳ فیلان)

---

[1] - هندوستانی سیند ۷۰، د دنکن فوربس، د لندن چاپ، ۱۸٦٦ز.

[2] - کتاب الهند ۳۴۰.

۳ سیناموخ یو ګُلم GULM (نهه عرادې، ۲۷ آسونه، ۴۵ پلي، ۹ فیلان)
۳ ګلم یو ګڼ GAN (۲۷ عرادې، ۸۱ آسونه، ۱۳۵ پلي، ۲۷ فیلان)
۳ ګڼ یو باهینو (۸۱ عرادې، ۲۴۳ آسونه، ۴۰۵ پلي، ۸۱ فیلان)
۳ باهینو یوه پړتنا PRITNA (۲۴۳ عرادې، ۷۲۹ آسونه، ۱۲۱۵ پلي، ۲۴۳ فیلان)
۳ پړتنا یو چمو CHAMU (۷۲۹ عرادې، ۲۱۸۷ آسونه، ۳٦۴۵ پلي، ۷۲۹ فیلان)
۳چمو یو انیکیني ANIKINI (۲۱۸۷عرادې،٦۵٦۱آسونه،۱۰۹۳۵پلي،۲۱۸۷ فیلان)
۱۰ انیکیني یو اکشوهني AKSHAUHINI

په دې ترتیب یو لوی پوځي واحد یعنې اکشوهني په دې ډول و:

۱۰۹۳۵۰ پلي

٦۵٦۱۰ آسونه

۲۱۸۷۰ جنګي عرادې

۲۱۸۷۰ فیلان.[۱]

د (۹س=۳٦۰ز شاوخوا) هغه مهال چې چینایي سیلاني هیونڅانګ د افغانستان ختیځې سیمې او هند لیدل، د دې سیمې د لښکر په اړه لیکي، چې څلور عسکري ډلې یې د البیروني له وینا سره بشپړ سمون خوري، هغه وایي:

«عسکر د کشتریه ډلې له زړورو کسانو څخه غوره کېږي، څرنګه چې زوی د پلار پوځي دنده غوره کوي، د جنګ هنر زده کوي. دا عسکر د امنیت پر مهال تر پاچاهي ماڼۍ په چاپېره کوټ کې پراته وي؛ خو د لښکرکښۍ او مسافرۍ په ورځو کې د لښکر مخکښان وي او څلور ډلې دي:

پلي PATTAKAYA سپاره ASVAKAYA بګیوان RATHAKAYA او فیلوانان HASTIKAYA. فیلان په کارندو وسلو سنبال او په غاښونو کې یې ورته تېرهٔ څوکې

---

[۱] - کتاب‌الهند تر ۳۴۰ وروسته او هندي- انګلیسي سیند ۱۹.

مېخونه لګولي دي. لښکرمشر په بګۍ کې کښېني او دوه کسه ملازمان یې ښي و کیڼ اړخ ته وي. څلور اسونه بګۍ راکاږي او یو ټولی ساتندویان تر سپرلۍ راچاپېرېږي.

په یرغل کې سپره فرقه ځي او پلي دفاع کوي. وسلې یې نېزې، لوی ډالونه او کله تورې او خنجرونه دي. نور ټول جنګي وسایل یې تېرۀ او څوکور دي. ځینې عسکر اوږدې او لنډې نېزې، ډالونه، لیندې او غشي، تورې، خنجرونه، تبرونه او د مچوغنو ډولونه لري.»[1]

په ۱۰۹س= ۷۲۷ز کال کې د هوی- تچه- او HAUEI- TCHE- AO په نامۀ یو بل چینایي سیلاني افغانستان ته راغلی و، چې‌د هغۀ د یونلیک مسوده یې د «تو این- هوانګ» په یوه سمڅه کې موندلې ده، هغه د بامیانو په اړه وایي:

«د بامیانو پاچاه د کوم بل هېواد تر اغېز لاندې نه دی، د هغۀ پلی او سپور لښکر ډېر پیاوړی او زیات دی، نور پاچاهان یې پر هېواد یرغل نۀشي کولای.»[2]

دا وو هغه معلومات چې د هېواد د ختیځو برخو د لښکر په اړه یې د اسلام څلا پر مهال او تر هغۀ پخوا لرو؛ خو په لوېدیځه برخه او خراسان کې چې هغه مهال په کې د ساساني دولت لښکري نظام چلېدۀ. د لښکر یو لوی ټولي ته یې ګُند K (G)UND او د هغۀ افسر ته یې ګُندسالار وایۀ. دا کلمه تر اوسه د ولس د یوۀ لوی ټولي او د څو قبیلو د جنګي ټلوالې په معنی په پښتو کې ژوندۍ او کارېدونې ده. ښایي چې د عربي د جُند کلمه (جمع یې جنود) چې تجنید ترې جوړشوی هم د دې آریایي ګوند معربه وي.

هر ګوند په څو لویو توغونو (دِرَفش) او هر لوی توغ په څو وشت WASHT وېشل کېدۀ. هر لوتوغ ځانګړی توغ درلود. د ساساني دولت په لښکریانو کې د خراسان وګړي، د باختر کوشاني قبیلې، خیون (هونان) او د سګستان سکایان- چې په

[1] - سي. یو. کی، دوهم کتاب ۱۳۹.

[2] - تاریخ افغانستان ۲ /۳۹٦.

زرنج کې اوسېدل- شامل وو.[1]

د لومړي خسرو نوشېروان له پېره او د ۵۴۰ز شاوخوا تر لومړۍ اسلامي پېړۍ پورې، د ساساني پاچاهانو پوځي چارې د څلورو سپهبذو تر څارنې لاندې اداره کېدې. له دې سپاه‌بذانو یوۀ د خراسان، سیستان او کرمان مشري کوله.[2] لکه مخکې مو چې وویل، په سرحدي سیمو کې د لښکر مشري مرزبان او کنارنگ هم کوله او ان دې مرزبان په خوارزم او کابل کې د پاچاه د لقب کارونې حق هم درلود.[3]

د سپاه‌بذ تر لوېې لښکري رتبې لاندې د ارتیشتاران سالار یعنې د لښکرسالار، د شاهي گارډ افسر پشتیگ‌بان سالار، د پلي ټولي قوماندان پایگان سالار، د غشي ویشتونکو د ټولي مشر تیربذ، د شاهي ارگ د ساتندویه ځواک مشر ارگبذ او د ځانگړو لس زریزو سپرو یعنې جاودانانو افسر ورهرانیگان‌خوذای په نومونو رتبې یادېدې. د جان‌اوسپار په نامۀ یو لښکري ټولی و، د زېرمو افسر یې (انبارگ) د وسله‌تون (گنز) یې انبارگ‌بذ او د سپارۀ لښکر افسر یې اسوران سردار بالۀ. د اوستا په یوه برخه کې د ارتیشتارستان په نامۀ باب و، په هغه کې پر جنگي، لښکري او عسکري چارو ځانله بحث شوی و. هغه وسلې چې د دې وخت لښکریانو کارولې، د اسونو زغرې، ټټرزغرې، پتونپوښونه، تورې،[4] نېزې، ډالونه، گورزونه، تبرونه، غشي، چانټې او لیندې وې.[5]

په پوځي او لښکري چارو کې د خلکو د ښوونې او روزنې لپاره د اندرژبذ اسپوارگان په نامۀ د لښکري چارو ښوونکي گومارل شوي وو، چې خلکو ته یې

---

[1] - کریستېن‌سن در ساسانیان، تر ۲۷۴ وروسته.

[2] - پورتنی اثر ۴۹۵ د طبري او دینوري په حواله.

[3] - پورتنی اثر ۴۹۷ د نامۀتنسر په حواله.

[4] - په عربي لښکریانو کې مشهورې تورې، یمني، هندي، شامي، سلېماني او هم خراسانی وې (تاریخ‌التمدن الإسلامی) نو له دې څرگندېږي چې تورې په خراسان کې ډېره مخینه او شهرت درلود.

[5] - ساسانیان په بېلابېلو برخو کې.

وسله چلونه، جنگي هنرونه او تکتیکونه ښوول. عربانو هغوی مؤدب الاساورة بللي دي. دا ښوونکي به ښارونو او کلیو ته تلل چې جنگیالیو ته وسله چلونه او د هغو هنرونه ورزده کړي.[1]

د اسلام راتگ په لومړیو کې د خانخانیو له امله د مرکزیت له نشت سره هم د افغانستان د کوربنو پاچاهانو لښکري وضعیت او پوځي ځواک پیاوړی و. لکه چې د مخه مو د چینایي سیلاني د وینا له مخه د بامیانو د پاچاه پر لښکري ځواک رڼا واچوله، د پخوانیو پوځي لښکرکښیو او تشکیلاتو روښانې مخینې- چې په دې هېواد کې موجوده وه- هر سیمه‌ییز پاچاه دومره پیاوړی کړی و، چې په زړنتیا او سرښندنه یې د خپلې خاورې دفاع کوله. لکه چې په تېرو کرښو کې مو د بامیانو د پاچاه لښکري ځواک د ۱۰۹س=۷۲۷ز شاوخوا د چینایي سیلاني د وینا له مخه وښود.

## د رتبیل جنگي چمتووالی

په لومړی اسلامي پېړۍ کې چې عرب سوبمن لښکریان د سیستان او زابل خاورې ته راورسېدل، دلته د رتبیل پاچاهانو لړۍ واکمنه وه او ډېر وخت یې د عربو سوبمنو پر ضد جنگ او مقاومت کاوۀ. دې خلکو په جنگ او د خپلې په خاورې دفاع کې ځانگړې جنگي روزنه درلوده؛ ډېر ځله یې دلته لویې عربي لښکرې پوپناه او له‌منځه وړې دي.

په ۷۸س= ۶۹۸ز کې د حجاج له لوري د خراسان اموي واکمن عبدالله بن‌ابي بکره له عربي لښکرو سره د رتبیل پر خاوره یرغل وکړ. د غواوو، مېږو او نورو څارویو ډېر غنیمتونه یې ونیول، د دې خاورې کلاوې او کوټونه یې ویجاړ کړل؛ خو رتبیل او د هغۀ ولس چې په جنگي چارو کې ځانگړی چمتووالی درلود، خپلې سیمې یې یوه په بلې پسې دښمن ته پرېښودې. په خپله په غرونو او غونډیو کې پټ شول، کله چې عرب لښکریان له ښارونو څخه راووتل او ۱۸فرسخه مخکې راغلل، نو د رتبیل لښکریانو او ولس په تنگیو او پېچومو کې د هغو مخه ډب کړه. تر دې چې د عربو قوماندان ابن‌ابي بکره خپل زیاتره لښکریان له لاسه ورکړل؛ نو اړ شو چې

[1] - نامۀتنسر ۱۶ او ۵۷، د تهران چاپ ۱۳۱۱ل، کارنامۀ اردشیر بابکان ۶۳-۶۶، د تهران چاپ ۱۳۲۹ل.

اووه لکه درهمه رتبیل ته ورکړي او ځان له دغه مرگه وژغوري. دا پېښه په ۷۹س= ٦۹۸ز کې رامنځ ته شوې ده.[1]

د رتبیل دا دفاعي او لښکري ترتیب له عربي بریدگرو لښکریانو سره څو ځله شوی و، لکه چې له دې پېښې څو کاله د مخه په ۷۴س= ٦۹۳ز کې چې عبدالله بن امیه د حجاج له خوا بُست ته راغی، له رتبیل سره ونښت، رتبیل یو ملیون درهمه ورولېږل؛ خو عبدالله وانخیستل او ویې ویل: چې دا رواق (ښایي د بُست رواق) له زرو ډک نه کړي، له هغه سره سوله نه کوم.

کله چې رتبیل دا کړۀ ولیدل له خپل پخواني چمتووالي یې کار واخیست، شا ته شو او لاره یې پرانیسته، چې د عبدالله لښکریان هغو ځایونو ته راغلل، بیا رتبیل د کنډوونو سرونه او لارې ونیولې؛ نو عبدالله ومنله چې بې له مال اخیستلو له هغې خاورې ستون شي.[2] وروسته چې کله د سیستان اموي حاکم عبدالرحمن بن محمد اشعث په ۸۲س= ۷۰۰ز کې له لس زرو مجهزو (د طاووسانو لښکر) کسانو سره له بُست څخه پر زابلستان یرغل وکړ، رتبیل له همدې دودیز جنگي تکتیک څخه کار واخیست. عبدالرحمن چې د رتبیل د دې جنگي تکتیک پر وړاندې د عربو د لښکر ناوړه پایلې اورېدلې وې، له مخته تگه تېر شو، زړه نازړه بُست ته ستون شو.[3]

## د عربو لښکر او لښکرکوټ (دیوان‌الجند)

څرنگه چې په اموي او عباسي پېر کې د عربو سوبمن لښکریان پر خراسان، زابل، کابل او تخارستان برلاسي شول، هغوی پوځي تشکیلات درلودل او عربي لښکر د روم، مصر او پارس د جنگي اصولو پر پلیون ترتیب شوی و.

په اسلام کې لومړی ځل حضرت‌عمر بن‌خطاب ﷺ لښکر ترتیب او د عسکري چارو د څارنې لپاره یې دیوان‌الجند هم د نورو ادارو په ډله کې رامنځ ته کړ. په هغه کې

[1] - طبري ۵/ ۱۳۷.
[2] - فتوح‌البلدان ۴۹۱.
[3] - تاریخ یعقوبي ۲ /۲۷۷.

يې د لښکريانو نومونه، ځانګړني، د معاش اندازه او د لښکريانو شمېر ثبتاوهٔ. اسلامي سوبمنو لښکريانو د نيول شويو ښارونو په ځانګړو لښکرکوټونو کې استوګنه کوله، چې هغه يې المعسکر بالهٔ. څرنګه چې د اسلامي ملت وګړي هريو د ديني ژمنې يعنې جهاد لپاره د اسلام په لښکر کې ورګډېدل؛ نو د حضرت‌عثمان ﷺ تر شهادته يې ځانګړي لښکر ته اړتيا نه وه. په دې موده کې د اسلامي لښکر شمېر شپاړس زرو ته رسېدهٔ؛ خو د امويانو په پېر کې چې خپلواک پوځي ځواک ته اړتيا شوه؛ نو حضرت‌معاويه ﷺ څلوېښت زره معاش لرونکی لښکر ترتيب کړ. بيا د اموي عبدالملک بن‌مروان په پېر کې د حجاج بن‌يوسف تر قوماندې لاندې منظم لښکر جوړ شو، چې د قحطاني يمني عربو ټولي او مضري‌عدناني ډلې په کې وې.[1] همدا راز په خراسان کې اسلامي عسکري قطعاتو ته کوفي او بصري عرب راغلي او مېشت وو، چې مورږ د دې کتاب د لومړيو څپرکو په پېښو کې ډېر بيا بيا ياد کړل.

د امويانو لښکر دوه ډوله و: پلی او سپور چې په تورو، ډالونو، نېزو، زغرو، غشو او ليندو، منجنيقونو، بګيو او ضبورو (له کلک لرګي او څرمن څخه يې آله او لښکريان به يې په منځ کې د تورو له ګوزار او غشيو ژغورل) مجهز وو.[2] شمېر يې تر يو لک څلوېښتو زرو پورې رسېدهٔ. د عباسيانو په پېر کې دا شمېر دومره لوړ شوی و، چې عباسي هارون‌الرشيد (۱۷۰- ۱۹۳س) يواځې په هرقل پسې ته خپل يو لک و پنځه دېرش زره لښکريان راخوځولي وو.[3]

په خراسان کې هم د عسکرو د نومليکنې او د هغوی د کوپون لپاره ځانګړی دفتر و. د ۱۲۹س په ذوالقعده= ۷۴۶ز کې هغه مهال چې خراساني ابومسلم خپل لښکرکوټ په ماخوان کې سنبال کړ، په ځانګړي پوځي ترتيب سره يې خندق وکيندهٔ او خپل لښکريان يې هلته د جنګ لپاره وګومارل، هغهٔ ځانګړی دفتر جوړ کړ چې د لښکر د کسانو نوم، د پلار نوم او کلی يې په کې وليکل. د دې پوځي دفتر آمر

---

[1] - تاريخ‌التمدن الإسلامی ۱/ تر ۱۱۹ وروسته و تاريخ الإسلام السياسي ۱/ تر ۳۷۲ وروسته.

[2] - پورتني دواړه آثاره.

[3] - تاريخ‌التمدن الإسلامی ۱/ ۱۲۹.

ابوصالح کامل بن‌مظفر و. کله چې دا دفتر جوړ شو د ماخوان د خندق د اووه‌و زرو لښکریانو نومونه یې په کې لیکلي وو. ابومسلم یو ځل د دفتر د آمر په وسیله د هغوی هر کس ته درې درې درهمه او بیا څلور څلور درهمه وبخښل.[1]

همدا رنګه ابومسلم په ګیرنګ (جیرنج) کې هم د محرز بن‌ابراهیم په مشرۍ لښکرکوټ درلود، چې د اموي واکمن نصر بن‌سیار اړیکي یې له مروه‌رود، بلخ او تخار سره پرېکول.

ابومسلم ابوصالح کامل ته امر وکړ چې ګیرنګ ته د محرز د عسکرو د نوملیکنې لپاره څوک ولېږي، هغهٔ د محرز لښکرکوټ ته حمید ازرق ولېږهٔ چې کابو اته سوه کسان یې د پلرونو له نومونو او استوګنځیو سره په کتاب کې ولیکل.[2]

**د تجهیز (تعبیه) نظام**

د اسلامي پېر لومړنیو لښکرکښیو کې مسلمانانو داسې ترتیب درلود چې حضرت‌عمر په یوهٔ لیک کې سعد بن‌ابي وقاص ته شرحه کړی، د هغو عسکري لارښوونو مهم ټکي دا دي:

«د مسلمانانو له لښکر سره تل په تګ کې ملګری اوسه، په هغې لارې یې مه بیایه چې ستونزمنه وي، په اونۍ کې یوه شپه له لښکر سره اوسېږه! بې باوره خلک په کې مه پرېږده. پر سوله‌خوښو تېری مه کوه، پر جنګیالیو بری مه غواړه! خپل پیاوړي او د نظر څښتنان ملګري تل د لښکر په سر کې ګوماره! د سپرلۍ تر ټولو ښه اسونه ورکوه او د جنګي ځمکې پر څرنګوالۍ ځان داسې پوهوه لکه اوسېدونکي یې چې پوهېږي! له دښمن سره هغه څه کوه چې درسره کوي یې...»[3]

همدا راز حضرت‌علي رضي الله عنه د صفین په جنګ (۳۷س= ٦٥۷ز) کې خپلو لښکریانو ته داسې لارښوونه کړې وه:

---

[1] - طبري ٦/ ۳۴.

[2] -پورتنی اثر، ٦/ ۲۷.

[3] - تاریخ الإسلام السیاسي ۱/ ۳۷۵.

«خپلې لیکې د مضبوط دېوال غوندې شکلې کړئ! زغره‌وال لښکر دې مخکې او بې زغرو دې ورپسې وي! تل ثابت قدم، له غشو نه څنګ ته او زړور اوسئ! چیغې مه وهئ! خپل توغونه زړورو کسانو ته ورکوئ او رپاند یې ساتئ! له رښتینولی او زغمه کار اخلئ! ځکه چې بری تل د زغم او ټینګېدا هومره وي.»[1]

د راشده خلیفه‌ګانو له دې ویناوو- چې د مطالبو روح یې ولیکل شو- څرګندېږي چې عرب د لښکریتوب په وضع کې تر اسلامي د مخه صحرایي حالت څخه نظم و سمون ته رسېدلي وو. کله چې د امویانو په پېر کې له نورو ملتونو سره ونښتل؛ نو د تجهیز نظام یې له هغو خپل کړ چې هر لښکر پنځه جزه درلودل؛ نو ځکه یې لښکر خمیس (پنځه جزه) وباله په دې ډول: [2]

مخکښ (مقدمه)

ښي (میمنه) ــــــــ منځ (قلب) ــــــــ کیڼ (میسره)

وروستی (ساقه)

د لښکر په زړهٔ یا منځ کې به مشر و. په مخکښو کې به غالباً سپارهٔ وو. د دې پنځه‌و جزو هره ډله یې کردوس (جمع یې کرادیس) نومله چې د یوناني له کورتیس koortis کلمې څخه اخیستل شوې. دا ترتیب د راشده خلیفه‌ګانو او امویانو په پېر کې دود شوی و.

مسلمانانو یواځې د چمتووالي په دې ترتیب بسنه ونه کړه، چې له مدنیت سره اشنا شول او د پخوانیو کتابونه یې وژباړل او ولوستل؛ نو د عسکري چمتووالي ډولونه یې تر اووه‌و ورسول.[3]

## خو په افغانستان کې

د دې خاورې له جغرافیایي وضعې او توپوګرافی سره سم یې وګړو د یرغل او

---

[1] - تاریخ التمدن الإسلامی ۱/ ۱۴۸.

[2] - پورتني دواړه آثار، همدغه مخونه.

[3] - تاریخ التمدن الإسلامی ۱/ ۱۵۰.

ماتې په جنګ کې ځانګړي ترتيبات درلودل چې د مخه مو د زابل په خاوره کې د رتبيل پوځي چمتووالی او لښکريتوب شرحه کړ.

د ۱۲۹س= ۷۴۶ز شاوخوا چې خراساني ابومسلم د اموي ځواکونو د له‌منځه وړلو او عباسي خلافت د جوړولو لپاره خپل لښکري ترتيبات نيول، هغهٔ د ماخوان په لښکرکوټ کې د ابواسحق خالد بن‌عثمان په کور کې کښېناست او د ۱۲۹س د ذوالقعدې په ۹مه د چهارشنبې په ورځ يې خندق وکيندهٔ چې دوه وره يې درلودل. يو ور يې مصعب بن‌قيس حنفي او بهدل بن‌اياس ضبي او بل ور يې ابوشراحيل او ابوعمرو اعجمي ته وسپارهٔ. خپل عسکر او ټولي يې د هغهٔ په منځ کې ځای پر ځای کړل. په خپله هم د يوهٔ عسکر په څېر په ساده جامه کې د خندق په منځ کې ګرځېدهٔ. د مريانو د ټولي لپاره يې په شوال کلي کې بل خندق وکيندهٔ چې د هغهٔ قوماندانې يې داؤد بن‌کراز ته سپارلې وه. هغو کسانو چې د ماخوان په خندق کې جنګ کاوهٔ، د خپلې نومليکنې لپاره دفتر درلود چې شمېر يې تر اووه‌و زرو پورې رسېدهٔ.[1]

همدا راز ابومسلم په ګيرنګ کې هم خندق وکيندهٔ، چې خپل زر کسه لښکريان يې په کې د محرز بن‌ابراهيم په مشرۍ ځای پرځای کړل او د سرشمېرنې کاتب يې حميد ازرق و. دې لښکر او خندق د اموي حاکم نصر-بن‌سيار اړيکې له مروه‌رود، بلخ او تخار سره پرې کړل.[2]

**لښکرکوټ (المعسكر)**

سوبمن عربي لښکريان چې هر ځای ته رسېدل، نيول شويو ښارونو ته په څېرمه سيمو او يا د ليرې لارو په منځ کې يې د خپلې استوګنې لپاره د لښکرکوټ(معسكر) په نامهٔ ودانۍ جوړولې، چې په پارسي ژبه يې (لشکرگاه) بولي. دا عربي لښکرکوټونه د حضرت‌عمر رضي الله عنه په عسکري سپارښتنه تل په داسې ځايونو کې جوړېدل، چې د

[1] - طبري ۶/ ۳۴.

[2] - پورتنی اثر ۶/ ۲٦.

لښکرکوټ او ښار تر منځ سیند یا بُغرا مانع نه وي. دا لښکرکوټونه چې وروسته پراخ یا ودان شول؛ نو پر ښارونو بدل شول؛ خو د عربو د لښکر قوماندانانو هڅه کوله چې خپل لښکرکوټونه تل د خلکو د ځورولو د مخنیوي لپاره له کورونو او ودانیو څخه لیرې جوړ کړي.[1]

عرب او عجم جغرافیه‌لیکونکي چې د لومړیو اسلامي پېړیو د ښارونو، سیمو او لارو احوال لیکي، ډېر ځله د خلیفه‌گانو د هېواد په ختیځ او لوېدیځ کې د لښکرکوټ (المعسکر) په نامهٔ ځایونه یادوي. د عربي لښکرو پنډغالي او استوگنځي دا وو: د مصر، په خوزستان کې د مکرم، په بغداد کې د المهدي، په خراسان کې د نیشاپور، په عراق کې د سامرا، په فلسطین کې د زیتون او رملې او د بغداد په بصرې ورهٔ کې د ابي جعفر منصور لښکرکوټ.[2] لښکرکوټونه د دغو ځایونو په نومونو وو چې ډېر علمي او ادبي کسان ورته منسوب دي.[3]

نوي راغلي اسلامي عسکر چې په خراسان او زابل کې د ځایي وگړو د یرغل له گواښ‌سره مخامخ وو، نو په بېلابېلو وختونو کې یې د ځانژغورنې لپاره کلک لښکرکوټونه جوړ کړي وو او له هماغو ځایو یې په ښارونو او کلیو حکم چلاوهٔ.

په دري ژبه کې یې دې عربي معسکر ته لشکر یا لشکرگاه ویله. داسې برېښي چې د عربو تر راتگ او عربي ژبې تر دودېدو د مخه یې هم د عسکرو دې استوگنځیو ته لشکرگاه ویله. د معسکر کلمه هم د دري له لشکر جوړه او معربه شوې ده.[4] موږ پوهېږو چې د سیستان په زرنج کې د لښکر په نامهٔ ځای موجود و. کله چې په ۱۸۸س= ۸۰۳ ز کال کې سیستانی خپلواکي غوښتونکی مشر حمزه له خراسانه راورسېد، د عباسي دولت ټول مامورین یې- چې په لښکر کې وو- ووژل او ښار ته راننووت.[5] له دې جوتېږي چې د زرنج لښکرکوټ له ښاره جلا و.

---

[1] - تاریخ‌التمدن الإسلامی ۱/ ۱۳۲.

[2] - معجم‌البلدان ۴/ تر ۱۲۲ وروسته.

[3] - اللباب فی تهذیب الأنساب ۲/ ۱۳۶، د قاهرې چاپ، ۱۳۵۶س.

[4] - معجم‌البلدان ۴ /۱۲۲ او د برهان حاشیې، ۱۸۹۵ز.

[5] - تاریخ سیستان ۱۵۹.

په بُست کې هم له ښاره جلا د لښکرکوټ ډېرې کنډوالې شته چې ځايي وګړي ورته په پښتو لښکري بازار وايي. البشاري مقدسي په ۳۷۵س= ۹۸۵ز کې وايي چې د نيم فرسخ په واټن پر هغې لارې چې غزني ته ځي، د المعسکر په نامهٔ ښارګوټی پروت دی او د پاچاه لښکريان هلته وي.[۱]

د دې لښکرکوټونو جوړېدا د اسلامي پېر په افغانستان کې د اسلامي سوبو لومړيو ته رسېږي، داسې چې د امويانو په پېر کې چې کله عمر بن‌محمد بن‌قاسم تر ۱۱۴س= ۷۳۲ز وروسته په سند سيمه کې د منصورې ښار بنسټ کېښېنود، مسعودي وايي په دې ښار کې يې د کلا دننه لښکرکوټ جوړ کړ، چې ۵۰ زره کسان په کې اوسېدای شول. په اسغالو کې يې ۱۰ زره اسونه ځايېدل. د جنګ و سپرلۍ د اتيا فيلانو لپاره يې په کې فيلخونې جوړې کړې وې.[۲]

د کابل په شمالي غرنۍ لړۍ پنجشېر کې هم په لومړيو اسلامي پېړيو کې يو لښکرکوټ و، چې اصطخري د معسکر بنجهېر په نامهٔ ياد کړی دی او وايي چې له هغهٔ ځايه تر پروانه دوه پړاوه لاره وه.[۳]

د اړتيا پر مهال به عربي لښکريان کله په کېږديو کې اوسېدل. چې کله به سخته يخني شوه او سر سيوری به يې نه لارهٔ؛ نو د ښاريانو او کليوالو کورونه به يې په زور ترې نيول او د عسکري کورونو په توګه به يې کارول. دا هغه مهال و چې عربي واکمنو په دې خاوره کې لښکرکوټونه نه وو جوړ کړي. د حضرت‌عثمان په پېر ۲۹س= ۶۴۹ز شاوخوا کې چې لومړنۍ عربي لښکرې خراسان ته راورسېدې، امير OMAIR بن‌احمر د مروې په ورهٔ کې په خرو راوړيو کېږديو کې واړول، يخني چې ډېره زياته شوه، د مروې دهقانان پر امير او سپاهيانو يې وويرېدل چې له يخنۍ مړهٔ نهٔشي، نو په خپلو کورونو کې يې ځای ورکړ. د لښکرو لپاره د خلکو د کورونو نيولو دود همدې اُمَير راګډ کړ.[٤]

---

[۱] - احسن‌التقاسيم ۳۰۴.

[۲] - مروج‌الذهب ۱ /۳۷۷.

[۳] - مسالک الممالک ۲۸۶.

[٤] - زين‌الأخبار، خطي ۵۸ ب.

## په خراسان کې د عربي لښکريانو شمېر

په خراسان کې د راشده خليفه‌گانو په پېر کې د عربو لښکريانو شمېر کم و؛ خو وروسته د امويانو او عباسيانو په پېرونو کې زيات شو. په ۸۲س= ۷۰۱ز کال کې د زابلستان د رتبيل پر وړاندې د امويانو له خوا د طاووسانو د لښکر لس زره کسان راخوځول شوي وو،[۱] په داسې حال کې چې په ۹۶س= ۷۱۴ز کال کې په خراسان کې د وُکيع په مشرۍ د عربي قبيلو ۵۴ زره او خراساني لښکريان ۷۰۰۰ وو.[۲]

لکه چې رابه شي په خراسان کې د عباسيانو نوي جوړ لښکر چې د فضل بن‌يحيى برمکي له خوا ترتيب شوی و، شمېر يې پنځه‌و لکو خراسانيانو ته رسېدهٔ- شرحه يې په راروانو مخونو کې راځي-

خو د وکيع ۵۴ زره کسيز لښکر لانديني تشکيلات او شمېر درلود:

د بصرې اوسېدونکي ۹ زره }
د بکر قبيلې ۷ زره } د حضين بن منذر په مشرۍ

د بني تمميم ۱۰ زره د ضرار بن‌حصين ضبي په مشرۍ

د ازد ۱۰ زره د عبدالله بن‌علوان په مشرۍ

د کوفې ۷ زره د جهم بن‌زحر او عبيدالله بن‌علي په مشرۍ

د عجمو او خراسانيانو ۷ زره د حيان خراساني په مشرۍ.[۳]

د دې عسکرو ټول شمېر ۵۴ زره و.

د پورتنيو شمېرو له مخه اټکلولای شو چې د عباسيانو تر پېره په خراسان کې زياتره اسلامي لښکريان له عربي قبيلو څخه وو؛ خو فضل بن‌يحيى برمکي زيات خراسانيان په لښکر کې ورننه‌ايستل او ان چې يوه شل زره کسيزه قطعه يې له هغو څخه بغداد ته هم ولېږله.

خو د خراسان په ختيځه خوا يعنې سند کې، کله چې اموي ځوان قوماندان محمد بن‌قاسم په ۹۲س= ۷۱۰ ز کې د سند د راجه‌داهر پر وړاندې جنگېدهٔ، داهر

---

۱ - وگ: د دې کتاب دوهم څپرکی.

۲ - فتوح ۵۲۰ او طبري ۵/ ۲۷۷.

۳ - پورتنی اثر.

شپېتهٔ زره عسکر له سلو فيلانو او لسو زرو زغره‌ورو وسله‌والو سره ميدان ته راايستلي وو، په داسې حال کې چې د محمد بن قاسم تر مشرۍ لاندې ۱۵۵۰۰ سوبمن لښکريان وو، له دې جملې څخه يې ۹۰۰ کسان نفت غورځووني وو.[1]

**عباسي خراساني لښکر**

د امويانو په پېر کې د دولت لښکر ټول عربان وو؛ خو کله چې عباسيان د اسلامي خلافت پر گدۍ کښېناستل؛ نو عربي قبيلوي لښکرې يمنۍ او مضرۍ وې. بنسټ يې پر عربي قبيلوي عصبيت ايښودل شوی و. لکه چې تېر شول عباسيان د خراسانيانو په مرسته پاچاهي پلاز ته رسېدلي وو؛ نو په خپلو پوځي تشکيلاتو يې د خراساني پرگنو لښکرې هم ورزياتې کړې. د پلازمېنې او دربار د ساتنې لپاره يې يوه ځانگړې ساتندويه فرقه يعنې شاهي گارډ هم جوړ کړ.[2]

دا لښکر يې د عباسي پېر په لومړيو کې الجندالخراسانية بالهٔ. په ابن‌مقفع مشهور «روزبه بن‌داذويه» د عباسي منصور د پېر اديب او عالم چې نوی له زردشتي دينه اسلام ته راواوښتی و، په الصحابة (د خليفه او اميرانو مجلسيان) رساله کې- چې د منصور خليفه لپاره يې ليکلې ده- دا خراساني لښکر ستايي، وايي چې ساری يې په اسلام کې نه دی ليدل شوی او په منلو، کمينۍ، پاک‌لمنۍ او سپېڅلتيا کې مشهور دی.

ابن‌مقفع په دې رساله کې خليفه ته سپارښتنه کوي، چې خپل لښکر تر يوهٔ قانون او قوماندې لاندې راولي او د خپلسرۍ روح پياوړي کېدو ته پرېنږدي. بل د مالي چارو اداره بايد د لښکر د مشرانو په لاس کې نه وي. د لښکر مشران بايد وړ کسان وي او له خپلې وړتيا سره سم وگومارل شي. همدا رنگه لښکريان بايد علمي او اخلاقي فرهنگ ولري، ليکل وکړای شي، د دين له احکامو خبر وي او په يوهٔ ټاکلي وخت کې ورته معاش او کوپون ورکړای شي.[3]

د ابن‌مقفع له دې سپارښتنو څخه پوهېدای شو چې اوسنيو اصولو او قوماندې ته د نږدې يوهٔ منظم لښکر تشکيل هغه مهال هم په خراساني لښکر کې په پام نيول کېدهٔ او د

---

[1] - ابو ظفر ندوی در تاريخ سند، ۷۷.

[2] - تاريخ‌التمدن الإسلامی ۱/ ۱۲۲.

[3] - ضحی‌الإسلام ۱/ تر ۲۰۶ وروسته په مجموعه رسايل البلغاء کې د چاپ رسالة الصحابة په حواله.

منظم خراساني لښکر روح په کې نوتی و. داسې چې تر دې وروسته هم همدا پوځي روحيه په اسلامي لښکري نظام کې تر سترګو کېږي، په دې ترتيب:

په ۱۸۷س= ۷۹۴ز کې چې هارون‌الرشيد خليفه د هېواد ټولې چارې خپل وزير يحيی بن‌خالد برمکي ته وسپارلې، هغهٔ خپل زوی فضل بن‌يحيی د خراسان والي کړ. له هغو مهمو کارونو څخه چې فضل په خراسان کې وکړل، يو يې هم د العباسيه په نامهٔ د يوهٔ ځانګړي پنځه‌لکه کسيز ۵۰۰۰۰۰ لښکر جوړول وو، چې شل زره کسان يې بغداد ته ولېږل شول. دا هلته په الکرنبيه مشهور شول او نور يې له دفترونو سره په خراسان کې‌پاتې شول. خراساني‌عربي شاعر مروان بن‌ابي حفصه (۱۰۳س=۱۸۲س) د دې لښکر او د هغهٔ د بنسټګر فضل په اړه بولله وويله چې دا يې څو بيتونه دي:

| | |
|---|---|
| مـا الفضـل إلاشـهاب لا أفـول لـه | عنـد الحـروب إذا مـا تأفـل الشـهب |
| حـام علـی ملـک قـوم غـر سـهمهم | مـن الوراثـة فـی أيـديهم سـبب |
| أمسـت يـد لبنـی ساقی الحجـيج بهـا | کتائـب مـا لهـا فـی غـيرهم أرب |
| کتائـب لبنـی العبـاس قـد عرفـت | ما ألـف الفضـل منهـا العجـم و العـرب |
| أثبـتَّ خمـس مئـين فـی عِـدادهم | من الألوف التی أحصت لک الکتب[1] |

يعنې:«فضل د جګړې د ډګر مېړنی دی، په جنګونو کې کله چې نور جنګيالي مات شي، هغه نه ماتيږي، هغه د هغهٔ پاچاه د قوم ساتندوی دی، چې په وراثت او اصيلوالي کې څرګنده ونډه لري. د حاجيانو د ساقي د اولادونو عباسيانو لپاره د لښکري فرقو په جوړولو کې د هغهٔ لاس و؛ نو په عجمو او عربو کې وپېژندل شول او د دې لښکريانو شمېر د سر شمېرنو او ليکنو له مخه پنځه لکه ته ورسېدهٔ.»

د خراسان او شاوخوا وګړي يې په مېړانې، جنګياليتوب او مقاومت مشهور وو. له همدې امله عباسي لښکر هم په خپل ځومره‌والي او څرنګوالي سره د خلافت په هېواد کې امتياز درلود. د خراسانيانو دا لښکري مهارت دومره و چې لږ شمېر به يې له

[1] - طبري ۶/ ۴۶۲.

لویو لښکرو سره جنګېدۀ. کله چې په ۱۷۷س=۷۹۳ز کې غطریف بن‌عطاء کندي د خراسان حاکم و، د سیستان امیر عثمان بن‌عماره و، څرنګه چې دا مهال حصین سیستاني پاڅون وکړ، عثمان د هغۀ پر وړاندې مات شو. غطریف له خپل لوري جریر بن‌یزید له ۱۲زره لښکر سره د هغۀ مقابلې ته ورولېږۀ، حصین له ۳۰۰ کسانو سره راغی او د جریر ټول لښکریان یې ووژل.[۱]

خراسانیان چې په لښکري چارو کې یې مهارت درلود او د عباسیانو په پېر کې یې جنګي وړتیا لا هم ډېره شوه، د عباسي پېر په لښکري تاریخ کې لوړ ځای لري او ډېر مشهور پوځي نومیالي او سوبمن لښکرکښان ترې راپورته شول. له هغې ډلې طاهر بن‌حسین (۱۵۹س= ۷۷۵ز زوکړی) د هرات د پوشنګ له خلکو څخه و، چې نیکۀ یې مصعب بن‌رزیق، د هرات او پوشنګ حاکم و او هغۀ د مامون لپاره بغداد ونیو. هغه یې د عباسي خلافت پر ګدۍ کښېناوۀ[۲] او وروسته په خراسان کې د طاهریانو د لړۍ بنسټپال شو، شو، چې په اسلامي پېر کې د خراسان لومړنی خپلواک دولت دی. موږ به د هغۀ د پوځي او سیاسي کارنامو په اړه د دې تاریخ په دوهم ټوک کې په تفصیل سره بحث وکړو.

**البسه او عسکري لوازم**

د لومړیو اسلامي پېړیو د عسکرو د عمومي لباس تفصیل معلوم نه دی؛ خو د سپرو ټولې به تل زغرې اغوستې او اوسپنیزې خولۍ به یې په سرولې، چې د ښکاري مرغۀ په ښکو به ښکلل شوې وې. پلیو به لنډ کوټونه اغوستل چې تر زنګنونو لاندې به رسېدل. پښاک یې څپلیو ته ورته و چې غرني پښتانۀ یې تر اوسه هم اغوندي.[۳]

په خراسان کې ځانګړي عسکري لوازمات وو، چې د دې خاورې له ژوندانۀ اوبو، هوا او موسمونو سره یې سمون درلود. په ۱۲۹س= ۷۴۶ز کې چې ابومسلم په ماخوان کې خپل لښکرکوټ سنبال کړی و، په پیل کې عسکري لوازم نه درلودل؛ خو تر څو ورځو وروسته عبدالله بن‌بسطام چې د لوازمو د آمر دنده یې درلوده، د لښکریانو لپاره لاندیني څیزونه برابر کړل:

---

۱ - زین‌الأخبار، خطي ۷۸الف.

۲ - تاریخ الأمم الإ سلامیة ۳/ ۲۰۳.

۳ - تاریخ الإسلام السیاسي ۱/ ۳۷۴ د سید امیرعلي په حواله ۶۴.

۱- وړينې خېمې، لکه د افغاني کېږديو چې په عربي کې ورته فُسطاط (جمع یې فساطيط) او اروقه وايي.
۲- پخلنځي او وسايل يې.
۳- د څارويو اخورې او توبرې چې څارويو ته په کې واښه ورکوي.
۴- د اوبو لپاره د پوستکو[1] وسايل لکه ژی، مشک او داسې نور.

**د لښکر ارزاق**

اسلامي لښکرو پر نبوي پېر د غنيمت د مالونو له پنځه‌و څلور برخې په خپلو منځو کې په مساوي ډول وېشلې او پنځمه برخه یې د پيغامبرﷺ وه.

خو حضرت‌عمر ﷺ د دې کار لپاره اداره جوړه کړه چې ځانګړو پوړونو، د نبوي‌کورنۍ غړو، مهاجرو، انصارو او د مکي اوسېدونکو ته یې ټاکلې پیسې ورکولې. له هغې جملې د لښکر هر ضابط (بريدمن) ته د کال له څلورو تر پنځه‌زرو درهمو او هر عسکر ته له درې سوو تر پنځه‌سوو درهمو پورې ورکول کېدۀ. په داسې حال کې چې هره مياشت به یې ورته د دوه جريبه ځمکې د حاصل هومره (هر جرېب ۳٦۰۰ مربع ګزه) غنم هم ورکول، تر هغې چې د امويانو په پېر کې امير معاويه د لښکر معاش لوړ کړ او پر خپل شپېتۀ زره کسيز لښکر یې شپېتۀ مليونه درهمه ولګول. د هر کس کلنی معاش تر زرو درهمو يعنې د فاروقي پېر د معاش دوه برابرو ته ورسېد.

په خراسان کې د اموي پېر د لښکريانو لګښتونه له دې اټکلولای شو چې حجاج بن‌يوسف څلوېښت زره کسيز لښکر د عبدالملک بن‌مروان په مشرۍ د رتبيل د مقابلې لپاره زابل ته راولېږۀ، بې د لښکرمشرانو له ځانګړو بخښښونو، يواځې لګښت یې دوه مليونه درهمه و. خو د امويانو په وروستيو کې د يوۀ لښکري کلنی معاش پنځه‌سوو درهمو ته رسېدۀ.

کله چې عباسيان د بغداد د خلافت پر ګدۍ کښېناستل، سفاح به د لښکر هر

[1] - طبري ٦/ ٣۴.

کس ته د میاشتې اتیا (کلني ۹۶۰ درهمه) ورکول. د مامون په پېر کې دا معاش د میاشتې شل درهمه پلي او څلوېښت سپاړۀ ته ورکول کېدۀ.[1] همدا ۲۰ درهمه عشرینیه ده، چې په ۲۰۱س= ۸۱۶ ز کال کې د بغداد د عسکرو قوماندان عیسی بن‌محمد بن‌ابي خالد د خپلو ۱۲۵ زرو عسکرو سرشمېرنه واخیسته؛ نو سپاړۀ ته یې څلوېښت او پلي ته یې شل درهمه ورکول.[2]

په ۱۲۹س= ۷۴۶ز کې ابومسلم خراساني د ماخوان د لښکرکوټ په خندق کې د هغۀ ځای د اووه‌و زرو لښکریانو سرې سر ته لومړی درې درې درهمه وبخښل او بیا یې نور څلور څلور درهمه هم ورکړل.[3] څرګنده ده چې دا ډالۍ د لښکریانو د ټاکلي میاشتني معاش برخه وه.

د هغې شرحې له مخه چې محمد بن‌احمد خوارزمي یې ورکوي: د خراسان د لښکر په اداره کې د عسکرو کوپون او حقوق (مواجب) درې ډوله وو:

لومړی: عشرینیه حساب چې په کال کې څلور ځله ورکول کېدۀ.

دوهم: لښکري حساب چې د کال دوه ځله ورکول کېدۀ.

درېیم: خوراکي حساب چې د کال درې ځله ورکول کېدۀ.

د خراسان په اداره کې یې د معاشونو د اداینې وار اَطماع او د عراق په اداره کې یې رزقات (یو ګړی یې رزقه د نوبت او وار په معنی) بالۀ.[4]

عشرینیه یې په درې ژبه کې بیستګاني بلله چې لیکوال یې په شرحه کې یوه خولۀ نه دي: ځینې وایي چې د شل مثقالو په وزن پیسې وې[5] او ځینې په دې اند دي چې هغه یې په شلو ورځو کې ورکوله؛ نو عشریني او بیستګاني ونومل شوه.[6]

خوارزمي چې د عشرینیه کومه شرحه ورکړې، هیڅ شک نه پاتې کېږي چې د

---

[1] - تاریخ‌التمدن الإسلامی ۱/ تر ۱۲۴ وروسته.

[2] - طبري ۷/ ۱۳۶.

[3] - پورتنی اثر ۶/ ۳۴.

[4] - مفاتیح‌العلوم ۴۳.

[5] - تاریخ بیهقي، د سعید نفیسي حاشیې ۳/ ۱۰۶۸، د تهران چاپ، ۱۳۳۲ل.

[6] - شرح یمیني، د منیني ۱/ ۸۹، قاهره ۱۲۸۶س او عربي- فرانسي سیند، د کازیمیرسکي ۲/ ۲۶۱، د پاریس چاپ، ۱۸۶۰ز.

کال څلور څله ورکول کېدهٔ. څرنگه چې د امویانو د پېر د پلیو عسکرو د وروستي معاش اندازه د میاشتې شل درهمه وو، دا دود د سامانیانو او غزنویانو تر پېره هم چلېدهٔ. له همدې امله یې هغه په دري ژبه کې بیستگاني، هماغه د عربي د عشرینیه ژباړه گڼلې ده.

## اربکیان (مطوعه عسکر)

پر کوپونوالو او معاشوالو عسکرو سربېره - چې د حکومت د گومارلو مشرانو تر اداري لاندې او په دېوان جیش کې لیکل شوي وو- کله به رضاکار عسکر هم وو، چې عربو مطوعه او اوسمهال یې اربکیان بولي. دې اربکیانو به تل د دولت له رسمي عسکرو سره په جنگونو او جهاد کې برخه اخیسته. په ۱۷۷س= ۷۹۳ ز کې چې د سیستان له مشرانو څخه داؤد بشر مهلبي، د هارون‌الرشید له درباره د دې ځای امیر وگومارل شو، هغه د همدې کال په ربیع الاخر کې له حضین خارجي (د ابن‌اثیر د وینا له مخه حصین) سره جنگ ته راووت، له هغهٔ سره د اربکیانو او غازیانو ډېر لښکر و، چې لوی جنگ یې وکړ او حضین یې وواژهٔ.[1] مطوعه نوم د عربي د طوع له کلمې څخه اخیستل شوی دی او د جهاد لپاره رضاکار ته یې وایهٔ.[2] نو مطوعه‌وو ته اربکیان او رضاکار عسکر ویلای شو.

## پوځي رتبې او د پوځ ډولونه

د راشده خلیفه‌گانو په پېر کې د جاهلیت د مهال غونډې هر لښکر څو عریفه (جمع یې عرفاء) درلودل چې د هر عریف تر امر لاندې لس کسه وو. دا عریف به د پوځي مخینې له خاوندانو څخه گومارل کېدهٔ.

تر دې وروسته یې صدعریف درلود چې د هر یوهٔ لښکریان به ۳۰ یا ۴۰ او کله ۲۰ کسه وو. د هرو اووه‌و عریفو د لښکر امیر به «امیرالاسباع» نومېدهٔ. دا ترتیب د امویانو تر وروستیو پورې پاتې شو، خو د عباسیانو په پېر کې داسې بدل شو:

د هرو لسو کسو قوماندان عریف و. پنځه عریفان د خلیفه د یوهٔ کس تر امر

[1] - تاریخ سیستان ۱۵۳.

[2] - المنجد ۴۹۳.

لاندې وو. هرو سلو کسانو یو لاربنود یا مشر درلود. بیا په دې ډول شول:

۱۰ کسه= یو عریف

۱۰ عریفه یا سل کسه= یو نقیب

۱۰ نقیبه یا زر کسه= یو قاید

۱۰ قایده یا لس زره کسه= یو امیر[۱]

**جنګي توغونه**

مسلمانانو د خپلو سوبو په لومړیو کې د ګوربت (عقاب) په نامهٔ توغونه درلودل، چې دا نوم یې له رومیانو اخیستی و او رنګ یې سپین یا تور و. کله چې اسلام خپور شو، د بنې، رنګ او نامهٔ له مخه د دې توغونو ډولونه بېلابېل وو.

د امویانو توغ سور، د عباسیانو تور، د علوي داعیانو سپین او د هاشمي داعیانو شین و. کله چې به یې دا توغونه پورته کول او چا ته به یې سپارل؛ نو ځانګړې دعاوې به یې ویلې او خلیفه‌ګان به په خپله له توغ او ډول سره له خپلو استوګنځیو د توغ تړون (عقد لواء) لپاره راوتل. کله چې به د ځانګړو امیرانو په مشرۍ بېلابېلې لښکرې جوړې شوې، هر امیر ته به جلا توغ ورکول کېدهٔ.[۲]

په خراسان کې تر اسلام د مخه هم توغ کارېدونی و. فردوسي د خراسان په بېلابېلو جنګونو او جنګي ډګرونو او د دې خلکو د سیستان، زابل، کابل، بلخ او نورو په لښکرکښیو کې د توغ بېلابېل نومونه، ډولونه او رنګونه یادوي. څرنګه چې دې دود په خراسان کې اوږده مخینه درلوده، نو په ۱۲۹س= ۷۴۶ز کال کې چې کله د خراسان لوی مشر ابومسلم د خرقان په (سپیدنګ) کې خپل لښکرکوټ جوړ کړ، د همدې کال د روژې پر ۲۵مه یې هغه توغونه پورته کړل چې یو سیورۍ (ظل) او بل وریځ (سحاب) نومېدهٔ او ابراهیم امام ورته رالېږلي وو. لومړی پر ۱۴ ذرعي نېزې او

[۱] - تاریخ‌التمدن الإسلامی ۱/ ۱۳۰.

[۲] - پورتنی اثر ۱/ ۱۳۵.

دوهم پر ۱۳ ذرعي نېزې پورته کېدۀ. د سيوري د نامۀ موخه دا وه چې ځمکه بې سيوري نه وي. د وربځې تأويل دا و چې وربځ پر ځمکه راتاوېږي يا ځمکه پوښي؛ نو د عباسيانو خلافت به همداسې وي.[۱]

**په جنګي چارو کې ډهل کارېدنه**

عربي لښکر له عجمي وګړو سره د اړيکو او ګډېدنې پر مهال د ډهل او برغو کارېدنه له هغو څخه خپل کړل او په يوۀ لښکر کې به څو ډهلونه او برغوګان وو.[۲]

په خراسان کې هم د جنګ پر مهال ډهل کارېدۀ. د ډهل بږغ يې د لښکريانو د خبر او د لښکرمشرانو د امرونو رسولو لپاره کاراوۀ. د بېلګې په ډول د يرغل يا بريد ډهل يو ډول او د يرغل درونې او شاته کېدنې ډهل بل ډول و.

په هغۀ جنګ کې چې خاقان، د سغد پاچاه، د شاش او ختل واکمن، تخاري جبغويه او د ترکانو د متحدو ځواکونو او مسلمانانو تر منځ په ۱۱۹س= ۷۳۷ز کال په جوزجان کې رامنځ ته شوی و، خاقان امر وکړ چې ډهل د راشاته کېدنې په دود ووهل شي؛ خو عسکر يې په جنګ کې ډېر بوخت وو او نه شو پر شا کېدلای؛ نو درې ځله يې د نغارې په وهلو د پرشاتګ امر وکړ او بيا يې ماتې وخوړه. عربو مسلمانانو يې ټول مالونه ونيول. کله چې خاقان بر تخار ته ورسېد، هلته يې بيا له سره ډهلونه ووهل، نغارې يې وډنګولې او خپل هېواد ته راوګرځېدل.[۳] د جنګ په ډګر کې د ډهل کارېدنې دا دود تر اوسه پورې په پښتني قبيلو کې ژوندی دی. ډهل د خبرولو، يرغل، پر شاتګ او يا نورو يواځينۍ وسيله ده.[٤]

**سرحدي عسکر**

تر راشده خليفه‌ګانو وروسته د امويانو او عباسيانو په پېر کې د اسلامي هېواد پراختيا له افريقا او استانبوله د چين تر پولو او د هند تر منځه ورسېده. مسلمانانو د

---

[۱] - طبري ٦/ ۲۵ او الکامل ۵/ ۱۷۰.

[۲] - تاريخ‌التمدن الإسلامي ۱/ ۱۳٦.

۳ - طبري ۵/ ۴۵۲.

[٤] - وګ: د همدې څپرکي د ژوندانۀ ډول او دودونه په بحث کې د ډهل وهنې سرليک.

اسلامي هېواد په ټولو پولو کې سرحدي لښکرکوټونه درلودل، چې په هغو کې یې د خپلو لښکریانو ټاکلې اندازه د بریدپولو د ساتلو لپاره گومارله. څرنگه چې به یې کال پر کال د جهاد چارې هم ترسره کولې، نو دا سرحدي لښکرې به یې په مناسبو وختونو کې پیاوړې کولې، له خپلو پولو به د نااسلامي هېوادونو څمکو ته وراوښتې، جهاد به یې کاوهٔ، غنیمتونه به یې نیول او مریان به یې تر لاسه کول.[1]

د ساري په ډول د خراسان عربي واکمنو د خپلو شمال ختیځو پولو په نوشجان کې چې د شاش (تاشکند) شاوخوا دی، تل شل زره سرحدي لښکر ساتهٔ.[2]

لکه چې تېر شول د امویانو حاکم اشرس په خپلو لښکري تشکیلاتو کې لومړی ځل رابط‌لښکر رامنځ ته کړ، چې دنده یې له دښمنه د بریدپولو ساتنه وه. د هغهٔ مشري یې عبدالملک باهلي ته سپارلې وه.[3]

**منجنیق**

منجنیق (د مچنوغزې غوندې خو لویه) د تیرې، غشي، په تېلو ککړو توکو او د ویجاړې د نورو الاتو یوه لیرگوزارې آله ده، چې فنیقیانو کاروله. یونانیانو او پارسیانو هم له هغوی څخه خپله کړې ده. عربو هم د اسلامي پېر له لومړیو څخه کاروله.

په دې کې شک نهٔشته چې منجنیق په خراسان کې د جنگ او ښکار آله وه، ځکه د هغهٔ یو ډول چې له اوبدلو وړیو یې جوړوي، تر اوسه یې کوچي شپانهٔ د رمې د راستنولو لپاره کاروي. ان د سیند لیکوال فیروزآبادی په دې گروهه دی چې منجنیق کلمه هم د پارسي له «من چه‌نیک» معربه شوې کلمه ده (؟) په داسې حال کې چې ریښه یې د یوناني په میخانیکوس او مغانیکون MAGHGHANIKON کې شته.[4]

د اسلامي پېر د افغانستان په جنگونو کې د منجنیق کارونه عامه وه. په ۳۶س= ۶۵۶ز کال کې چې کله عبدالرحمن بن‌سمره له عربي لښکر سره کابل ته راورسېد، څو میاشتې یې دا ښار کلابند کړ او په پای کې یې د منجنیق په گوزار د کابل په

---

[1] - تاریخ‌التمدن الإسلامی ۱/ ۱۵۳.

[2] - کتاب‌الخراج، د قدامه ابن جعفر ۲۶۲.

[3] - وگ: ۱۸۲مخ.

[4] - د برهان قاطع حاشیې ۴/ ۲۰۳۹.

هسک‌کوټ (بالاحصار) کې درز وکړ او دا ښار يې په زور ونيو.[1]

مسلمانانو د خراسان د ختيځو سيمو يعنې سند په نيولو کې هم لوی منجنيقونه کارولي دي. په ۹۲س= ۷۱۰ز کال کې د امويانو سوبمن قوماندان محمد بن‌قاسم او اموي ځوانانو د سند سمندري بندر ديبلکلابند کړ. په عروس نومي منجنيق يې - چې پنځه‌سوو کسانو به لېږداوه- د ديبل عبادتځي گومبزه ونړوله او ښار يې ونيو.[2]

[1] - فتوح‌البلدان ۴۸۸.

[2] - فتوح‌البلدان ۵۳۵.

## ټولنه او د خلکو پرګنې

چينايي سيلاني هيونڅانګ چې د ۹س کال شاوخوا يې د افغانستان شمالي او ختيځې برخې وليدلې، په ختيځو سيمو لکه هند کې يې وګړي په څلورو پوړونو وېشلي وليدل:

۱- برهمن: د دين ساتندويان او هغه کسان چې پر ديني لارښوونو سخت ګروهمن دي او په سپېڅلتيا او ديني مينه ژوند کوي.

۲- کشتريه: پاچاهان، حاکم پوړ او لښکريان چې د لورېينې او مهربانۍ ژوند کوي.

۳- ويسيه: سوداګر چې سوداګريز پېر و پلور کوي.

۴- سودره: بزګران او کروندګر چې په کرکيله بوخت وي.[1]

د اسلامي پېر د لومړيو په هند کې دا څلورګوني پوړونه وو. څرنګه چې د افغانستان د ختيځو سيمو وګړي هم په دين، فکر او پخوانيو آريايي دودونو کې له هنديانو سره يو وو، نو همدغه پرګنيز پوړونه CASTE دلته هم وو (بې له څلورم پوړه چې چارې يې د دريېم پوړ اړوندې شوې وې.)

خو د دې ټولنيزې ډلبندۍ بنسټ د دې خاورې په تاريخ کې پخوانۍ ريښې لري، چې د ختيځو آريايانو پخوانی کتاب ويدا يې سرچينه ده. همدا رنګه د اوستا په کتاب او د نورو آريايي قبيلو په دودونو کې- چې د خراسان په لوېديځ کې وې- د دې فکر پخواني څرکونه ليدل کېږي.

### په ختيځ کې

چې کله آريايي قبايل د هندوکش له لمنو ختيځ لور ته وخوځېدل او د هند په وېړه ځمکه کې خپارهٔ شول، هلته د هند له پخوانيو تورسکاېو وګړو (دراويدين) سره

---

[1] - سي. يو. کی، دوهم کتاب ۱۳۸.

مخامخ شول، چې هغه یې داسیو یعنې دښمنان او ناآشنا وګڼل او د ویدا د وینا له مخه:

«د باد رب‌النوع «ماروت» پر داسیو برید وکړ او د تالندې په تنا او ګړز ګړوز یې پوپناه کړل. د هغوی څرڅایونه او کروندې یې په خپلو سپین وزمو ملګرو ووېشلې.»[1]

دا تورسکانې وګړي چې د آریایي ارباب الانواعو له غوسې سره مخامخ شول، د ویدا په کتاب کې د چټلو او مردارو، تورسکانو، پیت پوزو یا مړپوزو په ځانګړنو سره یاد شوي دي؛[2] خو څېړونکي په دې باور دي چې د پرګنو توپیر او کاسټ- چې په سنسکرېت کې ورته ورڼه VARNAیعنې رنګ COLOUR وایي او په انګلیسي کې یې له پرتګالي«کاسټا» ریښې څخه CASTE د نژاد او نسل په معنی اخیستی دی-[3] د افغانستان د خاورې د پخوانیو آریایانو په منځ کې نه و، بلکې ختیځ او د هند لویې وچې ته تر لېږد وروسته رامنځ ته شو. ځکه موږ دا توپیر او پوړیز غوره‌والی په لومړیو ویدونو کې نه وینو. یادونه یې لومړی ځل په لسم وید او ۹۰مه برخه کې چې پوروشه PURUSHA نومېږي، داسې تر سترګو کېږي: «څرنګه چې د پوروشه (نړیوال نفس) تنه ووېشل شوه، برهمن له خولې، راجینا (کشتري) له مټ، ویس له ورون او شودر یې له پښې څخه راپیدا شول.»[4]

لکه چې د وروستیو ویدونو له مضامینو څرګنده ده، آریایان ګروهمن وو، چې خوله تر نورو غړو غوره ده؛ نو برهمن غوره، کارند، علمي او لارښود پوړ دی. خو کشتریه پوړ چې له مټه پیدا شوی دی؛ نو د ساتنې، جنګ او ادارې دنده لري. ویس چې د پوروشه له ورانه څخه پیدا شوی، نو د تمدن، بزګرۍ او ځمکوالۍ د نظام ټینګښت ورسره اړه لري؛ خو شودر پوړ چې له پښې راوتلی دی، تل باید خدمتګار او نوکر وي.[5]

---

[1] - ریګویدا ۱/ ۲۲.

[2] - ویدي هند، د مېرمن راګوزن اردو ژباړه، حیدرآباد دکن ۲۲۰ مخ.

[3] - کیمبرج هسټري آف انډیا (انګلیسي) ۱/ ۹۲.

[4] - ویدي هند ۲۱۷.

[5] - ریګویدا، لومړی ټوک، پوروشه سوکته.

**په بلخ کې**

د کیانیانو د پېر په افسانوي تاریخ کې چې د بلخ خاورې او د ایران صحرا په ختیځ پورې اړه لري، د فریدون د درې زامنو داستان او پر هغو درې زامنو د نړۍ وېش مشهور دی، چې په اسرایلي روایاتو او تورات کې یې هم بېلګه د نوح درې زامن: سام، حام او یافث دي. په پخوانیو شهنامو او خدای‌نامو کې د فریدون د درېو زامنو روایت راغلی و. فردوسي هم هغه په نظم کړ چې لنډیز یې دا دی:

بسوی فریدون نهادند روی　جوانان بینا دل و رهجوی
چو دیدند پرمایگان روی شاه　پیاده دوان برگرفتند راه
برفتند و بر خاک دادند بوس　فرومانده جای فیلان و کوس
وزان پس سه پسر خود را بخواند　بر تخت گرانمایگي برنشاند[1]

فریدون بیا پر خپلو زامنو دا نومونه ږدي:

تو بی مهتر و سلم نام تو باد　بگیتی بر، آکنده کام تو باد
میانه کز آغاز تیری نمود　ز آتش مر اورا دلیری فزود
ورا تور خوانیم شیر دلیر　کجا ژنده فیلش نیارد بزیر
دگر کهتر آن مرد باهنگ و جنگ　که هم با شتابست وهم با درنگ
کنون ایرج اندر خور نام اوی　همه مهتری باد فرجام اوی[2]

بیا نو فریدون د دې درېو ورونو تر منځ نړۍ داسې وېشي چې لومړی خاور خدای، دوهم توران شه او درېیم ایران خدای بولي.

نهفته چو بیرون کشید از نهان　بسه بخش کرد آفریدون جهان
یکی روم و خاور، دگر ترک و چین　سوم دشت گردان ایران زمین
نخستین به سلم اندرون بنگرید　همه روم و خاور، مر او را گزید
به تخت کیان اندر آورد پای　همه خواندندیش خاور خدای

[1] - شهنامه ۱/ ۶۳.

[2] - پورتنی اثر ۱/ ۶۴.

دگـــر تـــور را داد تـــوران زمـــین وراکـــرد ســـالار ترکـــان و چـــین
بزرگـــان بـــرو گـــوهر افشـــاندند جهان پـاک تـوران شـهش خواندنـد
و زان پس چو نوبـت بـه ایـرج رسید مـر او را پـدر شـهر ایـران گزیـد
سران را که بدهوش و فرهنگ و رأی مر او را چه خواندند؟ ایـران خـدای[1]

د پهلوي متونو د دې داستان له مخه د فريدون له دريو زامنو تور مشر و او توران شه شو. دوهم يې سلم خاورخدای د سرمتي پرگنو نيکهٔ سرمت بن‌واقد د روم هېواد قوماندان و. درېيم ايرج ايران خدای او د ايرانشهر څښتن شو. د اوستا کتاب په يوې برخې يشتونو کې د توره کلمه د ايراني په مقابل کې کارېدلې ده؛ خو دا ټکر بايد اصلي ونه گڼل شي، ځکه په څرگنده د يوهٔ ښارمېشتي نژاد چې د څارويو په روزنه او کرکيله بوخت و او په بېديا کې د کېږدۍ مېشتو توريانو تر منځ يو تمدني توپير دی.[2]

نو د فريدون د زامنو، دريو ورونو داستان لکه چې ياده مو کړه د آريايي قبايلو په داستاني پېر کې موجود و او په دې دلالت کوي چې دا پخوانۍ ډلبندي ده او پر آريايي آرو وگړو سربېره په سامي قبايلو کې د نوح عليه‌السلام په درې زامنو کې هم د هغهٔ نخښې ليدل کېږي.

ژرژدو مزيل G. DUMESIL د کلژدو فرانس[3] استاد چې فرنگي ختيځپوه دی، په دې اړه گټوره شرحه ورکوي چې پر زردُشتي پېر اړه لري او لنډيز يې دا دی:

«پخوانۍ آريايي ټولنه له دريو ډلو روحانيونو، جنگياليو او شتمني توليدوونکو څخه جوړه وه او د پخواني هند بنسټي کاسټونه هم برهمنان، جنگيالي نجيبان او شپانهٔ بزگران وو.

د ايران په پراخه بيديا کې- چې له سند ناوې د دجلې تر څنډو پورې پرته وه- هم درې پرگنې مېشتې وې، چې هره يوه يې د زردُشت درې‌گونو زامنو ته منسوبه ده. مشر زوی يې روحاني، دوهم يې جنگيالی او درېيم يې شپون و. خو د ټولنيز پرمختگ په پېر کې پر درې‌گونو پوړونو بل هم ور زيات شو چې

---

[1] - شهنامه ۱/ ٦٥.
[2] - ايرانشهر مجله، د مارکوارت مقاله، د برلين چاپ ۱/ ۷۷ سپټمبر ۱۹۲۲ز د يادگار زريران په حواله او بندهش ۲۱۱.
[3] - (فرانسوي کالج- ژباړن)

د صنعتگرانو او سوداگرو پوړ و. د نورو اسنادو له مخه د اسلام څلا ته نږدې پر ساساني پېر ځينې پرګنې ليږې او پر ځای يې نورې رامنځ ته شوې دي. د ساري په ډول ثعالبي وايي په اسلامي پېر کې درېيم پوړ بزګران ليږې او ځای يې دولتي چارواکو ونيو، جنګيالي لومړي پوړ ته ورپورته او روحانيون او طبيبان دوهم پوړ ته لاړل.

د اروپا په پراخه سيمه کې چې همدغه آريايي وګړي اوسېدل د سکايانو، سيتانو او سرمتانو په منځ کې هم درې‌ګوني پوړونه ښکاره دي. په دې معنی چې د تاريخ پلار هيرودوت د خپل څلورم کتاب په سر کې د سکايانو د ګروهې له مخه د هغو د پيدايښت په اړه وايي:

« تارژيتائوس TARGITAOS د زئوس زوی لومړنی نرينه دی چې په هغې خاورې کې پيدا شو دی، چې څوک په کې نهٔ اوسېدل. مور يې د رود بوريستن BORYSTHENE لور وه او درې زامن يې درلودل:

۱- ليپوخائيس LIPOXAIS

۲- ارپوخائيس ARPOXAIS

۳- کولاخائيس KOLAXAIS

يوه ورځ له اسمان څخه اوسپنيز غويی د سرو زرو له ييوې، تبر او کټوري سره ځمکې ته راکښته شو. مشر زوی يې د مخه ورمنډه کړه چې اوزار تر لاسه کړي؛ خو چې وررورسېدهٔ نو سرو زرو يې لاس وسوځاوهٔ. چې دوهم زوی يې هم په همدې برخليک اخته شو؛ نو دواړه د سرو زرو د دې توکو له تر لاسولو څخه تېر شول؛ خو کوچنی زوی يې د هغو په تر لاسولو بريالی شو او لويانو ورونو د خپل پاچاه په توګه ومانهٔ.»

په دې خوږه کنايه کې درې لامله ياد شوي دي: غويی، اوسپنه او ييوه د بزګرۍ نخښه- تبر د سکايانو جنګي وسله او کټورې د ديني تشريفاتو، خماري څښاک د اسرارو او روحانيت د نړۍ سمبول دی. چې دا روايت تر اوسه هم د قفقاز د سکايانو په اولادونو کې پاتې دی. درې لويې کورنۍ يې چې حماسي اتلان يې هغو ته منسوب دي، يوه د بې شمېره رمو څښتنه، دويمه يې جنګيالي او مشران او درېيمه يې

د ډېرې څېرکۍ او هوښیارۍ ښتنه وه.[1]

دا ده د سکایانو او د درې لومړنیو زامنو کیسه چې د سکستان (سیستان) خاوره یې په نامهٔ ده او بېلګه یې په اوستا کې زردُښت او د هغهٔ درې زامن ګڼل شوي، چې لنډیز یې دا دی:

۱- مشر زوی: ایست واستره ISAT--VASTRA لومړنی آتهره‌ون ATHRAVAN یعنې د فردوسي آتوربان- د عالمانو او روحانیونو مشر و- د اوربلي او اورساتي په معنی.

۲- اوروه تت نره URVA TAT--NARA لومړنی واستریه VASTRYA یعنې د فردوسي بسودي چې د بزګرانو او کروندګرو مشر او لاربنود و.

۳- هوره‌چیثره HVARE--CHITHRA د لمرمخي په معنی، لومړنی رته اشتره RATHA--ESHTRA یعنې د فردوسي نیساریان چې د رشتاریان کلمې اوښتې بڼه به وي او هغه د جنګیالیو مشر او جهان پهلوان و.[2]

د زردُښت د دودیزو کتابونو د دې روایت له مخه، د هغهٔ درې زامن د درې پوړونو روحانیونو، بزګرانو او جنګیالیو په سر کې وو، بیا د کارګرو او کسبګرو یو بل پوړ هویتش HUITSH هم پرې ورزیات شو،[3] چې د فردوسي اهتوخوسي به وي او په پهلوي کې هوتخشHUTOXSH و.[4] په پای کې د ساساني پېر په اصطلاح دا څلورګوني پوړونه د اسلام تر خپرېدا پورې داسې موجود وو:

۱- آذروان: دیني عالمان او روحانیون.

۲- آرتیشتاران: سپاهیان او جنګیالي.

۳- دبهیران: منشیان، حکومتي چارواکي او لیکوال.

---

[1] - تاریخ تمدن ایران تر ۵۴ وروسته، پارسي ژباړه، د تهران چاپ ۱۳۳۹ل او تمدن ایرانی تر ۴۷ وروسته، د ډاکتر عیسی بهنام ژباړه، د تهران چاپ، ۱۳۳۷ل.

[2] - فروردین یشت ۹۸ بند.

[3] - ۱۹مه یسنا ۱۷ بند.

[4] - مزدیسنا و تاثیر آن در ادبیات پارسی ۴۰۸ او ایران‌نامه ۱/ ۳۸۰.

۴- واستریوشان: (کروندگر، بزگران) او هوتخشان[۱] (سوداگر، کسبگر، زیارکښ او خادمان.)

هغه څه چې له تنسرنامې (۵۷۰ ز شاوخوا) څرگندیږي، هم په همدې ډول دي چې تېر شول. نو په ډېر لږ توپیر- چې د ویدا او اوستا د ډلبندۍ او سکایانو د روایاتو تر منځ شته- د ایران بېدیاني وگړي د اسلام د څلا پر مهال په همدې څلورو ټولنیزو پوړونو وېشل شوي وو، چې د خانخانیو په رژیم کې څلورم پوړ تل تولیدوونکی او د نورو پوړونو تر زبېښاک لاندې و. نو د ټولنې د زیاترو مالیو او ټیکسونو پېټی د بزگرانو، کسبگرو او زیارکښانو پر اوږو پروت و.

اوس د خراسان د ختیځو څنډو او افغان غرنیو سیمو د خلکو ترمنځ ټولنیزې ډلبندۍ ته راگرځو، چې د پښتون د لویو قبیلو (چې شمېر یې تر ۱۵ملیونه[۲] زیات دی) تر منځ هم لکه د زردُشت درې زامن یا د سکایانو د تارژیتائوس درې زامن پخوانی روایت شته. دا وگړي په خپلو روایاتو کې د یوهٔ پلار منونکي دي، چې نوم یې کیس[۳] (د کاف په زور، د دوهم او درېیم په سکون) و، وایي چې دې پلار درې زامن درلودل:

۱- غرغښت GHARGHASHT

۲- بېټنی BETANAI

۳- سړه‌بن SARABAN

دا پلار او زامن د پښتون له کورنۍ سره په کسي (سلېمان) غرهٔ کې مېشت وو. پلار به تل په مناجاتو او د خپلو زامنو په خیر او ښېگڼې غوښتنو بوخت و او د دعا لاسونه به یې لپه کول. تر دې چې د مېړانې باد راوالوت او د لومړي زوی غرغښت پر ژبه ولگېدهٔ، نو هغه د ژبې، وینا، پوهې، تلقین او روحانیت څښتن شو. تر اوسه هم

---

۱ - کریستین‌سین در کتاب ساسانیان، ۱۲٦.

۲ - دا د کتاب کښنې د مهال اټکلي سرشمېرنه ده، اوس د پښتنو شمېر د اویا ملیونو شاوخوا اټکل کېږي (ژباړن).

۳ - کیس د پښو د کسل له مصدره د لیدلو او بصیرت په معنی دی، چې کیس بصیر او څېرک دی. له دې نامهٔ د قبیلو او څایونو ډېر نومونه رامنځ ته شوي دي، لکه: کاسي (په غور کې قبیله او ځای) او کسي‌غر (وروسته سلېمان غر) همدا ریښه د پښتو په کسي (د سترگو گاټې) او کیس کمېدل (کم عقلي او بې بصیرتي) کې خوندي ده.

زیاتره پښتانهٔ عالمان او روحانیون له دې پوړ څخه دي او د ږوب او پښین سیمې د کاکړو لویې قبیلې د دې پوړ اولادونه دي، چې عالمان او د ذوق و حال څښتنان په کې تېر شوي دي.

د بل زوی یعنې بېټني په اړه روایت دی چې د مېړانې باد یې پر مټ لګېدلی و؛ نو غلجي او کرلاڼي قبیلو او څانګو یې چې هغو ته منسوب دي، د پوځیتوب او جنګیالیتوب منصب وساتهٔ، چې لهمنځه یې زړور لښکرمشران او جنګیالي راوتلي دي.

خو د درېیم زوی سړهبن په اړه وایي چې د مېړانې باد یې په لمنه لګېدلی و؛ نو هغه د لمنې، پالنې، ادارې او واکمنۍ څښتن شو. ابدالي (پخواني هفتالي) قبیلې او تر دولسمې پېړۍ وروسته درانیان له دې سړهبن قبیلې څخه دي، چې له اسلام د مخه تر اوسه پورې واکمنان، حاکمان او پالونکي دي او د لورېینې او مېړانې لمنه لري.

دا پښتني دود او عنعنه کټمټ هغه څه ته ورته ده، چې په اوستا کې د زردُشت د درېو زامنو یا د هیرودوت په یادښتونو کې یې د سکایانو د پېر د پوړونو په اړه لولو؛ خو تر ټولو پخوانۍ سرچینه یې په ویدا کې هم شته.

باید وویل شي چې پښتني روایت ښایي له اسلام د مخه څخه اسلامي زمانو ته رالېږدېدلی وي، چې د څومرهوالي او څرنګوالي له مخه د سکایانو له روایت سره ډېر سمون خوري؛ خو له ساساني او هندي روایتونو سره یې توپیر په دې کې دی چې د دې دواړو وطنونو د قبیلو او ستراکیو پیاوړي او ځواکمن پاچاهي سیاسي نظام، پانګزېږي پوړونه، بزګران او کسبګر له روحاني او واکمن پوړ څخه بېل، محکوم او مظلوم کړي وو؛ خو په درېو پښتني پوړونو: ۱- غرغښتي روحانیونو۲- بېټني جنګیالیو ۳- سړهبني واکمنو کې پانګزېږی محکوم پوړ چې د نورو تر زېښاک لاندې و، نهشته او بزګري او کسبګري یوهٔ پوړ ته ځانګړي نه وو. هر پوړ بزګران او کسبګر درلودل؛ نو یو ډول ټولنیز انډول موجود و او هیڅ پوړ د بل تر زېښاک لاندې نه راتهٔ.

په لاندیني لښتلیک کې د دې پرګنو اوډون له بېلابېلو سرچینو څخه رالنډېږي:

د پوړونو پرتليز لښتليک

| گڼه | ويدا | زردُشتي اوستا | کياني بلخي | سکايان د هيرودوت په وينا | پښتون |
|---|---|---|---|---|---|
| ۱ | برهمن د پوروشه له خولې (روحانيون) | آذروان، د زردُشت د مشر زوی: ايست واستره (روحانيون) | سلم د فريدون زوی | ليپوخائيس د تارژيتائوس زوی (روحانيو او ځيرکان) | غرغښت د پښتون کيس مشر زوی (روحانيون او پوهان) |
| ۲ | کشتريه د پوروشه له مټ (جنگيالي) | آرتيشتاران د زردُشت د زوی هوره‌چيثره (جنگيالي) | تور د فريدون زوی | اربوخائيس د تارژيتائوس دوهم زوی (جنگيالي) | بېټنی د پښون کيس دوهم زوی د غلجيانو سته (لښکريان) |
| ۳ | ويسيه د پوروشه له ورانه (کروندگر او سوداگر) | واستريوشان او هوتخشان د زردُشت د زوی اوروه تت نره (کروندگر او کسبگر) | ايرج د فريدون زوی | کولاخائيس د تارژيتائوس کوچنی زوی (حاکم او د خدمتگارانو ښبنتن) | سړه‌بن د کيس پښتون درېيم زوی د ابداليانو او درانيانو سته (حاکمان او پالونکي) |

## په اسلامي پېر کې د وګړو پرګنې

هغه څه چې پورته وويل شول د وګړو دوديزه پوړيزه وضع وه چې د اسلام تر خپرېدا پورې يې د خراسان په خاوره او د هغۀ په ختيځو بريدونو کې دوام کړی و؛ خو په اسلامي پېر کې هغه مهال چې مسلمانانو سوبمنو پر دې خاوره واک ټينګاوۀ، ټولنيزه وضع داسې وينو:

### واکمنې کورنۍ او روحانيون

لکه چې په تېر څېرکي کې يې هم تفصيل تېر شو د هېواد د پخوانيو کورنيو ځينې اولادونه د هېواد په بېلابېلو برخو کې د سيمه‌ييزو واکمنو په توګه واک چلوي چې د زابل رتبيل، کابلشاه، هياطله ملکان، د پوشنګ برازان، د غرستان شاران، د باميانو او ختلان شېران، د تالقانو سهراب، د ګردېز لويک، ګوزګان خدا، د تخارستان روب‌خان، ترمذشاه او نور دي، چې عرب جغرافيه‌پوهان او مؤرخان يې نومونه يادوي.[1]

د دې کورنيو غړي مطلق ټولواکمنان وو، چې زياترو يې د اسلام راتګ ومانۀ او تر پېړيو پېړيو يې په اسلامي پېر کې خپل واک و ځواک وساتۀ. د ساري په ډول د سامان خدات کورنۍ چې د بلخ په سامان کلي کې يې خواجګي درلوده،[2] دا ځای د وروستنيو په آثارو کې هم د سمانه په نامۀ ياد شوی دی، چې بهرام چوبين ته منسوب و. بهرام د شهنامې د ساساني پېر د اتلانو اتل و، نرشخي وايي په خراسان کې اموي امير اسد بن‌عبدالله قسري (۱۶۶س= ۷۸۲ز) چې د پخوانيو لويو کورنيو پالندوی و، سامان خدات يې روزلی و، هغۀ يو کلی جوړ کړی دی چې نوم يې سامان دی. هغه له بلخه اسد ته ورغی، اسد د هغۀ دښمنان ورټل او بلخ يې بيا هغۀ ته ورکړ.

---

[1] - وګ: ايرانشهر، د مارکوارت، ابن خرداذبه او نور.

[2] - سنی‌ملوک‌الأرض د حمزه اصفهاني، د برلين چاپ، ۱۳۴۰س.

سامان خدات د اسد په لاس ایمان راوړ.[1]

همدا رنگه د بامیانو شېر د عباسي خلیفه منصور په وخت کې د مزاحم بن‌بسطام په لاس د ۱۵۰س= ۷٦۷ز کال شاوخوا مسلمان شو. مزاحم د هغهٔ لور خپل زوی محمد ته وکړه. د همدې شېر، حسن نومی زوی چې په ۱۷٦س= ۷۹۲ز کال پر کابل په برید کې د عباسي لښکریانو مرستندوی و.[2]

په ځینو دیني مرکزونو کې پخوانۍ روحاني کورنۍ هم موجودې وې، چې په مسلمانېدو سره یې خپل واک او لاسبرې وساتهٔ، له هغې جملې د بلخ د نوبهار عبادتځي برمکیان وو. هغوی د امویانو له حاکمانو سره روغه وکړه او لکه چې د برمکیانو په ځانګړي بحث کې تېر شول، جعفر برمک د ۳۰س= ٦۵۰ز کال شاوخوا اسلام ومانهٔ او په دمشق کې د امویانو دربار ته لاړ. بیا یې په ۱۷۰س= ۷۸٦ز کال کې خالد بن‌برمک د بلخ په بیارغونه او د خپل مقام په ساتنه کې له اسد بن‌عبدالله سره جوړجاړی وکړ. کله چې ابومسلم د عباسیانو په ملاتړ راپورته شو، بیا هم خالد برمکي د عباسیانو او ابومسلم د خوځښت له مشرانو ملاتړو څخه و. وروسته برمکیان د بغداد د عباسي دربار ځواکمن او مشهور وزیران او لوی واکوال شول.[3]

د خراسان د دې لویو کورنیو ځینو مېړونو د خلافت په دربار او لښکریانو کې لوړ مقامونه درلودل. یعقوبي د سرمن‌رای ښار په لوی واټ کې د خراساني مشرانو په نامهٔ د هاشم بن‌باین‌جور، عجیف بن‌عنبسه، حسن بن‌علي ماموني، هارون بن‌نعیم، حزام بن‌غالب او قرقاس خادم خراساني په نومونو د سرایونو یادونه کوي.[4]

---

[1] - تاریخ بخارا ۷۰.

[2] - البلدان د یعقوبي ۵۱، د تفصیل لپاره وګ: د دې کتاب لومړی څپرکی.

[3] - وګ: د دې کتاب د درېیم څپرکي ۱۱مه برخه.

[4] - البلدان ۲٦.

د شمالي خراسان په ماوراءالنهر کې د دې لویو کورنیو کسان په ښهٔ سلوک، ښایست، مننې، لښکرمشرۍ ان ښهٔ لباس، ښهٔ خوی، درنښت او زړورتیا مشهور وو. عباسي خلیفه‌گانو د خپل واک له لومړیو دوی ته زیات پام کاوهٔ، تر دې چې دې خلکو د دربار شاوخوا په بشپړ ډول ونیوه او خراساني دهقانان، امیران، فریغونان او ترکان چې د دې وطن د پخوانیو کورنیو اولادونه وو، د دربار مهم غړي او د بغداد د لښکرو لښکرمشران شول، لکه د اشروسنه افشین او بن‌ابي الساج، د سمرقند اخشاذ، د سغد مرزبان بن‌کیسفي، عجیف بن‌عنبسه او بخار خدات او نور.[1]

دهقانان، سپارهٔ او کدخدایان

د اروپا د منځنیو پېړیو په څېر په دې وخت کې کروندګر او سپارهٔ د ټولنې په لوړو پوړونو او لومړنیو مقامونو کې وو، چې عربو لیکوالو دهاقین او اساوره نوملي دي.

د اشکاني پېر له پیل ۲۵۰م.ز څخه د ساساني پېر تر پیل ۲۲۶ز او له هغه وروسته تر اسلامي پېره د آریایي وګړو کورنی نظام پر نمانه NMA'NA (کور)، ویس (کلي)، زنتو (قبیله) او دهیو (ولایت) ولاړ و.[2]

له وروستۍ کلمې دهیو+ګان (ستاینیز او نسبتي روستاړی) څخه دهګان جوړ شو، چې د کلي ښتن او ولایت غتېدونکي معنی ښندي. څرنګه چې عرب په لومړۍ اسلامي پېړۍ کې خراسان ته راغلل په هر ولایت او کرنیزو ځمکو کې یې دهګان د هغو د غتېدونکي په توګه ولیدهٔ؛ نو دا کلمه یې معربه کړه، دهقان او جمع یې دهاقین. اوښتي مصدر ته یې دهقنه ووایهٔ. مسعودي وایي دهقان د کیومرث د یوهٔ لمسي وهکرت اولاده ده، چې لس زامن یې وو او اولادونه یې دهقانان دي، لکه چې همدا مؤلف وایي: وکان وهکرت اول من تدهقن.[3] دا کلمه په پهلوي کې داهیکان

---

[1] - ابن حوقل ۲/ ۴۶۸.

[2] - کریستین‌سین در ساسانیان، اردو ژباړه ٦.

[3] - مروج‌الذهب ۱/ ۲۴۲.

D' AHIK'AN وه چې اوس یواځې د بزگر او کروندگر په معنی ده او په پښتو کې دېگان د پارسي ژبې په ځانگړي مفهوم پاتې ده. فردوسي هم په دې معنی کارولې وه، هلته چې وايي:

از ایـران و از تـرک و از تازیـان    نـژادی پدیـد آیـد انـدر میـان
نه دهقان نه ترک و نه تازی بود    ســخنها بکــردار بــازی بــود[1]

دا دهگانان په ټول خراسان کې د نیکونو د پخوانیو روایاتو، فرهنگ او داستانونو رالېږدوونکي وو او مؤرخانو او داستان ویونکو لکه د خدای‌نامو او شاهنامو لیکوالو، د پخوانیو روایات، دودونه او معلومات له هغوی څخه راخیستل. دې پوړ هم هڅه کوله چې د پخوانیو ویاړونه له‌منځه لاړ نه‌شي. لکه چې په (۳۴۶س= ۹۵۷ز) کال کې د خراسان سپهبد ابومنصور محمد بن‌عبدالرزاق طوسي- چې په خپله هم دهقان توکمی و- له دهقانانو او موبدانو څخه څلور کسه پهلوي پوهان راټول کړل چې منثوره شاهنامه ولیکي، له هغې ډلې اماخ د خراساني هروي زوی، شاذان د برزین طوسي زوی، یزدان‌داد د شاپور سیستاني زوی او ماهوی‌خورشید د بهرامشاه نیشاپوري زوی، ټول خراسانیان وو.[2] فردوسي هم د شاهنامې زیاتره داستانونه له همدې دهقانانو څخه رانقلوي، لکه:

بباشــی بــرین گفتــه همداســتان    که دهقــان همیگویــد از باســتان

یا

سخنگوی دهقان چنین کرد یاد    که یکروز کیخســرو از بامـداد[3]

کریستین‌سین وايي دهقانان هغه ټولی و چې بې له مرستې یې حکومتي چارې نه ترسره کېدې او مسعودي وايي چې: دهقانانو هم پنځه تیپې درلودې. د مجمل‌التواریخ لیکوال دهقان د رئیس او د ځمکو او کلیو د څښتن په معنی راوړي، چې د دولت مالیې د هغۀ په وسیله راغونډېدې او تحویلېدې. ځکه نو عربو والیانو په دې کار کې تل له دې پوړه کار اخیسته او تر هغۀ وخته چې د هقانان یې خپل

[1] - شاهنامه ۵/ ۳۰۱.

[2] - شاهنامه و فردوسی ۶۰، د تقي زاده، د تهران چاپ، ۱۳۲۲ل او د محمد قزویني د شاهنامې پخوانۍ سریزه ۱۳۶.

[3]- شاهنامه ۲/ ۲۴۰ او ۳۱۰.

مرستندوی نه کړل، د ساساني پېر هومره ماليات يې وانخيستلای شول.[1]

د ساساني پېر په ټولنيزو پرګنو کې تر شاهزيو، ښاروالانو (شهريارانو) او وزرګانو (اشرافو) وروسته دهقانان، سپارهٔ او د آزادانو ټولي شمېرل کېدل. څرنګه چې دولتي سپور لښکر له هغو څخه جوړېدهٔ او لوی لښکرمشران هم سپارهٔ وو، نو عربو په هماغو ټولنيزو پوړونو چې په لومړيو اسلامي پېرونو کې پرې پاتې وو، اسوار (جمع يې اَساوِيرات يا اساوره) وبلل چې په پهلوي کې اسواران يا اسوارګان وو.[2]

د سپرو پوړ چې پر ساساني پېر د دې نامهٔ اصل اسوبار او جمع يې اسوباران وو[3] تل يې د اندرژبذ اسپوارګان په نامهٔ روزونکی درلود، چې عربو «مؤدِّب الاَساوِره» بالهٔ[4] او د پاچاه له خوا ټاکل شوی و. د ابن‌اسفنديار په تعبير «چې په ښارونو او کليو کې جنګيالي په وسله‌والی او د هغو په ادابو بوخت وساتي.»[5] له دې څخه څرګندېږي چې سپور پوړ د دولتي لښکر او عسکرو برخه وه او تل يې د يوهٔ ښوونکي تر څارنې لاندې خپل جنګي تمرينونه کول.

د دې اشرافو بله پرګنه کذک‌خواذيان (کدخدايان) وو چې عربو قبيلوي‌واکمن (ملوک‌الطوايف) ګڼلي دي چې موخه ترې دکور په معنی‌د کده= کته= کوټ‌مشران دي. په اوستا کې کته KATA او په پهلوي کې کتک KATAK، په واخي کې کېت KET او په سريکولي او شغناني کې CED همدا معنی ښندي.[6] د مشرانو د دې پوړ مېرمنې کذک بانوګ (کدبانو) وې چې د ټولنې د ښځو په پوړ کې يې همدا لوړ مقام

---

[1] - کريسين سين در ساسانيان، ۱۴۴.

[2] - پورتنی اثر ۳۴۶، په بلاذري ۴۷۰ کې يې جمع اساوره ده.

[3] - کارنامهٔ ارد شيربابکان ٦٣.

[4] - دارمستتر در حاشيهٔ نامهٔ‌تنسر، ٥٧.

[5] - نامهٔ‌تنسر ١٦، د تهران چاپ، ١٣١١ل.

[6] - د برهان حاشيې ۱٦۰۴.

درلود. دا کدخدایان هم د نجیبانو په پوړ کې شمېرل کېدل.[1] د اشکاني تر ټولو پخواني پېر په اصطلاح یې دهقان پوړ ته ویس‌بذ (کلي‌مشر) او کدخدا ته مان‌بذ (کورمشر) وایهٔ. (لومړی کلمه په وروستیو پېړیو کې د میرویس په نامهٔ کې هم پاتې ده.) ویس‌بذ یا وروستي دهګانان لویې او مشهورې کورنۍ وې، لکه قارن او سورین کورنۍ چې د واکمنۍ د ثقل مرکز ګڼل کېدې. هغو واکمنانو ته باج ورکاوهٔ، د اړتیا پر مهال یې له خپل ولس څخه لښکریان هم راټولولای شول او پاچاهي دربار ته یې ټاکلی باج ورکاوهٔ. عام بزګران محکوم او پلوټارک وایي مریان وو؛ خو د دې محکوم ولس او دهقانانو په منځ کې«مان‌بذ» پوړ یعنې کدخدایانو منځګړتوب کاوهٔ، چې د اروپا د منځنیو پېړیو له فیوډالي FEUDAL نظام سره سمون خوري.[2]

په ښارونو کې د دې اشرافو، دهګانانو او کدخدایانو استوګنځي ځانګړي وو، چې شارستان یې بالهٔ او له شاهي‌ارګ سره به جوخت و.

د څلورمې لېږدې پېړۍ مؤرخ نرشخي وایي: د بخارا شارستان د دهګانانو د اشرافو پر انحصاري پېر جوړ شوی، چې بهر ترې د سوداګرو، صنعتګرانو او بازاریانو استوګنیز چاپېریال (ربض) و. څومره چې د اشرافو، ملکانو او دهګانانو پوړ مخ پر ځوړ او د سوداګرو او صنعتګرانو پوړ مخ په بره روان و، هماغومره ژوند له شارستانه مېښت سیمې ته لېږدېد.[3]

دهګانانو په خپلو کلیو کې برجورې، چجورې او مزېره‌والې ماڼۍ درلودې. په هغو کې یې په میراثي ارستوکراسۍ ژوند کاوهٔ. څرنګه چې د امویانو پر خلاف د عباسي خلیفه‌ګانو سیاست له عجمو سره ګډون و او د ساساني تشکیلاتو پلیون یې کاوهٔ، نو د خراسان د سیمه‌ییزو دهګانانو دا لویې کورنۍ یې وپاللې، تر دې چې په پای کې یې د دې خاورې واک هم هغو ته وسپارهٔ. له همدې پوړونو څخه د

---

[1] - کریسین سین در ساسانیان، ۱۴ او ۴۲۷.

[2] - ساسانیان ۱۲

[3] - بارتولد در جغرافیای تاریخی ۵۷.

پوښنګي طاهريانو او بلخي سامانيانو پاچاهي کورنۍ راڅرګندې شوې.

دهګانانو د پاچاهانو په دربارونو کې د پاچاه ساتنې (پاچاهي ګارډ) مقام هم درلود او د نايټانو KINGHTS په څېر چې د اروپا د «ديوکانو» په دربارونو کې يې ساتندويي کوله، دهګانانو هم دا دنده درلوده، نرشخي وايي: «د طغشاده مور د بخارا ملکه ۱۵ کاله واکمنه وه... هغې پر کليوالو دا ايښې وه چې هره ورځ له دهقانانو او ملکزو څخه دوه سوه زلمي د زرينو ملاوستنو ښتنان او توركښان خدمت ته راشي او ليرې ودرېږي... بله ورځ بل قوم راشي او په همدې ډول خدمت وکړي.»[1]

په دې پېر کې د اشرافو دهګانانو له پوړ سره يو بل شتمن پوړ، هم يادېږي،[2] چې بارتولد وايي له چين و نورو هېوادونو سره د سوداګرۍ له لارې شتمن شوي وو. طبري دا سوداګر د واکمنو سيالان ګڼي[3] نرشخي وايي: چې دې سوداګرو پرېمانه جايدادونه او شتمنۍ درلودې او په ماڼيو کې اوسېدل. له دهګانو او عربو سره يې هم دوستي ټينګه وه. عربو دې پوړ ته په درنه سترګه کتل او د پليون وړ يې ګڼل، لکه طبري چې وايي: د اموي پېر سوبمن قتيبه خپل عرب زړنان« د عربو دهګانان» بلل چې هغوی زړنتيا او مقاومت ته وهڅوي.[4]

د هغهٔ مهال د ټولنې په همدې لومړۍ او واکمنه ډله کې د دهګانانو پر پوړ سربېره، شهريګ (د عربو شهريج) مرزبانان، کنارنګان او نور هم وو چې په خراسان کې له حاکمو او برلاسي پوړونو څخه وو. عرب مؤرخان يې يادونه کوي، موږ يې تفصيل د همدې څپرکي د دولتي ادارې او تشکيل په بحث کې ورکړی دی.

---

[1] - تاريخ بخارا ۹.

[2] - پورتنی اثر ۹.

[3] - بارتولد در ترکستان، د طبري په حواله ۲/ ۱۴۴۲.

[4] - پورتنی اثر.

## مريان يا مواليان

سوبمنو عربو له خراسان او ټولو نيول شويو هېوادونو څخه جنګي بنديان له ځان سره د مريانو په ډول بيول. دا مريان به د هماغو عربي کورنيو ګڼل کېدۀ او لکه چې د دې کتاب په درېيم څپرکي کې مو شرحه کړه، دې مريانو په عربي ټولنه او دربار کې دومره مخه ومونده چې د اموي پېر ځانګړی عربي فرهنګ يې د عباسي پېر د عربي او عجمي فرهنګ په ګډوله واړاوۀ او په دربار او ټولنه کې يوه ځانګړې او مهمه پرګنه شوه. د دربار، فرهنګ، سوداګرۍ، کسبګرۍ، کرکيلې او ان د حکومتي دفتر و دېوان واک يې واخيست او د ملي خوځښتونو د پيلامو راڅرګندېدو ته يې لار هواره کړه.

د دويمې لېږدې پېړۍ په لومړيو کې مريان په عربي دربار، د خلافت په هېوادونو او په تېره بيا په خراسان کې ډېر وو. هغوی له عربي سوبمنو سره د ناستې پاستې پر بنسټ د ادارې او حکومتولۍ له چارو سره اشنا شوي وو. تر ټولو بريالی پوړ چې د حاکمانو او محکومانو ترمنځ يې منځګړتوب کاوۀ، همدا مريان يا مواليان وو.

خراسانيان له پخوا څخه ښاريان، نرم زړي او د ژوندانۀ له چارو سره اشنا خلک وو. د زلمو او پېغلو ښکلو مخونو، موزونو غړو او مالګينو څېرو، د عربي سوبمنو زړونه وړي وو. له همدې امله هر يوۀ جنګي بنديان مريانول او يا يې په عربي بازارونو کې پلورل.

مؤرخان وايي: د عربي سوبمنو د مريانو شمېر زرګونو ته رسېدۀ. هر اموي امير به چې روانېدۀ د سپرلۍ په مخکې به يې تر زرو پورې مريان ځغلېدل. د خراسان والي رافع بن‌هرثمه څلور زره خراساني مريان درلودل.[1]

د عباسي پېر په لومړيو کې خراسان او په تېره بيا سمرقند د پی‌مخو او ښکلو ترکي مريانو مهم پلورنځی و. يعقوبي له جعفر خشکي څخه روايت کوي: چې د مامون په پېر کې يې هغه سمرقند ته لېږلی و، چې ترکي مريان وپېري او کابو درې زره مريان يې پېرلي وو.[2]

---

[1] - تاريخ‌التمدن الإسلامی ۵/ ۲۵ د ابن اثير په حواله ۱۴۷/۴ او الأغاني ۱/ ۳۷.

[2] - البلدان ۲۲.

ابن‌حوقل وايي: چې د خراسان ترکي مريان په بيه او ښکلا کې بې ساري دي، هر مريی يا وينځه په درې زره ديناره پلوري، چې ان رومي مريان او وينځې هم په دې بيه نه وي.[1]

په اسلامي نړۍ او د خلافت په سيمو کې د خراسان له مريانو څخه ډېر اداري، علمي او سياسي نوميالي راميدان ته شوي دي، له هغې ډلې د نعيم بن‌خازم مريی اشناس، د سلام بن‌ابرش مريی ايتاخ، د نعمانيان مريی وصيف زراد او د فضل بن‌سهل مريی سيما، د عباسي دربار مشهور نوميالي او زړور لښکريان وو.[2] د تاريخ سيستان ناڅرگند ليکوال د ډېرو جنگي، علمي او ديني نومياليو نومونه اخلي چې سيستاني مريان وو، لکه د عباس مريی عکرمه فقيه، د ټول خراسان او سيستان لارښود معاذ بن‌مسلم او نور چې شمېر يې زيات دی.[3] په ۳۰س= ۶۵۰ز کال کې کله چې ربيع بن‌زياد حارثي د سيستان نيولو ته راغی، د سيستان مرزبان اپروېز او د هغهٔ ځای دهقان دواړه ژمن شول چې زر وصيفه (زلموټي مريان) عربي سوبمن ته ورکړي، چې د هر يوهٔ په لاس کې زرين کټوری وي.[4]

خراساني مريان د خليفه‌گانو په دربارونو کې د باور وړ وو؛ نو تل يې مهمې هېوادنۍ چارې هغوی ته سپارلې. لومړی ځل عباسي خليفه منصور تر عربو دا وگڼې ښهٔ وگڼل، ان کله چې مړ کېدهٔ، په وصيت کې يې د خپلې پانگې درېيمه برخه د مريانو په نامهٔ کړه[5] او خپل زوی المهدي ته يې سپارښتنه وکړه چې له مريانو او په تېره خراسانيانو سره- چې خپلې شتمنۍ او وينې يې د عباسي دولت لپاره ښندلې دي- ښهٔ چلن وکړي، ځان ته يې نږدې او شمېر يې زيات کړي. که کوم يو يې مړ شي نو ځای يې اولادونو ته ورکړي.[6]

په عباسي دربار او هېواد کې خراساني مريان دومره مخکې شول چې د عربو

---

[1] - صورةالأرض ۲/ ۴۵۲.

[2] - البلدان ۲۲.

[3] - د تفصيل لپاره وگ: تاريخ سيستان ۱۸.

[4] - تاريخ سيستان ۸۲.

[5] - الفخري ۲۱.

[6] - ابن اثير ۶ /۷.

رخه يې راوپاروله. د خليفه‌گانو غونډو ته به بې اجازې تلل، په داسې حال کې چې په خپله عربان هغو ته نه شو ورتللای،[1] ان که به المهدي غوښتل چې له خپلو نږدې کسانو سره مشوره وکړي، لومړی به يې د مريي رأی اورېده او له هغو سره به يې خبرې کولې.[2]

## ترسايان (نصرانيان)

په ساساني دولت کې د حضرت مسيح پليوني هر ځای اوسېدل، له ساساني پاچاهانو او ايراني خلکو سره- چې زردُشتيان وو- يې داستانونه شته. په وروستيو کې د نصرانيانو نسطوري مذهب بشپړ دود شوی و. ترسايان د ساساني هېواد يوه پرگنه وه، چې د اسلام ځلا په لومړيو کې په خراسان کې اوسېدل او خپل مذهبي دودونه يې ساتل.[3]

په دې ترسايانو کې علمي، اداري او دفتري کسان او رنځپوهان وو، چې په اسلامي پېر کې يې هم د دې ښېگڼو په خپرولو سره شهرت درلود. د علومو په لېږد او عربي ته د هغو په ژباړه کې د دوی لويه ونډه وه. د ترسايانو ديني مشران او لارښوونکي د عباسي خليفه‌گانو دربارونو ته ورتلل، چې ښهٔ او نرم چلن ورسره کېدهٔ.[4]

ترسايانو په خراسان کې هم مهم مرکزونه درلودل، د ۵۵۳ ز شاوخوا رام پيروز ښار او ابيورد د نسطوريانو سيمه گڼل شوې ده.[5] سره له دې چې«يادگار زريران» وايي د مروه‌رود وگړي زردُشتيان وو؛ خو د نسطوري مشرۍ مرکز په مروه کې و، چې د عربي واکمنۍ په پېر کې د دې مروي مشرۍ نوم «اليجه» و او د ترسايي دين د خپرولو لپاره به يې پراخه تبليغات کول، نو د نسطوري مسيحي مذهب بنسټ په تخارستان او ترکي هېوادونو کې ټينگ شو. تر هغهٔ د مخه هم قادس، هرات او بادغيس د نسطوري مشرۍ مرکزونه وو.[6] د ۴۸۰- ۴۸۸ز شاوخوا چې د نسطوريانو لويه غونډه په سلوکيه کې د جاثليق اکاس (د دې مذهب يو لارښود ۴۹۵ز مړ) له

---

[1] - الأغاني ۱۸/ ۱۴۸.

[2] - العقدالفريد ۱/ ۵۳.

[3] - د تفصيل لپاره وگ: ساسانيان د کريستين‌سين، شپږم څپرکی، د ايران د ترسايانو په اړه.

[4] - تاريخ‌التمدن الإسلامی ۴/ ۱۲۲.

[5] - مارکوارت در ايرانشهر ۷۲.

[6] - ايرانشهر ۷۵ او ۷۷.

خوا جوړه شوه او په هغې کې نسطوري د ایران د ټولو عیسویانو یواځینی مذهب ومنل شو. په دې غونډه کې د خراسان له لوري، د هرات د نسطوریانو مشر چې ګبرئیل (جبریل)[1] نومېدهٔ ګډون کړی و[2] چې دا هم د خراسان د مسیحیانو ډېرښت او اعتبار څرګندوي.

اصطخري او ابن‌حوقل په یوه خولهٔ دي چې د هرات پر غرهٔ باندې د سرشک SIRISHK په نامهٔ یو ودان اورتون دی چې د هغې عبادتځي او ښار تر منځ د ترسایانو کلیسا پرته وه.[3] له دې روایته څرګندېږي چې ترسایان تر دریمې او څلورمې لېږدې پېړۍ پورې هم په هرات کې وو او ودانه کلیسا یې درلوده.

البېروني وایي په خراسان کې د مسیحیانو د دواړو مشهورو ډلو کلیساګانې وې، په مروه خراسان کې د ملکائیه (د روم ملک ته منسوب) ډلې مذهبي مشر (مَطران) اوسېدهٔ او دا تر بغداد وروسته د خلافت په هېواد کې د دې ډلې دوهم مرکز و. د شُباط (د سریاني کال شپږمه میاشت= کب) په پنځمه د ترسایانو د مشر «سیس» یادغونډه جوړېده چې لومړی ځل یې نصراني دین خراسان ته راوړی و. همدا رنګه د نیسان (اوومه سریاني میاشت= غویي) **۲۵**مه نېټه د خراسان د ترسایانو د مشر «ایلیا» یاد غونډه وي. وایي چې تر مسیح دوه سوه کاله وروسته «برشیا» نومې کشیش په مروه کې نصرانیت دود کړ، چې یادغونډه یې د حزیران (نهمه سریاني میاشت= چنګاښ) په **۲۱**مه نېټه کېږي. همدا رنګه د تموز (د سریاني کال لسمه میاشت= سرطان) په **۱۴**مه د "یوحنا مروزي" یاد غونډه کېږي، چې د البېروني په پېر کې وژل شوی و.[4]

په **۳۱**س= **٦٥٢**ز کال کې چې یې د ساسانیانو وروستی پاچاه دریم یزدګرد په مروه کې وواژهٔ؛ نو د مروې سیند ته یې وغورځاوهٔ، سیند یې مړی د رزیق تویېدنګځي ته ورساوهٔ او هلته د ونې یوهٔ ښاخ ته ونښت. د مسیحیانو مشر چې د هغهٔ جسد ولید، ویې پېژاندهٔ، له اوبو یې راوایست او ښخ یې کړ.[5] له دې هم څرګندېږي چې په لومړۍ اسلامي پېړۍ کې هم په مروه او خراسان کې مسیحیان وو.

---

[1] -کریستین‌سین در ساسانیان ۳۹۰.

[2] - صورةالأرض ۴۳۸ او مسالک‌الممالک ۲٦۴.

[3] - آثارالباقیه ۲۸۹، ۲۹۴، ۲۹٦، ۲۹۹ او ۳۰۰.

[4] - غرر اخبار ملوک‌الفرس و سیرهم، پارسي ژباړه ۳٦۳، د تهران چاپ، ۱۳۲۸ل.

[5] - حدودالعالم ٦۰.

**جهودان، يهوديه**

جهودانو له پخوانيو وختونو څخه د خراسان په ښارونو کې څه لږکي درلودل، چې سوداګري به يې کوله؛ خو له نورو خلکو او دينونو سره يې اړيکي او ګډون نه درلود.

د لومړيو اسلامي پېړيو د عربو جغرافيه‌پوهانو له ليکنو په ځينو ښارونو او کليو کې د يهودي لږکيو شتون جوتېږي، ان د خراسان په منځنۍ برخه کې هغه ښار د جهوذان په نامهٔ مشهور و، چې اوس يې ميمنه بولو. جوزجانی وايي: د غرهٔ په لمنه کې پروت ودان او له نعمتونو ډک ښار دی. د ګوزګانان د واکمن استوګنځی دی چې هغه په لښکرکوټ کې اوسېږي.[۱]

د يعقوبي په پېر (۲۸۷س= ۹۰۰ز شاوخوا) کې يې هم دا ښار يهودان بالهٔ او د فارياب د حاکم استوګنځی و.[۲] د مقدسي پر مهال (۲۹۸س= ۹۱۰ز شاوخوا) يې يهوديه د ګوزګانان پلازمېنه ګڼله؛ نو د ښار له نامهٔ څخه څرګندېږي چې د يهود قوم ډېرو وګړو په کې ژوند کاوهٔ.[۳]

د همدې څپرکي د بلخ ښار په بحث کې مو ويلي چې بشاري مقدسي د بلخ ښار يو پخوانی ور "باب يهوديه" نوملی دی او بل هم د هندوانو ور"باب هندوان" و.[٤] بارتولد اټکل کوي چې د دې نومونو شتون د هغو کوڅو کيسه کوي چې هندي او يهودي سوداګر په کې اوسېدل. ان تر اوسه (د بارتولد د ژوند زمانه، د ۱۹۰۰ز شاوخوا) پورې هم يو زيات شمېر يهودان د بلخ په يوه ځانګړې کوڅه کې اوسېږي.[٥]

د دويمې لېږدې پېړۍ په وروستيو کې د دربار يو شاعر، د مروان بن‌الحکم اموي (۱۰۳/ ۱۸۲س) مريی، مروان بن‌سلېمان خراساني يهود و، چې عربو په خراسان کې

---

[۱] - حدودالعالم ٦٠.

[۲] - البلدان ۴۹.

[۳] - بارتولد در جغرافیای تاریخی ۸۳.

[٤] - احسن‌التقاسیم ۳۰۲

[٥] - جغرافیای تاریخي ۵۷، د «شمالی افغانستان» کتاب په حواله، د بيت تأليف ۲۵٦.

نیولی او مریی کړی و.[1] نو له دې څخه هم په خراسان کې د یهودانو شتون څرګندېږي.

د غور او هرات تر منځ په یوه دره کې - چې د اَزَو (ښايي ازاب) په نامهٔ مشهوره او د غور او هرات ترمنځ د جوپو پخوانۍ لاره وه- په عبري یهودي لیکدود یو دعاییه ډبرلیک دی، له هغې بوړنوونکې درې تېرېدونکو لارویانو لوستلی دی؛ تر اوسه بشپړ نه دی لوستل شوې؛ خو اټکل کېږي چې په دري ژبه به وي. ان ځینو یې مهال د اسلام تر راتګ ډېر پخوا اټکل کړی دی، چې دا هم د غور وړ ده.

په هر حال دا ډبرلیک د غور او هرات په خاوره کې د یهودانو شتون او ادبي اغېز روښانوي چې د ځینو تاریخي اسنادو له مخه هم څرګندېږي، په دې ډول:

منهاج سراج جوزجانی چې په خپله ځیرک او د غور په دربار کې ناست پاست سړی و، د غور په دربار کې د یهودانو د شتون په اړه معلومات ورکوي:

«... د هارون‌الرشید په پېر (۱۷۰- ۱۹۳س) کې یهودي سوداګر چې د موسی علیه‌السلام په دین و، ډېر سفرونه کړي او سوداګریو ته تللی و، د شاوخوا مخور مشران یې لیدلي او د واکمنانو او پاچاهانو د دربارونو په آدابو پوه و، د غور له یوهٔ ځايي واکمن امیر بنجي نهاران یې ژمنه واخیسته چې که زه درته ادب وښییم او ناسته ولاړه درزده کړم، چې تا ته پرې د غور امارت او ولایت دروسپارل شي، له ما سره ژمنه وکړه چې ستا په ټوله خاوره کې هر چېرته چې وغواړم د بني‌اسرائیلو ټولي او د مهتر موسی علیه‌السلام پلیونو ته به ځای ورکړې! او مېشت به یې کړې!..»[2]

د منهاج سراج له دې څرګندونې بربښي چې یهودیان نړۍ ګرځي سوداګر وو او د غور په بېلابېلو سیمو کې اوسېدل. ځکه امیر بنجي غوري د یهود سوداګر دا

---

[1] - بروکلمان در تایخ ادب عرب ۲/ ۲۱.

[2] - طبقات ناصري ۱/ ۳۲۵، په کابل کې د حبیبي چاپ، ۱۳۴۲ل.

وړانديز منلی او بيا د خليفه له لوري هم همدا بنجی د غور د امير په توګه پېژندل شوی و. همدا يهودان چې په هرات، ميمنه، بلخ او د افغانستان په نورو شمالي سيمو کې د شلمې پېړۍ د دويمې نيمايي تر پيله پاتې وو، ښايي د اسلامي پېر د لومړيو د هماغو يهوديانو زوزات وي.

## عام پوړونه او خويونه يې

لکه چې ومو ويل د اسلام څلا ته نږدې د ساساني پېر په ډلبندۍ کې د ټولنې څلورم پوړ بزګران، کروندګر، زيارکښان او خدمتګار کسبګر وو، چې د ابن‌اسفنديار د نامهٔ‌تنسر په پارسي ژباړه کې د ټولنې څلورم غړی «مهنه» نومېږي او هغه کروندګر، شپانهٔ، سوداګر او نور کسبګر ګڼل شوي دي.[1]

دا وګړي چې د ټولنې بنسټيزه ستنه وه، په خراسان کې د پخوانيو آريايي وګړو زوزات و چې له شمالي آريايي توراني قبيلو، هونانو او ځينو هندي او ايراني قبيلو سره په پېړيو پېړيو ګډ شوی او د هريرود، هلمند، کابل، کوکچې، مروه‌رود او نورو په درو او کڅونو کې اوسېدلی دی. عربو د اسلام د څلا پر مهال دا وګړي طاجيه بلل چې ريښه يې څرګنده نه ده؛ خو طاجيه‌وو پياوړې او ځواکمنې تنې درلودې.[2]

داسې برېښي چې: عامه پوړونو په دولتي رغون کې يو مشر هم درلود چې «هتخش‌بذ، يا: واستريوش‌بذ» يې بالهٔ او چې په دربار کې يې د دې خلکو استازي کوله، ته وا د وخت د کابينې غړی و.[3]

هيونځانګ د عامه خلکو په اړه ځينې ښهٔ معلوماتي ټکي وړاندې کوي، په هغو کې د لان- پو (لغمان) د خلکو په اړه وايي: د دې ځای وګړې مندرۍ ونې او په موسيقۍ کې ښه وړتيا لري؛ خو طبعاً د باور وړ نهٔ دي او تښتوونکي دي. بل تر ځان غوره نه ګڼي، يو پر بل مطلب باروي؛ خو ډېر کارند او زړور دي.[4]

---

[1] - نامهٔ‌تنسر ۱۲، په تهران کې د استاد مينوي چاپ، ۱۳۱۱.
[2] - تاريخ‌التمدن الإسلامی ۱٦/٥.
[3] - کريستين‌سين در ساسانيان ۳۴٦.
[4] - سي. يو.کی، دوهم کتاب ۱۴۴.

ننگرهاریان ساده او شریفانه وضع او گرم زغمونکی مزاج لري. په پانگې ټولونې پسې ډېر نه گرځي.[1]

خو گندهاریان نرم خویه ویرندوکي دي او له ادبیاتو سره مینه لري.[2] د پېښور د شمال د اوډیانې وگړي نرم، په نزاکت پوه؛ خو لږ چلیان دي. پوهه یې خوښه ده؛ خو عمل پرې نه کوي.[3] د بلورستان وگړي توندخویه او ځیږهٔ دي، آداب، تهذیب او نیاو نه لري.[4]

هیونڅانگ د افغانستان د لوېدیځې نالیدلې سیمې په اړه لیکي: توند او ناکراره خوی لري، په ټولنیزو آدابو او نیاو نهٔ پوهېږي، ښکلي هنرونه یې خوښ دي؛ خو له علم سره کار نه لري.[5] د غزني او هو-سا-لو (غالباً هزاره) خوشحال زړي، خوځند او ځیرک خلک دي، له پوهې او ښکلو هنرونو سره مینه لري. اغېزناکې خو بې مطلبه خبرې کوي.[6] د اندراب وگړي توند خویه، بېباکه، ناپوه او بې علمه دي. په داسې حال کې چې د کندوز وگړي ساده، رښتیني، چالاک او خوځند دي. د کشم اوسېدونکي توندخویه او لنډپاري دي. د شغنان، بدخشان او تخار وگړي بیړندي، توند او کاواکه دي؛ نو کله وژنې او لوټنې هم کوي.[7]

هیونڅانگ د زیاترو خلکو د ژوندانهٔ وضع د دې مهال د کوچیانو غوندې په تورو کړدیو کې گڼي چې وړینې او لمڅینې جامې اغوندي او د څارویو رمې لري. له دې څخه څرگندېږي چې د هندوکش په غرونو او درو او شمالي سیمو کې خلکو

[1] - سي. یو. کی، ۱۴۵.
[2] - پورتنی اثر ۱۵۰.
[3] - پورتنی اثر ۱٦۷.
[4] - پورتنی اثر ۱۷۸.
[5] - پورتنی اثر ۴٦۵.
[6] - پورتنی اثر ۴۷۰.
[7] - پورتنی اثر تر ۴۷۲ وروسته.

د کوچیتوب وضع درلوده چې د نامهٔتنسر په پارسي ژباړه کې د شپنو په نامهٔ یاد شوي دي.

**مېړني**

په دویمه لېږدې پېړۍ کې په خراسان او د عباسیانو ټول هېواد کې د عامه پوړونو په منځ کې داسې وګړي راڅرګند شول چې (مېړني، عیاران یا فتیان) یې بلل.

په دویمه او درېیمه لېږدۍ پېړۍ کې دا وګړي د خراسان او سیستان تر ټولو مهم فعال او کارند عوام بلل کېږي، چې په سیاسي خوځښتونو او د ټولنیزې فکري اوضاع په بدلون کې یې لاس درلود. عیار په عربي ژبه کې د کارند، هوښیار، چالاک او ځیرک معنی ښندي. د خلکو دا ټولی د خراسان په ټولو ښارونو عراق، بغداد او د عباسي خلافت په نورو ښارونو کې اوسېدهٔ چې ځانګړي آداب، دودونه او تشکیلات یې درلودل. په پاڅونونو، ګنګوسو، جنګي چارو، سیاست، ټولنیزې اوضاع او تاریخي پېښو کې اغېزناک وو. هغوی د «سرهنګ» په نامهٔ مشران او مخکښان درلودل،[1] کله چې به یې د عامه پوړونو په خوځښتونو کې مشري کوله، د بیهقي او نورو پخوانیو مؤرخانو په اصطلاح د هنګامو مخکښان وو.

مېړني زړور، ځوانمرده، سپېڅلي، د بېوزلو پالندویان او دروندخویه خلک وو. مخکښان او مشران یې تل د خوځښتونو او سیاسي اوښتنونو مهم لوبغاړي وو. وایي کله چې الامین خلیفه پر ۱۹۸س= ۸۱۳ ز کال په بغداد کې د طاهرپوشنګي د لښکر له خوا کلابند شو، پنځه زره بغدادي مېړني په لغړو بدنو په داسې حال کې چې ژرنګاني او کونجکې یې په غاړو او مچوغنې او تیږې یې په لاسونو کې وې له مخالفو لښکریانو سره په مهارت وجنګېدل، چې علي اعمی شاعر د هغو په ستاینه کې شعر وهایهٔ، په هغهٔ کې یې مېړني ناماتي جنګي زمري وبلل او ویې ویل:

واحـد مـنهم یشـد علـی أل　فـین عریـان مالـه مـن إزار
و یقـول الفتـی إذا طعـن الطع　نـة«خـذها مـن الفتـی العیـار»[2]

---

[1] - تاریخ سیستان ۱۶۱.

[2] - مروج‌الذهب ۳/ ۳۱۸.

یعنې:«له دې بې پرتوګه لغړو څخه یو کس د بله لوري له دوو زرو کسانو سره جنګېږي او د غشیمارۍ په مهال وايي: د جنګیالي مېړني له خوا دا درواخله!»

د مېړنو د ټولیو ځواک تر دومره و چې دولتي چارواکو او وزیرانو تل ترې مرسته غوښته او په جنګونو کې یې تل خپلې مرستې ته رابلل.

مېړنو د ژوندانۀ اصول او ځانګړي مسلکي بنسټونه درلودل. د هغوی ځانګړنې لومړی عقل، دوهم رښتینولي او درېیم ولسیتوب و.[1] هر مېړنی له دې درې څیزونو نه شو تښتېدای، اړ وو چې څه وايي، هغه وکړي. دوهم چې له رښتیاوو تېر نۀشي. درېیم له زغمه کار واخلي. نو هر مېړنی باید زړور، ځوان خویه، زغمونکی، ژمن، پاکزړی، سپېڅلی، پر بېوزلو زهیر، نېکخویه او بخښونکی وي. پر دې سربېره مېړنی باید په ورهڼه (کسبګرۍ) او صنايعو کې لاس ولري او په هنر، صنعت او کسب کې ښۀ او د مړنتوب اخلاق، پرهېزګاري، خوږه لهجه او غريب پالنه په پام کې ونيسي.[2]

د خراسان په ښارونو کې مېړنو په عامه پوړونو کې تل ځانګړی ځای درلود، کله به يې د عباسي دولت له مخالفينو سره لاس يو کاوۀ او د ځايي ژغورندويانو په ډلو کې به شاملېدل. لکه چې تېر شول د سيستان د مېړنو مخکښ ابوالعريان د حمزه بن‌عبدالله سيستاني په جنګونو کې ګډون درلود. دا ابوالعريان د سيستان د مېړنو يو کس، د هغو له مخکښانو او پاڅونملانو څخه و. هغۀ د عباسي خليفه حاکم، اشعث بن‌محمد ته ماتې ورکړې وه.[3]

څرنګه چې اشعث د سيستان د مېړنو په لاس وځپل شو، ليث بن‌فضل د دې ځای والي شو. نو له مېړنو سره يې نرم چلن غوره کړ او په دې ډول يې ځان د هغو له مخالفته وژغورۀ. د سيستان د مؤرخ د وينا له مخه:«هر څه چې يې په سيستان کې تر لاسه کول، په هغو يې مېلمستيا کوله، د سيستان مېړني يې مېلمانۀ کول او بخښښونه يې ورکول.»[4]

---

[1] - قابوسنامه تر ۲۸۹ وروسته.

[2] - پورتنی اثر ۲۹۷.

[3] - تاريخ سيستان ۱۷۲.

[4] - پورتنی اثر ۱۷۵.

نو د مېړنو مخکښان په سيستان، بُست او نورو سيمو کې ډېر ځواکمن اوسېدل. په هغو وختونو کې- چې د پېښو تفصيل يې د دې کتاب د دوهم ټوک کار دی- دومره ځواکمن شول چې صفاري يعقوب‌ليث له دې ډلې څخه راميدان ته شو، د صفاريانو د پاچاهي لړۍ بنسټ يې په سيستان او خراسان کې کښېښود او له سند سيند د دجلې تر څنډو پورې يې د برم او پرتم نغاره وډنگېده.

د ابومسلم د پېر (۱۳۰س= ۷۴۷ز شاوخوا) د مېړنيو له ډلې څخه يوه ښځه وه چې بي بي‌ستي مېړنۍ يې بلله. دا مېړۀ مخې مېرمن د خپل مهال زاهده شوه او توبه يې وکښۀ. په هرات کې اوسېدله او تر مړينې (۱۵۰س= ۷۶۷ز کال) وروسته د «بازارخوش» په منځ کې ښخه شوه.[۱] مزار يې تر اوسه د هرات په بازار خوش کې اوڅار او معلوم دی.

د مېړنو د دې پوړ پاتې شوني تر دې وروستيو پورې د افغانستان په ښارونو کې وو، چې په کابل کې ورته «کاکه» په کندهار کې «ښۀځوانان» او په شمالي ولايتونو کې ورته «الوفته» وايي. هغوی ځانگړې جامې، چال‌چلن او کړۀ وړۀ درلودل؛ خو د خپلو پخوانيو زياتره ښېگڼې يې هېرې کړې او د لوچکانو پر ډله ورگډ شول.

---

[۱] - مجمل، د فصيحي ۱ /۲۲۱.

## ښځې

د اوومې زېږدې پېړۍ په ټولنه کې ښځو په خراسان کې داسې ځانګړی اهمیت درلود چې په راوروسته وختو کې ترې بې برخې دي. د هغۀ مهال د قوانینو له مخه ښځو د واکمنۍ او پاچاهۍ د مقام تر لاسولو حق هم درلود، چې په زردُشتي ټولنه او وروستۍ ساساني کورنۍ کې د خسرو پروېز له زوزات ښځه بوران‌دخت ۲۹مه پاچاهنه او آزرمي‌دخت د دې پاچاهي لړۍ ۳۱مه شاهنه د ۶۳۰ ز= ۹ س کال شاوخوا پاچاهي ته رسېدلې ده.[1] له دې ښځه راته ښرګندېږي چې ښځې زموږ د هېواد په لوېدیځې زردُشتي ټولنې کې لوړ مقام درلود.

د خراسان په شمال او بخارا ښار کې هم د عربو د ولکې پراخېدا پر مهال یوې ملکې واکمني چلوله چې د خپل مېړۀ بیدون بخارخدات تر مړینې وروسته د خپل زوی طغشاده پر ځای - چې تیخور ماشوم و- کښېناسته او تر ۱۵ کالو پورې یې واکمني وچلوله. له عربو سوبمنو سره یې سوله وکړه.[2] د ژوند پېر یې د ۱۰۰ لېږدي شاوخوا اټکلېږي؛ نو له دې بېلګو جوتېږي چې د اسلام د ځلا په لومړیو کې په خراسان کې د ښځې مقام ډېر مخور، لوړ او ان د پاچاهي د مقام او حاکمۍ وړ هم وه.

په همدې کال چې د خراسان په لوېدیځ او زردُشتیانو کې د خسرو پروېز لونې پر پاچاهي پلاز کښېني، چینایي سیلاني هیونڅانګ د هېواد د ختیځو څنډو په سیل بوخت و، هغه د هېواد په ختیځه برخه کې د نرم جنس د ژوندانۀ د اوضاع په اړه

[1] - ساسانیان تر ۶۷۲ وروسته.

[2] - تاریخ بخارا ۸.

معلومات ورکوي، چې د ټولنيزې وضعې د ښننې له پلوه مهم دي:

د آريايي دوديزې ډلبندۍ له مخه چې وګړي په څلورو پوړونو وېشلي وو او موږ يې شرحه د مخه ورکړې ده، د لوړ پوړو ودونه له ټيټپوړو سره منع وو. له نږدې خپلوانو سره ودونه هم روا نه وو. ښځې چې به يو ځل وادهٔ وکړ نو بيا يې بل مېړهٔ نه شو کولای.[1]

په دې اړه د څېړونکو رايه دا ده چې: له خپلوانو سره د وادهٔ له ناجايزوالي څخه د هيونځانګ موخه دا ده چې د هغهٔ پېر د زردُشتيانو په څېر به يې له خپلو خويندو او لوڼو سره وادهٔ نه کاوهٔ او د لومړي مېړهٔ تر مړينې وروسته هيڅ ښځې بل مېړهٔ نه شو کولای، ځکه همدا هيونځانګ د خپلو يادښتونو په ۱۱کتاب کې کله چې د زردُشت د پليونو شرحه ورکوي، د هغو د وادهٔ ګډوډېدو ته نغوته کوي چې موخه ترې له خويندو او لوڼو سره وادهٔ دی.

په زردُشتيانو کې هم څو ودونه کول دود وو. هر چا به تر خپلې وسې ښځې کولې؛ ځکه نو به بېوزلو او خوارانو له يوې زياتې مېرمنې نه درلودې. که کذخودای (کدخدای) به څو مېرمنې لرلې نو هغهٔ حق درلود چې يوه د کذک بانوګ (کدبانو) په توګه غوره کړي، چې هغه به يې "پاذشاييها مېرمن" بلله. تر هغې ټيټه خدمتګاره به «چګاريها مېرمن» نومېده، چې هرې يوې بېلابېل قانوني حقونه درلودل. په دوهم ډول مېرمنو کې عموماً زرپېرلې يا جنګي بنديانې وې، چې دواړو په مېړهٔ د همېشنۍ نفقې حق درلود؛ خو د خدمتګارې مېرمنې له اولادونو څخه يواځې نرينه اولاد په خپلې کورنۍ کې د ګډون حق درلود. له محرماتو سره وادهٔ چې په اوستا کې يې (خوئيت – ودذا) بالهٔ، ډېر ښهٔ دود، د رحمت وسيله او د کبايرو کفاره ګڼل کېده.

نجلۍ به چې وزېږېده، د زوکړې مراسم به تر هلک ټيټ وو. د ښځو له نومونو سره به زياتره د دخت (دختر) کلمه راتله، لکه هرمز دخت، يزدان دخت، آزرمي دخت (پاک لمنه نجلۍ) يا به يې په پای کې (ګ) توری و، لکه دينګ (دين+ ګ)

[1] - سي. يو. کی، دوهم کتاب ۱۳۸.

وردگ (ورد معنی گلاب+ گ) او کله به صفات لکه شېرین د ښځو نومونه وو.

د نجلۍ دیني روزنه او پالنه په مور وه؛ خو ورکول یې د پلار واک و. که پلار به مړ و؛ نو دا کار هم مور ته ورترغاړې و. نجونې به یې عموماً په پنځلس کلنۍ کې ودولې؛ خو پلار د ورکړې او زور ودونې حق نه لاره. که نجلۍ به نه غوښتل دا کار نه شو کېدای.

کله به مېړه د یوه قانوني لاسوند له مخه- چې وندشنیه VINDISHNIH یې باله- مېرمن په خپله پانگه کې شریکوله. که طلاق به بې د مېرمنې له غوښتنې رامنځ ته کېده، نو مېرمن خپله پانگه ترلاسولای شوه.

په زردُشتي ټولنه کې یوه نرینه کولای شول د مرستې او ملاتړ لپاره له خپلو مېرمنو څخه یوه هغه چا ته نکاح کړي چې د لاسنیوي مستحق وي. که د دې مهالني وادهٔ په پېر کې به د ښځې اولاد پیدا کېدهٔ نو د لومړي مېړهٔ به و. دا ډول نکاح به د یوهٔ قانوني تړون له مخه کېده. په عادي وادهٔ کې به یې مېړهٔ او مېرمن شوذزن بلل؛ خو په مرستندوی وادهٔ کې به یې د قانون له مخه مېړهٔ میرگ او مېرمن زیانگ بلله.

په کتاب‌الهند کې البیروني د نامهٔتنسر له پخوانۍ نسخې څخه د زردُشتیانو د وادهٔ یو بل ډول یادوي، چې که څوک مړ شي او نرینه اولاد ونه لري؛ نو کونډه تر ټولو نږدې نرینه خپلوانو ته ورکوي او که ښځه ونه لري، لور یې ورکوي او د دې وادهٔ اولاد یې د مړي وارث گڼهٔ.

د پاتمړي (میراث) په قوانینو کې هم کدبانو یعنې پاذشاییها مېرمن اولادونو له پاتمړي څخه برابره برخه اخیستله. حال دا چې چگاریها مېرمن او د هغې اولادونو په پاتمړي کې حق نه لاره؛ خو هغه مهال چې مړي وصیت کړی وي. د کدبانو له اولادونو څخه چې به نجونو وادهٔ کاوهٔ؛ نو د خپل حق د نیمې برخې مستحقې وې.[1]

---

[1] - د زردُشتي ټولنې د ښځې په اړه دا معلومات کریستین‌سین په خپل کتاب «ساسانیان» کې د ساساني قانون، پهلوي متونو، نامهٔتنسر، کتاب‌الهند، زن در قانون ساسانی او نورو په حواله راټول کړي دي، چې د هغهٔ کتاب له اردو او عربي ژباړې تر ۴۲۷مخ وروسته ژباړل او لنډ شوي دي.

د اسلام څخه ته نږدې د افغانستان د ښځو وضعیت دا و چې د یوې ځانګړي فرهنګ او دود څښتنې ټولنې کې پالل کېدې. کله چې عربو د لوېدیځ له خوا په دې خاوره یرغل وکړ او په جنګي بندیانو کې یې ښځې د وینځو په توګه ونیولې، دې ښځو چې ځانګړی فرهنګ او ثقافت درلود او له ښکلا، انساني ادب او غوره ښېګڼو هم برخمنې وې؛ نو د عربو خلیفه‌ګانو او لویو امیرانو دربارونو ته ورسېدې؛ چې ډېر اموي او عباسي خلیفه‌ګان له همدغو خراساني او عجمي ښځو زېږېدلي دي. د ساري په توګه اموي یزید بن‌ولید (۱۲۶س= ۷۴۳ز) له هغې ښځې زېږېدلی چې عربي سوبمن قتیبه د خراسان په شمالي صغد کې د وینځې په ډول ونیوه او حجاج ته یې واستوله. حجاج هغه ولید بن‌عبدالملک ته ورکړه چې بیا ترې یزید وزېږېد.[1] تر دې وروسته د عباسیانو په پېر کې په دربارو او د امیرانو په کورو کې د ګڼو ملتو مریان دومره ډېر وو چې عبدالله بن‌طاهرپوشنګي له خراسان څخه د بغداد خلیفه ته ۴۰۰ تنکۍ پېغلې ولېږلې، حال دا چې هغې نورې څلور زره وطې شوې وینځې هم درلودې. د جعفر برمکي مور ۴۰۰ تنکۍ پېغلې وینځې درلودې. الرشید خلیفه دوه زره پېغلې وینځې درلودې. له دې وینځو څخه ځینې داسې وې چې بیه یې تر یو ملیون دینارو رسېدې. جعفر برمکي یوه وینځه په څلوېښت زره دیناره پېرلې وه.[2]

په ۱۵۰س= ۷۶۷ز کال کې بادغیسی استاد سیس د خراسان په زړه کې د عباسیانو پر وړاندې راپورته شو، په ۱۵۱س کې ونیول او په بغداد کې ووژل شو. د دې لوی خراساني مېړه یوه لور (مراجل) د فرهنګ په مرکز کې روزل شوې وه، هارون‌الرشید نکاح کړه، چې د مشهور عباسي خلیفه مامون مور ده.[3] دا خلیفه چې د دې خراسانۍ مور په غېږ کې روزل شوی و، د علم و فرهنګ ملاتړی و. د هغې په هڅه ډېر علمي آثار عربي ته ژباړل شوي دي.

---

[1] - ابن اثیر ۴/ ۲۷۵.

[2] - تاریخ‌التمدن الإسلامی ۵/ ۱۱۸ د مسعودي او الأغاني په حواله.

[3] - تاریخ‌الیعقوبي ۲/ ۴۴۴.

# د خلکو ژوند، دودونه او څېرې

د اسلام د راتگ په پېر کې د افغانستان خاوره د خانخانيو يو هېواد او د سياست له مخه نامرکزي و. سيمه‌ييزو واکمنانو هر ځای خپلواکې واکمنۍ درلودې. ديني او مذهبي بېلتونونه لکه بودايي، زردُشتي، اورلمانځنه، برهمني او نور ډېر په زور کې وو. له همدې امله په ژوند، دودونو او ټولنيزه اوضاع کې هم رنگارنگۍ او ډېر توپير تر سترگو کېدهٔ.

د هېواد په ختيځه برخه کې چې د بودايي خلکو د ژوندانهٔ د بنسټونو پاتې شوني او يا نور سيمه‌ييز دينونه موجود وو، طبعاً د خلکو دودونه، خويونه او وضع د هندي بودايانو او برهمنيانو په څېر وه، هيونڅانگ وايي چې: جامې يې سکښت او ځانگړی طرز نه لري. ښځې يې په کوپړۍ کې د ويښتانو يوه کوچنۍ غوټه جوړوي او نور يې ځوړند پرېږدي. ځينې سړي يې برېتونه هم خرييي، خولۍ، گلدار امېلونه او ښکلي غاړبندونه کاروي. بېلابېل سينگارونه لري، په بنگړو، وښيو، باهوگانو، امېلونو، هارونو او اوږيو باندې ځانونه سينگاروي. غوږونه سوري او ويښتان چونټه يا کوڅۍ کوي. ښکلې پوزې او غټې سترگې لري، غاښونو ته سور يا تور رنگ ورکوي او تر خوړو وروسته يې د ولې په لرگي (مسواک) پاکوي او خپل لاسونه او خولهٔ مينځي. کله د عبادت پر مهال د صندل او نورو عطر وهي، غسل کوي. لوښي يې د سرو او سپينو زرو، مسو او اوسپنې دي، چې تر خوراک وروسته يې ښهٔ پاک مينځي. که لرگين او خاورين لوښي وکاروي؛ نو تر خوراک وروسته يې ماتوي. جوټه نه خوري او تر خوراک مخکې هم ځان مينځي.[1]

---

[1] - سي. يو. کی، دوهم کتاب ۱۳۴.

بل چینايي سیلاني «هوی – تچه- او» چې په ۱۰۹س= ۷۲۷ ز کال کې له کابله بامیانو ته تللی، وايي چې په کابل او اړوندو سیمو کې يې بړيره او سر خريي او خويونه يې په لږ توپير د کاپیسا (اوسني کوهستان او کوهدامن) خلکو ته ورته دي.[1]

د افغانستان د پاچاهانو له انځورونو څخه چې پر سیکو يې راپاتې دي، د ختيځ افغانستان د ۵- ٦ پېړۍ د خلکو څېرې داسې لیکلای شو: بړيره او د سر ويښتان يې خريیلي؛ خو کله غټې برېتونه، توروزمې سترګې، دنګې پوزې، کږې وروځې، ځيږې څېرې، ګڼ ويښتان، هسکې غاړې او څه غټې غوندې کوپړۍ لري. هرومرو به يې د مرغلینې غوږوالۍ او مندرۍ په غوږو او زرین مرغلین امېلونه او غاړبندونه په غاړه کول. کله به يې د بږيرو په ويښتانو کې مرغلرې هم ځوړندولې.

کله چې هيونځانګ په خپلو يادښتونو کې د دې سیمې د خلکو پر څېره رڼغېږي د لغمان وګړي کوچنوټي خو کارند او د شمال ختيځو ولايتونو وګړي غوسه‌ناک، ځيرۀ او د عامې وضعې خاوندان ښيي.

## خول، پلاز او فرش

د افغانستان د پاچاهانو له انځوريزو سیکو څخه، داسې برېښي چې د پاچاهي خول په منځ کې يې ښي او کيڼ اړخ ته دوه کارۀ ښکرونه درلودل چې په منځ کې يې يوه کړۍ (کله ترې لاندې نیمه سپوږمکۍ) لیدل کېږي او چاپېره ورسره نښتي د ګلانو، بڼکو، مرغلینو پټيو او نور سينګارونه دي. دا ډول پاچاهي خول تر اسلام مخکې په کوچنیو کوشانیانو، کیداريانو او هفتالیانو کې و. بیا د شپږمې زېږدي پېړۍ شاوخوا د کوشاني، هفتلي او نپکي پاچاهانو پر خول کله د ښکرونو او کړيو پر ځای د ښکرور غويي سر انځور شوی دی. د غرستان د شارانو د نیکونو پر خول د نیمسپوږمکۍ په منځ کې درې ښاخيز ګل دی او د بامیانو د شېرانو د نیکونو پر جوغې د مرغلرو په يوې پټۍ درې سپوږمکۍ لیدل کېږي، چې هره يوه په خپل منځ کې يو ستوری لري.[2]

---

[1] - تاریخ افغانستان ۲/ ۳۹٦.

[2] - پورتنی اثر، دوهم ټوک، بېلابېل مخونه.





۱- پورته تر اسلام د مخه د افغانستان د پاچاهانو د درې خولونو بېلگې د هغوی د سیکو له مخه؛
۲- لاندې د بامیانو یو شېر له خپل خول سره چې رنگه انځور یې د بامیانو د کرک درې له بودایي عبادتځي څخه راوتی او په کابل موزیم کې خوندي دی.

خو هیونځانګ وايي، پاچاهي پلاز لوی او لوړ و. په قیمتي جواهرو سینګارېدۀ چې هغه یې سمهاسنهSIMHASANA شېر پلاز بالۀ. پلاز به په ډېرو قیمتي ټوکرانو پوښلی او تلی به یې هم په قیمي جواهرو سینګار و.[1]

د زابل د رتبیلانو پلاز د سپینو زرو و، چې د هغوی شارستان د رخذ غرګوټی (د ارغنداب پر لوېدیځه څنډه پروت) و. لکه چې په لومړي څپرکي کې مو وویل: یعقوب لیث په ۲۴۹س=۸٦۳ ز کې په رخذ کې رتبیل وواژۀ او د هغۀ خزانه، شتمني او د سپینو زرو پلاز یې په دوو سوو بېړیو کې سیستان ته ولېږدول (په غالب ګومان د ارغنداب او هلمند ناوې له لارې).[2]

خو د خلکو عمومي فرش (په تودو سیمو) کې پوزی و، چې د لویانو پوړ او پاچاهي کورنۍ به هغه په بېلابېلو ډولونو سینګاراوۀ.[3]

## پر کین اړخ تګ

هغه چې هیونځانګ لیدلي او لیکلي دي د هند او زموږ د ختیځو سیمو د ښارونو یوه ځانګړنه دا وه، چې تر کورونو رسېدلو پورې ښاریان د لارې پر کین اړخ تګ راتګ ته ژمن وو.[4] دا هغه چلن دی چې د اوسنۍ نړۍ د ترافیکو په قوانینو کې اړین دی.

## ډهل وهنه او اوربلونه

په خراسانیانو کې ډهل وهنه په جنګ کې دود وه[5] او یا کله چې به پاچاهي سپرلي بهر راوته د موسیقۍ له نورو آلو او ترانو سره به یې ډول واهۀ[6] چې دا دود په پښتني قبیلو کې تر اوسه پورې شته.

که غوښتل به یې چې وګړي د مهمو موخو لپاره راغونډ کړي، د هغې ورځې په

---

[1] - سي. یو. کی، دوهم کتاب ۱۳۳.

[2] - تاریخ سیستان تر ۲۰۸ وروسته.

[3] - سي. یو. کی، دوهم کتاب ۱۳۳.

[4] - پورتنی اثر ۱۳۲.

[5] - طبري ۵/ ۴۵۲.

[6] - سي. یو. کی، دوهم کتاب ۱۳۵.

شپه به یې لوی اوربلاوۀ، چې سبا وګړي راغونډ شي، لکه چې خراساني ابومسلم او ملګرو یې د خرقان په سپېدنګ کې د ۱۲۹س= ۷۴۶ز د روژې په ۲۵مه د ظل او سحاب توغونه د عباسي خلافت د بلنې د اعلان لپاره پورته کړل او د سبا لپاره یې د شپې له خوا لوی اور بل کړ، چې د عباسي شیعه‌ګانو د غونډې نخښه وه. په سبا یې د سپېدنګ په لښکرکوټ کې ډېر زیات وګړي راټول شول.[1]

هلته مو چې د کتاب په همدې څپرکي کې د لښکري تشکیلاتو او جنګي چارو په اړه خبرې وکړې په جنګي چارو کې مو د ډهل وهلو شرحه هم ورکړې ده.

[1] - طبري ۶/ ۲۵.

# جامې

د اسلامي پېړيو په لومړيو کې د افغانستان د ختيځ او لوېديځ د خلکو جامو توپير لاره. په دې معنی چې په ختيځو تودو سيمو کې يې د سند سيند تر څنډو پورې د هنديانو له جامو سره ورته‌والی او يووالی درلود؛ خو د کابل په غرنيو سيمو، زابل، تخار، غور، هرات او شمالي ولايتونو بلخ او جوزجان کې نږدې همااغه جامې وې چې د کوشانيانو، د تخار او باميانو د سيمه‌ييزو واکمنو او د پارس د ساسانيانو په پېړيو او انځورو کې ليدل کېږي.

هيونڅانګ د ۹س شاوخوا د سند سيند تر څنډو پورې د ختيځو سيمو جامې داسې شرحه کوي: جامې يې ځانګړې سکښت نه لري، زياتره وګړي سپينې او پاکې جامې خوښوي، رنګه او ګلينې جامې نه خوښوي. نرينه خپل ختونه تر ملا راتاووي، بيا يې تر تخرګ لاندې راغونډوي او د امېل په څېر يې له ښي اړخه ځوړندوي. ښځې اوږدۀ ختونه لري چې اوږې يې پرې بشپړې پټې وې او لمنه يې پر ځمکه لګېږي. وګړي خولۍ، د ګلو امېلونه او مرغلين غاړېندونه هم کاروي. جامې له پنبې، د وحشي چنجيو له ورېښمو او کتان څخه جوړوي. له کين- پو- لو (پښتو کمبله) چې د وزې له وژغنو اوبدل کېږي او يوۀ وحشي ژوي هو- لا - لی له وېښتانو څخه هم نرمې جامې اوبي. د شمال په غرنيو سيمو کې جامې لنډې او تنګې دي. ځينې نابودايي وګړي د طاووس د بڼکو ډول ډول جامې اغوندي.

د ځينو بودايي زاهدانو جامې داسې ختونه دي چې اوږدې لمنې لري. کيڼ اړخ يې د اغوستلو لپاره خلاص او ښي يې ګنډلی وي. د ځينو ختونو اوږدوالی د ملا تر لاندې پورې وي. همدا رنګه داسې ختونه دود دي چې پرک او ملاوستني

نه لري، د اغوستلو پر مهال په يوۀ مزي په ملا پورې ګونځ تړل کېږي. سرۀ او زېړ رنګونه هم کارېږي.

د کشتريه (لښکريانو) او برهمنانو (روحانيون) پوړ جامې ډېرې ځانګړې ښکلې، ساده او ارزانه دي. پاچاه او وزيران يې ښکلې او ډول ډول ګل‌والا جامې لري. کله د ويښتانو د سينګار لپاره ګلان کاروي. په مرغلرو ښکللې خولۍ له غاړبند او وښيو سره کاروي.[1]

يو بل چينايي سيلاني هوی- تچه- او HAUEI-TCHE-AO چې د ۱۰۹س= ۷۲۷ز شاوخوا يې باميان ليدلي وو، وايي: د باميانو وګړي پنبه‌يي ختونه، وړين او نور پوستينونه او جامې اغوندي. نخي جامې هم د دې ځای پيداوار دی.[2]

د سړو او غرنيو سيمو د خلکو اړتيا او د وړيو او ډول ډول وړينو ټوکرانو، د قره قل پسونو، ګيدړ، سپلم او نورو ژويو د ښکلو پوستکو پيدا کېدل، د دې دليل دی چې په بشپړ ډول وړينې جامې، چپنې، ډول ډول تاودۀ وړين ټوکران او پوستينونه دود وو، چې لا تر اوسه هم د هغو ټوکرانو او جامو پاتې شوني ليدل کېږي.

ښځو او نرو تر زنګانۀ پورې لستوڼي او ګرېوان‌لرونکي اوږدۀ ختونه او ګونځې پرتوګونه اغوستل، چې تر اوسه پورې هم د افغانستان د زياترو خلکو جامې دي. پوځيانو يا جنګياليو، مشرانو او شتمنو به د جامو د پاسه له خپل مقام او توان سره سم پوستينونه يا د ځانګړي سکښت چپنې او يا ځادرې او شالونه پر اوږو اچول، لکه د لوی کوشاني پاچاه کنيشکا (۱۲۵ز شاوخوا) په پېرۍ کې چې هم ليدل کېږي.[3]

د کوشانيانو په پېر کې چې اولادونه يې د اسلام تر لومړيو پورې پاتې وو، نرينه جامې له بده‌ې تر پايڅو پورې ګونځې پرتوګونه او اوږدۀ ختونه وو، چې غاړه به يې

---

[1] - سي. يو.کی، دوهم کتاب ۱۳۳.

[2] - تاريخ افغانستان ۲/ ۳۹۶.

[3] - وګ: د ۳۱ مخ اړوند انځور.

یوهٔ اړخ ته بنده او تر زنګنو لا اوږده چپن به پرې د پاسه اغوستل کېده. یوه تنۍ به یې درلوده چې عموماً به پرې له شپړپاڼېز ګل سره نیمه سپوږمۍ وه او پر تټر به کلکېده، چې د لمن دواړه خواوې یې خلاصې پاتې نهٔشي. چپن به له اوږې تر مړوند پورې تنګ ګونځ لستوڼي درلودل، چې د مټ او مړوند بڼه به ترې ښهٔترا جوتېده؛ خو د ښځینهوو جامې به اوږدې وې، تړول بدن به یې پوښهٔ. د ختونو به یې پرکوالې اوږدې لمنې وې. د کوشاني پاچاهانو د سیکو او پریو له کتو جوتېږي چې پاچاهانو پراخې، اوږدې او پربړې جامې اغوستې. ختونه عموماً اوږدهٔ او تر زنګانهٔ کښته تېرېدل. لکه د ننګرهار له هډې تر لاسه شوې (د کابل موزیم د هډې په خونه کې دي) یوې پرۍ څخه جوتېږي، خت غاړه لري چې څنډې یې په خامک سره ګنډل شوې دي. لمنه به یې هم چاپېره په خامک ګنډله او د خت له پاسه به یې څرمني ملاوستنی تاړهٔ. د کنیشکا له پرۍ ښکاري چې د خت له پاسه به یې ارته اوږده چپنه اغوسته، چې د خت تر لمنې به یو څپک تېره وه. دا جامې په ټولو نرینهوو پوړونو کې لیدل کېږي؛ خو د ساساني پېر په وروستیو کې اسلام راتګ ته نږدې اوږدې او ارتې جامې ورو ورو لنډې، تنګې او لا نرمې شوې دي، چې د ساسانیانو د ګاونډ اغېز په کې څرګند دی. د ساري په ډول په شپږمه او اوومه زېږدې پېړۍ کې چې زموږ تر څېړنې لاندې پېر دی، پاچاهي جامې داسې تنګې وې چې په بشپړ ډول په بدن پورې نښتې دي. تر ټولو ښه بېلګه یې د پاچاه او ملکې په پریو کې لیدل کېږي چې د فندقستان (د کابل د شمالي غوربند) له عبادتځي تر لاسه شوې او په کابل موزیم کې شته.[۱]

همدا رنګه باید یادونه وشي چې اسلام راتګ ته نږدې د افغانستان د خلکو جامې خت، پرتوګ او په بدن پورې نښتې تنګه چپنه وه چې له بېستۍ، وړیو یا پوستکي یې جوړوله. کوسی یې لکه د وړیو د هغهٔ په څېر پربړ او ځېږ و. د پختیا او نورستان اوسنۍ ګنډۍ (وړینه چپن) او پکول یې هغو جامو ته ورته دي چې د پاسه پرې خامک او ګلونه هم کېدل. خو امیرانو او مخور پوړ پرې نورې ښکلنې کولې. په

---

[۱] - تاریخ افغانستان ۲/ ۳۱۸.

تېره د هغو پاچاهانو له پرېيو څرګندېږي، چې د اسلام څلا ته نږدې يې پر افغانستان واکمني کوله، چې دا وګړي په جامو، ښکلنې، غوږوالیو، مرغلينو او زرينو امېلونو، وښيو او پر اوږو او سينه د قيمتي غميو د ځړولو شاهي خول په کوپړۍ کې د سپېڅلي غويي د پرۍ، زرين بنګړي، يا سپوږمۍ او ستوري په ايښودلو کې د خپل هېواد د ختيځو او لوېديځو پاچاهانو سره بشپړ ورته‌والی لري.

ساسانيانو ته خراساني جامو ځانګړې ارزښت درلود، وايي چې اردشېر د کرم پرضد د کلالکوټ په جنګ کې خراسانۍ‌جامې واغوستې،[1] چې د عراقيانو او پارسيانو له جامو سره يې توپير درلود.

په اسلامي پېر کې د جامو تر ټولو مهم رنګ هغه و چې ابومسلم د امويانو د پېر د وروستيو په خراسان کې دود کړ. هغه د شيدوس غوندې- چې نسب يې هغهٔ ته رسېدهٔ- تورې جامې غوره کړې، ځکه له لرغونو رواياتو سره سم چې کله شيدوس د سياوش مرګ ته تهٔ، تورې جامې يې اغوستې وې.[2]

بلعمي وايي: ابومسلم خپلو پلويانو ته وويل، نو تورې جامې يې واغوستې او د خراسان ښارونو ته يې ليک وکښهٔ چې تورې جامې واغوندي. د نسا، باورد، مروه‌رود او تالقانو ټولو خلکو د ابومسلم په امر تورې جامې واغوستې. مدايني وايي: تورې جامې يې ځکه واغوستې چې د علي او د هغهٔ د زوی يحيی په ماتم کې وو. په دې اړه سمه خبره دا ده چې امويانو شنې جامې اغوستې وې او توغ يې شين و؛ نو ابومسلم وغوښتل دا دود له‌منځه يوسي؛ نو کور ته يې مريی ولېږهٔ چې هر رنګ جامې يې واغوستې او پګړۍ يې وتړله؛ خو په پای کې يې تورې جامې واغوستې او توره پګړۍ يې وتړله؛ نو ابومسلم وويل چې تر تور رنګ هيڅ رنګ ډول نه لري.[3]

په هر حال ابومسلم په خراسان کې د جامو تور رنګ دود کړ او په کومه ورځ چې يې په سپيدنګ کې خپل توغ ورپاوهٔ (د روژې ۲۵مه ۱۲۹س= ۷۴۶ز) تور و. هغهٔ او ملګرو يې تورې جامې اغوستې وې.[4] همدا تورې جامې وې چې د عباسيانو

[1] - کارنامهٔ اردشير بابکان ۲۹، پارسي ژباړه، د تهران چاپ، ۱۳۲۹ل.

[2] - مجمل‌التواريخ و القصص ۳۱۵.

[3] - طبري، د بلعمي ژباړه ۴/ ۷۳۳.

[4] - طبري ۶/ ۲۵.

په دربار کې يې هم د رسميت مخه ومونده. منصور عباسي خليفه امر کړی و، چې هر څوک دربار ته راځي، يوه توره چپنه دې اغوندي، چې نورې جامې يې پټې کړي.[1] موږ پوهېږو چې ابومسلم د تور لباس او د توروالي د شعار په غوره کولو د زردُشتي آريايانو يو پخوانی دود راژوندی کړی و. ځکه تور توغ او تورې جامې د اوستا د يوې ورېاندوينې ترسره کول وو.[2]

په څلورمه لېږدې پېړۍ کې عرب مؤرخان او جغرافيه‌پوهان د خراسان او د شاوخوا خلکو جامو ته نغوتې لري او دا جامې به هرومرو د هغو پوښاکونو پاتې شونې وې چې د اسلامي پېر په لومړيو کې دود وې. ځکه جامې، ټوکران او د سکښت ډول يې د نورو ټولنيزو بنسټونو غوندې نابېره او ناڅاپي نه رامنځ ته کېږي، بدلون يې ځنډن او ورو دی. نو موږ د عربي ليکوالو د څرګندونو له مخه د اسلامي پېر د لومړيو د جامو په ډول او دود پوهېدای شو.

لکه ابن‌حوقل چې د (۳۳۱س= ۹۴۲ز) شاوخوا نغوته کوي: د زابلستان د خلج خلکو او د غور د شاوخوا (غلجي کوچيانو) جامې او څېرې د ترکانو غوندې وې، خو د بُست او سيستان د خلکو جامې د عراق (اوسني ايران) د خلکو له جامو سره ورته وې.[3] څرنګه چې په دې سيمه کې د لمڅينو جامو جوړولو صنعت دود و، چې اوس هم اوږد کوسَی او لنډ کوچۍ بولي؛[4] نو هغه مهال د سپينو او سرو وړينو لمڅينو کوټونو اټکل هم کولای شو. په دې دليل چې محمد بن‌کثير چې د ديرالعاقول په جنګ کې د يعقوب ليث په پلوۍ وژل شوی و، په لُبَّاده مشهور و،[5] چې په عربي کې همدې لمڅي ته ويل کېږي. څرنګه چې هغهٔ کوسَی اغوست نو په دې نامهٔ مشهور شوی و. دا پېښه د ۲۶۳س= ۸۷۶ ز په رجب کې وه او څرګنده ده

---

[1] - تاريخ‌التمدن الإسلامی ۵/ ۸۲.

[2] - هزارهٔ فردوسي، بهرام گور انکليساريا ۳مخ، د تهران چاپ، ۱۳۲۲ل.

[3] - صورة‌الأرض ۲/ ۴۱۹.

[4] - د (کوسی او کوچی) له نامهٔ اټکل کولای شو چې دا لباس کوشان ته منسوب او کوش، کوچ او کوچی به په پښتو کې له پخوانی ريښې څخه راپاتې وي. څرنګه چې دې لباس په تاريخ کې پخوانی مخينه درلوده، هغه يې د خپلواکۍ تر جنګ وروسته، په رسمي لباس کې د اعلی لمر نښان نيولی و.

[5] - د تاريخ سيستان حاشيه ۲۸۴ د طبري په حواله ۳/ ۱۸۹۴.

چې دا جامې په سيستانيانو کې مشهورې وې. ان د صفاريانو يوهٔ پاتې شوني ليث بن‌علي بن‌ليث د يعقوب ورارهٔ (۲۹۶- ۲۹۹ س) په شېرلباده مشهور و، چې د خپلې پلازناستې پر ورځ يې سره چپن اغوستې وه.[۱]

بشاري وايي: د سنديان او مکرانيان اوږدهٔ ويښتان پرېږدي، کورتۍ اغوندي، د هندوانو غوندې غوړونه سوري کوي او بې له سوداگرو او شېخانو څادر هم اغوندي، خو موزې په کې لږې دي. د ملتان وگړي د پگړيو پيڅکې کښته نه ځوړندوي.[۲] د مسلمانانو او نامسلمانانو جامې د هېواد په سوېل کې د سمندر تر څنډو پورې يو ډول وې، ختونه او پرتگونه او په تودو سيمو کې لنگونه هم کارېدل. د پارس او عراق د خلکو خت، څادر او نور پوښاکونه يې هم اغوستل.[۳]

خو د خراسان په شمال او تر امو ورپورې غاړې سيمو کې هغه جامې دود وې، چې له ځايي اقليم او هوا سره برابرې وې. د نور ماوراءالنهر په څېر په بخارا کې هم خولۍ په سرېده او چپنه اغوستل کېده. د خوارزم د خلکو جامې کورتۍ او کرږې خولۍ وې، چې دا خولۍ په خپل کوږوالي کې ځانگړې وې.[٤]

د اسلامي پېر په لومړيو کې د کندهار (د هيرمند او ارغنداب ناوې) په سيمه کې اوږدې خولۍ دود وې. تر ۴۴س= ٦٦۴ز وروسته چې عباد بن‌زياد له سيستانه پر دې سيمه يرغل وکړ او کندهار يې ونيو، د دې ځای د خلکو خولۍ اوږدې وې؛ نو عباد هم د دوی په پليون خولۍ پر سر کړه، څرنگه چې دود شوه نو خلکو عباديه ونومله.[۵]

دا ډول اوږدې خولۍ د خپلواکۍ تر جنگه په کندهار کې دود وې او په پښتو کې يې «تېش» بللې. د خولۍ بڼه د کوچني هرم غوندې وه، چې سر يې ډېر تېرهٔ و. بهر اړخ يې ورته په گلابتون زرگنډ کاوهٔ، په منځ کې به يې ورته د پنبې پلتې ايښودې چې ښه سخته او کلکه شي.

---

[۱] - تاريخ سيستان ۲۸۴.

[۲] - احسن‌التقاسيم ۴۸۲.

[۳] - اصطخري ۱۷۷.

[٤] - ابن حوقل ۲/ ۴۹۰ او ۴۸۱.

[۵] - فتوح‌البلدان ۵۳۲.

په ۱۵۳س= ۷۷۰ز کال کې عباسي خليفه منصور امر وکړ چې درباريان او د خلافت مامورين له کوچنۍ پګړۍ سره اوږدې خولۍ په سر او تورې تر ملا وتړي. جامې بايد تورې وي او هر څوک چې دربار ته راځي بايد هرومرو د جامو د پاسه توره چپن واغوندي او په خپله کورتۍ دا آيت وليکي: فسيکفيکهم الله وهو السميع العليم.[1]

منصور ټولو عباسي هېوادونو (چې خراسان هم په کې و) ته امر کړی و چې دغسې جامې واغوندي.[2]

هغه عربان چې خراسان ته راغلي وو او له خراسانيانو سره له امويانو څخه عباسيانو ته د خلافت په لېږدولو کې مرستندويان وو، له دې ځايه يې خراساني دودونه، او کلتوري بنسټونه عباسي دربار ته ولېږدول. په تېره کله چې مامون خليفه له خراسان او مروې څخه بغداد ونيو، له هغۀ سره خراساني نوميالي د بغداد دربار ته لاړل او خپل ټول فرهنګي بنسټونه يې هلته يووړل. عربو په جامو او تمدن کې د دې فرهنګي بنسټونو سبۀ پليون وکړ، چپنې، پرتګونه، شُقې، موزې او جرابې يې واغوستې،[3] چې د خراسانيانو او عباسي هېواد د عربو دواړو دا جامې وې. څرنګه چې د خلافت په مرکز کې د فقيهانو او عالمانو جامې توره پګړۍ، توره زيرپوشي او توره شُقه وه او لومړی ځل د هارون‌الرشيد د پېر قاضي امام ابويوسف دا جامې دود کړې وې،[4] قاضيانو هم اوږدې خولۍ او نرۍ شُقې اغوستې، نو ويلای شو د خراسان – چې د عباسي هېواد برخه وه- د مسلمانو پوهانو جامې هم همدا ډول وې.

په عباسي پېر کې د لوړ پوړ عادي جامې چې اموزج يې بللې، دا وې: پراخه پرتوګ، خت، کورتۍ، کوټ، چپن، خولۍ، وربښمينې او وړينې جورابې او پوستين. عامو خلکو پر جامو له پاسه ملاوستنی هم تاړۀ. عسکرو به کله دوه پايزار (بوټان او ماسۍ) په پښو کول، جومات ته د نونوتو پر مهال به يې برني پايزار ايستل، چې

---

[1] - قرآن، البقرة ۱۳۷.

[2] - جرجي زيدان در تاريخ‌التمدن الإسلامی ۵/ ۸۲ د الأغاني، ابن اثير او عقدالفريد په حواله.

[3] - تاريخ‌التمدن الإسلامی ۵ /۸۳.

[4] - پورتنی اثر د ابن‌خلکان په حواله ۲/ ۴۰۳.

جرموق يې بلل.[1] دا درېواړه کلمې د دري له موزه- کمربند – چرمک څخه اخيستل شوي او څرگنده ده چې عربو هغه د شمالي خراسان د خلکو له جامو څخه خپلې کړې دي.

خو په لومړي اسلامي پېر کې: بشاري وايي د ماوراءالنهر خلکو په اوړي او ژمي موزې په پښو کولې او پايزار يې لږ کارول. فقيهانو به يې پر پگړيو د پاسه څپوټې اچول چې د هغو د پاسه به يې چپنه پر اوږو اچوله. بشاري دا جامې په طوس، ابيورد او هرات کې ليدلې وې. سيستانيانو به په خپلو پگړيو کې د جوغې غوندې شمله پرېښوده، خو د عسکرو د چپنو لستوڼي تنگ وو. په مروه کې داسې فقيهان وو چې چپنه به يې پر يوه اوږه اچوله.[2]

[1] - تاريخ الاسلام السياسى ۲/ ۳۳۱ د سيد اميرعلي د تاريخ مختصر عرب په حواله ۳۸۸.

[2] - احسن التقاسيم ۳۲۸.

# مهالونه او کاليز

هغه مهال چې د اسلام دين په افغانستان کې خپرېدهٔ يعنې په لومړۍ لېږدې پېړۍ کې په ختيځو ولايتونو کې هندي کاليز او مياشتې دود وې. په دې اړه زموږ لاسوند هغه ډبرليک دی چې د افغانستان په ختيځه خوا د وزيرستان په ټوچي ناوه کې پر يوې ډبرې په عربي او سنسکرېت دواړو ژبو موندل شوی او اوس په پېښور موزيم کې خوندي دی.[1]

د دې ډبرليک لومړۍ برخه په ناپاخهٔ کوفي ليک ۹ کرښې لري، چې په پای کې يې پنځه کرښې د سره‌دا SARADA او ناګري NAGRI په ګډه ليکدود دي. د تيرې د ليکنې مخ ۱۲× ۲۴ انچه دی، کوفي برخه يې ۸× ۹ او سنسکرېت برخه يې ۹ × ٦ انچه ده.

عربي مضمون يې ښرګندوي چې دا ډبرليک د هغې ودانۍ په جوړېدو ليکل شوی دی، چې هغه... ابن‌عمار جوړه کړې ده. دا ډبرليک يې د ۲۴۳س= ۸۵۷ز کال د جمادي الاولی په ۱۳مه د جمعې په ورځ ليکلی دی.

د سنسکرېت د ۵ کرښيز مضمون ژباړه يې داسې ده:

«اوم. سلام. په ۳۲کال کې- په کرتيکا مياشت کې- د تاريک په دويمه ورځ.»

له دې راسره لاسونده، پوهېږو چې د درېيمې لېږدې پېړۍ تر منځنيو کلونو پورې هم هندي کاليز له عربي مياشتو سره د ودانيو د نېټو په ليکلو کې کارېدهٔ او له اسلامي دودونو سره د عربي مياشتو کارېدنې، دا پخوانی کاليز له‌منځه وړی نه و.

د هغې شرحې له مخه چې هيونځانګ يې د نهم لېږدي کال شاوخوا د خپلو ليدنو له مخه ورکوي، د هېواد په ختيځو برخو کې يې د مهال تر ټولو لنډې برخې ته تسانه TSA- NA (کشانه) ويله په دې تصاعد سره:

[1] - د پېښور موزيم ډبرليکونه، د عبدالشکور، په انګليسي ژبه، د پېښور چاپ ۱۹۴٦ز، ۴۹ ګڼه ډبرليک ۳۴مخ.

۱۲۰ کشانه= ۱ تکشانه (تتسانه)
٦۰ تکشانه= ۱ لاوه (لافو)
۳۰ لاوه= ۱ مه هورته (ماو- هو- لی – تو)
۵ مه هورته= ۱ کاله
٦ یا ۸ کاله= ۱ اهورتره (شپه او ورځ)

د میاشتو حساب سپوږمیز و، له هلاله تر بدره یې سوکله- پکشه (سپینه برخه) میاشت ورته ویله. له بدره تر محاق کرشنه – پکشه (تیارۀ برخه) میاشت وه. هرې تیارې برخې ۱۴ یا ۱۵ ورځې د راتلونکې میاشتې له سپینې برخې سره یوه میاشت جوړوله. د لمر شپږ میاشتې ګرځېدنه چې د استوا د کرښې په شمال کې وه، اوته ره ینه (شمالي ګرځېدنه) او شپږ سوېلي میاشتو ته یې دکشینه ینه (سوېلې ګرځېدنه) ویله. دې دواړو شپږ میاشتنیو ګرځېدنو یو کال VATSARA جوړاوۀ:

یوۀ کال شپږ موسمه درلودل، په دې ډول:

۱- د لومړی میاشتې له ۱٦مې د درېیمې میاشتې تر ۱۵مې پورې، د ورو ورو ګرمی موسم د وسنته (بسنت) په نامۀ.

۲- د درېیمې میاشتې له ۱٦مې د پنځمې میاشتې تر ۱۵ مې پورې بشپړه ګرمي د ګرشمه په نامۀ.

۳- د پنځمې میاشتې له ۱٦مې د اوومې میاشتې تر ۱۵مې پورې باراني موسم ورشه (برسات).

۴- د اوومې میاشتې له ۱٦مې د نهمې میاشتې تر ۱۵مې د ښېرازی او ودې موسم د سه ره ده په نامۀ.

۵- د نهمې میاشتې له ۱٦مې د یوولسمې میاشتې تر ۱۵مې د ورو ورو یخنی موسم د هیمنته په نامۀ.

٦- د یوولسمې میاشتې له ۱٦ مې د لومړی میاشتې تر ۱۵مې د بشپړې یخنی موسم د سي سیره په نامۀ.[۱]

کلني کالیز دا ۱۲میاشتې درلودې چې تر اوسه یې هم نومونه په پېښور او تر خیبر ورهاخوا درو کې کارېږي. موږ به یې د میاشتو په پرتلیز لښتلیک کې نومونه یاد کړو.

[۱] - سي. یو. کی، دوهم کتاب تر ۱۳۰ وروسته.

### ورځې او اونۍ

د خراسان د زردُشتي ټولنې په منځ کې- چې په لومړۍ لېږدې پېړۍ کې يې د هېواد په لوېديځ او شمال کې د افغانستان د خلکو يوه برخه وه- اصلاً د اونۍ حساب نه و او هره مياشت يې په ۳۰ ورځو وېشلې وه، چې هرې ورځې دا ځانګړې نوم درلود:

۱- هرمزد يا فرخ ۲- بهمن ۳- ارديبهشت ۴- شهريور ۵- اسفندارمذ ٦- خورداد ۷- مرداد ۸- دي به آذر ۹- آذر ۱۰- آبان ۱۱- خور ۱۲- ماه ۱۳- تير ۱۴- گوش ۱۵- دی بمهر ۱٦- مهر ۱۷- سروش ۱۸- رشن ۱۹- فروردين ۲۰- بهرام ۲۱- رام ۲۲- باد ۲۳- دی بدين -۲۴- دين ۲۵- ارد ۲٦- اشتاذ ۲۷- اسمان ۲۸- زامياد ۲۹- مار سفند يا مهرسپند ۳۰- انيران يا به روز.[۱]

د زردُشتي دين پليونو له دې ورځو څخه په ځينو کې ځانګړي جشنونه او اخترې درلودې، چې د کتاب د دې دودونو او جشنونو په برخه کې به يې شرحه کړو.

د دې ورځو کارېدنه په تاريخ کې د ساساني پېر په وروستيو او لومړۍ اسلامي پېړۍ کې له دې څرګنده ده چې طبري د خسرو پروېز نيول کېدل د آذر په مياشت، د آذر په ورځ[۲] (د ٦ ل کال اسفند) او د شېرويه د زوی ارد شېر مړۀ کېدل د بهمن د مياشتې په دويمه، د آبان ورځې په شپه[۳] (د ۹ ل کال د ارديبهشت نهمه) او د شهربراز وژنه د اسفندارمذ مياشتې د ديبدين په ورځ[٤] (د ۹ ل کال د خرداد ۲۱مه) ليکي؛ نو له دې څرګندېږي چې د اسلامي پېر تر لومړيو پورې د اونۍ شمېرنې دود په خراسان او عراق کې نه و. څرنګه چې دا ترتيب د کلدانيانو او آشوريانو يادګار دی، يهوديانو او مسيحيانو هم له هغوی اخيستی او دلته و؛ نو خلکو به د هغۀ په وسيله اونۍ پېژندله چې رسمي دود يې تر اسلام وروسته دی.

په دې ډول زردُشتي خلکو اونۍ نه درلوده؛ خو په سامي قومونو کې د هغې له

---

[۱] - آثارالباقيه ۴۳، ۲۳۰ او اندرز آذر بدمارسپندان، د تبرېز د ادبياتو پوهنځي په مجله کې چاپ، ۱۳۳۸ل.

[۲] - طبري ۱/ ٦۱۷.

[۳] - پورتنی اثر ۱/ ٦۲۹.

[٤] - پورتنی اثر، ۱/ ٦۲۹.

شتونه خبر وو. د افغانستان د ختيځو سيمو خلکو هم په څرگنده د اونۍ ورځې نه کارولې، که څه هم په سنسکرېت او هند کې د اونۍ ورځې وې.

ځکه هيونڅانگ چې د ۹ س شاوخوا يې گندهارا ليدلې او د هغۀ مهال د دود کاليز په اړه ږغېږي، د اونۍ د ورځو په اړه څه نه وايي. د بغلان د سرۀ کوتل په ډبرليک کې هم د هغۀ نېټه د کنيشکا د پاچاهي يودېرشم کال د نيسان (د غويي) مياشت ۱٦۰ز شاوخوا ليکل شوې ده[1] چې د ورځې يادونه نه لري. همدا رنگه د وردگو د خوات په خروشتي ډبرليک کې ورځ نه ده ځانگړې شوې او وايي: چې د کنيشکا د پېر په ۵۱ کال د ارته مى زيوس (يوناني) مياشتې په ۱۵مه نېټه د خوات عبادتځى جوړ شو؛[2] خو د وزيرستان د توچي په ډبرليک کې –لکه چې د دې بحث په سر کې تېر شول- نېټه د کرتيکا مياشت او د تاريک دويمه ورځ (يعنې اوولسم) بې د ورځې له يادون ليکل شوې ده، په داسې حال کې چې په عربي ليکدود کې د ۲۴۳س کال د جمادي الاول۱۳مه د جمعې ورځ راغلې ده. له دې معلومېږي چې د ورځې ځانگړي کول يې لکه هيونڅانگ چې شرحه ورکړې، په پنځلسو تيارو او رڼا ورځو کول او د اونۍ د ورځو ليکل دود نه وو.

البېروني وايي: هنديانو د اونۍ د ورځو نومونه پېژندل او هره ورځ يې د اووه و ستورو له نومونو په يوۀ نوملې وه، چې د هماغۀ ستوري تر نامۀ وروسته يې د «بار» کلمه ورسره راوړه چې په سنسکرېت کې د يوې اونۍ اوومه برخه او د پارسي شنبې انډول وه. کټمټ همدا ترتيب په انگلېسي او فرانسوي کې هم تر اوسه راروان دی، په دې ډول:

۱- د يکشنبې ورځ: آدت‌بار (اوسنی اتوار) SUNDAY يعنې د لمر ورځ.

۲- د دوشنبې ورځ: سومه‌بار (اوسنی سوموار) MONDAY يعنې د سپوږمۍ ورځ.

۳- د سه شنبې ورځ: منگل‌بار (اوسنی منگلوار) TUSEDAY يعنې د مريخ ورځ.

۴- د چهار شنبې ورځ: بده‌بار (اوسنی بدهوار) WEDNESDAY يعنې د عطارد ورځ.

۵- د پنجشنبې ورځ: برهسپت‌بار (اوسنی لکشمي‌وار) THURSDAY د مشتري ورځ.

٦- د جمعې ورځ شکروبار (اوسنی شکروار) FRIDAY يعنې د زهره ورځ.

---

[1] - مادر زبان دری ۱۰.

[2] - تاريخ افغانستان ۲/ ۳۰۲.

۷- د شنبې ورځ: سنیشچربار(اوسنی‌سنیچروار)SATURDAY یعنې د زحل ورځ.[1]
د اونۍ د ورځو نومونه په هند او ختیځ افغانستان کې همداسې وو؛ خو کارول یې عام نه وو. په سامي ملتونو په تېره په مغرب او شام کې د اونۍ ورځې د تورات له روایت سره سمې دي، چې عاربه عربو او عربي ملتونو هم ترې اخیستي دي. د اونۍ نومونه په عربي کې د جاهلیت په پېر کې داسې وو:
۱- الاحد ۲- اهون ۳- جبار ۴- دبار ۵- مونس ٦- عروبه ۷- شیار. بیا وروسته په اسلامي پېر کې د اووەو ورځو لپاره د الأحد –الاثنان –الثلثاء- الأربعاء- الخمیس – الجمعه - السبت نومونه کارېدل.[2]
په لومړۍ اسلامي پېړۍ کې چې خراسان عربي لښکرو ونیو، د اونۍ نومونه یې هم له خپلو نورو فرهنګي پنځونو سره خراسان ته راوړل. څرنګه چې د جمعې ورځ د قرآن او حدیثو له مخه سپېڅلې او د عبادت ورځ وه، اونۍ په کې پای ته رسېده او اونۍ د سبت یعنې شنبې له ورځې پیلېده.
سبت کلمه په آرامي کې سبث SABBATH په سریاني کې شبتاSHABTA په عبري کې شباتSHABBAT  په اکدي کې شبتوSHABATTU وه، چې په ریښه کې یې د هوساینې او سینګار مفهوم نغښتی و. په عربي کې هم سَبَتَ آرام یې وکړ او یا پرې یې کړ، دی. له همدې سامي ریښې څخه یې مفرسه کلمه جوړه کړه او شنبذ یې وبلله، چې وروسته ترې شنبه کلمه جوړه شوه او د اونۍ نومونه یې په هغې وټاکل.
د کلمو په بدلون کې کله تر (ب او ک) د مخه په ځینو کې نون زیاتوي، لکه: تنباکو چې له تباکو او تاباکو څخه اخیستل شوې ده او تفنګ او فشنګ چې له تفک او فشک څخه جوړ شول. په همدې ډول یې په شبت کې هم نون زیات کړ او شنبت او شنبد یې ترې جوړ کړ چې وروستۍ بڼه یې شنبه ده.[3] خو داسې برېښي چې

[1] - کتاب‌الهند ۱۷۱.
[2] - آثارالباقیه ۴۸او ٦۴.
[3] - چهل مقالهٔ کسروی تر ۲۳۸ وروسته، د تهران چاپ، ۱۳۳۵ل.

دا يې د (ب) په زور او زېر دواړو تلفظوله، د ساري په ډول په يوه پېر او يوه دربار كې منوچهري دامغاني هغه په مخ پاى زور په (ببد) قافيه كې راوړې؛ خو فرخي د بې په زېر په (واجدى) قافيه كې ځاى كړې ده؛ منوچهري وايي:

به فال نيک به روز مبارک شَنبَد نبيد گيرومَدِه روزگار خويش بَبَد

خو فرخي وايي:

رادى را تـــو اول و آخـــرى حُـرّي را تواضـع و واجِـدِى
تـو بهمـه جهـان بـه پيشـى ونـام همچـو زجمـع روزهـا شَـنبِدى

دا كلمه په ارمني كې شاپات، په شېرازي پارسي كې SHAMBED په گيلكي كې SHAMBA[1] په كابلۍ دري كې SHAMBE او په پښتو كې هم په (ې) شمبې پاتې ده. د اسلامي پېر له لومړيو يې د اونۍ ورځې شنبه، يکشنبه، دوشنبه، سه‌شنبه، چهارشنبه، پنجشنبه شمېرلي دي او بلې ورځې ته يې كله هماغه عربي نوم جمعه او كله آدينه ويلې ده. د ورځو دا نومونه هغه مهال بشپړ دود وو، چې بلخې سامانيانو د دري ژبې په پاللو لاس پورې كړ. لكه چې د خراسان عالم وزير ابوعلى محمد بلعمي په ۳۵۲س= ۹۶۳ز كې د تاريخ طبري د ژباړې او تلخيص پر مهال د جمعې پر ځاى آدينه كلمه او د ورځو دا نومونه پرله‌پسې كارولي دي.[2] لكه چې سيندكښوني (قاموسپوهان) وايي آدينه كلمه يې له آذين څخه د ښكلا او سينگار په معنى اخيستې ده. ځكه جمعه د مسلمانانو د ځرگندې ښكلاينې ورځ ده[3] چې په عربي كې يې يوم الزينة بلله.[4]

پته دې نه وي چې د اونۍ د ورځو دا نومونه په سغدي ژبه كې هم دود وو. په مانوي اسنادو كې چې په تورفان كې موندل شوي او ځينې يې د مانوي ورځو په اړه دي، د دې ورځو نومونه كټ‌مټ د اوسمهال د ورځو غوندې ياد شوي دي؛ خو په

---

[1] - د برهان حاشيې ۱۳۰۰.بر.
[2] - تاريخ بلعمي ۱/ تر ۳۲ وروسته، د تهران چاپ، ۱۳۴۱ل.
[3] - غياث‌اللغة ۱۱، د سروري د شرح عربى گلستان په حواله.
[4] - فرهنگ ناصري.

دې اسنادو کې د شنبې کلمې تلفظ SHAMBYD لیکل شوی، چې هماغه شنبِد دی. د جمعې (آدینه) ورځ یې نوگ روچ NWGRWC بللې ده، چې په پښتو کې (نوې روځ) او په دري کې (روز نو) ده. څرنگه چې د تورفان دا سغدي اسناد په ۲۵۲س= ۸۶۵ ز او ۳۱۹س= ۹۳۰ز شاوخوا کلونو پورې اړه لري،[1] نو ویلای شو چې په دویمه لیږدې پېړۍ کې د اونۍ ورځې په سغدي ژبه کې هم دود وې.

## د عربي میاشتو تاریخ

څرنگه چې په لومړۍ اسلامي پېړۍ کې له عربي سوبو سره په خراسان کې لیږدې عربي او اسلامي نېټه او کالیز دود شول، نو باید دلته هغه هم توضیح کړو:

د اسلام تر څلا د مخه د عربو په منځ کې، سپوږمیز لمریز (گډ) کال او سپوږمیزې میاشتې د اوږمۍ لیدو په حساب کارېدې، چې نومونه به یې د میاشتو د نومونو په لښتلیک کې راشي. دا چې کال گډ و، د ځینو میاشتو له نومونو لکه لومړی او دوهم ربیع د پسرلي او غوټیو غوړېدا موسم، له لومړي او دوهم جُمادَی (د درېدا او کنگل موسم) او له رمضان (د سختې گرمۍ موسم) معنی برېښي. ښایي د تِشري په نامۀ د یهودو له کال سره سمون ولري، چې د سپوږمیز او لمریز گډوله وه. البېروني د ابومعشر بلخي په حواله دا مطلب لیکي چې د کال دا اوړون له سوچه سپوږمیز، په سپوږمیز- لمریز کال تر هجرت دوه سوه کاله د مخه د یهودي کالیز په اغېز رامنځ ته شوی و.

خو په اسلامي پېر کې چې یواځې سپوږمیز کال د کارېدو شو، نو هر ۳۳ سپوږمیز کلونه ۳۲ لمریز کلونه کېدل.[2] پر دې بنسټ خراجي کال (مالیه ورکونه) د لمریز له مخه شمېرل کېدۀ، د ساري په توگه ۱۰۰ سپوږمیز کاله له ۹۷ لمریزو سره برابر وو. په لومړیو اسلامي پېړیو کې یې تل پر هرو ۳۳ سپوږمیزو کلونو یو کال ورزیاتاوۀ. په بله وینا هغه کال چې تر ۳۲ خراجي کلونو وروسته راتۀ، د دې پر ځای

---

[1] - بیست مقالۀ، د تقي‌زاده، د روزه های مانوی پر مقاله حاشیې تر ۳۵۵ وروسته، د تهران چاپ، ۱۳۴۱ل.

[2] - د اسلامي دایرةالمعارف لنډیز ۵۷۸ (انگلیسي) د بریل لیدن چاپ، ۱۹۵۳ز.

چې درې دیرشم کال یې ونوموي، ۳۴ یې حساباوۀ. باید وویل شي چې: خراجي (لمریز) کال په نامۀ یو کال له لومړیو اسلامي پېړیو راهیسې کارېدۀ او ښایي په عراق او ایران کې یې رامنځ ته کېدل د عربو د واکمنۍ مهال ته نږدې وي.[1]

### خو د لېږدي کال ټاکل

د لېږد پر ۱۷ کال چې حضرت‌عمر دفترونه جوړ او خراج او قوانین رامنځ ته کړل؛ نو تاریخ لیکنې ته اړتیا پیدا شوه، په دې اړه یې له هرمزان نومي څخه مشوره وغوښته، هغۀ وویل: موږ حساب لرو چې هغۀ ته ماه‌روځ وایو، یعنې د میاشتو او ورځو شمېرل. نوعربو د «ماه او روز»کلمې معربې کړې او«مؤرخ) یې وبللې او له هغۀ یې د عربي په قاعده د تفعیل پر وزن د تاریخ مصدر جوړ کړ. څرنگه چې د حضرت‌پېغامبرﷺد زوکړې او بعثت په نېټه کې اختلاف و؛ نو د خپل تاریخ پیل یې د لېږد کال ونیوۀ، چې اختلاف په کې نه و.

د لېږد او مدینې ته د رسېدو نېټه د ربیع الاول ۸ مه د دوشنبې ورځ وه (د ۶۲۲ ز د سپټمبر ۲۲مه) خو مسلمانانو لومړۍ میاشت یعنې د هماغه کال محرم (د ۶۲۲ ز د جولای ۱۵مه د پنجشنبې ورځ) د خپل تاریخ پیل ونیو. دا تاریخ یې تر لېږد ۱۷ کاله وروسته د حضرت‌عمر په پېر کې وټاکۀ.[2] د ۱۲ سپوږمیزو میاشتو حساب (خو د کبیسه په صورت کې ۱۳میاشتې) یې وټاکۀ، چې د قرآني امر له مخه یې په اوږدو لیدلو پورې اړه درلوده. د میاشتو نومونه یې هم د هغۀ مهال د مروجو له مخه د محرم، صفر لړۍ تر آخره ومنله، چې د سپوږمیزو میاشتو نومونه به د دې بحث په ځانگړي لښتلیک کې راشي.

عربو د زردُشتیانو غوندې د هرې میاشې د دېرشو ورځو لپاره ځانگړي نومونه غوره نه کړل؛ خو په هره میاشت کې یې د سپوږمۍ له حال او رڼایي سره سمې درې درې شپې په ځانگړو نومونو په دې ډول ونوملې:

د میاشتې‌لومړۍ درې‌شپې د غرر (د غره‌جمع) تر ۳پورې یعنې د هر څیز لومړی.

د میاشتې دویمې درې شپې تر۶ نفل یا شُهَب.

---

[1] - مقالات تقی‌زاده ۱۶۷، مقالت مبداء تاریخ.

[2] - آثارالباقیه ۲۹، ۳۰.

د میاشتې درېیمې درې شپې تر ۹ تُسَع یا بُهَر.
د میاشتې څلورمې درې شپې تر ۱۲ عُشَر.
د میاشتې پنځمې درې شپې تر ۱۵ بِیَض.
د میاشتې شپږمې درې شپې تر ۱۸ دُرَع.
د میاشتې اوومې درې شپې تر ۲۱ ظُلَم.
د میاشتې اتمې درې شپې تر۲۴ حُنادِس‌یا دُهم
د میاشتې نهمې درې شپې تر ۲۷ دُادِی.
د میاشتې لسمې درې شپې تر ۳۰ مِحاق.[۱]

همدا رنګه د میاشتې لومړۍ شپه غره، څوارلسمه شپه بدر او وروستۍ شپه سلخ نومېده.

**نورې سنې او کالیزونه**

پر هندي او عربي لېږدیزو سربېره چې د اسلامي سوبو په لومړیو کې په خراسان کې دود وو او موږ شرحه کړي دي نور کالیزونه هم په دې ډول وو:

**۱- مجوسي کالیز**

لکه د ورځو او اونیو په بحث کې مو چې وویل، په لومړۍ اسلامي پېړۍ کې د افغانستان د وګړو یوه مهمه برخه په زردُشتي مزدیسنا دین ګروهمن وو. هغوی د تاریخ مجوس یا مغان[۲] په نامهٔ د ورځو شمېر او کالیز درلود، چې په خراسان او ماوراءالنهر کې بشپړ دود و. د دې کالیز د میاشتو ترتیب به د دې بحث په اړوند لښتلیک کې راشي. پیل یې په مروه کې د وروستي ساساني پاچاه یزدګرد د وژنې (۳۱س= ۶۵۲ز) له لومړي کال څخه و. په قانون‌مسعودي کې البېروني وایي د امو سیند لوېدیځو او د ماوراءالنهر زردُشتیانو- چې مبیضه او اسفندیاریه وو- دواړو د تاریخ دا پیل کاراوهٔ.[۳]

[۱] - آثارالباقیه ۶۴.
[۲] - دا نوم البېروني په آثارالباقیه او نورو کې دې کالیز ته ورکړی دی.
[۳] - مقالات تقی‌زاده، تر ۱۸۲ وروسته.

د زردُشتیانو کال۱۲دېرش ورځنۍ میاشتې درلودې چې ټولې ۳٦۰ ورځې او د ورځې څلورمه برخه وه؛ خو پنځه ورځې یې هر کال د پنجي او اندره‌گا (معرب اندرجاه) په نامهٔ د اتمې میاشتې یعنې آبان په پای پورې ورنښلولې. په خراسان کې دا دود پاتې و او کال د ورځې څلورمه او ۳٦۵ ورځې و. دا څلورمه به یې پرېښوده چې په ۱۲۰ کلونو کې یوه میاشت کېده؛ نو د دې کال میاشتې یې ۱۳ شمېرلې چې کبیسه دی. زردُشتیان گروهمن وو چې د هغوی د کال پیل د لومړي انسان له پیدا کېدو یعنې د فروردین میاشتې له هرمزد ورځې څخه پیل شوی دی، چې لمر د پسرلي د برابرۍ په منځنۍ نقطه کې د اسمان په منځ کې وي.[1]

## ۲ـ بابلی کالیز

د لومړیو اسلامي پېړیو په افغانستان کې له نورو دود کلونو او میاشتو څخه بابلي میاشتې دي، چې په سریاني او یهودي ملتونو کې دود وې. بابلي د نړۍ له مشهورو کالیزونو څخه و.

لومړۍ مسیحي پېړۍ ته نږدې د کوشانیانو په پېر کې یې په تخارستان کې دا میاشتې لیکلې. د دې خبرې دلیل د ۱٦۰ز شاوخوا د بغلان د سرهٔ کوتل ډبرلیک دی، چې ژبه یې پخوانۍ دري یا تخاري ده او لیکدود یې شکسته یوناني دی. د هغهٔ نېټه یې په بابلي میاشت داسې لیکلې ده:

«به سی ویکم سال سلطنت، هنگام نیسان ماه»[2] د پاچاهي په یو دېرشم کال، د غویي میاشت.

په اصل کې ډبرلیک په یوناني تورو NEICAN لیکل شوی؛ خو څرگنده نه ده چې تخاري تلفظ یې د یهودي غوندې نیسن و او که د سریاني‌کالیز غوندې نیسان؟

«بن‌ونیست» وایي دا بابلی کالیز په سغدي کې هم دود و. نیسان د رومي کال اوومه میاشت او له آره بابلۍ پسرلنۍ میاشت د فرنگي مارچ اپریل (د لمریز غویي) انډول او په سریاني کالیز کې هم اوومه میاشت ده؛ خو د یهودو په مذهبي کال کې لومړۍ میاشت او دېرش ورځې وه.[3] د دې کلمې اوړون داسې دی:

اکادي: نیسن ← آرامي: نیسن ← سریاني او عربي: نیسان.[4]

---

[1] - آثارالباقیه ۴۳ او مقالات ۱۸۱.

[2] - مادر زبان دری ۱۴۰.

[3] - دایرةالمعارف اسلامی نیسان سرلیک.

[4] - الدخیل في اللغة العربیة، مجلة کلیة الأدب، قاهره ۱/ ۴۹ می ۱۹۵۰ز.

ښرنګه چې دا کالیز په تخاري او سغدي کې دود و او لکه چې تېر شول یهود لرګي هم د خراسان په ښارونو کې وو، نو ښرګنده ده چې وګړي پر دې کالیز پوهېدل. البېروني وایي کال یې په سپوږمیز حساب ۳۵۴ ورځې او لومړی میاشت یې هم نیسان وه، چې د ونو بوټو د ښېرازۍ او سمسورتیا ورځې دي.[1] په خراسان کې د نیسان میاشتې همدا شهرت او مخینه وه چې د اسلامي پېړیو په لومړیو کې په دري ادبیاتو کې هم ځای شوه او هغه یې د ښېرازۍ او غوړېدا موسم وګاڼۀ.

فرخي وایي:

تا چون ز در باغ دراید مـه نیسـان　　از دیدن او تازه شود روی بساتین

(دېوان ۲۹٦)

تر دې لا پخوا رودکي په خپله مشهوره بوللـه «مادرمی» کې ویلي وو:

هم به خاندر همی گذارد چو نین　　تـا بگـه نـوبهـار و نیمـۀ نیســان

### ۳ ـ سیستانی کالیز

البېروني له سیستاني مهندس احمد بن محمد ښخه اورېدلي وو، چې د سیستانیانو نیکونو (د عربي کالیز تر کارونې د مخه) د خپلو میاشتو لپاره ځانګړي نومونه درلودل، چې د کال پیل یې د فروردین (وري) له شاوخوا ښخه و.[2] له دې ښرګندېږي چې د سیستانیانو کال هم لمریز و، د سیستان د میاشتو نومونه به په اړوند لښتلیک کې ولیکو.

### ۴ ـ خوارزمي او سغدي کالیز

دا کالیز هم په لومړیو اسلامي پېړیو کې د خراسان په شمال سغد او خوارزم کې موجود و، چې نومونه یې په اړوند لښتلیک کې لیکو. خوارزمیانو د خپل تاریخ پیل له هغې ودانۍ ښخه بالۀ چې تر سکندر ۹۸۰ کاله د مخه وه. بیا وروسته چې په (٦۱٦) کال کې د آفریغ خوارزمشاه زوی سکندري د فیر کلا او مانۍ بنسټ د خوارزم د ښار په یوۀ اړخ کې کښېښود؛ نو د خپل تاریخ پیل یې وګاڼۀ، چې د قتیبه بن مسلم له

---

[1] - آثارالباقیه ۵۳.

[2] - پورتنی اثر ۴۲.

خوا د خوارزم تر دوهم څل نیولو (تر۸۸ س وروسته) پورې یې همدا خوارزمي کالیز کاراوۀ. خو قتیبه له خپل لوري «اسکجموکه بن ازکاجوار» خوارزمشاه هلته وګومارۀ او د خوارزم کالیز هم د نورو مسلمانانو په څېر هجري شو. قتیبه خوارزمي او سغدي لیک، دودونه او فرهنګ به بشپړ ډول لهمنځه یووړل او هغه کسان لهمنځه یووړل شول چې پر هغو پوهېدۀ.

د خوارزم او سغد د کالیز میاشتې د زردُشتي میاشتو غوندې په شمېر او ځومرهوالي کې یو ډول وې؛ خو د ځینو میاشتو په سر کې یې په خپلو کې اختلاف درلود، پنځه پټې ورځې یې د کال په پای پورې نښلولې. د خپل کال پیل یې د فروردین او خرداذ روز څخه شمېرۀ. خوارزمیانو په خپله ژبه او سغدیانو په سغدي ژبه د زردُشتیانو غوندې د دېرش ورځو لپاره دېرش نومونه درلودل. د پټو پنځو لپاره هم په دواړو ژبو کې ځانګړي نومونه وو، چې البېروني شرحه کړې دي. خو لکه چې وویل شول د اونۍ ورځې یې نه درلودې[1] او هغه یې د اسلام تر خپرېدو او سوبې وروسته له مسلمانانو څخه واخیستې.

---

[1] - آثارالباقیه ۳۵ او ۴۸.

### د هغو میاشتو لښتلیک چې د اسلام څخه ته نږدې په افغانستان کې دود وې له آثارالباقیه ۶۹مخ او د البیروني کتاب الهند ۳۰۲

| ګڼه | عربي لېږدي | یهودي | زردشتي | سیستاني | سغدي | خوارزمي | سریاني او نسطوري | هندي | ترکي |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| ۱ | محرم | تشري | فروردین ماه | کواذ | نوسرد | ناو سارچي | تشرین الاول | بیشاک | سجقان |
| ۲ | صفر | مرخشوان | اردي بهشت | رهو(دهو) | جرجن | اردوست | تشرین الاخر | جیرت(زیشت) | اود |
| ۳ | ربیع الاول | کسلیو | خرداذ ماه | اوسال | نینج | هروداذ | کانون الاول | آشار | بارس |
| ۴ | ربیع الثاني | طبیبث (طبیث) | تیرماه | تیرکیانوا | نساکنج | جیري | کانون الاخر | شرابن(سراوان) | تفشخان |
| ۵ | جمادی الاول | شفط | مرداذ ماه | سریزوا | اشنا خنداه | همذ | شباط | بهربد(بهادور) | لو |
| ۶ | جمادی الاخر | آذر | شهریور ماه | مریزوا | مرخندا | اخشر یوري | آذار | اسوج | بیلان |
| ۷ | رجب | نیسن | مهر ماه | مزور(توزر) | نغکان | اومري | نیسان | کارث(کارتک) | یونت |
| ۸ | شعبان | ایر | آبان ماه | هرانوا | ابانج | تایاخن(یا ناخن) | ایار | منکس منګر | فوی |
| ۹ | رمضان | سیون | آذر ماه | ارکبازوا | فوغ | اری(ارو) | حزیران | پوش | بیجین |
| ۱۰ | شوال | تمز | دي ماه | کژپشت | مسانوغ | ریمژد | تموز | ماګ | تغوق |
| ۱۱ | ذوالقعده | اوب | بهمن ماه | کژشن(لرسن) | ژیمدنج | اخمن(رشمن) | آب | پاګن | ایت |
| ۱۲ | ذوالحجه | ایلول | اسفندارمذ ماه | ساروا | خشوم | اسبندارمجی | ایاول | چیتر | تونکز |

# اخترونه او ځانګړې ورځې

د اسلام ځلا ته نږدې په افغانستان کې د بېلابېلو دینونو څښتنانو ځانګړي اخترونه او ورځې درلودې، چې د هغو په دود کالیز کې معلومې وې. څرنګه چې عربي سوبمنان د اسلام له دین سره دې خاورې ته راغلل، زیاتره دیني اسلامي اخترونه او سپېڅلې ورځې هم دود شوې؛ خو د ځینو پخوانیو اخترونو او ورځو پاتې شوني لا تر اوسه هم شته او لیدل کېږي.

څرنګه چې اسلامي اخترې او ځانګړې ورځې تر اوسه هم چلندې او څرګندې دي او هر څوک يې پېژني دلته يې نه شرحه کوو؛ خو د هغۀ څه په اړه له تاریخي اړخه شرحه ورکوو، چې تر اوسه لهمنځه تللي:

## د هېواد په ختیځ کې

د هېواد په ختیځو خواوو کې چې له بودایانو او نورو هندي دینونو سره يې ګډ دین او دود درلود، اختر ته يې زاتر= جاتر وايۀ. ښځو او کوچنیانو ډېر ځانګړي اخترونه درلودل. کشمیریانو د چیتر په دویمه د «اګدوس» په نامۀ اختر درلود، چې د خپل پاچاه مُتي MUTAI - چې پر ترکانو يې برې موندلی و- په نامۀ به يې جشن کاوۀ. د همدې میاشتې یوولسمه د «هندولي» چیتر په نامۀ اختر و. په ۲۲مه يې اختر او د خوشحالۍ ورځ وه چې په کې لمبل به يې او صدقه به يې ورکوله.

د بیساک په درېیمه د مهادیو د مېرمن «ګورتر» په نامۀ د ښځو اختر کېدۀ چې تر لمبا وروسته د صدقو په ورکولو، خوشبوی لوګی کولو او بت ته نږدې په څراغونو بلولو ترسره کېدۀ، برهمنانو هم د میاشتې په لسمه نېټه په صحرا کې لوی اور بلاوۀ او تر۱۶مې ورځې پورې يې دا مراسم اوږدول. د همدې میاشتې په پسرلنۍ برابرۍ کې

د «بسنت» جشن هم نمانځل کېدهٔ. د چيرت (جيتهه) مياشتې په لومړۍ ورځ يې ستره غونډه کوله او د کروندو نوی حاصل به يې په اوبو کې د تبرک لپاره اچاوهٔ. همدا رنګه ښځينه اختر و، چې «روپ پنجه» يې بالهٔ.

د آشار (اساړه) ټوله مياشت د آهاري په نامهٔ د صدقې او لوښو نويو کولو ورځې وې. د شرابن (ساون) مياشتې په هرکلي کې يې برهمنانو ته مېلمستياوې کولې. د اسوج اتمه ورځ چې سپوږمۍ۱۹پړاو ته راتله «مهانفمي» اختر و چې په هغهٔ کې به يې نوي رسېدلي ګني ژوول او وزګوړي (مرغومي) به يې حلالول. په پنځلسمه ورځ چې لمر به وروستي پړاو ته رسېدهٔ«پهايه PUHAYA» اختر کېدهٔ، چې غېږې به يې په کې نيولې او په څارويو به يې لوبې کولې. په اوولسمه ورځ به يې برهمنانو ته صدقې ورکولې. همدا رنګه په ۲۳ مه ورځ د «آشوک» اختر و چې خوشحالی به يې په کې کولې او غېږې به يې نيولې.

په بهادر (بهادون) مياشت کې هغه مهال چې سپوږمۍ به لسم پړاو ته رسېدله، د «پترپکش» يعنې نيمه مياشت په نامهٔ د خپلو نيکونو لپاره جشن جوړاوهٔ او د هغو په نامهٔ به يې صدقې ورکولې. د همدې مياشتې په درېيمه ورځ د ښځو ځانګړی جشن «هربالي» و. په اتمه او يوولسمه ورځ د «بربت» په نامهٔ بل لوی اختر و. د همدې مياشتې په ۱۶مه د «کراره» په نامهٔ د کوچنيانو اختر کېدهٔ چې کوچنيان به يې په کې سينګارول او د حيواناتو له ډولونو سره به يې لوبې کولې. کله چې به سپوږمۍ خوارلسم پړاو ته رسېده، تر درېو ورځو پورې به يې د «ګونالهيد» په نامهٔ اختر کاوهٔ او کشميريانو د همدې مياشتې په ۲۶مه اختر درلود.

د کارتک مياشتې په لومړۍ نېټه ديبالي (ډيوالي) اختر و، چې په دغې ورځې به يې ځان مينځهٔ او سينګاراوهٔ، د پان او پيپل‌پاڼې به يې ډالۍ ورکولې او د شپې له خوا به يې څراغونه بلول.

همدا رنګه د منګهر په درېيمه د ښځو اختر او د پوش (پوه) مياشت د کوژدې د جشن مهال و. درېيمه يې د «ساګارتم» اختر او تېپرو خوړلو ورځ وه. د ماګ مياشتې درېيمه د ښځو اختر او د مشرانو په کورونو کې «ګور بُت» ته د راغونډېدو ورځ وه، چې ښځو به په يخو اوبو لمبل. د همدې مياشتې په لومړۍ نېټه به يې پر هسکو ځايونو اورونه بلول.

د همدې مياشتې په ۲۳مه د مانسرتګ ورځ وه، چې د غوښې او تورو ميو

مېلمستیاوې به یې کولې. د پګڼ میاشتې په اتمه یې د پورارتک په نامۀ برهمنانو ته له اوړو او غوړیو څخه ډول ډول خواړۀ پخول، ښځو به تر کلیو بهر اورونه بلول. ۱۶مه شپه چې شوارتر نومېده، تر سهاره به یې خوب نه کاوۀ او د مهادیو په نامۀ به یې ګلونه او خوشبویانې بخښلې.

د پګڼ میاشتې په ۲۳مه "پویتنه" اختر و چې وریجې، غوړي او خوږې یې په کې خوړلې او د ملتان هندوانو د "سانبه پورژاتر" په نامۀ د لمر اختر درلود، چې د لمر لور ته به یې سجدې کولې. پر دې سربېره د دې پېر هندوانو د ثواب لپاره ډېرې ورځې او ډېر نېکمرغه او بدمرغه وختونه درلودل.[1]

د دې ختیځو بودایي وګړو یا هندوانو پر وړاندې- چې ډېر له خرافاتو ډک دودونه یې درلودل- زردُشتي مزدیسنایي ټولنه هم په افغانستان کې وه. دا وګړي له اوستایي مهاله- چې بلخ، سیستان او ټول خراسان د مزدیسنا دین پالونکي و- په دې خاوره کې له خپلو پخوانیو ګروهو، دودونو او رواجونو سره اوسېدل چې د اسلام د خپرېدو په لومړۍ پېړۍ کې هم موجود وو.

په هغو آثارو کې چې د بغلان د سرۀ کوتل له عبادتځي تر لاسه شوي، په هغۀ عبادتځي کې د سپېڅلي اور شتون څرګند دی او د دویمې زېږدې پېړۍ په اوږدو کې د سرۀ کوتل د ډبرلیک له مخه هلته ایر= د پښتو «اور» لمانځل کېدۀ. کله چې د دې خاورې نیولو ته عرب لښکر راغی، هم مزدیسنایي عبادتځیونه د افغانستان په غرونو کې روښانه وو. د ساري په توګه عباسي خلیفه هارون‌الرشید چې په ۱۷۸س= ۷۹۴ز کې فضل بن‌یحیی برمکي د خراسان والي کړ، د دې عبادتځیو پاتې شوني یې ړنګ کړل او عرب شاعر مروان بن‌ابي حفصه یې په ستاینه کې وویل:

أبحت جبال الکابلی و لم تدع    بهـن لنـیران الظلالـة موقـدا[2]

زردُشتیان په اسلامي پېر کې هم لویو مقامونو ته ورسېدل؛ خو څرنګه چې له پخوا راهیسې بافرهنګه او باکلتوره وګړي وو؛ نو په خراسان او عراق کې یې د

---

[1] - کتاب‌الهند تر ۴۸۶ وروسته.

[2] - عصرالمأمون ۱/ ۱۴۳ د ډاکټر احمدفرید رفاعي تألیف، د قاهرې چاپ، ۱۹۲۷ز.

خلیفه‌گانو په ادارو کې مهم مقامونه درلودل. د اسماعیل صاحب بن‌عباد د وزارت په پېر کې (۳۲۶= ۳۸۵س) دینار مجوسي د ری د دفتر مشر، شتمن او ځواکمن سړی و، چې په خپل دفتر کې یې اور لمانځونکي راټول کړي وو؛ نو یوه کس د دې چارې په اړه صاحب ته داسې ولیکل:

فان ایسر ما فی قطع شأفته   تطهیر دیوانه من عابدی النار[1]

یعنې: «د ټلي د دې ټپ اسانه درملنه دا ده چې دفتر یې له اور لمانځونکو نه پاک شي.»

له دې روایت څخه څرګندېږي چې د هغهٔ مهال د خراسان په ټولنه کې زردُشتیان موجود او ګڼ وو او روښانه یا بل اورتونونه یې درلودل. نو دودونه او اخترونه یې په لومړیو اسلامي پېړیو کې مشهور شول او ان مسلمانانو او عربو هم په ځینو اخترونو کې د هغوی پلیون وکړ. څرنګه چې دا اخترونه د اسلامي پېر د فرهنګ او ادب برخه هم شوه، موږ یې په لنډیز دلته یادونه کوو، چې ډېر مشهور اخترونه یې وو:

## د خراسانیانو اخترې

په پهلوي کې نوکروز ROC Koc او په دري کې نوروز (یوم‌الجدید) جشن چې عربو هم نوروز یا نیروز وباله، دا د اسلامي پېر په لومړیو کې د خراسانیانو خورا لوی اختر و، چې د لمریز کال د لومړۍ میاشتې له لومړۍ ورځې یعنې وري یا فروردین میاشت ته د لمر له اوښتو څخه پیلېدهٔ.

په بنسټیز ډول د پخوانیو آریایانو کال دوه فصله لرل: یخني او ګرمي؛ په څلورو فصلونو د کال وېش وروسته پیدا شوی،[2] د اوستا په روایت لومړی د یخنۍ فصل او لس میاشتې او د ګرمۍ دوه میاشتې و؛ خو وروسته اوړی اووه میاشتې او ژمی پنځه میاشتې شو[3] چې د ګرمۍ د فصل په پیل کې نوروز او د یخنۍ د فصل په سر کې د مهرګان جشن و. لومړی په وري (فروردین) میاشت او پسرلني برابري او دوهم د تلې (مهر) په میاشت او منیز برابري کې راتهٔ. د نوموړو دوو جشنونو پر ځای ساتل تر

[1] - معجم‌الأدباء ٦/ ٢٦٢.

[2] - ګاه شماری تقی‌زاده ۴۴.

[3] - وندیداد، ۱فرګرد ۲، ۳بند.

اسلام وروسته هم عملي شوي دي.

د وري پنځه لومړۍ ورځې عام نوروز او شپږمه ورځ لوی یا ځانګړی نوروز و.[۱] د نوروز په ګهیځ به وګړو یو پر بل اوبه شیندلې او خوږې به یې ډالۍ کولې. اسلامي امیرانو به هم نوروزي ډالۍ اخیستې. د امویانو په پېر کې د عجمو دا ډالۍ له ۵ تر ۱۰ملیونو درهمونو پورې رسېدې.[۲] څرنګه چې د خلیفه‌ګانو په دربار کې د خراسانیانو اغېز تر ابومسلم او برمکیانو وروسته زیات شو، نو مهرګان بیا له سره ځلبل (رونق) وموند، ان چې عربو شاعرانو هم د دې عجمي جشنونو په اړه بوللې او شعرونه وویل. حمزه بن‌حسن اصفهاني دا ډول شعرونه او نظمونه په «أشعارالسایرة في النیروز و المهرجان»کې راټول کړي وو.[۳] د خراسان د پاچاهانو دود و چې په دې ورځ (د وري لومړۍ) به یې خپلو سپرو ته پسرلنۍ- دوبنۍ جامې ډالۍ کولې.[٤]

خو د مهرګان (معرب مهرجان) جشن چې له پخوا د میترا یعنې د رڼا او لمر د خدای جشن و، د تلې له ۱۶مې پیل او پر ۲۱مه یعنې «رام روځ» باندې پای ته رسېدهٔ. پیل یې عام مهرګان او پای یې ځانګړی یا لوی مهرګان و،[۵] چې تر اسلامي پېره او د غزنویانو تر درباره یې دوام وکړ.[٦] د لرغونو روایاتو له مخه دا جشن پر بیوراسپ (ضحاک) د افریدون د بري په یاد رامنځ ته شوی و.[۷] په دې ورځو کې به عجمو پاچاهانو هغه خول په سراوهٔ چې د لمر بڼه یې درلوده. ګهیځ لمر خاتهٔ مهال به په دربار کې یو سړی درېدهٔ او په لوړ ږغ به یې ویل:

---

[۱] - البیرونی در کتاب التفهیم ۲۵۳.
[۲] - تاریخ‌التمدن الإسلامی ۲/ ۲۲.
[۳] - آثارالباقیه ۳۱.
[٤] - پورتنی ۲۱۷.
[۵] - د برهان حاشیې ۴/ ۲۰٦۵.
[٦] - تاریخ بیهقي ۲۷۳.
[۷] - زین‌الأخبار، خطي ۲۱ باب.

«ای پرښتو! راکوزې شئ! شیطانان او بدکاران له دې نړۍ وشړئ!»

وګړي ګروهمن وو چې الله په دې ورځ ځمکه وغوړوله، په بدنونو کې یې روح پو کړ او سپوږمۍ ته یې په دې ورځ رڼا او ځلا وبخښله. که څوک په مهرګان کې انار وخوري او د ګلابو عطر بوی کړي، له آفاتو خوندي کېږي. د خراسان پاچاهانو په دې ورځ لښکرمشرانو ته منیزې (خزاني) او ژمنۍ جامې ډالۍ کولې. وګړو به د لوی مهرګان په ورځ (د تلې ۲۱مه) یو بل ته داسې دعاګانې کولې:«زر کلن شې!»[1]

مهرګان جشن د عربو او عجمو په اسلامي ادبیاتو کې ډېر زیات مشهور دی، جاحظ په« ألمحاسن‌والأضداد »کې د نیروز او مهرجان د ښېګڼو په اړه یو څپرکی لري، لکه دا عربي بیت:

ألمهرجـان لنـا یـوم نــسر بـه    یوم تعظمه الأشراف و العجـم

یعني:«مهرګان هغه ورځ ده چې موږ په کې خوشحالي وکړو او هغه ورځ ده چې اشراف او عجم یې درناوی کوي.»

عنصري د مهرګان د جشن په ستاینه کې ویلي:

مهرګــان آمــد ګرفتــه فــالش از نیکــي مثــال
نیکروز و نیک جشن و نیک وقت و نیک حـال

نو مهرګان په اسلامي پېر کې هم پر خپل هماغۀ پخواني اهمیت پاتې و. د ساري په توګه په ۱۲۰س= ۷۳۷ز کال کې کله چې اسد بن‌عبدالله په بلخ کې د خراسان حاکم و، د مهرګان په جشن کې یې ګډون وکړ او د یو ملیون درهمو قیمتي ډالۍ یې د هرات له حاکم او د هغۀ ځای له دهقانانو څخه واخیستې. په دې ورځ یې حضور ته ډېر امیران او دهقانان راغلل[2].

د نوروز او مهرګان پر دې دوو لویو جشنونو سربېره، د اسلام ځلا ته نږدې په خراسان کې نور جشنونه هم وو، چې دلته یې په لنډیز یادوو:

۱- باز

په عربي کې یې زمزمه او غُنّه بولي، د سروش په ورځ یعنې د وري (فروردین)

---

[1] - آثارالباقیه ۲۲۳.

[2] - طبري ۵/ ۴۶۵.

میاشتې په اوولسمه له خبرو منع شي، له چا سره خبرې ونه کړي او په لمونځونو، تسبیحاتو او سجدو بوخت شي. دا ورځ د سروش پرښتې (جبریل)په نامهٔ نومل شوې، چې په پېریانو او کوډګرو برلاسی او پر شپې ګومارل شوی دی. هره شپه درې ځله وګړي د پېریانو او کوډګرو له شره ژغوري.[1]

۲- فروردیګان

د وري میاشتې ۲۹مه چې د ورځې نوم له میاشتې سره برابر شوی، هغه یې د میاشتې له نامهٔ سره د سمون له امله ښه (لویه میاشت) ګڼله او جشن یې کاوهٔ.[2]

## ۳- اردي‌بهشتګان

د غويي (اردي‌بهشت) میاشتې دریېمه ورځ وه، چې د ورځې او میاشتې له نامهٔ سره یې سمون درلود؛ نو د هغې پرښتې په نامهٔ یې جشن جوړاوهٔ چې پر اور، رڼا، د ناروغیو پر درملنه، رښتیا ښودنې او د باطل پر ځای په حق رامنځ ته کولو ګومارل شوې ده.[3]

## ۴- د ګاهنبار (ګاهان‌بار) شپږ جشنونه

ګاهنبار په پهلوي کې ګاسانبار و، چې ګاس (ګاه) + بار د اوستا له یارې YA-RE کلمې څخه د کال په معنی دی.[4] زردُشتیانو د کال په بېلابېلو وختونو کې په دې نامهٔ شپږ جشنونه درلودل. د هغوی په ګروهه ګوندې چې الله په دې شپږو ورځو کې کاینات پنځولي دي. په شپږو ورځو کې د نړۍ پنځونې د دې ګروهې یادونه په تورات، انجیل او قرآن شریف[5] کې هم شوې ده.[6]

البېروني وايي: «زرادشت د کال وختونه برخې برخې کړي او ویلي یې دي چې په هره برخه کې یې الله تعالی څه پنځولي دي، لکه اسمان، ځمکه، اوبه، بوټي، ژوي او انسانان د نړۍ په ګډون په ټول کال کې وپنځېدل. د دې هرې برخې غوره لومړۍ پنځه ورځې دي او ګهنبَار نومېږي.»[7]

---

[1] - آثارالباقیه۲۱۹، زین‌الأخبار، خطي ۲۱ باب.

[2] - پورتني دواړه آثار.

[3] - پورتني دواړه آثار.

[4] - د برهان قاطع څنډې ۴/ ۱۷۷۱.

[5] - خلق‌الله السموات و الأرض في ستة أیام (قرآن، الأعراف ۵۲)

[6] - زین‌الأخبار ۲۱ باب.

[7] - کتاب‌التفهیم ۲٦۰.

گاهنبارونه ان له اوستايي پېره په خراسانيانو کې دود وو، د خرده اوستا، البېروني او گرديزي د شرحې له مخه يې لنډه پېژندنه دا ده چې په اوستا کې هر گنبهار جشن (يئيريه) يوه ورځ؛ خو په راوروسته دوديزو زردُشتي کتابونو کې هر گهنبار پنځه ورځې دی:

**لومړی**

لومړیگنبهار پهیسنا کې مئذیوي زریمیه MAIDHYOIZAREMAYA و، (البېروني - مدیوم زرم‌گاه) د کال په پنځه څلوېښتمه ورځ، د غويي له ١١مې او له لمر ورځې پيل او د دې مياشتې پر ١٥مه چې د دي‌بمهر ورځ وه، پای ته رسېدهٔ، چې د اسمان د پنځېدا ورځې دي.

**دوهم**

دوهم گهنبار په یسنا کې مئذیويشیمهMAIDHYOI-SHEME (البېروني-مديوشم گاه) د کال له يو سل پنځمې ورځې چې د چنگاښ له ١١مې سره سمون خوري، د همدې مياشتې تر١٥مې چې اوبه په کې پنځېدلي دي.

**درېيم**

دا گنبهار په اوستا کې پيتي‌شهھيهPAITISHHAHYA و، د کال په يو سل اتيايمه ورځ، چې د سنبلې مياشتې له ٢٦- ٣٠ سره سمون خوري، له اشتاذ ورځې پيل او د ځمکې د پيدا کېدو ورځ گڼل کېده. البېروني يې نوم«فيثهھيم گاه» راوړی دی.

**څلورم**

په اوستا کې اياثريمه AYATHRIMA (البېروني- اياثرم گاه) د کال دوه سوه لسمه او د اشتاذ ورځ د تلې له ٢٦مې تر اخره ده، چې ونې او بوټي په کې پيدا شوي دي.

**پنځم**

په اوستا کې ميذهبايئريه MAIDHYAIRYA (البېروني - مدياريم گاه) د کال دوه سوه نوي‌يمه او مهر ورځ د مرغومي له ١٦ تر ٢٠مې پورې چې څاروي په کې پيدا شوي دي.

**شپږم**

په اوستا کې هيهمسپث‌ميذيه HIAMASPATHMAEDAYA (البېروني- همشفث

میذگاه) د کال درې سوه پنځه شپیتمه ورځ، اندرگاه (پټه منگول= خمسة مسترقة) پنځه ورځې دوام کاوهٔ. وایي چې په هغو کې انسان پیدا شوی دی.[1]

شپږم ځل یې دا گاهان په حقیقت کې د مړو په یادجوړول، چې فروردگان (معرب فروردجان) یې هم بلل. په دې ورځو کې یې خوراکونه د مړو په سړخونو (دخمه ها) او ښباکونه یې د بامونو په سرونو ایښودل. داسې یې انگېرل چې د مړو روحونه په دې ورځو کې راگرځي او له دې خوړو ښخه ځواک اخلي. د دې لپاره چې دا روحونه یې له بوی ښخه خوند واخلي، په کورونو کې یې راسن (غرنی سوسن)[2] په دې گروهه لوگی کاوهٔ چې که څوک د وري په لومړۍ ورځ سهار له خبرو نه مخکې ښهٔ خوند وڅکي او ترنج بوی کړي ټول کال به یې نېکمرغه وي. که به سپوږمۍ په دې ورځ په اورنیو (ناري) منزلونو کې وه خلکو به گبین ښښل او که به په اوبي (آبي) منزلونو کې وه اوبه به یې ښښلې.[3]

په دې ترتیب به ټول کال د شپږو گاهنبارو چې هر یو پنځه ورځې و- دېرش ورځې اخترونه کېدل. دا دود له اوستایي پېره تر لومړیو اسلامي پېړیو پورې روان و. ان د گاهانبار دا اخترونه په مسلمانانو او عربو کې دومره مشهور وو، چې دا کلمه په عربي او دري دواړو ژبو کې د ادب برخه وگرځېده او وگړو د اختر او خوشحالۍ د ورځو په توگه پېژنده. د عربو مشهور شاعر ابونواس (۱۴۵-۱۹۸س) چې د رشید، امین او مامون د دربار سړی و، وایي:

والنّـــور كَـــروز الكبـــار وجَشـــــن كاهنبـــــار

چې په دې بیت کې یې د گاهانبار جشن له لوی نوروز سره یو ځای راوړی دی. اسدي طوسي ویلي دي:

بفرّ فریدون وهنـگ نهنـگ بگـــاه گهنبَـــار هوشـــنگ شـــــــــــــــنگ[4]

[1] - کتاب التفهیم ۲٦۰، زین‌الأخبار، خطي ۲۲ باب، آثارالباقیه تر ۲۱۵ وروسته او خرده اوستا تر ۲۱۵ وروسته.

[2] - ساسانیان ۲۲۳ او آثارالباقیه ۲۲۴.

[3] - آثارالباقیه ۲۲۵.

[4] - لغت فرس ۱٥٦.

**۵- خوردادګان**

د خورداد (غبرګولي) میاشتې شپږمه چې د دې ورځې نوم هم خورداد دی، څرنګه چې دې دوو نومونو سره سمون درلود، نو جشن یې جوړاوۀ. خورداد د یوې پرښتې نوم دی چې د خلکو، ونو او بوټو په پالنه او د ناولتیا په لیرې کولو ګومارل شوې ده.[1]

**٦- د نیلوفر جشن**

د چنګاښ پر شپږمه د خورداد په ورځ جوړېدۀ؛ خو دا جشن نوی دود شوی او پخوانی نه و.[2]

**۷- تیرګان**

د تیرماه (چنګاښ) دیارلسمه چې د ورځې له نامۀ سره یې سمون درلود، د تیرګان جشن جوړېدۀ، ګردېزی وایي:«دا هغه ورځ وه چې د منوچهر او افراسیاب تر منځ سوله وشوه، هغه مهال آرش غشی وویشت... هغه د فرغانې او تخارستان تر منځ غرۀ کې ولوېد، هغه بله ورځ دې غرۀ ته ورسېد، دیني مشران (مغان) بله ورځ جشن جوړوي او وایي بله ورځ دلته راورسېد.»[3]

البېروني وایي چې د تیر (چنګاښ) دیارلسمه د کوچني تیرګان او څوارلسم یې د لوی تیرګان جشن وي. وګړي په دې جشن کې غسل کوي، خټین لوښي او نغري ماتوي، غنم له مېوې سره پخوي او خوري یې.[4]

**۸- مردادګان**

د مرداد (زمري) اوومه چې د ورځې نوم هم مرداد دی، د مردادګان جشن و. مرداد د نړۍ ساتنې، خوړو، نباتي درملو، د لوږې او ناروغۍ د درملنې د ګومارلې پرښتې نوم دی.[5]

---

[1] - آثارالباقیه ۲۲۰.

[2] - پورتنی اثر.

[3] - زین‌الأخبار، خطي ۲۲ باب.

[4] - آثارالباقیه ۲۲۰، زین‌الأخبار ۲۲ باب، ساسانیان ۲۲٦ او التفهیم ۲۵۴.

[5] - آثارالباقیه۲۲۱.

**۹- شهریورګان**

د شهریور (وږي) څلورمه چې د ورځې نوم هم شهریور دی، نو د دې دواړو د سمون له امله جشن و. شهریور پر اووه ګونو جواهرو، فلزاتو او د نړۍ د صنعتونو پر پایښت د ګومارلې پرښتې نوم دی. دا جشن یې آذرجشن هم بالۀ، ځکه د اوړي وروستۍ، د یخنۍ لومړۍ او اور بلونې ته د خلکو د لېوالتیا ورځې وې. نو په کورونو کې یې لوی اورونه بلول. وایي چې خراسانیانو دا جشن د تخارستان له دودونو خپل کړی او هغه یې د ژمي له لومړۍ نېټې د مني لومړۍ ته راوړی و.[1]

**۱۰- آبانګان**

د آبان (لړم) لسمه چې د آبان له ورځې سره یې سمون درلود، د دواړو نومونو د سمون له امله د آبانګان په نامۀ جشن جوړېدۀ، چې خلکو د ځینو ټولنیزو او ودانیزو بریاوو په یاد جشن کاوۀ، ګردېزی وایي:«په آبانګان کې یې د زوطهماسپ په امر په ویالو کې ډېرې اوبه وبهولې چې افراسیاب چټلې کړې وې. په همدې ورځ په ټولو هېوادونو کې خبر خپور شو چې پاچاهي له ضحاکه لاړه او فریدون ته ورسېده. وګړي چې په ژوندانۀ کې په امن نه وو، له خپلو مېرمنو او اولادونو سره په امن کې کښېناستل او د خپل مال و ملک څښتنان شول.»[2]

**۱۱- آذرجشن (بهارجشن)**

د آذر (لیندۍ) میاشتې نهمه له آذر ورځې سره نږدې وه، چې د دې دوو نومونو د سمون له امله پر اور د ګومارلې پرښتې په نامۀ آذرجشن جوړېدۀ. زردُشتیان به په دې ورځ اورتونو ته ورتلل او ځان به یې اور ته توداوۀ، ځکه لیندۍ د ژمي د موسم وروستۍ میاشت او سخته یخنې وې.[3]

دا جشن یې د پسرلي د ورځو په رارسېدو «وهارجشن» هم بالۀ او د لیندۍ له لومړۍ پیلېدۀ. په اسلامي پېر کې یې ورته په عربي ژبه کې عید رکوب الکوسج هم وایۀ.[4]

---

[1] - پورتنی اثر ۲۲۲ او ساسانیان ۲۲٦.

[2] - زین‌الأخبار، خطي ۲۲باب.

[3] - آثارالباقیه ۲۲۵.

[4] - ساسانیان ۲۲۷.

گردېزی وايي:«خو بهارجشن چې هغۀ ته "رکوب‌کوسج" وايي... په همدې ورځ به يې کوسه سړی پر خرۀ سپراوۀ، تر زغرو د لاندې جامو استر (غليله جامې) به يې اغوست، پګړۍ به يې تړله، پکی به يې رااخيست او ځان ته به يې واهۀ... خلکو ته به يې ښودله چې يخني تېره شوه او تودوخه راغله.[1] دې پر کچر سپور کوسه سړي چې غوزان، هوږه، غوښه د يخنۍ تمبوونکي تادوۀ خوراکونه به يې خوړل او ښاکونه به يې ښل، په دې ورځ به يې پر هغۀ اوبه شيندلې؛ خو هغۀ به پکی واهۀ او په لوړ ږغ به يې ويل: ګرمي! ګرمي! خلکو به په دې جشن کې خوښي او خوشحالي کوله.»[2]

## ۱۲- خرم روز

د دي يا خور ماه (مرغومي) په لومړۍ نېټه د خرم روز جشن و، چې دا د مرغومي مياشت د يوۀ زردُشتي روحانی له انده خدايي مياشت ده او لومړۍ ورځ يې هم د هرمزد (حکيم خدای) په نامۀ نوموي. دا ورځ ډېره مبارکه ګڼي او «نود روز» ورته هم وايي، چې له دې ورځې تر نوي ورځو پورې نوروز وي.[3]

د خرم روز په جشن کې پاچاه له پاچاهي پلازه راکوزېدۀ، سپينې جامې يې اغوستې او له ولس سره په ميدان کې په سپين فرش کښېناستۀ، بې له ساتندويانو او پاچاهي دبدبې به يې له ولس، بزګرانو او کروندګرو سره د هغو د چارو په اړه خبرې کولې، ډوډۍ يې خوړه او هغوی ته يې ويل: نن زه ستاسو غوندې او ستاسو ورور يم، ځکه د نړۍ پايښت پر رغونې دی، چې اوس ستاسو په لاس کېږي (يعنې کرنه) او دا رغونه هم پر حکومت اړه لري، چې يو بل ته اړتيا لري، څرنګه چې همداسې ده: نو موږ او تاسې لکه د "اوشهنګ" او "ويکرد" غوندې وروڼه ياستو.[4]

---

[1] - زين‌الأخبار ۲۲ باب.

[2] - مروج‌الذهب ۲/ ۱۰٦.

[3] - زين‌الأخبار ۲۲ باب.

[4] - آثارالباقيه ۲۲۵، کريستين‌سين وايي د هوشنګ درېيم ورور ويکرد هماغه دی چې وايکرته VAE’ KERETA يعنې د کندهار سيمه ورته منسوبه ده او د ونديداد د لومړي څپرکي له مخه دا سيمه اووم هېواد دی چې اهوره مزدا پنځولی دی (حماسه سرايي در ايران ۳۸۳)

## ۱۳- سیرسور

د دي ماه (مرغومي) ۱۴مه (د غوبږ ورځ) د سیرسور په نامهٔ جشن و، چې په هغهٔ کې یې هوږه خوړه او شراب یې څښل، له غوښې سره یې ننګولي پخول چې د شیطان له شر و رنځه خوندي شي چې شر اچوونکي روحونه یې خپروي.[1] ګردېزی وایي«د سیرسور په دې ورځ تېټ پوړي روحانیون خواړهٔ برابروي، خوري یې او وایي چې دغه خواړهٔ د دېوانو د زیان رسونې مخنیوی کوي. همدغه ورځ وه چې دېوان پر جم برلاسي شول او هغه یې وواژهٔ.»[2]

## ۱۴- بتیګان

د دي ماه (مرغومي) پنځلسمه (د دي‌بمهر ورځ) د بتیګان جشن و، ګردېزی وایي:«د بیتګان ورځ هغه ده چې وګړي په کې د ټیټ پوړو زردُشتي روحانیونو څېرې له ختو یا اوړو څخه جوړوي او د دروازو دننه یې وچوي.»[3]

داسې برېښي چې د دې جشن نوم یې د بت له کلمې اخیستی دی، په دې ورځ به خلکو له ختې یا اوړو څخه بتان او پېرۍ جوړولې؛ خو د البېروني او ګردېزي د څرګندونو له مخه دا دود په اسلامي پېر کې پربېښودل شو، ځکه د شرک او بت لمانځنې بوی ترې راتهٔ، چې له اسلام سره په ټکر کې و.

## ۱۵- شب ګاو کثل؟

د دي ماه (مرغومي) په پنځلسم ماښام چې د مهر ورځې شپه او د مرغومي ۱٦مه وه، د«ګاو کثل»په نامهٔ جشن جوړېدهٔ. دا نوم د تاریخ د کتابونو په خطي نسخو کې اړول شوی دی او آره بڼه یې نه موندل کېږي. البېروني دا جشن په دوو نومونو درامزینان؟ او کاکثل؟[4] راوړی دی. د ګردېزي د زین‌الاخبار په خطي نسخه کې هم په دوو بڼو کاو کهل؟ کاو کلیل؟ لیکل شوی دی، چې دواړه بڼې یې د غور وړ دي. "کریستېن‌سن" هم د نامهٔ په اصل کې لارورکی دی؛ خو په دې ګروهه دی چې لومړی جز یې ګاو کلمه ده، چې دا جشن د افریدون د ګاو (غویي) په داستان پورې

---

[1] - آثارالباقیه ۲۲٦.

[2] - زین‌الأخبار ۲۲ باب.

[3] - پورتنی اثر او آثارالباقیه ۲۲٦.

[4] - آثارالباقیه ۲۲٦.

اړه لري.[1]

ګردېزی وايي: د ګاو کثل؟ شپه چې په پنځلسمې پسې ده، هغه ده چې غويي سينګار کړي، راويي باسي او داسې وايي څرنګه چې يې افريدون د مور له تي واړاوۀ، پر غويي کښېناست او پر همدې ورځ هغه غويي اثفيانو د افريدون پلار وګانۀ چې ضحاک هغه له اثفيانو څخه راګرځولی و، هغوی يې اړ ايستي وو؛ نو ټيټ پوړي زردُشتي روحانيون د افريدون او اثفيانو له امله هغه ورځ ښه ګڼي.»[2]

البېروني هم د ګاو کثل د جشن په شرحه کې همدا داستان ليکي او وايي چې:«په دې ورځ افريدون په غويي سپور شو، د هماغې ورځې په ماښام هماغه غويي په داسې حال کې چې اسمان د سپوږمۍ ګاډۍ څکوله، راڅرګند شو او بيا ورک شو او که چا ليدلی وای نو مستجاب‌الدعوة و. په همدې شپه دا غويي د لوی غرۀ پر سر د سپين غويي په بڼه وليدل شو. که هغه کال به آباد و غويي به يې دوه ځله او که به وچکالي وه، نو يوځل به يې ليدۀ.»[3]

"کريستېن‌سن" دلته د لېننګراد د ارميتاژ موزيم د ساسانيانو د پېر د کلمو په نامۀ د سپينو زرو يوې پيالې ته نغوته کوي، چې پر هغې د سپوږمۍ رب‌النوع پر پلاز ناست او اوږمکۍ ترې راتاوه ده. دا پلاز پر هغې‌ګاډۍ بار دی‌چې‌څلور ناړکه او مست غويان يې څکوي.[4] ښايي چې د پيالې دا انځور پر هغۀ داستان اړه ولري، چې البېروني راوړی دی.

څرنګه چې يې په دې شپه سينګارلی غويی راايست، خلکو هم ليدۀ او د هغۀ نندارہ يې کوله، نو د دې جشن نوم البېروني چې ليکلی دی ګاو کثل ګڼلای شو، چې کَسَل او کَتَل تر اوسه هم په پښتو کې د ننداري او ليدلو په معنی شته.

---

[1] - ساسانيان ۲۲۹.

[2] - زين‌الأخبار ۲۲ باب.

[3] - دلته د آثارالباقيه خطي نسخې ۲۲۶ مخ څېرې او له بده مرغه دا بحث نيمګړی دی.

[4]- ساسانيان ۲۲۹.

## ۱٦- بهمنجنه یا بهمنگان

د بهمن روز (سلواغې) دویمه د بهمنگان (معرب یې بهمنجنه) جشن و. د عجمو دود دا و چې په همدې ورځ یې کټوی کوله، ټول نباتات، اووه مېوې (غوزان، بادام، پسته، وځکې، سنځلې، خوبانی) تخمونه او د هر څاروي غوښې یې وراچولې، بهمنجنه دېگ یې بالۀ او هر چېرې یې پلورۀ. په همدې په ورځ به یې سرۀ بهمن (د یوۀ بوټي نوم) له تازه شیدو سره خوړل، هغه یې برکتي گڼل او ویل یې چې حافظې ته گټه لري او د بدنظر مخنیوی کوي.[1]

البیروني د مېلمستیا د دېگ ترتیب، خوراکي دانې، د څارویو او مرغانو غوښې، تره او نباتات د خراسان دود گڼي[2]، څرنگه چې د دې جشن شرحه په آثارالباقیه کې له خطي او چاپي نسخو څخه لوېدلې ده، نو جزیات یې نۀشو وړاندې کولای؛ خو د اسلامي پېر له دري او عربي ادبي آثارو او تاریخي مدارکو څخه څرگنده ده چې دا جشن د سدې، مهرگان او نوروز په څېر تر شیړمې لېږدې پېړۍ پورې کېدۀ. د غزنوي پېر د وروستیو (شپږمه لېږدې پېړۍ) له شاعرانو څخه عثمان مختاري غزنوي وایي:

بهمنجنه است خیز و می آر، ای چِراغ رَی
تا برچینم گوهر شادی زگنج می

انوري ابیوردي خراسانی وایي:

اندر آمد ز در حجرۀ من صبحدمی روز بَهمنجَنَه، یعنی دوم بهمن ماه

## ۱۷- جشن سده

تر اسلام د مخه له مهمو جشنونو څخه و، چې تر پنځمې اسلامي پېړۍ پورې هم کېدۀ او البیروني په ډېر لنډیز سره داسې ستایلی دی:

«بهمن د بهمن میاشتې ورځ ده، هغه لسمه ورځ وه. د هغې په شپه کې چې د لسمې او یوولسمې تر منځ ده، په غوزانو او بادامو اورونه بلوي، چاپېره ترې شراب

[1] - زین‌الأخبار ۲۲ باب.

[2] - کتاب‌التفهیم ۲۵۷.

ښني، ټوکې او خوشحالۍ کوي... خو د نامهٔ وجه يې دا ده چې له هغهٔ تر نوروزه پنځوس ورځې دي او پنځوس شپې. داسې هم وايي چې په همدې ورځ د لومړي پلار له زوزات سل وجوده بشپړ شول.»[1]

نو د سدې جشن د شپې اوربلونې دود د پخوانيو باختري آريايانو په رواياتو او د هوشنګ يا افريدون او ضحاک په داستان پورې اړوند و، چې د راوروسته پاچاهانو په دربارونو کې پاتې شو.[2] د سدې جشن چې په عربي کې ورته سَدَق او سَذَق وايي، د سلجوقيانو تر پېره د پخوا غوندې جوړېدهٔ، ان امام غزالي (۴۵۰-۵۰۵س) په کيمياي‌سعادت کې وايي چې په بازارونو کې د سدې لپاره ختين سورني (برغوګان) پلوري، دا د اورلمانځونکو (ګبرانو) دود دی. همدا رنګه ملکشاه سلجوقي د ۴۸۴س د ذي‌الحجې په ۱۸مه شپه په بغداد کې د سدې جشن جوړ کړ، چې ابوالقاسم مُطرِّزي يې په ستاينه کې د اور بلونې دود ته هم نغوته کړې ده او وايي:

و کـل نـار مـن العشـاق مضرمـة　　مـن نـار قلبـی او مـن ليلـة السّـدق

(زما د زړهٔ اور، د سدې د شپې اور او هر اور چې بلېږي د عشق اغېز دی.)

عنصري وايي:

سـده جشـن ملـوک نامـدار اسـت　　ز افريدون و از جم يادگـار اسـت[3]

فردوسي د سدې جشن ريښه په پخوانيو رواياتو کې داسې ښيي:

شب آمد بر افروخت آتش به کـوه　　هـمان شـاه و بـر گِردشـاه آن گـروه

يکی جشن کرد آنشب و باده خورد　　سَـدَه نـام آن جشـن فرخنـده کـرد

ز هوشنگ مانـد ايـن سـده يادگـار　　بسـی بـاد چـون او دگـر شـهريار[4]

## ۱۸- مردګيران

د اسفندارمذ (کب) مياشتې پر پنځمه چې د اسفندارمذ ورځ ده، له ورځې سره د مياشتې د نامهٔ د سمون له امله يې جشن جوړاوهٔ، چې پر صالحې، پاک‌لمنې، نېکې او مېړهٔپالې مېرمنې باندې د ګومارلې پرښتې اسفندارمذ په نامهٔ نوملې وه. مردګيران

---

[1] - پورتنی اثر، همدغه مخ.

[2] - زين‌الأخبار ۲۲ او آثارالباقيه ۲۲۶.

[3] - پر التفهيم کتاب د علامه همايي حاشيې ۲۵۹.

[4] - شاهنامه ۱/ ۱۷.

يې ځکه بالۀ چې مېرمنو ته ځانګړې و او نرينه‌وو به ښځينه‌وو ته ډالۍ ورکولې.[1]

ګردېزي وايي: دا ورځ د اسفندارمذ (کب) پنځمه ده. دا هم د هغې پرښتې نوم دی چې د ځمکې پر سپېڅلو او سترو ښځو ګومارل شوې ده. په پخوا وختونو کې دا جشن ښځو ته ځانګړی و. دا ورځ يې مردګيران بلله چې په خپله خوښه به يې مېړونه کول. دې ته د رِقعې ليکنې (کتبة الرِقاع) ورځ وايي او له خزندو او چيچونکو څخه د ځان ژغورنې لپاره تعويذونه ليکي، پر ورونو او دېوالونو يې نښلوي چې ضرر يې لېږ وي.[2]

البېروني سپک الفاظ او جملې راوړي چې د حشراتو د مخنيوي لپاره يې په دې ورځ له سپېدو تر لمر راختو پر څلور کونجه کاغذونو ليکل او د پارسي او عربي ګډ کلمات يې درلودل. تعويذونه يې د دېوالونو په درې اړخونو ټکوهل، د کور منځ ته پر مخامخ دېوال يې نه لګول چې له هغۀ اړخه حشرات ووځي.[3]

**د سغد او خوارزم جشنونه**

تر دې ځايه مو د هېواد په ختيځ او لوېديځ کې د افغانستان د خلکو د خوښيو د ورځو او جشنونو دودونه په لنډون سره وليکل، اوس ځو د خراسان شمال ته او هغه ورځې شرحه کوو چې د سغديانو او خوارزميانو تر منځ دود وې. ځکه هغوی د مرکزي او سوېلي خراسان له وګړو سره تل ګډ فرهنګي او ټولنيز اړيکي درلودلي دي او د اسلامي سوبو په بهير کې يې يو ډول او ورته برخليک لارۀ.

البېروني وايي د سغديانو د ګرمۍ د موسم پيل د نوسرذ (د سغد د مياشتو نومونه مو د کاليز او وختونو په اړوند بحث په لښتليک کې ورکړي دي) د مياشتې لومړې نېټه وه. بې د پټې پنجې (پنجۀ دزديده) د مهال له زياتېدو، د هغوی د مياشتو شمېر او د کال پيل د خراسان له نور ولس سره توپير نه درلود.

[1] - آثارالباقيه ۲۲۹.

[2]- زين‌الأخبار ۲۲ باب.

[3] - آثارالباقيه ۲۳۰.

سغدیانو د خپل کال پیل پاچاهي پلاز ته د جمشید له راگرځېدو څخه کاوه. جشنونه او د بازار ځانگړې ورځې یې درلودې، چې جشن ته یې آغام (عربي جمع یې آغامات) وایۀ او د بازار ورځ ته یې ماخیره (معرب یې ماخیرج) ویله. د نوسرذ میاشتې پیل، لوی نوروز و. د همدې میاشتې ۲۸مه ورځ د بخارا د اورلمانځونکو جشن و، چې رامش آغام یې بالۀ او د رامش RAMUSH کلي په اورتون کې راغونډېدل. آغامات یې تر ټولو دروند جشن و. د هغۀ کلي مشر ته به هره ورځ په وار د خوراک څښاک لپاره راټولېدل. د نیسنج (نیسان= غویی) په میاشت کې د هغې دولسمه لومړی ماخیرج او په بساکنج (بساک) میاشت کې اوومه ورځ بیکنج آغام و، چې په بیکند کلي کې راټولېدل. د همدې میاشتې دولسمه ورځ دوهم ماخیرج او پنځلسمه یې د عمس‌خواره جشن و، چې په دې ورځ یې بې له مېوې، نباتاتو او شرابو نور څه نه خوړل. له هغو خوړو به یې پرهېز کاوۀ چې په اور به پاخۀ شوي وو.

**په اشنا خندا میاشت کې**: ۱۸مه ورځ د بابه خواره یا بامي‌خواره جشن و، چې په هغۀ کې به یې پاکه څوښه څښله او په ۲۶مه ورځ گرم خواره جشن جوړېدۀ.

په مژي خندا میاشت کې: دریېمه ورځ د کمجکت کلي مېله او کشمین جشن و. د همدې میاشتې ۱۵مه د طاووسانو مېله وه، چې د څنډو سوداگر به ورته تر اووه‌و ورځو پورې راټول وو.

**په فغکان میاشت کې**: د دې میاشتې لومړۍ ورځ د نیم سرده، یعنې نیم کال جشن و. دویمې ورځې ته به یې "من‌عیدخواره" ویله چې په اورتونو کې به راټولېدل او ځانگړې خواړۀ (ستوان) به یې خوړل چې د بړدنو له اوړو، غوړو او خوږې یې جوړوي. د فغکان نهمه ورځ "تسیس‌آغام" پنځه ویشتمه یې د "گرم خواره" لومړۍ او د ابانج نهمه ورځ د گرم خواره جشن پای وه.

**په مسافوغ میاشت کې**: له ۵ تر ۱۵مې جشن و، بیا په شرغ کلي کې د مسلمانانو له خوا تر اووه‌و ورځو پورې بازار لگېدۀ. په کتاب التفهیم کې یې لیکلي چې په یوولسم پیلېدۀ او تر لسو ورځې پورې غځېدۀ.

**په ژیمدنج میاشت کې**: ۲۴مه ورځ به د "باذامکام" اختر و او د خشوم میاشتې په پای کې سغدیان د مړو په یاد ژړېدل او مړو ته یې خوراک څښاک کښېښود او پنجۀ

دزدیده یې پر دې میاشت ورزیاتوله. پر دې جشنونو سربېره د بخارا او سغد په کلیو کې د بازارونو لپاره په هره میاشت کې ځانګړې ورځې وې.[1]

پته دې نه وي چې د بازار لګېدو د ورځې دا دود تر اوسه هم د افغانستان د شمال په ځینو ښارونو او ان تر خیبر ورهاخوا کلیو او پېښور سیمه کې پاتې دی او د اسلامي پېر له لومړیو وختونو تر اوسه شته. په ښارونو کې د اورلوبې، پر غرونو د پاسه د اوربلونې او په ټاکلو ورځو کې د ځانګړو خوړو خوړلو دود تر اوسه هم په افغاني قبیلو کې وینو؛ خو هماغه پخواني دودونه د اسلامي کالیز په مبارکو ورځو لکه اخترونو، د برات شپې (د شعبان۱۵) او د صفرې په وروستۍ چهارشنبې او نورو کې ترسره کېدل.

البېروني د سغدیانو پر ورځو سربېره - چې پورته یې یادونه وشوه- د خوارزمیانو ځینې جشنونه هم لیکلي دي، چې د شمالي خراسانیانو جشنونه یې دلته د بېلګې په توګه راوړل کېږي:

هغه وایي:«د خوارزم روحانیون د میاشتو په نومونو کې د سغدیانو پلیوني دي، د دواړو ډلو ترمنځ په نومونو کې توپیر نه‌شته؛ خو د هغوی د بلاغت هومره. خوارزمیان په خپلو دې میاشتو کې مشهورې ورځې لري، نوروز یې "ناوسارځی" ګڼي.»[2]

د نوروز دا جشن چې د کال پیل و، په آثارالباقیه کې د«ناوسارچي» په املا راغلی چې د سغدي د هماغه نوسرذ خوارزمي بڼه ده (سرذه SAREZA په اوستا کې د کال په معنی و)

### خو د هروداذ لومړۍ ورځ

چې د کال درېیمه یعنې د غبرګولي میاشت ده، تر اسلام د مخه د ډېرې ګرمۍ، جامو ایستلو او لغړتوب مهال و او دا ورځ یې "اریجهاس چوزان" بلله یعنې (سیخرج من اللباس) او دا کلمه پر "اریجاسوان" په التفهیم کې "ارعاسوان" واوښته چې د ګرمۍ او کونځلو او ورسره د نورو ځیزونو کر وخت دی.

### په چیري میاشت کې

د څلورمې میاشتې ۱۵مه ورځ د اجغار یعنې بل اور جشن و، چې په پخوانۍ زمانه کې به د منې په موسم کې اور ته د اړتیا پر مهال راتۀ؛ خو تر اسلام وروسته منې

---

[1] - آثارالباقیه تر ۲۳۴ وروسته او کتاب التفهیم تر ۲٦٦ وروسته.

[2] - کتاب التفهیم ۲٦۸.

ته راغی، چې د دې جشن اویا ورځې تېرې شي، د منیالو غنمو کر پیلوي او په شپو کې یې د سدې غوندې اور بلوي او چاپېره ترې ډېرخوتېدلي شراب (سیکي) څښي.

**اخشریوري میاشت**

د وړي میاشتې لومړۍ ورځ د فغبریه (فغربه؟) جشن دی، یعنې مخرجشاه،[1] چې په دې ورځ د خوارزم پاچاهان په ژمي کې د غزانو د مخنیوي لپاره راوتل او خپلې پولې به یې ساتلې.

**اومري میاشت**

د اومري میاشتې لومړۍ ورځ د"ازداکندخوار" یعنې د غوړې ډوډۍ خوړلو جشن و، چې له تودو تنرونو به راچاپېرېدل او غوړه ډوډۍ به یې خوړله. د همدې میاشتې۱۳مه د"چیري روج" جشن د لوی مهرگان په کچه و او ۲۱مه ورځ یې"رام روج جشن"[2] بالۀ.

**ریمژد میاشت**

د مرغومي پر ۱۵مه ریمژد جشن و، چې د راخیستل شویو املاوو له مخه یې نیم خب یا نیم‌خت بالۀ، چې آره بڼه یې"مینچ اخیب" وه، یعنې د مینې شپه. "مینه" د هغې یوې پرښتې نوم دی، چې په دې ورځ د سړې هوا له امله مړه شوې وه. د خوارزم خلکو په دې ورځ د پېریانو او شریرو ارواوو د مخنیوي لپاره خوشبویۍ، لوگي او خوشبویه خواړۀ درلودل. د دې جشن وخت یې د ژمي منځ ته راوستی و.

**د اسپندارمجي میاشت**

د دې میاشتې په څلورمه یې د خیژ (یعنې پاڅون چې په پښتو کې تر اوسه په همدې معنی دی) په نامۀ جشن جوړاوۀ. د دې لسمه ورځ یې د خشنکام او وخش

[1] - دا نوم به په خوارزمي کې له دوو جزونو څخه رغېدلی وي: فغ= بغ (د خدای او پاچا په معنی) + بریه د برای (راووځه) او برامدن (راوتلو) له کلمې څخه چې معنی به یې په ټوله کې همدا«مخرج شاه» وي.

[2] - د ورځ په معنی د روج کلمه د پښتو روځ ته نږدې ده.

جشن بالۀ،[1] دا پر اوبو په تېره د امو پر سیند د ګومارلې پربښتې نوم دی. خو د اسپندارمجي شلمه ورځ د اینجه جشن و، چې (چم یعنې سره نږدې کورونه- منتهی الارب) معنی لري.[2]

پر دې سربېره خوارزمیانو نور شپږ جشنونه هم درلودل:

**۱- بنخجاچي رید**: د ناوسارچي (وري) ۱۱مه ورځ چې خلکو "ناوسر چکانیک" هم بالۀ.

**۲- میث سخن رید**: د چیري (چنګاښ) لومړۍ ورځ چې خلکو "اجغار مینیک" هم بالۀ.

**۳- مذیان رید**: د همداد (زمري) ۱۵مه چې خلکو "انجمر ذکانیک" هم بالۀ.

**۴- میث زرمي رید**: د اومري (تلې) ۱۵مه چې خلکو "خیررو چکانیک" هم بالۀ.

**۵-......۳ د ریمژد** (مرغومي) لومړۍ ورځ چې خلکو "کجذر یکانیک" هم بالۀ.

**۶- ارثمین رید**: د اخمن (سلواغې) لومړۍ ورځ چې خلکو "ارثمین دکانیک" هم بالۀ.

د خوارزم خلکو د پروردګان غوندې پنځه ورځې په اسپندارمجي میاشتې ورزیاتولې او په دې ورځو کې یې د خپلو مړو د ارواوو لپاره په مړیستونونو او لحدونو کې خواړۀ ایښودل.[4]

---

[1] - د وخش سیمه او وخشاب سیند تر اوسه د دوشنبې سوېل لور ته دي. وخشاب د امو له شمالي مرستیالانو څخه دی، د اوکس کلمې مأخذ هم همدا پخوانی وخش دی.

[2] - کتاب التفهیم تر ۲٦۹ وروسته او آثارالباقیه تر ۲۳۵ وروسته.

[3] - د آثارالباقیه په خطي نسخه کې یې ځای سپین و.

[4] - آثارالباقیه ۲۳۷. څېړونکي وایي چې د دې جشنونو په خوارزمي نومونو کې ګډوله رامنځ ته شوې ده او یو د بل پر ځای لیکل شوي دي، چې رښتیني نومونه یې د هیننګ په اټکل داسې دي:

۱- مذیارید ۲-؟ ۳- میث – زرمي رید ۴- میث – شم رید ۵- پیچ خخي رید ٦- ارثمین رید (بیست مقالۀ تقی زاده ۴۰۵)

## (۴)

## ودانۍ، تعميرونه او ښارونه

هيونڅانګ چې د لېږدې پېړۍ په لومړۍ لسيزه کې يې د هېواد ختيځ ولايتونه ليدلي دي، د ختيځو او تودو سيمو- چې اوبه او هوا يې هند ته ورته وو- تعميرونه او ودانۍ د هند د ګاونډيو هېوادونو په ډله کې تشرېح کوي، هغه وايي: ښارونه او کلي پلن او لوړ دېوالونه او د ورننوتو ورونه لري. بازارونه، کوڅې او واټونه يې ناولي او کاږه واږۀ دي. د واټونو دواړو خواوو ته يې کوچنۍ لرګينې هټۍ دي. د قصابانو، کب نيوونکو، نڅاګرو، جاروکښو او داسې نورو دکانونه تر ښار بهر وو.

د خلکو تر کورونو چاپېره دېوالونه ټيټ دي. دا دېوالونه زياتره له اومو يا پخو خښتو جوړوي. برجونه يې لوړ او چتونه يې له لرګيو يا بانس څخه جوړ دي. هر کور په لرګيو پوښلې برنډه يا دوه‌پوړه لري، په چونه او ګچو يې سپينوي او يا يې په کاشيو ښکلي کوي. د چت لپاره چجکي، وچې لښتې، پخې خښتې او تختې کاروي. ځينې ودانې يې د چين ودانيو ته ورته دي.

سنګهارامې (عبادتځي) په مهارت سره رغېدلي، په څلورو واړو کونجونو کې يې درې پوړيز برجونه جوړ او سرونه يې په ډېر مهارت سره په بېلابېلو ښو کيندل او ګلکاري شوي دي. ورونه، کړکۍ او دېوالونه يې رنګ شوي او مېلمستونونه يې دننه ښکلي او بهر ساده دي. د عبادتځي د ودانۍ په منځ کې يو لوی او لوړ سالون وي،

چې چاپېره ترې یو شمېر څو پوړیزې‌خونې او د ډول ډول کونجونو دوه‌پوړې جوړېږي. ورونه یې ختیځ لور ته پرېښودل کېږي.[1]

د فاهیان د څرګندونې له مخه د پشکلاوتي(چهارسدې) ښار عبادتځی- چې د هغهٔ ځای‌په اوسني‌بالاحصار کې یې کنډوالې پاتې دي- په سپینو او سرو زرو ښکلل شوی و،[2] چې د هیونڅانګ په پېر کې یې د نقشیزو ګرانبیو تیږو او لرګیو ښکلنې په زړهٔ پورې وې.[3]

په افغانستان او ښارونو کې یې د اسلامي پېر د لومړیو ودانۍ روغې نه دي پاتې، په راوروسته پېښو او د تاتار په پرله‌پسې تالانونو کې له خاورو سره خاورې شوې دي؛ خو هغهٔ څه چې د هغهٔ مهال د ودانیو له بېلګو راپاتې دي او ډېر اهمیت لري، د بودایي سټوپو پاتې کنډوالې دي، چې افغانستان د ټولو ختیځو ولایتونو د غونډیو په سرونو په خوندي ځایونو کې د لارو پر سر جوړې شوې دي.

د پښتو او دري په اوسنۍ عامه محاوره کې دې ودانیو ته توپ وایي: څرنګه چې اسلام ته نږدې د افغانستان په ختیځو او شمالي ولایتونو کې بودایي دین دود و، دې خلکو هډوکي یا د بودا د بدن ایرې او ویښتان په داسې عبادتځیو کې ساتل او لمانځل. هغه مهال چې هیونڅانګ دا ولایتونه لیدل، په ښارونو او هر ځای کې د داسې عبادتځیو یادونه کوي. څرنګه چې یې دا عبادتځي په جواهرو، سرو زرو او قیمتي توکو ښکلل او ډېرې زیاتې پیسې د ډالیو او نذرانو په نامهٔ ورته راټولېدې، نو د لوټمارو[4] د تالان له وېرې یې داسې عبادتځي د غرونو په سرونو، درو او لوړو غونډیو جوړول، چې ساتنه یې اسانه وي.

د بودایي سټوپو پاتې نخښې اوس د کابل په شمال او شمالي او سوېلي ولایتونو کې تر کندهار پورې لیدل کېږي، چې یوه بشپړه بېلګه یې د کابل د سوېل په ۵۰

[1] - سي. یو.کی، دوهم کتاب ۱۳۲.

[2] - پورتنی اثر، د فاهیان یونلیک ۱۲.

[3] - پورتنی اثر ، ۱۱۰.

[4] - هیونڅانګ وایي د بلخ په نوا سنګهارامه کې د بودا بت او خونه یې په دومره قیمتي جواهرو ښکلل شوي وو چې د هفتالي پاچا زوی شاهوخان د هغه د لوټلو هوډ وکړ (سي –یو- کی، لومړی کتاب ۱۰۹)

میلې کې د لوگر د موسهي په گلدره کې پاتې ده. د دې ستوپو بنستونه يې په ټولیز ډول له تیرو څخه جوړول چې د اقلیمي پېښو پر وړاندې مقاومت ولري. نوموړې ستوپه له ختو او تیرو ډېره کلکه او ښایسته جوړه شوې ده. بهر ته ډېره ښه او ښکللې ښکاري او له هندي سبک ودانیو سره ورته‌والی لري.

د ستوپو سر يې د خښتو په گومبزو پټاوه؛ خو په ټول عبادتځي کې پخې خښتې نه لیدل کېږي. ستنې او بهرنی ښکلنې يې ډېرينې دي. گومبزې يې په ډېرو پرېړو او غټو اومو خښتو پټولې. د خونو دننه دېوالونه يې په سرې یا تورې ایرنی ډولې چونې اخېړلې دي، چې اوس يې سندله بولي.

په ټولیز ډول يې عبادتځي‌پر غونډیو جوړول؛ خونې او د راهبانو او خدمتگارانو استوگنځي يې تر اصلي عبادتځي چاپېر او له هغۀ بېل جوړول.

## د بلخ د نوبهار وداني

د دې پېر له ډېرو مشهورو ودانیو څخه نواسنگهارامه (نواویهاره= نوبهار) ده چې د بلخ ښار سوېل لویدیځ پرته ده. یوۀ پخواني پاچاه هغه جوړه کړې وه. په سوېلي دالان کې يې په قیمتي جواهرو ښکلی لگن، غاښ او ربز (جارو) پراتۀ وو. د دې عبادتځي ۲۰۰ فټه لوړه شمالي ستوپه په الماسي کاشیو او قیمتي ډبرو سره ښکلل شوې وه.[۱] عرب جغرافیه‌پوهان همدومره لیکي، چې نوبهار عبادتځی تر ربض دننه و. بلخاب رود د نوبهار ورۀ له څنگه تېرېدۀ. لکه چې محمود بن‌امیرولي بخاري په ۱۷ز پېړۍ کې لیکي: نوبهار ور د ښار په سوېلي اړخ کې و، چې د هغۀ پر مهال يې هغۀ ته خواجه سلطان احمد ور وایۀ.[۲]

بلخي مفتي سلطان محمد (۹۷۰س شاوخو) وايي: د بلخ له عجایبو څخه دا وو چې د بلخ په چپاخان کې برمکیانو یو کور جوړ کړی و، سل په سل گزو کې او لوړوالی‌يې دوه سوه گزه و. طواف ته به يې له گردې نړۍ پاچاهان او وگړي راتلل. د

---

[۱] - سي –یو- کی، لومړی کتاب ۱۱۰.

[۲] - جغرافیای تاریخی بارتولد ۵۹، د محمود بخاري د بحرالاسرار فی مناقب الاحرار (خطي) په حواله.

امیر المؤمنین عثمانﷺپه پېر کې یې هغهٔ کور ویجاړ کړی شو. چپاخان د بلخ لوېدیځ ته پروت دی.[1]

"بارتولد" وایي چې د یوې چینایي شرحې له مخه د نوبهار په دې عبادتځي کې څو کسه سپېڅلي بودایان ښخ وو. د عبادتځي شمال ته یې د هڅوکو ساتنې لپاره یو ښخېدنځی جوړ کړی و، چې دوه سوه فټه لوړوالی یې درلود. لوېدیځ ته یې بل پخوانی عبادتځی و.[2]

د بلخ د نوبهار عبادتځي دا وداني تر اسلامي پېر یوه پېړي وروسته هم پاتې وه، چې په دې وخت کې یې یوه لویه گومبزه درلوده. عربي لیکوالو یې نوم په بېلابېلو بڼو استن- است- اسبت لیکلی دی. "یاقوت" هغه استن لیکي چې لوړوالی یې تر سلو گزو زیات و. هرې خوا ته یې گردې کړکۍ وې. چاپېره ترې د خادمانو او منجورانو ۳۶۰ استوگنځونې جوړې شوې وې. لویه گومبزه یې په ورېښمو پوښله. د دې عبادتځي توغونه ۱۲ فرسخه لیرې په ترمذ کې لیدل کېدهٔ.[3]

مسعودي د ۳۳۰س= ۹۴۱ز شاوخوا لیکي چې: د بلخ د نوبهار ودانۍ ډېرې زیاتې پخې دي. د اوړدو سل گزه نېزو پر سرونو یې پرې د پاسه شنهٔ ورېښمین توغونه راځړولي دي. چاپېره دېوالونه یې هم لوړ او پلن دي.[4]

ابن‌فقیه همدانی وایي د نوبهار گومبزه«اشبت» نومېده، چې سل گزه لوړه او پلنه وه. چاپېره ترې د منجورانو لپاره ۳۶۰ خونې وې. د کابل او چین پاچاهان د دې عبادتځي لیدنې ته راتلل او په کې ولاړ لوی بت یې لمانځهٔ.[5]

ځینې اندیال په دې گروهه دي چې دا استن- استب او نورې کلمې ټولې د ستوپې اوړېدلې بڼې دي، چې ځانگړو بودایي عبادتځیو ته ویل کېدې.[6] دا لویه

[1] - مجمع‌الغرایب، خطي تر ۷۴ وروسته.
[2] - جغرافیای تاریخی ۵۹.
[3] - معجم‌البلدان ۵/ ۳۰۷.
[4] - مروج‌الذهب ۲/ ۱۳۷.
[5] - کتاب‌البلدان ۳۲۳.
[6] - سید سلېمان ندوی در تعلقات عرب و هند ۱۲۱.

گومبزه چې توغونه یې له ۱۲فرسخه لیرې واټنه لیدل کېدۀ، هماغه ودانې ده چې هیونځانګ یې لوړوالی تر دوو سوو فټو پورې لیکي.

ستوپه په ټولیز ډول نیم کره‌یي ګرده ودانې وه، چې له تورلو تیږو او یا پخو خښتو یې جوړوله. کله یې په هند کې د هرمي برج بڼه هم درلوده.[1] خو د سند سیند په لوېدیځو سیمو کې تر امو پورې د جوړو کړیو ودانیو چتونه زیاتره ګومبزي دي؛ نو ځکه یې زیاتره نړېدلي، طبیعي پېښو او زلزلو نه یې مقاومت نه دی کړی.

**د کابل او خراسان د ودانیو سبک**

تر دوو لومړیو لېږدو اسلامي پېړیو پورې د بودایي عبادتځیو او ستوپو صنعت په افغانستان کې دوام وکړ او د اسلام په خپرېدو سره له‌منځه لاړ. دا صنعت د هندي بودایي توکو، یوناني صنعت د آثارو او د خراساني معمارۍ د پخواني هنر ګډوله وه، چې د کوشاني او ساساني پېر له مدنیت راپاتې و.

په لومړۍ زېږدې پېړۍ کې د پارس د ودانیز سبک اغېز- چې بېلګې یې د شېراز په پرسي پولس (جمشید تخت) کې لیدل کېږي- د هند تر منځه پورې رسېدلی و. په تېره د ګندهارا او پېښور په پخوانیو ودانیو کې ډېر لیدل کېږي؛ خو دا اغېز تر سکندر وروسته په یوناني اغېز بدل شو، چې له کابل تر کشمیره پر پېریو او ستوپو ځرګند دی. دا سبک د اسلامي پېر تر لومړیو پورې روان و، چې وروسته سوبمنو عربو نیمه خراسانی او نیمه عربي سبک دود کړ. له هغې جملې د پخواني پارس د صنعت د غوړو خښتو او کاشۍ کارېدنه په کې راتله.[2]

سوبمن عربان کله چې خراسان او ختیځو ګاونډیو سیمو ته راغلل، دلته یې ځانګړی ودانیز سبک ولیدۀ چې غالباً همدا د عبادتځیو او ستوپو جوړونې سبک به وي. احمد بن‌یحیی بلاذري (۲۷۹س= ۸۹۲ ز مړ) وایي: عرب سوبمن عبدالرحمن

---

[1] - تمدن هند، د ګوستاولوبون، اردو ژباړه ۳۵۷.

[2] - پورتنی اثر ۳۶۳.

بن‌سمره SAMURA چې عسکرو یې له سیستانه تر کابله پرمختګ کړی و، د کابل له بندیانو څخه دوه کابلي ځوانان بصرې ته بوتلل چې هلته یې په خپله ماڼۍ کې په کابلي سبک جومات جوړ کړ.[1]

د دې سبک د جزیاتو په اړه معلومات نه لرو؛ خو هیونڅانګ چې د بودایي عبادتځیو او سټوپو کومې ځانګړنې یادوي او عربي مؤرخانو لا زیاتې شرحه کړې دي، له هغو د دې سبک په اړه معلومات لاس ته راځي چې موږ د مخه شرحه کړي دي.

خو هغه څه چې د دې کتاب په دریم څپرکي کې مو د خراساني ابومسلم د پلازمېنې او د مروې په ماجان کې د جوړې کړې دارالامارې په اړه د اصطخري د مسالک‌الممالک په حواله ولیکل؛ نو د لویو ګومبزو په جوړونه کې د ودانۍ دا سبک هم د ښېتو د سټوپو جوړونې له هغۀ سره ورته و. د بلخ د نوبهار د شنو تاریخي توغونو پر ځای، د ابومسلم د ماڼۍ پر دې لوېې ګومبزې د عباسیانو د خلافت نخښه تور توغ رپېدۀ.

په خراساني ودانیو کې یې ښېتې، تیرې او لرګي کارولي دي؛[2]خو په ځینو پخوانیو ودانیو کې تیرې او اومې ښېتې تر سترګو کېږي. د ښکلنې لپاره هم له هغو کاني توکو څخه ګټه اخیستل کېده چې په خراسان کې پیدا کېدل؛ لکه ګچ، چونه، سپینه نرمه خټه، ګل‌والا او رنګه پخې کاشۍ. د دې ودانیزو توکو په کارونه کې یې د تناسب سموالی او سلیم ذوق کارولی دی.

د لوړو چتونو او ستنو لپاره د لرګیو کارول هم د دې سبک یوه ځانګړنه ده، لکه چې په ځینو پخوانیو جوماتونو کې لرګینې ستنې لیدل کېږي. همدا رنګه یې خراسان په لوېدیځه څنډه نیشاپور کې لوېې لرګینې ګومبزې جوړې کړې دي. څرنګه چې په ودانیو کې د لرګي کارېدنګ د هغو د ژر نړېدو لامل و؛ نو له دریمې لېږدې پېړۍ څخه د ډبرینو او ښېتي ستنو کارېدنه دود شوې ده.

ښایي وویلای شو چې: د ګومبزي مړیستونو په جوړونه کې معماران تر یوې

---

[1] - فتوح‌البلدان ۴۸۹.

[2] - صنایع عجم بعد از اسلام، ډاکټر زکي محمدحسن ۴۳.

کچې د هلیني او یا ختیځ مسیحیت د معمارۍ له هنره اغېزمن شوي او په دې سبک کې یې د هغوی پلیون کړی دی. د دې اټکل پخلی زیاتره له دې کېږي چې امویانو او عباسیانو پر مشهورو مړیستونو گومبزې جوړې کړې دي.

کله چې موږ تر اسلام د مخه پېر او یا د اسلام څلا ته نږدې د اورتونو ودانیو ته ځیر شو او ووینو چې پر اورتونو د پاسه یې داسې گومبزې جوړولې چې پر یوې مربع ډوله پنډۍ ولاړې وې؛ نو له دې دا پایله تر لاسه کېږي چې د دې سیمې معماران تر رومیانو لا ماهر وو؛ ځکه رومي معماران همدومره بریالي شوي، گومبزې پر هغو ستنو د پاسه جوړې کړي چې له ټولگې یې دایره جوړېدله او یا یې پر یوې استوانه‌یي دایره‌ډولې پنډۍ جوړې کړي؛ خو د دې سیمې گومبزو سینگار شوي چتونه درلودل چې د گومبزې څلورگونې ستنې ورو ورو پورته او د گومبزې دننۍ کاسې ته رسېدلې دي. گومبزه هم پیاز ډوله وه چې د کاشي خښتو کارېدلو یې بهرنۍ خوا پوښله او ښکلې برېښېده.[1]

د معمارۍ د دې سبک یوه بله ځانگړنه دا ده چې د ودانیو د ښکلا لپاره یې مسطحې سینگارنې کارولې دي. له هغو راوتلو سینگارنو یې ځان ساتلی چې هندي او اروپایي ودانۍ یې درنې کړې دي. په دې ډول یې ودانې له طبیعي وضعې ایستلې نه ده. د دوی د ودانیو گچ‌توږنه هم ماهرانه ده، چې کله په کې کاشي، ټوټه‌یي کاشۍ او رنگه گل‌والا خښتې هم کارېدې.[2] دېوالي گلکاري- چې تر ټولو پخوانۍ بېلگه یې د بامیانو د ښکلل شویو سمڅو پر دېوالونو شته- هم پر ځینو ودانیو کېده. بیهقي وایي پاتې شونې یې په هرات کې د مسعود بن‌سلطان‌محمود د عدناني بڼ په مانۍ کې مومو.[3] اوس د دې ډول دېوالي گلکاریو کوچنۍ بېلگې د هلمند پر څنډه د بُست د لشکري بازار د غزنویانو له ماڼیو هم تر لاسه شوې دي. البشاري وایي د زرنج وگړي

[1] - صنایع ایران بعد از اسلام، له ۴۵تر ۵۲.
[2] - پورتنی اثر، ۵۹.
[3] - تاریخ بیهقي ۱/ ۱۳۱.

د ودانیو په ښکلنه او رغونه کې د نورو ځایونو له وګړو ډېر ماهر وو.[1]

له هغو آثارو څخه - چې په ۳۵۰س= ۹۶۱ز کال شاوخوا پورې اړه لري او د خراسان په نیشاپور کې د متروپولیتن د موزیم له کیندنو راوتلي دي- پوهېدای شو چې: خراسان د معمارۍ پخوانی صنعت درلود او په څلورمه لېږدي پېړۍ کې یې د بېلګو پلیون کېدهٔ، چې پر دېوالونو د ژویو انځورونه، ګلونه او د ونو د پاڼو شتون یې پخلی کوي. د نیشاپور د ګچ‌توږنې ترتیب د عباسیانو او راوروسته پېرونو تر منځ د اړیکو پخه کړۍ ده. د نیشاپور ګچکاري د سبک له مخه د سامریانو (عراق) او نایین (ایران) له آثارو سره اړیکي لري. خو په هغو کې د نوې ښکلا تعبیرونه او اصول لیدل کېږي، چې وروسته د اسلامي ښکلاوو ځانګړنې شوې. د سطحو په ښکلنه کې ډېر کارول او مبالغه په نیشاپور کې بشپړه شوې ده.[2]

پر خراسان د عربو لاسبرۍ او د عربي ژبې او لیک په دودېدو سره، د معمارۍ په صنعت او د ودانیو په ښکلنو کې بدلون رامنځ ته شو. په «صنایع ایران» کتاب کې س. فلوري S.FLURY وایي: هیڅ صنعت په دومره پراختیا او عمومیت سره د دیني او نورو ودانیو د پسولنې او سینګارونې لپاره لیک نه دی کارولی.[3]

**بخارا ښار**

د خراسان د شمال په ماوراءالنهر کې هم د ځینو مهمو ودانیو آثار لیدل کېږي، چې د بخارا ارګ‌کوټ یې د خراساني ودانیو د سبک یوه ښه بېلګه ګڼلای شو، چې د شېږو پاچاهانو او امیرانو ماڼۍ، زندان، دفترونه، پاچاهي ماڼۍ او خزانه وه. ابوبکر محمد نرشخي یې شرحه د ابوالحسن‌نیشاپوري د «خزاین‌العلوم» په حواله داسې لیکلې ده:

«څرنګه چې بیدون بخارا خدات پاچاه شو... څوک یې ولېږهٔ او دا کوټ یې جوړ کړ، هغه ماڼۍ جوړه کړه، خپل نوم یې پر اوسپنه ولیکهٔ او د ماڼۍ پر ورهٔ یې

[1] - احسن‌التقاسیم ۳۰۵.
[2] - راهنمای صنایع اسلامی ۹۵.
[3] - تاریخ صنایع ایران، د ډاکتر کریستي ویلسن ۱۳۰.

کلک کړ. د ژباړن تر مهاله هغه اوسپنه د هغې ماڼې پر ورۀ وه. څرنګه چې بیدون بخاراخدات دا ماڼۍ ورغوله، ویجاړه شوه، بیا یې ورغوله، بیا ویجاړه شوه، څو ځله یې جوړوله او بیا ویجاړېده. پوهان یې راټول کړل او چاره یې ترې وغوښته، سلا په دې راغله چې دا ماڼۍ د پېرووڼو "بنات‌النعش"په بڼه چې په اسمان کې دي، پر اووه و ډبرینو ستنو جوړه کړي. دا بڼه یې ویجاړه نه شوه.»[1]

اصطخري وايي د بخارا کوټ دوه ورونه درلودل: يو يې په لوېديځ کې د ریګستان یا واښۀپلورو ور و. دوهم يې د غوریانو يا د جُمعې جومات"مسجد آدينه" ور و. پر دغو سربېره مقدسي د بخارا د کوټ دوه نور ورونه ياد کړي دي:

سهله ور يا باب‌السهله او جومات ور يا باب‌الجامع،[2] چې وروستی ور د اصطخري هماغه د جُمعې جومات ور دی.

خو د بخارا ښار اووه اوسپنيز ورونه درلودل: د اوسپنې ور- نور ور- حقره ور- کوټ ور- بني سعد ور- بني اسد يا مهره ور او ښار ور. کوټ د ښار ورۀ تر شا و، چې پاچاهي ماڼۍ، خزانې او زندان هم په کې وو. په ښار کې د بخارا جامع جومات ښۀ غولی درلود.

د بخارا انګړ (ربض) لس ورونه درلودل: د خراسان د لارې پر سر ميدان ور- ختيځ لور ته ابراهيم ور- د مردکشان يا مردقشه او کلاباز ور دواړه د نسف او بلخ د لارې پر سر- نوبهار ور- سمرقند ور- فغاسکون ور- راميتنيه ور- د خوارزم د لارې پر سر حدشروان ور او غشج ور؛ خو اصطخري د "ريو" په نامۀ يوولسم ور هم ياد کړی دی.

پاچاهي ماڼۍ د کوټ السهله ور ته نږدې مخ پر قبله وه، چې د اسلامي ښارونو تر ټولو پرتمينه وداني ګڼل کېده. ځينو بازارونو هم ورونه درلودل. د بخارا چاپېره ګڼ بڼونه او چمنونه وو، چې لوړې ودانۍ يې په منځ کې ليدل کېدې. بهاندې بُغراوې يې درلودې. کورونه يې ختين، بازارونه يې پراخ او حمامونه يې پاک وو.[3] د بخارا ښار

---

[1] - تاريخ بخارا ۲۹.

[2] - احسن‌التقاسيم ۲۸۰.

[3] - ياقوت، اصطخري او مقدسي.

مشهورې کوڅې دا وې: رندانو کوڅه، د وزیر بن‌ایوب یا د بخارا د امیرانو د استوګنیزې ماڼۍ کوڅه، د علاء سغدي کوڅه.[1] (د بخارا د ربض د کوټ ودانۍ په اړه څو مخه وروسته د ښارجوړونې بحث وګورئ).

**زرنج ښار**

د اسلامي سوبو په لومړیو کې د خراسان ښارونه او ورسره نښتې ختیځې او سوېلي سیمې ډېرې پراخې او لویې وې. بازارونه، جوماتونه، حمامونه، مدرسې، ماڼۍ بڼونه او کارخونې یې درلودې. د سیستان د مشهورې پلازمېنې زرنګ (د زرنج معرب) په اړه مؤرخ وايي:

«لوی ښار انګړدېوال لري، چې دا څو نورو ښارګوټي دي او مدینة العذراء ورته وايي، چې ور تسلیم کړی یې نه دی نو په نیولو یې هیڅکله هیڅوک نه دي توانېدلي... پر ځان بسیا ښار دی، چې هیڅ ښار ته اړ نه دی. که جوپې وځنډېږي، ټول ډول ډول نعمتونه، ښې جامې او نور څه چې له پاچاهانو او مخورو سره ښايي، په دې ښار کې موندل کېږي.... په بېړیو کې تر کلي پورې له لیرې ښارونو بارونه راوړي... د ښار چاپېریال یې پراخ دی...»[2]

زرنګ د سیستان سیمه، کوټ‌والا ښار او چاپېره ترې خندق و. ښار یې پنځه اوسپنیز ورونه او غولې یې هم انګړ او ۱۳ ورونه درلودل.[3] د رتبیل‌ښار یې بالهٔ او چاپېریال یې څلور فرسخه و.[4] ابن‌حوقل، ابوالفدا او نور وايي پخوانی ښار"رام شهرستان" و، چې کنډوالې یې د کرمان لارې ښي اړخ ته په درې فرسخۍ کې معلومېدې. څرنګه چې د سیستان ویالهٔ نابېره پرې او اوبهٔ یې بندې شوې؛ نو وګړي زرنګ ته ولېږدېدل. دا ښار د ۲۰س= ۶۴۰ز شاوخوا مسلمانانو ونیو. ښار یې پنځه ورونه درلودل:

۱- زوړ یا پارس ور. ۲- نوی ور چې دواړه لوېدیځ لور ته وو او پر هغو پارس ته

---

[1] - تاریخ بخارا تر ۵۲۱ وروسته.

[2] - تاریخ سیستان ۱۲.

[3] - حدودالعالم ۶۳.

[4] - البلدان د یعقوبي ۴۵.

تلل. ۳- کرکویه ور د شمال او خراسان لور ته. ۴- نیشک ور د بُست لور ته. ۵- طعام ور د ښار سوېل لور ته چې د صفاریانو ماڼۍ په کې وې. دېواړه ویالې په زاړهٔ، نوي او طعام ور کې بهاندې وې.

**د ښار بازارونه**: د عمرو لیث بازار چې جومات او روغتون هم په کې وو او ورځنۍ کرایه یې زر درهمه کېده. د سراجان بازار او نوی بازار.[1]

**د انګړ (ربض) ورونه**: د انګړ ورونه دیارلس وو: ۱- مینا د پارس پر لور. ۲- ګرګان. ۳- شیرک. ۴- بوشتاراق. ۵- شعیب. ٦- نوخیک (نوخیزک). ۷- الکان (آکار). ۸- نیشک. ۹- کرکویه. ۱۰- اسپریس (یعنې د اس ځغلونې ډګر). ۱۱- غنجره. ۱۲- بارستان او ۱۳- روذګران یا رودګران ور.[2]

**د زرنج مشهورې ودانۍ او ماڼۍ**: په انګړ کې دارالاماره او حوربندان ماڼۍ، په شارستان کې د حیک بن‌مالک سرای، د پارس او طعام ورونو تر منځ په انګړ کې د یعقوبي دوبنۍ ماڼۍ او د جُمعې جومات، د انګړ مخې ته د اندران‌شهر او پارس ورونه، تر شارستان بهر داشن کوڅه، د یعقوبي دوبنۍ ماڼۍ ته نږدې د سینک کوڅه، ښځمنو کوڅه، رخ کوڅه، فراه کوڅه، ګوښه کوڅه، میار کوڅه، بوالحسیني سرای، بایوسفي او ارتاشي سرای مشهور وو.[3] جامع جومات، زندان او دارالاماره دوو سوېل لوېدیځ ورونو ته نږدې د پارس پر لاره پراته وو. ارګ د نیشک او کرکویه ورونو تر منځ پروت و، چې خزانه یې په کې ایښوده. د زرنج زیاتره ودانۍ ختېنې او د اومو خښتو وې، ځکه چې لرګي یې وینو یا چنجیو خوړل. سوداګریز سرایونه تر ښار بهر او دننه او سرکاري دفترونه د ښار تر انګړ دننه وو. د بهرني بازار اوږدوالی نیم فرسخ ته رسېدهٔ. په ټول ښار کې بهاندې اوبهٔ او سړوبي وو. د ښار شاوخوا په تروو او شګلنو ځمکو کې د خرما بڼونه وو. جامع جومات ته نږدې دوه پاځهٔ جووړنه

---

[1] - تاریخ سیستان، اصطخري او خطي اشکال‌العالم.

[2] - اصطخري ۲۴۰.

[3] - تاریخ سیستان.

(ډنډونه) وو چې اوبه ترې پر ښار وېشل کېدې.[1]

د اوبو او شګو بندونه: د زرنج ښار لپاره یې د اوبو او شګو بندونه جوړ کړي وو، لکه د هلمند پر سیند د کندک بند چې د کرکوی ور لوری یې خړوباوۀ او د اوبو او شګو نور بندونه.[2]

بشاري وایي: د سیستان پلازمېنې زرنج داسې هېښنده کوټ درلود، چې د هغۀ مهال له هېښندو څخه ګڼل کېدۀ. چاپېره ترې د بهاندو اوبو خندق و. وګړي یې ځیرک، هوښیار، مؤدب او پوه وو. کانونه او مېوې یې مشهورې وې، نو له همدې امله"د خراسان بصره" ګڼل کېده. په دې ښار کې جومات او زندان هم وو، چې مخامخ ورته هېښنده ودانۍ وې. دوه پخوانۍ منارې پرې هسکې شوې وې او درېیمه یې یعقوب لیث له جستو څخه جوړه کړې وه. دا ودانۍ د ساساني پېر وې.

زرنج ښار د هلمند په اوبو خړوبېدۀ. د زرنج په یوۀ پړاو واټن کې ترې طعام رود رابېلېدۀ، ټولو کلیو ته یې اوبه ورکولې او نېشک ته رسېدۀ. د باشترود په نامۀ ترې بل نهر رابېلېدۀ، چې تر کزک پورې غځېدۀ. هلته یې پرې بند جوړ کړی و، چې اوبه یې سمندرګي ته ونه لوېږي. د دې سمندرګي اوږدوالی تر شلو فرسخو زیات او پلنوالی یې یو پړاو دی.[3]

په همدې څپرکي کې مو د زرنج د اوبخور د وضعې په اړه د کرکیلې او اوبخور د سیستم په برخه کې شرحه ورکړې ده، هلته د لوستو ده.

**بلخ ښار**

د اسلامي پېر په لومړیو او د هیونڅانګ د سفر پر مهال چې بلخ یې د ۶۳۰ز د اپرېل پر ۲۰مه= ۹ل د وري پر ۳۱مه لیدلی و. دې ښار ۲۰ لي= شپږنیم میله پراخوالی درلود او"راجګړ"یعنې کوچنۍ پلازمېنه بلل کېده. نفوس یې لږ او په سلو بودایي عبادتځیو کې یې د کوچني مذهب درې زره مذهبي زاهدان وو[4] چې د نوبهار د

---

[1] - جغرافیه خلافت شرقی، تر ۵۰۵ وروسته.

[2] - تاریخ سیستان او اصطخري ۲۴۲ او زرنج رساله زما تألیف، د کابل چاپ ۱۳۲۰ل.

[3] - احسن التقاسیم ۳۰۵، ۳۲۹او ۳۳۳.

[4] - سي. یو.کی، لومړی کتاب ۱۰۹.

مرکزي عبادتځي شرحه يې د مخه ورکړې شوه.

بلخ ښار د عربي لښکريانو په سوبو او جنګونو کې زيانمن شوی و او نوبهار يې تر ۴۰س=۶۶۰ز کال وروسته د خراسان د والي قيس بن‌هيثم له خوا ويجاړ شو.[۱] په دوه فرسخۍ بروقان کې يې عسکري پنډغالی و. د ۱۰۷س= ۷۲۵ز شاوخوا اسد بن‌عبدالله د خراسان امير وګومارل شو، هغهٔ د بلخ بيارغونې‌ته پاملرنه وکړه. حکومتي دفترونه يې له عسکري پنډغالي سره بلخ ښار ته ولېږدول. ابوخالد برمک بن‌برمک، چې د خراسان يو مخور او د نوبهار عبادتځي د خادمانو مشر و، هغه يې د ښار په بيارغونې وګومارهٔ.[۲] اسد د بلخ اسدآباد په خپل نامهٔ جوړکړ.[۳]

تر دې وروسته بلخ د خراسان له څلورګونو لويو ښارونو څخه يو او د امو د سوېلې سيمو لپاره د عربو حاکمانو او عربي ځواکونو تمځی و. تر امو ورپورې سيمو لښکرکښۍاو عسکري خوځښتونه له دې ځايه کېدل، چې عرب جغرافيه‌پوهان يې په اړه ډېر معلومات ورکوي، د ساري په توګه: د حدودالعالم نامعلوم مؤلف وايي: بلخ لوی او ښېرازه ښار او د سترو واکمنو استوګنځی و. د ستړواکمنو هېښنده ښکلې او پرتمينې ودانۍ په کې وې چې ويجاړې شوي او نوبهار يې بولي. آباد او د سوداګرو ځای دی. رود يې د باميانو له سيمې راوځي، بلخ ته نږدې پر۱۲برخو وېشل کېږي او ښار ته راماتېږي. ټول د کليو په کرکيله کې کارېږي. ښار يې کلک دېوال لري، په انګړ (ربض) کې يې ډېر بازارونه دي.[۴]

خو بشاري مقدسي وايي بلخ داسې ښار و چې د ښهٔ موقعيت، د لارو د پراخۍ، د ويالو او ونو د ډېروالي، د اوبو د پاکوالي، د ماڼيو د لوړوالي، کوټ او جامع جومات له امله مشهور و. په هر کال کې يې د غلو له محصول څخه ډېره پانګه د دولت خزانې ته رسېده. ګټورې سوداګرۍ او ډېر اړتيا توکي يې درلودل او د سند منډوي ګڼل کېدهٔ. کوټ يې ډېر زيات ټينګ و.

---

۱ - فتوح‌البلدان.۵۰۴

۲ - طبري ۵/ ۳۸۸.

۳ - مجمل‌التواريخ و القصص.۱۹۴

۴ - حدودالعالم ۶۱.

د بلخ جامع جومات د بازار په منځ کې و او ښکلې زينه يې درلوده، چې په ګلکاري شويو لرګو يې پوښلې وه. د بلخ ښار اووه ورونه وو:

نوبهار- رحبه (رخنه)- نوی- هندوانو- يهودو- شست بند او يحيى (بختي) ور. ښار لوی نهر درلود، تر ښار چاپېره خندق و او ټولې ودانۍ يې له ختې جوړې وې.[1]

اصطخري وايي چې: بلخ ختين کوټ لري، انګړ (ربض) او جامع جومات د ښار په منځ کې دی، چې شاوخوا يې بازارونه دي. دا جومات همېشه له خلکو ډک وي. ښار په هغهٔ نهر خړوبېږي چې ده‌آس نومېږي او د نوبهار ور په انګړ کې بهېږي. دا نهر لس ژرندې اوبه لري او تر سياه‌ګرد پورې کلي خړوبوي، بڼونه او تاکبڼونه لري.[2]

يعقوبي وايي: بلخ دوه کوټونه درلودل، چې تر هغهٔ لا د مخه يې هم درې کوټونه او۱۲ورونه درلودل. هغه د خراسان منځ ګڼل کېدهٔ، چې فرغانې، ری، سيستان، خوارزم، کرمان، ملتان، کندهار او کشمير هر لور ته يې ډېرش ډېرش پړاوه درلوده. د بلخ انګړکوټ څلور ورونه درلودل او د ښار پراخي درې په درې ميلو کې وه. اووه ډېرش ښارګوټي د بلخ اړوند ګڼل کېدهٔ.[3]

بلخ ښار چې په چنګېزي تاړاک کې ويجاړ شوی و، کله چې تر ۷۳۲س وروسته ابن‌بطوطه هغه ليدهٔ، له ويجاړۍ سره پرتمين برېښېدهٔ. اصلي ودانۍ يې ډېرې پخې او مضبوطې وې. د جومات، مدرسو نخښې پر ځای، د ودانيو د ستنو ګلکارۍ زياتره په لاجوردي رنګ وې.[4] د بلخ کنډوالې تر لسمې لېږدې پېړۍ پورې هم پاتې وې. بلخي مفتي سلطان محمد (۹۷۰س= ۱۵۶۲ز شاوخوا) وايي چې بلخ شل ځله ويجاړ شوی او بيا رغېدلی دی. دا کلا چې اوس هم خلک په کې اوسي، د هندوانو په کلا

---

[1] - احسن‌التقاسيم ۳۰۲.

[2] - مسالک‌الممالک ۲۷۸.

[3] - البلدان ۵۱.

[4] - سفرنامهٔ ابن بطوطه ۳۸۷، پارسي ژباړه، د تهران چاپ، ۱۳۳۷ل.

مشهوره ده، چې د ابومسلم مروزي پر مهال جوړه شوې ده. د دې شمالي دېوال امیرحسین گورگان په ۷۶۵س= ۱۳۶۳ز کې بیا ورغاوۀ. چې په ۷۷۱س= ۱۳۶۹ز کې امیر تېمور بلخ ونیوۀ پخوانۍ کلا یې ویجاړه کړه. له پخوانۍ ودانۍ څخه د مرمرو د تیرو دوې ستنې پاتې دي، چې چاپېره یا قطر یې یوولس او لوړوالی یې څلوېښت گزه دی. په ۹۴۵س= ۱۵۴۰ز کال کې کستن‌قرا تر نوې سلطان کلا چاپېره هندوان مېشت کړل، په دې وخت کې د بلخ ودانې یو فرسنگ په یو فرسنگ کې وه.[1]

"ایت" چې په ۱۸۸۶ز کې یې بلخ لیدلی، وایي د وروستیو کنډوالو وضع یې داسې وه: د پخواني دېوال د دایرې قطر یې شپږ نیم انگلېسي میله او وروته یې څلور وو. له شمال لوېدیځ لوري ته د لا لوړې کلا کنډوالې له ښار سره نښتې. د کلا په سوېل ختیځ گوټ کې پروت ارگ تر ۵۰ فټو زیات لوړ و. په کلا کې د اوبو ځای نه تر سترگو کېږي. په۱۷مه پېړۍ کې یې ارگ ته دننۍ‌ښار"شهردرون" وایۀ. په ۱۹مه پېړۍ کې یواځې د ښار سوېلي برخې د استوگنې او د لوېدیځ ورۀ تر څنگ درې لوړ محرابونه ښکارېدل، چې خلکو د جامع جومات پاتې شوني گڼل. بازارونه له ختیځه لوېدیځ او له شماله سوېل ته ودان شوي وو. د جامع جومات ختیځ ته د څلورلارې یعنې مرکزي گومبزې او خندق نخښې هم تر کوټ چاپېره ښکارېدې.

د شنۀ جومات او بلخ مدرسې نخښې لیدل کېدې، د پخوانیو هندوانو کلا د اوسني ښار ختیځ لور ته وه؛ خو د نوبهار ځای یې هم د ښار د سوېل لوېدیځو غونډیو په تخت رستم او رستم غونډۍ کې ټاکۀ چې له ختو او خښتو جوړ شوي وو.[2]

**غزنی**

چینایي سیلاني هیونڅانگ د ۶۴۴ز کال د جون پر ۲۵مه چې له ۲۴س د تسو- کو- چا (اراکوزیا) په پلازمېنه هو- سي- نه (غزنه) کې و. هغه د دې ښار پراخوالی ۳۰ لی= لس میله گڼي، چې ډېر پوخ او ټینگ و.[3] د ۵۰۰ز شاوخوا یوناني مؤلفانو هم هغه د پخو بنسټونو ښار گڼلی دی.[4]

---

[1] - مجمع الغرایب، خطي تر ۷۴ وروسته.

[2] - د بارتولد تاریخي جغرافیه تر ۷۵ وروسته.

[3] - سي . یو. کی، دولسم کتاب ۴۷۰.

[4] - جغرافیای قدیم هند، ۴۲.

لکه د دې کتاب په لومړي څپرکي کې چې مو شرحه کړه، د اسلامي پېر په لومړیو کې د رتبیلانو او لویکانو د کورنیو له مرکزونو څخه یو غزنی و. څرنګه چې تر ۶۴س= ۶۸۳ز وروسته د سیستان حکومت واکنده یزید بن‌زیاد د کابل پر لور لښکر وخوځاوه، په جنزه نومې ځای کې له کابلیانو سره مخامخ شو؛ نو دا نوم بې له غزنه یا غزنین یا اوسني غزني، بل ځای نه‌شي کېدای،[1] چې بشاري یې د ارزانو نرخونو او ښو غوښو کوچنی کلی بولي او د خراسان له بندرونو او د سند له خزانو څخه ګڼل کېده.[2] ودانۍ یې د اغزنو لرګو وې او کلا د ښار په منځ کې دولتي ماڼۍ درلودې، چې قبلې لور ته یې جامع جومات له ځینو بازارونو سره نښتۀ. نور بازارونه او کورونه په انګړ کې وو. غزني ښار څلور وروڼه درلودل: د بامیانو – سیستان؟ ګردېز ؟ او سیر ور؟[3]

---

[1] - ایرانشهر، د مارکوارت ۳۶.

[2] - دلته د ختیځ خلافت د جغرافیې مؤلف جي، لی‌سترینج خندوونکې تېروتنه کړې ده، په دې معنی چې هغه وایي: مقدسي د بامیانو ښار نوم اللحوم لیکلی او هغه یې د خراسان له بندرونو او د سند له خزانو څخه ګڼلی دی (سرزمین های خلافت شرقی، انګلیسي متن ۴۱۸، د کیمبرج چاپ، ۱۹۰۵ز او د محمود عرفان پارسي ژباړه ۴۴۵، د تهران چاپ۱۳۳۷ل او اردو ژباړه۶۴۵) تر دې وروسته د بشاري مقدسي ټوله شرحه چې د غزني په اړه یې لیکلې ده، لی‌سترینج هغه په بامیانو پورې نښلولې ده. د مقدسي د بیان متن (۳۰۳مخ) داسې دی: و البامیان ناحیة واسعة کثیرة اللحوم طیبة الفواکه مع کثرة و لها مدن جلیلة والمعایش بها حسنة و هی احد فرض خراسان و خزاین السند الخ... چې دا ټول بیان د غزني په اړه دی، نه د بامیانو. هېښنده ده چې د لی‌سترینج غوندې ځیرک او پوه کس کثیرة اللحوم ستاینوم چې تر اوسه هم په غزني تطبیقېږي او ډېره ښه غوښه او کباب لري، د بامیانو ځانګړی نوم وګڼي او له دې لویې تېروتنې سره د مقدسي د لوستنې پر تېروتنې شک څرګند کړي. په داسې حال کې چې د مقدسي عبارت څرګند، روڼ او له آره د بامیانو په اړه نه دی او نه مقدسي بامیان د اللحوم په نامۀ یاد کړی دی. دا له هغو لویو تېروتنو څخه یوه ده چې کله کله یې ختیځپوهان کوي، نو پر دې بنسټ باید د هغو له کتابونو څخه په احتیاط سره ګټه واخیستل شي. د حیرانۍ ځای دی چې د لی‌سترینج د کتاب د پارسي او اردو ژباړنانو پام دې لویې تېروتنې ته رااوښتی نه دی.

[3] - د دې څلورو وروڼو په نومونو کې یواځې لومړی څرګند دی. د دوهم ور نوم سـاـن چاپ شوی دی، چې اصل به یې سیستان وي. درېیم ور د احسن‌التقاسیم (۳۰۴مخ) په چاپ نسخه کې باب کردن؟ چاپ شوی دی، چې یقین ته په نږدې اټکل به ګردېز ور وي؛ خو څلورم ور باب‌السیر چاپ شوی چې معلوم نه شو، ښایي باب شنیز وي او دا شنیز اوس هم د غزني په شمال ختیځ کې د وردګ قوم د استوګنې یوه دره ده، چې د غزنویانو په پېر کې هم مشهوره وه، سنایي وایي:

علم و عمل خواجه اسماعېل شنیزی
ما را از نـه چیـزی رسانیـد بـچیـزی

(دېوان ۷۳۲)

څرګنديږي چې باميانو ور د شمال لوېديځ لور ته، د سيستان ور؟ سوېل لور ته، د ګردېز ور ختيځ لور ته او د شنيز ور شمال ختيځ لور ته و. د باميانو ور هغه دی چې يادونه يې د سخي‌سرور (۵۷۷س مړ) د كراماتو په كتاب كې راغلې ده. دلته تر اسلامي سوبې د مخه لوی بودايي عبادتځی و، چې هغه د لويک کورنۍ يوۀ حاكم وجوير (هجوير) د رتبيل او كابلشاه په امر د (۱۰۰س= ۷۱۸ز شاوخوا) جوړ كړی و.

د ۱۶۴س= ۷۸۰ ز شاوخوا د وجوير زوی چې خانان يا خاقان نومېدۀ، مسلمان شو او د باميانو ورۀ دا بتخونه هم په مزګت بدله شوه او غالباً همدا لومړنی جومات دی چې مسلمانانو په غزني كې جوړ كړ. وروسته د خانان لويک د لمسي افلح بن‌محمد (۲۸۰س= ۸۹۳ز شاوخوا) په نامۀ مشهور شوی و.[۱]

**بُست**

دا ښار چې تاكبنونه يې مشهور وو، تر اسلام د مخه وختونو كې هم موجود و. د ساسانيانو په پېر كې د بُست شراب د هغۀ مهال له ډېرو غورو ښناكونو څخه وو،[۲] د بُست يادونه د فردوسي په شهنامه كې هم تر اسلام د مخه پېښو كې راغلې ده.

مسلمانانو چې سوېلي افغانستان ونيو او عبدالرحمن بن‌سمره په ۳۶س= ۶۵۶ز كال كې د سيستان له محاذه د زابل او كابل پر سيمو لښكر ورمارش كړ، هغه له خواش څخه د بُست قوزان او له هغۀ ځايه رزان، خشک او رُخَج ته راغلی و.[۳] تر دې وروسته هم په بُست كې د مسلمانو سوبمنو عسكرو او رتبيلانو تر منځ جنګونه شوي دي، چې تفصيل يې په لومړي څپركي كې تېر شو.

خو بشاري وايي د اسلامي پېر بُست لوی كلی و، چې وګړي يې متدين او مېړني خلک وو. د دوو نهرونو تر منځ پروت و. نرمه هوا، زياتې مېوې، خرما، انګور، سَدر (الوچه) او ببري يې درلودل. د جامع جومات، انګړ او بازارونو والا ودان ښار يې درلود. د ښناک اوبه يې له هلمند نهر څخه اخيستل كېدې. د خرد روی (په غالب ګومان اوسنی ارغنداب) په نامۀ بل نهر هم د بُست په يو فرسخۍ كې ورسره يو ځای

---

[۱] - لويكان غزنه تر ۴۴ وروسته او د دې كتاب لومړی څپركی.

[۲] - خسرو و ريدک، پهلوي متن تر ۱۹ وروسته.

[۳] - فتوح‌البلدان ۴۸۸.

کېدهٔ. د دې دواړو نهرونو ګډونځی ته نږدې د بېړیو ګودر و. د غزني پر لور، د بُست ښار په نیم فرسخۍ کې د المعسکر (اوسنی لښکري بازار او د غزنوي پېر لشکرګاه) په نامهٔ کوچنی ښار هم پروت و، چې پاچاهي عسکر په کې اوسېدل.[1]

**کوهک**

دا کلا د ارغنداب سیند پر لوېدیځه څنډه پرته وه، پوخ او خوندي تمځی و، چې د اسلامي پېر په لومړیو کې د زابلي رتبیلانو له کلاګانو څخه وه. اوس هم په دې نامهٔ یو کلی د کندهار د لوېدیځ په لس میلۍ کې پروت او د پخوانۍ کلا پاتې شونې په کې څرګندې دي.

دا پخه کلا چې بیهقي وایي"د رتبیل شارستان" و، تر غزنوي پېره هم ودانه وه.[2] د بُست او سیستان له لوري پر کندهار د یرغل د مخنیوي ځای و. لکه د لومړي څپرکي د رتبیلانو په بحث کې مو چې وویل، یو رتبیل دلته له صفاري یعقوب لیث سره جنګېدهٔ، څرنګه چې په ۲۵۲س= ۸۶۶ ز کې صالح بن‌حجر د رتبیل تربور سرغړونه وکړه، یعقوب هغه همدلته کلابند کړ. صالح هم دلته ځان ووژهٔ او د هغهٔ مړی یې د کلا له ګوټه کښته راوغورځاوهٔ.[3]

د حدودالعالم مؤلف (۶۴مخ) هم کهک د پنجوایي د شاوخوا د نعمتونو او کښتونو له ښارګوټو څخه ګڼي، چې اوس هم د کهک د پخواني هسک‌کوټ کنډوالې د ارغنداب سیند د څنډې په شنه او ښېرازه کرونده کې په همداسې ځای کې پرتې دي. وګړي دلته د دې ځای د پخوانیو پاچاهانو کیسې کوي او داستانونه لري. د دې نامهٔ املا د غزنوي پېر او تر هغهٔ په راوروسته کتابونو کې د کاتبانو د اړونې له امله مسخ او کوهژ، کوهتیز، کوهشیر او نوره لیکل شوې ده.[4]

---

[1] - احسن‌التقاسیم ۳۰۴.

[2] - تاریخ بیهقي ۳.

[3] - تاریخ سیستان تر ۲۰۸ وروسته.

[4] - وګ: د تاریخ بیهقي حاشیې ۳او تاریخ سیستان حاشیې ۲۰۷.

## هرات

د خراسان له سترو څلورګونو ښارونو څخه یو ښار و، چې تر اسلام د مخه هم مشهور و او په اسلامي پېر کې هم هماغسې ودان پاتې شو. بشاري وايي: هرات د دې خوا لويه پلازمېنه وه. بڼونه، ښۀ انګور او غوره مېوې يې درلودې. ودانه او ګڼمېشته سيمه وه او ډېر کلي يې درلودل. خلک يې اديبان او هوښيار وو. کوټ او انګړ يې درلود. د انګړ ورونه يې په خپله د ښار ورونو ته مخامخ او نومونه يې دا وو: زياد ور د نيشاپور او لوېديځ لور ته- پيروز ور سوېل ته چې اصطخري هغه پيروزآباد ور هم بللی- د سرای ور د بلخ او شمال لور ته- وچ ور د غور او ختيځ لور ته. جامع جومات د ښار په منځ کې و. لوی بازارونه يې درلودل او د هرات پل هم مشهور و.

له دې ورونو څخه يواځې شمالي ور اوسپنيز او نور لرګين وو. د امير ماڼۍ لوېديځ لور ته د يوۀ فرسخ په واټن له ښاره بهر پوشنګ لور ته د خراسانآباد سيمه کې پرته وه. کابو له ټول ښاره دېوال راتاو و، چې له دننني دېواله د دېرشو پلونو په واټن يې جوړ کړی و. جامع جومات د ښار په منځ، زندانونه د جومات لوېديځ اړخ ته او بازارونه ورونو ته نږدې تر جومات چاپېره وو. ودانۍ يې ټولې ختېنې وې. د سرشک په نامۀ د اورلمانځونکو عبادتځی د غرۀ پر څوکه او د ترسايانو کليسا د غرۀ او ښار تر منځ پرته وه.[1]

د حدودالعالم مؤلف وايي: هري لوی ښار دی، شهرستان يې ډېر مضبوط دی، کوټ او انګړ لري. د دې ښار جامع مزګت د ټول خراسان د خلکو تر مزګتونو ډېر آباد دی.[2]

بشاري وايي هرات د خپلو شاوخوا سيمو د ښېرازۍ له مخه د خراسان بڼ و. ډېرې ويالې يې درلودې، چې موږ د همدې څېرکي د اوبخور د سيستم په برخه کې د مخه شرحه کړې ده.

## پوشنګ و قادس

مارکوارت وايي هريو، پوشنګ او بادغيس (ارمني تګس) تر ۴۸۶ز وروسته چې

[1] - اصطخري ۳٦۴ او ابن حوقل ۲ /۴۳۷.

[2] - حدودالعالم ۵۷.

ساساني پاچاه پيروز د هفتاليانو له لاسه ماتې وخوړه، د هغو لاس ته ورغلل او د هفتاليانو يوه ځانگه چې کاديشيرKADISHAER (ارمني کاتيش) نومېده په دې خاوره کې مېشته شوه او قادس تر اوسه د هغې په نامهٔ مشهور دی.[1] بلاذري وايي د دې هفتاليانو اولادونه تر هغهٔ وخت پورې په هرات او ځنډو کې يې وو چې په ۳۰س=٦٥٠ز شاوخوا کې عرب سوبمن عبدالله بن عامر دې خاورې ته رارسېدهٔ.[2] خو د اسلام د راتگ په لومړيو کې پوشنگ د هرات د شاوخوا تر ټولو لوی ښار و، چې پراختيا يې نيم هرات ته رسېده. بهاندې اوبه او ډېرې ونې يې درلودې. لرگي يې نورو ښارونو ته لېږدېدل. دېوال، خندق او درې ورونه يې درلودل: علي ور د لوېديځ او نيشاپور لور ته، هرات ور ختيځ لور ته او قوهستان ور سوېل لور ته.[3]

د حدودالعالم ليکوال وايي: پوشنگ د هرات ځو نيمه دی، چاپېره يې خندق دی او مضبوط کوټ لري.[4] وگړي يې عجمي گډوله ده، خو عرب په کې لږ دي.[5]

**کابل**

د جنرال کننگهم له څېړنو جوتېږي چې بطليموس PTOLEMEE (١٦٧ز مړ) د کابل سيمې يادونه کړې ده، پلازمېنه يې کابورا KABURA او وگړي يې کابوليتای KABOLITAE وو. دا ښار يې اورتسپانه ORTOSPANA هم بللی دی.

(آريانا انتکوا ۱۷٦)

په سنسکريت کې اوردهستهانهURDDHASTHANA د لوړ ښار معنی لري. هيونځانگ چينايي سيلاني د ۶۴۴ز د جولای په لومړۍ نېټه= ۲۴س د او- پو- کين (افغان) او د غزني له لارې فو- لی- شي- سا- تنگ ته ورسېد چې د اوسني کابل له موقعيت سره سمون خوري. هغه د کابل نوم نه يادوي؛ خو د دې سيمې پلازمېنه هو- فې– نه HU- PHI- NA نوموي چې د کننگهم په گروهه: د نورو مؤلفانو کوفن د

---

[1] - ايرانشهر ۷٦.

[2] - فتوح‌البلدان ۴۹۹.

[3] - احسن‌التقاسيم ۳۰۸.

[4] - حدود ۵۷.

[5] - البلدان د يعقوبي ۴۴.

هیونځانګ همدا هو- في – نه دی. څرنګه چې د کلمې یوه لوستنه اورتسپانه – پورته‌سپانه هم ده او پورته په پښتو کې د لوړ معنی لري، چې د سنسکرېت د اورده ORDDHA پرځای د ځایي خلکو له خوا کارېده؛ نو د سنسکرېت اوردهستهانه او پورته‌سپانه د لوړ ځای او کوټ په معنی دي،[1] چې د کابل پخوانی او تاریخي ښار هم هلته و او اوس یې پاتې شونې د کابل په سوېل کې د هسک‌کوټ پر غونډیو لیدل کیږي.

دلته زموږ موضوع تر اسلام د مخه کابل نه دی، خو هغه مهال چې مسلمان لښکریان دې خاورې ته راورسېدل، یعنې په لومړۍ لېږدې پېړۍ کې کابل موجود و او د مؤرخانو په اتفاق پاچاهانو یې کابلشاهان لقب درلود.

په ۳٦س= ٦٥٦ز کال کې چې عبدالرحمن بن‌سمره کابل ونیو، عرب مؤرخان دا ښار په همدې نامهٔ یادوي.[2] خو یعقوبي د ۲۹۰س= ۹۰۲ز شاوخوا وایي: د لوی کابل ښار چې جروس ورته وایي، عبدالرحمن بن‌سمره په عثماني خلافت کې نیولی و.[3]

څرنګه چې بیهقي وایي جروس د غور په میش‌بت کې کلا وه او په ۴۱۱س= ۱۰۲۰ز کال کې امیر مسعود له هرات او چشت پرې برید کړی و.[4] یاقوت هم جُروَس د غزني او هرات تر منځ په غور کې یو ښار ګڼي،[5] نو باید وویل شي چې د یعقوبي وینا د تأمل وړ ده.

په هر صورت کابل په لومړۍ اسلامي پېړۍ کې داسې ښار و، چې ټینګه او تمبوونکې کلا یې درلوده او ګرزندین یې بلله (ښایي د پښتو د ګرځند منع کوونکي په معنی، چې معرب یې جرزندین دی او د یعقوبي د البلدان په چاپ نسخه کې بې ټکو لیکل شوی دی). د دې کوټ لاندې ستغ غرونه او لارې، وېروونکي میدانونه او لوړې کلاوې وې؛ نو ورته رسېدل ناشوني وو. پاچاه یې هم هیڅا ته غاړه نه ایښوده،

---

[1] - جغرافیای قدیم هند تر ۳۳ وروسته او سي. یو.کی، ۱۲کتاب ۴۷۱مخ.

[2] - فتوح‌البلدان ۴۸۸.

[3] - البلدان ۵۳.

[4] - تاریخ بیهقي ۱۱٦.

[5] - معجم‌البلدان ۲/ ۱۳۰.

تر دې چې په ۱۷٦س= ۷۹۲ کې فضل بن‌یحیی برمکي هغه رام کړ؛ خو د یعقوبي تر پېره د ۲۹۰س= ۹۰۲ز شاوخوا پورې هم بې له سوداګرو- چې د سوداګرۍ لپاره ورتلل- چا دې کلا ته لاره نه درلوده.[1]

د کابل هسک‌کوټ په ټينګتيا کې مشهور و، مسلمانان، هندوان او بتخونې په کې وې. د هند د پاچاهانو پاچاهي توغ يې دلته هسکاوۀ او د دې بتخونو ليدو ته به راتلل.[2] اصطخري وايي: د کابل تمبوونکي کوټ يواځې يوه لاره درلوده، په هغې کې مسلمانان وو، په داسې حال کې چې هندوان او يهوديان د ښار په بهرني انګړ کې اوسېدل، [3] چې د سوداګرو مرکز او ډېر ودان و او دېوال‌والا هېښنده کوټ يې درلود.[4]

شريف ادريسي په ۵۴۹س= ۱۱۵۴ز کال کې ليکي: کابل لوی ښار دی او ښې ودانۍ لري. په غرونو کې يې ښۀ عود، کوپره (ښايي غوزان) کابلۍ‌هرېړه او زعفران پيدا کېږي، چې نورو ښارونو ته لېږدول کېږي. د کابل کوټ په ټينګتيا کې مشهور دی او د ورختلو يوه لاره لري. په کابل کې ډېر او بې ساري نيل کرل کېږي، چې نورو ځايونو ته ترې وړل کېږي او پوره نوم لري. نخي ټوکران ترې چين، خراسان او سند ته وړل کېږي. په غرونو کې يې د اوسپنې مشهور کان دی. شاوخوا ته يې سره نښتې او لګېدلې کلاګانې او ودانۍ دي.[5]

**باميان**

له مشهورو ښارونو څخه بل همدا ښار دی چې د اسلام د راتګ په لومړيو کې ودان او د باميانو د سيمه‌ييزو پاچاهانو شېرانو پلازمېنه وه. موږ د دې کتاب په لومړي څپرکي کې څو ځله د دې ښار او د دې د شېرانو يادونه کړې ده.

هيونځانګ چې د ٦۳۰ز کال د اپريل پر ۳۰مه= ۹س باميانو ته رسېدلی وايي،

[1] - البلدان ۵۲.
[2] - حدودالعالم ٦۴.
[3] - اصطخري ۲۸۰ او ابن حوقل ۲/ ۴۵۰.
[4] - احسن‌التقاسيم ۳۰۴.
[5] - نزهة‌المشتاق ۱۷.

پلازمېنه د کاین غرهٔ په لمنه کې او تر څنګ یې ٦ یا ٧ لی (کابو درې میله) په واټن یوه اوږده دره پرته ده، شمال ته یې د غرهٔ تامبېړونه پراتهٔ دي. مېرې، اسونه، څاروي او غنم په کې ډېر او مېوه په کې لږه ده. خلک یې جامې له پوستکو او وړیو څخه جوړوي.

له ۱۴۰ تر ۱۵۰ فټو په لوړوالي د بودا تيږنه پېرۍ د پلازمېنې په شمال ختيځ غرهٔ کې ولاړه او زرين رنګ يې هرې خوا ته ځلېږي او قيمتي ګانې يې سترګې برېښوي. د دې ځای ختيځ ته يوهٔ پخواني باچا جوړ کړی عبادتځی دی. ختيځ ته يې د سلو فټو په لوړوالي د ساکيابودا ولاړه پېرۍ له فلزي ډبرې څخه جوړه شوې ده. د دې پېرۍ غړي يې لومړی جلا جوړ کړي او بيا يې سره کوشېر کړي دي. د پلازمېنې ختيځ ته د ۱۲ لی (۴ ميله) په واټن عبادتځی دی چې په منځ کې يې د وصول پر مقام د نروانا په مرتبه د بودا ويده پېرۍ ده، چې اوږدوالی يې زر فټه دی. په سوېل لوېديځ کې يې د ۲۰۰ لی (٦۰ ميله) په واټن د رنې او پاکې چينې ډنډ (اوسنی بند امير) دی.[1]

هيونځانګ د بودايانو د سپېڅلو آثارو په اړه- چې د باميانو په عبادتځيو کې وو- تفصيل ورکړی چې موږ د کتاب په لومړي څپرکي شرحه کړي دي.

په اسلامي پېر کې باميان موجود او د چنګيز تر تاړاک پورې هم د خلکو استوګنځی و. لکه چې ويلي مو دي، مسلمانو سوبمنو د باميانو د شېرانو واکمنه کورنۍ د اسلام تر منلو وروسته پر ځای پرېښوده او ځينې پخواني عبادتځايونه هم د صفاري يعقوب ليث تر پېره (۲۵۸س= ۸۷۱ز شاوخوا) پاتې شول. داسې چې هغهٔ د باميانو تر نيولو وروسته د هغهٔ ځای ځينې بتان د بغداد مدينة الاسلام ته استولي وو.[2] مسلمانو مؤرخانو د باميانو دوه بتان سرخ‌بت او خنک‌بت او پاچاه يې ورته شېر بللی دی.[3] دا د درې ژبې هغه سيمه‌ييز خوارهٔ نومونه دي چې د جغرافيا او تاريخ د عربي کتابونو په خطي نسخو کې مسخ شوي او د ابن‌نديم د الفهرست په چاپ نسخه کې د جنبکت او زنبکت؟ په بڼه اړول شوي دي. په داسې حال کې چې ما (ليکوال) د کابل په يوې خطي نسخې کې هغه حنکبت او صرحت هم ليدلي دي، چې هماغه د حدودالعالم خنک‌بت او سرخ‌بت دي.

[1] - سي. يو. کی، لومړی کتاب تر ۱۱۳ وروسته.

[2] - الفهرست ۴۸٦.

[3] - حدودالعالم ٦۲.

ابن‌نديم وايي چې: ډېر هندوان له ليرې سيمو نه د دې بتانو ليدو ته راځي، قرباني کوي او خوشبويي خپروي. د دې لوی عبادتځي چاپېره ډېر زاهدان او منجاوران وي. زرين او مرغلين بتان يې بې ساري دي او ستاينې نه غواړي. د هغو طواف ته هندوان په وچه او لنده لاره له ليرې ځايونو راځي.[1]

باميان او بتان يې د اسلامي پېر په ادبياتو او کيسو کې تر راتلونکو څلورو پېړيو پورې مشهور وو، لکه چې په لومړي څپرکي کې تېر شول، د غزني د دربار شاعر استاد حسن‌عنصري (۴۳۱س مړ) د باميانو د"خنک‌بت او سرخ‌بت" داستان په دري ژبه نظم‌کړی‌و.[2] تر هغۀوروسته ابوريحان‌البېروني‌هغه د "حديث صنمی‌البامیان" له پارسي عربي ته وژباړۀ.[3] له دې جوتېږي چې د باميانو د دې دوو بتانو په اړه له اسلام نه مخکنی او وروستنی داستان د خلکو په منځ کې دود و. له بده مرغه چې د عنصري او البېروني دري او عربي دواړه آثار له‌منځه تللي دي؛ خو اوس موږ نه پوهېږو چې د خلکو په منځ کې د هغو دوو بتانو داستان څنگه و؟

**پېښور**

د اسلام د راتگ پر مهال بل مشهور ښار پېښور دی چې چينايي سيلاني شي فاهيان (۴۰۰ ز شاوخوا) يې د "فو- لو- شا"په نامۀ د بودايانو له مهمو مرکزونو څخه گڼي او وايي چې د دېوا پاچاه سکرا SAKRA د کنيشکا تر پلازناستې د مخه د ۱۰۰ز شاوخوا هلته د بودا په نامۀ منار جوړ کړ او د بودا کچکول THE ALMS – BOWL هم هلته و.[4]

دوې پېړۍ وروسته چينايي سيلاني هيونځانگ د ۶۳۰ز په نومبر= ۹س کې دې ښار ته راغلی او "پو- لو- شه- پو- لو" او د گندهارا پلازمېنه يې گڼي چې پراخوالی يې ۴۰ لی (کابو ۱۳ميله) و او د کاپيسا پاچاهی واکمنو پرې واکمني کوله. د هند

---

[1] - الفهرست ۴۸٦.

[2] - لباب‌الألباب د عوفي ۲/ ۲۲.

[3] - فهرست کتب د محمد بن زکريا ۳۹.

[4] - په سي.يو .کی، کې د فاهيان يونليک ۱۷.

بریدپوله وه او زر نړېدلي بودايي عبادتځایونه یې درلودل. د پاچاهي ښار دننه شمال ختیځ اړخ ته د بودا د کچکول د پخواني منار کنډوالې اوس هم شته، چې د هیونڅانگ په پېر کې یې نوموړی کچکول د پارس پولو ته وړی و (دا هماغه لوی ډبرین دېگ دی چې د کندهار په زاړهٔ ښار کې پروت و او په ۱۳۰۶ل کې یې د کابل موزیم ته لېږدولی دی).

د پېښور له پخواني ښاره بهر سوېل ختیځ ته په درې میلو کې د پیپل سل فټه لوړه او پلنه گڼه گوره ونه وه، چې کنیشکا د هغې سوېل ته د بودا د هډ ساتنې ستوپه جوړه کړې وه. دا ستوپه د ۴۰۰ فټو په لوړوالي د پیپل ونې سوېل ته په خپل هماغه شهرت او پرتم سره د هیونڅانگ تر پېره پورې هم موجوده وه، چې پراخوالی یې یو نیم لی او کابو نیم میل ته رسېدهٔ. په قیمتي جواهرو ښکلل شوې، ډېره ښکلې او پنځه پوړیزه (هر پوړ ۸۰ فټه) وه. کابو۹لېتره (یو پیک) د بودا د جسد پاتې شوني یې په کې ساتل او اوس د ٦ گزو په لوړوالي د پېښور په نیم میلۍ کې د"شاه جي کي ډهیري" په نامهٔ د خاورو غونډۍ ده. ډاکټر سپونر ترې په۱۹۰۹ز کې د بودا د هډوکو صندوقچه تر لاسه کړه.[1] دې عبادتځي ته نږدې ځینې نورې ستوپې وې، چې د بودا یو شمېر پېرۍ په کې ولاړې وې، خلکو ورته زیات ارادت درلود او ډېرې نذرانې به یې ورته وړاندې کولې. دا ټولې ستوپې، مذهبي ودانۍ او پېرۍ په قیمتي جواهرو، سرو زرو او نورو ښکلل شوې وې. هیونڅانگ یې راپاتې پرتم ستایي او په هغو کې د کوچنې بودايي مذهب پلیونې مېشت بولي. تر هغهٔ د مخه چینایي سیلاني سانگ‌ین (۵۰۲ز) هم دا وداني د لوېدیځو هېوادو یا سیمو تر ټولو ستره ستوپه گڼلې وه.[2]

هیونڅانگ وایي په بل دوه پوړیز برج کې د بودايي نهم یا لسم لارښود "پاره‌سویکا PARASWIKA"خانقاه وه، چې له یوهٔ وخته راهیسې ویجاړه پرته او

---

[1] - پشاور در حال و سابق، د جعفر، ۱۹،د پېښور چاپ، ۱۹۴٦ز (انگلیسي).

[2] - سي. یو.کی، تر ۱۵۰وروسته او جغرافیای قدیم هند ۱/ ۸۰.

خلکو يې په ياد هلته لوحه لګولې وه. د دې عبادتځي ختيځ ته، يوويشتم بودايي لارښود "وسوبندهو VASU- BANDHU"ته منسوبه ودانۍ وه، د هغې د سوېل په ۵۰ ګامه واټن کې يوه دوه پوړيزه ماڼۍ وه. لوی ديني استاد "مانورهيتا MANORHITA" خپل کتاب "وبهاشاساسترا" هلته تأليف کړی و.[۱] دا درېواړه بودايي لارښودان د زېږدو پېړيو په لومړيو کې وو.[۲]

په پېښور کې د عبادتځيو، پېريو، ودانيو، ستوپو او نورو راپاتې بودايي آثارو په اړه د هيونځانګ له ټولو ويناوو څخه څرګندېږي، چې دا ښار د اسلام د ځلا په لومړيو کې لوی بودايي مرکز، له سپېڅلو ښارونو څخه يو، د وخت د مدنيت و فرهنګ مرکز او د بودايانو زيارتځی و. ان دا عبادتځايونه په نهمه زېږدې پېړۍ (۴۰۰س شاوخوا) کې هم مشهور وو او د هغو په لويه ويهاره کې مشهور واعظان اوسېدل.[۳] د دې"شاه‌جي‌غونډۍ" لوېديځ اړخ ته د ډېرو ودانيو او عبادتځيو نخښې دي چې ۲۲۰ ګزه ځای يې رانيولی، د څلورو کتارو ودانيو پاتې شوني په کې ليدل کېږي او د پخواني عبادتځي له غولي سره نښتي دي. په کنډوالو کې يې بتان او نور پخواني آثار پيدا کېږي. د پنډۍ مربعي کڃه او د شاه برج ډېره مضبوطتيا موږ ته د هيونځانګ وينا رايادوي، چې دلته کنيشکا جوړ کړی لوړ دوه پوړيز عبادتځی و او په کونجونو کې يې ډېر برجونه درلودل. د اور بلېدنې له نخښو څخه- چې په کې پاتې دي- څرګندېږي چې يو مهال د اور عبادتځی هم و.[٤]

د "پو-لو-شه-پو-لو" نوم چې هيونځانګ له خپل چينايي تلفظ سم سره ليکلی، په اسلامي پېر کې د مؤرخانو له خوا په بېلابېلو بڼو ليکل شوی چې پره‌شاپوره- پرشاور- فرشاور- پرشور- پشاور او په پښتو کې پېښور دی. البېروني هم "برشاور" څو څو ځله راوړی دی،[۵] او د درېيم اقليم يو ښار يې ګڼي.[۱] همدا رنګه د غزنوي پېر مؤرخان لکه

---

[۱] - سي . يو.کی، دوهم کتاب ۱۵۶.
[۲] - پشاور در حال و سابق ۲۰.
[۳] - جغرافيای قديم هند ۱/ ۸۰.
[٤] - پشاور ۲۱.
[۵] - کتاب‌الهند ۱٦۵، ۳۴۹او نور.

بيهقي او گردېزی هغه څو څو ځله د برشور په بڼه يادوي؛ خو داسې برېښي چې کابلشاهانو تر خپلې ماتې وروسته د خيبر هاخوا ته د پېښور په سيمه کې مقاومت کاوهٔ. دې مقاومت د سبکتگين تر پېر او غلورمې پېړی پورې دوام درلود. ځکه نو عرب مؤرخان او جغرافيه‌پوهان د دې ښار يادونه نه کوي او هغه څه چې فاهيان او هيونڅانګ ليکلي دي، په پېښور کې د دې پېر د عبادتځيو او ودانيو وضع روښانوي.

**ويهند**

د کتاب په لومړي څپرکي کې مو د کابلشاهانو د احوال په اړه وويل چې د مسلمانانو له خوا د کابل تر نيولو وروسته کابلشاهان د ختيځ خوا ته پر شا شول، د گندهارا سيمې په پای کې اوسني اټک ته مخامخ د سند سيند په لوېديځه څنډه ويهند کې يې خپل تمځی جوړ او تر کابل وروسته يې خپله دويمه پلازمېنه کړه.

دا ويهند چې اوس د اباسين (اندوس) پر ښي يعنې شمالي څنډه د اټک په پنځه ميلۍ او د لاهور کلي د سوېل لوېديځ په څلور ميلۍ کې د شمالي عرض‌البلد د **۳۴** درجو او **۲** دقيقو او د ختيځ طول‌البلد په **۷۲**درجو او **۲۷** دقيقو کې پروت دی، ځايي‌اوسېدونکي‌يې‌هنډ بولي او د کننگهم‌په‌گروهه‌هماغه"ايمبوليما EMBOLIMA" ده چې د سکندر مؤرخانو يې يادونه کړې ده. اوس دا نوم د هنډ د شمال د دوه ميلۍ په امبر کلي کې شته. په همدې ايمبوليما کې وو چې سکندر پر اباسين پل وتاړهٔ. له دې څخه څرګندېږي چې د سکندر په پېر کې او تر هغهٔ وروسته د مسيحي پېر په پيل کې دا مهم ښار موجود و.[2]

چينايي سيلاني هيونڅانګ د **٦٣٠**ز د ډسمبر په لومړۍ نېټه= **۹** س د ننگرهار له لارې دې ښار ته رسېدلی او بيا له هنده د راستنېدا په لاره کې د **٦۴۳** د ډسمبر په **۲۵**مه= **۲۳**س له سند سينده په فيل راتېر او**۲۰**ورځې هلته تم شوی و. هغه يې نوم "يو-تو-کيا-هن-چه U-TO- KIA- HAN- CHA" بولي. ژولين وايي پخوانی نوم يې "يوداکهنده" و او سنت مارتن يې موقعيت په اوسني هنډ کې وټاکهٔ. هيونڅانګ وايي، دا ښار په کين-تو-لو "گندهارا" کې پروت، د سوداگريزو توکو لوی زېرمتون

[1] - قانون مسعودي ۲/ ٥٦۲.

[2] - جغرافيای قديم هند، تر ٥۱ وروسته او گزيتير صوبهٔ شمال غربی هند، ۱٥.

او پراخوالی يې ۲۰ لی (شپږنيم ميله) و. په سوېل کې يې سند سيند بهېدهٔ چې وګړي يې ډېر شتمن وو.[1] د هندي سوداګريزو توکو مښکو، مرغلرو او قيمتي ټوکرانو پير و پلور په کې کېدهٔ او مسلمانان په کې لږ وو.[2]

په اسلامي پېر کې چې کابلشاهانو له کابله دلته پناه راوړه، ويهنډ يې دويمنۍ پلازمېنه وه. له دې امله البېروني ويهنډ د سيند لوېديځ ته د قندهار"ګندهارا" پلازمېنه ګڼي، چې تر پېښوره يې ۱۴ فرسخه(فرسخ= څلور ميله) واټن درلود.[3] کشميري مؤرخ کلهنه په راجه‌ترنګيني کې هغه د "يوده‌بهنده UDA- BHANDA" په نامهٔ ياد کړی دی.[4] پرښته د بنهنده په نامهٔ ليکلی دی چې له پخوانيو نومونو سره نږدېوالی لري. لکه چې نغوته ورته وشوه د ۱۵۲س= ۷۶۹ز شاوخوا چې مسلمانانو د ګندهارا پلازمېنه ويهنډ ونيو، بتخونه يې ونړوله او د هغې پر ځای يې جومات جوړ کړ.[5]

مقدسي وايي: ويهنډ تر منصورې لوی ښارګوټی و، چې زيات شمېر شنهٔ او ښېراز بڼونه يې درلودل. ويالې، ونې، مېوې، نعمتونه او ارزانه نرخونه يې مشهور وو. ان درې منه ګبين يې په يوهٔ درهم ورکول، ډوډۍ او شيدې يې هم همداسې درواخلئ.

تر ښار چاپېره د غوزانو، بادامو، خرماوو او کيلو ونې وې. هوا يې توده وه، ودانۍ يې د خرما ډډونو او لرګيو څخه جوړولې، چې همېشه يې د سوځېدو وېره وه.[6]

مسعودي چې هنډ يې په ۳۰۳س= ۹۱۵ز کې ليدلی وايي: د القندهار "ګندهار" جهج"چچه" نومی پاچاه پر ويهنډ واک چلوي. دا نوم تر اوسه د سند سيند ختيځې

[1] - سي. يو. کی، دوهم کتاب ۱۶۳.
[2] - حدودالعالم ۴۶.
[3] - کتاب‌الهند ۱۶۵.
[4] - پشاور ۴۳.
[5] - فتوح‌البلدان ۵۴۴.
[6] - احسن‌التقاسيم ۴۸۰.

څنډې ته د چچ هزاره پر سیمې پاتې دی.

ویهند راوروسته جغرافیه‌پوهانو ته هم مشهور و، لکه چې رشیدالدین وزیر هم یاد کړی او وايي: مغولو دا ښار"قره‌جنګ" بالۀ. شریف ادریسي چې د پخوانیو مؤلفانو جغرافیايي معلومات راغونډ کړي په (۵۴۹س= ۱۱۵۴ز کال) کې وايي چې: د قندهار (ګندهارا) پلازمېنه لوی ګڼمېشتی ښار دی، وګړي یې اوږدې ږیرې پرېږدي او پرې مشهور دي. مخونه یې غونډ او جامې یې ترکانه دي. غنم، وریجې غلې دانې، مېږې او غواوې په کې ډېرې دي. د ویهند اوسېدونکي مړې مېږې خوري؛ خو د غواوو له غوښو ځان ساتي او د کابل له پاچاه سره جنګېږي.[1]

په دې مشهورتیا سره ویهند د پنجاب پر لور د سند سیند ګودر و. څرنګه چې د اټک لاره تر چنګېز وروسته جوړه شوه؛ نو د ویهند اهمیت یې ورو ورو لږ کړ او نیم ویهند اباسین یووړ. داسې چې د سند د څنډو په شګو کې زرکښان همېشه پخوانۍ سیکې مومي، چې د ویهند ښار د پراخوالي پخلی کوي.[2] د ښار د پخوانۍ کلا او دېوالونو نخښې یې تر اوسه د هند د نویو ودانیو په منځ کې پاتې دي. دا هماغه ښار دی چې د سکندر مؤرخانو او نورو د هند ور ګڼلی دی. د پخواني ښار د پراخوالي څرک یې تر دوو میلو پورې رسېدۀ. د دېوال پراخوالی یې ۱۴۰۰ ګزه دی او د مربع هره ضلع په منځ کې یو ور لري، چې ټول څلور ورونه کېږي. سوېلي ور یې سکیره ورک دی، په داسې حال کې چې د درې نورو ورونو آثار او نخښې یې له ورایه ښکاري. د کوټ په دېوالونو او بنسټونو کې پخوانۍ ودانیزې مصالحې لیدل کېږي. ورونه له کوچنیو پخو خښتو څخه رغېدلي او نور دېوال په ویجاړ حالت کې دی.[3]

په ۱۸۹۴ز کال کې یې په هند کې د یوۀ کوهي له دېوالۀ څخه د ۱۶×۲۵ انچه په قطع یوه تیږه وموندله چې اوس په پېښور موزیم کې ده، په عربي ژبه پرې لیکنه لیدل کېږي، چې په راوروسته اسلامي پېړونو کې د ویهند د مشهورتیا او ودانۍ پخلی کوي. د کوهي په یادګاري ډبرلیک کې فقهي ابوجعفر محمد بن‌عبدالجبار جوزجاني په

[1] - نزهةالمشتاق (د هند برخه) ۷۱.

[2] - کننګهم در جغرافیای قدیم هند، تر ۵۱ وروسته.

[3] - د هند د لرغونپېژندنې د ۱۹۲۴ز رپوټ، ۶۸.

۴۸۲س= ۱۰۸۹ز کې داسې لیکلي دي:

«بناء هذالبئر الفقیه أبوجعفر محمد بن‌عبدالجبار بن‌محمد الجوزجاني في ذي‌القعدة سنة اثنی و ثمانین و اربعمائه من هجرة النبی علیه السلام.[۱]»

**ملتان**

د خراسان د ختیځو غرونو د لړیو په وروستیو ژورو، درو او هغو لارو کې چې له هند سره نښتې، په منځنۍ برخه کې یې ملتان ښار د سند له لویې ناوې ورپورې غاړه پروت او تر اسلامي سوبو وروسته مهم پوځي او سوداګریز مرکز و، چې د هیونڅانګ په پېر (۶۳۰ز= ۲۳س) کې یې "مولستهانه‌پوره" بالهٔ. پراخوالی یې کابو ۳۰ لی (۱۰ میله) او ګڼ‌مېشتی ښار و، چې لس ویجاړې سنګهارامې او اته دیوا عبادتځیونه یې درلودل. د لمر ښکللی او پرتمین عبادتځی په کې و، چې له ډېرو نرهٔو سرو زرو جوړه په قیمتي مرغلرو ښکللې د لمر رب‌النوع پېره یې درلوده. تل به د قیمتي جواهرو او زرو ډالۍ دې عبادتځي ته وړاندې کېدې. یو لوی پالنځی (دارالمساکین) ورسره نښتی و، چې پر خوراک څښاک سربېره په کې له بېوزلو سره په طبي درملنې کې نورې مرستې هم کېدې. له ټولو هېوادونو ډېر زریات کوونکي دې عبادتځي ته راتلل. هر وخت به په کې څو زره کسان په عبادت او لمانځنه بوخت وو. د عبادتځي څلورو خواوو ته بڼونه، ډنډونه او ګلکڅونه وو، چې زیارت کوونکو په کې په ازادۍ سره ساعتتېري کولای شوه.[۲]

په اسلامي پېر کې چې اموي حاکم او سوبمن محمد بن‌قاسم ثقفي په ۹۵س= ۷۱۳ز کال کې دا ښار ونیو، عرب مؤرخان په ټولیز ډول هغه ملتان لیکي، خو ابوریحان البیروني چې د هندوانو د اصطلاحاتو او ادابنو سره له نږدې بلد و، د اوپل کشمیري د تألیف "سنګهت" کتاب په حواله وایي چې ملتان کاشپ‌پور- هنسه‌پور- بګ‌پور – سانب‌پور او بیا مولستان نومېدهٔ. مول د اصلي، تان د ځای او ټول د "اصلي

---

[۱] - د پېښور موزیم کتیبې (انګلیسي)، د عبدالشکور، د پېښور چاپ، ۱۹۴۶ز کال، ۹.

[۲] - سي. یو . کی، ۱۱ کتاب ۴۶۳.

ځای" معنی ښندي،[1] چې د هیونځانګ له لیکلي سره سمون لري.
ابوزید سیرافي په (۲٦۴س= ۸۷۷ ز) کې وایي چې د ملتان بت زیارت ته وګړي یوه میاشتنۍ لاره وهي او قیمتي هندي عود- چې یو من یې په دوه سوه دیناره دی- له کامروپ څخه راوړي او لوګی کوي یې.[2]
ابن‌ندیم د یوهٔ کتاب په حواله چې په ۲۴۹ز= ۸٦۳ ز کې لیکل شوی و، لیکي چې د ملتان عبادتځی د هند له اووهو مشهورو عبادتځیو څخه دی، چې اووه متره اوږد اوسپنیز بت په کې د ګومبزې په منځ کې بې مزي ځوړند دی، ځکه له څلورو خواوو یې د مقناطیس جاذبه ځوړند ساتي. د ګومبزې لوړوالی یې ۱۸۰ لاسه دی. له دې لارې وګړي د بامیانو د بتانو لیدو ته ورځي. عرب لښکریانو چې په دې ښار یرغل وکړ په عبادتځي کې یې هېښنده پانګه وموندله او د سل بهاره په اندازه نږه سرهٔ زر یې ترې تر لاسه کړل. ځکه یې هغه بیت‌الذهب ونوماوهٔ.[3] څرنګه چې هر بهار ۳۳۳ منه وزن درلود. د دې سرو زرو اندازه ۳۳۳۰۰ منه وه، چې ابن‌خردادبه یواځې ۴۰ بهاره د درې ملیونو پنځه سوه شپږ نوي زرو او څلور سوو درهمو لیکلي دي.[4] د ملتان له ښاره ټول یو سل او شل ملیونه درهمه د اموي سوبمنو لاسونو ته ورغلي وو.[5]
بشاري وایي په ملتان کې د سرو زور داسې بت دی چې له امله یې ملتان "فرج بیت‌الذهب" بولي. ځکه کله چې مسلمانانو هغه ونیوهٔ، څرنګه چې لاستنګي وو او هلته یې پرېمانه زر وموندل، نو په غنیمت یې ونیول. دا بت د ملتان د تر ټولو آبادې سیمې په مانۍ کې پروت دی. په منځ کې ښکلې ګومبزه ده او چاپېره ترې د منجاورانو خونې دي. د دې ګومبزې لاندې بت په ګونډو ناست سړي غوندې پر چوکۍ له ګچو او پخو کوچنیو خښتو جوړ دی. د سنجاب غوندې پوستکی یې وراغوستی دی، بې د جواهرو له دوو سترګو یې، نور څه نه لیدل کېږي. پر سر یې د

---

[1] - کتاب‌الهند ۲۵۰.
[2] - کتاب‌الهند و الصین ۱۲۹.
[3] - الفهرست ۴۸۵.
[4] - المسالک و الممالک.٥٦
[5] - تاریخ سند، د ندوي ۱۱۷.

سرو زرو خول ایښودل شوی، لاسونه یې پر زنګنونو ایښي او ګوتې یې سره نښتې دي.[1]

لکه مسعودي چې ویلي د اسلامي پېر د ملتان د انګړ په شاوخوا کې یو لک او شل زره کلي د هغهٔ اړوند دي.[2] د ملتان دبت عبادتځی د ښار تر ټولو ودانو بازارونو کې د ګرانبیه عاج او ټټارانو بازار تر منځ و. مانۍ په منځ کې ګومبزه درلوده چې په منځ کې یې بت و. تر ګومبزې چاپېره د عبادتځي د خادمانو استوګنځي وو؛ خو د ملتان د امیر استوګنځی د ښار د نیم فرسخۍ په"جندراور" لښکرکوټ کې و، چې له هغهٔ ځایه په یواځې ځان د جمعې په ورځ د لمانځهٔ د ادا کولو لپاره د فیل په سپرلۍ ملتان ښار ته راتهٔ.۳

ابودلف مسعر بن‌مهلهل تر۳۳۱س=۹۲۴ز وروسته لیکي چې د ملتان بت ګومبزې ته نږدې د مسلمانانو جومات و. دا ګومبزه درې سوه ګزه لوړه او شل ګزه پلنه وه،[4] چې په رنګینو کاشیو ښکلل شوې، بنسټ یې ډېر پوخ او ستنې یې مضبوطې او په ډول ډول رنګونو ښایسته شوې وې. ملتان لوی ښار دی، چې تمبوونکی دېوال او څلور ورونه لري. بهر ترې هم خندق راچاپېر دی. شاوخوا یې پر هغهٔ نهر ښېرازه کېږي، چې مهران ته تویېږي.[5]

## د مروې ښار

خو د مروې ښار چې د مروشاهجان په نامهٔ په لومړیو دوو اسلامي پېړیو کې تل د خراسان مرکز او د عربو د ځواکونو پنډغالی و، د خراسان له پخوانیو ښارونو څخه دی. د هغهٔ د کوټ نسبت یې تهمورث ته کاوهٔ. هلته د پوله‌ساتي مانۍ هېښنده وه، د مروې د خلکو په انګېرنه کوډې یې درلودې، خو پر اسلامي پېر خرابه شوې وه.[6]

---

۱ - احسن‌التقاسیم ۴۸۴.

۲ - مروج‌الذهب ۱/ ۳۷۵.

۳ - اصطخري، تر ۱۷۳ وروسته.

٤ - تاریخ سند ۲۱۴، د ابو دلف د خطي یونلیک په حواله.

۵ - د ادریسي د نزهةالمشتاق لنډیز۴۲، د هند د علي ګړ چاپ، ۱۹۵۴ز.

٦ - د ابن‌فقیه کتاب‌البلدان تر ۳۱۴ وروسته.

د مروې ښار په هواره ځمکه کې له غرۀ لیرې د شګلنې په منځ کې پروت و. ودانۍ یې ختیځې وې. لکه چې د مخه مو شرحه کړه ابومسلم مروزي خپله دارالاماره د هغې له مشهورې ګومبزې سره په ماجان کې جوړه کړې وه او په لوړ کوټ کې یې د کاریز اوبه بهېدې. ابومسلم د ښار بازارونه د ښار له ورۀ او د پخواني جومات له څنګه ماجان ته لېږدولی وو. د ښار اخترلمونځی د"رأس المیدان" سیمې په ابي جهم مربع کې و، چې شاوخوا یې ماڼۍ او ودانۍ جوړې شوې وې. دا ښار له هرمزفره نهر څخه خړوبېدۀ. د دې نهر پر څنډو تر سرخس پورې ډېرې ودانۍ وې او"رأس شابای" سیمه یې هم ښېرازوله.

بل نهر هماغه ماجان دی چې دارالاماره، جومات او زندان یې پرې ودان کړل. بل زریق نهر دی، چې د ښار له ورۀ تېرېده، د ښار ټولو خلکو ترې اوبه څښلې او د ښار ډنډونو ته یې اوبه ورکولې. پخوانی جومات د بخارا د امیر خالد بن احمد کورنۍ له ماڼیو سره په هغۀ پروت و. بل د اسعدي خراساني نهر په سنجان ورۀ او ماهان سیمه کې تېرېدۀ. د مروې د پوله‌ساتي استوګنځی هم هلته و. همدې څلورو نهرونو د مروې ښار ښېرازاوۀ.

د مروې ښار څلور ورونه درلودل: لومړی جامع جومات ته نږدې سوېل لوېدیځ لور ته د ښارګوټي ور. دوهم سوېل ختیځ لور ته سنجان ور (په جهان‌نامه کې: شهجان ور) درېیم شمال لوېدیځ لور ته بالین ور. څلورم شمال ختیځ لور ته مشکان ور چې په دې ورۀ ماوراءالنهر ته لاره تلله او د مامون ماڼۍ همدلته وه.[1]

په مروې ښار کې درې جوماتونه وو، چې شرحه یې په همدې څېرکي کې د جوماتونو په برخه کې ورکړی شوې ده. د مروې د اوبخور پر وضع مو هم د کرکیلې په بحث کې شرحه ورکړې ده.

د مروې ښار تر ټولو پخوانۍ کنډوالې په اوسنۍ کافرکلا کې دي. دلته د مروې ښارګوټی و. د ښار پراخوالی له شاوخوا سیمو سره کابو څلوېښت ورست مربع و، لکه

[1] - اصطخري ۲٦۰ او احسن التقاسیم ۳۱۲، ښایي بالین؟ مالین ور وي.

چې حافظ ابرو وايي: د کافرکلا د کنډوالو لوېديځ لور ته د سلطان کلا په نامۀ د تري پخوانی ښار پروت و، چې تر شګو لاندې شوی دی. د مروې ښار په ٦١٩س= ١٢٢٢ز کال کې د چنګېزي تاړاکګرو په لاسو تر ويجاړۍ وروسته، بيا ودان نه شو.[١]

**سمرقند**

لکه چې ومو ويل سمرقند د شمال ختيځ له لوري د خراسان وروستۍ بريدپوله وه، هيونڅانګ د ٦٣٠ز د مارچ په ٥مه= ٩س هلته و، چې هغه ٢٠لی= شپږنيم ميله پراخ، ګڼ‌مېشتی او سوداګريز مرکز ګڼي. ييبره‌ورې ځمکې، د ونو ځنګلونه، مېوې، پرېمانه ګلونه او شين SHEN نسلي اسونه يې درلودل. وګړي يې هنرمند او کارند وو.[٢] تر اسلامي سوبو وروسته هم سمرقند خپل اهميت وساتۀ. بشاري وايي د اسلامي پېر سمرقند د نهر پر سر پروت او څلور وروونه يې درلودل: لومړی ختيځ ته د چين ور. دوهم لوېديځ ته د نوبهار ور. درېيم شمال ته د بخارا ور. څلورم سوېل ته دکش ور.

د سمرقند انګړ اته وروونه درلودل: غداود - اسبسک - سوخشين - افشينه - کوهک - ورسنين - ريودد او فرخشيد ور. د ښار ودانۍ ختيځې- لرګينې وې او راس‌طاق يې تر ټولو ودان ځای و. د ښار جامع جومات کوټ ته نږدې و. تر ټولو لوی بازارونه يې په انګړ کې وو. تر ښار چاپېره خندق و چې له کارېزه ورته اوبه راتللې.[٣] د سمرقند د شاوخوا اوږدوالی د ساسانيانو په پېر کې ١٢ فرسخو ته رسېدلی و، چې ١٢وروونه يې درلودل. له هر لوی ورۀ تر بل پورې يو فرسخ لاره وه. ښار پر دېوالۀ له پاسه د جنګ او دفاع لپاره طاقونه او برجونه درلودل. د دواړو وروونو تر منځ د ښار د اميرانو لپاره سرای و. د سمرقند د کلي کروندې تر لسو زرو جرېبو پورې رسېدې. د ښار دننه دوه نيم زره جرېبه وې، چې د کوټ جامع جومات په هغو کې و.

---

[١] - بارتولد در جغرافيای تاريخی ٩٣.

[٢] - سي. يو. کی، لومړی کتاب ٩٩.

[٣] - احسن‌التقاسيم ٢٧٩.

په هر ځای کې یې اوبه بهاندې وې. هر کور بڼ درلود. د کوټ ورونه اوسپنيز وو او زیاتره بازارونه یې په انګړ کې وو.[1]

د سمرقند ښار لوی‌دېوال درلود، په اسلامي‌پېر ویجاړ شوی‌و، چې هارون‌الرشید (۱۷۰-۱۹۳س) بیا ورغاوهٔ.[2]

**ترمذ**

هیونځانګ دا ښار د نهم لېږدي کال شاوخوا د تا- مي په نامهٔ یاد کړی، چې پراخوالی یې ۲۰ لی= شپږ نیم میله و. ختیځ او لوېدیځ ته اوږد او شمال او سوېل ته پلن پروت و. لس عباتځایونه او زر بودایي زاهدان یې درلودل. د دې سیمې د بودا د پېږو ستوپې مشهورې او وړنګنې وې.[3]

خو په اسلامي پېر کې ترمذ د امویه (امو) پر څنډه تر ټولو لوی ښار و، چې تر دېوالهٔ دننه یې کوټ او جومات درلود. کوټ یو ور او ښار درې ورونه درلودل. ډېر سوتره او پاک وو، بازارونه یې په پخو خښتو فرش او دواړو غاړو ته یې اوبه بهېدې. د امو بېړۍ همېشه د هغهٔ ښار څنډو ته راتللې.[4]

اصطخري وایي ترمذ ښار یوه ارګ کلا او انګړ درلود. انګړ یې هم دېوال درلود. دارالاماره د ارګ کلا دننه، زندان د ښار په بازار، جامع جومات هم په ښار او اخترلمونځی په انګړ کې و. د ښار ودانۍ ختېنې خو بازارونه او کوڅې په پخو خښتو فرش وې. د څښاک اوبه یې له آمو څخه راتلې.[5]

**نیشاپور ښار**

د خراسان بل ډېر مشهور سوداګریز، اداري، لښکري او صنعتي ښار نیشاپور و. د

---

[1] - تلخیص د یاقوت او اصطخري، ابن فقیه او بشاري.

[2] - البلدان یعقوبي ۵.

[3] - سي .یو. کی، لومړی کتاب ۱۰۴.

[4] - احسن ۲۹۱.

[5] - اصطخري ۲۹۸.

خراسان له څلورو مرکزونو څخه یو و، چې بلاذري "ابرښار" بللی دی.[1] اوسنی نوم یې له یوۀ ساساني پاچاه لومړي شاپور (دریمه پېړۍ) یا دوهم شاپور (څلورمه زېږدي پېړۍ) څخه اخیستل شوی دی.[2] اموي او عباسي درهمونه چې په دې ښار کې وهل شوي پر هغو هم "ابرښار" کښل شوی دی.[3]

نیشاپور پراخه بازارونه، قیمتي توکي، بڼونه، مدرسې، سوداګریزې خونې او حمامونه درلودل. ښار یې خندق، دېوال، څلور ورونه خو کوټ دوه ورونه درلودل، یو د ښار او بل د انګړ لور ته. د انګړ ورونه تر (۵۰) رسېدل. تر ټولو مشهور یې جیق (اصطخري: جنګ) د بلخ لور ته، احوص‌آباد ور د پارس لور ته، سوخته او سرشېرین ور د طوس لور ته، خشنان، برد، منیشک او قباب ور د عراق لور ته، پارس ور، خروج ور او د اسوار کارېز ور وو. جامع جومات د ښار په کښتني انګړ کې له بازار سره و. لښکرکوټ یې هم شپږ برخې و چې ابومسلم مروزي له لرګیو څخه جوړ کړی و.[4]

نیشاپور ښار په ژورو کارېزونو خړوبېدۀ لکه د حیره او معمر ور کارېز، د ابي عمرو خفاف کارېز، د شادیاخ او سوار کارېز. سیمو یې بهاندې اوبه درلودې. په ځینوځایونو کې د خوړو اوبو کوهیان هم وو. د ښار په یو فرسخی بشتقان کلي کې نهر بهېدۀ، چې کابو اویا ژرندې اوبه یې درلودې.[5]

د نیشاپور ښار پراخوالی یو مربع فرسخه او دارلاماره یې په حسینیین میدان کې له زندان و جامع جوماته یو فرسخ لیرې وه. په خپله ښار څلور ورونه درلودل: رأس القنطرة - سکه معقل- قهند او پل‌تګین ور. تر ښار بهر د انګړ مشهور بازارونه لویه

---

[1] - فتوح‌البلدان تر ۵۰۰ وروسته.

[2]- بارتولد در جغرافیای تاریخی ۱۵۰.

[3] - جغرافیای خلافت شرقی ۵۸۴

[4] - احسن ۳۱٦ او اصطخري ۲۵۵.

[5] - پورتنی اثر ۳۲۹.

مربعه او کوچنۍ مربعه وو. لویه مربعه ختیځ لور ته تر جامع جومات پورې غځېده او له هغۀ ځایه مخ په لوېدیځ کوچنۍ مربعه ته رسېده. دا مربعه سوېل لور ته د دارالامارې تر څنګ د حسینیین تر قبرونو پورې غځېده.[1] دې بازارونو د سوداګرو لپاره ډېر سرایونه درلودل. په هټیو کې یې ډول ډول توکي وو او ټوکر پلورونکي، پینه‌ګر، موچیان، رسۍ‌پلوري او نور کسبګر ډېر وو. ښار ۲۲ چمونه درلودل، چې هر یو د ښار تر ورۀ رسېدۀ. د بازارونو شمېر (۵۰) ته رسېدۀ.[2]

## ښار جوړونه

عربو سوبمنو د زړو ښارونو، جوماتونو او عبادتځیو پر بیارغونه سربېره، په ځینو ځایونو کې د نویو ښارونو په رغونه هم لاس پورې کړ. څرنګه چې عباسیانو د منصور له پېره د نویو ښارونو لکه بغداد او سامره په بنسټ ایښودنې او رغونې کې تجربه درلوده؛ نو حاکمان یې هم د مرکز د رغونې پر سیاست روان وو.

د عربو د سوبو پر مهال خراسان پخواني او ودان ښارونه درلودل، ځکه خو عربو سوبمنو نویو ښارونو جوړولو ته اړتیا نه درلوده، لکه چې تېر شول یواځې اسد بن‌عبدالله د ۱۰۷س= ۷۲۵ز شاوخوا د بلخ ښار بیارغونې ته متې راونغښتې او د بلخ اسدآباد یې جوړ کړی و؛ خو د خراسان په ختیځو سرحدي سیمو یعنې د سند په سیمه کې چې سوبمن یې محمد بن‌قاسم و، عرب نویو ښارونو جوړولو ته اړ وو. لومړی ځل یې د دیول بندر (= دېبل د اوسنۍ کراچۍ شاوخوا) د څلورو زرو عربي کورنیو د استوګنې لپاره پنډغالی جوړ کړ.[3] بیا یې د سند سیند پر ختیځې سوېلي څنډې د ۱۱۴س= ۷۳۲ز شاوخوا د محفوظه په نامۀ ښار جوړ کړ، چې بنسټوال یې د سند والي حکم بن‌عوانه کلبي (۱۲۱س= ۷۳۸ز مړ) و. دا نوی ښار د عربي لښکرو پناه ځی او پنډغالی شو.[4]

تر دې وروسته عمرو بن‌محمد بن‌قاسم د سند سوبمن چې د عربي لښکرو

---

[1] - اصطخري ۲۵۴.

[2] - احسن ۳۱۴ او ابن حوقل ۴۳۳.

[3] - تاریخ سند، د ندوي ۳۴۸.

[4] - فتوح‌البلدان ۵۴۳.

يو قوماندان و، د برهمن‌آباد د لوېديځ په شپږ ميلۍ کې د يو ښار بستې کنېښود، هغه يې پر خپلو سندي دښمنانو د نصرت او بري له امله منصوره ونوماوۀ. بيا د ۱۰۵ او ۱۲۰س تر منځ د مامورينو استوګنځی او د مسلمانو حاکمانو پلازمېنه شوه.[۱]

د نوي جوړ شوي عربي ښار منصورې پراخوالی يو په يو ميل کې و.[۲] د مهران سيند يو ګودر يې شاوخوا و، مسلمانان په کې اوسېدل. ډېر ليموګان، انبه (ښايي ام) خرما او ګني په کې کېدل،[۳] سمسور او ودان ښار و.

بشاري وايي د دې ښار ودانۍ لرګينې او ختينې وې، جامع جومات يې د عمان د جامع جومات غوندې د ساج او ساګوان د لرګيو پر لويو ستنو ولاړ و. ډک او شتمن بازارونه يې درلودل، چې سوداګري يې ډېره ځلبلانده وه.[٤] کلک او محفوظ کوټ يې وګړي د دښمنانو له يرغله ساتل.[٥] څلور ورونه يې درلودل؛ د البحر ور د ښار په ختيځ، طوران په لوېديځ، سندان په سوېل او ملتان په شمال کې و. د پنځوس زره لښکر د استوګنې لپاره د لس زرو اسونو او اتيا فيلانو[٦] له غوجلې سره لښکرکوټ، د اميرانو لپاره لويې ماڼۍ، د قاضيانو محکمه او د قاضي‌القضات ابومحمد منصوري تر څارنې لاندې يې لوی کتابتون‌والا مدرسه درلوده.[۷] په طبقات ناصري کې منهاج‌السراج وايي دا ښار تر اوومې لېږدي پېړۍ پورې آباد و. په همدې پېړۍ کې به غالباً له برهمن‌آباد سره په زلزله کې له‌منځه تللی وي.[۸]

مسعودي وايي منصوره په سمسورتيا او آبادۍ کې بې ساري وه او بڼونه يې يو تر بله

---

[۱] - فتوح ۵۴۳ او تاريخ يعقوبي ۲/ ۳۲۴.

[۲] - منصوره په ختيځو ۹۴ درجو او ۳۰ دقيقو او شمالي ۲۴ درجو او ۴۴ دقيقو کې پرته ده.

[۳] - اصطخري ۱۰۳.

[٤] - احسن ۴۷۹.

[۵] - تاريخ يعقوبي ۲/ ۴۰۹.

[٦] - مروج‌الذهب ۱/ تر ۳۷۷ وروسته.

[۷] - احسن ۴۱۸.

[۸] - تاريخ سند د ندوي ۳۵۰.

نښتي وو. درې لکه کلاوې (کورنۍ) ترې چاپېره پرتې وې.[۱] سوداګري يې ښه او وګړي يې ډېر وو. ودانۍ يې له اومو او پخو خښتو او ګچو وې.[۲] د منصورې نقشه د هغو پخوانيو جغرافيايي اسنادو له مخه چې"د پاکستان ښارونه" مؤلف کښلې داسې ده.*

بل اسلامي ښار دی چې خراسانيانو جوړ کړی، بيضاء دی چې د سند حاکم عمران بن‌موسی برمکي بلخي د ۲۲۰س= ۸۳۵ ز شاوخوا د سند ناوې د لوېديځې سيمې د بودهيه ولايت بوقان ته نږدې- چې اوس د بلوچو په خاوره کې دی- جوړ کړی و. ځکه په دې سيمه کې جټ قبيلو سرغړونه کړې وه او عمران په ډېره بيړه خپلې لښکرې قيقان (بلوچي کلات) ته ولېږلې، هغوی يې وټکول او د ګاندې د امنيت لپاره يې د بيضاء په نامهٔ عسکري پنډغالی او ښار جوړ کړ.[۳] خو دې ښار غالباً د لښکرکښيو د اړتيا تر ليرې کېدو وروسته پرمختګ ونه کړ. ځکه تر دې پېر وروسته يې سيلانيانو او جغرافيه‌پوهانو يادونه نه ده کړې.

د هغهٔ پېر ښارونو -چې موږ پرې خبرې کوو- په ټوليز ډول درې برخې درلودې: يوه مرکزي برخه وه، چې په ځينو ځايونو لکه سيستان کې يې ارګ، په ځينو کې يې کهندز (معرب قهندز) او په ماوراءالنهر کې يې درون بالهٔ. د اميرانو استوګنځی يا زندان و او خزانه يې هم هلته خوندي کوله. که به په لوړه غونډۍ لکه غزنی او کابل جوړېدهٔ ، هغه به يې هسک کوټ (بالاحصار) بالهٔ.[٤]

[۱] - مروج‌الذهب ۱/ ۳۷۷ *

[۲] - نزهة‌المشتاق ۳۲.

[۳] - فتوح ۵۴۴.

[٤] - جنرال کننګهم په دې اند دی چې د کابل خاورې پخوانی نوم اردهستهانه د يوناني مؤرخانو او چينايي سيلاني هيونځانګ له خوا اخيستل شوی دی. يوه لوستنه يې پورته‌ستانه ده، چې په سنسکرېټ کې هم اردهستهانه د لوړ ښار معنی لري. پورته کلمه د لوړوالي په معنی د سنسکرېټ د اورده پر ځای د ځايي وګړو له خوا کارېدلې ده، چې پارسي معنی يې بالاحصار يا شهربلند ده (جغرافيای قديم هند، تر ۳۳ وروسته). له دې څرګنده ده چې د«بالاحصار» مفهوم تر اسلام دمخه وختونو کې د افغانستان په خاوره کې د هغه مهال په ژبو کې دود و او د ښار پورتنۍ خوندي برخه يې په دې نامهٔ نومله.

تر هسک کوټ یا ارگ چاپېره دېوال او له هغۀ بهر شارستان (ښار) و. ښار هم مضبوط دېوال او څو ورونه درلودل،[1] چې تر دې دېوال بهر یې رَبَض (جمع ارباض) او په ماوراءالنهر کې بېرون بالۀ. دا تر ښار بهر ودانۍ او کلي دي.[2] د سیستان د زرنگ (زرنج) پخواني ښار همدغه آبادۍ درلودې. د کابل ښار هم دنگ دېوالونه درلودل، چې ورته وررسېدل ستونزمن وو، ځکه یې ورته جرزندین وایۀ چې (د گرزندین معنی په پښتو کې تمبوونکی ده).[3]

هرات ښار هم دغه ډول سخت کلک دېوال، ښار او انگړ درلود.[4] بخارا هم ارگ، د پخو خښتو دېوال‌والا ښار او انگړ درلود. دېوال یې د عباسي المهدي په پېر کې د خراسان امیر ابوالعباس طوسي د"کنپرک" په نامۀ د شاوخوا د ترکانو له یرغلونو څخه د هغۀ د ساتنې لپاره جوړ کړ. په هر فرسنگ کې یې ور او په هر نیم میل کې یې پوخ برج جوړ کړ. د ودانۍ کار یې تر ۲۱۵س= ۷۳۳ز پورې پای ته ورسېدۀ.[5]

د اسلامي پېر په لومړیو کې د ښار سازۍ نورې چارې داسې وې:

۱- (لکه چې تېر شول) د هارون‌الرشید ۱۷۰- ۱۹۳س په امر د سمرقند د لوی دېوال جوړول.

۲- د ابومسلم مرزروي (د بلخي مفتي د وینا له مخه) له خوا د بلخ د هندوانو کلا جوړول.

۳- د مروې په ماجان کې د ابومسلم ودانۍ او د هغۀ ځای دارالاماره (چې شرحه یې تېره شوه)

۴- په نیشاپور کې د ابومسلم ودانۍ او د جومات و مانۍ‌گوټې جوړول (تاریخ

---

۱ - تاریخ سیستان ۱۱.

۲ - معجم‌البلدان ۳/ ۲۵.

۳ - البلدان د یعقوبي ۵۲- په چاپ نسخه کې د جرزندین نوم بې ټکو لیکل شوی دی، زما اټکل دا دی چې سم یې د منع کېدلو په معنی د پښتو له گرزېدل راوتی گرزندین او معرب شوی دی، نو گرزند او گرزندین به منیع (منع کوونکی) وي؛ خو دا لومړنی اټکل دی؛ نو د اثبات لپاره قرینه غواړي.

[4] - تاریخ سیستان ۱۱.

[5] - معجم‌البلدان ۳/ ۲۵.

نیشاپور چې شرحه یې د جوماتونو په برخه کې ورکړ شوې ده.)

۵- د داؤد بن‌علي د مېرمن (ابن‌بطوطه- شرحه یې د جوماتونو په برخه کې) له خوا د بلخ جومات جوړول.

٦- د بلخ د اسدآباد جوړول د ۱۱۸س= ۷۳٦ز شاوخوا (شرحه یې د مجمل په حواله تېره شوه)

۷- د امو په بیابان کې د فضل‌آباد جوړول او په خراسان کې د عباسي خلیفه المهدي د حاکم ابوالعباس فضل بن‌سلېمان طوسي له خوا د سغد او بخارا تر منځ د لوی دېوال جوړول چې د ترکانو له یرغلونو خوندي شول د (۱٦۷س= ۷۸۳ز شاوخوا) (خطي زین‌الاخبار ۷۷ ب)

## ۸- د گردېز وداني

د حدودالعالم نامعلوم لیکوال وایي‌د (۳۷۲س= ۹۸۲ز شاوخوا) گردېز یا گردېس (گر= غر+ دیس= دژ یعنې غرکوټ) د غزني او هندوستان تر منځ د لارې پر سر ښار و، چې مضبوط درې باریز کوټ یې درلود او د پکتیکا (پښتونخوا د پښتنو استوګنځی) د پخواني او تاریخي ولایت پر درو د بره او حاکم و.

د ۲۰۰س= ۸۱۵ ز کال شاوخوا هغه مهال چې د سیستان مشهور ځیرک سیاسي لاربښود حمزه‌شاري امیرالمؤمنین د بغداد د خلافت د برلاسي پر وړاندې په افغانستان کې مقاومت او جنگونه کول، هغهٔ د گردېز ښار جوړ کړی و.[1]

د هغو اسنادو له مخه چې د دې کتاب په لومړي څپرکي کې یې یادونه وشوه، گردېز تر اسلام د مخه موجود و، نو ځکه باید وویل شي چې حمزه به دا ښار او یا د دې کوټ بیارغولی وي، چې د هغهٔ د پلیونو او اتباعو لپاره پناه‌ځی وي. ځکه موږ وینو چې د (۳۷۲س= ۹۸۲ز) شاوخوا یعنې د حدودالعالم د لیکنې پر مهال هم خوارج یعنې د حمزه اتباع په گردېز کې اوسېدل[2] او موږ له مخه په پخوانیو څپرکو کې د حمزه د ژوندانهٔ په شرحه کې دې مطلب ته نغوته وکړه.

[1] - تاریخ سیستان ۲۴.

[2] - حدودالعالم ۴۵.

گردېز د حدودالعالم د مؤلف په پېر کې پوخ درې باریزکوټ درلود. له دې هم پوهېدای شو چې حمزه گردېز ډېر زيات پوخ او مضبوط جوړ کړی و.

**خيريه ودانۍ**

د ۹س شاوخوا په افغانستان کې د هيونځانگ له يادښتونو او ليدنو پوهېږو چې د دې هېواد په لويو ښارونو او عبادتځيو کې خيريه ودانۍ هم وې، چې بودايي زاهدانو او عارفانو په کې ژوند کاوهٔ. د ننگرهار د هډې، لغمان، کاپيسا، باميانو، بلخ او نورو سيمو په عبادتځيو کې د خير او نذر په نامهٔ هېښنده مالونه راغونډېدل.

په اسلامي پېر هم له داسې خيريه ودانيو سره مخامخېږو، لکه مدرسې، پلونه، رباطونه، کرنيز بندونه، دمهځايونه او نور.

بشاري مقدسي شرحه ورکوي، چې د خراسان په هرو دوو فرسخو کې يو تمځی دی، چې ډاگيان هم په کې وي.[1]

نرشخي د ماوراءالنهر د بيکند -چې د خراسان يو شمال ختيځ ولايت دی- په اړه وايي:

هغه لوی جامع جومات او ډېرې ښې ودانۍ لري. تر ۲۴۰س= ۸۵۴ز کال پورې په کې تر زرو زيات تمځايونه وو. د هر کلي اوسېدونکو يو تمځی جوړ کړی و. يو ټولی يې په کې کښېنولی، چې د هغهٔ خواړهٔ به يې له کلي رالېږل. دا تمځی به په ژمي کې د هغو غازيانو استوگنځی و، چې له شاوخوا يرغلگرو کفارو پر وړاندې به جنگېدل.[2]

په ۱٦۷س= ۷۸۳ز کال کې د المهدي د دربار له خوا ابوالعباس فضل بن‌سلېمان طوسي د خراسان حاکم وگومارل شو. دا سړی چې په خپله خراساني و، دلته يې خلکو ته د زړهٔ سوي او خواخوږۍ له مخه کار وکړ. د مروې جامع جومات جوړول، انگړونه او مړيستونونه د هغهٔ له خيريه ودانيو څخه وو. د امو په بيديا کې يې د فضل‌آباد په نامهٔ ښار جوړ کړ، د سغد او بخارا تر منځ يې لوی دېوال وغځاوهٔ چې له

[1] -احسن‌التقاسيم ٦٦.

[2] -تاريخ بخارا ۲۲.

ترکانو څخه په امن شي.[1]

په دوهم څپرکي کې د حیان‌خراساني یادونه تېره شوه، چې د ۱۰۰س= ۷۱۸ز شاوخوا یې په ځانګړې ورتیا د عربو د یرغلګرو ځواکونو پر وړاندې پاڅون کاوه. نرشخي وايي هغه نومیالی شخص و، په ماوراءالنهر کې یې یو ډنډ جوړ کړی و، چې په"حیان ډنډ" مشهور و.[2]

هریرود پول د هرات له ډېرو ښخوانیو خیریه ودانیو څخه دی، بشاري مقدسي وايي چې په ټول خراسان کې تر هغهٔ حیرانوونکی شی نهٔشته، هغه مجوسي جوړ کړی، چې خپل نوم یې پرې لیکلی و. په جوړولو کې یې دومره ګارګران بوخت وو چې هغه مهال یې د زرو جریبو ځمکې مالګه خوړلې وه.[3]

د خراسان د شمال ماوراءالنهر د خلکو مېړانې، سخا او د هغهٔ ځای د خیریه ودانیو په اړه مؤرخان په زړهٔ پورې تفصیلونه لري. ابن‌حوقل وايي هر ځمکوال دهقان پراخه مانۍ او عام مېلمستون لري. هغه مېلمستون ته مېلمانهٔ په ست رابلي، ان کله خو د مېلمنو په رابللو کې سیالي هم کوي. په دې اړه د خپل لګښت پروا نه کوي. ابن‌حوقل په سغد کې یو کور ولیدهٔ چې وورونه یې مېلمنو ته پرانیستي وو او په کلونو بند شوي نه وو. هره شپه به بې له مخکنۍ خبرتیا، سل دوه سوه کسان هلته تمېدل. ټولو ته به خواړهٔ، بسترې او ان څارویو ته به یې واښهٔ هم رسېدل. د هغهٔ خیریه کور څښتن به په دې حال ډېر خوشحاله و. کلونه کلونه به یې مېلمانهٔ پالل. په ماوراءالنهر کې زیاترو شتمنو خپلې شتمنۍ د تمځیونو په ودانیو، د لارو په جوړولو، د ښېګڼیزو چارو او د پلونو په جوړولو لګولې. هیڅ داسې کلی نه و چې خیریه تمځی دې په کې نه وي. د دغو تمځیونو شمېر زرو ته رسېدهٔ. مسافرو ته به په کې خواړهٔ او

---

[1] - زین‌الأخبار، خطي ۷۷ ب.

[2] - تاریخ بخارا ٦۹.

[3] - احسن‌التقاسیم ۳۳۰.



د بمبور(۱۰۷س) له جومات څخه تر لاسه شوې سيکه د ۷۱۲مخ اړونده




**منصوره**

ځارویو ته یې واښهٔ او خوراک هم رسېدهٔ. په سمرقند کې د کنګل سړو اوبو زر ځایونه مسافرو ته چمتو وو.[1]

د بلخ او امو تر منځ ویروونکې دښتې په ژمي کې سخته یخني او د باد و باران توپان درلود. کله په کې د اوړي هم داسې وژونکی زهري باد لګېدهٔ، چې مساپر به په کې لهمنځه تلل او کړېدل.

له بلخ څخه درې پړاوه لیرې په دې دښته کې یوهٔ نېک چاري او مشهور سړي ابوالحسن محمد بن‌حسن ماه، یو لوی تمځی جوړ کړی و، چې خلک ورته ډېر اړ وو. د یخنۍ او تودوخې له توپان او د دښمن له یرغل او نورو وژونکو نه هلته په امن کېدل. تمبوونکی دېوال یې درلود او ډېر عسکر په کې ځایېدای شول. دې بشرپال او نېکچاري سړي په ټول ماوراءالنهر او خراسان کې لوی تمځایونه جوړ کړي وو، له هغې جملې یې په قوادیان او ترمذ کې لوی رباطونه درلودل، چې مسافرو ته به یې ډوډۍ هم په کې ورکوله. په ترمذ کې یې روغتون جوړ کړی و، چې خپله تر ټولو قیمتي شتمني یې هغهٔ ته وقف کړې وه. په شومان، صرمنجي، چغانیان او نورو سیمو کې یې هم لارویو او بېوزلو ته دمه ځایونه جوړ کړل چې اړمن پوړ ته په کې مرستې او خواړهٔ ورکول کېدل.[2]

موږ د هیونځانګ په حواله د ملتان ښار په شرحه کې د عبادتځیو تر څنګ د پخواني مرستون او روغتون شتون ولیکهٔ، له هغهٔ معلومېږي چې دا ډول خیریه ودانۍ د خلکو لپاره د دې خاورې په ختیځو برخو کې هم وې او خلکو ترې ګټه اخیسته.

د سیستان د دولتي لګښتونو له تر ټولو پخواني رپوټه- چې له درېیمې او څلورمې لېږدې اسلامي پېړۍ راپاتې دی- څرګندېږي چې: د دولت په بودجه کې د خیریه چارو لپاره ټاکلې پانګه ځانګړې وه او هر کال یې هغه په هماغو ټولګټو خیریه چارو لګوله. د ساري په توګه د نېزونو (سېلابونو) د کندو ډکولو، د شګو او اوبو د بندونو تړلو، د پلونو او ویالو جوړولو او د هلمند د بېړیو د ګودرونو او نورو خیریه‌چارو په

---

[1] - صورةالأرض ۲/ ۴۶۷.

[2] - پورتنی اثر ۲/ ۴۵۵.

بودجه کې ټاکلې پیسې وې. د زرنج په عمرو لیث بازار کې هم یو روغتون و چې له دولتي بودجې یې لس زره درهمه کلنی لګښت درلود.[1]

## د فضل برمکي خیریه ودانۍ

لکه په درېیم څپرکي کې مو چې وویل په ۱۷۸س= ۷۹۴ز کال کې فضل بن‌یحیی برمکي بلخي د خراسان امارت ته راغی. دې بلخي سړي- چې له خپل وطن خراسان سره یې مینه درلوده- په دې خاوره کې ډېرې ودانۍ جوړې کړې. هغهٔ په بخارا کې د لوی جامع جومات په جوړولو ډېره پانګه ولګوله او لومړی ځل یې په جومات کې قندیلونه ځوړند کړل.[2]

لکه په همدې څپرکي کې مو چې د اسلام د پخوانیو جوماتونو د ودانیو په شرحه کې وویل، فضل برمکي چې بلخ ته راورسېد، د نوبهار د پخواني عبادتځي یوه برخه یې ورانه او پر هغهٔ ځای یې جومات ودان کړ. په خراسان کې یې د زور زیاتي جرړې وایستې، ډېر جوماتونه، د اوبو ډنډونه او تمځایونه یې جوړ کړل.[3]

## جوماتونه

عربو سوبمنو د اسلام د دین په نامهٔ په نړۍ کې پرمختګ کاوهٔ، هر ځای ته چې رسېدل، لومړی یې جومات جوړاوهٔ چې د لایزال خدای عبادتځی و. دا جوماتونه په زیاترو مشهورو سیمو کې د پخوانیو عبادتځیو پر ځای جوړېدل. د ساري په توګه قتیبه بن‌مسلم باهلي عرب سوبمن د بخارا ښار تر نیولو وروسته جامع جومات د ښار دننه او اخترلمونځی (عیدګاه) یې د شګلنې شاوخوا جوړ کړ، نرشخي وایي:

«د بخارا په کوټ کې یې پر ۹۴ کال جامع جومات جوړ کړ، هغه د بخارایانو بتخونه وه، ورته ویې ویل چې هره جمعه هلته راټول شي، داسې چې هره جمعه به جارچي ږغ کاوهٔ، هر څوک چې د جمعې لمانځهٔ ته راشي، دوه درهمه ورکوم...»[4]

---

[1] - تاریخ سیستان ۳۲.

[2] - تاریخ بخارا ۵۹.

[3] - ابن‌خلکان ۱ /۴۰۹.

[4] - تاریخ بخارا ۵۸او ۶۱.

دا جومات چې د اسلام د راتگ په لومړيو کې يې وگړي ورته د نقدو پيسو په بدل کې راوستل، تر څه وخت وروسته ورته دومره وگړي رامات شول چې په کې نه ځايېدل. کله چې د هارون‌الرشيد په وخت (۱۷۸س= ۷۹۴ز شاوخوا) کې فضل بن‌يحيى بن‌خالد برمکي د خراسان امير شو، هغهٔ د ښاريانو په مرسته د کوټ او بخارا ښار تر منځ جامع جومات جوړ کړ او د کوټ پخوانی جومات د خراج دفتر شو. په بخارا کې د اسلام په لومړنيو کې له پخوانيو جوماتونو څخه د ماخ بازار جومات هم دی، چې سوبمنو مسلمانانو د پخوانی بتخونې پر ځای جوړ کړی او د خراسان له مهمو جوماتونو څخه و.[1]

په خراسان کې د اسلامي پېر په لومړيو کې څو نور جوماتونه هم مشهور وو، چې د اسلامي سوبو په لومړيو کې (۲۰س= ٦۴۰ ز شاوخوا) درې معلوم جوماتونه په مروه کې جوړ شول: لومړی د ښار دننه جومات چې د اسلام د پيل د جمعې لمونځ په کې وشو. دوهم جومات د اسلام تر خپرېدو او د مسلمانانو تر زياتېدو وروسته د ښار په ورهٔ کې د "مسجد عتيق" په نامهٔ جوړ شو او اهل‌حديثو په کې لمونځ کاوهٔ او "بني ماهان" جومات يې ورته هم وايهٔ.[2] دريېم يې ابومسلم د مروې د ماجان جومات او د هغهٔ دواړو خواوو ته يې بازار جوړ کړ.[3] دارالاماره د دې جومات شاته وه. د ۵۸۰س= ۱۱۸۴ز شاوخوا بې له دې جومات د مروې له جوماتونو څخه بل پاتې نه و او دوه پخواني جوماتونه له‌منځه تللي وو.[4]

خو د مروې ښار اخترلمونځی د رأس الميدان سيمې د ابي‌الجهم په مربعه کې د هرمزفره نهر او ماجان تر منځ د ودانيو او استوگنځيو په منځ کې و.[5]

د هېواد په ختيځو څنډو کې هم اسلامي عسکر د مهران تر څنډو پورې رسېدلي وو، لکه د دريېم څپرکي په ۱۲برخه کې چې تېر شول، د ۱۵۲س= ۷٦۹ز شاوخوا يې د گندهارا پلازمېنه ويهند ونيو، د بُدعبادتځی يې ويجاړ او د هغهٔ پرځای يې جومات جوړ کړ.[6]

---

[1] - تاريخ بخارا.

[2] - اصطخري ۲۵۹.

[3] - روضات‌الجنات د اسفزاري ۱ /۱۷٦.

[4] - ابن حوقل ۴۳۵ حاشيه.

[5] - اصطخري ۲۵۹.

[6] - فتوح ۵۴۴.

مقدسي وايي: تر۱۱۴س= ۷۳۲ز کال وروسته چې په سند کې د منصورې ښار بنسټ کښېښودل شو، هلته له خښتو او تيږو څخه د عمان د جامع جومات په سبک د بازار په منځ کې لوی جومات جوړ شو، چې چت يې د ساج او ساگوان د لرگو په لويو ستنو ولاړ و.[۱]

همدا رنگه د مامون په پېر کې عرب قوماندان فضل بن‌ماهان د سند په خاوره کې سندان نيولی او هلته يې جامع جومات جوړ کړی و، چې تر هغهٔ وروسته د هندوانو په واکمنۍ کې هم مسلمانانو په همدې جومات کې يواځينی خدای لمانځهٔ.[۲]

يو شمېر جوماتونه د خراسان د ماوراءالنهر په خاوره کې هم په دوو لومړيو اسلامي پېړيو کې جوړ شوي دي. له هغې جملې قتيبه بن‌مسلم او محمد بن‌واسع ودان کړي کرمينه جامع جومات، نور، زندنه او افشنه او د بيکند جومات مشهور وو او د اسلامي پېر پخوانۍ ودانۍ گڼل کېدې.[۳]

خو د هرات لوی جامع جومات: د حدودالعالم مؤلف وايي چې«د خراسان تر ټولو مزگتونو په خلکو ودان» دا مشهور مزگت د ښار په منځ کې پروت او شاوخوا يې بازارونه او زندان و. په ټول خراسان، ماوراءالنهر او سيستان کې په لويوالي، ودانۍ او د ډېرو لمونځيانو په ورتگ مشهور و. بيا پسې د بلخ او سيستان جوماتونه د فقيهانو مرکزونه او د خلکو راټولېدنگځيونه وو.[٤] داسې برېښي چې د هرات د جامع جومات ودانې له پخوا څخه لرگينه وه، کله چې د ۴۹۵س د جمادي الاولی په ۸مه=۱۱۰۱ز شپه مهال پر اسماني ټکې ويجاړ شو؛ نو بيا يې جوړ نه کړ،[۵] د منهاج‌السراج د وينا له مخه د دې لرگينې ودانۍ سوځېدنه د غوريانو په پېر کې هم څرگنده ده او جامي يې هم پخلی کوي.[٦] چې بيا غوري سلطان غياث الدين په ۵۹۷س= ۱۲۰۰ز کال کې له سره د پخو خښتو له گومبزو سره جوړه

---

[۱] - احسن‌التقاسيم ۴۷۹.

[۲]- فتوح ۵۴۵.

[۳] - تاريخ بخارا تر ۱۲ وروسته.

[٤] - اصطخري ۲٦۵.

[۵] - روضات‌الجنات د اسفزاري ۲ /۵۵.

[٦] - طبقات ناصري ۱/ ۳۷۵ او نفحات‌الانس ۲۲۷.

کړې وه.[1] د هغهٔ پېر ليکنې د جامع جومات د ترميم پر مهال د تېموريانو د پېر د کاشي کاريو له لاندې څخه دا دی راوتلي او څرګندوي چې دا جومات د ۵۹۷س په روژه کې ترميم شوی و. پر پخوانيو تاقونو يې داسې ليکنې تر سترګو کېږي:« أنفق بتعمير هذا[2] المسجد من خالص ماله السلطان المعظم شهنشاه الأعظم مالک رقاب الأمم مولی ملوک العرب و العجم... سلطانه و أعلی شأنه و أعظم‌برهانه و رفع مکانه تبارک شهر الله المبارک رمضان سنة سبع و تسعين و خمس مائة»[3]

اموي حاکم محمد بن‌قاسم د سند تر نيولو وروسته په ديبل ښارکې ډېر لوی جامع جومات جوړ کړ،[4] په نيرون (د اوسني سند حيدرآباد)، ارور (روهري) او ملتان کې هم جوماتونه جوړ شول. فضل بن‌ماهان هم د سندان تر نيولو وروسته هلته جومات جوړ کړی و.[5]

**د جوماتونو جوړولو سبک**

د افغانستان د ختيځو سيمو د لومړيو اسلامي جوماتونو د جوړولو د سبک په اړه د لرغونپوهانو له څېړنو څخه خورا ژور معلومات تر لاسه شوي دي، چې د پخوانيو جوماتونو د جوړونې پر سبک ښه رڼا اچوي، داسې چې:

په ۱۹۶۰ز کال کې د کراچۍ د سوېل ختيځ په کابو شل ميلۍ بمبور کې- چې د ديبل د پخواني ښار شونتيا په کې شته- د لرغونپوهانو څېړنې ترسره شوې، چې هلته د کوټ او لرغوني ښار نخښې شته او له کيندنو يې د کورونو، عبادتځيو، بازارونو، کوڅو او ان د اوبيز بندر، د بېړيو د تمځي او د ښار د ورونو نخښې نښانې راووتې؛ ځينې په دې اند دي چې ديبل تاريخي ښار همدا دی؛ خو تر اوسه هغه نخښه نه ده تر لاسه شوې چې په زغرده د دې شهادت ورکړي.

---

[1] - روضات.

[2] - په اصل کې (هذه) دی.

[3] - دا کوفي ليکنه ښاغلي دانشمند، فکري سلجوقي هروي لوستلې او خپل يادښت يې د دې کرښو ليکوال ته سپارلی دی.

[4] - فتوح ۵۳۵.

[5] - فتوح ۵۴۵ او تحفة الکرام ۳/ ۱۵.



د هرات د جامع جومات پخوانۍ تاخچه، چې د ۵۹۷س کال لیکنه پکې د تېموریانو د پېر د کاشي کاریو له لاندې تر لاسه شوې ده .

د کراچۍ د لرغونپوهنې اداري د خپارهٔ کړي رپوټ له مخه په دې پلټنو کې په عربي او کوفي ليک دوه مهمې پخوانۍليکنې موندل شوې، چې دا دواړه ليکنې د دې ښار له پخواني جوماته تر لاسه شوې دي. لومړۍ ليکنه ۱۰۷س= ۷۲۵ز او دويمه ۲۹۴س= ۹۰۷ز کال لري.

د لرغونپوهنې رپوټ وايي د جومات پاتې شونې ښيي چې اوږدوالى يې ۷۵ فټه او پلنوالى يې ۵۸ فټه و. د لمانځهٔ ادابنې ځانګړي ځاى يې په درېو کتارونو کې ۳۳ ستنې درلودې؛ خو دا جومات قبلې لور ته محراب نه لري، چې دا خبره يې هم پخوانيوالى ښيي. ځکه منځتشى محراب لومړى ځل د اموي خليفه الوليد په پېر کې (۸٦- ۹٦س) د اوقره بن‌شريک حاکم (۹۰- ۹٦س) له خوا د مصر په جومات کې جوړ شوى و.[1]

د دې جومات عمومي نقشه د بصرې او کوفې له جامع جوماتونو سره کټمټ ورته ده، چې سعيد بن‌ابيه په ۴۵س= ٦٦۵ز او ۵۰س= ٦۷۰ز کلونو کې جوړ کړي وو. همدا رنګه د هغهٔ لوى جامع جومات غوندې دى، چې حجاج په واسط کې (٦۳س= ۷۰۲ز کال) جوړ کړى و. دې جومات هم محراب نه درلود.

د لومړۍ ليکنې مضمون داسې دي:

«هذا ما أمر به الأمير مروان بن‌محمد مولى أميرالمؤمنين أعزه‌الله، على يدى علي بن‌موسى ولي أميرالمؤمنين أكرمه‌الله، سنة سبع و مائه.» خو په دويمه ډبره باندې ليکل شوي دي:« هذا مما أمر بنصبه الأمير محمد بن‌عبدالرحمن السندهـ سنة أربع و تسعين و مائتين.»

له لومړۍ ليکنې ځرګندېږي چې دا جومات د محمد بن‌قاسم تر سوبې ۱۸ کاله وروسته په ۱۰۷س= ۷۲۵ز کې جوړ شوى او بنسټګر يې امير مروان بن‌محمد و، چې د هغهٔ په امر علي بن‌موسى جوړ کړى دى او دا کسان د اموي اميرانو له حاکمانو څخه وو.

خو دويمه ليکنه چې د جومات په غولي کې موندل شوې ده، ښيي چې تر (۲۹۴س=۹۰۷ز) کال پورې چې د سند امير محمد بن‌عبدالرحمن هغه لګوله، دا جومات ودان او د مؤمنانو عبادتځى و. ځرنګه چې د جومات په کيندنو کې د سرو او سپينو زرو څه

---

[1] - د اسلامي دايرةالمعارف لنډيز په انګليسي ژبه ۳۴۳، د مقريزي په حواله ۴ /٦.

سیکې هم موندل شوې دي، یوه یې د اموي هشام بن‌عبدالمک (۱۰۵/ ۱۲۵س) او بله یې د عباسي المامون (۱۹۸/ ۲۱۸) په نامهٔ او ځینې مسي سیکې د منصور عباسي له خوا د سند د حاکم هشام بن‌عمر په نامهٔ تر لاسه شوې دي.[1] دا له هغو لاسبرو عربو څخه دی چې په ۱۵۱س= ۷۶۸ز کې پر سند گومارل شوی دی. پر همدې بنسټ ویلای شو چې د عربو مسلمانانو د راکړې ورکړې اړیکي په همدې ورځو کې د افغانستان له ختیځو سیمو سره موجود وو. په هر حال د دې پخواني جومات د پاتې شونو تر لاسه کېدل چې د دویمې لیږدې پېړۍ په لومړیو کې جوړ شوی دی، د لرغونو جوماتونو بېلگې ښیي.

په همدې خاوره کې بل پخوانی جوړ شوی جومات، هغه لوی جومات دی چې محمد بن‌قاسم په ۹۲س= ۷۱۱ز کې د سنده د راجه داهر د پلازمېنې یعنې ارور تر نیولو وروسته په دې ښار کې جوړ کړی و،[2] اوس د دې جومات یواځې دوه دېواله پاتې دي، چې تر منځ یې واټن ۱۵ فټه او ننوتځی یې څلورنیم فټه دی. پر دې دېوالونو کاشي کاري هم لیدل کېږي. څرنگه چې د هندوانو په ودانیو کې کاشي نه کارېدې، نو ویل کېدای شي چې عربو یې بتی له پارس څخه له ځان سره راوړې او د هند په دې لوېدیځه پوله کې یې دود کړې دي. دا پلازمېنه په هغې زلزلې کې ویجاړه شوه، چې دیبل او د سند نور ښارونه یې ویجاړ کړل؛ نو د پخوانیو ودانیو نخښې یې پاتې نه دي.[3]

خانیکوف د خراسان ځینې جوماتونه د اسلام د لومړي پېر یادگارونه بولي. په دې سبک کې د عربو او خراسان معماري سره گډه شوې ده. طاق، مخروطي منارونه، په پای کې یې وستل (صفه) او په ښکلا او سینگار کې یې رنگه کاشۍ کارول ټول خراساني سبک او پر عکس گل و بوټي، دننۍ گلکاري، قلمي کارونه او لوړې ستنې یې د عربو د معمارۍ سبک دی.[4]

د هغهٔ جومات له پاتې شونو څخه چې په شېراز کې په ۲۸۱س= ۸۹۴ز کال کې د افغانستان د لوی صفاري پاچاه عمرو لیث له خوا جوړ شوی، د سوېلي طاق لاندې

---

[1] - د کراچۍ د اطلاعاتو وزارت رسمي رپوټ ۳۰۴۷ گڼه د ۱۹۶۰ کال د جون ۱۸مه.

[2] - عجایب‌الهند، د بزرگ ابن شهریار ۳.

۳ - د پاکستان پخواني او اوسني ښارونه (انگلیسي) د کراچۍ چاپ، ۱۹۵۰ز، د ډاکټر عبدالحمید خان تألیف.

[4] - تمدن اسلام ۲۷۲ پارسي ژباړه.

دننني محراب ژوره گچ پرېکېدنه ده چې د گل په ساده طرح ښکلل شوې- ښايي چې د عمرو ليث له اصلي ودانۍ څخه پاتې وي-[1] چې د خراسان او عربو د گډ سبک د ښکلاينې بېلگه يې گڼلای شو.

د دې مهال کارگران د خښتو په پخلي او لگونې کې پاخهٔ استادان وو. په هغو راپاتې ودانيو کې د بيړې او يا نه ځيرنې نخښې نه ليدل کيږي، په داسې حال کې چې د وروستي پېر په هغو کې کله ناپامۍ تر سترگو کيږي.

د لومړنيو ودانيو په جوړونه کې ټوله پاملرنه گټې اخيستنې ته نه وه، بلکې ښکلنې او سينگارونې ته اهميت ورکړی شوی چې د ودانۍ او ښکلاييزو شکلونو ترمنځ بشپړ اړيکي ليدل کيږي. دا يواځې بې تناسبه او جلا ښکلاينه نه ده، چې د ودانۍ پر مخ ورزياته شوې وي، بلکې د ښېگڼو او سبک ترمنځ د رښتيني يووالي پايله ده.[2]

د عربي جوماتونو په جوړښت کې د لمونځيانو درېدا ځای او لوی دالانونه شامل وو، چې پر څو ستنو به ولاړ وو. د دې دالان مخې ته به پراخه غولی و، چې يوې خوا ته به يې د اوداسه ډنډ او په بله څنډه کې به يې د اذانهٔ لوړه مناره وه. د غولي په شمال او سوېل کې به د مساپرو لپاره استوگنځي جوړېدل. په ختيځ لور کې به يې تر جومات بهر د ځارويو غوجل، د خښناک د اوبو ډنډ، چړچوبۍ او حمام وو.[3]

د اسلامي پېر د لومړيو جوماتونو څه نخښې په خراسان کې پاتې نه دي؛ خو مؤرخانو ليکلي چې د ځينو جوماتونو چتونو لرگينې او د ځينو تيږنې ستنې درلودې. د هغهٔ جومات وداني چې ډاکټر اريک اشميد د خراسان د لوېديځې څنډې په ری کې ومونده، د هغې رغونه د المهدي پېر ۱۵۸– ۱۶۹س= ۷۷۵- ۷۸۵ز ته رسوي. بل د خراسان د وروستۍ لوېديځې پولې يعنې دامغان د تاري خانې جومات دی، چې د هغهٔ رغونه يې هم تر ۲۰۰س=۸۱۵ ز د مخه اټکل کړې ده. له دې جومات څخه د

---

[1] - تاريخ صنايع ايران ۱۳۵.

[2] - پورتنی اثر ۱۴۱.

[3] - تمدن اسلام و عرب۲۱۷.

خراساني جوماتونو د رغونې سبک اتکلېدای شي.

د دې جومات جوړښت داسې دی، چې مرکزي غولی یې چاپېره دالان او دهلېزونه هم لري. د قبلې خوا ته ژور دی، د غولي د شاوخوا طاقونه د پخو خښتو دي چې د معمول پر خلاف په عمودي حالت او سر پر سر په دوو ردو کې ایښودل شوې دي. طاقونه یو څه تېرۀ غوندې دي؛ خو ساساني طاقونو ته ډېر ورته دي. ستنې یې ګردې او د هرې یوې قطر یو نیم متر دی. له لویو پخو خښتو څخه جوړې شوې دي، چې لویوالی یې ۳۴سانتي مربع متره دی. دا خښتې یوه پر بلې ولاړې ایښودل شوې دي. د دې جومات وداني- چې دامغان ته نږدې په کوټ غونډۍ کې موندل شوې ده- د عربي او ساساني سبک ګډوله ده.

د خراسان له پخوانیو جوماتونو چې د جوړښت د سبک په اړه یې معلومات لرو، د نیشاپور پخوانی جومات دی چې د ښار په کښتني انګړ کې بازار ته نږدې په شپږو ټوټو کې پروت و. منبري جومات ابومسلم مروزي (۱۳۰س= ۸۴۷ ز شاوخوا) له لرګیو څخه جوړ کړی و، چې عمرو لیث وروسته د خښتو پر ستنو جوړ کړ. دې ګرد جومات درې رواقونه درلودل، په منځ کې یې ورته کور جوړ کړی و، چې یوولس ورونه، د رخامو ګردې ستنې، ښکلل شوي دېوالونه او چت یې درلود.[1]

دې لوی جومات (مانۍ ګوټې) درلوده چې ابومسلم مروزي جوړه کړې وه. د جومات پراخوالی تر دېرش جرېبو پورې و او زر ستنې یې درلودې. شپېتۀ زره لمونځیان په کې په یوۀ وخت ځایېدل. بهاندې اوبه او ژور ډنډونه یې درلودل. په منځ کې یې سړوبی (سرداوه) و. خادمان او فرش غوړوونکي یې تر ۱۰۰ کسانو زیات وو. ګومبزه یې د سرو زرو او زر مثقاله وه. په ستنو، منبرونو، صندوقونو او قندیلونو کې یې یو لک مثقاله سپین زر او یو لک مثقاله سرۀ زر لګېدلي وو. په خراسان کې تر هغۀ ښۀ منبر نه و، چې ابومسلم په دې جومات کې ایښی و او هم یې مناره په کې جوړه کړې وه.[2]

---

[1] - تاریخ صنایع ایران ۱۳۵.

[2] - تاریخ نیشاپور ۱۴۳ د الحاکم محمد بن عبدالله تألیف، د تهران چاپ، ۱۳۳۷ل.

**بلخ جومات**

په ۱۷۸س= ۷۹۴ز کال کې فضل بن‌یحیی برمکي د خراسان والي شو. هغه بلخ ته راغی، تر دغه مهاله د نوبهار عبادتځي پخوانۍ وداني روغه پاتې وه، چې د هغۀ کورنۍ یې د پالنې او ساتنې دنده درلوده. فضل غوښتل تر اسلام د مخه پېر پاتې وداني ویجاړه او پر ځای یې جومات جوړ کړي؛ خو د نوبهار وداني دومره پخه وه چې پر ویجاړولو یې بریالي نه شول. نو یوه څنډه یې ترې ویجاړه او د هغې پرځای یې جومات جوړ کړ.[1] دا جومات غالباً د بلخ تر ټولو پخوانی لوی جومات دی، چې په راوروسته وختو کې پراخ شوی، د زاړۀ نوبهار پر ځای ولاړ او د نړۍ له مشهورو جوماتونو څخه و. بشاري یې ګلداره زینه ستایي. د دې جومات کنډوالې د ابن‌بطوطه تر سفر (۷۳۵س= ۱۳۳۴ز شاوخوا) پورې هم لیدل کېدې، هغه وایي:«د دې جومات درېیمه برخه چنګیزخان په دې نیت ویجاړه کړه چې د یوې ستنې لاندې خزانه ښخه ده. دا جومات د نړۍ له ډېرو ښو او پراخو جوماتونو څخه و. که څه هم چې د مغرب د رباط‌الفتح له جومات سره یې د ستنو د لویوالي له مخه ورته‌والی درلود، خو د بلخ جومات ترې ډېر ښکلی و.» لکه چې ابن‌بطوطه په بلخ کې له مؤرخانو څخه اورېدلي، دا جومات د عباسیانو د یو امیر داؤد بن‌علي مېرمن له کذان تیرو (یو ډول نرمه تیږه) څخه جوړ کړی و، چې مخې ته یې باغچه او تمځی هم درلود.[2]

**د زرنج جومات**

په ۱۱۱س= ۷۲۹ز کې د ابوموسی اشعري له لمسیانو څخه عبدالله بن‌ابي برده په سیستان کې والي او نېک او عادل سړی و. هغۀ د زرنج ښار په پارس ورۀ کې لوی جومات جوړ کړ. د هغۀ ځمکه یې په سپینو او سرو زرو وپېرله. د هغې ډېرې کرنیزې ځمکې یې هم وپېرلې، بیه یې ټوله نقده ورکړه او هغه یې جومات ته وقف کړې. د زرنج دا لوی جومات تر (۴۴۵س= ۱۰۵۳ز شاوخوا) پورې هم پاتې او د سیستان د

---

[1] - ابن‌خلکان ۱/ ۴۰۹.

[2] - رحله، د ابن بطوطه ۳۷۸.

مسلمانانو عبادتځی و.[1]

د زرنج جامع جومات زندان ته مخامخ پروت او له هېښندو ودانیو څخه و. دوه منارې یې پخوانۍ او یوه بله یې د صفاري یقعوب لیث په امر له جستو څخه جوړه شوې وه.[2]

### د غزني جومات

د همدې څپرکي د ښارونو د ودانیو په برخه او د غزني په بحث کې مو شرحه کړه، چې د غزني لومړنی مزگت د لویکانو د بتخونې پر ځای د غزني ښار د شمال لوېدیځ په بامیانو ورهٔ کې (د ۱۶۴س= ۷۸۰ز شاوخوا) جوړ شوی و، چې وروسته د "افلح جومات" په نامهٔ مشهور شو. د دې مطلب د شرحې لپاره د دې کرښو د لیکوال تألیف د کابل چاپ لویکان غزنه رساله او د دې کتاب لومړی څپرکی د لویکانو د کورنۍ ژوندلیک وگورئ.

### د قتیبه جومات

بشاري وایي په "شیان" کې چې د اسکیمشت (اشکمش) د سیمې یو ښار و، د قتیبه بن‌مسلم باهلي له خوا د اوبو د چینې په څنگ کې جومات جوړ شوی و،[3] چې د دې سیمې ډېر پخوانی جومات دی. ځکه قتیبه د هندوکش په شمالي سیمو کې د اموي پېر (۹۰س= ۷۰۸ز شاوخوا) له عرب لښکرمشرانو څخه دی. دا جومات هم د لومړۍ لېږدې پېړۍ په وروستۍ څلورمه کې جوړ شوی دی.

---

[1] - تاریخ سیستان ۱۲۷.

[2] - احسن‌التقاسیم ۳۰۵.

[3] - احسن ۳۰۳.

## (۵)

# فرهنګ

یا په افغانستان کې د اسلام تر څلا وروسته

## فکر، علم او ادب

لکه چې د دې کتاب د لومړي څپرکي او وروسته څپرکو په تشریح شویو پېښو کې مو ولوستل چې په ۶ – ۷ ز پېړۍ او د اسلام څلا له مهال د افغانستان خاوره د پنځونې، د بېلابېلو ختیځو او لوېدیځو فرهنګونو، مدنیتونو، ژبو او افکارو د حلونې، ګډونې او مخامخېدنې ځای و؛ نو له نوموړو توکو څخه په دې خاوره کې ګډوله او مشترک فرهنګ رامنځ ته شوی و.

د افغانستان تر اسلام د مخه پېر، چې دې خاورې ته د اسلام له راتګ سره اړیکي لري، له فرهنګي اړخه د کوشاني پېر له صنعت او تمدن سره تړلی دی.

له هغو اسنادو څخه چې د بغلان د سرۀ کوتل د کوشاني او لوی کنیشکا د عبادتځي (۱۲۵ز شاوخوا) له کیندنو څخه په دې وروستیو کې تر لاسه شوي، داسې څرګندېږي، چې کوشانیانو د دې خاورې د افکارو، فرهنګ او ځانګړي صنعت په پنځونه کې- چې تر ګریک و بودیک پېر وروسته یو ځانګړی افغاني پېر یې بللی شو- څرګندې کارنامې ترسره کړې دي، له هغې جملې د پاچاه لمانځنې د ځانګړي مذهب پنځونه ده چې د بودایي او زردُشتي (د سپېڅلي اور شتون) افکارو له پاتې عناصرو سره یې پېرې او پاچاهي بتان هم په خپلو عبادتځیو کې ایښودل. موږ د دې مذهب پاتې شوني د اسلامي پېر په لومړیو کې د غزني د بامیانو ورۀ په مزګت کې وینو، چې د لویک کورنۍ وروستي پاچاه، د خپل لوی نیکۀ لویک پېره د بت ماتوونکو مسلمانانو له وېرې د سپینو زرو په تابوت کې ایښې او په هغه مزګت کې یې چې د مخه د هغو د پاچاه لمانځنې ځانګړی عبادتځی و، تر ځمکې لاندې ښخه کړې وه.[۱]

---

[۱] - وګ: د دې کتاب لومړی څپرکی او د غزني د لویکانو بحث.

موسیو فوشه فرانسوي لرغونپوه کوشاني صنعت د کوشاني پېر له نوښتونو څخه ګڼي او وايي: د دې پېر د ستوپو ډول په اسانۍ سره د اشوکا د وخت له ودانیو توپیرېدای شي... که وغواړو چې دا نوی سبک د اروپا له مذهبي ودانیو سره پرتله کړو، باید ووايو چې د اشوکا سبک د ستوپو رومي (په فرانسه کې له ۱۰- ۱۲ز پېړۍ پورې) او د کنیشکا د هغو ګوتیک سبک دی، چې په فرانسه کې له۱۲مې تر۱۵مې پېړۍ پورې چلېدهٔ. د اشوکا ستوپې هیڅکله د ایران دښتو ته نه دي تللي؛ خو د کنیشکا او د هغهٔ د ځایناستو ستوپو په اسانۍ د هند ورشوګانو ته لاره موندلې ده. ان کوشاني ستراواکمن د نوې پلازمېنې پوروشاپوره (اوسني پېښور) په سوېل ختیځه خوا کې تر ټولو لویه بتخونه جوړه کړې ده. دا عبادتځی څو ځله د اور خوراک شوی دی او اوسمهال بې له کنډوالې بل څه نه دی؛ خو موږ د چینایي سیلانیانو د یادښتونو پر لوستو اصلي کرښې پېژندلای شو، چې د کنډوالو په نخښو کې یې په معجزه‌یي ډول یو سپېڅلی څیز چې د کنیشکا لاسلیک او انځور پرې لیدل کېږي، د هندوستان د لرغونپوهنې د ادارې په وسیله موندل شوی دی.[1]

المانی ډاکټر هرمان‌ګویتز چې د هند په اړه د څېړنو استاد دی، د کوشاني پېر د هنر په اړه وايي:« یوناني هنر په هندي هنر د بنې بدلولو پیل وکړ او د ګندهارا په بڼه رامنځ ته شو؛ ډېر څېړونکي ګروهمن دي چې نوموړی سبک باید د یوناني او بودایي سبک پراخوالی لږ وګڼل شي، خو د ایران د ختیځ سبک یو پراخوالی دی، چې د هغهٔ له موازاتو سره یې د سوېل ختیځو سکایي قبیلو او کوشانیانو تر واکمنۍ لاندې پراخوالی موندلی دی. په دې حال سره په کشمیر کې د ګوپتا تر پېره (۳-۴ ز پېړۍ) » په بشپړ ډول یو نړه هنر پاتې شو، لکه چې د هروان د بودایي عباتځي له کنډوالو څخه څرګندېږي. د دې خلکو یرغل د یونان و بلخ او یونان و هند دولتونه رنګ کړل او هند ته یې نوي عناصر ورننه ایستل، چې نور پر لوېدیځ ایران او هخامنشي اغېز اړه نه، بلکې د ایران د شمال په دښتو پورې اړه لري.[2]

---

[1] - تمدن ایرانی ۳۸۸، د استاد فوشه مقاله.

[2] - میراث ایران، د ایران او هندوستان مقاله، څلورم څپرکی ۱۵۳مخ.

نو د کوشاني پېر کلتور، تمدن او هنر د لوړتیا او ځوړتیا پوړۍ ووهلې او د اسلامي پېر د لومړیو او عرب لښکریانو تر راتګ پورې راورسېدل، چې په لومړۍ اسلامي پېړۍ او ۶۵۰ز شاوخوا کې یې خپل ځای یو بل ګډ مدنیت او فرهنګ ته پرېښود، چې هغه د اسلامي لومړي پېر د افغانستان فرهنګ بولو.

اسلامي او عربي عناصر چې تر اسلام نه له مخکې مدنیت او فرهنګ سره ګډ او واخښل شول، هغه ته یې ښځي نوی او تازه رنګ وباخښۀ، چې وروسته د همدې خراسان له خاورې شمال او ختیځ ته تر چین او هندوستان پورې خپور شو.

نو د افغانستان خاوره باید د موقعیت او جغرافیایي اقلیم له مخه د پخوانیو پېړیو او پېرونو د ګډو او اخښلیو فرهنګونو زېږنځی وبولو، ځکه خو د تاریخ فیلسوف مسټر ټاینبي انګرېز په خپل نوي کتاب «د اکسوس او جېلم ترمنځ» کې دې پایلې ته رسېدلی چې د افغانستان خاوره یو روناډابوټ ROUNDABOUT یعنې د فرهنګونو د بېلتون او وړانګو خپرولو مرکز و. د زرګونو کلونو په بهیر کې هغه څه چې خپل یې درلودل او هغه چې له بهر شاوخوا دې ته رارسېدلي، خپل چاپېریال هند، ایران، ماوراءالنهر او مرکزي آسیا ته یې خپارۀ کړي دي.

**اسلامي فرهنګ**

لکه چې د کتاب په لومړي او دوهم څپرکي کې مو ولوستل، د لومړۍ اسلامي پېړۍ په لومړۍ څلورمه (۲۴س= ۶۴۴ز شاوخوا) کې د عربو د سوبمن لښکر سوبې د خراسان ترمنځ او مروې او له سیستانه تر ارغنداب وادۍ پورې رارسېدلې وې، همدا وخت دی چې افغانستان په تېره د سوېل په جبهه کې د مسلمانو سوبمنو لښکرو، د نویو افکارو، دین، ثقافت او عربي ژبې ګودر وګرځېدۀ. دا ټول مهم فرهنګي توکي په افغانستان کې له لرغوني تهذیبي او ثقافتي رنګ سره ملۀ د دوو پېړیو په موده کې د اندوس (سند) تر څنډو پورې مخکې لاړل. دا مطلب له یوۀ عربي او سنسکرېت ډبرلیک څخه - چې په ټوچي (شمالي وزیرستان) دره کې تر لاسه شوی او نېټه یې


له افغانستانه او افغانستان ته د فرهنګي ځپو کرښې
له پخوانیو پېړونو د اسلام تر خپرېدا پورې
د ۷۲۰ مخ مخامخ
اوستايي
بودايي
کوشاني او هفتلي
بودايي
ويـــــدي + اوســـــتايي
يوناني
بودايي + يوناني
ګـريکو بوديـک
ويدي
کوشاني + ساساني
هخامنشي او ساساني
هفتلي + افغاني
بودايي
کوشاني او هفتلي
افغاني + اسلامي
اسلامي افغاني
اسلامي افغاني
نادعلي
منـديګک
لورلايي
تر آرين د مخه فرهنګ
موهن جوديرو
60°0'0"E
65°0'0"E
70°0'0"E
75°0'0"E
40°0'0"N
35°0'0"N
30°0'0"N



د وزیرستان ډبرلیک ۲۴۳س.

د (۲۴۳س= ۸۵۷ ز) جمادي‌الأولی ده- نبۀ ترا څرګندېږي، چې مورږ یې په لومړي څپرکي کې هم یادونه کړې ده.

ټوچي دره له غزني او ګردېزه د هند لور ته د سوبمنو او سوداګرو د جوپو تېرېدنګځی و، نو څرګنده ده چې اسلامي ژبه او ثقافت د ۲۰۰س= ۸۱۵ ز شاوخوا هلته رسېدلي وو. اسلامي فرهنګ ځانګړي عربي توکي درلودل، چې د راشده خلیفه‌ګانو او امویانو په پېر کې پر هماغو نږه‌وو عربي بنسټونو رامنځ ته شوی و او مهم توکي یې دا دي:

۱- نږه عربي خویونه- دودونه چې د جاهلیت له مهاله په عربو کې پاتې وو او اسلامي زده‌کړو یې ځینې هغه له‌منځه یوورل، چې له اسلامي روحیې سره یې سمون نه خوړ.

۲- د قرآن او حضرت پېغامبر محمد مصطفیﷺ زده‌کړې چې توحید، غوره اخلاق، د خلکو او ټولنې ټولنیز فرایض یې توضیح کول.

۳- د اسلامي سوبو تر پراختیا وروسته، سوبمن عرب د مصر، روم، پارس او خراسان له لرغون‌بنسټه مدنیتونو سره مخامخ شول؛ نو له پخوانیو فرهنګونو څخه یې په خپل ژوندانۀ، اداري، لښکرکښی، سوداګری او عقلي او فکري بنسټونو کې ډېر نوي څه واخیستل. په تېره تر۱۳۲س= ۷۴۹ز کال وروسته چې د امویانو د واک ټغر ټول شو او خراسانیانو په بغداد کې د عباسي خلافت بنسټ کېښېښود. اسلامي فرهنګ - چې د امویانو په پېر کې له عربي تعصب او قبیلوي دودونو سره اخښل شوی و- په دې انقلابي خوځښت سره نوی رنګ خپل کړ، چې:

لومړی: د خلافت پلازمېنه له دمشق څخه- چې د نږه عربیت مرکز و- د ایران د دښتو لوېدیځو څنډو ته ولېږدېده. دا په خپله د دې دلیل و چې اسلامي فرهنګ نویو عجمي بنسټونو منلو ته لېوال شوی دی.

دوهم: د عباسي دولت بنسټ د ابومسلم او خراسانیانو په هڅو ایښودل شوی و؛ نو عباسي دربار اړ و چې خراساني توکي د خپلې پیاوړتیا لپاره هلته خپارۀ کړي، هماغه وو چې تر ۱۳۲س وروسته ډېر خراسانیان د دولت په لښکرو، دفترونو، اداري، پولیسو او علمي – ادبي مرکزونو کې ننوتل او په فوق العاده ځواک او چټکتیا سره یې خراساني فرهنګي، فکري او عقلي بنسټونه په عربي ثقافت کې

ځای پر ځای کړل.

له همدې امله دي: عربي فرهنگ چې د عباسيانو په پېر کې خراسان ته راغی، د اموي پېر هغه نږه رنگ يې نه درلود، يو گډ او مشترک فرهنگ و، چې ډېر عجمي بنسټونه په کې گډ شوي وو.

د راشده خليفه گانو د پېر مسلمانان چې کله خراسان ته رانnotل، څرنگه چې هغوی د اسلام نوی دين له ځان سره راوړی او د هغه لپاره يې جهاد او تلقين کاوۀ، نو ښه دا گڼل کېده چې د توحيد بنسټونو ته په رابللو او د اسلامي اخلاقو په پياوړتيا کې سخت درېځي او د ټولو هغو نخښو د لمنځه وړلو هڅه وکړي چې د هغو ضد دي.

په افغانستان کې تر اسلام له مخه، د بودايي، زردُشتي او ښايي د پاچاهي بت لمانځنې د دينونو له برم ډک او پرتمين پېرونه تېر شوي وو، د کندهار بتان- لکه چې ومو ويل- په هندي او خراساني فرهنگ کې بشپړ مشهور او محبوب وو. د پېرۍ توږنې صنعت هم لوړ پوړ ته رسېدلی و. څرنگه چې د اسلام دين وحدانيت ته رابلنه کوله او د بت درناوی يا لمانځل د اسلام د دې مضبوط بنسټ ضد وو، نو لومړنيو مسلمانانو د بت او بت لمانځنې په لمنځه‌وړلو او د بتخونو، اورتونو او نورو د نړولو او ويجاړولو هڅې وکړې. کله چې په (۳۰او ۳۱س= ٦٥۰ز) کال کې د حضرت پېغامبر ﷺ يوۀ اصحابي عبدالرحمن بن‌سمره د هلمند پر څنډه د رخج او داور پر سيمو برلاسی شو، هغه د زون عبادتځی چې په زمينداور کې و، ونړاوۀ او د زون يا زور بت يې- چې له نږه سرو زرو جوړ و او ياقوتي سترگې يې درلودې- مات کړ او د هغې سيمې پوله‌ساتي ته يې وويل: ودې ليدل چې گټه او تاوان په دې بت پورې تړلي نه دي.[1] همدا رنگه بلاذري وايي تر۴۰س= ٦٦۰ز کال وروسته عرب سوبمن قيس بن‌هيثم سلمی لومړی ځل د بلخ د نوبهار مشهور عبادتځی- چې په دې وخت کې بودايي عبادتځی و- ويجاړ کړ.[2]

---

[1] - فتوح‌البلدان ۴۸٦.

[2] - پورتنی اثر، ۵۰٦.

دا د راشده خلیفه‌ګانو د پېر د یوۀ صحابي منطق او کړۀ وو، چې د اسلامي پېر په سر کې یې توحید ته د رابلنې او د هغۀ د بنسټونو د پیاوړتیا لپاره کار او جهاد کاوۀ او د بت لمانځنې د نخښو د ویجاړولو او لمنځه‌وړلو زیار یې ایست.

خو دوه سوه کاله وروسته د عباسیانو او دربار چلن داسې نه و، د خراسان پاچاهانو به تل د دې وطن بتان د ډالۍ په ډول دربار ته لېږل، د ساري په ډول په ۲۵۱س= ۸٦۵ ز کال کې محمد بن‌طاهرپوشنګي د عباسي خلیفه مستعین دربار ته د کابل فیلان، بتان او خوشبویانې لېږلي وې.[1] صفاري یعقوب لیث چې کابل ونیوۀ هغۀ هم په ۲۵۷س= ۸۷۰ ز کې هلته تر لاسه کړي بتان، د عباسي خلیفه معتمد دربار ته ولېږل.[2] بیا په ۲۸۳س= ۸۹٦ ز کال کې په هغو ډالیو کې چې صفاري عمرو لیث معتضد ته لېږلې وې، هغه بت هم و چې له بُست او داور سره له نښتو سیمو او غرونو یعنې د هغه مهال د اسلامي دولت له پولو څخه یې تر لاسه کړی و. د جستو دا بت ښځمنه پېره وه چې څلور لاسه یې وو او په سرو او سپینو جواهرو ښکلل شوې زرین وښي (باهوګان) یې درلودل. پر دې سربېره یو شمېر کوچني بتان هم لېږل شوي وو، چې په ګاڼو او جواهرو پسولل شوي لاسونه او مخونه یې وو. هغه یې د معتضد خلیفه په ماڼۍ کې ایښي وو، بیا د بغداد ختیځ ته د پولیسو (شرطه) په اداره کې درې ورځې ننداري ته کښېښودل شول، چې خلکو یې په لېوالتیا او هېښتیا ننداره کوله.[3]

له دې تاریخي روایتونو څرګندېږي چې د عباسیانو په پېر کې د عربو فکر او فرهنګ دومره اوښتی و، چې دې بتانو ته یې د کرکې او تعصب په سترګه نه کتل، هغه یې ننداري ته ایښودل او نه یې ماتول. دا وضع له عجمو سره د عربو پیاوړی ثقافتي او فکري ګډون ښیي.

**د افغانستان له لارې د تخلیق، افکارو او فرهنګي آثارو لېږد**

و مو ویل چې برتانوي عالم ټاینبي افغانستان د افکارو، مدنیتونو او فرهنګونو د وړانګو خپرېدنې مرکز بللی دی.

---

[1] - طبري ۴۳۴.

[2]- پورتنی اثر ۷/ ۵۹۸.

[3] - مروج‌الذهب ۴/ ۱۷۲.

اسلامي فرهنګ په هغې وضعې او رنګ سره چې پورته مو شرحه کړ، د افغانستان له لارې دوو خواوو شمال او ختیځ ته لېږدېدهٔ. د مسلمانانو سوبمن عسکر چې د پارس او عراق له لارې خراسان، سیستان او زابل ته راغلي وو، شمال خوا ته د مروې، جوزجان، بلخ او تخارستان له لارې ماوراءالنهر ته واوښتل، دین، فرهنګ او عربي ژبه یې له ځان سره د سیند پورې (ماوراءالنهر) پراخې خاورې، بخارا، سغد او ان کاشغر او چین ته یووړل. په سوېلي جبهه کې د سپین‌غر، ګومل، خیبر او بولان د غرنیو درو له لارو د سیستان، زابل او کابل له سیمو تېر شول او د هند د نیمې وچې څنډو او سند سیمې ته ننوتل.

د لېږد دا لړۍ له دوو لومړیو اسلامي پېړیو- چې دلته پرې موږ بحث کوو- پیل او تر ۴- ۵ مې پېړۍ روانه وه او فرهنګ، صنعت، فکر، دیني اسلامي ګروهه، عربي او دري ژبه او ادب یې په لاندېنیو څو بڼو لېږداوهٔ.

۱- د جنګي سوبو او هغو لښکرکښیو له لارې چې د عربي عسکرو او نورو مسلمانو ملتونو له خوا کېدلې او په نیول شویو سیمو کې یې عربي یا د نورو ملتونو حکومتونه رامنځ ته کول.

د ساري په توګه په ۴۴س= ۶۶۴ز کال کې د حضرت معاویه په پېر کې مهلب بن‌ابي صفره د مسلمانو سوبمنو عسکرو قوماندان د افغانستان له لارې د سند سیند (غالباً د اوسني اټک د ګودر شاوخوا) څنډې ته تېر او د ملتان له لارې قیقان سیمې (بلوچي کلات) ته تېر شو.[1] دا لومړی خوځښت و چې د هند په خاوره کې یې د اسلامي فرهنګ د خپرولو بنسټ کښېښود. دا بهیر بیا د افغانستان له لارې روان و، چې د سند په خاوره کې ګډ عربي او سندي فرهنګ د افغانستان له لارې رامنځ ته شو. ان د راشترکوټ او سولنګي راجګانو او د شلار کورنۍ حاکمانو په تهانه (اوسنۍ بمبیي) کې د جوماتونو په جوړولو کې له مسلمانانو سره مرستې وکړې او د هند خاورې ته مسلمانانو له ځان سره نوی دین، ژبه او کلچر په سوغات کې یووړل.[2]

۲- د دیني او ګروهیزو تبلیغاتو او وجداني سپارښتنو له لارې- په تېره د مسلمانو

---

[1] - فتوح ۵۳۱ تاریخ سیستان ۸۹.

[2] - تمدن هند در قرون وسطی ۴۶، د شنکر هیراچند، د دکن حیدرآباد چاپ، ۱۹۳۱ز.

عالمانو له خوا چې قرآن، نبوي احاديث او د مخکنيو مسلمانو روايات يې لېږدول-رامنځ ته کېدل. موږ د کتاب په تېرو څپرکو کې د دې مطلب ډېرې بېلګې وليکلې. داسې ښکاري چې د اسلامي پېر په لومړيو کې سوېلي افغانستان د هند سوېل ته د اسلامي فرهنګ د لېږد تېرېدنګځی و، لکه چې د دې پېر (۳۰۰س= ۹۱۲ز شاوخوا) ماڼو، بزرګ بن‌شهريار ليکي: د سرانديپ او هند د سوېلي ټاپوګانو وګړي چې د اسلام د پيغامبرﷺ له بعثت څخه خبر شول، يو عالم يې عربستان ته ولېږهٔ، هغه چې د عربو خاورې ته ورسېدهٔ، حضرت پيغامبرﷺ وفات او خلافت حضرت‌عمرؓ ته رسېدلی و، هغه عالم د مسلمانانو د اوضاع تر مطالعې وروسته (د پارس له لارې) مکران (د افغانستان سوېل) ته راورسېد او ومړ؛ خو د هغهٔ يو کس هندو خدمتګار د لنکا ټاپو ته روغ راورسېد او د اسلامي خليفه‌ګانو احوال، د ژوندانهٔ ډول، ملنګي، کميني او اخلاق يې بيان کړل، چې په پيوندي جامو کې، د جومات څنګ ته بيدېږي. وګړي چې د مسلمانانو په دې وضع خبر شول، له مسلمانانو سره يې د زړهٔ له تله مينه کوله.[1]

۳- د فکرونو په لېږد او د نوي اسلامي ثقافت په رامنځ ته کېدو کې، د عربو او نيول شويو ملتونو ادب، اديبانو او شاعرانو څرګنده ونډه درلوده، چې دا موضوع وروسته شرحه کوو.

۴- د سوداګرۍ له لارې د فکرونو، کلتور او مصنوعاتو لېږد هم روان و، چې د سوداګريزو او صنعتي اړيکو په اړه مو د مخه په تفصيل سره خبرې کړې دي.

۵- عربو ته د خراساني فرهنګ په لېږد کې د خراساني مريانو ونډه ډېره زياته وه، ځکه چې سوبمنو عربو په خراسان کې ډېر سړي، کوچنيان او ښځې په جنګونو کې بنديان ونيول، هغوی يې د مريانو په توګه دربار او د ملکي او پوځي لويانو کورو ته ولېږل. دې مريانو بيا وروسته په دربار، اداره، فرهنګ او اسلامي ادب کې مهم ځايونه تر لاسه کړل او په هره څانګه کې مخکښ، پوه، ژبور او ځواکمن کسان په کې رامخې ته شول. لکه چې د کتاب په لومړي او دوهم څپرکي کې مو څو ځله وويل،

[1] - عجايب‌الهند تر ۱۵۵ وروسته.

خراسانی فرهنگ، آداب، دودونه او د ژوندانۀ رنګ يې د اسلامي فرهنګ پر ټولګه- چې په بغداد کې رامنځ ته شوې وه- ورزيات کړل، په زړۀ پورې ګډ معجون يې ترې جوړ او ښه يې ورته په عجمي ګاڼو و ښکلله.

د بغداد د عباسيانو په دربار کې د خراساني او عجمي فرهنګ اغېز په دومره کچه و چې ځينو خليفه‌ګانو له عجمي ښځو سره ودونه وکړل. د بغداد د څو کسو ځواکمنو خليفه‌ګانو ميندې له عجمي ملتونو څخه وې. د همدې عجمي مريانو له اولادونو څخه د دين، سياست، فکر، ادب او لښکرکښۍ په ډګر کې داسې ډېر مشهور کسان رامخې ته شول، چې هرومرو يې د اسلامي فرهنګ د دمشق د اموي دربار هغې نړه عربي بڼې ته، د بغداد د دربار نوی رنګ وباخښۀ.

### د فکري لېږد پيل

د اسلامي پېر افغانستان عربي نړۍ ته د هندي او هند و چين ته له عربو څخه د فکرونو لېږدځی و. البېروني وايي په ۱۵۴س؛ خو قفطي وايي په ۱۵۶س= ۷۷۳ز کال کې لومړی ځل له هند څخه عربو ته د فکري او علمي لېږد خوځښت له دې لارې څخه وشو. په دې معنی چې په همدې کال کې د سند د خلکو يوۀ پلاوي د رياضي له يوۀ عالم سنسکرېټپوه سره د رياضي او ستورپوهنې يو کتاب بغداد ته يووړ، چې نوم يې سِدهانته[1] SIDHA'NTA و (په ۷س کال کې د برهم ګپت تأليف) او د عباسي منصور په امر په عربي وژباړل شو. د دربار رياضيپوه يې محمد بن ابراهيم الفزاري (۱۶۱س= ۷۷۷ز مړ) د هماغۀ په امر د هغۀ کتاب له مخه د ستورو د حرکت په اړه په عربي ژبه کتاب تأليف کړ، چې هغه مسلمانو ستورپوهانو سندهندکبير ونوماوۀ. بيا ابوجعفر محمد بن موسی خوارزمي هغه د مامون په نامۀ رالنډ کړ.[2]

---

[1]- سدهانته په لغت کې پايلې او مثبتې رښتينولۍ ته وايي، چې په اصطلاح کې يوۀ علم په تېره هندسې او ستورپېژندنې ته ويل کېږي. په سنسکرېټ کې ډېرې څانګې لري، چې له هغې ډلې سوريه سدهانته او برهمه سدهانته دي (هندي قاموس، دنکن فوربس ۴۶۲) البېروني وايي سدهاند د هغۀ سيده‌والي په معنی دی چې کږوالی او تغيير ونه مني او دې پوهې پنځه څانګې درلودې (کتاب الهند ۱۱۸).

[2] - اخبارالعلماء باخبارالحکماء، د قاضي يوسف قفطي ۱۷۷، د قاهرې چاپ ۱۳۲۶، په ابن الادمی د مشهور حسين ابن محمد د زيج نظم العقد په حواله او ضحی الإسلام ۲۴۲/۱ د استاد نللينو د تاريخ علم الفلک په حواله تر ۱۴۹ وروسته.

ابن‌ندیم د سمنیه (بودایان) او د هغو د لاربنود بوذاسف د احوالو په اړه له یوه کتاب اقتباس کوي، چې هغه کوم خراساني لیکلی و؛[1] نو له دې هم څرګندېږي چې خراسانیان عربو ته د هندي فکرونو د لېږد وسیله وه.[2]

همدا رنګه له هندوستان څخه ختن، لوېدیځ چین او ماوراءالنهر ته بودایي دین د بامیانو او نوبهار د عبادتځیو له لارې لېږدېدلی دی، لکه چې سوداګر سلېمان په ۲۳۷س= ۸۳۷ز کې لیکي:

«د چینایي دیانت ریښه له هندوستانه ده. د ګندهارا خلکو د چینایانو لپاره د بودا بتان جوړول. د دواړو هېوادونو وګړي پر تناسخ ګروهمن وو؛ خو په جزیاتو کې سره بېلابېل دي.»[3]

د سلېمان د دې وینا په تفسیر کې، چینایانو په خپله د هند و چین د دې فرهنګي لېږد لاره داسې په ګوته کړې ده، یو کس چینایي مؤلف پاني‌یونګ PONYONG د ۱۲۵ز شاوخوا وایي: هند ته د چینایانو د تګ راتګ لاره یواځې کابل KAOFON و، چې سوېل ختیځ لور ته لاره یې د CHAU-YOU هېواد یعنې هند ته رسېدله. هغه مهال کابل تر یوچي YUE- TCHE واک لاندې و.[4] کټ‌مټ همدا مطلب مو په لومړي څپرکي او ۱۹مخ کې د چینایي سیلانیان تر سرلیک لاندې لیکلی دی، چې د چین هر سیلاني او سفیر د افغانستان له لارې هند ته تللی دی او له هغهٔ ځایه یې بودایي کتابونه او نور دیني مقدسات هم له دې لارې د چین پراخه هېواد ته وړي دي. دا حال د هیونڅانګ تر پېر، لومړۍ او دویمې اسلامي پېړۍ پورې روان و.

د دې پېر د فکري او فرهنګي بهیر بله بېلګه دا ده چې اسلامي ګروهې له دې لارې ختیځو هېوادو ته خپرې او ولېږدېدې. دا خوځښت د اموي پېر او په سند کې د محمدبن‌قاسم تر سوبو وروسته لا پیاوړی شو، لکه په ۲۷۰س= ۸۸۳ز کې د کشمیر او پنجاب پاچاه راجه مهروګ د منصورې حاکم امیر عبدالله بن‌عمر ته ولیکل، داسې یو څوک راته راولېږهٔ چې په هندي ژبه اسلامي احکام رازده کړی شي. هغهٔ د خراسان د لوېدیځ یو ځیرک مسلمان شاعر چې د هندوستان په څو ژبو پوهېدهٔ، د

---

[1] - الفهرست ۴۸۴.

[2] - تعلقات هند و عرب۲۲۸.

[3] - د سلېمان سوداګر یونلیک ۵۷، پاریس ۱۸۱۱ز.

[4] - د سوېلې هند په اړه د بهرنیانو یادښتونه، نیل کنتهاشاستري ۱۰ او ۱۱ (انګلیسي).

راجه دربار ته ولېږۀ. هغۀ د راجه په ژبه بولله وړاندې کړه چې ډېره خوښه کړی شوه. بیا درې کاله هلته پاتې شو او د راجه په غوښتنه یې قرآن‌عظیم هندي ته وژباړۀ، چې راجه به هره ورځ اورېدۀ.[1]

پر دې پېر د فکري او فرهنګي بهیر یوه بله بېلګه دا ده چې عربي او دري ژبه د خراسان، کابل او زابل له لارې د هند خاورې ته ورسېده او په دې خاوره کې په اسلامي علومو او عربي ادب کې مشهور عالمان راوټوکېدل او یا یې کسانو عربي ټولنو او د عربو امیرانو دربارونو ته لاره ومونده چې د دې پېر په فرهنګي ګډولې کې یې لاس درلود. د ساري په ډول ابوعطاءافلح بن‌یسار سندهی (عربي شاعر او د امویانو او عباسیانو ستایونکی تر۱۸۰ وروسته مړ) [2]، ابومعشرنجیح بن‌عبدالرحمن سندهی (فقیه، محدث او د مغازي څښتن ۱۷۰س مړ) [3] ابوعلي‌سندهی (د حقایقو او مواجید څښتن، صوفي او د بایزید بسطامي استاد د ۲۰۰س شاوخوا) [4]، ابن‌دهن هندی (په بغداد کې د برمکیانو د روغتون طبیب او عربي ته د څو هندي طبي کتابونو ژباړن) [5]، صالح بن‌بهله هندی (په بغداد کې د هارون‌الرشید د وخت طبیب) [6]، د هارون د پېر مشهور هندی طبیب منکه او عربي ته د ډېرو هندي کتابونو ژباړن،[7] ابوعبدالله محمد بن‌زیاد (۱۵۰-۲۳۱س) په ابن‌الاعرابي سندي مشهور چې پلار یې له سنده مریي بوتلل شو؛ خو زوی یې د عربي ژبې، ادب او شعر له علامه‌ګانو او د دې علم له عالمانو استادانو څخه شو، چې ډېر تألیفات لري. لس کتابه یې شته یا معلوم شوي دي.[8] دغه هر یو هندی نومیالی د لومړي عباسي پېر په

---

[1] - عجایب‌الهند ۳ل، د لیدن چاپ.

[2] - فوات‌الوفیات ۱ /۷۳ د ابن شاکر، د قاهرې چاپ ۱۲۸۲س.

[3] - نزهةالخواطر ۱/ ۴۵ د سید عبدالحی هندي، د حیدرآباد دکن چاپ ۱۹۴۷ز، د سمعاني او ذهبي په حواله.

[4] - کتاب‌اللمع ۴۰۱ د ابو نصر سراج طوسي، د قاهرې چاپ ۱۹۶۰ز.

[5] - زهةالخواطر ۱/ ۱۵.

[6] - پورتنی اثر ۱/ ۵۳.

[7] - الفهرست ۳۴۳.

[8] - بروکلمان در تاریخ ادب عرب ۲/ ۲۰۳ او احمد امین په ضحی‌الإسلام کې ۱/ ۲۳۲.

علم و ادب کې ځلانده کارنامې لري.

پر عکس د همدې خراسان له لارې د هند خاورې ته عربو عالمانو او پوهانو اسلامي فرهنگ یووړ، چې له هغې ډلې دا وو: اسرائیل بن‌موسی بصري- له اتباع تابعینو څخه یو او له حسن‌بصري څخه روایت کوونکی- هند ته راغی او ډېرو مشهورو کسانو ترې احادیث زده کړل.[۱] شېخ محدث ربیع بن‌صبیح سعدي له هغو لومړنیو محدثینو او مصنفینو څخه و، چې په ۱۶۰س= ۷۷۶ز کال په سند کې ومړ.[۲] عبدالله اشتر بن‌محمد نفس زکیه علوي چې د منصور په پېر کې سند ته راغی او د نبوي‌کورنۍ او د امت له فقیهانو څخه و، د ۱۵۱س= ۷۶۸ز شاوخوا.[۳] له دې نومیالیو څخه هر یوه د اسلامي فرهنگي بنسټونو د خپرولو هڅې او هلې ځلې کړې دي. داسې چې په لږ وخت کې دین، فرهنگ او عربي ژبه په سند کې پیاوړې شول. پر عربي سربېره دري ژبه هم د سند په څنډو کې دود شوه. کله چې بشاري مقدسي په څلورمه پېړۍ کې سند ته ورسېدهٔ، په پلازمېنه منصوره کې د تصنیفونو پر څښتن عالم قاضي ابومحمد منصوري، د ظاهري مذهب پر امام داؤد او ډېرو حنفي فقیهانو واوښت.[٤] دغه مهال په ملتان کې پارسي او سندي ژبه دواړه ویل کېدې.[٥] ابن‌حوقل وایي د هغهٔ ځای وګړو په عربي او سندي دواړو خبرې کولې،[٦] د هغهٔ ځای اوسېدونکي زیاتره عرب وو چې په دري ژبه هم پوهېدل.[٧] مسعودي وایي د دېبل د خلکو ژبه هم عربي او سندي وه.[٨] ان دا اسلامي او خراساني دیني او فرهنگي برلاسی په دې پېر کې تر مشهور هندي ښار قنوج پورې هم رسېدلی و. په ۳۰۳س= ۹۱۵ز کال کې چې مسعودي هغه ځای ولیدهٔ، د ملتان په اسلامي حکومت پورې

---

[۱] - الأنساب د سمعاني، هندي سرلیک.

[۲] - نزهة ۱/ ۳۲ د تهذیب‌التهذیب او طبري په حواله.

[۳] - نزهة ۱/ ۳۳ د ابن اثیر د الکامل په حواله.

[٤] - احسن‌التقاسیم ۴۸۱.

[٥] - اصطخري ۱۷۷.

[٦] - صورةالأرض ۲۳۲.

[۷] - احسن‌التقاسیم ۴۸۰.

[۸] - مروج‌الذهب ۱/ ۲۸۱.

تړلی و[1] او په دېبل کې پر مسلمانانو او مسلمانو عالمانو سربېره جامع جومات هم و.[2]

هندیان په حساب، ستورپوهنې، اسرارو، طب، ترکاڼي، انځورګرۍ، نورو صنعتونو، درمل سازۍ،توري جوړونې، سطرنج، کوډو، نڅا، حکمت، ریاضیاتو او فلسفې کې مشهور وو.[3] څرنګه چې د هند پراخ هېواد د افغانستان ختیځې څنډې ته پروت دی او خراسانیانو له هند سره سوداګریز اړیکي، تګ راتګ او فرهنګي تړاو درلود؛ نو د هند ځینې علمونه او فرهنګي توکي د ګاونډیتوب او ټولنیزو اړیکو له امله د افغانستان د ثقافت له اجزاوو سره ګډ او اخښل شوي وو. عربو چې خراسانی ثقافت خپل کړ، طبعاً هماغه هندي توکي هم د خراساني ثقافت له لارې د عربي فرهنګ اجزا وګرځېدل. د دې مطلب څرګندې بېلګې به په راتلونکو کرښو کې هلته ولیکو چې د برمکیانو د فرهنګي میراثونو په اړه بحث کوو.

په داسې حال کې چې له ختیځ څخه د آسیا لوېدیځ ته او پر عکس، د افکارو او کلتوري توکو لېږد روان و، عالمانو، شاعرانو، پوهانو، سوداګرو او سوبمنو تګ راتګ او ژبو او آدابو یې هم یو پر بل اغېز کاوۀ. د ساري په ډول د عربي، دري او پښتو ژبې اغېز د سوبمنو، خلکو، عالمانو او سوداګرو له خوا د خراسان له لارې هند ته لاړ او پر عکس د هندي ژبو، سنسکرېتي کلمو او سندي اغېز پر پښتو، دري او عربي ژبه هم وشو. څو بېلګې یې راوړو؛ نو ترې څرګندېږي چې د دې فرهنګي لېږد د بهیر ځای هم افغانستان و:

د سند له سیمې د آسیا لوېدیځو هېوادو ته د جټ قومونو تګ راتګ د اسلامي پېړیو په لومړیو کې روان و، چې د افغانستان له سوېلي خاورې او خراسان د هغوی لویې جوپې تېرېدې، لوېدیځ ته خوځېدې او تر عربستان پورې رسېدې. دا قومونه تر اوسه هم په افغانستان کې د جټو په نامۀ د کډوالۍ په حالت کې شته. عربو دا نوم

---

[1] - مروج‌الذهب ۱/ ۳۷۲.

[2] - احسن ۱/ تر ۴۸۰ وروسته.

[3] - ضحی‌الإسلام ۱/ ۲۳۳ د جاحظ د رسایل په حواله ۳۷، مروج‌الذهب ۳۵/۱، اخبارالحکماء ۲۷ او نور.

(زُط) معرب کړ،[1] په نبوي پېر کې په خپله په مدینه کې زُط طبیب د حضرت پیغمبر په کور کې د حضرت عایشې په درملنه بوخت و.[2] تاریخپوه مسعودي او نور د دې کس یادونې کوي.[3]

بزرگ ابن‌شهریار چې د (۳۰۰س= ۹۱۲ز شاوخوا) یې د پارس خلیج د څنډو او هند تر منځ ماڼوتوب کاوۀ، تل د سوداگرو لپاره بنیانیه کلمه کاروي،[4] چې اصلاً عربي نه ده او له بنیا څخه اخیستل شوې، چې هندي او سنسکرېت کلمه ده،[5] څرنگه چې د افغانستان په پښتو او دري کې تر اوسه کارېږي، باید وویل شي چې له دې لارې عربي ته تللې ده.

په علمي – فلکي اصطلاحاتو کې اوج کلمه وروستۍ لوړې نقطې CLIMAX ته وایي چې په پارسي کې اوگ دی.[6] دا کلمه د سنسکرېت له اوج څخه راغلې ده،[7] او په دري ادب کې هم "اوج کمال" دود دی، خو د لېرد اړیکی یې په پښتو کې هم تر سترگو کېږي، ځکه په دې ژبه کې (اوچت) تر اوسه د لوړ معنی ښندي.

د افغانستان په پښتو او دري ژبه کې بته یا بټه نرمې پخې وریجې دي، دا کلمه په سنسکرېت کې بهات BHAT د خوړولو خوټکېدلې وریجي دي،[8] چې په افغانستان کې ورته بتې وایي. چې عربي ته لاړه نو بهطه شوه،[9] چې د هغې خراسانۍ بڼه یې کټ‌مټ معربه کړې ده. باید وویل شي چې له دې لارې عربي هېوادونو ته تللې ده.

د گندهارا په صنعت – لکه چې تېر شول- بودایي دین کې یې د دې دین د بنسټگر بودا (بدهـ) لپاره تر اسلام مخکې مودې راهیسې ښکلې پېرې جوړولې. عرب چې دې خاورې ته راغلل دا ډول زیات شمېر پېرۍ یې ولیدې، چې هغه یې د

---

[1] - مفاتیح‌العلوم خوارزمي ۷۴.
[2] - الأدب‌المفرد امام بخاري ۳۰.
[3] - وگ: مروج‌الذهب، فتوح‌البلدان او الأغاني ۷۹/۹، طري او نور.
[4] - عجایب‌الهند ۱۱۸.
[5] - هندوستانی قاموس، د دنکن فوربس ۱۲۹.
[6] - مفاتیح‌العلوم ۲۲۱.
[7] - تعلقات هند و عرب، د سید سلیمان ندوی ۱۴۲.
[8] - هندوستانی قاموس ۱۳۳.
[9] - مفاتیح ۲۲۱.

افغانستان په سیمه‌ییزو ژبو کې د بدهـ په اړولې بڼه (بود- یا بت) بالۀ. عربو دا کلمه (بد) او د دې جمع یې بدده وبلله،[۱] چې د ماني په شاپورگان کتاب خراسانی پهلوي کې هم بد وه.[۲] چې د ابوالعلاء معری په عربي شعرونو کې هم راغلې ده.[۳] دا کلمه په پښتو پخواني ادب ۶۰۰س= ۱۲۰۳ز شاوخوا کې د بتخونې په معنی د بودتون په کلمه کې شته.[٤] په دري ادب کې هم گندهارا ته منسوب د قندهار بت کارېدۀ، چې د خپلې ښکلا له امله یې ادبي بڼه خپله کړې ده، سنایي غزنوي وایي:

صـانعی بایـد حکـیم و قـادر و قـایم بـذات تـا پدیـد آیـد زصـنع وی بتـان قنـدهار

(دېوان سنايي ۱۴۱)

تلـخ گـردد عـیش شـیرین بـر بتـان قنـدهار
چون بگاه بذله زان لب لطف باری ای پسـر!

(دېوان سنايي ۴۴۳)

اوس چې مو عربي ته د خراسان له لارې د هندي کلمو خوځښت او لېږد په گوته کړ، د دې مسألې پر عکس بېلگه په څو کلمو کې توضیح کوو چې دري او پښتو کلمې د خراسان له لارې هند ته تللې:

د درېیمې پېړۍ په وروستیو کې چې کله پارسي ماڼو بزرگ بن‌شهریار هند لیدۀ، د چیمور (معرب یې صیمور) په ښار کې د عربي سمندرگي پر غاړه چې ډېر مسلمانان په کې له خپل جامع جومات سره وو،[۵] د دې سیمې راجه د مسلمانانو د ادارې لپاره عباس بن‌ماهان د"هنرمن" په توگه وټاکۀ،[٦] دا نوم له اوسنۍ پښتو سره سمون خوري. "من"د کلمو په پای کې د مالکیت او فاعلیت له ادواتو څخه دی او

---

[۱] -الفهرست ۳۴۷، کتاب البدء والتاریخ ۱۹ او ملل و نحل د شهرستاني ۲۴۰.

[۲] - آثارالباقیه ۲۲۹.

[۳] - ځینو د بت کلمې ریښه اوستایي بوتیتي گڼلې او د هغۀ دېو نوم دی چې وگړي بت لمانځنې ته هڅوي (د پشتونو حاشیې ۲۱- ۴۰ مخ.

[٤] - پټه خزانه ۲۲۴.

[۵] - حدودالعالم ۴۶.

[٦] - عجایب‌الهند ۱۴۴ او مروج‌الذهب ۲/ ۷۵.

عربو هغه خپلې ژبې ته وړی او د"هنرمنه" په بڼه مصدر يې ترې جوړ کړی دی؛[1] خو په لومړيو اسلامي پېړيو کې همدا لقب او ستاينوم په سوېلي هند کې موجود و او د هغې دري بڼه هنرمند هم دود وه.

بله کلمه چې په همدې ښار کې دود وه او نړيوال عرب سيلاني مسعودي هغه په ۳۰۴س= ۹۱۶ز کال صيمور کې واورېده«بياسره» ده، هغه وايي: په دې ښار کې لس زره عرب مېشت دي، څرنګه چې په هندوستان کې زېږېدلي دي؛ نو هغوی ته بياسره وايي.[2] يعنې هغه مسلمانان چې په هند کې زېږېدلي دي.

پلټونکيو د دې کلمې اصلي ريښه نه ده موندلې؛ خو په پښتو کې د"بې اسره" په بڼه کلمه شته، چې بېوزله، بېځوکه او بېچاره معنی لري. ښايي عربو هغه معربه کړې او بياسره يې ليکلې وي.

بشاري‌مقدسي چې په (۳۷۵س= ۹۸۵ز) کې د بُست له لارې سند ته لاړ، وايي په ملتان کې يې د مصر د فاطميانو د سيکو په بڼه او ډول سيکې هم وليدې؛ خو هلته زياتره«قنهري» دود وې چې د غزني له"قنهرياتو"سره ورته وې او د سند درهمونه يې هم"قنهريات"بلل.[3]

ايليوټ د هند په تاريخ کې دا کلمه"قندهاريات" لوستې او لکه چې ما د دې کتاب د سيکو په بحث کې روښانه کړې، اصلاً دا سيکې د افغانستان پخوانی ګندهارا ته منسوبې وې، ځکه کټمټ همدا قندهاري په غزني کې هم دود وو. موږ تر ځلوېښت کالو پخوا پورې د افغانستان په سيکو کې د"کندهاري" په نامهٔ د سپينو زرو سيکې درلودې، خو د کندهار د شاوخوا کليو وګړي لا تر اوسه هم خپل پولي واحد هماغه کندهاري ګڼي. څرګنده ده چې دا د افغانستان د ختيځ له ګندهارا څخه سند ته تللي وو.

### سوداګري

د فرهنګي لېږد او اړيکو بله ډېره مهمه وسيله سوداګري ده، چې د افغانستان د ورېښمو د مشهورې لارې له امله (چې فرانسوي رنه‌ګروسه هغه د ليدنې لاره هم ګڼلې ده) عراق، عربي هېوادونو، مصر او روم ته د هند و چين د سوداګريزو توکو او

---

[1] - تعلقات هند و عرب، ۲۷۸.

[2] - مروج‌الذهب ۲/ ۸۵.

[3] - احسن‌التقاسيم ۴۸۲.

جوړو تېرېدنګځی یا ګودر او د فرهنګونو مخامخېدنځیو. د دې ځپرکي د سوداګرۍ په بحث کې مو دا موضوع په تفصیل سره لیکلې ده، ویې لولئ.

## د فرهنګ په خپراوي او لېږد کې د بلخي برمکیانو ونډه

په تېرو څپرکو کې مو د بلخي برمکیانو سیاسي او اداري کارنامې په تفصیل سره ولیکلې، هغوی د بلخ د نوبهار د خادمانو له ډېرو پخوانیو فرهنګي کورنیو څخه وو، چې د اسلام د خلا په لومړیو کې غالباً بودایي ګروهي وو.

د افغانستان د برمکیانو کورنۍ د افغانستان له لارې عربي نړۍ ته د هند د علمي- فرهنګي آثارو په لېږد کې ډېرې لویې هڅې وکړې، ځکه د بلخ نوبهار عبادتځی یعنې د دې کورنۍ استوګنځی د هند، افغانستان او چین د ټولو بودایانو مرجع وه، ان قزویني وایي: د هند راجه‌ګان او د چین خاقان یې هم لیدو ته راتلل او دلته به یې عبادت او سجدې کولې.[1] په داسې حال کې چې بلخي برمکیان له هندي، چینایي او بودایي فرهنګ، آدابو او علومو سره بشپړ اشنا وو، ان ابن‌فقیه او یاقوت وایي: د دې کورنۍ بنسټګر برمک په کشمیر کې ډېر کلونه تېر کړي وو،[2] نو د دې کورنۍ غړو تر اسلام منلو وروسته هم د علومو او فرهنګ پراختیا او د هندي علومو لېږد ته ملا وتړله. هندي طبیبان او عالمان یې د بغداد دارالترجمې او روغتونو ته وروغوښتل او د مذهبونو او هندي درملو د څېړنې لپاره یې علمي پلاوي هلته ولېږل.[3] لکه ابن‌ندیم چې په ۳۷۷س= ۹۸۷ز کې په دې اړه څرګنده کړې ده: چې د عباسي حکومت په پېر کې هغه زیاته پاملرنه چې هندي چارو ته شوې ده، د یحیی‌بن‌خالد برمکي او د برمکیانو د کورنۍ د هڅو پایله ده، چې طبپوهان او هندي حکیمان یې بغداد ته بللي وو. همدې یحیی یو سړی هند ته ولېږۀ چې هندي طبي بوټي راوړي او د هندي دینونو د څېړنې په اړه کتاب وکښي.[4] دا کتاب چې د برمکیانو په امر یې د هندي دینونو په اړه لیکلی و، له‌منځه تللی

[1] - آثارالبلاد ۲۲۱.
[2] - کتاب‌البلدان د ابن فقیه ۳۴۴او معجم‌البلدان، نوبهار کلمه.
[3] - تعلقات هند و عرب، ۱۱۹.
٤ - الفهرست ۴۱۴.

دی؛ خو ابن‌ندیم د هغه له یوې نسخې څخه چې د ۲۴۹س کال د محرم پر ۲۷مه= ۸٦۳ ز د جمعې په ورځ لیکل شوې وه، د هند او بامیانو د ځینو بتخونو او د هغو دوه‌و لویو بتانو- سپین‌چکی او سور بت - نورو عقیدو او د هندووالې ـ بوداوالې د مذهبي توپیرونو په اړه مهم مطالب رااخلي،[۱] چې د افغانستان له لارې عربي نړۍ ته د هند د فرهنګ او افکارو د لېږد ډېره ښه بېلګه ده. موږ د ۲۵۰س= ۸٦۴ ز کال شاوخوا وینو، چې دا فرهنګي پېژندګلوي داسې کچې ته رسېدلې وه، چې مشهور عرب لیکوال او عالم جاحظ (۲۵۵س مړ) هم له هند سره فرهنګي او فکري اړیکي درلودل،[۲] هغهٔ پر سپینو د تورو پر غوراوي او د هندیانو د علمي –ادبي ښېګڼو، ځېرې او کلتور په شرحه کې کتاب ولیکهٔ.[۳] هغه د هند د مشهورو عالمانو او طبیبانو چې یحیی بن‌خالد برمکي له هند څخه راغوښتي وو، لکه د منکه، بازیکر، قلبر او سندباد نومونه اخلي.[٤] همدا منکه و، چې د بغداد په دربار کې یې د شاه‌زیو درملنه کوله، خلیفه هغه ډېر وپالهٔ او په خپل ژباړنځي کې یې د سنسکرېټ آثارو پر ژباړه وګومارهٔ. د بهله زوی صالح، هم د بغداد له نومیالیو طبیبانو څخه شو.[۵] د ابن‌ندیم د وینا له مخه ابن‌دهن هندي طبیب، د برمکیانو په روغتون کې سرطبیب و او عربي ته د هندي کتابونو پر ژباړه ګومارل شوی و.[٦]

د بلخي برمکیانو پر هڅو چې هندي عالمان یې راوبلل، عربو پوهانو په ریاضي او هندسه کې له هندیانو څخه زده‌کړه وکړه.[۷] همدا رنګه په طب، ریاضي او نباتپوهنه کې زیات سنسکرېټ کتابونه د یحیی‌بن‌خالد برمکي په امر د برمکیانو په روغتون کې د هندي طبیبانو او پوهانو له لوري عربي شول.[۸] ان هماغه هندي عالم چې

---

۱ - الفهرست ۴۸۸.

۲ - ابن‌خلکان د عمرو ابن بحر جاحظ د حال په شرحه کې.

۳ - فخرالسودان علی البیضا، د جاحظ ۸۱، د قاهرې چاپ، ۱۳۲۴س.

٤ - البیان‌والتبیین ۱/ ۷۸.

۵ - تاریخ الاطباء د ابن ابي اصیبعه ۲/ ۳۳.

٦ - الفهرست ۳۴۲ او تاریخ‌الیعقوبي ۱/ ۱۰۵.

۷ - اخوان الصفا، بدایة الحروف څېرکی، کتاب‌الهند ۹۳ او برتانوي انسایکلوپیډیا ۱۹/ ۸٦۷.

۸ - الفهرست ۴۸۴.

السندهند يې وړی و، دوه ستر شاګردان وروزل، چې يو يې ابراهيمفزاري او بل يعقوب بن‌طارق دی. دې دواړو د رياضي په عامولو او د سدهانته په تفسير او ستورپوهنې کې ډېر خدمتونه وکړل.[1]

له هندي آثارو څخه بل چې خراسان او عربي هېوادونو ته د هند د افکارو په لېږد کې اغېزناک تمام شو، د کليله‌و دمنه مشهور کتاب دی، چې په خپل اصلي نامهٔ پنچا تنتره PANCHA- TANTRA په پنځو څپرکو کې د هند د پاچاهانو په خزانه کې پروت و او د نوشېروان خسرو بن‌قباد ساساني په پېر کې يوهٔ مروزي طبيب چې برزويه نومېدهٔ، له هند څخه ايران ته يووړ، په پهلوي يې وژباړهٔ او له نورو هندي سرچينو څخه يې څپرکي او کيسې پرې ورزياتې کړې. بزرګ‌مهربختکان، حکيم او د دربارمشاور ورسره يو باب د برزويه په نامهٔ مل کړ، چې د عباسي خليفه مامون تر مهاله د پاچاهانو په خزانه کې و. همدا پهلوي نسخه روزبه عبدالله بن‌مقفع (۱۴۵س=۷٦۲ز وژلي) عربي ته وژباړله.[2] دا کتاب بيا د برمکيانو او هارون د دربار شاعر ابان بن‌عبدالحميد لاحقي (۲۰۰س= ۸۱۵ ز شاوخوا مړ) په عربي نظم کړ. همدا رنګه سهل‌بن‌هارون چې د برمکيانو د دربار شعوبي و (۲۱۵س= ۸۳۰ ز مړ) دا کتاب د"ثعله و عفراء و نمرو ثعلب"په نامهٔ په عربي نظم کړ او له يحيی‌بن‌خالد برمکي څخه يې پرې زر ديناره جايزه واخيسته،[3] تر دې چې د ساسانيانو په پېر کې د دري مشهور شاعر رودکي د امير نصر بن‌احمد په امر او د وزير بلعمي په هڅونه د ۳۲۰س= ۹۳۳ز شاوخوا په دري ژبه منظوم کړ،[4] چې وروسته په ختيځو او لوېديځو ملتونو کې د هغه ژباړې په بېلابېلو ژبو تأليف او خپرې شوې.

د کليله‌ودمنه کتاب له داستانه څرګندېږي، چې لومړنی پهلوي ژباړن يې هم مروزي خراسانی و او بيا هم د برمکيانو په امر عربي ته خراساني په نظم وژباړهٔ. دا کتاب د هند، خراسان، پارس او عربو تر منځ د فکري لېږد د اقتباس ډېره څرګنده او

---

[1] - علم‌الفلک ۱٦۵ د کتاب‌الهند په حواله او تعلقات هند و عرب، ۲۲۸.

[2] -د دي ساسي چاپ، پاريس ۱۸۱٦ز، د بولاق چاپ قاهره، ۱۲۹۷س او نور چاپونه.

[3] - بروکلمان در تاريخ ادب عرب ۳/ ۴۳ او ۱۰۵ او سبک شناسي، د بهار ۲/ ۲۵۱.

[4] - احوال و آثار رودکی ۲/تر ۱۰۹٦ وروسته.

مهمه بېلګه وه.

په عباسي پېر کې د برمکیانو دربار د عجمي آدابو او افکارو پالنځی او له عربي ثقافت سره ګډونځی و. د دې دربار ځینې کسان هم په خپل عجمیت کې متعصب او په عجمي ویاړونو ډېر نازېدل. لکه چې ومو ویل، له دې مشهورو شعوبیانو څخه یو هم سهل‌بن‌هارون (۲۱۵س= ۸۳۰ز) د هارون‌الرشید د دارالحکمې رئیس و چې هغهٔ په عربي پر عجمي مسایلو ډېر کتابونه وکښل، چې د وامق‌و عذراء او تدبیر ملک و سیاست کتابونه هم په کې وو. مخکې یاد شوي ابان بن‌عبدالحمید هم د برمکیانو په هڅونه د کلیله‌و دمنه پر نظم سربېره د مزدک، سندباد، بلوهرو بوداسف کتابونه او د اردشېر او نوشېروان سیرتونه وکښل.[1] دې ټولو آثارو عجمي افکار عربي نړۍ ته لېږدول او په دې ټولو کې د خراساني برمکیانو لاس و.

[1] - بروکلمان۳/۱۰۴ او ۳۵.

## کورنۍ ژبې او ادبيات يې

موږ د دې کتاب په لومړي څپرکي کې- هلته چې اسلامي پېر ته په نږدې مهال مو لنډه بحث کاوۀ (٦مخ)- وويل چې دوه کورنۍ ژبې: پښتو- دري په دې خاوره کې ويل کېدې او تر څنګ يې په ختيځ کې د سنسکرېت يوه لهجه او په لوېديځ او شمال کې پهلوي ژبه هم د زردُشتيانو په ځينو ټولنو کې موجوده وه.

بله ژبه چې له اسلامي سوبو سره په لومړۍ لېږدې پېړۍ کې افغانستان ته راغله، عربي وه، چې په راتلونکو بحثونو کې به پر دې ژبه د خراسان د خلکو پر آثارو تفصيلي بحث وکړو. دلته د هېواد د دوو کورنيو ژبو پر ادبي وضعې خبرې کوو.

تر دې وروستيو پورې دا عقيده وه چې: د عربو تر بريد وروسته پهلوي ژبې تغييرات وموندل او ورو ورو په اوسنۍ پارسي ژبه واوښته؛[1] خو په دې نږدې وختونو کې بله عقيده راڅرګنده شوه، چې دري ژبه تر اسلام د مخه پېرونو کې هم د پهلوي په څنګ کې موجوده وه.[2] له همدې امله انګريز ختيځپوه اډوارډ براون پهلوي له منځنۍ پارسي او د اسلامي پېر پارسي «نوې پارسي» نوملې ده.[3]

دې نوي علمي نظر چې د افغانستان دري‌ژبه له پهلوي ژبې څخه نه ده زېږېدلې، اوس يو پوخ او څرګند دليل پيدا کړی دی، چې هغه د تخارستان د بغلان د سرۀ کوتل د ډبرليک موندنه ده او موږ يې په اړه د لومړي څپرکي په سر کې خبرې کړې دي.

---

[1] - اقبال در تاريخ ادبی، مجلهٔ دانشکده ۱ /۴۱۰، دکتور شفق در تاريخ ادبيات ۳۳ او تقی‌زاده در مجلهٔ يادگار ۶ /۹.

[2] - ډاکټر معين در مقدمهٔ برهان قاطع ۱/ ۲۷.

[3] - تاريخ ادبی پارس ۱/ ۱۵.

اوس چې له بغلان څخه تر لاسه شوی ډبرلیک په تخاري ژبه او یوناني لیکدود وینو، نو منو، چې اوسنۍ دري ژبه له پهلوي څخه نه ده رابېله شوې، بلکې له ۱۸۰۰-۲۰۰۰ کالو پورې پخوا په تاریخي تخارستان کې د خبرو، لیکنې او دربار ژبه وه، چې دا دی ۲۵ کرښې مو یې د کابو ۱۶۰ کلمو په لیکنه کې په هماغې پخوانۍ بڼې له لرغونو تاریخي توکو سره په لاس کې دي. له همدې امله د دې قیمتي ډبرلیک موندنه د ژبپوهنې په نړۍ او د افغانستان د ادبیاتو په تاریخ کې بدلون رامنځ ته کوي او پخوانۍ گروهې ننگوي.

دا چې تر اسلام پخوا پېرونو کې دري‌ژبه موجوده وه، د دې دعوې د ثبوت لپاره چې کوم دلایل وړاندې کېدل، یو یې دا و چې د دري ژبې منثور او منظوم آثار د ابومنصوري (۳۴۶س= ۹۵۷ز) د شاهنامې د منثورې سریزې تر لیکلو وروسته لاس ته راغلي او دا ټول آثار په فصیحه، کوټلې او پخه دري ژبه دي، نو باید تر اسلام د مخه په پېړیو پېړیو پالل شوې وي، چې د فصاحت او کوټلتیا دې ادبي درجې ته رسېدلې وي. بله دا چې د اسلامي پېر له لومړیو، ځینې عبارتونه او روایتونه په عربي کتابونو[1] کې په فصیحه دري رااخیستل شوي دي. بیا هغه وخت چې په خراسان او سیستان کې د دري شعر په ویلو لاس پورې شو، دا شعرونه هم په پاللې او پخه ژبه دي، چې باید پېړۍ پېړۍ د مخه پالل شوې او د پخلي دې پوړۍ ته رسېدلې وي.[2]

د بغلان د ډبرلیک پر بنسټ باید وویل شي چې: د دري ژبې مور- په هغې بڼې چې په دې لیکنه کې خوندي شوې- د لومړۍ او دویمې زېږدې پېړۍ شاوخوا یعنې کابو دوه زره کاله پخوا موجوده وه. دا ژبه په پنځه شپږو پېړیو کې د مسیحي پېر د لومړیو له هماغې پخوانۍ بڼې، د لومړیو اسلامي پېړیو د دري ژبې په بڼه واوښته، چې د نثر تر ټولو پخوانۍ بېلگه یې د ابومنصوري د شاهنامې (۳۴۶س) په سریزه کې شته.

---

[1] - د ساري په ډول د جاحظ په کتاب‌المحاسن والاضداد (۱۶۰او ۲۵۵س)، د ابن قتیبه په عیون الاخبار، د ابن خرداذبه په تاریخ طبري، مسالک او ممالک او نورو کې.

[2] - د تفصیل لپاره وگ: د برهان قاطع سریزه، ډاکټر معین.

د بغلان ډبرلیک لومړی نسخه چې پر یوه لویه تیږه کیندل شوې، د کابل په موزیم کې



ځرنګه چې د لومړۍ اسلامي پېړۍ د پښتو ژبې اړوندې بېلګې هم په لاس کې شته، باید پر همدې بنسټ چې د دري ژبې د تحول لپاره مو ومانۀ، پښتو ژبه هم په پېړیو پېړیو تر اسلام راتګ پخوا موجوده وګڼو، چې د اسلامي پېر په لومړیو کې به د کوټلتیا او پخلي دې پوړ ته رسېدلې وي، چې ښۀ او پاخۀ شعرونه دې په کې وویل شي.

له دې کتنو پایله اخیستلای شو، چې دري او پښتو ژبه دواړه هممهاله د افغانستان په غرونو او سیمو کې کټ‌مټ لکه د اوسمهال یو د بل ترڅنګ وې، ځکه د دري تخاري ژبې په دې ډېرلیک کې ځینې توکي او کلمې او ان پښتو فعلونه لیدل کېږي، چې ښایي د کوشاني پېر دري ژبه له پښتو راوتې او یا پښتو له هغې ژبې اغېزمنه شوې وي.[1]

نو موږ د دې پخوانۍ لیکنې او لومړۍ او دویمې لېږدې پېړۍ د پښتو او دري آثارو پر بنسټ چې دا دی په لاس کې مو دي، په ډاډ او بشپړ باور سره وایو چې: د لومړیو اسلامي سوبو پر مهال پښتو او دري دواړه په افغانستان کې د وینا او ادب ژبې وې او لکه د دوه خویندو یې یو د بل تر څنګ ژوند کاوۀ.

## پښتو لومړني ادبي آثار

د افغانستان پر خاوره د عربو یرغل په ځواک و زور سره ترسره شو، چې پر پوځي برلاسي، ښارونو او سیمو فتح کولو سربېره یې روح، معنی او ثقافت هم فتح کړل. په دې معنی چې عربي رسماً د زده‌کړو، علم، مدنیت او فرهنګ ژبه شوه او تر یوې پېړۍ سیاسي‌اسلامي نیواک وروسته موږ وینو، چې د سیمه‌ییزو ژبو شعر وینه او نثر لیکنه ګردسره پرېښودل شول. له همدې خراسانیانو څخه د عربي ژبې په سونو شاعران، لیکوال، عالمان او څېړونکي په عربي نړۍ کې دومره مشهور شول، چې د زیاترو مدني غورځنګونو او فرهنګي خوځښتونو واګې یې په لاس کې ونیوې، موږ په نورو بحثونو کې دا مطالب په څرګندو دلایلو سره راوړي دي.

په دې اروایي او فکري غورځنګ کې چې عربي هرڅه سپېڅلي ایسېدۀ- ان په

[1] - وګ: د دې موضوع د شرحې لپاره: مادر زبان دری، د عبدالحی حبیبي تألیف، د کابل چاپ رساله، ۱۳۴۲ل.

خپله عجمو د عربیت په ملاتړ او ټینګښت کې ډېرې هلې ځلې کولې- نو د دې خاورې آداب او زاړهٔ میراثونه چې په هره ژبه کې وو، په بشپړ ډول لهمنځه لاړل او ځای یې د عربي او خراساني آدابو او فرهنګ ګډولې ونیو.

وایي چې د خراسان او عراق دفتري او رسمي ژبه د حجاج بن‌یوسف‌ثقفي تر پېره پهلوي وه او د دفتر رئیس "زادان‌فرخ" دفتري لیکنې په پهلوي ژبه کولې او سیستانی کاتب صالح بن‌عبدالرحمن د هغه روزلی شاګرد و. زادان فرخ چې د ابن‌اشعث په اړو دوړ کې ووژل شو، نو صالح یې پر ځای د دفتر رئیس شو. هغهٔ د پهلوي پر ځای عربي دفتري ژبه کړه. ځینو عجمو ورته یو لک درهم ومنل، چې له دې کاره تېر شي؛ خو صالح دفتر پر عربي ژبه واړاوهٔ. مردانشاه د زادان فرخ زوی چې خبر شو، له قهره وخوټېد او د زړهٔ له درده یې وویل:

«الله دې له نړۍ داسې جرړه وباسه! لکه د پارسي (پهلوي) جرړه چې دې وایسته!»[1]

عربي ژبې ته دا د خراسانیانو د خدمت بېلګه وه. له دې برېښي چې د سیمه‌ییز کلتور زاړهٔ آداب او آثار به په څه چټکی لهمنځه تللي وي.

نو موږ اوس د اسلام راتګ د وخت له منظومو او منثورو آثارو څخه - په هره ژبه چې وي- په بشپړ ډول تشلاسي یاستو؛ خو تر لومړۍ لېږدې پېړۍ راوروسته له ځینو هغو محدودو او کوچنیو آثارو څخه چې په ډېر لټون تر لاسه شوي، پوهېدای شو، چې په لومړۍ اسلامي پېړۍ کې پښتو او دري دواړه پالل شوې، پخې شوې او رسېدلې ژبې وې.

د دې کتاب په لومړي څپرکي کې مو د غوري سوریانو د کورنۍ په اړه په تفصیل خبرې وکړې، چې له غوریانو څخه د شنسب سوري کورنۍ پر دې خاوره واکمني چلوله او د امویانو او عباسیانو تر منځ د خلافت پر سر په رامنځ ته شوي اخ و ډب کې، د نبوي کورنۍ پلویان وو.

د افغانستان د خپلو امیرانو له دې کورنۍ څخه امیرپولاد شنسبي چې د خراساني ابومسلم ملګری د ۱۳۰س= ۷۴۷ز شاوخوا امیر و. له هغه وروسته یې زوی جهان پهلوان امیرکروړ د غور د سوریانو د امارت واګې په لاس کې واخیستې. هغه په

---

[1] - الفهرست ۳۳۸.

۱۳۹س= ۷۵٦ز کال کې د غور په مندېش کې د امارت پر گدۍ کښېناست او تر امارت او زیاتو سوبو وروسته د ۱۵۴س= ۷۷۰ز کال په جنگونو کې په پوشنگ کې ووژل شو. هغه نیاومن، غښتلی او شاعر مېړۀ و.[۱]

د هغۀ یو حماسي‌شعر چې‌د غور سیمې پخوانی EPIC یې‌بللای‌شو، په ۱۱۴٦س= ۱۷۲۸ز کال کې د محمد هوتک د تألیف د پښتو شاعرانو د تذکرې پټې خزانې په وسیله د محمد بن‌علي بُستي (٦۵۰س= ۱۲۵۲ز شاوخوا) د تاریخ سوري په حواله موږ ته رارسېدلی، چې تر اوسه د پښتو تر ټولو پخوانی شعر گڼل کېږي او تر هغۀ د مخه مو د پښتو کوم منظوم او منثور اثر په لاس کې نۀشته.

«زه یم زمری، پر دې نړۍ له ما اتل نسته

په هند و سند و پر تخار او پر کابل نسته

بل پر زابل نسته

له ما اتل نسته

***

غشی د من مې ځي، برېښنا پر مېرخمنو باندې

په ژوبله یونم یرغالم پر تښتېدونو باندې

---

[۱] - د تفصیل لپاره وگ: د دې کتاب لومړی څپرکی، طبقات ناصري ۱/ تر۱۷۹وروسته، د پښتو ادبیاتو تاریخ ۲/ ۷۴ د عبدالحی حبیبي تألیف، کابل چاپ ۱۳۴۲ل او پټه خزانه ۳۳، د کابل چاپ ۱۳۲۳ل.

په ماتېدونو باندې

له ما اتل نسته

***

زما د بريو پر خول تاوېږي هسک پر نمنځ و په وياړ

د آس له سوو مې مځکه رېږدي غرونه کاندم لتاړ

کړم ايوادونه اوجاړ

له ما اتل نسته

***

زما د تورې تر شپول لاندې دي هرات و جروم[1]

غرج[2] و باميان و تخار بولي نوم زما په اودوم

زه پېژندو يم په روم

له ما اتل نسته

***

پر مروه زما غشي لوني ډاري دښن راځخه

د هريوا لرود[3] پر څنډو ځم تښتي پلن راځخه

رپي زړن راځخه

له ما اتل نسته

***

[1] - جَروم د جَرم جمع د گرم معرب د گرمسير په معنی دی= د افغانستان سوېلي ځمکې.

[2] - غرج د غر معرب او غرجستان د غرستان معرب دی، د غور په شمال لوېديځ کې.

[3] - هريوالرود همدا اوسنی هريرود دی، له دې معرباتو د وياړنې پر ويونکي د عربي ژبې اغېز څرګندېږي.

د زرنج سوبه مې د تورې په مخسور وکړه
په باداری مې لوړاوی د کول د سور وکړه
ستر مې تربور وکړه
له ما اتل نسته
***

خپلو وګړو لره لور پېرزوینه کوم
دوی په ډاډینه ښه بامم ښه یې روزنه کوم
تل یې ودنه کوم
له ما اتل نسته
***

په لویو غرو مې وینا درومي نه په څنډ و په ټال
نړۍ زما ده نوم مې بولي پر دریځ ستایوال
په ورځو، شپو، میاشتو، کال
له ما اتل نسته
***

دا ټوټه حماسي شعر د الفاظو، کلمو، ترکیبونو او شعري وزن له مخه ډېر سوچه او د نورو ژبو له الفاظو پاک دی. ځینې کلمې یې اوس ژوندۍ او کارېدونې نه دي. داسې مشتقات په کې شته، چې اوس په پښتو کې نه کارېږي. د ساري په ډول پلن له پل (قدم) څخه چې اوس یې پر ځای پلی یعنې پیاده وایو. یا زړن (زړور) چې د زړهٔ له کلمې جوړ شوی او اوس یې پر ځای زړور کارېږي. همدا رنګه د یونم (د یون له کلمې= حرکت) او یرغالم (د یرغل له کلمې= هجوم) فعلونه یا برغالم (د دري برغلانیدن له کلمې او د پښتو برغالل) اوس په ژبه، خبرو او ان لیکنه کې نهٔشته. په داسې حال کې چې یون او یرغل د پښتو ادبیاتو په منځنۍ دوره کې لیدل کېږي.

له معنوي اړخه هم دا حماسي شعري ټوټه ډېره پخه او لوړ احساسه ده، چې د شاعر پیاوړتیا او اخلاقي مقام ترې څرګند او د وګړدوستۍ پر احساساتو، اخلاقي ښېګڼو، ملي میراثونو او خویونو (دودونو) د ویاړ استازې ده.

د دې شعر د ویناوال له بیاني پوخوالي، لفظي کوټلتیا، ادبي انسجام، لوړ تخییل او حماسیتوب څخه څرګنده ده، چې پښتو ژبې تر دې پېر د مخه خپلې د کمکینې او اوموالي پړاوونه وهلي او له پېړیو روزنې او ادبي ژوندانهٔ وروسته دې سمون، پخلي او لوړتیا ته رسېدلې ده.

دویمه ټوټه چې د دې وخت اړونده او د دویمې لېږدې پېړۍ ده، د غزني د لویکانو= لاویکانو پر کورنۍ اړه لري، چې موږه یې د دې کتاب د لومړي څپرکي په لومړۍ شمېره کې په پخوانیو پاچاهي کورنیو کې په اړه خبرې وکړې او ومو ویل چې د افغانستان په تاریخ کې له دویمې زیږدې پېړۍ راهیسې د هغو آثار او د شتو شواهد تر سترګو کېږي. د دې کورنۍ د نامهٔ د اشتقاق جرړه هم د مشر، سرور او بزرګ په معنی د پښتو له لوی څخه ده.

په همدې بحث کې مو د هغو کتابونو پر استناد چې‌په دې اړه‌معلومات ورکوي، د خلجیه‌ژبې (پښتو) پر یوهٔ تر لاسه شوي بیت، په ډېر تفصیل سره خبرې وکړې؛ نو د هغو پر بنسټ پوهېږو، چې د المهدي عباسي خلیفه په پېر ۱۶۴س= ۷۸۰ز شاوخوا کې خنچل کابلشاه د کابل پر پاچاهي ګدۍ ناست و؛ خو په غزني او ګردېز کې د خانان یا خاقان په نامهٔ د لویکانو د کورنۍ یوهٔ پاچاه واک چلاوهٔ.

د شتو اسنادو له مخه خانان لویک د دې پاچاهي کورنۍ لومړنی سړی دی، چې په غزني کې له عربي سوبمنو سره مخامخ شوی او په څرګنده یې اسلام منلی؛ خو بیا د خپلو نیکونو دین ته وراوښتی دی.

د هغو اسنادو له مخه چې په لومړي څپرکي کې مو د لویکانو د کورنۍ په بحث کې وښودل، داسې برېښي چې د ۱۶۴س شاوخوا خانان لویک په غزني کې و، دا د لویک وجویر (هجویر) ۱۰۰س=۷۱۸ز زوی دی. مسلمانې سوبمنې لښکرې چې غزني ته راورسېدې، دې خانان لویک د عربي سوبمنو له وېرې په ښکاره اسلام ومانهٔ او د خپل یوهٔ نیکه لویک پېره یې د بامیانو ورهٔ د بتخونې په ځمکه کې ښخ کړه او د کورنۍ یو غړی (ښایي پلار) یې کابلشاه خنچل ته ورغی. خنچل د غزني د دې پناه غوښتونکي پاچاه له لوري یو بیت په خلجیه ژبه (پښتو) د غزني خانان ته واستاوهٔ، چې دا دی:

په زمي گزنه ښخېد لویک لویـانو بویلـه لویـا
کښه تور به براغلوم بلوم؟ ممله تېزیـو پـه مـلا

یعنې«لویک د غزني په ځمکه کې ښخ شو، لویکانو خپله لویي بایلوده؛ خو زه خپل لښکر پاروم...؟ ته له عربو سره ملګرتیا مه کوه!»[1]

د دویمې لېږدې پېړۍ د پښتو دا پخوانۍ بېلګه په الفاظو، لهجه او فعلونو کې زموږ له اوسنۍ پښتو سره ډېر توپیر لري، زیاتره کلمې یې اوس کارېدونې او چلنده نه دي؛ خو د دري او پښتو د پخوانیو اسنادو له مخه پر نوموړو کلمو پوهېدای شو. د ساري په ډول زمی په پخواني دري ادب کې هم د ځمکې په معنی دی، چې په اوسنۍ پښتو کې ورته زمکه وایو. ګزنه هم د غزني پخوانۍ بڼه ده، چې د خزانې په معنی یې ریښې په سغدي او دري کې شته، چې عربي کنز هم له دې ریښې څخه معرب شوی دی.[2] کښه‌تور (= کشتري د لښکر په معنی) هم د پښتو له پخوانیو کلمو څخه ده، چې ډېرې پخوانۍ آریایي ریښې لري او اوس له‌منځه تللې ده؛ خو د

[1] - د دې موضوع د تفصیل لپاره وګ: د عبدالحی حبیبي تألیف لویکان غزنه، د کابل چاپ ۱۳۴۱ل او د پښتو ادبیاتو تاریخ ۲/تر ۱۹ وروسته.

[2] - جوالیقی در المعرب من الکلام الاعجمی ۱۳۶ ، د قاهرې چاپ.

روښان پیر په خیرالبیان (۹۵۰س= ۱۵۴۳ز) کې د تورکښ په بڼه د همدې عسکر په معنی شته دی. براغلوم د براغلول مړۀ فعل له مصدره یوګړی متکلم فعل دی، چې د دري له برغلانیدن سره همریښه برېښي؛ خو اوس ژوندی نه دی. د دې مطالبو په اړه مو د کابل چاپ د پښتو ادبیاتو په تاریخ کې په تفصیل سره خبرې کړې دي، هلته دې وکتل شي.

د پښتو ژبې له پخوانیو ادبي آثارو څخه تر اوسه د دویمې پېړۍ اړوندې همدا دوه ټوټې تر لاسه شوې دي او تسلسل یې په درېیمه او څلورمه لېږدې پېړۍ کې هم شته، چې د دې کتاب په نورو ټوکونو کې به پرې پر خپل ځای خبرې وشي.

اوس سر ورښکاره کوو په افغانستان کې د دري ژبې پاتې شویو آثارو ته:

## د دري ژبې څو زاړۀ آثار

ومو ویل چې دري ژبه هم لکه د پښتو په څېر د افغانستان د غرونو په لوړو ژورو کې د پامیر او واخان له لوېدیځه تر مروې، سرخس، طوس او نیشاپور پورې د زېږدو پېړیو له لومړیو څخه له پښتو او پهلوي سره هممهاله موجوده وه.

د اسلامي پېر مؤرخانو دري‌ژبه تل له پارسي او پهلوي څخه جلا ګڼلې ده، له هغې ډلې عبدالله بن‌مقفع، د هغه مهال ژبې پهلوي- دري- پارسي – خوزي او سریاني ګڼي، چې پهلوي په اصفهان، ری، همدان او آذربایجان کې ویل کېده. دري چې در ته منسوبه یعنې د دربار ژبه وه، د خراسانیانو، ختیځ او بلخیانو ژبه ګڼل کېده او په پارسي د پارس وګړي ګړېدل.[1] همدا مطلب حمزه اصفهاني په خپل کتاب‌التنبیه کې هم راوړی او وایي چې پهلوي په اووه ښارونو همدان، ماسبذان، قم، ماه‌بصره، صمیره، ماه‌کوفه او کرمانشاهان کې ده. ری، اصفهان، طبرستان، خراسان، سیستان، کرمان، مکران، قزوین، دیلم او تالقان د پهلویانو ښارونه نه دي. خو پارسي د پارس د خلکو ژبه ده (یعنې د پارس ځانګړې لهجه) او دري ژبه د درباریانو ځانګړې ژبه وه.

[1] - الفهرست ۱۹.

د ختيځ او بلخيانو ژبه پرې برلاسې وه.[1]

پر دري ژبې سربېره چې په خراسان او د افغانستان په سيمو کې له پښتو سره هممهاله او غبرگه ويل کېده، د خراسان په شمال ماوراءالنهر کې سغدي لهجه او په خوارزم کې خوارزمي لهجه تر اسلام پخوا وختونو راهيسې دود وه او آثار مو يې په واک کې دي.

نو ځرنگه چې د افغانستان په خاوره کې د وگړو لهجه دري وه، موږ يې د لومړيو دوو اسلامي پېړيو د هغو راپاتې آثارو يادونه کوو، چې د دې هېواد په خاوره پورې اړه لري.

**يو سيستانی سرود**

سيستان له پخوانی زمانې راهيسې د زردُشتي دين مرکز و او د زردُشتيانو ډېرو ديني رواياتو په دې خاوره پورې اړه درلوده. د اسلامي سوبمنو د راتگ پر مهال هم همدا وگړي په سيستان کې له خپلو پخوانيو ديني او فرهنگي ميراثونو سره مېشت وو. موږ وينو چې د مروان بن‌حکم اموي په پېر کې تر۶۴س= ۶۸۳ز وروسته‌رستم بن‌مهر هرمزد اورلمانځی د سيستان موبد او وياند و، چې عربو واکمنو به ترې د حکمت خبرې اورېدې.[2]

د زردُشتيانو يو پخوانی عبادتځی چې د جوړولو داستان يې د ابوالمؤيد بلخي په"گرشاسپنامه" کتاب کې راغلی، د کرکوی اورتون دی، چې له سيستانه هرات ته پر لاره د درې فرسنگو په لومړي پړاو کې پروت و.[3] ياقوت دلته د اورلمانځنې د لوی عبادتځي يادونه هم کوي.[4]

د تاريخ سيستان د نامعلوم مؤلف وينا ده، چې د ابو المؤيد بلخي له شاهنامې څخه يې راخيستې، د کرکويه دا اورتون کيخسرو د سيستان په شارستان کې د گرشاسپ پر عبادتځي جوړ کړی، هغه وايي:

« وايي هغه اور، هغه رڼايي ده چې ها خوا يې وليدله او گبرکان داسې وايي، چې

---

[1] - تاريخ ادبيات، دکتور صفا ۱/ ۱۴۲.

[2] - تاريخ سيستان ١٠٦.

[3] - اصطخري در مسالک و ممالک، پارسي ژباړه ۱۹۹، د تهران چاپ ۱۳۴۰ل.

[4] - معجم‌البلدان ۴ /۴۵۳.

هغه د گرشاسپ ځیرکي ده او د کرکوی سرود په دلیل کې راوړي، په دې وینا:

فرخـــــت بـــــادا روش      خنیـده گرشاسـپ هـوش
همـــی برسـت از جـوش      نـوش کـــن مـــی نـــوش
دوســـت بـــدا گـــوش      فـا فـرین نهـاده گـوش
همیشـــه نیکـــي کـــوش      دي گذشـــــــت و دوش
شـــاها خـــدا یگانـــا!      بـــا فـــرین شـــاهی[1]

دا مذهبي سندره- چې گبرکانو د اسلام د ځلا په لومړیو کې ویله او دلیل یې گاڼهٔ- د سیستانۍ دري له پاتې او تر لاسه شویو آثارو څخه ده. هره مصرعه یې شپږ څپې ده؛ نو ترې پوهېدای شو، چې د اسلام د ځلا پر مهال په افغانستان کې د دري څه ډول شعرونه او وزنونه دود وو. اوس د دې شعرونو سمه لوستنه- چې ارواښاد بهار خراساني د تاریخ سیستان د یواځینۍ نسخې له مخه خوندي او چاپ کړې ده- د کلمو له گرانو معنو سره راوړو. هغه وایي د دې شعرونو وزن باید (تنا –تنن- تن –تن) وي.

فرختـــــه بـــــاذا روش      خنیـذه گرشسـب هـوش
همـــی پرسـت از جـوش      انـوش کـــن مـــی انـوش
دوســـت بـــذ آگـــوش      بـه آفـرین نهـاذه گـوش
همیشـــه نیکـــی کـــوش      (که) دی گذشت و دوش
شـــاها! خـــدا یگانـــا!      بـــه آفـــرین شـــاهی

په دې سندره کې فُرُخته او خُنِیذه د مشهور په معنی او هُوش د دوهم په غږوندي د ساه او روح په معنی او رُوش د دوهم په غږوندي د رڼا او نور په معنی دی. دا ټولې کلمې او د عبارتونو او مصرعو سمون یې د دې سندرې پر لرغونواله دلالت کوي. په تېره د (بذ آگوش) BIDH- AGOOSH ترکیب ځان ته پام رااړوي؛ ځکه په تخاري دري کې (به دری= په پښتو) کلمه پد PID وه، چې د بغلان له سرهٔ کوتله په تر لاسه شوې لیکنه کې پرله‌پسې راغلې ده. د دې ډول کلمو وروستی دال په دري او پښتو کې په (هـ) اوښتی دی، لکه تخاري کد KID په دري کې (که) او

[1] - تاریخ سیستان، کتمې ۳۷.

تخاري کلد KALD په پښتو کې کله (وقتیکه) او تخاري ساد CAD په دري کې چاه او په پښتو کې ځاه شوی دی.

نو د دري تخاري دا PID په پهلوي کې پذ= پت او په زړه پارسي کې PATI او په اوستا کې PAITI او په تورفان پهلوي کې PADH و، چې په اوسنۍ دري ژبه کې يې پر ځای (به) راځي.[1] د (بد) پخوانۍ بڼه په ځينو مرکبو کلمو کې پاتې ده، لکه بدين او بدان، فرخي وايي:

بدين شايستگي جشـنی     بــدين بايســتگی روزی

نو بذ آگوش د دري د به آغوش مساوي دی، د هغه له مخه موږ پوهېږو چې هماغه د دويمې زېږدې پېړۍ ليکنه PID تر۳۷۵س= ۹۸۵ز شاوخوا پورې د خراسان په مروه کې موجوده وه. په دې معنی چې محمد بن‌احمد بشاري له (به+ رای) مرکبه کلمه، بترای (بت+ رای) د لپاره په معنی اورېدلې وه،[2] چې لومړی جز يې هماغه پذ= پد= پت دی. د دې سندرې په اړه د څېړونکو رايه دا ده چې تر اسلام مخکښې ده او په اسلامي پېر کې يې لږ څه لفظي بدلون موندلی او دا بڼه يې خپله کړې ده. ښايي د لومړيو اسلامي پېړيو زردُشتيانو هغه د پخواني پېر د شعرونو په بڼه ترکيب کړې وي.[3]

د ۶۰س شاوخوا د يزيد بن‌معاويه د خلافت پر مهال (۶۰- ۶۴س) کله چې عُباد بن‌زياد د عبيدالله بن‌زياد ورور (زياد بن‌ابيه د سميه له نسه د ابوسفيان نسبتي زوی) د سيستان حاکم وټاکل شو، له هغه سره يزيد بن‌زياد بن‌مفرغ MUFRIGH مشهور غندونکی عربي نژاده عربي‌شاعر (۶۹س= ۶۸۸ز)[4] سيستان ته راغی او دلته يې دري

[1] - د دې مطلب د تفصيل لپاره وګ: مادر زبان دری۱۰۲/ ۱۲۲د عبدالحی حبيبي تأليف، د کابل چاپ ۱۳۴۲ل.
[2] - احسن‌التقاسيم ۳۳۴.
[3] - تاريخ ادبيات، استاد جلال همايي ۱۸۶/۱، دوهم چاپ، تهران ۱۳۴۰ل.
[4] - معجم‌الأدباء ۴۵/۲۰.

ژبه هم زده کړه. په هغو جنگونو کې يې گډون هم وکړ، چې عُباد د کابل او کندهار پر لور درلودل؛ خو عُباد د جهادي چارو د سختو بوختياوو له امله د ابن‌مفرغ پالنه ونه کړه، شاعر ترې خواشينی شو او ويې وغاندهٔ.[1]

د ساري په ډول د عُباد بوجی ډوله گڼه‌ږيره وه، د سپرلی پر مهال به پرې باد لگېده او هر لور ته به يې اړوله راړوله، ابن‌مفرغ چې دا وليدل؛ نو ويې ويل:

ألا ليت اللِّحی کانـت حشيشـا　　فنعلفهـــا خيـــول المســـلمينا

«يعني: ای افسوس! ږيرې واښهٔ وای، چې د مسلمانانو اسونو ته مې ورکولای.»[2]

د عباد په اړه د ابن‌مفرغ دا غندنې سپکو سپورو او ښکنځلو ته ورسېدې، په خپلو شعرونو کې يې د هغهٔ د مور سميې چټلی او له ابوسفيان سره استلحاق ته نغوتې وکړې. نو عباد پرې وخښمېد او بندي يې کړ. يوه ورځ يې پرې ښهٔ خوټېدلي شراب او مسهل وڅښل او له کورنيو خوگانو، پيشو او سپي سره يې د اسهال په بهير کې روان کړ. کوچنيانو چې وروکتل؛ نو په پارسي ژبه يې چيغې وهلې، چې دا څه شی دی؟ دا څه شی دی؟ دا څه شی دی؟ شاعر هم په پارسي ځواب ورکړ چې:

آبســـت و نبيـــذ اســـت　　و عصـــارات زبيـــب اســـت

و دنبـــهٔ فربـــه و پـــی اســـت　　و ســميه هــم روســپی اســت[3]

د تاريخ سيستان روايت دغه دی؛ نو له هغه سره سم بايد دا داستان په سيستان کې رامنځ ته شوی وي. طبيعي وضعې ته هم نږدې دی، کوچنيان په پارسي پوښتنه کوي او د هغو ځواب شاعر هم په پارسي ورکوي؛ خو عربي سرچينې لکه الاغاني (۵۱/۱۷) د جاحظ ألبيان‌والتبيين (۱۰۹/۱) تاريخ طبري (۱۹۲/۲) د عبدالقادر بغدادي خزانة‌الأدب (۵۱۶/۲) او طبقات‌الشعراء (۲۱۰ مخ) د دې داستان رامنځ ته کېدل په بصره کې او د عبيدالله بن‌زياد په امر گڼي، چې ابن‌مفرغ يې له سيستان څخه

---

[1] - تاريخ سيستان ۹۵.

[2] - بيست مقالهٔ علامه قزوينی ۴۰/۱ د الأغاني په حواله ۱۷/ تر ۵۶ وروسته.

[3] - تاريخ سيستان ۹۶.

هلته بندي لېږلی و. د ابن‌مفرغ له دې وينا څخه د عربو مؤرخانو ليکنه هم داسې ده:

آبسـت و نبيـذ اسـت وعصارات زبيب اسـت سـميه روسـپيذ اسـت

دا درې مصرعې اووه څپيزې دي، څرنګه چې ځينې عرب مؤرخان او کاتبان په دري نه پوهېدل، د هغه د وينا په کلمو کې يې بدلون راوست، څکه نو دا شعر ډول ډول رانقل شو او د رامنځ ته کېدو ځای يې ورته بصرې ته يووړ. په داسې حال کې چې طبيعي نه ده، د بصرې په عربي ژبي ښار کې پارسي ژبي کوچنيان په لارو کوڅو کې دومره وي، چې په نسناستې اخته مست شاعر پسې وځغلي او شاعر دې هم د هغوی لپاره پارسي ووايي!!!

نو موږ ځکه د تاريخ سيستان د څښتن وينا غوره وبلله، چې رښتياوو ته نږدې ده؛ نو د دري دا پخوانی ټوټه د سيستان د خاورې او د افغانستان د سوېلي واديو زېږنده ګڼو. اټکل دا دی، چې د دويمې مصرعې زبيب کلمه هم مويز ده، چې تر اوسه د افغانستان په دري ژبه کې د هماغه زبيب په معنی ده؛ خو که مويز وي له نبيذ او روسپيذ سره په قافيه کې سمون کوي او نيمګړتيا يې له‌منځه ځي.

**د بلخيانو وينا:**

ومو ويل چې بلخ د دري ژبې له مهمو مرکزونو څخه يو و. په ۱۰۸س کال کې د بلخ اموي حاکم اسد بن‌عبدالله چې موږ يې د احوال شرحه په دوهم څپرکي کې ورکړې ده، ختلان نيولو ته مخه کړه او له امويه (امو) ورپورېووت. له هاخوا ورته د ختلان امير او د ترکو خاقان ماتې ورکړه. چې بلخ ته راستون شو، نو بلخيانو ورته پېغورنې وکړې، چې هغه د بلخ کوچنيانو هم ويلې:

از خـــتلان آمديـــه بـــرو تبـــاه آمديـــه

آبــار (بــاز) آمديــه خشـک نـزار آمديـه[1]

په دې ټوټه کې هم د وخت په تېرېدو او د کاتبانو ناپوهېدنې اړونې رامنځ ته کړې، ان په خپله طبري هم په بل ځای کې هغه (از ختلان آمذی- بروتباه آمذی-

---

[1]- طبري ۵ /۴۴۸.

بیدل فراز آمذی) ولیکهٔ.[1]

دا اته څپیزې څلور مصرعې هم په بلخ کې د دویمې اسلامي پېړۍ د لومړیو د دري وینا بېلگه گڼلای شو، چې آمدیه فعل په ځینو خطي نسخو کې (آمذی- آمده) دی. هوتسما وایي، چې آمدیه به په بلخي ژبه کې د آمدی پر ځای وي، په داسې حال کې چې آمدیه AMADAYA د لنډې تېرې زمانې د غایب یوگړي فعل دی، چې اوس هم د کندهار په لهجه کې د (آمده است) پر ځای کارېږي، احمد به خانه آمدیه= احمد به خانه آمده است.

په دویمه مصراع کې بروتباه په خطي نسخه کې ترونیه او برویته هم و، چې بُرُو د برېتو یا وروځو په معنی دی، لکه فردوسي چې وایي:

کـــه دارد گـــه کینـــه پایـــاب اوی ندیـــــدی بروهــــــای پرتـــــاب او[2]

پرتاب باید د برېتو صفت وي؛ خو په دې بیت کې د وروځو په معنی دی چې له گونځو ډکېږي.

بـــرو پـــر زچـــین کـــرد نوشـــیروان شگفت آمدش کار هـر دو جـوان[3]

په دري نثر کې داسې راغلی دی: «شبلی دست بر بروی وی فرود آورد.» [4]

په دریمه مصرعه کې آبار باید آباره= آواره وي، ځکه که هغه آبار ولولو دوه څپیزه ده او که آباره یې ووایو؛ نو درې څپیزه کېږي، چې د نورو مصرعو اته څپې شمېر پوره کوي. که څه هم په دري ژبه کې آوار هم په همدې معنی راغلی دی، لکه د قطران تبریزي دا بیت:

آوار شد از مسکن و مأوا صنم مـن از طعنهٔ بد گوی و زبیغـارهٔ دشـمن[5]

## د سمرقند ویرنه:

د دري ژبې له نورو ټوټو څخه چې د وخت له تاړاکونو خوندي پاتې شوې دي، د ابوالتقي یا ابوالینبغي العباس بن‌طرخان ټوټه ده، چې د برمکیانو اړوند له عربي ویونکو شاعرانو څخه و، ښایي چې د امو په سیمو کې یې ژوند درلود، هغه د

---

[1] - طبري، ۵/ ۳۹۰.

[2] - لغت فرس ۴۰۹.

[3] - شاهنامه ۴ ج ۹۸۰۷ بیت.

[4] - طبقات‌الصوفیه، د انصاري هروي ۸۵، د عبدالحی حبیبي چاپ، کابل ۱۳۴۱ل.

[5] - دیوان قطران ۴۹۶، د تبریز چاپ، ۱۳۳۳ل.

سمرقند په ویجاړیو د خواشینۍ شعر لري، چې دوه بیته یې ابن‌خرداذبه (۲۳۰س= ۸۴۱ز) داسې راوړي دي:

سـمرقندِ کنـد منـد   بـذینت کـی افگنـد
از چـاج تـه بهـی!   همیشـه تـه خهـی[1]

دا ټوټه چې هره مصرعه یې شپږ څپیزه ده (د سمرقند د دال په اضافي زېر او د چاچ تلفظ په دوو څپو په صورت کې) داسې برېښي، چې باید تر (۱۸۷س= ۸۰۳ز) د مخه د برمکیانو په پېر کې ویل شوې وي. په لوستنه کې یې هم اختلاف دی، ځینو یې معنی داسې لیکلې ده: «سمرقند یوه کنډواله ده، چې خپل ښایست یې بایللی، د چاچ تر ښار خو غوره نه یې! نو ته به هم له خطره تل بچ نه شې.»[2]

بل یې پر عکس داسې معنی کړې ده:

«ودانه سمرقنده، ته چا په دې حال پرې ایستې؟ ته له چاچه غوره یې! تل ته ښه یې»[3]خو د کندمند معنی لکه چې په وروستي یاد شوي کتاب کې ویل شوي دي، ودانه نه ده، بلکې پر عکس کنډواله او کنده ده. په دې دلیل چې کنده په پښتو کې تر اوسه د کیندل شوي ځای په معنی ده، چې په دري کې هم وه. عربو ترې خندق جوړ کړی، ناصر خسرو قبادیاني اسمان ته په وینا کې وایي:

مادر بسیار فرزندی ولیک خوار دار یشان همیشه کند مند[4]

په لومړۍ سرچینه کې پزینت سره لوستنه سمه نه ده، بدین ات (یعنې په دې حال ته) سمه ده. په دوهم بیت کې (نه بهی – نه جهی) هم سم نه برېښي، ته بهی- ته خهی کټمټ د اوسنۍ پښتو ترکیبونو ته ورته دی، لکه: ته بِه یې – ته خهٔ یې! یعنې ته غوره یې! او ته ښهٔ یې! چې په پخوا وخت کې د پښتو او دري ژبې د نږدېوالي استازي کوي.

---

[1] - المسالک و الممالک ۲۶، د لیدن چاپ، ۱۳۰۶ل.

[2] - تاریخ ادبیات، جلال همایي ۲/ ۴۹۳.

[3] - تاریخ ادبیات، دکتور صفا ۱/ ۱۴۹.

[4] - دیوان ناصر خسرو ۱۲۲، د تهران چاپ، ۱۳۳۹ل.

د ابوالینبغي په اړه د جهشیاري په کتاب‌الوزراء کې یادونه شته، چې هغه له یحیی او د هغه له زامنو فضل او جعفر برمکي سره ناست پاست و او په عربي یې هم شعر وایۀ، یوه ورځ یې وویل: صحبت البرامک عشراً ولا و بیتی کراء و خبزی شرا.

یعنې «لس کاله پرله‌پسې له برمکیانو سره ناست پاست وم، په داسې حال کې چې اوس په کرایه کور کې اوسم او ډوډۍ له بازاره پېرم.»

یحیی چې واورېدل، هغه یې په خپله لورېینه و نازاوۀ، زامنو ته یې هم رتبې، د اړتیا وړ معاش او دندې مقررې شوې.[1]

## عباس مروزي

محمدعوفي وایي: «مامون په ۱۹۳س = ۸۰۸ز کال کې مروې ته راغی، ابوالعباس ابن‌حنوذ (جبود؟) مروزي، د مروې ښار پوه‌خواجه و او د عربي او دري دواړو په شعرونو کې یې بشپړ مهارت درلود، د مامون په ستاینه کې یې بولله وویله، چې مطلع یې دا وه:

ای رسانیده بدولت فرق خود تا فرق دین
گسترانیده بجود و فضل در عالم یدین
مر خلافت را تو شایسته چو مردم دیده را
دین یزدان را تو بایسته چو رخ را هر دو عین

د دې بوللې په ترخ کې وایي:

کس برین منوال پیش از من چنین شعری نگفت
مرزبان پارسی راهست با این نوع بَین[2]
لیک ازان گفتم من این مدحت ترا، تا این لغت
گیرد از مدح وثنای حضرت تو زیب و زین

عوفي وایي مامون شاعر ته زر دیناره وبخښل، خو تر هغه وروسته چا پارسي

---

[1]- د اخبار برامکه سریزه ۶۳، د تهران چاپ، ۱۳۱۲ل، کتاب‌الوزراء او کتاب الجهشیاری، د قاهرې چاپ، ۱۹۳۸ز.
[2]- د پرېکوني او لیرېوالي په معنی (المنجد).

شعر ونه وايهٔ، چې د طاهريانو او صفاريانو په پېر کې څو شاعران راميدان ته شول.»[1]

د عوفي په دې روايت ځينې د نظرڅښتنان نيوکې لري او دا شعر هم جعلي ګڼي،[2] شوې مهمې نيوکې دا دي:

**لومړی**: بوللـه د خليل بن‌احمد (۱۷۵س= ۷۹۱ز مړ) له عروضي بحرونو څخه په يوهٔ کې ده او د واضع تر مړينې۱۸ کاله وروسته به څرنګه دا ډول بحرونه دري شعرونو ته راغلي وي؟

ځکه د دې کار لپاره اوږد وخت په کار دی.

**دويمه**: د عربي کلمو زيات کارونګ د دې دليل دی چې دا شعر د دويمې پېړۍ نه دی، ځکه چې پر دې مهال دومره عربي کلمې په دري نه وې ورګډې شوې.

**درېيمه**: د عوفي روايت يواځيني معلومات دي؛ نو د باور وړ نه دي.

**څلورمه**: په شعر کې يې مامون د خلافت وړ ګڼلی او د هغهٔ د خلافت پېر د ۱۹۸س له محرم= ۸۱۳ ز څخه پيلېږي، نو په ۱۹۳س کې چې مروې ته د مامون د راتګ لومړی وخت دی، څه ډول به يې هغه ته خليفه ويلی وي؟

**پنځمه**: طرز، سبک، انسجام او د صنايعو پامنيوی ټول يې د درېيمې او ان څلورمې پېړۍ د شعري سبک غوندې دي، پر څېره يې د وضعې او نويوالي نخښې نه برېښي.

**شپږمه**: د چا شعر په دې ډول تر پای يقيناً د داسې موضوع لپاره وضع شوی او سبک يې د پنځمې پېړۍ ترکستانيو بوللـه ويونکو استادانو ته ورته ايسي.

**اوومه**: ناشونې ده مامون په دې ډول شعر - چې د هغهٔ د پېر د دري شعر له جنسه نه وي- پوه شي.[3]

د دې اووه ګونو نيوکو په مقابل داسې دلايل شته، چې د شعر د جعل او وضع کولو نظريه ردوي. د ساري په توګه:

---

[1]- لباب‌الألباب د محمدعوفي ۲۱، د تهران چاپ، ۱۳۲۵ل.

[2] - لکه علامه قزويني په بيست مقاله کې تر ۳۴ وروسته او اروابناد عباس اقبال په کاوه مجله کې په هماغه ۲۵ شمېره، دوهم کال او دکتور صفا۱ /۱۷۸.

[3] - تاريخ ادبيات، استاد همايي۲ /۵۰٦.

**لومړی:** خليل بن‌احمد وزنونه نه دي رامنځ ته کړي، بلکې د عروضو اوډونکی دی. تر هغۀ د مخه هم جاهلي عربو او هم عربي ويونکو عجميانو لکه زياد اعجم اصفهاني (۱۰۰س= ۷۱۸ز مړ) موسی شهوات آذربايجاني (۹۳س= ۷۱۱ز مړ) او نورو داسې شعرونه ويلي، چې د خليل د عروضو له بحرونو سره سمون خوري. څرنگه چې عباس مروزي هم د عربي او دري دواړو ژبو پر شعرونو برلاسی و، نو لرې نه ده چې د زياترو نورو شاعرانو په څېر- چې په عروضو نه پوهېږي- موزون شعرونه دې يې ويلي وي، لکه چې "از ختلان آمذيه" هم له رجز مطوي مخبون بحر[1] سره سمون خوري، په داسې حال کې چې بلخي ويونکی يې د ۱۰۸س شاوخوا او تر خليل بن‌احمد ٦۷ کاله د مخه و.

**دوهم:** په دې شعر کې د عربي کلمو زياتوالی د دې دليل دی، چې شاعر تازه تازه له عربي نظم څخه پارسي ته اوښتی دی، څرنگه چې يې ستايوال عرب و، نو ښايي غوښتلي يې دي، چې داسې يې ووايي چې هغه پرې پوه شي.

**درېيم:** د عوفي وينا په دې اړه يواځيني معلومات نه دي، بلکې سيوطي (۹۱۱س= ۱۵۰۵ز مړ) په «الوسايل إلی معرفة الأوائل» کتاب کې د ابوهلال عسکري (۳۹۵س= ۱۰۰۴ز مړ) له «الاوايل» کتاب څخه وايي چې:«اول‌من‌نظم شعر پارسی ابوالعباس بن‌حنوذ المروزی.» چې ان په دې جمله کې يې د شاعر د پلار نوم هم راوړی دی.

**څلورم:** عباس نه دي ويلي چې مامون هغه وخت هرومرو خليفه دی، بلکې هغه يې د خلافت وړ گڼلی دی، چې يو ځايناستی شاه‌زی د پاچاهي او خلافت وړ گڼلای شو.

**پنځم:** د موازنې، مماثلې او دې ته ورته صنعتونو راوړل نوې خبره نه ده، بلکې دا صنعتونه همېشه داسې وو او مخکې له هغې چې ابن‌معتز عباسي د بديع فن واوډي، شاعرانو او ټوکيانو په خپلو شعرونو او ويناوو کې راوړي دي.

**شپږم او اووم:** شاعر وايي چې تر هغۀ د مخه په دې سبک داسې پارسي شعر نه دی ويل شوی، نو ولې دا مدعا د جعل حکم قطعي دليل وي؟ په داسې حال کې دا خبره دې ته ورته ده چې شاعر ووايي:« په وينا کې مې نوې طرح وراندې کړه» او دا

[1] - مفتعلن مفاعلن مفتعلن مفاعلن.

چې وايي مامون به د دې شعر په مفهوم نه وي پوه شوی، په داسې حال کې چې زياتره کلمې يې عربي دي او مامون هم له خراسانۍ موره زوکړی دی او له ۱۹۳= ۲۰۲س پورې کابو لس کاله په مروه او خراسان کې و؛ نو هرومرو په دومره پارسي پوهېدۀ، چې د پارسي – عربي پر دې مرکب معجون شعر پوه شوی وي. اړينه هم نه ده چې ستايلی دې د ستاينيز شعر پر منځپانگه او باريکۍ په بشپړ او پوره ډول پوه شي. موږ پوهېږو د ختيځ ټول پاچاهان چې عربي، پارسي او نورو شاعرانو ستايلي وو، ټول دومره عالمان او پوهان نه وو، چې د ستايونکي د شعر په ټولو مطالبو او ښېگڼو دې پوه شي. د ساري په ډول سلجوقي پاچاهان چې اور ژبي ستايوال يې درلودل، په لومړيو کې لوستي هم نه وو.[1]

نو بې د يقيني شواهدو له شتون په اټکل او گومان سره د عوفي د وينا رد او جعل ستونزمن دی. دا مسأله به د دري ادبياتو په تاريخ کې تر هغه مهاله د شک او يقين تر منځ پاتې شي، چې د رد او پخلي په اړه يې بل پرېکنده سند لاس ته رانۀشي.

خو د ادب‌تاريخ، خراساني فکر او ادبي کره‌کتنې د څېړونکو لپاره پر دې مطالبو او اسنادو پوهېدل- که څه هم ستونزمنه خبره وي- اړين دي. بايد وويل شي چې که دا شعر د دې پېر د دري له نورو راپاتې آثارو سره پرتله کړو او هغه بيا د پنځمې او شپږمې پېړۍ د آثارو او بوللو په کتار کې ودروو، نو ورته‌والی يې د دويمې پېړۍ د څو راپاتې آثارو په پرتله له وروستيو يادو شويو آثارو سره ډېر دی. همدا رنگه هغو کسانو چې د لومړۍ ډلې د نيوکو په رد کې يې خپل دليلونه ويلي، د قضيې د اصل پر سموالي او ناسموالي نه دي رغېدلي، بلکې د بلې د ملامتونې لپاره يې ملامتوونکي دلايل وړاندې کړي دي، نه قانع کوونکي. پر دې بنسټ تر هغۀ چې په دې اړه بله بهرنۍ ثابته قرينه تر لاسه نۀشي، په ډاډ سره څه نۀشي ويل کېدای.

هدايت د عباس مروزي د مړينې نېټه ۲۰۰س= ۸۱۵ ز کال ليکلی او د هغۀ دا بيت يې راوړی دی:

معـذور کـن ای شـيخ کـه گسـتاخی کـردم
زيـرا کـه غـريبم مـن و مجـروحم و خسـته[2]

---

[1] - د همايي له تاريخ ادبيات څخه لنډيز ۲/ تر ۵۰۴ وروسته.

[2] - مجمع‌الفصحاء ۱۳۱/۱، د تهران چاپ، ۱۳۳۶ل.

### حنظله بادغیسی:

بل شاعر چې زمونږ د بحث لاندې پېر په وروستیو پورې اړه لري، د هرات د شمال لوېدیځ د خُجُستان حنظله بادغیسی دی، چې د ۲۰۰س= ۸۱۵ ز شاوخوا یې ژوند کاوۀ. محمدعوفي هغه د طاهریانو د پېر (۲۰۵- ۲۵۹س) خوږژبی شاعر ګڼلی او د هغۀ دا دوه بیته یې راوړي دي:

یارم سپند اگر چه بر آتش همی فگند از بهر چشم، تا نرسد مر ورا گزند
او را سپند آتش، ناید همی بکار با روی همچو آتش و با خال چون سپند[1]

نظامي‌عروضي سمرقندی‌هم د هغۀ دوه بیته داسې رااخلي، چې احمد بن‌عبدالله خُجُستانی خرکار سړی و. یوه ورځ یې د بادغیس په خجُستان کې د حنظله بادغیسي دیوان لوستۀ، چې دې دوو بیتو ته ورسېدۀ:

مهتری گربکام شیر در ست شو خطر کن[2] زکام شیر بجوی
یا بزرگی و عز و نعمت و جاه یا چو مردانت مرگ رویا روی[3]

د دې دوو بیتونو لوستلو د احمد په زړۀ کښې یوه داعیه راپوته کړه، خرۀ یې وپلورل او ځان یې لوړو پوړیو ته ورساوۀ.[4] د دې روایت پر بنسټ حنظله بادغیسي باید تر۲۶۲س= ۷۸۵ ز کال‌د مخه- چې‌د خپلو مریانو په‌لاس په‌نیشاپور کې د خجستاني د وژنې کال دی- ژوند کړی وي،[5] چې د مړینې نېټه یې هدایت ۲۱۹س= ۸۳۴ ز ښودلې ده.[6]

حمدالله مستوفي (۷۳۰س=۱۳۲۹ز) د دې داستان د رامنځ ته کېدو، د حنظله د بیتونو اورېدو او له امله یې د هڅېدو نسبت د ساماني پاچاهانو نیکۀ سامان ته کړی دی.[7]

---

[1] - لباب‌الألباب ۲/ ۲۴۱ د استاد نفیسي چاپ، تهران ۱۳۳۵ل.

[2] - خطر: قدر، لویي، عظمت، آفت، کړاو (برهان قاطع ۲/ ۷۵۸)

[3] - مخامخوالی: مقابل، مخامخ.

[4] - چهار مقاله ۴۲ د ډاکټر معین چاپ، تهران ۱۳۳۳ل.

[5] - ابن اثیر ۷/ ۱۲۰.

[6] - مجمع‌الفصحاء ۲/ ۶۰۰.

[7] - تاریخ گزیده ۳۷۶، د تهران چاپ، ۱۳۳۹ل.

دا سامان د بلخ د سامان کلي دهقان و[1] چې سامانخدات یې بالۀ او د بلخ د حاکم اسد بن‌عبدالله قسري (۱۰۸- ۱۲۰س) هممهالی و.[2] څرنگه چې د حنظله مړینه ۲۱۹س= ۸۳۴ ز لیکل شوې ده؛ نو لیرې نه ده چې بلخي سامان خدات د حنظله دا شعر اورېدلی وي.

په هر حال باید وویل شي چې: د حنظله دا شعرونه ډېر پاخۀ او فصیح برېښي؛ نو باید تر دې د مخه په دري ژبه کې پخې ادبي مخینې موجودې وي، چې د حنظله په پېر کې دري شعر د پخلي دې پوړ ته رسېدلی وي.

**محمود وراق هروي**

د درېیمې لېږدې پېړۍ د دري او عربي د غبرگژبو شاعرانو او د اسلامي پېر د لومړیو معلومو پخوانیو شاعرانو له پوړه محمود بن‌حسن هروي دی، چې د صحافۍ او کتابپلورنې دنده یې درلوده. د زهد، آدابو او ورمونو په اړه ډېر شعرونه لري. ابوبکر بن‌ابي‌الدنیا، ابوالعباس بن‌مسروق او نور ویناوال له هغه څخه روایتونه کوي. د معتصم په خلافت (۲۱۸-۲۲۷س) کې مړ دی. وایي هغۀ وینځه درلوده او معتصم هغه په اووه زره دیناره پېرله خو وراق هغه ونه پلورله. کله چې هغه مړ شو؛ نو خلیفه هغه د وراق له میراثخورو په اووه سوه دیناره وپېرله.[3]

منهاج سراج وایي چې: د محمود وراق وینځه راتبه نومېده، د خراسان پاچاه (۲۴۸- ۲۵۹س) محمد بن‌طاهر د هغې پېرنې ته لېوال شو؛ خو چې له محمود سره یې د وینځې مینه ولیده، هغه یې له څوارلس همیانیو سپینو زرو سره هغه ته وبخښله.[4]

هدایت د محمود د مړینې‌نېټه ۲۲۱س= ۸۳۵ ز[5] ابن‌شاکر کتبي[6] ۲۳۰س=۸۴۱ ز او

---

[1] - سنی‌ملوک‌الأرض ۱۵۰.

۲ - تاریخ بخارا ۹۰.

[3] - الأنساب، د سمعاني ۵۸۰.

[4] - طبقات ناصري ۱/ ۳۳۴، د حبیبي چاپ.

[5] - مجمع‌الفصحاء ۳/ ۱۱۸۴.

[6] - فوات‌الوفیات ۲/ ۲۸۵.

زرکلي د ۲۲۵س= ۸۳۹ ز شاوخوا ليکلې ده.[1] په هر صورت د ۲۰۰س= ۸۱۵ز شاوخوا يې ژوند کاوهٔ. عربي شعرونه يې المبرد په الکامل، ابن‌شاکر په فوات‌الوفيات او خواجه عبدالله انصاري هروي راوړي دي، چې زياتره ورمونه او وعظونه دي، لکه دا شعر:

تعصـى إلا لـه وأنـت تظهـر حبـه    هـذا محـال فـى القيـاس بـديع
لوكــان حبـك صــادقاً لأطعتــه    إن المحـب لمـن يحـب مطيـع[2]

«دا هېښنده خبره ده، چې د څښتن له مينې څرگندونې سره هم د هغهٔ له امرونو سرغړونه وکړې! که په دوستۍ کې رښتينی وای؛ نو هرومرو دې د هغهٔ منل، ځکه محب تل محبوب ته غاړه پسته وي.» وايي زمانه د ارهټ منگوټی دی:

الــدهر لايبقــى علــى حالــة    لكنــــه يقبــــل أو يــــدبر
فــــإن تلقــــاک بمكروهــــه    فاصــبر، فـإن الـدهر لايصـبر[3]

«زمانه په يو حال نه پاتېږي، کله يې مخه وي او کله شا، نو که دربانديې ترخه شوه، له زغمه کار واخله! ځکه زمانه په خپله ټيکاو نه لري.»

د محمود هروي له دري اشعارو څخه دا دوه بيته د هدايت په وسيله موږ ته رارسېدلي دي:

نگارينـــا بنقـــد جانـــب نـــدهم    گرانـــی در بهـــا، ارزانـــت نـــدهم
گرفتســـتم بجـــان دامـــان وصـــلت    نهم جان از کف و دامانت ندهم[4]

پټه دې نه وي چې هدايت ښهٔ تاريخي کتاب د همدې محمود وراق هروي گڼلی دی[5] خو دلته هغه او د سلطان مسعود غزنوي د پېر مؤرخ او مؤلف محمود وراق- چې د بيهقي هممهال و- سره گډ شوي دي،[6] په داسې حال کې چې د دې دوو همنومو وراقو په منځ کې تر دوو پېړيو زيات واټن و.

---

[1] - الأعلام ۸ /۴۲.
[2] - طبقات‌الصوفيه، د انصاري ۳۰.
[3] - فوات ۲ /۲۸۶ او مصباح‌الهدايه ۴۰۹ چې دا بيتونه يې د رابعې بللې دي.
[4] - مجمع‌الفصحاء ۳/ ۱۱۸۴.
[5] - پورتنی کتاب.
[6] - تاريخ بيهقي ۱/ ۲۶۱.

## نقلي او عقلي علمونه

زمونږ موخه په دې بحث کې په عقلي او نقلي علمونو کې د افغانستان د وضعې روښانول دي، چې د اسلام له دين سره په عربي نړۍ کې دود او په گرده اسلامي نړۍ کې په عربي ژبه خپاره شوي دي.

د اسلام په راتگ سره عربو په عقلي او فکري ژوندانهٔ کې پر نوي پړاو پل کښېښود او له هغو قوانينو سره سم چې د بشري عقل د لوړتيا لپاره دي، د اوهامو او خرافاتو د ژر رښتيا گڼلو او منلو له پړاوه- چې د عقلي لوړتيا لومړی پېر دی- د شک او بحث پېر ته- چې دوهم پړاو دی- رسېدلي وو. کله چې اسلام راغی، نو د عقلي لوړتيا درېيم پوړ يعنې د گروهې او ايمان پېر ته ورسېدل. بيا د عباسيانو پر مهال د عقل پېر پيل شو،[1] چې په راتلونکو مخونو کې پرې بحث کوو.

د اسلام څلا پر مهال په افغانستان کې د کرکو، کړنو او انگېرنو پېر خپل وروستي بريد ته رسېدلی و، هغه اوضاع چې هيونڅانگ او نورو سيلانيانو د دې خاورې په بودايي عبادتځيو او نورو سيمه‌ييزو دينونو کې وليده او په خپلو يادښتونو کې يې وليکله، د مسخ شويو ديني گروهو له کيسو ډکه ده.

دلته د بېلگې په توگه د ننگرهار سيمې د ديني گروهو وضع د چينايي سيلانيانو د ويناوو پر بنسټ څېړو:

شي فاهيان د ۴۰۰ز شاوخوا په هډه کې د بودا د کوپړۍعبادتځي تر ليدو وروسته د اوسني جلال‌آباد شاوخوا د نگاراهار (ننگرهار) پلازمېنې ته راورسېد. هغه د غرهٔ په سوېل لوېديځ کې يوه تيږنه سمڅه وليده، چې د هغه مهال د وگړو په گروهه

---

[1] - احمد امين په ضحی‌الإسلام ۲ /۴ د عقلي پرمختگ دا مراتب يې د ډراپرDRAPER له تأليف: د علمي پرمختگ تاريخ، څخه راخيستي دي.

بودا په کې خپل سیوری پرېښی و. له لس گامه واټنه په دغې سمڅې کې کټ‌مټ د بودا رښتینې څېره له نخښو، ځانگړنو او طلایي رنگ سره لیدل کېدهٔ؛ خو چې ورنږدې کېدې به نو دغه څېره به تته او ورکېده. همدا رنگه فاهیان په شمال ختیځ کې د وادۍ په ننوتځي (غالباً لغمان) کې د بودا د امسا عبادتځی (وهار) لیدلی. امسا د صندل د لرگي و او سر یې تقریباً ١٦ فټه اوږد د غویي غوندې و. هغه یې د لرگي په تېکي کې ځای پر ځای کړې وه. زرو کسانو هغه نه شوه خوځولای!!![1]

تر شي فاهیان وروسته بل چینایي سیلاني سونگ‌ین په ۵١٨ز کې د همدې ننگرهار خاورې ته ورسېد، هغهٔ هم په هډه کې د بودا د کوپړۍ عبادتځی ولیدهٔ او د کیکالام KI-KA- LAM (غالباً د لغمان مهترلام) عبادتځي ته راغی چې په هغهٔ کې د بودا یوه دیارلس ټوټه‌یي چپنه KASHAYA او تقریباً ١٦ فټه اوږده امسا وه. دا چپنه د کچلو پر مهال کله اوږدېده او کله لنډېده (!!!) امسا چې په طلایي لرگین تېکي کې وه وزن یې معلوم نه و، ځکه کله به دومره درنه وه چې سلو کسانو هم اوچتولای نه شوه او کله به دومره سپکه وه چې یوهٔ کس به هم اوچتوله. د بودا د سیوري دا یې گوپاله GOPALA سمڅه بلله. چې د غرهٔ سمڅې ته ١۵ فټه وردننه او ورهٔ ته مخامخ لوېدیځ اړخ ته به وکتل شول، د بودا څېره به له خپلو ځانگړو نخښو سره راڅرگندېده، چې ورنږدې کېدې به نو خړېده او ورکېده به. په هغه ځای چې به دې لاس واههٔ چې د بودا څېره به په کې راڅرگند شوې وه، بې له دېوال په کې بل څه نه وو. که بېرته به په شا ترې تللې، نو بیا به د بودا څېره راڅرگندېده. تر ټولو د مخه به یې د وروځو د منځ نخښې ته پام وراوښت، چې په خلکو کې ډېره لږه ده.

د بودا د سیوري دا سمڅه او گوپاله‌عبادتځی د هیونځانگ تر پېر (۹س) شاوخوا پورې هم موجود وو؛ خو په دې وخت کې یې ننوتځی تنگ او په خپله سمڅه تیارهٔ وه. هیونځانگ وایي په پخوانیو پېرونو کې چې د بودا څېره دلته لیدل کېده، ډېره روښانه وه او د بودا د څېرې ځانگړنې یې درلودې؛ خو وروسته وگړو هغه د پخوا غوندې ونه لیده او اوس یې یواځې سیوري ته ورته څه ښکاري.

[1] - سي. یو. کی، ١۹ د فاهیان د سفر برخه.

هیونڅانګ د دې سمڅې د پیدایښت لامل هم داسې شرحه کوي،چې د بودا د ژوندانهٔ پر مهال یو شپون و، پاچاه ته به یې پېروی او شیدهٔ راوړل، یو ځلې یې را نه وړل؛ نو پاچاه وراټهٔ. هغه د ګاندې ډاډ ستوپې ته راغی، ګل یې کښېښود او دعا یې وکړه چې ښامار شي او له پاچاه غچ واخلي. شپانهٔ ځان د غرهٔ له ګړنګه کښته وغورځاوهٔ، نو ومړ، د مست ښامار په بڼه واوښت او دا سمڅه یې ونیوه؛[1] خو بودا تاتهاګاتا[2] په خپل روحاني ځواک سره له منځني هنده دلته راغی، ښامار یې له خپل پوپناه کوونکي یینګه واړاوهٔ او له هغه یې د رښتیني قانون د ساتنې او دفاع ژمنه واخیسته. ښامار ترې غوښتنه وکړه چې په دې سمڅه کې د خپلو پلیونو د لارښوونې لپاره تم شي؛ خو تاتهاګاتا وویل چې: خپل سیوری به هلته پرېږدي او که په زړهٔ کې دې بد یینګ راپیدا شهٔ، دې سیوري ته وګوره! چې هغه یینګ لیرې شي (!!!) [3]

دا دې هغه څه چې درې کسو چینایانو د بودا د سیوري د دې له خرافاتو ډک عبادتځی او د هغهٔ د خارق‌العاده او د فطرت له قوانینو د لیرې پیدایښت د څرنګوالي په اړه لیکلي دي. د بودایي چینایي سیلانیانو له ټولو روایتونو څرګندېږي چې په هغهٔ وخت د ټولنې پر ذهنونو او عقلونو ژرمنلو او اوهامو منګولې ښخې کړې وې. بودایي راهبان او نور دیني مشران د دې خاورې په زښتو زیاتو عبادتځیو کې د خیراتونو، نذرونو، مالونو او د سیلانیانو د ډالیو په راغونډولو بوختېدل. خو د اسلام تر خپرېدو پخوا د شک، څېړنې او پلټنې پېر هم پیل شوی و، په تېره له تخارستانه د آریایي نژاده سپینو هونانو یرغل تر ۵۰۰ ز وروسته دنیا شا کړیو بودایانو ته ټکان ورکړی و. مور پوهېږو چې نوموړي هفتلي پاچاهان پر بودایي دین ګروهمن نه وو او په کابل او ګندهارا کې یې د دې دین د پلیونو عبادتځي لهمنځه وړي وو. څرنګه چې په ۱۳۴س= ۷۵۱ز کې ووکنګ چینایي له ختن څخه ګندهارا ته راورسېدهٔ، هلته یې ولیدل چې د دربار ټول غړي،

[1] - د جلال‌آباد شمال لوېدیځ لور ته د کابل سیند پر ختیځه څنډه درونټې بند ته نږدې د بحرآباد په شګلنو غونډیو کې ډېر سمڅې شته؛ نو ښایي چې د بودا د سیوري سمڅه هم دلته وه.

[2] - په سنسکرېت کې تاتها د پلار او سپېڅلي+ ګاتا د شخص معنی لري، یعنې ټول به سپېڅلی شخص وي (هندوستانی (هندوستانی قاموس)

[3] - سي. یو.کی، ۱۴۷.

ملکه او د هغې وزیران د هغو عبادتځیو په بیارغونه بوخت دي چې هفتالیتو (هیاطله‌وو) ویجاړ کړي وو.[1]

د بودایي دین داسې ماتې او هغو ویجاړیو چې مهراکولا او نورو هفتلي پاچاهانو په گندهارا، کشمیر او هند کې وکړې، د افغانستان بودایي وګړو ته ټکان ورکړ، نو وینو چې خپل شړیدلي دین او خپلې بدې ټولنیزې او اروایي وضعې ته یې د شک او ناخوښۍ په سترګه کتل. د کتاب په لومړي څپرکي کې چې د زابلي رتبیلانو په اړه مو خبرې کولې او بیا د همدې څلورم څپرکي د دولتي تشکیلاتو په برخه کې مو د بلاذري په حواله سوبمنو عربو ته- چې د اسلام پیغام یې په زور، کوټلتیا او غوره صفاتو سره راوړی و- د رتبیل کلکه لېوالتیا وښودهٔ.

د اسلام خپرېدو او عامېدو په افغانستان کې، فکرونه له خپل پخواني تګلوري اړولي وو، یوهٔ عربي ژبي خراساني شاعر اسحاق سغدي خریمي (وګ: د کتاب د لیکلړ له مخه همدا کلمه) چې پر عجمي نژاد په ویاړلو سره مشهور و، خو بیا هم د څېړنې له پېره د ایمان او یقین پېر ته ننوتی او په هغهٔ شعر کې چې د خپلو عجمي نیکونو او بلخ و مروې په سپرو- چې اصلیت او نسب یې درلود- ویاړي او داسې وایي:

ملکنا رقاب الناس فی الشرک کلهم    لنـا تـابع طـوع القیـاد جنیـب
فلما أتـی الإسـلام و إنشـرحت لـه    صـدور بـه نحوالأنـام تنیـب
تبعنـا رسـول‌الله حتـی کأنمـا    سـماء علینـا بالرجـال تصـوب[2]

«موږ د شرک پر مهال هم د وګړو واکمن وو او راته ایل وو، کله چې اسلام راغی او د وګړو ټټرونه یې پراخ کړل، نو د الله د رسول لاره مو ونیوه.»

د ګروهې او ایمان پېر افغانستان ته د مسلمانانو له راتګ سره د لومړۍ لېږدې پېړۍ له لومړۍ نیمایي څخه پیل او د اسلام دین په ډېرې چټکۍ سره خپور شو. پر ټولو ټولنیزو مسایلو- له هغې جملې پر علم- یې اغېز وکړ. د اموي پېر تر پای دین د ټولو علمي خوځښتونو بنسټ و. غزاګانې، نبوي سیرت او اسلامي سوبې د تاریخ بنسټونه شول. قرآن او حدیثو اسلامي فقه رامنځ ته کړه او مسلمان پوهان د دین له

[1] - تمدن ایرانی ۴۰۳ د رنه ګروسه مقاله.

[2] - ضحی‌الإسلام ۱/ ٦٥.

لارې د تفسير، حديثو او فقهې په ترتيب بوخت شول. هغوی په بشپړ ايمان سره بې د شک او دوه لارې له مجاله، د نصوصو د ګونګتياوو تفسير، د احاديثو راغونډولو او له قرآن او حديثو د احکامو راايستنې او د هغو تطبيق ته ملا وتړله.[1]

مسلمانو ليکوالو هغه علمونه چې له قرآنکريم سره نښتي دي، نقلي يا شرعي او هغه چې عربو له نورو څخه اخيستي دي، عقلي يا حکمي علمونه نوملي دي.

نقلي علمونه دا وو:

د قرائت، تفسير، حديثو، فقهې، نحوې، ژبې، ادب، سيرت او غزاګانو علم.

خو عقلي علمونه دا دي:

فلسفه، هندسه، ستورپېژندنه، موسيقي، رنځپوهنه، کوډې، کېميا، تاريخ او جغرافيا.[2]

## په نقلي علمونو کې د خراسانيانو ونډه

له هغه ځوړ سره چې د اسلام څلا ته نږدې د دې خاورې د وګړو په زياترو ټولنيزو او فرهنګي چارو کې رامنځ ته شوی و او په تېرو کرښو کې مو پرې رڼا واچوله، بيا هم ځينې پخواني فرهنګي آثار پاتې او خراسانيان د خپل پېر له علمي ژوندانۀ سره اشنا وو. د ساري په ډول هغه مهال چې کابلشاهانو د خپل ځوړ او ماتې وروستي پړاوونه وهل، بيا هم د دې پاچاهانو په دربار کې د علمي خوځښت او فکري ژوندانۀ نخښې تر سترګو کېدې، لکه البېروني چې وايي: د کابلشاه د دربار له پوهانو څخه يو اندپاله بنجيه‌پاله، چې اوګره‌بوت نومېدۀ او د پاچاه مؤدب و، په ستورپوهنه کې يې د شکهت‌پرت په نامۀ يو کتاب تأليف کړی و.[3]

ابن‌طيفور د بغداد په تاريخ کې روايت کوي: د عباسي پېر مشهور شاعر عتابي (د برمکيانو ستايوال ۲۰۸س= ۸۲۳ مړ) ووېل چې: د عجمو له کتابونو د نقل اخيستلو لپاره د مروې په کتابتون کې وم، دا کتابتون د يزدګرد له پېره تر اوسه شته، د عجمو په کتابونو کې معاني شته، ژبه زموږ او معاني د هغو دي.[4]

---

[1] - ضحی‌الإسلام ، ۲ /۸.

[2] - حسن ابراهيم حسن در تاريخ الإسلام السياسي ۱ /۳۸۵.

[3] - کتاب‌الهند ۱۰۵.

[4] - ضحی‌الإسلام ۱/ ۱۸۰، د طيفور د تاريخ بغداد په حواله ۷ /۱۵۷.

عتابي درې ځله عجمي سيمو ته سفر وکړ، د مروې او نيشاپور کتابتونونه يېولوستل، پرېمانه ژبنيتأليفات لري. د مامون په پېر کې يې د عبدالله بن‌طاهر پوشنګي دربار ته پناه وړې وه.[1]

دا چې د ۲۰۰س=۸۱۵ ز شاوخوا هم په مروه او نيشاپور کې پخواني کتابتونونه موجود او خوندي وو، دا په دې دلالت کوي چې له علم و پوهې سره د وګړو مينه وه.

نو خراسانيان او د افغانستان وګړي د اسلامي نقلي علمونو په رامنځ ته کولو کې ځرګنده او درنه ونډه لري. هغوی يا په عربي کورنيو او هېوادونو کې روزل شوي مريان وو او يا هم هغه کسان وو چې د دې خاورې په ښارونو او کليو کې مېشت وو او له اسلامي نقلي علمونو يې بشپړه ګټنه کړې وه.

**د قرأتونو علم**

ځرنګه چې قرآن‌کريم د مسلمانانو د ټول ژوندانۀ بنسټ و، له دې امله يې د هغه يادولو، تدوين او لوستلو ته پاملرنه وکړه. تر هغۀ وروسته چې عثماني مصحف- په هغه ترتيب اوس هم شته- د درېيم خليفه حضرت عثمان په امر د اعتمادي نسخو له مخه راټول شو، هغه يې د قريشو له عربي لهجې سره سم وکېښې[2] او نورې نسخې يې د هغۀ په امر وسوځولې.[3]

د عثماني مصحف ترتيب شوې نسخې اسلامي ښارونو او هېوادونو ته ولېږل شوې، په لږ وخت کې د هغو سيمو وګړي په لوستنه کې په هغو قاريانو پسې شول چې باوري وو، نو دا لوستنې مشهورې شوې او اووه (يا لس) ډوله لوستنې ترې رامنځ ته شوې او امامان يې دا وو:

**په مدينه کې**

۱- نافع بن‌ابي رويم عبدالرحمن (۱۶۹س= ۷۸۵ز په مدينه کې مړ)

۲- يزيد بن‌قعقاع مخزومي (تابعي او مجتهد مفتي ۱۳۲س په مدينه کې مړ).

---

[1] - برو کلمان در تاريخ ادب عرب ۲ /۳۶.

[2] - تاريخ الإسلام السياسي ۱/ ۳۸۸.

[3] - ابن اثير ۳/ ۴۶.

**په مکه کې**

۳- عبدالله بن‌کثیر مکي (د مکې قاضي او هم هلته زوکړی او مړ ۴۵- ۱۲۰س)

**په بصره کې**

۴- ابوعمرو زبّان‌بن‌علاء‌عمار‌تمیمي‌بصري (زوکړه مکه ۷۰ س، مړینه کوفه ۱۵۴ س)

۵- یعقوب بن‌اسحاق خضرمي (زوکړه اومړینه په بصره کې۱۱۷- ۲۰۵س)

٦- عبدالله بن‌عامر شامي د دمشق قاضي (زوکړه بلقاء ۸س مړینه دمشق ۱۱۸س)

**په کوفه کې**

۷- عاصم بن‌بهدله ابي النجود کوفي (مړینه کوفه ۱۲۷س)

۸- حمزه بن‌حبیب زیات تمیمي (زوکړه ۸۰س، مړینه په حلوان کې ۱۵٦س)

۹- علي بن‌حمزه کسایي عجمي (زوکړه د کوفې په یوهٔ کلي کې، مړینه ری ۱۸۹س)

۱۰- خلف بن‌هشام بزاز اسدي (زوکړه ۱۵۰س، مړینه په بغداد کې ۲۲۹س) [1]

د مصاحف قرائتونو امامان دا لس کسان وو، چې د ادب، علم او تقوا ډېر لوی نومیالي ګڼل کېدهٔ. د خراسان عالمانو او قاریانو هم له هغوی څخه د قرآن قرائت زده کړی او د سم قرائت په خپرولو کې یې ونډه اخیستې ده، لکه:

**ابن‌راهویه مروزي**

اسحاق بن‌ابراهیم بن‌مخلد حنظلي په ابن‌راهویه مشهور د اسلام له لویو حافظانو- محدثانو او د مروې له وګړو څخه و. په ۱٦۱یا ۱٦٦س کال وزیږېد، د احادیثو د زده‌کړې لپاره یې عراق، حجاز، شام او یمن ته سفرونه وکړل. امام احمد حنبل، امام بخاري، مسلم، ترمذي، نسایي او نورو له هغه څخه احادیث زده کړل. په زهد، رښتینولی، حفظ، فقه او حدیثو کې مشهور و. دارمي وایي د ختیځ او لوېدیځ په وګړو کې په رښتینولۍ کې ممتاز و. د تصانیفو څښتن دی، په نیشاپور کې مېشت او په ۲۳۸س= ۸۵۲ز کال کې هم هلته ومړ.[2] هغه په قرائت کې د کسایي پلیونی او راوي دی.[3] په احادیثو کې مسند لري، بروکلمان وایي چې

[1] - تاریخ‌التمدن الإسلامی ۳/ ٦۱ او د زرکلي الأعلام.

[2] - الأعلام ۱/ ۲۸۴.

[3] - الفهرست ۴۵.

خطي څلورم ټوک يې په قاهره کې شته.[1]

## ابن‌سلام هروي

ابوعبيد قاسم بن‌سلام هروي خراساني چې د حديثو، ادب، فقهې او قرائت له ډېرو لويو عالمانو څخه دی، په ۱۵۴س= ۷۷۰ز کې په هرات کې وزېږېد، هم هلته يې درس ووايهٔ او په بغداد کې مېشت شو. په طرسوس کې ۱۸ کاله قاضي و. په ۲۱۴س کال کې مکې ته لاړ او په ۲۲۳س= ۸۳۷ز کال کې هلته ومړ.[2] هغه هم د کسايي قرائت له خپروونکو څخه دی؛ خو په څو تورو کې له هغهٔ سره موافق نه دی.

ابن‌سلام هروي د عبدالله بن‌طاهرپوشنګي له درباريانو څخه و، چې د هر کتاب د تأليف په بدل کې يې ترې لس زره درهمه جايزه اخيسته. هغه لومړنی کس دی چې د غريبو حديثو په علم کې يې کتاب وکېښ. د مصر د ازهر په کتابتون کې يې تر ټولو پخوانی خطي نسخه شته چې په ۳۱۱س= ۹۲۳ز کال کې ليکل شوې ده. د ليدن، د استانبول د کوپريلي، رامپور او سند په کتابتونو کې يې نورې خطي نسخې هم شته.

له نورو آثارو څخه يې- چې ابن‌نديم يې په الفهرست کې شمېر ۷۱ ټوکه ګڼي- دا کتابونه پاتې دي:

۲- کتاب الاجناس من کلام العرب: چې په خپله ابوعبيد له پخواني کتاب څخه رااېستی او خطي نسخې يې په لندبرګ، قاهره او د هند په رامپور کې شته.

۳- غريب‌المصنف: په څلوېښت کالو کې دوه ټوکه تأليف شوي او زر څپرکي لري. پر موضوعاتو مرتب د عربي لومړنی لوی فهرست دی، چې خطي نسخې يې په اياصوفيه، قاهره، اسکوريال او د استانبول په فاتح او دامادزاده کتابتونو کې شته.

۴- کتاب‌الامثال: چې د ابن‌خالويه (۳۷۰س= ۹۸۰ز مړ) په روايت په کوپريلي کې پر ۱۲۹۱، په پاريس کې پر۳۹۶۹، په موصل کې پر۲۰۶، د برتانيا په موزيم کې پر۹۹۵ ګڼه او د هند په رامپور کې خوندي شته. د هغه د شاګرد علي بن‌عبدالعزيز په روايت بله نسخه يې په مانچستر کې پر ۷۷۳ او په اسکوريال کې پر۱۷۵۷ګڼه د

[1] - تاريخ ادب‌العرب، ۳/ ۱۵۷.

[2] - ابن قتيبه وايي په ۲۲۴س په مکه کې مړ دی (المعارف ۵۴۹، د قاهرې چاپ، ۱۹۶۰ز).

مؤلف په لیک او همدا رنگه په قاهره کې شته، چې لنډیز یې له تحفةالبهیة کتاب سره په ۱۳۰۲س په استانبول کې چاپ شوی دی. برتو هم هغه په ۱۸۳٦ز کې په گوتینگن کې چاپ کړی دی. البکري پر کتاب الامثال د فصل‌المقال په نامهٔ شرحه لري، د اسکوریال خطي ۵۲٦ او د استانبول د فاتح کتابتون ,۴۰۱۴

۵- فضائل القرآن و آدابه: د برلین خطي۵۴۱ او ټوبنگن ۹۵، چې په اسلامیکا مجله کې (٦ /۲۳) د ایزن او پرتسل له خوا خپور شوی دی.

٦- کتاب الایضاح: د فاس قرویین خطي ,۱۱۸۳

۷- خلق الانسان و نعوته: د طبقبو خطي ,۲۵۵۵

۸- کتاب الاضداد والضد فی اللغة: د استانبول د عاشر افندي خطي ,۸۷۴

۹- کتاب‌النعم و البهایم و الوحش والسباع... د بیروت د ختیځ پوهنځي په مجله کې د بویجس چاپ ۱۹۰۸ز.

۱۰- کتاب فی الایمان و معالمه و سننه و استکماله و درجاته: د دمشق په ظاهریه کتابتون کې ۳۷/ ۱۱٦ /۴,

۱۱- کتاب الخطب والمواعظ: په لیزیک کې ,۱۵۸

۱۲- کتاب فعل و أفعل: په قاهره کې۳۵/ ,۲۸۱

۱۳- کتاب الأموال: چې د حدیثو او فقهي مذاهبو پر بسټ د زکات او خراج مسایل په کې دي، په قاهره کې د محمد حامد چاپ ۱۳۵۳س د دمشق د عامه کتابتون د خطي نسخې له مخه.

۱۴- رسالة فیما اشتبه فی اللفظ و اختلف فی المعنی: د هند رامپور,۵۱۰

۱۵- البلوي په الف باء کتاب ۲ /۲۷ کې د ابوعبید له آداب الاسلام کتاب څخه مضامین راخیستي دي.

۱٦- په لسان‌العرب کتاب ۷/ ۲٦۳ کې ابوعبید له ما خالف فیه‌العامة کتاب څخه مضامین رااخلي.

۱۷- په صبح الاعشی ۴ /۹۲ کې د هغه د فضائل‌الفرس مطالب رانقل شوي دي.

۱۸-د سبکي په طبقات‌الشافعیه ۱/ ۲۷ کې د هغه له معانی‌الشعر کتابه راخیستنې شوې دي.

۱۹- د سیوطي په المزهر ۲ /۲۷٦ کې د هغه له مقاتل‌الفرسان کتاب څخه مطالب رااخیستل شوي دي.

۲۰- ابوعبید ته په منسوبه یوه ټولګه کې د «ما ورد فی القرآن من لغات القبائل» په اړه مطالب د هغه له ورک کتاب غریب‌القرآن څخه اخیستل شوي او د عبدالعزیز الدیریني۶۹۴س=۱۲۹۵ز مړ د کتاب‌التیسیر پر څنډو په قاهره‌کې‌چاپ‌دي ۱۳۱۰س.[1]

د ابن‌سلام د دې آثارو له مخه پوهېدای شو چې هغه یواځې د قرآن قاري او راوي نه و، بلکې په ټولو نقلي علمونو یعنې عربي ژبې، حدیثو، تفسیر او فقهه کې استاد و. له همدې امله د هغه وطنوال پاچاه عبدالله بن‌طاهرپوشنګي ته تل هغه ګران و او د خپل مهال له ډېرو لوړو عالمانو څخه یې ګاڼه. زرکلي پر نومړو آثارو سربېره، دا کتابونه هم د هغهٔ د آثارو خطي نسخې ګڼلي دي:

۲۱- الطهور په حدیث کې. ۲۲- ادب‌القاضي. ۲۳- المذکر و المؤنث. ۲۴- المقصور و الممدود په قرائت کې. ۲۵- الاحداث. ۲٦- النسب.[2]

### تفسیر

د اسلامي نقلي علمونو تر ټولو مهم د تفسیر علم دی، چې په لومړیو دوو لېږدو پېړیو کې د حدیثو د علم جز و. په دې معنی چې په نبوي احادیثو کې ټوله دیني پوهه راتله، د ساري په توګه یوهٔ راوي حدیث روایت کاوهٔ چې په هغهٔ کې فقهي حکم و، په بل حدیث کې د یوې نبوي غزا شرحه، په بل کې د کوم قرآني آیت تفسیر او یا د کوم ټولنیز حالت شرحه ورکول کېده. له دې امله فقه، تفسیر، اخلاق او سیرت ټول د حدیثو د علم جزونه ګڼل کېدهٔ. موږ وینو چې په سته‌صحاحو او د حدیثو په نورو معتبرو کتابونو کې د قرآني آیتونو د تفسیر په اړه ځانګړي بابونه شته او هغه حدیثونه رانغاړي چې د ځینو قرآني آیتونو د تفسیر په اړه په ځانګړو وختونو کې د رسول‌الله ﷺ له خوا ویل او وړاندې شوي دي.[3]

[1] - بروکلمان ۲ /۱۵۵.

[2] - الأعلام ٦/۱۰.

[3] - ضحی‌الإسلام ۱۳۷/۲

مسلمانانو چې خپله بلنه پیل کړه، د قرآن د معنو په پوهېدنه کې یې ستونزه نه درلوده، ځکه وحی د هغوی په خپله ژبه راتله او که کله به هم د معنی، نغوتو او گونګتیاوو په پوهېدو پاتې راتلل، نو له رسول‌اللهﷺ به یې پوښتنه کوله او خپله ستونزه به یې حلوله. دا معلومات له اصحابو څخه تابعینو ته او همداسې سینه په سینه راولېږدېدل.

کله چې د اسلام دین خپور شو او قرآني احکام د هند و مصر تر منځ د مېشتو خلکو د ژوندانهٔ د ټولو مسایلو بنسټ وګرځېد او دا نوي مسلمان قومونه له عربي ژبې سره هم نوي بلد شوي وو، په قرآني آیتونو کې هم ناسخ و منسوخ او مفصل و مجمل موجود وو، شأن نزول یې هم توضیح غوښته؛ نو د دې لاملونو پر بنسټ د تفسیر علم ته سخته اړتیا پیدا شوه.

له پخوانیو تفسیرونو، عبدالله بن‌عباس (٦٨س= ٦٨٧ز مړ) ته منسوب تفسیر دی، چې ځینو مفسرانو د هغهٔ روایتونه د قرآني آیتونو په تفسیر کې راغونډ کړي دي. ابن‌ندیم وایي مجاهد هغه له ابن‌عباس څخه روایت کړي دي او بیا څو نورو کسانو له مجاهد څخه روایت کړي دي.[١] تر ابن‌عباس وروسته نور مفسران، عبدالملک بن‌عبدالعزیز[٢] په ابن‌جُرَیْج مشهور (٨٠- ١٥٠س) اسماعېل بن‌عبدالرحمن سُدّی (١٢٧س مړ) مقاتل بن‌سلېمان (١٥٠س مړ) او نور دي. بیا د امام محمدبن‌جریر طبري (٣١٠ مړ) تفسیرکبیر جامع‌البیان في تفسیرالقرآن دی، چې د څلورمې پېړۍ په منځ د خراسان په بخارا کې د عالمانو له خوا په دري ژبه هم وژباړل شو. (د حبیب یغمایي چاپ، اووه ټوکیز، تهران تر ١٣٣٩ل وروسته).

نو د تفسیر علم چې مسلمانو قومونو ته له ژبنیو، صرفي او نحوي قواعدو سره سم د قرآن د آیتونو په معنی، بلاغت، شأن نزول، مکي او مدني، محکم او متشابه، ناسخ و منسوخ، خاص و عام، مطلق و مقید، مجمل و مفسر، مدلول، احکامو، د تأویل ځایونو، کیسو، وعیدونو او امر و نهې ټاکلو پوهېدل وو،[٣] له اړتیا سره سم د

---

[١] - الفهرست ٥٠.

[٢] - هغه یې په مسلمانانو کې لومړنی مصنف او د آثارو او تفسیر ښښتن بللی دی (قوت‌القلوب ابوطالب مکي ٢ /٣٧).

[٣] - الاتقان د سیوطي، کشف‌الظنون او کشاف اصطلاحات د تهانوي.

پوهانو او مسلمانانو د پام وړ وګرځېد، چې پايله يې د الله د وينا پر معنو او حقايقو، د شرعي احکامو پر رااېستنه او د هغو په وسيله د ژوندانۀ په قوانينو پوهېدنه وه.

د حديثو د علم په شرحه کې مو له خراساني مدرسو د فارغو د دې علم د ډېرو نومياليو، محدثانو او امامانو نومونه ياد کړل، چې هر يوۀ يې د صحاحو او سنتو د معتبرو کتابونو د تدوين او تأليف تر څنګ د قرآن‌کريم د تفسير د پراختيا لپاره هم هلې ځلې کړې دي؛ نو له دې امامانو د هر يوۀ په آثارو کې د الهي کلام د تفسير بابونه هم شته.

د قرآن له ډېرو پخوانيو تفسيرونو څخه يو هم د اماميه‌وو پنځم امام محمدباقر (۵۷-۱۱۴س) بن‌علي بن‌حسين رضي الله عنه ته‌منسوب‌دی، چې‌راوي يې ابوالجارود زياد بن‌منذر (تر ۱۵۰وروسته مړ) د جاروديه زيديه ډلې مشر دی او هغه هم خراسانی و.[1] اسحاق‌بن‌راهويه مروي- چې يادونه يې د قرأتونو په بحث کې تېره شوه- هم يو تفسير درلود.[2] حافظ امام ابراهيم بن‌تهمان‌هرويخراسانی عالم چې د هرات د باشان و (په مکه کې مړ ۱۶۳س= ۷۷۹ز) د حديثو په صحاحو کې ترې روايتونه شوي دي، د حديثو او تفسير له نومياليو او د خراساني مدرسې له استادانو څخه و. عبدالله‌بن‌مبارک مري او نورو مشهورو محدثانو استاد و.[3] هغه د السنن فی الفقه، کتاب المناقب او کتاب العيدين پر کتابونو سربېره د کتاب‌التفسير مؤلف هم دی. حسن بن‌واقد مروي د کتاب التفسير او کتاب الوجوه فی‌القرآن، عبدالله بن‌مبارک مروي د کتاب التفسير، محمد بن‌يوسف فيريابي د کتاب‌التفسير څښتن، ابوالحارث سريج بن‌يونس مروي له لوی محدث او فقيه، د کتاب‌التفسير، کتاب‌الناسخ و المنسوخ او کتاب‌القرآآت مصنف، دغه ټول خراساني مفسران او د دې خاورې د ديني مدرسو شاګردان وو.

د خراسان د ختيځې سيمې او مهران (سند) په ګاونډ کې هم د اسلام په خپرېدا سره، د قرآن‌عظيم تفسير او ژباړه رواج شوې وه. دا فکري خوځښت د هند په لويه وچه کې د اسلامي او خراساني فرهنګي بنسټونو په ټينګښت کې ډېر ګټور شو؛ په

---

[1] - الأعلام ۹۳.

[2] - الفهرست ۳۲۱.

[3] - معجم‌المصنفين ۳/ ۱۶۸.

حدیثو، فقهې، غزاګانو او نورو علمونو کې ډېر سندي نومیالي لومړۍ درجه اسلامي علمي مشاهیر وینو، چې موږ یې په نورو مخونو کې یادونه کړې ده. په درېیمې لېږدې پېړۍ کې په هغې خاورې کې دا بنسټونه په بشپړ ډول ټینګ شوي وو. لکه چې په ۲۷۰س= ۸۸۳ ز کال کې د ارور راجه د منصورې امیر ته خبر ورکړ چې یو کس د اسلامي بنسټونو د زده کړې لپاره د هغهٔ دربار ته ولېږي. په دې وخت کې د خراسان د لوېدیځ یو کس چې سندي یې زده کړې وه موجود و؛ نو د راجه دربار ته واستول شو. هغه د راجه په غوښتنه قرآن‌عظیم په سندۍ ژبه تفسیر او وژباړهٔ. اسلامي عقاید یې هم په سندۍ منظوم او راجه ته وړاندې کړل.[1]

## حدیث

حدیث د اسلامي شریعت دوهم مصدر او تر ټولو مهمو منقولو علمونو څخه یو و. حدیث د حضرت رسول‌الله ﷺ د ویناوو یا کړو وړو راپاتې اثر دی، چې سنت ورته ویل کېږي. تر قرآن‌عظیم وروسته په اهمیت او حُجیت کې دویمه درجه لري.

په نبوي پېر کې د عربي وګړو لویې برخې لوستل- لیکل نه شو کولای، ځکه به یې د پېغامبر ﷺ احادیث خولهٔ په خولهٔ یو بل ته رسول. څرنګه چې یې په زنځیري او دودیز ډول یو بل ته رسول؛ نو لږ اوړون او بدلون په کې راتهٔ، چې ګونګتیا او ابهام به یې رامنځ ته کاوهٔ. دا حال تر دویمې پېړۍ پورې روان و؛ خو په دې وخت کې مسلمانو عالمانو د حدیثو راغونډولو ته ملا وتړله.[2]

وایي اموي خلیفه عمر بن‌عبدالعزیز د ۱۰۰س= ۷۲۸ز شاوخوا ابوبکر بن‌محمد انصاري د مدینې قاضي (۱۲۰س=۷۳۷ز مړ) ته لیکلي وو، چې د خدای د رسول حدیث او سنت هر څه ومومي، هغه دې ولیکي.[3] همدا رنګه ابونعیم روایت کړی چې: عمر بن‌عبدالعزیز د هېواد ټولو ښارو ته امر وکړ چې نبوي احادیث راغونډ کړي؛[4] خو د خلیفه دا هیله د هغهٔ د امارت په لنډ پېر کې پوره نه شوه. د عباسیانو په

---

[1] - الفهرست تر ۳۱۹ وروسته.

[2] - عجائب‌الهند ۳، د لیدن چاپ.

[3] - تاریخ الإسلام السیاسی ۱/ ۳۹۱.

[4] - الموطاء د محمد ابن حسن په روایت.

پېر کې لومړی ځل عبدالملک بن‌عبدالعزیز بن‌جریج رومي په ابن‌جُرَیج مشهور په بغدا کې مړ ۱۵۰س=۷۶۱ز، د مجاهد، عطاء او عبدالله بن‌عباس ملګرو روایت کړي نبوي احادیث په مکه کې راغونډ کړل؛ خو خلیفه منصور ورته جایزه ورنه کړه،[۱] بیا وروسته د احادیثو ډېر کتابونه تدوین شول، چې د دې خاورې پوهو وګړو په تېره خراسانیانو په دې کار کې لویه ونډه درلوده، لکه لاندېنیو:

**عبدالله بن‌مبارک مروي**

د خراسان په مروه کې د محدثانو امام و (۱۱۸- ۱۸۱س) او په خپلو اوږدو سفرونو کې یې احادیث، فقه او عربي زده کړل. لومړی ځل یې کتاب‌الجهاد ولیکهٔ (د لیپزیګ خطي نسخه ۳۲۰). همدا رنګه یې د حدیثو په علم کې د کتاب‌الزهد والرقائق په نامهٔ کتاب لیکلی دی«د لیپزیګ خطي نسخه ۲۹۵ او فاس کتابتون۶۳۴ او د سند کتابتون) [۲].

په مروه کې د ابن‌مبارک مدرسه د لویو محدثانو روزنځی شو، چې دا علم یې په نړۍ کې خپل لوړ پوړ ته ورساوهٔ. د دې مدرسې یو مشهور شاګرد ابن‌راهویه مروزي دی، چې موږ یې یادونه د مخه د قرأتونو علم په بحث کې کړې ده.

**ابن‌معین سرخسي**

خراسانیانو او د مروې مدرسې شاګردانو نه یواځې د مسندونو په لیکلو، احادیثو راغونډولو او د هغو په سمون او کره‌کتنې کې ونډه اخیستې، بلکې د راوي‌پېژندنې په علم- چې د راویانو او محدثانو پېژندنه ورپورې اړه لري- کې یې هم کار کړی. په دې علم کې لومړنی خراسانی لیکوال معین ابوزکریا یحیی بن‌معین مروي دی (۱۵۸- ۲۳۳س) چې په ټوله اسلامي نړۍ کې تر طبقات ابن‌سعد وروسته د محدثانو د ژوندلیکونو د کتاب دوهم لیکوال ګڼل کیږي. له آره د سرخس دی، پلار یې د «ری» د خراج مامور و او پانګه چې یې زوی ته پاتې شوه، ټوله یې د حدیث زده کړې په لاره کې ولګوله. هغه په بغداد کې اوسېدهٔ او په مدینه کې ومړ. له

---

۱ - فجرالإسلام ۲۶۵، د تاریخ اصفهان په حواله.

۲ - الأحیاء د غزالي ۱/ ۱۰۱، تذکرةالحفاظ د ذهبي ۱۵۳/۱ او تاریخ بغداد د خطیب ۱۰/ تر ۴۰۰ وروسته.

عبدالله‌ابن‌مبارک څخه يې حديث واورېدل. له امام احمد بن‌حنبل سره د حديثو په زده‌کړه کې ملګرى او ټولګيوال و. ذهبي هغه د حافظانو مشر او عسقلاني يې د جرحې او تعديل امام ګڼي. ابن‌حنبل وايي چې د حديثو په راويانو کې تر موږ ټولو پوه دى. هغهٔ به ويل: په خپل لاس مې يو مليون حديثونه ليکلي دي. په راويانو کې د هغهٔ له آثارو څخه کتاب التاريخ و العلل (د دمشق ظاهريه نسخه) او معرفة الرجال (د دمشق ظاهريه) راپاتې دي.[١]

**دارمي سمرقندي**

له خراساني پوهانو څخه بل چې د حديثو په علم کې لوړه مرتبه لري، عبدالله بن‌عبدالرحمن دارمي سمرقندي (١٨١- ٢٥٥س) د «سنن دارمي» کتاب مؤلف او د مسلم، ابوداؤد او ترمذي شيخ دى. لنډ مهال په سمرقند کې قاضي هم و. څرنګه چې يې خپل سنن کتاب تر اجتهادي نظر او خپلواکې رأى لاندې ليکلى دى، نو د سته‌صحاحو په لړ کې نه دى راغلى او دومره منل شوى نه دى. د المسندالجامع په نامهٔ د هند په جونپور١٢٩٣س، د دکن په حيدرآباد ١٣٠٩س او ډهلي ١٣٣٧س کې چاپ شوى دى.[٢]

دارمي په حجاز، شام، مصر، عراق او خراسان کې حديث واورېدل. هغه پوه، عاقل، مفسر او فقيه سړى و، چې د حديثو علم يې په سمرقند کې دود کړ. هغهٔ ته د تفسير يو کتاب هم منسوب دى.[٣]

**خلف بن‌سالم سندي**

ابومحمد خلف بن‌سالم مشهور حافظ، لوى محدث او د مهلب کورنۍ له مريانو څخه و. په کوفه او بغداد کې يې له ابن‌سعيد قطان او ابونعيم څخه حديث ولوستل. د حاتم، ابوالقاسم بغوي او عثمان دارمي غونډې شاګردان يې وروزل. امام نسايي په

---

[١] - بروکلمان ١٦١/٣ د ابن‌نديم په حواله ٢٣٣، خطيب ١٤/ ١٧٧، سمعاني ٥٢٥، ابن‌خلکان او تهذيب نووي ٦٢٨، د ابن عماد شذرات ٢/ ٧٩ او نور.

[٢] - بروکلمان ٣/ ١٩٩.

[٣] - الأعلام ٤/ ٢٣٠ د تذکرةالحفاظ په حواله ٢/ ١٠٥، تهذيب‌التهذيب ٥/ ٢٩٤، خطيب بغدادي ١٠/ ٢٩، شذرات ٢/ ١٢٠ او نور.

خپل سنن کې له هغهٔ څخه روایتونه کوي. د ۶۹ کالو په عمر د روژې په ۲۲مه ۲۳۱س= ۸۴۵ ز په بغداد کې ومړ.[۱]

**ابونصر سندي**

نوم یې فتح بن‌عبدالله اصلاً سندی او د حکم کورنۍ مریی و، چې په حدیثو، فقه او فنونو (د وینا علم) کې مشهور شو. حسن بن‌سفیان چې فقیه او متکلم یې لقب و، د هغهٔ استاد و. وایي یوه ورځ یو مست عرب ورته وویل: ای مریی! په څه ناز او نخرو روان یې. ابونصر ورته وویل: ځکه: چې ما ستاسې د نیکونو چلن غوره کړ او تاسو زما د نیکونو.[۲]

**اسرائیل بن‌موسی**

هغه د بصرې عرب، د خراسان د ختیځ اوسېدونکی او له تبع‌تابعینو څخه و، چې له حسن‌بصري، محمد بن‌سیرین، سفیان ثوري او نورو لویو محدثانو څخه یې روایتونه کول. د حدیثو عالمانو هغه ثقه راوي گڼلی. بخاري ترې حدیثونه روایت کړي دي. سمعاني وایي چې ابوموسی اسرائیل هند ته لاړ او په هندي مشهور شو.[۳]

**ربیع سعدي**

شیخ الحدیث ابوبکر ربیع بن‌صبیح سعدي بصري د محدثانو له مخکښانو څخه دی. حاجي‌خلیفه وایي له لومړنیو مسلمانو مصنفانو څخه گڼل کېږي. له حسن بصري، سفیان ثوري، وکیع او نورو لویو عالمانو څخه روایتونه کوي. نېک، ربښتینی، قلندر او مجاهد سړی و. طبري وایي سند ته لاړ او هلته په ۱۶۰س= ۷۷۶ز کال کې ومړ.[٤]

**د خراسانیانو په وسیله د صحاحو تدوین**

د دویمې لېږدې پېړۍ په دویمه نیمایي کې د حدیثو علم په خراسان کې د پخلي او تدوین پړاو ته ورسېد. د راغونډونې، کره‌کتنې، له صحیح د کمزوري بېلونې، د راویانو د تشریح، جرحې او تعدیل کار پرمختگ وکړ او دا مهم کار یې چې د

[۱] - خطیب در تاریخ بغداد ۸/ ۳۲۹.

[۲] - سمعانی در کتاب الأنساب، ۳۱۴ پاڼه.

[۳] - نزهة‌الخواطر ۱/ ۲۳ د تهذیب‌التهذیب، الأنساب د سمعاني او نورو په حواله.

[٤] - نزهة ۳۱/۱ د تهذیب‌التهذیب، کشف‌الظنون او المغنی په حواله.

اسلامي شریعت دوهم مصدر و، تر علمي- کره‌کتنیزو قوانینو لاندې راوست.

تر دغه مهاله د حدیثو او مسنداتو کتابونه په داسې ترتیب لیکل کېدل، چې له هغو د ګټنې لپاره د راوي نوم یادول اړین وو؛ نو عالمانو نوي کتابونه د مراجعینو د اسانتیا لپاره د حدیثو د معنی او مطالبو په ترتیب ولیکل، چې د دې نوي ترتیب لومړنی مؤلف یحیی بن‌زکریا (۱۸۴س= ۷۰۰ مړ، بصره) دی؛ خو کتاب یې نه دی پاتې. په دې اړه تر ټولو پخوانی اثر د عبدالله محمد بن‌ابي شیبه (۲۳۵س= ۸۴۹مړ) دی.[1]

د دویمې پېړۍ په وروستیو او د درېیمې پیل - چې په دې کتاب کې زموږ تر بحث لاندې زمانې پای ده- په خراسان کې د حدیثو د تدوین او کره‌کتنې خوځښت خپل لوړ پوړ ته رسېدلی و. په ټوله اسلامي نړۍ کې خراساني عالمان په دې کار کې استادان، څېړونکي او د پاخهٔ لاس خاوندان وو. موږ وینو چې د درېیمې لېږدې پېړۍ په لومړۍ نیمایي کې دا فکري او تشریعي خوځښت ډېرې روښانې پایلې لري. یعنې د صحاح‌حدیثو کتابونه د خراساني عالمانو له خوا تألیف او تدوین شول، چې په ټولو اسلامي هېوادونو کې یې صحت، سلامتي، کره‌توب او حجیت په بشپړ ډول ومنل شو. باید ووایو چې: که چېرته د دې خاورې عالمانو دې مهم او ستونزمن کار ته لاس نه وای اچولی، نو اوس د نړۍ مسلمانان د دیني ازرښتمنو زېرمو او د اسلامي احکامو او لارښوونو له بنسټي مصادرو بې برخې پاتې کېدل. څرنګه چې ځینو دروغجنو جعلکارانو نبوي حدیثونه جعل او ګډ کړي وو، که د دې وګړو د کره‌کتنې ځواک نه وای، اوس به موږ د صحاحو حدیثونه نه درلودای.

### صحیح بخاري

دا کتاب د حدیثو د علم یواځینی شهکار او په اسلامي نړۍ کې تر کتاب‌الله راوروسته تر ټولو کتابونو ډېر صحیح ګڼل کېږي، چې د بخارا د یوهٔ پرهېزګار عالم او لوی حافظ اثر دی. بخارا په درېیمه او څلورمه پېړۍ کې د خراسان یو مشهور ښار شو.

[1] - بروکلمان ۳/ ۱٦۳ د خطیب بغدادي په حواله ۱۴/ ۱۱٦.

امام ابوعبدالله محمد بن‌اسماعیل بن‌ابراهیم بن‌مغیره بن‌بَردزِبه[1] په بخاري مشهور د شوال په ۱۳مه ۱۹۴س= جولای ۸۱۰ کې په بخارا کې وزېږېد. نیکهٔ یې مغیره مسلمان شو، چې د بخارا د والي اسماعیل جعفي مریی و.

محمد بخاري په ۱۶ کلنۍ کې د دوو پخوانیو محدثانو ابن‌مبارک او وکیع کتابونه حفظ کړل او له خراساني استادانو لکه مکي بن‌ابراهیم بلخي، عبدالله بن‌عثمان مروي، یحیی بن‌معین سرخسي او نعیم بن‌حماد مروي ۲۲۸س مړ د کتاب الفتن[2] څښتن څخه یې زده‌کړې وکړې.[3] بیا د کعبې لیدو ته لاړ او په مدینه کې یې د نبيﷺ د قبر په ګاونډ کې خپل کتاب‌التاریخ ولیکهٔ. وروسته بیا د حدیثو په لټه کې مصر او بغداد ته لاړ او پنځه کاله یې په بصره کې تېر کړل. تر شپاړس کلن علمي سفر وروسته وطن ته راستون شو. د بخارا والي خالد بن‌احمد ذهلي ترې غوښتنه وکړه، چې هغهٔ او اولادونو ته یې د حدیثو درس ورکړي، هغهٔ ونه منله، ځکه نه یې غوښتل چې حدیث او علم سپک کړي او د وګړو ورونو ته یې وروړي. نو والي هغه له بخارا څخه جلاوطن کړ. کله چې والي څه موده وروسته ګوښه شو، امام بخاري بیا بخارا ته راغی او په دې ښار کې و، چې مشهور او أصح‌الکتب بعد کتاب‌الله یې د الجامع‌الصحیح المسند من حدیث رسول‌الله ﷺ په نامهٔ تألیف کړ.

امام د عمر په پای کې د سمرقند په دوه فرسخۍ کې خرتنګ کلي ته لاړ او هم هلته د روژې په ۳۰مه ۲۵۶س=۷۸۰ز د اګست په ۳۱مه له دې نړۍ وکوچېد او صحیح بخاري په ټوله اسلامي نړۍ کې دومره منلی شو چې که د مغرب په هېوادونو کې به یې د لښکر لپاره سپاهي ګومارهٔ؛ په صحیح بخاري به یې ترې سوګند اخیست؛ نو له دې امله یې دې لښکر ته جیش‌البخاریه وایهٔ.

---

[1] - دا د دري ژبې نوم دی چې د بخارا په لهجه کې د بزګر یا پالېزوالا په معنی و (تاریخ بغداد ۲/ ۱۴) او برد زبه (د لومړي په زور، د دوهم په غړوندي، د دال په زبر او د بې په زور) پر مجوسي دین و؛ خو مغیره مسلمان و (ضحی‌الإسلام ۲/ ۱۱۰).

[2] - د برتانیې د موزیم خطي نسخه ۹۴۴۹.

[3] - د تیسیر الوصول سریزه، د ابن دبیع ۱/ ۷، د قاهرې چاپ، ۱۳۴۶س.

ډېر کره جامع صحيح، په ليدن کې کريل و جونبول په شپږو ټوکونو کې پر ۱۹۰۸ز کال چاپ کړ. د مصر بولاق هم هغه پر ۱۲۹۷س چاپ کړ. ليوي‌پروفنسال د مرسيه د ۴۹۲س ليکلې نسخه زنکوګراف او له فرانسوي ژباړې سره پر ۱۹۲۸ز کال له پاريسه خپره کړه، چې بيا ډېرې ژباړې او چاپونه لري. بروکلمان په تاريخ ادب عرب (۳- تر ۱٦۷ وروسته) کې د صحيح بخاري۴۳ شرحې ليکلې دي. په داسې حال کې چې اهلورد يې د برلين د عربي خطي نسخو په ليکلړ کې د ٦۰ شرحو يادونه کړې ده. همدا رنګه جامع صحيح بخاري ۹ ټوکه لنډيز او ۱۰ کره شوي لري، چې له دې کتابونو څخه ځينې چاپ شوي دي.

د امام بخاري له نورو آثارو څخه:

۲- التاريخ‌الکبير د حديثو د راويانو په پېژندګلوۍ او تاريخ کې (د حيدرآباد دکن چاپ)

۳- التاريخ‌الاوسط: د مهال له مخه ترتيب (د هند د بانکيپور خطي نسخه)

۴- التاريخ‌الصغير: د هند د پټنې او بانکيپور خطي نسخې او د اله‌آباد ۱۳۲۴س او د احمدآباد ۱۳۲۵س چاپ.

۵- کتاب‌الضعفاء‌الکبير: د هند د پټنې خطي نسخه.

٦- کتاب‌الضعفاء‌الصغير: د هند د پټنې‌خطي‌نسخه، د آګرې ۱۳۲۳س‌او د اله‌آباد ۱۳۲۵ س چاپ.

۷- تفسير‌القرآن: د اسکوريال خطي نسخه ۱۲۵۵ او د پاريس.

۸- کتاب أدب‌المفرد: د استانبول ۱۳۰۹س، آګرې ۱۹۰٦ز او قاهرې چاپ.

۹- تنويرالعينين برفع‌اليدين في‌الصلاة: کلکته۱۲۵٦س او ډهلی۱۲۹۹س چاپ.

۱۰- خيرالکلام فی‌القراءة‌خلف‌الامام: له اردو ژباړې سره، ډهلي ۱۲۹۹س چاپ.

۱۱- کتاب خلق افعال‌العباد: د ډهلي چاپ ۱۳۰٦س.[1]

امام بخاري په خپلو سفرونو کې شپږ لکه حديثونه راغونډ کړل، له هغو يې۹۰۸۲ حديثونه په خپل جامع صحيح کې ونيول، چې که تکرار ترې وباسو يواځې۲۷٦۲ موصولة السند حديثونه پاتې کيږي.

[1] - بروکلمان ۳/ تر ۱٦۳ وروسته.

امام بخاري د ضعیفو او صحیحو حدیثو، د حدیثو د راوایانو د ژوند او مړینې د نېټې او پرهېزګارۍ په پېژندنه کې بشپړ معلومات درلودل. د دې ترڅنګ یې ډېره پیاوړې حافظه درلوده، چې په کوچنیوالي کې یې اویا زره حدیثونه حفظ کړي وو. د حدیثو په تصدیق کې یې شرط درلود چې باید اسناد یې متصل او راویان یې پوره رښتیني، نه پټوونکي، نه ګډوونکي، د عدالت په ځانګړنو ستایل شوي، کلک حفظوونکي، سلیم ذهنه، کم وسواسي او د سلیمې ګروهې خاوندان وو. روایتونه به یې د پیاوړې حافظې او تقوا له خاوندانو څخه روایت کول. بشپړ فقیه و، چې کله به یې حنفي مذهب، کله هم شافعي او کله د نورو امامانو پلیون کاوه. د هغهٔ جامع صحیح ۹۷ کتابه او ۳۴۵۰ بابه لري. د دې علم کره‌کتونکي د هغهٔ پر ۱۱۰حدیثو د ځینو دلایلو پر بنسټ نیوکه کوي، چې۳۲ حدیثونه یې له مسلم سره ګډ او ۷۸یې یواځې د بخاري دي. پر بخاري د نیوکو یو لامل دا و چې هغه د ابن‌عباس له مریي عکرمه څخه روایتونه کړي، په داسې حال کې چې عالمان په هغو کې د جعل او دروغو شونتیا ګڼي. مسلم له هغو څخه بې له یوهٔ حدیثه- هغه هم د بل راوي په اعتماد- نه روایت کوي.[1]

په هر حال امام بخاري په اسلامي نړۍ کې د دې علم د عالمانو عالم و. هغه لومړنی عالم او قلندر خراسانی دی، چې د اسلام دین او د حدیثو علم ته یې تلپاتې خدمت کړی دی.

## امام مسلم نیشاپوری

ابوالحسین مسلم بن‌حجاج قشیري د خراسان د نیشاپور دی. د ۲۰۲س= ۸۱۷ز کال شاوخوا هلته زېږېدلی دی. د خراسان د حدیثو په مدرسو کې- چې د دې علم لویو عالمانو په کې علمي او تدریسي مخینې درلودې- وروزل شو. مشهور حافظ او د محدثانو امام و، چې د حدیثو په لټه کې یې حجاز، مصر، شام او عراق ته سفرونه وکړل. څو څو ځله بغداد ته راغی، د اسلامي ثقافت دې مرکز ته وروستی ځل په ۲۵۹س= ۸۷۳ ز کال کې راغلی و. کله چې خراسان ته ستون شو د ۲۶۱س د رجب پر ۲۵مه= ۸۷۵ز کال د مۍ په ٦مه یې د نیشاپور په نصرآباد کلي کې د ژوند ډیوه مړه شوه.

د امام مسلم نیشاپوري مشهور کتاب«صحیح مسلم» دی، چې تر صحیح بخاري

---

[1] - ضحی‌الإسلام ۲/ ۱۱۰.

وروسته د اسلامي سته صحاحو دوهم کتاب دی. دولس ۱۲ زره نبوي حديثونه لري، چې د هغه د درې لکو اورېدلو حديثو له ټولګې څخه په ۱۵ کالو کې تدوين شوی دی.

امام مسلم د دې کتاب په سريزه کې د حديثو د علم د اصولو په اړه تفصيلي بحث کړی دی او په خپل صحيح کې يې د بخاري زياتره حديثونه له نورو لاړو- بې د امام بخاري له اسناده – راوړي دي.

صحيح مسلم زيات چاپونه لري، چې تر ټولو مخکنی يې د ۱۲۶۵س د کلکتې، د قاهرې بولاق ۱۲۹۰س، د ډهلي ۱۳۱۹س، د قاهرې ۱۳۲۷س او د استانبول ۱۳۳۰س چاپونه دي. اهلورد وايي شرحې يې ۲۷ ټوکه دي، چې يوازې بروکلمان يې ۱۸ شرحې ليکلې دي او ۱۲ ټوکه يې د هغه لنډيز او بې تکراره ښودلي دي.[1]

**د امام مسلم نور آثار**

۱- کتاب الکنی و الاسماء څلور ټوکيز (د دمشق ظاهريه خطي ۸۲، شهيد علي استانبول او د هند پټنه ۲۸۹۸).

۲- کتاب المنفردات و الوحدان، د آګرې چاپ ۱۳۲۳س.

۳- رجال عروة، د دمشق د ظاهريه خطي نسخه.

۴- المسندالکبير، د کسانو د نومونو په ترتيب.

۵- الاقران. ٦- مشايخ الثوري. ۷- کتاب المخضرمين. ۸- کتاب اولادالصحابة. ۹- اوهام المحدثين. ۱۰- الطبقات.

۱۱- افرادالشاميين. ۱۲- التمييز. ۱۳- العلل.[2]

**ابوداؤد سيستانی**

سلېمان بن جارود بن اشعث سجستانی، له آره د سيستان و، په ۲۰۲س= ۸۱۷ ز کال کې وزېږېدۀ. د علم په لټه کې يې د خراسان د حديثو په مدرسو کې له لويو امامانو لکه بخاري، مسلم او قتيبه بن سعيد بغلاني په څېر شېخانو او نورو څخه حديثونه ولوستل او د خپل مهال د محدثانو امام شو.

---

[1] - بروکلمان ۳/ تر ۱۷۹ وروسته.

[2] - بروکلمان ۳/ ۱۸۵ او الأعلام ۸/ ۱۱۸.

امام ابوداؤد له خراسان څخه عربي هېوادونو ته سفرونه وکړل، څو ځله بغداد ته لاړ، وروستی ځل په ۲۷۲س=۸۸۵ز کال کې هلته و، چې د خلیفه الموفق په غوښتنه په بصرې ښار کې مېشت شو او د ۲۷۵س کال د شوال په ۱۶مه= د ۸۸۹ز د فرورۍ په ۲۲مه هم هلته ومړ.

په حدیثو کې د هغهٔ مشهور کتاب، السنن له سة صحاحو څخه دی. له پنځهوو لکو څخه یې یواځې ۴۸۰۰ حدیثونه په کې غوره کړي دي، چې په فقه او قانون کې کارېږي. د اخلاقو، زهد او داسې نورو اړوند حدیثونه یې نه دي راوړي. له راویانو څخه یې هم هغه غوره کړي چې عالمان یې د روایتونو په دفع او انکار اجماع نه لري.[1]

ابوداؤد په پرهېزګارۍ، تقوا او قلندرۍ کې مشهور و. خطابي وایي په دیني علم کې تر هغهٔ غوره کتاب چا نه دی لیکلی، هغهٔ به په خپله ویل: په سنن کې ما داسې حدیث نه دی راوړی چې چا یې په پرېښودو اجماع کړې وي.[2]

**آثار یې دا دي:**

۱- السنن: د قاهرې چاپ ۱۲۸۰س، لکنهو ۱۸۴۰ز، ډهلی ۱۲۷۱ز، د دکن حیدرآباد ۱۳۲۱س چې بروکلمان یې د ۱۱ شرحو او یا لنډیزونو یادونه کړې ده.

۲- مراسیل ابي داؤد: د قاهرې چاپ ۱۳۱۰س.

۳- سوالات ابوعبید آجري: د پاریس او د استانبول د کوپریلي خطي.

۴- مسائل الامام احمد: د کوپریلي خطي نسخه ۲۹۲ او دمشق ,۳۳۴

۵- تسمیة الاخوة: د دمشق د ظاهریه خطي نسخه.

۶- کتاب التنزیل في الرسم: د فاس خطي نسخه ,۲۲۹

۷- کتاب البعث و النشور: د دمشق د لوی کتابتون خطي ۲۱ /۲۳۷.[3]

**ابوعیسی ترمذي**

د خراسان له امامانو څخه بل- چې الجامع ترمذي له سة صحاحو ګڼل شوی دی-

---

[1] - بروکلمان ۳/ ۱۸۵.

[2] - د تیسیرالوصول سریزه ۱/ ۹.

[3] - بروکلمان ۳/ ۱۸۸ او الأعلام ۲/ ۱۸۲.

ابوعیسی محمد بن‌عیسی ترمذي دی. هغه پر ۲۰۰س= ۸۱۵ ز کال د امو سیند د شمالي غاړې د ترمذ اړوند په بوج کلي کې وزیږېدۀ. په خراسان کې یې له امام‌بغلاني او بخاري څخه د حدیثو علم زده کړ. عراق او حجاز ته لاړ. چې بېرته وطن ته راستون شو، د عمر په پای کې ړوند شو. د ۲۷۹س کال د رجب پر۱۲مه د دوشنبې په ورځ= ۸۹۲ز د نومبر په لومړۍ نېټه په ترمذ کې ومړ.

ترمذي د حافظې په پیاوړتیا کې یوه بېلگه وه، ډېرو خلکو ترې حدیثونه زده کړل. جامع‌ترمذي داسې حدیثونه لري چې په ځینو احکامو کې د فقیهانو او مذهبیانو دلیل گرځي. د هغۀ کتاب د بېلابېلو فقهي مدرسو ترمنځ د اختلاف توضیح له مهمو مصادرو څخه دی. د مصر په بولاق ۱۲۹۲س، لکنهو ۱۸۷٦ز او ډهلي ۱۲٦۹س کې چاپ شوی دی. بروکلمان یې ۱۲ شرحې شمېرلي دي.[۱]

وایي: امام ترمذي خپل جامع صحیح کتاب د حجاز، عراق او خراسان عالمانو ته وړاندې کړ، چې ټولو خوښ کړ. دا له هغو کتابونو څخه دی چې گټې یې ډېرې او تکرار په کې لږ دی.[۲]

**د هغۀ نور آثار**

۲- شمائل‌الترمذي: د کلکتې ۱۲۵۲س، ملتان ۱۲۸۲س، لکنهو ۱۲۸۸س، د مصر د بولاق ۱۲۸۰س او نورو چاپ. دا کتاب ډېرې شرحې لري.

۳- تسمیة اصحاب رسول‌الله.

۴- نوادرالاصول: برلین خطي.

۵- التاریخ.

٦- العلل.[۳]

**احمد بن‌علي‌نسایي**

ابوعبدالرحمن احمد بن‌علي بن‌شعیب د خراسان‌په نساء کې پر ۲۱۵س= ۸۳۰ ز

---

۱ - بروکلمان ۳/ ۱۸۹.

۲ - د تیسیرالوصول سریزه ۱/ ۹.

۳ - الأعلام ۷/ ۲۱۳ او بروکلمان ۳/ تر ۱۹۲ وروسته.

وزیږید. له قتیبه بغلاني، ابوداؤد سجستاني او د خراسان د مدرسو له نورو استادانو څخه یې د حدیثو علم زده کړ او ډېرو شاګردانو بیا له هغه نه د حدیثو علم زده کړ. شافعي مذهبه و. عربي هېوادونو ته یې سفرونه وکړل. تر ۳۰۲س= ۹۱۴ز پورې په مصر کې پاتې شو او له هغۀ ځایه دمشق ته لاړ. څرنګه چې د حضرت معاویه په فضایلو بیانولو چوپ پاتې شو؛ نو هغه یې په جومات کې وواهۀ. له هغۀ ځایه ناروغ راووت، کله چې رملې ته راورسېد د ۳۰۳س د صفرې په ۱۳مه= ۹۱۵ اګست کې مړ او په مکه کې ښخ شو.

د هغۀ تألیف سنن‌نسایي له سته‌صحاحو څخه یو ګڼل کېږي، چې د دیني ژوندانۀ اړوند حدیثونه یې په هغۀ کې په تفصیل سره راغونډ کړي دي. د دعاګانو، امان غوښتنې، د معاملاتو او قانون د بابونو د هر ډول حدیثونو ټولګه ده، چې په بولاق ۱۲۷۶س، لکنهو ۱۸۶۹ز، ډهلي ۱۲۵۶س او قاهره کې ۱۳۱۲س چاپ شوی دی.[1] هغه ته چې وویل شول: ستا په سنن کې ټول صحیح حدیثونه راټول شوي دي؟ ځواب یې ورکړ: صحیح، حسن[2] او هغو ته نږدې حدیثونه مې په کې راغونډ کړي دي.

خلکو ترې وغوښتل چې صحاح یې جلا راغونډ کړي، نو ځکه یې د کمزورو حدیثو- چې اسناد یې علیل وي- په لیرې کولو سره المجتبی وکېښ[3] د ډهلي ۱۸۵۰ز، د جونپور ۱۸۴۷ز چاپ او نور.

**نور آثار یې:**

۳- کتاب‌الضعفاء والمتروکین، د آګرې ۱۳۲۳س او اله‌آباد ۱۳۲۵س چاپ.

۴- کتاب‌الکنی و الأسامي.

۵- کتاب‌التمییز.

٦- کتاب‌الجرح و التعدیل.

---

[1] - بروکلمان ۳/ ۱۹٦.

[2] صحیح حدیث هغه دی چې له پیله تر پای د تام‌الضبط ثقاتو په عدول نقل وي؛ خو حسن هغه دی چې یو ډول نیمګړتیا او کمی یې له صفاتو څخه په یوۀ کې وي او طرقو او شعبو ډېروالي یې جبر نه وي کړی. دا ضعف یواځې د رواتو په لیکنه کې دی. (مخ۷۸۵)

۳- د تیسیرالوصول سریزه ۱/ ۱۰.

۷- خصائص علي.

۸- مسند علي.

۹- مسند مالک.[۱]

**نور عالمان:**

پر دې لويو خراساني امامانو سربېره چې هر يوۀ يې د اسلامي علومو په رامنځ ته کولو، د ثقافت په پياوړتيا او فکري خوځښت کې لاس درلودلی دی، ډېرو نورو عالمانو هم په خراسان کې په دې اړه کار کاوۀ او يا د علم و فکر په مدرسو کې روزل کېدل، چې د ټولو يادونه به اوږده شي؛ نو پوره ده چې دلته د ځينو نومونه واخيستل شي:

ابورجاء امام قتيبه بن‌سعيد بن‌جميل له لويو نوميالیو محدثانو څخه و. په ۱۵۰س=۷٦۷ز کال بغلان کې وزېږېدۀ او په عراق کې واوسېد. په ۲۴۰س= ۸۵۵ ز کال کې له نړۍ څخه وکوچېد. قبر يې تر اوسه په بغلان کې مشهور دی. امام بخاري له هغۀ څخه ۳۰۸ حديثه او امام مسلم ترې ٦٦۸ حديثه روايت کوي.[۲]

بل: د سنن څښتن امام ابوعبدالله محمد بن‌يوسف ابن‌ماجه (۲۰۹- ۲۷۳س) دی، چې په خراسان کې روزل شوی او سنن يې له سته‌صحاح‌وو څخه گڼل شوی دی. محمد بن‌يوسف فريابي (۱۲۰- ۲۱۲س) هم د حديثو له عالمانو او حافظانو څخه دی، چې په کوفه، مکه او قيساريه کې يې شهرت درلود. امام بخاري ترې۲٦ حديثونه روايت کوي. په حديثو کې مسند لري.[۳] ابوبکر احمدنسايي خراسانی د امام احمد حنبل او محمد بن‌سلام جمحي (۲۷۹س= ۸۹۳ ز) له شاگردانو څخه دی. التاريخ‌الکبير د هغه له آثارو څخه دی. ابوالقاسم عبدالله بن‌محمد د معجم‌الصحابه، تاريخ وفات شيوخ بغوي او کيسو د څښتن بغوي (۲۱۰- ۳۱۰س) پوله‌ساتي له لمسيانو څخه دی. ابوعبدالله محمد بن‌نصر مروي (۲۰۴- ۲۹۴س په سمرقند کې مړ) او حماد بن‌زيد سيستانی (۹۸- ۱۷۹س) د حديثو لوی حافظ چې ړوند و، څلور زره

---

۱ - بروکلمان ۳/ ۱۹۸ او الأعلام ۱/ ۱٦۴.

۲ - الأعلام ٦/۲۷ د تهذيب په حواله ۸/۳۵۸ او تاريخ بغداد ۱۲ /۴٦۴.

۳ - الأعلام ۸/ ۲۰ د شذرات په حواله ۲/ ۲۸، تهذيب ۹/۵۳۵ او تذکرةالحفاظ ۱ /۳۴۱.

حدیثونه يې زده وو او په سته صحاحو کې ترې روایتونه شته.[1]

عبدالله بن‌عثمان مروزي (۱۴۵- ۲۲۱س) ثقه حافظ، محدث، په خراسان کې ګرځندوی او د جوزجان قاضي، ابراهیم بن‌یعقوب جوزجانی له ثقه محدثانو څخه یو (په دمشق کې مړ۲۵۹س= ۸۷۲ ز) د الجرح و التعدیل او الضعفاء و المترجم کتاب مؤلف[2] د دې پېر د وروستیو د حدیثو له عالمانو څخه ګڼل کېږي، چې له خراسان او شاوخوا څخه راپورته شوي دي.

## فقه او فقیهان

فقه په لغت کې د وېناوال د خبرې په موخې پوهېدو ته وایي؛ مسلمانان يې د عملي شرعي احکامو هغه علم ته وایي چې په استدلال سره له تفصیلي دلایلو څخه تر لاسه کېږي او هغې پټې معنی ته رسېدل او پرې پوهېدل دي چې حکم ورپورې اړه لري. په رأی، اجتهاد نظر او تأمل تر لاسه کېږي.[3]

د اسلام په لومړیو کې د احکامو او شرعي چارو پېژندنه په قرآني وحيې او نبوي سنتو پورې اړونده وه؛ خو د اسلام تر خپرېدو وروسته د نړۍ په ګوټ ګوټ کې د مسلمانانو د ژوندانۀ مسایل او ستونزې زیاتې شوې؛ نو د مسلمانانو د حقونو او ښېګڼو د خوندیتابۀ لپاره لازم وو، په فقه کې رأی او اجتهاد پلی شي او د دې لاسوهنې او عقلي کړنې په پایله کې- هلته چې څرګند نصوص نه وي- داسې اندازې او بنسټونه وضع شي، چې د هغو په وسیله د عملي او علمې ژوندانۀ د پېښو احکام روښانه شي.[4]

یو داسې حکومت، چې د خلکو د ژوند چارو د سمون لپاره یو نظام، تګلاره او قانون وضع کړي په حقیقت کې د یوۀ دولت او نظام د تشکیل له لوازماتو څخه دی. د یونان خلک چې د لوی دولت څښتنان نه وو؛ نو د دولتي او قضایي تګلارو او احکامو وضع کولو او تدوین ته يې لږه پاملرنه وکړه؛ خو فلسفې او د هغې فروعو ته

---

۱ -الأعلام ۳۰۱/۲.

۲ -پورتنی اثر، ۷۶/۱.

۳ - تعریفات سید شریف ۷۰.

٤ - بروکلمان ۳/ ۲۳۲.

ژور ورننوتل؛ رومیانو چې لوی دولت جوړ کړ؛ نو د دولتي قوانینو او مقرراتو رامنځ ته کولو ته اړ وو او په دې لاره کې یې هلې ځلې هم وکړې؛ چې د خپل دولت تر جوړولو وروسته یې په څه د پاسه لسو کالو کې وکړی شول، د مشهور قانونپوه یوسثنیان ۵۳۳ ز په وسیله قانون جوړ کړي.[۱]

مسلمانانو هم په پیل کې قرآن او نبوي سنت د ژوندانهٔ تګلاره وګرځوله، قاریان، محدثان او د پیغامبر نږدې ملګري چې د دې دوو بنسټیزو سرچینو لېږدوونکي وو، تر نبوي رحلت وروسته د امت فقیهان او مفتیان وګڼل شول، چې له هغې جملې څخه څلور کسه راشده خلیفه‌ګان او څو کسه د پیغامبرﷺ نور ګران اصحاب په مدینه کې د شرعي احکامو، فقهې او فتوا مراجع وو. دا شرعي منصب له هغو څخه تابعینو ته ولېږدېد، چې تر ټولو مشهور یې اووه کسان وو.[۲] پر قرآن او سنت سربېره دوه نور فقهي بنسټونه اجماع او قیاس هم د شرعي حجیت مدار وګرځېدل. اجماع په یوهٔ عصر کې د دیني چارو په اړه د امت د مجتهدانو اتفاق دی.[۳] قیاس د فقهې په اصولو کې په دواړو یادو شویو مصادرو کې د حکم د بېلګې نه اثبات دی- لکه لامل یې په بل کې- چې دا ماتُریدي تعریف دی. صدرالشریعة هغه د مشترک لامل د شتون په صورت کې د اصل حکم په فرع الېشول ګڼلي دي. امام باقلاني هغه د حکم په اثبات او د هغهٔ په نفې کې د یوهٔ معلوم په بل معلوم بارول ګڼي.[٤]

په اموي پېر کې ځینو مسلمانانو قیاس او رأی د شرعي احکامو په راایستنه کې دخیل نه کړل؛ خو ډېرو دا بنسټ ومانهٔ، څکه لویو اصحابو لکه حضرت‌ابوبکر، عمر، زید بن‌ثابت، ابی بن‌کعب (۲۱س مړ) معاذ بن‌جبل او نورو په هغو مسایلو کې چې په اړه به یې په کتاب او سنت کې څرګند نص موجود نه و، رأی ته رجوع کوله.[۵]

د امویانو په پېر کې د تشریع مسایل په دوو فکري مدرسو کې راوځېدل: د اهل

---

[۱] - جرجي زیدان ۳/ ٦٩.

[۲] - جرجي زیدان ۳/ ۷۰ د دمیري په حواله ۵۱/۱، ابن‌خلکان ۱ /۹۲ او ابوالفداء ۱ /۲۰۹.

[۳] - تعریفات سید شریف ۳.

[٤] - مغتنم‌الحصول فی العلم الأصول (خطي) څلورم اصل، د حبیب الله محقق کندهاري تألیف.

[۵] - تاریخ‌التشریع‌الإسلامی د مصر د شرعیاتو پوهنځي د درېو استادانو ۹۸، د قاهرې چاپ، ۱۹۴٦ز.

حديثو مدرسه چې حجازيان او په تېره د مديني وګړي وو او په سر کې يې د مشهور کتاب موطا څښتن امام‌مالک بن‌انس (۹۳- ۱۷۹س) امام شافعي، سفيان ثوري، د احمد بن‌حنبل ملګري او نور پليوني وو، چې د احکامو په رااېستنه کې يې پر نصوصو- آيت او سنت- ډېره لګوله او پټ او څرګند قياس د حجيت ځايناستی نه ګڼي. امام شافعي (۱۵۰- ۲۰۴س) به ويل:«که زما په مذهب کې يو څه ومومئ او حديث د هغهٔ پر خلاف وي، نو هغه حديث زما مذهب دی.»[1]

د دې فکري مدرسې په مقابل کې يوه بله مدرسه د اهل‌رأی په نامهٔ وه، چې فکري پليوني يې د عراق او خراسان وګړي وو.

دا وګړي پر قرآن او سنت له بشپړې ګروهې او پليونی سره، په خپل ژوندانهٔ، ښاريتوب، ټولنيزو او ښاري لوازماتو کې د حجاز د خلکو تر ساده او بسيط ژوندانهٔ غوره وو. د هغوی د ژوندانهٔ په ډول کې به ځانګړې اقتصادي، ټولنيزې او جنايي پېښې رامنځ ته کېدې؛ نو اړ وو چې هغه اوضاع له شرعي کچ مېچ او اسلامي نصوصو سره برابره کړي. د ساري په توګه په عراق او خراسان کې څپاند سيندونه او د کرکيلې پراخه ځمکې موجودې وې چې د هغو لپاره د بزګری، ماليې او خراج قوانين لازم وو. نو په داسې حال کې د احکامو په رااېستنه او تدوين کې قياس او رأی ته اړتيا پيدا شوه.[2] عباسي خليفه منصور چې په عراق کې دا کلکه اړتيا وليده؛ نو په بغداد کې يې د قياس او رأی د مدرسې فقيهان تاييد کړل او دا وګړي زياتره عجمي نژاده وو. په سر کې يې امام ابوحنيفه نعمان و. ان عربو عربي ژبه لکه چې لازمه وه، هغسې نه ويله او پاملرنه يې ورته نه کوله.[3]

نو د فقهې د تدوين فکر په عباسي پېر کې پيدا شو، چې د لومړيو مدونانو په ډله کې يې ځينې خراساني عالمان او محدثان هم وو. ذهبي وايي له هغې ډلې عبدالله

---

۱ - جرجي زيدان ۳/ ۷۲.

۲ - ضحی‌الإسلام ۲/ ۱۵۲.

۳ - جرجي زيدان ۳/ ۷۲ د ابن‌خلکان په حواله ۱/ ۴۳۹.

بن‌مبارک مروي- چې یادونه یې تېره شوه- علم په بابونو او فقه کې ترتیب کړ.[۱] د اهل‌سنتو د څلورو مشهورو مذهبونو په جمله کې د حنفي‌مذهب مؤسس امام ابوحنیفه او ځینې پلیوني یې او په نورو نهه گونو مذهبونو کې امام احمد حنبل مروي او اسحق بن‌راهویه مروي[۲]- چې یادونه یې تېره شوه- خراسانیان وو.

دې خلکو په خپل ښاري او ټولنیز ژوندانهٔ کې د ژوندانهٔ مرتبو قوانینو ته اړتیا درلوده او غوښتل یې هغه له شرعي احکامو سره سم ترتیب کړي. موږ وینو چې روزبه بن‌داذویه په ابن‌المقفع مشهور د عباسي پېر د لومړیو ادیب او عجمي عالم، چې له زردُشتي دین څخه اسلام ته راواوښتی و، د رسالةالصحابه یعنې د پاچاهانو او واکمنو همنشینانو په نامهٔ رساله ولیکله او په هغې کې یې عباسي خلیفه منصور ته سپارښتنه وکړه چې د مسلمانانو لپاره داسې عام قضایي قانون جوړ کړي، چې د متفق علیها نصوصو او عدالت پر بنسټ وي.[۳] دا د ټولنې او ژوندانهٔ کلکه اړتیا وه، چې ځینو عالمانو د خراج او فقهې د کتابونو تدوین ته لاس واچاوهٔ. لکه چې معاویه بن‌عبیدالله (۱۷۰س= ۷۸۰ز مړ) د المهدي کاتب چې پلار یې په اردن کې د امویانو د خراج مأمور و، لومړی ځل یې کتاب‌الخراج تألیف کړ.[٤] تر هغه وروسته د خراسان د حاکم علي بن‌عیسی بن‌ماهان په حاکمی ۱۸۰س= ۷۹٦ ز شاوخوا کې وو، چې د هغهٔ خراساني منشي حفص بن‌منصور مروزي د خراسان‌خراج کتاب ولیکهٔ،[٥] چې بیا د امام ابویوسف کتاب‌الخراج او د یحیی‌بن آدم (۲۰۳س= ۸۱۸ ز) کتاب‌الخراج هم د فقهې د تدویني بهیر بشپړاوی و، چې خراسانیانو د خپلې چاپېریالي اړتیا له امله لاس په کار شوي وو.

**مکحول کابلی**

مکحول بن‌ابي مسلم سهراب بن‌شاذل فقیه، د شام امام او د حدیثو حافظ، په

---

[۱] - ضحی ۲/ ۱۷۱.

[۲] - پورتنی اثر، ۲/ ۱۷۳.

[۳] - پورتنی اثر، ۱/ ۲۰۸.

[٤] - بروکلمان ۳/ ۲۳۳.

[٥] - زین‌الأخبار، خطي ۷۹ الف.

کابل کې زېږېدلی دی. مکحول په کابل کې ونیول او د هذلیان مریی شو. چې مصر ته یې بوت، آزاد شو. فقه یې ولوسته او د حدیثو په لټه کې عراق، مدینې او دمشق ته لاړ. په ۱۱۲ یا ۱۱۸ س کال په دمشق ښار کې ومړ. د زهري د وینا له مخه پر خپل مهال تر هغه په فتوا کې پوه سړی نه و. څرنگه چې کابلی و (لکه د اوسنیو پښتنو په څېر) د قاف مخرج یې کاف او حا یې ها ادا کاوه.[1] له ډېرو مشهورو اسلامي فقیهانو څخه دی. د تاریخ سیستان مؤلف وایي تر۳٦س وروسته د عبدالرحمن بن‌سمره په وسیله د مریانو په ډله کې له دې ښار بیول شوی و.[2]

### مروي کوسج

اسحاق بن‌منصور بن‌بهرام مروي (په کوسج مشهور) حنبلي فقیه او محدث و. په مروه کې وزېږېد او عراق، حجاز او شام ته یې سفرونه وکړل. بیا په نیشاپور کې مېشت شو او هم هلته په ۲۵۱س= ۸٦۵ز کال کې ومړ. په فقیه کې کتاب‌المسائل د ده دی، چې د امام احمد بن‌حنبل له ویناوو یې تدوین کړی او خطي نسخې یې موجودې دي.[3]

### داؤد ظاهري

ابوسلیمان داؤد بن‌علي اصفهانی د ۲۰۰س= ۸۱۵ز کال شاوخوا په کوفه کې وزېږېد. په بغداد کې یې له پېژندل شویو محدثانو، فقیهانو او متکلمانو څخه زده‌کړه وکړه. بیا د خراسان نیشاپور ته لاړ او د مروې د مدرسې له امام اسحاق‌بن‌راهویه څخه یې حدیث زده کړل. په ۲۷۰س= ۸۸۴ز کال په بغداد کې ومړ.

داؤد ظاهري په سر کې شافعي مذهبی و، خو وروسته یې ځانگړی مذهب رامنځ ته کړ چې ده ته منسوب دی. ده د نورو امامانو له نظریاتو، قیاسونو او تقلید څخه ډډه وکړه او د خپل مذهب احکام یې د قرآن او سنت له ظاهر څخه واخیستل.[4]

امام داؤد ظاهري په خراسان کې روزل شوی و؛ نو فکري سرچینو او عقلي

---

[1] - الأعلام ۸/ ۲۱۲ د تذکرةالحفاظ په حواله۱ /۱۰۱، تهذیب‌التهذیب ۱۰/ ۲۸۹، ابن‌خلکان ۲ /۱۲۲، تاریخ الاسلام ذهبی ۳/۵، میزان‌الاعتدال ۳/ ۱۸۹، حلیة الاولیاء ۵/ ۱۷۷ او نور.

[2] - تاریخ سیستان ۸۵.

[3]-الأعلام ۱ /۲۸۹ د ابن ابي یعلی د طبقات الحنابله په حواله ۱ /۱۱۳.

[4]- برو کلمان ۳ /۳۱٦.

ژوندانهٔ یې دلته وده کړې وه. پر عراق، پارس او عمان سربېره یې ډېر پلیوني د خراسان په ختیځ سند سیمو کې وو، لکه چې البشاري مقدسي وایي په ۳۷۵س= ۹۸۵ز کال د سند په منصوره کې د ابومحمد منصوري یوه عالمه کورنۍ وه. ابومحمد منصوري د ظاهري مذهب امام، لوی عالم او د دې ښار قاضي و.[1]

## عمرو بن‌عبید کابلي

ابوعثمان عمرو بن‌عبید بصري کابلی د معتزله‌وو له مشهورو شیخانو او زاهدانو څخه و. نیکهٔ یې "باب" تر ۳٦س= ٦٥٦ز کال وروسته د عبدالرحمن بن‌سمره له خوا له کابله مریی بوتلل شو او د ابن‌سعد تمیمي له مریانو څخه و.[2] د عمر پلار په بصره کې تو کر اوبدهٔ. په خپله عمرو په ۸۰س= ٦۹۹ز کال کې وزیږېد او د منصور عباسي په وخت کې په علم او تقوا وپېژندل شو. په ۱۴۴س= ٦۹۹زکال کې ومړ چې منصور خلیفه پرې ویرنه وویله. له کتابونو څخه یې تفسیر او "پر قدریه‌وو رد" پېژندل شوي دي.[3]

## نافع کابلي مدني

ابوعبدالله نافع چې په مدینه کې د تابعینو له امامانو او مشهورو محدثانو څخه دی، تر ۳٦س وروسته د کابل سوبمن عبدالرحمن بن‌سمره په پېر کې له دې ښاره په مریيتابهٔ یووړل شو، چې د عبدالله بن‌عمر له مریانو څخه و[4] او په مدینه کې راستر شو. له ثقه او باوري محدثانو څخه دی. اموي خلیفه عمر بن‌عبدالعزیز د سننو د زده کړې لپاره مصر ته ولېږهٔ. نافع له مشهورو اصحابو، لکه: ابوسعید خُدري او عبدالله بن‌عمر رضي الله عنه څخه حدیثونه روایت کړي دي. معلومات یې ډېر دي، چې زهري او ایوب سختیاني او مالک بن‌انس ترې ډېر روایتونه کړي دي. په ۱۱۷س= ۷۳۵ یا ۱۲۰س کې مړ دی.[5]

## امام احمد بن‌حنبل مروزي

ابوعبدالله احمد بن‌حنبل بن‌هلال بن‌اسد شیباني مروزي بغدادي، پلار یې د

---

[1]- احسن‌التقاسیم ۴۸۱.

[2]- تاریخ سیستان ۸۵او مروج‌الذهب ۲ /۱۹۲.

[3]- الأعلام ۲۵۲/۵ د ابن‌خلکان ۳۸۴/۱، اخبار اصفهان، میزان الاعتدال ۲ /۲۹۴ او نورو په حواله.

[4]- تاریخ سیستان ۸۵.

[5]- الأعلام ۳۱۹/۸ د ابن‌خلکان په حواله ۱۵۰/۲، تهذیب ۱۰ /۳۱۲او تاریخ ذهبي ۱۰/۵.

سرخس والي او نیکونه يې د مروې وو. احمد يې په نس و، چې مور يې له مروې ووتله او په ۱٦۴س= ۷۸۰ز کال کې يې هغه په بغداد کې وزېږاوهٔ. هم هلته ستر شو، د سنتو په راغونډولو او حفظولو بوخت او د خپل پېر د محدثانو امام شو. کوفې، بصرې، مکې، مدینې، شام او یمن ته يې سفرونه وکړل او له مشهورو محدثانو څخه يې احادیث روایت کړل. په بغداد کې يې له امام شافعي څخه فقهي زده‌کړې وکړې او مجتهد شو.

امام احمد د سترو عالمانو، زاهدانو، فقیهانو او محدثانو څخه و چې په خپل مسند کې يې له دېرشو تر څلوېښتو زرو احادیث راټول کړل. کله چې ومړ، کتابونه يې ۱۲ پېټی وو. امام شافعي يې په اړه ویل چې ما په بغداد کې تر هغهٔ لوی عالم او پرهېزګاره څوک ونه لید.

د مامون او راوروسته خلیفه‌ګانو په پېر کې يې امام احمد وواههٔ او بندي يې کړ، چې د قرآن مخلوقیت ومني؛ خو هغهٔ دا خبره ونه منله. په همدې مجاهدې او مقاومت سره د ډېرو خلکو امام شو. خپل مذهب يې د قرآن، سنت، اجماع او ښېګڼې پر بنسټ رامنځ ته کړ او په ۲۴۱س= ۸۵۵ز کال په بغداد کې ومړ.[1]

له کتابونو څخه يې المسند په شپږو ټوکو کې چاپ شوی دی. التاریخ، الناسخ والمنسوخ، الرد علی من ادعی التناقض في القرآن، تفسیر و فضایل الصحابه، المناسک، الزهد و الاشربه (خطي) المسائل (خطي) او علل الحدیث (خطي) يې هم آثار دي.

امام احمد ښکلی، غنمرنګ او دنګ و، سپینې جامې يې اغوستې، د ږیرې او سر ویښتان به يې په نکریزو رنګول. دا يې نه منله چې قرآن مخلوق دی؛ نو ۲۸ میاشتې يې زنداني کړ. په ۲۲۰س له زندانه راخوشې شو او خلیفه المتوکل يې ډېر درناوی وکړ.[2]

## حضرت امام ابوحنیفه او فکري مدرسه يې

ابوحنیفه نعمان بن‌ثابت بن‌زُوطَی بن‌ماه چې نیکه يې په کابل او پلار يې ثابت د خراسان په نساء کې زېږېدلی و. زوطی له کابله مرېي ونیول شو. د تیم‌الله بن‌ثعلبی

---

۱ - تاریخ‌التشریع‌الإسلامی تر ۲۸۱ وروسته.

۲- الأعلام ۱۹۳/۱ د ابن عساکر ۲۸/۲، حلیه ۹ /۱٦۲، صفة‌الصفوه ۲ /۱۹۰، ابن‌خلکان ۱ /۱۷، تاریخ بغداد ۴ /۴۱۲، البدایه ۱۰ /۳۲۵او نورو په حواله.

مریی و. ثابت په کوفه کې آزاد شو. ابوحنيفه په ۸۰ س= ۶۹۹ز کال په کوفه کې وزېږېد. ۷۰ کلن په ۱۵۰س= ۷۶۷ز کال کې ومړ او د بغداد د معسکرالمهدي سیمې د خیزران په هدیره کې خاورو ته وسپارل شو. هغه له تابعینو او د امت له زاهدانو څخه و. ځینې اصحاب یې لیدلي وو او اولادونه یې هم په کوفه او بصره کې قاضیان وو. لوی فقیه او محدث عبدالله بن‌مبارک د امام ابوحنیفه په ستاینه کې لیکي:

لقد زان البلاد و من علیها    إمام المسلمین ابوحنیفه
بآثار و فقه في حدیث    کآیات الزبور علی الصحیفه
فما في المشرقین له نظیر    ولا بالمغربین و لا بکوفه[1]

امام ابوحنیفه رضي الله عنه په کوفه کې د"خز" پوستینونو سوداګري کوله. د اسلام د تشریعي فقهې ستر او پېژندل شوی مذهب د هغهٔ په نامهٔ حنفي بلل کېږي. په پیاوړي دلیل، سم منطق، نفسي درناوي، نېکو اخلاقو، اغېزناکې وینا او د فقهې او حدیثو په علم و پوهې کې مشهور و. امام شافعي به ویل: خلک په فقه کې د ابوحنیفه اولاد دی.[2]

په اسلامي فقه کې امام ابوحنیفه د رأی او قیاس ښوونځي بنسټګر دی،[3] چې په سلګونو استادان او شاګردان یې لرل. د کوفې په مدرسه کې یې د هغهٔ د استادانو لړۍ داسې بیان کړې ده:[4]

[1]- الفهرست ۲۸۴.
[2]- الأعلام ۹-۴.
[3]- امام زفر به ویل چې حدیث لاس ته راځي رأی نه اخلو او چې حدیث پیدا شي رأی ته ځای نشته (جواهرالمضیه).
[4] - ضحی‌الإسلام ۲/ ۱۸۰.




امام ابوحنیفه د کوفې جومات د حماد بن‌ابي سلیمان اشعري په مدرسه کې اتلس کاله ګډون وکړ او دومره ډېرې پوښتنې یې تر‌ې وکړې چې بالاخره حماد وویل: یا اباحنیفه! قد انتفخ جنبي وضاق صدري! چې حماد ومړ هغه یې ځیناستی شو، دوه ځله یې له قاضي کېدو نټه وکړه. په خلافت کې د عباسیانو په وړاندې د علویانو پلوي و، نو عباسي خلیفه منصور تر هغې زنداني کړ چې په زندان کې ومړ.[1]

په اجتهاد کې د ابوحنیفه علیه‌الرحمه چلن داسې و چې د قرآن‌عظیم د مطالبو په پوهاوي کې به د نورو امامانو پر لاره روان و، خو له هغوی سره یې د مدلول د پوهېدو،

[1] - بروکلمان ۳/ ۲۳۵ او ضحی ۲/ ۱۸۴.

اشاراتو او استنباط په طریقو کې توپیر درلود. د احادیثو په منلو کې یې ځانګړې چلن لاره. پر هغو حدیثونو به یې عمل کاوه چې یوه ټولي به له بل ټولي څخه روایت او ټول راویان به یې هم ثقه او ربښتیني وو او په ښارونو کې به فقیهانو پرې د عمل کولو اتفاق کړی و. که چېرته به داسې حدیث او یا د اصحابو قول په لاس ورنغی؛ نو بیا به یې په خپل اجتهاد له قیاس او استحسان څخه کار اخیست.[1] ابوجعفر شذ اماري وایي له امام ابوحنیفه مې واورېدل چې ویل یې: موږ په هیڅ مسأله کې بې اړتیا له قیاس څخه کار نه اخلو، که په قرآن، سنتو، د اصحابو په عمل او یا د اصحابو په اجماع کې څه دلیل ونه مومو، نو هله بیا قیاس ته مخه کوو.[2] په دې توګه هغه تل د خلکو د پوښتنو مرجع وه. وایي چې په عباداتو او معاملاتو کې یې اتیا زره مسألې بیان کړې دي.[3]

امام ابوحنیفه له احادیثو څخه د مسایلو په استخراج کې هېښنده وړتیا درلوده. امام اعمش چې له پېژندل شویو محدثانو څخه و، یوه ورځ یې له امام ابوحنیفه څخه د یوې مسألې فتوا وغوښته، کله چې یې ځواب واورېد، نو ویې پوښتل: په څه اساس داسې وایې؟ ویې ویل: تا له ابراهیمه داسې او له شعبي هغسې حدیث روایت کړی! اعمش په حیرانۍ سره وویل: «ای فقیهانو! تاسې طبیبان یاست او موږ درمل پلوري.»[4]

که څه هم د حنفي مذهب معتبر کتابونه تر امام ابوحنیفه وروسته د هغه شاګردانو ترتیب کړي، خو بیا هم داسې کتابونه شته چې ده ته منسوب دي، لکه:

۱- فقه اکبر: په لسو بابونو کې د عقایدو په اړه، د دکن حیدرآباد چاپ ۱۳۲۱س.

۲- دویمه فقه اکبر: تر ۳۹۰س وروسته تألیف شوې، د قاهرې چاپ ۱۹۵۵ز او د ډهلي چاپ ۱۲۸۹س.

۳- درېیمه فقه اکبر: د ابومطیع بلخي په روایت، د ډهلي چاپ ۱۳۰۷س او د قاهرې چاپ ۱۳۲۴س.

۴- فقه‌الابسط: د حیدرآباد چاپ ۱۳۲۱س.

---

۱ - ضحی ۲/ ۱۸۵ د مکي مناقب ابي‌حنیفه ۹۵ او ابن عبدالله په حواله.

۲- معجم‌المصنفین ۲ /۱۴۴ د عقودالجواهر په حواله.

۳- ضحی ۲ /۱۸۸ د مکي په حواله ۹۶.

٤- ضحی ۲ /۱۹۰ د مکي په حواله ۱۶۳/۱.

۵- د ابي حنيفه مسند: د امام ابویوسف په روایت، د قاهرې چاپ ۱۳۲۷س، په نورو دولسو روایتونو هم خطي نسخې لري.
٦- د ابوحنيفه وصيتونه: په شپږو نسخو کې په مختلفو روایتونو چې ځینې چاپ شوي دي.
۷- کتاب العالم و المتعلم: د دکن حيدرآباد چاپ ۱۳۴۹س.
۸- القصيدة النعمانيه: د رسول الله ﷺ په ستاینه کې، بېلابېل چاپونه لري.
۹- عثمان بتّي ته لیک: د حيدرآباد چاپ ۱۳۲۱س.
۱۰- مجادلة الأحدالدهريين: د قاهرې خطي نسخه.
۱۱- معرفة المذاهب: د کلکتې، رامپور او پيترزبورگ خطي نسخې.
۱۲- نصايح: د اسکندريې خطي نسخه.
۱۳- الضوابط الثلاثه: خطي نسخه.
۱۴- رسالة الفرايض: د پټنې خطي نسخه.
۱۵- الدعاء الماثور: د پټنې خطي نسخه.
۱٦- المنبهات على امور الواجبات: منظومه خطي نسخه.
۱۷- قصيده: د اياصوفې خطي نسخه.

امام صاحب ته د دې کتابونو په منسوبولو کې څېړونکي شکمن دي، خو تعاليم، اجتهادات او تشريعي او فقهي وياړونه يې دومره ډېر دي چې دا اوس هم مليونونه مسلمانان په ختيځ او لوېديځ کې له نيله تر گنگا پورې په حنفي مذهب دي.

امام ابوحنيفه او د فقهي ښوونځي شاگردان يې په قياس او استحسان کې د پراخ‌نظرۍ له امله "اهل‌رأى" گڼل شوي دي. هغه د"تقديري فقهې" بنسټگر دی چې د ځينو ناپېښو مسايلو احکام يې په کې بيان او فقهي علم يې پراخ کړ.[1]

امام صاحب د اموي پېر په وروستۍ او د عباسي په لومړۍ اوضاع پوه شوی و، دا هغه پېر دی چې په اسلامي تاريخ کې د نويو عقايدو، فرقو، ادعاوو او غوښتنو د پيدا کېدو له پلوه ځانگړی ځای لري. بېلابېل مذهبونه او ډلې لکه خوارج، شيعه، مجبره، معتزله او داسې

[1]- تاریخ تشریع ۲۳۸.

نورې موجودې وې، چې هرې يوې يې د سياست، امامت، ايمان او له طبيعت ورهاخوا مسايلو په اړه ځانګړې ګروهې درلودې.

په دوی کې داسې يوه ډله هم وه چې مرجئه يې بلله، يعنې هيله مند[1] چې د هيڅ مسلمان د تکفير حکم يې نه کاوهٔ او دا يې خدای ته پرېښې و. ايمان يې د زړهٔ تصديق او د ژبې اقرار ګاڼهٔ، عمل يې د ايمان دننی رکن نه بالهٔ، نو چې په خولهٔ به يې اقرار کاوهٔ په هيڅ مسلمان يې د کفر فتوا نه کوله. دوی د ښهٔ چلن، زغم او پراخ نظر خاوندان وو. د خلافت په موضوع کې يې هم هيڅوک بد نه ايسېدل. بني اميه، شيعه او خوارج يې مؤمنان؛ خو تېروتي او ګناهکاران ګڼل چې بېلول يې ګران دي، نو له همدې امله يې پرېکړه خدای ته پرېښوده او ويل به يې: د ايمان په شتون کې هيڅ ګناه ضرر نه لري، لکه د کفر په شتون کې چې هيڅ عبادت ګټه نه لري.

ځينو خلکو امام صاحب له همدې مرجئه‌وو څخه او اهل ارجاء ګڼلی دی.[2] ځکه چې امام صاحب په فقه اکبر کې داسې اقوال هم لري«لا نكفّر احداً بذنب و لا ننفّي احداً عن الإيمان» خو اکثرو فقيهانو او متکلمانو امام ابوحنيفه ته د ارجاء نسبت رد کړی او ويلي يې دي چې امام صاحب ان پر فروعاتو هم بشپړ ټينګ و او اعمالو ته يې زيات ارزښت ورکاوهٔ، نو پر امام صاحب د مرجئه‌وو د مذهب تور لګول به بې بنسټه وي. هغه د ايمان په شتون کې د عمل ځنډ نه منې او د عباداتو په ډولونو کې د عمل پرېښودو فتوا نه ورکوي.[3]

له امام صاحب نه په راپاتې آثارو کې اوږد ليک دی، چې عثمان‌بتّي[4] ته د امام اعظم په قلم ليکل شوی، په هغهٔ کې ښکاري چې: عثمان امام ته يو ليک ليکلی او په هغهٔ کې يې ورته د مرجئه نسبت کړی دی؛ خو امام صاحب دا ګومان رد کړی او ويلي يې دي چې د عمل ضايع کوونکی د تصديق ضايع کوونکی نه دی، خو د تصديق ضايع کول د ايمان ضايع کول دي. نو ښايي چې مؤمن جاهل، ظالم او ګناهکار وي او دا د خدای خوښه ده چې بخښي يې که عذابوي يې. له همدې امله

---

[1] - ارجا د ځنډ په معنی ده، خو نيکلسن يې معنی هيله او امېد ګڼي (تاريخ ادب عرب ۲۲۱)

[2]- مقالات الإسلامين، د ابوالحسن اشعري ۱۳۸.

[3]- ملل و نحل، د شهرستانی، ژباړه ۱۰۳.

[4]- په اصل کې (بستي) دی.

حضرت‌علي ته هم اميرالمؤمنين وايو او حضرت‌عمر ته هم. په خپله حضـرت‌علي هم د جنګ خپل مقابل لوری يعنې د شام خلک د مؤمنانو په نامهٔ يـاد کـړي وو. دا چې ځيني ګناهکار ته نه مؤمن وايي او نه کافر (د معتزله‌وو وينا تـه اشـاره) دا د اهـل بدعت خبره او د پيغامبر له وينا سره په ټکر کې ده.[1]

په دې توګه ويلای شو چې امام صاحب سوچه‌مرجئه نـه و، بلکـې د تصـديق او ايمان د خاوندانو په نه تکفيرولو کې يې پراخه سينه او نظر درلود. شهرستانی وايي دهٔ ته د مرجئةالسنة نوم ويلای شو يعنې هغه څوک چـې سـنتو تـه ژمـن دی او د ښـو او بدو خلکو پرېکړه خدای ته پرېږدي او په خپله د هيڅ مؤمن د کفر فتوا نه ورکوي.

امام ابوحنيفه له کابلي آره وګړو څخه و، ابن‌خلکان وايي - لکه چې وويل شـول - د هغهٔ په ژبه او ادا کې د عجميت‌نخښې ځرګندې وې، د عربي کلمو اِعراب يې لکه چې ښايي هغسې نه ادا کول. فقهي‌مدرسه يې هم د دې وګړو د اړتياوو او ژوندانهٔ پـر بسنې جوړه شوې وه. په پيژنـدل شـويو شـاګردانو کـې يـې چـې ۸۸۰ کسـه شـمېرل شوي،[2] ګڼ شمېر خراسانيان هم وو چې د هغهٔ فکري او تشريعي بنسټونه يې په ټولـه اسلامي نړۍ او په تېره په خراسان کـې خپـارهٔ کـړل. د دوو لومړيـو اسـلامي پېړيـو د حنفي‌فقيهانو ډله:

**له بلخيانو څخه**

(۱) ابومطيع حکم بن‌عبدالله بلخي مشـهور قـاضي ۱۹۹س= ۸۱۴ز مـړ، چـې د فقهءالاکبر کتاب يې له امـام څخـه روايـت کـړی، دغـه اثـر پـه ۱۳۰۷س هنـد او پـه ۱۳۲۴س قاهره کې چاپ شوی دی.[3] (۲) ابوعبدالله حسين بن‌محمد بن‌خسرو بلخـي (۲۲۲س= ۸۳۷ز مړ) چې د ابوحنيفه د مسند راوي دی (د برلين خطي نسـخه)[4] (۳) ابوعمرو بن‌حفص بن‌عبدالرحمن بلخي د نيشاپور قاضي، ذهبـي وايـي د ابوحنيفـه د خراساني ملګرو له‌منځه تر ټولو پوه سړی و. په ترمذي او نسايي کې ياد شـوی او پـه

[1]- په معجم‌المصنفين کې د عثمان بتّي د ليک ځواب د ۲ / تر ۱۹۲ مخونو وروسته چې د ۱۰۸۸هـ کال خطي نسخې دا ليک رااخيستی دی.

[2]- معجم‌المصنفين ۲/ تر۵۳ وروسته.

[3]- بروکلمان ۳ / ۲۴۰.

[4]- پورتنی اثر، همدغه مخ.

۱۹۹س= ۸۱۴ز کې مړ دی. (۴) خالد بن‌سلیمان بلخي؛ (۵) ابوعبدالرحمن مسلم بن‌سالم بلخي بغداد ته د حدیثو د څېړنې لپاره راغلی او مرجئه و، چې هارون بندي کړ. (٦) عبدالوهاب بن‌عبدربه بلخي چې په بخاري کې یې له ثوري څخه روایت کړی. (۷) عتاب بن‌محمد بن‌شوذب بلخي، په بخاري کې یاد شوی دی. (۸) عمر بن‌رباح ړوند، د بلخ قاضي ۱۷۱س= ۷۸۷ز کال مړ، په ابن‌ماجه کې یاد شوی دی. (۹) مکي بن‌ابراهیم بلخي چې حافظ، په ۲۱۵س= ۸۳۰ز کې مړ او په سته‌صحاحو کې یاد شوی. (۱۰) ابوسهل نصر بن‌عبدالکریم بلخي په صیقل مشهور ۱٦۹س= ۷۸۵ز کال مړ. (۱۱) ابوبسطام مقاتل بن‌حیان بلخي خزاز، په مسلم، بخاري، ابوداؤد او نسایي کې له یادو معتبرو راویانو څخه دی. (۱۲) متوکل بن‌عمران بلخي د خراسان له زاهدانو څخه و. (۱۳) متوکل بن‌شداد بلخي. (۱۴) ابومحمد حسن بن‌محمد لیثي د مروې قاضي چې په اعمش مشهور و. (۱۵) ابوحفص عمر بن‌هارون ۱۹۴س= ۸۰۹ز مړ په ترمذي او ابن‌ماجه کې یاد شوی. (۱٦) عصام بن‌یوسف فقیه او محدث ۲۱۵س= ۸۳۰ز مړ. (۱۷) ابراهیم بن‌ادهم نومیالی زاهد او صوفي ۱٦۲س= ۷۷۸ز مړ په ادب‌المفرد بخاري کې یاد شوی. (۱۸) شقیق بن‌ابراهیم بلخي زاهد، محدث او فقیه ۱۹۴س= ۸۰۹ز مړ.[1]

**له جوزجانیانو څخه**

(۱۹) ابوسلیمان موسی بن‌سلیمان جوزجاني، د امام محمد شیباني له شاګردانو څخه دی چې د مامون د دربار قضا یې ونه منله او تر ۲۰۰س= ۸۱ز وروسته ومړ. د"شروط الکبیر" کتاب د همدۀ دی، د قاهرې خطي نسخه.[2] موسی په بغداد کې د فقهې زده‌کړې وکړې او هلته مشهور شو. د هغه له آثارو څخه السیرالصغیر، الصلاة، الرهن او نوادرالفتاوی- د مصر د دارالکتب خطي نسخه- پېژندل شوي دي. وایي کله چې مامون غوښتل جوزجاني قاضي کړي، نو جوزجاني په څواب کې ورته وویل: امیر المؤمنینه! په قضا کې د خدای حقوقو ته پام کوه! په هغې زما غوندې خلک مه ګوماره! څکه چې زه غوسه ناک یم؛ نو نه غواړم چې په داسې حالت کې د خدای د بنده‌ګانو قاضي شم.[3]

[1]- معجم‌المصنفین ۲/تر ۵۳ وروسته.

[2]- برو کلمان ۳/ ۲۵۷.

[3]- الأعلام ۸/ ۲۷۲.

### د مروې له خلکو څخه

(۲۰) ابوعاصم محمد بن فضل بن عطیه مروزي کوفي ۱۸۰س= ۷۹٦ز مړ - چې ترمذي، ابن ماجه او نسایي یې روایتونه راوړي دي- د مروې اوسېدونکی و. کردري وایي: په ماوراءالنهر کې د فقهې علم هغهٔ خپور کړی و (معجم) (۲۱) ابوعصمه نوح بن یزید ابي مریم قاضي چې لقب یې جامع او مرجئه و، ۱۷۳س= ۷۸۹ز مړ. هغه لومړنی سړی دی چې حنفي فقه یې راټوله کړې ده. ابوحنیفه د شروط‌القضاء کتاب د هغهٔ لپاره وکېښن.[1] (۲۲) ابواسحاق ابراهیم بن میمون خراساني مروزي، په ۱۳۱س= ۷۴۸ز کال کې وژل شوی. د بخاري، ابوداؤد او نسایي له معتبرو کسانو څخه و (معجم). (۲۳) عبد الله بن مبارک مروزي په سته‌صحاحو کې یاد شوی امام او محدث، چې یادونه یې تېره شوه، په ۱۹۱س= ۷۹۷ز کې مړ. (۲۴) فضل بن موسی مروي له ثوري څخه احادیث زده کړل او په سته‌صحاحو کې یاد شوی دی، ۱۹۱س= ۸۰٦ز مړ. (۲۵) یحیی بن نصر د مروې اوسېدونکی، بغداد او بصرې ته یې سفرونه وکړل او له احول او ابن شبرمه څخه یې احادیث زده کړل. په بغداد کې ومړ ۲۱۵س= ۸۳۰ز. (۲٦) اسماعیل بن ابراهیم صایغ چې مخکې یې یادونه وشوه. (۲۷) حسن بن واقد د مروې امام او قاضي، په بخاري، ابوداؤد او مسلم کې یې یادونه شوې، ۱۵۹س= ۷۷۵ز مړ. (۲۸) ابوغانم یونس مروزي قاضي چې له ثقاتو څخه و. په ابوداؤد او نسایي کې یاد شوی دی، ۱۵۹س مړ. (۲۹) ابوحمزه محمد بن میمون مروزي، په سته‌صحاحو کې یاد،۱٦۷س= ۷۸۳ز مړ. (۳۰) ابوسهل نصیر بن باب مروزي، ۱۹۳س= ۸۰۸ز مړ. (۳۱) محمد بن شجاع بن نبهان مروزي. (۳۲) سهل بن مزاحم مروي چې په خراسان کې یې علم خپور کړ او د مامون د قضا وړاندیز یې ونه مانهٔ. (۳۳) محمد بن مزاحم، د سهل د ورور صدوق راوي. (۳۴) نضر- بن شمیل مروي، مشهور نحوي امام، په سته‌صحاحو کې یاد ۲۰۳س مړ. (۳۵) ابومجاهد عبدالله بن کیسان مروزي، په بخاري او مسلم کې یاد شوی. (۳٦) عبدالعزیز مروزي بن منیب مشهورو سیلاني، په نسایي او ابن ماجه کې یاد شوی دی.[2]

---

[1]- الأعلام ۹ /۲۸ او بروکلمان ۳ / ۲۴۵.

۲ - معجم‌المصنفین ۲ / تر۵۳ وروسته.

**د ماوراءالنهر او بخارا له خلکو څخه**

(۳۷) ابوسعید محمد بن‌میسر صاغاني (چغاني) بلخي چې په بغداد کې و او په ترمذي کې یې روایتونه راغلي. (۳۸) محمد بن‌قاسم بخاري چې څلوېښت کاله یې له امام سره تېر کړي دي. (۳۹) اسحاق بن‌مجاهد حنظلي چې امام ابویوسف یې عقل او حلم ستایلی دی. (۴۰) حازم بن‌اسحاق بخاري. (۴۱) مجاهد بن‌عمرو قاضي. (۴۲) ابومقاتل حفص بن‌سهل سمرقندی، د العالم و المتعلم د کتاب لیکوال. (۴۳) نصر بن‌ابي عبدالملک عتکي چې په حدیث او فقه کې د سمرقندیانو امام و او دا علوم یې په ماوراءالنهر کې خپارهٔ کړل. (۴۴) اسحاق بن‌ابراهیم د سمرقند قاضي او حافظ، په ۱۶۱س= ۷۷۷زکې زېږېدلی دی. (۴۵) ابوعلي خوارزمي د خوارزم قاضي. (۴۶) مغیره بن‌موسی بصري خوارزم مېشتی.[۱]

**له کابلیانو څخه**

(۴۷) ابومجاهد علي بن‌مسلم کابلي رازي د ری ښار قاضي، د امام ابوحنیفه او ترمذي شېخ.[۲]

**له هراتیانو څخه**

(۴۸) ابراهیم بن‌تهمان باشاني هروي مکي د مرجئه‌وو له مشهورو عالمانو او د جهمیه وو له سرسختو مخالفینو څخه و؛ په سته‌صحاحو کې یې روایتونه راغلي، د تفسیر په برخه کې یې موږ یادونه کړې ده. (۴۹) عائذ بن‌حبیب هروي کوفي د امام احمد له استادانو او ثقاتو څخه و، په نسایي او ابن‌ماجه کې یاد، ۱۹۰س= ۸۰ز مړ. (۵۰) کنانه بن‌جبله هروي، ذهبي وایي له ابراهیم بن‌تهمان څخه یې احادیث زده کړي دي. (۵۱) هیاج بن‌بسطام هروي. (۵۲) معمر بن‌حسین هروي. (۵۳) مالک بن‌سلیمان د هرات قاضي، چې دار قطني یې په حدیثو کې ضعیف ګڼي.[۳]

---

۱- معجم‌البلدان.

۲- پورتنی اثر.

۳- پورتنی اثر.

**خراسانيان او نيشاپوريان**

(۵۴) اسحاق بن‌سليمان خراساني فقيه. (۵۵) ابونعيم بشار بن‌قيراط نيشاپوري. (٥٦) بشير بن‌زياد خراساني. (۵۷) ابوعلي جارود بن‌يزيد نيشاپوري. (۵۸) ابوعلي حسين بن‌وليد نيشاپوري، په کميل مشهور، په نسايي کې ياد ۲۳۳س= ۸۴۷ز مړ. (۵۹) مشهور حافظ زيد بن‌حباب بن‌حسن خراساني کوفي، اندلس ته هم تللی، په بخاري، مسلم، نسايي او ابوداؤد کې ياد شوی، ۲۰۳س= ۸۱۸ز مړ. (٦۰) ابوصالح شعيب بن‌حرب خراساني بغدادی، په بخاري، مسلم او ابوداؤد کې ياد شوی، ۱۲٦س= ۷۴۳ز مړ. (٦۱) ابوعلي نفيل بن‌عياض خراساني زاهد، محدث او شيخ الحرم، د امام ابوحنيفه همېشني ملگری، په بخاري، مسلم، ابوداؤد، ترمذي او نسايي کې ياد، ۱۸۷س= ۸۰۲ز مړ. (٦۲) ابومنذر نعمان بن‌عبدالسلام نيشاپوري، په ابوداؤد او نسايي کې ياد ۱۸۳س= ۷۹۹ز مړ. (٦۳) ابوعثمان سعيد بن‌سالم قداح خراساني مکي، چې مرجئه‌وو ته يې لېوالتيا لرله، په ابوداؤد او نسايي کې ياد شوی. (٦۴) ابوسفيان نسايي د مروې قاضي. (٦۵) قضاله نسايي. (٦٦) عامر بن‌فرات نسايي.[1]

**له سرخسيانو څخه**

(٦۷) ابوالحجاج خارجه بن‌مصعب د سرخس اوسېدونکی، د قرائت په علم کې يې کتابونه ليکلي، په ترمذي او ابن‌ماجه کې ياد شوی. (٦۸) عماره د سرخس قاضي.[2]

**له ترمذيانو څخه**

(٦۹) عبدالعزيز بن‌خالد ترمذي، د ترمذ او چغانيانو قاضي، د ابوحنيفه د کتابونو خطاط او په خراسان کې يې خپروونکی. (۷۰) نوموړی زياد بن‌قاضي (۷۱) اسرائيل بن‌زياد ترمذي د مجاهيلو.[3]

**له سيستانيانو څخه**

(۷۲) اياس بن‌عبدالله فضل سگزی. (۷۳) عثمان بتّي چې د امام ابوحنيفه په پېژندگلوۍ کې يې يادونه وشوه.

---

۱ - معجم‌البلدان.

۲ - پورتنی اثر.

۳- پورتنی اثر.

## امامیه فقیهان

د امویانو په پېر کې- لکه چې په تېرو څپرکو کې مو وویل- خراسانیان د نبوي کورنۍ د خلافت پلویان وو. ابومسلم خراساني په دې لاره کې ډېرې هڅې کړې وې، چې مؤرخانو یې لښکریان او پلویان شیعه نوملي دي. هغوی د خلافت او امامت په مسأله کې د امویانو پر وړاندې د عباسیانو پلوي کړې ده. له همدې امله چې کله به د علي ﷺ کورنۍ د عباسیانو او د بغداد د خلیفه‌گانو پر وړاندې پاڅون کاوهٔ، نو خراسان ته به راتلل، ځکه دلته به یې په دې دلیل ملاتړ کېدهٔ چې نېغ په نېغه د پېغامبر ﷺ د کورنۍ دي. په تېرو څپرکو کې په خراسان کې د دوی په حالاتو په تفصیل سره خبرې شوې دي.

د درېیمې هجري پېړۍ په سر کې چې عباسي خلیفه مامون په خراسان کې و، اتم امام ابوالحسن علي‌رضا بن‌موسی کاظم ﷺ (۱۴۸ - ۲۰۳س) یې خراسان ته راوغوښت او لکه چې د دې کتاب د درېیم څپرکي په وروستیو کې مو وویل، په طوس کې د ۲۰۳س= ۸۱۸ ز شاوخوا مړ او په همدې (اوسني مشهد) کې ښخ شو.

خراسان ته د حضرت علي‌رضا راتګ په دې سیمه کې د هغهٔ د پلویانو او ډلې د زیاتېدو لامل شو او امامیه‌فقه هم وغوړېده، لکه چې په فقه کې یو کتاب هم ورته منسوب دی، چې د فقه‌الرضا په نامهٔ په تهران کې ۱۲۷۴س چاپ دی. همدا رنګه اصول‌الدین (د هند د بوهار خطي نسخه)، په طب کې الرسالة‌الذهبیة (د برلین، مشهد او نورو خطي نسخې) او په حدیثو کې صحیفة‌الرضا (د لکهنو چاپ ۱۸۸۳ز) دې امام ته منسوب دي.[۱] که دهٔ ته د دې آثارو په منسوبولو کې څه شک وي، خو بیا هم څرګنده ده چې امام علي‌رضا ﷺ په فقه او حدیثو کې ځینې ویناوې او املاوې درلودې چې تر هغهٔ وروسته به یې تدوین کړې وي. د امامیه‌وو دا فکري او تشریعي خوځښت هم په خراسان کې پیل شوی و.

[۱]- بروکلمان ۳/ ۳۳٦.

په همدې بحث کې مو څو مخه وړاندې د تفسير د علم په تفصيل کې د ابوالجارود زياد بن‌منذر خراساني يادونه وکړه. هغه پنځم امام حضرت‌محمد باقر ته د منسوب يوه ډېر پخواني تفسير راوي دی. محمدباقر د اماميه‌وو له امامانو او فقيهانو څخه دی، چې په ۱۵۰س= ۷۶۷ز کال کې مړ دی.[۱]

د اماميه‌وو له پېژندل شويو فقيهانو، د کلام د علم له عالمانو او د امام علي‌رضا له شاگردانو څخه ابومحمد فضل بن‌شاذان نيشاپوری دی، چې په ۲۶۰س= ۸۷۴ز کال کې مړ دی. هغه د ۱۸۰ ټوکو کتابونو ليکوال گڼل شوی، چې: (۱) رد بر بن‌کرام (۲) ألإيمان، (۳) محنة الإسلام (۴) رد بر ثنويان (۵) رد بر غلاة (۶) ألتوحيد، (۷) رد بر باطنيان و قرمطيان يې معلوم دي.[۲]

بروکلمان وايي ابن‌شاذان نيشاپوری د کتاب‌الايضاح يا ايضاحات في‌الرد على سائرالفرق په نامهٔ کتاب هم لري، چې خطي نسخې يې په مشهد او عراق کې دي.[۳]

---

۱- الأعلام ۳/ ۹۳.

۲- الأعلام ۵/ ۳۵۵ د طوسي فهرست ۱۲۴، منهج‌المقال د بهبهاني ۲۶۰، الذريعه ۳/ ۵۱۰ او نورو په حواله.

۳- تاريخ ادب عرب ۳/ ۳۳۶ د فهرست مشهد او الذريعه په حواله ۴۹۰.

## د افغانستان د پوهانو ونډه

د ادبي علومو په تدوین کې

د امویانو په پیر کې د اسلامي فتوحاتو لړۍ وغځېده او له نورو قومونو سره د عربو ګډېدل هم زیات شول. ځکه چې په زرګونو صنعت کارانو او مریانو په کوفه، بصره او بغداد کې اوسېدل- چې د عربي فرهنګ مرکزونه وو- او په پارسي او نورو ژبو یې خبرې کولې؛ نو په عربي ژبه کې بدلون راغی او د عربانو دې ته پام شو چې د قرآنکریم د تحریف د مخنیوي په موخه باید د خپلې ژبې سمولو ته ځیر شي او د قریشو قرآني لهجه د نورو بېلابېلو عربي لهجو له اغېز څخه وساتي. ابوالاسود الدؤلي (ظالم بنعمرو، زوکړه ترهجرت ۱۹کاله د مخه- مړینه ۶۹س) چې د حضرتعلي شاګرد و، لومړځل یې د امویانو په پیر کې دې کار ته ملا وتړله. په عربي نحو کې یې د بصريمدرسې بسنټ کښېښود چې کار یې پر منطق و قیاس راڅرخېدۀ او په مقابل کې یې د کوفيمدرسه وه.[1]

په حقیقت کې نحو په هغې ژبې خبرو کولو ته وایي، چې د مور په غېږ کې زده کیږي. سره له دې چې تل یې پرې خبرې کړي او شعرونه یې په کې ویلي دي، خو ټولو قومونو د خپلو ژبو د قواعدو طبیعي او سمې بڼې د ژوندانۀ په راورسته پېرونو کې ترتیب او علمي کړې دي. یونانیانو تر پنځمې مخزېږدې پېړۍ د مخه د خپلې ژبې د قواعدو په ترتیبولو کار نه و پیل کړی. رومانیانو هم په لومړۍ زېږدې پېړۍ کې دې کار ته لاس واچاوۀ.

عربي ژبې هم تر اسلام وړاندې او وروسته شعرونه او وېناوې درلودې، خو

---

[1]- تاریخ الاسلام السیاسی ۱ /۳۹۲ د ابن ندیم ۶۰ او دی بور در تاریخ فلسفۀ اسلام په حواله.

نحوي قواعد يې مرتب نه وو، کله چې د هجري پېړۍ په لومړۍ نيمايي کې اسلامي دولت جوړ شو، دې کار ته يې اړتيا وليده. ځينې څېړونکي اټکل کوي چې د عربي ژبې د قواعدو په ترتيب او باب جوړونه کې به يې د سريانيانو د چلن او طريقې پليون کړې وي، ځکه چې له سرياني عالمانو څخه يعقوب رهاوي ـ چې د کتابونو د مفسر په لقب يادېدهٔ (۴۶۰ز مړ) ـ لومړۍ ځل د پنځمې زېږدې پېړۍ په نيمايي کې دا کار کړی و. دا چې له يوې خوا عربان په عراق کې له دوی سره پاتې شول او له بلې خوا عربي او سرياني دوه خويندې ژبې دي، نو عربانو په عراق کې د نحوې علم په رامنځ ته کولو لاس پورې کړ.[1]

که څه هم ځينو ختيځپېژندونکو دا نه ده منلې چې ابوالاسود دې د نحوې د علم رامنځ ته کوونکی وي،[2] خو ابن‌نديم وايي: په يوهٔ کتابتون کې يې پر چينايي کاغذ د فاعل او مفعول په اړه د ابوالاسود څو کرښې د يحيی بن‌يعمر په ليک ليدلې وې، چې لاندې ترې د څو کسو نورو نحويانو ليکل هم وو.[3] همدا رنګه معاذ بن‌مسلم (۱۸۸س= ۸۰ ز په بغداد کې مړ) هم په نحوي مسايلو کې بحثونه کول.[4] له دې څرګندېږي چې عربانو په عراق کې دې کار ته لاس اچولی و.

عربو عالمانو په دې پير د لغتونو په راټولولو لاس پورې کړ او لغتونه يې هم د حديثو په څېر چې صحيح، حسن او ضعيف لري، په فصيحو او افصحو، جيدو او اجودو، ضعيفو، منکرو او متروکو ووېشل. د لغاتو د راويانو د جرحې او تعديل په اړه يې هم هڅې وکړې. د بېلګې په ډول: خليل بن‌احمد او ابوعمرو بن‌علاء (۱۵۴س= ۷۷۰ز مړ) يې ثقه وګڼل او د هغو خبرې يې ومنلې، خو قطرب (۲۰٦س= ۸۲۱ز مړ) يې درواغجن وګاڼهٔ او د ځينو عالمانو پر نقل او روايت يې باور و نه کړ. دا چې هغه مهال کتابونو او خطونو ټکي نه لرل، نو د کتابونو په ليکنو يې - چې تېروتنه په کې شونې وه- تر هغهٔ باور نه کاوهٔ چې لغات به يې په خپله نه وو اورېدلي. همدا رنګه جاهلي دورې ته منسوب ځينې اشعار چې

---

[1]- تاريخ تمدن اسلامي ۳ /۷٦.

[2]- وګ: دايرة المعارف اسلامی، د رکندورف مقاله ۱ /۳۰۷او برکلمان ۲ /۱۲۳.

[3]- الفهرست ۴۰.

[4]- نزهة الالباء، د ابن انباري ٦۴.

د خلف او حماد غوندې خلکو به له ځانه جوړول، هم سم ونه ګڼل او و یې نه منل. نو ابن‌الانباري وايي عربي کلمات دوه ډوله وو: یو متواتر (د قرآنکریم، سنتو او د عربو د کلام متواتر) چې علم ته ګټور تمامېدای شول؛ بل آحاد چې ځینو ژبپوهانو به نقلول او د تواتر شرطونه په کې نه وو. په دې ډول د عربو لغتونه راټول شول او دا پړاوونه یې ووهل:

**لومړی**: په تصادفي ډول د لغتونو راټولېدل؛ چې یو عالم به په کلیو کې کوم لغت اورېدهٔ او لیکهٔ.

**دوهم**: د یوې ځانګړې موضوع په اړه لغتونه راټولول، لکه د هغهٔ چا په څېر چې د لمانځهٔ اړوند حدیثونه به یې راټولول او نوم یې پرې کتاب الصلاة ایښودهٔ. عربو لغتپوهانو هم د ځانګړو موضوعاتو په اړه یو شمېر کتابونه ولیکل، لکه د ابوزید (۲۱۴س= ۸۲۹ ز مړ) کتاب المطر او کتاب اللبن‌او د اصمعي (۲۱۳س= ۸۲۹ز مړ) کتاب النخل، کتاب الابل او داسې نور.

**درېیم**: وروستی پړاو یې د لغوي سیندونو (قاموسونو) رامنځ ته کول وو، چې لومړی ځل خلیل بن‌احمد (۱۰۰- ۱۷۵س) کتاب‌العین وکښهٔ. لومړی توری یې عین و او د تورو د مخارجو (ستونیزو، تالوییزو، غاښیزو، شونډیزو او علتي تورو) پر بنسټ ترتیب شوی و. د اسلامي دایرة المعارف لیکوال وایي خلیل په دې ترتیب کې د سنسکرېت د عالمانو پلیون وکړ، ځکه چې هغو هم خپل سیندونه په ستونیزو تورو پیلول او په شونډیزو یې پای ته رسول.[1]

د عربي ژبې په ترتیب او خلیل بن‌احمد ته د منسوب کتاب‌العین په لیکلو کې هم خراسانیانو ونډه درلوده. په دې معنی چې د خلیل بن‌احمد د لیث بن‌مظفر بن‌نصر بن‌یسار خراساني په نامهٔ یو ملګری و، نصر بن‌یسار (۴۶- ۱۳۱س) د خراسان مېشتو مضر قبایلو له مشرانو څخه و او د ۱۲۰س= ۷۳۷ز شاوخوا د بلخ او ټول خراسان والي و.[2] همدې خراساني لیث چې د خلیل ملګری و، له هغه نه د نحوې علم زده کړ او په کتاب‌العین کې یې ډېر نوي څه ورزیات کړل.[3] ابن‌معتز وایي خلیل

---

[1]- ضحی‌الإسلام ۲ / تر ۵۸ وروسته؛ جرجي زیدان ۳ /۷۸، د ولیم د سنسکرېت ګرامر په حواله ۱۵.

[2]- وګ: د دې کتاب دوهم څپرکی او د ابومسلم د ژوندلیک برخه.

[3]- معجم‌الأدباء ۱۷ /۶.

په خراسان کې له ليث سره ډېر وخت تېر کړ، د خليل د کتاب‌العين نسخه هم سوځېدلې وه، ليث د خليل تر مړينې وروسته دغه کتاب چې نيمايي يې حفظ کړی و، له خپلې حافظې او پاتې برخه يې د نورو عالمانو په مرسته د هغهٔ په سبک وليکله.[1]

ابن جني په «خصائص» کتاب کې وايي چې کتاب‌العين له عربانو سره نه و، په ۲۰۵س= ۸۲۰ ز کال کې يې له خراسان څخه راوړ. عربي عالم ابوحاتم هغه د خليل تأليف نه گاڼهٔ، ځکه چې نحوي مسايل يې په کې د کوفيانو په سبک راوړي دي، حال دا چې د خليل سېبويه نومې کتاب د بصريانو په سبک ليکل شوی دی. ابن‌نديم هم وايي چې کتاب‌العين په ۲۴۸س= ۸۶۲ ز کال کې له خراسان څخه د وراقي په لاس راوړل شو، ۴۸ برخې يې درلودې او په ۵۰ دينارو يې وپلورهٔ.[2]

**خراساني روح د ژبې او نحوې په قالب کې**

په عباسي پېر کې عراق او خراسان د ملي، علمي او فکري خوځښتونو مرکزونه وو. ديني علوم او عربي ادب په دې سيمه کې تدوين او روزل شوي، ان اصمعي څه موده په مکه او مدينه کې واوسېدو او هلته يې يوه سمه عربي بولله وا نه ورېده،[3] خو عراقيانو او خراسانيانو چې لرغوني تهذيبي او فرهنگي ميراثونه درلودل، اسلامي علوم هم په خپلې پخوانۍ روحيې وروزل.

خراسانيان چې د حنفي مذهب بنسټگر، پياوړی او پوه عالم امام ابوحنيفه رضي الله عنه يې د فکري او فرهنگي ښېگڼو استازی و، په فقه کې يې پر قرآن، سنتو او اجماع سربېره قياس هم دود کړی او غوړولی و، چې همدا روحيه د خليل بن‌احمد په علمي مېتود کې هم ليدل کېږي. ځکه هغهٔ په لغتو او نحو کې هم قياس مهم وگاڼهٔ، ابن‌جني وايي هغه په علم کې د قياس د اصولو کاشف دی. په داسې حال دا چې مقابل لوری

---

[1]- احمد امين در ضحی ۲ /۲۶۷ د معجم‌الأدباء په حواله.

[2]- ضحی ۲ /۲۶۸ د الفهرست او خصائص په حواله.

[3]- المزهر ۲/ ۲۱۰.

اصمعي د محدثانو غوندې يواځې په لغوي نصوصو او قوي رواياتو ډېره لګوي او له قياس څخه ځنګ کوي.[1] د قياس همدا علمي مېتود و، چې پر عربي لغت او نحوې يې ډېرې ښې اغېزې کړې دي. د دې فن امام کسايي به ويل:

انما النحو قياس يتبع   و به في كل امر ينتفع

نو د عربي ژبې او نحوې علم په بصره کې مدون او بنسټ يې کښېښودل شو. په دې علم کې د بصريانو مذهب تر نورو پخوانی دی. بيا ابوجعفر رواسي ۱۵۰س= ۸٦۷ز په کوفه کې د کوفي مېتود بنسټ کښېښود چې کسايي (۱۸۹س= ۸۰۴ز مړ) او فراء (۲۰۷س= ۸۲۲ز مړ) يې مشهور شاګردان دي. دواړه عجميان وو، په بغداد کې يې درباري رتبې تر لاسه کړې او د خليفه‌ګانو د اولادونو استادان شول. په دې عباسي پلازمېنه کې بصري او کوفي مېتودونه سره ګډ شول.[2] د قياس علمي مېتود دې علم ته ښه وده ورکړې وه. خراساني‌پوهانو هم د دې علم په تدوين، خپراوي او غوړونه کې پاموړ ونډه اخيستې وه، چې د يو څو نومونه يې دا دي:

**نضر بن‌شميل مازني**

د خليل له شاګردانو څخه و. پر ۱۲۲س= ۷۴۰ز کال په مروه کې وزېږېد. تر ځلوېښتو کلو پورې يې په کليو کې د عربي ژبې په اورېدنو او څېړنه تېر کړل. په بصره کې يې د نحويانو سبکونه ولوستل. په ۱۲۸س کې چې زده‌کړې يې پای ته ورسېدې خپل وطن مروې ته راستون شو. مامون دلته قاضي وګوماره. سني مذهبه و او په ۲۰۳س= ۸۱۸ز کال کې په مروه کې ومړ.[3]

له آثارو څخه يې کتاب‌الصفات،[4] غريب‌القرآن (د برتانيا د موزيم خطي نسخه)، تشريح‌الحروف، قوة‌العربيه،[5] كتاب‌السلاح او كتاب‌الانواء والمعاني دي[6]. ابن‌قتيبه يې

---

[1]- ضحی ۲/ ۲۷۹ د خصائص په حواله ۱ /۳٦٦.

[2]- ضحی ۲/ ۲۹۸.

[3]- بروكلمان ۲ /۱۳۹.

[4]- الفهرست ۵۲.

[5]- البلغه، د ۱۹۱۴ز چاپ.

[6] - الأعلام ۸ / ۳۵۷.

د غريب، شعر، نحوې او حديث ښښتن او د خلکو له ژوند او پوهې سره اشنا ګڼي.[1]

**اخفش اوسط بلخي**

ابوالحسن سعيد بن‌مسعده له آره بلخي، د سيبويه له شاګردانو او د عروضو د علم له استادانو څخه دی. تر خليل بن‌احمد وروسته يې خبب بحر د خليل پر پنځلس ګونو بحرونو ورزيات کړ. بروکلمان وايي په ۲۲۱ س= ۸۳۵ز يا ۲۱۵س کال کې مړ دی. د هغهٔ له آثارو معاني‌القرآن (د مشهد کتابتون)، شرح ابيات المعاياة (د واتيکان کتابتون)، تفسير علم‌القوافي (د حسين چلبي بروسه کتابتون)، غريب‌القرآن (د برتانيې موزيم) ابيات‌المعاني والاشتقاق، معاني‌الشعر او کتاب‌الملوک پېژندل شوي دي.[2]

**ابن‌سلام هروي**

د عربي ژبې، ادب او نحوې له پېژندل شويو امامانو څخه دی چې ژوندليک يې څو مخه مخکې وړاندې شو.

**ابوحاتم سيستاني**

سهل بن‌محمد بن‌عثمان سيستانی (خوارجو ته منسوب سړی) د اصمعي او اخفش له شاګردانو څخه دی. په بصره کې يې ژوند کاوهٔ او په همدې ښار کې په ۲۵۰س= ۸۶۴ز يا ۲۴۸س کال کې مړ شوی دی. دی د لغت او شعر له سترو عالمانو څخه و. مبرد ترې هم درس ويلی دی او د ګڼو تأليفاتو ښښتن دی، لکه: کتاب‌المعمرين (په لندن کې د ګولډزيهر چاپ ۱۸۹۹م)، کتاب‌الوصايا (د کمبرج چاپ ۱۸۹۶م) و کتاب‌الاضداد (د بيروت چاپ ۱۹۱۲م) کتاب‌التذکير و التأنيث (د مصر د احمد تيمور کتابتون خطي نسخه) کتاب‌النخل، کتاب‌النخله (چاپ شوی) او داسې نور.[3] د دهٔ د نازکخيالی بېلګه:

ابــرزوا وجــه الجميـــ ـــل و لامـوا مـن افتـتن

لـــو ارادوا عفافنـــا ســتروا وجـه الحســن[4]

«ښکلې څېره يې لوڅه او سرکښان يې پرهٔ کړل، که پرهېزګاري يې راځنې

[1]- کتاب‌المعارف ۵۴۲ د ابن قتيبه مروزي تأليف، د قاهرې چاپ، ۱۹۶۰ز.

[2]- بروکلمان ۲ /۱۵۲ او الأعلام ۳ / ۱۵۴.

[3]- بروکلمان ۲ / ۱۵۹ او الأعلام ۳/ ۲۱۰.

[4]- ابن‌خلکان ۱/ ۲۱۸.

غوښتلای، دا ښکلی مخ به یې ټول پټولای»

**شمر بن‌حمدویه هروي**

ابوعمرو شَمِر بن‌حمدویه هروي چې له هرات او خراسان څخه په ځوانۍ کې عراق ته لاړ، له ابن‌الاعرابي او نورو څخه یې زده‌کړې وکړې او بېرته خراسان ته راغی. د عربي ادب د امامانو نضر بن‌شمیل او لیث بن‌مظفر له علومو څخه برخمن شوی. هغۀ د کتاب‌العین په پلیون خپل لوی لغوي سیند ولیکۀ چې په جیم توري پیلیدۀ او کتاب‌الجیم یې ونوماوۀ. خو هیڅا ته یې ترې کومه نسخه ور نه کړه. چې ومړ، کورنۍ یې د یعقوب بن‌لیث یوۀ منصبدار ته ورکړ؛ خو په نهروان کې یې چې پر لښکر یو ستر نېز (سیلاب) راغی، له نورو مالونو سره دغه کتاب هم له‌منځه لاړ. ازهري (۳۷۰س= ۹۸۰ز مړ) د دې کتاب نیمګړې برخې لیدلې وې. مړینه یې په ۲۵۵س= ۸۶۹ ز کال کې وه. السلاح، امثال، جبال، ادویه او غریب‌الحدیث آثار یې پېژندل شوي دي.[1] ښکاري چې هغه تر ټولو پخوانی سړی دی چې تر خلیل وروسته یې د عربي ژبې ستر سیند لیکلی دی.[2]

**ابن‌الاعرابي سندی**

ابوعبدالله محمد بن‌زیاد چې پلار یې سیندی مریی و، په ۱۵۰س= ۷۶۷ز کال په کوفه کې وزېږېد. د پلار تر مرګ وروسته یې له مور سره د عربي ژبې پېژندل شوي ادیب مفضل بن‌ضبي وادۀ وکړ،[3] نو محمد له هغۀ څخه زده‌کړې وکړې، په ژبه، اوقاتو او انسابو کې د وخت مخکښ عالم شو. په سلګونو کسان به یې درس ته کښېناستل. د ۸۱ کالو په عمر ۲۳۱س= ۸۴۴ ز یا ۲۳۰س کال د عراق د سامراء په سیمه کې ومړ. ابن‌اعرابي چپی (دوه لیدونی) و، درسونه او د خلکو د پوښتنو ټول ځوابونه یې له یاده ویل، کتاب لوستو ته یې اړتیا نه وه. په علم او شعر کې د خپل وخت نامتو و، آثار یې دا دي:

اسماء خیل‌العرب و فرسانهم (د اسکوریال خطي ۱۷۰۵) کتاب‌الفاضل في

---

[1]- بروکلمان ۲ /۲۰۱ او الأعلام ۳ /۲۵۳.

[2]- طبقات‌الادباء ۲۶۰.

[3]- المعارف، د ابن‌قتیبه ۵۴۶.

الأدب (د قدس خالديه کتابتون۴۵/ ۳) مقطعات ميراثی (د دبليورائټ چاپ) النوادر برواية ثعلب (د قدس خالديه کتابتون) ابيات‌المعاني، کتاب‌الأمالي، شعر ارطاة (د دکن د آصفيې کتابتون ۱۴۲۸) کتاب‌البئر (د قاهرې کتابتون) ديوان‌العاشقين (د قاهرې چاپ ۱۳۰۵س) تاريخ‌القبائل، تفسير‌الامثال، الانواء،[1] صفة‌النخل، صفة‌الزرع، کتاب‌النبت و البقل، نسب‌الخيل او کتاب‌الالفاظ.

محمد بن‌فضل شعراني وايي: هماغسې چې سفيان ثوري د حديثو، ابوحنيفه د قياس او کسايي د قرائت امام دی، ابن‌الاعرابي د عربو د کلام امام دی. هغهٔ د تدريس د اجورې له لارې د مياشتې زر درهمه تر لاسه کول چې د هماغې مياشتې تر پايه به يې پر اړمنو وېشل.[2]

[1]- بروکلمان ۲ /۲۰۳ او الأعلام ۲ /۳۶۵ او ضحی ۱ /۲۳۲.

[2]- معجم‌الأدباء ۱۸ /۱۸۹.

## د عربي شعرونو خراساني نوميالي

د اسلام په دوو لومړنيو پېړيو کې عـربي ادب او شـعر ورو ورو د جاهليـت د پېر د زړو شعرونو له قالبو راووت او د اموي او عباسي دولتونو په سيوري کې يې وده وکړه.

څېړونکو د عربي شعر او ادب د نه ودې لامل د بهرني اغېـز کمښـت بللـی دی. ان د اسلام په لومړيو کې هم عربان د نورو قومونـو د آدابـو او افکـارو لـه پېژندلو بې برخې وو. له ادبي او عقلي پلوه يې له نورو سره تړښت او اړيکي نه درلودل.[1]

دا چې په عباسي پېر کې د عربي شعر نوی خوځښت رامنځ ته شو، نو ابن‌المعتـز په خپل کتاب‌البديع کې د عربي شعر دورې د پخوانيو او محدثينو تـرمنځ وويشـلې.[2] د عباسي دولت اميرانو او وزيرانو خپل نوی ذوق د فن او شعر مادي بنسټ وګرځاوه او په ستاينه کـې يـې د شـاعرانو غلـو روا ونـه ګڼلـه. دا نـوی پـل هـم يـوه خراسـاني يحيی‌برمکي واخيست، ابان لاحقي يې د شعرديوان مشر۔وټاکـه چـې د شـاعرانو پـر ستاينو کره‌کتنه وکړي.[3]

په عباسي پېر کې د ښکلو او خوږ ږغو وينځـو د سـندرو او موسـيقۍ پـه وسـيله نوي عربي شعر ښه شهرت وموند. د دې لپاره چې د وينځو قيمت لوړ شي پلورونکو به فرهنګي زده‌کړې او سندرې ورښودلې چې بيا همدې وينځو نوی شعر ډېـر خپـور کړ، ځکه چې ځوانان به تل د سندرغاړو کره د موسيقۍ اورېدو او له غزلو او شرابونو د خوند اخيستو لپاره راټولېدل.[4]

---

[1]- طه حسين در حديث الاربعاء ۱ /۱۴.

[2]- دېوان ابن المعتز، د کراتشکوفسکي سريزه ۱۴.

[3]- بروکلمان ۲ /۱۱ د جهشياري د کتاب‌الوزراء په حواله ۲۵۹.

[4]- د جاحظ رسائل، د قاهرې چاپ، ۱۹۲۶ز.

په مسلمانانو کې د سندرو لومړنی مدون هم د هرمز د اولادې یو عجمي یونس بن کاتب بن سلیمان بن کرد دی، چې شاعر، لیکوال او سندرغاړی و. (۱۳۵س= ۷۵۲ز مړ په مدینه کې) هغهٔ لومړی ځل د سندرو په اړه کتاب ولیکهٔ چې ابوالفرج اصفهانی یې حواله ورکوي.[۱]

عربي ژبو شاعرانو له خراسان او عجمو څخه ډېر فکرونه، شعري قالبونه او نوي شیان خپل کړل، لکه روبه‌بن‌عجاج چې شاعر او د عربو پېژندل شوی ژبپوه و، خراسان او کرمان ته یې د سوداګرۍ لپاره تګ راتګ کاوهٔ[۲] (۱۴۵س= ۷۷۶۲ز مړ) او او یزید بن‌زیاد حمیري په ابن‌مفرغ مشهور (۶۹س= ۶۸۸ز په کوفه کې مړ) غندونکی شاعر چې څه وخت په سیستان کې زنداني و کله چې عربو ته ورستون شو عجمي الفاظ یې په عربي شعر کې ګډ کړل.[۳] زیاداعجم چې تر ۱۰۰س= ۷۱۸ز کال وروسته په خراسان کې ومړ، هغهٔ هم په عربي شعر کې پارسي الفاظ کارول.[٤] مخکې مو د عربي شاعر ابوعطاء افلح سندي یادونه کړې ده، دی هم د ژبې له بندښت او عجمیتوب سره- چې په خبره یې پوهېدل ګران وو- د خپل وخت مشهور شاعر و. هغهٔ عباسیان وغندل، په خراسان کې نصر بن‌سیار ته ورغی او تر ۱۸۰س= ۷۹۶ز وروسته ومړ.[۵] همدا رنګه دِعبل حسن بن‌علي خزاعي کوفي (۱۴۸-۲۴۶س) د هجوې مشهور شاعر چې د ۱۷۳- ۱۷۵س کلو ترمنځ په سمنګانو او تخارستان کې والي و او په طوس کې ووژل شو.[٦] کلثوم بن‌عمرو عتابي (۲۰۸س= ۸۲۳ز مړ) د معلقې څښتن د عمرو بن‌کلثوم له اولادې څخه درې ځله د عجمو سیمو ته سفرونه وکړل، د مروې او نیشاپور په کتابتونو کې یې مطالعه وکړه او عجمي آداب یې زده کړل چې په شعر کې یې ښې بېلګې موجودې دي.[۷]

---

۱- کتاب الأغاني ۴ /تر ۱۱۴ وروسته.

۲- خزانةالأدب، د بغدادي ۱ /تر ۴۳ وروسته.

۳- معجم‌الأدباء ۷/ ۲۹۷.

٤- بروکلمان ۲ /۲۳۱ د الشعر و الشعراء په حواله ۲۵۷.

۵- فوات الوافیات ۱ /۷۳.

٦- بروکلمان ۲ /۳۹ د یاقوت، الأغاني او نورو په حواله.

۷- بروکلمان ۲ /۳٦.

له دې بېلګو څخه پوهېږو چې لـه خراسـانيانو او عجمـو سره د عـربي شـاعرانو ګډون او له دې سيمې اغېزمنېدل څومره وو؟ د بېلګې په توګـه د عربـو د سـتر شـاعر ابونواس (۱۳۹س= ۷۵٦ز ـــ ۱۹۰س= ۸۰۵ ز) چې لـه پـارسي ژبـې مـور زېږېـدلی دی، يو بيت دلته راوړو چې پـه خپلـو شـعرونو کـې پـارسي کلمـې او ان ترکيبونـه او عبارات کاروي، د بېلګې په ډول:

يا نرجسـي و بهـاري! بده مرا يک باري...[1]

**بشار تخاري**

ابومعاذ بشار بن بُرد بن يرجوخ تخاری د اموي او عباسي پېرونو له لومړيو مسلمانو سترو شاعرنو څخه و. پلار يې په تخار کې د مهلب بن ابي صفره له خوا په نيول شويو بنديانو کې (د ۷۹- ۸۲ س) کلو تر منځ بصرې ته راغی. د عقيلي له دوستانو څخـه و. بشار بيا په ۹۵س= ۷۱۴ زکال کې هم هلته په بصره کې له موره ړونـد وزېږېـد. بيـا لـه هغه ځايه بغداد ته لاړ، په حران کې يې د سليمان بـن هشـام بن عبـدالملک دربـار تـه لاره ومونده او د ځينو اموي اميرانو ستاينې يې وکړې.[2]

بشار د خپلو نيکونو مجوسي دين ستايهٔ، اور يې سپېڅلی ګاڼهٔ؛ نو سوچه شـعوبي و. په عربي شعرونو کې يې په خپل خراساني آر و نسب او په دې ويـاړ کـاوهٔ چـې د تخارستان د پاچاهانو له کورمې دی.[3] په ځوانۍ کې د معتزله وو د مذهب لـه بنسـټګر واصل بن عطا سره ملګری شـوی و. ابـراهيم بن عبـدالله علـوي چـې پـه بصره کـې د عباسيانو پر ضد پاڅون وکړ، بشار هغه د ميميه په بوللـه کې- چې د جريـر او فـرزدق تر ميمي قصيدو غوره ګڼل کېده- وستايهٔ، خو کله چې ابراهيم ماتې وخوړه، بشـار د قصيدې سرليک بدل کړ او د منصور پر ستاينه يې واړاوهٔ.[4]

بشار يو رند او زړور غندونکی شاعر و، چې نور شاعران بـه يـې غنـدل، نـو ډېـر مخالفان يې لرل، خو چې المهدي يې وستايهٔ نو ورنږدې شو. بشار به په شـعر کـې د

---

[1]- تاريخ ادبيات صفا ۱ /۱۵۱.

۲- الأغاني ۳ /۵٦.

۳ - ديوان بشار ۷۳او ۸۱.

[4]- ديوان‌المعاني، د عسکري ۱ /۱۳٦.

ښځو او پېغلو ستاينې کولې، جادوگرو غزلو او ستاينو يې ښځې په فتنو اخته کولې چې بيا المهدي د ښځو له دې ستاينو بند کړ. له همدې امله ابن‌رشيق دی د محدثينو د پوړ امروء القيس گڼلی دی.[1] وايي د ښځو په اړه د دهٔ خوارهٔ او نازکخياله شعرونه په ټول عراق کې دومره مشهور شول چې ټولو سندرغاړو نجونو او د بصرې ښکلو به زمزمه کول، ښځې به کور ته پسې ورتللې او شعرونه به يې ترې اخيستل. د وخت ستر زاهد مالک بن‌دينار يې په اړه وويل:« د بصريانو لپاره د دې رانده تر شعرونو بل فاسقوونکی څيز نهٔشته» واصل بن‌عطاء به ويل:«د دې راندهٔ ملحد خبرې د شيطان ډېرې زياتې غلوونکې او گمراه کوونکې لومې دي.»[2]

بشار به په شعري فنونو کې تصرف کاوهٔ، داسې نوي قالبونه به يې جوړول[3] چې پخوا به جوړ شوي نه وو او له نورو به يې هيڅ څيز نه اخيست.[4] په هغهٔ ځانگړي ځواک يې تمرکز کاوهٔ چې سرچينه يې نهٔ ليدل وو؛ نو د اورېدلو او بويولو په ځواکونو يې شعري مطالب انځورول.[5] جاحظ وايي دی وياړونکی شاعر، سجاع ويناوال، د منثورو او گډو ويناوو او مشهورو رسالو څښتن و.[6]

خو بشار په عقايدو کې ستونزه لرله، په اور لمانځنه کې يې - چې د پلرونو دين يې و - غلو کوله.[7] په ځينو شعرونو کې يې ان له اوره پيدا شيطان تر خاورين انسان غوره گڼلی دی.[8] ښايي همدا الحادي او زندقي گروهې، ادبي زړنتيا، تېره غندونې او سپکوونې ژبه او له ښځو سره مينه ناکې خبرې وې، چې المهدي خليفه اويا متروکې وواههٔ او د جلادانو تر متروکو لاندې ١٦٧س= ٧٨٣ ز ومړ او په بصره کې ښخ شو.[9]

---

[1]- قراضةالذهب، د ابن رشيق ١٦.

[2]- ضحی ١ /١٨۴ د الأغاني په حواله ٣ /۴١ وروسته.

[3]- الأغاني ٣ / ٢٥.

[4]- قراضه ٥٨.

[5]- عباس عقاد در مراجعات فی الادب و الفنون، تر ١٣۴ مخ وروسته.

[6]- البيان و التبيين ١ /۴٩.

[7]- الکامل مبرد ٥۴٧.

[8]- ديوان بشار ٦۴، همدارنگه وگ: د دې کتاب دريم څپرکی.

[9]- بروکلمان ٢ /تر ١٣مخ وروسته او الأعلام ٢ /٢۴ مخ.

له زړۀ وړونکو شعرونو څخه يې دا دی:

و غـــــادة ســـــوداء براقـــــة كالمـاء فـى طيـب و فـى لـين
كأنهـــا صـــيغت لمـــن نالهـــا مـــن عنـبر بالمسـك معجـون[1]

«دا ځلانده توره پېغله، په ښۀوالي او نرمۍ کې لکه د اوبـو غونـدې ده، تـه وا د مينانو لپاره د عنبرو او مشکو له معجونه جوړه ده.»

په لاندیني شعر کې يې خپل ړوندوالی د سندرو په مينه او خوښولو جبيره کړی دی، چې دا يې د نويو معنو هنر ګڼل کېږي:

ياقوم أذني[2] لبعض الحي عاشقة والأذن تعشق قبل العين أحيانا
قالوا بمن ياترى تهذى فقلت لهم الأذن كالعين توفى القلب ما كانا[3]

«ای خلکو! غوږونه مې د قبيلې پـه يـو چـا مـين دي، کلـه غـوږونـه تـر سـترګو وړاندې مينېږي، ځيني راته وايي چې ولې پـه ځوزانـو شـخوند وهـې؟ ورتـه وايـم غوږونه هم د سترګو غوندې زړۀ خپلو هيلو ته رسوي.»

کله چې المهدي له ښځو سره له ميني او مستۍ منع کړ، نو د حال برابر يې وويل:

قد عشت بين الريحان و الراح و المزهر في ظل مجلس حسن
و قـد مـلاءت الـبلاد مـا بـين فغفـور إلـى القيـروان فـاليمن
شـــعراً تصـــلى لـــه العواتـــق و الثيـب، صـلاة الغـواة للـوثن
ثـم نهـاني المهـدي فانصـرفت نفســي ضـيع الموفـق اللقـن
فالحمـــد لله لا شريـــك لـــه لـيس بباق شئ علـى الـزمن[4]

«ما د ښو بنډارونو په سيوري کې خوښ، خوشحاله او په خوږو سندرو کې ژوند تېر کړ، شعر مې د چين، قيروان او يمن تر منځ پر ټولو ښارونو خپور شو، پېغلې او ښځې يې د بت‌لمانځو غوندې لمانځي او خوښوي يې؛ خو چې المهدي ترې منع کړم، زه

[1]- الأغاني ٣/ ٤٦.
[2] - په اصل کې (اذن) دی.
[3]- عصرالمأمون، د داکتر احمد فريد رفاعي ١ /١٨٧، د قاهرې چاپ، ١٩٢٧ز.
[4]- ضحى‌الإسلام ١ /١٠٩.

هم د هوښیارانو او ځیرکانو غونډې ترې مخ اړوم. د بې‌سیاله خدای شکر چې په دنیا کې هیڅ څیز تلپاتې نه دی»

## حسین خلیع خراساني

ابوعلي حسین بن ضحاک بن یاسر په خلیع مشهور چې له آره خراساني دی، په عباسي پېر کې د عربي ستر شاعر و. دی د یوه اصحابي سلمان بن ربیعه باهلي[1] مریی و. په ۱۶۲س=۷۷۹ز کال په بصره کې وزیږېد او په ۲۵۰س= ۸۶۴ز په بغداد کې ومړ. دا چې په ځوانۍ کې یې د خمریاتو[2] له شاعر ابونواس سره ناسته پاسته لرله، نو دی هم په خمریاتو، ستاینو، ټوکو او بېباکیو کې مشهور شو؛ نو خلیع (خپله او بېباک) یې وبالۀ. هغه زړۀ وړونکی او نوښتگر شاعر و. ابونواس به د دۀ خوندورې معانې په خمریاتو کې راوړې. په ۱۹۸س= ۸۱۳ز کال کې یې د امین دربار ته لاره وکړه؛ نو بیا د بغداد د خلیفه‌گانو د مجلسونو گډونوال و.

مامون چې له خراسانه بغداد ته راغی، حسین خلیع یې ځکه حضور ته ونه مانۀ چې د هغۀ ورور امین یې ستایلی و. دی هم د مامون د ټولې واکمنۍ په پېر کې په بصره کې واوسېد. بیا یې المعتصم وستایۀ او بغداد ته راستون شو.

د خلیع شعرونه بېباکه؛ خو خواږۀ وو. یو ځل یې معتصم وستایۀ چې په بدله کې یې خولۀ له جواهرو ورډکه او مرتبه یې ورلوړه کړه. له شعرونو یې جوتېږي چې اتیا کلنۍ ته رسېدلی و. یو نازکخیاله شعر یې دا دی:

ألا إنما الدنيا وصال حبيب    و أخذک من مشمولة بنصيب
ولم أر فی الدنيا کخلوة عاشق    و بذله معشوق، و نوم رقيب[3]

«ژوند د دوست وصال او د سړو میو پیالې ته ویل کېږي، ما په دنیا کې د عاشق تر گوښناستۍ، د معشوق تر سخا او د رقیب تر خوب بل ښۀ نعمت نه دی لیدلی.»

## خلف‌احمر خراساني

ابومحرز خلف بن حیان په احمر مشهور، چې هغه او پلار یې د بلال بن ابوموسی

---

[1]- د مؤرخانو ترمنځ د سلمان ابن ربیعه باهلي د زیږېدلو او مړینې په نېټو او همدارنگه د رسول‌الله ﷺ سره یې د خبرو په اړه اختلاف دی (ژباړن).

[2]- هغه شعرونه چې د شرابو په ستاینه کې ویل کېږي.

۳ - معجم‌الأدباء ۱۰/ ۵.

اشعري مريان وو. د خراسان له فرغانې د قتيبه بن‌مسلم په بنديانو کې راوستل شو. خلف احمر په عربي شعر کې دومره پياوړی شو چې د پخوانيو عرب شاعرانو په څېر به يې شعر وايۀ او د هغو په نامۀ به يې خپراوۀ؛ کتاب‌العرب د هغۀ دی.[۱]

خلف د پخوانيو جاهلي شاعرانو په نامۀ د جعلي شعرونو په ويلو کې دومره لاس لارۀ چې تکړه کره‌کتونکو به هم نه پېژاند؛ ان ويل کېږي چې شنفري ته منسوب لامية‌العرب د هغۀ شعرونه دي. هغه د اصمعي او بصره‌والو استاد دی، چې له هغۀ يې د جاهلي پېر ډېر شعرونه روايت کړي دي.[۲] اخفش ويلي وو چې زه په شعر کې تر خلف او اصمعي نور تکړه څوک نه پېژنم. هغه د شعري دېوان او د جبال‌العرب کتاب څښتن دی. په ۱۸۰س= ۷۹٦ز کال کې ومړ.[۳]

**اسحاق سغدي**

ابويعقوب اسحاق بن‌حسان بن‌قوهي خريمي د عربي ژبې ستر شاعر او عجمي آری سغدی و. د شعوبيانو په څېر يې په خپل سغدي توکم وياړل او عجم يې پر عربو غوره گڼل، لکه چې په دې بيت کې يې ويلي دي:

إني إمروء من سراة الصغد البسني    عرق الأعاجم جلداً طيب الخبر

يعنې:«زه له سغدي سرخېلو مېړنو څخه يم، عجمي آر مې د غوره‌والي پوستکی رااغوستی دی.»

اسحاق د هارون او مامون په پېر کې مشهور شو، هغوی يې وستايل، له برمکي کاتب محمد بن‌منصور سره يو ځای شو.[٤] د منصور کورنۍ يې وستايله او د منصور تر مړينې وروسته يې هغۀ ته ويرنې وويلې؛ وپوښتل شو چې د منصور ستاينې دې له ويرونو څخه ښې دي، ځواب يې ورکړ: هو! هغه مهال به مې په يوې هيلې شعر وايۀ، خو اوس د وفا لپاره دي او د دې دواړو تر منځ ډېر واټن دی.[٥]

---

[۱]- الفهرست ۷۴.

[۲]- بروکلمان ۲ /۱۹.

[۳] معجم‌الأدباء ۱۱ / ٦٦.

[٤]- بروکلمان ۲ /۱۹ د الشعر و الشعراء، تر ۵۴۲ وروسته؛ ابن عساکر ۲ /۴۳۴ وروسته او نويري۵ /۱۷۹ په حواله.

[٥] - عصرالمأمون ۳/ ۳۸٦.

د بغداد د فتنو په اړه د اسحاق سغدي اوږده بولله ده چې طبري د ۱۹۷س=۸۱۲ ز کال په پېښنو کې راوړې، دا څو بيتونه د هغې دي:

قالوا ولم يلعب الزمان ببغـ ـداد وتعثر بها عواثرها
إذ هي مثل العروس بادئها مهول للفتى وحاضرها
جنّة دنيا ودار مغبطة قلّ من النائبات وائرها
درّت خلوف الدنيا لساكنها وقلّ معسورها وعاسرها
دار ملوك رست قواعدها فيها وقرّت بها منابرها...
وأصبح البؤس ما يفارقها الفاً لها والسرور هاجرها
أين الظباء الأبكار في روضة الملك تهادى بها غرائرها
أين غضاراتها ولذّتها وأين محبورها وحابرها
فأين رقاصها وزامرها يجبن حيث انتهت حناجرها...
يا بؤس بغداد دار مملكة دارت على أهلها دوائرها
أمهلها الله ثمّ عاقبها لمّا أحاطت بها كبائرها
بالخسف والقذف والحريق و بالحرب الّتي أصبحت تساورها
حلّت ببغداد وهي آمنة داهية لم تكن تحاذرها
طالعها السوء من مطالعه وأدركت أهلها جرائرها...[1]

«وايي: زماني له بغداد سره بده او وژونکې لوبه نه وه کړې. ځکه په پيل کې د ځوانانو ښکلې او زړهٔ وړونکې ناوې، د ځمکې پر مخ جنت او رخه پاروونکی ځای و، د تباه کوونکو پېښنو ورته ډېره لږه مخه وه؛ خو د پاچاهانو ځی او د دريځونو منځی بغداد اوس له تباهی سره مخامخ دی، خوښی او خوشحالی ترې کډه کړې. هغه ځوانې او پېغلې هوسی چې په شاهي بڼ کې وې، چېرته دي؟ مزې چړچې، خوندونه، خوښی او نعمتونه يې څه شول؟ هغه نڅاګرې او شپېلی ږغوونکې چې له حنجرو به يې خوږهٔ ږغونه راوتل، چېرته دي؟

[1] - طبري ۷ / ۵۲.

افسوس دې پر پلازمېنې بغداد! خدای څه مهال مهلت ورکړ، خو چې کله يې وګړي په لويو ګناهونو کې ډوب شول، نو په ډوبېدنو، لوېدنو، سوځېدنو او سختو شخړو ورټل شول. په امن بغداد هغه پېښه راغله چې خلاصون تری نه و. له څنډو پرې بدرنګۍ او بدۍ راولټېدې او استوګنو يې د خپلو ګناهونو خوند وڅاکۀ...»

د اسحاق د ژوند د وروستيو او مړينې په اړه معلومات نه لرو؛ خو له ځينو شعرونو يې برېښي چې په بوډاتابۀ کې ړوند شوی و، په دې اړه به يې داسې ويل:

فلــم يعــم قلبــي ولكــنما    أرى نــور عينــي إليــه سرى

«زړۀ مې ړوند نه دی، ځکه د سترګو رڼا زړۀ ته ورغلې.»[1]

## مروان خراساني

مروان بن‌سليمان د خراساني يهودي طبيب ابوحفصه له پښته دی چې د مروان بن‌حکم اموي له مريانو څخه و، نوځکه يې ابن‌ابي حفصه بالۀ. کله چې د يمامې مسوول وګومارل شو، هلته يې له عربې سره وادۀ وکړ. مروان په ۱۰۳س= ۷۲۱ز کال له شاعر پلاره وزېږېد، د المهدي ستاينې يې وکړې، خو په خپلو شعرونو کې يې په اهل‌بيتو پسې سپکې سپورې ويلې وې، نو شيعه‌ګانو په ۱۸۲س= ۷۹۸ز کال کې ووژۀ.

مروان په شعر کې د پخوانيو پر سبک روان و. ژبپوهانو او اديبانو به يې درناوی‌کاوۀ. محمد بن‌اعرابي د شعر شرحه په مروان ختمه کړې او له نورو تېر شوی،[2] خو خپله مروان به همېشه خپل شعرونه د ارزونې او کره‌کتنې لپاره يونس بن‌حبيب ته اورول.[3] يو ځل مروان له يمامې څخه د مهدي دربار ته راغی او د هغۀ په ستاينه کې يې اوږده بولله وويله. په دې بولله کې يې خپله اوښه له ترسيري تر پښو ستايلې او د دښتو سرابونه يې انځور کړي وو، خو ابوالعتاهيه په دوو بيتو کې ځواب ورکړ او خليفه دواړو ته مساوي جايزه ورکړه.[4]

مروان په کنجوسۍ مشهور و او په شعري جوايزو يې ډېره شتمني‌پيدا کړه.[5] دۀ به

---

[1] - عصرالمأمون ۳ / ۲۸۶.

[2]-الأغاني ۹ /۴۹.

[3]-الخصائص، د ابن جني ۱ /۳۳۰.

[4]- تاريخ بغداد، د خطيب ۶ /۲۵۸.

[5]- مطالع‌البدور ۱ /۷۳.

سياسي هجوې ويلې چې د عباسي خليفه‌ګانو په ګټه وې، نو ځکه به يې هغهٔ ته هېښندې ډالۍ ورکولې. هغهٔ له مهدي او له هارون‌الرشيد څخه لس لس زره درهمه د ستاينيزو بوللو په بدله کې واخيستل. د عربو له سترو سخيانو څخه يوهٔ معن بن‌زائده ورته پر يوې بوللې نوي زره درهمه ورکړي وو.[١]

د هغهٔ يوه ښکلې پيليزه (مطلع) ده:

أری القلب أمسي بالأوانس مولعا     و إن كان من عهد الصبا قد تمتعا

«که څه هم له وړکتوبه ترې برخمن وم؛ خو د پې مخو ليدو ته مې زړهٔ اوس هم تېږي.»

## عباس خراساني

عباس بن‌احنف د عباسي پېر تر ټولو مشهور غزلبول شاعر او د خراسانمېشتو عربو له زوزاته؛ خو له خراسانيانو سره سخت ګډ شوی و. ښايي د غزل ويلو ذوق يې د خراساني نيکونو ميراث وي. عباس منلی او د ښې حافظې څښتن شاعر و. په بغداد کې زلمی شو او د هارون له نږدې کسانو څخه و. د ١٩٢س = ٨٠٨ز شاوخوا په بغداد کې ومړ.

عباس د عربي شاعرانو تر منځ خوږژبی، نوښتګر او نازکخياله شاعر دی؛ عربي خبرلوڅي يې په دې ځانګړنو کې بې ساري ګڼي، جاحظ ويلي دي: سره له دې چې عباس غندنه او ستاينه نه کوي او له نورو څه نه اخلي؛ خو بيا هم د غزل په يواځيني فن کې ښه وينا او ډېر شعرونه لري. له دې ښکاري چې هغه تر ټولو ځيرک شاعر، د زياتو شعرونو او پراخې ټنډې څښتن و. دا هغه ښېګڼې دي چې نور شاعران يې نه لري. د شعرونو دېوان يې په ١٢٩٨س کال کې په استانبول کې چاپ شوی دی.[٢]

عباس د عشقي مطالبو په انځورولو کې پياوړې ژبه لري او په دې برخه کې نازکخياله مضامين پنځوي. يوه ورځ د عربو يوهٔ اديب حرمازي د عباس دا شعر ولوست:

لا جـزی‌الله دمـع عينـی خيـراً     و جـزی‌الله كـل خيـر لسـانی

---

[١]- عصرالمأمون ٢ /٢٩٥.

[٢]- بروکلمان ٢ /٢٣، الأعلام ۴ /٣٢، عصرالمأمون ٢ /٣٩٣او معجم‌الأدباء ١٢ /۴٠.

نـــم دمعــى فلــيس يكــتم شــيئاً    و رأيـــت اللســـان ذا كـــتمان
كنـت مثـل الكتـاب أخفـاه طـى    طـى فاسـتدلوا عليـه بـالعنوان

«خدای مې دې د سترګو اوښکې نه ښادوي، ژبې ته مې دې خير ورکړي، څکه چې اوښکې مې تويې شوې هيڅ يې پټ نه کړل، په داسې حال کې چې ژبې اسرار پټول. د کتاب په څېر بند يم، خو له سرليکه مې پېژندلای شئ».

حرمازي بيا وويل، دا هغه طراز دی، چې شاعران غواړي دهٔ تـه ورتـه څـه جـوړ کړي، خو نه يې شي جوړولای.[1]

**علي عکوک خراساني**

علي بن جبله بن مسلم خراسانی شيعه دی، چې په ۱۶۰س= ۷۷۶ز کال د بغداد د لوېديځې حربيې په يوه خراسانی کورنۍ کې ړوند وزېږېد. هغه پياوړی، خوږژبی، نازکخياله او د ښکلو ستاينو څښتن شاعر دی، چې د مامون ضد کسانو په ستاينه کې يې ويلي دي؛ له همدې امله ورته خليفه وخښمېد، نو څنلې ته وتښتېد؛ خو په شام کې يې ونيو او مامون ته يې راوست. هغهٔ امر وکړ چې ژبه ترې له ستې راوباسي، له همدې پېښې په ۲۱۳س= ۸۲۸ز کې ومړ.

علي سکاڼ، خوشحال مزاجه او ډېر ماهر شاعر و، تر دې چې د اصمعي غوندې استاد پرې رخه کوله، او له رخې يې عَکوَّک يعنې څورب ورته وايهٔ.[2]

د عکوک له رندانه شعرونو څخه دی:

نعم عون الفتى على نـوب الدهــ    ر ســـماع[3] القيـــان و العيـــدان
و كــوءوس تجــري بمــاء كــرم    و مطى الكوءوس أيـدي القيـان
فاشرب الراح و أعص من لام فيها    إنهـــا نعـــم عـــدة الفتيـــان[4]

---

[1]- عصرالمأمون ۲ /۳۹۳.

[2] - الأعلام ۵ / تر ۷۵ وروسته، بروکلمان ۲ / ۳۷، عصرالمأمون ۲ / ۴۳۱ د الأغاني، خطيب بغدادي او ابن خلکان په حواله.

[3] - په اصل کې (رسماع) دی.

[4]- عصرالمأمون ۲ /۴۳۷.

«د ښکلو سندرې، عود او د ښکلو محبوبو له لاسه د شرابو پیالې د زماني کړاوونو پر وړاندې د ځوانانو تر ټولو ښهٔ ملګري دي؛ نو شراب وڅښه! که څوک درته په دې ستغې وايي، غوږ مه پرې ګروه، ځکه شراب د ځوانانو تر ټولو ښه توښه ده.»

## مروان بن‌محمد خراساني

لقب یې ابوالشِمَقْمَق غندونی شاعر دی، چې په بصره کې اوسېدهٔ. له آره خراسانی او د بني امیه له مریانو څخه و. د بشار بن‌ابي حفصه او ابونواس په څېر یې د دوهمې لېږدې پېړۍ د نیمایي له شاعرانو سره ډېرې شخړې پېښې شوې دي. د خالد برمکي غندنه یې هم کړې وه. مروان غټ پوزی بدرنګه و، د هارون په وخت کې بغداد ته راغی. بشار به ورته هر کال دوه سوه درهمه ورکول. رند، بېباکه او ټوکي سړی و، چې له زړهٔ به یې وو، ښهٔ شعر یې وایهٔ. د ۲۰۰س= ۸۱۵ز کال شاوخوا مړ دی.[۱]

## علي بن‌جهم خراساني

ابوالحسن علي بن‌جهم بن‌بدر سامي خراسانی د عربو له بني سامه قبیلې څخه و، چې له عراقه خراسان ته راغلې او دلته مېشته شوې وه، نو ځکه بن‌جهم خراسانی ګڼل شوی دی.

علي د نازک کلام څښتن او پیاوړی ادیب و. په بغداد کې یې د المتوکل دربار ته لاره درلوده، خو چې نصرانی طبیب بختیشوع یې وغاندهٔ، نو خلیفه زنداني او بیا یې د ۲۳۸س= ۸۵۲ز کال شاوخوا خراسان ته تبعید کړ. طاهرپوشنګي هم دلته بندي کړ او د سولی (دار) کولو امر یې پرې ورکړ، خو علي د دار پر سر پوره یوه ورځ ژوندی پاتې شو. له هغه ځایه شام ته راغی، له حلبه عراق ته په لاره له بني کلب سره په جګړه کې ووژل شو، ۲۴۹س= ۸۶۳ز.[۲]

وایي چې کله یې علي زندان ته یووړ، یوه سوځنده بولله یې وویله چې خلک ورته ګوته پر غاښ شول، په هغې کې یې د خپل بند په اړه ویلي وو:

قالَت حبست فقلت ليس بضائری　　حبسي وأيّ مهَنَّد لا يغمد

---

۱- الأعلام ۸ /۹۷.

۲- ابن‌خلكان ۱/۳۵۰، د مرزباني معجم‌الشعراء ۲۸۶، تاريخ بغداد د خطيب ۱۱ /۳۶۷، طبقات‌الحنابله ۱۶۴، الأغاني ۱۰ /۲۰۳ او بروكلمان ۲ /۴۳.

أوما رأيت الليث يألف غيله  كبرا وأوباش السباع تردّد
والشمس لولا أنّها محجوبة  عن ناظريك لما أضاء الفرقد
والبدر يدركه السرار فتنجلي  أيّامه وكأنّه متجدّد
والغيث يحصره الغمام فما يرى  إلّا وريّقه يراح ويرعد
والنار في أحجارها مخبوءة  لا تصطلى إن لم تثرها الأزند
والحبس ما لم تغشه لدنيّة  شنعاء نعم المنزل المتورّد[1]
بيت يجدّد للكريم كرامة  ويزار فيه ولا يزور ويحمد[2]

«محبوبې وويل: اوس تهٔ بندي شوې! ومې ويل: بند راته هيڅ زيان نه رسوي. كومه هندۍ توره ده، چې په تيكي كې كښېښول شي؟ ايا ليدلي دې نه دي چې زمرى سره له سټروالي په ځنګلهٔ كې كښېني، خو كم اصله ځناور هره خوا ځغلي؟ كه لمر ونه لوېږي، نو فرقدين[3] به راڼهٔ نهٔشي. كه سپوږمۍ خپلې وروستۍ شپې تېروي، نو مياشت نوې كېږي او كه په راڼهٔ باران تورې ورېځې راتاوېږي، نو په پای كې غورېږي او ورېږي. كه پنډ (بَكره)[4] يې بل نه كړي اور د تيږو په منځ كې پټ پاتې كېږي. كه ذلالت بند بې سُره نه كړي، نو تر ټولو غوره ځای دی. زندان هغه كور دی چې د مېړني درنښت رانوی كوي، چې خلک يې كتلو ته ورشي او ويې ستايي، حال دا چې مېړنی چا ته هم نه ورځي.»

علي په دې بولله كې د وخت خليفه ته د پېښې حقيقت او د عدالت لاره وښوده، د خپلو دښمنانو په تورونو يې خبر كړ او په مېړانه يې خپله دفاع وكړه، حال دا چې خپله روحيه يې هم ونه بايلله، له زندانه ونه ډارېدهٔ او زندان يې خپل وياړ وګاڼهٔ.

هېښنده خبره دا وه چې كله يې علي په خراسان كې دار ته خېژاوهٔ او جامې يې ورځيرې كړې، دا مهال يې په يوې اوږدې وياړنيزې بوللې كې وويل:

ماضره أن بزعنه لباسه  فالسيف اهول مايرى مسلولاً

«كه د هغهٔ (ابن جهم) جامې يې څيرې كړې، نو څه زيان؟ توره چې له تيكي

---

[1] - په اصل كې (المتودد) دی.
[2] الأغاني ۱۰ / ۲۱۳ او طبقات‌الشعراء ۱۵۲.
[3]- دوه غبرګ ستوري چې مسافرو به پخوا لارې پرې معلومولې.
[4]- بكرې: چقماقو ته وايي؛ دا يو ډول ډبرې دي چې په جنګولو د اور سپرغې غورځوي او په دې ډول اور ترې بلوي.

راووځي، لا هيبتناکه شي.»

ابوعبدالله يحصبي وايي: کله چې خلکو د دار په سر لـه هغـۀ دا بوللـه واورېـده، يقيني شول چې تر ټولو تکړه شاعر دی؛ نو شاعران ورته سلامي شول. [1]

ابن جهم د غندنې او خپلې دفاع لپاره تېره او ځپونکې ژبه لرله، کله چې خليفه ته چغلي وشوه او زنداني شو، له زندانه يې خپل ورور ته يوه بولله وليکله چې پـه کـې ويلي يې وو:

تضــافرت الـــروافض و النصـــاری　　و أهـــل الإعتـــزال علـــی هجـــائی

و عـــابونی و مـــاذنبي إلـــيهم　　ســـوی علمـــي بـــاولاد الزنـــاء[2]

«رافضيانو، نصرانيانو او معتزله‌وو زما د غندنې لپاره لاسونه سره يـو کـړل، زه يـې وغندلم، زما يواځينی ګناه دا ده چې حرموني پېژنم.»

وايي د پسرلي په يوه سهار کې چې اسمان ورېځو پوښـلی و او نـری نـری بـاران ورېدۀ، علي بن جهم راغی او عبـدالله بن‌طـاهر پوشـنګي يـې پـه دې بيتونـو سـهارنۍ (سباناري) ته راوبالۀ چې د هغۀ له ښو بندارېزو شـعرونو خخـه ګڼـل کېـږي. عبـدالله جوړه (جامې) او درې سوه ديناره ورکړل:

امــا تــری اليــوم مــا أحلــی شــمائله　　صـــحو و غـــيم و أبـــراق و ارعـــاد

کأنـــه أنـــت يـــا مـــن لا شـــبيه لـــه　　وصـــل و هجـــرو تقريـــب و أبعـــاد

فبـــاکر الـــراح و اشربهـــا معتقـــة　　لم يـــدخر مثلهـــا کســـری و لاعـــاد

و اشرب علی الروض اذ لاحـت زخارفـه　　زهـــــــرو نـــــــور و اوراق و اوراد

کأنمـــا يومنـــا فعـــل الحبيـــب بنـــا　　بـــذل و بخـــل و ايعـــاد و ميعـــاد[3]

« نۀ ګورې چې نن ورځ له خپلو ښېګڼو سره څومره خـوږه ده؟ صـفايي ده، ورېځـې دي، برېښنا او د تندر غرزا ده! اې بې سياله! لکه چې دا ورځ ستا په څېر ده، ځکه هم

---

[1]- طبقات الشعراء ۱۵۲.

[2]- طبقات الشعراء د ابن معتز.

[3]-الاغانی ۱۰ / ۲۲۴.

په کې ترون دی او هم بېلتون، هم په کې نږدېوالی دی او هم لیرېوالی.

سهار شراب څښه! خو هغه زاړهٔ شراب چې کسرا او عاد نه درلودل. په هغه چمن کې شراب څښه چې ښکلاوې یې څرګندې او غوټۍ، ګلان، پاڼې او د ګلابـو ګـلان په کې وي! داسې ښکاري چې ګوندې نن ورځ زمور د ملګري کړنو ته ورته ده، چې بخښل او بخل، ژمنې او رټنې لري.»[1]

## تاریخ

عربانو تر اسلام وړاندې کوم منظم تاریخ نه درلود، یواځې د نیکونـو د کیسـو، انسابو او ورځو د یاد ساتلو هڅه یې کوله. هغه به هـم پـه دودیـز او روایتـي ډول د خلکو په سینو کې خوندي کېدل. د پخوانیو عربو راویان او نکلچیان د سم تـاریخ قوانینو ته ژمن نه وو، خو د عربي دولت له رامنځ ته کېدو او پراخېـدو سره یـې دې مهمې چارې ته پام راواوښت، جاحظ به ویل: «د نسب او حدیثو پوهه د پاچاهـانو پوهه ده.»

د عباسي پېر له لومړیو څخه په عربي ژبه د پېښو، غزاګـانو، سـوبو، بلواګـانو او د عربو د جنګونو کتابونه ولیکل شول؛ ګولډ زیهر وایي په عربو کې د دې علـم رامـنځ ته کېدل، له عجمي کتابونو سره د هغـوی د اشـنایي پایلـه ده، لکـه ساسـاني خـوذای نامګ یا د رومي تاریخ کتابونه، د سریاني عیسویانو تألیفات او داسې نور.[2]

مسلمانانو چې د نبوي حدیثو پـه حفظولـو، روایتونـو او اسـنادو کـې څـومره لـه ځیرنې او امانت څخه کار اخیست، د هغه د غزاګانو او سیرت په خونـدي کولـو یـې کټمټ هماغه احتیاط وکړ. پر ځانګړو کتابونو سربېره یې د حدیثو په صحیحو کتابو کې هم بابونه ورته ځانګړي کړل؛ لکه کتـاب المغـازي پـه بخـاري، کتـاب الجهـاد و السیر په صحیح مسلم او کتاب المغازي د امام احمد په مسند کې. هغه لومړني کسان چې په مدینه کې یې د غزاګانو په لیکلو لاس پورې کړ دا وو: ابان بن‌عثمان بن‌عفـان (۱۰۵س= ۷۲۳ز مړ) عروه بن‌زبیر مدني (۹۲س= ۷۱۰ز مړ) شرحبیل بن‌سعد مـدني (۱۲۳س= ۷۴۰ز مړ) او وهب بن‌منبه یمني (۱۱۰س= ۷۲۸ز مړ). تر دوی وروسـته د

---

[1] - بروکلمان ۳ / ۷، د سیوطي المزهر ۱ /۳۵۷او العرب در اسلامیکا ۳ / ۱۹۹ په حواله.

[2]- بروکلمان ۳ /۸.

سیرت د مؤرخانو دوه نورې پوړۍ هم تېرې شوې دي، چې تر ټولو مشهور یې محمد بن اسحاق مدني (د ۱۵۲س= ۷۶۹ز شاوخوا مړ) دی، چې د سیرت لیکوال ابن هشام یې په یوه واسطه شاګرد او راوي و. بل یو یې محمد بن عمر واقدي مدني دی، چې التاریخ الکبیر، فتوح الشام، الردة، الطبقات او مغازي یې مهم آثار دي. په ۱۳۰س= ۷۴۷م کې زېږېدلی او د ۲۰۷س= ۸۲۲ ز کال شاوخوا مړ دی. شاګرد یې محمد بن سعد بصري (۲۳۰س= ۸۴۱ ز په بغداد کې مړ) چې په کاتب واقدي مشهور دی، خپل اثر الطبقات الکبیر یې د واقدي له آثارو نه په ګټه لیکلی دی، چې د اصحابو او تابعینو یادونه په کې د هغو د طبقاتو په ترتیب شوې ده.[1]

په دغه پېر کې پر سیرتونو او غزاګانو سربېره، د پېښو او جګړو کتابونه هم ولیکل شول او د لومړي اسلامي او راشده خلیفه‌ګانو د پېر ځیني پېښې هم د شریعت مصادر شول. د بېلګې په توګه په فتح شویو سیمو، جهادي چارو، د خراج، جزیې، عشر او نورو په وضع کولو کې د حضرت‌عمر رضي الله عنه چال‌چلن د اسلامي فقیهانو لپاره یو بنسټ و، چې له هغهٔ سره سم او یا له هغهٔ په قیاس به یې حکم کاوهٔ.

د ډېرو پخوانیو اسلامي مؤرخانو له ډلې د حضرت‌علي رضي الله عنه ملګری ابومخنف لوط بن یحیی ازدي (۱۵۷س= ۷۷۴ز مړ) دی چې ابن ندیم او ابن شاکر ۳۳ کتابونه د هغهٔ ګڼلي دي. بل سیف بن عمر کوفي (۱۷۰س= ۷۸۶ز مړ) دی چې د الفتوح، الردة، الجمل و مسیر عایشه و علي لیکوال دی. بل علي بن محمد مدایني (۱۳۵-۲۲۵س) چې ابن ندیم یې د ۲۳۹ ټوکو کتابونو لیکوال ګڼي.[2]

د ۲۵۰س= ۸۶۴ز شاوخوا د تاریخ لیکنې بهیر پیل شو چې سیاسي پېښې او ځیني فکري، علمي او ادبي مسایل یې رانغښتل. له هغې جملې د عبدالحکیم (۲۵۷س= ۸۷۰ ز مړ) فتوح مصر و مغرب کتاب، د بلاذري (۲۷۹س= ۸۹۲ز مړ) فتوح البلدان، د ابن واضح یعقوبي (۲۵۶س= ۸۶۹ ز شاوخوا) تاریخ عمومي او د ابن جریر تاریخ طبري دی، چې تر ۳۰۲س= ۹۱۴ز کال پورې تاریخي پېښې

---

[1]- ضحی‌الإسلام ۲/ تر ۳۱۹ وروسته.

[2]- ضحی ۲ / تر ۳۳۹ وروسته، د الفهرست، معجم‌الأدباء، تاریخ بغداد، طبقات‌الادباء او نورو په حواله.

رانغاړي؛ بیا فرغاني تر ۳۱۲س= ۹۲۴ز پورې غځولي دي. بیا د مسعودي (۳۴۶س= ۹۵۷ز مړ) ملوک‌الأرض، د حمزه اصفهاني تاریخ سني ملوک‌الأرض د ۳۵۰س= ۹۶۱ز تألیف او نور لیکل شوي دي.[۱]

خو خراسانیانو او د خراسان د اړوندو سیمو وګړو هم د غزاګانو، سیرتونو او تاریخ د کتابونو په ترتیبولو کې بشپړه ونډه اخیستې ده. بلخي برمکیانو د مؤرخانو ملاتړ او روزنه کړې ده، لکه چې محمد بن‌عمر واقدي (۱۳۰ - ۲۰۷س) چې د دې فن امام و، د یحیی بن‌خالد برمکي له خوا په مدینه کې هارون‌الرشید ته ورو پېژندل شو، بیا چې بغداد ته لاړ یحیی هلته هم وپالهٔ او د بغداد د ختیځې څنډې قاضي یې کړ.[۲] همدا رنګه محمد بن‌جهم برمکي چې د مامون (۲۱۸س= ۸۳۳ز شاوخوا مړ) د واکمنۍ پر مهال یو پېژندل شوی منجم، شاعر او مؤرخ و، دی له برمکیانو سره د ډېرې ناستې پاستې له امله برمکي بلل شوی، عربي ته د سیر ملوک‌الفرس په نامهٔ د خوذای نامګ ساساني کتاب لومړنی ژباړن دی، چې جاحظ ترې د البیان و التبیین په نامهٔ کتاب کې تاریخي مطالب رااخلي.[۳] دا کتاب هم د برمکیانو په هڅونه په عربۍ ژباړل شوی دی. ابان بن‌عبدالحمید لاحقي هم د برمکیانو په دربار کې روزل شوی علمي شخصیت و، چې له پهلوي څخه یې په عربي ډېر تاریخي کتابونه وژباړل. په دې کتاب کې مو د هغهٔ یادونه کړې ده. خو د دې سیمې کومو کسانو چې د نقلي علومو په څانګې کې کار کړی، څو مشهور کسان یې دا دي:

### ابومعشر نَجِیح سندي

پلار یې سندی بوچغوری درزي و، له همدې امله به نجیح په عربي ژبه ماتې ګوډې خبرې کولې. دی له هغو مریانو څخه و چې په یمن کې وزېږېد او په مدینه کې مېشت شو. په ۱۶۰س= ۷۷۶ز کال بغداد ته لاړ او د ۱۷۰س= ۷۸۶ز کال په رمضان میاشت کې ومړ. دی له پخوانیو فقیهانو او غزا لیکوالو څخه دی. د غزاګانو کتاب یې له‌منځه تللی دی، خو د واقدي، ابن‌سعد او طبري په کتابونو کې یې ځینې

---

[۱]- تاریخ تمدن اسلامي ۳/ ۹۰.

[۲]- بروکلمان ۳/ ۱٦.

[۳]- شاهنامه و فردوسي، د تقي‌زاده تألیف ۳۲، د تهران چاپ، ۱۳۲۲ل.

کيسې او روايات راغلي دي.[1]

تر ابومعشر وروسته يې زوی ابوعبدالملک محمد هم- چې په بغداد کې مېشت و- د حديثو ستر عالم و. د پلار د غزاګانو د کتاب روايتونه به يې بيانول. ۹۹ کلن په ۲۴۴س= ۸۵۸ز کې ومړ.[2]

**ابن‌طيفور خراساني**

د درېيمې هجري پېړۍ په سر کې خراسانيانو په تاريخ ليکنه کې ډېرې هڅې او پرمختګونه وکړل، چې سياسي تاريخ يې بللای شو. له دې ډلې په طيفور مشهور د ابوالفضل احمد بن‌طاهر د تأليف تاريخ بغداد يوه برخه راپاتې ده، چې د خليفه‌ګانو او وزيرانو حال په کې راغلی دی. ابن‌طيفور په ۲۰۴س= ۸۱۹ ز کال په بغداد کې وزېږېد. طيفور د خراسان د پاچاهانو له نسله و، ليکوالۍ او شاعرۍ ته يې لاس واچاوۀ او د شاعرانو په پېژندګلوۍ کې يې ګڼ کتابونه وليکل. په ۲۸۰س= ۸۹۳ ز کال کې ومړ. ابن‌نديم يې په الفهرست (۱۴۶مخ) کې ۴۸ کتابونه ياد کړي دي، چې يو يې تاريخ بغداد دی او د طبري بنسټيزه سرچينه ده. شپږم ټوک يې په ۱۹۰۸م کې د کلر KELLER په زيار په لېزيک کې چاپ شو. انګريزي ژباړه يې سيلي SEELY په ۱۹۲۰م کې په نيويارک کې خپره کړه.

نور کتابونه يې دا دي: المنثور و المنظوم (د برتانيې د موزيم ۷۵۰۷۴او د قاهرې د موزيم ۵۸۷ خطي نسخه)، بلاغةالنساء (د قاهرې چاپ ۱۹۰۸م) فضايل‌الورد على‌النرجس، المؤلفين و سرقات‌الشعراء، سرقات‌البحتري، فضل‌العرب على‌العجم او بشار بن‌برد د ژوندانۀ احوال. ياقوت يې ځيني رنګين شعرونه رااخيستي دي.[3]

---

[1]- المعارف، د ابن‌قتيبه ۵۰۴، نزهةالخواطر ۴۵/۱، تذکرةالحفاظ ۱ /۲۱۷، دايرةالمعارف اسلامی ۱ /۴۰۵، بروکلمان ۱۵/۳ د الفهرست، خطيب بغدادي او النجوم الزاهره په حواله.

[2]- تاريخ سند، د ابو ظفر ندوي ۳۵۹.

[3]- بروکلمان ۳ /۲۷ و الأعلام ۱ /۱۳۸.

## خراسانیان او عقلي علمونه

لکه چې په تېرو مخونو کې مو وویل: اسلامي ملتونه د اسلام په منلو سره د گروهې او ایمان پېر ته - چې د فکري پرمختگ پړاو دی- رسېدلي وو؛ نو باید له دې پېره د عقلي لوړتیا پوړ ته ورسي، چې دا دی په عباسي پېر کې پیل شو او لوی مخکښان یې هم خراسانیان وو.

په اسلام کې د ژباړې او عقلي علومو لېږد په اموي پېر کې پیل شوی و. لومړنی کس چې دې کار ته یې لاس وروغځاوهٔ، خالد بن‌یزید بن‌معاویه (۸۵س= ۷۰۴ز مړ) و، چې د مروان کورنۍ حکیم یې بالهٔ. پوه او علمپال شخص و، چې له مصر- څخه یې د یوناني پوهانو یو ټولی راوغوښت او له یوناني او قبطي ژبو څخه یې پرې د صنعت په اړه کتابونه وژباړل.[1]

خالد له کېمیا او طب سره مینه درلوده او له یوهٔ رومي راهب ماریانوس څخه یې دا صنعت زده کړ. درې رسالې یې په کې ولیکلې چې خطي نسخې یې په استانبول او قاهره کې دي.[2]

په دې پېر کې د طبي کتابونو لیکنه هم پیل شوه او د حجاج بن‌یوسف طبیب، ثیاذوق په عربي ژبه د روغتیا ساتنې په اړه بولله وویله، چې ابن‌سینا په پارسي وژباړله. ماسرجس (ماسرجویه) یهودي طبي کتاب قس هارون (کناش اهرون) مروان یا اموي عمر بن‌عبدالعزیز (۱۰۰س= ۷۱۸ز شاوخوا) ته په عربي ژباړلی و.[3] هماغهٔ ثیاذوق (۹۰س= ۷۰۸ز مړ) د درملو او درملنې په اړه د خپل زوی لپاره یو کتاب وکېښ.[4]

دا عقلي یون چې د دویمې لېږدې پېړۍ په لومړیو کې پیل شوی و، د عباسي مامون په پېر کې (۱۹۸-۲۱۸س) ډېر لوړ پوړ او پخلي ته ورسېد. څرنگه چې خراسانیانو هم په

---

[1] - الفهرست ۳۳۸.

[2] - بروکلمان ۱/ ۲۶۲.

[3] - بروکلمان ۱/ ۲۶۳، طبقات الاطباء د ابن ابي اصیبعه ۱ /۱۲۱، فردوس‌الحکمة د طبري ۴۶۵، قفطي ۱۰۵، الحیوان د جاحظ ۳/ ۸۵او نورو په حواله.

[4] - تاریخ‌التمدن الإسلامی ۳/ ۱۳۹.

دربار، دولتي منصبونو او علمي ادبي کړیو کې ونډه درلوده، په تېره د بغداد او خراسان ټولې مالي سرچينې او فرهنګي مرکزونه د بلخي‌برمکيانو په لاس کې وو؛ نو ځکه يې په دې عقلي يون او د علم، هنر او فرهنګ په پالنه کې درنه ونډه واخيسته. څرنګه چې د بغداد د عباسيانو د پېر له ټولو نوميالیو او علمي يون سره يې زموږ کار نهٔشته، نو هڅه کوو هغه څه راغونډ کړو چې په خراسان او خراسانيانو پورې اړه لري.

لکه د دې بحث په سر کې مو چې ولوستل، له آسيا په فرهنګي – علمي لېږد کې د خراسان او د افغانستان د خاورې ونډه دومره مهمه او درنه وه، چې هڅې يې د بغداد د فکري- علمي رنسانس د دورې رڼا وګرځېده. علمونه او فرهنګ له دې ځايه اروپا ته ولېږدېدل، د دې خبرې د بشپړتيا لپاره وګ: د دې بحث په سر کې- د فرهنګ په لېږد او خپراوي کې د بلخي‌برمکيانو ونډه- د سرليک منځپانګه.

## د خراسان مدرسې

د لومړۍ لېږدې پېړۍ او د اسلام د راتګ پر مهال په خراسان کې علمي مدرسې او کتابتونونه هم وو، موږ د اموي پېر په اسلامي ښارونو کې د کوچنيانو د ښوونځيو له شتون خبر ياستو، ابن‌خلکان وايي: خپل پلار ابومسلم خراسانی په کوچنيوالي کې ښوونځي ته بيوهٔ، هغه او پلار يې په دې کار سره مخالف شوي وو.[1]

جرجي زيدان وايي: د برتانيې دايرةالمعارف په «المامون» سرليک کې ليکي: دا خليفه چې کله د خراسان والي و، دلته يې يوه مدرسه جوړه کړه. په نيشاپور يا د خراسان په بل ښار کې د دې مدرسې جوړېدل په دې دلالت کوي، چې دا کار خراساني او عجمي اميرانو کړی و. ځکه که چېرته مامون په خپله په خراسان کې دا کار کولای؛ نو ولې يې د خپل واک او خلافت په ورځو کې په بغداد کې د دې بېلګه جوړه نه کړه؟ په داسې حال کې چې د علومو له لېږد سره يې مينه هم درلوده.[2]

څرنګه چې په نيشاپور کې د نظام‌الملک طوسي - په زياتره اسلامي هېوادونو کې د نظاميه مدرسو بنسټګر- تر پېر د مخه ځينې پخوانۍ مدرسې وينو، د ساري په ډول د ابن‌فورک (۴۰۶س= ۱۰۱۵ز مړ) مدرسه، د بيهقي (۴۵۰س= ۱۰۵۸ز مړ) په

---

[1] - وفيات‌الأعيان ۱/ ۳۹۷.

[2] - تاريخ‌التمدن الإسلامی ۳/ ۲۰۰.

نامۀ بیهقیه مدرسه، د سلطان‌محمود ورور نصر-بن‌سبکتگین جوړه کړې سعدیه مدرسه، د اسماعیل بن‌علي استرآبادي مدرسه او د استاد ابواسحاق اسفرایني مدرسه؛[1] نو د مدرسو جوړوني دا دود په خراسان کې له پخوا و او مامون هم خپله مدرسه د خپلو خراساني نیکونو په پلیون جوړه کړې وه. د دې خبرې بل دلیل هم لرو چې د خراسانیانو له علم او کتاب سره د زړه مینه درلوده. په مروه کې د یزدګرد د پېر - د لومړۍ لېږدې پېړۍ لومړۍ ربع - کتابتون و، چې پارسي کتابونه په کې وو. د عباسي پېر (۲۵۰س= ۸٦۴ ز شاوخوا) مشهور عربي شاعر عتابي هغۀ کتابتون ته درې ځله راغی، پارسي کتابونه یې ولوستل او یې ویل: معاني له عجمي کتابونو پرته نه موندل کېږي، وییونه زموږ او معنې د هغوی دي.[2]

څرګنده ده چې په پخواني خراسان کې مروه د علمي او عقلي ژوندانۀ یو مرکز و. د دې مطلب د اثبات لپاره پر پخوانیو دلایلو سربېره د ابي صیبعه دا روایت هم شته او هغه له فارابي څخه رانقلوي چې: د اسلام تر خپرېدا وروسته د سکندریې مدرسې د زده کړو لړۍ انطاکیې ته لېږدېدلې وه؛ خو د دې مدرسې له وروستنیو ښوونکو څخه یواځې یو کس پاتې شوی و، له هغه څخه هم دوو کسو علم زده کړ، چې یو یې مروي ابراهیم‌مروزي دی. متي بن‌یونان په بغداد کې ترې درس ولوست.[3]

## ریاضیات، ستورپېژندنه او طب

پر افغانستان د یونانیانو د لاسبري او د یونان و باختري پاچاهانو تر پېرونو وروسته، پر دې ټوله خاوره د یوناني تمدن او فرهنګ اغېز- لکه چې څو ځله په دې کتاب کې وویل شول- لېدل کېږي او هرومرو دې یوناني تمدن علمي اړخ هم درلود. له بلې خوا څرنګه چې هند هم د ستورپوهنې، فلکیاتو او ریاضیاتو په برخه کې لرغونې ځانګړې زېرمې درلودې او د دې دوو مدنیتونو یونان و باختري او هندي

[1] - طبقات الشافعية، د سبکی ۳/ ۱۳۷.

[2] - تاریخ بغداد، د طیفور ۷/ ۱۵۷.

[3] - طبقات الاطباء ۲/ ۱۳۵.

مخامخېدنځی افغانستان شو، نو په دې هېواد کې علم و پوهه اتکلولای شو. موږ د مخه د البېروني په حواله وويل، د کابلشاه انندپاله په دربار کې د اوګرهبوت په نامهٔ اديب او شاعر و، چې پر ستورپوهنه يې يو کتاب کښلی و،[1] دا روايت هم په دې خاوره کې د علمي يون څرک څرګندوي.

د دې بحث په لومړيو درېيم څپرکي او ۱۱ سرليک کې مو ويلي چې د بلخي برمکيانو کورنۍ له هند او هندي علومو سره اړيکي درلودل، د خالد برمک پلار جعفربرمک چې تر ۵۰س= ٦٧٠ز وروسته ژوند کاوهٔ، د څه وخت لپاره په کشمير کې و، چې هلته يې ستورپوهنه، رياضيات، طبيعي علوم او طب زده کړي وو.[2] دا روايت هم د اسلام څلا ته نږدې د عقلي علومو څرګ لګوي.

### ميشي مروي

له مشهورو خراساني پوهانو څخه او د مروې و، له منصوره د عباسي مامون تر پېره (۱۵۰س= ۷٦۷ز شاوخوا) له ستورپوهانو څخه ګڼل کېږي. ميشي- بن اثري دی، چې عربو هغه ماشاءالله بن ساريه ګڼلی دی. هغه عالم شخص و. په احکامو او ستورپوهنه کې د خپل وخت يواځينی عالم و. ابن نديم يې د ستورپوهنې، فلکياتو، دينونو، ملتونو او د تلسکوپ صنعت په اړه کابو ۲۵ تأليفات شمېرلي دي.[3]

د مړينې نېټه يې د ۲۰۰ او ۲۰۵س= ۸۱۵او ۸۲۰ز ترمنځ ګڼل شوې ده. د عربي کتابونو څه نخښنه يې نه ده راپاتې. هغهٔ په ۱۴۵س= ۷٦۲ز کال کې له نوبخت سره د بغداد ښار ودانولو په کچمېچ کې ونډه درلوده. يو کتاب يې "جبرار ډکريمونايي" د "DE SEINTIA MOTIS ORBUS" په نامهٔ لاتيني ته ژباړلی دی.[4]

---

[1] - کتاب‌الهند ۱۰۵.

[2] - برمکيان، د لوسين‌بووا ۴۲.

[3] - الفهرست ۳۸۲.

٤ - خدمتهای علمی مسلمانان در قرون وسطی ۱/ ۳۸، د محمدعبدالرحمن تأليف، اردو، د ډهلي چاپ ۱۹۵۰ز.

## ربن‌مروي

د همدې مروې له وګړو څخه بل په ربن‌طبري مشهور سهل (علي بن‌ربن یا ربن‌سهل، یا علي بن‌سهل بن‌ربن) دی. علي بیهقي وایي چې د مروې ښار لوړ همته لیکوال او د انجیل و طب عالم و. د ربن کلمه د لوی ښوونکي (المعلم العظیم) معنی ښندي.[1]

ربن رنځپوه، ستورپېژندونکی او د هندسې او ریاضي عالم و. له یوناني او سریاني څخه یې عربي ته کتابونه ژباړل. المجسطي یې له یوناني څخه عربي ته تر نورو نسخو بشپړ وژباړه.[2] د وړانګو د څرنګوالي په اړه یې ځانګړي څېړکي او د وړانګو مېلانونه په کې راوړل. ابوالمعشر بلخي وایي چې د مجسطي نورو ژباړنانو د وړانګو د مېلانونو دا څېړکی پرېښی دی.[3]

ربن د ۲۰۰س= ۸۱۵ز شاوخوا ژوند کاوه. زوی یې علي پر ۲۲۴س= ۸۸۸ز کال په بغداد کې د دولت په خدمت کې شامل شو. چې د مشهور رنځپوه او د فردوس‌الحکمة (د برلین چاپ ۱۹۲۸ز)، تحفة‌الملوک او په حکمت کې د نورو مهمو آثارو د مؤلف محمد بن‌زکریا رازي استاد دی[4]. د هغهٔ الدین والدولة کتاب هم چاپ شوی دی. علي په ۲۴۷س= ۸۶۱ز کال کې مړ دی.[5]

په فردوس‌الحکمة کتاب کې یې د پخوانیو یوناني رنځپوهانو لکه بقراط، جالینوس او نورو پر معلوماتو سربېره د هندي رنځپوهانو لکه جرکا، سسرد او ندان له کتابونو هم ګټنه کړې او له هندي رنځپوهنې څخه یې غوره مطالب[6] په کې راوړي دي. له دې څخه هم جوتېږي چې د لومړۍ اسلامي پېړۍ په خراسان کې د هند د رنځپوهنې او علومو روایتونه موجود وو. ځکه ربن د علي پلار د خراسان د مرکز مروې د مدرسې له زده‌کړیالو څخه دی.

---

۱ - تتمه صوان‌الحکمة ۹، د امام علي ابن زید بیهقي، لاهور ۱۳۵۱س.
۲ - تاریخ علوم عقلي ۱/ ۶۰، د تهران چاپ، ۱۳۳۱ل.
۳ - سیدجلال‌الدین تهرانی، په ګاهنامه کې ۱۳۱۰ ل، د تهران چاپ، ۲۹.
۴ - اخبارالحکماء، د ققطي ۱۵۵.
۵ - الأعلام ۵/ ۹۵.
۶ - فردوس‌الحکمة تر ۵۵۷ وروسته.

## ابومعشر بلخي

په ابومعشر مشهور جعفر بن‌محمد بن‌عمر بلخي، فلکي عالم او نامتو ستورپوه په سر کې له محدثینو څخه و، خو تر ۴۷ کلنۍ وروسته یې ستورپوهنه زده کړه او دومره مشهور شو چې قفطي یې په ټوله اسلامي نړۍ‌کې د ستورپوهنې په تیوریو کې تر ټولو پوه بولي. همدا رنګه د عجمو په فرهنګ او د نورو ملتونو په تاریخ کې استاد و. عمر یې تر سلو کالو واوښت، ډېر وخت په بغداد کې واوسېدهٔ او د ۲۷۲س= ۸۸۶ ز کال په منځ کې ومړ. په ستورپوهنه، تاریخ، د ستورو په مدارونو او نورو کې یې آثار ډېر دي، چې ابن‌ندیم او قفطي یې تر څلویښتو پورې نومونه اخلي.[1] قاضي‌صاعد اندلسی (۴۶۲س= ۱۰۷۰ز مړ) وایي چې ابومعشر- د ستورو د حرکت خپل لښتلیک (جدول) د ایران او نورو څنډو د پخوانیو عالمانو په پلیون ترتیب کړی دی. پارسیان، هندیان، چینایان او زیاتره ولسونه چې د ستورپوهنې له نظریو سره اشنا دي، هغه تر ټولو سم مدارونه ګڼي او سنی‌العالم یې بولي.[2]

ابومعشر بلخي د منځنیو پېړیو په لوېدیځوالو کې د ALBOMASAR په نامهٔ مشهور و. د الکندي (۲۵۸س= ۸۷۱ز مړ) شاګرد دی او دولس کتابونه یې اوس شته.[3] په المدخل إلی‌علم‌أحکام‌النجوم کتاب کې یې د سمندر مد و جزر د لمر او سپوږمۍ ټېل ماټېل ګڼلی دی. دا کتاب په منځنیو پېړیو کې په ختیځ او لوېدیځ کې منلی او مشهور و.[4]

## محمد بن‌موسی خوارزمي

د خراسان د شمال له وګړو څخه ابوعبدالله محمد بن‌موسی خوارزمي ریاضي پوه، د فلکیاتو استاد او مؤرخ دی. د مامون (۱۹۸- ۲۱۸س) همپېر او د هغه د کتابونو د زېرمه‌تون مشر و. د یوناني کتابونو راټولو او ژباړلو ته یې لستوني راونغاړل.[5] هغه د پخوانۍ نړۍ لوی ریاضي پوه دی، چې له‌۱۲مې پېړۍ څخه یې اغېز پر اسلامي تمدن او د اروپا پر علمي مرکزونو جوت دی. لاتیني مؤلفان یې ALKHORISM او نور یې ALGORISAM نوموي. د هغهٔ د حساب کتاب- چې عربي اصل یې له‌منځه

---

[1] - اخبارالحکماء ۱۰۶ او الفهرست ۳۸۶.

[2] - ترجمهٔ طبقات‌الأمم ۱۷۰، د تهران چاپ، ۱۳۱۰ل.

[3] - تاریخ ادبیات در ایران ۱/ ۱۱۷.

[4] - خدمات علمي مسلمانان در قرون وسطی ۱/ ۶۴.

[5] - الأعلام ۷/ ۳۳۷.

تللی او لاتيني ژباړه يې په ۱۲مه پېړۍ کې شوې ده- په لاس کې دی او مسيحي نړۍ ته يې د مسلمانانو د هندي حساب په ورښودو کې څرګند اغېز درلود. بل کتاب يې کتاب‌المختصر فی‌حساب‌الجبر والمقابلة دی چې عربي متن او انګليسي- لاتيني ژباړې يې چاپ شوې دي.[۱]

د هند د ستورپوهنې له کتابونو څنې يو د ۴-۵ ز پېړۍ تأليف سيدهانتا 'SIDDHA NTA و چې ځينې برخې يې د شپږمې زېږدې پېړۍ په سر کې وراهاميهرا VRA'HAMIHRA تأليف کړې وې. هغه د ځمکې پر کرويتوب ګروهمن و. دا کتاب يې د عباسي خليفه منصور په پېر کې د خراسان له لارې بغداد ته يووړ. هلته يې د خليفه په امر هغه د السند هندالکبير په نامۀ په عربي واړاوۀ. چې محمد بن‌موسی خوارزمي د مامون په پېر کې رالنډ کړ او خپل زيج يې له ځينو تغييراتو سره د ايراني او يوناني اصولو په پامنيوي د هغۀ پر بنسټ ترتيب کړ.[۲]

د هندي سيدهانتا نوم يې په عربي کې الدهرالداهر ژباړلی دی، ملتبرون وايي چې تر اسلام وروسته د فلکياتو د علم لپاره بنسټ شو او د خوارزمي له زيج کتاب څخه مسعودي او له «التاريخ» کتاب څخه يې حمزه اصفهانی مطالب رااخلي. د هغۀ "صورةالأرض من‌المدن والجبال" کتاب چاپ شوی دی. د تلسکوپ کار او له"رسم المعمور من البلاد" کتابه يې وصف‌افريقيه چاپ شوي دي.

خوارزمي دالواثق خليفه تر مرګه ژوندی و او تر ۲۳۲س= ۸۴۷ز وروسته مړ دی.[۳] لکه چې نللينو په تاريخ علم فرهنګ (۱۷۴مخ) او فيدمان په دايرةالمعارف (۱۸/۹) کې ليکي: په اروپا کې کلمې په ALGORISM کلمه پای ته رسېږي چې په حساب کې د پرله‌پسې طريقې معنی ښندي او د دې علم يوه قاعده ګرځېدلې ده. په اروپايي ژبو کې دا کلمه د الخوارزمي د نامۀ اوښتې بڼه ده.

---

۱ - تاريخ ادبيات ۱/ ۱۱۵.

۲ - تاريخ علوم عقلی در تمدن اسلامی ۱/ ۶۳ او ۱۱۲، د تهران چاپ، ۱۳۳۱ل.

۳ - الأعلام ۷/ ۳۳۷.

ابن‌نديم وايي: د خوارزمي د ستورو د حال اوحركت لومړی او دوهم لښتليكونه (زيجونه) سندهند نومل شوي دي. د هغهٔ نور كتابونه الرخامه، العمل بالاسطرلابات او التاريخ په لاس كې دي.[1]

وايي خوارزمی د ۸۵۰ز= د ۲۳۵س كال شاوخوا مړ دی. د هغهٔ له علمي نوښتونو څخه دا دی چې يوناني او هندي رياضات يې يو تر بله سره تطبيق كړل او اروپا ته يې د هندي حساب علم وروپېژاندهٔ. نو هغه بايد د جبر او پرتلنې له بنسټګرو څخه وګڼل شي. د ستورپوهنې او مثلثاتو په علم كې هغهٔ ترتيب كړي لښتليكونه هم د اروپايانو لاربښود شول. مسلمه مجريتي پرې په اندلس كې د لسمې زېږدې پېړۍ په دويمه نيمايي كې بياكتنه وكړه او په۱۱۲۶ز كال كې ايديلارد ADELARD پر لاتيني وژباړهٔ، چې په لښتليكونو كې يې د زاويو د جيبي او مماسي تفاعل شرحه شامله ده. د هغهٔ صورةالأرض كتاب د بطليموس د جغرافيې د متن او نقشو سمونه وه.[2]

### حبش حاسب مروزي

نوم يې احمد بن‌عبدالله بن‌حبش (حبيش) حاسب مروزي، په ۲۲۰س= ۸۳۵ ز كې مړ او له پخوانيو مسلمانو رياضي پوهانو څخه دی. د ستورو د حركاتو په حساب كې د نامهٔ خاوند و. د ستورو د حركاتو درې لښتليكونه يې تأليف كړل. لومړی د سندهند په طريقه چې په هغهٔ كې يې د فزاري او خوارزمي مخالفت په عمومي ډول وښود، د ستورو د برجونو مخكې او شا ته حركت يې د ثاون THEON سكندراني (د سكندريې رياضي‌پوه) له رايې سره سم د ولاړو ستورو د طولي ځايونو د تصحيح لپاره كاراوهٔ. دا لښتليک يې د كار په سر كې - چې د هند د پوهانو د سندهند پر حساب ګروهمن وو- ترتيب كړی دی. دوهم ازمويونكی (ممتحن) مشهور لښتليک چې په خپل وخت كې يې د ستورځارنې او د هغو د حركتونو تر ازموينې وروسته تأليف كړ. دريم د پاچاه لښتليک (زيج‌شاه) په نامهٔ كوچنی لښتليک.

نور آثار يې دا دي: په تلسكوپ سره كار (عمل باسطرلاب) زيج دمشقي او زيج

---

[1] - الفهرست ۳۸۳او اخبارالحكماء ۱۸۷.

[2] -خدمات علمي مسلمانان ۱/ ۶۱.

مأموني كتاب، ابعاد و اجرام كتاب، د دوائر مماس و عمل تسطيح قائم و مائل و منحرف كتاب او كتاب الرخائم والمقايس.

ابن‌نديم او قفطي وايي: حاسب سل كلنئ ته رسېدلی و.[1] نو په دې ډول يې زوكړه بايد د ۱۲۰س= ۷۳۷ز شاوخوا وي. ابوريحان البېروني يې هم په قانون مسعودي كې نوم يادوي او ځينې محاسبې يې رااخلي.[2]

حبش په سرياني كې د ديني لاربسود معنی ښندي. هغه له ۸۲۵- ۸۳۵ز يعنې د خپل عمر تر پايه په فلكي څېړنو بوخت و. د لمر د كسوف په اړه يې لومړی ځل ۲۱۴س= ۸۲۹ز د ستوري د كتلې (د لمر لوړوالي) د لوړوالي په طريقه وخت وټاكهٔ. يو زوی يې ابوجعفر بن‌حبش هم ستورپوه او د ستورپوهنې آلات جوړوونكی و.[3]

**احمد فرغاني**

احمد بن‌محمد بن‌كثير د فرغانې اوسېدونكی او د مامون د دربار له ستورپوهانو څخه يو و. هغه په ستورپوهنه كې تأليفات لري، لكه: «المدخل إلى علم هيئة الأفلاك و حركات النجوم» چې ۳۰ څپركي لري او د بطليموس د كتاب ټول بحثونه يې په خوږه او رسا ژبه دي.[4]

د «اصول حركات السماوية و جوامع علم‌النجوم» په نامهٔ كتاب يې په ۱۲ز پېړۍ كې په لاتيني ژباړل شوی، ځكه نو په اروپا كې په لاتيني نامهٔ "الفرگانيوس ALFRAGANIUS" مشهور دی. هغه تر ۲۴۷س= ۸۶۱ز شاوخوا ژوندی و. ځكه په همدې كال د هغهٔ تر څارنې لاندې په فسطاط كې د نيل سيند ببړۍ جوړه شوه. د فرغاني آثارو په اروپا كې د ستورپوهنې پر پرمختگ پياوړی اغېز درلود. هغهٔ د بطليموس - د اعتدالينو په نقطه كې د مخامخېدو- نظريه ومنله؛ خو ويې ويل چې: د دې مخامخېدنې اغېز يواځې د ستورو پر ځايونو نه كېږي، بلكې پر ستورو هم اغېز لري. هغهٔ د ځمكې قطر شپږ زره او پنځه سوه ميله اټكل كړ او د ستورو لوی واټنونه

[1] - الفهرست ۳۸۴ او اخبارالحكماء ۱۱۷.

[2] - گاهنامه ۱۳۱۰ش سيد جلال‌الدين تهرانی.

[3] - خدمات علمي مسلمانان ۱/ ۶۲.

٤ - اخبارالحكماء ٥٦.

يې د هغو له قطر سره وټاکل.[1] د «جوامع علم‌النجوم» متن يې پر عربي ژبه د غوليوس په زيار ليدن کې ۱٦٦۹ز چاپ شو؛ خو يوه لاتيني ژباړه يې د يحيی اشبيلي JOHANNES HISP ALENSIS له خوا په ۵۲۹س= ۱۱۳۵ز کې شوې چې په ۱۴۹۳/ ۱۵۳۷/ او ۱۵۴٦ز کلونو کې په اروپا کې چاپ شوې ده. دويمه لاتيني ژباړه يې گرر دوکريمونا GHEROR DOCREMONESE - له ۱۱۱۴- ۱۱۸۷ز پورې ژوندی – کړې او کتاب يې په ۱۹۱۰ز په روم کې چاپ شو. په عبراني کې هغه "جيکب اناتول GACOB ANAOLE " تر ۱۵۹۹ز د مخه ژباړلی دی.[2] د تلسکوپ په اړه يې دوه رسالې او د ستورپوهنې په اصولو کې يې يو کتاب له لاتيني ژباړې سره شته.[3]

## جابر خراسانی او کېميا

په صوفي مشهور ابوموسی جابر بن‌حيان بن‌عبدالله، له آره خراسانی او په کوفه کې مېشت و. جابر فيلسوف، کېمياپوه، کاشف او نوښتگر شخص و. د بلخي برمکيانو په تېره د جعفر بن‌يحيی (۱۸۷س= ۸۰۲ ز مړ) په دربار کې ناست پاست او روزل شوی و. وايي په ۲۰۰س= ۸۱۵ ز کې د خراسان په طوس کې مړ دی.[4] د کتابونو شمېر يې ۲۳۲ ټوکو ته رسېږي. آن ځينې يې ۵۰۰ ټوکه بولي، چې زياتره يې له‌منځه تللي دي. ځينې کتابونه يې په لاتيني هم ژباړل شوي دي. ځکه نو جابر په اروپا کې د GEBER په نامهٔ زيات مشهور دی.

م. برتلو M.BERHELOT وايي چې جابر په کېميا کې هغه پوړۍ لري چې ارسطو تر هغهٔ د مخه په منطق کې درلوده. هغه لومړنی سړی دی چې د زيت الزاج په نومونو يې کاويه سوډا (کاسټيک سوډا) او تريو کبريتيک، د سروزو اوبه (تريو نايټروهايدرو کلوريک) کاربون پوټاشيم او کاربون سوډيم مرکبونه ومونډل. د سيمابو مرکبونه يې جوړ او د هغو ځانگړنې يې تشريح کړې.[5]

---

[1] - علم‌الفلک، د نللينو ۴۰، د روما چاپ، ۱۹۱۱ز او خدمات علمی مسلمانان ۱ /٦۳.

[2] - پورتنی اثر.

[3] - تاريخ ادبيات، د صفا ۱/ ۱۱۵

[4] - الذريعه ۲/ ۵۵.

[5] - الأعلام ۲/ ۹۱.

ډاکټر ګوستالوبون لیکي:

«د کېمیا په کتابونو کې لیکي چې لاوازیه LAVOISIES د دې علم کاشف دی، باید په پام کې مو وي چې کېمیا او بل هر علم یو ځلي نه دی رامنځ ته شوی، که د مسلمانانو زرکاله پخواني ازموینځي او موندنې نه وای، لازاویه هم یو ګام مخ ته اخیستلای نه شو. له مسلمانو عالمانو څخه جابر پخوانی او مشهور کېمیاپوه دی، چې د اتمې زېږدې پېړۍ په وروستیو کې یې ژوند کاوهٔ. د هغهٔ تصنیفونه ډېر زیات او څو کتابونه یې لاتیني ته هم ژباړل شوي دي. تر ټولو مشهور یې نتایج‌التکمیل دی، چې په ۱۶۷۲ز کال فرانسوي ژبې ته هم ژباړل شوی دی او په اروپا کې باوري او د ګټنې وړ و.

لکه د یوهٔ علمي دایرة‌المعارف د جابر په تألیفاتو کې د مسلمانانو د کېمیاوي مسایلو ټول لنډیز او هغه ترکیبونه راغلي چې د مخه معلوم نه وو، لکه سلطاني او فاروقي تېزاب چې په کېمیا کې دوه اغېزناک عامله دي او بې هغو دا علم نه شو رامنځ ته کېدای. جابر د ځینو ګازونو په ځانګړنو هم پوهېدهٔ، هغه لیکي: ګازونه چې له جسمونو سره مرکب شي، خپله بڼه او ځانګړنه له لاسه ورکوي او په حقیقت کې له هغه څه چې وو، تغییرېږي. که له اجسامو یې بېرته رااخیستل وغوښتل شي ښایي دوه حالتونه رامنځ ته شي، یا به یواځې ګازونه راجلا شي، وابه لوځي او ورسره مرکب جسمونه به پر ځای پاتې شي. یا به ګازونه او جسمونه ټول له څېرمې منځه لاړ او پوپنا شي.

د کېميا د نورو پوهانو په څېر جابر هم په دې اند و چې فلـزات له بېلابېلو نامعلومو توکو څخه جوړ شوي دي. هغهٔ دې هر يوهٔ تـوک تـه هـم ځـانګړی نـوم ايښـی، د ساري پـه ډول ګـوګړ، سيماب، سلفيټ ارسنيک. خو د هغو توکو چې دا مرکبونو ترې پيدا شوي او دې مرکبونو د ځـانګړنو تـرمنځ ورتـه‌والی نهٔشـته. يعنې د عربو کېمياپوهانو په اند ټول فلزات له ورته توکو څخه جوړ شوي دي او د اختلاف خبره د دې توکو په څرنګوالي او څومره‌والي کې ده.

د جابر په تصنيفاتو کې هغه ترکيبونه ياد شوي دي چې د مخه معلوم نـه وو، لکـه د ښـورې تېـزاب، سـلطاني تېـزاب، شـخار، نوشادر، دوزخ تيږه (د سپينو زرو نايټرېټAg NO3) د سيمابو اکسايډ او نور. هغه لومړنی سړی دی، چې په دې کتـابونو کـې يې يـو لـړ کېميـاوي تعاملونـه، لکـه څڅونـه (تقطـير)،بړاسـونه (تبخير)، تبلور، انحلال، تجزيه، ترکيب او نور بيان کړي دي.»[1]

ځينې راويان وايي چې جابر د امام جعفر صادق رضي الله عنه پليونی شيعه و، چې کېميـا يې هم له هغهٔ امام څخه زده کړې وه. د محمد بن‌زکريـا رازي، الخرقي، ابـن‌عيـاض مصري او اخميمي غوندې شاګردان يې درلودل.[2]

که دا روايتونه باوري شي؛ حضرت امام جعفر صـادق چې پـه ۱۴۸س= ۷۶۵ز کې مړ دی او د جابر مړينه په ۲۰۰س= ۸۱۵ز کې ده؛ نو بايد جابر له هغهٔ امام څخه د شـل کلنـۍ شـاوخوا کـې زده‌کـړه کـړې وي. خـو لـه جـابر څخـه د رازي مخـامخ شاګردي ناشونې ده. ځکه د رازي زوکړه ۲۵۱س= ۸۶۵ز ده، يعنې د جابر تر مړينـې ۴۹ کاله وروسته؛ نو هغه بايد د جـابر نامخـامخ شـاګرد وګڼـل شي. ابن‌نـديم وايـي د

[1] - تمدن اسلام و عرب تر ۶۱۲ وروسته.

[2] - الفهرست ۵۰۰.

کېمیا په علم کې رازي په خپلو تألیفاتو کې داسې کاږي:«قال استادنا ابوموسی جابر بن حیان.»

ابن ندیم د جابر د شاوخوا درې سوو کتابونو، رسالو او مقالو نومونه یادوي، چې اووه یې د برمکیانو لپاره لیکلي دي.[1] خو اوس شته کتابونه یې دا دي: مجموع رسائل، اسرارالکیمیا، علم‌الهیئة، اصول‌الکیمیا او المکتسب له پارسي شرحې سره ټوک ټوک چاپ شوي. له خطي کتابو څخه یې السموم، تصحیحات کتب افلاطون، الخمائر والرحمة، خواص الکبیر، الریاض، صندوق‌الحکمة او العهد تر اوسه د ختیځ او لوېدیځ په کتابتونو کې خوندي دي.[2]

د جابر د کتابونو له لیکلړ - ابن ندیم د خپلو کتنو او باوري کسانو له روایتونو ترتیب کړی- څرګندېږي چې جابر په فلسفې، کېمیا، نباتپوهنې، ستورپوهنې، ریاضیاتو، طبیعیاتو ان په شعر و ادب، الهیاتو، زهد او موعظو کې هم تألیفات درلودل؛ نو له هغو مسلمانانو څخه ګڼل کېږي چې ډېر تألیفات لري.

**ابوالعباس سرخسي**

احمد بن محمد بن مروان بن طیب سرخسي خراساني، په سرخس کې زوکړی او د یعقوب کندي- شاګرد دی. کندي په زیاترو فلسفي او حکمتي علومو په تېره په ریاضي، منطق او موسیقۍ کې یې لاس درلود. هغه د عباسي خلیفه معتضد ښوونکی او بیا یې سلاکار او مشاور و. د خلیفه له رازونو یې یو راز په ډاګه کړ، نو خلیفه په ۲۸٦س= ۸۹۹ز کې وواژه.

قفطي وایي چې: سرخسي د پخوانیو او عربو له علومو سره ښه اشنا و او روښانه ذوق یې لاره. ژبه یې روانه، تصانیف یې مالګین، عبارتونه یې خواږه او لنډ وو.[3]

ابن ندیم یې په فلسفه، سیاست، موسیقۍ، ستورپوهنه، ریاضي، طب، د هېوادو په لارو، درباریوهنې، منطق او نورو کې د کابو دېرشو ټوکو کتابونو نومونه اخلي،[4] قفطي

[1] - الفهرست ۵۰۰.
[2] - الأعلام ۲/ ۹۰.
[3] - اخبارالحکماء ۵۵.
[4] - الفهرست ۳٦٦.

يې د ۲۳ ټوکو يادونه کوي. ياقوت په معجم‌البلدان کې د هغۀ د يو بل کتاب، يعنې د معتضد يونليک (رحلة معتضد) حواله ورکوي، چې د فلسطين رملې ته د خمارويه‌وو جنګ ته تللی و او د ډېرو سيمو نومونه له ځانګړنو سره له دې کتابه رااخلي. د هغۀ له کتابونو د: السياسية و الموسيقی، فضائل بغداد، شطرنج، نفس و آداب الملوک، المسالک و الممالک، الارثماطيقي في الأعداد او الجبر و المقابله نومونه اخيستلای شو.[1]

### ابوبکر محمد سمرقندی

محمد بن‌يمان سمرقندي د ۲۰۰س= ۸۱۵ز شاوخوا ژوند کاوۀ او په ۲۶۸س= ۸۸۱ز کې مړ دی. هغه له ډېرو نوميالیو او مشهورو رنځپوهانو څخه و. هغه د رازي په الطب‌الروحاني باندې کره‌کتنه کړې وه، چې رازي يې په ځواب کې «کتاب في نقض‌الطب الروحاني علی بن‌اليمان» وکېښ.[2]

محمد بن‌يمان له لويو حنفي فقيهانو څخه و. ډېر تأليفات لري، معالم‌الدين، الردعلی الکرامية او په حديثو کې يې الإعتصام معلوم دي.[3]

---

[1] -الأعلام ۱/ ۱۹۵ او ګاهنامه د سيدجلال ۷۲، ۱۳۱۰ل.

۲ - تاريخ علوم عقلي ۱/ ۱۷۸.

۳ - الفوائدالبهيه ۲۰۲، جواهرالمضيه ۲ /۱۴۴ او کشف‌الظنون ۸۳۹.

## خراساني کورنۍ

### چې د علومو په پالنه کې يې لاس درلود

د مسلمانانو په علمي خوځښت کې د خراسان ځينو عالمو کورنيو هم بشپړه ونډه درلوده، چې څو يې دا دي:

**شاکر کورنۍ**

موسی بن شاکر يو خراساني و، چې لومړی يې لارې شکولې. زړې پوځې جامې يې اغوستی، له دې لارې يې ډېره پانګه راټوله کړه او توبه ګار شو. په هندسه کې يې ډېر لوی لاس لارۀ. په بني شاکرو مشهور درې زامن يې محمد، احمد او حسن د مامون په بيت الحکمة کې وروزل شول. ابوجعفر محمد (۲۵۹س= ۸۷۲ ز مړ) په هندسه، ستورپوهنه، اقليدس او المجسطي کې د لويې پوهې خاوند و. دې درېواړو عالمانو ورونو هر يوۀ د علم او عالمانو پر پالنه، د کتابونو پر راټولونه او د هغو پر ژباړنه لوی لګښت وکړ، چې د مياشتې ۵۰۰ دينارو ته رسېدۀ. په هندسه، د تکنيک علم، حرکتونو، موسيقۍ، ستورپېژندنه او رياضي کې يې زيات کتابونه وليکل. وايي احمد د تکنيک داسې استاد و، چې پخوا هيڅوک د هغۀ پوړۍ ته نه و رسېدلی.[1] درېيم ورور يې يعنې حسن په هندسه کې بېساری و. سره له دې چې د اقليدس له کتابه يې يواځې شپږ مقالې لوستې وې؛ خو ياد او تخييل يې دومره پياوړی و چې د ډېرو نويو مسايلو په راايستنه بريالی شو، لکه په درې مساوي برخو د زاويې وېش، د دوو خطونو ترمنځ په هغۀ نسبت د دوه متوالي خطونو طرح چې نور مسايل پرې حل شي.

[1] - اخبارالحکماء ۲۸۶ او ۲۰۸.

د شاکر کورنۍ له تألیف کړیو کتابو څخه کابو ۱۵ کتابه د ریاضي او هندسې په بېلابېلو څانگو کې یاد شوي دي.[1] وایي چې عباسي مامون محمد بن‌موسی ته امر وکړ چې په جبر او مقابله کې ساده او د عامه‌پوهاوي وړ کتاب ولیکي او لومړی ځل یې په هندسه کې جبر و مقابله وکارول. په ریاضیاتو کې یې دا بنستیي مسایل نوي رامنځ ته کړل: د وتر پر ځای د جیب کارول، پر مثلثاتي خطونو د سیوري زیاتول، د درییمې درجې معادلو حل او د مخروطاتو په علم کې څېړنه، د کروي مثلثاتو د حل لپاره د کروي مثلث په علم کې شکلونه جوړول، چې له همدغو شکلونو تر اوسه گټنه کېږي. په مثلثاتو کې د سیوري داخلول چې موسیوشال وایي د هندسې د علم په تاریخ کې: د دې غوره او خورا ښې طریقې په عملي کولو سره، جیب لرونکي پېچلي او ستونزمن شکلونه او د مجهولې زاویې ونډه ټول پرېښودل شول. دا طریقه تر اوسه هم کارېږي.[2]

گوستاولوبون وایي د موسی بن‌شاکر درې زامن د نهمې زېږدې پېړۍ ستورپوهان وو. هغوی د اعتدالینو راتگ سم وڅېړه، چې تر هغۀ مهاله په دې کچه څېړل شوی نه و. ستورکالیزې (تقویم‌های سیارات) یې ترتیب کړې او د بغداد عرض‌البلد یې **۳۳** درجې او ۲۰ ثانیې وښود، چې زموږ له ننیو څېړنو سره ایله ۱۰ ثانیې توپیر لري.[3]

څرنگه چې دې درېواړو ورونو په تکنیک کې شهرت درلود؛ نو خلکو دا علم حیل بني موسی (د بني موسی تکنیک) وبالۀ. د روم د واتیکان د خطي نسخو په کتابتون کې **۳۱۷**مه خطي نسخه ده چې «کتاب الحیل بنی موسی بن‌شاکر منجم» یې نوملې ده.[4]

څېړونکي وایي شاکر کورنۍ د بغداد په اسلامي مرکز کې د ستورڅارنې دویمه خونه د بغداد پلۀ لور ته، له طاق سره د پلۀ په نښتونځي کې جوړه کړه، چې د ستورو څارنه یې په کې ترتیب کړه او د عروض اکبر او عروض قمر حساب یې راوایست.[5]

**اماجور کورنۍ**

اماجور یا بې الفه ماجور له فراغنه کورنۍ څخه (غالباً د جوزجان فریغونان) او د

---

[1] - الفهرست ۳۷۸.

[2] - تمدن اسلام و عرب ۵۸۵.

[3] - پورتنی اثر ۵۹۰.

[4] - الأعلام ۷/ ۳۳۸.

[5] - فوات‌الوفیات ۱/ ۱۵۱.

هرات اوسېدونکی و. زوی یې ابوالقاسم عبدالله بن اماجور هروي د خپل پېر له نومیالیو پوهانو څخه د لوړې پوړې او ګټورو تصانیفو څښتن دی. ابن ندیم یې الفن، په خالص مشهور زیج، زاد المسافر، په مزنر مشهور زیج، په بدیع مشهور زیج، زیج السند هند او زیج الممرات کتابونه یاد کړي دي. ققطي یې د زیج المریخ علی التاریخ الفارسي نوم یادوي.[1]

ماجور هروي فریغوني غالباً د ۲۰۰س کال شاوخوا ژوند کاوهٔ، چې زوی یې ابوالحسن علي هم ستورپوه و او په دې فن کې تألیفات لري.[2] ګوستاولوبون وايي هغه له ۲۷۰ – ۳۲۲س= ۸۸۳- ۹۳۳ز پورې په علمي څېړنو بوخت و او کالیزونه یې راوایستل. هغهٔ د بطلیموس د وینا پر عکس له لمر نه د سپوږمۍ د واټن کمېدو بهیر وموند. د سپوږمۍ د حرکاتو د دې نظریې په پایله کې درېیمګړی ناخپلواک جز (نامتشابه حرکت) پیدا شو.[3]

علي بن عبدالله اماجور د ۳۰٦س په صفرې او ربیع الاول کې د مشتري راستنېدل وڅارل او د مشتري او مریخ پر څارنه یې شرحه ولیکله. هغه وايي سپوږمۍ مې هم وڅارله، د ۹۱۸ز= ۳۰٦س د محرم له لومړۍ تر ربیع الاول پورې څو ځله د هغې د حرکتونو او ښکارېدنې توپیر ته ځیر شوم. څارلي د حسابلو په څېر نه وو، بلکې له ۱۵ تر ۲۰ دقیقو مې حسابلی طول تر څارلي زیات ولیدهٔ. د سپوږمۍ پسور (عرض) په څارنه کې له هغه څه لازیات شو چې د بطلیموس په طریقه لاس ته راغلی و. همدا رنګه د سپوږمۍ پسور یو هومره نه پاتېدهٔ، ځکه چې شته توپیر تل په بدلون او ګډوډۍ کې و.

ابن آدمي (د زیج نظم العقد څښتن ۳۰۰س= ۹۱۲ز شاوخوا) لیکي چې علي بن اماجور دېرش کاله په ځیرتیا سره پر څارنه بوخت و، د ناخوځندو سیارو او ستورو په اوږدوالي او پسور کې یې توپیرونه وموندل او د سپوږمۍ په اوږدوالي کې یې ۱٦ دقیقې څارنه تر حساب کمه ولیده. د سپوږمۍ اهتزازي حرکت یې هم وځیره؛ خو د

---

[1] - الفهرست ۳۹۰ او اخبارالحکماء ۱۴۹.

[2] - الفهرست ۳۹۰ او اخبار ۱۵۵.

[3] - تمدن اسلام و عرب ۵۸۹.

کچې او لوري په بشپړ حل بريالی نه شو.[1]

پته دې نه وي چې: اماجور پخوانی خراسانی او عجمي نوم دی، موږ په لومړۍ اسلامي پېړۍ کې ډېر داسې نومونه وينو، چې په جور کلمه پای ته رسېدلي وي. د ساري په ډول منکجور اشروسني د افشين له خپلوانو څخه چې په ۲۲۴س= ۸۳۸ ز کې يې په آذربايجان کې پاڅون وکړ. بلکاجور د بغداد د عباسيانو يو پوځي افسر-د ۲۴۶س= ۸٦۰ ز شاوخوا. انوجور ترکی د بغداد لښکري افسر ۲۴۸س= ۸٦۲ ز.[2] د بغداد د عباسيانو له جلادانو څخه ياجور ۲۵٦س= ۸٦۹ز.[3] رامجور غلام احمد بن‌عبدالله خجستانی چې په ۲٦۲س= ۸۷۵ ز کې په نيشاپور کې ووژل شو.[4] همدا رنګه په اندراب، د هندوکش په غرونو او تخارستان کې د منصور خليفه همپېر د باين‌جور اولادې واکمني درلوده، ۱۴۰س= ۷۵۷ز شاوخوا.[5]

خو د اماجور نوم هم د بغداد د دې عباسيانو په پېر ۲۵۷س= ۸۷۰ز کې د معتمد على الله خليفه په خلافت کې ياد شوی دی، چې د همدې پېر د پوځ يو نوميالی سړی دی. د دمشق په ورۀ کې د هغۀ او ابن‌عيسی بن‌شېخ علي تر منځ جنګ شوی و.[6]

له دې بېلګو څرګندېږي چې دا ډول په (جور) روستاړي پای نومونه په خراسان کې مشهور وو، ان د غزنويانو د پېر د سيمجور مشهوره کورنۍ هم له دې مقولې څخه ده.

کله چې موږ د بهرام‌ګور بن‌يزدګِرد نوم په عربي کتابونو کې د هغۀ په معربه بڼه بهرام‌جور لولو[7] نو هرومرو دا سوچ راپيدا کېږي چې د دې نومونو وروستی برخه هم ښايي له آره ګور وه، چې عربو به هغه «جور» کړی وي (؟)

[1] - ګاهنامه ۱۳۱۰ل، ۴۸مخ.

[2] - طبري ۷/ ۳۰۱، ۳۸۸او ۴۳۴.

[3] - طبري ۷/ ۵۷۹.

[4] - ابن اثير ۷/ ۱۲۰.

[5] - زمباور ۳۰۷.

[6] - طبري ۷/ ۵۹۸.

[7] - طبري ۱/ ۵۰۱او سنی‌ملوک‌الأرض ۳۸.

## د خالد مروزي کورنۍ

خالد بن‌عبدالملک د خراسان د مروه‌رود اوسېدونکی او د اسلامي نړۍ لوی ستورپوه دی، چې د ۲۰۰س= ۸۱۵ز شاوخوا یې ژوند کاوۀ. څرنګه چې په ۲۱۴س= ۸۲۹ ز کال کې عباسي خلیفه مامون ستورپوهان راټول کړل او د بغداد په شماسیه او د دمشق په قیسون غرۀ کې یې د ستورپوهنې او ستورځارنې د آلاتو په جوړولو وګومارل،[1] دا په اسلامي نړۍ کې د ستورپوهنې لومړنۍ ځارنه وه.[2] د پوهانو په دې پلاوي کې لومړی خالد مروزي، دوهم سند بن‌علي او درېیم عباس بن‌سپید جوهري ګډون درلود، چې هر یوۀ په خپل نامۀ د ستورو د احوالو او حرکاتو لښتلیکونه (زیجونه) جوړ کړل. د خالد د مړینې نېټه سمه جوته نه ده؛ خو د مامون تر مړینې ۲۱۸س= ۸۳۳ز پورې ژوندی و.

مسعودي وایي په ماموني ستورځارنه کې یې د یوې جغرافیایي درجې اوږدوالی ۵۶ میله ټاکلی دی، د هغۀ په حساب د ځمکې چاپېره کره ۲۵۰۰۹ میله وه، چې له اوسمهالي علمي کچې یعنې ۲۴۸۵۸ انګرېزي میلو یواځې ۱۵۱ میله زیات دی.[3]

د دې مروزیانو بل مشهور سړی پخوا یاد شوی محمد بن‌خالد دی، چې د پلار په څېر د خپل پېر لوی ستورپوه و او د ستورو په حرکاتو پوهېدۀ.[4]

د دې محمد ستورپوه زوی (عمر) هم د خپل پېر لوی ستورځاری و. د خپل نیکۀ خالد په سبک یې لنډ لښتلیک کښلی او په خپله هم د ستورځارونکو له نومیالیو څخه و. تعدیل‌الکواکب او صناعةالاسطرلاب المسطح کتابونه د همدۀ دي.[5]

---

[1] - تاریخ‌التمدن الإسلامی ۳/ ۱۹۲ د خطي تاریخ الحکماء خدمات علمی مسلمانان ۱/ ۶۳، په حواله.

۲ - کشف‌الظنون ۱/ ۵۷۲.

۳ - البېروني ۲۰۰ د سیدحسن برني، د علیګړ چاپ، ۱۹۲۷ز.

٤ - اخبارالحکماء ۱۵۸.

۵ - پورتنی اثر ۱۶۲.

## د بلخي برمکیانو ونډه

### د علم و فرهنګ په پالنه کې

په درېیم څپرکي کې مو د برمکیانو لوړتیا او سیاسي پېښې- چې په دې لوړېوږې کورنۍ پورې اړه لري- په تفصیل سره ولیکلې. بیا مو د دې بحث په سر کې د خراسان له لارې د فرهنګ په لېږد کې د هغو ونډه په ګوته کړه. دا خراسانۍ کورنۍ چې د باختر د پخواني فرهنګ په چاپېریال کې روزل شوې وه، د دې خاورې د پخوانیو ډېرو فرهنګي میراثونو او تمدن لېږدوونکې وه.

د هغو نیکونو په بلخ او نوبهار عبادتځي کې د سدانت څوکۍ درلوده. نوبهار د بشر پخوانی عبادتځی و، یو مهال د زردُشتي دین او بیا د باختر د بودایانو مرکز و، خو برمکیانو د دې دیني څوکۍ د درلودو تر څنګ سیاسي چارې او د پاچاهانو وزارتونه چلول. ان خواجه نظام‌الملک طوسي وایي: برمکیان د اردشېر د پلرونو د پاچاهۍ له پېره وزیران وو، وزارت د هغوی میراثي و. د وزارت د ترتیب او چلولو کتاب یې درلود، چې اولادونو یې د وزارتونو د آدابو یادولو لپاره هغه لوست.[1]

برمکیانو له خراساني روح او خپل لرغوني میراثي فرهنګ سره د ابومسلم له پېره د خراسان په سیاست، د عباسي خلافت په تأسیس، د بغداد دربار په عروج، د علمي فرهنګي مؤسسو په جوړولو، علم پاللو او د تمدن و فرهنګ په لېږد کې لوی لاس درلود.

برمکیانو د سخا، بخښنې، نیک چلنې او خپل فرهنګ له امله په عربي نړۍ کې دومره مشهور شوي و، چې عربو په خپله ژبه کې د دې ځانګړنو لپاره د هغو له نامهٔ

---

[1] - سیاستنامه ۱۷۷.

څخه فعل جوړ کړ، د مثل په توګه يې کاراوۀ او ويل به يې: "تبرمک‌الرجل" ای جاد و سخا.[1] يعنې مړانه او بخښښ.

کله چې يحيی بن‌خالد د بغداد په پلازمېنه کې د درباري چارو، وزارت او عباسي خزانو واکمن شو؛ نو هغۀ د آسيا په هغې لويې پلازمېنې کې د علمي مناظرې غونډه جوړه کړه. مسعودي وايي په هغې کې به د بېلابېلو ملتونو او دينونو پوهانو، د نظر څښتنانو او ويناوالو ګډون کاوۀ او د نړۍ د اسرارو، ظهور، قدوم و حدوث، اثبات و نفې، حرکت و سکون، وجود و عدم، جر و طفره، اجسام و اعراض، تعديل و تحرير، کميت و کيفيت، مضاف و امامت او نورو کلامي، فلسفي او اروايي مسايلو په اړه بحث او مناظرې کولې او د هغۀ پېر مشهور پوهان به په کې کښېناستل.[2]

لکه چې ليدل کېږي، په دې علمي غونډه کې د خوارجو، معتزله‌وو او نورو ډلو پوهانو ګډون کاوۀ او په آزاده وينا يې د کلام او فلسفې په پېچلو مسايلو او ان سياست- لکه امامت نص دی که اختيار؟- مناظره او مباحثه کوله. له دې څرګندېږي چې برمکيان د پراخ نظر، ښۀ چلن او آزاد فکر څښتنان وو. ان د هغه مهال د ډله‌ييزو ګروهو په دايره کې يې د خپلې خراسانۍ پراخ‌نظرۍ استازي کوله.

**بيت‌الحکمة**

په بغداد کې دا علمي مؤسسه چې خزانة‌الحکمة يې هم بلله د عباسي هارون‌الرشيد په پېر کې تر ۱۷۰س= ۷۸٦ ز وروسته جوړه او د مامون په خلافت کې تر ۱۹۸س= ۸۱۳ ز وروسته خپل لوړ پوړ ته ورسېده.

موږ د مخه د طيفور د تاريخ‌بغداد په حواله وويل چې: د خراسان په مرکز مروه کې تر اسلام د مخه زمانې لوی کتابتون راپاتې و چې د ۲۰۰س= ۸۱۵ ز تر شاوخوا پورې هم و.[3] هارون او مامون چې دواړه د خراسان له مدنيت او فرهنګ سره اشنا وو او ډېر وخت په خراسان او مروه کې اوسېدل، په لويو ښارونو کې د کتابتونو او د کتابونو له زېرمه‌تونو څخه خبر وو.

---

[1] - تاريخ تمدن اسلام، د جرجي زيدان ۴/ ۱۳۹.

[2] - مروج‌الذهب ۳ /۲۸٦ او ابن‌خلکان ۱/ ۴۸۰.

[3] - ضحی‌الإسلام ۱/ ۱۸۰ د تاريخ بغداد په حواله ۷/ ۱۵۷.

دا خلیفه‌گان چې د خراسان په تمدن او فرهنګ مین وو، د عباسي خلافت په مرکز بغداد کې یې هم علمي مؤسسات جوړ کړل او د خراسان فرهنګي بنسټونه یې بغداد ته ولېږدول، چې له هغو څخه یو همدا بیت‌الحکمة و.

بیت‌الحکمة لوی کتابتون و او د کوچنۍ اسیا، انقرې او عمورېې په سوبو کې خلیفه‌ګانو تر لاسه کړي یوناني، سریاني، پهلوي، قبطي او عربي کتابونه په کې راغونډ شوي وو. برمکیانو یې په جوړونه کې لوی لاس درلود. پوهان، ژباړنان او مؤلفان یې نازول. پارسي او هندي کتابونه چې یې راټول کړي وو، په همدغه بیت الحکمة کې یې کښېښودل. په برمکیانو پورې زیاترو اړوندو پوهانو په دې علمي مؤسسه کې کار کاوه، لکه: ابن‌دهن، منجم محمد بن‌موسی خوارزمي، جابر بن‌حیان، هندی کنکه‌منکه (چې د مخه یاد شو) او علان شعوبي. شعوبي چې عالم سړی و، په دې بیت‌الحکمة کې یې د مامون او برمکیانو لپاره د کتابونو خطي نسخې لیکلې.[1] دې علمي مرکز د علم و فرهنګ د یوې اکاډمۍ، د عالمانو د ټولنځي، ان د څېړنو د مرکز، څارنځي او د حکمت و فلسفې د روزنځي بڼه خپله کړې وه.

ابوحفص عمر بن‌فرخان طبري د ژباړنانو، د ستورپوهنې د عالمانو او د اړوند نظریو مشر و، چې د یحیی بن‌خالد خدمت یې کاوه. هغه د بطلیموس د څلورو مقالو تفسیر، کتاب‌المحاسن او نور کتابونه ولیکل او د اسلامي فکري خوځښت یو غړی او برمکیانو روزلی و. زوی یې ابوبکر بن‌عمر هم له مشهورو ستورپوهانو او د دې فن له مؤلفانو څخه و.[2] وایي چې لومړی ځل یې د یحیی بن‌خالد برمکي په امر د کتاب‌المجسطي ۱۳ مقالې عربي ته واړولې، خو خوښې یې نه شوې. نو د هغو د تفسیر لپاره یې د بیت‌الحکمة خاوند ابوحسان‌وسلم راوغوښت او هغه لا فصیح او صحیح تدوین کړ.[3]

برمکیانو بې له تعصب او تنګ نظرۍ د هر مذهب عالمان پالل او علم یې د علم

---

[1] -الفهرست ۱۵۴.

[2] - پورتنی اثر ۳۸۱.

[3] - پورتنی اثر ۳۸۴.

لېږه پالۀ. د ساري په ډول د بختیشوع کورنۍ هغوی پاللې او د بغداد دربار رنځپوهان وو، چې له هغو جبریل بن‌بختیشوع مامون ته ویل: ما دا نعمت نه له تا اخیستی او نه ستا له پلاره، بلکې ټول مې له یحیی خالد برمکي او د هغۀ له زامنو تر لاسه کړي دي.[1]

د بختیشوع دا کورنۍ نسطوري نصرانیان وو، چې د بختیشوع زوی جورجیس د ګنديشاپور روغتون‌مشر او د منصور خلیفه همپېره (۱۳٦- ۱۵۸س) و.[2] د دې مسیحي رنځپوهانو ټولې کورنۍ د برمکیانو د ملاتړ او پالنې په سیوري کې ژوند کاوۀ او له برمکیانو او نورو څخه یې د کال کابو پنځه ملیونه درهمه جایزه اخیسته.[3]

د برمکیانو د ملاتړ تر سیوري لاندې دا د یوې مسیحي علمي کورنۍ حالت و؛ خو په همدغه مهال کې وینو چې برمکیانو ځینې هندي رنځپوهان هم بغداد ته راوستي او په دې تفصیل یې نازولي وو:

د کنکه KANAKA یا منکه په نامۀ له هندي رنځپوهانو او ستورپوهانو څخه یو په ګنديشاپور کې و چې د هارون‌الرشید په فرمان بغداد ته راغی او د برمکیانو له پالنې او نازونې برخمن شو. له هندي څخه یې عربي ژبې ته کتابونه وژباړل[4] له هغې نه کنکه هندي د یحیی بن‌خالد برمکي په امر د سسرد کتاب په لسو مقالو کې تفسیر کړ. د هندي درمل‌بوټو نومونه یې هم له هندي عربي ته وژباړل. همدې کنکه د شاناق (چاناکیه، د چندراګوپتا وزیر ۳۲۱ - ۲۹۸م.ز) تألیف، کتاب‌السموم له هندي نه پهلوي ته په پنځو مقالو کې وژباړۀ، چې پهلوي ته د اوښتنې متکفل یې ابوحاتم بلخي و. دا کار هم د یحیی بن‌خالد لېږه وشو.[5] (د کتاب الشاناق في السموم و الترياق الماني ژباړه په ۱۹۳۴ز برلین کې خپره شوه) ابن‌ندیم: نموذار في

---

[1] - تاریخ علوم عقلي ۱/ ٤٦، د جهشیاري د کتاب‌الوزراء په حواله ۱۷٦.

[2] - اخبارالحکماء ۷۱.

[3] - اخبار ۱۰۰.

[4] - الفهرست ۴۲۱.

[5] - طبقات الاطباء ۲/ ۳۲.

الاعمار، اسرارالموالید، کتاب القرانات‌الکبیر والصغیر او اسماءعقاقیرالهند کتابونه هم د منکه ګڼي.[1]

دا هندي کنکه یا منکه د یحیی بن‌خالد په بلنه د هارون د درملنې لپاره بغداد ته راغی. هغه په پهلوي هم پوهېدهٔ او له هندي یې دې ژبې ته ژباړې کړې وې.[2] جاحظ وایي: برمکیانو د هندي رنځپوهانو راغوښتلو ته ځانګړې پاملرنه درلوده. پر منکه سربېره څو نور رنځپوهان لکه: بازیکر، قلیرفل، سندباز او نور یې هم راغوښتي وو.[3] د ناروغیو د نخښو او درملنې په اړه کتاب یې هم د یحیی بن‌خالد برمکي په امر عربي ته وژباړهٔ.

له هندي رنځپوهانو بل صالح بن‌بهله و، چې د هارون په پېر کې د برمکیانو په وسیله بغداد ته راغی. هغه ډېر مشهور و، د بغداد له رنځپوهانو سره یوځای شو او هندي رنځپوهنه ترې اقتباس شوه.[4]

همدا رنګه بل مشهور هندی رنځپوه، چې د برمکیانو او بغداد په ناستوپاستو کې موجود و، ابن‌دهن دی. ابن‌ندیم: استانکرالجامع تفسیر ابن‌دهن، کتاب سندستاق یعنې صفوةالنجح تفسیر د هغهٔ کتابونه ګڼلي دي.[5]

**د برمکیانو روغتون**

له هغو ښاري یا مدني آثارو څخه چې برمکیانو په بغداد کې رامنځ ته کړي، بیمارستان دی. په افغانستان کې ورته روغتون خو په انګلېسي کې ورته HOSPITAL وایي. په عربي نړۍ کې چې یې د دې عجمي خیریه بنسټ پلیون وکړ، نو د دري له بیمارستان یې‌عربي مارستان جوړ کړ. د ولید بن‌عبدالملک په پېر ۸۸س= ۷۰٦ز کې په دمشق کې لومړنی عربي مارستان جوړ شو، چې جذامیان یې په کې ساتل.[6]

[1] - الفهرست ۳۷۸.

[2] - عصرالمأمون ۱/ ۳۸۹.

[3] - البیان‌والتبیین، د جاحظ ۱ /۴۰، د قاهرې چاپ، ۱۳۱۳س.

[4] - تاریخ‌التمدن الإسلامی ۳/ ۱۵۸.

[5] - الفهرست ۴۲۱.

[6] - تاریخ‌التمدن الإسلامی ۳/ ۱۸۷.

هارون‌الرشید هم په بغداد کې مارستان جوړ کړ، چې سررنځپوه یې هماغه برمکیانو روزلی رنځپوه جبرئیل بن‌بختیشوع و. څرنګه چې برمکیان ټول د پوهې ښنتنان او د هندي رنځپوهانو پالونکي وو، نو په بغداد کې یې د برمکیانو مارستان جوړ او سررنځپوه یې ورته هغه ابن‌دهن وګومارهٔ، چې طبي کتابونه یې له هندي عربي ته ژباړل.[1] بیا د عباسي دولت په ښارونو کې یو شمېر نور روغتونونه د برمکیانو په پلیونۍ پرانیستل شول.

د هغهٔ مهال په روغتونو کې یې د درملنې لپاره نومیالي رنځپوهان ګومارل او له لیرې ځایو یې د طبابت لپاره راغوښتل، لکه چې هارون، د ګندي شاپور روغتون هندی سررنځپوه دهشتک د بغداد روغتون لپاره راوغوښت. هغه رانغی او په خپل ځای یې مشهور رنځپوه ماسویه راولېږهٔ، چې بیا یې زوی یوحنا د بغداد روغتون سررنځپوه شو.[2] دا دواړه هم د پخواني یاد شوي بختیشوع - د برمکیانو رنځپوه و- د کورنۍ له روزل شویو څخه وو.

ګوستاولون وایي: د عربو روغتونونه د روغتیا ساتنې له آرونو سره سم جوړ شوي او ډېر پراخ وو، پرېمانې روانې اوبه او چلنده هوا یې لرله. د رنځپوهنې محصلانو به په کې د رنځورانو کتنه او درملنه کوله. محصلانو په روغتون کې خونې درلودې چې په تجربو او څېړنو په کې خپلې زده‌کړې بشپړې کړې.[3]

---

[1] - الفهرست ۳۴۲.

[2] - طبقات الاطباء ۱/ ۱۷۴.

[3] - تمدن اسلام و عرب ٦۳۵.

## مذهبونه او ډلې

د اسلام راتګ پر مهال مو د افغانستان ديني اوضاع د دې کتاب په لومړي څپرکي کې په تفصيل سره ليکلې ده. د هغو ډېرو مهمو عبادتځيو په اړه مو هم هلته خبرې کړې دي، چې هغه مهال د هېواد په بېلابېلو سيمو کې وو.

د هغو شرحو له مخه چې چينايي سيلانيانو لکه (شي فاهيان، هيونڅانګ او نورو) ورکړې دي، په ختيځ افغانستان يعنې ګندهارا او کابل کې تر غزني او کندهار پورې د خلکو عمومي دين بودايي و، چې په هېواد کې يې تر اسلام د مخه اوږده مخينه درلوده. لويو او ځواکمنو پاچاهانو لکه هندي آشوکا او کوشاني کنيشکا په منځنۍ اسيا او د هند په لويه وچه کې خپور کړی و.

د بودا دين دوه مهم مذهبونه SECTS درلودل: يو مهايانهMAHAYANA او بل هينه‌يانهHINAYANAچې بيا دغۀ هر بنسټيز مذهب په فرعي ډلو، لکه‌سته‌ويره STHAVIRA، سمه‌تيهSAMMATIYA، سرواستهي‌وادينSARVASTHiVADiN او نورو وېشل شوی و. څرنګه چې يو واکمن او پياوړی بودايي مرکز نه و، نو د نورو ډلو او څانګو د پيدا کېدو مخنيوی هم نه شوکېدای او روحانيون چې پر بودايي بنسټونو کم ټينګ وو، په ډېر فساد او رياکارۍ اخته وو.

پر کورني فساد سربېره يوۀ بل سيال هم د بوداوالې د بنسټونو ويجاړولو او نړولو ته کار کاوۀ چې هغه نوی برهمني دين‌و. کوماريله‌دتهKUMARILANHATTA او شنکرآچاريهSHANKARACHARYA د بودايت دوه مشهور مخکښ دښمنان وو چې په ۳س= ۹ز پېړۍ کې اوسېدل. هغوی سره يو شول او په دې موخه په ټول هند وګرځېدل. په ويدا او د اوپانيشاد په فلسفه کې په خپلې پراخې پوهې سره يې هر

ځای فاسد شوي بودایي روحانیون په مناظره او مباحثه کې مات کړل، چې د بودایانو خپلمنځي ډلبندیو هم په دې ماتې کې اغېز درلود.

په هر حال د برهمني سیالۍ له شتون سره هم د هغه مهال پر ټولنه باندې د بودایي افکارو اغېز ژور و. د اهمسا AHIMSA (ژوي نه زیانمنول) بت لمانځنه، سپېڅلي ځایونه لیدل او هغه گروهه چې ژوند له آره شر دی، باید ځان ترې وژغورل شي؛ دا ټول هغه څه دي چې له بودایي دین څخه یې د هغۀ مهال پر افکارو اغېز کړی و.[1]

بودایانو یو لوی هنري میراث پرېښی دی چې نقشي آثار، بتان، پېرې او ودانۍ دي. یواځې په بامیانو کې پاتې آثار یې هم د ټول بشر د هېښتیا او لېوالتیا لامل گرځېدلي دي.

شي‌فاهیان او هیونڅانگ د لوی او کوچني بودایي مذهب د پلیونو ډېر عبادتځیونه په شمال او ختیځ افغانستان کې ښودلي دي؛ نو ترې څرگندېږي چې د لومړۍ اسلامي پېړۍ په لومړۍ نیمایي کې دا دوه بودایي مذهبونه[2] په افغانستان کې چلېدۀ. (د زیات تفصیل لپاره وگ: د لومړي څپرکي پیل)

---

[1] - ډاکټر ایشوري پرشاد د هند په تاریخ کې (انگلیسي) ۱۲۰، د اله‌آباد چاپ، ۱۹۳۳ز.

[2] - په سنسکرېت کې د دې دوو ډلو نومونه مهایانه –هینه‌یانه وو. د دې کلمو دوهم جز یان YAN په سنسکرېت کې د گاډۍ او د لېږد د یوې وسیلې معنی درلوده، لکه گاډۍ، اس، لیک او نور (هندي فرهنگ، د دنکن فوربس، د لندن چاپ ۱۸٦٦ز، ۷۹۷ مخ.) د لومړۍ کلمې لومړی جز مها= ما د لوی معنی لري، چې په پښتو او دري کې هم و لکه ماچین –مابڼ چې معنی یې لوی چین او لوی ځنگل دی. خو د دواړو کلمو دوهم جز یانه دی، چې په پښتو کې هم دې معنی او بنې (یون= یانه) ته نږدې ژوندی او کارېدونی دی. اوسنۍ معنی یې تگ، مسلک او مذهب دی. خو په دوهم نامۀ کې هینه په سنسکرېت کې HIN د نیمگړي، کوچني، سپک، تش او پوښلي معنی درلوده (نوموړی فرهنگ ۷۹٦)

د سي. یو.کې، ژباړن سمویل بیل (د لوېدیځې نړۍ بودایي خاطرې) یانه د گاډۍ VEHICLE په معنی ژباړلی او د پارسي ژبې وروستیو لیکوالو یې هم معنی لویه او کوچنۍ گاډۍ لیکلې ده؛ خو ما د هغې پر ځای د مذهب کلمه لیکلې ده چې زموږ په ادبیاتو کې کارېدونې او د یانۀ اصلي مفهوم (= عربي ذهاب او دري رفتار) ته لا نږدې ده. ځکه په پښتو کې کټ‌مټ همدغه کلمه په همدغې معنی شته او اشنا ده او هم د گاډۍ کلمه په دیني مفاهیمو کې زموږ په ادبیاتو کې هیڅکله نه ده کارېدلې.

## خو اسلامي مذهبونه او ډلې[1]

اسلام داسې دين دی، چې سياست يې مهم جز دی او خپلو ګروهمنو ته د تعبدي چارو، فردي او ټولنيز ژوندانهٔ لاره ښيي. آره موخه يې د اسلامي دولت- چې بنسټ يې د الله او رسول‌الله حکمونه وي- جوړونه ده.

حضرت‌محمدﷺ د دې تر څنګ چې د الله استازی، د قرآن او اسلامي احکامو مبلغ او د خلکو د اخروي ژوندانهٔ لارښود و، د سياست، حکومتولۍ، پوځ، د دعوو او تربګنيو د حلولو، د غنيمتونو او بيت‌المال د مالونو د وېش او نورې ژوندچارې هم ورترغاړې وې، نو په دې ډول د دين- دنيا لارښود او د امت مادي- معنوي مخکښ و.

کله چې حضرت‌پيغامبرﷺله نړۍ رحلت وکړ، د هغهٔ خوږو يارانو د پيغامبر د ځايناستي او خليفه د ټاکلو په مسأله کې (چې په رښتيا د مسلمانانو د ژوندانهٔ له ډېرو مهمو موضوعاتو څخه وه) دوه ډوله فکر درلود: لومړی دا چې حضرت پيغامبر خپل ځايناستی نه دی ټاکلی؛ نو بايد د امت وګړي واک ولري چې له خپل منځه د خلافت لپاره وړ کس غوره کړي. د بلې ډلې په پام کې وه چې خلافت د نبوي کورنۍ حق دی؛ نو خليفه او امام بايد د نبوت له کورنۍ څخه وي.

د حضرت‌رسولﷺ تر رحلت وروسته زياترو حاضرينو او د پيغامبر د اصحابو لويو نوميالیو د سقيفه بني ساعده په غونډه کې د لومړي نظر ملاتړ کاوهٔ. نو له خپله منځه يې حضرت‌ابوبکر صديق عبدالله بن‌عثمان چې د حضرت‌محمدﷺ خسر او نږدې ملګري و، خليفه وټاکهٔ (۱۱س= ۶۳۲ز). همدا اصل يې د څلورم خليفه حضرت‌عليرضي الله عنه تر ټاکلو پورې ټينګ وساتهٔ.

[1] - د مسلمانانو بېلابېلې ډلې ۷۳ ته رسېږي، يوه يې چې له سنتو سره سمه ده، ژغورل کېدوني او نورې يې د دوزخ د اور مستحقې دي. هرې ډلې هڅه کړې چې ځان ته ژغورل کېدونې ووايي؛ خو امام غزالي ډېر په زغرده وايي: کلها فی الجنة إلا الزنادقة. دلته له ډلې څخه موخه هغه ټولی دی، چې د زياترو مسلمانانو له دود، اسلامي فکر، اجماع او مهمو مسألو څخه ليرې وي. (ګولډزيهر در عقيدهٔ اسلامی ۱۶۸) پر دې بنسټ موږ اسلامي مذهبونو او هغو ټولنو ته ډله نه شو ويلای، چې په کتاب‌الله او سنت منګولې لګوي او په منصوصو بنسټونو کې له زياترو مسلمانانو سره مخالف نه وي.

خو له دويمې ډلې يعنې په نبوي‌کورنۍ کې د خلافت له پلويانو څخه، داسې کسان وو چې حضرت‌عليﷺ يې د خلافت ډېر مستحق ګاڼۀ او په دې ګروهه وو چې حضرت رسولﷺ د حضرت‌علي د خلافت سپارښتنه کړې ده؛ نو ځکه خلافت او امامت منصوص دی.[1] له دې ډلې څخه سلمان پارسي، ابوذر غفاري او مقداد بن‌اسود ډېر مشهور دي، چې شمېر يې د حضرت عثمان د پېر په فتنو کې ډېر شو او په شيعه‌وو مشهور شول. په داسې حال کې چې بله ډله د سنتو يعنې د رسولﷺ د ويناوو، کړنو او خويونو پلويان وو. د عباسي پېر په لومړيو کې هغوی اهل‌سنت ونومل شول. دا هغه مهال و چې اهل‌کلام يې معتزله؛ خو د کتاب او سنت پليون يې په صدراسلام کې صحابه او بيا اهل‌سنت وبلل.[2]

**د اهل‌سنت مهم بنسټونه**

کتاب، سنت، اجماع او قياس د اهل‌سنتو اساسي بنسټونه وو، چې هغه يې «ادلة اربعة» وبلل او موږ يې تفصيل په تېرو بحثونو کې ورکړی دی. په خلافت کې يې هم ټاکنه د حديث په دليل «الائمة من قريش»[3] په قريش قبيلې کې دننه ګڼله؛ خو لارښود يې امام ابوحنيفه د عباسيانو له ځواک او لاسبري سره د علويانو امامت ته لېوال و. محمد نفس‌زکيه او ورور يې ابراهيم چې د عباسي خليفه منصور پر وړاندې پاڅون وکړ؛ نو حضرت امام ابوحنيفه يې ملاتړ وکړ. منصور خليفه هم اړ شو، امام يې له کوفې څخه وروغوښت، په بغداد کې يې تر پنځلسو ورځو اوسولو وروسته په زهرو وواژۀ. امام مالک بن‌انس هم په همدې لاره کې په کوړو ووهل شو، ځکه هغۀ ويلي وو چې له عباسيانو سره يې بيعت خوښ نه دی.[4]

اهل‌سنت تر اوسه هم په اسلامي نړۍ کې زيات دي، چې د مخه يې د څلورو مشهورو مذهبونو خبره وشوه. لومړني مسلمان سوبمنان چې خراسان او د افغانستان

---

[1] - کتاب النقض، د عبدالجليل قزويني ۵۷۲، د تهران چاپ، ۱۳۳۱ل.

[2] - تاريخ الإسلام السياسي ۲/ ۱۴۳.

۳ - دا حسن حديث دی، چې د حضرت‌علي په روايت د حاکم په مستدرک او سنن بيهقي کې راغلی دی (جامع الصغير ۲/ ۱۲۴)

٤ - تاريخ الإسلام السياسي ۲/ ۱۴۳.

خاورې ته راورسېدل، خلکو ته يې د همدې کتاب او سنت سپارښتنه وکړه او اسلام د کوم ځانګړي مذهب له توپير پرته پيل شو؛ خو د اهل‌سنتو د څلورو مذهبونو له جوړېدو وروسته په دې خاوره کې: حنفي، شافعي او حنبلي مذهبونه دود شول چې: د الله او پرښتو په شتون، په کتابونو، پيغامبرانو، د قيامت په ورځ، قدر، نېکۍ او بدۍ چې د الله له لوري دي او له مړينې وروسته په بيا راژوندي کېدو پر ژبه اقرار او په زړهٔ تصديق ته ايمان وايي. د الله صفات قديم او د هغهٔ په ذات قايم ګڼي، نه عين ذات. د هغهٔ کلام هم قديم او قايم ګڼي نه مخلوق. الله تعالی د بنده‌ګانو د کړنو له صفاتو نقص، زوال او د خير و شر له مقدر څخه پاک دی. پيغامبران يې له ګناهونو خلاص دي. د مؤمنانو لپاره يې په جنت کې ليدل، د قبر عذاب، د نکير و منکر پوښتنې، د نېکو او بدو تلل، جنت، دوزخ او کوثر حق دي. په لويه ګناه کفر نه لازمېږي، د قيامت د ورځې شفاعت، د پيغامبر معراج، د الله د ولیانو کرامات، د خلافت په ترتيب د راشده خليفه‌ګانو فضيلت، د دين په نيت د هغو د نيوکو او اجتهادي تېروتنو منل، په ظاهري معنی د قرآن او حديثو د نصوصو منل، د بيعت د خاوند اولوالامر پر وړاندې نه راپاڅېدل، تر ځنکدن مخکې د توبې قبلېدل، د اهل‌سنت د څلورو مذهبونو دننه اوسېدنه، تر ۴۰۰س کال وروسته د اجتهاد بندېدل د اهل‌سنت حنفيانو له ګروهو څخه دي. د اسلام ارکان پنځه ګڼي: د توحيد کلمه، لمونځ، روژه، زکات او حج.[1]

څرنګه چې موږ د همدې څپرکي په خپلو تېرو بحثونو کې د فقهې او د هغې د فکري ښوونځيو د پيدا کېدو، په تېره د اهل‌سنتو د مذهبونو په اړه ډېر بحث کړی، دلته ښاغليو لوستونکيو ته پر هغو حواله ورکوو.

**خو شيعه‌ګان**

شيعه‌ګان چې د عثماني پېر د پېښو او د درېيم خليفه له شهادت وروسته ډېر او پياوړي شول، په زرګونو کسان په هغو جنګونو کې ومړل، چې حضرت‌علي له امويانو او مخالفينو سره وکړل. داسې ګروهه ده چې د شيعه نوم له نبوي احاديثو څخه اخيستل شوی، چې د حضرت‌علي پلويانو ته يې شيعه ويلي دي. ان کټمټ

[1] - سراج ارکان الاسلام تر ۴ وروسته.

يې دا حديث د اهل‌سنتو په سرچينو لکه د سيوطي په الدرالمنثور، د ابن‌حجر په لصواعق‌المحرقة، د ابن‌اثير په نهاية او نورو کې هم راوړی دی، چې د الله رسول علي رضي الله عنه ته وويل چې: تهٔ او ستا ډله د نېکو او خيرالبريه کړنو څښتن مؤمنان دي.[1] همدا رنګه الله تعالی ابراهيم خليل د نبوت د درجې په لوړوالي سره شيعه ګڼي چې«و إن من شيعته لإبراهيم» په عربي ژبه کې شيعي، پلیوني، مرستندوی او مقتدي ته ويل کېږي. د اميرالمؤمنين علي مرتضی په پليونو، ملګرو او مرستندويانو کې يې دا کلمه عمومي کړه.[2] هغوی ګروهمن دي چې حضرت‌علي د خلافت له استحقاق سره د درېوو خليفه‌ګانو په پېر کې چوپ پاتې شو، ځکه ليدل يې چې هغوی د توحيد د کلمې په خپراوي، لښکرکښيو او اسلامي سوبو کې ډېرې هلې ځلې کړي دي؛ نو که دی يې مخالفت وکړي، د ګډوډی او د اسلام د ماتې لامل به شي. خو کله چې خلافت ته ورسېد او حضرت معاويه يې له بيعته ځان شاته کړ، نو په صفين کې د خپلو ملګرو له ډېر لوی ټولي سره د هغهٔ پر وړاندې وجنګېد.[3]

د شيعه‌ګانو په اند: اسلام او ايمان مترادف دي او پر څلورو ستنو ولاړ دي: لومړی توحيد، دوهم نبوت. درېيم معاد. څلورم په پنځه څيزونو عمل يعني لمونځ کول، روژه نيول، زکات ورکول، حج او جهاد کول. نو هغوی: په زړهٔ اعتقاد، په ژبه اقرار او په ارکانو عمل ته ايمان وايي؛[4] په داسې حال کې چې اهل‌سنتو د ارکانو عمل د ايمان جز نه دی ګڼلی.

اماميه شيعه يو بل رکن هم د ايمان پنځم جز ګڼي چې هغه په امامت ګروهمنتيا ده. هغه د نبوت په څېر يو الهي منصب او منصوص ګڼي. له اماميه‌وو سره د نورو مذهبونو بنسټي توپير په همدې کې دی او وايي چې الله جل جلاله خپل پېغامبر ته امر وکړ چې د حضرت‌علي په امامت نص ورکړي او هغه په حقه اميرالمؤمنين دی. بيا به هم تر هغهٔ وروسته له هغو وصي امامانو ځمکه خالي نه وي، چې څرګند مشهور او يا غايب پټ وي.[5] دلته د دولسګونو امامانو او حضرت‌علي رضي الله عنه د کورنۍ شجره راوړو:

---

[1]- اصل‌الشيعه و اصولها، د امام محمدحسين آل‌کاشف غطاء ٦٨، اووم چاپ نجف، ١٣٥٥س.

[2] - کتاب‌النقض ١٧٧.

[3] - اصل‌الشيعه ٧١.

[4] - پورتنی اثر، ٨١.

[5] - اصل‌الشيعه تر ٨١ وروسته او ګولډزيهر در عقيدۀ اسلامی ١٧٥.

[۱] امام علي بن ابي طالب امام علي بن ابی طالب (۲۳-۴۰ س)[۱]




۱- ضحی السلام ۲۱۱/۳ او الاعلام د زرکلي او عقائد الامامیـه ۶۲، د شیخ محمد رضا مظفر ، د نجف د فقهې پوهنځي رئیس ، د قاهرې چـاپ ۱۳۸۱ س

په دې ډول د شیعه‌گانو تر ټولو مهمې ډلې اثناعشریه امامیه دي، چې د پورتنۍ شرحې له مخه د حضرت‌علي‌رضي الله عنه له نسله د دولسو امامانو پر شتون گروهمن دي. دولسم امام محمد المهدي چې په ۲۶۰س کې پټ شوی، غایب‌امام او مهدي منتظر گڼي، وايي چې هیڅ مهال به نړۍ له نبي یا د هغه له وصیانو خالي نه وي. د وصیت د اثبات په اړه یې ډېر کتابونه لیکلي دي، چې تر ټولو پخوانی یې د شېخ امامیه کوفي هشام بن‌حکم (د۱۹۰س شاوخوا مړ)[1] کتاب‌الوصیة دی. د کتاب الکافي د لیکوال محمد بن‌یعقوب کلیني (۳۲۸س په بغداد کې مړ) د وینا له مخه چې له امام رضا روایت کوي، د رسول، نبي او امام توپیر دا دی: چې رسول د وحیې راتللو پر مهال جبرائیلویني او خبرې یې اوري، کله یې په خوب کې هم ویني، لکه د ابراهیم علیه السلام خوب؛ خو نبي یې کله یواځې وینا اوري او کله یې ویني هم؛ خو وینا یې نه اوري. امام د جبرائیل وینا اوري خو ویني یې نه. د همدې منقول نص پر بنسټ امام تل د وحیې له اورېدو برخمن دی او پر امام اعتقاد د ایمان جز دی.[2]

شیعه گان دین علم و عمل یا د عقل او بدن دندو ته وايي؛ نو د عقل دندې دا دي:

۱- توحید او په الوهیت کې په وحدانیت گروهه. ۲- د نبوت پېژندنه چې حضرت‌محمد د الله استازی او له گناه څخه پاک دی، قرآن پرې نازل او نبوت پرې ختم شوی دی. ۳- امامت چې الهي او نصي منصب دی. تر پیغامبر وروسته حضرت‌علي امام او د هغهٔ وصي دی. له حضرت‌علي وروسته تر دولسم امام پورې چې غایب‌امام او مهدي منتظر دی، د امامت منصب د وصیت په ډول دوام کړی دی. ۴- د عقل څلورمه دنده عدل دی چې د هغه له مخه الله پر هیچا ظلم نه کوي. هغه کار نه کوي چې سلیم عقل یې بد وگڼي. دا د الله د صفاتو جرړه ده. امامیه وايي الله عادل او انسان آزاد او خپلواک دی. ۵- د هر کس معاد، د حساب ورځ، جزا، حشر او بدن یې حق دي؛ خو د بدن دندې:

---

[1] - اصل‌الشیعه ۹۱.

[2] - اصول الکافی تر ۸۲ وروسته، د تهران چاپ، ۱۲۸۱س.

چې د دین دوهم جز او د اندامونو د عمل او کړنو پړاو دی، امامیه ګروهمن دي چې د مکلفانو د حرکت او سکون ټول کړۀ د الله تر خمسه احکامو: وجوب- حرمت- ندب – کراهت او اباحت لاندې راځي. پېغامبر پر دې احکامو د وحيې او الهي الهام له لارې پوهېږي او هغۀ څه وايي چې اړتيا ورته پېښه شي. خپلو ملګرو ته يې د پېښو له رامنځ ته کېدو او د آثارو او حال له نويوالي سره سم سپاري. خو هغه زيات حکمونه چې څرګندولو ته يې اړتيا نه وي پېښه شوې او يا د مصلحت له مخه يې له ويلو ځان ساتل شوی وي، هغه خپلو وصيانو ته سپاري چې د اړتيا پر مهال يې توضيح او خپارۀ کړي.

څرنګه چې د حضرت رسولﷺ اصحابو احکام په بېلابېلو وختونو کې او په څو روايتونو اورېدلي دي؛ نو کله د احاديثو تر منځ تعارض او ټکر رامنځ ته کېږي، له دې امله د احکام پېژندنې لپاره اجتهاد او نظر لازم دی. هغه کسان چې دا ځواک لري، د فتوا او اجتهاد څښتنان دي، چې نور يې بايد پلیوني وي.

د همدې اړتيا له مخه د اجتهاد ور تل بېرته دی او هر څومره چې د نبوت له دورې ليرې ځو، د زياتي کمي او د عربو- عجمو رأيې سره ګډېږي، پلمه جوړونه زياتېږي، نو د شرعي حکم پېژندنې او اجتهاد اړتيا هم زياتېږي. ځکه نو اماميان د شريعت د احکامو د شرحې لپاره د مجتهد عالم پلیون کوي او هغه د خلکو د شخړو په هواري کې د امام حاکم او ځايناستی ګڼي.

د اماميه‌وو نور بنسټونه دا دي چې په قياس او رأی عمل نه کوي او له خپلو امامانو روايت کوي چې«إن الشريعة إذا قيست محق الدين»[1]په نبوي حديثو او سنتو کې هغه باوري ګڼي، چې د اهل‌بيتو او امام‌جعفر صادق، د هغۀ له پلار امام‌باقر، د هغۀ له پلار امام زين العابدين، د هغۀ له پلار امام‌حسين او د هغۀ له پلار حضرت‌علي له لارې هغوی ته رسېدلي دي.

---

[1] - اماميه منصوص العلة قياس معتبر ګڼي؛ خو مستنبط العلة قياس نه مني.

هر اماميه مکلف دی، د مکلفاتو کړنې- چې د شرعي احکامو موضوع ده- د اجتهاد يا پلیون له لارې زده کړي چې په امامي فقه کې تر څلورو سرليکونو لاندې تشريح کيږي: عبادتونه، معاملې، ايقاع او احکام.

په عبادتونو کې ډېر مهم شپږ دي.

دوه يواځې ځاني: لمونځ او روژه.

دوه يواځې مالي: زکات او خمس.

دوه مالي او ځاني ګډ: حج او جهاد.[1]

خو شيعه‌ګان له سنيانو سره په څو مهمو تعاملي مسألو کې اختلاف لري چې يوه يې لنډمهالې نکاح (متعه) ده، شيعه‌ګان يې په رواوالي، ټولنيزې اړتيا او ګټورتيا ګروهمن دي. همدا راز ځينې اماميان له يهودۍ او مسيحۍ (اهل کتابو) سره نکاح روا نه ګڼي. په داسې حال کې چې اهل‌سنت يې روا ګڼي. د ميراث په نظام، فرايضو، په بانګ کې د«حی‌علی‌خيرالعمل» ويلو، په اوداسه کې د پښو په مسح کولو اونه وينځلو او نورو فقهي مسايلو کې هم له اهل‌سنت سره اختلاف لري.[2]

**عصمت، مهدويت، راستنېدنه او تقيه**

ومو ويل چې د شيعه‌ګانو د توپير بنسټيز مسايل، د پېغامبر په وصيت کړي امام ګروهمنتيا ده، چې د هغهٔ په ځانګړنو کې عصمت ډېر مهم ګڼي او موخه ترې له لويو او وړو ګناهونو، تېروتنو او هېرېدنو څخه د امام پاکوالی دی، چې د امامانو ځانګړنه هم د نبيانو په څېر ده.[3] ځکه نو امامان واجب‌الاطاعت دي او واجب دي، چې د احکام منزل من‌الله په شرحه کې د پېغامبر اهل‌بيتو ته مراجعه وشي. د هغوی مينه هم د دين له اړتياوو څخه ده. د امامانو له همدې لړۍ څخه په وروستي وخت کې مهدي راڅرګندېږي، چې د ظلم او ځور له دورې تېرولو وروسته به نړۍ په عدل او انصاف ډکه کړي. دا مهدي هم هماغه دولسم غايب‌امام او د امام حسن عسکري

[1] - له اصل‌الشيعه لنډون تر ۸٦ وروسته.

[2] - ضحی‌الإسلام ۳/ تر ۲٦۰ وروسته.

[3] - عقائدالامامية ۳۴.

زوی دی چې په ۲۵٦س کال کې زیږېدلی او په ۲٦۰س کې له سترګو پناه شوی؛ خو ژوندی دی.[۱]

پېه دې نه وي چې د مهدویت نظریه شیعه‌ګانو ته ځانګړې نه ده، بلکې د اهل‌سنتو او حدیثو په کتابونو لکه صحیح ترمذي، ابوداؤد، ابن‌ماجه او نورو کې هم داسې روایات شته، چې په وروستۍ زمانه کې د مهدي پر بعثت دلالت کوي. خو امام بخاري او مسلم یې پر سموالي شک ښودلی او په خپلو صحیحینو کې یې نه دي راوړي. ابن‌خلدون وایي د حدیثو عالمانو د داسې احادیثو په راویانو کې ضعف په ګوته کړی دی.[۲] ان وایي چې په سفیاني مشهور د امویانو د کورنۍ وروستی سړی د امویانو په حلقو کې مهدي منتظر ګڼل شوی و، په داسې حال کې چې خالد بن‌یزید بن‌معاویه دا داستان جعلي جوړ کړی و.[۳]

په هر صورت په بشر کې د یوۀ وعده شوي مهدي تصور پخوانی دی، یهودیانو به ویل، الیاس نبي اسمان ته ختلی او په اخره زمانه کې راستنېږي. ځینې د حضرت عیسی په اړه هم داسې ګروهمن وو. په اوستایي آریایانو کې منتظر مهدي، سوشیانس و چې د سیستان سینده‌ګي پر غاړه به د زردُشت له نژاده راځرګند او دروغجن و شیطاني لښکر به له ځېرمې پوپنا شي.[٤] هندوان هم د ځان‌ژغورنې لپاره د وېشنو په راځرګندتیا، د حبشې مسیحیان د خپل پاچاه تیودور په راستنېدا او ان مغول د چنګېزخان په راستنېدا ګروهمن وو.[٥] دا د هر ملت او ماتې خوړلې ډلې ځانګړنه ده، چې د خپل خلاصون او بایللي برم د راخپلولو لپاره معجزه‌یي نابغه‌ګانو او نومیالیو ته سترګې پر لاره وي.

په اخره زمانه کې د مهدي د راځرګندېدنې او د ظلم او بلارۍ د مخنیوي د فکر له لوازمو څخه، بل فکر هم شته چې وګړي یې ستنېدا بولي او له دې اصل سره سم

---

۱ - عقائدالامامیة تر ۵۱ وروسته.

۲ -ابن‌خلدون ۱/ ۲٦۰.

۳ - ضحی‌الإسلام ۳/ ۲۳۸ د الأغاني ۱٦/ ۸۸او النجوم‌الزاهره ۱/ ۲۲۱ په حواله.

٤ - بندهش ۱۳ څپرکی ۱٦/ ۱۷ فقره.

۵ - ګولډزیهر در عقیدۀ اسلامی، عربي ژباړه ۱۹۲، د قاهرې چاپ، ۱۹٤٦ز.

باید د مهدي منتظر د پاڅون پر مهال ځینې وګړي په خپله جسماً دنیا ته راستانهٔ شي، چې حق له باطل او مظلوم له ظالم خپل حق واخلي او بیا بېرته مړهٔ شي. خو دا جسمي ستنېدا به د تناسخ غوندې نه وي، چې روح به له یوهٔ بدنه بل ته لېږدي. په داسې حال کې چې ځینې امامیان وایي له ستنېدا موخه، د منتظر امام د راڅرګندېدا پر مهال اهل‌بیتو ته د دولت، امر او نهې راستنېدا ده، بې له دې چې لویان او اشخاص راستانهٔ او مړي بیا ژوندي شي.[1] په هر حال د امامیه څېړونکو رأی دا ده چې راستنېدا منل د شیعه مذهب له لوازمو څخه نه دی او انکار یې زیانمنوونکی نه دی.[2]

تقیه د شیعه‌ګانو بل مهم اصل دی، چې د زیان د مخنیوي او ځانساتنې لپاره خپله ګروهه پټوي. شیعه‌ګان چې په اموي پېر کې له ډېرو کړاوو او مصیبتو سره مخامخ وو، نو تقیه یې د مذهب له لوازمو څخه وګڼله، امام جعفر صادق وایي:«لا دین لمن لا تقیة له»[3] خو پر تقیه عمل درې حکمونه لري: لومړی هغه مهال واجب دی چې پرېښودل یې بې ګټې د ځانوژنې لامل وي. دوهم د اجازې تقیه چې په پرېښودلو او حق څرګندولو کې یې ګټه وي. درېیم تقیه هغه مهال حرامه ده چې د باطل دود د راتازه کولو، د خلکو د بېلارۍ، د ظلم او دیني فساد د راژوندي کېدو او یا د نفسونو د وژنې لامل وګرځي.[4]

### په خراسان کې د شیعه خوځښت پیل

تر دې ځایه مو په لنډه توګه د شیعه او امامیه مذهب د بنسټونو یادونه وکړه، چې د خراسان او افغانستان له مهمو مذهبونو څخه و. موږ پوهېږو چې د امویانو په پېر کې د نبوي کورنۍ ټولو غړیو او ان علویانو- چې د فاطمي ﷺ اولاده نه وه- دومره مړینې، ربړونې، ځارنې، کړاوونه، مصیبتونه او زندانونه وګالل چې له ناچارۍ د

[1] - عقائدالامامیة تر ٦٧ وروسته.
[2] - اصل‌الشیعه ٥٧.
[3] - اصول الکافی تر ۴۰۰ وروسته.
[4] - اصل‌الشیعه ١٧٠.

اسلامي هېواد ليرې څنډو ته وتښتېدل. په خراسان کې چې د نبوي کورنۍ شيعه‌گان موجود وو، نو د حضرت‌علي او عباس د کورنۍ زياترو امامانو او نومياليو کسانو به خراسان ته پناه راوړه.[1]

د امويانو په پېر کې علويان په دومره کړاوونو او مالي تنگسو اخته شول، چې ان له لوږې هم مړهٔ کېدل. د امويانو امير خالد قسري (٦٦- ١٢٦س) اړ شو، چې مالي مرسته ورسره وکړي. کله چې له دې مرستو برخمن شول، بيا د خلافت په لټه کې شول.[2]

هغه مهال د اثنا عشريه اماميه مذهب له بنسټونو څخه د نبوت له کورنۍ د خليفه ټاکنې مسأله، په خراسان کې په کړنو او گروهه کې سخته مطرح وه. خراسانيان چې د اموي اميرانو ظلم او تېري له پوزې څوړند کړي وو، نو غوښتل يې چې د نبوي کورنۍ په پلوۍ د ظلم دغه دروند پېټی له خپلو اوږو کوز کړي.

له ١٠٠س= ٧١٨ز شاوخوا څخه په خراسان کې د نبوي‌کورنۍ پليوني او پلويان - لکه د مخه چې تېر شول- تر سترگو کېږي. حضرت قُثَم بن‌عباس د نبوي‌کورنۍ يو نږدې کس په ٥٧س= ٦٧٦ز کال کې په سمرقند کې شهيد شوی و، چې د راستنېدا له گروهې سره سم يې تر اوسه ژوندی پاچاه«شاه‌زنده» گڼي او د راستنېدا لارې يې څاري.[3] په سمرقند کې يې قبر تر اوسه په شاه‌زنده مشهور دی.

لکه اسلامي مؤرخانو چې ليکلي دي: خراسان ته د عباسيانو لومړنۍ بلنه په ١٠٠س= ٧١٨ز کې رارسېدلې وه. محمد بن‌علي بن‌عبدالله بن‌عباس، عراق ته ميسره او خراسان ته محمد بن‌خنيس، ابا عکرمه سراج (ابومحمد الصادق) او حيان عطار راولېږل. دې بلونکو د منونکو خلکو ليکونه واخيستل او محمد بن‌علي ته يې ولېږل. ابومحمد صادق چې د محمد بن‌علي دولس کسه مشران ټاکل، په هغو کې خراسانيان هم وو، لکه: شبل بن‌تهمان هروي او نور.[4]

---

[1] - آداب‌السلطانيه ١٢٨.

[2] - ابن اثير ٥/ ١٢٩.

[3] - گولډزيهر در عقيدهٔ اسلامی ١٩٣.

[4] - طبري ٥/٣١٦.

په ۱۰۲س= ۷۲۰ز کال کې بیا میسره د شیعه بلونکو یوه ډله له عراقه خراسان ته رالیږلې وه. اموي واکمن سعید خذینه چې د هغوی له راتگه خبر شو، بلونکو ځانونه سوداگر وروښودل، د خراسانیانو یوې ډلې یې هم د خبرې پخلی وکړ، نو وژغورل شول.[۱]

په ۱۰۵س= ۷۲۳ز کال کې بکیر بن‌ماهان چې په سند کې د عرب امیر ژباړن و له میسره، اباعکرمه او د هاشمي کورنۍ شیعه‌گانو له نورو بلونکو سره ولیدل او د بلنې له منلو وروسته په عراق کې د میسره پر ځای وگومارل شو.[۲] هغهٔ په ۱۰۷س= ۷۲۵ز کال کې عمار عبادي له یوې شیعه ډلې سره خراسان ته راولیږهٔ. اموي حاکم اسد بن‌عبدالله، عمار عبادي ونیو او پښې او لاس یې ورپرې کړل، خو نور وتښتېدل. محمد بن‌علي ته چې دا خبر ورسېد، ویې ویل: د الله شکر چې زموږ دعا یې قبوله کړه او زموږ ډله یې وژغورله.[۳]

په ۱۱۸س= ۷۳۶ز کال کې بکیر بن‌ماهان د خراسان پر شیعه‌گانو عمار بن‌یزید والي وټاکهٔ. مروې ته چې راغی خپل نوم یې په خِداش بدل او بلنه یې پیل کړه. ډېرو خلکو دا بلنه ومنله. په پای کې اموي امیر اسد بن‌عبدالله پرې لاسبری شو. گونگ او ړوند یې کړ، په آمل کې یې په دار وځړاوهٔ او ویې ویل: د الله شکر دی چې د ابوبکر او عمر غچ مې له تا واخیست.[٤]

په ۱۲۰س= ۷۳۷ز کال کې بیا وینو، چې د خراسان شیعه‌گانو له خپل لوري سلېمان بن‌کثیر نومی یو څوک د لارښوونو اخیستو لپاره محمد بن‌علي ته ورلیږلی دی. محمد بن‌علي هم خپله امسا بکیر بن‌ماهان ته د نخښې په توگه ورکړه او خراسان ته یې راولیږهٔ چې دلته د عباسیانو مشرانو او ډلې ته لارښوونه وکړي.[٥]

په شیعه‌توب کې د خراسانیانو شعار «الرضا من آل محمد» و،[٦] خو څرنگه چې د اهل‌بیتو پاتې شوني ډېر لږ او کمزوري وو او عباسیانو تر ۱۰۰س= ۷۱۸ز کال

---

[۱] - پورتنی اثر، ۵/ ۳۵۸.

[۲] - پورتنی اثر، ۵/ ۷۳٦.

[۳] - پورتنی اثر، ۵/ ۳۸۹.

[٤] - پورتنی اثر، ۵/ ۴۴۰.

[٥] - پورتنی اثر، ۵/ ۴٦۷.

[٦] - الکامل ۵/ ۱۸۱.

وروسته ډېر ځواک او پلیوني درلودل؛ نو لکه چې پورته مو وویل خراسانیان د هغوی ملګري وو. د محمد بن‌حنفیه شیعه‌ګانو کیسانیه ډلې هم خپل مرکز خراسان ته رالېږدولی و او د ابوهاشم بن‌محمد حنیفه تر مړینې وروسته یې خلافت د محمد بن‌علي عباسي حق ګاڼهٔ. له همدې امله ابراهیم امام بن‌محمد کیسانیه بلونکي خراسان ته راولېږل، چې دلته یې د عباسیانو د خلافت پیلامه راجوړه کړه، خو له خلکو یې د «نبوي کورنۍ» په نامهٔ بیعت اخیست، چې مراد ترې د پېغامبرﷺ اولاده ده.[1]

د علویانو په ملاتړ کې بلخي برمکیانو هم لاس درلود، ځکه نیکهٔ یې خالد برمکي د نورو خراسانیانو په څېر له علویانو سره بیعت کړی او د هغو له ډلې څخه و. بیا چې کله عباسیان پیاوړي شول، نو دا یې ښه وګڼله چې ښهٔ ښکاره ورسره وي، خو علویانو ته د برمکیانو لېوالتیا پاتې شوه. هارون‌الرشید چې هم علویانو ته په ښه سترګه نه کتل؛ نو برمکیانو یې دا کړنه ناروا ګڼله[2] او په پټه یې له شیعه‌ګانو سره مرسته کوله. دا شیعه‌ګان به تل پر جعفر برمکي راغونډېدل او د هارون پر کړنو به یې نیوکې کولې.[3]

په خراسان کې د ابومسلم خوځښت مو په تفصیل سره ولیکهٔ - چې له امویانو بني هاشمو او نبوي‌کورنۍ ته د خلافت په لېږد کې سخت، پایلیز او ګټور خوځښت و- خراسانیان هم په هغهٔ خوځښت کې د عباسیانو ملګري وو؛ خو چې د ابومسلم انجام یې هغسې ولیدهٔ او عباسیانو هم د خلافت درنښت لکه چې و، هغسې ونه ساتهٔ، له علویانو سره ونښتل او د امویانو په څېر یې وژنې، غدر او وینې تویونې وکړې؛ نو خراسانیان ځکه د علویانو کلک ملګري او ملاتړي وو او د هغو په خوځښتونو او پټو بلنو کې یې لاس درلود.[4] خراسان تل د علویانو او د هغوی د ډلې پټنځی و.

---

[1] - تاریخ‌التمدن الإسلامی ۴/ ۱۰۹.

[2] - الأغاني ۲/ ۷٦.

[3] - تاریخ‌التمدن الإسلامی ۴/ ۱۴۰.

[4] - پورتنی اثر، ۴/ ۱۴۲.

يو علوي چې د خراسان د ختيځو سيمو سند ته ولېږدېد، عبدالله اشتر بن‌محمد نفس زکيه بن‌عبدالله بن‌حسن بن‌حسن بن‌علي رضي الله عنه و چې پلار يې محمد نفس زکيه د منصور پر وړاندې راپورته شوی و. څرنګه چې په دې وخت کې د سند والي عمر بن‌حفص عتکي په شيعه‌توب ګروهمن شو، نو په ۱۴۷س= ۷۶۴ز کال کې عبدالله ورته ورغی او يوه راجه - چې د رسول‌الله او د هغهٔ د اولادې پلوي و- يې دروند هرکلی وکړ. په پای کې په هغهٔ جنګ کې ووژل شو، چې د مهران (سند) پر غاړه يې د عباسيانو د حاکم هشام بن‌عمرو تغلبي له ځواکونو سره وکړ. مړی يې ورته مهران ته ګوزار کړ او زوی يې له ورته خپلوانو سره بغداد ته ولېږهٔ ۱۵۱س= ۷۶۸ز.[1]

د ۲۰۰س= ۸۱۵ ز په شاوخوا کې د خراساني خلکو اروايي او ګروهيز تړاو له نبوي‌کورنۍ سره دې درجې ته رسېدلی و چې د ۲۰۱س= ۸۱۶ ز په روژه کې مامون خليفه اړ شو، د دې خلکو د خوښۍ لپاره يې حضرت امام علي‌رضا په مروه کې د «الرضا من آل محمد» په نامهٔ خپل ځايناستی کړ.[2] خراسانيان په دې امام دومره رامات شول چې د مامون د وېرې او ترهې لامل وګرځېد، محمد بن‌نعمان وايي هغهٔ ته يې د انارو په اوبو کې زهر ورکړل، چې له نړۍ يې کډه وکړه.[3]

**اسماعېلي شيعه‌ګان**

د اثناعشريه اماميه شيعه‌ګانو په لړ کې مو وويل چې هغوی حضرت موسی کاظم (۱۲۸- ۱۸۳س) بن‌امام‌جعفر صادق اووم امام ګڼي؛ خو يوه ډله يې ورور اسماعېل (۱۴۳س= ۷۶۰ز مړ) اووم امام ګڼي، نو ځکه ورته اسماعېلي وايي. د دې مذهب پليوني په هند، شمالي افغانستان، ماوراءالنهر، شام او مصر کې زيات دي. هغوی ګروهمن دي، چې اسماعېل د څرګندو امامانو تر ټولو وروستی دی او زوی يې محمد مکتوم لومړنی غايب‌امام دی (۱۳۸س= ۷۵۵ز). ورپسې نور ټول غايب دي (موږ په تېره شجره کې غايب‌امامان ښودلي دي.)

---

[1] - نزهةالخواطر ۱/ ۳۳ په الکامل کې د ابن اثير په حواله.

[2] - طبري ۱۰/ ۲۴۳.

[3] - تاريخ الإسلام السياسي ۲/ ۱۶۳ د کتاب الارشاد، خطي په حواله، ۲۳۱پاڼه، د ليدن خطي نسخه.

هوارت HUART په اسلامي دايرةالمعارف کې وايي، اسماعېل په ۱۴۳س= ۷۶۰ز کال کې په مدينه کې مړ دی. په داسې حال کې چې اسماعېليان گروهمن دي هغه د پلار تر مړينې پنځه کاله وروسته د بصرې په بازار کې ليدل شوی و؛ خو زامنو يې د هغو سياسي فشارونو له امله مدينه پرېښوده چې علويان ورسره مخامخ وو. مشر زوی يې محمد په ۱۳۸س= ۷۵۵ز کې د ری په دماوند کې غايب شو او زامن يې خراسان ته راغلل. د کندهار له لارې سند و هند ته لاړل او تر اوسه هلته پاتې دي.[۱]

ملتان، د خراسان ختيځې سيمې او د سند ناوه د اسماعېليانو پټنځی شو. په لومړۍ اسلامي پېړۍ کې له دې خلکو څخه د بنوسامه قريشو يوه عربي کورنۍ سند ته راغله، چې فضل بن‌ماهان او کورنۍ يې- چې د بنوسامه له مريانو څخه وو- د مامون له پېره (۱۹۸س= ۸۱۳ ز وروسته) په سند سيمه کې له۲۷۲س= ۸۴۱ ز تر شاوخوا پورې واکمني درلوده.[۲]

ابن‌رسته (۲۹۰س= ۹۰۲ز شاوخوا) وايي سامه بن‌لوئي کورنۍ د بنومنبه په نامهٔ په ملتان کې واکمني کوله[۳]، چې بشاري مقدسي يې د شيعه‌توب کيسه کوي او وايي چې په بانگ کې يې «حی‌علی‌خيرالعمل» او په اقامت کې يې دوه ځله تکبير وايهٔ. خطبه يې د مصري فاطميانو په نامهٔ لوستله او د هغو دربار ته يې ډالۍ استولې.[٤] له دې رواياتو څرگندېږي چې اسماعېليان په ملتان او سند سيمه کې ډېر او ان حاکمان هم وو.

اسماعېليانو په راوروسته پېړۍ کې په خراسان کې اورژبي او پوه بلونکي درلودل، چې يو يې احمد بن‌يعقوب سگزی د سيستان په بخارا کې ووژل شو ۳۳۱س= ۹۴۲ز. هغه پر قرآني تأويلاتو کتابونه لري، چې يو يې کشف‌المحجوب په دري ژبه دی. اساس‌الدعوة، تأويل‌الشرايع، وسوس‌البقاء، کتاب‌الاتحاد او اثبات‌النبوة هم د هغهٔ کتابونه دي. بل محمد بن‌احمد نسفي دی چې هغه هم پر ۳۳۱س کال په ماوراءالنهر کې وژل

---

[۱] - الأعلام ۱/ ۳۰۷ د نوبختي فرق‌الشيعه ٦٧، دايرةالمعارف اسلامي ۲/ ۱۸۸، ملوک‌العرب ۱/ ۲۱۵، خلاصة تذهيب الکمال ۲۸ او نورو په حواله.

[۲] - تعلقات هند و عرب ۳۰٦.

[۳] - الاعلاق‌النفيسة ۱۳۵.

[٤] - احسن‌التقاسيم ۴۸۱ او ۴۸۵.

شوی او د کتاب المحصول، کون‌العالم او کتاب‌المصابیح لیکوال دی.[1]

داسې برېښي چې: اسماعېلي مذهب په څلورمه پېړۍ کې په ماوراءالنهر او د افغانستان په شمال کې خپور و. ان وايي چې د دري مشهور شاعر رودکي (۳۲۹س= ۹۴۰ز مړ) هم اسماعېلي و، د معروفي بلخي د دې بیت په دلیل:

از رودکـــــی شـــــنیدم ســــلطان شـــــاعران
کانـــدر جهـــان بکـــس مگـــرو جـــز بفـــاطمی

همدا رنګه د اسلامي پوهانو تر ټولو پوه بوعلي حسین بن‌سینا بلخي (۳۷۰-۴۲۸ز) هم په اسماعېلي کورنۍ کې زوکړی و،[2] چې دا رباعي په همدې اړه د هغهٔ ګڼل شوې ده:

تـا بـادهٔ عشـق در قـدح ریختـه انـد   وندر پی عشق عاشـق انگیختـه انـد
بـا جـان و روان بـوعلی مهـر علـی   چون شیر و شکر بهم آمیختـه انـد[3]

**شافعیان**

د دې مذهب بنسټګر محمد بن‌ادریس شافعي د شافع هاشمي مطلبي قریشي له اولادې څخه او په ۱۵۰س= ۷۶۷ز کال کې د شام په غزه کې زوکړی دی. په دوه کلنۍ کې مکې ته یووړل شو، د کوچنیتوب څه کلونه یې د عربو د هذیل بادیهٔ قبیلو په منځ کې - چې تر ټولو فصیح عرب وو- تېر کړل. بیا یې د مکې له مفتي مسلم بن‌خالد زنجي څخه زده‌کړې وکړې او په ۱۵ کلنۍ کې یې ترې د فتوا جازه واخیسته.

په ۱۷۰س= ۷۸۶ز کې مدینې ته لاړ او هلته یې له امام‌مالک بن‌انس څخه احادیث زده کړل. موطا یې په نهو شپو کې یاد کړ. له سفیان بن‌عیینه، فضل بن‌عیاض او نور امامانو څخه یې هم احادیث زده کړل. تر دې چې هغه د الله پر کتاب او سنتو تر ټولو ځوان پوه وپېژندل شو. امام‌مالک چې په ۱۷۹س= ۷۹۵ز کال کې ومړ، شافعي یمن ته لاړ او هلته د زیدیانو له امام یحیی بن‌عبدالله سره مخامخ شو. په ۱۸۴س= ۸۰۰ ز کې پرې د شیعه‌توب تور پورې شو؛ خو هغه له یمنه رقې ته د هارون‌الرشید حضور ته ورغی او د فضل بن‌ربیع وزیر په مرسته یې له دې توره ځان خلاص کړ.

---

[1] - بروکلمان ۳/ ۳۵۳.

[2] - پورسینا ۲، د سعیدنفیسي، د تهران چاپ، ۱۳۳۳ل.

[3] - تاریخ ادبیات صفا ۳۰۸/۱.

شافعي په عراق کې د وخت له پوهانو سره واوسېد، د امام ابوحنيفه له استاد محمد بن‌حسن شيباني سره کښېناست، د عراق فقهي طريقه يې د حجازيانو له هغې سره واخښله. د زياتې ګټنې او حج لپاره مکې او مصر ته لاړ. هلته يې درونډ هرکلی وشو او د خپل مذهب بنسټ يې کښېښود. په ۱۹۵س=۸۱۰ ز کې عراق ته راستون شو، په بغداد کې يې د تدريس کړۍ پراخه او شاګردان يې ډېر شول. وګړي د اهل رأى له طريقې راوګرځېدل. هغهٔ خپل پخوانی مذهب ترتيب کړ، الحجة کتاب يې وکېښ چې څلورو کسو عراقي ملګرو يې احمد بن‌حنبل، ابوثور، زعفراني او کرابيسي له هغهٔ څخه روايت کړ.

په عراق کې دوه کاله واوسېد، د ۱۹۸س= ۸۱۳ ز کال د شوال پر ۲۸مه مصر ته لاړ او مذهب يې هلته دود شو. نوې ويناوې يې چې هغو ته نوې ويناوې يا مذهب وايي، په "کتاب‌الأُم UMM" کې راټولې شوې دي. پر پخواني مذهب يې د بيا کتنې لامل دا و چې: په مصر کې يې د هغهٔ ځای له پوهانوڅخه فقه او حديثونه واورېدل، ټولنيزه اوضاع او د خلکو خويونه له هغهٔ څخه بل ډول وليدل چې په حجاز او عراق کې يې ليدلي وو، له دې امله يې په ځينو مسايلو کې د اجتهاد مخه بدله شوه. د مصر په فسطاط کې د ۲۰۴س= ۸۲۰ ز کال په رجب کې د جمعې په ورځ له نړۍ وکوچېد او په سفح مقطم کې ښخ شو.

شافعي ملنګ‌مزاجه، پاک‌لمنی، خوږژبی، پياوړی‌منطقي، نېک‌رأيه، نېک‌خويه، زړور او هوښيار سړی و. په عربي يې ښهٔ شعرونه ويل. هغه د ځانګړي فقهي مذهب او فقهي اصولو د علم بنسټګر دی. مذهب يې د اهل‌حديثو يعنې امام‌مالک او اهل‌رأى يعنې امام ابوحنيفه د مذهب منځنۍ لاره ده.[1] لکه چې په الأُم کتاب کې وايي: قرآن او سنت د هغهٔ اصل کار دی او بيا ورپسې پر هغو دواړو قياس دی. په هغه حديث عمل کوي چې روايت يې وصل او اسناد يې سم وي. خو اجماع هم له يوګړي حديث څخه غوره ده، له حديث څخه هم څرګنده معنی مراد وي. که د يوهٔ څه په اړه څو احاديث تر لاسه شي، هغه چې اسناد يې تر ټولو سم وي، لومړيتوب به ورکول کيږي؛ خو منقطع احاديث اهميت نه لري.

[1] - بروکلمان ۳/ ۲۹۳.

د قياس په اړه د شافعي نظر دا دی چې اصل په اصل نه قیاسیږي او اصل ته ولې او څرنګه نۀشي ویل کېدای؛ خو هغه فرعه چې قیاس یې پر اصل سمون ومومي او علت یې منضبط وي، سمه ګڼل کیږي او د سمون اقامت پرې کیږي.[1]

امام شافعي صحیح سنت د قرآن په څېر بې له شرط واجب‌الاتباع ګڼي او غوراوی (استحسان) او رأیه چې مالکیان او حنفیان ورته قایل دي، نه مني. په دې اړه یې إبطال‌الإستحسان کتاب لیکلی دی. پر دې سربېره امام شافعي د اهل مدینه و په عمل دلیل راوړل او په واحد صحیح خبر عمل هم رد کړی دی. د دې کړنې له امله بغدادیانو هغه ناصرالسنه نوملی دی.[2]

پر کتاب‌الأُم (قاهرې چاپ ۱۳۲۱س) سربېره د امام شافعي آثارالحجة، کتاب السنن‌المأثوره (د قاهرې چاپ ۱۳۱۵س)، المسند (د هند د رامپور چاپ ۱۳۰٦س)، اختلاف‌الحدیث (د قاهرې چاپ۱۳۲٦س) او نور دي، چې شمېر یې ۱۴ ته رسیږي. خطي نسخې یې د اروپا، مصر او هند په کتابتونو کې شته دي.[3]

که څه هم یو شمېر مهم شافعیان او د دې مذهب عالمان خراساني وو؛ خو په لومړیو دوو اسلامي پېړیو کې د شافعي مذهب اغېز پر خراسان لږ شوی و. په ربښتینې توګه دا مذهب په خراسان او ماوراءالنهر کې د محمد بن‌اسماعیل قفال شاشي (۲۹۱- ۳٦۵س) په وسیله خپور شو، چې خراسان یې مرکز ګرځېدلی و.[4] ان ځینې غزنوي او غوري پاچاهان هم شافعیان وو.

له خراساني پوهانو څنې چې تاج الدین سبکي شافعي مذهبه ګڼلي دي، د څو مشهورو کسانو نومونه- چې زموږ تر بحث لاندې پېر پورې اړه لري- دا دي:

امام محمد بن‌اسماعیل بخاري۱۹۴-۲۵٦س د صحیح بخاري څښتن محدث او فقیه- قاسم بن‌سلام هرات زوکړی چې په ۲۲۴س مکه کې مړ دی- حافظ احمد بن‌سیار مروزي

---

[1] - تاریخ تشریع اسلامی ۲۷۳ د امام شافعي د کتاب الأُم په حواله.

[2] - تاریخ تشریع ۲۷۴.

[3] - بروکلمان ۳/ ۲۹۸.

[4] - پورتنی اثر، ۳/ ۲۹۴.

۲۶۸س مړ زاهد او د تاریخ مرو مؤلف- احمد بن‌نصر نیشاپوری ۲۴۵س مړ زاهد، قاري او مفتي- په عراق کې د شافعیانو شېخ محمد بن‌احمد ترمذي ۲۹۵س امام، زاهد او محدث- محمد بن‌ابراهیم پوشنگی۲۰۴- ۲۹۱س چې بخاري هم له هغه روایت کوي او په نیشاپور کې د حدیثو شېخ و- د خراسان زاهد، صوفي او محدث محمد بن‌علي حکیم ترمذي ۲۸۵س شاوخوا- محمد بن‌نصر مروزي نومیالی امام او محدث۲۰۲- ۲۹۴س- امام ابوداؤد سلېمان بن‌اشعث سگستانی ۲۰۲- ۲۷۵س د سنن څښتن- په دارمي مشهور د هرات عثمان بن‌سعید سگستانی محدث او فقیه۲۰۸س مړ او عسکر بن‌حصین نخشبي۲۴۵س مړ د علم و دین جامع شېخ.[۱]

## خوارج

د حضرت رسول‌اللهﷺ تر رحلت وروسته د مسلمانانو تر منځ لومړنۍ خپلمنځې شخړه د درېیم خلیفه حضرت عثمان بن‌عفان په پېر کې رامنځ ته شوه، چې په پایله کې یې د دوو لویو قبیلو بني هاشمو او امویانو تر منځ سخت بېلتون راغی. له مصر، کوفې او بصرې څخه ځینې مسلمانان مدینې ته راغلل او ترې ویې غوښتل چې ځان د خلافت له مقامه گوښه کړي. حضرت عثمان چې دا خبره ونه منله، نوموړي کسان یې پر کور ورواوښتل او په داسې حال کې یې شهید کړ چې قرآن یې تلاوت کاوهٔ (۳۵س= ٦۵۵ز کال).

دې پېښې د اسلامي تاریخ لوری بدل کړ، ځکه مصریانو حضرت‌علي، بصریانو طلحه بن‌عبیدالله او کوفیانو زبیر بن‌عوام چې د اصحابو سرخېل کسان وو د خلافت لپاره غوښتل. د مدینې وگړي هم د نبوي کورنۍ او حضرت‌علي د خلافت غوښتونکي وو. ځکه یې له هغهٔ سره د خلافت بیعت وکړ، په دې ډله کې طلحه او زبیر هم په ناخوښۍ بیعت کړی و؛ خو له مدینې څخه مکې او له هغه ځایه عراق ته لاړل او د حضرت‌علي پر ضد یې صف جوړ کړ.

---

[۱] - طبقات الشافعیة، لومړی او دوهم ټوکونه، د مصر چاپ، ۱۳۲۴س.

حضرت‌علي چې له خپل لښکر او ملګرو سره مقابلې ته راووت، د جمل په پېښه[1] کې دواړه ډلې سره مخامخ شوې (۳۶س کال=۶۵۶ز). په دې جنګ له دواړو خواوو څخه د طلحه او زبیر په ګډون لس زره کسان ووژل شول. خلافت چې د علي رضي الله عنه شو، هغهٔ مرکز له مدینې څخه کوفې ته ولېږداوهٔ.

په عثماني پېر کې له لویو اصحابو او د امت له ځیرکو کسانو څخه یو حضرت معاویه بن‌ابي سفیان په شام کې والي و. حضرت‌علي هغه ګوښه کړ، معاویه چې پیاوړی او مخور سړی و او د قریشو ډېر کسان یې ملګري وو؛ نو ورسره مخالف شو او له خلکو څخه یې بیعت واخیست. په پایله کې د علي د ملګرو او معاویه د لښکریانو تر منځ په ۳۷س= ۶۵۷ز کال کې د صفین[2] جنګ وشو چې یوسل و لس ورځې روان و. له دواړو خواوو اویا زره کسان ووژل شول، داسې برېښېده چې د حضرت‌علي لښکریان بریالي دي.

په دې وخت کې د عمرو بن‌عاص په تدبیر، چې د معاویه په لښکریانو کې و، یوه پېښه رامنځ ته شوه، چې په اسلامي تاریخ کې یې منځګړتوب «تحکیم» بولي. همدا پېښه د حضرت‌علي د ملګرو او امویانو په خلافت کې د ډلو پیدا کېدو لامل شوه.

عمرو بن‌عاص هوښیار سړی و، د معاویه لښکریانو ته یې امر وکړ چې قرآن‌کریمونه د سولې غوښتنې په دود د خپلو نېزو په سرونو کې وتړومبي. کله چې د علي ملګرو هغه ولیدل له جنګه یې لاس واخیست او اوربند وشو. دواړو خواوو منځګړتوب ومانهٔ. د حضرت‌علي او ملګرو له خوا ابوموسی اشعري او د معاویه له خوا عمرو بن‌عاص وټاکل شو، چې د دواړو لورو منځګړتوب وکړي او پایله یې پر ټاکلې ورځ واوروي. دواړه لوري د ۳۷س په صفره= ۶۵۷ ز کې په دومة الجندل (د مدینې پر لاره د دمشق په اووه پړاوۍ) کې راټول شول. عمرو بن‌عاص ابوموسی اشعري ته وړاندیز وکړ چې علي او معاویه دواړه ګوښه شي او بیا ټول مسلمانان بې له هغو بل خلیفه غوره کړي؛ دا چې تاسو تر ما په عمر او مقام کې زیات یاست؛ نو باید

---

[1] - دې پېښې ته ځکه جَمَل وایي چې حضرت‌عایشه پر چټک اوښ سپره وه او وګړي یې د حضرت‌علي پر ضد جنګ ته هڅول. چې په اوښ یې پسې شول، نو حضرت عایشه د حضرت‌علي لاس ته ورغله او په ډېر درنښت وساتل شوه (المنجد في الأدب والعلوم ۱۴۱).

[2] - صِفِّین: د فرات پر لوېدیځه څنډه رقې ته نږدې د یوهٔ ځای نوم دی (معجم‌البلدان ۳/ ۴۱۴).

د منځګړتوب پرېکړه تاسو خلکو ته اعلان کړئ.

ابوموسی اشعري درویش مزاجه، رښتینی او یو ژبی سړی و؛ نو په دې خبره وغولېدئ، د پرېکړې په ورځ (د ۳۷س روژه) د علي او معاویه د لښکریانو په منځ کې ودرېدئ او ویې ویل:« ما او عمرو بن‌عاص د امت د اصلاح لپاره په ګډه وپتېیله چې علي او معاویه دواړه ګوښه کړو، وګړي چې هر څوک غواړي خپل خلیفه یې کړي. نو ما علي ګوښه کړ، تاسو چې هر څوک وړ ګڼئ پر خلافت یې وګومارئ!»

د ابوموسی پر دې اعلان حضرت‌علي ګوښه شو؛ خو عمرو بن‌عاص وویل:« تاسو واورېدل چې ابوموسی علي ګوښه کړ او ما هم هغه ګوښه کړ؛ خو زه خپل مشر معاویه پر خلافت ټینګوم، ځکه هغه د عثمان ځایناستی او د مقام او کسات اخیستنې لپاره په خلکو کې تر ټولو حقدار دی.»[1]

په دې پېښې سره د صفین د ډګر جنګیالي په درېو ډلو ووېشل شول:

۱- د شام خلکو له معاویه سره بیعت وکړ.

۲- کوفیان او یو شمېر نور شیعه‌ګان د حضرت‌علي پر بیعت پاتې شول.

۳- بل ټولي د منځګړتوب منلو له امله له حضرت‌علي سر وغړاوه،« لا حکم إلا لله»[2] شعار یې پورته کړ او له کوفې حروراء کلي ته راووتل. هغوی ته له د حضرت‌علي پر وړاندې د راپاڅېدنې او سرغړونې او د« لا حکم إلا لله» پر شعار د ټینګ پاتې کېدو له امله خوارج یا حروریه یا محکِمه وایي. کله هم شراة بلل کېږي چې دا نوم یې د«و من الناس من یشری نفسه ابتغاء مرضاة الله» آیت څخه اخیستی دی.[3]

خوارجو عبدالله بن‌وهب راسبي خپل امیر کړ او په نهروان[4] کې ۳۸س= ٦٥٨ز د حضرت‌علي رضي الله عنه پر ضد وجنګېدل، چې ۱۸۰۰ کسان ووژل شول. بیا له همدې

---

[1] - تاریخ‌التمدن الإسلامی ۱/ تر ۵۹ وروسته، الأعلام ۵/ ۱۰۷.

[2] - ګولډزیهر در عقیدهٔ اسلامی ۱۷۰ او تاریخ تشریع اسلامی د درې استادانو ۱۴۲.

[3] - خضري در تاریخ تشریع اسلامی ۱٦۲.

[4] - نهروان: د بغداد او راسط تر منځ پراخه سیمه، چې درې بغراوې او څو ښارونه لري (معجم‌البلدان).

خوارجو څخه یوۀ عبدالرحمن بن‌ملجم مرادي د ۴۰س د روژې پر ۱۷مه= ٦٦٠ ز د کوفې په جومات کې حضرت‌علي شهید کړ.

خوارج په اسلامي سیمو کې خپاره شول؛ خو له اموي دولت سره هم مخالف وو. د پارس او کرمان له لارې خراسان، سیستان او د خراسان نورو ختیځو او سوېلي سیمو ته هم راورسېدل، چې په لومړیو اسلامي پېړیو کې د افغانستان په تاریخ کې ونډه لري.

**د خوارجو نظریات**

خوارجو په گروهو، کړنو او اخلاقو کې ځانگړې چلنونه درلودل، چې په ډېرو تعبدي مسایلو او شرعي احکامو کې یې له نورو څلورگونو اسلامي مذهبونو او شیعه‌گانو سره مخالفت کاوۀ؛ ځکه نو د نوموړو مذهبونو کسانو هغوی خوامس گڼلي دي.[1]

د خوارجو په نظریاتو کې تر ټولو مهم ټکي دا دي:

۱- د لویې گناه پر مرتکب او هغه کس د کفر حکم کول، چې له قرآني لارښوونې تېری وکړي.[2] نو خوارج د منځگړتوب په پېښه کې له هغو ټولو کسانو سره مخالف شول چې لاس یې په کې درلود او د شېخینو تر خلافت وروسته هغه څوک سم او رښتینی گڼي چې پر لا حکم إلا لله گروهمن وي. په داسې حال کې چې د قرآن احکام موجود دي، د نبي د ځایناستی موضوع باید د بشر منځگړتوب ته پرېښنبودل شي.[3]

۲- باطلې لارې ته د لېوال امام پر وړاندې پاڅون واجب دی[4] او د ځان‌ژغورنې لپاره چوپ کېدل ناروا دي. نو خوارج د امویانو او عباسیانو پر وړاندې وجنگېدل او هیڅ واکمني یې شرعي ونه گڼله.

۳- مسلمانان د بشپړ خپلواک امام او خلیفه په واک کې دي، نو خلافت په قریشي، عربي یا کوم بل ځانگړي نژاد او ډلې پورې اړه نه لري. حسب او نسب په کې شرط نه وي. ښایي حبشي مریی د وړتیا په شرط خلیفه کړی شي. خلیفه باید له الله څخه ووېرېږي، د هغۀ تعالی بشپړ اطاعت وکړي او د دین پر احکامو ټینگ ولاړ

[1] - عقیده ۱۷۳.

[2] تاریخ تشریع ۱۴۲.

[3] -عقیده ۱۷۰.

[4] -الفرق بین الفرق ۵۵.

وي. که له دې لارې واوړي، ګوښه کېدل یې واجب دي. په هغه صورت کې چې ګوښه کېدل ونه مني؛ نو وژل یې واجب دي.[۱]

۴- خوارج کړنې لکه لمونځ، روژه او نورې د ایمان برخه ګڼي او ګروهمن دي، چې یواځې د ژبې په اقرار او د زړهٔ په تصدیق ایمان نه بشپړېږي، بلکې ورسره د کړنو ترسره کول لازم دي.[۲]

د خوارجو ډېرې مشهورې ډلې ازارقه، صفریه، نجدات او اباضیه دي. هغوی په عباداتو کې متشدد او خپلې ګروهې ته سخت ژمن وو. فقهي احکام یې له اخلاقو سره تړل او خوی خصلت یې په تعبدي مسایلو کې شامل ګاڼهٔ. د ساري په توګه درواغ، چغلي، ښکنځل او غیبت یې د اوداسه ماتوونکي بلل. خُلقي سپېڅلتیا یې هم له هغو فرضو څخه ګڼله چې بې له هغو لمونځ روا نه وي.[۳]

خوارجو په ټولنیزو مسایلو کې د ډیموکراسۍ لېوالتیاوې درلودې. د واکمنو پر ظلمونو یې نیوکې او پاڅونونه کول او توره یې له تېکي راکښله. د هغوی فقیهانو عقلانیت ته لېوالتیا درلوده، استدلاليRATIONALIST او په دیني مسایلو کې یې خپلواک او آزاد افکار درلودل.[٤] خو فلسفي مذهب او پراخه منظمه فقه نه لري. په کلامي مسایلو کې تر یوې کچې له معتزله‌وو څخه اغېزمن دي، لکه د قرآن مخلوق ګڼل، په جنت کې نه لیدنه او د الله له خوا د لویو ګناهونو نه بخښل. په فقه کې هم په فروعو کې له اهل‌سنتو سره مخالف دي، لکه بې له خپلو منځو وادهٔ روا نه بولي.[٥] د هغو ګروهو له امله چې د امیر په غوره کېدو کې یې درلودې، اوسمهالو مؤرخانو جمهوریت پال ګڼلي دي، ځکه د هغوی پرعکس شیعیان د امیر په غوره کېدلو ګروهمن نه وو او دا چاره یې منصوصه ګڼله.[٦]

---

[۱] - تاریخ تشریع ۱۴۳ او عقیده ۱۷۱.

[۲] - پورتنی کتاب.

[۳] - عقیده ۱۷۱ د کلین د تألیف دین اسلام په حواله ۱۳۲، د لندن چاپ ۱۹۰۴ز.

[٤] - عقیده ۱۷۱.

[٥] - ضحی‌الإسلام ۳/ ۳۳٦.

[٦] - تاریخ الإسلام السیاسي ۱/ ۳۲۷.

## خوارج په خراسان کې

نو خوارجو له داسې افکارو او پېژندګلوۍ سره په اسلامي هېوادونو کې کلونه کلونه د امویانو او عباسیانو پر ضد جنګونه کول. زړور، ربښتیني او په خپله تګلاره سربښندونکي وو. په خراسان او د افغانستان په غرنیو سیمو کې یې منظم تشکیلات درلودل.

د ساري په توګه په ۱۶۰س= ۷۷۶ز کال کې په خراسان کې له همدې خلکو څخه یوسف‌البرم له ډېرو کسانو سره پر عباسي خلیفه المهدي نیوکه وکړه او د هغهٔ پر ضد یې پاڅون وکړ. لوی اړ و دوړ یې رامنځ ته کړ، چې موږ یې د پاڅون او وژنې تفصیلي شرحه په دریېم څپرکي او اتمه برخه کې په تفصیل سره ورکړې ده.

د سیستان خوارجو په عربي علومو کې مشهور او برلاسي عالمان هم درلودل، له هغو څخه د دې څپرکي د ادبي علومو په برخه کې د ابوحاتم سهل بن‌محمد بن‌عثمان سګستاني (۲۴۸مړ) یادونه تېره شوه، چې د عباسي پېر له ډېرو لویو ادیبانو او مؤلفانو او د لوی نحوي ابوعبیده مَعمَر (۲۱۰ شا وخوا مړ) له شاګردانو څخه دی، وایي: ابوعبیده هم خارجي و، زه (ابوحاتم) چې هم د سیستان خارجي وم، نو تل ورته ګران وم.[1]

سیستان د خوارجو پیاوړی او مهم مرکز و، چې تفصیلي یادونه یې د دې کتاب په دریېم څپرکي او لسمه برخه کې د خوارجو د مشهورو کسانو او د حمزه سیستاني په خوځښت کې د هغهٔ له افکارو او هیلو سره وشوه. په همدې بحث کې مو وویل چې د خراساني عجارده خارجیانو یوه ځانګړې ډله د حمزیه په نامهٔ یادېږي، چې دې زړور خراساني لاربښود ته منسوبه ده او دینپوهانو او مذهبپوهانو یې یادونه کړې ده.[2]

شهرستانی وایي: حمزیه له میمونیه سره په قدر کې- چې د بنده خیر و شر دی- موافق دي. حمزه د حضین بن‌رقاد له ملګرو څخه و. حمزه هممهاله دوه امامان روا بولي، چې مادام مجتمع‌الکلمه نه وي او د دښمنانو په اېلولو پسې راپورته نهٔشي.

د همدې خوارجو بله ډله د خلف‌خارجي ملګري خلفیه دي، چې له سیستانه په

---

۱ - ابن‌خلکان ۱/۱۰۷.

۲ - ملل و نحل، د شهرستاني، پارسي ژباړه ۹۵.

کرمان او مکران کې خپارهٔ شول. هغوی د خیر و شر د قدر نسبت د اهل‌سنتو غوندې خدای ته کاوهٔ او له حمزیه‌یانو سره په دې فکر کې مخالف دي.

د خوارجو بله ډله د غالب بن‌سادل (شاذان) سیستاني ملګري دي، چې د قدر په مسأله کې له حمزیه‌یانو سره موافق دي؛ خو شاوخوا ملګري د هغهٔ څه په پرېښودو کې معذور ګڼي چې په شریعت کې پرې نه پوهېږي او وایي په عقل یو څو څیزونه واجب دي. شیبانیه د شیبان بن‌سلمه‌خارجي پلیوني - چې له ابومسلم خراساني سره یې تر ۱۳۰س= ۷۴۷ز د مخه د نصر بن‌سیار په جنګونو کې ملګرتیا کوله- هم د خراساني خوارجو ډله ده. شیبانیه جبر ته قایل دي او وایي چې لوی څښتن تعالی په خپل نفس کې داسې علم پیدا کړی چې پنځېدلي او پنځېدونکي ټول ورته معلوم دي.[1]

په سیستان کې د خوارجو د خوځښت د پیل په اړه لیکل شوي دي چې: یو عرب نومیالی قطري بن‌الفجاءة له عبدالرحمن بن‌سمره سره سیستان ته راغلی و، همدا قطري د منځګړتوب تر پېښې وروسته د خوارجو په لړ کې د صفین د ډګر له ډلې راووت، خپل کسان یې سیستان ته ولېږل، د دې ځای وګړي یې له ځان سره ملهٔ او هم ګروهي کړل.[2]

تر دې وروسته د سیستان خوارج د دې سیمې په تاریخ کې لویې کارنامې لري او د امویانو او عباسیانو په مقابل کې یې سخت او کلک جنګونه کړي دي، د ساري په ډول:

۱- د عربو له لښکر سره چې د حریش بن‌بسطام په مشری له عبیدالله بن‌ابي بکره سره راغلي وو (۷۸س= ۶۹۷ز شاوخوا) د سیستان د خوارجو جنګ، چې عربو خپل پوپنا شوی لښکر جیش‌الفناء ونوماوهٔ.[3]

۲- په ۸۲ س= ۷۰۱ ز کال کې د خوارجو لوی مشر همام بن‌عدي سدوسي د عبدالرحمن بن‌اشعث پرضد وجنګېد او ماتې یې وخوړه.[4]

---

۱ - ملل و نحل، د شهرستاني، پارسي ژباړه تر ۹۵ وروسته.

۲ - تاریخ سیستان ۱۱۰.

۳ - پورتنی اثر، ۱۱۱.

٤ - پورتنی اثر، ۱۱۳.

۳- په ۱۰۷س= ۷۲۵ز کال کې د سیستان د پولیسو امیر بشر حواري د پنځه‌و کسو خوارجو له خوا ووژل شو، جنګ یې وکړ او پر سیستان لاسبري شول.[۱]

۴- په ۱۲٦س= ۷۴۳ز کال کې د بني تمیم او بني بکر تر منځ چې خوارج وو په سیستان کې جنګ وشو او دا اړو دوړ تر ۱۲۸ س= ۷۴۵ز پورې اوږد شو، اویا بوډاګان په کې ووژل شول ځکه یې واقعة‌الشیوخ وبلله.[۲]

۵- په ۱۳۰س= ۷۴۷ز کال کې شیبان خارجي د سیستان له خلکو سره لاس یو کړ او د سیستان له حاکم عبدالله بن‌معاویه سره وجنګېد، چې شیبان په کې ووژل شو؛ خو خلکو عبدالله د فراه خوا ته وتمباوهٔ.[۳]

٦- په ۱۴۱س= ۷۵۸ز کال کې د سیستان له رون و چول کلي څخه د حضین بن‌رقاد خارجي پاڅون، د سیستان د عباسي حاکم سلېمان بن‌عبدالله پرضد یې جنګونه او د سلېمان وژل کېدنه.[٤]

۷- د سیستان حاکم معن بن‌زائده په بُست کې د خپلې ماڼۍ په جوړولو خوارج ګومارلي وو، هغوی سره راټول شول او په ۱۵۲س= ۷٦۹ز کال کې یې خیرې کړ.[۵]

۸- په ۱۵٦س= ۷۷۲ز کال کې د سیستان خوارجو د عباسي خلیفه منصور حاکم، حضین بن‌محمد وواژهٔ چې پر ځای یې عبیدالله بن‌علا راولېږل شو.[٦]

۹- په ۱۷۲س= ۷۸۸ز کال کې حضین خارجي د بُست او سیستان تر منځ د داؤد بشر له لښکرمشر صدقه بن‌عثمان سره مخامخ شو، په دې جنګ کې حضین خارجي له خپلو ډېرو خلکو سره ووژل شو.[۷]

---

۱ - تاریخ سیستان ، ۱۲٦.

۲ - پورتنی اثر، ۱۳۲.

۳ - پورتنی اثر، ۱۳۳.

٤ - پورتنی اثر، ۱۴۰.

۵ - پورتنی اثر، ۱۴۷.

٦ - پورتنی اثر، ۱۴۸.

۷ - پورتنی اثر، ۱۵۴.

دا و په سیستان کې د خوارجو د پېښو لنډیز، چې بیا په ۱۸۱س= ۷۹۷ز کې د حمزه بن‌عبدالله په پاڅون سره غځېږي، موږ یې شرحه د درېیم څپرکي په لسمه برخه کې په ډېر تفصیل سره ورکړې ده. څرګنده ده چې دا سیستاني خوارج په ډېرو نورو سیمو کې هم ځواکمن او استوګن وو. د ساري په ډول د حدودالعالم مؤلف وایي: د ۳۷۲س= ۹۸۲ز شاوخوا د ګردېز په مضبوط کوټ کې خوارج وګړي وو.[1]

د افغانستان د سوېل په سیمو کې- چې له سیستان سره نښتي، پخوا یې طوران او اوس یې بلوچستان بولي- هم د خوارجو د خپرېدو او اغېز نخښې لیدل کېږي. موږ د سیستاني مشر حمزه په شرحه کې ولوستل چې هغهٔ له دې لارې څو څو ځله پر سند بلوسلي وو.

د دې سیمې له مشهورو ښارونو او مدني مرکزونو څخه یو قُصدار یا قُزدار و، چې د خوارجو د حاکمانو پلازمېنه ګڼل کېده. یاقوت د ابي‌علي تنوخي د وینا له مخه وایي: په قُصدار کې د خوارجو خلیفه اوسېدهٔ، دا د هغوی ښار و، چې په ډېر امن و امانت په کې اوسېدل، خیانت، غلا او فساد په کې نه کېدهٔ. هر کس چې به څه شی چېرته ایښودهٔ، د هغهٔ تر بېرته راستنېدو به ورته چا لاس نه وروړ او خوندي به و.[2]

کله به د عربي سواحلو خوارج هم د سمندر له لارې په بېړیو کې سند ته راتلل او د خراسان په ختیځو او سوېلي سیمو کې به یې د خپل مسلک تبلیغ کاوهٔ. د ساري په ډول په ۱۴۲س= ۷۵۹ز کال کې حسان بن‌مجاهد خارجي د رقې له لارې له بېړۍ نه د سند پر څنډه کوز شو او هڅه یې وکړه چې له دې ځایه د عباسیانو پر ضد لښکر بوځي؛ خو د سند والي عمر بن‌حفص د نبوي‌کورنۍ له پلویانو څخه و؛ نو حسان خارجي یې اړایست چې موصل ته ستون شي.[3]

## کرامیان

دا مذهب د ۲۰۰س= ۸۱۵ ز شاوخوا- یعنې د هغهٔ پېر په وروستیو کې چې موږ پرې بحث کوو- په سیستان او د خراسان په زړهٔ کې رامنځ ته شو. بنسټګر یې د سیستان له پرهېزګارانو او عالمانو څخه یو کس محمد بن‌کرام (د شداد په وزن) دی.

---

[1] - حدودالعالم ۴۵.

[2] - معجم‌البلدان ۴/ ۳۴۲.

[3] - تاریخ سند، د ندوي ۱۵۲.

سمعاني وايي پلار يې پولهساتی و، چې په عربي کې کَـرّام دی.[1] خو ځينو هغه د لومړي په زېر او د دويم په تخفيف ليکلی دی، د هغو دوو بيتو په دليل چې د غزنوي پېر د لومړيو شاعر او منشي ابوالفتح بُستي، د محمدکِرْام په ستاينه کې د تاريخ يميني له مؤلف عتبي روايت کړي دي:

إن الـذين بجهلهـم لم يقتـدوا بمحمـد بن کـرام غـير کـرام
الـرأی رأی ابوحنيفـه وحـدة والدين ديـن محمـد بن کـرام[2]

محمد د سيستان په زرنج کې وزېږېد، هلته وروزل شو، بيا خراسان ته لاړ او د يوۀ عابد احمد بن حرب (۲۳۴س= ۸۴۸ ز مړ) پر گروهې وگروهېد. په بلخ کې يې له ابراهيم بن يوسف ماکياني (۲۵۷س= ۸۷۰ ز مړ) په مروه کې له علي بن حجر (۲۴۴س= ۸۵۸ز مړ) په هرات کې له عبدالله بن مالک څخه احاديث زده کړل. له احمد بن عبدالله جويباري (۲۴۷س= ۸۶۱ز مړ) محمد بن تميم سعدي او علي بن اسحاق سمرقندي څخه يې احاديث روايت کړل. د تفسير زده‌کړې يې هم له سمرقندي او محمد بن مروان کلبي څخه وکړې. مکې ته لاړ او پنځه کاله هورې د کعبې مجاور و. کله چې سيستان ته راستون شو، خپل ټول مالونه يې وپلورل او نيشاپور ته لاړ. سبکي وايي د سيستان والي هغه له دې وېرې له سيستانه وايست چې وگړي يې ونه وژني.[3]

زياتره محدثان د هغۀ او د هغۀ د استادانو په روايتونو باور نه کوي او احاديث يې متروک گڼي. محمد بن کرام ويل چې ايمان يواځې په ژبه اقرار دی، که څوک په زړۀ کې په کفر هم گروهمن وي، بيا هم مؤمن دی. خدای ته يې جسم وايۀ. په خراسان کې يې ډېر وگړي پر ځان وگروهول؛ نو طاهرپوشنگي زنداني کړ. اتۀ کاله زنداني پاتې شو، چې له زندانه راووت شام ته لاړ او بېرته نيشاپور ته راستون شو، محمد

---

[1] - الأنساب تر ۴۷۶ وروسته.
[2] - تاج العروس ۹/ ۴۳.
[3] - طبقات الشافعية ۲/ ۵۴، د قاهرې چاپ، ۱۳۲۴س.

بن‌طاهرپوشنګي بیا بندي کړ. کله چې له زندانه ووت، د ۲۵۱س په شوال= ۸٦۵ ز کې له نیشاپوره ووت او بیت‌المقدس ته لاړ. څلور کاله یې هورې وعظ وکړ. په ۲۵۵س= ۸٦۹ ز کال کې هلته ومړ او د پیغمبرانو په مړیستون کې یې خاورو ته وسپارهٔ. ۲۰زره کسان یې هلته پلیوني او ډېر وخت یې پر مړیستون معتکف وو. مقدسي یې په البدءوالتاریخ کې یادونه کړې ده (۵ /۱۴۹). لوی عالمان لکه محمد بن‌هیصم او ابویعقوب اسحاق بن‌ممشاد (۳۸۳س= ۹۹۳ز مړ) یې له پلیونو څخه دي. سمعاني وایي په نیشاپور، هرات او شاوخوا کې ډېر وګړي د هغهٔ پر مذهب وو.[1] هغه ډېره موده په غرستان (غرجستان) کې اوسېدلی دی. د ۴۰۰س= ۱۰۰۹ز په شاوخوا کې یواځې په نیشاپور ښار کې شل زره کرامیان وو. عبدالقاهر بغدادی وایي په خراسان کې درې ډلې کرامیان وو، چې حقاقیه، طرایقیه او اسحاقیه دي.[2]

د محمد بن‌کرام دوه کتابونه یاد شوي دي: یو عذاب‌القبر، بل کتاب‌السر چې د تبصرةالعوام مؤلف ترې مطالب اخیستي دي. څرنګه چې دغه کتابونه په خپله له‌منځه تللي او په لاس کې نهٔشته؛ نو له هغو د رااخیستنو پر بنسټ به د هغهٔ درویش مزاجه، پرهېزګار او سپېڅلي سړي (ابن‌کرام) تکفیرول او رټل د ډېر باور وړ نه وي، چې ان مخالفان یې هم د سپېڅلتیا او پرهېزګارۍ پخلی کوي. څرنګه چې هغه مهال په خراسان کې ډله‌ییز او ګروهیز جنګونه سخت او عام وو او ان دوه سوه کاله وروسته یې خواجه عبدالله انصار حنبلي په هرات کې د تجسیم په جرم له هراته شړلی و؛ نو اټکلولای شو چې د هغهٔ د مخالفانو خبرې ټولې پر ځای نه دي. دا مطلب به هغه مهال روښان شي چې په خپله ورک کتابونه یې تر لاسه او یا د مخالفانو د ویناوو په پخلي کې پیاوړی سند- چې د منلو وړ وي- پیدا شي.

خو دا چې د هغهٔ مهال نومیالي کسان لکه د غزنوي کورنۍ بنسټګر سبتګین

---

[1] - تعلیقات تاریخ بیهقي ۲/ تر ۹۱۵وروسته د ابن کثیر د البدایه ۱۱/ ۲۰، شذرات الذهب د عبدالحی حنبلي ۲/ ۱۳۱، لسان‌المیزان د ابن حجر ۵/ ۳۵۳او اسلامي دایرةالمعارف ۲/ ۸۱۹.په حواله

[2] - الفرق‌بین‌الفرق ۷ څېرکی.

(۳٦٧- ۳۸۷س) کرامي و،[1] یا ابوالفتح بُستي د هغۀ په ستاینه کې- لکه چې تېر شول- شعر وایۀ، دا ټول څرګندوي چې مذهب یې په خراسان او سیستان کې منلی او سم و او د دې ډلې له مشرانو لکه اسحق بن‌ممشاد- چې کابو پنځه زره کسان یې په لاس مسلمانان شول- سره د نیشاپور حنفیانو، شافعیانو او دېوانیانو مینه درلوده. کله چې په ۳۸۳س= ۹۹۳ز کې ومړ، هر ښاري یې جنازه وکړه. د جنازې په بدرګه کې یې د ښار واټونه له خلکو ډک شوي وو.[2]

نو که موږ د دې ډلې د تکفیر او رټنې په اړه د مؤلفانو ویناوې ومنو، څنګه شونې ده چې له داسې زندقو ګروهو او له اسلامي بنسټونو له اوښتنې سره دې هم د هغو له نومیالیو سره د خلکو، دېوانیانو او د حنفي او شافعي مذهبونو د کسانو مینه وي؟!

**د کرامیانو ګروهې**

وایي چې محمد بن‌کرام خپلې ګروهې په عذاب‌القبر کتاب کې بیان کړې وې، چې عبدالقاهر بغدادي (۴۲۹س= ۱۰۳۷ز) یې ځینې داسې رااخیستي دي:

۱- د «ألرحمن علی العرش استوی» آیت په تفسیر کې یې- چې په قرآن‌عظیم[3] کې راغلی دی- ویلي دي خدای له عرش سره دی، چې ځای یې دی. له دې امله یې کرامیان مشبهه بللي دي. محمد چې د معبود ذهني انځور (تجسیم) منۀ؛ نو د هغۀ پلیوني یې مجسمیه هم ګڼل، چې الله یې جسم اجسم یعنې د جسمونو تر ټولو لوی او بشپړ ګڼلی دی.

۲- د الله لپاره یې څرنګوالی«کیفوفیةالله عزوجل» ګانۀ او د هغۀ ځای یې «حیثوثیة الله» تعبیراوۀ او د جوهریت پر شتون ګروهمن و.

۳- معبود د پېښو ځای دی ویناوې، ارادې، لیدنیز او اورېدیز ادراکات او د نورې له لوړو صحیفو سره یې چلن، اعراضي دی چې په هغۀ کې حادث دی. د دې حادثو حوادثو محل په هغه کې دی. د هغۀ وینا چې څه شي ته کُن وایي، د مخلوق د

[1] - تاریخ سیستان ۳۳۹.
[2] - الأنساب، د سمعاني ۴۷۷.
[3] - طه سورت ۴ آیت.

پنځېدو، د محدث د احداث او د هغهٔ څه د عدم وسیله ګڼي چې تر شتون وروسته لهمنځه ځي. وایي په نړۍ کې هیڅ جسم یا عرض منځ ته نه راځي؛ خو د معبود په ذات کې د ډېرو اعراضو تر حدوث وروسته. له هغې جملې څخه د دې حادث د پنځولو لپاره اراده ده. د هغه ویل همدې حادث ته چې«کن» په هماغه ډول چې پر حدوث یې پوه دی. په خپل ذات کې په دې وینا کې ډېرې خبرې دي چې هر توری یې د هغهٔ حادث عرض دی چې په هغه کې پنځېدلی دی... د هغوی په باور هغه حادثې چې د خدای په ذات کې پنځېدلې دي، د نړۍ د اجسامو او اعراضو د حادثو څو برابره دي. نو خدای د"کن" په وینا ټول مخلوقات پنځولي، نهٔ په خپله اراده. د کرامیانو دا وینا د اهل‌سنت له ګروهې سره ټکر لري - چې ټول مخلوقات د هغو تر پنځېدو د مخه د الله مقدور او هغه د ټولو حوادثو رامنځ ته کوونکی ګڼي، چې په خپل ځواک سره یې پنځوي-»[1]

۴- یقین او عمل په ایمان کې نه راځي، بلکې یواځې څرګندونه او د دوو شهادتونو اقرار دی.[2]

۵- ښایي د یوهٔ مهال دوه امامان وي او هر یو یې حق لري، چې پلیوني یې امر ومني، که دواړه سره مخالف هم وي.[3] نو د هغوی په باور امامت د امت په اجماع دی نه په نص او تعیین او بیعت د دوو امامانو په دوو قطرونو کې جایز دی.[4]

کرامیان په۱۲ فرعي ډلو وېشل کېدل، تر ټولو مهم یې هیصمیان دي، چې امام یې محمد بن‌هیصم ټولې هغه نیوکې رد کړې چې د تشبیه او تجسیم له اړخه پر کرامیانو کېدلې، هغه وایي: هغه څه چې له الله تعالی سره یې مشبه ګڼي د هیئت، صورت، جوف، استدارت او داسې نورو له مخه، د کرامیانو ګڼنې ته ورته نه دي... ځکه کرامیه داسې فاسده ګروهه نه لري چې دوه لاسونه په دوو غړیو او د عرش

[1] - الفرق بین الفرق تر ۲۰۲ وروسته.

[2] - کتاب الایمان، د ابن تیمیه ۵۷، د قاهرې چاپ، ۱۳۲۵س.

[3] - تعلیقات بیهقي ۲/ ۹۲۱ د الفرق په حواله.

[4] - د ملل ونحل ژباړه ۸۱.

استواء د مکان برابره او مجئ د اماکنو په تردد تفسیر کړي، بلکې په دې ټولو ګڼنو کې د دې ټولو اطلاقاتو وییونو په ځانګړو معنو کې بې بلې معنې او بې تشبیه هغه ډول پرې ګروهمن دي چې په قرآن او حدیثو کې راغلي دي. هغه څه چې په قرآن او حدیثو کې راغلي دي له نورو ګڼنو چې تجسم او تشبه‌والا یې کوي، تر هغو د ګڼنې ساحه سپېځلې ګڼي او وایي چې: په ازل کې د نړۍ پنځوونکی لوی الله دی. د قدر اثبات کوي چې خیر و شر یې د الله تعالی دی. که نېک دي او که ناوړه، ټول مخلوقات د یووالي د لویې مخلوق دی. بنده ته په حادث ځواک سره کار ورښیي او هغه ته کسب وایي. دا ګټه د کړاو پایله او د ثواب او عذاب ځای دی.[1]

په داسې بڼه له اهل‌سنتو سره د کرامیانو د ګروهې توپیر لږ دی، چې دوه بنسټي مسألې باید د دواړو د بېلتون نخښې وګڼل شي: یوه پر دې ګروهه چې ایمان یواځې په ژبه اقرار دی، نه په زړهٔ تصدیق. منافق هغوی په دنیا کې مؤمن او په آخرت کې د عذاب مستحق ګڼي.[2] په داسې حال کې چې اهل‌سنت، ایمان په ژبه اقرار او په زړهٔ تصدیق ګڼي.

بله دا چې: په دوو امامانو پسې په یوهٔ وخت کې امامت او بیعت کول په دوه ځنډو کې جایز بولي، سره له دې چې امامت د اهل‌سنتو په څېر، د امت اجماع ګڼي نه نص او تعیین.

خو عبدالقاهر بغدادی په دیني کړنو او فقه کې هم کرامیان ناپوهان ګڼي، له هغو څخه: بې رکوع، سجدې، قیام، قعدې، تشهد او سلام یواځې په دوو تکبیرونو د مسافر لمونځ.

بل: په پلیتې جامې، پلیت ځای، د بدن له څرګندې پلیتۍ سره د لمانځهٔ سموالی.

بل: د مړي غسل او جنازه سنت ده نه فرض، یواځې کفن ورکول او ښخول یې واجب دي.

بل: بې له نیته د فرضي لمانځهٔ، روژې او حج سموالی. ځکه د اسلام لومړنی نیت د نورو ټولو فرضونو لپاره بسنه کوي.[3]

---

[1] - د ملل ونحل ژباړه ۸۱.

[2] - مقالات اسلامیین، د امام اشعري ۱/ ۱۴۱، د استانبول چاپ، ۱۹۲۹ز.

[3] - الفرق بین الفرق، تر ۲۰۲ وروسته.

## حلوليان او تناسخيان

حلول INCARNATION په فلسفه کې په يوۀ شي کې د بل ننوتلو ته وايي، په داسې ډول چې د حال شتون په خپل ذات کې کټمټ د محل شتون وي. يعنې د يوۀ شي اړيکي له بل شي سره چې يو ستاينوم او بل ستايلی وي، لکه سپينوالی چې اړيکی او حال په جسم کې دی. حلوليان گروهمن دي چې خدای په ټولو شيانو کې ننوتی او گډلی دی، لکه خوږوالی په انگور کې.[1]

خو تناسخ د يوۀ بدن تر بېلېدو او فنا کېدو وروسته سم له واره له بل بدن سره د روح او ناطقه نفس اړيکي دي، له واټن پيدا کېدو پرته.[2]

د هند، يونان او نورو ملتونو په فلسفه کې د حلول او تناسخ فکر له ډېر پخوا راهيسې په يوۀ يا بل ډول دود و. نوي فلاطوني ښوونځي -چې د منځني ختيځ په هېوادونو کې د اسلام په پيل کې، دود فکري طريقه گڼل کېږي-هم د دې افکارو عناصر درلودل.

مسلمانان په ختيځ کې په خپلو سوبو او هېوادو نيولو سره له زردُشتي، بودايي او د افغانستان، سغد ماوراءالنهر د نورو سيمه‌ييزو دينونو له افکارو سره مخامخ شول او په مصر، شام او ختيځ روم کې چې د نوي فلاطونيت د فلسفې روزنځی و، د تصوف او فلسفې له يوې گډولې سره مخامخ شول، چې وحدت وجود يې بنسټ گڼل کېدۀ.

په اسلام کې لومړنی کس چې د حضرت‌علي په الوهيت، تناسخ او رجعت باوري شو، نوی مسلمان شوی يهودي عبدالله بن‌سبا (۴۰س= ٦٦٠ز شاوخوا مړ) و، چې د سخت دريځو شيعه‌گانو لارښود دی، هغۀ ويل چې: حضرت‌علي مړ نه دی، بلکې په وريځو کې پټ دی. کله چې به يې پليونو د اسمان غرهار واورېدۀ نو ويل به يې چې علي غوسه شو.[3]

ابن‌عساکر وايي: کله يې چې له علي سره بيعت وکړ، بن‌سبا ورته وويل: تا ځمکه پيدا کړه او رزقونه دې خپارۀ کړل! خو حضرت‌علي هغۀ د مداين ساباط ته وشاړۀ.[4]

---

[1] - فرهنگ علوم عقلی ۲۳۵، د تهران چاپ، ۱۳۴۱ل.

[2] - پورتني کتاب ۱۷٦.

[3] - البدءوالتاريخ ۵/ ۱۲۹.

[4] - تهذيب تاريخ، د ابن عساکر ۷/ ۴۲۸.

موږ د دې کتاب د مخکنيو څپرکو د پېښو په ترڅ کې څو څو ځله روښانه کړه چې د ابومسلم خراساني تر پاڅون او د هغهٔ تر دردناکې وژنې وروسته - چې د يوې دردناکې ډرامې د پردې په څېر د وګړو له نظره تېره شوه- د حلول، رجعت او تناسخ د ګروهو پاتې شوني په بېلابېلو بڼو راڅرګند شول او له هغو څخه راونديان په تناسخ وګروهېدل.[1] هغه د عباسيانو خراساني شيعه‌ګان وو. ابن‌اثير وايي چې د ابومسلم غونډې په تناسخ ګروهمن وو.[2] په ۱۴۱س= ۷۵۸ز کال کې يې په بغداد کې شورماشور جوړ کړ او منصور خليفه يې خدای وبالهٔ.[3]

بله په مروه او هرات کې زراميه ډله وه، چې امامت يې د عبدالله بن‌عباس په کورنۍ کې ګاڼهٔ او ابومسلم ته يې هم په کې ونډه ورکوله. هغوی د روحونو په تناسخ او دې ګروهمن وو چې ګونډې د الله روح په ابومسلم کې ننوتی و، چې پر امويانو بريالی شو.[4] له دوی څخه ابومسلميه ډله د خراساني ابومسلم په نامهٔ ده چې هغه يې تل ژوندی ګاڼهٔ. د هغهٔ راستنېدو ته يې انتظار ايستهٔ او ويل يې د منصور په امر وژل شوی هغه ابومسلم نه و، بلکې شيطان قاتلانو ته د ابومسلم په څېر ښکاره شوی و. په هرات او مروه کې يې دې ډلې ته برکوکيه هم ويله. له همدې حلوليه ډلو څخه: مقنعيه يا سپين‌جاميز مبيضه دي، چې موږ يې د مقنع په خوځښت کې شرحه ورکړې ده.[5] هغوی ويل چې الهي روح آدم، نوح، ابراهيم، موسی، عيسی، محمد، علي، د هغهٔ اولاد او ابومسلم ته ننووت او له ابومسلم څخه مقنع (۱۶۱س= ۷۷۷ز وژلي) ته ورسېدهٔ. ابوريحان البېروني وايي مقنع په تناسخ او حلول ګروهمن و، د خدايي دعوه يې کوله او ويل يې: څرنګه چې خدای تر جسم خپلولو د مخه نه ليدل کېږي، نو د انسان په ډانچه کې د بشر په بڼه شو؛ چې وليدل شي.[6] ابن‌العبري وايي مقنع به خپلو

[1] - وګ: د دې کتاب ۳ څپرکی ۸مه برخه.

[2] - الکامل د ابن اثير.

[3] - طبري ۳۰۷/۹.

[4] - د ملل او نحل ژباړه ۱۱۳.

[5] - وګ: د دې کتاب ۳ څپرکی ۸مه برخه.

[6] - آثارالباقيه ۲۱۱.

پليونو ته ويل چې: زما روح تر مړينې وروسته د يوه داسې چا په قالب کې راڅرګندېږي، چې ويښتان به يې مې وريځې، په خړ رنګه اس به سپور وي او ځمکه به تر ولکې لاندې کوي.[1] چې دا هم کټ‌مټ د تناسخ او رجعت ګروهه ده.

موږ د درېيم څپرکي په اتمه برخه کې تر ابومسلم وروسته (۱۳۷س= ۷۵۴ز وژلي) د خراسان د احوال په شرحه کې د هغهٔ د پلويانو او پليونو د خوځښتونو د غځېدا په اړه- چې ډېر وخت يې ونيو- تفصيلي ليکنه کړې ده، چې په هغهٔ هر يوهٔ خوځښت کې د پخوانيو ګروهو ښکارندې څرګندې وې. د ساري په ډول په ۱۳۷س= ۷۵۴ز کې د ابومسلم د کسات اخيستنې لپاره د سنباذ پاڅون د زردُشتي ګروهو او د مهدي موعود د مذهب تر اغېز لاندې و، چې د ابومسلم په مرګ ګروهمن نه وو او د هغهٔ د راستنېدا انتظار يې ايستهٔ.[2] بيا کله چې په خراسان او ماوراءالنهر کې د ابومسلم له مرګ سره سم له همدې مسلميه ډلې څخه اسحاق راپاڅېدهٔ، هغهٔ هم ادعا وکړه چې د زردُشت له خوا رالېږل شوی او زردشت په خپله هم ژوندی دی،[3] چې هماغه د تناسخ او رجعت ګروهه ده.

د خراسانيانو يوهٔ ټولي د حلول ګروهې په نورو هېوادونو کې هم خپرې کړې، لکه چې په ۴۰۸س= ۱۰۱۷ز کال کې حمزه بن‌علي زوزني په شام کې د درزي (خياط) په نامهٔ يوه ځانګړې ډله جوړه کړه، کتاب يې وکېښ او په هغهٔ کې يې دعوه وکړه چې د الله روح په آدم کې ننوتی دی او له هغهٔ ورو ورو حضرت‌علي ته ولېږدېد. بيا د علي روح خليفه العزيز فاطمي او له هغهٔ يې زوی الحکيم ته ولېږدېد. په دې تبليغ کې دوه نور خراساني حسن بن‌حيدرة الاخرم او محمد بن‌اسماعېل بخاري درزي هم له هغهٔ سره همږغي وو. اخرم په دې خبرو راڅرګند او بيا په ۴۰۹س= ۱۰۱۸ز کې ووژل شو.[4] د حلول د ګروهو دا خپرېدنه د هغو خوځښتونو پاتېدا او دوام و، چې د مخه په خراسان کې رامنځ ته شوي وو.

---

[1] - مختصرالدول ۲۱۷.

[2] - وګ: ۳ څپرکی ۸مه برخه.

[3] - الفهرست ۴۸۳.

[4] - تاريخ الإسلام السياسي ۳/ ۲۱٦.

## مُجبره جهمیه

د دې ډلې بنسټګر سمرقندی مریی جهم بن‌صفوان و، چې څه وخت یې په کوفه کې تېر کړ. کله چې حارث بن‌سریج د امویانو د حاکم نصر بن‌سیار پر وړاندې په خراسان کې شورش وکړ، جهم هم د حارث په ملګرو کې و. د هغهٔ ځواکونو چې ماتې وخوړه، جهم هم ونیول او د نصر بن‌سیار په امر په مروه کې ووژل شو. (۱۲۸س= ۸۴۵ز)

جهم د مجبره ډلې مشري کوله، چې د قدریه ډلې (په خپلو کړنو کې د انسان پر واک و اختیار ګروهمن) پرعکس هغوی ګروهمن وو، چې انسان په خپلو ټولو کړنو کې بشپړ اړ دی او هغهٔ ته د کړنو نسبت مجازي دی. د هغهٔ هره کړنه د خدای مخلوق دی. مجبره‌وو ایمان بې له عباداتو یواځې معرفت بالهٔ. جنت او دوزخ یې فنا کېدونکي ګڼل، قرآن یې په خپله خوښه تفسیراوهٔ، د خدای کلام یې مخلوق ګاڼهٔ، له لیدنې یې انکار کاوهٔ او صفات یې ردول.[1]

مجبره‌وو د عدل و ظلم په مسأله کې ویل، چې دا صفات پر انسانانو د پلي کېدو وړ دي، نه پر خدای. ځکه له خدایه د کړنې پوښتنه نهٔشي کېدای او انسان مسؤول دی.[2]

ګولډزیهر وايي تر ټولو پخوانی ګروهیز بېلتون چې د امویانو په پېر کې د اسلام په عقلي مرکز دمشق کې راڅرګند شو، همدا د جبر او اختیار مسأله وه او دا فکر له هنده اخیستل شوی[3] چې د تخلیق پر مهال یې د هر انسان کړنې د هغهٔ پر تنده ولیکلې چې د کړنو کچه ټاکل ازلي ده؛ جهم بن‌صفوان به په خراسان او خپل استوګنځي کې د هند له خوا اخیستی وي.

شهرستانی د جهمیه‌وو ګروهیزې ځانګړنې داسې شمېري:

۱- په هغو صفاتو د خدای د موصوفولو ناجایزوالی چې بنده پرې موصفېدای شي.

۲- نه ښايي چې خدای پر شیانو تر پنځولو د مخه پوه شي او حادثه علوم د حوادثو په عدد په خپل لوی ذات اثبات کړي.

---

[1] - تاریخ الإسلام السیاسي ۳/ ۱۶۲.

[2] - پورتنی اثر، ۳/ ۵۶.

[3] - عقیده اسلامی ۸۴.

۳- انسان په هیڅ څیز برلاسی نه دی؛ نو الله اړ دی چې د هغهٔ کړنې ترسره کړي. څرنگه چې کړنې په جبر دي؛ ثواب او عذاب هم په جبر دی.

۴- د جنت او دوزخ فنا چې د هغو دوو همېشنيو کورونو د اوسېدونکو حرکتونه فنا کېږي، تر خوند اخیستو وروسته جنتیان نعیم ته او دوزخیان تر کړاو گالنې وروسته عذاب ته ځي. وايي هغه حرکات نه متصور کېږي، چې پای ونه لري.

۵- په هغهٔ صورت کې چې څوک الهي معرفت ته ورسېږي، که په ژبه نټه وکړي نه کافرېږي، ځکه په ژبنۍ نټې علم لهمنځه نه ځي. د مؤمنانو تر منځ غورهتوب نهٔشته او د یوهٔ کس ایمان تر بل غوره نه شو گڼلای.[1]

## مُعتزله

د ۱۰۰ او ۲۰۰س کلونو تر منځ د خوارجو او شیعهوو په فکري او سیاسي شخړو کې، د معتزلهوو په نامهٔ ډله هم وه چې د دوو لومړیو اسلامي پېړیو له ډېرو مهمو فکري خوځښتونو او عقلي شخړو څخه گڼل کېږي او د مسلمانو ملتونو د فکر و ادب په رنگارنگۍ او د اسلامي فلسفې په تاریخ کې زښت زیات اهمیت لري.

د دې ډلې بنسټگر واصل بنعطاء (۸۰- ۱۳۱س) د متکلمانو او د اسلام له بلیغو امامانو څخه یو دی. د خپل استاد حسنبصري (۱۱۰س= ۷۲۸ز) د درس له حلقې څخه یې گوښاستی شو؛ نو ځکه یې د هغهٔ پلیوني گوښاستي (معتزله) وبلل. د هغهٔ له تألیفاتو څخه اصنافالمرجئه – المنزلة بینالمنزلتین- معانيالقرآن، طبقات اهل علم و الجهل- السبیل إلی معرفةالحق او التوبة معلوم دي.[2]

معتزلهوو لاندېني پنځگوني اصول درلودل:

۱- توحید: وايي د خدای صفات بې د هغهٔ له ذاته نهٔشته، اسلام د توحید او سپېڅلتیا دین دی. معتزله د نورو مسلمانانو غوندې په دې اړه په اجمالي ایمان بسنه نه کوي، بلکې

---

[1] - ملل و نحل تر ٦٢ وروسته.

[2] - الأعلام ۹/ ۱۲۱.

د وجود، وحدانیت، متشابه آیتونو او نورو مسألو په اړه ژور فلسفي تحلیلونه کوي، د خدای رویت، صفات او نورې کلامي چارې په عقلي دلایلو روښانوي.

۲- عدل: معتزله ځانونه عادلان او هغه له الهي صفاتو څخه په ژورې شرحې سره ګڼي. د عدل پولې ټاکي او وايي چې الله د مخلوق د خیر اراده کوي؛ خو د شر اراده نه کوي او نه هغه غواړي. خیر او شر دواړه د انسان په آزاده اراده پورې اړه لري او هغه د خپلو کړنو پنځوونکی دی.

۳- زېری او رټنه (وعد و وعید): خدای په زېري او رټنې یعنې د نېکیو په بدله او د لویو ګناهونو په سزا کې رښتینی دی. معتزله وايي چې ایمان د زړهٔ معرفت، په ژبه اقرار او د اندامونو کړنې دي. څومره چې انسان ښې چارې کوي، ایمان یې زیات او پر عکس د ګناهونو په کولو کمېږي؛ نو لویه ګناه هغه ده چې د هغې په اړه رټنه راغلې وي، که رټنه یې نه درلوده کوچنۍ به وي.

۴- منزلة بین المنزلتین: لوی ګنهګار فاسق دی او فسق د دوو پړاوونو تر منځ یو پړاو دی، چې نه کفر دی او نه ایمان. پر دې بنسټ فاسق نه مؤمن دی او نه کافر، بلکې د دوو پړاوونو تر منځ دی.

۵- په نېکیو امر او له بدیو منع: په زړهٔ، ژبې، لاسونو او تورې سره. پر دې بنسټ په دې لاره کې د تورې کارول او د هغهٔ خلیفه پر وړاندې پاڅون جایز دی، چې له نېکیو لرې او په بدیو اخته وي.[1]

معتزله د سیاست او امامت په مسأله کې له خوارجو سره همفکر دي. په دې معنی چې امامت بې له قریشو په نورو خلکو کې هم جایز ګڼي او هغه ټاکلی یا منصوص نه ګڼي. که ټول مسلمانان عادلان وي او په منځ کې یې فاسق نه وي؛ نو بیا «لاحکم إلا لله» هم مني، چې د امام ټاکلو ته به یې اړتیا نه وي. په داسې حال کې چې د بغداد د معتزله‌وو له امامانو څخه یو په نَظَام مشهور، ابراهیم بن‌سیار د امام د بېګناهۍ په مسأله او د لارښود او بېګناه امام د شتون په اړتیا کې له شیعه‌ګانو سره موافق دی. ان په دې اړه د شیعه‌ګانو بنسټیز قواعد د همدې نَظَام پر مذهب ډډه لګوي[2].

---

[1] - ضحی‌الإسلام ۳/ تر ۲۱ وروسته.

[2] تاریخ الإسلام السیاسي ۱/ ۳۳۴ د مروج‌الذهب په حواله ۲/ ۱۹۱.

د هغه مهال معتزله چې موږ پرې بحث کوو- يعنې تر ۲۰۰س= ۸۱۵ ز پورې- په افغانستان کې د يوې پياوړې مذهبي ډلې په توګه نه وو راڅرګند شوي؛ خو د خراسان په لوېديځو سيمو، عراق، شام او نورو کې يې تشکيلات درلودل او د جنګ، فلسفې او کلام د ډګر له پياوړو مبارزينو څخه وو.

د عباسي پېر په لومړيو کې چې د معتزله‌وو مشر عمر بن‌عبيد و، د دې مذهب بلندويان د اسلامي هېواد څنډو او ليرې پرتو سيمو ته ولېږل شول، چې د اعتزال بستېونه تبليغ او خپارۀ کړي، لکه د معتزله‌وو يو شاعر صفوان انصاري د واصل بن‌عطاء په اړه بولله لري، چې په هغې کې وايي:

له خلف شعب الصين فى كل ثغـرة   إلى سوسها الأقصى و خلف البرابـر
رجـــال دعـــاة لا يفـــل عـــزيمهم   تهكـــم جبـــار و لا كيـــد مـــا كـــر[1]

«د چين له پولو د اقصى تر سوس او بربر تر هاخوا (د افريقا لوېديځ او مغرب هېوادونه) پورې د واصل بلونکي شته چې د هغوی اراده د جبار د غوسې د زياتوالي او يا د غولوونکي د چم مخنيوی نۀشي کولای.» له دې سند سره سم نو د معتزله‌وو بلونکي او مبلغان د چين تر پولو او د افريقا شمال ته د مغرب تر سيمو رسېدلي وو او دا سمه ده. ځکه واصل ډېر کارند او پوه کسان وروزل او هر يو يې يوې خوا ته د تبليغ لپاره ولېږۀ، او له همغې ډلې يې حفص بن‌سالم خراسان ته راولېږۀ. ترمذ ته راغی او د جبريه ډلې له بنسټګر جهم بن‌صفوان سره يې مناظرې وکړې.[2]

## مُرجئه

د خوارجو او شيعه‌وو د دريځ تر منځ د مرجئه په نامۀ يوه ځانګړې ډله هم وه، چې ګروهو يې له دواړو سره توپير درلود- فقه او د امام ابوحنيفه ﵁ فکري مدرسه- په برخه کې مو په دې اړه شرحه ورکړې ده، هلته دې وکتل شي. همدا رنګه څو مخه وروسته هغه مهال چې د ډلو په آدابو خبرې کوو، د مرجئه د ادب يادونه به هم

---

[1] - ضحى‌الإسلام ۳/ ۹۰.

[2] - پورتنی اثر، د المنية و الامل په حواله ۱۹.

وکړو.

په ۱۱۸س= ۷۳۶ز کال کې حارث بن‌سریج د مرجئه‌وو مشر په شمالي خراسان او ماوراءالنهر کې د اموي دولت پر وړاندې پاڅون کړی و چې ډېر پلیوني یې درلودل. هغه دعوه کوله چې مهدي دی او خدای د خپلو مظلومانو د خلاصون لپاره رالېږلی چې وګړي قرآن او سنتو ته راوګرځوي او داسې حکومت جوړ کړي چې زیاتره وګړي ترې خوښ وي.

دا وګړي د سېحون د څنډو پر سیمو لاسبري شول. د خراسان والي اسد بن‌عبدالله پرې یرغل وکړ او د هغوی پاڅون یې غلی کړ. حارث تخارستان ته پناه یووړه؛ بیا د امویانو د حاکم نصر بن‌سیار پر وړاندې راپاڅېدۀ، مروه یې ونیوله او نصر یې له هغه ځایه وځغلاوۀ. خو د یمنیانو او هغۀ تر منځ په مروه کې شخړه راغله، تر هغه چې حارث په ۱۲۸س= ۷۴۵ز کال کې ومړ.[۱]

دې خلکو په خپل پاڅون کې داسې یو حدیث دلیل کاوۀ: یخرج رجل من ماوراءالنهر یقال له حارث... وجب علی کل نصره.[۲]

## صوفیان

یوه بله مهمه ډله - چې له فکري پلوه ډېر اهمیت لري او د دوو لومړیو اسلامي پېړیو د افغانستان په سیمو کې وو- صوفیان دي چې فکري میراث یې د ګاندې په فرهنګ سازۍ کې پیاوړی توکی و.

د صوفي د نامۀ په اړه چې له څه شي څخه جوړ شوی دی، ډېر روایتونه شته، وایي: صوفي صوف (وړیو) ته منسوب دی، چې جامې یې وړینې دي. ځینو له صفا یا صفه (اصحاب صفه) څخه اخیستل شوی ګڼلی دی.[۳] استاد قشیري (۴۶۵س مړ) وایي چې د تصوف کلمه د عربي اشتقاق وجه نه لري او د دې ډلې ځانګړی لقب دی.[٤]

---

[۱] - تاریخ الإسلام السیاسي ۲/ ۲۱.

[۲] - کتاب السنن، د ابوداؤد ۲/ ۱۳۵.

[۳] - کشف المحجوب، د هجویري غزنوي ۳۴، د تهران چاپ، ۱۳۲٦ش.

[٤] - الرسالة ۱۲٦، د قاهرې چاپ ۱۲۸۴س.

په دې اړه د ابوريحان البيروني (۴۴۰س مړ) وينا هم د غور وړ ده، هغه د تصوف کلمه د يوناني له SOPH څخه اخيستل شوې ګڼي، چې معنی يې پوهه او حکمت دی. وايي چې فيلسوف هم د پوهې مينه‌وال معنی لري. څرنګه چې په اسلام کې يوه ډله د هغو رأی ته ورنږدې شوه، نو د هغو په نامهٔ ونومل شوه.[1]

د صوفي او تصوف د کلمې د ريښې په اړه دا د نظر اختلاف له پخوا راهيسې موجود و. په دې اړه د مؤلفانو، عالمانو او صوفيانو روايتونه تر ۲۰۰س= ۸۱۵ ز وروسته راپاتې دي، د ساري په توګه ابوالعلاء معری (۴۴۹ س مړ) ويلي وو:

صـوفية مـا رضـوا للصـوف نسـبتهم   حتى أدعوا انهم مـن طاعـة صـوفوا

په داسې حال کې چې په خراسان کې يې د هغې د اخيستنې لپاره د ساري په ډول داسې توجيه کوله او ابوالفتح بُستي د سبکتګين د دربار منشي او شاعر به ويل:

تنازع الناس فـى الصـوفى واختلفـوا   قـدماً، وظنـوه مشـتقاً مـن الصـوف
ولسـت انحـل هذاالاسـم غـير فتـى   صافي فصوفي حتى لقب الصوفي[2]

«يعنې له پخوا راهيسې د صوفي د کلمې په اړه اختلاف دی او ګومان کېږي، چې له صوف څخه اخيستل شوې ده؛ خو زه دا نوم بې له هغهٔ سپېڅلي وړين پوښي مېړني بل چا ته نه ورکوم چې صوفي نومل شوی وي.» دا شعر د افغانستان د غزنوي دربار د برلاسي شاعر او منشي ابوالفتح علي بن‌محمد بُستي (۴۰۰مړ) دی چې د صوفي کلمې په اړه د هغهٔ پېر د وګړو فکر توضيح کوي.

په هر صورت د دې څو او بېلابېلو روايتونو له‌منځه دا فکر ډېر پلويان لري، چې تصوف له صوف اخيستل شوی او موخه يې وړين اغوستل دي، چې د صوفيانو او مېړنو نخښه وه. د ډلو په نومونو کې دا ډول (مصدري) نومونه پرله‌پسې شته لکه تسنن، تشيع، تذهب، تعرب، تفرس، تزندق او نور.[3]

---

[1] - کتاب‌الهند ۲۴.

[2] - پورتنی کتاب ۲۵.

[3] - د تصوف په نومونې کې د بېلابېلو روايتونه شتون، خبره ستونزمنه کړې ده؛ نو بې ځايه نه ده چې له هغو روايتونو سره يو سيمه‌ييز افغاني فکر هم مل شي: لکه چې د دې کتاب په لومړي څپرکي کې مو وويل، د ۹س کال شاوخوا هيونڅانګ په افغانستان کې ګرځېدهٔ، هغه په عبادتځيو، خانقاوو او غرنيو سمڅو کې ډېر سمځمېشتي روحانيون او دنيا ته شا کسان ليدلي وو، چې پر دوو بودايي مذهبونو، لوی او کوچني ګروهمن وو. موږ ته روښانه ده چې د بودايانو په

د خراسان له نومیالیو صوفیانو څخه ابونصر سراج‌طوسي، په طاووس‌الفقراء مشهور (۳۷۸س مړ) وایي چې: وړین اغوستنه د نبیانو خوی او د ولیانو او سپېڅلو نخښه وه. صوفیان هم د همدې جامو ظاهر ته منسوب شول، نه د علومو یوۀ ډول او هغو لرلیو احوالو ته.[۱]

د صوفي او تصوف کلمو د ریښې او جوړښت په اړه هم اختلاف دی او په تعریف کې یې هم نظریات وړاندې شوي دي. ان سهروردي وایي په عوارف المعارف کې د تصوف د ماهیت په اړه تر زرو زیات روایتونه شته دي؛ هغه چې تر ټولو غوره دي، دا دي چې:«ان یکون العبد فی کل وقت بما هوا ولی فی الوقت.»[۲]

یعنې: تصوف هغه څه ته وخت درلودل دي، چې لا ښۀ او وړ وي.[۳] د دې وجیزې په شرحه کې له جنید نه روایت دی، چې تصوف هغه نېک اخلاق دي چې په ښۀ وخت کې د کوم نېک بنده له خوا د نېکانو له ډلې سره څرګند شي.[٤]

افکارو او دیني فلسفه کې د حلول، تناسخ، وحدت وجود، دنیا پرېښودنې او رهبانیت ګروهې موجودې وې، چې د ګډ او مختلط تصوف مهم جز وګرځېدۀ.
د شهاب‌الدین سهروردي (٦۳۲س مړ) په عوارف‌المعارف کې راغلي چې صوفیان هغې صفې ته منسوب ګڼي چې په نبوي پېر کې د بېوزلو مهاجرینو ځای و. په خراسان کې یوه غاري ډله ده چې په سمڅو کې مېشتېږي، ښارونو او آبادیو ته تګ راتګ نه کوي او د اصحاب صفه له پاتې شونو څخه دي. همدا طایفه په شام کې رجوعیه بولي.
ځرنګه چې په پارسي کې شکفت د سمڅې په معنی دی؛ نو په خراسان کې د دې طایفې غارمېشتې وضع د هېونځانګ د پېر غارمېشتو ته ورته ده. دلته زموږ فکر د سوپ کلمې ته چې په پښتو کې د سوري او سرپټي تېرېدنځي په معنی دی وراوړي. د دې اټکل پر بنسټ به سوپي[= صوفي معرب] هماغه د هېونځانګ غارمېشتی او خراسانی شکفتیه وي.
۱ - کتاب‌اللمع ۴۱، د قاهرې چاپ ۱۹٦۰ز.
۲ - پورتنی اثر ۴۵.
۳ - اسرارالتوحید ۲۵۱، د تهران چاپ، ۱۳۳۲ل.
٤- اللمع ۴۵.

په هر صورت مسلمانانو تصوف هغه علم ته وايهٔ چې د واحد خدای د ذات، نومونو، صفاتو او ښکارندو، د هغهٔ د ازلي ستاينو او همېشنيو ځانګړنو د بيانولو په طرز او په دنيا او آخرت کې د سلوک، هڅو، رياضتونو، کړنو او ذکرونو د پايلو په څرنګوالي يې بحث کاوهٔ.[1]

د خراسانيانو له انده د تصوف علم د پېژندنې په اړه هغه شرحه چې طاووس‌الفقراء ابونصر سراج طوسي کړې جامع او مانع ده، لنډيز يې دا دی:

«د شريعت علم دوې معنې رانغاړي؛ روايت او درايت چې د څرګندو او پټو کړنو بلونکی دی. يعنې کله چې علم په زړهٔ کې وي له باطن سره اړه لري؛ خو که په ژبه شي، څرګندېږي؛ نو د شريعت علم هم کله په څرګند يعنې د څرګندو غړيو په کړنو پورې اړه لري، لکه لمونځ، روژه، حج او نور عبادتونه، يا احکام لکه حدود، طلاق، پېر و پلور، قصاص او نور.

خو پټې کړنې هغه دي، چې له زړهٔ سره تړاو لري، لکه تصديق، ايمان، يقين، صدق، اخلاص، معرفت، توکل، محبت، رضا، ذکر، شکر، تقوا، مراقبه، تفکر، اعتبار، وېره، هيله، صبر، قناعت، اېلتيا، سپارنه، نږدېوالی، لېوالتيا، خوښي، خواشيني، پښېماني، حيا، خپرجتيا، درناوی، لويي، برم او نور.

نو دا هره څرګنده او پټه کړنه، پوهه او علم لري چې د هرې څرګندې او پټې کړنې د سمون لپاره قرآني آيتونه او نبوي حديثونه دليل راوړي. هغه څه چې په څرګندو غړيو پورې اړه

---

۱- کشکول شېخ بهايي د قيصري په حواله د مصباح‌الهدايه د سريزې په وسيله ۸۵.

لري، څرګند علم او فقه ده او هغه څه چې په پټو پورې اړیکه لري، پټ علم او د صوفیانو علم دی، چې له قرآن او احادیث څخه یې راایستی دی. نو اسلامي علم، قرآن او حدیث د څرګندو او پټو ټولګه ده او هغه څه چې په «و أسبغ علیکم نعمة ظاهرة و باطنة»[1] آیت کې ورته نغوته شوې، له همدې دوو علمونو څخه دي. صوفیان د دې مطلب په اثبات کې له قرآن، سنتو او عقل څخه دلیلونه وایي.»[2]

هغه مهال چې اسلام خپرېدهٔ او د نیل او سند سیندونو ترمنځ پراخې ځمکې یې د توحید او غوره اخلاقو په رڼا روښولې؛ ختیځ او لوېدیځ ته یې دوه مهم فکري بهیرونه وو، په ختیځ کې بودایي افکار او ګروهې موجودې وې چې لویه برخه یې دنیا پرېښودنه، پرهېزګاري او تنګسه ګالنه وه. په تېره د خراسان ختیځه برخه یعنې ګندهارا، کابلستان او د هندوکش شمالي سیمې تر بلخ پورې له دنیا په مړه خواوو او سمخ مېشتو تنګسه ګالو ډکې وې. دې خلکو د تناسخ، حلول، وحدت وجود او نورې ګروهې درلودې او ژویو ته یې زیان نه رساوهٔ.

په دویمه لېږدې پېړۍ کې ځینې بودایي کتابونه هم عربي ته ژباړل شوي وو، چې له هغو نه بیلاوهر بوداسف او کتاب‌البد دي.[3] لکه جاحظ (۲۵۵س= ۸۶۶ز مړ) چې وایي: ګرځند بودایي مبلغان په اسلامي هېوادو کې ګرځېدل، دوې شپې یې پر یوهٔ ځای نه کولې، په څلورو سپېڅلو ستاینو، (سپېڅلتیا، پاکۍ، رښتینولۍ او ملنګۍ) ستایل کېدل او د ژویو له وژلو یې ځان ژغورهٔ.[4] د هغهٔ پېر د فرهنګیانو او پوهانو په ټولنو کې ځینې سمنیه وګړي- چې د هند بودایان دي- لیدل کېدل.[5] ان مشهور عربي شاعر ابوالعتاهیه اسماعیل بن‌قاسم (۱۳۰- ۲۱۱س) چې د هارون‌الرشید له درباره

---

[1] - قرآن: لقمان سورت ۲۰.

[2] - کتاب‌اللمع ۴۳.

[3] - الفهرست ۴۲۴.

[4] - کتاب‌الحیوان ۴/ ۱۴۷.

[5] - الأغاني ۳/ ۲۴.

تښتېدلی و، د پرهېزګارۍ په ګوټ کې ناست او وړينې جامې يې اغوستې وې (د صوفيانو غوندې) په دې شعر کې يې د مسکين پاچاه ژوند انځور کړی دی، چې د ځينو څېړونکو ذهن يې د بودا لور ته رااړولی دی:[1]

يـا مـن ترفـع للـدنيا و زينتهـا    ليس الترفع رفع الطـين بـالطين
إذا أردت شريف الناس كلهـم    فانظر إلى ملك وزى مسـكين

«ای چې په نړۍ او ښکلا يې نازېږې، لويوالی په ختو د ختينو مانيو په لوړو کې نه دی. که غواړې د وګړو تر ټولو شريف ووينې؛ نو پاچاه د ملنګ په جامه کې ووينه!»

بودا د نيپال شاه‌زيو، چې له پاچاهي‌مانۍ يې ملنګۍ، بشردوستۍ او ځان‌فنايۍ ته مخه کړه. په خراساني صوفيانو کې د بلخ د شاه‌زي ابراهيم بن‌ادهم (۱۶۰يا ۱۶۲س مړ) داستان د بودا له کيسې سره بشپړ ورته‌والی لري، چې د بلخ له پاچاهۍ يې لاسونه ومينځل او د حال څښتن ملنګ شو. له دې ټولو دلايلو څخه پوهېدای شو، چې په ځينو برخو کې د خراساني تصوف له هندي بودايي افکارو سره اشنايي شته.

د اسلامي نړۍ په لوېديځ کې د مصر سکندريه د نوي فلاطونيت د فلسفې مرکز و، چې بنسټيزه هسته يې د وحدت وجود ګروهه ګڼل کېده. پر دې سربېره د ايران په دښتو کې د زردُشتي، مسيحي نسطوري او نورو دينونو په پليونو کې د دوو ختيځو او لوېديځو پياوړو بهيرونو همدې ګروهو په يوۀ يا بل ډول ريښې ځغلولې وې. د لوېديځ ځينې پوهان چې د ختيځ فکري تاريخ يې مطالعه کړی دی، د دې اوضاع له ليدو دې پايلې ته رسېدلي، چې اسلامي تصوف د بودايي توکو او سکندريې د نوې فلاطوني مدرسې د افکارو ګډوله ده! ځکه تر ۱۵۰س وروسته مسلمان صوفيان په خانقاوو او د ځانګړو کورونو په ګوټونو کې له خلکو لېرې د زهد او اعتکاف په حالت کې ليدل کېږي. ان د خرقې اغوستنې دود هم له هندي بيکشو ډلې څخه راغلی او د تسبيحو اړول کارېدا هم تر نهمې زېږدې پېړۍ وروسته په اسلام کې دود شوي دي، چې هغه هم هندي ريښه لري.[2]

---

۱ - ګولډ زيهر در عقيدۀ اسلامی ۱۴۲.

۲ - عقيدۀ اسلامي ۱۴۶.

د ختیځپوهانو دا نظریات تر هغه ځایه چې له بودایي، نو فلاطوني او نورو فکري ښوونځیو سره د اسلامي تصوف په ورته‌والي پورې اړه لري، د ردولو وړ نه ده. ښایي د بشري فکري ښوونځیو او ان ادیانو په ځینو توکو کې ورته‌والی موجود وي؛ خو اسلامي تصوف ډېر زیات خپل دنننی پیاوړي توکي هم لري. هغه تصوف چې په مسلمانانو کې د دویمې لېږدې پېړۍ په منځ کې دود شو، له فکري او عملي پلوه یې له هندي او نوي فلاطوني تصوف سره د اختلاف ټکي او ډېر توپیر درلود.[1]

اسلام هغه دین و چې په عباداتو او معاملاتو کې یې د منځلارۍ سپارښتنه کوله، زهد، پرهېزګاري او ملنګي یې د منځلارۍ په حالت کې ساتل. د دې تر څنګ چې مسلمه موخه یې اخروي ژوند ګاڼه، د دې نړۍ ژوند او توکي یې هم له پامه نه غورځول. دا هماغه منځنۍ لاره ده چې ارسطو یې هم سپارښتنه کړې وه.

په دې اړه حدیثونه راوړل شوي، لکه:«لیس خیرکم من ترک الدنیا للاخرة ولا الاخرة للدنیا، ولکن خیرکم اخذ من هذه و هذه»[2] وایي په یوې غزا کې د نبي عليه السلام له ملګرو څخه یوه د سپرلۍ په حال کې یواځې دعا کوله، کله چې ځای ته ورسېد، نو په لمانځه بوخت شو. رسول‌الله ﷺ پوښتنه وکړه: نو د هغه خواړه او د سپرلۍ واښه څوک ورکوي؟ ویې ویل: موږ ټول! ویې ویل: نو تاسو ټول تر هغه غوره یاست![3]

سره له دې چې په قرآن‌کریم کې«تریدون عرض‌الدنیا والله یریدالاخرة»[4] راغلي وو او حضرت‌پیغمبر هم اخروي ژوند تر لنډ ژونده غوره ګاڼه، خو بیا یې هم له افراطي زهد او د تنګسې له ژونده منعه کړې وه.

---

[1] - فان‌کریمر او دوزي د اسلامي تصوف ریښه هندي ګڼلې، نیکلسن هغه له نوفلاطوني ریښې څخه ګڼلې ده. براون ګروهمن و چې تصوف د سامي دین پر وړاندې یو آریایي غبرګون دی؛ خو لاهوري علامه‌اقبال دا نظریات رد کړي او وايي چې دا ټول لاملونه هغوی په خپله وضع کړي. که چېرته هغه ټولې پېښې تحلیل کړو چې د هغو د رامنځ ته کېدو لامل شوي دي؛ وبه وینو چې د اسلامي هېوادونو د اتمې او نهمې زېږدې پېړۍ ځانګړي سیاسي، ټولنیز او عقلي حالات د هغو په رامنځ ته کولو کې اغېزناک وو. (فلسفهٔ عجم تر ۱۴۵ وروسته)

۲ - عیون‌الاخبار د ابن قتیبه ۳۷۵.

۳ - اعلام‌النبوة د الماوردي ۱۵۳، د قاهرې چاپ، ۱۳۹۱.

٤ - قرآن: انفال سورت، ٦٦ آیت.

د هغو ټولو مسلمانانو په اند زهد او ملنګي د دنیا له چارو سره په ټکر کې نه وه چې د پیغمبر له شریفې ناستې پاستې یې رڼا اخیستې وه. د پیغمبرﷺ له ملنګ خویو اصحابو څخه یو زبیر بن‌عوام و، چې د جنت زېرې یې ورکړی او له عشره‌مبشره‌وو څخه و؛ خو له هغهٔ د پاتې مالونو او ځمکو قیمت تر دوه پنځوسو ملیونو درهمو زیات و. د بصرې، کوفې، سکندریې او فسطاط پر ملکیتونو سربېره یې یواځې په مدینه کې یوولس کورونه درلودل.[1] همدا رنګه له عشره مبشره‌وو څخه بل کس طلحه بن‌عبیدالله د دېرش ملیونو درهمو ځمکو او مالونو او د نقدو دوو ملیونو دوو لکو درهمو څښتن و.[2] کله چې په (۳۷س= ٦٥٧ز) کال کې یو بل پرهېزګاره، ملنګ خویه او کم خرڅه صحابي خباب بن‌ارت په کوفه کې ومړ، په صندوق کې یې څلوېښت زره درهمه پراتهٔ وو.[3]

هغه زهد او تقوا چې د اسلامي تصوف تګلاره وګرځېده، له خدای سره د زړهٔ تړل، د آخرت چارې غوره ګڼل او اخروي ژوند و؛ خو په تعبدي، اخلاقي چارو او رهبانیت کې یې د مبالغې سپارښتنه نه کوله. مسلمانان یې د تنګسې ژوندانهٔ، دنیا پرېښودو او سخت ریاضت ته نه کښنول؛ رسول‌اللهﷺ به ویل چې بدن، مېلمه او ښځه په انسان حق لري.[4] نو وګړي به یې په لاصام من صام الابد[5] له همېشنۍ روژې منعه کول.

د خراسان صوفیان هم په دې لاره تلل، که لاسونه یې پر کار وو؛ نو زړونه یې پر یار وو. امام‌قشیري د خراسان د تصوف د مدرسې یو لوی غړی او د الرسالة لیکوال- د تصوف ډېر ګټور او جامع متن –دی، د هغهٔ په اړه نکل دی چې:

«وایي شېخ ابوسعید بن‌ابوالخیر میهني په نیشاپور کې استاد امام ابوالقاسم قشیري ته پیغام ولېږهٔ: اورم چې وخت لرې خو لاسوهنه په کې کوې! په کار ده چې لاسوهنه پرېږدې! استاد امام ځواب ورکړ، چې وخت مې په لاس کې دی، خو په زړهٔ کې نه.»[6]

---

۱ - طبقات د ابن سعد ۳/ ۷۷.

[2] - پورتنی اثر، ۳/ ۱۵۸.

[3] - پورتنی اثر، ۳/ ۱۱۷.

[4]- پورتنی اثر ۴/ ۹.

[5] - مسند احمد ۲/ ٦۴.

[6] - منتخب اسرارالتوحید ۹۱، د تهران چاپ، ۱۳۲۰ل.

په دې ډول اسلامي زهد او قلندر مزاجۍ د بودا له پلیونۍ، مسیحي رهبانیت او نورو سره توپیر درلود. ډېر مسلمان مجاهدین وو چې په عراق کې د زیات زهد او عبادت له امله په عباد مشهور وو. د غازیانو یوې ډلې چې په عثماني پېر کې یې د آذربایجان په سوبه کې ګډون وکړ، د عبادت لپاره یوې څنډې ته لاړل.[1] دا د هغۀ زهد او کم‌خرڅۍ کچه وه چې د اسلام د صدر مسلمانانو درلوده. د دې مهال صوفیانو هم په ډېره څېرتیا سره د قرآن او سنتو پلیون کاوۀ او که چا به په دې زهد او کم‌خرڅۍ کې زیاتې کاوۀ، هغه یې نه خوښاوۀ. له اصمعي (۲۱۶س= ۸۳۱ز مړ) روایت شوی چې د هغۀ د یوۀ هممهاله فقیه په مجلس کې د زړو خیرنو جامو اغوستونکو یادونه وشوه، فقیه وویل: زه نه پوهېږم چې ناپاکي دې د دین برخه وي.[2] ځکه نو مسلمانو صوفیانو د شریعت او تصوف تر منځ د برابرۍ او سمون هڅه کوله.[3]

## صوفیان په خراسان کې

لومړنی سړی چې په اسلام کې صوفي وبلل شو، د شام اوسېدونکی کوفي ابوهاشم عثمان بن‌شریک (۱۵۰س= ۷٦۷ز مړ) دی، چې سفیان ثوري (۱٦۱س= ۷۷۷ز مړ) یې په اړه وایي: زه تر هغۀ مهاله نه پوهېدم چې صوفي څه وي؟ چې صوفي ابوهاشم مې ولیدۀ.[4]

قشیري او ابن‌خلدون وايي د صوفي او تصوف د اصطلاح څرک تر ۲۰۰س= ۸۱۵ز د مخه و. جاحظ (۱٦۳- ۲۵۵س) په «البیان‌والتبیین» کې لومړی ځل د صوفیه نوم اخلي او وايي چې د عابدانو (نساکو) له ډلې څخه دي. د مکي په «اللمع و قوت‌القلوب» کې راغلي دي چې حسن‌بصري (۲۰- ۱۱۰س) د صوفي کلمه کارولې وه، ان حافظ ابونعیم په حلیةالاولیاء (۱ټ،۲۰مخ) کې لیکي چې حضرت امام جعفر صادق ویلي: هر څوک چې د رسول څرګندې کړنې خپلې کړي، سني او چې یې پټې خپلې کړي صوفي دی.[5]

که موږ د پورتنیو روایتونو له مخه د تصوف تاریخ تر ۱۰۰س شاوخوا پورې هم

---

[1] - طبقات د ابن سعد ٦/ ۱۱۱.

[2] - عیون الاخبار ۳۵۵.

[3] - ګولډزیهر در عقیدۀ اسلامی ۱۵٦ د رسالۀ قشیریه په حواله.

٤ - طبقات‌الصوفیة، د انصاري ۷.

۵ - مصباح‌الهدایة، سریزه ۹۰.

وړاندې بوځو، نو هم وينو چې د دې فکري خوځښت په رامنځ ته کولو کې خراسانيانو پياوړې لاس درلودلی دی. په دې معنی چې حسن‌بصري (لکه په دوهم څپرکي کې چې مو ويلي دي) په سيستان کې اوسېدلی و؛ نو هرومرو د دې سيمې له عقلي بهيرونو بشپړ خبر و.

دوهم پوهېږو چې په همدې وخت کې ډېر ربتيني او مشهور صوفيان موجود وو. ان د پخوانيو صوفيانو په لومړني پوړ کې څو کسه خراساني‌صوفيان وو، چې د دې لارې له مخکښانو څخه ګڼل کېدهٔ، لکه:

۱- فضيل بن‌عياض تميمي خراساني: د مروې د فندين کلي و چې په سمرقند کې زېږېدلی (۱۰۵س= ۷۲۳ز) او په ابيورد کې رالوی شوی و.[۱] يو مهال د مکې شيخ الحرم، محدث او لوی عابد و. په ۱۸۷س= ۸۰۲ ز کال کې په کوفه کې مړ دی.[۲]

۲- ابراهيم بن‌ادهم: د بلخ له شاه‌زيو څخه او پلار يې د خراسان پاچاه و، چې د بلخ پاچاهي مانۍ يې پرېښوده، درويش مزاجي يې غوره کړه او له لويو اسلامي صوفيانو څخه شو. د روم په سوفنن کې په ۱۶۱س= ۷۷۷ ز کې مړ دی.[۳]

۳- بشرحافي بن‌حارث: له آره د مروې د بکرد BAKRID کلي خو په بغداد کې مېشت و. په ۱۵۰س= ۷۶۷ز کې زېږېدلی او په ۲۲۷س= ۸۴۱ ز کې په بغداد کې مړ دی.[٤] لوی محدث او زاهد و.

۴- عبدالله بن‌مبارک مروزي: لکه د مخه مو چې ويلي، د خراسان له زاهدانو او محدثانو څخه و او په (۱۸۱س= ۷۹۷ز) مړ دی. پر نورو فقهي او علمي آثارو سربېره د کتاب‌الزهد والرقائق مؤلف دی، چې خطي نسخې يې په لېزيک، فاس او سند کې دي.[٥]

۵- شقيق بن‌ابراهيم بلخي: له خراساني نوميالیو او لومړنی کس دی چې په خراسان

---

۱ - طبقات‌الصوفية، د سلمی ٦، د قاهرې چاپ، ۱۹۵۳ز.

۲ - الأعلام ۵/ ۳٦۰.

۳ - پورتنی اثر ۱/ ۲۴.

٤ - طبقات سلمی ۴۰.

٥ - بروکلمان ۳/ ۱۵۳.

کې يې د احوالو د علم په اړه بحثونه وکړل، ابراهيم بن‌ادهم يې ليدلی و[1] او په ۱۹۴س= ۸۱۰ز کې د ماوراءالنهر د کولان په غزا کې شهيد شو.[2]

۶-ابوزيد طيفور بن‌عيسی بن‌سروشان مجوسي بِسطامي: د خراسان د بِسطام او تر ټولو لوی پخوانی صوفي دی، چې پر وحدت وجود او فنا گروهمن و. پليوني يې طيفوريه او بِسطاميه نوميږي. په ۱۸۸س= ۸۰۳ز کې زيږېدلی او په ۲۶۱س= ۸۷۴ز کې په بِسطام کې مړ دی.[3]

۷- حاتم اصم بن‌عنوان بلخي: په زهد مشهور د خراسان له پخوانيو شېخانو څنې دی. په ۲۳۷س= ۸۵۱ز کې په واشگر کې ومړ. له شقيق بلخي سره يې ليدلي دي او د احمد خضرويه استاد و.[4]

۸- ابوحامد احمد بن‌خضرويه بلخي: د "درجات‌المقبلين" مؤلف دی، په زهد او مېړانه کې مشهور و (۲۴۰س= ۸۵۴ز مړ) چې انصاري يې په خپل طبقات (۸۲مخ) کې يادونه کوي.

۹- ابوحفص عمرو بن‌سلم حداد د نيشاپور د کوردآباد اوسېدونکی و، له هغهٔ ځايه بخارا ته لاړ او په ۲۶۴س= ۸۷۷ز کال کې ومړ.[5]

۱۰- حمدون قصار نيشاپوري بن‌احمد: د ملامتيانو شېخ (۲۷۱س= ۸۸۴ ز مړ) د نيشاپور په حيره مړيستون کې ښخ، د سفيان ثوري پر مذهب و.[6]

۱۱-منصور بن‌عمار: د مروې د دندانقان و، په بصره کې له عالمانو شېخانو څخه شو.

۱۲-ابوتراب عسکر بن‌حصين د خراسان له ډېرو لويو زاهدانو او توکليانو څخه و، چې په صحرا کې ځناورو وخوړ. (۲۴۵س= ۸۵۹ز)[7]

---

[1] - سلمی ۶۱.

[2] - الأعلام ۳ /۲۴۹.

[3] - پورتنی اثر ۳/ ۳۳۹.

[4] - سلمی ۹۱.

[5] - طبقات انصاري ۹۷.

[6] - الأعلام ۲/ ۳۰۵.

[7] - طبقات انصاري ۷۶.

له دې صوفيانو څخه ځينې د خراسان، عراق او عربو په سيمو کې گرځېدل راگرځېدل او د صوفيتابهٔ جرړې يې خپرولې. په درېيمه او څلورمه پېړۍ کې د هغوی نظريات ډېر لوړ پوړ ته رسېدلي او خپارهٔ وو. د اسلامي تصوف دوو مشهورو ښوونځيو- په نيشاپور کې خراساني‌ښوونځي او د بغداد ښوونځي- يې له نظرياتو او افکارو گټه اخيستې وه.

ماسنيون وايي: دا صوفيان ممثلان او بېلگې وې، چې د اسلام د لويو مفکرينو د ژونديو څېرو استازي يې کوله. علامه‌اقبال وايي: اسلام يې په ښکليتابهٔ او بشپړتابهٔ سره سينگار کړ، د لوړ انسانيت او نړيوالې وروروليۍ ساه يې په کې وپوکله، په داسې حال کې چې په اسلام کې فقيهان او واعظان داسې نه وو.[1]

تر هغه ځايه چې پوهېږو: مسلمانانو د نبوت او اصحابو له پېره عملاً د زهد او عابدۍ ميراث درلود؛ خو د زهد په اړه لومړنی کتاب همدې خراساني صوفيانو او عالمانو وکېښ، چې له هغې جملې د خراسان مشهور محدث او زاهد عبدالله بن‌مبارک مروزي (۱۸۱س= ۷۹۷ز) کتاب‌الزهد والرقائق،[2] سهل عاصم کتاب زهد[3] او مروي الاصل امام احمد بن‌حنبل- چې پلار يې د سرخس والي و او په خپله د حنبلي مذهب بنسټگر دی- هم کتاب‌الزهد تأليف کړی و.[4]

د خراسان مدرسه چې وروستی امام يې په نيشاپور کې ابونصر سراج طوسي (۳۷۸س= ۹۸۸ز مړ) و، د تصوف په تلپاتې کتابونو او آثارو ليکلو شهرت لري. د دې ښوونځي پليونو د صوفيانو لوی ادبي ميراث راپرېښی دی، لکه اللمع د سراج او طبقات‌الصوفيه د ابوعبدالرحمن سلمی (۴۱۲س= ۱۰۲۱ز مړ) او الرسالة القشيريه د عبدالکريم بن‌هوازن قشيري (۴۶۵س= ۱۰۷۲ز مړ) او پارسي کشف المحجوب د هجويري غزنوي (۴۹۰س= ۱۰۹۶ز شاو خوا مړ).

[1] - فلسفهٔ عجم د علامه اقبال، اردو ژباړه تر ۱۳۴ وروسته، د دکن حيدرآباد چاپ، ۱۹۴۶ز.
[2] - بروکلمان ۳/ ۱۵۳.
[3] -طبقات انصاري ۲۰۷.
[4] -الأعلام ۱/ ۱۹۲.

خو د بغداد مدرسه چې امام يې جنيد بن‌محمد (۲۹۷س= ۹۰۹ز مړ) و، د تصوف د افکارو د څرګند تبليغ ځای وګرځېد. د دې مدرسې د هڅونې چلن وينايیز او منبري و. د هرات پير خواجه عبدالله انصاري وايي: جنيد لومړنی سړی دی چې د تصوف علم يې مرتب او خپور کړ. هغه د دې ډلې استاد او لومړنی سړی و، چې پر منبر يې په ډاګه د تصوف خبرې وکړې.[1]

د صوفيانو د پرګنو او سلوک د کتابونو د تأليف خوځښت هم د خراسانيانو له لوري تر ۲۰۰س= ۸۱۵ ز وروسته په عربي ژبه کې پيل شو. د ساري په ډول محمد بن‌علي ترمذي حکيم (۲۵۵س= ۸۶۸ ز شاوخوا مړ) د صوفيانو په پرګنو کې تاريخ مشايخ وکېښ،[2] ابوبکر محمد بن‌داؤد نيشاپوري (۳۴۲س=۹۵۳ز مړ) د «اخبارالصوفيه والزهاد»[3]، احمد بن‌محمد زکريا زاهد نسوي خراساني (۳۹۶س= ۱۰۰۵ز مړ) تاريخ الصوفية[4] او د خراسان شېخ ابوبکر محمد بن‌عبدالله (۴۰۰س= ۱۰۰۹ز شاوخوا) هم د صوفيانو تذکره ليکلې وه.[5] ابراهيم بن‌احمد مستملي بلخي (۳۷۶س= ۹۸۶ز مړ) هم د معجم الشيوخ څښتن دی.[6]

بيا تر وروستيو پېړيو پورې د صوفيانو په ډلو او پېژندګلويو کې ډېر لوی او قيمتي کتابونه په ختيځو ژبو او عربي کښل شوي دي، چې په دري او پښتو کې يې هم ډېر کتابونه شته.

په دې کتابونو کې د خراسان د صوفيانو د ويناوو او افکارو ډېر جمل (ابجد) او وجيزې راوړل شوې دي، چې په طريقت، سير او سلوک کې د وروستيو صوفيانو د کار بنسټ دی. په عربي، دري او پښتو ژبه کې د صوفيانو د ادب يوه ډېره قيمتي، غوره او په زړه پورې زېرمه شته چې يقيناً د خراسان د فکر په تاريخ کې ډېر اهميت لري او بې له هغو د خراسانيانو فکري او عقلي اړخونه څېړل او پلټل نه‌شي کېدای.

---

[1] - طبقات انصاري ۱۶۳.

[2] - کشف المحجوب د هجويري ۵۳، د سمرقند چاپ، ۱۳۳۰س.

[3] - اللباب ۱/ ۴۹۰.

[4] - طبقات‌الشافعيه، د سبکی ۲/ ۹۷.

[5] - طبقات انصاري۳۱۳او ۳۷۴.

[6] - معجم‌المصنفين ۳/ ۳۹.

لکه چې ومو ویل، په اسلامي تصوف کې چې بنسټ یې پر کتاب، سنت او منځلاري زهد ایښودی شوی و او د وخت په تېرېدو نور هندي، یوناني، زردُشتي، مسیحي او نور توکي ورسره ګډ شول، لاندینۍ ځانګړنې موندلای او د هغو له مخه د صوفي رښتینی روح درک کولای او تشخیصولای شو:

۱- د بېلابېلو اسلامي ډلو تر منځ سوله او جوړجاړی او د یوې انساني او اخلاقي وروروليٰ ټینګول.

۲- د فکر او ګروهې د آزادۍ پالنه او د آزادۍ او پراخ‌نظرۍ پر بنسټ فکر پالنه.

۳- لوړو او ګټورو اخلاقي زده‌کړو، غوره بشري صفاتو او نوع پالنې ته هڅونه.

۴- د متکلمو قشریانو، فقیهانو او فیلسوفانو وچې زده‌کړې په نویو لوړو افکارو او پوهې بدلول؛ نو هغه څوک چې د قشر او سپورتیا له نړۍ څخه تښتېدل د عرفان او تصوف پر درشل یې د اېلتیا ټنده مښودله.

۵- د رښتیني ایمان او روح آرامي رامنځ ته کول، چې د بحث، فلسفې او کلام په نړۍ کې نه پیدا کېږي.

۶- د ځواکمنو، روحاني ریاکارانو، لارورکو شېخانو، ټولنیزو غولوونکو او په دیانت ځانښودونکو د ریاکارۍ، غولونې، تېري او لویۍ پر وړاندې سمونیزه مبارزه.

۷- د سربښندنې، سخا، توکل او نورو ټولنیزو ښېګڼو زده کول او ورته هڅول.[1]

نو د لومړیو دوو اسلامي پېړیو صوفیان د لوړو اخلاقو، ښۀ نظر، سربښندنې، بشرپالنې او ډېرو نورو غوره ځانګړنو خاوندان وو، چې په ټولنیزو پرګنو او مذهبي ډلو کې یې د همدې لوړو اخلاقو او ښۀنظر له امله ځانګړې درنښت خپلاوۀ.

هغوی د زورورو د ظلم و خپلسرۍ، د بډایانو او د پانګې د مینه‌والو د لويۍ او ټولنیزو ناوړو اخلاقو پر ضد مبارزه کوله. په ښو کړنو، ښو ګڼنو او غوره چلن یې د ولس پاملرنه رااړولې او درنښت یې تر لاسه کړی و. وګړو به د صوفیانو اخلاق او ویناوې وړاندې کولې او ځان ته یې د انساني ښو اخلاقو لویه بېلګه ګرځولې وه.
مولانا جلال‌الدین بلخي دې سپېڅلي مسلک ته نغوته کوي چې:

---

[1] - مقدمه مصباح‌الهدایة د استاد همایي، په لنډون، تر ۹۶ وروسته.

شهره کاریزیست پر آب حیات　آب کس تا بر دمد از تر نبات
آب خضر از جوی نطق اولیاء　میخوریم ای تشنۀ غافل بیا

(مثنوی)

پر تصوف ځينې نيوکې هم شته، چې دا چلن د اسلامي ملتونو د گوښه‌والي، دنيا پرېښودنې، تېتال، ذلت‌منښې او سستېدنې لامل وگرځېدۀ، يا د تصوف د خپرېدو وروستی لامل هغه ماتې وه چې مغولي تاړاک مسلمانو ملتونو ته ورکړه؛ نو له دنيا وتښتېدل او په نامادي او معنوي نړۍ بوخت شول.

زما په اند رښتينی اسلامي تصوف چې سرچينه يې د کتاب و سنت خوتېدونې چينه وه او پردۍ گډولې يې نه درلودې، د اسلامي ملتونو د ځوړ او تېتال لامل نه دی گرځېدلی، ځکه منفي توکي په کې لږ وو. د جهاد روح او د ژوندانۀ امن يې نه واژۀ. لکه چې ومو ويل بنسټ يې پر رهبانيت، دنيا پرېښودنې او له ټولنې پر گوښه‌توب نه و ايښودی شوی، بلکې يو ډول منځنی زهد و، چې د دين له چارو، ژوندانۀ او دنيا او اخرت سره يې سمون درلود.

خو وروستۍ گډولې چې له نورو ملتونو سره د گډون له امله په تصوف کې رامنځ ته شوې، د تصوف د اسلامي ماهيت د تغيير لامل وگرځېدۀ او د رهبانيت، گوښه‌توب او ټولنيز روح د فنا توکي يې په کې ورننه ايستل. دا نوې گډونې يقيناً چې له رښتيني اسلامي روح سره په ټکر کې وې او په منفي توکو يې د اسلامي ملتونو بنسټ کمزوری کاوۀ. لکه چې د خراسان له صوفيانو يو لوی امام ابونصر سراج‌طوسي (۳۷۸س مړ) په خپل کتاب اللمع کې د خپل پېر د ځينو صوفي ډوله کسانو گډونې او تېروتنې په تفصيل سره شمېرلې او په هغۀ کتاب کې يې دې موضوع ته ځپرکي ځانگړي کړي دي.[1] څرنگه چې د دې بحث شرحه او تفصيل په وروستيو پېړيو پورې اړه لري، خپل ځای ته يې پرېږدو.

## په دوو لومړيو پېړيو کې د تصوف توکي

په دې پېر کې د تصوف علم په فني ډول ترتيب او منظم شوی نه و، په درېيمه او څلورمه پېړۍ کې ورو ورو ترتيب او د بابونو کار يې بشپړ شو، تر دې چې د ۴۴۸ او ۴۷۵س کلو تر منځ شيخ الاسلام عبدالله انصاری هروي هغه په هرات کې ډېر منظم

[1] - وگ: اللمع تر ۵۱۱ وروسته.

فني ترتيب کړ. د صوفي د سير او سلوک پړاوونه يې پر لسو درجو وويشل. هرې درجې لس مقامونه درلودل او ټول پړاوونه يې سلو ته رسېدل.[۱] د انصاريصد ميدان کتاب په دري ژبه د هغو شرحه ده.

خو په لومړيو دوو اسلامي پېړيو کې د صوفيانو ډلې له ځينو ګروهيزو او اخلاقي بنسټونو سره د مسلمانانو په ټولنو کې د لوړو زاهدانو او پرهېزګارانو په توګه ژوند کاوۀ، ذنو د خراسان صوفيانو هم هغه بنسټونه درلودل، چې موږ پرې لنډې خبرې کوو.

پخوانيو صوفيانو په خپل سير او سلوک کې مقامونه او حالونه درلودل. مقام هغه ځای و چې بنده پر الله د انقطاع په لاره کې هغۀ ته رسېدۀ، لکه عبادتونه، مجاهدې او رياضتونه. ابوبکر محمد بن‌موسی واسطي فرغاني (په مروه کې تر ۳۲۰س وروسته مړ) چې د خراسان له مشهورو صوفيانو څخه دی، ويلي وو چې: مقامونه توبې، پرهېزګاری، زهد، فقر، صبر، رضايت، توکل او داسې نورو ته وايي.[۲]

خو حال دا دی چې زړۀ ته ننوځي او يا زړۀ ورننوځي چې لامل يې د اذکارو خلوص وي؛ خو حال د هڅو، عبادتونو او رياضتونو، لکه د مقام غوندې د مراقبې، قرب، محبت، خوف، رجاء، شوق انس، مشاهدې، يقين او نورو له لارې نه تر لاسه کېږي.[۳]

په پخوانيو صوفيانو کې مقامونه له توبې او حالونه له مراقبې څخه پيلېدل. د خلوص څښتنانو پر کتاب‌الله د پوهېدو او عمل کولو هڅه او د نبوي اسوه حسنه پليون کاوۀ، تردې بريده چې په هغۀ کې هيڅ نکته هېره نه کړي. په دې اړه د خراسان د صوفيانو بېلګه‌يي کړنه دا وه چې يوه ورځ بايزيد بِسطامي (۲۶۱ يا ۲۳۴ س مړ) د پرهېزګارانو د يوۀ مخور ليدو ته لاړ. هغه چې له کوره جومات ته راغی، د خولې ناړې يې قبلې لوري ته تف کړې، بايزيد پرې سلام وانه چاوۀ، بېرته راستون شو او ويې ويل: دې سړي چې د الله د رسول له آدابو يې يو په پام کې ونه نيوۀ؛ نو د وليانو

1- منازل‌السايرين، د انصاري هروي، د قاهرې چاپ،۱۹۶۲ز.

2- اللمع ٦٦.

مقامات به څه په پام کې ونیولای شي؟[1]

د تصوف له ډېرو مهمو توکو څخه آداب وو، چې هغه یې په تېره د صوفیانو آداب ګڼل. د خراسان له پخوانیو صوفیانو څخه عبدالله بن‌مبارک مروي به د هغو په اړه ویل: موږ د صوفیانو ټولی له ډېرو زیاتو علومو څخه ډېر لږ ادب ته لاډېر اړ یاستو.[2] هغوی په عبادتونو لکه لمانځهٔ، روژې، زکات او په ژوندانهٔ لکه خبرو، خوړو، سفر، جامو او نورو دیني او ټولیزو چارو کې ځانګړي آداب درلودل، چې د خراسانیانو په ټولنیز ژوندانهٔ او فکري بهیر کې یې غوره ښېګڼې رامنځ ته کړې. لکه ابراهیم بن‌ادهم بلخي چې یادونه یې د مخه تېره شوه د ژوندانهٔ د وسایلو په تر لاسولو کې د تصوف پر ادابو دومره ټینګ و چې لَو او بنوالي یې کوله؛ خو تر لاسه کړې اجوره به یې پر خپلو ملګرو لګوله.[3]

وایي ابوعلي رباطي د خراسان له یوهٔ پخواني‌صوفي عبدالله مروزي سره د سفر ملګری و، عبدالله ابوعلي وپوښت، چې په موږ کې به کوم یو د سفر امیر وي؟ ابوعلي وویل: تاسو! عبدالله وویل: نو باید زما امر ومنې! ابوعلي ځواب ورکړ: لاس په نامهٔ یم! عبدالله خپله توښه په ځولۍ (توبره) کې کښېښوده او پر غاړه یې کړه. ابوعلي وویل: تاسو امیر یاست! دا ماته راکړه! خو عبدالله وویل: ایا زه امیر نه یم، امر منه!

په دې سفر کې د شپې باران اورېدهٔ، عبدالله ابوعلي کښېناوهٔ، تر ګهیځه یې پرې پرده نیولې وه چې له بارانه یې وژغوري. ابوعلي چې هرڅومره ټینګار وکړ چې دا کړاو مه ګاله، خو عبدالله وویل: زه امیر یم او تاسو امر منونکي! چې ملګری دې وي تل له هغه انسان سره داسې کوه![4]

دا د دوو مروي خراساني صوفیانو د ژوندانهٔ د آدابو دوې بېلګې وې چې د صوفیانو د سرښندنې او ځان تېرېدنې لوړ اخلاق ترې اټکلولای شو.

کله به د ډېر سخت، پیاوړي او احساساتي‌شوق په حالت کې‌د صوفیانو له خولې

3- پورتنی اثر، ۱۴۵.

[2] - پورتنی اثر، ۱۹۵.

[3] - پورتنی اثر، ۲۳۶.

[4] - پورتنی اثر، ۲۳۷.

هېښنده او ناوياتې وتلې، چې شطحيات بلل شوي دي. په ځرگنده به ناوړه او په باطن کې به سم او سيده وو. د خراسان په صوفيانو کې ډېر شطحيات بايزيد بِسطامي ته منسوب دي. وايي په شطح کې هغه څوک غورځېږي چې په پيل کې وي. ځرنگه چې دا پيلامه د بشپړېدو او پای ته رسېدو لپاره ده؛ نو مطلوبه او غوره ده. حضرت جنيد بغدادي ځکه هڅه کړې چې د بسطامي ځينې شطحيات تعبير او راوسپړي[1] همدا شی د صوفيانو په اړه د اهل ظاهرو د ناسم پوهاوي او ناوړه کتنې لامل هم گرځېدلی دی.

د تصوف د پيدايښت او توکو په اړه د لاهوري علامه اقبال شرحه ډېره گټوره ده، چې زه يې دلته لنډيز او نچوړ راوړم، هغه وايي:

« په اسلامي عقليت کې د گومان لېوالتيا له بشار بن‌برد (تخارستاني) څخه پيل شوه، هغه شکمن ړوند و، چې ان اور ته يې د الوهيت درجه ورکړه. له دې ځرگندېږي چې د نيول شويو ملتونو په عقليت کې د گومان توکي نغښتي وو او له ناآريايي فکري لارو يې کرکه درلوده.

د وچو ديني ډلو رامنځ ته کېدل، چې د فکر د آزادۍ مخالف وو او هغه مذهبي تربگنۍ چې په عباسي پېر کې پيدا شوې، په تېره د اشاعره‌وو سپورو ترخو مناظرو او د عقليت پلويانو، په خلکو کې داسې ساه وچلوله، چې تر دود شخړو ډېره پورته ده. همدا شرايط وو چې تصوف وده وکړه.

په سامي ملتونو کې يې د خلاصون لاره په دې کې گڼله چې: انسان خپله اراده بدله کړي، ځکه نو هغوی اراده د انساني روح جوهر بالۀ؛ خو د هغۀ پر عکس هندي ويدانت ښودنه کوله، چې د انساني غمونو يواځينۍ وسيله دا ده چې د ناسمو کاينانو په اړه يې فکر کړی دی. بايد د خپل خلاصون لپاره عقل بدل کړي او د انسان په ماهيت او اصليت فکر وکړي، نه د هغۀ په کړنو او اراده.

خو صوفي په دې منځ کې بل څه ويل: انسان د ارادې يا عقل په بدلولو سره د

[1] - پورتنی اثر، تر ۴۵۸ وروسته.

هوساینې درجې ته نهٔشي رسېدای، بلکې باید د خپل احساس د بشپړې تصفیې په وسیله عقل او اراده دواړه بدل کړي. ځکه دا دواړه د همدې احساس بېلابېلې بڼې دي. نو د صوفي پیغام دا و چې له ټولو سره مینه وکړه! د نورو د ښېګڼو لپاره خپل ځان هېر کړه، مولانا بلخي وایي:

دل به دست آور که حج اکبر است     از هزاران کعبه یک دل بهتر است

د دې مهم لیدلوري لپاره چې د ارادې لارښوونه او د عقل هوساینه وکړي، په تصوف کې سیده لاره شته.

سامي دینونه غوره چلنونه وړاندې کوي؛ خو هندي ویدانت د فکر وچ نظام دی. تصوف هڅه کوي چې د مینې تر عام نظام لاندې، سامي او آریایي اصول سره ملهٔ او همږغي کړي. له یوهٔ لوري یې بودایي نروان (فنا) راخپل کړی او د هغهٔ په رڼا کې په مابعدالطبیعه نړۍ کې یو نظام جوړوي؛ خو له بل لوري له اسلام سره هم اړیکي لري او د کایناتو په اړه خپل نظر په قرآني جواز ثابتوي.»

اسلامي تصوف په داسې خاوره کې پیدا شوی چې د جغرافیایي موقعیت له پلوه هم د سامي او آریایي دینونو تر منځ پرته وه او د دواړو اړخونو نخښې یې راجذب کړې دي؛ خو اصلي رنګ یې ډېر تېز و، چې دواړه یې په خپل ځانګړي رنګ ورنګول؛ نو باید وویل شي چې د دې خوځښت ریښه تر سامي زیاته آریایي ده!

د تصوف د پیاوړتیا او ځواکمنۍ لامل دا دی چې د انساني فطرت په اړه انسان ته یوه ټولیزه او بشپړه نظریه ورکوي. که څه هم پیلامه یې له ځانپالنې انکار دی؛ خو د خیال و فکر د آزادۍ د لارې خنډ هم نه دی.

سره له دې چې په قرآن او سنت کې د باطني علم په اړه څه رڼښت نهٔشته؛ خو د بقرې سورت په ۱۴۶ آیت کې راغلي چې د الله پیغمبران د کتاب و پوهې درس ورکوي. له دې څخه پوهېږو چې په قرآن او حدیثو کې حکمت او تصوف ته نغوتې وې؛ خو عربو عملي ساده روح درلود؛ نو دې مطلب ته یې پراختیا ورنه کړه. څرنګه چې ورته په نورو هېوادونو کې وړ چاپېریالونه پیدا شول؛ نو د تصوف په نامهٔ راڅرګند شو.

صوفیانو د انساني روح د پرمختګ او د نړۍ له پیلامې سره د یووالي او پیوستون لپاره څلور پړاوونه په پام کې نیولي دي:

۱- پر غيبو ايمان.

۲- د غيبو پلټنه: يعنې د الله تعالى د ښكارندو په ليدنه كې د پلټنې او څېړنې روح راويښول.

۳- د غيبو پېژندنه: دا هغه مهال شونې ده، چې انسان په خپل پېچلي جوړښت كې د ژور سوچ هڅه وكړي.

۴- د څېړنې درجه: چې د پوهې، برابرۍ او ښېګڼې لوړې مرتبې دي.

په ماوراءالطبيعه مسايلو كې له پخوانيو صوفيانو سره د اخري حقيقت په اړه درې فكره وو:

۱- حقيقت شعوري ارادې ته ويل كېږي. دا فكري ښوونځي- چې پخواني بلخي صوفيان لكه شقيق او ابراهيم ادهم يې استازي دي- وروستى حقيقت اراده ګڼي، چې كاينات يې د فعليت محدود پړاوونه دي. په دې فكري ښوونځي كې د توحيدي نظر ټكى غالب او زياتره سامى دى. اركان يې په علمي مسايلو نه راڅرخي، بلكې پرهېزګاري، له دنيا سره نه اړيكي او له الله سره ژوره زړه ترنه په پام كې لري، ژوند پر هغو برابروي، نو ځكه له فلسفيتوب څنګ كوي.

۲- د نهمې زېږدې پېړۍ په سر كې حضرت معروف كُرخي د تصوف په اړه ويل چې هغه د رباني حقايقو تعقل دى. له دې څرګندېږي چې په دې وخت كې د پوهې په لور د ايمان يو خوځښت پيل شوى و.

د دې فكري ښوونځي غړو په تخليق كې د صدور هغه نظريه پرېښوده، چې نويو افلاطونيانو راوړې وه، وروستى حقيقت يې «د ازلي ښكلا خپرېدل» وګڼل او ويې ويل چې د تخليق موخه د ښكلا څرګندونه ده او مينه هم لومړنى مخلوق دى، چې د ښكلا رښتينولي د مينې په وسيله نړيواله كېږي:

شادباش ای عشق خوش سودای ما ای طبیب جمله علت های ما

(د مولانا بلخي مثنوي)

بايزيد بِسطامي (خراسانى صوفي) د همدې فكري ښوونځي له امامانو څخه دى چې كله به د عشق په همدې نړۍ كې د"جذب شخصى" په سوچ كې لوېدۀ او د وحدت وجود فكر ته به يې وده وركوله، ان چې حسين منصور حلاج په كې غلو او

افراط ته ورسېد.

د دې ښوونځي صوفيان وايي ازلي ښکلا په ټولو معنو نامحدوده ده، پيل و پای، ښي و کيڼ، کښته او پورته نه لري، له ټولو بندونو په بشپړ ډول آزاده ده.[1] نو په وروستي حقيقت پوهېدنه د فوق‌الحسي شعوري حالت په وسيله کېدای شي، په داسې حال کې چې دا وروستی واحد او ناشخصي حقيقت دی.

**۳-** درېيمه ډله يعنې اشراقي صوفيان، علامه‌اقبال«حقيقت د نُور په توګه» ښوونځي پلويان نوملي دي، چې نُور يا فکر د حقيقت جرړه ګڼي او دا مطلب د يوۀ صوفي شارح محمدشريف هراتي د وينا له مخه داسې شرحه کوي:

« د ټولو موجوداتو اخري حقيقت د قاهر نور دی، يعنې هماغه مطلق نور چې په ماهيت کې يې پرله‌پسې رڼا نغښتې ده او هيڅ شی له دې نور څخه پټ نه دی، نو د دې نور ماهيت د هغۀ څرګندتيا ده.»[2]

څرنګه چې د اشراقي افکارو ترتيب او څېړکي په لومړيو دوو اسلامي پېړيو پورې- چې زموږ د بحث موضوع ده- اړه نه لري او تر هغه وروسته رامنځ ته شوي دي؛ نو له ډېرې شرحې يې تېرېږو او خپل ځای ته يې پرېږدو.

---

[1] - مقصد اقصی، د نسفی ۸ب خطي پاڼه.

[2] - شرح انواريه بر حکمت الاشراق، ۱۰مه خطي پاڼه، د برلين کتابتون. د دې بحث لنډيز د علامه اقبال له فلسفۀ عجم اردو ژباړې تر ۱۳۴ وروسته، د دکن حيدرآباد چاپ، ۱۹۴۶ز.

## د ډلو ادبي لوری

### او په اوسني او وروستني ادب یې اغېز

ادبي پنځونې او هغه آثار چې له فني پلوه رامنځ ته کېږي بېلابېل توکي لري، یو یې عقلي او فکري توکی دی، چې په پنځوونکي مزاج او چلنده ژبه کې رامنځ ته کېږي او د غوره هنري آثارو د پنځونې پخلی کوي.

دوهم: د ارواییي او خُلقي انساني ځانګړنو لکه زړورتیا، مېړانې، خواشینۍ، خوښۍ او نورو ځواکمنه او پیاوړې عاطفه ده، چې کله له تېرو روایاتو او د نیکونو له میراثونو سره تړون لري او هنري شهکارونه پنځوي.

په اسلامي ملتونو کې د مذهبونو او ډلو پیدایښت، د هغوی د فکري خوښۍ او عقلي زېږېدنې څرګندوی دی، چې دین، پخواني میراثونه، اقتصادي وضع، د ژوندانهٔ پوړۍ، سیاسي بهیرونه او د ملتونو ارواییي څرنګوالی هم په کې اغېزناک و، نو هره ډله او ټولی چې رامنځ ته شوی، بېلابېل اقتصادي، تاریخي او ارواییي لاملونه یې درلودل.

دې هر مذهب او ډلې د تاریخ په بهیر او د ملتونو په پرمختګ کې ژور اغېز لرلی او له هغې جملې د ځانګړي ادب په پنځېدا کې هم اغېزناک و.

په معتزله ادب کې د عقلي او فکري روښتیا پیاوړي توکي لیدل کېږي. هغوی پراخ او پلټونکی فکر درلود چې د طبیعي او ټولنیز ژوندانهٔ ګوټ ګوټ یې وپلټهٔ. په ادب کې چې یې څه رامنځ ته کړل، هغه د ثقافت او فرهنګ ارزښتناکه زېرمه ګڼل کېږي.

خو په شیعه ادب کې د عاطفي ډېر پیاوړي توکي لیدل کېږي، چې له خواشینۍ، غمونو او پر ستختیو او ستونزو له زغم څخه سرچینه اخلي. له تېري او تېريګرو کرکه، د مظلومانو پر حال ژړا او په پای کې د یوهٔ غایب ژغورندوی راستنېدا ته انتظار، غمجنې او هوساکوونکې نغمې زېږوي چې د یوهٔ غمځپلي انسان د ډاډېینې

لامل گرځي.

خو د خوارجو په ادب کې، زړورتیا، پیاوړتیا، د باطل پر وړاندې جنګ، له نامطلوب سره مبارزه، پر مبداء ټینګ پاتېدل او د حق د ټینګښت لپاره د توري رااېستل څرګند دي. مرجئه ادب له لهو و لعب، عیاشۍ او په خوندونو او شهوتونو کې د ډوبېدو له افراط سره د تمې د فکر او الهي بخښنې د هیلهمنۍ ښه زېرمه لري. جبریهوو هم د ختیځو ژبو پر ادب باندې د انسان د مجبورۍ ژور اغېز ښندلی دی؛ په داسې حال کې چې د وخت پر ادب و ثقافت باندې د صوفیانو د ډلې هم ژور او څرګند اغېز شته.

ادب د بشر د ژوندانۀ او فکري ټولنیز بهیر استازي کوي، په داسې حال کې چې موږ د ختیځو ژبو (عربي، دري، پښتو او نورو) پر ادب د دې فکري او ګروهیزو بهیرونو جوت اغېز وینو، د هغو له مخه په دې حقیقت پوهېدای شو چې د دې مذهبونو او ډلو ګروهو د وګړو پر ټولنیزو او اروايي تشکیلاتو ژور اغېز لرلی دی.

اوس د مطلب د څرګندتیا او زموږ تر بحث لاندې مهال د اروايي او فکري وضعې د روښانتیا لپاره د هغۀ مهال له ادب او پر وروستیو ادبیاتو یې د اغېز بېلګې وړاندې کوو:

**د خوارجو په ادب کې**

ټینګه ګروهه چې د وخت پېښې پرې اغېز ونه لري او ځانونه او مالونه یې په لاره کې وښندل شي، زغرده وینا او عمل، زړورتیا او د ډیموکراسۍ چلن چې امیر لکه د خپلو افرادو یو کس وګڼي؛ دا د خوارجو د ادب ځانګړنې دي. هغوی سم دود او روښانه لاره لري، که امیر عادل نه وي، لهمنځه یې وړي.

یو خارجي باید په بشپړ او سم ډول د کتاب او سنت د نصوصو په رڼا کې چلن وکړي او له تقیه ځان وژغوري. شخړې لهمنځه یوسي او پېښې د حضرت‌عمر بن‌خطاب ﵁ غوندې هوارې کړي، نه د عمرو بن‌عاص غوندې. زړورتیا، د څرګندې وینا بشپړ توان او په کوټلو الفاظو د معنو اداینه د خوارجو د ادب ښېګڼې دي.

د خوارجو ادب ځانګړی رنګ او له معتزلي او شیعي ادب سره توپیر لري. څکه

معتزلي ادب فلسفي دی، چې پیاوړې معنې په کې پالل کېږي. شیعي ادب هم د حق پر کمښت، د خواشینۍ او ژړا ادب دی. په دې خښمېدلی ادب دی چې ولې خلافت خپلو څښتنانو ته نه دی رسېدلی!

خو د خوارجو هغه، د سرښندنې ادب دی چې د ګروهې پر وړاندې ژوندانهٔ ته ارزښت نه ورکوي. د څرګند تعبیر ادب دی، فلسفیتوب په کې نه لیدل کېږي او د معتزله‌وو غوندې معنې نه پنځوي. دا هم خښمېدلی دی خو د شیعه‌وو د ادب په څېر نه، چې یوهٔ کس یا کسانو ته دې خښمېدلی وي، بلکې د دې ادب خښم د ګروهې او عام اسلام لپاره دی. که کله پر اشخاصو هم خښمېږي، هغه به هم د ګروهې په رڼا کې وي. خوارجو هم ویرنې ویلې او ژړاوې یې کړې دي؛ خو هغوی ژاړي چې وینې تویونې ته چمتو شي او په خپلو اوښکو ژوندي لویۍ ته زړور کړي. د هغو په ژوندانهٔ کې د ټوکو او چټیاتو څرک نهٔشته، ځکه خو د خوارجو په ادب کې د شرابو او خوند نخښه نه لیدل کېږي. جهاد او جنګ یې خوښ دی. مبرد وایي له درواغجن او ښکاره ګناهکار څخه په بشپړ ډول بېزاري څرګندوي.[1] د لویۍ په لاره کې د مرګ هرکلی هم په خوښۍ سره کوي. عمران بن‌حطان خارجي وایي:

لقـــد زاد الحيـــاة إلـــى بغضـــاً    وحبـــأ للخـــــروج ابـــــوبلال

أحـــاذر أن أمـــوت علـــى فراشـــى    و أرجو المـوت تحت ذرى العـوالى

«څرنګه چې مې د ابوبلال (مرداس بن‌ادیه) پاڅون خوښ دی، له خپل ژونده ناخوښه یم، له هغه مرګه تښتم چې په بستره کې راځي، غواړم چې تر لوړو څوکو لاندې ومرم»

عیسی بن‌فاتک خارجي دا ډله داسې ستایي:

هـــم الفئـــة القليلـــة غـــير شـــک    علـــى الفئـــة الكثـــيرة ينصـــرونا

أطعـــــتم كـــــل جبـــــار عنيـــــد    و مـــــا مـــــن طاعـــــة للظالمينـــــا

«هغوی کوچنۍ ډله ده، خو بېشکه پر لویې ډلې لاسبري کېږي، تاسو هر جبار کینه‌ګر ته غاړه ږدئ، په داسې حال کې چې د ظالم امر منل په کار نه دي.»

---

[1] - الكامل ٢/١٠٦.

د لهجې په داسې څرګندتيا او پياوړتيا سره د دې خلکو خبرې لکه د هغوی د غشيو غوندې تېرې او ژوبلورې؛ خو ډېرې اغېزناکې او کارنده وې. تر دې چې عبيدالله بن‌زياد به ويل:«د دې خلکو خبرې پر زړونو داسې ژر اغېز کوي، لکه په درګه کې اور.»

وايي يو ځل د خوارجو يو پوه او زبور کس اموي خليفه عبدالملک بن‌مروان ته راغی. خليفه چې د هغهٔ پوهه او هوښياري وليده، ورته ويې ويل چې له خپل مذهبه واوړه. خو دې خارجي ورته په زغرده او پخه وينا د خپل مذهب ښېګڼې وشمېرلې، چې عبدالملک يې هک‌پک کړ او ويې ويل: نږدې وو باور وکړم، چې جنت د همدې خلکو لپاره جوړ شوی دی.[1]

خارجيانو د داسې پياوړې روحيې، پياوړي احساس او څپاندې عاطفې په لرلو په خراسان او سيستان کې د هندوستان تر پولو پورې د خپل مذهب توغ هسک کړ او د امويانو او عباسيانو د حاکمانو او لښکريانو پرضد وجنګېدل. د هغوی خوځښتونو د دې خاورې د ولس د ملي پېژندنې د ساتنې پخلی وکړ، لکه په ۱۶۰س کې د يوسف‌البرم پاڅون، بيا په سيستان کې د خوارجو پرله‌پسې هڅې، د حمزه او نورو خوځښتونه چې تر دې د مخه مو په څو مخونو کې شرحه کړي دي. د دې کتاب د دريېم څپرکي په لسمه برخه کې چې د حمزه د کلک مقاومت په اړه رغېدو، د هارون‌الرشيد خليفه د ليک په مقابل کې مو د حمزه پياوړی او استدلالي ځواب وکېښ، چې له منځپانګې يې د نړه ګروهې سپېڅلي روح، د ظلم پر وړاندې درېدنه او دا دعوه ډېره ښه څرګندېږي، چې په خپله حمزه اميرالمؤمنين او د دې مقام مستحق دی.

په هماغه بحث کې مو د اميرحمزه له مجاهدانو د يوهٔ عربي شعر راوړ چې مطلع يې داسې وه: «أظن هارون و أشياعه + أنا نبيع الحق بالباطل...» الخ.

د دې شعر تفصيل د کتاب په هماغه څپرکي کې ولولئ، چې د افغانستان د هغه پېر د خارجي ادب ډېره پياوړې او قيمتي بېلګه ده. د هغهٔ د الفاظو او بيتونو له‌منځه، پياوړی روح، پياوړې اراده، په مسلک کې فناکېدل او د خارجي ادب ځانګړنې په ښه توګه موندلای شئ.

---

[1] - ضحی‌الإسلام ۳/ تر ۳۴۰ وروسته.

چې د ختیځو ژبو او په تېره د عربي او دري لمنه یې له پاچاه وړ مرغلرو ډکه کړه، پیاوړی غریزه یي ادب دی چې له پیاوړې عاطفې یې سرچینه اخیستې ده. څرنگه چې پارېدلې عاطفه تر ټولو مهمه ادبي سرچینه ده، که زغرده ژبه او ناصح بیان ورسره مل شي؛ نو ژوندی ادب او کوډگره وینا ترې جوړېږي.

په شیعه ادب کې دوې مهمې پیاوړې عاطفې نقش لري؛ یوه د قهر او خښم او بله د خواشینۍ او غم عاطفه. د دواړو هنري او ادبي پنځونو په زړۀ پورې او پاروونکې معجون ترکیب کړي چې توکي یې تویېدونکې اوښکې، ویرنه او ماتم دی. ان دا نروبې اوښکې چې د یوۀ رښتیني او مخلص شیعه له سترگو څاڅي، په عربي کې متل شوې چې:

ارق مـــن دمعـــة شـــيعية    تبكـي عـلي بـن أبي طالـب[1]

دا ادب خواشینوونکی، دردوونکی او غمجنوونکی دی، ځکه د خواشینۍ او غم له عاطفې څخه رازېږي، خو پاروونکی او کسات اخستونکی دی. په دې چې د خښم عاطفه په کې هم گډه ده او دا هغه خښم دی چې د حق پر ضیاع او د نبوي کورنۍ پر کړاو د دې تاریخي پېښې د عاملینو پر وړاندې رامنځ ته کېږي. د نبوي کورنۍ د دې کړاوونو یوۀ لیدونکي د هغۀ په اړه ویلي وو:

نحـن بنـى المصـطفى ذو محـن    يجرعهـــا في الحيـــاة كاظمنـــا
يفـــرح هـــذالورى بعيـــد هـــم    طـــــراً و أعيادنـــــا ماتمنـــــا

«موږ د کرېدلي مصطفی اولادونه یاستو، چې زموږ کاظم هغه په ژوندانۀ کې گاللي وو. وگړي په خپلو اخترونو کې خوشحالۍ کوي؛ خو اخترونه زموږ د ماتم وختونه دي.»

څرنگه چې د نبوي کورنۍ زیاتره امامان په خراسان کې وژل شوي دي، یا یې په دې سیمه کې ډېر کړاوونه گالل او وگړو هغه ناوړه اوضاع په خپلو سترگو لیدله، نو د شیعي ادب د پانگې مهمه برخه د دې خاورې محصول دی.

د ساري په توگه د ۱۷۴س= ۷۹۰ز کال شاوخوا دِعبِل خُزاعي د عربي ژبې شاعر

[1] - گولډزیهر در عقیدۀ اسلامی ۱۷۹، د میداني د مجمع الامثال په حواله، د بولاق چاپ قاهره، ۱/ ۱۷۹.

د سمنگانو او تخارستان والي و، چې هغه یې «د نبوي کورنۍ» شاعر گڼلی دی.[1] هغه د نبوي کورنۍ په ویرنو او ستاینو او د مخالفانو په غندنه کې ډېر شعرونه ویلي دي. په دې بلیغه غلو کې د علویانو پر وژنه ژړېدلی او د هغو د مظلومانو مړیستونونه یې یاد کړي، چې له هغې جملې د افغانستان د شمال په جوزجان کې د امام یحیی بن‌زید مړیستون دی:

ذکـرت محـل الربـع مـن عرفـات فاسـبلت دمـع العـین بـالعبرات
مـدارس آیـات خلـت مـن تـلاوة و منـــزل وحـــی مقفرالعرصـــات
دیـــار عفاهـــا جـــور کـــل منابـــذ ولم تعـــف بالأیـــام والســـنوات
قبـــور بکوفـــان و أخـــری بطیبـــة و أخـــری بفـــخ مالهـــا صـــلوات
و اخـری بـارض الجوزجـان محلهـا وقـــبر ببـــاخمری لـــدی العربـــات

یعنې« د عرفات یو ځای مې رایاد کړ، ډېرې اوښکې مې تویې کړې، ځکه په ښوونځیو کې د الهي آیاتو تلاوت نه و. د وحیې لاره له وګړو خالي وه، هغه کور چې زمانو نړولی نه و، د ظالمانو ظلم ونړاوهٔ. د کوفان، طیبه او فخ مړیستونونه در په زړهٔ کړئ، چې درود پرې نه ویل کېږي. همدا رنګه یو مړیستون د جوزجان په سیمه او بل په باخمري کې دی.»

دِعبِل بیا د اهل‌بیتو کړاوونه او محرومیتونه د هغو له خواشینیو او غمونو سره شمېري چې:

قفـا نسـأل الـدار التـی خـف أهلهـا متـی عهـدها بالصـوم و الصلوات؟
و أین الأولی شطت بهم غربة النوی أفـــانین في الأفـــاق مفترقـــات؟

یعنې« نو باید د هغه کور د حال پوښتنه وکړم، چې استوګن یې ډېر ژر لاړل، دا کور تر کومه په روژې او لمانځهٔ ودان و؟ چېرته دي هغه چې پردېسیو او بېوزلیو پرې وبلسل او د نړۍ ګوټ ګوټ ته یې خپارهٔ کړل؟»

اری فیـئهم فـی غـیرهم متقسـماً و أیـــدیهم في فیـــئهم صـــفرات
بنـات زیـاد فـی القصـور مصـونة و آل رســـول‌الله فـــی الفلـــوات

«د هغو ونډه د نورو تر منځه وېشلې وینم، په داسې حال کې چې په خپله

[1] - الفرج بعد الشدة، د تنوخي ۲/ ۱۰۵.

تشلاسي دي. د زياد لونې په لوړو مانيو کې ناستې دي؛ خو د پيغمبر اولاده په سوځندو دښتو کې لوغړيږي.»

دا وګړي څوک وو، چې پر روژې او لمانځۀ يې خپل کورونه ښکلل او د وحيې په کالۀ کې يې الهي کلام لوست؟ دعبل وايي:

هــم أهــل مــيراث النبــی إذا اعتــزوا وهــم خــير قــادات و خــير حــماة

« هغوی پيمغبري ميراثخوارۀ، غوره لارښودان او تر ټولو ښۀ ساتندويان وو.»

تر دې ځايه بولله د غمونو او خواشينيو د يادونې پر عاطفې ولاړه ده، خو بيا د قهر او خښم عاطفه راخوځيږي او شاعر خپل مخالفان کينه‌گر، درواغجن، تېروتي او ظالمان ګڼي:

و ماالنــاس إلا حاســد و مكــذب ومضـــطغن ذواحنـــة و تـــرات

کله چې وګړي شاعر پړ ګڼي، هغه په ټينګ دريځی او پياوړي ايمان د نبوي کورنۍ د مينې اعلان کوي او وايي:

ملامــک فــی أهــل النبــی فــإنهم أحبــای مــا عاشــوا و أهــل ثقــاتی

تخــيرتهم رشــداً لأمــری فــانهم علــی کــل حــال خــيرة الخــيرات

فيــا رب زدنــی مــن[1] يقينــی بصــيرة و زد حــبهم يــا رب في حســـناتی

« ای هغه وګړيه! چې د نبي د اولادو په سر ما ملامتوې، پوه شه چې هغه په ژوندانۀ زما دوستان او د باور وړ وو او د خپلې لارښوونې لپاره مې هغوی غوره کړل، ځکه چې هغه د غورو غوره دي. ای خدايه! د دې يقين پر برکت زما ليدنه زياته کړه! او د هغوی مينه زما په نېکيو کې وشمېره!»

دعبل د مخلصو شيعه‌ګانو غوندې دا دېرش کاله خواشينی دی؛ خو د موعود مهدي راڅرګندېدا او دا چې هغه به د عدالت او انصاف په رامنځ ته کولو لاس پورې کړي، د مظلومانو حق به له ظالمانو واخلي، د هغۀ غمونه کموي او د مبارزې او جنګ تودولو پرځای هغه د غايب‌امام د راستنېدا پر همدې انتظار او اوښکو تويولو بسنه کوي:

ألــم ترانـــی مـــن ثلاثـــين حجـــة أروح و اغـــدو دائـــم الحســـرات

فلو لا الذی أرجوه في اليـوم أوغـد لقطـــع قلبـــي اثـــرهم حســـرات

---

[1] - په اصل کې (می) دی.

خــروج امــام لا محالــة خــارج   يقــوم علــى إســم الله والبركــات
يميــز فينــا كــل حــق و باطــل   و بجزى علـى الـنعماء والـنقمات
سأقصر نفسى جاهداً عن جدالهم   كفــانى مــا القــى مــن العــبرات[1]

« نه وينې چې له ډېرشو کالو راهيسې ګهيځ او ماښام لکه مچ منګولې مښم، که هغه څه نه واى، چې شپه او ورځ يې هيله لرم؛ نويقيني به مې دې افسوسونو د زړۀ مراندې غوځې کړې واى، هغه د هغۀ امام راڅرګندېدل دي چې هرومرو د الله په نامۀ او د هغۀ پر برکتونو راوځي، حق له باطله بېلوي او د نعمتونو او کړاوونو بدله ورکوي، په کار ده چې د ملامتوونکو له شخړې ځان وژغورم؛ نو په دې اړه د هغۀ امام انتظار او اوښکې تويونه بسنه کوي.»

دعبل په دې بليغه بولـله کې چې د خواشينۍ او قهر خپلې عاطفې يې په کې نغښتې، په خراسان کې يې حضرت امام علي بن‌موسى رضا ستايلى، د امامانو په ويرنه، د عباسيانو او ظالمو اموي اميرانو او د هغو د وزيرانو په غندنه کې يې په زړۀ پورې او اغېزناک ډېر شعرونه ويلي دي، خو په خراسان کې د شيعي ادب د بېلګې په توګه دلته همدا قصيده بسنه کوي.

**د مُرجئه‌وو ادب**

مرجئه‌وو د هيله‌منۍ، توکل او اسانګېنې له ځانګړنو درلودو سره، نرم، لطيف او سوله‌ييز ادب رامنځ ته کړ. هغوى په عقلي چارو لږ بوخت شول، تاو تريخوالي او جنګ ته يې نور زړه ښۀ نه کړ. د حق او باطل بېلول يې الله تعالى ته پرېښودل او له هيڅ ډلې سره يې کينه او دښمني ونه کړه. امويان او عباسيان يې له خپلو کړو وړو سره الله ته وسپارل او نورې ډلې يې هم کافرې نه کړې او په داسې سوله‌ييز او مينه‌ناک روح د اسلامي ډلو په اختلافاتو کې واوسېدل.

لکه چې ومو ويل د امام ابوحنيفه مذهب يو ډول هيله‌منې په پام کې نيوله چې له سنتو سره په ټکر کې نه وي. د خراسان او ماوراءالنهر زياتره وګړي په دې مذهب وو. له دې امله د هيله‌منۍ د روحيې ښکارندې د خراسان په ادب کې ښې څرګندې دي. د ساري په ډول د مؤمنو ګناهکارانو بخښنه، چې د معتزله‌وو په ګروهه لوى

---

[1] - تاريخ الإسلام السياسي ۲/ ۱۳۲.

گناهکار هرومرو د سزا مستحق دي؛ خو مرجئه‌وو له نه توبې سره هم الهي بخښنه شونې گڼله.[1] له همدې امله ده چې د عباسي پېر زیاتره شاعران په مزو چړچو، شرابو او له ښځو او هلکانو سره په عیش عشرت کې ډوب شول او د هیله‌منۍ په مذهب کې یې په الهي بخښنې ډډه ولگوله.

د ساري په توگه د عربو لوی بنداري شاعر ابونواس (۱۵۰س شاوخوا) - چې د خمریاتو شاعر گڼل شوی دی، عمر یې په مزو چړچو او خوشحالیو کې تېر کړی دی او ښهٔ ښکاره فاسق و فاجر و-[2] ویل به یې:

أیهاالغافـــل المقـــیم علــی الله    و ولا عـــذر في المقـــام لســـاه

لا باعمالنـــا نطیـــق خلاصـــاً    یـوم تبـد والسـماء فـوق الجبـاه

غـیر أنـی علـی الاسـاءة والتفـ    ریـــط، راج لحســـن عفـــوالله[3]

یعنې: «ای بې پروا چې په ساعت تېریو اخته یې! او زاری نه کوې! موږ په خپلو کړو وړو د حشر په ورځ نه شو خلاصېدای، بې له دې چې له ډېرو نیمگړتیاوو او بدیو سره د الله بې شانه بخښنې ته ډېر هیله‌من یم».

دا ډول ادبي منطق د هیله‌منۍ د گروهې په خپرېدو او اسانۍ خوښوونکې حنفي مذهب سره د خراسانیانو په منځ کې دود شو او د دري شاعرۍ مهمه برخه وگرځېده چې اغېز یې د راوروسته پېړیو په ادب کې ښهٔ ترا څرگند دی.

د «ما غرک بربک الکریم» آیت په صوفیانه تفسیر کې راغلی دي، په دې آیت کې الله بنده ته وریادوي چې ووایي: غرنی بک کرمک و لولا کرمک ما فعلت، لانک رأیت فسترت و قدرت فامهلت:

یقـــول مـــولای: امـــا تســـتحی    مـــما اری مـــن ســـوء افعالـــک؟

فقلـــت: مـــا مـــولای رفقـــاً، فقـــد    أفســـدني کـــثرت افضـــالک![4]

[1] - د همدې څپرکي د امام ابوحنیفه د فقهې او فکري مدرسې په بحث کې مو د مرجئه‌وو په اړه شرحه ورکړې ده.

[2] - بروکلمان ۲/ ۲۸ د هغه د خپلو شعرونو په حواله.

[3] - ضحی‌الإسلام ۳۲۹/۳.

[4] - کشف الاسرار میبذي ۱۰/ ۴۰۸، د تهران چاپ، ۱۳۳۹ل.

« زما څښتن به ووايي چې ستا بد کړۀ زه وينم او ته نه شرمېږې! وبه وايم ای زما څښتنه! هماغه ستا د لورېنې زياتوالي زه داسې فاسق کړم»

پر راوروسته دري ژبه هم دې افکارو اغېز درلود، په هغو رباعياتو کې چې د عمرخيام يې ګڼلي، داسې راغلي دي:

گـر گـوهر طاعتـت نسـفتم هرگـز گـرد گنـه از چهـره نـرفتم هرگـز
نوميـــد نـــيم ز بارگـــه کرمـــت زيـرا کـه يکـی را دو نگفـتم هرگـز

دا رباعي چې د هغې د ويونکي د مرجئه‌توب پياوړی دليل دی، د مشهور فيلسوف ابن‌سينا ګڼل شوې ده:

مـــاييم بعفـــو تـــو تـــولا کـــرده و زطاعـت و معصـيت تـبرا کـرده
آنجـا کـه عنايـت تـو باشـد، باشـد: ناکرده چو کرده، کرده چون ناکرده

شېخ ابوسعيد فضل‌الله ابوالخير ميهني‌خراساني (۳۵۷- ۴۴۰س) د دې خاورې د تصوف د پخواني روح استازی دی، چې د هغۀ په نرمو کلمو کې د الله رحمت ته د هيله‌منۍ او پر تصوف او ارجاء پخوانی رنګ څرګند دی، د هغۀ کيسه کوي چې:

«وايي څوک له بغداده ميهنې ته د شېخ قدس الله روحه، ليدو ته راغی، له شېخ يې وپوښتل چې: ای شېخه! حق سبحانه وتعالی دا مخلوقات د څه لپاره پيداکړل؟ د دې پنځونې ته يې اړتيا وه؟

شېخ وويل: نه! خو د درېو څيزونو لپاره يې پيدا کړل:

لومړی: دا چې څواک يې ډېر و؛ نو نندارچيان په کار وو.

دويم: دا چې نعمتونه يې ډېر وو؛ نو خوړونکي په کار وو.

درېيم: دا چې رحمت يې ډېر و؛ نو ګناهکاران په کار وو.»[1]

**د مُجبره‌وو ادب**

د مخه مو وويل چې د مجبره‌وو بنسټګر سمرقندی جهم بن‌صفوان و او د ۱۰۰س شاوخوا يې ژوند کاوۀ، چې له ترمذه يې د جبر ګروهې خپرولې. د دې

[1] - اسرارالتوحيد ۲۸۷، تهران چاپ، ۱۳۳۲ل.

گروهې په خپرولو تر دې مشهور و چې معتزله‌وو خپل یو شخړاوو جګړه‌مار حفص بن‌سالم ترمذ ته له جهم سره د مناظرې لپاره لېږلی و.[1]

د جبر ګروهه په دري ادب کې زښته زیاته خپره شوه ان هغه کسان چې له آره له جبریه ډلې څخه نه وو، بیا یې هم کله داسې خبرې کړي چې د جبر بوی ترې لټېږي. دا دود له ډېر پخوا راهیسې- د دري ادب د خاپوړو له وخته - تر اوسه شته. د ساري په ډول محمد بن‌وصیف سیستانی چې د یعقوب او عمرو صفاري د دربار منشي و، په بلخ کې د عمرو لیث په نیول کېدو (۲۸۷س) یې دا بیتونه ویلي وو، چې د جبر بوی ترې راخېژي:

کوشش بنده سبب از بخشش است کـار قضـا بـود و تـرا عیـب نیسـت

بـود و نبـود از صـفت ایـزد اسـت بنـدهٔ درمانـدهٔ بیچـاره کیسـت؟[2]

د ساماني دربار (۳۲۶س شاوخوا) له وزیرانو او پوهو کسانو څخه یو ابوطیب مصعبي چې د دري او عربي ژبې برلاسی شاعر و، د وخت ملامتولو ډېره لوړه بلیغه بولله لري چې مطلع یې دا ده:[3]

جهانـــا! همانـــا فســـوس و بـــازی که بر کس نپایی و با کـس نسـازی

بیا وروسته نړۍ ته اغېزناکه او انتقادي وینا لري، چې یوه یې دا ده:

چـرا زیرکاننـد بـس تنـگ روزی چرا ابلهان راست بـس بـی نیـازی؟

اگـــر نـــه کـــار تـــو باژگونـــه چـرا آنکـه نـاکس تـر، اورا نـوازی!

د دې احتجاج او نیوکې په پایله کې دا نامطلوبه ډله ټوله ګناه انسان ته - چې اړ دی - ورتر غاړې باسي، دا ډله په بې پروایۍ د خپلو چورلېدو پایلې هرومرو وړاندې کوي:

جهانـــا! همانـــا ازیـــن بـــی نیـــازی گنـــه گـــار مـــاییم تـــو جـــای آزی!

په هغو رباعیاتو کې چې د عمرخیام یې ګڼلې دي، د تقدیر پر وړاندې د جبر فلسفه او د انسان بېچاره‌ګي ډېره تر سترګو کېږي:

---

[1] - وګ: په همدې بحث کې معتزله او جهمیه سرلیک.

[2] - تاریخ سیستان ۲۶۰.

[3] - تاریخ بیهقي ۳۷۷.

یا رب تو گلم سرشته یی من چکنم؟ پشم و قصبم تو رشته یی من چکنم؟
هر نیک و بدیکه آید ازمن بوجود تو بر سرمن نبشته یی من چکنم؟

**د صوفيانو ادب**

د صوفيانو افکارو، الهي مينې او نورو غوره مطالبو په ختيځو ژبو کې ډېر نرم و په زړهٔ پورې ادب رامنځ ته کړ. په افغانستان کې د عربي، دري او پښتو ادب يوه لويه برخه د همدې خوځښت او همدې فکري مبداء زېږنده ګڼل کېږي. په تېره د دري او پښتو درې ډوله شعر يعنې غزل، رباعي او مثنوي له تصوف څخه نوي او بکر مضامين اخيستي دي.

زموږ موضوع يواځې دوې لومړنۍ اسلامي پېړۍ دي؛ نو دلته په تفصيل سره د وروستيو پېړيو ادبي اوضاع ته ننوتلای نه شو، نو د همدې دوو پېړيو د صوفيانو ادبي ميراثونه شرحه کوو. څرنګه چې د هغهٔ پېر د پښتو او دري شعرونو ډېرې لږې بېلګې پاتې دي؛ نو ځکه يې داسې بېلګې نه لرو چې د هغهٔ پېر د صوفي د روح استازې وي؛ خو په عربي ژبه کې يې- چې رسمي، علمي او ادبي ژبه وه- ښې بېلګې شته.

خراساني صوفيان چې د علم، ليک لوست او پوهې څښتنان وو، عربي ژبه يې هرومرو زده وه، ځکه د دين، دفتر او کتاب ژبه وه او خپل ټول افکار او خيالات يې- په نثر وو او که په نظم- په همدې ژبه راپرېښي دي.

شاعري له تصوف سره نږدې او ملګرې ده، ځکه صوفي له مادې معنی، له جسمه روح او له مادي عقلي او فکري ژوندانهٔ ته لېوال دی. د الله مينه، انسان دوستي او پياوړې عاطفه يې خوځندوي او کله يې هم پاروي. دا ټول احوال د نوي، اغېزناک او نرم شعر زېږنده ده.

د صوفيانو په ادبي ميراثونو کې ځينې نازکخياله او ښکلي شعرونه راپاتې دي. په نثر کې د هغوی ډېرې ويناوې د لوړو شعرونو مقام لري، ځکه د صوفيانو دا نازکخياله خبرې هم له عاطفي نړۍ او زړهٔ راخوټېدلي او د مينې او الهام سرچينه يې بهانده کړې ده.

د خراسان له پخوانيو صوفيانو به فضيل بن‌عياض مروي (۱۸۷س مړ) ويل:

« زه الله په دوستۍ لمانځم، چې ویې نه لمانځم ناکراره یم» هم هغهٔ ویلي وو چې:« د حشر په ورځ به له تاسو څخه درې کسه اسوده وي: څوک چې حرام کسب ونه کړي، هغه چې پاک‌لمنی وي او هغه چې د دوو کسو تر منځ چغلي ونه کړي.»[1]

د الهي مینې په حقیقت کې د خراسان د مشهور صوفي بایزید بِسطامي شعر دی:

أحبـک حبـین حـب الهـوی و حبـاً لانــک أهــل لــذاک
فاماالــذی هــو حــب الهـوی فرفعـک للحجـب حتـی أراک
و امــا الــذی أنــت أهــل لــه فشغلی بذکرک عن من سواک[2]

یعنې: «له تا سره دوه ډوله دوستي لرم، د مینې دوستي او د دې دوستي چې تهٔ یې وړ یې! خو هغه دوستي چې وړ یې یې! داسې ده چې ستا په یاد کې له نورو څخه خلاص شم.»

ابراهیم ادهم بلخي ویلي:« د ډېرو باطلو لیدل، د حق معرفت له‌منځه وړي.»[3]

وایي ابراهیم ادهم د کعبې په طواف کې چاته وویل: چې شپږ پړاوه ونه وهې، د نېکانو درجې ته نه رسیږې!:

لومړی: چې د نعمت ور بند او د سختۍ ور بېرته نه کړې!
دوهم: چې د عزت ور بند او د ذلت ور بېرته نه کړې!
دریم: چې د هوساینې ور بند او د کړاو ور بېرته نه کړې!
څلورم: چې د خوب ور بند او د بېخوبۍ ور بېرته نه کړې!
پنځم: چې د شتمنۍ ور بند او د بېوزلۍ ور بېرته نه کړې!
شپږم: چې د هیلو ور بند او مړینې ته د چمتووالي ور بېرته نه کړې![4]

بشر حافي مروي (۲۲۷س مړ) به ویل:

---

[1] - طبقات انصاري ۲۹.
[2] - التعرف ۸۰او قوت‌القلوب ۳/ ۸۴.
[3] - طبقات انصاري ۵۷.
[4] - طبقات سلمی ۳۸.

قطع اللیالی، مع الأیام فی خلق والنوم تحت رواق الهم والقلق
احدیو أجدر بی من أن یقال غداً أنی التمست الغنی من کف مختلق[1]

« شپې او ورځې په کند کې تېرول او د غم او وېرې تر ورۀ لاندې ویده کېدل له دې غوره دي، چې سبا ما ته ووایي له درواغجنه دې څه شی وغوښتل!»

د شقیق بلخي وینا ده:

« تر مېلمه مې هیڅ څیز زیات نه خوښېږي، ځکه خواړۀ یې پر الله او بدله یې زما ده.»[2]

حاتم اصم بلخي (۲۳۷س مړ) ویلي دي:

څوک چې درې څیزونه بې له دریوو وغواړي دروغجن دی:

هغه چې د الله مینه له حرامو د ځانژغورنې او پرهېزگارۍ پرته وغواړي.

هغه چې جنت بې له خپل مال لگولو وغواړي.

هغه چې د الله د رسول مینه له بېوزلۍ سره له مینې پرته وغواړي.[3]

دلته د لومړیو دوو اسلامي پېړیو د اوضاع په اړه زموږ پلټنه او څېړنه پای ته ورسېده، که توان ملگرتیا او وخت سمی وخوړ، نوره اوضاع به د دې کتاب په نورو ټوکونو کې په تفصیل سره ولیکو. د کتاب دا ټوک د ۱۳۴۴ل کال د چنگاښ پر لومړۍ شپه د کابل ښار په جمال مېنه کې د الله پر فضل او توفیق پای ته ورسېد.

عبدالحی حبیبي

د سمونې پای ۱۴۰۲/ ۱۰/ ۸مه نېټه د شنبې شپه

---

[1] - طبقات سلمی ۴۴.

[2] - پورتنی اثر، ٦۵.

[3] - پورتنی اثر، ۹۷.

## استدراکونه

### (۱) خلیفه او مَلِک

د کتاب په څېرکو کې هغه ځای چې د راشده خلیفه‌گانو تر پېر وروسته- د حضرت معاویه د امارت له پیلېدو سره - مو د اموي او عباسي امیرانو نوم د امیر یا پاچاه په نامهٔ او یا مو پاچاهي گدۍ هغو ته منسوب کړې، لامل یې دا دی چې د رښتیني خلافت دوره په دېرشو ۳۰ کلونو کې پای ته رسېدلې ده، په دې اړه د احادیثو په صحیحو کتابونو لکه ترمذي، نسایي او ابوداؤد کې حدیث دی، چې راوي یې د رسول‌اللهﷺ یو مریی سفینه دی. سعید ابن‌جمهان له هغهٔ اورېدلي وایي ویې ویل:« قال رسول‌اللهﷺ الخلافة في أمتي ثلاثون سنة ثم ملک بعد ذالک» یعنې له ما وروسته خلافت دېرش کاله دی، بیا وروسته پاچاهي ده. سعید ابن‌جمهان وایي چې سفینه تر دې وروسته د ابوبکر، عمر، عثمان او علي رضي الله عنهم د خلافت دوره وشمېرله چې دېرش کاله وه. ورته وویل شول، امویان هم ځانونه خلیفه‌گان گڼي، سفینه وویل: نه هغوی پاچاهان او بدترین پاچاهان دي.[۱]

### په زمینداور کې د زور یا زون ځای ټاکنه

له ۱۱ تر ۱۵مخ پورې پر دې موضوع بحث شوی؛ خو هغه مهال ۱۳۴۵ل د دې عبادتځی موقعیت معلوم نه و. د ابن‌اثیر په  الکامل کې یې املا هم بېلابېله او یقیني نه وه.

بیا د کلمې سمه بڼه د نننی واقعیت له مخه روښانه شوه، د مسټر مارټن له تشخیص سره سم چې په ۱۹۳۶ز کال کې د بنگال د آسیایي ټولنې په مجله کې لیکل شوی و، دا پخوانی عبادتځی په زمینداور کې دی، چې د موسی کلا(د زمینداور مرکز) د سوېل په درې میلۍ کې تر اوسه پورې د(زور) په نامهٔ کلی مشهور او لر زور و بر زور یې بولي. هلته د پخوانیو ودانیو کنډوالې هم لیدل کېږي او اوسني مسلمانان ورته «کافرکلا» وایي. دوی گروهمن دي چې دا د پخوانیو کافرو استوگنځی و.

---

۱- تیسیرالوصول ۲/ ۳۴ کتاب الخلافة د ابن دبیع شیباني (۶۸۸- ۹۴۴س) تألیف، د قاهرې چاپ ۱۳۴۶ل.

د زون او زور دواړو املا د تاریخ او ادب په کتابونو کې راغلې ده، دواړه سم دي. موږ د زون ریښه په «سونه‌گیر» کې چې د هیونځانګ په سي- یو- کی کې راغلې ده» موندلای شو؛ نو باید د عربو جبل‌الزور د سونه‌گیر(زون غر- کوه زون) ژباړه وي.

د دې پخوانۍ آریایي کلمې ریښه د دې کورنۍ په نورو اروپایي ژبو کې هم د لمر په معنی لیدل کېږي. په منځنۍ انګلیسي کېSUN د انګلوساکسون له SUNNE ریښې څخه راوتی، چې په جرمني کېSONNE وه او دا ټول له هندو اروپایي سرچینې SU- EN= SAU- ENڅخه راوتي دي.[1]

خو سورا کلمه په سنسکرېټ کې د لمر یا عالم سړي په معنی ده، چې سوري یا سوریا SURYA د پېرې یا بت په معنی د لمر رب‌النوع و.[2] چې په پخوانیو اسطورو او د وګړو او ځایونو په نومونو کې ژورې ریښې لري. په دې ډول د سور کلمه د پهلوان HERO په معنی هم ده.[3] په اوستا کې یې د سوره په بڼه پیاوړی او قوي مفهوم درلود.[4]

باید وویل شي چې د ارغنداب ناوې او هلمند په پښتو کې سُونَی(په مجهول واو) د هغه شخص ستاینوم دی چې بت ته ورته او له ونې مندری وي. ښایي دا کلمه هم د زون- سون له پاتې شونو څخه وي.

د هغې شرحې له مخه چې د کتاب په متن کې مې (تر ۱۱مخ وروسته) ورکړې باید سوریا( د سور رب‌النوع- هور- خور، لمر) لمانځنې له کوشاني پېره د اسلام تر لومړیو پورې په ځینو خلکو کې دوام موندلی وي. څکه له سرۀ کوتله(۲مه زېږدې پېړۍ) کابل ته څېرمه د خیرخانې تر سپینو مرمرینو بتانو پورې(۵مه ز پېړۍ) یې نخښې څرګندې دي.[5] نو ګومان کېږي چې د اوسني کابل د خیرخانې کلمه به هم پخوا خورخانه وه.

---

[1] - (وګ: وېبسټر نوی سیند۱۴۶، د ۱۹۵۷ز چاپ).

[2] - (په انګلیسي د سنسکرېټ لوی سیند ۲۳۴مخ، د اکسفورډ چاپ، ۱۹۶۴ز)

[3] - (هندي- انګلیسي سیند ۴۸۸، د لندن چاپ، ۱۸٦٦ز).

[4] - (پورداؤد، یشتها ۱٦٥۱، د تهران چاپ، ۱۹٦۸ز)

[5] - (هنر سلطنتی کوشانیان، د روزن فیلډ ۱۹۲، د امریکا چاپ، ۱۹٦۷ز).

په هر صورت که د زمینداور د موسی کلا په «زور کلي» کې علمي پلټنې ترسره شي ښايي د کوشاني پير ډېرې نوي خبرې روښانه شي.

### د لويک سم تلفظ (لُوِيَک)

په ۱۳۴۱ل کال کې مې چې پښتو و لويکان غزنه رساله وليکله او بيا مې هماغه مطالب په دې کتاب کې په لنډيز (۳۱- ۴۷مخ پورې) سره راوړل، هلته مې روښانه کړې ده چې د لويک لقب په کتابونو کې اړول شوی او په بېلابېلو املاګانو لاويک- انوک- لويل او نورو سره ليکل شوی دی، په داسې حال کې چې اصل يې بې شکه لويک دی.

د دې نامهٔ د اوړون يو ډول دا دی چې د ډهلي د پاچاهانو په پېر کې د سلطان ناصرالدين محمود په دربار کې، د ملک‌الکلام فخرالدين عميد لويکي په نامهٔ شاعر د هند لوی مستوفي و. کاتبانو يې د ناپوهۍ له امله په تذکرو کې نوم نونکي- تولکي- بومکي- لويکي- ديلمي ليکلی دی.[1] د منتخب التواريخ مؤلف عبدالقادر بدايوني دا کلمه په سمه بڼه(لويکي) ليکلې وه؛ خو د کلکتې په چاپي نسخه ۱۸۶۸ز، لومړي ټوک ۷۰مخ کې تولکي، په(۹۶مخ) نونکي او د ليکلړ په درېيم مخ کې يې لويکي، په درېو املاګانو چاپ کړې ده.

په کراچۍ کې مې له کلنل رشيد سره ډېره سمه انځوريزه منتخبه نسخه ليدلې وه، چې په غالب ګومان د مؤلف په پېر کې ليکل شوې او په ۱۵مه پاڼه يې پرله‌پسې عميد لويکي د هغه په سمې بڼې ليکل شوی دی.[2]

د لويک د کلمې په لوستنه او شننه کې چې په متن کې شرحه شوې، بل دليل په خپله د دې عميد لويکي وينا ده، چې:

د عميد ديوان په هند کې د ډاکټر نذير احمد په اهتمام د لاندېنيو بېلابېلو خطي نسخو له مخه ترتيب او چاپ شوی دی، چې لاندې بيت په کې تر سترګو کيږي:

---

[1] - (بزم مملوکيه ۲۰۳، د اعظم ګړهـ چاپ).

[2] - (پښتو ولويکان غزنه).

نسب از عمرم پذیرم، حسب از تبار لویـک
بکدام سلک دیدی، دو گهـر چنـین مـنظم

چې په ټولو خطي نسخو کې په دې بیت کې (لویک) دی او باید هغه د بیت د وزن د سمون لپاره د (ی) په حرکت ولوستل شي.

د یادونې وړ ده چې د کنیشکا (۱۸۰ ز شاوخوا) له نیکونو د یوهٔ (هوویشکا) ځینې سیکې شته، پر هغو د یوهٔ نرینه ربالنوع انځور کیندل شوی چې په یوناني لیکدود د اور- لوی LOE کلمې لري،[1] چې هغه له کوشاني پېر د اسلام تر راڅرګندېدا او لسمې پېړۍ پورې د همدې لویک د لقب ریښه ګڼلای شو.

**د رتبیل کلمې په شننه کې**

په ٦٥ مخ کې مې د رتبیل د نامهٔ د شننې په اړه خپل اند و اټکل لیکلی او لکه چې ویلي مې دي، دا اټکل د اثبات لپاره دلیل غواړي، څو چې یې د پخلي لپاره بل پرېکنده لاسوند تر لاسه نهٔشي؛ نو د اټکل له پړاوه مخکې نه ځو.

زما د دې اټکل تر خپرېدا وروسته[2] د رتبیل د کلمې په ریښه کې دوې نورې رایې رامنځ ته شوې: لومړۍ دا چې: په تاریخ ټولنه کې زما ګران همکار ښاغلی غلام سرور همایون یوه مقاله ولیکله،[3] په هغې کې یې دا کلمه لومړۍ ځل انتبیل ولوسته او په تېرو بېلابېلو لوستنو او خوندیینو (زنبیل، زنتبیل، رنتبیل، رسل، رتبیل) او نورو یې "انتبیل" هم ورزیاته کړه:

شد پریشان خواب من از کثرت تعبیرها

دانشمند لیکوال په پنځمه مخزېږدې پېړۍ کې د سنسکرېټ ګرامر لیکونکي پاڼیني د یادونې له مخه، وایي چې "انته‌پاله" د هند په پخوانیو پوځي تشکیلاتو کې د پوځي افسرانو یو ټولی و او دا نوم (له‌انته= هېوادنۍ‌پوله+پاله= وال) فاعلي روستاړي څخه مرکب دی، یعنې بریدوال او پوله‌ساتی.

بیا د ۱۳۴۴ل په لیندۍ کې محترم ډاکټر باستاني پاریزي د یغما د معتبرې مجلې

---

[1] - (د کوشان پېر ۱۵٦- انګلیسي، د کلکتې چاپ، ۱۹٦۷ز)
[2] - یغما مجله، تهران ۱۳۴۴ل، ۲۰۸مه ګڼه.
[3] - همایون، سرور، آریانا مجله ۱۳۴۴ل کابل، اوومه ګڼه (زمری- سنبله).

په۲۰۹مه ګڼه کې زما د مقالې په اړه مقاله ولیکله او دا رایه یې وړاندې کړه چې دا ترکیبي نوم دی. په اوستا کې رتهه RATHE کلمه د بګۍ په معنی ده؛ نو رتهه+ پیل چې مشهور حیوان دی، ټولیزه معنی یې (بګۍ+پیل) کېږي. موخه ترې هغه قوماندان دی چې سپرلي یې بګۍ او فیل وي. څرنګه چې دا پاچاهان د هند پولو ته نږدې اوسېدل، په لښکر کې یې ډېر فیلان وو. تاریخ سیستان وایي په هغو جنګونو کې چې د یعقوب لیث سره یې وکړل، خپل همدا فیلان یې د جنګ ډګر ته راوستلي وو.

دا د رتبیل په اړه د دوه‌و نورو نظرونو لنډیز و، خو هر ډول معنی چې د هغې له شننې مراد شي، ما ته تر اوسه هماغه د (رتبیل) بڼه متعبره ده او د جمهورو دا خوندیینه تر هغه معتبره ګڼو چې په مقابل کې یې د یوې بلې بڼې لپاره پرېکنده او یقیني دلیل لاس ته راغلي نه وي.

## زونبیل؟

د رتبیل او د بېلابېلو املاګانو په اړه یې د کتاب په متن او بیا په ۳ استدراک کې هغه څه ولیکل شول چې په واک کې وو او د کوشاني پېر د وروستیو په تاریخ کې مهم دي.

په ۱۸۹۳ز کال کې پروفیسر اورل شټین د المان په شتونګارت کې یوه مقاله ولیکله چې د ایټالیې د ختیځو څېړنو مرکز د ختیځ او لوېدیځ مجلې په ۱۸مه ګڼه کې په انګلیسي ژبه په ۱۹۷۲ز کال کې خپره کړه. بیا د همدې مجلې په(۲۰۱- ۲۰۵ مخونو) کې ډاکټر سکارشیا یوه مقاله ولیکله چې د چینایي متونو له مخه زنبیل سم او رتبیل ناسم دی.

له دې څو کاله پخوا مارکوارت په ایرانشهر کې داسې نظر درلود چې د هغه په ملاتړ ملک‌الشعراءبهار د زنبیل بڼه غوره ګڼلې ده.[1]

کله چې د دې کتاب منځپانګه(۱۱- ۱۵مخونه) او بیا د زون عبادتځي د نامهٔ څېړنې الف استدراک په پام کې ونیول شي، باید دا نوم زنبیل- زون بیل- زون پیل ولوستل شي چې د زون پالونکي او یا زون پاللي معنی ښندي.

---

[1] - (د تاریخ سیستان حاشیې ۹۱ او مجمل‌التواریخ ۴۲۲)

ځرنگه چې د زون بت(د لمر رب‌النوع) عبادتځی د زابلي پاچاهانو په سیمه کې و او پاتې او اولادونه یې غالباً د زمینداور د موسی کلا په زور کلي کې پاتې دي؛ نو د رتبیل کلمې په پلټنو او څېړنو کې بله وجه هم ورزیاتېږي چې اصل یې زون- پیل دی. د زابل او تر بر هلمند پورې د ارغنداب د ناوې د واکمنو دا کورنۍ د لمر دې رب‌النوع ته منسوبه ده. چې عرب سوبمن عبدالرحمن ابن‌سمره یې بت د زمینداور د زور کلي په عبادتځي کې نړولی دی.[1] (د ۳۱س شاوخوا).

خو مارکوارت او پلیونی یې هرماته وایي چې د دې کلمې له بېلابېلو بڼو: روسل- رتبل- رتبیل- زنبیل- زویل یواځې زنبیل د پاملرنې وړ دی، چې د زابل له سیمې او د هغې د واکمن جبوله له نامۀ به اخیستل شوی وي. اصل یې زیبل ZIBIL دی چې په چینایي سرچینو کې تر ۷۸۳ پورې د سي – یو(زابل) واکمن Shi-ya و.[2]

په دې اړه د څېړونکي پام د شاهنامو تاریخي او داستاني نوم(زاب- زاو) ته هم وراوړي او ښایي زموږ په زوب، زاوه او ازو تنګي کې هم د دې نامۀ ریښه راپاتې وي. نو شونې ده، د زون پیل- زونبیل – زنبیل په اړه زموږ اټکل د اورېدو وي، چې د دې نامۀ لومړی توک هماغه سون- زون- زُن وګڼو، ځکه کابلیان په کیسو کې د دې ښار د لوېدیځ غرۀ څوکې ته تخت زنبورک وایي، چې ښایي د دې نامۀ لومړی توک هم د زنبیل د نامۀ په مناسبت راوړل شوی وي.

په هر صورت: د عربو پوهانو د لیکنې یعنې رتبیل په مقابل کې- په هغې شرحې سره چې په کتاب کې مو ورکړې- داسې پیاوړې دلیل لاس ته نه دی راغلی چې سکیره د رتبیل او د هغۀ له جمعې رتابله څخه تېر شو. دا له هغو ستونزو څخه یوه ده چې د کوشانیانو په وروستي تاریخ کې راپاتې ده.

## کابلشاهان د کوشانیانو زوذات

د ووکینګwu- k,ung (۷۵۰ز کال) د رپوټ په (د) نښلونه او د بل چینایي ۶۵۸ز د رپوټ په مطالبو کې مو له لومړي، دوهم یا درېیم کنیشکا سره د کابل د واکمنو د

[1] - (د ابن‌اثیر ۳ / ۱۲۹).

[2] - (ایرانشهر ۳۷، کتیبه های متأخر باختری ۴۰۵)

کورنۍ د اړیکو په اړه ولوستل، چې البیروني وایي تر برهتګین وروسته نورو ۶۰ کسو واکمني کړې ده او یو یې کِنک( د هرماته کِنشک) هماغه دی چې د پېښور بهار یې په نامهٔ دی(کتاب‌الهند).

هرماته وایي: که د هر کس واکمني لس کاله وګڼو، باید ۶۰۰ کاله تېر شوي وي چې د درېیمې لېږدې پېړۍ کابلشاهانو( د نهمې زېږدې پېړۍ منځنیو کلونو) ته ورسېږو، نو باید د البیروني له کِنک څخه موخه درېیم کنیشکا وي چې په ۲۳۲ز کې یې خپل تاریخ پیل کړی او بیا یې د ګندهارا د واکمنو په ټولو کورنیو کې پلیون شوی دی.[1]

د کابلشاهانو د کلونو ټاکنې لپاره د هرماته دا لیکلړ ګټور دی:

۱- لەلی‌شاهي: د ۲۷۰ س = ۸۸۳-۸۸۵ ز شاوخوا د کشمیر له پاچاه (شن‌کره ورمن) سره ونښت، هغه د هندوشاهیانو بنسټګر و، چې د قنوج د واکمن مهرابهوجه په مرسته یې په ۸۶۰ ز کې د ګندهارا د ترکشاهانو د دویمې کورنۍ وروستی واکمن لەمنځه یوړ او د ایدک او سپین وام( وزیرستان) سیمې یې له عربو بېرته ونیوې.[2]

۲- سامن‌ته: یواځې د البیروني د لیکلړ له مخه پېژندل شوی دی؟(په دري ادبیاتو کې هم مشهور و).

۳- کەمەلوکه: تر ۲۹۰س = ۹۰۲ز پورې واکمن دی- پر سیکې (کەمەله) لیدل کیږي(د عمرو لیث صفاري هممهاله).

۴- تورەمانه: د راجه‌ترنګیني(۵/ ۲۳۳) په وسیله پېژندل شوی دی.

۵- ش‌ري ونکو دیوه: یواځې د سیکې له مخه پېژندل شوی دی.

۶- ش‌ري په دمه دیوه: یواځې د سیکې له مخه پېژندل شوی دی.

۷- ش‌ري‌س‌پاله‌په‌تي‌دیوه: یواځې د سیکې له مخه پېژندل شوی دی ۲۹۹
- ۳۰۸س = ۹۱۱- ۹۲۰ز) (۷ انځور).

۸- سامن ته دیوه: پر سیکه یې ۷۱۹ د وروستیو کوشانیانو سنه لیکل شوی ده

---

[1] - (کتیبه های متأخر باختری ۳۷۹).

[2] - (کتیبه‌ها ۴۱۲).

۳۳۹س =۹۵۰ز (٦ انځور).

۹- ش‌ری‌خ وه ده یه که: یواځې د هغهٔ د سیکې له مخه.

۱۰- ش‌ری- ب‌هیمه‌دیوه: پر سیکه یې ۷۲۹ د وروستیو کوشانیانو سنه لیکل شوې ده- ۹٦۰ز.

۱۱- ش‌ری- اشه‌ته‌پاله: پر سیکه یې د نامهٔ لوستنه یقیني نه ده.

۱۲- جه‌یه‌پاله: په تاریخي سرچینو کې یې د ۹۷٦ز شاوخوا یادونه راغلې ده او ۳۹۳س =۱۰۰۲ز کې مړ دی.

۱۳- انن‌ده‌پاله: د البیروني د لیکلړ له مخه.

۱۴- ت‌ری لوچه‌نه‌پاله: البیروني وایي په۴۱۲س = ۱۰۲۱ز کې ووژل شو.

۱۵- ب‌هیمه‌پاله: البیروني وایي ۴۱۸س = ۱۰۲٦ز کې ووژل شو.[1]

که څه هم د کابشاهیانو دا لیکلړ هم ابهامات لري؛ خو د دې واکمنو پر سیکو د وروستیو کوشانیانو د سنې کارول له وروستیو کوشانیانو سره د هغوی اړیکي او تر ۹٦۰ز= ۳۵۰س پورې د کوشاني سنې کارول څرګندوي او همدا سنې له تاریخي پېښو سره سمون هم خوري.[2]

د کوشاني هندي هېواد د دین، لیکدود او ژبوالو کابلشاهانو دا نوملړ د درېیمې زېږدې پېړۍ په وروستیو پورې اړه لري. هغه څه چې د کتاب په متن کې له ځینو باوري سرچینو څخه راوړل شوي دي، تر دې د مخه دي؛ نو باید وویل شي چې لویو کوشانیانو چې په لومړۍ او دویمه زېږدې پېړۍ کې په ستر کوشاني هېواد- د ماوراءالنهر په ګډون د مروې او خراسان له لوېدیځو پولو د هند او متهورا تر منځ پورې- کې د روما، پارت او چین ستړواکیو ته نږدې د هغه پېر څلورمه ستره واکمني جوړه کړې وه. د څلورمې زېږدې پېړۍ له پیل او د کیداره کوشانشاه له راڅرګندېدو سره له لوړتیا څخه مخ په ځوړ وو او د دوهم ساساني شاهپور(۳۰۹- ۳۷٦ز) پرمختګ د ستر کوشاني هېواد ځینې ولایتونه له ساساني هېواد سره ونښلول. ان د کابلشاه له

---

[1] - (همدار نګه وګ: مکدووال شاهیان کابل وګندهارا ۱۹۰- ۲۲۴ د سیکه پېژندنې د رپوټ په مجله کې، د لندن چاپ، ۱۹٦۸ز)

[2] - (کتیبه های متأخر ۳۸۰)

لور سره د دوهم آورمزد له یو ځای کېدو څخه چې میرخواند وایي دوهم شاهپور ترې وزېږېد، په کابو اتیا کالو کې شپږو اووهو کسو کوشانیانو واکمني کړې ده، چې کوشان و ساساني نومل شوي دي او د «وز ورک کوشانشاه» لقب یې درلود.[1]

په یوۀ داسې حال کې د لویو کوشانیانو په پرځېدا او د ساسانیانو د واک په غوړېدا، د شمال له خوا د سپینو آریایي نژادو هونانو په یرغلونو، د بودایي او برهمني دینونو او گروهو او نورو هندي فرهنگي توکو په پراخېدا د افغانستان د تاریخ په دې پاڼه کې هېښنده گډوله رامنځ ته شوه چې د اسلام تر ځلا پورې پاتې وه؛ نو باید دا ټکي په پام کې ولرو:

**لومړی-** کوشاني عناصر سملهواره لهمنځه نه دي تللي، بلکې د ستړواکۍ د ځواک تر ځوړ وروسته د افغانستان په غرونو او درو کې د کوشاني هېواد په هره څنډه او گوټ کې پر سیمهییزو واکمنیو پاتې شوي دي. د دې ډول شاهزیو وروستۍ ډله د راپاتې کتیبو او لاسوندونو له مخه د څلورمې لېږدې پېړۍ تر وروستیو پورې وینو. موږ د کتاب په متن او دې استدراکونو کې ډېرې دا کورنۍ او اشخاص په گوته کوو، چې ځینو کابلشاهانو د اسلامځلا ته نږدې په زغرده ځانونه د کوشانیانو اولادونه گڼلي دي.

**دوهم-** هفتالي یا هیون- خیون وگړي چې وروسته په کیداريهیونانو Kidarite Huns مشهور وو، امینیانوس ( ۲۴ /۳) وایي په **۳۵۳** ز کې له دوهم شاهپور سره ونښتل او له ایراني د کوشاني هېواد په وروستي بېلتون کې یې لاس درلود.

دا آریایي نژاده سپین پوستي وگړي په افغانستان کې د کوشانیانو له اولادونو او نورو وگړو سره گډ شول، چې د سوبو داستانونه یې د کوشاني هېواد او خراسان په تاریخ کې د خراسان او ماوراءالنهر په گډون تر کشمیره په شمالي هند او کشمیر کې د پراخې ستړواکۍ جوړولو له امله مشهور دي. د زابلستان د زړۀ د ارزگان د شالي درې په ډبرلیک کې د دې لړۍ د یوۀ واکمن مهراکولا نوم (د ۵۲۰ز؟ شاوخوا) بیا د هفتل- هیطل (معرب هیاطله) یادونه په **۳۰** س کې هغه مهال مومو چې له عربي

۱ - (کتیبه های ۳۸۶)

سوبمن احنف بن‌قیس سره د خراسان او طبسین په ورونو کې نښتی دی.[1]

**درېیم-** د ځینو توه‌کیو (ترکان) په شمول له ځايي پښتنو او تاجکانو سره د دې کوشاني - یفتلي وګړو یوځای کېدل د دې لامل و ګرځېد چې په افغانستان کې یو ګډ فرهنګ رامنځ ته شي. د دې واکمنو کورنیو اولاده د څلورمې لېږدې پېړۍ تر وروستیو پورې - لکه چې د کتاب په متن کې راغلي - د هندوکش په غرنۍ لړۍ او درو او د افغانستان په ختیځ - چې د پراخه کوشاني هېواد یوه برخه وه- کې پاتې شول. له همدې امله د دې کورنیو او سیمه‌ییزو واکمنو د تاریخ پلټنه زموږ د کوشانیانو د تاریخ بشپړونه ده.

**څلورم-** د یفتلي مهراکولا د کورنۍ واکمني د ۶۲۵ز شاوخوا په کشمیر او ګندهارا کې د ترکشاهانو له خوا له‌منځه لاړه چې په چینایي سرچینو کې په ۶۵۸ز کې د کی پین (کابل) د واکمن نوم (هو- هی- چي) لیکل شوی دی- قرغیلچي (ترکي؟) خو همدا سرچینې وایي چې دې کورنۍ شاوخوا دېرش کاله د خنګل XINGIL لقب درلود او د کوشانیانو تاریخي سنه یې کاروله.[2]

د ودونو او فرهنګي مشترکاتو په وسیله دا کوشاني - یفتلي - ترکي او ځايي وګړي دومره سره اخښل شوي وو چې د کابلشاهانو، رتبیلانو، زابلشاهانو، کوشانیانو، خنجلانو (خنګلانو) ترکشاهانو او هندوشاهانو ځانګړي په ګوته کول ستونزمن دي؛ خو باید وویل شي چې د هیونڅانګ د لیدنو له مخه په ۶۳۰ز کې ګندهارا، کابل او زابل هر یوۀ جلا پاچاه درلود. دا وضع یواځې په ۷۱۰ز کې بدله شوې چې موږ په ګندهارا کې د ترکشاهي څرک نه وینو، ځکه مهلب بن‌ابي صفره چې په ۶۶۴- ۶۶۵ز کې د کابل او ملتان تر منځ په پرته سیمه برید وکړ، له ترکشاهانو سره مخامخ نه شو، بلکې مقاومت کوونکو واکمنانو په ۷۷۸- ۷۷۹ز کې خنګل، کابلشاه، رتبیل او نور لقبونه درلودل. ان په هغه مهر کې چې په بهلول ښار کې یې د «ماه کوشان زوی شاه» په نامۀ موندلی او د درېیم کنیشکا (۱۹۸ز شاوخوا) ګڼل شوی.[3] په دویمه کرښه کې

---

۱ - (وګ: د متن ۱۴۹مخ).

۲ - ( کتیبه ها ۴۰۵)

۳ - (پورتنی اثر ۳۷۵)

يې ورسره د هندوګان‌شاه لقب ليکلی، ځکه چې د واکمنی سيمه يې تر هند پورې غځېدلې وه.

د دې مراتبو په پامنيوي د هغو اسنادو په اړه خبرې کوو چې د اسلام ځلا ته د نږدې کابلشاهانو نژاد کوشانيانو ته رسوي.

۱- البيروني په کتاب‌الهند کې د کابلشاهانو(هندوشاهيه) يو نيکۀ کنک نوملی چې ټولو څېړونکو- لکه چې تېر شول- کنيشک ګڼلی او موخه يې درېيم کوشاني کنيشکا دی( ۲۳۲ز شاوخوا).

۲- يعقوبي او نورو مؤرخانو خنجل يو کس يا د کابلشاهانو ټولی ګڼلی او کابلشاهان د کوشانيانو اولاده وه.

۳- د عباسي خليفه مامون(۲۰۰س شاوخوا) په پېر کې دوه‌و خراساني ورونړو فضل ذوالرياستين او حسن سرخس، زابل او کابل د سند او کشمير ترڅنډو پورې د بغداد د عباسي خلافت په ګورت کې راوستل. چې کابل يې ونيو د کابلشاه خول او پلاز يې د مامون دربار ته ولېږل. په کعبې کې ځوړند دې خول ليکلې لوحه يې هم درلوده. د مکې مؤرخ ابوالوليد محمد بن‌عبدالله بن‌احمد بن‌محمد بن‌عقبه بن‌ازرق غساني مکي په ازرقي مشهور د ۲۵۰س شاوخوا مړ چې په خپلو سترګو يې دا خول او لوحه ليدلې وه ليکي:

ليکل شوې لوحه چې د کعبې په منځ کې د کابلشاه له خول سره ځوړنده ده:

« بسم‌الله‌الرحمن‌الرحيم: أمر عبدالله‌الإمام‌المامون أميرالمؤمنين أکرمه‌الله، ذالرياستين الفضل بن‌سهل بعثه بهذا السرير من خراسان إلى بيت‌الله الحرام في سنه مائتين. وهو سرير الأصبهبد کابلشاه بعد(؟) مهراب بن‌دومی کابلشاه. المحمول تاجه إلى مکه المخزون سريره فی بيت‌مال المسلمين بالمشرق في سنه تسع و تسعين و مائه. و کتب الحسن بن‌سهل صنوذي الرياستين في سنه مائتين».[1]

ازرقي د کابلشاه پر خول د ليکل شوي متن تر رااخيستنې وروسته ليکي:

---

[1] - «اخبار مکه و ما جاء فيها من الاآثار» د ۲۴۴س= ۸۵۸ز تأليف(لومړی چاپ، لېزيګ د ووستن فيلډ په زيار ۱۸۵۸ز او دوهم چاپ د مکې د مجديد په مطبعه کې ۱۹۳۳ز د رشدي صالح په زيار ۱/ ۱۴۹))

« د کابلشاه خول یې په هغهٔ ځای کې وځړاوهٔ چې د ځایناستې (د امین او مامون) دوه نور ترونونه په کې لګېدلي وو... » څرنګه چې امیرالمؤمنین خراسان ذوالریاستین فضل بن‌سهل ته وسپارهٔ، هغه یې د ټول ختیځ والي کړ، تور توغونه (د عباسي خلافت) د کابل او سند سیند سیمو ته راورسېدل. مهرب بن‌دومي کابلشاه خپل خول او پلاز د ذوالریاستین په لاس د امیرالمؤمنین مامون دربار ته ولېږل. په خپله کابلشاه له خپل رعیت سره په مروه کې د مامون د امام په لاس اسلام ومانهٔ.

نو د امیرالمؤمنین امام امر وکړ چې: دغه پلاز د ختیځ(خراسان) د بیت‌المال په خزانه کې کښېږدي او خول د مکې په بیت‌الحرام کې ځوړند کړي.[1] ازرقي د خپل کتاب په بل ځای کې وايي:

« اصبهبد کابلشاه د کابل او کندهار(ګندهارا) سیمو راج او باج دوه برابره ومانهٔ، په هغو سیمو کې یې هدیرې او جوماتونه جوړ کړل، کابلشاه اصبهبد له خپله پلازه راکوز شهٔ او د اسلام لاسبري ته یې غاړه کښېښوده. د کابل او تخارستان د شاوخوا ټولو وګړو مسلمانانو ته غاړه کښېښوده او کابلشاه د خراسان د غرونو واکمن ذوالریاستین ته د اېلنې او اېلتیا لاس ورکړ. له ګندهارا تر بامیانو یې د ډاک لېږد رالېږد پیل کړ. د کابل و ګندهارا وګړي د خراسان له سیمو سره ونښتل او اسلامي احکام یې ومنل. د ذوالریاستین په لاس شنهٔ توغونه د کشمیر او تبت تر سیمې‌ورپېدل او پر وخان(غالباً واخان)راور(ښایي‌د تخارستان راون) بلور(بلورستان) او د خاقان او تبت د غرونو پر واکمن هم بریالی شو. هغه یې د تبت، تربد(ښایي ترمذ) پاراب (ائترار) شاوغر(د ترکو سیمه) زاول( ښایي د سغد سیمې زاور) او اطرار( د ترک پولې) له سپرو سره عراق ته واستاوهٔ. د هغهٔ ځای پوله‌ساتی ووژل شو، د جبغویه خلخي( د خلخ واکمن) اولاد د هغهٔ له مېرمنو سره ونیول شهٔ... هغه څه چې د مهرب بني‌دومي کابلشاه پر خول لیکل شوي وو، پورته ولیکل شول»[2]

د دې لیکنې د شننې لپاره لاندېنیو مطالعاتو او پلټنو ته اړ یاستو:

---

[1] - اخبار مکه ۱٦۰.

[2] - پورتنی اثر ۱۴۹.

**لومړی اصبهبد:**

د هغې شرحې له مخه څرگندېږي چې ازرقي د اخبار مکه په دوهو ځایونو کې ورکړې- موږ په تېرو کړښو کې راواخیسته- چې د دې کابلشاه نوم مهراب و او له دومي کورنۍ څخه گڼل کېدۀ. نو په عربي تعبیر (بني‌دومي) وبلل شو؛ خو سپهبد یې پوځي او پاچاهي اعزازي لقب و. دا ټول پاچاهان یې له دې امله کابلشاهان بلل، چې کابل یې پلازمېنه وه.

اصفهبد د سپهبد معرب له سپه – بد- لښکرمشر او د لښکرڅښتن(المعرب جوالیقي ۲۱۸) څخه مرکب دی، چې په پخوانۍ پاړسو کې سپاده، په اوستا کې سپاذه و- د اوستا پتي( پهلوي پت- سنسکریت پتي- دري بد) دی او د خراسان ډېرو واکمنو داسې لقبونه درلودل. د ۱۹س شاوخوا یې د بلخ واکمن«سپهبد بلخ» بالۀ(طبري ۵/ ۳۲۰). البیروني وایي: څرنگه چې د کابل اصبهبذ مسلمان شۀ، د سپینو او سرو زرو بتان ترې واخیستل شول، چې د یاقوتو یو غمی هم په کې و. مامون هغه ولېږۀ چې پر کعبه یې وځړوي.[1]

موږ د کابلشاهانو په لړۍ کې د هرماته د ترتیب له مخه د(۷ کسو) شري‌سپاله‌پتي دیوه(۹۱۱ز شاوخوا) نومونه واخیستل دي، چې سیکې یې شته(اووم انځور). د دې نامۀ دري بڼه سپهبد( معرب یې اصفهبد) دی. فردوسي د توران واکمن پشنگ په دې نامۀ ستایلی دی:

سپهبد چو شایسته بیند پسر   سزد گر برآرد بخورشید سر

(شاهنامه ۱ /۱۱)

ابن‌اسفندیار وایي:« د سپهبد نوم ستایل شوی.... سپهبد زموږ د پېر په باوندانو چې واکمن او پاچاهان وو، له ډېرې غوسې... دوهم د وشمگیر کورنۍ چې واکمنان او پاچاهان یې اولادونه وو...»[2]

اسدي طوسي په گرشاسپنامه کې همدا لوی واکمن د سپهبد په لقب یاد کړی

[1] - (کتاب‌الجماهیر ٦٧، د ۱۳۵۵س چاپ).

[2] - (تاریخ طبرستان ۱/ ۱۴۲)

دی: «سپهبد له ډېرې غوسې وپارېدۀ او ویې ویل...(۹٦ مخ)» د دې ادبي اسنادو له کتنې په ډاګه کېږي چې دا نوم د دې خاورې د واکمنانو لپاره کارېدۀ، نو له دومي کورنۍ کابلشاه مهراب سپهبد لقب درلود چې د ازرقي په اخبار مکه کې یې معربه بڼه اصفهبد لیدل کېږي.

**دوهم**- مهراب: د ډېرو کابلشاهانو نوم و او په عربي متونو کې یې کله هغه مهرب هم لیکلی دی. په پاکستان قدیم مجله کې یې په تېروتنې سره هغه هندي مهراج کړی[1] چې د هېښتیا وړ ده.

مهراب هغه نوم دی چې د خراسان د پهلوانۍ په پخوانیو روایتونو کې راغلی او په منظومو دري داستانو کې له کابلشاهانو سره د رستم او د هغۀ د کورنۍ د اړیکو په لړ کې ډېر لیدل کېږي. نو په هیڅ ډول هغه هندي مهراج نه شو ګڼلای، ځکه تر اوسه هم په افغانستان کې د مهراب‌خان نوم دود دی، چې ځینو هغه عربي محراب ګڼلی دی.

محمدحسن برهان وایي: مهراب د کابل د پاچاه نوم دی، چې(مهر) د لمر او (آب) د برم او ترکیب یې لمرین برمی یا د لمر برم لرونکی معنی ښندي.[2] ډارمستېټر وایي: د مهراب نوم به د پخوانیو نومونو لکه سهراب، رودابه، افراسیاب او نورو له مقولې څخه وي او وروستی آب یې روستاړی دی.[3]

په شاهنامه کې د زاول او کابل پاچاه د یرغلګر ضحاک له نژاده و او رودابه د کابل‌خدای مهراب لور، د رستم مور ده. د همدې داستان په یوۀ بیت کې راغلي دي:

برون رفت مهراب کابل‌خدای     سـوی خیمـه زال زابل‌خـدای

(شاهنامه ۱/ ۱۵۷)

که څه هم د فردوسي دا یادونه داستاني بڼه لري او د تاریخ چورلیځ نه ګڼل کېږي؛ خو څرنګه چې د فردوسي ماخذونه پخوانۍ خداینامې او لرغوني نکلونه وو، نو پوهېدای شو چې د مهراب نوم په کابلشاهانو کې دود و. که څه هم د تاریخ له

[1] - پاکستان قدیم مجله (۲/ ۱۹٦۲ز پېښور چاپ)

۲ - (برهان قاطع ۲۰٦۳).

[3] - (مطالعات ایرانی/۲۹۸).

مخه یې ټاکلی سړی په یقیني ډول نه شو په ګوته کولای؛ خو همدومره وایو چې دا نوم تر اسلام د مخه له پخوانیو داستاني پېرونو څخه د درېیمې لیږدې پېړۍ تر پیل پورې دود و؛ نو د دري د دې خوارۀ نامۀ نښلول په هندي مهراج پورې له ناپوهې سرچینه اخلي.

**درېیم- بنيدومي:**

د عربي دا اضافي ترکیب یې هم په هماغې «پاکستان قدیم» مجله کې د سنسکرېت ریښو: پتي درمي یا پتي دیوا ته کش کړی دی، چې د اټکلدا غشی هیڅ سم او په نخښه لګېدونی نه دی. نه عربي کلمه بني- پتي ده او نه دومي کوشاني- درمي یا دیوا ده.

بني کلمه د عربي له ابن(زوی) څخه ده چې جمع یې بنون او ابناء ده او په اضافي حالت کې د اسانۍ لپاره په (بني) بدلیږي[1] لکه بني عباس، بني قریظه، بني فاطمه. نو د عربي متن له بنيدومي څخه هم موخه زامن، کورمه، اولاده او دومي قبیله ده.

**خو دومي:**

بېشکه چې دومي له پنځګونو کوشاني قبیلو څخه یوه وه. کله چې «یو یه- چي» وګړي د ۱۳۵مخزیږدي کال شاوخوا له امو راواوښتل او تاهیا(تخار) ته راورسېدل، هغوی‌پنځه قبیلې وو چې د(۴۰ز) شاوخوا د «کوی- شان» قبیلې مشر «کیو- تسیو- کیو» د نورو څلورو قبیلو مشران ایل کړل او په خپله یې د« شاه- کوی- شان» په نامۀ د هغه مهال د نړۍ څلورمه لویه ستر‌واکي د ټول افغانستان، ماوراءالنهر او نیم شمالي هند په ګډون جوړه کړه. د غزني شاوخوا یې پوتا وګړي هم ایل کړل، واله دوپوسن فرانسوی وایي چې هغه همدا پښتانۀ(پخواني ویدي پکهت) دي. له همدې مهاله ده چې کوشاني او تخاري آریایي نژاده کوچیان له پښتنو سره ګډ شول، له همدې امله کوچي نومونه په پښتو او دري کې پاتې شول. کشانۍ هم یوه پښتنه قبیله ده.

د کوشاني تاریخ په اړه له مهمو سرچینو څخه درې مو په واک کې دي:

---

[1] - (مقدمةالأدب ۲۳۵).

**۱- د جنرال «چنگ- چي ين» رپوټ** په ۱۴۰ کې د هغۀ تر مړينې ۱۱۴مخزيږدي پورې، هغه د سونګ – نو(هون) د لوېديځو پولو د دښمنانو د ماتولو او د چين په پلوئ د«يويه- چي» د مرستو خپلولو لپاره لېږل شوی و. ۱۳ کاله په دې کار بوخت پاتې شو. په ۱۲۸ مخزيږدي کال کې د يويه – چي په منځ کې و. د هغۀ د رپوټ ۱۲۳ څپرکی دلته بشپړ شو، چې سو- ما- تان(۱۱۰ مخزيږدی مړ) او زوی يې سي- ما- چي ين د ۱۱۰مخزيږدي شاوخوا ترتيب کړ.

**۲- د پخوانيو هونانو تاريخنامه:** «چي ين- هان- شو» چې د ۸۰ ز شاوخوا «پان- کو» وليکله او د پلار پان- پياو(۵۴ ز مړ) پر څېړنو ډډه لګوي.

**۳- د وروستيو هونانو تاريخنامه:** «هو- هان- شو» د (فان- يه تأليف۴۴۶ز) د ځينو راوروسته څېړنو په مل کولو په ۱۲۵ز کال کې د چين سترواکمن ته د جنرال پان- نيګ د رپوټ پر بنسټ.[1]

دا ټولې چينايي سرچينې د (يويه- چي) د پنځګونو قبيلو په اړه په يوه خولۀ دي. له هغې جملې د «چي ين- هان- شو» تاريخنامه د دې پنځګونو قبيلو نومونه داسې يادوي:

لومړی: هسيو- مي Hsiu- Mi (مارکوارت وايي ښايي واخان يې پلازمېنه وه).

دويمه: شوانګ- مي Shuang- Mi ښايي چترال يې پلازمېنه وه).

دريمه: کوی- شوانګ Kuei- Shuang (د ګندهارا په شمال لوېديځ کې هو- تساو يې پلازمېنه وه).

څلورمه: هسي- تون His- Tun (درپو- ماو، ښايي پروان يا پنجشېر يې پلازمېنه وه).

پنځم: کاو- فو ( پلازمېنه يې هم په کاو- فو کې ښايي کابل).[2]

خو د وروستيو هونانو په تاريخنامه کې د پنځه قبيلو نومونه داسې دي:

لومړی: هيو- مي Hyu- Mi

---

۱ - د کوشان پاچاهی هنر، روزن فيلډ، د کالفورنيا چاپ ۱۹۶۷ز، ۲۸۱مخ).

۲ - (د مارکوارت ايرانشهر ۲۴۲).

دویمه: شوان- مي Shuan- Mi

درېیمه: گوی – شان Gui- Shan

څلورمه: خسییه Khisiya

پنځم: دو- مي Du- Mi [1]

اوس وینو چې پنځمه قبیله هماغه(دومي) ده چې ازرقي هم په اخبار مکه کې مهراب کابلشاه "بني‌دومي" گڼلی دی او عربي لاسوند له چینایي سره سمون خوري. هغه چې د څلورو قبیلو د نومونو په پای کې د(مي) یو روستاړی دی- باید د اوسنیو قبیلو د (خېل- زی) مفهوم ولري.

د کابل د دومي په اړه دا پخوانی لاسوند هم د یادونې دی چې: ستین کونو د خروشتي کتیبو د دوهم ټوک په سریزه کې وایي: د چین استازي چانگ- کین د (۱۳۰ مخزېږدي شاوخوا) د یویه – چي پنځم امارت(کاو- فو) نوملی، په داسې حال کې چې د هو- هان- شو (د وروستیو هونانو تاریخنامه) په کتاب کې د دې هېواد نوم دومي– تومي دی، چې ستین کونو هغه هماغه د تاهیه(تخار) اړوند کاو- فو گڼي چې پلازمېنه یې په بدخشان کې« لان – شي» وه. تر زېږد وروسته کلو کې یې هغه د کابل په گډون دومي بللې ده، چې مخکې مو په دې اړه د مارکوارت وینا راوړې ده.[2]

**څلورم- په جغتو کې د ویماشاه ډبرلیک:**

جغتو د غزني د شمال ختیځ په ۲۰ میلۍ غرنۍ لړۍ کې د جوپو پر لاره د پښتنو وردگو استوگنځی دی. غزني ته د غځېدلې لارې پر کیڼ اړخ په برگول نومې ځای کې یې په یوۀ ډبرین تامبېړ پنځه کرښې د کوشانیانو د وروستیو په شکسته یوناني لیک(۶۰ X ۶۷) سانتي متره کیندلی. د دې ډبرلیک انځور لومړی ځل د شرق و غرب په مجله کې خپور[3] او د لوستنې په اړه یې د دوهو کسو هلموت هومباخ او گوبل رایې هم چاپ شوې. دا ډبرلیک باید داسې ولوستل شي:

---

[1] - (سویت یونین مجله، لومړی کال ۱۹۶۹ز: ک- بلیچوف).

۲ - (د تفصیل لپاره وگ: حبیبي، تاج کابلشاه در کعبه، د کابل چاپ ۱۳۴۸ل).

[3] - شرق و غرب مجله(۱۹۶۷ز مارچ، د روما چاپ۲۶مخ.

«بگه – گه که تي شاه- پور- ویما شاه- الغ».

یعنې لوی ویماشاه شاهپور د جغتو واکمن(خداوندگار)[1]

د لیکدود او کلمو د کارونې له مخه ویلای شو چې دا ډبرلیک به د ۵- ۸ ز پېړۍ تر منځ لیکل شوی وي او دا ویماشاه شاهپور د کابل شاوخوا د کوشانیانو له اولادې څخه دی. نوم یې کټمټ د کوشاني لوی واکمن او ژغورندوی ویما کتهه‌فیسه (۷۸ز شاوخوا) نامهٔ ته ورته دی. ځان یې د جغتو(غزني) شاهپور نوملی او ښایي د کابلشاه له خوا د دې ځای واکمن او د کابل د کوشاني بنيدومي کورنۍ اړوند وي.[2]

**پنځم- د گومل بغپور نی‌بخت ډبرلیک:**

یو ډبرلیک په باختري- کوشاني دوه‌و ژبو په شکسته یوناني لیکدود او په سنسکرېت ژبه په دیوه‌ناگري لیکدود د ایدک او سپین وام( د افغانستان په ختیځ کې ټوچي سیمه) پر لاره د میرعلي د څلوېښت میلۍ په "خزونه" نومې ځای کې په ۱۹۲۶ز کال موندل شوی، چې په پېښور موزیم کې پروت دی خو د دواړو ژبو ځینې کلمې یې زیانمنې شوې دي.

د سنسکرېت متن په لوستنه کې د سموت ۳۸ کال د باختري متن(۸۲۶ ز= ۲۴۹ س) د خشون(سلطنت) له ۶۳۲ کال سره سمون خوري، چې دواړه تاریخه د سنسکرېت له سموت او وروستۍ کوشاني سنې خشون سره برابر دي.

په سنسکرېت متن کې د چندره‌بهوپه(ماه‌شاه‌م) او کهوجنه‌پتره(کوشانزی) نوم راغلی دی چې په باختري دا متن:« د گوان له کورنۍ ماه‌شاه‌م نی‌بخت گومل بغپور مؤحد، د بهار نی‌بخت لوی کوټ جوړ کړ» لوستل کېږي. له دې پوهېږو چې وروستي کوشانزي واکمن ماه شاه نی‌بخت د گومل شاهزي، د ټوچي په غرهٔ کې په خپل نامهٔ بهار(عبادتځی) جوړ کړی و. دا هغه مهال دی چې پوشنگي طاهریان د هېواد په لوېدیځ(خراسان) کې د خپل ملي حکومت په جوړولو لگیا وو.

له دې دوه ژبیز او دوه لیکدودیز ډبرلیک څخه جوتېږي چې د کوشانیانو د

---

[1] - حبیبي: هفت کتیبهٔ قدیم، د کابل چاپ ۱۳۴۸ل- ۱۷- ۱۹مخونه.

[2] -د تفصیل لپاره وگ: هفت کتیبهٔ قدیم.

اولادې وروستي شاه‌زي د هېواد ختیځو غرونو ته پناه وړې وه او د جغتو په څېر شاه‌زي په هماغهٔ نی‌بخت نامهٔ (د بغلان ډبرلیک) او ماه شاه (د بهلول مهر شهر) لقب په گومل او ټوچي سیمو کې واک چلاوهٔ چې د درېیمې لېږدې پېړۍ نیمایي کې یې هم د "کهوجنه پتره" یعنې "کوشانزي" په کلمو خپل کوشاني اصل و نسب لیکلی دی.[1]

**شپږم- د بوسر گومل بغپور ډبرلیک:**

د همدې ټوچي سیمې په شېرتلاو نومې ځای کې یو بل ډبرلیک موندل شوی، چې په پېښور موزیم کې خوندي دی. دا په عربي ژبه او لیکدود او په باختري-کوشاني ژبه په ډېر شکسته یوناني لیکدود دی. څلور عربي کوفي کرښې یې زیانمنې شوي او بې له الله کلمې یې نور څه نه لوستل کېږي؛ خو د یوناني لیک (X۳۴ ۱۱ انچه) یوولس کرښې لوستل کېږي. په لومړۍ کرښه کې یې د دې لوحې د لیکلو کال لومړۍ میاشت د ورمزد ورځې او د ۶۳۵ کال میزان (د کوشاني پېر وروستی) ۲۵۱س =۸۶۵ز لیکلی دی.

په نورو کرښو کې: د گو (پهلوان) شاه‌بوسر.. خاقان‌مان- خان‌قزل- د ستر (اعلی) لوی کوشان گومل‌بغپور له خوا د یو ساهوسرای (د سوداگرو استوگنځی) ودانې ده.

د کنیشکا د پېر په کوشانیانو کې هم د بوسر نوم و، د سرهٔ کوتل په ډبرلیک کې شاه بگپوهر (بغپور) لویک‌بوسر تر کوشاني ستراوکۍ لاندې یې د ۱۶۰ز شاوخوا پر بغلان واکمني کوله.[2] د گو – پهلوان له کورنۍ څخه د گومل بغپور له لقب او خان، قزل (سور) له لقبونو سره زموږ په نورو بحثونو کې اشنا شوي یاست. د گومل دې شاه‌زي د ټوچي سیمې په بل ډبرلیک کې له یاد شوي «نی‌بخت» کوشانزي څخه درې کاله وروسته، دا ډبرلیک لیکلی او ځان یې په زغرده کوشانزی بللی دی. ان په ډېر شکسته یوناني لیکدود کې یې له عربي لیکدود سره سم د یوناني تورو (ش- ن) له پاسه ټکي هم اېښي دي. وروستي کوشاني بغپور د گومل او وزیرستان سیمې په

---

[1] - د تفصیل لپاره وگ: حبیبي، هفت کتیبهٔ قدیم ۲۴- ۳۷.

[2] - حبیبي، تحلیل کتیبهٔ بغلان، د کابل چاپ او د دې کتاب ۴۷مخ.

واکمنۍ کې دا اغېز له عربي فرهنګه منلی دی او پر دې ډېرلیک یې عربي کلمې په کوفي لیک کښلې دي، چې اوس یې راته لوستل ناشوني دي.[1]

## د دې بحث پایله

۱- د ازرقي له لاسوند، په کعبه کې د کابلشاه د خول د عربي لوحې له نقل او چینایي روایاتو سره د دې لاسوند له سمونه څرګنده ده، چې کابلشاهان له دومي کوشاني قبیلې څخه وو او مهراب سپهبد کابلشاه د ۲۰۰س= ۸۱۵ ز شاوخوا عباسي خلیفه مامون په مروه کې لیدلی، خپل خول او پلاز یې ورډالۍ کړي او مسلمان شوی دی.

۲- د جغتو او ټوچي وادۍ له ډېرلیکونو څرګندېږي چې په لومړۍ او دویمه اسلامي پېړۍ کې د بنيدومي کابلشاهانو د ځایناستو په توګه د کوشاني پاتې شونو همدې شاه‌زیو په غزني، ګومل، ټوچي او نورو سیمو کې واکمني درلوده چې په دغو ځایونو کې یې عبادتځي، د سوداګرو تمځي او نور جوړ کړي دي. د یوناني، سنسکریټ او عربي کوفي په درېوو ډېرلیکونو کې یې ځانونه کوشانزي نوملي دي. ښایي له کابلشاهانو، رتبیلانو، زابلشاهانو او د کوشاني هېواد له نورو واکمنانو سره یې د ودونو، کورنیو او نژاد اړیکي درلودل؛ خو په دې اړه زموږ معلومات ډېر لنډ او له څو موندل شویو ډېرلیکونو راوتي دي. ښایي یو مهال د لاروښانه معلوماتو د بشپړتابۀ لپاره نور وسایل تر لاسه شي.

## نغرکوټ

له لویو سوداګریزو لارو څخه یوه له غزني څخه سوېل ختیځ لور ته له اوسنۍ پختیا ولایت څخه تېرېده، چې د پیواړ کنډو یا ګومل درې له لارې پاړه‌چنار، ټل، ټوچي سیمې او په پای کې ډېره اسماعیل‌خان، بنو او د اباسین غاړو ته رسېده. دلته د اوسني پاړه‌چنار سوېل ته د ټوچي سیمې په پای کې تاریخي جنګي نغرکوټ پروت و. البیروني وایي چې د کابلشاهانو انځوریزه شجره هلته ساتل کېده.[2] دا کوټ د

---

۱ - د تفصیل لپاره وګ: حبیبی، مادر زبان دری، د کابل چاپ ۱۳۴۲ل او هفت کتیبۀ قدیم د کابل چاپ ۱۳۴۸ل.

۲ - کتاب‌الهند ۳۴۹.

سلطان مسعود په پېر کې د لرېوالي او خونديتوب له امله د غزني دربار د مخالفو شاه‌زيو زندان و،[1] چې هغۀ ته منسوب به يې نغري بلل.[2] امير تېمور په ۸۰۰ س کې د هندوستان پر لاره د کورمې سيمې له شنوزان څخه دلته راورسېد. د ۸۰۱ س کال په محرم کې يې شاه‌علي فراهي په نغركوټ کې واکمن پرېښود او په خپله بانو(بنو)، د سند سيند غاړې او د نيلاب گودر ته ورسېد.[3] تر دې د مخه ياقوت د نغر موقعيت له غزني څخه د شپږو ورځو لارې په واټن ټاکلی و.[4]

بابر هم په ۹۱۴ س کې د پېښور او هنگو له لارې برو بنگښو، ټل او بنو ته ورسېد چې د بنگښو غرنۍ سيمه او نغر يې شمال ته پراته دي.[5]

نغر اوس هم په همدې نامۀ د ټل شمال ختيځ ته د کورمي ناوې د خولې او کوهاټ تر منځ پروت دی. هلته د پخوانيو کنډوالو نخښې ليدل کېږي، چې د ټوچي سيمې ډبرليکونه هم د هغې په سوېل لوېديځه سيمه کې موندل شوي دي.(وگ: نقشه ۴۰)

## خنجل- خانگل

خنجل ډېر ناڅرگند دی، د ځينو عرب مؤرخانو(۲۹۲س شاوخوا) په روايت وليکل شو. (دلته يه کرښه متن پرېښودل شو، زه يې په مفهوم پوه نه شوم) د کتاب په متن کې د خنجل کابلشاه په اړه د اليعقوبي په حواله - عربي خنجل- خنگل د کوشانيانو د پېر په وروستيو کې تر دويمې اسلامي پېړۍ پورې په افغانستان کې د کابلشاهانو په نامۀ يوې لړۍ واکمني درلوده چې د واک وخت يې له ۴۵۰ز شاوخوا تر ۸۰۰ ز پورې رسېږي. ختيځپوه عالم هرماته HARMATA يې په اړه مفصل

[1] - تاريخ بيهقي ٦٥٩.

[2] - آداب الحرب ۴۸۲.

[3] - علي يزدي: ظفرنامه ۲/ ٣٦.

[4] - معجم البلدان ۵ /۲۹۵.

[5]- بابرنامه ۹۴ .

معلومات ورکوي.[۱] د کوشاني پېر د وروستيو د دې مهمې موضوع د بشپړتابهٔ لپاره پر ځينو مطالبو دلته رڼا اچوو:

دا نوم په افغانستان کې د اسلامي سوبو د لومړيو له کابلشاهانو څخه د يوهٔ شخصي (عَلم) نامهٔ په توگه پېژندل شوی او په متن کې د راغلو دوه‌و سندونو (تاريخ يعقوبي او کرامات سخی سرور) له مخه مې پرې شننه ليکلې ده؛ خو اوس د دې نامهٔ د لوستو او د نامهٔ په شننه کې تر نويو پلټنو وروسته بايد لاندينی ترميم او سمون په کې راوستل شي.

حنحل- د تاريخ يعقوبي او کرامات سخي سرور د نسخې خنجل کلمه په بشپړ ډول سيمه‌ييزه او د افغاني ژبو له اجزاوو جوړه ده، اوس يې زه په (ج) خنجل لولم.

د دې لوستنې دليل دا دی چې تر اسلام د مخه پر کابل او گندهارا داسې پاچاهانو واکمني کړې ده چې کورنی لقب يې خنگل و. ووکينگ[۲] چينايي چې په ۷۵۰ز کې يې گندهارا ليدلې وه، د خپل سفر په پېښو کې د کابلشاهانو د اصل په اړه ليکي چې هغوی د يوهٔ پخواني پاچاه کی- نی- تچا[۳] اولاده وه.[٤] له دې روايت سره سم د گندهارا پاچاهانو ځانونه د کنيشکا اولادونه گڼل، ښايي په دې نسبت کې يې لومړی، دوهم او درېيم کنيشکا سره گډ کړي وو؛ خو په هر صورت د خپلې کورنۍ جرړه يې کنيشکا گڼله، چې دا تاريخي روايت تر ۹- ۱۰ز پېړۍ پورې هم د وروستيو کوشانيانو تر منځ پاتې و. درېيم کنيشکا په ۲۳۲ز کې د وروستيو کوشانيانو پر پېر تاريخ وضع کړی و. د تاريخ ټاکنې دا سنه د اسلام تر راتگ پورې په ټولو وروستيو کورنيو کې چلېده.

تر ووکينگ يوه پېړۍ د مخه د ٦۵۸ز په يوهٔ چينايي رپوټ کې ويل شوي چې په کی- پن (کاپيسا) او گندهارا کې د هفتالي کورنۍ په ځايي واکمنو کې داسې

---

[۱] - کتيبه هاى متأخر زبان باخترى،د اکتا انتيکا چاپ- بوداپست ۱۹٦۹ز.

2- WU- k'UNG.

3- KI- NI-TCHA.

٤ - د کينک په سفر د س- ليوي مضمون، ايشياټک مجله،٦ گڼه، ۱۱ټوک، ۳۵٦مخ، ۱۸۹۵ز.

روایتونه وو چې د هغې کورنۍ بنسټګر هنک – نی و او دا چینایي تلفظ خنګل دی،[۱] چې ښايي هغه د تاریخ ټاکنې لپاره مبداء ټاکلې وي، څکه د ل، پټیچ د څېړنې له مخه د کابل په یوه کتیبه کې د خنګله[۲] د پېر اتم کال لیکل شوی دی[۳] چې پر هفتالیانو یې د هغه لومړنی لاسبری د ۴۲۲یا ۴۶۶ز شاوخوا ګڼلی دی او په ۶۵۸ز کې چې چینایي رپوټ لیکل کېدۀ د هو- چي په نامۀ پاچاه ژوند کاوۀ، چې د خنګل دولسم پښت و.

مارکوارت په (کی- پن) کې د اوومې زېږدې پېړۍ پاچاهان د کېداریانو اولاده ګڼلې، نو څکه خنګل د کېداره زوی ګڼي[٤] خو پټیچ د چینایي رپوټ «هنک- نی» نوم ته له خنګله[۵] پاچاه سره سمون ورکوي، چې د کابل په سنسکرېټ ډبرلیک (نوی خپور شوی) کې لیدل کېږي.

څکه د هغه پر سیکو هم دیوه- شاهي- خنګله[٦] لیکل شوی دی، چې د مخه کننګهم او اورل‌ستین هم په راجه‌ترنګیني کې د یاد شوي(۱ /۹۰)خن‌خېله نریندرادیتیه[۷] سره سمون ورکړی و. د چینایي سرچینو له مخه هم هغه یو تاریخي شخص ګڼل کېږي، چې په (سو- تي)[۸] کې یې د ۴۶۵ز تر منځ واکمني درلوده او په چینایي ژبه یې نوم د (هو- یي) یا (هو- ني- هنګ – ني= خنګل) دی.

دا تاریخي آثار له دې اړخه مؤثق ګڼم چې د هفتالي پاچاهانو په لړ کې هم د دې پاچاه سیکه په یوناني- باختري لیک شته، پر هغې خنګل- اخان[۹] لیکل شوی[۱۰] خو ګیرشمن په تېر سره دا کلمې هینو لوستي دي.[۱۱] څرنګه چې په براهمي لیک کې

---

۱ ـ E. CHAVANNES د توکیو (ترکانو) په اړه اسناد، ۱۳۱.

2- KHANGILA.

۳ ـ L. PETECH د آسیایي ټولنې په مجله کې ۳۹٬ ۲۸۷، ۱۹۶۴ز کال.

٤ ـ ایرانشهر ۲۸۴.

5- SHAHI- KHINGALA.

6- DEVA-SHAHI- KHINGALA.

7- KHINKHILA- NARINDARA- DITYA.

8- SU-TE.

9- XIGGIL (O) AXAN.

۱۰ ـ اندوسیتهین متأخر، د کننګهم، اووم انځور.

۱۱ ـ خیونها و هفتالیت ۱۹مخ؟ ۱۷انځور.

ښهٔ روښانه (دیوه- شاهي- خنګله)دی؛ نو د یوناني لیک لوستنه هم له هماغهٔ خنګل سره سمون خوري، چې دې کابلشاه د یوناني لیک سیکې د باختر لپاره او د براهمي لیک هغه د ګندهارا لپاره وهلې. د براهمي لیک د شاهي کلمې پر ځای په یوناني لیک کې (اخن‌هفتالي) [1] کلمه راغلې ده.

پر دې سربېره د همدې خانګل په اړه بل لاسوند هم د اسلامي پېر د جغرافیې او تاریخ په کتابونو کې تر سترګو کېږي چې د کندهار شاوخوا یو ځای و. هغه یې په خطي کتابونو کې په بېلابېلو املاوو جنګل‌ایاز- جنګل‌باد- جنګل‌باز راوړی دی. اصطخري او ابن‌حوقل دواړه د بُست او غزني ترمنځ د واټونو په شرحه کې د جنګل‌آباد نومې ځای یادونه کوي، چې له تګین‌آباد څخه په دوه پړاوه کې و[2]. ابوالفضل بیهقي د دې ځای نوم د تګین‌آباد کوهتیز(کوهک) په لیکه کې د ګور، الشت او د غور مندېش پر لاره یادوي[3] چې په خطي نسخو کې جنګل‌ایاز دی؛ خو سمه لوستنه یې د اصطخري او ابن‌حوقل جنګل‌آباد ګڼل شوې ده.[4] که څه هم ما د هغهٔ یوه لوستنه چنګل‌آباد(د کندهار د شمال په لس میلۍ ارغنداب کې‌پرته) هم وړاندیز کړې‌ده[5] لیرې‌نه ده چې دا نوم کابلشاه خنګل(خنګل‌آباد) ته منسوب وي. ځکه په همدې‌سیمه کې د تګین‌آباد په نامهٔ ځای هم و چې بنسټ به یې تګینشاه ته منسوب وي؛ خو اوس هلته په دې نامهٔ کوم ځای نه لرو.

که موږ خنګل‌آباد د تګین‌آباد او کوهک(د اوسني کندهار شاوخوا) په کتار کې د والشتان او د غور د مندېش په لاره وګڼو؛ نو باید د ارغنداب ناوې دا سیمه یو مهال د خنګلان کابلشاه تر واک لاندې وګڼو چې د دې کورنۍ یوهٔ پاچاه به په هغې سیمې کې ښار جوړ کړی وي. که څه هم اوس د دې ښار او نامهٔ څرک نه لګي.

که د پورتنیو اسنادو تر لوستو وروسته اوس محاسبه وکړو، د لومړي خنګل

---

[1]- AXAN-O خیون- خان.

[2]- مسالک‌الممالک ۲۵۰، صورة‌الارض ۴۲۲.

[3]- تاریخ بیهقي ۷۵.

[4]- پورتنی اثر، لمنلیک ۷۴مخ.

[5]- آریانا ۲۸ ټوک، ۵ګڼه، ۱۱مخ.

۴۵۰ز شاوخوا او په تاريخ يعقوبي کې د ياد شوي ۷۸۰ز شاوخوا د اسلامي پېر د خنگل تر منځ له درېوو پېړيو زيات واټن دی، چې په هغهٔ کې بايد تر لومړي خنگل وروسته لس کسه رامنځ ته شوي وي. پر دې بنسټ بايد وويل شي چې په اتمه پېړۍ کې خنگل د کورنۍ نوم و، نه د وگړي. لکه چې د کابل په سنسکرېټ ډبرليک باندې په شاهي- خنگله- اتيته- شاهي کې[1] خنگله لقب او اتيته شاهي وگړنوم دی. په داسې حال کې چې د يوناني او براهمي ليک پر سيکو خنگله- خنگليه- خنگل وگړنوم دی چې د ۷- ۸ مې زېږدې پېړۍ کابلشاهان خپل نسب د هغهٔ کورنۍ ته رسوي؛ خو په لومړيو کې په هفتالي ستراواکانو کې د لقب په توگه خنگل نه کارېدهٔ او موږ پر سيکو د داسې پاچاه نوم وينو چې خنگل لقب نه دی او د سيکو له ځانگړو نخښو (سمبولونو) ښخه ښرگندېږي چې له همدې کورنۍ ښخه دی.

د لومړي خنگل د مقام لوړوالی بايد له دې ښخه اټکل شي چې د هغهٔ په واکمنۍ کې د تاريخ ټاکنې[2] يو نوی پېر پيل شوی، لکه چې د کابل سنسکرېټ ډبرليک يې د دې پېر په اتم کال ليکلی دی. همدا رنگه به د تورهمانه پر سيکو (هفتالي پاچاه تورهمن ۵۲ کال) د خنگل د پاچاهي پيل د همدې پېر اړوند وي.[3] داسې برېښي چې د وروستيو کوشانيانو د پېر کاليز د هند او هماغې گندهارا په سيمو کې پاتې شوی دی، چې د هفتاليانو تر اغېز لاندې وې.

د سيکو د څېړنو له مخه د خنگل کورنۍ پاچاهان بايد داسې وټاکل شي:

۱- ديوهشاهيخنگله- خنگلاخان- هنگ‌نی، چې لومړنۍ اصطلاح براهمي، دويمه يوناني او درېيمه چينايي ده. د پاچاهي پيل يې د ۴۶۰- ۴۶۶ ز کلو ترمنځ ټاکلی شو او د هغهٔ اتم کال د کابل په کتيبه کې راغلی دی.

۲- جووله پاچاه چې گندهارا او د هند سيمې يې ونيولې، څېړونکو يې په اړه داسې شرحه ورکړې ده:

له چينايي سرچينو سره سم، د گندهارا د کيداريانو له خوا وروستي پلاوی په

---

1- SHAHI- KHINGALA- UTYATA- SHAHI.

2- ERA.

۳- کننگهم د منځنيو پېړيو د هند په سيکو کې، ۳ انځور.

۴۷۷ ز کې د چین دربار ته ورغلی و، په داسې حال کې چې په ۵۲۰ز کې هفتالیان پر گندهارا واکمن وینو، ځکه یې د هفتالیانو له خوا د گندهارا د نیولو نېټه په پنځمه پېړۍ کې د ۴۷۷او ۵۲۰ز کلونو تر منځ ټاکلې ده.

۳- راجه لکهنه اوده یادیتیه[1] چې یادونه یې په راجه‌ترنگیني(۳/ ۳۸۳) کې هم شوې ده، کننگهم په اندوسیتهین کتاب کې د هغهٔ سیکه( ۷-۲ شکل) راوړې ده. هومباخ او گوبل د هغهٔ پر یوه سیکه او یوهٔ مُهر د الخان[2] کلمه هم لوستې ده.

۴- هغه پاچاه چې نوم یې د هغهٔ په سیکه په یقیني ډول نه دی لوستل شوی، دا سیکه د خنگله د پېر په ۹۲ کال وهل شوې چې له ۵۵۴ز سره سمون خوري.[3]

۵- د دې لړۍ د پاچاهانو په سیکو کې یوه داسې سیکه ده، چې د وهنې کال یې ۱۰۱= د خنگله پېر ۵۶۳ز دی او لیکنه یې هم خنگل- خنگلنگ لوستل کېږي. دا سړی دوهم خنگله گڼل شوی او باید د ۵۶۳ز شاوخوا یې واکمني کړې وي، ځکه د خنگله پېر پیل یې ۴۶۲ز ټاکلی دی.

داسې برېښي چې په هند او تخارستان کې به د هفتالیانو د سترواکۍختیځه او لوېدیځه څانگه په شپږمه پېړۍ کې یو له بله جلا شوې وي (۵۱۵ز شاوخوا) ځکه توره‌مانه او مهیره‌کوله په هند کې سیکې وهلې دي، چې د گوپتا د دارالضرب کار ته ورته دي او د خانگل د کورنۍ ځانگړې نخښې پرې نه لیدل کېږي؛ خو له دې سره هم د توره‌مانه پر سیکه باندې ۵۲ کال د خنگله پېر- ۵۱۴ز لیکل شوی دی، چې د خنگله کورنۍ برتري ثابتوي؛ نو په گندهارا او پنجاب کې به توره‌مانه حاکم د خنگله تر لاس لاندې وي؛ خو بیا په هند کې خپلواک کېږي او په خپل یوهٔ ډبرلیک اران[4] کې یې ځان د (مهاراجه دهیراجه) په لقب خپلواک پاچاه نوملی دی.[5]

---

[1]- UDAYADITYA LAKHANA.

[2]- ALXAN.

[3]ـ په (کننگهم در اندوسیتهین متأخر) کتاب کې- وروستی ځل د دې پاچا د نامهٔ د لوستنې داسې وړاندیز شوی دی: ALADAN چې د منلو وړ نه دی(کتیبې ۴۳۱).

[4]- ERAN.

[5]ـ کتیبه های هند، د فلیت ۳/ ۱۰.

سره له دې چې د هفتاليانو ستړواکي د ۵۶۳ - ۵۶۷ز کلونو ترمنځ د ترکانو او ساسانيانو له خوا ړنګه شوه؛ خو د هغو ولايتونو په ليکلړ کې چې لومړي ساساني خسرو له هفتاليانو څخه نيولي، د کابل او ختل نومونه نه‌شته. له دې څخه جوتېږي چې د هفتالي پاچاهۍ تر ړنګېدا وروسته لا د هغهٔ ځينو ولايتونو خپله خپلواکي ساتلې ده. په تېره د کابل خپلواکي په دې وخت کې ډېره مهمه ده چې دې سيمې د هند او ايران ترمنځ د فرهنګي اړيکو او ثقافتي منځګړتوب نقش لرلی او د خنجل کورنۍ په نامهٔ کابلشاهانو خپلواکمني چلولې ده.

داسې برېښي چې د ۵۶۵ز شاوخوا د هفتالي ستړواکۍ تر ړنګېدا وروسته به له ځايي شاه‌زيو څخه د خنجل په نامهٔ يو څوک کابل ته راغلی او دلته به يې کابلشاهي جوړه کړې وي؛ خو له کشمير سره د دې کورنۍ اړيکو تل دوام درلودلی او هغه مهال چې له هغهٔ ځايه راشا ته شوي ګندهارا ته راغلي دي او يا له دې ځايه کشمير ته تللي او هم يې د مهيره‌کوله سيمه‌ييزو هفتالي، ترکو، د کوشاني پاتې شونو او کشميري واکمنو کورنيو سره د ودونو اړيکي درلودلي دي؛ نو له دې امله د خنګل لقب هم کله عام شوی دی.[1]

## د خنګل نامهٔ شننه او معنی

لکه چې ومو ويل دا نوم په يوناني کې خنګل، په براهمي کې خنګله او په چينايي کې هنګ- نی دی؛ خو د کشميري مؤرخ کلهنه په راجه‌ترنګيني کې خن‌خيله[2] و؛ نو که موږ دا نوم وشنو داسې دی: خن- خان- ګل- خېل- کهول(د خان‌خېل، خانزي او د خان له کورنۍ په معنی).

د پښتو د کهول اوسنۍ کلمه د کورنۍ او ټبر په معنی په ويدي کې کهوله وه، چې په سنسکرېت کې يې هم کټ‌مټ دا اوسنۍ معنی درلوده او په پښتو کې تر اوسه کارېدونې او ژوندۍ کلمه ده او د ګُل په بڼه روستاړی دی چې د ځانګړو نومونو په پای کې راځي. اوس يې خلک د ګل( عربي وَرد) په معنی ګڼي، لکه

---

۱ - کتبه های متأخر زبان باختری ۴۰۳.

۲- KHINKHILA راجه‌ترنګيني د اورل ستين ژباړه ۱- ۷۸ او ۸۶.

خانګل، راتګل (راحت ګل) مهراب ګل (محراب ګل) چې اصلاً يې پخوانۍ معنی په دې نومونو کې هماغه کورنۍ ده. موږ يې ان په ښځينه نومونو کې هم وينو، لکه مهاګل (لوړه کورنۍ) چې اوس د مينې په ډول ماه ګل شوې ده.

د قبيلو په نومونو کې د خېل کلمه له همدې ريښې څخه ده چې د کلهنه په خان خېل کې کټ مټ ليدل کېږي. د افغاني قبيلو سلګونه نومونه په دې روستاړي پای ته رسېدلي دي، لکه سلېمان خېل، غورياخېل؛ کله يې (زي) انډول دی، لکه محمدزي، بارکزي او الکوزي.

د خانګل نوم (لنډون يې خنګل) معرب او خنجل شوی دی، چې په تاريخ اليعقوبي کې راغلی دی. د مهرګل نوم له همدې مقولې څخه دی، چې له هماغۀ هفتالي مهيره کوله څخه به راپاتې وي او د مهر له کورنۍ څخه معنی لري. په پښتو کې يې ميرګل بولي. پښتو مېر- لمر هماغه د دري ژبې مهر دی. د خانګل او ميرګل نومونه تر اوسه په افغاني قبيلو دواړو ژبو پښتو او دري کې ژوندي او کارېدوني دي، چې له هماغو پخوانيو تاريخي زمانو څخه راپاتې دي. موږ پوهېږو چې اوس يې معربه بڼه محراب خان، محراب ګل، محراب شاه او نورې ليکل کېږي. په همدې تاريخي نومونو تر اوسه په تېره په قبيلو کې نومونې تر سترګو کېږي. (وګ:١٦ انځور)

**خنګل- خنجل (خانګل شاه)**

د ګيرشمن له خوا د هغو تورو لوستنه چې د انځور شا ته د ساعت د نهو له شاوخوا پيلېږي، هفتل او د انځور مخې ته خيون وړانديز شوې وه؛ خو بل عالم هرماته هغه خنګله لوستي دي. د لومړنۍ لوستنې لپاره "خيونها و هفتاليتها"[1] او د دويمې لپاره "اکتا انتيکا مجله"[2] وګورئ.

دا ډول سيکې په وروستيو سلو کالو کې د هډې په لويې ستوپې او د کابل شمال ته د بګرام په صدق آباد کې موندل شوې دي.

څرنګه چې يوناني ليکدود په باختري ژبه په تېره د اسلام د څلا په ورځو کې

[1] - خيونها و هفتاليتها، د ګيرشمن تأليف،١٩مخ، په فرانسوي ژبه، د قاهرې چاپ ١٩۴٨ز.

[2] - اکتا انتيکا مجله[2]، په انګليسي ژبه د هرماته مقاله، د هنګري د بوداپست چاپ، ١٧ ټوک، ٣-۴ ګڼه، ١٩٦٩ز کال.

ډېر شکسته او تغيير شوی و؛ نو د هغهٔ د تورو او کلمو سمه پېژندنه ستونزمنه ده. له دې امله د دې کرښو په اړه د عالمانو تر منځ ډېر اختلاف دی.

تر هغهٔ ځایه چې ما د دې لیکدود ډول ډول خطونه لیدلي دي؛ نو د هرماته لوستنه اصل ته نږدې ګڼم.

**نپکي لوستنه ناسمه او نېزک سمه ده**

له يوې پېړۍ راهيسې چې د افغانستان او مرکزي آسيا د سيکه پېژندنې هنر د ختيځپوهانو او مؤرخانو تر منځ ترتيب او علمي بڼه يې خپله کړه، د دې سيمې په موندل شويو پخوانيو سيکو، په تېره په پراخ پخواني کابل او ګندهارا کې داسې سيکې موندل شوي چې پوهانو د اسلام څلا ته د نږدې مهال د وروستيو يفتليانو د پېر اړوندې او يا ترې د مخه د نپکيملکا NPAKY- MLKA په نامهٔ لوستې دي.

له دغو سيکو پر يوې د پاچاه څېره له پهلوي ليکنې سره کيندل شوې، چې مخ يې ښي لور ته دی. پهلوي توري د ساعت له دوه‌و تر څلورو پورې رسېږي. د پاچاه په خول چې مخکې او شا ته دوه کوچنۍ جوغې لري، د ښکرور غوايي سر ليدل کېږي. دا سيکې يې زياتره په کاپيسا، د کابل خيرخانې، غزني او باميانو کې موندلي دي. پر بل مخ يې د اورتون شکل له دوه‌و ساتندويو پرښتو سره کيندل شوی دی(۱۷ انځور). څرنګه چې په پهلوي کې مالکا کلمه هوز وارش(شاه) ده؛ نو نپکيملکا- به نپکيشاه وي، چې کننګهم د سيکو دا لوستنه په اندوسيتهين متأخر [۱] کتاب کې خپره کړه. بيا يې د پوهانو تر منځ دود او پليون وشو. مارتن هم د بنګال د آسيايي ټولنې په مجله[۲] کې دا سيکې نپکيملکا- نپکيشاه وښودلې او ان ګيرشمن هم په خپل خيونانها و هفتاليان کتاب کې کټمټ همدا لوستنه باوري وګڼله. بيا وروسته هم همدې لوستنې تر اوسه اعتبار درلود او د افغانستان په تاريخ له هغې جملې په دې کتاب(۱۰۵مخ) کې يې هم ځان ځای کړ.

څرنګه چې د دې کورنۍ په اړه د مؤرخانو معلومات په هغو سيکو پورې اړوند

[۱] -اندوسيتهين متأخر، د لندن چاپ ۱۸۹۵ز.

[۲] - د بنګال د آسيايي ټولنې مجله، دويم ټوک ۱۹۳۶ز کال.

دي چې پر هغو د پاچاه څېره له څو پهلوي تورو سره کيندل شوې ده؛ خو د پښوانيو ختيځو او لوېديځو تاريخونو په متونو کې يې نوم نه دی راغلی؛ نو بې د پاچاه له نامهٔ او څېرې، نور هيڅ ډول معلومات په دې اړه په لاس کې نهٔشته؛ له دې امله مسلماً په شک او رد کې دي.

موږ د دې مقالې په ملتيا د نېکيشاهانو(؟) د سيکو ګروپ بېلګه د ګيرشمن د کتاب هفتاليان په حواله رااخيستې ده، چې د زردُشتي دين له اورتونو سره په کې د ساساني سيکې جوړونې پليون څرګند دی(۱۸- ۱۹- ۲۰ – ۲۱ شکلونه) څرنګه چې يې ليکنه هم پهلوي ده، نو څرګندېږي چې دې پاچاهانو د هېواد له سوېلي فرهنګي بهير سره اړيکي درلودل.

عرب مؤرخان په عربي تاريخونو کې د اسلام څلا ته نږدې، هغه مهال چې سوبمن عربي عسکر خراسان، زابلستان، کابل او سيستان ته راورسېدل، د دې سيمو د زياترو پاچاهانو، دهقانانو او واکمنو نومونه اخلي او هم په هندي او چينايي تاريخونو، موندل شويو ډېرليکونو، سيکو، نورو تاريخي سرچينو او ان د يونان، روم او ارمن په ځينو کتابو کې د خراسان او سند تر ناوې پورې د ورڅېرمه سيمو د واکمنو کورنيو، نومياليو، قبيلو او ځايونو يادونه کېږي؛ خو د نېکيشاه په نامهٔ د ختيځ او لوېديځ په کتابونو کې کوم کس او کومه کورنۍ نه مومو، په داسې حال کې چې ډېرې او ډول ډول سيکې يې شته.

پر عکس د زابل، رخج، هلمند او سيستان د واکمنو رتبيل او رتبيلانو نومونه په عربي او دري تاريخونو کې ډېر دي. په داسې حال کې چې د رتبيل يا يې د کورنۍ هيڅ سيکه تر اوسه نه ده موندل شوې. نو دواړه کلمې رتبيل، زنبيل يا ژندهبيل او داسې نورې د وګړي او کورنۍ په نامهٔ د شک وړ دي او بايد له دې نومونو د يوهٔ د اصالت په اړه خپلې پلټنې وغځوو.

د سيکو پر دې ټولګې هم د نېکيملکا لوستنه لکه د عربي کتابونو د رتبيل غوندې د شک وړ ده، پرېکنده او باوري نه شو ويلای چې د نېکيشاهانو په نامهٔ کورنۍ په افغانستان کې واکمني کړې ده او يا په دې نامهٔ څوک و که نه؟

نپکي‌ملکا ته پر منسوبې سیکې پهلوي توري ن- پ؟ ک- م- ل- ک؟ د پاچاه مخې ته او الف یې شا ته دی(۲۱ انځور) خو د دې لوستنې او نپکي کلمې لپاره تر اوسه بل بهرنی ملاتړ نه‌شته او په خپله د کلمې لوستنه هم شکي ده.

د دې سیکو د پهلوي لیکدود په لوستنه کې د هنګري یو اوسمهالی عالم "جي هرماته HARMATTA " بې د پخوانیو عالمانو له ویناوو بل سم نظر لري، چې ځه ناځه رښتینولی ته نږدې برېښي، هغه وایي:

«په علمي څېړنو کې یې له اوږدمهاله راهیسې د داسې سیکو لیکنه نپکي‌ملکا NPKY- MLKA» لوستې ده، کننګهم او ګیرشمن هغه د اوومې پېړۍ د کی- پن (کابل) له پاچاهانو څخه ګڼلی، په داسې حال کې چې پر دې سیکو نپکي‌ملکا، بې شکه لویه تېروتنه ده. په همدې سیکې چې کننګهم په خپل کتاب اندوسیتهین متأخر( د ۱۸۹۴ز چاپ) کې خپره کړې ده(۱۰/ ۴ شکل) او بیا ګیرشمن په خیونها و یفتلیان(د قاهرې چاپ ۱۹۴۸ز) کتاب ۵۱مخ له (۲۱ انځور) اخیستل شوي۵۴ شکل کې په روښانه ډول د نیسکي‌ملک NYCKY- MLK کلمې لیدل کېږي. دا د نیزک کلمې منځنۍ لیکنه ده، چې نیزک طرخان د کابل واکمن و او دلته یې د نیزک‌شاه په نامهٔ سیکه وهلې ده.

ګیرشمن وایي: د دې سیکو لیکنې د لوستو وړ نه دي، د وخت په تېرېدو زیانمنې او اصلي بڼه یې بدله شوې ده.

کننګهم زیاتوي: د همدې پاچاهانو د هندي لیکنې: شري‌شاهي، سیکې شته او هم یې کله په یوناني(باختري) لیکدود سیکې وهلې دي، چې (سري- شاهي) کلمې پرې لیدل کېږي. څرګنده ده چې دا سیکې په یوهٔ کس پورې اړه نه لري، بلکې بېلابېلو واکمنو یو په بل پسې وهلې دي. نو د هغو له مخه په کابل کې د نیزک یوه پاچاهي کورنۍ ټاکلای شو چې په اوومه پېړۍ کې ښایي د کابل د شمال کابیش KABISH (کاپیسا) د نیزک په نامهٔ د یوې بلې ځانته کورنۍ د واکمنۍ سیمه وي.

د دې ډول سیکو لوستنه: نیسکي‌ملک د هومباخ HUMBACH له خوا هم وړاندیز شوی، خو هغهٔ له بده مرغه د نپکي په هماغې دودیزې لوستنې تلوالی کړی

دی.

مؤرخان د ٦٥١- ٧٠٩ز کلونو ترمنځ د نیزک طرخان یادونه کوي. په ٦٧١ او ٧٠٩ ز کلونو کې یوهٔ نیزک د عربو د ولکې پر وړاندې په مروه، بادغیس او د کابل په شمال کې پاڅون کړی و، چې د ٧٠٩ ز کال په پای کې قتیبه بن‌مسلم هغه په اشکمشت کې وواژهٔ.

د نېزک داستان پوښتنه راولاړوي چې آیا د نیزک په نامهٔ یواځې یوهٔ کس له ٦٥١- ٧٠٩ز کلو په پېښو کې لاس درلود که په دې نامهٔ بېلابېل کسان وو؟ که موږ په دې موده کې نیزک بېلابېل کسان وګڼو؛ نو باید د پاچاهانو د یوې لړۍ کورنی نوم وي. د ٦٥١ ز په پېښو کې نیزک د یوهٔ هېواد د واکمن په توګه پېژنو، څوک چې تنکی ځوان دی. د پېښو له جریانه هم څرګندېږي چې په تاریخي سرچینو کې په دې نامهٔ بېلابېل کسان یاد شوي دي؛ نو نیزک د کورنۍ نوم دی چې ابن‌خرداذبه هم په پهلوي کې طرخان کلمه د یوهٔ کورني لقب DYNISTIC- TITLE په توګه ګڼلې ده. نیزک په بادغیس کې واکمن و، مارکوارت وایي چې په تاریخي سرچینو کې په ٧٠٣ز کې د بادغیس واکمن شوی؛ خو په حقیقت کې د هغه د پېښو ډېر مهم داستان ختیځ لور ته له کابل سره جوخت رامنځ ته کېږي. عربي سرچینې څرګندوي چې په ٦٧١ز کې کابلشاه له کابله عربان وایستل[1] همدا مهال نیزک د کابل د شمال په غرونو کې د هغوی پر وړاندې جنګېدهٔ او بیا د ٧٠٩ز کال شاوخوا په همدې سیمو کې وینو چې خپل درانهٔ پېټي یې کابلشاه ته ورولېږل او په خپله بغلان ته لاړ.

دا ټول حقایق څرګندوي چې د نیزک د ځواک مرکز په ختیځ کې د کابلستان سیمې وې چې هغهٔ هم د زابل د واکمنانو غوندې د عربو پر وړاندې مقاومت کاوهٔ. دا هفتالي پاچاه د نیزک په کورني لقب له ٦٢٥ - ٧١٠ز شاوخوا پورې یاد شوی دی. نو ښایي چې نیزک هم کابلشاه وي او عربو مؤرخانو هغه کابلشاه ځکه نه دی بللی چې د دې سیمې، نومیالیو او نومونو په اړه د هغو معلومات کم وو. لکه چې زیبیلان zibile هم د عربو په رپوټو کې د زابلشاه په نامهٔ نه دي راغلي.

---

[1] -ایرانشهر ٣٧.

په چینايي سرچینو کې هم د همدې مطالبو پخلی کېږي، په دې معنی: په ۷۱۹ز کال کې د کو- پي- شي (کاپیسا) هېواد پاچاه (نو- سي) د استازو یو پلاوی یې د چین دربار ته ولېږۀ.[1] که څه هم دلته یې د ځای نامۀ ته له کاپیسا سره سمون نه دی ورکړی؛ خو چینايي «تو- سي» یې کټمټ همدا د عربي سرچینو نیزک ګڼلی دی. څرنګه چې د تانګ چیني د پېر په فونیټک کې د دې هېواد نوم« کا- بجي- شې KA- BJI- SHIE » دی نو موږ یې په سم ډول کابیش تلفظوو، چې اوس کاپیسا دی او البیروني یې هم د کیبش (Kybsh) یعنې کابل په نامۀ یادونه کړې ده.[2]

د نیزک کلمې د(ز) بدلون په (س) چینايي «نو- سي» معمول دی چې بېلګه یې په چینايي کې د خزر د خلکو نوم په "کو- سه KO- SA" دی. همدا رنګه ګومان کېږي چې د باختري نامۀ اصل به نازیګ Nazeg وي.

په دې ډول له چینايي رپوټه څرګندېږي چې تر نیزک طرخان ۷۰۹ز وروسته بل نیزک واکمني درلوده او هم څه موده کابل د عربي لښکر له ولکې څخه آزاد و.

خو د قتیبه له خوا د نیزک طرخان له ماتې سره د دې کورنۍ جرړه وختله چې دې پېښو تر ۷۲۰ پورې دوام درلود او په همدې کال کې د چین دربار د ترکشاهي د دویمې کورنۍ(د البیروني برهتګین) نوی رژیم په رسمیت پېژندلی دی.[3] د دې تاریخي دلایلو له مخه د مقالې د لیکوالو له خوا، د نیسکي‌ملک لوستنه( نیزک‌شاه) وړاندیز شوې ده.[4]

د افغانستان د تاریخ د روایتونو له مخه د نیزک او نیکي‌شاه(؟) په اړه د ختیځپوه عالم هرماته د لیکنې لنډیز دا و، چې د مؤرخانو او پوهانو ژوره پاملرنه یې ځان ته رااړولې ده، ځکه له دې نوې لوستنې او څېړنې سره د افغانستان له تاریخه یو څپرکی کمېږي چې د نیکي‌شاهانو په نامۀ لیکل شوی دی او هغه رپوټ بشپړېږي، چې د اسلامي پېر د لومړیو په تاریخونو کې د نیزک په نامۀ راغلی دی. د نیزکانو سیکې هم

---

[1]: پر تو- کیو (ترک) اضافي یادښتونه، ای- چاونیس ۴۰ مخ.

۲ - (کتاب‌الهند ۲۴۱).

[3] - پر تو- کیو اضافي یادښتونه ۱۳۲- ۱۶۱.

[4] - (کتیبه های متأخر زبان باختری، هرماته، په اکتا انتیکا ۱۷ ټوک کې، ۲۹۶- ۴۳۲ مخونه، بوداپست ۱۹۶۹ز.

شته چې گیرشمن یې څو بېلګې په خپل کتاب هفتالیانو کې چاپ کړې او موږ یې انځورونه(۱۷- ۲۳) د کتاب په پای کې راوړي دي.

د یادونې ده چې د نازک‌خان- نازک‌میر- نازکشاه نومونه تر اوسه د افغانستان په خلکو کې رواج دي. همدا کلمه په ځینو پښتو لهجو کې(نیزک) تلفظېږي او د تاریخي نیزک همدا نوم د ابن‌فقیه په کتاب‌البلدان[1] کې د«نازک» په بڼه چاپ شوی دی او په پخوانیو خطي نسخو کې داسې و.

له دې نیزکانو څخه د یوۀ پر سیکه چې د ارمیتاژ په موزیم کې ده او په باختري- یوناني او هم پهلوي لیکدود لیکنه لري(۲۳ انځور)چې په ډېر واضح ډول پرې (تەرەک نیزک Tarak- Nizak ) کلمې لیدل کېږي، چې هغه یې د واټن د نخښې o په ګډون "شاهو طرخان نیزکه" کلمې لوستې دي.[2] پر دې سربېره په مروه ۶۹س= ۶۸۸ز کې وهل شوی د نیزک تەرەک درهم د عبدالله بن‌خازم په نامۀ او په انبیر کې په وهل شوي درهم د سلم بن‌زیاد ونیزک پاتې دی، چې نیزک شاه هم لیکل شوی دی. دا درهم په کوفي لیکدود برکه او بسمله کلمې هم لري.[3] (وګ: ۳۴ انځور).

## په کابل کې بغر سمڅه

دا سمڅه چې البیروني یې نوم په درې ټکو والا(ف) لیکلی، اوس معلومه نه ده. د کابل سوېل لوېدیځ لور ته د شاوخوا ۵۰ کیلومترو په واټن هغه ځای چې جلرېز نومېږي او د لوګر اړوند دی،[4]په غرۀ کې یوه طبیعي تیارۀ سمڅه ده، چې تنګې او پراخې بدهوا برخې لري. ښایي د البیروني موخه همدا د غرۀ د ډډ سمڅه وي. داسې سمڅې د افغانستان په غرونو کې ډېرې دي او زیاتره یې تر تاریخ د مخه زمانو پورې اړه لري.

پټه دې نه وي چې د کابل ښار سوېل په شهدای صالحین کې د چشمۀ خضر په نامۀ یوه سمڅه لیدل کېږي چې په پای کې یې چینه ده او وګړي یې لیدو ته ورځي.

---

[1] - کتاب‌البلدان، بوبکر احمد بن‌ابراهیم همدانی، ۳۲۳مخ، د لیدن چاپ ۱۸۸۵ز.

[2] - ګیرشمن: هفتالیان ۲۳.

[3] - ګیرشمن ۲۶.

[4]ـ اوس د میدان وردګو ولایت اړونده ولسوالي ده (ژباړن).

آیا بغر سمڅه به د کابل  دې پخواني ښار ته نږدې نه وي؟

## د بامیانو شېران

د کتاب په متن کې مو د مرکزي افغانستان د دې کورنۍ د واکمنانو په اړه تر هغه ځایه خبرې کړې دي، چې په عربي او دري سرچینو کې راغلي؛ خو چې د سیکې پېژندنې فن ته راونه ګرځو،  دا څېړکی نه بشپړېږي او دا کار په ډېرو هڅو سره  هم نهٔشي کېدای، ځکه تر دې مهاله ټول موندل شوي څېزونه هم په لاس کې نهٔشته او هغه څه چې تر ځمکې لاندې دي، هیڅا په دې پېر کې نه دي لیدلي.

دلته هغه څه چې د څېړونکي ګیرشمن په کتاب[1] کې راټول شوي، په لنډون سره راوړل کېږي:

الف: په کابل موزیم کې سیکه ده چې موسیوهاکن د غوربند له فندقستان څخه تر لاسه کړې ده(۳۵ انځور) او په لومړي مخ یې ښي لور ته کتونکی نیم تنهٔیي کس له هسکې غاړې، زابلۍ خېرې، څلور جوغهٔوال خول، د غاړې هار او مرغلینو غوړوالیو سره لیدل کېږي. د دې کس شا ته- چې هاکن او ګیرشمن د بامیانو شاهٔزی نوملی دی- کوشاني او هفتالي ته ورته ځانګړی نښان کیندل شوی دی. د سر له پاسه یې د ساعت له یوولس نیمو (C) توری او مخې ته یې له ۱- ۴ پورې په باختري لیک (C)  Ri (o) SHAH (o) شري‌شاه لیکل شوی دی. پر بل مخ یې له سولېدلو او نامنظمو نقشونو سره اورتون دی. د سیکې دواړه خواوې هنري ځوړ څرګندوي.[2]

ب: ش‌ریشاه(o)  SHAH (o)  Cri شري‌شاه په باختري لیک لیکل شوی، اوږد مخ، لوړه پوزه، میږوزمې سترګې، مرغلین امېلونه، غوړوالۍ او پنځه جوغهٔیي خول لري. مخ یې ښي لور ته او شا ته یې د کوشاني- یفتلي واکمنو ځانګړی نښان کیندل شوی دی. د ساعت د یوولس نیمو له ځایه شا ته باختري لیکنه پیل او یواځې(C)  یې شا ته دی او نوره د واکمن مخې ته د ساعت له ۱- ۴ پورې غځېږي(کابل موزیم).

ج: د الف او ب په ځانګړنو سیکه چې دواړه یې د بامیانو د شاهٔزي بللي دي.

---

[1] - خیونها و هفتالیان د څېړونکي ګیرشمن په زیار ، د قاهرې چاپ ۱۹۴۸ز.

[2] - ګیرشمن ۳۰.

گيرشمن وايي چې اصلاً د نپکي‌شاهانو د سيکو ډول دی، چې بيا يې د شري‌شاه په نامهٔ وهلې ده.[1]

د: په پورتنيو ځانګړنو سيکه چې پر بل مخ يې اورتون له ساتندوی پرښتې سره کيندل شوی دی؛ خو په براهمي ليک (شري‌شاهي) ليکنه لري.[2]

هـ: بيضوي مُهر دی چې د باميانو له ضحاک ښاره تر لاسه شوی او په کابل موزيم کې و(۳٦ انځور) د نيم تنه‌يي کس شکل لري، څېره يې اوږده (خو نيمګړې) له درې پريزو جوغو سره يې پګړۍ ډوله خول په سر، هار يې پر غاړه دی او مخ يې ښي لور ته دی. د سيکې په کيڼ اړخ د ساعت له ۸- ۱۱ پورې په باختري يوناني تورو ورهرام(مساوي بهرام) VARAHRAM- O ليکلی دی. ښي لور ته پهلوي ليکنه لري چې نه لوستل کېږي او د باميانو د سيمې د شاه‌زيو يې ګڼلې ده.[3]

## د شېر او شار په اړه د البيروني نظر

هغه څه چې په متن کې د باميانو د شېر(۱۲۱- ۱۲٦) د لقب په اړه راغلي دا څو لاسوندونه بايد پرې ورزيات شي:

البيروني په کتاب‌الصيدنه(۲۹خطي پاڼه)کې په شاه باندې د شېر کلمې د اوښتنې په اړه په زړهٔپورې معلومات لري، وايي: يو ډول آمله «شير املح» نومېږي چې د سمندر له ټاپوګانو يې راوړي او دې ډول ته يې«شاه املج» هم وايي. څکه د شاه کلمې (هې) په (ر) بدلېږي او شارغرشستان او شېرباميان يې بولي. نو شېراملج هماغه شاه املج دی.[4]

د البيروني له دې څرګندونې په ډاګه کېږي چې پخوانيو هم د شېر او شار کلمې له "شه" سره همريښه ګڼلې او مارکوارت به هم خپل نظر د همدې پخوانيو د نظر په بنسټ ليکلی وي.

---

[1] - ګيرشمن ۳۱.

[2] - پورتنی اثر ۵۳.

[3] -پورتنی اثر ۳۸.

[4] - صفة‌المعمورة علی‌البيرونی- التقاط زکی وليدی توغان، د ډهلي چاپ ۱۹۳۷ز.

دلته د شېر او شار کلمو د لرغونوالي په اړه یو بل لاسوند هم لیدل کېږي چې د پخوانیو سیکو د لوستنې پر بنسټ ولاړ دی:

د لویو کوشانیانو په سیکو کې ځینې د کنیشکا د زوی هوویشکا(۱۸۲ز شاوخوا) په نامهٔ وهل شوې دي، چې پر یوهٔ مخ یې په خپله د پاچاه څېره له سینګار شوي یوناني پوځي لباس سره لیدل کېږي او په ښي لاس کې یې نېزه ده. د سیکې پر مخکنیو او وروستنیو څنډو په یوناني لیک «شانن شا اوویشکي کوشان» لیکل شوي دي. د دې سیکو پر بل مخ د یوهٔ ولاړ وسلهوال څېره ده چې تر زنګانهٔ پورې عسکري لباس یې اغوستی، خولۍ یې پر سر ده، کیڼ لاس یې پورته کړی، په ښي لاس کې یې توره ده او څوکه یې پر ځمکه لګېدلې ده.

د دې سیکو پر ښۍ څنډو په یوناني لیک Shaorporo توري لیدل کېږي، چې په یوهٔ احتمال یې د پهلوي شهریور Shariver امشا سپند د فلزاتو، فرشاهي او پانګې څلورم مؤکل، لوستی دی.[1] د یوناني تورو لوستنه یې په لاتیني داسې لیکلې ده: Shaoreoro [2] په داسې حال کې چې ګارډنر د باختر و هند د یوناني او ساکا پاچاهانو د سیکو په کتلاک[3] کې یې هغه Shoro- Shao لوستی دی، چې د یونان د جنګ ربالنوع اریس Ares دی. مارتن هغه د مال او پانګې له پرښتې سره تطبیقوي. که د هغهٔ لباس، وسله، نېزه او توره په پام کې ونیسو د جنګ له ربالنوع سره یې سمون ستونزمن نه دی؛ خو د پانګې او فلزاتو له پرښتې(هندي کو ویرای) سره دا ډول وسله او لباس سمون نه خوري.[4]

اوس د دې څرګندونو په رڼا کې د سیکو اصل یوناني لیکدود مطالعه کوو چې پورته مو کتنې راواخیست:

د سیکې د څنډې د لیکنې لوستنه په یوهٔ روایت شاو- شېرو او په بل روایت شاو- شورو ده. تر وروستي د مخه د باختري ژبې د لیکدود د پای نخښه او واټن دی، چې

---

[1] - هنر کوشانیان ۶۰- ۱۸۸- ۱۸۹- ۱۹۰- ۱۹۱ شکلونه.

[2] - پورتنی اثر ۹۹.

[3] - د برتانیې موزیم د ۱۸۸۶ز کال چاپ، ۱۷مخ، ۲۸ لوحه.

[4] - عصر کوشان، ډاکټر چټوپادیه، ۱۶۲، د کلکتې چاپ ۱۹۷۶ز).

نه تلفظېږي. د کلمې لومړی جز هم شاور یا شور- شېر یا شار دی چې په بامیانو او غرجستان کې د هغه ځای د واکمنې کورنۍ لقب و- د کتاب په متن کې مو شرحه ورکړې ده- او د دویمې زېږدې پېړۍ د کوشاني شور یا شاور بدلون د اوومې پېړۍ په شېر یا شار هم په (ی-ا) د (و) د بدلون له قانون سره سمون خوري او تر اوسه هم په افغاني لهجو کې شته.

که دا لوستنه او شننه سمه وګڼو؛ نو د بامیانو د شېرانو او د غرجستان د شارانو لقب د زېږدو پېړیو د لومړیو او د کوشاني پېر له پاتې شونو ګڼلای او هم د پانګې او ځواک له رب‌النوع شتریور- شهریور سره د دې نومونو لغوي اړیکه تصورولای شو.

**په افغانستان کې د کوشاني او هفتالي واکمنو اولادونه**

لکه چې د کتاب په متن کې مو شرحه ورکړې ده، په اوومه زېږدې پېړۍ کې د افغانستان په ګوټ ګوټ کې ځینو سیمه‌ییزو واکمنانو د واک ګدۍ درلودې چې د کوشانیانو او هفتالیانو اولادونه وو. د ځینو نومونه یې موږ یواځې د سیکو او ډبرلیکونو له مخه پېژنو. چینایي سیلاني هیونڅانګ د (۹س شاوخوا) د افغانستان د شمال او ختیځ په ټولو سیمو کې د دې واکمنانو ګڼتیا ته نغوته کړې ده.

د شتو سرچینو له مخه مو د کتاب په متن کې د دې واکمنانو د اتو کورنیو په اړه بحث وکړ او بیا مو په دې اړه په استدراکاتو کې اضافي معلومات راوړل، چې دا بحث هم د هغو بشپړون دی. څو لړۍ نور واکمنان د سیکو او لاسوندونو له مخه پېژنو چې د کوچنیو کوشانیانو د پېر په وروستیو پوړې اړه لري:

## (۱) زاولشاهان

د روزګان له ډبرليکونو(٦- ۷ زیږدي پیړی، په باختري ژبه او ډېر شکسته یوناني ليکدود) معلومېږي چې د زابلستان د هفتالي-کوشاني واکمنانو په منځ کې د زاول‌شاه لقب چې وروسته په دري ادبیاتو کې کابل‌خدای یا زاولشاه- زابلشاه دی، رواج و.[1]

تر اوسه پورې د دې زابلشاهانو مفصل معلومات په لاس کې نه‌شته او یواځې څو کسه یې د هغو سیکو له مخه پېژنو چې لاس ته راغلې دي:

الف- زو شاه زابل: یونیم په یونیم انچ کې ګرده سیکه ده. پر لومړي مخ یې د ښتني څېرې، خرېيلو برېتو، کيڼ لور ته د اړولي پېکي او پر خول د دوه‌و جوغو والا سړی ولاړ دی. په منځ کې یې سپوږمکی او ستوری په بره روان دي. د مخې ډېره شکسته یوناني ليکنه یې د ساعت له ۸ - ۱۰ او د شا له ۹ - ۱۱ پورې ده، چې یواځې شا ته ليکنه شاه زابل Shah- o- Zob(ol) o يې لوستل کېږي. له بده مرغه مخکني توري يې نه لوستل کېږي چې باید نوم يې وي. د سیکې پر شا ګډې وډې کرښې او شکلونه لیدل کېږي چې نه لوستل کېږي او نه یې شکل معلومېدای شي. باختري لیکنه د پهلوي له Zov- MLRA سره برابره ده. دا سیکه د کابل د شمال د صدق‌آباد په برکوټ(بالاحصار) کې موندل شوې او په کابل موزیم کې خوندي ده(۲۴ انځور). له انځورګرۍ او د وهنې له ځانګړنو يې هنري څوړ ځرګندېږي. باید د کوشاني او هفتالي پېر په وروستيو پورې اړه ولري[2] (وګ انځور ۳۴). د واکمن پښې او تنه يې تر سر ډېر کوچني دي.

ب- زو شاه زابل: انچ په انچ کې ګرد درهم دی، چې کننګهم او هیرز فیلډ په کوشاني سیکو کې راوړی او ښکلی جګ پوزې، پښتني مې رنګ سترګی ځوان له مرغلين هار او ساساني ته ورته خول سره، چې پر منځ يې یوه کړۍ او ښي خوا ته يې مخه ده، لیدل کېږي او باختري لیکنه یې له ۲- ۴ په دوه‌و کرښو کې ده:

Shah- o- Zobol په پهلوي لیکنه کې د شاه شا ته له ۸- ۱۰ پورې زو لیدل کېږي[3]

---

[1] - هفت کتيبه، حبيبي ٦.

[2] - ګيرشمن، خيونها ۳۲.

[3] - ګيرشمن، خيونها ۳۴.

( ۲۵انځور).

ج- رامانیلا شاه زابل: د دې واکمن سیکه ویلسن په آریانا انتیکا(۲۶ شکل، کننگهم ۷ شکل) او نورو کې رااخیستې ده. دا ځوان واکمن مرغلین هار او غوږوالۍ لري چې مخ یې کیڼ لور ته او پاچاهي نښان یې مخې ته دی. همدلته په باختري لیک د ساعت له ۸ - ۱۱ د مانیلا نوم او د واکمن شا ته د ساعت له یوې تر څلورو پورې شاه و زوبل Shah- o- Zoobul لیکنه لري. د واکمن څېره له پوزې او مۍ رنګه سترګو سره په بشپړ ډول زابلي ده. خول یې نه معلومېږي. د سیکې پر دوهم مخ له اورتون سره دوې ساتندویې پرښتې ولاړې او اوږدې نېزې یې په لاسو کې دي[1] (۲۶ انځور).

د- میهارا شاه زابل: MIhara- Sha دا درهم کننگهم(۹ انځور) رااخیستی. واکمن لوړ پوزی، مۍرنګه سترګو او کماني وروځو والا پیاوړی ځوان دی، چې مخ پر ښي لور ناست دی. شا ته یې د اوږو له پاسه ماته بشپړه سپوږمکه له ستوري سره لیدل کېږي، چې (C) توری یې لوستلای شو. تر دې وروسته p-1 او شري جمله ده، چې د ساعت له ۹ - ۱۱ رسېږي. د واکمن مخې ته په ښۍ څنډه د ساعت له ۱۲- ۳ پورې میهاراشاه لیکل شوی دی. د واکمن مرغلینې غوږوالۍ په غوږو او نرۍ جالي خولۍ یې پر سر ده. څېره یې په بشپړ ډول زابلي ده[2](۲۷ انځور).

هـ- شهنشاه زابل: Shahansha- Zabola یو درهم دی چې کننگهم(۷ انځور) او نورو سیکه پېژندونکو رااخیستی، ښکلی ځوان دی، مرغلینې والۍ او وږمکۍ ډوله خول لري. تنه یې نیمه او مخ یې کیڼ لور ته دی. مخې ته یې ستوري ته ورته ګرده نخښه ده.

د شا پر څنډه یې د ساعت له ۹- ۱۱ شهنشاه او د هغه مخې ته له یوې تر دوه‌و په باختري- یوناني لیک زابوله لیکل شوی دی.[3]

و- د زابل واکمن: د هماغې (هـ) په څانګړنو؛ خو د درهم له لیکنې یواځې د(زا)

---

[1] - ګیرشمن، خیونها ۳۵.

[2]- ګیرشمن ۳۶.

[3] - ګیرشمن ۳۷.

ب و ل توري ليدل کېږي او د سيکې نخښه هم بيله ده[1] (وگ: ۲۸ انځور).

ز- د زابل واکمن: يو درهم دی، کننگهم په (۴ انځور) کې راوړی، د زابلي ځېرې ښکلی زلموټی پرې دی، چې ښکلې مي‌رنگو ته ورته توري سترگې، لوړه پوزه، مرغلين هار او پگړی ډوله خول لري. سټه يې پياوړې ده او مخې ته يې د ساعت د يوې له ځايه يواځې باختري يوناني توري(زو) ليدل کېږي. نخښه يې د بوټي له څو ښاخونو سره د سوما گرد ډوله گلدان دی[2] (۲۹ انځور).

ح- د زابل واکمن: سيکه يې په صدق‌آباد کې موندل شوې او په کابل موزيم کې خوندي ده. ځېره يې پياوړې نيم تنه‌يي په بشپړ ډول زابلي او پگړی ډوله خول يې پر سر دی. مخ يې ښي لور ته او مخې ته يې د گلځانگې گلداني ده، چې لاندې يې چرگوړی دی او ليکل نه لري،[3] هغه زابلشاه تشخيص کړی دی(۳۰ انځور).

ط- د زابل شهنشاه: پر اس د سپارۀ يوۀ واکمن درهم دی، چې هلالي خول يې پر سر دی. د اس د سر له پاسه - چې مخ يې ښي لور ته دی- شاهي نښان دی. د سيکې نقشونه د هنري ځوړ استازي کوي. د سپارۀ د سر شا ته د ساعت له ۹ - ۱۱ پورې په يوناني باختري ليک زابل او د اس مخې ته د ساعت له ۲ - ۵ شاهنشاه ليکل شوی دی. د سپارۀ سړي د ځېرې په انځورنه کې د انځورگر د کار ډېره خامي څرگنده ده[4] (۳۱ انځور).

د يادونې ده چې په ۱۸۲۹ز کال کې د بدخشان مير د انگليسانو مامور برنس ته يو نقشي قاب ورکړی و، چې پر زمري د بريد په حال کې پرې نيزه‌وال سپور ليدل کېږي. د سپارۀ بريدگر ږيره گڼه او خول يې هلالي دی، چې د همدې زابلشاه خول ته ورته دی[5] (گيرشمن ۳۹).

ی- د زابلشاه د سرو زرو ناوياته سيکه ده، مخ يې ښي لور ته، هار، غوږوالي او

---

۱ - پورتنی اثر ۳۷.

۲ -پورتنی اثر۳۷.

۳- پورتنی اثر ۳۸.

٤ - پورتنی اثر ۳۸.

٥ - گيرشمن ۳۹

خول لري، چې جزیات یې معلوم او د لیدو نه دي.
د واکمن مخې ته له کوچني نښان سره له ګلانو ډکه ګلداني ده؛ خو لیکنه نه لري.[1]

یا- د برتانیې موزیم لویه یواځینۍ سیکه چې کننګهم، هیرزفیلد او دیمرګان خپره کړې. پر یوۀ مخ یې د هار، غوړوالیو او د دوه‌و بشپړو سپوږمیو خول والا، تر سینې پورې نیم تنه‌یي کس دی، چې د پاسه ښکلل شوې فیتې او په منځ کې یې څلورګوټی غمی لیدل کېږي. انځور مخامخ دی خو یواځې ښي غوږ یې لیدل کېږي. د سیکې پر مخ ښی خوا ته د ساعت د ۲ په ځای د لاندینۍ نیمې دایرې په منځ کې د پیشو سر رسم شوی او لاندې ترې نښان دی، چې سپوږمۍ او ستوری د هغه په منځ کې دي او لاندې ترې ستنه ده.

د سیکې پر کیڼ اړخ د ستوریزې دایرې پر دننني څنډې یې د ساعت له ۹تر۱۱ پورې په یوناني باختري لیک« ش‌ری‌بګ وخبه (SH) RI- BAG- o- VAXBA » لوستی دی. د سیکې پر ښي اړخ د پیشو تر انځور لاندې د ساعت له ۳- ۵ په پهلوي تورو سپندار بګ‌خوتای Spndr- Bag- Xuatai او زاولستان لیدل کېږي. د دې ناویاته سیکې پر بل مخ مخامخ نیم تنه‌يي انځور دی چې څېره یې خراسانۍ ده. هار، مرغلینې‌غوږوالۍ، وړنګن درې‌ګوټی‌خول لري. د دایرې دننه لیکنه پهلوي «زاولستان خوتای» او تر دویمې دایرې بهر باختري یوناني ده، چې داسې یې لوستلای شو:
« ش ری بګ وزرو بو وزک سایانه سای بګ تشاوله»
Cri Bag- Ozor-O-Boozk-o-Ca iancai- Bag-o- Tshava ala
یعنې: شری بزرګ زور باز(پهلوان) شاهنشاه بګ څاوله (۳۲ انځور).

## (۲) نور واکمنان

الف- ورازبندګ: د کوشاني– هفتالي پېر د وروستیو په خراسان کې په دې نامۀ یوه لړۍ واکمنان وو، چې مؤرخانو او جغرافیه‌پوهانو یې یادونه کړې ده. له نسا او مروې تر هرات، غرجستان، بادغیس او پوشنګ پورې یې په جنګي پېښو کې نومونه یادېږي. **وراز**- براز- ورازان- وراز بندګ چې د ابن‌خرداذبه په مسالک‌الممالک(۳۹

---
[1]- پورتنی اثر ۴۰.

مخ) حدودالعالم(۴۰مخ خطي) او موږ د دې کتاب په (۱۲۴- ۱۴۹- ۱۵۰- ۱۵۳- ۳۱۱- ۳۱۴ او ۵۹٦ مخونو) کې په دې اړه شرحه ورکړې ده. هغه شننه چې کريستن‌سن د دې نامهٔ په معنی کې ورکړې ده د ۳۱۲ مخ په لمنليک کې راغلې ده؛ نو له ټولو لاسوندونو روښانېږي چې دا د کوشاني- هفتلي پېر د وروستيو او د اسلامي پېر د لومړيو د افغانستان د لوېديځو او د خراسان د مرکز د واکمنانو کورنۍ لقب و. د ساري په ډول براز د ماهويه زوی او وکيل د مروې پوله‌ساتی په ۳۱- ۳۷س کال کې (۱۱۴- ۱۵۰ مخونه).

په زين‌الاخبار کې ياد شوی برازبنده بن‌نمرون ۱۴۱س(۳۱۲مخ) او براز د مقنع همپېری د ۱٦۱س شاوخوا(۳۲۲مخ).

که موږ دلته په بې پروايۍ د ۱۴۱ او ۱٦۱س براز يو کس وګڼو؛ نو ناشونې ده چې د ۳۱- ۳۷ کال براز د ماهويه زوی دې تر ۱٦۱س پورې ژوندی وګڼو. بايد له لومړي لېږدي کال تر۱٦۱س پورې- که د مقنع هممهاله براز د کورنۍ وروستی کس وي- د دې وګړو يوه کورنۍ وګڼو چې لږ تر لږه يوه نيمه پېړۍ د خراسان پر زړهٔ واکمنان وو او که لږ يې هم فرض کړو، پنځه کسه به وي.

په هر صورت اوس له موږه سره پرېکنده لاسوند نهٔشته، چې د واکمنو دا ټولی له کومې لړۍ او نژاده و؛ خو ګيرشمن[۱] دوه درهمونه(۲۲- ۲۳ شکلونه) د ديمرګان کلېکسيون او کابل موزيم د ناوياته سيکې په حواله ليکلي او دې لړۍ واکمنو ته يې منسوب کړي دي.

د ديمرګان درهم په لومړي مخ نيم تنه‌يي خراسانۍ څېرې‌والا کره سړی ليدل کېږي چې مخ يې ښي لور ته او خول يې پر سر دی. د څېرې او خول جزيات يې نه معلومېږي. مخې ته د دايرې په منځ کې نښان او د تورو(حروفو) نخښې دي. تر دايرې بهر د درهم پر څنډو د ساعت د ۳-٦-۹ په ځايو پورته درې ګردې ورمکۍ او د خول پر سر د ښکرور غويي سر ليدل کېږي. د درهم پر بل مخ اورتون او دوه ولاړ ساتندويان دي، چې له دې نقاشۍ هم هنري ځوړ ښکاره دی(۳۳ انځور).

[۱] - ګيرشمن۲۲.

د کابل موزیم درهم: له هنري پلوه لړ په زړهٔپورې او روښانه دی. د درهم په لومړي مخ نیم تنه ځوان له بشپړې زابلی څېرې، هسکې غاړې، مېوزمو سترګو، ګڼ پښتني پېکي، پر کوچني خول له مخکې او وروسته هسکو جوغو سره لیدل کېږي، چې هار او مرغلینې غوږوالی لري. تر هرې جوغې لاندې له ستوري سره یوه وړمکی هم انځور شوې ده. د واکمن د اوږو له پاسه ښکرو ته ورته دوه شکلونه نقش شوي چې یوه خولهٔ یې تنګه او بله یې ارته ده او پهلوي توري د ساعت د ۱۰ په ځای کې شا ته او د ۳ په ځای کې مخې ته لیدل کېږي. ګیرشمن وایي VRZ RCI RZI وراز- براز دی. د دې درهم بل مخ لا په زړهٔپورې دی، ځکه د ستورو د یوې دایرې په منځ کې یو ډېر ښکلی او پیاوړی غرڅه ځان ته پام وراړوي چې مخ یې ښي لور ته دی، اوږدهٔ کړی (د بدخشان او واخان سیمو مارکوپولو ته ورته) ښکرونه لري. د پاسه پرې منځتشی پیاله وزمه نښان(په کوشاني او هفتلي دود) دی چې لاندې لګېدلی دی(۲۳ انځور).

ب- تره‌ک شاهان او تګین خراسان‌شاه:

د ٦- ۷ مې پېړۍ له موندل شویو سیکو څخه د واکمنو دا نومونه پېژندل شوي دي، چې پاچاهي مقام یې درلود او سیکه یې وهلې ده. د بحث پایلې ته د رسېدو لپاره یې دلته لنډه یادونه کېږي:

موږ د کتاب په متن او دې استدراکونو کې د نیزکانو په اړه په تفصیل سره خبرې وکړې چې د کوشاني او یفتلي پېر په وروستیو کې د دې خاورې د واکمنانو یوه لړۍ وه. له چینایي سرچینو څرګنده ده چې په ۷۱٦ز کال کې د کاپیسا د «نو- سي‌شاه» له خوا یو پلاوی د چین دربار ته لېږل شوی و، چې «نو- سي» د نیزک چینایي تلفظ ګڼل شوی دی.

پوهېږو چې نیزک طرخان په ۷۰۹ز کال کې د عربو سوبمنو له خوا له‌منځه یووړل شو او د کورنۍ پاتېشونو یې د زابل درو ته پناه یووړه. همدا مهال د تره‌کشاهي دویمه کورنۍ په ننګرهار کې د برهتګین(په کتاب‌الهند کې یاد شوی) له خوا ځای پر ځای شوه چې بیا په کابل او زابل هم لاسبرې شوه. دا پېښې په

۱۰۱س= ۷۱۹ کې رامنځ ته شوې چې په ۷۲۰ز کې د چین دربار هغه په رسمیت وپېژانده. بیا د دې لړۍ واکمنان د لوړتیا ځوکې ته رسېدلي دي. د چینایي رپوټونو له مخه دې واکمنانو واکمني کړې ده:

| | |
|---|---|
| Wu-San- Te- Kin- Shai | د ۷۲۰ او ۷۳۸ ز ترمنځ |
| Fu- Lin- Ki- Po | د ۷۳۸ او ۷۴۵ ز ترمنځ |
| Po- Fu- Chun | تر ۷۴۵ ز وروسته |
| Ju- Lo- Li | د ۷۵۹ او ۷٦۴ ز ترمنځ |

په ګندهارا کې د «وو- کنګ» د اوسېدا پر مهال د ترکشاهانو د دې کورنیو په منځ کې د Wu-San- Te- Kin- Shai د پېر له اوضاع ښهٔ خبر یاستو، ځکه په دې وخت کې Huei- Chaq او تر هغهٔ وروسته «وو- کنګ» د دې خاورې رپوټونه لیکلي دي. د هغو له مخه پوهېږو چې د کنیشکا او کوشانیانو د پېر روایات په بشپړ ډول دود وو. د ساري په ډول د ترکشاهیانو دې کورنۍ د خپل نژاد لړۍ له کنیشکا سره نښلوله او د وروستیو کوشانیانو سنه یې کاروله. پر دې سربېره یې د خنګله د کورنۍ روایات ژوندي ساتل. دا مطلب د ۷۷۸- ۷۷۹ز له یوهٔ عربي رپوټ څخه څرګندېږي، چې خنګل کورنۍ نوم یې درلود.

د چینایي او عربي سرچینو دا معلومات چې د تاریخي څېړنو په وسیله تر لاسه شوي، یو تبتی رپوټ یې هم پخلی کوي، چې تر اوسه د پخوانیو څېړونکو له خوا مطالعه شوی نه دی. ځکه کله چې (ف- وتهوماس) دا رپوټ خپور کړ، د ګوزن Gu-Zan هېواد نوم یې په تېر کې په بل ځای پورې ونښلاوهٔ؛ نو ځکه ورته چا پاملرنه ونه کړه. د تبتي متن دا رپوټ په ګندهارا او د هغې په ترکشاهي کورنۍ پورې اړه لري.

د ترکشاهي د دویمې کورنۍ د تاریخي مطالبو لپاره په تېره د دوهو سرچینو منځپانګه ډېره مهمه ده: لومړۍ د سنګه وردهانه الهامات. دویمه د لی هېواد رپوټونه چې تهوماس په تبتي متونو او د لندن چاپ ۱۹۳۵ز(۱۴- ۷۳مخونه) د چیني ترکستان په اړه لاسوندونو کې خپارهٔ کړل.

له دې لاسوندو سره سم: کنیکه‌شاه(کنیشکا)، د گوزن پاچاه او د لی(ختن) واکمن پر هند وبلسل او So- Ked (شاکیتا) ښار یې ونیو.

بیا چینایي لښکریانو د لی او گو- زن خاوره په ولکه کې راوسته، چې دا په گلگت د چینایانو د ۷۴۷ز کال لښکرکښي ده.

یو بل رپوټ وایي چې د تبت لښکر هم د گرو- گو(تروکو- ترک) پر هېواد برید وکړ او د دې هېواد« گی- سر» د تبتیانو ولکه ومنله. تهوماس د دې لاسوندونو له مخه د گو- زن خاوره په گو- چن(تورفان) او گی- سر د هغه ځای په ترک واکمن تطبیق کړې ده؛[1] خو د هغهٔ دا نظر څېړونکي نه مني، ځکه د تورفان- گوچن واکمن په منځني هند د کنیشکا په یرغل کې په گرانه ونه‌ه اخیستای شوه. په هر صورت هـ. ډبلیو بیلي د آسیایي څېړنو په بولیټن[2] کې داسې دلایل وړاندې کړي چې د تبتي گو- زن تعبیر بې له کوشاني بل څه نه دی. ځکه د کوشاني هېواد پولې هغه مهال له تبت سره نښتې او هغه یې ترکشاهي هېواد بالهٔ، چې په ارمني سرچینو کې هم K'owshan راغلی دی.

په هر صورت: فروم، «گی– سر» د اتمې پېړۍ د لومړۍ نیمایي د گندهارا له ترکشاهانو څخه یو گڼلی او د هغهٔ نوم یې له Ki- Po سره تطبیق کړی چې له ۷۳۸ تر ۷۴۵ز یې واکمني کړې ده. د دې دلایل د هرماته له خوا په تفصیل سره لیکل شوي دي، چې ترکشاه یې قیصر نوملې دی. هغه د ۸۶۰ ز شاوخوا د ترکشاهانو د دویمې کورنۍ له‌منځه تگ د هندوشاهیه کورنۍ د بنسټگر، للیه شاهي په لاس گڼي.[3]

اوس د کوشاني هېواد د دې لړۍ د وروستیو واکمنو سیکې تر هغه ځایه معرفي کوو، چې لاسرسی ورته لرو:

۱- ته‌ره‌ک شاه انبیر: د نیویارک د ای، ټي نیول په کلېکسیون کې یو درهم دی چې والکر، د لندن چاپ ۱۹۴۱ز(۳۸ انځور) په عرب- ساساني سیکو کې چاپ کړی دی. د یوې دایرې په متن کې د نیم تنه‌یي سړي یو انځور دی، چې لنډه ږیره، هار او

---

[1] - تبتي متون او لاسوندونه ۱/ ۱۱۹.

[2]- د آسیایي څېړنو په بولیټن ۱۳/ ۳۹۲، د لندن چاپ ۱۹۵۰ز.

[3] - کتیبه های متأخر باختری ۴۱۰- ۴۱۲.

مرغليني غوړوالی او ساساني ته ورته ښکللی خول لري. مخ يې ښي لور ته دی. د دې دايرې په منځ کې مخې او شا ته د ساعت له ۲- ۵ پهلوي سولېدلي توري ليکل شوي او د دننني دايرې په گرده بهرنۍ څنډه چې شاهي خول هم په کې دی، يوه اوږمکۍ او ستوری د ساعت د ۱۲- ۳-۶ پر ځای او لاندې ترې د ساعت له ۳- ۵ پورې په کوفي ليک بسم‌الله ليدل کېږي. ورپسې د ساعت په ٦ اوږمکۍ او ستوری او په پهلوي تورو خور افزوت او د عبدالله بن‌خازم نوم راغلی، چې وروسته پرې وهل شوی دی.

د درهم پر بل مخ د دايرې په منځ کې په سولېدلي نقش اورتون او دوه ساتندويان ليدل کېږي او په گرده څنډه يې په باختري ليکدود د ساعت له ۱۰- ۱۲ Tark- Shaoh-o- او پر ښۍ څنډه د ساعت له ۱- ۳ Ambir-o- ليکل شوی دی[۱] (وگ: ۳۴ انځور).

۲- د اکسفورډ د اشموليان کلېکسيون درهم دی، چې والکر يې په ۳۸مه گڼه کې انځور راوړی او په سولېدلي باختري يوناني ليکدود باندې د پاچاه نوم دی؛ خو انبير يې لوستل کېږي، چې وروسته يې پرې په پهلوي ٦٨س= ٦٨٧ز کال، د عبدالله بن‌خازم له نامۀ سره په ډېر سولېدلي يوناني ليکدود وهلې دی.

۳- د انډيا آفيس د کلېکسيون درهم چې والکر په ۳۷مه گڼه چاپ کړی، پهلوي ليکنه(عبدالله) او په مروه کې د وهنې کال يې ٦۹س= ٦۸۸ز دی. يوناني ليک يې سولېدلی دی او يواځې انبير(شاه؟) لوستل کېږي.[۲]

۴- د نيويارک د سيکه پېژندنې ټولنې د کلېکسيون درهم، د والکر چاپ ۳۸مه گڼه، پهلوي ليکنه يې خور افزوت او د يوناني باختري ليک ليکنه سلم بن‌زياد ده. په کوفي يې پر څنډه برکه- بسمله ليکلې، د انبير وهنه په ٦۹س= ٦۸۸ز کې. د سيکې آره ليکنه په باختري ليک:

ته‌رک- نيزگه- (امب) ير- شاه ده.[۳] Traka (o)Nizaca(o) (AMB) IR- SHAH (o)

---

[۱] - گيرشمن ۲۴،

[۲] - پورتنی اثر ۲۵.

[۳] - گيرشمن ۲٦.

۵- یپغوشاه: یوه سیکه ده چې زیاترو سیکه‌پېژندونکو یاده کړې ده(۲۲ انځور) د سیکې پر یوهٔ مخ ځوان واکمن له زابلی خېرې، هار، ساسانیانو ته ورته خول سره دی- چې له پاسه پرې ورږمکی له ستوري سره نقش شوې ده. مخ یې ښی خوا ته، نیم تنه‌یي، ناست او مرغلینې غوږوالی یې په غوږو دي. مخې ته یې د دایرې په منځ کې ستوری د ساعت له ۲- ۵ پورې او په باختري تورو یې: شري یپغوشاه Cri- Yapgu- Shsh-o- پرې لیکلی دی. پر دوهم مخ یې بل اورتون، خولی‌لرونکي دوه وسله‌وال او د پهلوي لیکنې څو توري لیدل کېږي، چې ګوندې د انبار یا ابرښار وهنه به وي. کننګهم یې براهمي لیکدود(سري یدیوي منه‌سري) لوستی دی؛ خو ویلسن(سري‌مد دیوه بهادره سري) او جونکر(سري... دیوه پوه سري) لیکلی دی[۱] د یپغو(معرب یې جبغویه) په اړه وګ: د دې کتاب ۱۱۴- ۱۱٦- ۱۱۸- ۱۸۴- ۵۸۴ مخونه).

٦- د خراسان تګین شاهان: داسې درهم دی چې ویلسن، جونکر، هیرزفیلډ او نورو یې یادونه کړې ده(۳۷ انځور). په دې اړه موږ په (۱۰۹-۱۱۳ مخونو) کې شرحه ورکړې ده. د درهم پر یوهٔ مخ د ترکانه خېرې وګړی له خول، هار او مرغلینو غوږوالیو سره لیدل کېږي، چې مخ یې ښي لور ته او نیم تنه‌یي دی. د دایرې په منځ کې د هغهٔ مخې ته په باختري لیک د ساعت له ۱- ۴ شري‌شا Cri- Shah- o- لیکل شوی دی. په دویمه دایره کې تر درېوو چاپېره په براهمي لیک‌یې:

سري هیتي‌ویره- ایران- چه پره مسوره سري شاهي تګین دیوه‌جه

Sri Hitivira-Airan- Cha Parameswara Sri Shahi Tigin Devaja

لیکلي، یعنې: پهلوان پاچاه ایران شاه اتل تګین‌شاه اسمانزی.

د سیکې په بل مخ هم د نیم تنه‌یي ځوان بدرنګه رب‌النوع، په هار او ګاڼو ښکللی له درې‌ګوټي وړنګن خول سره مخامخ ناست دی، چې درې ستوریزې سپوږمۍ یې تر دایرې بهر بر، ښي او کیڼ لور ته دي. چاپېره یې ترې په پهلوي لیک افزوی پت؟ او تګین هورسان شاه Tagin (o) Hvrsan(o) Shah(o) لیکلي دي[۲]

---

[۱] - پورتنی اثر ۵۰.

[۲] - ګیرشمن ۴۹.

د خراسان د تګین‌شاه پر همدې سیکه بیا ګوبل او هومباخ، خشون هاد یعنې Ear- Year ۴۷۴ ز سنه هم لوستې ده، چې د وروستیو کوشانیانو پېر ۷۸= ۷۰۵ز دی. له دې څرګندېږي چې د تګین له لړۍ څخه خراسان‌شاهي هم د لومړې لیږدې تر وروستیو پورې واکمني درلوده. هومباخ همدا واکمن له ووسان تګین‌شاهي Wu- San- Te-Kin- Shahi سره تطبیق کړی دی، چې د چینایي لاسوندونو له مخه پر ۷۱۹ز په زړبوډۍ کې د Ki- Pin پر پلاز کښېناست او په ۷۳۸ز کې دومره بوډا شوی و چې پلاز و خول یې زوی ته پرېښودل.

پته دې نه وي چې هرماته دا کال۱۰۷س= ۴۹۴- ۷۲۵ز لوستی دی.[۱]

## خراسان

د کتاب په متن کې د کوشاني هېواد د یوې برخې خراسان په اړه هغه څه لیکل شوي چې په تاریخي متونو کې موندل شوي دي، دلته باید دا ټکی زیات کړو چې جغرافیوي نومونه تل له سیاسي پېښو، د سیاسي ځواک له پراخېدو او لږېدو او د هغو د وګړو له سوبو او ماتو سره د کمي زیاتې کښته پورته کېدل لري. خراسان چې د لمرراختلو او ختیځ معنی لري د تاریخ په پېرونو کې له همدې پراختیا او کمښت سره مل دی.

په پنځمه ګڼه نقشه کې مې د څلورو لومړنیو اسلامي لیږدو پېړیو ـ چې په دې خاوره کې د اسلامي مدنیت د لوړتیا او غوړېدا پېر وـ د جغرافیه‌پوهانو له ویناوو سره سم د خراسان خاوره او سیمه ځای کړې ده. همدا سیمې دي چې د کوشاني هېواد په زړهٔ کې پرتې وې او په لومړیو اسلامي پېړیو کې د لویو او کوچنیو کوشانیانو او د هغو د اولادونو مرکزونه وو.

تاسو د کتاب په متن کې ولوستل چې ناصر خسرو علوي د بدخشان لیرې پرته یمګان دره د خراسان برخه ګڼلې ده، په داسې حال کې چې تر هغهٔ درې پېړۍ د مخه عربي ژبي مشهور شاعر بشار بن‌برد، چې له آره تخارستانی و او په خپل عجمي نسب و نژاد یې ویاړل، ځان خراسانی ګڼي. په لومړۍ اسلامي پېړۍ کې د خراسان

---

[۱] - کتیبه های باختری متأخر ۴۲۵.

ختيځې شمالي څنډې تر تخارستانه رسېدې:

و انی لمن قوم خراسان دارهم   کرام و فرعی فیهم ناخیربسق[1]

هغه مهال چې کوشانيانو د اوسني افغانستان په خاوره کې خپله سترواکي جوړه کړه، د خپل هېواد ټوله خاوره يې کوشاني هېواد(کوشانشهر) ونومله او دا د ايران د (ايرانشهر) په مقابل کې و. هغه سيمې چې په شمال کې دي باختر او هغه چې په سوېل کې دي نيمروز يې وبللې. منځ په دوه‌و برخو بېلېږي هغه چې په ختيځ کې دي خراسان او هغه چې په لوېديځ کې دي، ايرانشهر ورته وايي.[2]

فردوسي د نوشېروان د هېواد په څلورګونو برخو کې لومړۍ ته خراسان وايي[3] له خبرالمشرق نامهٔ څخه هم د ابن‌خردادبه مراد خراسان دی.[4] په حدودالعالم کې هم ساساني بلخيانو ته ملوک مشرق(خراسان) وايي.[5] بلاذري له نيشاپور تر ختل، کاسان او خوارزم پورې(بې د سند له ورپورې غاړې) د کوشاني هېواد ټولې سيمې په خراسان کې شمېرې.[6] ابن‌فقيه هم په شمال ختيځ کې خراسان د تخارستان او فرغانې تر پای غځوي.[7] ګردېزی د عمرو ليث صفاري هېواد ته(امارت‌خراسان) وايي.[8] نرشخي هم احمد بن‌اسماعيل ساماني ته د خراسان امير لقب ورکوي.[9]

د غزنوي پېر شاعرانو د ناصر کورنۍ پاچاهان(خدايګان خراسان) بللي چې منهاج‌السراج جوزجانی په طبقات ناصري کې دا لقب(ملک‌المشرق) ليکي. عنصري او غضايري د سلطان‌محمود په ستاينه کې ويلي دي: د خراسان خدايګان پېښور دښتې ته يا: د خراسان خدايګان او آفتاب کمال. موږ پوهېږو چې پراخه خراسان له

---

[1] - البيان‌والتبيين، جاحظ ۱ / ۴۹.

[2] - تاريخ سيستان ۲۳.

[3] - شاهنامه ۳ /۴.

[4]- المسالک ۸.

[5] - حدودالعالم ۳۷.

[6] - فتوح‌البلدان ۴۱۰.

۷ - کتاب‌البلدان۱۸.

[8] - زين‌الاخبار ۱۵.

[9] - تاريخ بخارا ۹۲.

ری د تخارستان او بدخشان تر وروستیو پولو او ختیځ ته تر اباسین پورې د غزنویانو د ستړواکۍ برخه وه. دا نوم په ختیځ کې له اباسین څخه ورپورې او په لوېدیځ کې له ری ورهاخوا(عراق او پارس) ته نه دی ویل شوی. کله چې غزنوي سلطان مسعود، بوسهل حمدوی ته د خپل هېواد لوېدیځ ولایت سپارهٔ، ورته ویې ویل: تاسو د هغې سیمې(عراق او پارس) په حال نه پوهېږئ او زه پوه یم، داسې قوم دی چې خراسانیان یې نه خوښېږي.[1]

د مؤرخانو او جغرافیه‌پوهانو له دې څرګندونو پوهېږو چې لوی خراسان د وېر کوشاني هېواد برخه او ځای نیوونکی و. په تېره سامانیانو، غزنویانو او غوریانو ځانونو ته د خراسان(ختیځ) پاچاهان ویل او څه ناڅه د ایران او عراق پاچاهانو ته هم ویل کېدهٔ. اوس که دې لوی جغرافیایي نوم خپل پراخوالی کم کړی او لسمه یې د ایران په شمال ختیځ کې د یوهٔ ولایت په نامهٔ پاتې ده؛ یو مهال د افغانستان او ورسره نږدو اړوندو شمالي، سوېلي، ختیځو او لوېدیځو سیمو نوم و. اوس یې د مرکزونو له څلورو درې برخې هرات، مروه‌رود او بلخ د افغانستان دننه دي او یواځې د څلورمې برخې مرکز یې د ابرشهر(نیشاپور) په نامهٔ زموږ په ورور هېواد ایران کې دی.

دا نوم په خپل هماغهٔ پراخوالي سره د چنګېزیانو تر تاړاک وروسته هم پاتې و. په ۷۳۳س کال کې کله چې عربي سیلاني ابن‌بطوطه له دې ځایه د هند لور ته له اباسینه پورېوت(۷۳۴ س محرم) دا ټوله سیمه د ترمذ، سرخس، هرات په ګډون د هندوکش او سلېمان غرونه او هغه درې چې له کابل و غزني د اباسین لور ته ورتېرې شوي، خراسان نوموي.[2] دا نومونه هغه مهال ښهٔ رښتینې کېږي چې د امیر تېمور زوی شاهرخ د خراسان مرکز هرات- خپله پلازمېنه ګرځوي او د هغهٔ د هېواد پولې له اباسینه د پارس تر پولو رسېږي. دا مهال دا پراخه هېواد خراسانی ټولواکمني یا د خراسان هېواد بلل کېږي.

---

[1] - تاریخ بیهقي ۴۸۱.

[2] - د ابن بطوطه رحله ۲۳۹.

## د خراسان سلطنت یا هېواد

عبدالرزاق سمرقندی وايي: صاحب قرآني (تېمور) چې د ځمکې پرمخ هېوادونه يې په ولکه کې وو، تر ټولو ښه سيمه يعنې خراسان يې تر ټولو ګران اولاد حضرت شهرخي ته ډالۍ کړه... او د شاهرخي دولت په برم د هرات ښار د نړۍ پلازمېنه شوه.[1]

د مطلع سعدين په ټول کتاب کې کله چې د شاهرخ او د هرات د نورو تېموريانو د خاورې بحث کېږي، هغه خراسان نوموي.[2]

د همدې کتاب د لومړي ټوک په(۴۷۰ او ۵۹۹مخونو) د خراسان په پېښو کې وايي:... الغ بيګ کورګان د خراسان پلازمېنې ته راوګرځېد... او ميرزا ابوالقاسم بابر د مراد سپرلي د خراسان د پاچاهي په ډګر کې وځغلوله(۲/۹۰)خراسان چې د ميرزا ابوالقاسم بابر د لښکرو ځغاستځی و(۲ /۸۸) همدا رنګه د ۸۵۳ س په پېښو کې په پاچاهي پلاز د ميرزا ابوالقاسم بابر د ناستې(۲ /۸۶) يادونه راغلې ده. د دې پېر په تاريخونو کې چې د خراسان پاچاهي موجوده ده، توران او ايران ترې بېل دي. په ۸۱۸ س کې چې يې د هرات د پلازمينې اختيارالدين کلا بنسټ کېښېښود د هغې د کاشي پر ليکدړه يې د شاهرخ په ستاينه کې بولله وليکله چې دا درې بيته د هغې دي:

ایــا پادشــاهی کــه بــر روی دفــتر  کلامــی نیامــد زمــدح تــو خوشــتر
شهنشه الـغ بیـگ و سـلطان بـراهیم  کـه هسـتند شایستهٔ تخـت و افسـر
یکی را نشاندست بـر تخـت تـوران  دگر کرده از بهرش ایران مسـخر(۳)

په همدې پېر کې يې د خراسان تر دامغان ورهاخوا لوېديځو سيمو ته عراق وايهٔ. سمرقندی د ۸۲۵ س په پېښو کې کاږي: مهدعليا ګوهرشاد او ورور يې... په هرات کې وو، چې د ميرزا علاءالدوله د تېښتې خبر يې واورېد، عراق ته يې د تګ هوډ وکړ... په هماغه مازيګر عراق هېواد ته ورسېدل.[4]

---

[1] - مطلع سعدين خطی تاريخ، کابل تحرير بلخ ۱۲۴۵س، ۸٦)

۲ - مطلع سعدين، ۲۵، ۲۹، ۹۳۳، ۹٦٦/ دوهم ټوک، د لاهور چاپ ۱۹۴۹ز.

[3] - پورتني اثر ۲ ټوک، څنډه ۳۰۲.

[4] - مطلع ۲/ ٦۰.

پارسي ژبی هندي شاعر مطهرکره د ۷۸۰س شاوخوا خراسان او عراق د خطا او خفچاق په څېر دوه بېل هېوادونه ګڼي:

نــه در اطــراف خراســان نــه در اقصــای عــراق
نــه در اقلــیم خطــا و نــه در حــدود خفچــاق

په ۹۳۲س کې ظهرالدين بابر له کابله پر ډهلي وبلسل، چې هغه ښار يې ونيو او په هند کې يې مغولي ستراوکي جوړه کړه، جمال دهلوي يې په ستاينه کې وويل:

از خراســان چــون بــه هندوســتان شــدی آمــد تــرا
بخت و دولت در يمين و فتح و نصـرت در يسـار([1])

د سلېمان غرنۍ لړۍ او کسي غرۀ ورهاخوا د پښين په سيمه کې د هندوباغ او سيف‌الله کلا تر منځ د کاکړ قبيلې په ټاټوبي کې (د کاکړو خراسان) په نامۀ ځای تر اوسه شته، چې ختيځ ته د دې نامۀ پراخوالی په ګوته کوي.[2] په وروستيو دوه‌و پېړيو کې هم دې خاورې ته د خراسان نوم ويل شوی دی، چې کله احمدشاه ابدالي له لاهوره کندهار ته راستنېدۀ، د ظفرنامۀ رنجيت کتاب ليکوال، دېوان امرناته ليکي: د لاهور له ارګه... خراسان ته راغی د پوزې د ټپ له ناسوره ومړ.[3] همدا مؤلف په کندهار کې د شاه‌شجاع او امير دوست محمدخان د جنګ په اړه، چې له شاه‌شجاع سره هنديان راغلي وو، وايي:

به شمشير هندی خراسانيان    بکشــتند هنــدی بيابانيــان

دلته د امير لښکريان کابليان او کندهاريان وو.

د احمدشاه ابدالي د دربار منشي، ميرزا عبدالهادي د هرات د مالان پلۀ په جوړولو کې هغه د هند، توران او خراسان پاچاه نوملی چې همدا افغانستان دی:

بحکم ثانی محمود، احمد شه توران و هند و هم خراسان (۲۰۳مخ).

کله چې د احمدشاه لمسي، زمانشاه له مدينې څخه د ۱۲۳۴س په محرم کې

---

[1] - اورينټل کالج ميګزين، نومبر ۱۹۳۳ز.

۲ - قديم پشتون، د کوټې چاپ، ۱۹۷۷ز، ۱۷۷م.

[3] - ظفرنامۀرنجيت، دېوان امرناته، د لاهور چاپ ۱۹۲۸ز، ۳.

عثماني پاچاه ته لیک وکېښ، په هغهٔ کې یې له خراسان تر کشمیر، لاهور، ملتان او شکارپور د لوی سمندر تر څنډو، بلخ د امو سیند تر څنډو او پلازمېنه هرات د عجمو تر بریدپولو پورې افغانیه هېواد ونوماوهٔ[1]
د ۱۱۴۵س شاوخوا د عبدالرحیم هوتک په نامهٔ پښتون شاعر له کندهاره راڅرګند شو، بخارا ته لاړ، هغهٔ خپل ټاټوبي (کلات او کندهار) ته خراسان وایي.

بل هلمندی شاعر ګل‌محمد مالګیری چې د ۱۲۰۰س شاوخوا یې ژوند کاوهٔ، د بارکزیو ګرشک او ناوې سیمې خراسان بولي، چې مالګیر هم هلته پروت دی.

له دې څرګندېږي چې د خراسان نوم د افغانیه او افغانستان په څنګ کې تر دې وروستیو پورې کارېدهٔ. تر اوسه هم پېښوریان او د اباسین د څنډو خلک افغاني کوچیانو ته خراساني وایي، چې په ژمي کې هغو لتو ته ورکښته کېږي. څرنګه چې په پسرلي کې بېرته د کندهار، غزني او ننګرهار تر منځ سیمو ته راستنېږي وایي: خراسان ته ځو.

اوس دا مسأله هم نه هېرو‌و چې د افغانستان یا افغانیه نوم له خراسان سره نوی نه دی، لکه چې ځینو لیکوالو داسې تصور کړی دی.

موږ په هندي او ایراني آثارو کې تر اسلام د مخه د پنځمې زېږدې پېړۍ له شاوخوا څخه د افغان د نامهٔ څرک مومو او بیا په اسلامي پېر کې له ۳۷۲س شاوخوا وروسته چې د حدودالعالم د تألیف مهال دی، دا نوم د لومړیو لسو لېږدو پېړیو په پېښو کې ډېر وینو. د سیفي هروي په تاریخنامهٔ هرات (د اوومې لېږدې پېړۍ لومړي) کې ۳۴ ځله د افغان نوم د هغو له واکمنو، قبیلو او نومیالیو سره راغلی دی. په ۷۶۳س =۱۳۶۲ز کې لومړي المتوکل (عباسي خلیفه بن‌معتضد) د هند د دربار د سفیر، قاضي بهاءالدین او خواجه کافور په لاس یو فرمان د هند تغلقي پاچاه دریېم فیروزشاه (۷۵۲- ۷۹۰س) ته ولېږهٔ چې په هغهٔ کې یې د هند د پاچاهانو مشر او هغه څه ولیکل چې ورته منسوب دي او د هغهٔ پاچاهي یې په دې خاوره تر سند، افغانیه پولو او د

---
۱ - د عثماني باشوکالت په آرشیف کې د زمانشاه لیک.

هغو تر غرونو، کشمير او زاولستان پورې وپېژنده....[1]

په ۸۵۸ س کې چې کله ضياءالدين برني تاريخ فيروزشاهي ليکۀ، هغۀ د ۷۵۳س= ۱۳۳۴ز کال په پېښو کې کاږي: «ملک شاهو لودي، د ملتان واکمن ملک بهزاد ووواژۀ او له ملتانه ووت او په افغانستان کې خپلو افغانانو ته ورغی»(۳/ ۴۸۲)

له دې څرگندېږي، هماغه مهال چې سيف هروي په هرات کې د افغان او افغانستان داستانونه لري، د هند مؤرخانو او ان د عباسي خلافت دربار هم له خراسان سره هممهاله دا نوم ليکلی دی، چې بيا د تېمور، تېموريانو، بابر او د افغانستان د ابدالي دولت په پېرونو کې لا عام شوی او د (پخوانۍ آريانا) کوشاني هېواد او د وروستيو او نويو پېړيو د خراسان ځای يې نيولی دی.

## هروي ټوکران او سوداگري يې

تر ۴۶۷ مخ وروسته د خراسان د صنايعو او سوداگرۍ په اړه شرحه ورکړې شوې او ويلي مو دي چې له عربي هېوادونو سره د خراسان سوداگري ښه په ځلبل کې وه. په دې اړه ډېر گټور او د يادونې وړ ټکی دا دی چې د هرات جوړ ټوکران په عربي هېوادو کې ډېر زيات مشهور وو او سوداگرو تل په عربي سيمو کې خرڅول. تر دې چې د دې کسب يعنې د هراتي ټوکرانو د پلورلو لپاره يې له هري کلمې څخه په عربي ژبه کې د فعال په وزن هراء کلمه جوړه کړه(قاموس هري کلمه) د عربي نحوې يوۀ عالم ابومسلم معاذ ابن‌مسلم په معاذالهراء الکوفي مشهور د کسايي( ۱۸۷س مړ) استاد د هروي ټوکرانو د پلور کسب کاوۀ.[2]

## روسي سوداگر

ابن‌خرداذبه (۱۵۴مخ) وايي دا گرځند روسي سوداگر کله کله د روميه او صقالبه(د اروپا د سوېل اسلاوي ملتونه) ښارونو له لارې د خزر خليج ښار ته راتلل، له هغه ځايه يې د گرگان په سمندر کې سفر کاوۀ او بلخ ته رارسېدل او بيا د ماوراءالنهر له لارې چين ته تلل.

---

۱ - (سيرت فيروزشاهی- خطی، د هند د بانکی پور ۱۴۰مه پاڼه).

۲ - وفيات‌الاعيان ۲/ ۹۹او طبقات‌النحويين ۱۳۵.

## گرا او خوره

په ۴۹۵ مخ لسمه کرښه کې " گرا" کلمه راغلې چې د کابلشاه "سپاله پتيدېوا" پر سيکه کيندل شوې ده. دا کلمه يې د کلکتې موزيم د سيکو په ليکلړ(۲ ټوک) کې د هندي ليکدود له مخه داسې لوستلې ده؛ خو زما زيات گومان دا دی چې د کلمې سمه لوستنه به(خوره) وي، ځکه د وروستي ساساني پاچاه دريېم يزدگرد پر سيکو- چې د کابلشاهانو همپېره دی-"خوره اپزوت يزدگرت"ليکل شوي دي.[1]

څرنگه چې د دوی د پاچاهي خول، د جامو د سينگار او ځېرو د بڼو تر منځ ورته والی شته؛ نو د سيکې په ليکنه کې به هم ورته والی وي.

د خوره اپزوت کلمې د زياترو ساساني پاچاهانو پر سيکو کيندل شوې دي چې معنی به يې"برم زياتوونی" وي.[2] خوره په اوستا کې خورينه يا خورينو وه، چې په پهلوي کې خوره شوې. د "فر" کلمه د برم او پرتم په معنی له همدې ريښې څخه ده. پخوانيو آريايانو داسې گروهه درلوده، چې خوره رڼا ده، د الله تعالی له خوا پر مخلوقاتو راخپرېږي او د هغې په وسيله په رياست، کسبونو او صنعتونو برلاسی کيږي. هغه څه چې دې رڼا ته ځانگړي دي په لويو، پوهو او نياومنو پاچاهانو پورې اړه لري.[3] په زاميادیشت کې وايي چې کياني پاچاهانو تر گشتاسپ پورې خوره (فر) درلود. بيا يې اهورامزدا د قيامت تر ورځې پورې ساتي، چې په پای کې ترې زردُشتي موعود سوشيانت برخمن شي. هغه د سيستان سمندرگي له څنډې راپاڅېږي او نړۍ له رښتينولۍ او نياوه ډکوي.[4]

څرنگه چې خوره يا فرايزدي د بلخ د پخوانيو پاچاهانو سمبول و او د کابلشاهانو د خاورې په لوېديځ کې هم ساسانيانو کاراوۀ؛ نو ليرې نه ده چې د " گرا" سمه لوستنه به همدا پخوانی خوره وي.

---

۱- سبک شناسی بهار ۱/ ۱۴۱.

۲ـ سبک شناسی ۱/ ۱۳۸.

۳ـ برهان قاطع ۲/ ۷۹۰ د خوره همدا تعريف شيخ سروردي په حکمة الاشراق کې د زردُشت له ويناوو څخه رااخلي چې معنی يې "بارق الهی" ده.

٤ـ د برهان حاشيې ۲/ ۷۹۰.

## د بلخ سیکه

په۵۰۳ مخ کې د خراسان ځینې وهل شوې سیکې یادې شوې دي، په همدې لړۍ کې یوه سیکه ده چې په ۱۳۲س کې په بلخ کې وهل شوې او په یوهٔ مخ یې داسې لیکل شوي دي:

«بسم الله ضرب هذالدرهم ببلخ سنة اثنین و ثلثین ومائة.»

د دې سیکې انځور د استانبول د ادبیاتو پوهنځي په مجله دریم ټوک ۵- ٦ ګڼو کې خپور شوی، د دې مطلب یادونه راته د تاریخ ټولنې غړي ښاغلي محمدیعقوب واحدي کړې ده.

## د نیمروز مردانشاه(مردانه؟)

د کابل په موزیم کې یو درهم دی، چې بېلګې یې ویلسن، توماس او نورو سیکه پېژندونکو پوهانو هم یادې کړی دی. ګیرشمن یې انځور د خپل کتاب خیونها په ۴۱ مخ ۴۸مه ګڼه کې راوړی دی.

دا سیکه پر دواړو مخونو باندې د خراساني ځېرېوالا د مخامخ ناستو دوهو سرېو نیم تنه‌یي انځورونه لري. د سیکې پر لومړي مخ د څلورو سره نښتو زنځیري دایرو دننه یوکس دی، چې مرغلین هار او لویې ښکلل شوې غوږوالۍ لري. په دواړو اوږو یې درې ګوټي غوندې نښانونه دي، خول یې ښکللی څلورګوټی ګومبزي دی، چې دوه ګلدارې جوغې او یوه لویه ستوریزه اوږمکۍ لري. د خول ښي او کیڼ لور ته یې د غوږونو له پاسه دوه ستوریزې اوږمکۍ لیدل کېږي.

د څلورو زنځیرې دایرو دننه د ساعت له ۱- ۳ او له ۹- ۱۱ او بیا له همدې دایرو بهر د ساعت له ۱- ۱۱ د پهلوي تورو لیکنه لیدل کېږي. په داسې حال کې چې درې اوږمکیو او ستورو د ساعت په ۳، ٦ او ۹ کې دا کرښې یو له بله بېلې کړې دي.

د دې سیکې په دویم مخ په تېرو ځانګړنو د ښکلل شوي هار او غوږوالیو د نیم‌تنه رب‌النوع انځور دی، په داسې حال کې چې د درې ګوټې غوندې

کړې وړانګې يې پر سر راخپرې دي(۳۸ انځور).

دا درهم په دوه‌و ژبو او ليکدودونو ليکنه لري، لومړۍ پهلوي- دويمه براهمي چې يواځې د ساعت له ۱-۳ پورې سطحې باندې ليکل شوی دی.

پهلوي ليکنه: خورافزوت. وپه شپير(؟) خوتای.

پت اد‌پادست ويه(شپير؟) بګ خوتای وهمن مردان‌شاه- د سپېڅلي حق په پلوۍ کې په هماغه مردان‌شاه. پنج سي زاولستان ۳۵کال. ويه(شپير؟) رام هو سراو.

VEH (SHAPIR?) XUATAI. PATAPADAST/ VEH (SH APIR?) BAG XUATAI VAHMAN I MARDHAN SHAH.

براهمي ليکنه: SRI_ VASV_ DEVA

